احسن الفتاوى

پښتو ترجمه

مکتبه فریدیه

محله جنګی پښاور

جلد ششم 1

قال الله تبارک وتعالی

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿فَسْـَٔلُوٓا۟ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾

وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم

إِنَّمَا شِفَاءُ الْعِيِّ السُّؤَال (الحدیث)

احسن الفتاوی

شپږم جلد

(له کتاب الاجارې څخه تر آخر د کتاب الدیات پورې)

تالیف: فقیه العصر مفتی اعظم حضرت مفتی رشید احمد صاحب رحمه الله تعالی

ناشرین


مولوی محمد ظفر ((حقانی)) مولوی امیر الله ((شیرانی))

د ملاویدو پته

د کتاب نوم : احسن الفتاوی (شپږم جلد) (له کتاب الاجارې څخه تر آخر د کتاب الدیات پورې)
د مؤلف نوم : فقیه العصر مفتی اعظم حضرت مفتی رشید احمد صاحب رحمه الله تعالی
پښتو ترجمه : مولانا عبدالولی ((غزنوی))
کمپوز مولوی حسین احمد هزارناوی
ډیزاین ، اصلاح او نظر ثانی حافظ محمد ولی (بغلانی)
د چاپ کال : ۲۰۱۲
د چاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه
ناشرین : مولوی محمد ظفر ((حقانی)) مولوی امیر الله ((شیرانی))
د ملاویدو پته مکتبه فریدیه محله جنګی قصه خوانی پېښور
د مکتبې مسؤل : مولوی محمد ظفر ((حقانی)) صاحب

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مَا لَكُمْ اِذَا قِيْلَ لَكُمُ انْفِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اثَّاقَلْتُمْ اِلَى الْاَرْضِ ؕ اَرَضِيْتُمْ
بِالْحَيٰوةِ الدُّنْيَا مِنَ الْاٰخِرَةِ ۚ فَمَا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا قَلِيْلٌ ﴿٣٨﴾ اِلَّا تَنْفِرُوْا
يُعَذِّبْكُمْ عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ وَّيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ وَلَا تَضُرُّوْهُ شَيْـًٔا ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ
قَدِيْرٌ ﴿٣٩﴾ اِلَّا تَنْصُرُوْهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللّٰهُ اِذْ اَخْرَجَهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ثَانِيَ اثْنَيْنِ اِذْ هُمَا فِي
الْغَارِ اِذْ يَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ لَا تَحْزَنْ اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا ۚ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلَيْهِ وَاَيَّدَهٗ
بِجُنُوْدٍ لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ الَّذِيْنَ كَفَرُوا السُّفْلٰى ؕ وَكَلِمَةُ اللّٰهِ هِيَ
الْعُلْيَا ؕ وَاللّٰهُ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٤٠﴾ اِنْفِرُوْا خِفَافًا وَّثِقَالًا وَّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِكُمْ وَاَنْفُسِكُمْ فِيْ سَبِيْلِ
اللّٰهِ ؕ ذٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿٤١﴾ ﴾



كتاب الاجارة

، په دي شرط باندې مزدور نيول چې كه د تاكلى شوى وخت نه وړاندې ئې كار پريښودلو د اجرت حق دار به نه وى

سوال- يو زميندار (دهقان) سړى سره يو سړې دمياشتي د تنخوا په حساب سره مزدوري وكړه په دي شرط باندې چې كه چيري دې د كال د پوره كيدلو نه وړاندې كار پريږدى نو د تير شوى وخت د اجرت حق دار به نه وى. نو ددې څه حكم دې؟ بينوا توجروا.

الجواب و منه الصدق والصواب په دې شرط سره اجاره فاسده شوه.د دې حكم دا دې چې په اجر مثل يا په مقرر شوى اجرت كښې كوم اقل وى نو دې به د هغې حق دار وى.

قال فى الهندية: وان تكاراها الى بغداد على انها ان بلغته بغداد فله اجر عشرة دراهم و الا فلا شيء له فالاجارة فاسدة وعليه اجر مثلها بقدر ما سار عليها كذا فى المبسوط (عالمگيرية ص ـ ج ـ)

وقال ایضا: فالفاسد یجب فیه اجر المثل ولا یزاد علی المسمی ان سمی فی العقد مالا معلوما وان لم یسم یجب اجر المثل بالغا وفی الباطل لا یجب الاجر. (عالمگیریة ص ۳ ج ۴) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

٤ جمادی الاخره ۱۳۷۲ هجری

په کومه زمکه کښې چه ونې وی نو د هغې اجاره روا نهٔ ده

سوال:- یو سړی زمکه په اجاره باندې ورکړه، اوس په دې زمکه کښې چې کوم څنګل دې هغه به د زمیندار ملک وی او که نه د اجارې اخستونکی؟ بینوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق والصواب: په دې صورت کښې دا اجاره صحیح نهٔ شوه، څنګل د زمیندار مملوک دې، ځکه چې که چیرې د اجارې د عقد په وخت کښې د اجاره دار د پاره د څنګل تملیک نهٔ وی شرط کړې شوې نو ظاهره خبره ده چې دا څنګل د زمیندار دې۔

د دې تفصیل دا دې، چې که چیرې په زمکه کښې د زمیندار (یعنی د زمکې د خاوند) د میوې ونې موجودې وی، د کومو د پرې کولو نه چې د زمیندار نقصان کیږی نو بیا د دې زمکې په اجارې باندې ورکول روا نهٔ دی۔

قال فی الشامیة: عن البزازیة تحت (قوله ویساقی علی اشجارها) استاجر ارضا فیها اشجار او اخلها زراعة و فیها اشجار ان کان فی وسطها لا یجوز الا اذا کان فی الوسط شجرتان صغیرتان مضی علیهما حول او حولان لا کبیرتان لان ورقهما وظلهما یاخذ الارض والصغار لا عروق لها وان کان فی جانب من الارض کالمسناة والجداول یجوز لعدم الاخلال اه (ردالمحتار ص ۰ ج ۰)

وفی التنویر وشرحه: اجرها وهی مشغولة بزرع غیره ان کان الزرع بحق لا تجوز الاجارة لکن لو حصده وسلمها انقلبت جائزة

وفی الشامیة: (قوله بزرع غیره) ای غیر المستاجر فلو کان الزرع له لا یمنع صحتها والغیر یشمل المؤجر والاجنبی الخ (ردالمحتار ص ۰ ج ۰)

او که چیرې داسې ونې وی چې د هغې په پرې کولو کښې څه ضرر او نقصان نهٔ وی نو د داسې زمکې په اجارې باندې ورکول روا دی، لیکن په زمیندار باندې دا لازم دی چې څنګل دې ترې پرې کړی او زمکه دې خالی کړی او اجاره دار ته دې ورکړی، هر کله چې زمکه خالی کړی او هغه ته ئې وسپاری نو د دغه وخت نه به د اجارې د مودې ابتداء شروع شی۔

قال فی شرح التنویر: اجرها وهی مشغولة بزرع غیره (الی قوله) مالم یستحصد الزرع فیجوز ویؤمر بالحصاد

والتسلیم به یفتی بزازیة.

وایضا فیه عن الوهبانیة: تصح اجارة الدار مشغولة یفتی ویؤمر بالتفریغ وابتداء المدة من حین تسلیمها و فی الاشباه استاجر مشغولا وفارغا صح فی الفارغ فقط وسیجیء فی المتفرقات

وفی الشامیة: (قوله وسیجیء فی المتفرقات) ای متفرقات کتاب الاجارة وسیجیء ایضا حمل ما فی الاشباه علی ما لو استاجر عینا بعضها فارغ وبعضها مشغول یعنی وفی تفریغ المشغول ضرر فلا ینافی ما فی الوهبانیة (ردالمحتار ص۲۰ ج۵)

که چیرې په اجاره کښې ئې دا خبره تاکلې وه چې د ونو مستحق به اجاره دار وی نو بیا په کښې هم اجاره صحیح نهٔ شوه.

قال فی الشامیة تحت (قوله فیستاجر ارضه الخالیة) وانما لا یصح استیجار الاشجار ایضا لما مر انها تملیک منفعة فلو وقعت علی استهلاک العین قصدا فهی باطلة الخ (ص۵ ج۵)

وایضا فیها فی بیان جواز استیجار الظئر: (قوله بخلاف بقیة الحیوانات) بخلاف استیجارها للارضاع وفی التاتارخانیة استاجر بقرة لیشرب اللبن او کرما او شجرا لیاکل ثمرة او ارضا لیرعی غنمه القصیل او شاة لیجز صوفها فهو فاسد کله وعلیه قیمة الثمرة والصوف والقصیل لانه ملک الاجر وقد استوفاه بعقد فاسد بخلاف ما اذا استاجر ارضه لیرعی الکلا (ردالمحتار ص۳۶ ج۵)

قال الرافعی رحمه الله: (قوله بخلاف ما اذا استاجر ارضه لیرعی الکلا) فانه لا یجب قیمة الکلا لعدم ملکه وان کانت الاجارة فاسدة (التحریر المختار ص۲۳ ج۲)

که د ونو والا زمکه په اجاره باندې د ورکولو ضرورت راپیښ شی نو بیا ئې دا صورت کیدې شی چې اول دې ونې په اجاره دار باندې خرڅې کړی، او که چیرې ونې میوه دارې وی نو بیا دې دا اجاره دار ته په مساقاة باندې ورکړی، او ددې نه پس دې ورته زمکه په اجاره ورکړ

قال فی الشامیة تحت (قوله بزرع غیره) فلو کان للموجر ای رب الارض فالحیلة ان یبیع الزرع منه بثمن معلوم ویتقابضا ثم یوجرة الارض کما فی الخلاصة عن الاصل وکذا لو ساقاه علیه قبل الاجارة الا یصح کما قدمناه (ردالمحتار ص۲۰ ج۵). والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۱ رجب ۱۳۷۳ هجری

د باغ په مقاطعه (یعنی په ټیکه) باندې د ورکولو حیله

سوال: نن صبا چې باغ په ټیکه یعنی مقاطعه باندې د ورکولو عام رواج دې. آیا د دې [illegible]

خه صورت شته او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب و منه الصدق والصواب اول دې باغ په مساقاة يعنى په يو تاكلې شوې حصه باندې وركړى.او بيا دې د دې باغ زمكه په مقاطعه باندې وركړى.او د باغ په ميوو كښې چې كومه حصه مالک تاكلې ده هغه دې د مقاطعه دار د پاره روا كړى

فى شرح التنوير:-فيستاجر ارضه الخالية من الاشجار بمبلغ كثير ويساقى على اشجارها بسهم من الف سهم.

وفى الشامية:(قوله مبلغ كثير)اى بمقدار ما يساوى اجرة الارض و ثمن الثمار (قوله و يساقى اشجارها)يعنى قبل عقد الاجارة والا كانت الاجارة ارض مشغولة فلا تصح كما سياتى(ردالمحتار ص٠ج٥)

وايضا فيها تحت (قوله بالاولى)وفى فتاوى الحانوتى التنصيص فى الاجارة على بياض الارض لا يفيد الصحة حيث تقدم عقد الاجارة على عقد المساقاة اما اذا تقدم عقد المساقاة بشروطه كانت الاجارة صحيحة كما صرح به فى البزازية(ردالمحتار ص٠ج٥)

وقال الرافعى رحمه الله:(قوله فلا تصح كما سياتى)الذى ذكره الحموى اخر السابع عشر من فن الحيل نقلا عن المحيط الرضوى استيجار الاشجار لا يجوز وحيلته ان يواجر الارض البيضاء التى تصلح للزراعة فيما بين الاشجار باجر مثلها و زيادة قيمة الثمار ثم يدفع رب الارض الاشجار معاملة اليه على على ان يكون لرب الارض جزء من الف جزء و يامره ان يطعم ذلك الجزء حيث اراد لان مقصود رب الارض ان تحصل له زيادة اجر المثل بقيمة الثمار و مقصود المستاجر ان يحصل له ثمار الاشجار مع الارض و قد حصل مقصودهما بذلك فيجوز اه (التحرير المختار ص٣ج٢)

په پورتنو دوارو جزئياتو كښې په ظاهره تعارض معلوميږى.د شامى د جزئيې نه معلوميږى چې د عقد د اجارې نه عقد د مساقاة ضرورى دې. او رافعى رحمه الله چې كوم د محيط نه نقل كړې دې په دې كښې دا شرط نشته دې.بلكه په دې كښې دا تصريح ده. چې كه چرې عقد د مساقاة ئې د عقد د اجارې نه وروستو وكړو نو هم صحيح دې

نو په هغې كښې تطبيق داسې كيدلې شى.چې وراندې د مساقاة نه اګرچې اجاره صحيح نه ده. ليكن د مساقاة نه پس به سابقه اجاره صحيح شى.ځكه چې د اجارې د عدم صحت علت د زمكې د موجر په ملک كښې مشغوله كيدل دى.او په خپله په درمختار او ردالمحتار كښې دا تصريح شته دې.چې كه مشغوله زمكه يا كور خالى كړى شى او مستاجر ته وسپارلې شى نو سابقه اجاره به صحيح شى.لهذا اګر چې دلته هم اجارۀ فاسده وه. ليكن هر كله چې ئې په عقد د مساقاة سره ونې هم مستاجر ته وسپارلې نو اجاره صحيح شوه او كه چيرى دا دواړه جزئيات په اختلاف

باندې محمول کړې شي، نو بیا هم دې روایتِ ثانی ته د پورتنئ وجې له کبله ترجیح معلومیږي، البته احتیاط په دې کښې دې چې عقد د مساقاة دې په کښې مقدم وی. والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۲ رجب ۱۳۷۳ هجری

په دې شرط باندې اجاره کول (چې اجاره دار به زمکه هواره وی) فاسده ده

سوال :- یو سړی په دې شرط باندې زمکه په اجارې سره ورکړه چې اجاره دار به زمکه هواروی، نو آیا شرعا په اجاره دار باندې دا شرط لازم دې او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق والصواب : په دې شرط سره اجاره فاسدیږي۔

قال فی التنویر وشرحه: تفسد الاجارة بالشروط المخالفة لمقتضی العقد(الی قوله)وبشرط طعام عبد وعلف دابة ومرمة الدار الخ. (ردالمحتار ص ج۵)

وایضا فیه: اوارضا بشرط ان یثنیها ای یحرثها اویکری انهارها العظام اویسرقنها لبقاء اثر هذه الافعال لرب الارض فلولم تبق لم تفسد

وفی الشامیة عن المنح تحت (قوله بشرط ان یثنیها)فان کان اثره یبقی بعد انتهاء العقد یفسد لان فیه منفعة لرب الارض والافلا اھ(ردالمحتار ص ج۵)

لهذا که چیرې اجاره دار په اجارې فاسدې کښې زراعت بالکل نهٔ وی کړې نو زمیندار د اجارې د پیسو مستحق نهٔ دې، او که زراعت ئې په کښې کړې وی، نوبیا به د کرلې شوې زمکې د اجرمثل او د اجرمقرر نه د اقل حقدار وی۔

قال فی التنویر وشرحه: واعلم ان الاجر لا یلزم بالعقد فلا یجب تسلیمه به(الی قوله)او الاستیفاء للمنفعة اوتمکنه منه(الی قوله)فیجب الاجر لدار قبضت ولم تسکن لوجود تمکنه من الانتفاع وهذا اذا کانت الاجارة صحیحة اما فی الفاسدة فلا یجب الاجر الا بحقیقة الانتفاع الخ(ردالمحتار ص، ج۵)

وایضا فیه: وتفسد بجهالة المسمی کله اوبعضه کتسمیة ثوب اودابة اومائة درهم علی ان یرمها المستاجر لصیرورة المرمة من الاجر فیصیر الاجر مجهولا وتفسد بعدم التسمیة (الی قوله)فان فسدت بالاخیرین بجهالة المسمی وعدم التسمیة وجب اجر المثل(الی قوله)لا بالتمکن بل باستیفاء المنفعة حقیقة کما مربالغاما بلغ لعدم ما یرجع الیه(الی ان قال)والا تفسد بهما بل بالشروط اوالشیوع مع العلم بالمسمی لم یزد اجر المثل علی المسمی لرضاهما به وینقص عنه لفساد التسمیة الخ(ردالمحتار ص ج۵)والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۲ رجب ۱۳۷۳ هجری

د کرنې د پاره اخستلې شوې زمکه کښې ئې د خښتو بټۍ جوړه کړه

سوال:- یو سړی د کرنې دپاره زمکه په اجارې باندې واخستله، لیکن د زمیندار نه د اجازت اخستلو نه بغیر ئې په کښې د خښتو جوړولو بټۍ جوړه کړه، نو آیا د بټۍ د منافعې حق دار به اجاره دار وی او که زمیندار؟ او د کندو هوارول کوم چې د خښتو د پاره په زمکه کښې کیندلې شوې دی هغه به د چا په ذمه وی؟ بینوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق والصواب: اجاره دار چې په څومره زمکه کښې خښتې جوړې کړې دی،نو د دومره زمکې اجرت به زمیندار ته نه ورکول کیږی، بلکه د بټۍ په جوړولو او د خښتو په ویستلو باندې چې د زمکې په قیمت کښې کوم نقص راغلې دې نو د هغې ضامن به اجاره دار وی۔

کومه خاوره چې اجاره دار د خښتو په جوړولو کښې استعماله کړې ده د هغې قیمت به هم د اجاره دار په ذمه وی ، باقی په کومه زمکه کښې چې بټۍ او خښتې نۀ دی جوړې کړې شوې نو د هغې اجرت به زمنیدار ته ورکول کیږی ۔او د بټۍ د نفعې اود نقصان مالک اجاره دار دې۔

د بټۍ په آمدن کښې دومره پیسې اجاره دار د پاره بې د شک او شبهې نه حلالې دې څومره چې دۀ خرچ کړې دی، یعنی دزمکې نقصان کوم به چې زمکې ته ادا کوی،او دخښتوجوړولو اجرت وغیره دا ټول مجموعه خرچ به د بټۍ د آمدن نه واخلی او باقی آمدن به زمیندار ته وسپاری۔

قال فی شرح التنویر:ولو فعل ما لیس له لزم الاجر وان انهدم به البناء ضمنه ولا اجر لانهما لا یجتمعان

وفی الشامیة: (قوله ولا اجر)ای فیما ضمنه نهایة و اما الساحة فینبغی الاجر فیها کذا فی الذخیرة ساٸحانی.

(ردالمحتار ص٢٠ ج٥)

وایضا فی التنویر وشرحه:وضمن بزرع رطبة وامر بالبر ما نقص من الارض لان الرطبة اضر من البر ولا اجر لانه غاصب الخ(المراد من الغصب اتلاف المنفعة لان حقیقة الغصب لا تجری فی العقار-منه)

وفی الشامیة :(قوله لانه غاصب)ای لما خالف صار غاصباً و استوفی المنفعة بالغصب و لا تجب الاجر فیه زیلعی. (ردالمحتار ص٢٨ ج٥)

وایضا فیها فی باب فسخ الاجارة تحت(قوله فهو متبرع)بنی بلا امر(الی قوله)فلو کان البناء من لبن اتخذه من تراب الدار فللمستاجر رفع البناء ویغرم قیمة التراب لمالکه الخ(ردالمحتار ص٥٥ ج٥)

وقال الرافعی رحمه الله :ای ان کان له قیمة(التحریر المختار ص١١٠ ج٢)

وفی کتاب الغصب من شرح التنویر: و اذا نقص العقار بسکناه و زراعته ضمن النقصان بالاجماع

وفی الشامیة:(قوله ضمن النقصان بالاجماع)لانه اتلاف و قد یضمن بالاتلاف ما لا یضمن بالغصب اصله الحر اتقالی واختلفوا فی تفسیر النقصان قال نصیر بن یحی انه ینظر بکم تستاجر هذه الارض قبل الاستعمال و بعده فیضمن ما تفاوت بینهما من النقصان و قال محمد بن مسلمة یعتبر ذلك بالشراء یعنی انه ینظر بکم تباع قبل الاستعمال و بکم تباع بعده فنقصانها ما تفاوت من ذلك فیضمنه وهو الاقیس قال الحلوانی وهو الاقرب الی الصواب و به یفتی کما فی الکبری لان العبرة لقیمة العین لا المنفعة ثم یاخذ الغاصب راس ماله و هو البذر وما غرم من النقصان و ما انفق علی الزرع و یتصدق [۱] الصحیح فی الارباح الفاسدة الرد علی المالك وان لم یعلم فسبیله التصدق و زیادة التفصیل مر فی باب الربا " منه ۱ بالفضل عند الامام و محمد رحمهما الله تعالی فلو غصب ارضا فزرعها کرین فاخرجت ثمانیة ولحقه من المؤنة قدر کر و نقصها قدر کر فانه یاخذ اربعة اکرار و یتصدق بالباقی و قال ابو یوسف رحمه الله:لا یتصدق بشیء و بیانه فی التبیین قال فی الدر المنتقی و افاد انه لا یصرفه لحاجته الا اذا کان فقیرا کالغنی لو تصرف تصدق بمثله ولو ادی لمالکه حل له التناول لزوال الخبث ولا یصیر حلالاً بتکرار العقود و تداول الالسنة ذکره القهستانی(ردالمحتار کتاب الغصب ص۱۳۰ ج۵)

د کندو هوارول د اجاره دار په ذمه دی.بلکه که چیرې د زمیندار په اجازت سره هم خښتې جوړې کړې شی نو بیا هم د کندو هوارول د اجاره دار په ذمه دی.

قال فی التنویر و شرحه: و تصح اجارة ارض للبناء والغرس و سائر الانتفاعات کطبخ آجر و خزف(الی قوله)فان مضت المدة قلعها وسلمها فارغة.

وفی الشامیة:(قوله وسلمها فارغة)وعلیه تسویة الارض لانه هو المغرب لها ط عن الحموی(ردالمحتار ص۳۰ ج۵) ، والله سبحانه وتعالی اعلم ۱٤ رجب ۱۳۷۳ هجری

په اجاره باندې د ورکړې شوې زمکې بیعه موقوفه ده

سوال:- یو سړی د یو څو کالو د پاره زمکه په اجاره باندې واخستله.د اجارې د مودې د ختمیدلو نه پس مالک دا زمکه خرڅه کړی.دا بیعه شرعا صحیح شوه او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب و منه الصدق والصواب دا بیعه د اجارې د مودې د ختمیدلو پورې موقوفه ده.

فی بیوع الشامیة فی بیان انواع شرائط البیع واما الثالث وهو شرائط النفاذ فاثنان الملك او الولایة وان لا یکون فی المبیع حق لغیر البائع (الی قوله)و لا ینفذ بیع مرهون و مستاجر و للمشتری فسخه ان لم یعلم لالمرتهن ومستاجر(ردالمحتار ص۱۰ ج۰)

وفی التنویر وشرحه فی باب فسخ الاجارة: وبخلاف بیع ما اجرته فانه ایضا لیس بعذر بدون لحوق دین کما مر و یوقف بیعه الی انقضاء مدتها هو المختار (الی قوله) لو باع الاجر المستاجر فاراد المستاجر ان یفسخ بیعه لا یملکه هو الصحیح ولو باع الراهن الرهن للمرتهن فسخه

وفی الشامیة: (قوله للمرتهن فسخه) قال الشرنبلالی فی شرح الوهبانیة والمختار انه موقوف فیقضی بأن بیع المستاجر والمرهون صحیح لکنه غیر نافذ ولا یملکان فسخه فی الصحیح وعلیه الفتوی الخ (ردالمحتار ص ۵ ج ۵)

والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۹ رجب ۱۳۷۳ هجری

د دلال اجرت روا دي

سوال - آیا د دلال اجرت د جانبینو نه شرعا روا دې او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب و منه الصدق والصواب: روا دي خو په دې شرط چې بنۀ په واضحه توګه اجرت و ټاکلې شي.

قال فی الشامیة عن البزازیة: اجارة السمسار والمنادی والحمامی والصکاک وما لا یقدر فیه الوقت ولا العمل تجوز لما کان للناس به حاجة ویطیب الاجر الماخوذ لو قدر اجر المثل (ردالمحتار اول باب الاجارة ص ۳ ج ۵)

وایضا فیها بعد اوراق: (تتمة) قال فی التاتارخانیة وفی الدلال والسمسار یجب اجر المثل وما تواضعوا علیه ان فی کل عشرة دنانیر کذا فذاك حرام علیهم وفی الحاوی سئل محمد بن سلمة عن اجرة السمسار فقال ارجوا انه لا بأس به وان کان فی الاصل فاسد الکثرة التعامل وکثیر من هذا غیر جائز فجوزوه لحاجة الناس الیه کدخول الحمام اه (ردالمحتار ص ۳ ج ۵ مطلب فی اجرة الدلال)

وایضا فی بیوع الشرح: واما الدلال فان باع العین بنفسه باذن ربها فاجرته علی البائع وان سعی بینهما وباع المالك بنفسه یعتبر العرف.

وفی الشامیة: فتجب الدلالة علی البائع او المشتری او علیهما بحسب العرف جامع الفصولین (ردالمحتار ص ۴ ج ۴)

والله سبحانه وتعالی اعلم ۳۰ ذی الحجه ۱۳۷۳ هجری

د پورتنی سوال په شان یو بل سوال

سوال - د دلالۍ اجرت په یو روپۍ کښې یوه آنه یا کم او زیات لکه څنګه چې عام رواج دې نو دا شرعاً روا دې او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب و منه الصدق والصواب د دلال په اجرت کښې د احنافو د فقهاء کرامو رحمهم الله عبارتونه

مختلف دی، لیکن د خلقو حاجتونو ته چې وګورې نو قول د جواز مختار او مفتی به دې.تاکل د اجرت ضروری دی او په روپئ کښې یوه انه هم تاکلې شوې اجرت دې

قال فی التتارخانیة:وفی الدلال والسمسار یجب اجر المثل وما تواضعوا علیه ان فی کل عشرة دنانیر کذا فذاك حرام علیهم وفی الحاوی سئل محمد بن سلمة عن اجرة السمسار فقال ارجو انه لا باس به وان کان فی الاصل فاسداً لکثرة التعامل وکثیر من هذا غیر جائز فجوزوه لحاجة الناس الیه کدخول الحمام (ردالمحتار ص ج)

اجارة السمسار والمنادی والحمامی والصکاك وما لا یقدر فیه الوقت ولا العمل تجوز لما کان للناس به حاجة الخ. (ردالمحتار ص ج) . والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۸ ربیع الاول ۱۳۷٦ هجری

د دلالۍ اجرت ټاکل ضروری دی

سوال:- زید بکر ته اووئیل چې زهٔ به ستا میینه په عمرو باندې خرڅه کړم.لیکن په دې شرط چې درې سوه او پنځوس روپئ به تا له درکړم او باقی چې څومره هم د دې نه په زیاتو خرڅه شوه نو هغه به زما وی (یعنی زید دلال دې) بکر په دې خبره باندې راضی شو. زید هم دبکر په وړاندې دغه میینه په عمرو باندې په درې سوه او پنځه اویا روپئ باندې خرڅه کړه،درې سوه او پنځوس روپئ ئې بکر له ورکړې او پنځه ویشت روپئ ئې په خپله واخستلې، نو آیا شرعاً دا روا دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب و منه الصدق والصواب: دا معامله ناروا ده،البته که د دلالۍ پیسې ټاکلې شوې وی یا د میینې د قیمت نه د فیصدی په لحاظ سره دلالی وټاکلې شی،لکه چې داسې اووائی چې میینه په څو باندې خرڅه شی نو په هغې کښې به پنځه فیصده دلال اخلی نو دا به بیا روا وی.والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱٦ ذی قعده ۱۳۸۸ هجری

د دلال په اجرت باندې د اشکال جواب

سوال: تاسو په کمیشن باندې د کار کولو د جواز فتوی ورکړې ده،په ظاهر دا شبه کیږی،چې د عدم جواز دوه وجهې کومې چې د قفیزِطحان په مسئله کښې موندلې شی،هغه دلته هم موجودې دی، لکه چه زید عمرو ته دا اووئیل، چې زما دا ماشین خرڅ کړه نو زهٔ به تا له په دې کښې سل روپئ درکوم، دلته هم اجرت من العمل دې.او عمرو قادر بقدرة الغیر هم دې، ځکه چې څو پورې ئې یو سړې نه اخلی نو عمرو ئې په خرڅولو باندې قادر نهٔ دې، د ما به الفرق وضاحت ستاسو نه مطلوب دې.بینوا توجروا.

الجواب و منه الصدق والصواب د کمیشن جواز د قیاس نه خلاف دې،

قال فى التنوير و شرحه: لكل ما افسد البيع مما مر يفسدها كجهالة ماجور او اجرة او مدة او عمل و كشرط طعام عبد و علف دابة الخ

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله او مدة) الا فيما استثنى قال فى البزازية اجارة السمسار والمنادى والحمامى والصكاك و ما لا يقدر فيه الوقت ولا العمل تجوز لما كان للناس به حاجة و يطيب الاجر الماخوذ لو قدر اجر المثل و ذكر اصلا يستخرج منه كثير من المسائل فراجعه فى نوع المتفرقات والاجرة على المعاصى

(ردالمحتار ص۳ ج۶) والله سبحانه وتعالى اعلم.　　　۱۲ ربيع الاول ۱۳۹۸ هجرى

د کبانو د نیولو د پاره تالاب په اجاره باندې ورکول

سوال - د يو سړي په زمکه کښې د سيلاب د وجې نه تالاب جوړ شوې دې. دا سړې د کبانو د نيولو د پاره تالاب په ټيکه باندې ورکوي دا کار ئې شرعاً صحيح دې او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب و منه الصدق والصواب : دا روا نهٔ دی.

قال فى شرح التنوير: ولم تجز اجارة بركة ليصاد منها السمك. وفى الشامية: لان الاجارة واقعة على استهلاك العين وسيأتى التصريح بانه لا يصح اجارة المراعى و هذا كذلك ولذا جزم المقدسى بعدم الصحة الخ (ردالمحتار ص۳ ج۶) والله سبحانه وتعالى اعلم.　　　۱۳ جمادى الاولى ۱۳۷۵ هجرى

په اجاره باندې اخستلې شوې زمکه ډوبه شوه

سوال - يوه زمکه د پنځو کالو د پاره په اجاره باندې واخستلې شوه، آخرى کال په کښې باقى پاتې وو. چې په درياب کښې د غرقيدلو د وجې نه په دې زمکه کښې کرونده ونه شوه. نو آياد دې کال اجرت په ذمه د مستاجر شته دې او که نه شرعاً اجرت ساقط دې؟ بينوا توجروا.

الجواب و منه الصدق والصواب که چيرې د اوبو د وچيدلو نه پس د اجارې د مودې د ختميدلو پورې په دې کښې د څه قسمه کرونده کيدلې شوه نو بيا د دې کال اجرت معاف نه دې او که دا هم نه وی نو بيا معاف دې

قال فى شرح التنوير قبيل باب فسخ الاجارة: الاجرة للارض كالخراج على المعتمد فاذا استاجرها للزراعة فاصطلم الزرع آفة وجب منه لما قبل الاصطلام و سقط ما بعده قلت و هو ما اعتمده فى الولوالجية لكن جزم فى الخانية برواية عدم سقوط شىء حيث قال اصاب الزرع آفة فهلك او غرق ولم ينبت لزم الاجر لانه قد زرع ولو غرقت قبل ان يزرع فلا اجر عليه

وفى الشامية: (قوله و سقط ما بعده) لكن هذا انما يظهر بعد هلاك الارض مدة لا يتمكن من اعادة الزراعة فيها

تمکن من اعادة مثل الاول او دونه فی الضرر یجب الاجر قال فی البزازیة عن المحیط و علیه الفتوی ومثله فی الذخیرة والخانیة والخلاصة والتتارخانیة والظاهر ان التقیید باعادة مثل الاول او دونه مفروض فیما اذا استاجرها علی ان یزرع نوعا خاصا اما لو قال علی ان ازرع فیها ما اشاء فلا یتقید فان تعمیمه صحیح کما مر (قوله لکن جزم الخانیة الخ) ما ذکره فی الخانیة ذکره فی الولوالجیة ایضا واعتمد خلافه کما سمعت علی انه فی الخانیة ذکر التفصیل المار وقال وهو المختار للفتوی فکیف یکون جازما بخلافه وقد علمت التصریح بأن علیه الفتوی عن عدة کتب. (ردالمحتار ص۳۰ ج۵)

و ایضا فیها فی اوائل کتاب الاجارة تحت (قوله و لو غصب فی بعض المدة فبحسابه) ویسقط الاجر بغرق الارض قبل زرعها و ان اصطله افة سماویة لزمه الاجر تاما فی روایة عن محمد رحمه الله لانه قد زرعها والفتوی علی انه یلزمه اجر ما مضی فقط ان لم یتمکن من زرع مثله فی الضرر الخ (ردالمحتار ص۵ ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۷ محرم ۱۳۷٦ هجری

په کمیشن باندې چنده کول روا نهٔ دی

سوال:- په ځینی مدرسو کښې د مدرسې نماینده ګان په حصې باندې کار کوی، یعنی د مدرسې د پاره چې کومه چنده جمع شی نو د هغې نه دریمه یا څلورمه حصه په خپله اخلی، او باقی پیسې مدرسې ته ورکوی، آیا دا طریقه صحیح ده او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب و منه الصدق والصواب: دا معامله د دوو وجو نه ناروا ده:

۱- دا اجرت من العمل دې او دا ناروا وی.

قال فی التنویر و شرحه: ولو دفع غزلا لاخر لینسجه له بنصفه ای بنصف الغزل او استاجر بغلا لیحمل طعامه ببعضه او ثورا لیطحن بره ببعض دقیقه فسدت فی الکل لانه استاجره بجزء من عمله والاصل فی ذلك نهیه ﷺ عن قفیز الطحان. (ردالمحتار ص۳۸ ج۵)

د دې تصحیح داسې کیدلې شی چې اجرت من العمل دې په کښې د شرط په توګه مقرر نهٔ کړې شی، بلکه صرف د تعیین او د تحدید د پاره دې وی، نو دا مفسد نهٔ دې. یعنی که چیرې په قفیزالطحان کښې دا شرط نهٔ وی چې د همدې طحین نه به ورته اجر ورکولې شی نو بیا روا دی.

۲ - اجیر په دې عمل باندې بنفسه قادر نهٔ دې، قادر بقدرة الغیر دې، د دهٔ عمل د چندې ورکوونکو په عمل باندې موقوف دې، او قادر بقدرة الغیر په حکم د عاجز کښې دې، او د اجارې د صحت د پاره قدرت بنفسه شرط دې، د قفیز الطحان د فساد علت همدا دې چې مستاجر قادر علی

الاجرة بقدرة العامل دي ، بنفسه قادر نۀ دي .

د فقهاء كرامو رحمهم الله د تصريح مطابق په وخت د عقد كښې د اجير قادر على العمل كيدل او د مستاجر قادر على تسليم الاجرة كيدل د عقد د صحت دپاره شرط دي .

په ذكر كړې شوې معامله كښې د قفيزِ طحان نه هم زيات فساد دې،ځكه چې په قفيزِ طحان كښې اجرت كوم چې د اجير حق دې هغه هم د دې اجيرپه عمل باندې موقوف دې.او هغه د عمل په ذريعه د اجرت په اخستلو باندې قادر دې. ليكن په ذكر كړې شوې مسئله كښې اجير ته په عمل باندې د هيڅ قسمه قدرت نۀ دې حاصل. بلكه د غير محتاج دې .

قفيزِطحان اجاره فاسده ده.او په كميش باندې د چندې دمعاملې اجارهٔ باطله ده. په صورت د حصې د تاكلو كښې اجرت حرام دې.په مهتمم او سفير دواړو باندې د دې فاسدې اجارې نه توبه واجبه ده.او سفير ته دې د اجر مسمى او د اجر مثل نه اقل وركړې شي.- والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۰ ذی قعده ۱۳۸٤ هجری

د پورتنی سوال په شان يوبل سوال

سوال :- د كوم مؤذن تنخوا چې مقرره وى.كه چيرې هغهٔ هم ددې جمات د پاره چنده كوى،نو د دې چندې نه هغهٔ ته مثلا پنځه يا لس فيصده وركول روا دى او كه ناروا دى؟ او كه روا نۀ دى نو چې څومره ورځې كار ئې كړې دې د هغې ورځو به څه حكم وى.او كومه پيسه چې په دې طريقه اخستلې شوې ده.د هغې متعلق څه حكم دې ؟بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : د تنخوا مقررولو باوجود د چندې ټاكلې شوې حصه هم اجرت دې. او د چندې اخستونكى اجرت هم ددې چندې نه وركول روا نۀ دى،برابره خبره ده كه مؤذن وى او كه بل څوک وى.د مؤذن تنخو ټاكلې شوې وى او كه نه. د دې جمات د پاره چنده كوى او كه نه د بل جمات د پاره چنده كوى په هر صورت كښې دا ناروا دى

دا اجاره د دوه وجوهو څخه صحيح نۀ ده :

۱- اجرت من العمل.

۲ - عجز عن العمل. د اجير په چندې اخستلو باندې قدرت نشته دې. تر څو چې څوک چنده نۀ وركوى دې ئې اخستلې نۀ شى.او قدر بقدرت الغير په حكم د عجز كښې دې

دا باطله اجاره ده.د دې وجې نه چندې راوړنكى له د هغه اجرت په صورت د ټاكلې شوې حصې سره حلال نۀ دې .

قال فى التنوير وشرحه: الفاسد من العقود ما كان مشروعا باصله دون وصفه والباطل ما ليس مشروعا اصلا لا باصله ولا بوصفه وحكم الاول و هو الفاسد وجوب اجر المثل بالاستعمال لو المسمى معلوما ابن

كمال بخلاف الثاني وهو الباطل فانه لا اجر فيه بالاستعمال حقائق.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله والباطل) كان استاجر عمعة او دم او استاجر طيما ليشمه او شاة لتتبعها غنمه اولجلا ليلزوا ورجلا ليحطه صماط (ردالمحتار ص ۲۰ ج ۵) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۹ ربیع الثانی ۱۳۸٦ هجری

د قربانئ د څرمنو په اخستلو باندې کمیشن اخستل روا نهٔ دې

سوال:- زمونږ د جمات امام صاحب زکوة او د قربانئ څرمنې د يو دارالعلوم د پاره جمع کوی. او د دې نه پنځه ويشت فيصده کميشن اخلی، آيا د دوئ دا فعل روا دې او که نه؟ او داسې امام پسې مونځ کول روا دی او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په زکوة او د قربانئ په څرمنو باندې کميشن اخستل روا نهٔ دی. ځکه چې دا قدرت بقدرت الغير دې. او دا په حکم د عجز کښې دې. امام صاحب ته ددې ګناه نه د توبې کولو وينا پکار ده. که توبه نه کوی نو په انتظاميه باندې دداسې امام معزول کول فرض دی. او د توبې نهٔ کولو په صورت کښې د داسې امام امامت مکروه تحريمی دې. والله سبحانه وتعالى اعلم.

٤ ذی قعده ۱۳۹۹ هجری

د بعضې مونځونو د جمعې په ورکولو باندې پوره تنخوا اخستل

سوال:- که چيرې امام د دريو يا د څلورو مونځونو د جمعې په ورکولو باندې پوره تنخو اخلی نو دا روا دی او که ناروا ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که چيرې د پوره پنځو مونځونو د جمعې ورکولو شرط ئې لګولې وی نو د پوره تنخوا مستحق بيا نهٔ دې. والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۵ جمادی الاخرة ۱۳۸۷ هجری

په دينی خدمت باندې تنخوا اخستل

سوال:- آيا د امام، مؤذن، او د دينی کتابونو درس ورکونکی مدرس لپاره تنخوا اخستل روا دی او که نه؟ ځينی خلق وائی چې دا مصداق دې د ((اشتروا به ثمنا قليلا)) او په احاديثو کښې په تعليم د قرآن باندې اجرت اخستونکی د پاره سخت وعيدونه راغلې دی. په کومو کښې چې حديث د قوس زيات مشهور دې، تاسو مونږ له مفصل جواب راکړئ ستاسو به ډيره مهربانی وی. بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په امامت، اذان، او د دينی کتابونو په درس او د قرآن په تعلم باندې او دغه شان په نورو دينی خدمتونو باندې تنخوا اخستل روا دی. حضراتو خلفا ...

ﷺ په خپل خپل دور د خلافت کښې دې حضراتو ته وظيفې او تنخوا ګانې ورکړې وې.او د خلفاء راشدينو عمل زمونږ د پاره حجت دې.

قال ﷺ: عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين

قال الامام الزيلعي رحمه الله: وقد روى عن عمر بن الخطاب رضي الله عنه انه كان يرزق المعلمين ثم اسند عن ابراهيم بن سعد عن ابيه ان عمر بن الخطاب رضي الله عنه كتب الى بعض عماله ان اعط الناس على تعليم القران انتهى كلامه. (نصب الراية ص١٣٠ ج٤)

وقال الامام النووى رحمه الله: (قوله ﷺ خذوا منهم واضربوا لى بسهم معكم) هذا تصريح بجواز اخذ الاجرة على الرقية بالفاتحة والذكر وانه حلال لا كراهية فيها وكذا الاجرة على تعليم القرآن وهذا مذهب الشافعى ومالك واحمد واسحاق وابى ثور واخرين من السلف ومن بعدهم ومنعها ابو حنيفة رحمه الله فى تعليم القرآن واجازها فى الرقية (شرح مسلم للنووى ص٢٢٤ ج٢)

وقال الامام ابن العربى المالكى رحمه الله: الصحيح جواز اخذ الاجرة على الاذان والصلوة والقضاء و جميع الاعمال الدينية فان الخليفة ياخذ اجرته على هذا كله وفى كل واحد منها ياخذ النائب اجرة كما ياخذ المستنيب والاصل فى ذلك قوله ﷺ (ما تركت بعد نفقة نسائى ومؤنة عاملى فهو صدقة) اه (نيل الاوطار ص٢٩١ ج٥)

وقال الامام ابويوسف رحمه الله: ولم تزل الخلفاء تجرى للقضاة الارزاق من بيت مال المسلمين.

(كتاب الخراج لابى يوسف ص ١٨٧)

امام نووى او نورو ډيرو فقهاء كرامو رحمهم الله د حضرت امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله نه په تعليم د قرآن باندې او په درس او تدريس باندې اجرت اخستل مكروه او ممنوع نقل كړى دى، د دې ممانعت ډير وجوهات كيدې شي:

١- كيدې شى دوئ د ډيرې تقوى او پرهيزګارئ د وجې نه په دينى كارونو باندې اجرت اخستل منع كړى وى.

٢ - د مالدارو خلقو د پاره ئې مكروه وئيلې وى.

٣ - كوم خلق چې په دينى كارونو باندې اجرت اخستل مقصود بالذات ګڼى هغوى د پاره مكروه او ممنوع دى

٤ - ځنګه چې معلومه ده چې په خيرالقرون كښې به مفلسو د دين خادمانو ته د بيت المال نه باقاعده تنخوا اووظيفه وركول كيدله نو له همدې كبله يې د هغوئ د پاره جدا اوبله تنخوا خستلو ته مكروه وئيلى دى

اوس هر کله چې د بيت المال نظام ګډوډ شوې دي،نو په فقهاؤ د احنافو رحمهم الله کښې متاخرينو فقهاء کرامو رحمهم الله د آئمه ثلاثه په شان د جواز فتوى ورکړې ده،چې تصريح ئې د احنافو په کتابونو کښې موندلې شي.

۷ - قال الامام قاضيخان رحمه الله: وان استاجر رجلا لتعليم القرآن لا تصح الاجارة عند المتقدمين و لا اجر له بين للملك وقتا او لم يبين و مشائخ بلخ رحمهم الله جوزوا هذه الاجارة حتى حكى عن محمد بن سلام رحمه الله انه قال اقضي بتسمية باب الوالد باجرة المعلم و قال الشيخ الامام ابو بكر محمد بن الفضل رحمه الله انما كره المتقدمون الاستئجار لتعليم القرآن و كرهوا اخذ الاجر على ذلك لانه كان للمعلمين عطيات في بيت المال في ذلك الزمان و كان لهم زيادة رغبة في امر الدين و اقامة الحسبة و في زماننا انقطعت عطياتهم و انتقضت رغائب الناس في امر الآخرة فلو اشتغلوا بالتعليم مع الحاجة الى مصالح المعاش لاختل معاشهم فقلنا بصحة الاجارة و وجوب الاجرة للمعلم بحيث لو امتنع الوالد عن اعطاء الاجر حبس فيه (الخانية على هامش العالمگيرية ص ۳۳ ج۲)

۸ - و قال العلامة ابن نجيم رحمه الله: اما المختار للفتوى في زماننا فيجوز اخذ الاجر للامام و المؤذن والمعلم والمفتي كما صرحوا به في كتاب الاجارات (البحر الرائق ص ۳۳ ج۱)

د کومو بعضو آيتونو او احاديثو نه چې په تعليم القرآن،اذان،امامت او د درس او تدريس په عدم د جواز باندې استدلال کولې شي،هغه ددې لاندې ورکړې شوو وجوهو له کبله په ممانعت کښې صريح او متعين المعنى نۀ دی.

۱ - که چيرې دا په ممانعت کښې صريح واى نو حضراتو خلفاء راشدينو ﷺ،او حضراتو ائمۀ ثلاثو، جمهور علماء کرامو،او د احنافو متاخرينو فقهاء کرامو رحمهم الله به ددې خلاف د جواز فتوى هيڅ کله نۀ وه ورکړې.

۲ - دا ممانعت د هغه چا دپاره دې د چا مقصد چې په دې دينى کارونو باندې پيسه ګټل وى. او د دې نه ئې مقصد کسبِ معاش وى،دچا مقصد چې د تعليم او د تدريس نه د دين خورول او تبليغ وى د هغۀ د پاره ممانعت نه دې.

په همدې حقله حکيم الامت حضرت تهانوى رحمه الله فرمائى: ځينى خلق په دې دينى کارونو باندې تنخوا اخلى او دين د دنيا د ګټلو دپاره يو ذريعه جوړوى،او ځينى په کښې تنخوا واخلى او د دنيا نه دين جوړوى،که چيرته د چا د درس او تدريس او دتعليم القرآن نه مقصد مال ګټل وى نو هغه دين د سپکې دنيا د ګټلو يوه ذريعه جوړه کړه او د دې نه ئې دنيا جوړه کړه.او څوک چې په دې کارونو باندې تنخوا د دې د پاره اخلى چې بنۀ په مضبوط زړه سره بې فکره په بنه طريقې سره دا کار وکړې شي.نو هغه ددې دنيا نه دين جوړ کړو.ځکه چې دغه سړې تنخو د دې د پاره اخلى حې :

دين خدمت وكړې شم.اوكه نه نو د دنيا په كټه كښې لګيا شوم نو د دين خدمت به رانه پاتې شي
۳-دا د تعليم او د تدريس معاوضه نه ده بلكه د حبسِ اوقات معاوضه ده كوم چې روا ده .

قال العلامة ابن نجيم رحمه الله :(و رزق القاضي)يعني و حل رزق القاضي من بيت المال لان بيت المال اعد لمصالح المسلمين و رزق القاضي منهم لانه حبس نفسه لنفع المسلمين و فرض النبي ﷺ لعلي ﷺ لما بعثه الى اليمن و كذا الخلفاء من بعده هذا اذا كان بيت المال جمع من حل فان جمع من حرام و باطل لم يحل لانه مال الغير يجب رده على اربابه ثم اذا كان القاضي محتاجا فله ان ياخذ ليتوسل الى اقامة حقوق المسلمين لانه لو اشتغل بالكسب لما تفرغ لذلك وان كان غنيا فله ان ياخذ و هو الاصح لما ذكرنا من العلة و نظرا لمن ياتي بعده من المحتاجين ولان رزق القاضي اذا قطع في زمان يقطع الولاة بعد ذلك لمن يتولى بعده (تكملة البحر الرائق ص۳۰۰ ج۶)

۴ - په دې احاديثو كښې اكثر ضعيف دي،كه چيرې څه روايات په كښې صحيح هم وي نو هغه مؤول دي يا منسوخ دي.

قال العلامة الزيلعي رحمه الله تحت حديث ابي بن كعب ﷺ قال علمت رجلا القرآن فاهدى الى قوسا فذكرت ذلك للنبي ﷺ فقال ان اخذتها اخذت قوسا من نار قال فرددتها.قال البيهقي في المعرفة في كتاب النكاح هذا حديث اختلف فيه على عبادة بن نسي فقيل عنه عن جنادة بن ابي امية عن عبادة بن الصامت و قيل عنه عن الاسود بن ثعلبة عن عبادة و قيل عن عطية بن قيس عن ابي بن كعب.ثم ان ظاهره متروك عندنا و عندهم فانه لو قبل الهدية و كانت غير مشروطة لم يستحق هذا الوعيد و يشبه ان يكون منسوخا بحديث ابن عباس و حديث الخدري رضي الله عنهما و ابو سعيد الاصطخري من اصحابنا ذهب الى جواز الاخذ فيه على ما لا يتعين فرضه على معلمه و منعه فيما يتعين عليه تعليمه و حمل على ذلك اختلاف الآثار و قد روي عن عمر بن الخطاب ﷺ ان كان يرزق المعلمين ثم اسند عن ابراهيم بن سعد عن ابيه ان عمر بن الخطاب ﷺ كتب الى بعض عماله ان اعط الناس على تعليم القرآن انتهى كلامه .(نصب الراية ص۱۳۰ ج۴) . والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۹ ربيع الثانى ۱۳۸۹ هجرى

د مدرسينو د تنخوا د مختلفو صورتونو حكم

سوال - د مدرسينو د تنخو په حقله د دې لاندينو سوالونو جوابونه مطلوب دي

۱- د يو مدرس تقرر د شوال نه شوې دې.مدرسه د ۱۱ د شوال نه شروع كيږي لهذا دغه مدرس د ۱۱ د شوال نه كار شروع كړو. نو آيا هغه ته به تنخوا د پوره مياشتې وركول كيږي او كه نه د ۱۱ د شوال نه تر آخر د مياشتې پورې تنخوا به ورته وركول كيږي ؟

۲ - يو مدرس د كال د شروع نه مدرس وو.د كال په رخصتيانو كښې د مدرسې له اړخه د

راروان کال د پاره هغه لرې کړې شو ،نو آيا هغه به د رمضان د تنخوا مستحق وی او که نه؟

۳ - په دويم سوال کښې که په را روان کال کښې د لرې کولو خبر دغه مدرس ته د رمضان په مينځ کښې ورکړې شی نو بيا څه حکم دې؟

۴ - د داسې مدرس به څه حکم وی چې دهغه تقرر دکال په مينځ کښې شوې وی. بيا د رخصتيانو په وخت کښې يا د رمضان په مينځ کښې هغه لرې کړې شی نو آيا هغه به د رمضان د تنخوا مستحق وی او که نه؟

۵ - يو مستقل مدرس چې په راروان کال کښې هم د هغهٔ په مدرسه کښې د پاتې کولو اراده وی، هغه په شعبان يا په رمضان کښې وفات شی نو ددې دوو مياشتو د تنخوا به څه حکم وی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د مدرسينو سره عقد اجاره مسانهه ده،لهذا په هر صورت کښې به د تقرر د ابتداء نه د رمضان د انتهاء پورې تنخوا ورکولې شی.په اهل د مدرسې باندې دا لازم دی چې د لرې کولو خبر دې ورته په وخت يعنی د رجب په آخره کښې ورکړی.که په خبر ورکولو کښې ئې تاخير وکړو لکه په دريم سوال کښې چې څنګه ذکر کړې شوې دی نو په دې به دوی بيا ګناه ګار وی، د کومې نه چې توبه او استغفار لازم دی. **والله سبحانه وتعالى اعلم.** ۲۳ ذی الحجه ۱۳۸۷ هجری

د څو کالو رخصتی جمع کول او بيا د اجرت مطالبه کول

سوال- په عربی مدارسو کښې چې مامورينو ته د اتفاقی رخصتيانو کوم حق وی،که چيرې يو مامور څو کالو پورې رخصتی وانخلی نو آيا د هغهٔ حق به د آينده دپاره باقی پاتې وی او که نه د وخت په تيريدلو باندې يی حق ختميږی؟ که چيرې يو مامور د څو کالو په تيريدلو باندې د يو کال سره د نورو تيرو شوو کلونو رخصتيانې هم جمع کړی او په يو ځائې دوه درې مياشتې رخصتی وکړې او د هغې د تنخوا مطالبه وکړی نو آيا شرعاً هغهٔ ته داحق شته او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب د کال په تيريدلو باندې دا حق ختميږی. لهذا د څو کلونو د تيريدلو نه پس د تيرو شوو کالونو د رخصتيانو د اخستلو هيڅ حق د دهٔ نشته دې.او هر کله چې ئې تنخوا اخستې ده نو اوس په دويم ځل د تنخوا د اخستلو څه مطلب شو؟ که چيرې د مدرسې د تاکلې شوو ورځو نه ئې زياتې رخصتيانې وکړې نو ددغه زياتی ورځو تنخوا اخستل روا نهٔ دی

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: بخلاف ما اذا لم يقدر لكل يوم مبلغا فانه يحل له الاخذ وان لم يدرس فيها للعرف بخلاف غيرها من ايام الاسبوع حيث لا يحل له اخذ الاجر عن يوم لم يدرس فيه مطلقا سواء قدر له الاجر لكل يوم اولا (ردالمحتار ص۳۰ ج۳) ۱۲ محرم ۱۳۹۰ هجری

د بيمارۍ د ورځو تنخوا

سوال:- يو مدرس په مدرسه کښې د درس ورکولو اراده لري،د دې مدرسې دا دستور دې چې د لسم د شوال نه تعليم شروع کړې شي،دغه مدرس په شپاړسم دشوال راشي او وائي چې زۀ به دوه ورځې پس راځم او درس به شروع کوم،ليکن هغه يوه هفته پس راشي،د راتلو نه پس د هغه طبيعت بيا خراب شي،آخر دا چې هغه په ۲۹ د شوال باندې سبقونه شروع کړي.نو آيا په دې صورت کښې به هغه د شوال د مياشتې د تنخوا مستحق وي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : د کومو دوو ورځو رخصت ئې چې اخستې وو او تلې وو د هغه دوو ورځو د اجرت مستحق دې او د باقي ورځو د اجرت مستحق نۀ دې،د حاضرۍ نه پس د هغه د بيمارۍ د ورځو د تنخوا فيصله به د هغۀ د عقد د شرائطو مطابق کولې شی،او که په وخت د عقد کښې د بيمارۍ د ورځو د تنخوا په حقله څه وضاحت نۀ وو کړې شوې،نو د مدرسو په عرف باندې به فيصله کولې شی،دعامو مدرسو عرف دا دې چې د بيمارۍ د ورځو تنخوا ورکولې شي۔ والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۳ جمادى الاولى ۱۳۹۲ هجرى

که مامور د اجارې د مودې د ختميدلو نه وړاندې کار پريښودلو نو د تيرو شوو ورځو د تنخوا به مستحق وي

سوال:- د مدرسې مامور دوه يادرې ورځې کار وکړي او لاړ شي او حال دا چې ددې مامور تقرر د پوره کال د پاره کړې شوې وو،د دۀ د تلو د وجې نه د مدرسې سخت نقصان کيږي،او د ډير زيات عذغ کولو نه پس هم هغه واپس نۀ راځي،او چې څومره ورځې کار ئې وکړو د هغې د تنخوا طلب ګار دې، آيا هغۀ د تنخوا مستحق دې؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : په دې مامور باندې د وعدې مطابق ټول کال کار کول لازم دی،بې د شرعي عذر نه د کار د پريښودلو په صورت کښې به سخت ګناه ګار وی. ليکن څو ورځې کار ئې چې کړې دې نو د هغومره ورځو د تنخوا دې مستحق دې۔ والله سبحانه وتعالى اعلم.

۷ صفر ۱۳۹۳ هجرى

د غير حاضرۍ د ورځو د اجرت حکم

سوال:- د مدرسو استاذان او د جماتونو امامان چې په کومو ورځو کښې غير حاضر وي نو آيا دوی د دغه ورځو د اجرت مستحق دی او که نه؟ او د څومره ورځو غير حاضرۍ نه صرف نظر کيدې شي؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : پدې کښې به د مدرس په عرف باندې عمل کولې شي.چې عرف

خومره غير حاضرياني عفو ګڼل کيږي.د هغې د اجرت به مستحق وي.د زياتو به مستحق نۀ وي

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: وفي القنية من باب الامامة امام يترك الامامة لزيارة اقربائه في الرساتيق اسبوعا او نحوه او لمصيبة او لاستراحة لا بأس به ومثله عفو في العادة والشرع اهـ وهذا مبني على القول بان خروجه اقل من خمسة عشر يوما بلا عذر شرعي لا يسقط معلومه وقد ذكر في الاشباه في قاعدة العادة محكمة عبارة القنية هذه حملها على انه يسامح اسبوعا في كل شهر واعترضه بعض محشيه بان قوله في كل شهر ليس في عبارة القنية ما يدل عليه قلت والاظهر ما في اخر شرح منية المصلي للحلبي ان الظاهر ان المراد في كل سنة.

(ردالمحتار ص۳۰۰ ج۳)والله سبحانه وتعالى اعلم. ٤ جمادی الآخرة ۱۳۹۳ هجری

په استنابه (يعنى نائب جوړولو) کښې د اجرت مستحق اصل شخص دې او که نائب؟

سوال- امام يا مدرس څوک په خپل ځائ نائب کړو او لاړو،نو چې څومره ورځو دپاره دې تلې دې د دومره ورځو د اجرت مستحق به څوک وي؟ اصل شخص به وي او که نائب؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په امامت او تدريس کښې نائب مقررول روا دی، ليکن د اجرت مستحق به اصل امام يا اصل مدرس وي،البته که چيرې اصل د نائب د پاره اجرت مقرر کړې وي نو هغۀ به ددې مستحق وي،اوکه چيرې اجرت ئې نۀ وي مقررکړې نوهغۀ به بيا داجر مثل مستحق وي

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: قال في البحر وحاصل ما في القنية ان النائب لا يستحق شيئا من الوقف لان الاستحقاق بالتقرير ولم يوجد ويستحق الاصيل الكل ان عمل اكثر السنة وسكت عما يعينه الاصيل للنائب كل شهر في مقابلة عمله والظاهر انه يستحقه لانها اجارة وقد وفي العمل بناء على قول المتاخرين المفتى به من جواز الاستئجار على الامامة والتدريس وتعليم القرآن. (ردالمحتار ص۳۰۰ ج۳)

٤ جمادی الاخرة ۱۳۹۳ هجری

د نا اهله کيدلو له کبله لرې کړې شوې امام د باقي پاتې ورځو د تنخوا مستحق نۀ دې

سوال- د يو ديني مدرسې يو مدرس د هغۀ د طرزِ عمل او د څه کمزوريانو له کبله هغه د ادارې د پاره نامناسبه وګڼلې شو او د کال په ختميدلو باندې د رجب په آخره کښې مهتمم صاحب هغه لرې کړو.او د رجب تنخوا ورته هم ورکړې شوه.د دې ادارې د مامورينو د اخوا کولو په شق کښې دا شامل دی چې په عامو حالاتو کښې اخوا کوونکې مدرس به يوه مياشت وړاندې خبر ...

دا مدرس د نا اهلیت له کبله مجبورتًا لرې کړې شو ،او بله څه وجه په نظر نه راتله. د دې وجې نه د وراندې نه د خبر د ورکولو ضرورت محسوس نۀ کړې شو .آیا شرعا به د شعبان د میاشتې تنخوا ورکول لازم وی او که نه؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : که چیرې مدرس واقعتا د نا اهلیت له کبله معزوله کړې شوې وی نو هغۀ د شعبان د تنخوا مستحق نۀ دې. **والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.** ۲۶ رجب ۱۳۹۳ هجری

د مدارسو عقد اجاره مسانهه ده

سوال :- که چیرې د یوې مدرسې دا دستور نۀ وی چې لرې شوی مدرس ته به د رمضان تنخوا ورکول لازم وی،د دې باوجود د مدرسې ناظم تنخوا ورکړی، نو آیا دا تنخوا د لرې شوی مامور دپاره اخستل او د ناظم دا تنخوا ورکول روا دی او که نه؟ او که چیرې روا نۀ وی نو د دې ضمان به په چا باندې وی؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : د دې معاملې مسانهه کیدل معروف دی لهذا په صورت د عدم اشتراط کښې هم د رمضان تنخوا واجبه ده،**لان المعروف کالمشروط**.البته که په وخت د عقد کښې ددې تصریح کړې شوې وه چې دا تعاقد تر آخر د شعبان پورې دې نو بیا په دې صورت کښې به دې د رمضان د تنخوا مستحق نۀ وی . **والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.** ۲۶ رجب ۱۳۹۳ هجری

په دینی مدرسو کښې د رمضان د تنخوا حکم

سوال:- د عامو ادارو دا اصول دې چې که چیرې یو مدرس اداره په خپله لرې کوی نو په اداره باندې دا لازم دی چې د رمضان تنخوا به ورکوی،او که چیرې مدرس په خپله دا اداره پریږدی نو بیا به مستحق نۀ وی، د دې شرعی حیثیت څه دې؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : مدرسین اجیرِ خاص دی،د دوی عقد د اجارې د عمل په ځائ په وخت باندې دې،چې موده ئې د مدرسو د عرف مطابق یو کال ده،په دې کښې په رمضان کښې د عدم استحقاق د اجرت شرط سره عقد فاسد شو .**لانه مخالف لمقتضی العقد وفیه نفع لاحد المتعاقدین** لهذا مدرس به د ټول کال په اجر مثل او په مقرره اجر کښې د اقل حق دار وی .

په تعاقد کښې داسې قسمه شرط لګول ناروا دی. **والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.**

۲۶ رجب ۱۳۹۳ هجری

د پورتنی سوال په شان یوبل سوال

سوال:- په دینی مدرسو کښې په عامه توګه دا قانون دې چې کوم مدرس په شعبان کښې د

تعلیمي کال په ختمیدلو باندې د راروان کال دپاره په خپله مدرسه پریږدی نو هغهٔ ته د رمضان تنخوا نه ورکول کیږی. او که چیرې د مدرسې لخوا هغه لرې کړې شی نو هغه ته بیا د رمضان تنخوا ورکول کیږی.

بعضی مدرسین د رمضان د تنخوا د اخستلو دپاره دا تدبیر کوی،چې د شعبان په آخره کښې مهتمم ته د مدرسې د پریښودلو خبر نهٔ ورکوی،د رمضان د تنخوا د اخستلو نه پس هغه ته خبر ورکړی، آیا د دوی دا عمل روا دې؟ او آیا د دوی دپاره د رمضان تنخوا حلاله ده؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د مدارسو د عرف مطابق دا عقد اجارهٔ مسانهه ده،د رمضان د اجرت عدم استحقاق شرط لګول د عقد د مقتضا خلاف دی، لهذا دا عقد فاسد شو.مدرس ته به د ټول کال اجرِ مثل ورکول کیږی، چې د ټاکلې شوې تنخوا نه به زیات نهٔ وی.

په تعاقد کښې داسې قسمه شرط لګول ناروا دی.

په دې کښې د ځینی اهل علمو بعض اشکالات دی.

۱ - په دې تعاقد کښې د راروان کال د پاره تدریس لازمی شرط نهٔ ټاکلې کیږی،بلکه د کال په آخره جانبینو ته دا اختیار وی، په معاهده کښې صرف د اجرت د استحقاق د فیصلې صورت متعین کولې شی.

۲ - په دې کښې **جهالة مفضية الى النزاع** دې **لانها ترتفع بعمل الاجير.**

۳ - که د عقد فساد تسلیم هم کړې شی،نو دا به صرف د رمضان په حقله وی،د دې نه وړاندې د پورلس میاشتو عقد به صحیح وی،ځکه چې د اجرت د عدم استحقاق شرط صرف د رمضان په حقله دې.

د اولنی اشکال جواب : **تعليق استحقاق الاجرة بشرط يكون بمنزلة الشرط لانهما عبارتان عن معنى واحد على ان الشرط المفسد هو عدم استحقاق الاجرة ببعض التقادير فانه مخالف لمقتضى العقد وفيه نفع للمستاجر فان المقتضى هو الاستحقاق بايفاء العمل على كل تقدير.**

د دویم اشکال جواب : په بیعه کښې خیارِ تعیین سره او په اجاره کښې عمل سره د جهالت د ارتفاع اعتبار د قیاس خلاف دې. لهذا ذکر کړې شوې مسئله په دې باندې قیاس کول صحیح نهٔ ده.او مستقیماً په همدې کښې داخل نهٔ دې د دوو وجو نه:

۱ - د **ارتفاع الجهالة بالعمل** مواضع یعنی **ان صبغته بعصفر فبدرهم وان صبغته بزعفران فبدرهمين** وامثالهم کښې په احد الشقین کښې اجرت بالکل معدوم نه دې بلکه ددې تقلیل دې.او په مسئله د اجرت کښې د یوې میاشتې اجرت بالکل معدوم دې

۲ - په ذکر کړې شوې مثالونو کښې په دوارو شقونو کښې په عمل کښې معقود علیه موجود دې او په مسئله د تدریس کښې د راروان کال د پاره تدریس د معقود علیه نه بالکل خارج خان له یو خیز دې.

د نزاع د ویرې د نشتوالی د علت له کبله الحاق هم صحیح نهٔ دې.ځکه چې په مسئله د تدریس کښې صرف دنزاع ویره نهٔ ده بلکه د نزاع وقوع په کښې په کثرت سره کیږی.د کومو د فیصلو د پاره چې د مختلفو مدرسو نه استفتاء اخستل کیږی.

د دې نه علاوه پورته دا خبره وښودلې شوه چې په نص د فقهاء کرامو ؒ دلته له سره اصل خلاف القیاس دې، په حقیقت کښې په دې ځایونو کښې هم عدم د جواز کیدل پکار دی،ځکه چې په وخت د عقد کښې په وجه د جهالت سره عقد فاسد شو،کوم چې بیا وروستو د جهالت په ارتفاع سره نهٔ صحیح کیږی،د عقد د صحت د پاره په وخت د تعاقد کښې عدم د جهالت شرط دې. وروستو بیا د جهالت د ارتفاع اعتبار نشته دې، سره د دې بیا هم په ذکر کړې شوو ځایونو کښې د حاجت د وجې نه خلاف القیاس اجازت ورکړې شوې دې.فلا یصح القیاس علیه

په فرض د دخول د فساد سره د اجارې د فساد دویم علت خو په هر حال کښې موجود دې.ای الشرط المخالف لمقتضی العقد وفیه نفع لاحد المتعاقدین

د دریم اشکال جواب:

العقد واحد من ابتداء السنة الی تمامها لانها مسانهة فالفساد یقع فی تلك المدة الکاملة لا فی جزء منها.

قال العلامة الرافعی رحمه الله:(قوله ولو قال اجرتك سنة بألف کل شهر بمائة الخ)وذکرها فی الخانیة ایضا وقال فیها نوع اشکال وهو انه لو جعل فسخا للاول وابتداء اجارة ینبغی ان یجوز فی الشهر الاول ثم تتجدد عند کل شهر ویکون لکل واحد الخیار عند تجدد کل شهر اھ ویقال المراد انها فسخ فی حق الاجرة لا المدة فانها لا فسخ فیها بل هی سنة (التقریرات الرافعی ص۳۰)

د دې نه علاوه که دې ته تعدد د عقودو اووئیلې شی نو په دې کښې دوه فساده دی

۱ - د هرې میاشتې دعقد سره د نورو میاشتو عقدونه مشروط نهٔ دی نو په جانبینو باندې به د دې ایفا لازمه نهٔ وی،او که چیرې مشروط وی نو دا بیا صفقة فی صفقة بل فی صفقات شو.

۲ - د راروانو میاشتو په عقدونو کښې به هر عقد اجارهٔ مضافه وی،کومه چې د مفتی به قول مطابق اگرچې صحیح ده لیکن لازمه نهٔ ده.

قال فی التنویر وشرحه: ویعلم النفع ببیان المدة کالسکنی والزراعة مدة کذا ای مدة کانت وان طالت ولو

مضافة كاجرتكها غدا وللمؤجر بيعها اليوم وتبطل الاجارة به يفتي خانية.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله وللمؤجر بيعها اليوم) اى قبل مجيء وقتها بناء على ان المضافة تنعقد ولكنها غير لازمة وهو احد تصحيحين واية عدم اللزوم بان عليه الفتوى كما سيأتي في المتفرقات وفي البزازية فان جاء غد والمؤجر عاد الى ملكه بسبب مستقل لا تعود الاجارة وان رد بعيب بقضاء او رجع في الهبة عادت ان قبل مجيء الغد (ردالمحتار ص ج ٥)

د عقد د فساد د وجې نه به د ټول کال عقد فاسد وي،لهذا مدرس به د ټول کال په اجر مثل او په اجرِ مقرر کښې د اقل مستحق وي.

«الحمد لله د اشکال خاوندان په ذکر کړي شوو جوابونو سره مطمئن شو»

همدغه شان دیو سوال په جواب کښې مولانا خلیل احمد صاحب سهارنپوری رحمه الله فرمائی:

مدرسین اجیرِ خاص دی ځکه چې د وخت پابند دی،د دوی د رخصتئ زمانه د کارکولو زمانه ده، ځکه چې په دې کښې عقد د اجارې باقی دې،هغه عقد نۀ دې قطع شوې، لیکن د تنخوا په حقله یو شرط لګولې شوې دې،چې د رمضان د تنخوا مستحق به په هغه صورت کښې وی چې د شوال په ابتداء کښې حاضر شی، شرعا د مقتضا خلافِ شرط لګول د عقد د اجارې دپاره مفسد وی، لهذا دا عقد د اجارې فاسد شو،او د فساد په صورت کښې اجیر د اجر مسمی مستحق نۀ وی بلکه د اجرمثل مستحق وی،لهذا په موجوده صورت کښې به هغه مدرس د تنخوا مستحق نۀ وی بلکه د اجرمثل مستحق به وی،او دې ته دې شرط فی العقد نۀ وئیلې کیږی بلکه د عقد نۀ دې ورته خارج اووئیلې شی،یا دې ورته معروف شرط اووئیلې شی،نو په دې ټولو صورتونو کښې به مدرس په واقعه متنازع فیه کښې د ټولې تنخوا مستحق وی.

او احتمالات او اختلاف د حکم خو صرف په رمضان المبارک کښې دې،او د شوال په ورځو کښې چې کله مدرس په خپل کار باندې مامور وی نو بیا خو به د خپلې تنخوا ضرور مستحق وی.

(فتاوی خلیلیه ص ۲٤۷)

د ذکر کړې شوی تحریر وضاحت:-

۱ - **قوله** : او احتمالات او اختلاف د حکم خو صرف په رمضان المبارک کښې دې_الخ.

د دې د سیاق (او د شوال په ورځو کښې الخ) نه معلومیږی چې دا اختصاص د راروان کال په مقابله کښې بیانیږی،په تیر شوی ټول کال کښې د فساد د خوریدلو نفی په کښې نشته ، په صورت د تسلیمولو کښې د دې خلاف د فساد د خوریدلو دلائل پورته د دریم اشکال په جواب کښې تیر شوی دی

۲- **قوله**. د اجر مثل مستحق به وی . ولکن لايزاد على المسمى.

۳ - **قوله** دې ته دې شرط في العقد نهٔ وئیلې کیږی ـ الخ .
لیکن اوسه پورې د مدرسو د قواعدو مطابق دا شرط د عقد دملا تړ په حیثیت سره راروان دې. د دې وجې نه دا مفسد د عقد دې .
۴ - **قوله** : دې ته دې شرط معروف اووئیلې شی .
زما په خیال د عقد د فساد شرط پس د عرف نه مفسد نهٔ پاتې کیدل کلیه نهٔ ده،بلکه په دې کښې تفصیل دې، او هغه تفصیل ته چې خیال وکړې نو په ((اشتراط آلات العمل على الاجير)) باندې د ((اشتراط عدم استحقاق الاجرة)) قیاس صحیح نهٔ معلومیږی ،فلیتامل .
فرض کړه که د قیاس صحت ته وګورې نو په دې اجاره کښې داسې عرف نشته دې،هر څه چې وی هغه به وی لیکن تر اوسه پورې اجارهٔ فاسده راروانه ده.
صورت د تصحیح :
د دې فساد نه د بچ کیدلو همدا صورت کیدې شی،چې دا قاعده دې ختمه کړې شی،او مدرس ته باید په هر حال کښې د رمضان تنخوا ورکول شی ، برابره خبره ده که هغه په راروان وخت کښې دوی سره تدریس کوی او که نه یی کوی،او که خامخا همدا قاعده جاری ساتل وی نو د دې د تصحیح دا صورت کیدې شی چې په اول کال دې عقد د اجارې د یوولس میاشتو دپاره وکړې شی. د شوال د ابتداء نه واخله تر د شعبان د انتهاء پورې، بیا د راروان کال دپاره دې د رمضان المبارک د شروع نه واخله د شعبان تر آخره پورې دولس میاشتې عقد دې وکړی .
په دې صورت کښې که مدرس د شعبان په آخره کښې د عقد په ختمیدلو باندې مدرسه پریږدی. نو هغه به درمضان د تنخوا مستحق نهٔ وی ((لان مدة الاجارة قد تمت بانقضاء شعبان)) او که د راروان کال د پاره پاتې کیږی نو د دویم عقد له کبله به د رمضان د تنخوا مستحق شی.لان ابتدائه من ابتداء رمضان.
پاتې شوه دا قاعده چې که مدرس ته د مدرسې له خوا جواب ورکړې شو نو هغه ته به د رمضان المبارک تنخوا ورکړې کیږی اوکه نه ؟ نو د دې تصحیح داسې کیدې شی چې مهتمم دې دا وعده په طور د التزام د تبرع وکړی چې پوره کول به ئې په مهتمم باندې لازم وی.د عدم ایفاء په صورت کښې به ګناه ګار وی. لیکن مدرس به مطالبه نهٔ شی کولې .
که چیرې مهتمم د متولی یا د انتظامیې له اړخه په تصرفاتو کښې پوره اختیار مند وی نو د مدرسې د خزانې نه تبرع کولې شی اوکه نه نو له خپل طرفه دې ورکړی .

ويشكل على العاقد من ابتداء رمضان نص الفقهاء رحمهم الله **على ان الاجير لا يستحق الاجر بالعاقد الخ**

التسليم فلا مخلص بدون الحاق رمضان بالسنة الماضية وايجاب اجرته
د عقد له معروفې مودې نه علاوه د خو زياتو ورځو اجرت ورکول عام عرف دی،او دې ته د ماضی د عمل میوه وئیلې شی.

دا خبره د قاعدې د لاندې د راوستلو د پاره ددې تعبیر داسې دې،چې د مدرسینو سره په اجاره کښې تعاقد خو د یوولسو میاشتو وی یعنی د شوال د ابتداء نه واخله د شعبان تر آخره پورې، لیکن ددې مجموعه مودې تنخوا به په قسطونو کښې په دولسو میاشتو کښې ورکولې شی. د رمضان ارخ ته چې کومه تنخوا منسوب ده دا په حقیقت کښې د رمضان اجرت نهٔ دې،بلکه ددې نه وړاندې د یوولسو میاشتو د اجرت یوه حصه ده،او د همدې اجرت آخری قسط دې.

د دې مثال په سرکاری نوکرئ کښې د (جی پی فنډ) په شان دې،په کوم کښې چې د نوکر د تنخوا نه څومره پیسې کټ کیږی نو د هغې په برابر ورسره حکومت نورې پیسې جمع کوی،په حقیقت کښې دا زيات والې هم د ماضی د عمل په اجرت کښې شامل دې.

همدا تاویل په دې کښې هم کیدې شی چې رمضان دې د راوان کال سره پیوسته کړې شی.په دې طریقه چې د یوولسو میاشتو د عمل د اجرت څه حصه دې د عمل د ابتداء نه وړاندې ورکړې شی

لیکن څنګه چې وړاندې اووئیلې شو چې د عمل د مودې نه پس چې کومې ورځې دی د هغې د پیوسته کولو عام عرف دې،د وړاندې د ورځو دپیوسته کولو عام عرف نهٔ دې،البته که په اسلامی مدرسو کښې د دې عام عرف شی یا په وخت د تعاقد کښې د دې وضاحت وکړې شی نو الحاق به یی په مستقبل پورې به صحیح شی.والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۱ صفر ۱۴۱۵ هجری

د پورتنی سوال په شان یوبل سوال

سوال:- ما ته ستاسو په فتوی کښې کومه چې د رمضان د تنخوا د استحقاق په حقله ده دا اشکال دې چه : دا شرط لګول چې(که په راروان کال کښې زمونږ په مدرسه کښې پاتې نه شوې نو د رمضان المبارک د تنخوا به مستحق نهٔ ئې) دا شرط د عقد د مقتضاء خلاف نهٔ دې،څکه چې په رمضان کښې خو څه کار نه وی او رخصتیانې وی او رخصتیانې د دې د پاره وی چې آرام وکړی د راروان کال د پاره تکړه او تازه شی. لهذا د دې رخصتیانو فائده او میوه به بلې مدرسې ته ورسیږی. لهذا د رمضان تنخوا د بلې مدرسې نه اخستل پکار دی.کومه مدرسه به چې د دې فائده او میوې نه نفع اخلی.په فتاوی شامیه کښې دی چه :

القاضی یستحق الکفایة من بیت المال فی یوم البطالة فی الاصح وفی الوهبانیة انه اظهر فینبغی ان یکون کذلک فی المدرس لان یوم البطالة للاستراحة و فی الحقیقة تکون للمطالعة والتحریر عند ذوی الهمة

(ردالمحتار ص ۳۰ ج ۴)

او ښکاره خبره ده چې مطالعه او تحرير به د راروانو سبقونو د پاره وي.په اصل کښې خو هم داسې کيدل په کار دي چې د رمضان د تنخوا د مخکښنين مدرسې نه دې مستحق نۀ وي.ليکن که يو مهتمم دا خبره وټاکي چې که چيرې ما تۀ لرې کړې نو د رمضان تنخوا به تا له درکوم نو دا د مهتمم له اړخه تبرع ده.او تبرع د مدرسې له اړخه کول صحيح نۀ دي.بلکه تبرع د خپل ذاتي مال نه وي. لهذا د رمضان تنخوا به مهتمم د خپله جيبه ادا کوي.الا ان يکون مختارا عاما في التصرف من جهة متولى المدرسة.

الجواب باسم ملهم الصواب: رخصتيانو سره د تنخوا ورکولو د درې قسمونو عام رواج دې

۱- د عمل د ابتداء نه وړاندې.لکه په ابتداء د شوال کښې.

۲- د عمل د اختتام نه پس لکه د شعبان په آخره کښې.

۳- د عمل په مينځ کښې.لکه د کال په مينځ کښې د جمعې او د غټ اختر رخصتياني وغيره شوې.

د شامي په جزئيه کښې صرف د دريم قسم بيان دې.کيدې شي چې په هغه زمانه کښې د ړومبنو دوو قسمونو رواج نۀ وو.د دې وجې نه ئې د دې ذکر ونۀ کړو.په ظاهره دا جزئيه د حکم د علت او د خپل نص مطابق دريم قسم سره خاص ده.د دې قسمه اجير د دې خصوصي رعايت مستحق ځکه دې چې په ماضي او مستقبل کښې ددۀ عمل هم د يو مستاجر د پاره دې.

د رخصتيانو د ورځو په مستقبل کښې د نافع کيدلو اصل بنياد دا دې چې هغۀ د ماضي د ضرر دافع دې.د عمل په موده کښې د عامل په قوت کښې دومره کموالې او په حاجتونو کښې دومره تعطل راپيدا شي.چې هغه د ښۀ ډيرو رخصتيانو د کولو نه بغير په مستقبل کښې څه کار نۀ شي کولې.د دې وجې نه ددې ورځو د اجرت د استحقاق اصل تعلق ماضي سره دې.د دې وجې نه د عمل د ختميدلو نه پس د رخصتيانو ورکول سره د تنخوا د دې دستور لو رواج په ټوله دنيا کښې دې. او په هر ځائې کښې ددې عرف عام دې.او د دې په عکس د اولني قسم وجود د اسلامي مدرسو نه علاوه بل يو ځائې کښې هم زما په علم کښې نشته دې.او که چيرې وي هم نو شاذ او نادر به وي

غرض دا چې دا جزئيه صرف د قسم ثالث په حقله ده.ړومبي دوه قسمه ددې سره پيوسته کولې شي. د پيوسته کولو د علت اصل بنياد د ماضي عمل دې.د دې وجې نه د دويم قسم الحاق اقوى دې. او ددې وجې نه په ټوله دنيا کښې د دې عام عرف شوې دې.د پنشن قانون هم د دې نظريې لاندې دې.

لهذا رمضان لره به د مستقبل سره د پیوسته کولو په ځای دماضی سره پیوسته کولې شی. بلکه په خپله په دینی مدرسو کښې هم دا عرف دې چې د مسانهې موده د شوال د ابتداء نه واخله د رمضان د انتهاء پورې ګڼلې کیږی.او د رمضان د تنخوا مسئله هم د دې وجې نه پیدا کیږی. که چیرې رمضان دتیر شوی کال نه بیل ګڼلې کیدلې نو د رمضان دتنخوا مسئله به بیخی پیدا کیدله نه د فقهاء حضراتو ﷺ دا فیصله دې هم په نظر کښې وساتلې شی چې د اجارې د عقد نه پس د معقود علیه د تسلیمولو نه وړاندې اجیر د اجر نهٔ مستحق کیږی.

قال الامام الکاسانی رحمه الله: ونعنی بالتسلیم التخلیة والتمکین من الانتفاع برفع الموانع فی اجارة المنازل ونحوها وعبید الخدمة واجیر الوحد حتی لو انقضت المدة من غیر تسلیم المستأجر علی التفسیر الذی ذکرنا لا یستحق شیئا من الاجر لان المستأجر لم یملک من المعقود علیه شیئا فلا یملک هو ایضا شیئا من الاجر لانه معاوضة مطلقة ولو مضی بعد العقد مدة ثم سلم فلا اجر له فیما مضی لعدم التسلیم فیه (البدائع ص ... ج).

رمضان المبارک د تیر شوی کال سره د پیوسته کولو دا حقیقت دې چې تعاقد د شوال د ابتداء نه واخله د شعبان تر آخره پورې د یوولسو میاشتو دې او د رمضان تنخوا هم د دې ماضی په موده کښې شامله ده. کما بینت فی التحریر السابق والله سبحانه وتعالی اعلم. ۳ رجب ۱٤۱۵ هجری

د طالبانو د نشت والی له کبله د اجارې فسخه

سوال:- دلته په مدرسه کښې د مهتمم صاحب او د یو مدرس تر مینځه د تنخوا په مسئله کښې اختلاف پیدا شوې دې،مدرس د ټول کال د تنخوا د استحقاق دعوی کوی.لیکن مهتمم د دې نه انکار کوی ،په فریقینو کښې هر یو دخپل خان په حقه باندې د کیدلو مدعیان دی،او دواړه په خپل موقف باندې دلائل وړاندې کوی د مسئلې صورت داسې دې:

مدرس تیر کاله په یوه مدرسه کښې مدرس مقرر شو،یو کال ئې یو څو میاشتې تدریس کولو. په ۱۴ ربیع الاول باندې ورته مهتمم صاحب اووئیل چې د کومې شعبې (یعنی د حفظ) تهٔ استاذ ئې. په هغې کښې صرف شپاړس طالبان دی،د دومره لږو طالبانو د پاره مستقل یو استاذ ساتل مناسب نهٔ دی، دا په مدرسه باندې بوج دې،د دې وجې نه د ۱۴ ربیع الاول نه تهٔ معزوله یې.او د دې مدرس نه کوم بل قسم شکایت یا ګیله نهٔ وه،په دې صورت کښې به مدرس د ټول کال د تنخوا مستحق وی او که نه؟بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د طالبانو د کمیدلو عذر قابل د قبول نهٔ دې.که چیرې مهتمم صاحب بې د ضرورت نه مدرس ساتلې وی. نو هغه دې د ټول کال تنخوا له خپله اړخه ورکړی،ځکه چې عقد د تدریس مسانهه وی.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: مطلب من لم يدرس لعدم وجود الطلبة:

وفي الحموي سئل المصنف عن لم يدرس لعدم وجود الطلبة فهل يستحق المعلوم؟

اجاب: ان فرغ نفسه للتدريس بأن حضر المدرسة المعينة لتدريس استحق المعلوم لامكان التدريس لغير الطلبة المشروطين قال في شرح المنظومة: المقصود من المدرس يقوم بغير الطلبة بخلاف الطالب فان المقصود لا يقوم بغيره اهـ وسيأتي قبيل الفروع ان لو درس في غيرها لتعذره فيها ينبغي ان يستحق العلوفة وفي فتاوى الحانوتي يستحق المعلوم عند قيام المانع من العمل ولم يكن بتقصير سواء كان ناظرا او غيره كالجابي

(در المحتار ص ٣٠ ج ٤) والله سبحانه وتعالى اعلم. ٢٣ ربيع الاول ١٤٠٠ هجرى

په دينى مدرسو كښې د مدرسينو دپاره د مختلفو قوانينو شرعي حيثيت

سوال:- ١- په يوه خالصه مذهبى اداره كښې دا قانون جوړ كړې شوې دې چې كه چيرې يو مدرس د بيمارئ رخصتى اخستل غواړى نو د يو انګريزى ډاكټر سند پيش كول ضرورى دى.لكه څنګه چې د سركارى دفترونو رواج دې،د دې شرعي حيثيت څه دې؟

٢ - په يوه دينى درسګاه كښې دا قانون دې چې هر كله د يو مامور عمر **٦٥** كاله شى نو هغه به دكار نه لرې كولې شى.اګركه د هغۀ هوش او حواس بالكل صحيح وى او خپل فرائض به په ښائسته طريقې سره پوره كوى.آيا داسې قانون جوړول روا دى؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : ١ – په شرعي لحاظ سره د داسې قانون هيڅ حيثيت نشته دې. په خاص توګه په دينى ادارو كښې د داسې فاسقانو شهادت ته اهميت وركول د دين تذليل دې، بله دا چې ددې په پيسو باندې د دروغو د سند د جوړولو دغلطې دروازې د خلاصيدلو انديښنه هم شته.

٢ - تر څو پورې چې د حقوقو د ادا كولو نقص په كښې نۀ وى راغلې صرف د پنځه شپيتو كالو په عمر كيدلو سره د نوكرئ نه لرې كول صحيح نۀ دى.په يوه مذهبى اداره كښې داسې يو غلط او د مغرب په شان قانون خوښول د اسلامى غيرت نه خلاف او ناجائزه خبره ده. والله سبحانه وتعالى اعلم.

د نوكر (مزدور) د معاهدې نه خلاف كار كول

سوال - د ادارې دا دستور دې چې كوم يو نوكر يا مزدور د بيليدلو اراده لرى نو هغۀ ته دا پكار دى چې هغه يو مياشت وړاندې په دفتر كښې تحريرى خبر وركړى. ليكن يو نوكر داسې څه خبر ورنۀ كړو بلكه بې د خبر وركولو نه جدا شو.نو آيا د دې نوكر په ذمه ادارې ته د يوې مياشتې اجرت په توګه د ضمان وركول لازم دى او كه نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب . دا نوکر به د وعدې د ماتولو او ادارې ته د نقصان رسولو له کبله گناه گار وی. لیکن په دهٔ باندې څه ضمان نشته دې. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۶ رجب ۱۳۹۳ هجری

د ثواب د رسولو د پاره رواج کړې شوې قرآن خوانی

سوال: - نن صبا دا عام رواج دې چې خلق خپلو خپلوانو ته دثواب رسولو په ارادې سره د قرآن مجید ختم کوی. او هغوئ تلاوت کوونکو ته پیسې ورکوی. کله کله خو د وراندې نه پیسې مقررې وی. او کله کله د ختم کوونکې د مقررولو نه علاوه یې د خپل ځان نه ورکړی. او کله کله صرف خوراک یا څښاک وغیره وراندې کړی. آیا شرعا دا روا دی؟ بله دا چې د دې رواج شوې قرآن خوانئ څه حیثیت دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د ثواب بښلو باندې اجرت اخستل او ورکول حرام دی. بې د معاوضې نه روا دی. برابره خبره ده که د ژبې په عبادت سره وی او که د بدن په عبادت سره وی او که په مالی عبادت سره وی. د هر قسمه عبادت ثواب مړی ته رسولې کیدې شی. لیکن د دې د پاره یوڅو بنیادی او اصولی شرطونه دی. ترڅو پورې چه هغه شرطونه نوی نو هیڅ فائده نې نشته

۱ - مړې به مسلمان او صحیح العقیده وی.

۲ - ثواب رسوونکې او بخښونکې به هم صحیح العقیده وی.

۳ - د ریا، د نوم کولو، د شهرت او د خلقو د پیغوروتو وغیره نه د بچ کیدلو غوندې تولو خیالونو نه به پاک وی.

۴ - کوم مال چې په صدقه او په خیرات کښې ورکړې کیږی هغه به پاک او حلال وی، حرام او خبیث به نهٔ وی.

۵ - په دې مال کښې به د نابالغه یا د غائب حق نهٔ وی.

۶ - په تلاوت د قرآن یا په بل څه عبادت باندې دې څه قسمه معاوضه ورنهٔ کړې شی

۷ - دا عبادت به د ورځو، د کیفیتونو، او د طعام د قسمونو غوندې د قیدونو نه پاک وی

۸ - دا خوراک او صدقه دې یواځې فقیرانو ته ورکړې شی، د خاندان خلقو او مالدارو ته دې ورنهٔ کړې شی

په رواج شوې قرآن خوانئ کښې د ذکر کړې شوو شرطونو د نشت والی نه علاوه دا لاندینئ خرابیانې هم موجودې دی.

۱ - د نقدو یا د طعام وغیره په څه نا څه صورت کښې د دې معاوضه ورکولې شی او دا حرام دی. که چیرې څه عوض نې ورسره تاکلې نهٔ وی. نو د حرمت اصلیه نه علاوه د اجر د جهالت د وجې نه د اجارې د فساد گناه پرې لپاسه ده

۲ - د دې نه دا عقیده جوړیږی چې د ګناه د پرېښودلو څه ضرورت نشته دې، وروستو به راپسې پاتې شوی خلق د قرآن ختمونه وکړی او ګناه به راته معاف کړې شی

۳ - د قرآن په تلاوت کولو کښې داسې خلق هم وی چې هغوی له صحیح قرآن لوستل نهٔ ورځی، او هغوی په غلط تلاوت کولو سره نورهم د خدائې عذاب له دعوت ورکوی

۴ -. د ثواب د رسولو د دې مخصوصې طریقې په شریعت کښې څه اصل او ثبوت نشته. لیکن خلق چې دا کوی نو د شریعت نه ئې ثابت ګنی او کوی ئې، لهذا دا بدعت دې .

د نورو زیاتی فسادونو تفصیل د راروان سوال په جواب کښې دې .

د ذکر کړې شوو وجوهو له کبله د ثواب د رسولو دپاره دا رواج شوې قرآن خوانی روا نهٔ ده، بلکه د مړی د پاره د عذاب د باعث ګرځیدلو اندیښنه په کښې هم ده، د دې وجې نه علماؤ لیکلې دی چې په مړی باندې دا وصیت کول فرض دی، چې د هغه د مرګ نه پس دې د ثواب رسولو د پاره د داسې قسمه غیر شرعی طریقو نه اجتناب وکړې شی.

۱ - قال الله تعالى: ان الذين يأكلون اموال اليتمى ظلما انما يأكلون فى بطونهم نارا وسيصلون سعيرا.

۲ - وقال تعالى: لا تأكلوا اموالكم بينكم بالباطل

۳ - وقال رسول الله ﷺ: لا تقبل صلوة بغير طهور ولا صدقة من غلول (سنن ترمذى ص۳ ج۱)

٤ - قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: وقال (اى فى الفتح) ايضا ويكره اتخاذ الضيافة من طعام من اهل الميت لانه شرع فى السرور لا فى الشرور وهى بدعة مستقبحة وروى الامام احمد وابن ماجه رحمهما الله تعالى باسناد صحيح عن جرير بن عبدالله رضى الله عنه قال: كنا نعد الاجتماع الى اهل الميت وصنعهم الطعام من النياحة اهـ وفى البزازية: ويكره اتخاذ الطعام فى اليوم الاول والثالث وبعد الاسبوع ونقل الطعام الى القبر فى المواسم واتخاذ الدعوة لقراءة القرآن وجمع الصلحاء والقراء للختم اولقراءة سورة الانعام او الاخلاص

والحاصل ان اتخاذ الطعام عند قراءة القرآن لاجل الاكل يكره وفيها من كتاب الاستحسان: وان اتخذ طعاما للفقراء كان حسنا اهـ واطال فى ذلك فى المعراج وقال: وهذه الافعال كلها للسمعة والرياء فيحترز عنها لانهم لا يريدون به وجه الله تعالى اهـ وبحث هنا فى شرح المنية بمعارضة حديث جرير رضى الله عنه المار بحديث آخر فيه: انه عليه الصلوة والسلام دعته امرأة رجل ميت لما رجع من دفنه فجاء وجئ بالطعام.

اقول: (1) وفيه نظر، فانه واقعة حال لا عموم لها مع احتمال سبب خاص بخلاف ما فى حديث جرير رضى الله عنه

---

۱ - واقول: ان صاحب المشكوٰة نقل هذا الحديث من سنن ابى داود فوقع الخطأ منه فى النقل او ممن بعده فى الكتابة لان فيه امرأة بدون الضمير ثم نقل من مشكوٰة من بعده مرة بلفظ امرأته ومرة بلفظ امرأة الرجل الميت فوجب الرجوع الى الاصل رشيد احمد

على انه مصرح في المنقول في مذهبنا ومذهب غيرنا كالشافعية والحنابلة استدلالا بحديث جرير رضي الله عنه المذكور على الكراهة ولا سيما اذا كان في الورثة صغار او غائب مع قطع النظر عما يحصل عند ذلك غالبا من المنكرات الكثيرة كايقاد الشموع والقناديل التي توجد في الافراح وكدق الطبول والغناء بالاصوات الحسان واجتماع النساء والمردان واخذ الاجرة على الذكر وقراءة القرآن وغير ذلك مما هو مشاهد في هذه الازمان وما كان كذلك فلا شك في حرمته وبطلان الوصية به ولا حول ولا قوة الا بالله العظيم. (ردالمحتار ص ج)

وقال العلامة بدر الدين العيني رحمه الله تعالى: قوله لا تاكلوا به اى بالقرآن مثل ان يستأجر الرجل ليقرأ على رأس قبر قيل هذه القراءة لا يستحق بها الثواب لا للميت ولا للقاري قاله تاج الشريعة رحمه الله تعالى (البناية ص ج)

والله سبحانه وتعالى اعلم.

«په كتاب الحظر والاباحة جلد ۸ كښې هم شته دې» ۲۲ محرم ۱۳۹۳ هجری

د دم کولو په توګه په قرآن مجيد لوستلو باندې اجرت اخستل روا دی

سوال:- د برکت یا مرض نه د شفاء یا د څه مصیبت نه د خلاصی د پاره سورتِ فاتحه لوستل یا د قرآن مجید بل څه سورت لوستل روا دی او که نه؟ بله دا چې د همدې مقصدونو دپاره قرآن خوانی کول روا دی او که نه؟ په دې باندې د اجرت اخستلو شرعا څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په يو مريض باندې يا په مصيبت وهلی باندې د قرآن کریم څه سورت يا آيت لوستل يا تعويذ ورله ليكل او وركول او په دې باندې اجرت اخستل روا دی.

په صحيح بخاری کښې دی ان احق ما اخذتم عليه اجرا كتاب الله (صحيح بخاری ص ج)

قال الامام النووی رحمه الله تعالى: (قوله صلى الله عليه وسلم خذوا منهم واضربوا لى بسهم معكم) هذا تصريح بجواز اخذ الاجرة على الرقية بالفاتحة والذكر وانها حلال لا كراهية فيها وكذا الاجرة على تعليم القرآن وهذا مذهب الشافعی ومالك واحمد واسحق وابی ثور وآخرين من السلف ومن بعدهم ومنعها ابو حنيفة فی تعليم القرآن واجازها فی الرقية (شرح النووی على صحيح مسلم ص ج)

البته په غرض د دم کولو په اجتماعی قرآن خوانئ کښې لاندې ورکړې شوې محظورات دی.

۱- دا اجاره فاسده ده، ځکه چې په عامه توګه اجرت مجهول وی

۲- د دې نه دا عقیده جوړیږی چې د ګناهونو د پریښودلو ضرورت نشته دې، یعنی ختم وکړه بس کار به وشی

۳- د لويو ګناهونو په کولو باندې زړه ور کیږی

۴ - د دم كولو دا مخصوصه طريقه د سلفو نه ثابته نۀ ده، ليكن عوام دا د سنت نه ثابته گڼي.د دې وجې نه دا بدعت دې.

۵ - اجاره په ټول قرآن باندې وی.او اكثر او اغلب خبره دا ده چې ټول قرآن مجيد نۀ لوستلې كيږی.

۶- په قرآن خوانۍ كښې داسې خلق هم وی چې هغوی ته په صحيح توگه قرآن لوستل نه ورځی، د هغوی د غلط تلاوت كولو د وجې نه دا تلاوت په ځائې د دې چې د ثواب سبب جوړ شی هغه بالعكس د عذاب سبب جوړيږی.

۷ - عموما قرآن خوانی چې په كومو كورونو كښې كيږی،په هغې كښې دساه لرونكو عكسونه او نور دمعصيت آلات موجود وی،په داسې ځايونو كښې د قرآن بې عزتی كيدل واضحه خبره ده.

د دې اووه سپيرۀ سببونو نه ړومبی درې سببونه په تعويذ كولو كښې او په انفرادی توگه د يو سورت يا د يو آيت په لوستلو كښې هم شته دی.والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۲۲ محرم ۱۳۹۳ هجری

په وعظ باندې اجرت اخستل

سوال:- آيا واعظ لره په وعظ باندې اجرت اخستل روا دی او كه نه؟ د اجرت په ټاكلو او نۀ ټاكلو كښې څه فرق شته دې او كه نه؟ بينوا توجروا.

الجوا ب باسم ملهم الصواب : كه چيرې د يو وعظ كولو د پاره څوک نوكر ساتلې شوې وی يا چا خپل ځان هم د دې كار دپاره فارغ كړې وی چې څوک هم وغواړی چې وعظ كولو د پاره ئې بوتلې شی نو په دې صورت كښې په وعظ باندې اجرت اخستل روا دی،او كه چيرې چرته په يو خاص موقع باندې يو عالم نه د وعظ كولو دپاره درخواست وكړې شی نو بيا په داسې وعظ باندې اجرت اخستل ناروا دی.والله سبحانه وتعالیٰ اعلم ۹ شعبان ۱۳۹۹ هجری

د نوكرۍ (ماموريت) په وخت كښې خپل شخصی كار كول

سوال:- زيد يو حكومتی مامور دې، د نوكرۍ وخت ئې سحر د اتو بجو نه شروع كيږی.كه چيرې هغه لس بجې لاړ شی او يا چې د هغۀ په ذمه كوم كار دې هغه وكړی او بيا خپل شخصی كار يعنی كتابونه كتل.هسپتال ته تلل يا يو ملگرې ته ملاقات ته تلل وی نو آيا دا به روا وی او يا كه كار نه وی بيا هم موجود پاتې كيدل او په چوكۍ باندې ناسته كول ضروری دی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : په دې ټاكلی شوی وخت كښې د فرض مونځ كولو نه علاوه بل هيڅ كار كول روا نۀ دی،څنې حضراتو د سنتو مؤكدو هم اجازت وركړې دې.نفلونه كول په اتفاق سره روا نۀ دی، البته په دفتر كښې د داسې يو كار كولو اجازت شته دې چې په وخت د ضرورت

کښې هغه سرې پرېښودلې شي او سرکاري کار کول په آسانۍ سره ممکن وي.

قال فی شرح التنویر: ولیس للخاص ان یعمل لغیرہ ولو عمل نقص من اجرته بقدر ما عمل فتاوی النوازل.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله ولیس للخاص ان یعمل لغیرہ) بل ولا ان یصلی النافلة قال فی التتارخانیة وفی الفتاوی الفضلی واذا استاجر رجلا یوما یعمل کذا فعلیه ان یعمل ذلك العمل الی تمام المدة ولا یشتغل بشیء اخر سوی المکتوبة وفی فتاوی سمرقند وقد قال بعض مشائخنا له ان یؤدی السنة ایضا واتفقوا انه لا یؤدی نفلا وعلیه الفتوی (رد المحتار ص۳۸ ج۵). والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۸ ذی الحجه ۱۳۹۰ هجری

په جاز (طیاره) کښې په کرایه باندې اخستې شوې ځائې بل ته ورکول

سوال: په بحري جاز (کشتی) کښې د غلې د نقلولو د پاره په کرایه باندې اخستې شوې ځائ په بل باندې په گټه خرڅول روا دي او که ناروا؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا روا نهٔ دي.

قال فی الهندیة: الاصل عندنا ان المستاجر یملك الاجارة فیما لا یتفاوت الناس فی الانتفاع به کذا فی المحیط. ومن استاجر شیئا فان کان منقولا فانه لا یجوز له ان یؤاجره قبل القبض وان کان غیر منقول فاراد ان یؤاجره قبل القبض فعند ابی حنیفة وابی یوسف رحمهما الله تعالی یجوز وعند محمد رحمه الله لا یجوز کما فی البیع وقیل انه فی الاجارة لا یجوز بالاتفاق وفی البیع اختلاف هکذا فی شرح الطحاوی واذا استاجر دارا وقبضها ثم اجرها فانه یجوز ان آجرها بمثل ما استاجرها او اقل وان آجرها باکثر مما استاجرها فهی جائزة ایضا الا انه ان کانت الاجرة الثانیة من جنس الاجرة الاولی فان الزیادة لا تطیب له ویتصدق بها وان کانت من خلاف جنسها طابت له الزیادة ولو زاد فی الدار زیادة کما لو وتد فیها وتدا او حفر فیها بئرا او طینا او اصلح ابوابها او شیئا من حوائطها طابت له الزیادة (عالمگیریة ص ۴۲۵ ج ۴)

۲۶ ربیع الثانی ۱۳۹۱ هجری

جهالت په موده او په عمل کښې مفسد د اجارې دي

سوال: زید خپل ماشین د عمرو په زمکه کښې په دې شرط باندې ولگولو چې زید به د عمرو د غنمو وغیره د فصل میده کول مفت کوي او عمر به د دې په بدل کښې د خپلې زمکې کرایه ورته معاف کوي. وروستو په دواړو کښې اختلاف راغئ. او زید د خپل اقرار نه منکر شو او په عمرو باندې د غنمو د میده کولو د اجرت دعوی کوي. اوس که چېرې عمرو (مدعی علیه) گواهان وړاندې کړي نو آیا فیصله به د هغه په حق کښې وشي. او که نه د عمرو دعوی به له سره غیر

مسموع وی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : دا اجاره فاسده ده،لهذا زید ته به د هغهٔ د دانو د میده کولو اجر مثل او عمر ته به د هغهٔ د خایٔ اجرِ مثل ورکولې شی۔ **والله سبحانه وتعالیٰ اعلم**.

۲۵ شوال ۱۳۹۱ هجری

په دکان وغیره باندې پګړې اخستل اوورکول ناروا دی

سوال:- زید د عمرو نه یو کور په کرایه باندې واخستلو،په هغه وخت کښې د دې کرایه دیرش روپۍ وه، زید په دې کښې کاروبار شروع کړو،څو کاله پس د دغه ځای کرایه زیاته شوه،خلقو پرې تقریبا یونیم سلو پورې کرایه ورکوله،اتفاقا د زید کاروبار ناکامه شو.او هغهٔ یو بل سړی ته دا دکان په دیرش روپۍ په کرایه ورکړو،او ورته ئې اووئیل چې تهٔ ددې دکان کرایه ددې مالک له ورکوه او قبضه به زهٔ تاله هغه وخت درکوم چې تهٔ ماله پنځه زره روپۍ راکړې،هغه سړی سمدستی پنځه زره روپۍ ورکړې،آیا دا پنځه زره روپۍ زید دپاره حلالې دی او که نه؟ او دا معامله په کوم عقد کښې داخله ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : د قبضې عوض اخستل روا نهٔ دی،په جانبینو باندې توبه کول او د دې پیسو واپس کول واجب دی۔ **والله سبحانه وتعالیٰ اعلم**. ۳ صفر ۱۳۹۲ هجری

د کار کولو نه بغیر د اوور ټیم «اضافه کاری» پیسې اخستل روا نهٔ دی

سوال:- یوه سرکاری اداره ده چې د هغهٔ مامور اوور ټیم «اضافه کاری» وغیره نهٔ کوی، لیکن د حکومت له طرفه چې کوم افسران په دوی باندې نګران دی هغوی ورته د اضافه کاری پیسې له حکومت څخه اخلی، نو آیا شرعا دا روا دی حال دا چې دا مامورین د غریبې طبقې سره تعلق لری،او د تنخوا په پیسو د هغوی خرچه نهٔ پوره کیږی ؟بینوا توجروا ۔

الجواب باسم ملهم الصواب : که چیرې په اوورټیم «اضافه کاری» کښې د هغوی نه زیات کار واخستې شی او د هغوی د اصل مزدورۍ نه هغوی ته زیاتې پیسې ورکړې شی نو دا روا دی،او که اوورټیم کښې ترې نه زیات کار وانهٔ خستې شی او د اوورټیم محض حیله جوړه کړې شی او هغوی له په دې چل باندې پیسې ورکړې شی نو دا حلال نهٔ دی۔ **والله سبحانه وتعالیٰ اعلم**.

۲۹ صفر ۱۳۹۲ هجری

په تنخوا باندې د وړاندې نه سود اخستل

سوال:- زید په سټیټ بینک آف پاکستان کښې مامور دې.سټیټ بینک خپلو مامورینو ته د

شپږدیرش میاشتو د تنخوا په مقدار باندې د وراندې نه یعنی ایډوانس پیسې په دې شرط باندې ورکوی، چې هغوی دې به دې باندې خپل کور جوړ کړی،دا ځومره پیسې چې د کور د جوړولو د پاره ورکول کیږی دا به د دې مامور د تنخوا نه په پنځلس کاله کښې لږ ، لږ اخستل کیږی،البته دا خبره ده چې په دې قرض باندې بانک د دوی نه هرو سلو روپو پسې درې روپئ اضافه اخلی،او یو خط یعنی ستامپ لیکلې کیږی،د کوم په بنیاد چې دا زمکه او کور دواړه ستیټ بینک سره ګانه «ګرو» وی، او د سود او د قرض د ادا کولو په شرطونو باندې دستخطونه وکړې شی،آیا په شریعت کښې داسې کول روا دی ؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : په ذکر کړې شوې مسئله کښې درې څیزونه د غور او فکر کولو قابل دی :

۱- آیا په مرهون کښې زیاتوالې کول صحیح دی او که نه؟

۲- آیا د ګانې قرض په قسطونو باندې ادا کول روا دی او که نه؟

۳- او هرو سلو روپو پسې چې درې روپئ په نوم د سود اخستلې کیږی آیا دا شرعا سود دې او که نه؟

تحقیق :- ۱- په مرهون کښې زیاتوالې کول صحیح دی۔

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: والزيادة في الرهن تصح(ردالمحتار ص۳۳۰ ج۵)

۲-د رهن قرض په قسطونو کښې اخستل روا دی۔

قال في التنوير وشرحه: ولا يكلف من قضى بعض دينه او ابرأ بعضه تسليم بعض رهنه حتى يقبض البقية من الدين (ردالمحتار ص۳۳۳ ج۵)

۳-هرو سلو روپو پسې چې د سود په نوم باندې کومې درې روپئ د تنخوا نه اخستلې کیږی،دا شرعا سود نهٔ دې بلکه تنخوا ئې ورله په هرو سلو روپو پسې د درې روپو د کموالې په حساب سره کمه کړه، د یو څیز د نوم په بدلولو سره د دغه څیز حقیقت نهٔ بدلیږی۔ **والله سبحانه وتعالى اعلم.**

۲۸ ربیع الثانی ۱۳۸٦ هجری

د پورتنی سوال په شان یو بل سوال

سوال:- د نوکرئ په دوران کښې نوکر د حکومت نه څه پیسې د کور د اخستلو یا د جوړولو دپاره یا دموټر سائیکل د اخستلو د پاره قرض اخلی،بیا په دې باندې سود ورکول کیږی ، نو ددې څه حکم دې؟بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : په حقیقت کښې دا قرض نهٔ دې بلکه د وراندې نه خپله تنخوا اخستل دی (یعنی ایډوانس) او کوم چې په نوم د سود اخستلې شی نو د هغې مطابق تنخوا کمیږی

، لهذا دا سود نۀ دې د دې وجې نه روا دې. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۲۲ صفر ۱۳۹۹ هجری

د بیمې کمپنۍ د نوکر نه چې کومه کرایه ترلاسه کیږی هغه حرامه ده

سوال:- ۱- د زید په کور کښې یو کرایه دار داسې پاتې کیږی. چې هغۀ په یو بیمه کمپنۍ کښې نوکر دې او د هغه د آمدن همدا ذریعه ده، ځنګه چې معلومه ده چې د بیمې کمپنۍ آمدن ناروا دې او د دې کمپنۍ نوکرانو ته هم د دې آمدن نه تنخوا ورکولې کیږی، نو آیا زید د دغه کرایه دار نه چې کومه کرایه ترلاسه کوی هغه په خپل روزانه خرچه کښې استعمالولې شی او که نه؟

۲ - زید ته اول نه دا خبره معلومه نۀ وه چې دا کرایه دار په یوه بیمه کمپنۍ کښې نوکر دې، په عدالت کښې د مجسټریټ د سوال په جواب کښې هغۀ اووئیل چې زۀ په بیمه کمپنۍ کښې نوکر یم، اوس هغه د درې کالو کرایه په عدالت کښې جمع کړې ده، هر کله چې زید دا پیسې د عدالت نه اخلی نو دا خبره یقینی نه ده چې دا پیسې به هم هغه پیسې وی کومې چې دې کرایه دار جمع کړې دی او که نه ؟ ، ځکه چې په عدالت کښې د خلقو پیسې یو ځائې پرتې وی او تغیر نه کوی . لهذا دا عینِ ممکن دی چې د زید تر اخستلو پورې به دغه پسې خلقو ویستې وی او تقسیم شوې به وی، او کومې پیسې چې به بیا زید ته د عدالت له خوا نه ورکول کیږی نو هغه پیسې به ددې بدل ضرور وی کومې چې کرایه دار جمع کړې دی لیکن هغه به نه وی، نو آیا دا پیسې زید د خپلو ضرورتونو د پاره استعمالولې شی او که نه؟

۳ - که چیرې زید دا پیسې په خپلو روزانه ضرورتونو کښې نۀ شی استعمالولې نو آیا همدا پیسې د همدې کور په سرکاری ټیکس (مالیه) یا په میونسپل دفتر کښې ورکولې شی او که نه؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب: دا پیسې حرامې دی، د دې استعمالول په هیڅ یو صورت کښې هم روا نۀ دی، په مسکینانو باندې ئې صدقه کول واجب دی. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۵ رمضان ۱۳۸۶ هجری

بیمه یا د بانک د پاره کور په کرایه باندې ورکول

سوال:- د بنکارۍ او د انشورنس (یعنی بیمې) د کاروبار د پاره کور په کرایه باندې ورکول روا دی او که ناروا؟ که چیرې د کمپنۍ مشر دا شرط قبول کړی چې هغه به کرایه د حلال مال نه ورکوی نو آیا دۀ ته دا کور په کرایه باندې ورکول روا دی او که ناروا؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب: د بیمې یا د بنکارۍ د پاره یو مسلمان ته کور په کرایه باندې ورکول مکروه تحریمی دی، البته کافر ته په کرایه باندې ورکول مکروه تنزیهی دی

د دې مسئلې تفصيل او ددې سره متعلقه دلائل زما په رساله (القول المبرهن فی کراهة بيع الراديو والتلوزن) کښې شته دی.

چې کرايه د حلال مال نه ورکوی نو په دې شرط سره د دې اجارې د عقد په کراهت کښې څه فرق نۀ راځی. البته په دې صورت کښې به د حرام خوړو نه بچ شی. صرف د اجارې د عقد ګناه به ورته کيږی. د کافرنه هم د سود او د بيمې د آمدن د پيسو نه کرايه اخستل حرام دی. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۲۲ جمادی الاولیٰ ۱۳۹۷ هجری

مقاطعه (اجاره) چه په جانبينو کښې د يو په انتقال سره فسخه شی

سوال. حاجی نور محمد صاحب د شپږو کالو د پاره يوه زمکه په اجاره باندې اخستې وه. د اجارې د پيسو نيمې ئې د خپل ځوئ محمد صديق نه اخستې وې. اوس هر کله چې د نور محمد انتقال شوې دې. او د اجارې د مودې دوه کاله پاتې دی. نو پوښتنه دا کول دی چې محمد صديق به ددې زمکې پيداوار په څه حساب سره اخلی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که چيرې حاجی نور محمد دا زمکه د ځان د پاره په اجاره باندې اخستې وه. او د ځوئ نه ئې دا نيمې پيسې قرض اخستې وې. نو د نور محمد په انتقال سره به دا اجاره فسخه شی. او ځوئ ته به ئې دغه پيسې د نور محمد د ترکې نه ورکولې شی. او که چيرې حاجی نور محمد د ځوئ نه دا پيسې په دې غرض سره اخستې وې چې دې ئې د ځان سره په مقاطعه کښې شريک کړې وو نو د ځوئ د حصې اجاره ئې پاتې ده او د پلار د حصې اجاره ئې فسخه شوه. لهذا نيم فصل به ئې دا ځوئ اخلی. او نيم اجرت به ادا کوی. او باقی نيم پيداوار به ئې د پلار په وارثانو کښې د هغوی د حصو په قدر سره تقسيميږی. او په هغوی باندې به د نيمې زمکې اجرت ورکول لازم وی.

قال فی التنوير وشرحه: وتنفسخ ايضاً بموت احد مستاجرين او موجرين فی حصته ای حصة الميت لو عقدها لنفسه فقط وبقيت فی حصة الحی.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله وبقيت فی حصة الحی) ولا يضره الشيوع لانه طارئ كما تقدم فی محله (ردالمحتار ص ج)

وقال فی الهندية: رجلان استاجرا من رجل ارضا ثم مات احد المستاجرين لاتبطل الاجارة فی حق الحی و تبقی علی حالها ولا تفسخ الا من عذر واما الريع الحاصل علی نصف الارض فهو للمستاجر وعليه نصيبه من الاجر فوالريع الحاصل علی النصف الاخر فلورثة المستاجر وعليهم تسليم الاجر فمن التركة (عالمگيرية ص

ج)والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۳ جمادی الاولیٰ ۱۳۸۶ هجری

د غلا شوی مال دا راویستلو دپاره د وظیفې ورکولو اجرت

سوال:- زید نه غلا وشوه، زید بکر ته اووئیل چې ما نه غلا شوې ده، بکر ورته اووئیل، چې زهٔ به په وظیفې سره ستا غلا شوې پیسې راوباسم، لیکن په دې شرط چې د دغه مال څلورمه حصه به ماته راکوې، که چیرې کومې پیسې راووتلې او دا د اصل مال نه کمې وې نو چې څومره راونې دی په دې کښې به څلورمه حصه زما وی، بله دا چې که ددې په راویستلو باندې کومه د بونس وغیره خرچه راغله نو هغه به هم د اصل مال نه اخستې شی او چې څومره باقی پاتې شی نو د هغې څلورمه حصه به زما وی، د پیسو راویستلو دپاره چې څومره وخت تاکلې شوې وو هم په دغومره وخت کښې یو غل هغه ټول واپس کړو، پوښتنه دا ده چې آیا څومره مال ترلاسه شو نو بکر به د دې څلورمې حصې مستحق وی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب . دا اجاره د لاندینو وجوهو له کبله فاسده ده:

۱ - معقودعلیه غیر مقدور التسلیم.

۲ - اشتراط الاجرة من العمل

۳ - کون الاجرة فی حیز الخطر.

په فاسده اجاره کښې د اجرمسمی او د اجرمثل نه اقل ورکول واجب وی. **والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.**

۲۰ ذی قعده ۱۳۸۶ هجری

د مبیعې د ځائ په ښودلو باندې کمیشن

سوال:- زید بکر ته اووئیل چې ما سره خو پیسې نشته ، که چیرې تهٔ څاروی اخستل غواړې نو زهٔ به درته ځائ وښایم او یا که دې خوښه وی نو زه به درسره لاړ شم او ځائ به درته وښایم چې فلانی سړی سره دې، لیکن ستا نه به زهٔ د یو څاروی په سر پنځه روپئ کمیشن اخلم، آیا د زید په ذکر کړې شوې طریقې باندې کمیشن اخستل روا دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : که چیرې دغه ځائ معین شوې نهٔ وی او زید ورسره په خپله لاړ شی او ځائ ورته وښائی نو اجرمثل ئې لازمیږی، او که چیرې ځائ معین وی نو بیا پرې ټاکلې شوې اجرت لازمیږی، او که چیرې پخپله ورسره لاړ نهٔ شی نو د اجرت مستحق به نهٔ وی.

قال فی التنویر وشرحه: ان دلنی علی کذا فله کذا فله اجر مثله ان مشی لاجله.

وقال ابن عابدین رحمه الله: (قوله ان دلنی الخ) عبارة الاشباه ان دللتنی وفی البزازیة والولوالجیة رجل ضله له

شئ فقال من دلنی علی کذا فله کذا فهو علی وجهین ان قال ذلک علی سبیل العموم بان قال من دلنی فالاجارة باطلة لان الدلالة والاشارة لیست بعمل یستحق به الاجر و ان قال علی سبیل الخصوص بان قال لرجل بعینه ان دللتنی علی کذا فلک کذا ان مشی له فدله فله اجر المثل للمشی لاجله لان ذلک عمل یستحق بعقد الاجارة الا ان غیر مقدر بقدر فیجب اجر المثل و ان دله بغیر مشی فهو والاول سواء. قال فی السیر الکبیر قال امیر السریۃ من دلنا علی موضع کذا فله کذا یصح ویتعین الاجر بالدلالة فیجب الاجر اھ

قال فی التنویر وشرحه: من دلنی علی کذا فله کذا فهو باطل ولا أجر لمن دله الا اذا عین الموضع

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (الا اذا عین الموضع) قال فی الاشباہ بعد کلام السیر الکبیر و ظاهره وجوب المسمی والظاهر وجوب اجر المثل اذلا عقد اجارة هنا وهذا مخصص لمسألة الدلالة علی العموم فکونه بین الموضع اھ یعنی انه فی الدلالة علی العموم تبطل الا اذا عین الموضع فهی مخصصة اخذا من کلام السیر لان قول الامیر علی موضع کذا فیه تعیینه بخلاف من ضل له شئ فقال من دلنی علی کذا ای علی تلک الضالة فلا تصح لعدم تعیین الموضع الا اذا عرفه باسمه و لم یعرفه بعینه فقال من دلنی علی دابتی فی موضع کذا فهو کمسألة الامیر.

وقال فی التنویر وشرحه: وفی الاختیار من دلنا علی کذا جاز لان الاجر یتعین بدلالته

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله من دلنا الخ) هذه مسألة السیر الکبیر و قد علمت ان یجب فیه المسمی لتعین الموضع والقابل للعقد بالحضور و ان کان لفظ من عاما وقوله لان الاجر یتعین ای یلزم و یجب. (ردالمحتار ص۳۰ ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۹ رجب ۱۳۸۷ هجری

د خاروو د خروولو په اجرت کښې نیم خاروې ورکول

سوال - زید بکر له یوه غوا په ساتنه ورکړه او ورته ئې اوونیل چې دا ساته او خوراک پرې کوه. هر کله چې د دې غوا بچې پیدا شي نو دا بچې به ئې ستا وی او غوا به زما وی. مونږ دې ته په نیمه وایو. آیا دا روا دی او که نه؟ که چیرې روا نه وی نو د عدم جواز وجه څه ده؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دا اجاره فاسده ده. ځکه چې په دې که اجرت او موده دواړه مجهول دی، خرونکی ته به اجرمثل ورکولې کیږی. او بچې به ئې د مالک وی

قال فی التنویر وشرحه: فکل ما افسد البیع مما مر یفسدها کجهالة ماجور واجرة او مدة او عمل و کشرط طعام عبد وعلف دابة ومرمة الدار الخ (ردالمحتار ص۳ ج۵)

وقال الامام المرغيناني رحمه الله: بخلاف دفع الغنم والدجاج ودود القز معاملة بنصف الزوائد لانه لا اثر هناك للعمل في تحصيلها فلم يتحقق شركة. (هداية ص۳۰۰ ج۳)

وقال في الهندية: ولا يجوز اجارة الشجر على ان الثمر للمستاجر وكذلك لو استاجر بقرة او شاة ليكون اللبن اوالولد له كذا في محيط السرخسي (عالمگيرية ص۴۴۳ ج۴) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۷ جمادی الآخرة ۱۳۸۷ هجری

د مندر (د هندوانو د عبادت خانې) د تعمير اجرت اخستل روا دی

سوال:- مسلمان کاريگر دپاره د کافرانو د مندر د سمولو يا له سره د جوړولو اجرت اخستل روا دی او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د مندر د سر نه تعمير کول يا د هغې په سمولو باندې اجرت اخستل روا دی ليکن د کراهيت نه خالی نۀ دی.

قال الحصكفي رحمه الله: جاز تعمير كنيسة.

وقال ابن عابدين رحمه الله: (قوله وجاز تعمير كنيسة) قال في الخانية ولو اجر نفسه ليعمل في الكنيسة و يعمرها لا بأس به لانه لا معصية في عين العمل (رد المحتار ص۳۳۱ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۹ رجب ۱۳۸۷ هجری

په ريل گاډی کښې بغير د کرايه وړکولو نه سامان وړل

سوال:- په ريل گاډی کښې چې قانوناً کوم د وزن وړلو حد ټاکلې شوې دې د هغې نه زيات وړل بې د کرايې ورکولو نه، يا په ريل گاډی کښې يوبل سپاره ملگری ته دا سامان سپارل دې د پاره چې د خرچ نه هم بچ شی، او د ريلوې د پنجې نه هم خلاص شی. داسې کول شرعا څنگه دی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: زيات سامان وړل روا نۀ دی. البته که د سوريدلو نه وړاندې ئې خپل ټول سامان بل ته وسپارلو نو روا دی. والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۷ ذی قعده ۱۳۸۷ هجری

د عيبجن څيز په اخستلو باندې به د دلالئ اجرت تا ته نۀ شی درکولې

سوال:- زيد د بکر نه يو رکشه واخستله. دلال د هغوی ترمينځه بيعه وکړه. او ۵۰ روپئ د دلالئ ټاکلې شوې وې. اوس د رکشې د اخستلو نه پس د دې يوه پُرزه دهغه قيمت نه کمه وختله کوم قيمت چې مالک د رکشې دلال ته ښودلې وو. زيد ته ددې پُرزې د وجې نه د دوو سوو روپو

نقصان ورسیدلو ،نو آیا اوس دې دلال ته د دلالئ ۵۰ روپئ ورکول ضروري دي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دلال د اجرت په هغه وخت کښې مستحق وی، کله چې هغه معقود علیه صحیح سالم سره د شرطونو او د قیوداتو واخلی او اخستونکی ته ئې وسپاری،د دې وجې نه د سوال په دې صورت کښې دلال د اجرت مستحق نهٔ دې،بلکه اخستونکې د عیب د ضرر له کبله دا رکشه د دلال په ذریعه واپس کولې شی،لیکن په دې شرط چې په دې رکشه کښې د اخستونکی سره بل څه عیب نهٔ وی پیدا شوې،که چیرې څه بل زیاتی عیب په کښې پیدا شوې وی نو د مبیعې د رد کولو په ځائ په بائع رجوع بالنقصان کولې شی۔**والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.**

۲۹ محرم ۱۳۸۸ هجری

په کرایه باندې اخستونکی د دوو ورځو نه پس کور پرېښودلو

سوال:- زید یو کور د میاشتې په دیرش روپئ په کرایه باندې ونیولو ،او لس روپئ ئې ورته په کښې پیشکی ورکړې،او دوه ورځې ئې په دې کور کښې قیام وکړو او لاړو،نو آیا د کور مالک له به د دغه دوو ورځو په عوض کښې دغه لس روپئ اخستل روا وی او که نه د دوو ورځو په مقدار کرایه ترې نه اخستل او باقی رقم ورته ورکول ضروري دي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چیرې دا سړې د یو داسې عذر له کبله ځی چې هغه عذر شرعا معتبر وی، نو د دوو ورځو نه پس به عقد د اجارې فسخ کولې شی،او که د کور مالک وغواړی نو د دوو ورځو کرایه ترې نه اخستې شی،او که بې د څه معتبر عذر نه روان وی، نو دا بیا څنګه چې معلومه ده چې دا عقد د میاشتې وی،نو ددې وجې نه د ټولې میاشتې کرایه ادا کول د کرایه دار په ذمه دی، په دې صورت کښې که دا سړې دا کور په خپله قبضه کښې ساتل غواړی نو ساتلې یې شی۔**والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.** ۷ ربیع الاول ۱۳۸۸ هجری

د داسې نوکرئ حکم چې په هغې کښې رشوت ورکول ضرور وی

سوال:- یو سړې په یو داسې کمپنئ کښې کار کوی چې هغه کمپنی د درآمداتو او برآمداتو کاروبار کوی.د کمپنئ دا نوکر د کاروبار په حقله په مختلفو ځایونو کښې په رشوت ورکولو باندې مجبوره وی.آیا داسې نوکری کول روا دی او که نه؟ او د داسې سړی په کور کښې د روټئ خوړلو څه حکم دې؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: رشوت اخستل او ورکول دواړه حرام دی،په دې نوکر باندې فرض دی، چې دا نوکری دې پرېږدی او بله څه ذریعه د معاش دې ځان له وګوری.البته د هغهٔ په کور کښې روټئ خوړل روا دی.

د رشوت د روا او دناروا صورتونو تفصیل به وروسته راشي، والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۹ شوال ۱۳۸۸ هجری

د وکالت اجرت

سوال:- کومو خلقو چې د وکالت پیشه اختیار کړې ده آیا د هغوی آمدن حلال دې او که نهٔ دې؟ هر کله چې دا خبره په کښې ناممکنه وی چې دوی دې صرف د ریښتینی مقدماتو وکالت کوی. آیا د دوی د کورونو نه خوراک څښاک کول روا دی او که؟ حال دا چې د دوی بله څه ذریعه د آمدن نه وی او یا که وی هم خو هغه ذریعه د آمدن ئې مغلوبه وی او دا پرې غالبه وی. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د ظالم سره تعاون کول حرام دی، د دې وجې نه د دغه سړی آمدن هم حرام دې. والله سبحانه وتعالی اعلم.

۳ ذی قعده ۱۳۸۸ هجری

د غنمو د ریبلو په اجرت کښې غنم ورکول

سوال:- نن صبا خلق په عامه توګه د غنمو او د شولو په ریبلو باندې د غنمو او د شولو ګیډئ په اجرت کښې ورکوی، دا مرض په کلو کښې زیات دې، مزدوران پیسې بالکل نهٔ اخلی، د زمکو مالکان په دې حقله مجبوره دی، او دې مرض تقریباً د عموم بلوی صورت اختیار کړې دې، حال دا دې چې د فقهې مسئلې ته وکتلې شی نو په هغې کښې داسې دی چې په کوم یو څیز باندې عمل وشی نو هم هغه څیز په اجرت کښې ورکول روا نهٔ دی، اوس مونږ ته د دې مسئلې څه حل وښایئ. چې مسلمانان پرې د ګناه نه بچ شی. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا صورت ناروا دې ځکه چې د عمل نه اجرت ورکول روا نهٔ دی، بله دا چې دګیډیو په مقدار کښې کمې او زیاتې وی، د دې وجې نه دا مجهول اجر دې.

د جواز صورت ئې دا دې چې په کوم یو پړی کښې دا ګیډې تړلې شی نو د هغې پړی اوږدوالې دې معین کړې شی، او دا دې ورسره هم وټاکلې شی چې د مزدور د ریبلې شوی فصل نه به ورته مزدوی ورکول شرط نهٔ وی، بلکه د فلانی خاص قسمه غنمو دومره لویه ګیډئ به ورته په اجرت کښې ورکولې شی، او د مالک به خوښه وی چې د هر ځائ نه یې ورته ورکوی. والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۰ صفر ۱۳۸۹ هجری

د روټئ پخولو په اجرت کښې روټئ ورکول

سوال - په پنجاب کښې دا رواج دې، چې هر کله بټ (داشت) والا له څه دانې د پخولو د پاره ورکړې شی نو هغهٔ ددې پخو دانو نه څه دانې د خپل اجرت په توګه واخلی. بله دا چې په تنو

چې خام اوړۀ وی هغه په باندې روټۍ پخولې شی نو د پیسو د اخستو په ځائې هغه یوه نیمه پیره چې خام اوړۀ وی هغه په باندې روټۍ پخولې شی نو د پیسو د اخستو په ځائې هغه یوه نیمه پیره ...

الجواب باسم ملهم الصواب دا معامله روا ده. په ظاهره په دې کښې دوه اشکاله دی:

۱- اجرت د عمل نه دې.

۲- اجرت مجهول دې.

د وړومبی اشکال جواب دا دې چه د خامو دانو په اخستلو او د ووړو په اخستلو کښې خو اجرت د عمل نه نۀ دې. البته دا خبره ده چې د روټۍ او د پخو دانو په اخستلو کښې بیا اجرت د عمل نه دې. لیکن دا شرط په کښې نشته دې چې اجرت به د همدې عمل نه وی. که ددې په ځائې نورې څه دانې یا ووړۀ ورکړې شی نو بیا په کښې هم څه اعتراض نۀ کوی، اجرت من العمل په هغه وخت کښې ناروا دې کله چې دا مشروط وی. دلته څه مشروط نۀ دې نو روادې.

د دویم اشکال جواب دا دې چې هر کله په اجرت کښې جهالت مفضیة الی النزاع نه وی نو بیا دا مفسد د اجارې نۀ دې. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۳۰ محرم ۱۳۹۸ هجری

هر کله چې کرایه دار د کور سمون وکړو نو د دې خرچه به په چا باندې وی؟

سوال - زید دیو عمارت مالک دې، د دې عمارت په غولی (صحن) کښې څه ځائ وزګار اوخالی وو، یو سړی زیدته وونیل چې دې کښې یوه کوټه جوړه کړه او ما ته ئې په کرایه باندې راکړه. زید ورله په کښې کوټه جوړه کړه او ورله ئې ورکړه. لیکن ددې کوټې چت خادری وو، د دې وجې نه کرایه دار ترې نه اجازت واخستلو او د خپلې خوښې چت ئې پرې جوړ کړو. اوس دا پوښتنه کول دی. چې آیا په مالک د کور باندې شرعاً دا لازم دی چې کوم څه دې کرایه دار په دې کوټه باندې خرچ کړې دی هغه دې دې کرایه دار ته ورکړی. حال دا چې مالک د کور هم هغه کرایه اخلی کومه به ئې چې په اول کښې اخستله. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب که چیرې مالک د کور ورته دا وئیلې وی چې زما له ارخه ئې سمون وکړه نو د سمون خرچه په مالک باندې لازمه ده او که داسې ئې ورته نۀ وی وئیلې نو بیا پرې لازمه نه ده. په دې صورت کښې چې بیا کرایه دار کوم څیزونه په تعمیر کښې لګولی دی. هغه د دې مالک دې. که د هغه خوښه شی نو دا څیزونه د تعمیر نه ویستلې شی. والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۰ ربیع الاول ۱۳۹۳ هجری

د کور په تعمير کښې د اضافه کارۍ د وجې نه په کرايه کښې زياتوالې کول

سوال:- که چيرې د کور په مالک باندې په پورتنی صورت کښې د سمون خرج واجب وی او هغه ئې ورته ادا هم کړی نو آيا د کور مالک په کرايه کښې اضافه کولې شی او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چيرې د کرايې موده معينه وی،نو په دې کښې بيا اضافه کول روا نهٔ دی،او که موده ئې معينه نهٔ وی لکه څنګه چې عام دستور او رواج دې نو بيا دکومې مياشتې د ابتداء نه يې چه خوښه وی په کرايه کښې اضافه کولې شی،که د کرايه دار خوښه وی نو دا اضافه دې قبوله کړی او که خوښه ئې نهٔ وی نو کور دې پرېږدی۔ والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۰ ربيع الاول ۱۳۹۳ هجری

په کرايه باندې د ورکړې شوی څناور خوراک به په مالک باندې وی

سوال:- زيد خپله ټانګه سره د آس نه په دې شرط بکر له ورکړه چې ما له به روزانه پنځلس روپئ راکوې،او باقی تهٔ اخله، د آس خوراک وغيره به د زيد په ذمه وی،دويم صورت ئې دا دې، چې که د آس د خوراک وغيره خرچه بکر په غاړه اخلی نو بيا به زيد له صرف پنځه روپئ ورکولې کيږی، نو آيا د اجارې دا دواړه صورتونه روا دی او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د اجارې رومبې صورت صحيح دې او دويم صورت روا نهٔ دې،دا اجاره فاسده ده،څکه چې په اجرت باندې د ورکړې کيدونکی اجرت شرعاً د مالک په ذمه دې.

قال في التنوير و شرحه :(تفسد الاجارة بالشروط المخالفة لمقتضى العقد و كل ما افسد البيع)مما مر(يفسدها) كجهالة ماجور او اجرة او مدة او عمل و كشرط طعام عبد و علف دابة و مرمة الدار او مغارمها و عشر او خراج او مؤنة اشباه

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله و كشرط طعام عبد وعلف دابة) في الظهيرية استاجر عبدا او دابة على ان يكون علفها على المستاجر ذكر في الكتاب انه لا يجوز (ردالمحتار ص ٣ ج ٥) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۸ ذی قعده ۱۳۹۳ هجری

په اجاره کښې د وخت يا د کار تعين ضروری دی

سوال:- د شيرينۍ په دکانونو باندې چې کوم مزدوران کار کوی،د هغوی دکان ته د راتلو وخت خو معين وی،ليکن د رخصتۍ کولو وخت ئې معين نهٔ وی،کار کله زيات وی او کله کم،او دا په کښې تاکلې شوې وی چې کله کار ختم شی نو رخصتی به وی.آيا دا اجاره روا ده او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : په کار او وخت دواړو کښې د یو څیز تعیین ضروری دی او که نه نو اجاره به فاسده شی- **والله سبحانه وتعالی اعلم.**
۲۴ ربیع الثانی ۱۳۹۵ هجری

د څناور د جوتی (یعنی د مذکر څناور په مونث باندې د سورولو) د پاره د نسل کولو اجرت حرام دې

سوال:- دجوتی کولو اجرت اخستل اوورکول روا دی او که نه؟ اوددې حرام فعل له کبله په مونث څناور او د دې د نسل په غوښه او په پیو وغیره باندې څه اثر پریوځی او که نه؟بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : د دې فعل اجرت اخستل او ورکول حرام دی،د دې د وجې نه غوښه او پیو باندې څه اثر نه غورزیږی.دواړه پاک دی او حلال دی۔ **والله سبحانه وتعالی اعلم.**
۳ جمادی الآخرة ۱۳۹۵ هجری

د نرخ د زیاتیدو له کبله د دکان په کرایه کښې زیاتوالې

سوال : ۱- زید یو دکان په کرایه باندې اخستې وو،او د لسو کالو نه د دې دکان کرایه دار دې، اوس دې دکان سره نزدې د ټولو دکانونو کرایې زیاتې شوې، لیکن زید نۀ خو زیاته کرایه ورکوی او نه دکان پریږدی،ددې په حقله څه حکم دې ؟

۲- کومو کرایه دارو چې د کلونو راسې په داسې دکانونو باندې قبضه اچولې ده،او کرایه د زړې زمانې راسې لړه ادا کوی،نو د دوی څه حکم دې- بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : ۱- که داجارې موده ئې مقرره وه نو ددې نه وړاندې پرې دکان خالی کول او یا ترې نه د زیاتې کرایه مطالبه کول روا نۀ دی،د مودې پوره کیدلو نه پس د زیاتې کرایه مطالبه کولې شی.

که چیرې موده په کښې تاکلې شوې نۀ وه،نو د هرې میاشتې په شروع کښې ترې نه د دکان د خالی کولو یا د کرایې د زیاتولو مطالبه کولې شی.په دې صورت کښې که چیرې کرایه دار نور اوسیدل غواړی نو په هغۀ باندې د مالک مطلوبه کرایه ادا کول واجب دی۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: وان طالبه باجر اخر وسکن بعده ینبغی لزوم ذلك الاجر الذی طالبه به کما سیظهر فی المتفرقات عن الاشباه.(ردالمحتار ص ۵۰ ج ۵)

۲- کرایه دارو چې څومره موده په دې دکانونو ناجائزه قبضه کړې ده.نو د دومره کلونو اجرمثل په دوی باندې لازم دې

قال فی شرح التنویر: وفی الخانیة استاجر دارا او حماما او ارضا شهرا فسکن شهرین هل یلزمه اجر الثانی ان

معناللاستغلال والالاوبه يفتي وكذا الوقف ومال اليتيم (ردالمحتار ص ۳۰ ج ۵) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۸ جمادی الآخرة ۱۳۹۵ هجری

يو ټيکه دار څه پيسې واخستې او وروستو شو

سوال:- دوه ټيکه دارانو يو ځاى کار شروع کړې وو، بيا په دوى کښې يو وروستو شو، او ددې په بدله کښې ئې د دغه بل ملګرى نه پيسې واخستې، اوس آيا دا په رشوت کښې داخلې دى او روا دى که ناروا دى؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا روا دى، د دې مثال داسې دې لکه چې دغه ټيکه دار وروستو شو او د خپلې حصې کار ئې په لږ اجرت باندې ورکړو. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۲۹ رجب ۱۳۹۵ هجری

د سينما نوکرى کول

سوال:- په سينما کښې د نوکرئ کولو تنخوا حلاله ده او که حرامه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا تنخوا حرامه ده او ددې دوه وجې دى:

۱- که چيرې د ده په ذمه څه ناروا کار وى نو د هغې ګناه ده او که ناروا کار د ده په ذمه نۀ وى نو تعاون علی الاثم خو په هر صورت کښې دې.

۲- دا تنخوا ورته د حرام آمدن نۀ ورکول کيږى. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۲۰ شعبان ۱۳۹۵ هجری

د ناروا کار پنشن (تقاعدى)

سوال:- يو سړى چې ناروا نوکرى ئې کوله، د هغې پنشن ورکول کيږى، آيا ددې پنشن نه د دۀ يا د بل چا انتفاع روا ده؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: داسې پنشن روا دې، خو په دې شرط چې د پنشن ورکوونکې آمدن حلال وى، او که داسې نۀ وى نو د اصل تنخوا په شان به ددۀ پنشن هم حرام وى، لکه د بانک پنشن شو. چې تنخوا او پنشن ئې دواړه د سود د پيسو نه ورکول کيږى. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۷ ربيع الاول ۱۳۹۶ هجری

د ټى وى (تلويزيون) جوړول روا نۀ دى

سوال:- د راډيو او تلويزيون جوړول او ددې پُرزى لګول، او دا صحيح کول، او دا سمول، زده کول او بيا دا د حرفې په توګه اختيارول څنګه دى؟ په دې ذريعه چې کوم آمدن کيږى هغه به حلال وى او که حرام؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د تلویزیون جوړول خو په هر حال کښې ناروا دی،ځکه چې دا تعاون علی المعصیت دې، د دې آمدن حرام دې،البته د رادیو په حقله دا تفصیل دې چې که ددې د مالک په حقله درته دا معلوم وی چې هغه به د دې په ذریعه لوبې او سندرې وغیره نۀ آوری نو بیا ددې جوړول روا دی او که داسې نۀ وی نو بیا ناروا دی.
د دې تفصیل په رساله (القول المبرهن فی کراهة بیع الرادیو والتلویزن) کښې شته دې. **والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.** ۲۸ شوال ۱۳۹٦ هجری

د کتابت نقل په اجرت باندې ورکول

سوال:- یو سړی یو کتاب تالیف یا تصنیف کړو،په خپل خرچ باندې ئې د دې کتابت وکړو،او په خپله ئې دا چاپ کړو،اوس د کتابونو یو تاجر دا په خپله خرچه باندې په دویم ځل چاپ کول غواړی، مؤلف هغه له په دې شرط باندې د دې نقل ورکوی چې دغه تاجر به دې مؤلف له سل یا دوه سوه نسخې په اصل قیمت باندې ورکوی،او د مؤلف د تالیفاتو په حقله به څه مشهورتیا هم د کتاب په آخره کښې یا په یو بل مقام باندې چاپ کوی،آیا د دې قسمه شرطونه لګول او په دویم ځل د کتاب د چاپ کولو اجازت ورکول شرعاً روا دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د کتابت د نقل مالک مؤلف دې او د دې دا اجاره عامه معروفه شوې هم ده،لهذا چې تاجر له ددې اجازت ورکوی نو ددې په عوض کښې ترې نه د کتاب څه نسخې وغیره اخستې شی، لیکن د مشهورتیا د پاره د اشتهار شرط لګول ئې روا نۀ دی. **والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.** ۸ محرم ۱۳۹۷ هجری

په اجرت کښې د تاخیر له کبله زیاتوالې روا نۀ دې

سوال:- د یو ایجنټ (نماینده) سره زما معامله وتاکلې شوه،چې دوه نیم زره روپۍ به رانه د ټکټ او د نورو کارونو په عوض کښې اخلی،د معاملې د تاکلو نه وروستو بیا ماهغهٔ له پنځه سوه روپۍ نقدې ورکړې،او ورسره مې دا وعده وکړه چې د دوو زرو روپو په عوض به درله چې سعودی عرب ته لاړ شم نو په دوو میاشتو کښې به درله اته سوه سعودی ریاله راولیږم، لیکن د ځینی مجبوریتونو له کبله ما په دوو میاشتو کښې دغه قرض ادا نۀ کړې شو، لیکن وروسته مې ورته بیا د دوو میاشتو نه پس اته سوه ریاله ورکړل، اوس دغه ایجنټ په تاخیر کولو باندې سل ریاله نور غواړی،آیا شرعا دا سل ریاله زیاتې ورکول ضروری دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : که د قرض د ادا کولو د استطاعت باوجود ئې وعده خلافي کړې وی ، نو د دې ګناه به ورته وی لیکن ایجنټ د زیاتو پیسو د مطالبې کولو حق دار نۀ دې۔
بله دا چې دا معامله په پاکستانی پیسو کښې شوې ده نو ددې نه پس په سعودی ریال سره د دې مبادله کول بیع الکالی بالکالی کیدلو له کبله ناروا دی،د دې وجې نه ستاسو په ذمه صرف پاکستانئ دوه زره روپئ ادا کول واجب دی.والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۱۶ ربیع الثانی ۱۳۹۷ هجری

له مودې نه وړاندې د نوکرئ په پریښودلو باندې مالي جرمانه

سوال:- یوه کمپنئ خپلو نوکرانو ته د مقررې تنخوا نه علاوه څه نورې پیسې هم ورکوی،په دې شرط باندې چې پنځه کاله به دلته نوکری کوی،که دا نوکر د پنځو کالو پوره کیدلو نه وړاندې لاړو نو د پنځو کالو پیسې به د ټاکلې شوی مقدار په حساب سره ورکوی، که چیرې کمپنئ وه ویستلو نو د پنځو کالو پیسې به پوره ورکوی،برابره خبره ده که یو کال پس ئې وه ویستول او که وروستو خو پوره پیسې به کمپنئ ورکوی،آیا ددې قسم نوکری کول روا دی او که نه؟او کمپنئ ته د نوکر نه پیسې اخستل او نوکر له د کمپنئ نه پیسې اخستل روا دی او که نه؟ بینوا توجروا۔
الجواب باسم ملهم الصواب : دا زیاتې پیسې هم په تنخوا کښې شاملې دی،او د میعاد نه وړاندې د پریښودلو په صورت کښې د دې د واپس کولو شرط لګول مفسد د اجارې دې،لانه مخالف لمقتضی العقد وفیه نفع لاحد المتعاقدین لهذا په جانبینو باندې د دې نه توبه کول او د دې عقد فسخ کول فرض دی. نوکر چې څومره موده کار کړې دې نو هغۀ ته به د دومره مودې اجرِمثل ورکول کیږی،او دا اجرمثل به د ټاکلې شوې تنخوا او ورسره چې کوم زیاتوالې دې د هغې نه زیاتې نۀ وی .والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۲۲ شعبان ۱۳۹۷ هجری

بې د ټاکلو نه اجاره نۀ شی منعقد کیدلې

سوال :- زید خپل پلار سره د اوو کالو راسې تجارت کولو،زیدبالغ دې او نور وروڼه ئې علاوه د یو نه نابالغه دی، زید د خپل تجارت په وخت کښې خپله مزدوری ایستې ده.څکه چې د سامان اخستل او حساب کتاب کول ټول د هغۀ په ذمه وو ،پلار به ئې صرف په دکان باندې ناست وو. زید وادۀ کړې دې او بچی ئې هم دی،او نور وروڼه ئې ناوادۀ دی،د زید او د هغۀ د ښځې خوراک او خرچه د هغۀ د پلار سره شریکه وه،ددې اوو کالو مزدوری زید اته زره روپئ اخستې دی یعنی د هرې میاشتې په سر ئې ترې نه سل روپئ مزدوری اخستې ده،او دا کاروبار د کیږي دې دکان بنۀ بنائسته چلیږی.آیا د زید د پاره دا اجرت اخستل روا دی؟ د ترکې د تقسیم په صورت

کښې به زيد د پلار په ملکيت کښې د نورو ورونو سره برابر شريک وی او که نه دا اجرت به هم دپلار په ملکيت کښې شمارلې کيږی؟ او د حصو په مقدار به تقسيميږی.برابره خبره ده چې دا تقسيم دپلار دوفات په صورت کښې وی اوياهم د پلار په ژوند کښې زيد بيل کړی.بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: زيد خپل پلار سره په اجرت باندې کار کول نۀ وو تاکلی.د دې وجې نه د هغه کار کول تبرع دی،او د اجرت چې کومې پيسې دی هغه به هم په ترکه کښې شمارلې کيږی.او په دې کښې به د ټولو وارثانو حق وی،البته دا خبره ده چې که پلار ئې زيد په خپل ژوند کښې بيل کړی نو پلار له پکار دی چې د زيد خوارئ ته وګوری او د دې په برابرئ ورسره څه امداد وکړی۔ **والله سبحانه وتعالیٰ اعلم**

۲۹ صفر ۱۳۶۸ هجری

د افيمو په کرلو باندې اجرت روا دې

سوال۔ د افيمو د کرلو اجرت اخستل روا دی او که ناروا دی؟بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د افيمو استعمال په دوايانو کښې دومره حده پورې روا دې چې نشه نۀ ورکوی ددې وجې نه ددې کرل او اجرت دواړه روا دی.**والله سبحانه وتعالیٰ اعلم**

غرۀ رجب ۱۳۹۸ هجری

چې په زمکه کښې د يو سړی پيسې وی او د بل سړی خواری

سوال۔ زيد بکر ته اووئيل چې په لس زره روپئ باندې زمکه د دوو کالو د پاره په اجاره باندې پيدا کيږی، ما سره دومره پيسې نشته ، تۀ راته پيسې راکړه، د زمکې کر کرونده او خبر اخستل هر څه به زما په ذمه وی،دواړه به د فصل نيمه نيمه حصه واخلو آيا شرعاً دا طريقه روا ده او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دا صورت روا نۀ دې، پيسې ورکونکی ته به د فصل نه هيڅ نه ورکول کيږی.ددې صحيح صورت دا دې چې بکر زمکه په ټيکه واخلی،او زيد له ئې په صورت د مزارعت ورکړی.**والله سبحانه وتعالیٰ اعلم**

۱۱ رجب ۱۳۹۸ هجری

په ټيکه باندې د تعمير کولو يو مروجه صورت

سوال۔ نن صبا په عامه توګه ټيکه داران د زمکې او د کور مالکانو سره دا معاهده وکړی.چې ټيکه دار به د کور دمالک زوړ کور وران کړی او په هغې به نوې عمارت په خپلو پيسو جوړ کړی او يا به په خالی زمکه په خپلو پيسو نوې عمارت جوړ کړی.او د تعمير نه پس به په خپله دا دکانونه يا کور په کرايه ورکوی.او په خپله به کرايه ټاکی.او دغه دکانونه وغيره به په بټکی

باندې ورکړي،او څومره پیسې چې ئې لګولې دي هغه او د هغې سره غیر معینه منافع به اخلي،او پس د دې نه به بیا کرایه داران کرایه اصل مالک د کور ته ورکوي،مالک ته به دا اختیار نهٔ وي چې کور یا دکان په چا خالي کړي،او که چیرې کرایه دار ته د هغه د پټکي پیسې ورکولې شي نو بیا ئې پرې خالي کولې شي،آیا داسې کول روا دي؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دا معامله د لاندینو وجوهو له کبله ناروا ده .

۱ – جهالة الاجرة

۲ – شرط الاجرة علی غیر المستاجر مع جهالته

۳ – کون الاجر غیر مقدور التسلیم.

٤ – الانتفاع بالقرض والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲ رمضان ۱۳۹۸ هجری

په کاروبار کښې شریک سړي په نوکرۍ سره نیول

سوال:- شل سړي په خپله مختلف المقداره سرمایې سره یو کمپنۍ جوړوي،او د کمپنۍ د قواعدو او ضابطو او په اختیاراتو کښې د پیسو لګولو په مقدار نفع تقسیمول او د کمپنۍ د چلولو دپاره مشر مقرروي،او دغه مشر ته دا اختیار ورکوي چې د کمپنۍ د چلولو دپاره ماهره او خیرخواه کاریګر په کار باندې ولګوي، برابره خبره ده که دا مقررول په شریکانو کښې وي او که په شریکانو کښې د ماهرو کسانو نه وي .

اوس پوښتنه دا کول دي چې آیا د دې کمپنۍ شریکانو ته د نفعې نه علاوه د خپل عمل او د کار تنخوا اخستل روا دي او که نه؟

ښیني علماؤ د دې معاملې د ناجائزه کیدلو د پاره صفقة فی صفقة علت ګرځولې دې . آیا دا صحیح دی ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : ۱ – قال الامام الحصکفي رحمه الله: ولو استاجره لحمل طعام مشترك بینهما فلا اجر له لانه لا یعمل شیئا لشریکه الا ویقع بعضه لنفسه فلا یستحق الاجر.

۲ – وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: فان قیل عدم استحقاقه للاجر علی فعل نفسه لا یستلزم عدمه بالنسبة الی ما وقع لغیره فالجواب انه عامل لنفسه فقط لانه الاصل وعمله لغیره مبني علی امر مخالف للقیاس فاعتبر الاول ولانه ما من جزء یحمله الا وهو شریك فیه فلا یتحقق تسلیم المعقود علیه لانه یمنع تسلیم العمل الی غیره فلا اجر عنایة وتبیین ملخصا (ردالمحتار ص ج ۵)

۳- وقال العلامة الطحطاوی رحمہ اللہ: (قوله لانه لا يعمل شيئا الا ويقع بعضه لنفسه) قال فی العناية للقائل ان يقول (الی قوله) عدم استحقاقه للاجر علی فعل نفسه لا يستلزم عدمه بالنسبة الی ما وقع لغيره والجواب انه عامل لنفسه فقط لان عمله لنفسه اصل و موافق للقياس وعمله لغيره ليس باصل بل بناء علی امر يخالف القياس للحاجة وهی تندفع بجعله عاملا لنفسه لحصول مقصود المستاجر فاعتبر جهة كونه عاملا لنفسه فقط فلم يستحق الاجرة اهـ حلبی وقوله وهی تندفع الخ تامل (حاشية الطحطاوی علی الدر ص ۳ ج)

٤- وقال العلامة قاضی زاده رحمہ اللہ: اقول فی الجواب شیء (الی) لانه انما تندفع بجعله عاملا لنفسه حاجة المستاجر دون حاجة الاجير فان له حاجة الی الاجر كما ان للمستاجر حاجة الی المنفعة (الی) والظاهر ان عقد الاجارة لم يشرع لحاجة المستاجر فقط بل انما شرع لحاجة كل واحد من المتعاقدين (الی) فلم يتم الجواب. (نتائج الافكار تكملة فتح القدير ص ۷ ج)

٥ - وقال العلامة السعدی الجلبی رحمہ اللہ: (قوله وهی تندفع بجعله عاملا لنفسه لحصول مقصود المستاجر) اقول كيف يحصل مقصوده والاجير اذا علم انه لا يعطی له الاجر لا يحمل نصيب المستاجر بل يقاسم و يحمل نصيب نفسه (حاشية السعدی علی العناية بهامش تكملة الفتح ص ۷ ج)

٦- وقال الامام المرغينانی رحمہ اللہ: استاجره ليحمل نصف طعامه بالنصف الاخر حيث لا يجب له الاجر لان المستاجر ملك الاجر فی الحال بالتعجيل فصار مشتركا بينهما و من استاجر رجلا لحمل طعام مشترك بينهما لا يجب الاجر لانه ما من جزء يحمله الا وهو عامل لنفسه وعامل لشريكه فاعلة الاجرة فی مقابلة عمله لشريكه (الهداية ص ۳ ج)

۷ - وقال الحافظ العينی رحمہ اللہ: وقيل ههنا نظران:

الاول فی قوله حيث لا يجب الاجر كيف يقول لا يجب لانه قد وجب و قبض و هو نصف الطعام ثم يقول لان المستاجر ملك الاجر.

والثانی فی قوله لان ما من جزء يحمله الا وهو عامل لنفسه نظر فان هذا ممنوع (الی) ولكن الحق ان الجزء الذی لشريكه ليس هو عاملا فيه لنفسه بل لشريكه فهو فی الحقيقة عامل لنفسه وعامل لشريكه فاعلة الاجرة فی مقابلة عمله لشريكه (البناية ص ۳ ج)

۸ - وقال الامام الزيلعی رحمہ اللہ: بخلاف ما اذا استاجره ليحمل نصف هذا الطعام بنصفه الاخر حيث لا

يجب له شيء من الاجر لان الاجير فيه ملك النصف في الحال بالتعجيل فصار الطعام مشتركا بينهما في الحال ومن حمل طعاما مشتركا بينه و بين غيره لا يستحق الاجر لانه لا يعمل شيئا لشريكه الا ويقع بعضه لنفسه فلا يستحق الاجر هكذا قالوا وفيه اشكالان:

احدهما ان الاجارة فاسدة والاجرة لا تملك بالصحية معها بالعقد عندنا (الى) فكيف ملكه هنا من غير تسليم ومن غير شرط التعجيل

والثاني انه قال ملكه في الحال و قوله لا يستحق الاجر ينافي الملك لانه لا يملكه اذا ملكه الا بطريق الاجرة فاذا لم يستحق شيئاً فكيف يملكه وباي سبب يملكه و كان مشائخ بلخ والنسفي يجيزون حمل الطعام ببعض المحمول الخ (تبيين الحقائق ص۳۰ ج۵)

۹ - وقال الامام المرغيناني رحمه الله: قال واذا كان الطعام بين رجلين فاستاجر احدهما صاحبه او حمار صاحبه على ان يحمل نصيبه فحمل الطعام كله فلا اجر له وقال الشافعي له المسمى لان المنفعة عين عنده وبيع العين شائعا جائز فصار كما اذا استاجر دارا مشتركه بينه و بين غيره ليضع فيها الطعام او عبدا مشتركا ليخيط له الثياب ولنا انه استاجره لعمل لا وجود له لان الحمل فعل حسي لا يتصور في الشائع (الهداية مع البناية ص۳۰ ج۵)

۱۰ - وقال الحافظ العيني رحمه الله: (قال) اى في الجامع الصغير (و اذا كان الطعام بين رجلين فاستاجر احدهما صاحبه او حمار صاحبه على ان يحمل نصيبه فحمل الطعام كله فلا اجر له) يعني لا المسمى ولا اجر المثل و على قياس قول ابي حنيفة رحمه الله: ينبغي ان يجب اجر المثل كما في اجارة المشاع لكن الفرق ان فساد العقد هناك للعجز عن استيفاء المعقود عليه على الوجه الذي اوجبه العقد لا لانعدام الاستيفاء اصلا وهنا البطلان لتعذر الاستيفاء اصلا وبدون الاستيفاء لا يجب الاجر في العقد الفاسد

وقال الكرخي في مختصره قال ابن سماعة عن محمد رحمه الله (الى قوله) ثم قال الكرخي قال محمد رحمه الله و كل شيء استاجره من صاحبه مما يكون عملا فانه لا يجوز و ان عمله فلا اجر له و كل شيء ليس يكون عملا استاجر احدهما من صاحبه فهو جائز. (انه استاجره لعمل لا وجود له) قيل هذا ممنوع بل لعمله وجود (الى قوله) وفيه نظر لان معنى قوله لا وجود له لا يتميز وجوده

(لان الحمل فعل حسي لا يتصور في الشائع) اذ الحمل يقع على معين والشائع ليس بمعين (الى قوله) فان قلت

اذا حمل الکل فقد حمل البعض لا محالة فیجب الاجر قلت حمل الکل حمل المعین و نصیبه لیس بمعین فلما وجد نصیبه(البنایة ص۱۰۰، ج۱)

۱۱- وقال العلامة البابرتی رحمه الله: فان قیل اذا حمل الکل فقد حمل البعض لا محالة فیجب الاجر اجیب بان حمل الکل حمل معین و هو لیس بمعقود علیه والاستئجار بعمل لا وجود له لا یجوز لعدم المعقود علیه و اذا لم یتصور تسلیم المعقود علیه لا یجب الاجر اصلا. (العنایة بهامش تکملة الفتح ص۱۱۰ ج۰)

۱۲- وقال العلامة السعدی رحمه الله: اقول فی هذا الجواب تامل فانه ظاهر ان النصیب الشائع غیر خارج من الکل بل داخل فیه فاذا حمل الکل کان محمولا معه و یکون کاجارة المشاع فان اللازم هنا ایضا تعذر التسلیم علی الوجه الذی یقتضیه العقد فینبغی ان یحکم بأجر المثل (حاشیة السعدی علی العنایة بهامش تکملة الفتح ص۱۱۰ ج۰)

۱۳- وقال العلامة قاضی زاده رحمه الله: اقول فی الجواب نظر و هو ان عدم کون حمل الکل معقودا علیه لا یجدی شیئا فی دفع السؤال لان حاصل السؤال ان حمل الطعام واقع علی معین قطعا فکان موجودا و حمل الکل لا یتصور بدون حمل کل جزء منه فقد استلزم وجود حمل الکل وجود حمل کل جزء منه لا محالة ومن جملة الاجزاء نصیب المستاجر فلا بد ان یجب الاجر لحمل ذلک الجزء الذی هو المعقود علیه ولا شک ان عدم کون الکل معقودا علیه لا یفید شیئا فی دفع ذلک وانما یکون مفیدا لو کان المقصود من السؤال وجوب الاجر بحمل الکل و لیس فلیس (تکملة الفتح ص۱۱۰ ج۰)

۱۴- وقال الامام قاضیخان رحمه الله: ولو دفع غزلا الی حائک لینسج له بالثلث او بالربع ذکر فی کتاب انه لا یجوز ومشائخ بلخ رحمهم الله جوزوا ذلک لمکان التعامل وبه اخذ الفقیه ابو اللیث وشمس الائمة الحلوانی والقاضی الامام ابو علی النسفی رحمهم الله. (الخانیة بهامش الهندیة ص۳۰ ج۲)

۱۵- وفی مفسدات الاجارة من التنویر: وبالشیوع الا اذا اجر من شریکه وفی الشرح: فیجوز وجوزاه بکل حال وفی الحاشیة: (قوله فیجوز) ای فی اظهر الروایتین خانیة (ردالمحتار ص۳۰ ج۰)

۱۶- وقال العلامة معین الدین الهروی المعروف بملا مسکین: (و ان استاجره لحمل طعام بینهما فلا اجر له) ای اذا کان الطعام مشترکا بین رجلین فان استاجر احدهما صاحبه او حمار صاحبه لیحمل نصیبه منه الی مکة کذا فحمل الطعام کله فلا اجر له لا المسمی ولا اجر المثل وقال الشافعی رحمه الله له المسمی (شرح الکنز

لملا مسكين مع الحاشية فتح المعين ص ۱۰۰ ج ۲)

۱۷ – وقال العلامة المفتي ابو السعود رحمه الله: (قوله وقال الشافعي رحمه الله له المسمى) وبه قال مالك واحمد رحمهما الله تعالى عيني (فتح المعين ص ۱۰۰ ج ۲)

۱۸ – وقال الحافظ العيني رحمه الله: (وقال الشافعي رحمه الله له المسمى لان المنفعة عين معينة و بيع العين شائعا جائز) و به قال احمد رحمه الله (فصار كما اذا استاجر دارا مشتركة بينه وبين غيره ليضع فيها الطعام او عبدا مشتركا ليخيط له الثياب) حيث يجب الاجر. (البناية ص ۲۰۰ ج ۳)

۱۹ – وقال الامام الحصكفي رحمه الله: ولو استاجره ليحمل له نصف هذا الطعام بنصفه الاخر لا اجر له اصلا لصيرورته شريكا.

قال ابن عابدين رحمه الله: قال في التبيين و مشائخ بلخ والنسفي يجيزون حمل الطعام ببعض المحمول ونسج الثوب ببعض المنسوج لتعامل اهل بلادهم بذلك و من له يجوزه قاسه على قفيز الطحان والقياس يترك بالتعارف ولئن قلنا انه ليس بطريق القياس بل النص يتناوله دلالة فالنص يخص بالتعارف الا ترى ان الاستصناع ترك القياس فيه و خص من القواعد الشرعيه بالتعامل و مشائخنا رحمهم الله لم يجوزوا هذا التخصيص لان ذلك تعامل اهل بلدة واحدة وبه لا يخص الاثر بخلاف الاستصناع بان التعامل به جرى في كل البلاد وبمثله يترك القياس و يخص الاثر اه (ردالمحتار ص ۲۰۰ ج ۵)

۲۰ – وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: وفي فتاوى احمد افندى يعني المهمنداري سئل في مهرة صغيرة باع المالك الثمن منها شائعا لزيد بيعا صحيحا بثمن معلوم وسلم اليه المهرة وامره بتربيتها والقيام بعلفها من ماله على ان يكون له بذلك الحصة وهي الثمن الثاني تكملة الربع منها نظير التربية والعلف فتسلمها زيد و رباها وعلفها من ماله مدة (الى) و اجرة التربية لا يزاد على قيمة الثمن المجهول في مقابلته الجواب نعم اه (اقول) رايت بهامش الاصل بخط شيخ مشائخنا الشيخ ابراهيم السائحاني ما نصه قوله و اجرة التربية فيه نظر لانه الشريك لا اجر له اه لكن رايت في الخلاصة في الفصل الخامس من الاجارات ما نصه وفي فتاوى الفضل لو دفع الى نداف قباء ليندف عليه كذا من قطن نفسه بكذا من الدراهم ولم يبين الاجر من الثمن جاز اه وذكر قبله وفي الاصل رجل دفع الى السكاف جلدا ليخرز له خفين على ان ينعلهما بنعل من عنده و يبطنه و وصف له ذلك جاز وان كان هذا بيعا في اجارة للتعامل اه قال في المحيط وهذا استحسان والقياس ان لا يجوز بمنزلة ما لو

دفع ثوبا الی خیاط لیخیط جبة علی ان یحشوه و یبطنه من عنده باجر مسمی فان ذلک لا یجوز قیاسا و استحسانا فکذا هذا لکن ترک القیاس فی الخف للتعامل و فی المنتقی عن محمد رحمه الله تعالیٰ دفع الی خیاط ظهارة و قال بطنها من عندک فهو جائز قاسه علی الخف فصار فی المسالة روایتان و لو قال ظهارتها من عندک فهو فاسد باتفاق الروایات لانه لا تعامل فیه اھ و مفاد هذا ان المدار علی التعارف فلو جری التعارف جاز و الا فلا کما یشهد بذلک التعلیل لتعامل و من ذلک ما ذکروه فی استئجار الکاتب لو شرط علیه الحبر جاز لا لو شرط علیه الورق ایضا (العقود الدریة ص ۳ ج ۲)

۲۱ - وقال ایضاً: الباب الثانی فیما اذا خالف العرف ما هو ظاهر الروایة فنقول اعلم ان المسائل الفقهیة اما ان تکون ثابتة بصریح النص و هی الفصل الاول و اما ان تکون ثابتة بضرب اجتهاد و رای و کثیر منها ما یبنیه المجتهد علی ما کان فی عرف زمانه (الی) لو بقی الحکم علی ما کان علیه او لا للزم منه المشقة و الضرر بالناس و لخالف القواعد الشرعیة المبنیة علی التخفیف التیسیر و دفع الضرر و الفساد لبقاء العالم علی اتم نظام و احسن احکام و لهذا تری مشائخ المذهب خالفوا ما نص علیه المجتهد فی مواضع کثیرة. (رسائل ابن عابدین ص ۱۲۵ ج ۲)

۲۲ - وقال ایضا: فهذا کله و امثله دلائل واضحة علی ان المفتی لیس له الجمود علی المنقول فی کتب ظاهر الروایة من غیر مراعاة الزمان و اهله و الا یضیع حقوقا کثیرة و یکون ضرره اعظم من نفعه. (رسائل ابن عابدین ص ۱۳۱ ج ۲)

۲۳ - وقال ایضاً: (فان قلت) اذا کان علی المفتی اتباع العرف و ان خالف المنصوص علیه فی کتب ظاهر الروایة فهل هنا فرق بین العرف العام و العرف الخاص کما فی القسم الاول و هو ما خالف فیه العرف النص الشرعی (قلت) لا فرق بینهما هنا الا من جهة ان العرف العام یثبت به الحکم العام و العرف الخاص یثبت به الحکم الخاص (رسائل ابن عابدین ص ۱۳۱، ۱۳۲ ج ۲)

۲۴ - وقال ایضاً: فهذه النقول و نحوها دالة علی اعتبار العرف الخاص و ان خالف المنصوص علیه فی کتب المذهب ما لم یخالف النص الشرعی (الی) الول و عما قررناه تبین لک ان ما تقدم عن الاشباه من المذهب عدم اعتبار العرف الخاص انما هو فیما اذا عارض النص الشرعی (الی) و اما العرف الخاص اذا عارض النص المذهبی المنقول عن صاحب المذهب فهو معتبر کما مشی علیه اصحاب المتون و الشروح و الفتاوی (الی)

ليس للمفتي ولا للقاضي ان يحكما بظاهر الرواية ويتركا العرف(رسائل ابن عابدين ص۴۴ ج۲)

۲۵ - وقال ايضاً: والحاصل ان ما خالف فيه الاصحاب امامهم الاعظم لا يخرج عن مذهبه اذا رجحه المشائخ المعتبرون و كذا ما بناه المشائخ على العرف الحادث لتغير الزمان او للضرورة(الى)و مثله تخريجات المشائخ بعض الاحكام من قواعده او بالقياس على قوله ومنه قولهم و على قياس قوله بكذا يكون كذا فهذا كله لا يقال فيه قال ابو حنيفة رحمه الله نعم يصح ان يسمى مذهبه بمعنى انه قول اهل مذهبه او مقتضى مذهبه(الى)والظاهر ان نسبة المسائل المخرجة الى مذهبه اقرب من نسبة المسائل التي قال بها ابو يوسف او محمد رحمهما الله تعالى اليه لان المخرجة مبنية على قواعده واصوله الخ(رسائل ص۲۴ ج۲)

د ذكر كړې شوو نصوصو نه دا لاندې خبرې ثابتې شوې:

۱- شريک لره د اجير ساتلو عدم جواز د هيڅ يو شرعي نص نه ثابت نهٔ دی.

۲- د حضرت امام رحمه الله نه هم په دې حقله څه روايت نشته دې.

۳-د امام محمد رحمه الله نه په دې حقله قول نقل دې ليکن د هغوی نه د دې څه علت نهٔ دې منقول.

۴-بعضو مشائخو چې کوم علل بيان کړې دی،هغه د نورو مشائخو په نظر کښې مخدوش دی. وګورئ عبارت نمبر ۳، ۴، ۵، ۷، ۸، ۱۲، ۱۳ -

۵- علامه سعدی رحمه الله دې ته د اجارة المشاع په شان وئيلې دی.عبارت نمبر ۴.

۶- اجارة المشاع په اجماع د ائمة الاربعة رحمهم الله سره روا ده، البته امام رحمه الله غير شريک د پاره ناروا فرمائيلې دی.عبارت نمبر ۱۵، ۱۸ .

۷ - ائمهٔ ثلاثه رحمهم الله د اجارة المشاع په شان شريک لره د اجير په توګه د ساتلو په جواز باندې متفق دی.عبارت نمبر۱۶، ۱۷، ۱۸ .

۸ - د قفيزِ طحان حرمت د شرعي نص نه ثابت دې ، باوجود ددې د حرمت بعضی فقهاؤ رحمهم الله په وجه د تعامل د دې د جواز قول کړې دې. ليکن نورو فقهاؤ رحمهم الله دا د دې وجې نه ندې قبول کړې، چې دا تعامل د هغوی د ښاريو سره خاص دې.او په خاص تعامل سره د شرعي نص پرېښودل روا نهٔ دی.عبارت نمبر ۱۹ .

۹ - د شرعي نص د ترک د پاره عام تعامل شرط دې، ليکن د مذهب د نص د ترک دپاره خاص تعامل هم کافي دې.عبارت نمبر ۲۱، ۲۴ .

۱۰- د حنفي مذهب په حيثيت سره د صاحبينو رحمهما الله د اقوالو نه په تعامل باندې مبني احکام مقدم دی.عبارت نمبر ۲۵ .

۱۱- د مذهب نص خو په عام تعامل سره هم ترک کولې شي.او د کمپنئ شريکان په توګه د

اجیر ساتل خو عام تعامل دی٬لهذا په دې کښې به په طریقِ اولی سره د مذهب نص متروک وی.او بیا په خصوصیت سره دا خبره هم چې دا نص د امام هم نهٔ دې بلکه قول د امام محمد رحمه الله دې د کومې نه چې تعامل مقدم دې.

د دې نه علاوه د مضاربت نه هم ددې مرسته کیږی،مضارب د مشترک عمل نه نفع حاصلوی.

والله سبحانه وتعالی اعلم. ۳۰ محرم ۱۳۹۹ هجری

په سودی کار کوونکو ادارو کښې د بجلئ فټنګ کول

سوال:- نن صبا اکثر ادارې او په خاص توګه تجارتی ادارې او کمپنئ د کومو اکثر کاروبار چې سودی دې،ټیکدار د کمپنئ نه یا د ادارې نه قرض پیسه واخلی او تعمیری کار شروع کړی،زهٔ په داسې پیسو باندې جوړیدونکی عمارتونو کښې د بجلئ کار په ټیکه باندې کوک. ما ته چې کومې پیسې په اجرت کښې راکول کیږی، هغه هم د سود وی، نو آیا دا پیسې زما د پاره اخستل او نوکرانو له ورکول روا دی او که ناروا؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: ستا په کار کښې څه شرعی خرابې نشته ، د ادارو سودی کار کول د هغوی خپل فعل دې،د کومې وبال او ګناه چې به په هغوی باندې وی،لهذا ستا د کار اجرت بې د څه شبهې نه حلال دې،البته دا ضروری دی چې دآمدن پیسې دې د حلال آمدن نه وی،د دې وجې نه چې کله کمپنئ سره معاهده کولې شی نو دا دې ورسره شرط کړې شی،چې مونږ له به اجرت د شرعی منافعې نه راکوئ.په کمپنئ کښې به یقیناً د حلال آمدن ذرائع هم وی،د هغې نه دې تاسو ته اجرت درکړې شی.

که چیرې حلال او حرام آمدن ګډ وډ کړې شی او اداره دې خبرې ته تیاره نهٔ وی چې حلال بیل کیږدی، نو بیا ئې حکم دا دې چې : هر کله چې حلال او حرام مخلوط وی او حلال غالب وی نو ددې نه بیا اجرت اخستل روا دی.او که چیرې حلال او حرام دواړه سره برابر وی او یا حرام پرې غالب وی نو بیا ترې نه اجرت اخستل ناروا دی. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۳ ربیع الاول ۱۳۹۹ هجری

د اجارې فسخه کول د ضرورت د وجې نه

سوال - د یوې مدرسې ټول اخراجات د چندې په پیسو باندې چلیږی،او چنده یواځې مهتمم صاحب کوی. مهتمم صاحب ډیر بیمار شو او هسپتال کښې داخل شو.د چندې سلسله منقطع شوه.د مدرسې د خرچو د پاره قرض شروع شو،آخر دا چې مدرسه بنده شوه.او مدرسین او طالبان کورونو ته لاړل.د یو مدرس دا مطالبه ده چې ما ته دې د ټول کال تنخوا راکړې شی.آیا په مدرسه باندې د هغهٔ تنخوا واجب الاداء ده؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دا د عذر له کبله فسخه د اجارې ده او دا روا ده،لهذا دغه مدرس له د ټول کال د اجرت مطالبه کول روا نهٔ دی۔ **واللہ سبحانہ وتعالیٰ اعلم۔** ۱۸ ربیع الثانی ۱۳۹۹ هجری

یو جلد ساز د نیمګړی کتاب جلد جوړ کړو

سوال:- زید یو کتاب پریس (چاپ خانه) کښې د چاپ کیدلو د پاره ورکړو،څه نسخې خو پوره چاپ شوې لیکن څه په کښې ناقصې پاتې شوې،کتاب چاپ شو او بائنډر ته ورغې ،بائنډر بائنډنګ وکړو او کتاب ئې جلد ساز له ورکړو،جلد ساز د پوره او نیمګړی ټولو کتابونو جلد جوړ کړو، بائنډر هغهٔ له اجرت ورکړو،اوس مالک وائی چې زهٔ نیمګړی کتابونه نهٔ اخلم،او نهٔ د دې د جلد اجرت ورکوم،نو آیا دا نیمګړې نسخې خرڅول او د دې نه خپل اجرت اخستل څنګه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : که د کتاب مالک د نیمګړی کتاب د جلد کولو تصریح نه وه کړې، نو د دغه نیمګړی کتاب د جلد سازئ اجرت اخستل روا نهٔ دی،البته که د مالک په وینا ئې د نیمګړې نسخو جلد جوړ کړې وی نو بیا د مالک نه د اجرت مطالبه کولې شی،او که چیرې مالک پیسې نهٔ ورکوی نو دا نسخې دې خرڅې کړې شی او دخپل اجرت په قدر دې ترې نه واخستې شی او باقی پیسې دې مالک ته وسپارلې شی۔ **واللہ سبحانہ وتعالیٰ اعلم۔** ۳ جمادی الاولی ۱۳۹۹ هجری

جلد ساز ناقصه ګته استعمال کړه

سوال:- زید یو کتاب د جلد کولو دپاره جلد ساز ته ورکړو،او د یو خاص قسم ډبلې او د مضبوطې ګتې د لګولو هدایت ئې ورته وکړو،جلد ساز نرئ او کمزورې ګته ولګوله او جلد ئې وړله جوړ کړو،نو آیا جلد ساز د اجرت مستحق دې او که نه؟بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : که چیرې لږ شان فرق وی په کښې نو جلد ساز ته به ټول اجرت ورکول کیږی۔او که چیرې زیات فرق وی په کښې نو بیا جلد ساز د اجرت مستحق نهٔ دې،او په دهٔ باندې د کتاب قیمت لازم دې،او که چیرې مالک هم ددې جلد په قبلولو باندې راضی شی نو بیا به په دهٔ باندې پوره اجرت ورکول لازم شی۔

قال فی التنویر وشرحه: وضمن بصبغه اصفر وقد امر باحمر قیمة ثوب ابیض وان شاء المالك اخذه واعطاه ما زاد الصبغ فیه ولا اجر له وصبغ ردیئا ان لم یکن الصبغ فاحشا الا یضمن الصباغ وان کان فاحشا عند اهل فنه یضمن قیمة ثوب ابیض خلاصة. (ردالمحتار ص۳۰ ج۶) **واللہ سبحانہ وتعالیٰ اعلم** ۳ ربیع الاول ۱۴۱۴ هجری

د کوهي کنستلو په اجاره کښې د ژوروالي حد

سوال - زید عمرو ته اووئیل چې ما د پاره په دريو سوو روپو پنځه ګز کوهې وباسه. عمرو ته معلومه وه چې په دري ګزو کښې به اوبه راشي. لهذا عمرو دا خبره قبوله کړه. لیکن د عمرو د زړې مطابق اوبه په دري ګزو کښې راونه وتلې. اوس زید وائي چې زه به پیسې هغه وخت درکوم چې اوبه راوخي. آیا زید ته د دې خبرې حق شته دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب په دغه علاقه کښې چې په څومره ژوروالي کښې عموماً اوبه راوخي نو په هغې پورې بندي د هغه حد پورې کنستل واجب دي. د دې نه چې کنستل زیات شي نو د هغې دپاره عقد د اجرې ورسره وکړې شي

قال في الهندية لو استأجر ليحفر له بئرا او سردابا لا بد ان يبين الموضع طول البئر وعمقه ودوره وفي السرداب يبين طوله وعرضه وعمقه كذا في الغياثية ولو استأجره لحفر البئر ان لم يبين الطول والعرض والعمق جاز استحسانا ويؤخذ بوسط ما يعمله الناس كذا في الوجيز للكردري (عالمگيرية ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم

۱۱ ربیع الاول ۱۴۰۰ هجری

د اجارې د وکیل په مرګ سره اجاره نه فسخه کیږي

سوال - د يوې مدرسې مهتمم کرایه دار ته سره د مدرسې د دکانونو کرایه وټاکله. او ورسره ئې د هم وټاکله چې دا معاهده به د پنځو کالو پورې وي. د اته په تقرر سره مهتمم وفات شو. اوس د مدرسې منتظمه وائي چې دا معاهده منسوخ شوه. لهذا د کرایې تجدید دې وکړې شي. او کرایه دار وائي چې د معاهدې د دې سر ته ورسولی شي. شرعاً د دې څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب که چیرې مهتمم صاحب ته قانوناً د کرایه وغیره د متعین کولو نو اختیارات حاصل وو نو د هغوی په انتقال سره به اجاره ختمه شي. د بې د پاره منتظمه بي موي مهتمم ته اختیار دې او که چیرې مهتمم خود مختاره نه وو بلکه د مدرسې په قانون کښې د کرایه وغیره ټاکلو معاملاتو کښې د منتظمه متفقه فیصله ضروري وه، او مهتمم صاحب وکیل نه ګرځولو نو د هغوی په انتقال سره عقد د اجارې ختم نه شو. د دې عقد پوره کول ضروري دي. د معاهدې د مودې د ختمیدلو نه پس د کرایې تجدید کولې شي

قال ابن عابدين رحمه الله تعالى: قال السائحاني في البدائع ان الاجارة لا تبطل بموت الوكيل سواء كان من طرف المؤجر او المستأجر ... لانه عاقد لغيره ... كل من وقع له عقد الاجارة ... لا يبطل الاجارة بموته ... لا يبطل بموته لان كل عاقد لغيره لا يبطل بموته كالوكيل والوصي وكذا

المحول الى الوقف (ردالمحتار ص ۵ ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم.
۲۴ جمادی الاولی ۱۴۰۲ هجری

له كافرانو سره د شرابو په كاروبار كښې مزدوري كول

سوال - له كافرانو د سره شرابو په كاروبار كښې د مزدورى كولو څه حكم دې ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب د شرابو د اخستلو او د خرڅولو او د څښلو نوكرى كول روا نه دى.
د څه بل څه كار دپاره د كافر د شرابو په كاروبار كښې د نوكرئ كولو څه گنجائش شته دې.ليكن
په دې كښې هم څه دينى خطرات دى د دې وجې نه ددې نه احتراز كول بهتر دى.والله سبحانه وتعالی اعلم
۲۲ ربيع الثانى ۱۴۰۳ هجرى

د دريورى (موټروانى) د لائسنس (سند) جوړولو اجرت

سوال - د موټر د چل ښودلو د پاره چې كوم مكتبونه دى.نو دغه مكتب والا چې موټروان ته
لائسنس جوړ كړى په اجرت باندې نو دا اجرت په دې لانديږنو دوو صورتونو كښې په يو صورت
كښې داخل كړې شى نو دې ته بيا روا وئيلې كيدې شى او كه نه؟

۱- مكتب والا د خپلې مندې او د خوارئ پيسې اخلى.

۲ - مكتب والا دلال دې.او د دلالئ اجرت روا دې.

چې هر څنگه وى خو ددې د جواز صحيح صورت راته وليكئ.بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دويم صورت يعنى دې معاملې ته دلالى وئيل صحيح نه دى.څكه
چې د دلال دوه مقصده وى. يو دبائع تكل كول.دويمه ارضاء على المبيع.د سوال په صورت كښې دا
دواړه نشته دى.څكه چې بائع خو حكومت دې او هغه معين دې.او قانوناً په دۀ باندې واجب دى
چې ماهر موټروان ته لائسنس وركړى.لهذا د ارضاء على المبيع هم ضرورت پاتې نۀ شو.
اولنې صورت صحيح دې.څكه چې د لائسنس په حاصلولو كښې درې قسمه خوارئ دى

۱- عريضه وركول

۲- د محكمې نه ئې منظورول او لائسنس اخستل

۳- د اخستلو نه پس عريضه وركوونكى ته دا رسول

په دې كښې د قسم اول او د قسم ثالث د اجرت په جواز كښې څه اشكال نشته دې.څكه چې د
دواړه د اجير په اختيار كښې دى.په قسم ثانى كښې دا اشكال دې.چې لائسنس منظورول او ددى
اخستل د اجير په اختيار كښې نشته دې.او قدرت بقدرة الغير په حكم د عجز كښې دې.د دې
جواب كيدې شى.چې محكمه قانونا د لائسنس وركولو پابنده وى.ددې وجې نه دا كار د اجير د
قدرت نه خارج نۀ دې.په دې جواب كښې لږ شان تامل دې.لهذا د خوارئ په اول او دريم قسم

باندې اجاره کول پکار دی. والله سبحانه وتعالی اعلم. ٥ شعبان ١٤١١ هجری

د بجلۍ ((برق)) اجاره

سوال - د بجلۍ د محکمې سره معامله بیعه ده او که اجاره؟ که چیرې دا بیعه وی نو په دې کښې د معقود علیه عین کیدل شرط دی، او هغه دلته مفقود دی. او که چیرې اجاره وی نو په دې کښې په ابقاء د اصل سره تحصیل دمنفعت وی، او حال دا چې د بجلۍ اصل خرچ کیږی، دا کوم یو عقد دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دا عقد د اجارې دې، لیکن په خپله د بجلۍ نه بلکه د بجلۍ پیدا کوونکو او رسوونکو آلاتو او عملې اجاره ده. **والله سبحانه وتعالی اعلم.**

١٧ ربیع الاول ١٤١٤ هجری

د ټیکسی پټرول په مستاجر باندې د کیدلو شرط

سوال:- په ټیکسی کښې د پټرولو مثال د دابې د خوراک په شان دې، او هر کله چې دابه په کرایه باندې ورکولې شی او د خوراک شرط په مستاجر باندې ولګولې شی نو دې سره اجاره فاسده شی، همدغه شان که د ټیکسی د پټرولو د خرچې شرط په مستاجر باندې ولګولې شی نو دې سره هم اجاره فاسدیدل پکار دی، او که چیرې دې کښې شرط روا وی نو مابه الفرق څه دی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : په ټیکسی او دابه کښې د دوو وجوهو نه فرق دې:

١- په دابه کښې خوراک د عین دابې د بقا دپاره ضروری دې، او بل اړخ ته د ټیکسی د عین د بقا دپاره پټرول ضروری نهٔ دی.

په کوم څیز باندې چې د مستاجر څیز بقا موقوف وی هغه د مالک په ذمه باندې وی، او کوم چې د بقا د پاره موقوف علیه نهٔ وی هغه د مستعمل په ذمه وی.

٢- که د دابې نه نفع نهٔ اخلی نو بیا هم هغې له خوراک ورکول ضروری دی، او چې د ټیکسې نه نفع نهٔ اخلی نو بیا په کښې پټرول اچول ضروری نهٔ دی.

د دې وجې نه د علف د دابې په مالک باندې کیدل او د پټرولو په مستعمل باندې کیدل د قیاس موافق دی، د ټیکسی قیاس په دابه باندې کول صحیح نهٔ دی. **والله سبحانه وتعالی اعلم.**

١٨ ربیع الاول ١٤١٤ هجری

کورټ فیس ((دقضاء دمحکمې فیس))

سوال - د کورټ فیس په حقله راته د لاندینو سوالونو جوابونه ولیکئ او په دې حقله زمونږ

رهنمائي وکړئ.

۱- چې عدالت (دقضاء په محکمه) کښې څه مقدمه (عريضه) داخلول وی نو په دغه وخت کښې عدالت (دقضاء محکمه) څه فيس اخستلې شی؟

۲- د قاضی د متنازعينو نه د خپل ځان د پاره فيس اخستل بالاتفاق ناروا دی،او د قاضی د حکومت نه تنخوا اخستل تقريبا روا دی،ليکن آيا د حکومت د متنازعينو د پاره په دې بنياد باندې فيس اخستل چې د دې په ذريعه د عدالت خرچې پوره کولې شی دا به روا وی او که ناروا؟

۳- په پاکستانی عدالتونو کښې صورتِ حال دا دې،چې د عائلی مقدماتو د عدالتونو،د حادثاتی مقدماتو د عدالتونو،د کرايه دارئ د مقدماتو،او د فوجدارئ د مقدماتو هيڅ څه کورټ فيس نشته ،په ځينې مقدماتو کښې دپنځلس روپو په اندازه معمولی فيس اخستلې شی،او دې دومره فيس ته يقيناً د کاغذ او د ستيشنرئ وغيره خرچه وئيلې کيدې شی،همدغه شان مالی معاملاتو کښې که چيرې مقدمه د پنځه ويشتو زرو نه کمه وی نو په دې باندې هم څه کورټ فيس نهٔ شی اخستلې،البته داسې مالی معامله چې په هغې کښې چا ته د پنجاب او د سرحد نه د پنځه ويشت زرو روپو نه دزياتو او د سندھ نه د پنځوس زره روپو نه د زياتو روپو ترلاسه کيدل وی،نو په دې باندې د اونيم فيصده په حساب سره کورټ فيس اخستلې شی،په دې کښې هم چې څوک دا درخواست ورکړی چې هغه د خپلې تنګدستئ د وجې نه دا فيس نهٔ شی ادا کولې نو هغهٔ ته عموما دا فيس معاف کړې شی.

دا وئيل چې يواځې د مالدارو خلقو نه د عدالتی خرچو د پوره کولو دپاره دا فيس اخستلې شی،او که دا فيس وانه خستلې شی نو د عدالتی خرچې د پوره کولو دپاره د ټيکس نه سوا بله يوه لاره پاتې نهٔ ده،او د دې زور بيا ټولو خلقو له ورځی،برابره خبره ده که دا عام خلق په مقدمه کښې شريک وی او که نه،د دې نه علاوه که دا فيس وغيره بالکل ختم کړې شی،نو ددې خبرې هم انديښنه ده، چې دا مقدمې به ډيرې زياتې شی،او د بې بنياده مقدمو د اچولو ډاډګيرنه به خلقو ته ترلاسه شی،آيا دا خبرې د کورټ فيس جواز نهٔ پيدا کوی؟

الجواب باسم ملهم الصواب : امن او امان قائم ساتل او خلقو ته انصاف رسول د حکومت په ذمه فرض دی،لهذا د فرض غوندې عبادت په ادا کوولو باندې د انصاف د طلب کوونکو نه اجرت اخستل ناروا او حرام دی.

د کورټ فيس په مسئله کښې د(فيس) لفظ د اجرت په انګريزئ کښې متبادل نوم دې،لهذا د عدالت د پاره د متنازعينونه د مقدمې په اوريدلو باندې د کورټ فيس د اخستلو شرعاً څه ګنجائش نشته دې.

البته که په قومی خزانه کښې د حقيقی اخراجاتو د زياتوالی له کبله د عدالتی خرچو د پاره د

پیسو واقعتا گنجائش نهٔ وی،نو په داسې مجبورئ کښې بیا د دې گنجائش شته دې چې حکومت د عدالتی خرچو د پوره کولو دپاره د ملک په مالدارو خلقو باندې ټیکس ولگوی.او فقهاء کرامو ﷺ دا خبره په تنبه کړې ده.

او بـه خبره دا ده چې دا ټیکس په مالدارانو کښې د هغه مالدارانو نه واخستې شی چې هغوی دخپلو مسئلو د حل د پاره عدالت ته رجوع کوی، لیکن په دې کښې هم د دوو شرطونو د پابندئ اهتمام ضروری دې.

۱-د مالدارو نه دې دا ټیکس صرف د عدالتی خرچو د پوره کولو د پاره د مجبورئ د وجې نه واخستې شی.د دې نه دې په باقاعدگئ سره د حکومت د آمدن ذریعه نهٔ جوړولې کیږی.

۲- دا ټیکس دې د هغه تناسب نه په هیڅ صورت کښې هم زیات نهٔ اخستل کیږی،کوم تناسب چې په دې وخت کښې د کورټ فیس او دحقیقی عدالتی خرچو په مابین کښې موندې شی.

۱ - قال الامام السرخسی رحمه الله: ولا بأس بأن يكلف القاضي الطالب صحيفة يكتب فيها حجته و شهادة شهوده لان منفعة ذلك له والذي يجب على القاضي مباشرة القضاء فاما الكتابة ليست عليه فلا يلزمه اتخاذ الصحائف لذلك من مال نفسه ولكن لو كان في بيت المال فلا بأس بذلك لانه يحصل بعمله و كفايته في مال بيت المال فما يحصل به لا بأس بان يجعل في مال بيت المال و على هذا اجر كاتب القاضي فانه ان جعل كفايته في بيت المال لكفاية القاضي ليحتسب في عمله فهو حسن و ان راى ان يجعل ذلك على الخصوم فلا بأس به لانه يعمل لهم عملا لا يستحق على القاضي مباشرته و كذلك اجير قاسم القاضي (المبسوط ص ج)

۲ - وقال ايضا: ثم الاولى ان يجعل كفاية قاسم القاضي في بيت المال ككفاية القاضي لان عمله من تتمة ما انتصب القاضي له فان لم يقدر على ذلك امر الذين يريدون القسمة ان يستاجروه باجر معلوم و ذلك صحيح لانه يعمل لهم عملا معلوما و ذلك العمل غير مستحق عليه و لا على القاضي فالقضاء يتم ببيان نصيب كل واحد من الشركاء و القسمة عمل بعد ذلك فلا بأس بالاستيجار عليه كالكتابة (المبسوط ص ج)

۳ - وقال الامام طاهر بن عبد الرشيد البخاري رحمه الله: وفي المحيط واذا اراد القاضي ان يكتب السجل و يأخذ على ذلك اجرا يأخذ منه مقدار ما يجوز اخذه لغيره و كذا لو تولى القسمة بنفسه باجر لو اخذ الاجر على مباشرة نكاح الصغار ليس له ذلك لانه واجب عليه و ما لا يجب مباشرته يجوز اخذ الاجرة عليه (خلاصة الفتاوى ص ج)

۴ - وقال الامام الكاساني رحمه الله: ومعلوم انه لا يمكنه القيام بما نصب له بنفسه فيحتاج الى نائب يقوم مقامه في ذلك و هو القاضي ولهذا كان رسول الله ﷺ يبعث الى الآفاق قضاة فبعث سيدنا معاذا ﷺ الى اليمن و

بعث عتاب بن اسید رضی اللہ عنہ الی مکۃ فکان نصب القاضی من ضرورات نصب الامام فکان فرضا وقد سماہ محمد رحمہ اللہ فریضۃ محکمۃ (بدائع الصنائع ص ج)

۵ – وقال الامام المرغینانی رحمہ اللہ: (ولا باس برزق القاضی) لانہ ﷺ بعث عتاب بن اسید رضی اللہ عنہ الی مکۃ و فرض لہ و بعث علیا رضی اللہ عنہ الی الیمن وفرض لہ و لانہ محبوس لحق المسلمین فتکون نفقتہ فی مالھم و ھو مال بیت المال و ھذا لان الحبس من اسباب النفقۃ کما فی الوصی والمضارب اذا سافر بمال المضاربۃ و ھذا فیما یکون کفایۃ فان کان شرطا فھو حرام لانہ استئجار علی الطاعۃ اذالقضاء طاعۃ بل ھو افضلھا ثم القاضی اذا کان فقیرا فالافضل بل الواجب الاخذ لانہ لایمکنہ اقامۃ فرض القضاء الابہ اذ الاشتغال بالکسب یقعدہ عن اقامتہ وان کان غنیا فالافضل الامتناع علی ما قیل رفقا ببیت المال وقیل الاخذ وھو الاصح صیانۃ للقضاء عن الھوان ونظرا لمن یولی بعدہ من المحتاجین لانہ اذا انقطع زمانا یتعذر اعادتہ ثم تسمیتہ رزقا تدل علی انہ بقدر الکفایۃ (الھدایۃ ص ج ۳)

٦ – وقال ایضا: وینبغی للقاضی ان ینصب قاسما یرزقہ من بیت المال لیقسم بین الناس بغیر اجر لان القسمۃ من جنس عمل القضاء من حیث انہ یتم بہ قطع المنازعۃ فاشبہ رزق القاضی ولان منفعۃ نصب القاسم تعم العامۃ فتکون کفایتہ فی مالھم غرما بالغنم (قال فان لم یفعل نصب قاسم یقسم بالاجر) معناہ باجر علی المتقاسمین لان النفع لھم علی الخصوص ویقدر اجر مثلہ کیلا یتحکم بالزیادۃ والافضل ان یرزقہ من بیت المال لانہ ارفق بالناس وابعد عن التھمۃ (الھدایۃ ص ج ۳)

۷ – وقال العلامۃ علاء الدین الطرابلسی رحمہ اللہ: وللقاضی اخذ الاجرۃ علی کتب السجلات والمحاضرۃ وغیرھما من الوثائق اذ یجب علیہ القضاء و ایصال الحق الی اھلہ لا الکتابۃ ولکن انما یطیب لہ لو اخذ ما یجوز اخذہ لغیرہ قال فی الملتقط للقاضی ان یاخذ ما یجوز لغیرہ اخذہ وما قیل فی کل الف خمسۃ دراھم لا نقول بہ ولا یلیق ذلک بالفقہ و ای مشقۃ للکاتب فی کثرۃ الثمن و انما اجر مثلہ بقدر مشقتہ و بقدر عملہ فی صنعتہ ایضا کحکاک وثقاب مستاجر باجر کثیر فی مشقتہ القلیلۃ.

(فصل) واما اجرۃ السجل علی من تجب قیل علی المدعی اذ بہ احیاء حقہ فنفعہ لہ وقیل علی المدعی علیہ اذ ھو یاخذ السجل وقیل علی من استاجر الکاتب وان لم یامرہ احد و امرہ القاضی فعلی من یاخذ السجل. (معین الاحکام ص ج ۱)

۸ – وقال فی الھندیۃ: ولا یاخذ الرزق الا من بیت مال الکورۃ التی یعمل فیھا لانہ یعمل لاھل ھذہ الکورۃ کذا فی العتابیۃ.

۹ – وقال ایضا: واما اجر کتاب القاضی واجر قسامہ فان رای القاضی ان یجعل ذلک علی الخصوم فلہ ذلک وان

رای ان یجعل ذلك فی مال بیت المال وفیه سعة فلا بأس به وعلی هذا الصحیفة التی یکتب فیها دعوی المدعین وشهادتهم ان رای القاضی ان یطلب ذلك من المدعی فله ذلك وان کان فی بیت المال سعة ورای ان یجعل ذلك فی بیت المال فلا بأس به وفی النوازل قال ابراهیم سمعت ابا یوسف رحمه الله سئل عن القاضی اذا اجری له ثلاثون درهما فی ارزاق کاتبه وثمن صحیفته ایسعه ذلك قال ما احب ان یعرف شیئا من ذلك عن موضعه الذی سمی له کذا فی التتارخانیة (عالمگیریة ص ۳۳ ج ۳)

۱۰- وقال العلامة التمرتاشی رحمه الله: یستحق القاضی الاجر علی کتب الوثائق قدر ما یجوز لغیره کالمفتی

۱۱- وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله قدر ما یجوز لغیره) قال فی جامع الفصولین للقاضی ان یأخذ ما یجوز لغیره (ردالمحتار ص ۳ ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۳ صفر ۱٤۱٤ هجری

د مسئلو په ښودنه باندې اجرت اخستل

سوال: یوه علاقه ده، چې په هغې کښې د مسئلو د ښودلو دپاره څوک مفتی نشته دی. یو مفتی صاحب د دغې علاقې خلقو ته درې یا څلور ساعته وخت ورکوی او په یو مخصوص ځائ کښې کینی. خلق راځی او د هغهٔ نه د مسئلو پوښتنه کوی، آیا دا مفتی د خلقو نه د وخت د حبس کولو اجرت اخستې شی، او حال دا چې د څه اداری یا د بیت المال له اړخه ددهٔ څه اجرت هم مقرر نهٔ وی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: آو ! دې دغه اجرت اخستې شی، د دې تفصیل داسې دې چې که څوک سړې د مفتی نه پوښتنه وکړی او مفتی ته پته وی نو په هغه د دې مسئلې ښودل فرض دی. لهذا په دې باندې اجرت اخستل روا نهٔ دی. لیکن که څوک مفتی د خلقو د فائدې دپاره خپل وخت فارغ کړی او صرف د مسئلو د ښودلو د پاره یو ځائ کښې کېښینی. نو داسې کول خو په دهٔ باندې فرض نه دی. نو ددې وجې نه د وخت د حبس کولو اجرت د پوښتنه کوونکو نه اخستې شی.

قال الامام المرغینانی رحمه الله: (ولا بأس برزق القاضی) لانه علیه السلام بعث عتاب بن اسید رضی الله عنه الی مکة وفرض له وبعث علیا رضی الله عنه الی الیمن وفرض له ولانه محبوس لحق المسلمین فتکون نفقته فی مالهم وهو مال بیت المال وهذا لان الحبس من اسباب النفقة کما فی الوصی والمضارب اذا سافر بمال المضاربة وهذا فیما یکون کفایة فان کان شرطا فهو حرام لانه استئجار علی الطاعة اذ القضاء طاعة بل هو افضلها ثم القاضی اذا کان فقیرا فالافضل بل الواجب الاخذ لانه لا یمکنه اقامة فرض القضاء الا به اذ الاشتغال بالکسب یقعده عن اقامته وان کان غنیا فالافضل الامتناع علی ما قیل رفقا ببیت المال وقیل الاخذ وهو الاصح صیانة للقضاء عن الهوان ونظرا لمن یولی بعده من المحتاجین لانه اذا انقطع زمانا یتعذر اعادته ثم تسمیته رزقا تدل علی انه بقدر الکفایة. (الهدایة ص ۱۰۰ ج ۳)

وقال ایضا: وینبغی للقاضی ان ینصب قاسما یرزقه من بیت المال لیقسم بین الناس بغیر اجر لان القسمة

من جنس عمل القضاء من حيث انه يتم به قطع المنازعة فاشبه رزق القاضي ولان منفعة نصب القاسم تعم العامة فتكون كفايته في مالهم غرما بالغنم (قال فان لم يفعل نصب قاسما يقسم بالاجر) معناه باجر على المتقاسمين لان النفع لهم على الخصوص ويقدر اجر مثله كيلا يتحكم بالزيادة والافضل ان يرزقه من بيت المال لانه ارفق بالناس وابعد عن التهمة (الهداية ص۳۰ ج۴)

وقال الامام طاهر بن عبد الرشيد البخاري رحمه الله: وفي المحيط واذا اراد القاضي ان يكتب السجل ويأخذ على ذلك اجرا يأخذ منه مقدار ما يجوز اخذه لغيره وكذا لو تولى القسمة بنفسه باجر ولو اخذ الاجر على مباشرة نكاح الصغار ليس له ذلك لانه واجب عليه وما لا يجب عليه مباشرته يجوز اخذ الاجرة عليه (خلاصة الفتاوى ص۰ ج۴)

وقال العلامة علاء الدين الطرابلسي رحمه الله: (فصل) واما اجرة السجل على من تجب قيل على المدعي لانه احياء حقه لمنفعته وقيل على المدعى عليه اذ هو يأخذ السجل وقيل على من استأجر الكاتب وان لم يأمره احد وامره القاضي فعلى من يأخذ السجل (معين الحكام ص۰ ج۱) والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۹ ربیع الثانی ۱۴۱۴ هجری

د شیعه، قادیانی وغیره زنادقو سره اجاره او استجاره کول او دغه شان نور معاملات کول روا نهٔ دی

سوال: شیعه نوکر ساتل، یا چا شیعه سره نوکری کول روا دی او که ناروا؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: شیعه گان زندیقان دی، شیعه لره نوکر ساتل، د دوی نوکری کول، د دوی سره اخستل خرڅول وغیره هیڅ یوه معامله هم روا نهٔ ده، د دوی نه ترلاسه شوې مال برابره خبره ده که دا مال په اجرت کښې ترلاسه شوې وی یا په ذریعه د اخستلو او خرڅولو یا د هدیې وغیره په توگه وی حرام دې، دا مال په مسکینانو باندې صدقه کول واجب دي۔

قادیانې، آغاخانې، ذکری، پرویزې، انجمن دینداران وغیره چې څومره فرقې هم د خپلو کفری عقیدو بنه په جهر سره اعلان کوی او همدې کفری عقیدو ته اسلام وائی نو د دغه ټولو فرقو همدا حکم دې۔

د دې زندیقانو د حکم تفصیل په اولنی جلد کښې په کتاب الایمان والعقائد، او په باب المرتد والبغاة کښې شته دې، او دیر زیات تفصیل ئې په کتاب الحظر والاباحة کښې دې۔ والله سبحانه وتعالی اعلم۔ غرة ذی الحجه ۱۴۱۴ هجری

د قلی (یعنی د پیتی اوچتونکی) د ټاکلی شوی اجرت نه زیات اخستل

دا مسئله په کتاب الحظر والاباحة کښې وگورئ۔

د ټیکسی کرایه د میټر نه زیاته اخستل

دا مسئله هم په کتاب الحظر والاباحة کښې وگورئ۔

بسم الله الرحمن الرحيم
﴿وَمَا تَوْفِيقِيٓ إِلَّا بِٱللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ﴾

اِرشَاد اُولی الابصَار اِلی شَرَائط حقِ القرارِ

((د مستاجر د پاره حق د قرار او د دې د عوض اخستلو په حقله يوې رسالې باندې تبصره))

د مستاجر د پاره د استقرار په حق باندې يو تفصيلي بحث

د مستاجر د پاره د حق استقرار په حقله يو ليک ستاسو په خدمت کښې درليږم، د دې تصويب يا ترديد وکړئ او مونږ له د تشکر موقع راکړئ. والاجر عندالله الکريم.

سوال:- دکان را بمستاجر دادن و ضمنا مبلغی پول بعنوان (سرقلفی) گرفتن چه حکم دارد؟

جواب:- اصل ضابطه شرعيه دراين صورت مورد اين است که بپايان رسيدن مدت اجارة يا موت احدالمتعاقدين مطلق اجاره خاتمه يا بد. لذا لازم ست آن وقت از مستاجر بالفور خلع يد بعمل آيد کما هو مصرح فی عامة المتون و شروح الفتاوی اما فقهاء متاخرين دربعضی صورت بارعايت شرائط چند بابقاء مورد اجاره (دکان و مغازه وغيره) درقبضه مستاجر نسلا بعد نسل فتوی داده اند وما دا ميکه مستاجر پابند شرائط مورد نظر باشد موجر حق اخراج ويرا يا فسخ اجاره را ندارد حتی موت احد المتعاقدين هم موجب فسخ نخواهد شد، بلکه نسلا بعد نسل جاری و برقرار خواهد ماند.

و من جمله صورتهای که موجب فتوی جواز قرار گرفته است اين ست که دکان و مغازه وغيره يعنی مورد اجاره بعنوان اجاره دائمی دراختيار مستاجر گذاشته واو را مطمئن سازند که مال الاجاره از تصرف وی اخراج نمی گردد تامبلغی که صرف تعمير وغيره مينمايد بهدر نرود،اين قبيل املاک مستاجره را در اصطلاح فقهاء رحمهم الله ارض محتکره و کردار يا جدک گويند،و حق دائمی مستاجر را

بمشد مسکه یا حق قرار تعبیر می نمایند.کما فی ردالمحتار والعقود الدریة ـ

و این صورت در راضی او قاف یا بیت المال مسلمین یا دراملاکی که مالک آن را مختص اجاره نموده است متصور ست،و نیز قرار داد دائمی اجاره مرقوم گردیده است که او باتکاء آن مبلغی درمال الاجاره صرف و مشقت و زحمتی متحمل شده است پس دراین صورت هم تاوقتیکه مستاجر شرائط ذیل را رعایت کند از تصرف وی خارج نخواهد شد۔

اول اینکه اجرة مقرره را مرتبا پرداخت نماید.

ثانیا مستاجر ملتزم شود که درصورت تغییر اجرة بر حسب عرف هر چه باشد بپردازد

ثالثا اینکه زمینی یا دکان و منزل مورد اجاره راتا سه سال معطل از استفاده نگذارد. کمافی الخیریة اذا ثبت انهم معطلوها ثلث سنین تنزع من ایدیهم،

چنانچه یکی را از شرائط مذکوره رعایت نکند حق وی ساقط گردد،

علامه ابن عابدین رحمه الله در ردالمحتار والعقود الدریة فی تنقیح الفتاوی الحامدیة در مورد این مسئله بحث مفصلی ایراد نموده است ونیزمستقلا رساله ای بنام تحریر العبارة فیمن هو احق بالاجارة مرقوم فرموده است،و قسمتی از تحقیق علامه رحمه الله که در رساله مذکوه زیب قرطاس فرموده است، بدین قرار ست :

ذکر فی البحر عن القنیة ما نصه استاجر ارضا وقفا غرس فیها وبنی ثم مضت مدة الاجارة فللمستاجر ان یستبقیها باجر المثل اذا لم یکن فی ذلك ضرر ولو ابی الموقوف علیهم الا القلع لیس لهم ذلك انتهی

وقال فی البحر بهذا یعلم مسالة الارض المحتکرة وهی منقولة ایضا فی اوقاف الخصاف انتهی،

قال الشامی رحمه الله قلت وحاصله ان کلام المتون والشروح وان کان شاملا للوقف والملك الخ

وفیه ایضا قد یثبت حق القرار بغیر البناء والغرس بان تکون الارض معطلة فیستاجرها من المتکلم علیها لیصلحها للزراعة ویحرثها ویکبسها وهو المسمی بمشد المسکة فلا تنزع من یده ما دام یدفع ما علیها من القسم المتعارف کالعشر ونحوه الخ

وفی ردالمحتار وفی فتاوی العلامة المحقق عبدالرحمن آفندی مفتی دمشق جوابا لسوال عن الخلو المتعارف بما حاصله ان الحکم العام قد یثبت بالعرف الخاص عند بعض العلماء کالنسفی وغیره ومنه الاحکار التی جرت بها العادة فی هذه الدیار وذلك بان تمسح الارض وتعرف بکسرها ویفرض علی قدر من الاذرع مبلغ معین من الدراهم ویبقی الذی یبنی فیها یودی ذلك القدر فی کل سنة من غیر اجارة کما ذکر فی انفع الوسائل الخ

علی هذا گرفتن سرقفلی از مستاجر بارعایت شرائط بالانزد متاخرین فقهاء رحمهم الله حرجی ندارد. هذا ما وقع فی فؤادی والله سبحانه الهادی وعلیه فی الامور کلها اعتمادی.

الجواب باسم ملهم الصواب : رالیږلې شوې لیک د حضرت مفتی شفیع صاحب رحمه الله د رسالې «قانون اسلامی بابت پټه دوامی» چې په جواهر الفقه کښې دې د هغې نه ماخوذ دې، په ذکر کړې شوې رساله کښې د حضرت علامه شامی رحمه الله تحریرونه ځان ته وراندې اینودلې شوې دی، کوم چې هغوی په ردالمحتار او په رساله (**تحریر العبارة فیمن هو احق بالاجارة**) مندرجه رسائل ابن عابدین کښې لیکلې دی.

دعلامه شامی رحمه الله د دې تحقیق مطابق د قرار د حق د ثبوت د پاره دا لاندې ورکړې شوې شرطونه دی:

۱- زمکه وقف وی یا سلطانی زمکه وی، د چا په مملوکه زمکه کښې د قرار حق نهٔ ثابتیږی.

۲- په وقف زمکه او سلطانی زمکه کښې هم مطلقا د قرار حق نشته دې، بلکه دا شرط دې په کښې چې دا زمکه هم د زراعت د پاره متعینه وی. او ددې نه کامله انتفاع دې په دې باندې موقوف وی چې مزارعینو ته حق د قرار ورکړې شی. **و کذا الحوانیت والابنیة یشترط فیها ان تکون معدة للاستغلال وان یکون الانتفاع بها المعتبر موقوفا علی بقاءها بایدی المستاجرین.**

۳ - مستاجر په زمکه کښې په خپلې خرچې سره عمارت جوړ کړو، یا ئې په کښې باغ لګولې وی. یا ئې د زمکې په آبادولو باندې ښهٔ خواری کړې وی او ښهٔ مصارف ئې زغملی وی.

۴ - د اجارې د عقد په وخت کښې د قرار د حق تصریح کړې شوې وی یا ددې عرف وی.

۵ - د قرار حق به د وقف په زمکه کښې درې کاله پس ثابتیږی او په سلطانی زمکه کښې به دیرش کال پس ثابتیږی.

۶ - مستاجر متعینه اجرت ادا کوی.

۷ - چې په عرف کښې د اجرت په شرح کښې اضافه وشی نو مستاجر د هغې مطابق اجرت ورکول قبول کړی. البته د اجرت په تعیین کښې به د زمکې هغه حالت معتبر وی کوم چې د مستاجر د خوارئ نه وړاندې وو. د مستاجر د زمکې د هوارولو نه پس او د اوبو وغیره د انتظاماتو د کولو نه پس چې د زمکې کوم حالت وی نو دهغې اجرت به نهٔ وی.

۸ - مستاجر زمکه د دریو کالو پورې معطله پرې نږدی.

عقد العلامة ابن عابدین رحمه الله فی رسالته تحریر العبارة فصلا لبیان ملکة ما اطال فی تحقیقه فقال:

قد ظهر لک ما قررناه وما نقلناه عن المتون وغیرها ان المستاجر بعد فراغ مدة اجارته یلزمه تسلیم

الارض ليس له استبقاء بنائه او غراسه بلا رضى المتكلم على الارض الا اذا كان له فيها زرع فانه يترك فيها باجر المثل الى ان يدرك لان له نهاية معلومة بخلاف البناء والغراس واصول الرطبة التى تبقى فى الارض لا الى مدة معلومة فليس له استبقاء ذلك بل يقلع ذلك ويسلم الارض فارغة ماله يكن فى القلع ضرر على الارض فان الموجر يتملك ذلك جبرا على المستاجر بقيمته مقلوعا الا ان يتراضيا على بقائه (وعلمت) ان هذا شامل للارض الملك والوقف الا اذا كانت ارض الوقف معدة للملك كالقرى والمزارع التى اعدت للزراعة والاستبقاء فى ايدى فلاحيها الساكنين فيها والخاجين عنها باجرة المثل من الدارهم او بقسم من الخراج كنصفه وربعه ونحو ذلك مما هو قائم مقام اجرة المثل ومثل ذلك الاراضى السلطانية فان ذلك كله لا يتم عمارته والانتفاع به المعتبر الا ببقائه بايدى الزارعين فانه لولا ذلك ما سكن اهل القرى المذكورة فيها فانهم اذا علموا انهم اذا فلحوا الارض وكروا انهارها وغرسوا فيها اخلعت منهم واخرجوا منها ما فعلوا ذلك ولا سكنوها فكانت الضرورة داعية الى ابقائها بايديهم اذا كان لهم فيها كردار او مشد مسكة ما داموا يدفعون اجرة مثلها ولم يعطلوها ثلاث سنين كما مر لان تعطيلها اقل من ذلك قد يكون لاستراحة الارض حتى تغل الغلة المقصودة فان عطلوها اكثر سقط حقهم ودفعت لغيرهم (وكذا) لو امتنعوا من دفع اجر المثل او ما قام مقامه من القسم المتعارف والا فهم احق من غيرهم رعاية للجانبين ودفعا للضرر عن الفريقين فان بذلك يحصل النفع لهم ولجهة الوقف او الميرى ومثل ذلك الحوانيت اى الدكاكين الموقوفة المعدة للاستغلال اذا كان فيها للمستاجر سكنى موضوع باذن المتولى وقام المستاجر بعمارتها وثبت له بها حق القرار وصار له فيها الكردار المعبر عنه فى زماننا بالجدك كما مر لا تنزع من يده ولا توجر لغيره ما دام يدفع اجر المثل والمراد باجر المثل فيها هو ما تستاجر به اذا كانت خالية عن البناء (وبعد اسطر) وينبغى ان يقال مثل ذلك فى مشد المسكة فان صاحب المشد وان لم يكن له فى الارض عين قائمة لكن له فيها تعب وخدمة حيث حرثها وكربها وكرى انهارها حتى صارت قابلة للزراعة فتعتبر اجرة مثلها على تقدير كونها معطلة خالية عن ذلك الذى فعله فيها فيؤخذ منه بقدره وكذا من قام مقامه من ولد او مفروغ له ومثل ذلك ينبغى ان يقال فى الجدك فتعتبر اجرة الحانوت خالية عن جدكه القائم فيها وعما انفقه عليها حتى صارت قابلة لتمام الانتفاع (رسائل ابن عابدين ص ـ ج ٢)

د وقف زمکې او د سلطاني زمکې د نفعې د پاره په دې کښې حق د قرار روا ساتلې شوې دې.
په دې کښې د مستاجر هم فائده ده. ليکن د ملکيت په زمکه کښې حق د قرار د مالک دپاره

ضرری دي ددې وجې نه روا نهٔ دي.

وقال علامة ابن عابدين رحمه الله والفرق ان الوقف معد للايجار فايجاره من ذي اليد باجر مثله اولى من ايجاره من اجنبي لما فيه من النظر للوقف والنظر للمستاجر الذي وضع السكنى بالاذن ولم يعط له حق القرار بخلاف الملك فان لصاحبه ان لا يوجر ليسكنه بنفسه او يعيره او يرهنه او يبيعه او يعطله (رسائل ابن عابدين ص ج ۲)

وقال في الحاشية العلائية (قوله ولو استاجر ارض وقف) قيد بالوقف لما في الخيرية عن الحاوي الزاهدي عن الاسرار من قوله بخلاف ما اذا استاجر ارضا ملكا ليس للمستاجر ان يستبقيها كذلك ان ابى المالك الا القلع بل يكلف على ذلك الا اذا كانت قيمة الغراس اكثر من قيمة الارض فيضمن المستاجر قيمة الارض للمالك فيكون الغراس والارض للغارس وفي العكس يضمن المالك قيمة الغراس فتكون الارض والاشجار له وكذا الحكم في العارية اھ (رد المحتار ص ج ۵)

حضرت مفتي محمد شفيع رحمه الله د لاندينی عبارتونو په بنياد د ملکيت په زمکه کښې د حق د قرار د ثبوت خيال ظاهر کړې دي او په آخر د رساله کښې ئې بيا په دې کښې تردد هم ظاهر کړې دي او د تحقيق د پاره ئې نورو علماؤ ته د رجوع مشوره هم ورکړې ده.

نقل ابن عابدين رحمه الله تحت (مطلب في المرصد والقيمة و مشد المسكة) عن فتاوى العلامة المحقق عبد الرحمن آفندي مفتي دمشق و هو (الخلو المتعارف في الحوانيت) ان يجعل الواقف او المتولي او المالك على الحانوت قدرا معينا يوخذ من الساكن و يعطيه به تمسكا شرعيا فلا يملك صاحب الحانوت بعد ذلك اخراج الساكن الذي ثبت له الخلو و لا اجارتها لغيره ما لم يدفع له المبلغ المرقوم فيفتى بجواز ذلك قياس على بيع الوفاء الذي تعارفه المتاخرون احتيالا عن الربا اھ (رد المحتار ص ج ۵)

وذكر في رسالته تحرير العبارة عن القنية والحاوي الزاهدي انه يثبت حق القرار في ثلاثين سنة في الارض السلطانية والملك وفي الوقف في ثلاث سنين اھ (رسائل ابن عابدين ص ج ۲)

په ذکر کړې شوو عبارتونو کښې د اولنی عبارت نه استدلال د دې وجې نه صحيح نهٔ دي، چې په دې کښې د دائمی قرار حق ذکر کړې شوې نهٔ دي، بلکه د بيعې د وفا په شان د اخستونکو پيسو د واپسۍ پورې حق د قرار ورته ورکړې شوې دي، د دې مثال په شان د پيشگی اخستونکی کرايه يا د زرِ ضمانت په شان دي.

علامه شامی رحمه الله د ذکر کړې شوی عبارت نه لږ شان وړاندې د خلو تشريح په دې الفاظو کښې فرمائی: وقد تكون اصل عمارة الوقف من صاحب الكدك باذن ما منه الواقف يعمرها و يجعلها للمستاجر و يوجر باجرة قليلة وهو المسمى بالخلو.

په دې صورت کښې وقف عمارت د مستاجر له اړخه دې، پس ظاهره خبره ده چې تر څو پورې هغهٔ دخپل عمارت قیمت وانخلي نو هغه ته به حق د قرار وی۔

د دويم عبارت مطلب دا معلومیږی چې ابتداءً په مملوکه زمکه کښې د مالک حق قلع دې، لیکن د ذکر کړې شوې مودې نه وروستو د دهٔ حق ساقط شی،او د مستاجر د پاره حق د قرار په دې معنی سره ثابت شی چې که قیمت دغراس د قیمت د زمکې نه کم وی، نو مستاجر د قیمت د غراس مطالبه کولې شی۔

ددې تفصیل مطابق دشامیې ص۲۱ ج ۵کښې د ذکر کړې شوی عبارت نه هم تضاد معلومیږی، په شامیه کښې اولاً د مالک د پاره حق د قلع او په آخر کښې بیا په مالک باندې بیا د غراس د قیمت ضمان ذکر دې، په دې صورت کښې تطبیق همدا کیدې شی چې د متعینه مودې نه وراندې مالک ته حق دقلع وی اوددې مودې نه پس بیا مستاجرته دغراس دقیمت د مطالبې حق حاص وی.

په دويم عبارت کښې د ملکیت په زمکه کښې دائمی حق د قرار نهٔ دې مراد ،او په دې باندې دا واضحې قرینې دی چې:

۱- علامه شامی رحمہ اللہ د عبارت دنقل کولو باوجود د دې خلاف قطعی فیصله لیکلې ده، که چیرې د دې عبارت نه دحق د قرار په ثبوت باندې داستدلال کولو څه گنجائش وې نو علامه شامی رحمہ اللہ به د دې څه جواب لیکلې وې او یا به ئې مسئلې ته اختلافی مسئله وئیلې وې.

۲- دا عبارت د قنیه او د حاوی زاهدی نه نقل کړې شوې دې،حال دا چې د شامیې ص ۲۱ ج ۵ پورته ذکرکړې شوې عبارت کښې هم دحاوی زاهدی نه د زمکې په ملک کښې د قرار نفی کړې ده

۳ - د بناء او د غراس وغیره معامله د خلوالحوانیت په شان ده،د کومې حکم چې په اولنی عبارت کښې دا بیان کړې شوې دې،چې مستاجر ته صرف د خپلو مصارفو د اخستلو پورې حق د قرار شته دې،د همیشه د قرار حق نشته دې.

۴ - د ملکیت په زمکه کښې د قرار د حق په ثبوت سره د مالک ټول مالکانه حقونه ختم شی، او دا د اسلام د اصولو نه دٔ خلاف کیدلو سره سره یو عظیم ظلم هم دې،البته که مالک مستاجر لره بې دخله کول غواړی، نو چې څو پورې ئې هغه ته ټول مصارف او د هغهٔ د خوارئ پوره معاوضه نهٔ وی ورکړې نو هغهٔ نهٔ شی بې دخله کولې.فقط والله سبحانه تعالیٰ اعلم. ۸ محرم ۱۴۰۰ هجری

رساله (القول الصدوق لبیع الحقوق) په تتمه کښې ده.

كتاب الغصب

ظلماً نيكس اخستل

سوال زمونږ په علاقه کښې د انګریزانو او د هندوانو د دوارو حکومت تیر شوي دي. اوس په کښې پاکستاني حکومت دي. د هندوانو د زماني نه په علاقه پونیال کښې یو راجه او سیږي. د حاکم په توګه فیصلې وغیره او نظم او نسق وغیره د هغهٔ په لاس کښې وو. او زمیندار خلق به په وار وار تلل او د هغه خدمت به ئې کولو. ډیر په بې دردۍ سره به ئې لګه د ځناورو د زمیندارانو نه خدمت اخستلو. آخر دا چې خلق تري نه تنګ شو اودا ئې ورته اوونیل چې زمونږ نه خدمت اخستل بند کړه. مونږ به تا نه څه پیسې د کال درکوو. هغهٔ دا خبره قبوله کړه. د هغه وخت نه په هر زمیندار باندې څه غله مقرر کړې شوي ده. په چاباندې پنځه منه او په چا باندې دولس منه وغیره وغیره. تر اوسه پورې دا سلسله جاري ده. زمونږ فیصلې، جګړې، اخستل ورکول هر څه د هغهٔ په لاس کښې دي. ترحکومته پورې د دې مسئلو د رسولو حاجت نهٔ راځي

اوس پوښتنه داده چې د خلقو دا خیال دې چې کوم څیز راجه د غلې په صورت کښې زمونږ نه اخلي هغه ناجائز دې. ځکه چې دا دومره ورکول زمونږ د طاقت نه زیات دی. لهذا کومه غله چې هغه اخلي هغه حرامه ده. او څوک چې د راجه نه دا غله په بیعه اخلي نو دا هم حرامه ده. آیا د هغوی دا ونیل صحیح دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب د راجه د دغه خانٔ د اوسیدونکو نه غلهٔ اخستل روا نهٔ دی. او نهٔ هغهٔ د دې د اخستلو نه پس دهغې مالک کیږي. دا غله به مغصوب مال شمارلې کیږي. او دا واجب الرد ده. د دې بیعه او شراء دواړه ناروا دی. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۷ ذی الحجه ۱۳۸۷ هجری

د مغصوب د هلاکیدو په صورت کښې د ضمان د وجوب تفصیل

سوال هر کله چې څوک د چا نه څه څیز غصب کړي او هغه مغصوب څیز د غاصب نه ورک شي. نو د ضمان د ادا کولو په وخت کښې به د کوم قیمت اعتبار وي؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب که چیرې مغصوبه څیز مثلي وي نو د هغې مثل ادا کول واجب دي. که چیرې مثل ئې د بازار نه منقطع شوې وي نو د انقطاع د ورځې قیمت به لګولې شي که چیرې مغصوب قیمتي وي نو د غصب د ورځې قیمت به واجب وي

قال فى التنویر وشرحه: او یجب رد مثله لو هلک وهو مثلى وان انقطع المثل بان لا یوجد فى السوق الذى یباع

فیه و ان کان یوجد فی البیوت ابن کمال قیمته یوم الخصومة ای وقت القضاء وعند ابی یوسف رحمه الله یوم الغصب وعند محمد رحمه الله یوم الانقطاع ورجحا القهستانی وتجب القیمة فی القیمی یوم غصبه اجماعاً.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله ورجحا) ای قول ای یوسف وقول محمد رحمهما الله تعالی وکان الاولی ای یقول ایضا ای کما رجح قول الامام رحمه الله صحه لمشی المتون علیه ومن رجحا قال القهستانی وهو الاصح کما فی الخزانة وهو الصحیح کما فی التحفة وعند ابی یوسف یوم الغصب وهو اعدل الاقوال کما قال المصنف وهو المختار علی ما قال صاحب النهایة وعند محمد یوم الانقطاع وعلیه الفتوی کما فی ذخیرة الفتاوی وبه افتی کثیر من المشائخ (ردالمحتار ص۲۰۸ ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۵ ذی قعده ۱۳۸۸ هجری

بې د اذن (اجازت) نه په زمکه تعمیر کول

سوال:- د ښځې په زمکه کښې که خاوند کور جوړ کړی نو دا به د چا وی؟ دا به د ښځې وی او که د خاوند؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: ددې مختلف صورتونه دی:

۱ - که د ښځې د پاره ئې د دې په اجازت سره کور جوړ کړو نو دا کور د ښځې شو، او چې کوم مصارف پرې راغلل هغهٔ په ښځه باندې قرض شول.

۲ - که چیرې د ښځې د پاره ئې بې د اجازت د ښځې نه جوړ کړو نو دا تبرع شوه.

۳ - خاوند د ځان دپاره د ښځې په اجازت سره جوړ کړو، نو زمکه به د ښځې وی او کور به د خاوند وی.

۴ - د ښځې د اجازت نه بغیر ئې د ځان د پاره په کښې کور جوړ کړو، نو کور به د خاوند وی، لیکن ښځه د هغې د غورځولو او د خپلې زمکې د خالی کولو مطالبه کولې شی، که چیرې د کور په راغورځولو کښې د زمکې نقصان کیږی نو ښځه ورله د کور قیمت ورکولې شی او دا کور ځان ته کولې شی، قیمت به د داسې کور لګولې کیږی چې د هغې د راغورځولو فیصله کړې شوې وی، کوم چې به د ملبې د قیمت نه کیدې شی چې څه زیات نهٔ وی.

قال فی التنویر و شرحه: عمر دار زوجته بماله باذنها فالعمارة لها والنفقة دین علیها لصحة امرها ولو عمر لنفسه بلا اذنها فالعمارة له ویکون غاصبا للعرصة فیؤمر بالتفریغ بطلبها ذلك ولو لها بلا اذنها فالعمارة لها وهو متطوع فی البناء فلا رجوع له.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله عمر دار زوجته الخ) علی هذا التفصیل عبارة کرمها وسائر املا کها جامع الفصولین وفیه عن العدة کل من بنی فی دار غیره بامره فالبناء لامره ولو لنفسه بلا امره فهو له وله رفعه الا ان یضر بالبناء فیمنع ولو بنی لرب الارض بلا امره ینبغی ان یکون متبرعا کما مر اھ (قوله بلا اذنها) فلو باذنها تکون عاریة ط (ردالمحتار ص۔۔۔ج۔) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۸ ربیع الاول ۱۳۸۹ هجری

د غیر په زمکه باندې په غلطئ سره تصرف کول

سوال:- زمونږ په ګاونډ کښې د مهاجر زمکه ده،په شروع کښې د پټواری په ذریعه نښه ولګولې شوه او حد قائم کړې شو،اوس هر کله چې په سرکاری توګه باندې پیمائش وکړې شو،نو د هغه مهاجر زمکه کمه شوه، د هغهٔ زمکه زمونږ د زمکې نه پوره کړې شوه،او د تقریبا یو جریب نه زیاته ده،ددې زمکې فصل مونږ د خپلې زمکې فصل ګڼلو او خوړلو مو، څو کاله په کښې تیر شوې دی دا هم راته یاد نهٔ دی چې څه څه مو په کښې کرلې دی،او څومره مقدار پیداوار په کښې شوې دې؟ آیا د هیرې او د نا خبرې له کبله چې مونږ تیر شوې چې کوم آمدن خوړلې دې،آیا هغه مهاجر ته ورکول لازم دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د تخم قیمت او د کروندې وغیره چې څومره مزدوری کیږی هغهٔ به ترې نه لرې کړې شی او د باقی پیسو اندازه لګول او په مالک باندې رد کول واجب دی۔ والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱٤ شعبان ۱۳۸۹ هجری

په زرعی اصلاحاتو کښې ترلاسه شوې زمکه

سوال:- کومه زمکه چې د زرعی اصلاحاتو د پاره خلقو کښې تقسیم کړې شوه،دا زمکه اکثر د هغه زمیندارانو ده کومو زمیندارانو چې دا زمکه د نورو خلقو نه غصب کړې وه.

یا دا زمکه انګریزانو مسلمانانو سره دغدارئ په بدل کښې په توګه د جائیداد ورکړې وه۔

اوس دا زمکه اکثرو خلقو ته د لږې معاوضې د اخستلو نه پس ورکړې شوه،او څینو ته بې د څه معاوضې نه ورکړې شوه۔ کومو خلقو ته چې په توګه د معاوضې سره د سود ورکړې شوې ده، نو آیا هغوی له د دې پیداوار خوړل روا دی؟

کومو خلقو ته چې بې د معاوضې ورکړې شوه نوهغوی له د دې پیداوار خوړل روا دی او که نه؟

د کومې زمکې په حقله چې دا معلومه وی چې دا د نورو نه غصب کړې شوې ده،او هغه چا ته بې د معاوضې نه ورکړې شی، نو آیا چا ته چې ورکړې شوه هغهٔ له د دې پیداوار خوړل روا دی او که نه؟ حال دا چې مالک ئې معلوم نهٔ وی.بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : د كومې زمكې په حقله چې دا يقيني معلومه وی چې دا مغصوبه ده نو د هغې آمدن حرام دې، برابره خبره ده كه هغهٔ بې د معاوضې نه ملاوشوې وی يا په قيمت سره. سره د سوده ملاو شوې وی او يا بې د سوده ملاو شوې وی.

د كومې زمكې چې د مغصوبې كيدلو يقين نهٔ وی د هغې آمدن بهر حال حلال دې، اګ كه هغهٔ د انګريز نه ترلاسه شوې جائيداد وی، بې پيسو وركړې شوې وی يا په معاوضې سره ، سره د سوده يا بې سوده ترلاسه شوې وی، البته په سود باندې په اخستلو كښې به د سود د وركولو ګناه او سپيرهٔ والې پرې وی. والله سبحانه وتعالى اعلم.

٤ رجب ۱۳۹۷ هجری

کتاب الشفعه

يوه مياشت پس به د شفعې دعوی نۀ شي قبلولې

سوال . ما زمکه واخسته، او په هغې کښې مې کرکرونده کوله، شفيع زما تصرف شپږو مياشتو پورې کتلو ليکن شفعه ئې طلب نکړه، اوس هغۀ دعوی کړې ده، نو آيا شرعاً تراوسه پورې هغۀ ته د طلب حق شته او که نه د طلب حق ئې باطل شوې دې؟

که بالفرض شفيع په طلب المواثبه او په طلب التقرير باندې شهادت وړاندې کړي، نو تاخير د طلب د خصومت عند القاضی کوم چې د يوې مياشتې نه زيات دې، د هغې د وجې نه به د امام محمد صاحب رحمه الله په نيزد چې کوم حق د شفعې دې هغۀ ساقطيږي او که نه؟

نوټ : مقدمه د مجسټريټ په عدالت کښې چليږي، مجسټريټ د شرعی فيصلې په حقله وئيلې دی. د دې وجې نه په وړومبی فرصت کښې جواب راکړئ او ستاسو به ډيره مهربانی وی.

الجواب باسم ملهم الصواب : په دې صورت کښې د طلب د مواثبه يا د طلب د تقرير د فقدان د وجې نه د شفيع حق باطل شوې دې، که بالفرض شفيع طلب المواثبه او طلب التقرير په معتبر شهادت سره ثابت کړی نو بيا هم طلب د خصومت عند القاضی کښې که چيرې د يوې مياشتې نه زيات تاخير بې د څه عذر نه کړې شوې وی نو د شفعې حق ئې پاتې نۀ شو، دا قول د امام محمد رحمه الله دې، علامه ابن عابدين رحمه الله په هغۀ سختو الفاظو کښې هم دې ته ترجيح ورکړې ده او هم دې ته ئې مفتی به وئيلې دی.

(قوله وقيل يفتی بقول محمد) او (قوله يعنی دفعا للضرر) او (قوله قلنا الخ) په دې دريو واړو ځايونو کښې علامه ابن عابدين رحمه الله د امام محمد رحمه الله قول ته مختار او مفتی به وئيلې دی :

د دې نه علاوه د علامه رافعی رحمه الله په التحرير المختار کښې په دې باندې څه نۀ ليکل او د دې نه سکوت اختيارول په دې باندې ښه واضحه دليل دې چې هم دا قول بې د شک او شبهې نه مفتی به دې، البته که د څه معقول عذر له کبله په طلب الخصومت عند القاضی کښې تاخير شوې وی نو بيا به حق د شفعې نۀ ساقطيږي، خو په دې شرط چې طلب المواثبه او طلب التقرير په شهادت سره ثابت کړی.

(قوله بلا عذر) فلو بعذر کمرض و سفر او عدم قاض يری الشفعة بالجوار فی بلده لا تسقط اتفاقا (ردالمحتار ص ۰ ج ۰) والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۸ محرم ۱۳۷۶ هجری

د شفيع د سكوت نه د حق د باطل كيدلو تفصيل

سوال:- د يوې زمكې د بيعې د كيدلو نه پس شفيع څو ورځو پورې چپ وو.اوس د شفعې د حق طلب كولو هغۀ ته شرعاً اختيار شته دې او كه نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د شفعې د حق د پاره د بيعې د علم په وخت په طلب د مواثبه كښې او په طلب د تقرير كښې تُندى (تعجيل) كول ضرورى دي،د دې مسئلې په صورت كښې د دې شرط د نشتوالى د وجې نه حق د شفعې به باطل شى،البته كه د مشترى يا د ثمن د علم نۀ كيدلو د وجې نه شفيع سكوت اختيار كړى او د علم كيدلو د وجې نه سمدستى طلب د مواثبه او طلب د تقرير بغير اشهاد المعتبرة وكړى نو بيا ئې حق نۀ ساقطيږى۔

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله معزيا الى الخانية: اخبر بها فسكت قالوا لو تبطل ما لم يعلم المشترى والثمن (الى قوله) القول و به افتى المصنف العمرتاشى فى فتاواه فليحفظ (رد المحتار ص ٣ ج ٥) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۸ محرم ۱۳۷٦ هجرى

د بيعې په وخت كښې د شفيع په مرگ كښې اختلاف

سوال:- زيد د خپل والد د وفات نه پس چې څنگه بالغ شو نو په بكر باندې ئې د شفعې دعوى وكړه،او د شفعې نور ټول لوازمات د ورومبى نه پوره كړې شوې وو،بكر ورته اووئيل چې د بيعې په وخت كښې ستا پلار ژوندې وو،او هغۀ په هغه وخت كښې څه دعوى نۀ وه كړې،لهذا اوس ستا دعوى كول بې ځايه دې ، زيد په وخت د بيعې باندې د خپل پلار په وفات باندې بينه (گواهان قائم كړل او بكر د هغۀ په ژوند باندې بينۀ قائمه كړه،اوس به د چا گواهانو ته ترجيح وركولې شى۔ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د لاندينو جزئياتو نه په ظاهره په دې مسئله باندې استشهاد كولې شى : ١- قال الامام قاضيخان رحمه الله: اذا شهد رجلان ان زوجة فلانة قتل او مات و شهد اخران انه حى كانت شهادة الموت والقتل اولى (خانية بهامش العالمگيرية ص ٣ ج ٢)

٢ - وقال فى الفتاوى المهدية: ان الاصل تقديم بينة الموت على بينة الحياة لانها تثبت امرا عارضا كما هو الاصل فى البينات فى الفصل الثالث عشر من العمادية اذا شهد رجلان ان زوج فلانة قتل او مات و شهد اخران انه حى كان شهادة الموت والقتل اولى لانه الموت اثبت العارض اه نعم فى تنقيح الحامدية بينة زوج فلانة قتل او مات اولى من بينة انه حى الا اذا اخبر بحياته بتاريخ لاحق اه (الى ان قال) فبينة الموت اولى مطلقا

كما هو ظاهر اطلاقهم له والتوجيه الجاري مطلق عن قيد التاريخ وعدمه وتأخره وتقدمه الخ (فتاوى مهدية ص۳۰)

۳ – وقال العلامة ابن نجيم رحمه الله: يوم الموت لا يدخل تحت القضاء ويوم القتل يدخل كذا في البزازية والولوالجية والفصول وعليها فروع

٤ – وقال العلامة الحموي رحمه الله تحت قوله وعليها فروع: لو برهن ان من شهدوا على الوارث بوقت كذا كان ميتا في ذلك الوقت لا يقبل لان زمان الموت لا يدخل تحت القضاء حتى اذا برهن ان فلانا مات يوم كذا وادعت امرأة نكاحا بعد ذلك اليوم وبرهنت يقبل بخلاف زمان القتل والنكاح حيث يدخلان تحت القضاء ومنها لو ادعى ان اباه مات يوم كذا وقضي ثم ادعت امرأة النكاح بانه يوم تقبل فهذا والذي قبله مما فرعوه على الاول ومما فرعوه على الثاني لو برهن الوارث على انه قتل يوم كذا فبرهنت المرأة ان هذا المقتول نكحها بعد ذلك اليوم لا تقبل (شرح الاشباه والنظائر الفن الثاني ص۳۰ ج۲)

د اولنۍ او د دويمې جزئيې نه د شفيع د بينې اولويت معلوميږي، ليکن ددې نه استدلال ځکه صحيح نهٔ دې، چې په دې مسئله کښې دشفيع د پلار په مرګ او ژوند کښې تنازع نهٔ ده. د دهٔ په مرګ باندې جانبين متفق دی، تنازع د دې راپيښوشوو امرينو په تقديم او تاخير کښې ده چې يو موت دې او بله شراء ده۔

د دريمې او د څلورمې جزئيې نه په ظاهره د مشتری بينې ته ترجيح معلوميږي ليکن په ژور نظر که ورته وکتلې شی نو د شفيع د بينې ترجيح ثابتيږي، ځکه چې په ذکر کړې شوو جزئياتو کښې د نکاح د مدعيې د بينې د قبوليت علت دا دې چې دا مدعيه حقه ده او بل جانب ددې دحق منکر دې، او اصولا د مدعی د حق بينه راجحه وی، په دې صورت متنازع فيها کښې شفيع حق دې او مشتری منکر دې، لهذا د شفيع بينه به راجحه وی.

ددې نه علاوه که چيرې بالفرض هم د مشتری بينې ته ترجيح وی نو بيا هم دا د مشتری د پاره مفيد نهٔ دی، ځکه چې په وخت د شراء کښې د زيد د والد محض حيات ثابتيدلو سره به حق د شفعې نهٔ ساقطيږي، تر څو پورې چې دا ثابت نهٔ شی چې هغهٔ ته د شراء. د مشتری او د ثمن علم هم شوې وو. او سره د دې هغه بيا خاموشه وو.

او که چيرې په بنياد د قانون اذا تعارضا تساقطا د دواړو د بينې تهاتر تسليم کړې شی او حال قاضی جوړ کړې شی نو بيا هم شفيع ته د دې حق رسيږي.

غرض د خبرې دا چې د دې لانديـنو وجوهو له کبله د شفيع حق قائم دې:

۱ - شفیع مدعی دې، او مشتری منکر دې. فالترجیح بینة المدعی
۲ - مشتری د شفیع د والد علم بالشراء. والمشتری والثمن ثابت نه کړو.
۳ - قضاء بالحال والله سبحانه وتعالی اعلم. ۳ ذی قعده ۱۳۸٤ هجری

که په اقالې سره دوباره حق د شفعې ثابت شی

سوال - آیا په اقالې سره د شفیع په حق د شفعې باندې څه اثر غورځیږی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب د اقالې نه د شفیع لپاره له سره د شفعې حق ثابتیږی

قال فی الهندیة: ویأخذ بحکم الاقالة یتجدد للشفیع حق الشفعة (عالمگیریة ص ــ ج ٥) والله سبحانه وتعالی اعلم.

٤ ربیع الآخر ۱۳۹٦ هجری

په احیاء موات کښې حق د شفعې نشته دې

سوال - کومه موات زمکه چې د آبادې زمکې سره نزدې وی، د هغې په احیاء سره حق د شفعې ثابتیږی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : حق د شفعې صرف د زمکې د بیعې په صورت کښې وی. په احیاء موات کښې د شفعې حق نشته دې.

قال فی التنویر: هی تملیک البقعة جبرا علی المشتری بما قام علیه

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی تحته (قوله جبرا علی المشتری) واحترز بقوله علی المشتری عما ملکه بلا عوض کما بالهبة والارث والصدقة او بعوض غیر معین کالمهر والاجارة والخلع والصلح عن دم عمد و نحو فیما وهب بعوض فانه اشتراء انتهاء. (ردالمحتار ص ــ ج ٥) والله سبحانه وتعالی اعلم

٥ صفر ۱۳۹۸ هجری

په فیصلې کښې د تاخیر د وجې نه د شفعې حق نهٔ باطلیږی

سوال - که چیرې شفیع د شفعې دعوی وکړه، په فیصله کولو کښې وروستوالی کیدلو او څو کاله په کښې تیر شو. نو آیا په دې تاخیر د فیصلې سره حق د شفعې ساقطیږی؟ که چیرې ساقطیږی نو څومره موده کښې ساقطیږی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب د دعوی اچولو نه پس د شفعې د حق فیصله د قاضی په اختیار کښې ده. که چیرې قاضی تاخیر یې وکړونو څنګه چې معلومه ده چې په دې کښې د شفیع نه ...

څه غفلت نهٔ دې شوې، نو د دې وجې نه به د هغې حق نهٔ باطلیږي. والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۴ ربیع الثانی ۱۳۹۸ هجری

په حق د شفعې کښې د ترتیب تفصیل

سوال: یو سړې صرف شریک فی المبیع دې، او بل سړی شریک فی المبیع هم دې او شریک فی الحقوق هم دې، نو آیا په حق د شفعه کښې دواړه برابر دی او که نه دې دویم سړی ته به ترجیح وی کوم چې د دوو وجوهو نه حقدار دې؟

دویم صورت دا دې چې یو سړې صرف شریک فی المبیع دې او دویم سړې شریک فی الحقوق هم دې، او جار ملاصق هم دې، نو دشفعې حق کښې به چا ته ترجیح وی، یعنی د مرتبو د ترتیب لحاظ به کولې شی او که نه د کثرتِ مراتب لحاظ به کولې شی؟ د علامه شامی رحمه الله د عبارتونو نه خو هم ترتیب ته ترجیح معلومیږی لیکن دلته بعضې علماء د کثرتِ مراتب د ترجیح قائله دی. فریقین ستاسو فتوی ته قولِ فیصل وئیلو باندې متفق دی. بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په رومبی صورت کښې به دواړه برابر وی او په دویم صورت کښې به شریک فی المبیع ته ترجیح وی. لان الاعتبار لقوة الدلیل لا لکثرته. په همدې بناء شرکاء فی المبیع کښې د حصې د قلت او د کثرت او په جوار کښې د مجاورت د مقدار اعتبار نشته دې. بلکه ټول شریکان او ټول ملاصق برابر دی۔

قال فی التنویر: بقدر رؤوس الشفعاء لا الملك (ردالمحتار ص ج ۵)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله ثم لجار ملاصق) ولو متعددا والملاصق من جانب واحد ولو بشبر كالملاصق من ثلاثة جوانب فهما سواء اتفاقا (ردالمحتار ص ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم۔

۳ شعبان ۱۳۹۸ هجری

چې د اوبو دوه لارې وی نو په هرې یوې لارې کښې شریک ته حق د شفعې شته دې

سوال: که چیرې د یوې زمکې د اوبو کولو دپاره دوه بیل بیل لښتی (ویالې) وی. نو د دواړو ویالو شریکانو ته به د شفعې حق وی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دواړه حق دار دی. لان لفظ الشرب عام سواء كان من نهر واحد او نهرین او اكثر والله سبحانه وتعالی اعلم۔

۳ شعبان ۱۳۹۸ هجری

په حق د شفعې کښې به نوې لارې ته اعتبار وی

سوال:- د يوې زمکې د اوبو کولو د پاره دوه لارې دی، يوه نوې لاره ده او يوه زړه لاره ده، ليکن اوس د نوې لارې نه دغه پټې اوبۀ کيږی، نو آيا په حق د شفعې کښې به د نوې لارې اعتبار وی او که د زړې لارې؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د پرينبودلې شوې اوترک شوې لارې اعتبار نشته دې، نوې لاره کومه چې مستعمله ده د هغې اعتبار به وی. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم ۳ شعبان ۱۳۹۸ هجری

لاندې ويالې والا ته د پورته ويالې په زمکه کښې حق د شفعې شته دې او د دې په عکس به نۀ وی

سوال:- د غر د لاندې نه اوبۀ راوځی،او دا په يو تالاب کښې جمع کيږی، بيا دا اوبۀ په څلورو ويالو کښې تقسيم شی،د هر يوې وياله نه ډير کسان په وار وار خپلې خپلې زمکې اوبۀ کوی،بيا د هر يوې وياله نه دوه واړه واړه لښتی راوځی،اوس يو سړې چې د هغۀ زمکه د دې لوئې يواله په آخر کښې ده، او څو بيلو بيلو ويالو نه دا زمکه اوبۀ کيږی،د خپلې زمکې مختلفې حصې خرڅوی، اوس پوښتنه داده چې په دې صورت کښې د مينځ چې کومه وياله ده آيا په هغې کښې شريک ټول کسان د شفعې حق دار دی يا صرف هغه کسان د شفعې حق دار دی کوم چې په وړو وړو ويالو کښې هم د بائع سره شريک دی؟ اودبائع دوياله د پاسه تمامو ويالو والا محرومه دی. بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د لاندې وياله په زمکه کښې د پورته وياله خلق شفعه نۀ شی کولې،البته د لاندې وياله خلق د پورته وياله په زمکه کښې دعوی کولې شی.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : (قوله وطريق لا ينفذ) فكل اهلها شفعاء ولو مقابلا والمراد بعدم النفاذ ان يكون بحيث يمنع اهله من ان يستطرقه غيرهم كما فى الدر المنتقى (الى ان قال) فان كانت سكة غير نافذة يتشعب منها اخرى غير نافذة مستطيلة لا شفعة لاهل الاولى فى دار من هذه بخلاف عكسه ولو كان نهر صغير يأخذ من نهر اصغر منه فهو على قياس الطريق فلا شفعة لاهل النهر الصغير فى ارض متصلة بالاصغر كما فى الهداية وغيرها (رد المحتار ص ــ ج ــ) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۳ شعبان ۱۳۹۸ هجری

په بلاشرب زمکه کښې اهل شرب ته حق د شفعې نشته دې

سوال:- يو زمکه خرڅه شوه،د کومې چې نۀ شرب شته. نه سيل،او نۀ لاره،په دې کښې حق د شفعې چا ته دې؟ صرف جار ملاصق ته که نه صرف اهل شرب ته او که نه دواړو ته ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: په دې زمکه کښې صرف جار ته حق د شفعې کولو شته د. او اهل شرب ته نشته دې.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله كالشرب والطريق الخ) الشرب بكسر الشين النصيب من الماء و عطف القهستاني الطريق بهم وقال فلو بيع عقار بلا شرب وطريق وقت البيع فلا شفعة فيه من جهة حقوقه (ردالمحتار ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۱ شعبان ۱۳۹۸ هجری

بې د شرب د بيعې چې کومه زمکه وی په هغې کښې اهلِ شرب ته حق د شفعې شته دې

سوال: يوه زمکه خرڅه کړې شوې وه، چې لاره او اوبۀ دواړه ئې شته دې ليکن بيعه بې د شربه او بې دلارې نه شوې ده، نو په دې صورت کښې اهلِ شرب او اهل طريق ته حق د شفعې شته دې او که نه؟ ددې مسئلې په حقله د شامې او د هنديې په عبارتونو کښې په ظاهره تعارض معلوميږی.

قال فی الشامية: (قوله كالشرب والطريق الخ) الشرب بكسر الشين النصيب من الماء و عطف القهستاني الطريق بهم وقال فلو بيع عقار بلا شرب وطريق وقت البيع فلا شفعة فيه من جهة حقوقه (ردالمحتار ص ج)

وقال فی الهندية: و كذلك لو باع ارضا بلا شرب فلاهل الشرب الشفعة ولو بيعت هذه الدار وهذه الارض مرة اخرى فليس لهم فيها الشفعة هكذا فی الظهيرية (عالمگيرية ص ج)

په دواړو عبارتونو باندې غور وکړئ او دترجيح يا دتطبيق څه صورت متعين کړئ. بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: په دې صورت کښې شريک فی الشرب ته حق د شفعې شته دې. د شامې عبارت د دې صورت په حقله دې چې د ارضِ مبيعه د پاره په وخت د بيعې شرب نۀ وی او دعالمگيرې په جزئيه کښې د داسې زمکې حکم ذکر کړې شوې دې چې د دغه زمکې د پاره په وخت د بيعه کښې شرب وی ليکن بيعه بې د شرب نه کړې شوې وی. لهذا په دې کښې څه تعارض نشته دې. والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۱ شعبان ۱۳۹۸ هجری

چې مسيل بدون الشرب وی نودهغې د شفعې حکم

سوال: چا داسې زمکه خرڅه کړه، چې د هغې د پاره مسيل وو. ليکن شرب او طريق ورله نۀ وو، په عقد کښې د مسيل څه ذکر ونۀ شو ليکن مشتری هم په دغه مسيل سره زمکه اوبه کوی. بائع ته په دې څه اعتراض نشته دې. په دې صورت کښې حق د شفعې چا ته دې؟ شريک فی الحقوق ته او که نه جارِ ملاصق ته؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : په احکامو د شفعه کښې د مسيل نه مراد هم شرب دې.د کومې زمکې د پاره چې شرب نوی په هغې کښې د اهل شرب د پاره حق د شفعې نشته دې.لهذا حق د شفعې جار ملاصق ته دې . والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۱ شعبان ۱۳۹۸ هجری

چې د دوو زمکو په مينځ کښې د اوبو وياله حائله وی نو حق د شفعې به په کښې وی او که نه؟

سوال:- د شفيع د زمکې او د مبيعې زمکې په مينځ کښې يوه وړوکې شان وياله تيره شوې ده، او ددې ويالې نه دشفيع زمکه او مبيعه زمکه نه اوبه کيږی،اوس که چيرې د ويالې دا زمکه د شفيع وی نو د شفعې د حق څه حکم دې؟او که د شفيع نۀ وی او دا هم معلومه نۀ وی چې دا د چا ده نو څه حکم ئې دې ؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : د شفعې د حق بنا جوار دې، که چيرې دا وياله د بائع يا د شفيع ملک وی نو جوار په کښې ثابت دې،که چيرې د چا د ملک يقين نۀ وی نو جوار په کښې ثابت نۀ دې، لهذا په اولنی صورت کښې به د شفعې حق وی،او په دويم صورت کښې به حق د شفعې ثابت نه وی.والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۰ شوال ۱۳۹۸ هجری

د دوو زمکو ترمينځه که د اوبو نالئ د يو دريم سړی وی نو د شفعې حق به د چا وی؟

سوال:- د مبيعې زمکې او د شفيع د زمکې تر مينځه د يو دريم سړی يوه وړوکې شان وياله تيره شوې ده د هغۀ اوبۀ په دې کښې بهيږی،اوس پوښتنه داده چې حق د شفعې به د ويالې خاوند ته وی او که نه د ويالې سره چې کومه زمکه پيوسته وی هغۀ ته به د شفعې حق وی؟ بينواتوجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : محاذی د زمکې خو نۀ شريک فی الشرب دې او نۀ جارِ ملاصق دې، ددې وجې نه دۀ ته حق د شفعې نشته ،د ويالې نه چې د چا زمکې ته اوبۀ ځی،که چيرې هغه د ويالې د زمکې مالک وی نو دې جارِملاصق دې،لهذا دۀ ته به حق د شفعې وی . والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۰ شوال ۱۳۹۸ هجری

په طلب د مواثبه کښې د شفيع او د مشتری اختلاف

سوال:- دشفيع او د مشتری په طلب د مواثبه کښې اختلاف راغئ،شفيع وائی چې ما بعدالعلم طلب د مواثبې کړې دې، مشتری انکار کوی،اوس پوښتنه داده چې د چا قول لره به اعتبار وی؟ بينواتوجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب که چیرې شفیع په خپلې دعوی باندې بینه وړاندې کړه نو د هغه قول به معتبر وی. او که نه نو د مشتری قول به سره د یمین نه معتبر وی

قال فی الهندیة: و ان قال المشتری للقاضی حلفه بالله لقد طلب هذه الشفعة طلبا صحیحا ساعة علم بالشراء من غیر تاخیر حلفه القاضی علی ذلك فان اقام المشتری بینة ان الشفیع علم بالبیع منذ زمان و لم یطلب الشفعة و اقام الشفیع البینة انه طلب الشفعة حین علم بالبیع البینة بینة الشفیع والقاضی یقضی بالشفعة فی قول ابی حنیفة رحمه الله وقال ابو یوسف البینة بینة المشتری کذا فی الذخیرة

و فیها ایضا: اذا اتفق البائع والمشتری ان الشفیع علم بالشراء منذ ایام ثم اختلفا بعد ذلك فی الطلب فقال الشفیع طلبت منذ علمت و قال المشتری ما طلبت فالقول قول المشتری و علی الشفیع البینة (عالمگیریة ص س ج ه) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۴ جمادی الاولی ۱۳۹۹ هجری

د شفعې نه د بچ کیدلو دپاره زیاتې پیسې لیکل روا نهٔ دی

سوال- د شفعې نه د بچ کیدلو د پاره که په خط کښې زیاتې پیسې ولیکلې شی. او نیت ئې په کښې دا وی چې که زمکه واپس کول غواړی نو زیاتی پیسې کومې چې لیکلې شوی دی هغه به واپس نهٔ اخلم. آیا دا روا دی او که ناروا؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په خط کښې د واقعې نه خلاف زیاتې پیسې لیکل روا نهٔ دی، والله سبحانه وتعالی اعلم.

۶ رمضان ۱۳۹۹ هجری

کتاب القسمة

د تقسیم په وخت کښې د شریکانو د حاضریدلو د شرط تفصیل

سوال:- دمشترک څیز دتقسیم په وخت کښې د ټولو شریکانو یا د هغوی د وکیلانو موجودیدل ضروری دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : که چیرې مشترک څیز په ذوات الامثال کښې وی، نو د ټولو شریکانو موجودیدل ضروری نۀ دی، برابره خبره ده که دا څیز په ارث سره حاصل شوې وی او که په شراء سره حاصل شوې وی، البته که د غائب حصه هغۀ ته د رسیدلو نه وراندې ضائع شی نو دا نقصان به په حاضر او غائب دواړو باندې وی،او کومه حصه چې حاضر ته ترلاسه شوې وی هغه به په دواړو کښې مشترکه وی۔

او که چیرې مشترک څیز د ذوات القیم نه وی،نو بیا د ټولو شریکانو موجودیدل ضروری دی،که چیرې څوک شریک په کښې غائب وی نو بیا په کښې تقسیم صحیح نۀ وی،د غائب په اذن باندې به موقوف وی،البته صرف د ترکې تقسیم به په اذن د قاضی جائز وی، قاضی دې د غائب له اړخه نائب بالقبض مقرر کړی۔

قال فی التنویر و شرحه: (وتشتمل) مطلقا (علی) معنی (الافراز) وهو اخذ عین حقه (و) علی معنی (المبادلة) و هو اخذ عوض حقه (و) الافراز (هو الغالب فی المثلی) و ما فی حکمه و هو العددی المتقارب فان معنی الافراز غالب فیه ایضا ابن کمال عن الکافی (والمبادلة) غالبة (فی غیره) ای غیر المثلی و هو القیمی اذا تقرر هذا الاصل (فیاخذ الشریك حصته بغیبة صاحبه فی الاول) ای المثلی لعدم التفاوت (لا الثانی) ای القیمی لتفاوته

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله والافراز هو الغالب فی المثلی) لان ما یاخذه احدهما نصفه ملکه حقیقة و نصفه الاخر بدل النصف الذی بید الاخر فباعتبار الاول افراز و باعتبار الثانی مبادلة الا ان المثلی اذا اخذ بعضه بدل بعض کان الماخوذ عین الماخوذ عنه حکما لوجود المماثلة بخلاف القیمی.

(قوله و ما فی حکمه) ای حکم المثلی الول نقل فی جامع الفصولین عن شرح الطحاوی کل کیلی و وزنی غیر مسوغ و عددی متقارب کفلوس و بیض و جوز و نحوها مثلیات والحیوانات والزرعیات والعددی المتفاوت کرمان و سفرجل والوزنی الذی فی تبعیضه ضرر و هو المسوغ قیمیات اھ ثم نقل عن الجامع العددی المتقارب کله مثلی کیلا و عدا او وزنا و عند زفر رحمه الله قیمی و ما تتفاوت احادہ فی القیمة فعددی متفاوت لیس بمثلی الخ

فتامل (ردالمحتار ص ۳ ج ۵)

قال فی شرح التنویر: فی الخانیة: مکیل او موزون بین حاضر و غائب او بالغ و صغیر فاخذ الحاضر او البالغ نصیبه نفذت القسمة ان سلم حظ الآخرین والا لا.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی (قوله فی الخانیة الخ) اراد به بیان فائدة هی انه اذا اقسم فهو الحد حصته بغیبة صاحبه کما قال فی المتن لا تنفذ القسمة ما لم تسلم حصة الآخر (قوله ان سلم حظ الآخرین) ای الغائب والصغیر مفهومه ان سلامة ما اخذه لا تشترط کما سیظهر (قوله والا لا) ای وان لم یسلم بان هلك قبل وصله الیهما لا تنفذ القسمة بل تنتقض و یکون الهالك علی الکل ویشارکه الآخران فیما اخذ لما فی هذه القسمة من معنی المبادلة (ردالمحتار ص ۳ ج ۵)

قال فی شرح التنویر: و صحت برضاء الشرکاء الا اذا کان فیهم صغیرا و مجنون لا نائب عنه او غائب لا و کیل عنه لعدم لزومها حینئذ الا باجازة القاضی او الغائب او الصبی اذا بلغ او ولیه هذا لو ورثة و لو شرکاء بطلت منیة المفتی وغیرها (ردالمحتار ص ۳ ج ۵)

وفیه ایضا بعد صفحتین: (و لو برهنا علی الموت و عدد الورثة و هو) ای العقار قلت قال شیخنا و کذا المنقول بالاولی (معهما و فیهم صغیر او غائب قسم بینهم و نصب قابض لهما) نظر الغائب والصغیر ولا بد من البینة علی اصل المیراث عنده ایضا خلافا لهما کما مر (فان برهن) وارث (واحد) لا یقسم اذ لا بد من حضور اثنین و لو احدهما صغیرا او موصی له (او کانوا) ای الشرکاء (مشترین) ای شرکاء بغیر الارث (و غاب احدهم) لان فی الشرکاء لا یصلح الحاضر خصما عن الغائب بخلاف الارث.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله قسم بینهم) افاد ان القاضی فعل ذلك قال فی المحیط فلو قسم بغیر قضاء لم تجز الا ان یحضر او یبلغ فیجیز طوری و هذا ما قدمه الشارح (قوله بخلاف الارث) قال فی الدرر فان ملك الوارث ملك خلافة حتی یرد بالعیب علی بائع المورث ویرد علیه و یصیر مغرورا بشراء المورث حتی لو وطی امة اشتراها مورثه فولدت فاستحقت رجع الوارث علی البائع بثمنها و قیمة الولد للغرور من جهته فانتصب احدهم خصما عن المیت فیما فی یده والآخر عن نفسه فصارت القسمة قضاء بحضرة المتقاسمین و اما الملك الثابت بالشراء فملك جدید بسبب باشره فی نصیبه ولهذا لا یرد بالعیب علی بائع بائعه فلا یصلح الحاضر خصما عن الغائب فتکون البینة فی حق الغائب قائمة بلا خصم فلا تقبل اه (ردالمحتار ص ۳ ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۳ ذی الحجه ۱۳۸۷ هجری

په داسې حالت کښې تقسیم چې په وارثانو کښې څوک صغیر وی یا د میت په یو وارث باندې دین وی

سوال - د یو سړی د وفات پنځه کاله تیر شوې دی،د هغه په وارثانو کښې یوه ښځه. پنځه هلکان او شپږ تجونه پاتې شوې دی د هغه د وفات نه پس ئې سمدستی د جائیداد تقسیم وکړې شو. په غیرمنقوله جائیداد کښې ۷۱ جریبه زمکه یو کور او یو پلاټ وو،او په منقوله جائیداد کښې څاروی،کالی،او د کور سامان وو،د کور د سامان،څاروو او د کالو قیمت ولګولې شو،او ورسره په مشر هلک باندی چې کوم دیارلس سوه روپئ قرض وو هغه هم جمع کړې شو،تولې پیسې ترې نه څوارلس زره روپئ جوړې شوې،کومې چې د وارثانو د حصې مطابق تقیسم کړې شوې.او د هر یو وارث حصه وټاکلې شوه،بیا د درې مشرانو جینکو نه کومې چې عاقلې بالغې او واده شوې وې تپوس وکړې شو چې تاسو په جائیداد کښې خپله حصه اخستل غواړئ او که نه د نورو وارثانو په حق کښې د خپلې حصې نه لاس اخلئ؟ درې وارو جینکو د منقوله جائیداد نه یو څو ټاکلې شوی څیزونه واخستل،او باقی ئې خپلو پنځو ورونو ته اوبښل، یوې نجلئ د زرو روپو د قیمت مینبه واخسته او باقی جائیداد ئې خپلو ورونو ته اوبښلو،دویمې جینئ یو د ګنډلو ماشین د څلورو سوو روپو او یوه غوا د پنځو سوو روپو واخسته او باقی حصه د جائیداد ئې خپلو ورونو ته اوبښلو. دریمې خور څلورمه حصه زمکه واخسته او باقی حصه د جائیداد ئې خپلوورونو ته اوبښله.

او د پنځو کالو دتیریدلو نه پس څینی علماء وائی چې دا تخارج باطل دې،جائیداد به د سر نه بیا تقسیمولې شی،څکه چې دتخارج د صحت دپاره یو شرط دا دې چې تول وارثان به عاقل بالغ وی. حال دا چې په دغه وخت کښې په دوی کښې یو هلک د دوه نیمو کالو وو.

دویمه وجه داده چې په یو وارث باندې دین وو،او په ترکه کښې چې دین وی نو بیا په دې صورت کښې تخارج باطل وئ،حال دا چې دا دین په وارث باندې وو او دا د منقوله جائبداد سره یو ځائ کړې شوې وو او په وراثانو باندې تقسیم کړې شوې وو په دې صورت کښې چې د کوم وارث په ذمه دا قرض وو هم د هغه په حصه کښې دا شمارلې شوې وو.بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دلته څلور خبرې د تحقیق قابلې دې:

۱- چې د مړی په یو وارث باندې قرض وی نو آیا هغه د تخارج نه مانع دې او که نه؟

۲- چې مصالح خپله حصه یواځې بعضې وارثانو ته ورکړی نورو ته ئې ورنهٔ کړی نو آیا تخارج به صحیح کیږی او که نه؟

۳- تخارج په غبن الفاحش سره صحیح دې او که نه؟

۴. چې په وارثانو کښې څوک صغیر وی نو آیا تخارج صحیح دې او که نه؟
د دې څلور خبرو تحقیق په ترتیب سره وړاندې کولې شی
۱ . که په منقوله ترکه کښې د مدیون د میراث د حصې نه دین زیات وی نو دا به د تخارج نه مانع وی او که داسې نه وی نو مانع به نهٔ وی،ځکه چې د دین د منع کیدلو علت **تملیك الدين من غير من عليه الدين** دې کوم چې په منقوله ترکه کښې د میراث د حصې نه په تجاوز کوونکی دین کښې موجود دہ، چې مصالح د مدیون نه علاوه نور وارثان هم د دین مالکان جوړوی. لیکن د غیر منقوله ترکې نه په غیر متجاوز دین کښې دا علت مفقود دې،ځکه چې د نقل کیدونکې ترکې په تقسیم کښې ددې د قیمت لګولو او بیا د تقسیمولو عام رواج دې۔ او ظاهره خبره ده چې د ټولو وارثانو په رضامندئ سره به دا دین د مدیون په حصه کښې حسابولې شی، **فهو تمليك الدين ممن عليه الدين وهو جائز.**
په دې مسئله کښې همدا صورت دې ددې وجې نه دا دین د صحت د تخارج نه مانع نهٔ دې
۲ . که بدلِ صلح د ترکې نه ورکول نهٔ وی تاکلې شوی بلکه مصالح ئې له خپله اړخه ادا کوی نو دا تخارج مطلقاً صحیح دې،او که د ترکې نه د صلحې بدل ورکول وټاکلې شو نو څنګه چې معلومه ده چې پدې کښې د ټولو وارثانو حق دې نو ددې وجې نه د دې د صحت د پاره د ټولو رضا شرط ده.

قال في التنوير وشرحه: ولو اخرجوا واحدا من الورثة فحصته تقسم بين الباقي على السواء ان كان ما اعطوه من مالهم غير الميراث وان كان المعطى مما ورثوه فعلى قدر ميراثهم يقسم بينهم.

وقال ابن عابدين رحمه الله: (قوله على السواء) افاد ان احد الورثة اذا صالح البعض دون الباقي يصح و تكون حصته له فقط كذا لو صالح الموصى له كما في الانقروى سائحاني (ردالمحتار ص۵۰۰ ج۴)

قلت: وفي مسالتنا وقع التخارج بتراضى الورثة فاندفع هذا الاشكال ايضا لكن بقى رضا الصغير و سياتى حكمه في الامر الرابع.

۳. بدل صلح که هر څومره قلیل وی تخارج په کښې روا دې، البته دا خبره ده که چا سره دا دوکه وشوه چې په وخت د صلح کښې هغهٔ دیو څیز د صحیح قیمت نه خبر نهٔ وو وروستو په کښې غبنِ فاحش ښکاره شو. نو هغهٔ ته دا اختیار شته چې په قاضی باندې صلح فسخ کړی۔

قال في التنوير وشرحه: ولو ظهر غبن فاحش لا يدخل تحت التقويم في القسمة فان كانت بقضاء بطلت اتفاقا لان تصرف القاضي مقيد بالعدل ولم يوجد ولو وقعت بالتراضي تبطل ايضا في الاصح لان شرط جوازها المعادلة ولم توجد فوجب نقضها خلافا لتصحيح الخلاصة قلت فلو قال كالكنز تفسخ لكان اولى وتسمع دعواه

ذلك اى ما ذكر من الغبن الفاحش ان لم يقر بالاستيفاء وان اقر به لا.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (ولو ظهر غبن فاحش فى القسمة) اى فى التقويم للقسمة بان قوم بألف وظهر انه يساوى خمسمائة قيد بالفاحش لانه لو يسيرا يدخل تحت تقويم المقومين لا تسمع دعواه ولا تقبل بينته

وقال ايضا تحت (قوله فلمدع الخ) مقتضاه انها تحتاج الى الفسخ وان معنى تبطل يبطلها ابطالها وبه يشعر قول الكنز تفسخ حيث لم يقل تنفسخ (ردالمحتار ص ج)

د علائيې د ذكر كړې شوې عبارت نه ځينې خلقو ته دا مغالطه شوې ده چې دا په كومه مسئله كښې ذكر شروع دې په دې كښې د غبن فاحش د وجې نه تخارج باطل دې، حال دا چې د علائيې او د شاميې د عبارت مطلب بالكل واضحه دې، چې د تخارج نه پس د غبن فاحش د ظاهرېدلو نه پس خيار فسخ دې، او د دۀ دعوى به اورېدلې شي غبن هم هغه نقصان ته وائي كوم چې د عقد نه پس ظاهر شي، د عقد په وخت كښې چې كوم نقصان ظاهر او معلوم شي هغۀ كه هر څومره زيات وي ليكن هغې ته غبن نۀ وائي، دا امر د بيان محتاج نه دې چې په تخارج كښې د د بدلِ صلحه څه كميت مشروط نۀ دې، سره د دې هم د ځينې خلقو د پاره څه امور وړاندې كولې شي:

۱- د مذهب په كتابونو كښې دا تصريح ده چې هر كله بدلِ صلحه مكيل يا موزون وي يا سره يا سپين زر وي نو د تخارج د صحت د پاره دا شرط دې چې بدل صلحه دې په څيز كښې د مصالح د حصې نه زيات وي، وړاندې په كښې داسې څه شرط نشته دې چې د پوره تركې سره به د دې حصې څه نسبت وي، او كه چيرې بدل د صلح د ذكر كړې شوو څيزونو نه نوي نو په دې كښې بيا څه كميت هم شرط نۀ دې.

۲- تخارج په حكم د بيعه كښې دې، او بيعه كښې د عاقدينو په تراضى سره په بدلينو كښې تفاوتِ كثير روا دې.

۳ - قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله اخرجت الخ) اوصى رجل بثلث ماله و مات الموصى فصالح الوارث الموصى له من الثلث بالسدس جاز الصلح وذكر الامام المعروف بخواهر زاده ان حق الموصى له وحق الوارث قبل القسمة غير متأكد يحتمل السقوط بالاسقاط اه (ردالمحتار ص ج). (ردالمحتار ص ج)

په دې كښې اسقاط بالصلح مراد دې، مطلق اسقاط په كښې صحيح نۀ دې كما حررت فى كتاب الوصية والفرائض.

د اسقاط بالصلح مثال په ذكر شوې عبارت كښې صلح من الثلث بالسدس ذكر كړې شوې دې چې په كښې د تضعيف او تنصيف نسبت دې، او په خپله علامه ابن عابدين رحمه الله د غبن فاحش

مثال کښي همدا نسبت بیان کړی دی۔
کما مر من نصه: بان تقوم بالف فظهر انه یساوی خمسمائة
د دي نه دا خبره ثابته شوه چي د فحش تفاوت باوجود تخارج روا دی۔
۴ . که چیري صغیر په خپله عاقد وی نو د بیع او د شراء وغیره عقود دائره بین النفع والضرر په شان په عقد صلح کښي هم د صغیر عاقل کیدل شرط دی نه چي بلوغ ورله شرط دی۔ د صغیر غیرِ عاقل عقد له سره منعقد کیږی نه، او د عاقل غیرِ ماذون عقد منعقد کیږی، خو په هغه اذن باندي چي پس د بلوغ نه وی یا د ولی په اذن باندي به موقوف وی۔

ولی فی المال په ترتیب سره داسي دي:
پلار، د هغهٔ وصی، نیکهٔ، د نیکهٔ وصی، قاضی.

قال فی التنویر وشرحه: وشرطه العقل لا البلوغ والحریة فصح من صبی ماذون ان عری صلحه عن ضرر بین۔

(ردالمحتار ص [illegible] ج [illegible])

وقال فی الهندیة: واما شرائطه فانواع منها ان یکون المصالح عاقلا فلا یصح صلح المجنون والصبی الذی لا یعقل هکذا فی البدائع. (عالمگیریة ص [illegible] ج [illegible])

وقال فی التنویر وشرحه: وتصرف الصبی والمعتوه الذی یعقل البیع والشراء ان کان نافعا محضا کالاسلام والاتهاب صح بلا اذن وان کان ضارا کالطلاق والعتاق والصدقة والقرض لا وان اذن به ولیهما وما تردد من العقود بین نفع وضرر کالبیع والشراء توقف علی الاذن حتی لو بلغ فاجازه نفذ فان اذن لهما الولی فهما فی شراء وبیع کعبد ماذون فی کل احکامه. (ردالمحتار ص [illegible] ج [illegible])

او که چیري صبی په خپله عقد کوونکي نهٔ وی بلکه د هغهٔ له اړخه څوک بل څوک عقد وکړی نو بیا په کښي د صبی عاقل کیدل شرط نهٔ دی، په هر صورت کښي به صلحه منعقده شی، البته د دي عقد د نفاذ د پاره دا شرط دي، چي د صبی له اړخه دي د هغهٔ ولی فی المال عقد وکړی، که چیري غیر ولی عقد وکړو نو هغهٔ خو به منعقد شی خو دغه عقد به د صبی په اذن بعد البلوغ، یا په اذن د ولی یا په اذن د قاضی پوري به موقوف وی.

البته په تقسم د غیر د ترکي کښي دوه قوله دی: یو دا چي دا هم د عامو فضولی عقودو په شان موقوف دي۔ دویم قول دا دي چي دا تقسیم باطل دي له سره نه منعقد کیږی ، رحمتی رحمه الله وجه د فرق دا بیان فرمائیلي ده، چي د عقدِ فضولی په منعقد کیدو کښي د متعاقدینو وجود شرط دي او هغه وجود دلته مفقود دي۔ وسلم کر نصه عن الرافعی رحمه الله.

قال ابن عابدین رحمہ اللہ: قال فی المحیط فلو قسم بغیر قضاء لم تجز الا ان یجیز(الغائب)او یبلغ (الصغیر)فیجیز طوری وھذا ما قدمہ الشارح (ردالمحتار ص ج)

ونص الشارح المتقدم: وصحت برضاء الشرکاء الا اذا کان فیھم صغیر او مجنون لا نائب عنہ او غائب لا وکیل عنہ لعدم لزومھا حینئذ الا باجازۃ القاضی او الغائب او الصبی اذا بلغ او ولیہ ولو شرکاء بطلت منیۃ المفتی وغیرھا.

وقال العلامۃ ابن عابدین رحمہ اللہ: (قولہ الا اذا کان) استثناء منقطع کما یفیدہ قولہ بعد لعدم لزومھا او استثناء من محذوف ای و لزمت اھ ط او اراد بالصحۃ اللزوم (قولہ الا باجازۃ القاضی) الظاھر رجوعہ للمستثنیات الثلاث (قولہ او الغائب او الصبی اذا بلغ) ولو مات الغائب او الصبی فاجازت ورثتہ نفذت عندھما خلافا لمحمد منیۃ المفتی والاول استحسان والثانی قیاس و کما تثبت الاجازۃ صریحا بالقول تثبت دلالۃ بالفعل کالبیع کما فی التاترخانیۃ. وفی المنح عن الجواھر: طفل وبالغ اقتسما شیئا ثم بلغ الطفل وتصرف فی نصیبہ و باع البعض یکون اجازۃ (قولہ ھذا) ای لزومھا باجازۃ القاضی و نحوہ لو کانوا شرکاء فی المیراث فلو شرکاء فی غیرہ تبطل و مقتضاہ انھا لا تنفذ بالاجازۃ فلیتامل

وعبارۃ المنیۃ ھکذا: اقتسم الورثۃ لا بامر القاضی وفیھم صغیر او غائب لا تنفذ الا باجازۃ الغائب او ولی الصغیر او یجیز اذا بلغ اقتسم الشرکاء فیما بینھم و فیھم صغیر او غائب لا تصح القسمۃ فان امرھم القاضی بذلک صح اھ

اقول: سیذکر المصنف تبعا لسائر المتون ان القاضی لا یقسم لو کانوا مشترین وغاب احدھم فکیف تصح قسمۃ الشرکاء بامر القاضی. اللھم الا ان یراد بہ الشرکاء فی المیراث لکن یبقی قول الشارح ولو شرکاء بطلت محتاجا الی نقل و نقل الزاھدی فی قنیتہ: قسمت بین الشرکاء و فیھم شریک غائب فلما وقف علیھا قال لا ارضی لغبن فیھا ثم اذن لحراثہ فی زراعۃ نصیبہ لا یکون رضا بعد ما رد فلیحرر و لا تنس ما قدمہ من ان للشریک اخذ حصتہ من المثلی بغیبۃ صاحبہ وما نقلہ عن الخانیۃ فانہ مخصص لما ھنا. (ردالمحتار ص ج)

وقال العلامۃ الرافعی رحمہ اللہ: (قولہ الظاھر الرجوعہ المستثنیات الثلاث) یدل لہ ما نقلہ فی المنح عن السراج بقولہ ولھم ان یقسموا لانفسھم اذا تراضوا الا ان یکون فیھم صغیر لا ولی لہ او غائب لا وکیل عنہ فحینئذ لا تجوز بالاصطلاح بل لا بد من القاضی لانہ لا ولایۃ لھم علی الصغیر و لا علی الغائب فان امر القاضی

بما جاز على الصغير والغائب لان له ولاية على الصغير ونظرا على الغائب وتصرفه يصح على المهمد (قوله لكن يبقى قول الشارح ولو شركاء يطلب محتاجا الى نقل) علل المطلان الرحمتي في هذه المسألة بان كل واحد اجنبي في حق صاحبه فلم يوجد قابل عن الصغير ونحوه وشرط عقد الفضولي وجود القابل عن المالك ولا يتوقف شطر العقد على غائب بخلاف مسألة الورثة لان بعضهم يصلح خصما عن الباقين فيصح ان يكون بعضهم مقاسما وبعضهم مقاسما اهـ ومعلوم ان الشارح ثقة في النقل يعتمد عليه فيه حتى يوجد ما يخالفه (التحرير المختار ص۳۳ ج۲)

د ذکر کړې شوی تحقیق نه دا خبره ثابته شوه چې د فقهاء کرامو ﷫ په عبارتونو کښې کوم خائې هم د صغير وجود د ترکې د تقسيم د صحت نه مانع نبودلې شوې دې نو د هغې مطلب دا دې چې تقسيم لازم او نافذ نهٔ دې بلکه په اذن د ولی یا په اذن د والی او یا په اذن بعد البلوغ باندې موقوف دې،د دې وجې نه د دې عبارتونو نه د بعضې اصاغرو په عدم انعقاد باندې استدلال په غلطې پوهې باندې مبنی دې۔

په کومه مسئله کښې چې بحث شروع دې:-

د پورتنئ خبرو د تحقيق نه په کومه مسئله کښې چې بحث شروع دې ښه واضحه شوه،په دې کښې د صغير له اړخه غيرولی عقد د تخارج کړې دې د دې وجې نه د **تخارج على الارض عقد** موقوف دې، که یو وارث د قاضی نه اذن حاصل کړی نو دا عقد به نافذ شی، اوکه نه نو د صغير د اذن بعد البلوغ پورې به موقوف وی،که چیرې صغير قبل البلوغ وفات شو نو د دهٔ د وارثانو په اذن سره به نافذ شی.

د **تخارج على العروض** عقد خو د ابتداء نه نافذ او لازم دې.**لان للام والاخ بيع المنقول من مال الصغير تجارة**

دتحقيق ور خبره:

دا خبره تر اوسه پورې واضحه نه شوه چې آیا په موقوف تقسيم کښې مخکښې له اذن نه دنورو شریکانو لپاره د فسخې حق شته اوکه نه ؟ . راجح خو عدم حق د فسخ ښکاری لیکن تر اوسه پورې شرح صدر نده شوې . **ولعل الله يحدث بعد ذلك امراً**.

۱-د صغير د زمکی د بيعې ولی ته اختيار نشته دې **الا في صور مخصوصة**.لیکن ولی ته د عقار د تقسيم اختيارشته ځکه چې تقسيم **من كل الوجوه** بيعه نهٔ ده بلکه **من وجه** بيعه ده.او**من وجه** افراز دې

۲- پلار او دهغهٔ وصی،نیکهٔ او د هغهٔ وصی او قاضی نه علاوه بل چا ته چې څنګه د صغير د

پاره د تقسیم اختیار نشته‌ دي همدغه شان دصغیر په مال کښې د تصرف اختیار ورته هم نشته دي، د صغیر په مال کښې د تجارت او په زمکه کښې ئې ورته د کر کروندې اجازت نشته دې، البته د صغیر مور ته، ورور ته، او تره ته ئې د دهٔ د مال د حفاظت، بیعه د منقول په غرض د حفاظت او د صغیر د پاره د طعام او د لباس وغیره د اخستلو اجازت شته دې خو په دې شرط چې صغیر د دوی په پالنې کښې وی، البته که په خپله په ترکه کښې طعام یا لباس وی نو د دې نه د صغیر حصه په صغیر باندې په خرچ کولو کښې بیا د صغیر په پالنه کښې کیدل شرط نهٔ دې.

قال فی التنویر: او اشتری الوارث الکبیر طعاما او کسوة للصغیر او کفن الوارث المیت او قضی دینه من مال نفسه فانه یرجع ولا یکون متطوعا.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله او اشتری الوارث الکبیر الخ) کذا فی الخانیة ونصها او اشتری الوارث الکبیر طعاما او کسوة للصغیر من مال نفسه لا یکون متطوعا و کان له الرجوع فی مال المیت والترکة اه. اقول: ولم یشترط الاشهاد مع ان فی انفاق الوصی خلافا کما مر و ینبغی جریانه هنا بالاولی علی انه قد وقع الاختلاف فی انفاقه علی الصغیر نصیبه من الترکة نفقة مثله فی انه یصدق ام لا قولان حکاهما الزاهدی فی الحاوی ثم قال والمختار للفتوی ما فی وصایا المحیط بروایة ابن سماعة عن محمد رحمه الله تعالی مات عن ابنین صغیر و کبیر و الف درهم فانفق علی الصغیر خمسمائة نفقة مثله فهو متطوع اذا لم یکن وصیا و لو کان المشترك طعاما او ثوبا واطعمه الکبیر الصغیر او البسه فاستحسن ان لا یکون علی الکبیر ضمان اهـ

وفی جامع الفتاوی ولو انفق الاخ الکبیر علی اخیه الصغیر من نصیبه من الترکة ان کان طعاما لم یضمن و ان کان دراهم فکذلك ان کان فی حجره و فی غیر ذلك یضمن ان لم یکن وصیا اهـ و مثله فی التاترخانیة و قدمه المصنف فی فصل البیع من کتاب الکراهیة والاستحسان ان یجوز شراء ما لا بد للصغیر منه وبیعه لاخ وعم و ام وملتقط هو فی حجرهم و اجارته لامه فقط اهـ ومثله فی الهدایة وعلیه فیمکن حمل ما مر عن محمد رحمه الله تعالی علی ما اذا لم یکن فی حجره تامل و علی کل فما فی الخانیة مشکل ان لك یکن الکبیر وصیا فلیتامل (ردالمحتار ص۵۰۰ج۵)

غرض دا چې په دې پوښتلې شوې مسئله کښې د صغیر په مور او ورونو باندې لازم دی چې د دهٔ د حصې زمکه د حکومت په قبضه کښې ورکړی.

۳ - پورته چې کوم تحقیق لیکلې شوې دې هغهٔ د نفسِ مسئلې سره متعلق دې، په دې پوښتلې شوې مسئله او صورت کښې کهٔ خویندو د ورونو د خفګان یا د رواج د زوره داسې قسمه ایثار او

قرباني كړي وه نو د ورونو په ذمه د دې خويندو شرعي حق باقي پاتې دې. والله سبحانه وتعالی اعلم
۱۵ ربیع الآخر ۱۴۰۰ هجری

صغير سره د تركې د تقسيم حكم

سوال- يو سړى وفات شو، په وارثانو كښې يې يو نابالغه هلک هم دې،وارثانو جائيداد تقسيم كړو نو آيا نابالغه ته پس د بلوغ نه د فسخې د تقسيم اختيار شته او كه نه؟بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: صغير ته پس د بلوغ نه د فسخې اختيار شته .البته كه د دهٔ د ولي په اجازت سره تقسيم شوې وی نو پس د بلوغ نه ورته بيا د فسخې اختيار نشته.

دا حكم د تقسيم د تركې دې،په صورت د شركت كښې بهر حال صغير ته اختيار شته دې.

قال في التنوير وشرحه: وصح برضا الشركاء الا اذا كان فيهم صغير او مجنون لا نائب عنه او غائب لا وكيل عنه لعدم لزومها حينئذ الا باجازة القاضي او الغائب او الصبي اذا بلغ او وليه هذا لو ورثة ولو شركاء بطلت منية المفتي وغيرها (ردالمحتار ص ج ٥) والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۹ شعبان ۱۴۰۱ هجری

د شريكو كورونو د منافعې دتقسيمولو طريقه

سوال- دوه كورونه په مختلفو كوڅو كښې د دوو كسانو تر مينځه شريک دی،اوس دوی ملكيت مشترک ساتل غواړی او ددې منافع تقسيمول غواړی،د دې تقسيم جائز صورت مطلوب دې بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د دې د جواز دوه صورتونه دی:

۱- د دواړو كورونو د منافعې مجموعه دې په قدر د حصو تقسيم كړی.

۲- يو بل سره دې د كورونو تعيين وكړی، يو كور دې يو شريک واخلی او بل كور دې بل شريک واخلی ، بيا هر يو شريک ته اختيار شته دې چې په خپل تاكلې شوی كور كښې په خپله پاتې شی او كه خوښه ئې وی نو په كرايه وغيره دې وركړی او ددې منافع دې حاصل كړی.

په دې صورت كښې به هر يو هم د هغه كور د منافعې مستحق وی كوم چې هغهٔ ته په تقسيم كښې وركړې شوې دې. برابره خبره ده كه د دې منافع د هغه دويم كور نه كم وی او كه زيات وی .

قال الامام الحصكفي رحمه الله تعالى: ولو تهايا في سكنى دار او دارين (الى قوله) او في غلة دار او دارين صح

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: تنبيه:- في الهداية لكل واحد ان يستغل ما اصابه بالمهاياة وان لم يشترط ذلك لحدوث المنافع على ملكه اهـ (قوله كذلك) اى يأخذ هذا شهرا والآخر شهرا او يأخذ هذا غلة هذه والآخر غلة الاخرى (ردالمحتار ص ج ٥) والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۹ شعبان ۱۴۱۵ هجری

کتاب المزارعة والمساقاة

د موروثي زمکې حکم

سوال:- د بلوچستان د زمکې لاندېنی صورتونه وګورئ ددې حکم مطلوب دې۔

۱- د بلوچستان په زمکه کښې اکثره زمکه د پیرو نه په حسب د عرف اصل مالکانو آبادوونکو ته د پاره د آبادولو داسې ورکړې ده چې دزمکې ټوله خواری مثلا زمکه قابله د کرکروندې ګرځول،بندونه جوړول، د اوبو دپاره لاره جوړول، زراعت وغیره کول دا ټول هر څه د آبادونکی په ذمه دی، د فصل په شپږو کښې پنځه حصې زمیدار ته او یوه حصه اصل مالک ته ورکول کیږی، د دې نه علاوه مالک د پیداوار نه څه متعینه حصه د خپل خرج د پاره د آبادونکی نه کرهاً اخلی . لکه په یو بار کښې اووه کاسې وغیره .

مالک په زمکه کښې داسې څه تصرف نهٔ شی کولې کوم چې د آبادونکی په عمل کښې د دخل باعث وی۔

۲- د دې معاهدې نه پس هیڅ یو د زمکې خاوند ، زمیندار ته عرفا جواب نهٔ شی ورکولې. آبادونکې په زمکه کښې هرقسمه تصرف کوی،لکه خرڅول،په مزارعت ورکول،د خلعې په عوض کښې ورکول، په مهر کښې ورکول، په دې باندې د مالک هیڅ اعتراض نهٔ وی۔

۳- مالک صرف خپله شپږمه حصه خرڅولې شی،دآبادونکی حصې باندې تعرض نه شی کولې

۴- داسې زمکه آبادونکې خپله مملوکه زمکه تصور کوی، په دې کښې وراثت هم جاری کیږی۔

۵ - سرکاری مالیه هم آبادونکې ادا کوی .

۶ - که یو آبادونکې خپله حصه خرڅه کړی نو بل آبادونکې خپل ځان د شفعې حق دار ګنی۔

۷ - آبادونکې د سردار د حصې هم هغه مالک ګنی .

اوس د څه مودې نه چې به سردارانو کومه د شپږمې حصې نه علاوه متعین مقدار اخستلو نو د هغې په باره کښې نزاع ده،آبادونکو دې ته ظلم اووئیلو او ددې ورکول ئې بند کړل،او په حکومتی سطح باندې د هغوی مرسته هم وکړې شوه، په دې باندې سرداران وائی چې مونږ به تاسو د خپلو زمکو نه اوباسو او خپلې زمکې به په خپل لاس کښې واخلو .

اوس پوښتنه دا ده چه آیا د دوو سوو کالو نه د زیاتو کلونو راسې د مالکانه حقوقو دعرف او د مالکانو د اعتراف او اقرار په موجودګئ کښې که سرداران د خپل پلار نیکه تصرف مات کړی او آبادونکی د هغوی د زمکو نه بې دخله کول وغواړی نو دا حق هغوی ته حاصل دې؟ ښه دتسلې او تحقیقی جواب راکړئ او مونږ له د شکریه ادا کولو موقع راکړئ. بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب: دا امر د تحقیق محتاج دي،چې آبادونکو ته د پیداوار په شپږو کښې پنځه حصې ورکول کښې پنځه حصې ورکول مقرر کړې شوې وو او که نه د زمکې په شپږو کښې پنځه حصې ورکول تاکلې شوې وو؟ د دې حقیقت خو به یا د معاهدې د کاغذونو نه معلوم شی یا په سرکاری دفترونو کښې د زمکو د انتقال چې کوم کاغذونه دی د هغې نه معلومیدې شی،که په دې کښې څه ثبوت تر لاسه نۀ شی نو په عرف سره به بیا ددې فیصله کولې شی،په استفتاء کښې د رالیږلې شوو کاغذونو نه دا معلومیږی چې دا زمکه د سردارانو ملکیت دې، آبادونکو ته صرف د پیداوار حصه ورکولې کیږی، په دې باندې دا لاندینۍ قرینې دی:

۱ - د زمیندار او د آباد کار د اصطلاح نه دا معلومیږی،چې سردار د زمکې مالک دې او آباد کار مزارع دې.

۲- که چیرې آباد کار د زمکې د پیداوار په شپږو کښې د پنځو حصو مالک وی، نو د سردار د حصې د شپږمې حصې کرونده بې د معاوضې نه ولې کوی؟ بلکه د خپلې حصې نه هم یو مقرر حصه سردار ته ولې ادا کوی؟

۳ -تراوسه پورې هیڅ یوآبادکارخپله حصه زمکه د سردار دحصې د زمکې نه ولې جدانۀ کړه؟ په استفتاء کښې د آباد کارو په ملک باندې ذکر کړې شوې قرینی لکه بیعه،هبه،د مهر ادا کول وغیره کښې که چیرې د زمکې د انتقال سرکاری کاغذونو کښې هم د دې تصریح وی، یا آباد کار خپله د زمکې حصه د زمیندار نه په ذریعې د تقسیم سره جدا کړی او په خپله متعینه حصه کښې تصرف کوی نو دا بیا واقعتا دلائل د ملک دی، لیکن د استفتاء د مضمون نه معلومیږی، چې داسې نۀ کیږی، لهذا بیعه، مهر، بدل د خلعې وغیره عقود په ظاهره د زمکې په منافعې باندې واقع کیږی،کومو ته چې بیعه د حقوقو وائی او دا روا نۀ دی.

تنبیه: که چیرې دا حقیقت معلوم شی چې سردار ته زمکه کوم حکومت ورکړې وه،او ولې ئې ورکړې وه؟ نو کیدې شی چې بیا د مسئلې حکم بدل شی.**والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.**

۲۶ ربیع الآخر ۱۳۸۹ هجری

مزروعه زمکه په مزارعه باندې ورکول

سوال - عمرو او بکر. له زید نه زمکه په مزارعت باندې هغه وخت واخستله،چې په زمکه کښې فصل د اول نه کرلې شوې وو. لیکن په تحریر کښې د څه فصل ذکر نه دې کړې شوې.البته دا زبانې وئیلې شوې وو چې بکر به هم په فصل کښې حصه دار وی. عمرو د زمکې د مالک «زید» خوئ دې. هغه د هغۀ سره د کړې شوې خبرې تصدیق هم کوی. لیکن بکر ددې فصل نه محرومول غواړی. آیا بکر شرعاً په دې فصل کښې د حصې د اخستلو حق دار دې او که نه؟بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: كه چيرې په وخت د عقد كښې فصل تيار شوې نۀ وو نو بيا عقد صحيح دې، او دا بيا د مزارعې په ځائې معامله ده، بكر هم د فصل حق دار دې.
او كه چيرې فصل تياريدلو ته نزدې وو، نو بيا دا عقد نۀ دې صحيح شوې، د فصل د پرې كولو نه پس به بيا له سره عقد د مزارعې كولې شى، په دې صورت كښې بيا په عمرو او بكر كښې د چا هم په فصل كښې څه حق نشته.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله وبشرط التخلية الخ) وهى ان يقول صاحب الارض للعامل سلمت اليك الارض فكل ما يمنع التخلية كاشتراط عمل صاحب الارض مع العامل يمنع الجواز ومن التخلية ان تكون الارض فارغة عند العقد فان كان فيها زرع قد نبت يجوز العقد ويكون معاملة لا مزارعة وان كان قد ادرك لا يجوز العقد لان الزرع بعد الادراك لا يحتاج الى العمل فيتعذر تجويزها معاملة ايضا عالمية (ردالمحتار ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۰ رجب ۱۳۹۳ هجرى

كه مزارع قبل المدة كار پريښودلو

سوال:- يو سړى يو څو زميداران د زمكې مالک له راوستل چې دوى له خپله زمكه د آبادولو دپاره وركړه، او ددوى دښځو او د بچو دپاره قرض هم وركړه، د زمكې مالک اووئيل كه چيرې تۀ د دوى ضمانت كوې نو ماته قبوله ده، هغه سړې ئې ضامن شو، درې څلور مياشتې هغه زميدارانو كار وكړو، او په دومره موده كښې ئې څوارلس سوه روپئ قرض واخستلو، بيا د زمكې د كرلو نه وراندې د شپې شپې هغه زميداران وتښتيدل، اوس پوښتنه داده چې ددې څلورو مياشتو معاوضه به دغه زميدارانو ته وركړې كيږى او كه نه؟ كه چيرې ورته وركړې كيږى نو په څه حساب سره؟ يعنى د پوره څلورو مياشتو اجرمثل او كه نه د هغوى د كار په مقدار مزدورى؟ بينوا توجروا.
الجواب باسم ملهم الصواب: كه چيرې د تخم شرط په رب الارض باندې وى نو مزارع په حكم د اجير كښې دې، لهذا دۀ ته به په قدر دعمل اجرمثل وركړې كيږى، او كه چيرې د تخم شرط په مزارع باندې وو، نو بيا هغه سره زمكه په توګه د اجارې وه، لهذا د هغه عمل موجب د اجر نۀ دې. والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۱ صفر ۱۳۹۷ هجرى

په پيداوار كښې د اوبو حصه مقررول روا نۀ دى

سوال:- د يو عقد صورت دا دې، چې د يو سړى زمكه ده، دويم كرونده كوونكې، او بل تيوب ويل دې، د كومې نه چې هغه زمكې له اوبه وركوى، د ټول پيداوار درې حصې كړې كيږى او هر يو ته يوه يوه حصه وركولې كيږى. آيا دا صورت روا دې؟ بله دا چې عشر په هر يو باندې واجب دې او

که نه صرف په مالک باندې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د اوبو په عوض د فصل حصه اخستل روا نهٔ دی، تول پیداوار به د مالک او د مزارع ترمینځه برابر تقسیمیږی، او عشر به هم په دې دواړو باندې واجبیږی، د تیوب ویل مالک ته به اجر مثل د نقدیت په صورت کښې ورکولې کیږی. **والله سبحانه وتعالی اعلم.**

۳ جمادی الثانیه ۱۳۹۷ هجری

د نیمائی په شرط باندې باغ کرل

سوال:- یو سړې خپله زمکه چا له په دې شرط باندې ورکوی چې هغه دې په دې کښې باغ وکری، د باغ په وونو کښې به هغه د نیمې مالک وی، آیا دا صورت شرعاً روا دې؟ که چیرې ناجائزه وی. نو د مسئلې د عمل د کیدلو نه وړاندې چې دا کومه معامله شوې ده د هغې څه حکم دې؟ بله دا چې د دې روا صورت څه دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: ددې معاملې مختلف صورتونه دی، د هر یو حکم هم بیل دې، تفصیل ئې دا دې چې:

۱ - که د باغ سره په زمکه کښې ئې هم د شرکت شرط لګولې وو نو داعقد فاسد دې.

۲ - که په زمکه کښې ئې دشرکت شرط نه وو لګولې، صرف په وونو کښې ئې د شرکت شرط لګولې وو او د عقد موده ئې نهٔ وی بیان کړې، نو دا عقد هم فاسد دې.

۳ - صرف په ونو کښې ئې د شرکت شرط لګولې وی، او د عقد موده ئې هم معین کړې وی نو دا عقد صحیح دې، د عقد د مودې په ختمیدلو باندې د زمکې خاوند ته اختیار دې، چې نیم قیمت ورکوی او ونې ترې نه اخلې یا ئې له بیخه اوباسی.

که په ړومبنو دوو صورتونو کښې د یو صورت مطابق فاسده معامله وکړې شوه، نو په ړومبی صورت کښې به د زمکې خاوند عامل ته د ونو د کرلو د وخت قیمت ورکړی او د باغ به مالک شی. او عامل ته به د ده د بوټو د قیمت نه علاوه اجر مثل هم ورکړې کیږی.

او په دویم صورت کښې به د ټولو ونو مالک عامل وی، د زمکې خاوند ته به د زمکې اجر مثل ورکړې کیږی. او هغهٔ ته اختیار دې چې ونې ترې نه په بیعه اخلی او یا د عامل نه د ونو د ایستلو مطالبه کوی

د ړومبی صورت د جواز حیله دا کیدې شی چې د زمکې نصف دې د باغ د نصف په عوض کښې خرڅ کړی او عامل دې په اجرت قلیله باندې اجیر کړی.

قال فی التنویر و شرحه: دفع ارضا بیضاء مدة معلومة لیغرس و تکون الارض والشجر بینهما لا تصح

لاشتراط الشركة فيما هو موجود قبل الشركة فكان كقفيز الطحان فتفسد والثمر والغرس لرب الارض تبعا لارضه وللاخر قيمة غرسه يوم الغرس واجر مثل عمله وحيلة الجواز ان يبيع نصف الغراس بنصف الارض و يستأجر رب الارض العامل ثلاث سنين مثلا بشيء قليل ليعمل في نصيبه صدر الشريعة.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله مدة معلومة) وبدونها بالاولى (قوله وتكون الارض والشجر بينهما) قيد به اذ لو شرط ان يكون هذا الشجر بينهما فقط صح قال في الخانية دفع اليه ارضا مدة معلومة على ان يغرس فيها غراسا على ان ما تحصل من الاغراس والثمار يكون بينهما جاز اهـ ومثله في كثير من الكتب وتصريحهم بضرب المدة صريح في فسادها بعدمه ووجهه ان ليس لادراكها مدة معلومة (الى قوله) اقول وفي الذخيرة واذا انقضت المدة يخير رب الارض ان شاء غرم نصف قيمة الشجرة ويملكها وان شاء قلعها اهـ وبيان ذلك فيها في الفصل الخامس فراجعها هذا وفي التتارخانية والذخيرة دفع الى ابن له ارضا ليغرس فيها اغراسا على ان الخارج بينهما نصفان ولم يوقت له وقتا فغرس فيها ثم مات الدافع عنه وعن ورثة سواه (الى قوله) كلف قلعه وتسوية الارض ما لم يصطلحوا (الى قوله) ويمكن ادعاء الفرق بين هذا وبين ما اذا فسدت باشتراط نصف الارض و يظهر ذلك مما عللوا به الفساد فانهم عللوه بثلاثة اوجه منها كما في النهاية انه جعل نصف الارض عوضا عن جميع الغراس ونصف الخارج عوضا لعمله فصار العامل مشتريا نصف الارض بالغراس المجهول فيفسد العقد فاذا زرعه في الارض بامر صاحبها فكان صاحبها فعل ذلك بنفسه فيصير قابضا ومستهلكا بالعلوق فيجب عليه قيمته واجر المثل اهـ ولا يتاتى ذلك في مسالتنا بل هو في معنى استيجار الارض بنصف الخارج واذا فسد العقد لعدم المدة يبقى الغراس للغارس ونظيره ما مر في المزارعة انها اذا فسدت فالخارج لرب البذر ولا يخفى ان الغرس كالبذر وينبغي لزوم اجر مثل الارض كما في المزارعة هذا ما ظهر لي والله تعالى اعلم.

(قوله وحيلة الجواز الخ) هذه الحيلة وان افادت صحة الاشتراك في الارض والغراس لكنها تضر صاحب الارض لان استيجار الشريك على العمل في المشترك لا يصح ولا يستحق اجرا ان عمل فقد يمتنع عن العمل و يأخذ نصف الارض بالثمن اليسير اللهم (الى ان يحمل على انهما افرز الغراس وغرس كل نصفه في جانب فتصح الاجارة ايضا فتامل (ردالمحتار ص۲۰۰ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم

۱۷ صفر ۱۳۹۷ هجری

د مزارعت د صحت شرائط

سوال:- د مزارعت په سلسله کښې د زمکې د مالکانو او د زميدار تر مينځه اختلاف

راخی،لهذا په زمیداریٔ باندې د زمکې د ورکولو جواز سره د شرائطو بنۀ صفا او عام فهم انداز کښې په تفصیل سره راته ولیکئ، بله دا چې د مزارعت په جواز کښې د امام صاحب رحمه الله او د صاحبینو رحمهما الله تعالی ترمینځه اختلاف دې مفتی به قوله په کښې کوم یو دې؟د حدیث (من لم یترك المخابرة فلیؤذن بحرب من الله ورسوله) څه مطلب دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : قول د جواز مفتی به دې،په دې باندې د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم د زمانې نه واخله تر اوسه پورې تعامل دې.

د مزارعت د صحت د پاره اتۀ شرطونه دی:

۱ - زمکه د زراعت جوګه وی.
۲- د زمکې مالک او زمیدار د اهلِ عقد نۀ وی.
۳ - د مودې تعیین.
۴ - د تخم ورکوونکی تعیین.
۵ - د حصې تعیین.
۶ - مزارع ته د زمکې قبضه ورکول.
۷ - په پیداوار کښې د دواړو د شرکت بیان کول.
۸ - د تخم د جنس تعیین.

د مزارعت اووه صورتونه دی.

۱ - زمکه او تخم د یو وی،بقر او عمل د بل وی.
۲ - زمکه د یو وی او باقی هر څه د بل وی.
۳ - عمل د یو وی باقی هر څه دبل وی.
۴ - زمکه او بقر د یو وی تخم او عمل د بل وی.
۵ - بقر او تخم د یو وی زمکه او عمل د بل وی.
۶- بقر د یو وی باقی هر څه د بل وی.
۷ - تخم د یو وی باقی هر څه د بل وی.

په دې اوه قسمونو کښې ړومبی درې قسمه د مزارعت صحیحه دی او آخری څلور قسمونه د مزارعت فاسده دی.

قال فی التنویر و شرحه: و کذا صح لو کان الارض والبذر لزید والبقر والعمل للآخر اوالارض والبقر للآخر اوالعمل له والباقی للآخر فهذه الثلاثة جائزة وبطلت فی اربعة اوجه لو کان الارض والبقر لزید اوالبقر والبذر له والآخران للآخر اوالبقر اوالبذر له والباقی للآخر (ردالمحتار ص۲۷۵ ج۵)

د حديث مبارک جواب دا دې چې په هغه زمانه کښې به په مزارعت کښې فاسد شرطونه لګولې شو. لکه د پيداوار نه به ئې يو معين مقدار د چا د پاره ساتل وغيره، د دې وجې نه د داسې مزارعت نه ئې منع اوفرمائيله.

قال الامام ابن الهمام رحمه الله: ويمكن ان يقال لهما ان يدفعا ذلك بحمل المروى عن النبى ﷺ على ما اذا شرط فى عقد المزارعة شرط مفسد اذ قد روى انهم كانوا يشترطون فيه شيئا معلوما من الخارج لرب الارض و نحو ذلك مما هو مفسد عندهما وقد اشار اليه صاحب الكافى الخ (فتح القدير ص۳۳ ج۸)

وقال فى التنوير و شرحه: ولا تصح عند الامام لانها كقفيز الطحان وعندهما تصح وبه يفتى للحاجة و قياسا على المضاربة (ردالمحتار ص۱۷۳ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم

۱٦ ربيع الاول ۱٤۰۲ هجرى

کتاب الصید والذبائح

د د جنابت دحالت ذبیحه حلاله ده

سوال:- د شریعت مطهره حکم په دې مسئله کښې څه دې چې په حالت د جنابت کښې ذبح کړې شوې څناور حلال دې او که حرام؟ بینوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق والصواب: په حالت د جنابت کښې ذبح کړې شوې څناور حلال دې. د ذبحې د پاره د حدث اکبر یا د حدث اصغر نه طهارت شرط نهٔ دې۔

قال فی التنویر: وشرط کون الذابح مسلما حلالا خارج الحرم ان کان صیدا او کتابیا ذمیا او حربیا الخ (ردالمحتار ص۲۰۸ ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۱ محرم ۱۳۷۲ هجری

که په لیندهٔ باندې د مارغهٔ کېرئ والوتله او څټ ئې باقی پاتې شو د دې حلالول روا دی

سوال:- د دین علماء کرام په دې حقله څه فرمائی چې په لیندهٔ باندې مارغهٔ وه ویشتلې شو او د هغې کېرئ جدا شوه، او څټ ئې باقی دې، په دې کښې سا تراوسه پورې باقی پاتې ده، په دې حالت کښې د دې په څټ باندې تکبیر وئیل او ددې ذبح کول صحیح دی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق والصواب: په دې کښې د امام صاحب رحمه الله او د صاحبینو رحمهما الله تعالی اختلاف دې چې په وخت د ذبحه کښې څومره قدر د حیات شرط دې، د صاحبینو رحمهما الله تعالی په نیزد حیات مستقره یعنی فوق ما یکون فی المذبوح ضروری دې، او د امام صاحب رحمه الله په نیزد مطلق حیات ورله شرط دې، یعنی په وخت د ذبحه کښې حیات قلیله خفیفه هم کافی دې۔

قال فی الهندیة: اما اذا لم یتوهم بقاؤه حیا بان شق بطنه واخرج ما فیه ثم وقع فی ید صاحبه حیا الماتت حل تناوله لانه استقر فیه فعل الذکاة قبل وقوعه وما بقی فیه اضطراب المذبوح وقیل هذا قول ابی یوسف ومحمد رحمهما الله فاما عند ابی حنیفة رحمه الله فلا یحل و هو القیاس لانه وقع فی یده حیا فلا یحل بدون ذکاة الاختیار کالمتردیة هذا الذی ذکرنا اذا ترک التذکیة فلو ذکاه حل عند ابی حنیفة رحمه الله لانه ان کانت فیه حیاة مستقرة فالذکاة وقعت موقعها بالاجماع وان لم یکن فیه حیاة مستقرة فعند ابی حنیفة رحمه الله ذکاته الذبح وقد وجد وعندهما حل بلا ذبح وکذا المتردیة والنطیحة والموقوذة والذی بقر الذئب بطنه وفیها حیاة خفیة او بینة یحل اذا ذکاه وعلیه الفتوی کذا فی الکافی (عالمگیریة کتاب الصید ص۴۲۸ ج۵)

وایضا فیها: ذبح شاۃ مریضۃ وقد بقی فیها من الحیاۃ مقدار ما یبقی فی المذبوح بعد الذبح فانها لا تحل الذکاۃ عند ابی یوسف ومحمد رحمهما الله واختلف المشائخ فیه علی قول ابی حنیفۃ رحمه الله ونص القاضی الامام المنتسب الی استیجاب فی شرح الطحاوی ان یحل الذکاۃ وعلیه الفتوی کذا فی الظهیریۃ (عالمگیریۃ ص۲۸۶ ج۵)

وقال فی الهدایۃ بعد ذکر ان المعتبر عند الامام مطلق الحیاۃ وان قلت وکذا المتردیۃ والنطیحۃ والموقوذۃ والذی بقر الذئب بطنه وفیه حیاۃ خفیۃ او بینۃ وعلیه الفتوی لقوله تعالی الا ما ذکیتم استثناہ مطلقا من غیر فصل (هدایۃ ص۴۰۰ ج۴)

و استدل علیه الطحطاوی رحمه الله بحدیث عدی رضی الله عنه حیث امرہ النبی صلی الله علیه وسلم بالذبح ان وجد الصید حیا من غیر تفرقۃ بین الحیاۃ المستقرۃ وغیرها (حاشیۃ الطحطاوی علی الدر المختار ص۱۳۰ ج۴)

وقال فی شرح التنویر: والمعتبر فی المتردیۃ واخواتها کنطیحۃ وموقوذۃ وما اکل السبع والمریضۃ مطلق الحیاۃ وان قلت کما اشرنا الیه وعلیه الفتوی (ردالمحتار کتاب الصید ص۴۳۳ ج۵)

پورته د ذکر کړې شوو نصوصو نه دا خبره ثابته شوه چې د امام صاحب رحمه الله په مذهب کښې د ذبحې دپاره حیاتِ مستقره شرط نۀ دې، حیاتِ قلیله هم کافی دې، او همدا قول مفتی به دې۔

په پُښتلې شوې مسئله کښې محل د ذبحې (ما بین الحلق واللبۃ) موجود دې او حیات په کښې هم باقی دې، اګرچې لږ حیات دې، لهذا د امام صاحب رحمه الله په قول باندې دا مارغۀ پس د ذبحې نه حلال دې، وعلیه الفتوی. البته بیله شوې کېږئ حرامه ده۔

لقوله علیه السلام: ما ابین من الحی فهو میتۃ

وفی العلائیۃ: وان علمت حیاتها وان قلت وقت الذبح اکلت مطلقا بکل حال۔

وفی الشامیۃ تحت (قوله وان کانت حیاتها خفیفۃ) فی البزازیۃ شاۃ قطع الذئب اوداجها وهی حیۃ لا تذکی لفوات المحل ولو انتزع راسها وهی حیۃ تحل بالذبح بین اللبۃ واللحیین اھ (ردالمحتار ص۴۳۴ ج۵)

د قطعې د اوداج نه مراد دا دی چې محل د ذبحې بالکل باقی پاتې نۀ شی۔

دویمه جمله یعنی ولو انتزع راسها ۔الخ په دې باندې دلیل دې، په عالمګیریه کښې هم په دې باندې تصریح ده: شاۃ قطع الذئب اوداجها وهی حیۃ لا تذکی لفوات محل الذبح کذا فی الوجیز للکردی۔ (عالمگیریۃ کتاب الذبائح الباب الثالث ص۲۸۶ ج۵)

البته دا لاندې عبارت په ظاهره ددې متعارض ښکاری:

۱. قال ابن عابدين رحمه الله في تفسير قوله ﷺ ما ابين من الحي فهو ميت وبه يعلم الحلو ابان الراس كلالانه ليس متصلا من حي حقيقة و حكما بل حقيقة فقط لانه عند الانفصال ميت حكما (رد المحتار ص ج)

۲- وفي شرح التنوير او قطع نصف راسه او اكثره او قد نصفين اكل كله لان في هذه الصور لا يمكن حياته فوق حياة المذبوح

قال ابن عابدين رحمه الله وهذا في صور فلا حكما اذ لا يتوهم بقاء الحياة بعد هذا الجرح (رد المحتار ص ج)

د دې جزئياتو نه معلوميږي چې د كوم يو ساړونكي كېږئ والوزې هغه حكما مړ دې لهذا قابل د ذبحې نه دې.

۳- في الهندية في الباب الاول من كتاب الذبائح: وفي فتاوى اهل سمرقند القصاب ذبح الشاة في ليلة مظلمة فقطع اعلى من الحلقوم او اسفل منه يحرم اكلها لانه ذبح في غير المذبح و هو الحلقوم فان قطع البعض ثم علم فقطع مرة اخرى الحلقوم قبل ان يموت بالاول فهذا على وجهين اما ان قطع الاول بتمامه او قطع شيئا منه ففي الوجه الاول لا يحل لانه لما قطع الاول بتمامه كان موتها من ذلك القطع اسرع من موتها من الثاني وفي الوجه الثاني يحل كذا في الذخيرة والمحيطين (عالمگيرية ص ج)

۴- وايضا فيها: سنور قطع راس دجاجة فانها لا تحل بالذبح وان كان يتحرك كذا في الملتقط (عالمگيرية ص ج)

لهذا ددې جزئياتو جواب دا دې چې اولنئ جزئيه د ذبحې اختياري په حقله ده او جزئيه ثانيه د ذبحې اضطراري په حقله ده. يعنى كا د ښكارى د زارسيدلو نه وړاندې د صيد ژوند ختم شو نو ددې هغه راس مبان هم حلال دې. په دې دواړو جزئياتو كښې د ميت نه مراد مذبوح دې. په ذكاة اضطراري كښې هم نفس جرح ذكاة ده. مذبوح حكما ژوندې نه دې بلكه صرف حقيقة ژوندې دې لهذا ددې نه جدا كړې شوې عضوه حرامه نه ده. څكه چې ما ابين من الحي فهو ميت كښې د حى نه مراد حى حقيقتا او حكما دې. او الاما ذكيتم كښې څه قيد نشته دې ددې وجې نه به دا عام وى، برابره خبره ده كه حى حقيقتا او حكما وى يا صرف حقيقتا وى. په هر حال كښې به په ذبحې كولو سره حلال شى.

په دې صورت دمسئلې كښې كه محل د ذبحې باقى وى نو دا ذبح كيدلې شى. البته دغه بيل شوى سرنى حرام دې. لانه مبان من الحي حقيقة و حكما.

عبارت ثالثه د صاحبينو رحمهما الله په مذهب باندې محمول دې.

عبارت رابعه کښې د راس نه مراد عنق دې، چنانچه د عالمگیریه په ترجمه کښې دا الفاظ دی (پیښو ترې نه سر پرې کړو)

د ښځې د قطع کیدلو نه پس محل د ذبحې باقي پاتې نهٔ شی، که چیرې لفظ د راس په ظاهر باندې وساتلې شی نو بیا به دا جزئیه هم د صاحبینو رحمهما الله په مذهب باندې متفرع وی، بهر حال د عالمگیری د دې دواړو جزئیو په ظاهر باندې فتوی نهٔ ده، ځکه چې په خپله د عالمگیری په کتاب الذبائح باب ثالث کښې لیکلې شوی دی۔

ولو انتزع الذئب راس الشاة وهی حیة تحل بالذبح بین اللبة واللحیین (عالمگیریه ص ۲۸۷ ج ۵)

د امام صاحب رحمه الله همدا مذهب دې، وعلیه الفتوی والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۵ ربیع الاول ۱۳۷۳ هجری

مسلمان هوسۍ په غشي ووېشتله او کافر ذبحه کړه

سوال:- یو مسلمان ښکاری یوه هوسۍ په ګولۍ ووېشتله او زخمی ئې کړه او راوې غورځوله، که چیرې کافر یعنی ذکری دا هوسۍ ذبحه کړی نو آیا دا حلاله ده او که حرامه؟

که د دې په عکس سره کافر ښکاری یوه هوسۍ په ګولۍ باندې ووېشتله او را وې غورځوله، که چیرې مسلمان دا ذبحه کړی نو د دې به څه حکم وی؟

دلته په دې حقله په علماؤ کښې اختلاف شروع دې، لهذا زر تر زره جواب راولیږئ او مونږ له د شکر ادا کولو موقع راکړئ۔ بینوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق والصواب: په رومبی صورت کښې د حلت څه وجه نشته، والله اعلم چې ستاسو په علاقه کښې په دې کښې اختلاف ولې دې؟ دا ذبیحه د کافر ده چې بې د شک او شبهې نه حرامه ده

البته که مسلمان بسم الله ووئیله او غشې ئې په هوسۍ باندې ګذار کړو او هغه دې حده پورې زخمی شوه چې په هغې کښې د مذبوح نه زیات حیات نهٔ وو، او په دې حالت کښې ذکری دا ذبحه کړه نو دا په نیزد د صاحبینو رحمهما الله تعالی حلاله ده او د امام صاحب رحمه الله په نیزد دا حرامه ده. والفتوی علی قوله کما سیجیء فی الجواب عن السؤال الثانی

او که حیات فوق المذبوح وی نو په اتفاق سره حرامه ده۔

په دویم صورت کښې که چیرې حیات فوق المذبوح نهٔ وی، نو په نیزد د صاحبینو رحمهما الله حرامه ده او په نیزد د امام صاحب رحمه الله حلاله ده، وعلیه الفتوی

او که حیات فوق المذبوح په کښې وی نو دا په اتفاق سره حلاله ده۔

قال فی الهندیة: ذبح شاة مریضة وقد بقی فیها من الحیاة مقدار ما یبقی فی المذبوح بعد الذبح فانها لا تحل عند ابی یوسف و محمد رحمهما الله تعالی واختلف المشائخ فیه علی قول ابی حنیفة رحمه الله و نص القاضی الامام المنتسب الی استیجاب فی شرح الطحاوی انه یحل الذکاة وعلیه الفتوی کذا فی الظهیریة .(عالمگیریة ص ۲۸۷ ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۸ محرم ۱۳۸٦ هجری

د سارق ذبیحه

سوال- شخصی در منزل غیر برای دزدی رفت وگوسفند را گرفته ذبح کرد باتسمیه و هرگاه صاحب منزل را خبر داده شد، گوسفند را از او گرفته.آیا خوردن گوشت این مذبوحة سارق حرام است یا حلال؟ علماء اینجا گویند حرام است چرا که دزدی حرام است، و هرگاه بسم الله گفت میخواهد حرام را حلال کند واین گوینده بسم الله کافر شد .پس ذبیحهء کافر است، ودلیل از شامی می دهند.و نزد بنده شامی مکمل نیست.امید است جواب باصواب مرحمت فرمایید.بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : قائله مجهول وهو خلاف المعقول والمنقول عن الفحول فی الفصول الاخیة نقل الحصکفی فی الصید ورده ابن عابدین (ردالمحتار ص ۲۰۰ ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۸ ربیع الآخر ۱۳۸۷ هجری

د باز د ښکار حکم

سوال- یو ځناور له تربیت ورکړې شوې دې. مونږ بسم الله اووایو اوهغه پریږدو .هغهٔ په پنجه کښې مرغئ ونیسی وینه ترې نه اوباسی او مړه ئې کړی. د دې بالکل موقع نهٔ تر لاسه کیږی چې د ژوبلې مرغئ په مرئ باندې مونږ چاړهٔ راکاږو.آیا دا مرغئ حلاله ده که حرامه ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب . هر کله چې په باز باندې د پریښودلو په وخت کښې بسم الله ووئیلې شی او هغه پریښودلې شی او هغه ښکار زخمی کړی او په ذبحې باندې دقدرت نه وړاندې وړاندې هغه مړ شی نو دا مرغئ حلاله ده.البته دا په کښې ضروری دی چې د ښکار په مسلسل تکل کښې وی که چیرته کښیناستلو او بیا ئې تکل شروع کړو او بیا دا ښکار په مړ حالت کښې وموندلې شو نو بیا دا حلال نهٔ دې.که چیرې ژوندې ترلاسه شو نو بیا د دې ذبحه کول واجب دی

قال فی التنویر وشرحه:واذا ادرك المرسل او الرامی الصید حیا بحیاة فوق ما فی المذبوح ذکاه وجوبا وشرط حله بالرمی التسمیة ولو حکما کما مر وشرط الجرح لیتحقق معنی الذکاة وشرط ان لا یقعد عن طلبه لو غاب الصید متحملا بسهمه لما دام فی طلبه یحل و ان قعد عن طلبه ثم اصابه میتا لا لاحتمال موته بسبب

اعلم (ردالمحتار ص۳۳ ج۰) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۲۹ جمادی الثانیة ۱۳۸۷ هجری

څوک چې غیر الله متصرف ګڼي نو د هغهٔ ذبیحه حرامه ده

سوال:- اشخاصیکه انبیاء و اولیاء را عالم الغیب و متصرف فی الامور ما فوق الاسباب میدانند وگرداگرد قبور طواف می دهند باین عقیده که از حالات ما عالم اند و نذر و نیاز برای ایشان می کنند و بظاهر نماز و روزه هم اداء می کنند.آیا مذبوحه ایشان حلال است یا حرام ؟بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: انبیاء و اولیاء را عالم الغیب و متصرف فی الامور دانستن کفر است و ذبیحه ایشان حرام است ـ والله سبحانه وتعالی اعلم ـ ۱۰ ذی القعده ۱۳۸۷ هجری

که مهي په تالاب کښې د اچولو نه پس مړ شو نو حلال دې

سوال:- د دریاب نه مو مهي ونیولو.هغه ژوندي وو، په همدې حالت کښې مو هغه د اوبو په تالاب یا په لوښی کښې واچولو. څه وخت پس هغه مړ شو نو آیا شرعاً د دې خوړل حلال دی یا که د طافی کیدلو د وجې نه حرام دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د دې مهی د مرګ سبب د دې نیول دی لهذا دا حلال دې.

قال الامام قاضیخان رحمه الله: والاصل ان السمك متی مات بسبب حادث حل اكله وان مات حتف انفه لا بسبب ظاهر لا يحل اكله عندنا لانه طاف والجراد يوكل وجد حيا او ميتا فان القى سمكة فى جب ماء فماتت فيه لاباس باكلها لانها ماتت بسبب حادث وهو ضيق المكان و كذا اذا جمع السمك فى حظيرة لا يستطيع الخروج منها وهو يتمكن من اخذها بغير صيد فمتى مات فيها لاباس باكلها و ان كان لا يؤخذ بغير صيد لا خير فى اكلها (خانية بهامش الهندية ص۲۸۰ ج۳)

وقال العلامة الطحطاوي رحمه الله: وانما قال العلامة عبدالبر الاصل فى اباحة السمك ان ما مات بآفة يوكل وما مات بغير آفة لا يوكل اهـ (طحطاوي على الدر ص۱۵۰ ج۴) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۹ جمادی الثانیة ۱۳۸۸ هجری

واړهٔ کبان سره د هر څه خوړل حرام دی

سوال:- تاسو ... چې ... ... شوې فتوی کښې د جواهر الاخلاطی په حوالې سره لیکلي شوې دی السمك الصغار كلها مكروهة كراهة التحريم هو الاصح.

آیا دا فتوی صحیح ده؟ او که چیرې صحیح وی نو د سمک صغار تعیین راته وکړئ،ورسره راته هم اوواینځ چې جواهر الاخلاطی د څه کتاب دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: نقل العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی عن معراج الدرایة: وفی السمك الصغار التی تقلی من غیر ان یشق جوفه فقال اصحابه (ای الشافعی رحمه الله تعالی) لا یحل اکله لان رجیعه نجس وعند سائر الائمة رحمهم الله تعالی یحل اھ (ردالمحتار ص۲۱۷ ج۵)

په دې باندې ماته د ډیرې مودې نه اشکال وو، چې د مهی کولمې او ګندګی ته ولې حلال وئیلې شوې دی؟ د جواهرالاخلاطی د نص نه چې کراهتِ تحریمی راته معلوم شو نو مطمئن شوم.

د جواهر الاخلاطی حوالې په عالمګیریه کښې ډیرې زیاتې موندلې شی، د دې نه دا ثابتیږی چې دا یو معتبر کتاب دې.

د وړو مهیانو د حرمت علت دا دې چې دا د ګندګی او دکولمو د صفا کولو نه بغیر خوړلې شی د دې نه مراد متعین شو ـ والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۳ ذی قعده ۱۳۹۸ هجری

چې په اوبو کښې ئې دوائی واچوله او مهیان مړهٔ شول نو دا حلال دی

سوال:- د مهیانو د نیولو په غرض سره که په اوبو کښې داسې دوا واچولې شوه د کومې نه چې مهیان مړهٔ شو نو په دې صورت کښې به دا مهیان خوړل حلال وی او که حرام وی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: داسې مهی حلال دې.

قال فی التنویر وشرحه: ولا یحل حیوان مائی الا السمك الذی مات بآفة ولو متولدا فی ماء نجس ولو طافیة مجروحة وهبانیة غیر الطافی علی وجه الماء الذی مات حتف انفه وهو ما بطنه من فوق فلو ظهره من فوق فلیس بطاف فیؤکل کما یؤکل ما فی بطن الطافی وما مات بحر الماء او برده وبربطه فیه او القاء شیء فموته بآفة وهبانیة.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی (قوله او القاء شیء) و کان یعلم انها تموت منه قال فی المنح او اکلت شیئا القاه فی الماء لتاکله فماتت منه وذلك معلوم ط. (ردالمحتار ص۳۰۳ ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۱ ربیع الاول ۱۳۹۹ هجری

د اوبو وچیدو له کبله چې کوم مهې مړ شی هغه حلال دې

سوال:- زمونږ د پنجاب په علاقه کښې په اوبو کښې اکثر مهیان راځی، او کله کله دا نهرونه وچ شی. نو آیا د اوبو د وچیدو له کبله چې کوم مهیان مړهٔ شی هغهٔ حلال دی او که حرام؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: حلال دی. والله سبحانه وتعالی اعلم.

۷ ربیع الاول ۱۴۰۰ هجری

قرش مهي حلال دي

سوال - یو سمندري مهي چې هغې ته په عربۍ کښې (قرش) وائي. او په المنجد کښې د هغې دا تعریف لیکلې شوې دې: **نوع من السمك يعرف بكلب البحر يقطع الحيوان بأسنانه كما يقطع السيف فأفه جميع دواب البحر.**

ددې نه علاوه کوم خلق چې د سمندر د حالاتو نه خبر دي د هغوی قول دې چې دې مهی باندې حیض راځي، او بله دا چې دا د نورو مهیانو په شان هګۍ نه اچوي بلکه دا بچي راوړي، دا مهي حلال دې او که حرام؟

حضرت مولانا عبدالحی رحمه الله په خپله فتاوی کښې د دې د حرمت قول نقل کړې دې، تاسو نه دا طمع لرو چې مونږ ته به صحیح لار ښودنه وکړئ. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: داسې قسمه تحقیقاتو کښې شرعاً او عقلاً د ماهرینو د فن قول فیصل کیدل پکار دي، د دې نوي وخت ماهرین د حیواناتو د مهي څلور علامې بیانوي:

۱- د ملا تیر.

۲- د ساه اخستلو غبارې (یعنی پوکنۍ)

۳- د لامبو بیوزې (وزرې).

۴- د ماحول مطابق د جسم درجه حرارت کمیدل او زیاتیدل.

دا علامات په قرش کښې موجود دي، د دې د صورت نه همدا واضحه کیږي، ددې وجې نه دا حلال دې، سره د دې نه د اختلاف د وجې نه احتیاط اولی دې. **والله سبحانه وتعالی اعلم.**

٤ جمادی الآخرة ١٤٠٠ هجری

جهینګا ((اربیان)) حرام دې

سوال:- د جهینګې په حقله ستاسو فتوی جاری شوې ده چې دا مکروه تحریمي ده، خو ولې د قرآني آیتونو، احادیثو، آثارو د صحابۀ کرامو رضی الله عنهم، تعامل د امت، د آئمۀ اربعه او د متقدمینو او متاخرینو علماؤ نه د دې د حرمت په حقله څه دلیل نۀ دې لیکلې شوې.

حال دا چې محشی د شرح وقایې د کالسمک په حاشیه باندې دا عبارت نقل کړې دې:

(بفتحتین یقال له بالفارسیة ماهی و هو بجمیع اقسامه حلال حتی الصغیر الذی یقال له جهینگا وغیر منجس موته فیه) (شرح وقایه ص، ج)

او حکیم الامة حضرت مولانا اشرف علی تهانوی نورالله مرقده په خپله فتاوی کښې د خان د پاره عدم د علم ظاهر کړې دې او ورسره ئې د جواز رجحان هم لیکلې دې.

او حضرت مولانا عبد الحی رحمه الله لیکلي دي
رجهینگا کومې ته چې اربیان هم وئیلې شی.لکه څنګه چې د صحاح نه مفهوم دې حلال دی خکه چې دا هم د مهی یو قسم دې،او مهی سره د خپلو ټولو انواعو په اتفاق سره حلال دې او کومو خلقو چې دې ته حرام وئیلې دی یا محض دا ئې د مهی د انواعو نه خارج ګڼلې دې.حالانکه دا سې نه ده.

. په حمادیه کښې دی :الدود الذی یقال له جهینګا حرام عند بعض العلماء لانه لا یشبه السمک فلما یباح عندنا من صید البحر انواع السمک وهذا لا یکون کذلک وقال بعضهم حلال لانه یسمی بالسمک والله اعلم

نوټ: په دې حقله څه دلیل نشته دې چې دا د مهی قسم دې او که نه.لهذا احتیاط اولی دې.
(مجموعة الفتاوی ص ۳ مصری)

ورسره نور هم فرمائی : بعضې فقهاء کرامو دا د مهی د قسم نه ندې شمارلې،بلکه دې ته ئې یو دریابی چینججې وئیلې دې او حرام ئې ورته وئیلې دی،او ځینی فقهاء کرامو رحمهم الله دا مهی ګڼلې دې، ددې وجې نه ئې ورته حلال وئیلی دی، څکه چې د احنافو ضابطه ده چې د مهی نه علاوه هیڅ یو دریابی څناور حلال نهٔ دې او د مهی هر قسم حلال دې۔

په منتهی الارب کښې دی : اربیان نوع ازماهی است که آنرا بهندی جهینگا میگویند .

او په صراح کښې دی : اربیان نوعی از ماهی است ـ مجموعة الفتاوی ص ۴۳۶ .

او دهدایې متن دې : لا بأس باکل الجریث والمارماهی

د دې په حاشیه کښې ئې لیکلې دی: (سمک اسود (ص ۳ ج ۳)

او په القاموس العصری کښې دی : برغوث البحر (PRAWAN) (انګلش عربی ص ۵۲۱)

او په الفرائد الدریه کښې دی: جریث (PRAWAN) (عربی انګلش ص ۳)

او په المنجد کښې دی : برغوث البحر القریدس (ص ۳) الجریث نوع من السمک (ص ۳)

او په هندې کښې دی : القریدس جلس سمک صغیر بقدر جرادة او اکبر قلیلا یشبهها (ص ۳)

او په المنجد اردو ،عربی کښې دی: برغوث البحر جهینګا مچهلی

د دې ټولو لغاتو نه دا هم ثابته شوه،چې جهینګا مهې کوم چې د جریث ترجمه ده حلال دې، کما فی الهدایه ومجموعة الفتاوی وغیرها.

د هدایې په شرح عین الهدایه کښې دی (جریث) کښې د حضرت علی رضی الله عنه نه اباحت صریح وارد

دي.رواہ فی الاصل ورواہ عن ابن عباس رضی اللہ عنہما ایضا) (ص س ج م)
او د اهلِ مصر فتوی ده. چې دا الذالسمک دي او د دې قیمت د هغوی په ملک کې دیرګران دې
بهرحال دا خو کیدې نۀ شی چې دا څیز دې نوي پیدا شوې وی.او په زمانه د خلف اوسلف.
متقدمینو او متاخرینو. آئمۀ اربعه،تابعینو او تبع تابعینو،کښې نوی موندې شوې، نو بیا ددې د
حرمت څه ثبوت کیدې شی؟
یواځې د ماهرینو رائې د احنافو په نیز معتبره نۀ ده.لکه څنګه چې په وختونو کښې د ماهرینو
قول معتبر نۀ دې،د عامة المسلمین قول معتبر دې،د ټولو نه لوئې دلیل په دې وخت کښې تعامل
د امت دې،کوم چې د حرمت نه خلاف دې. بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : ماهرینو د حیواناتو چې د مهی په تعریف کښې کوم څیزونه ذکر
کړې دی،په هغې کښې درې بالکل عام فهم دی :
۱- د ملا تیر.
۲- د سا اخستلو غبارې (یعنی پوکنۍ)
۳- د لامبو ببوزی (وزرې)
هر یو سرې په دې باندې پوهیږی چې په جهینګا کښې په دې دریو واړو کښې یو هم نشته دې،
د دې وجې نه ماهرین د حیواناتو ټول په دې خبره باندې متفق دی چې د جهینګې د مهې سره چرته
لرې تعلق هم نشته ،دا د مهی نه بالکل جدا یو چینجې دې.
د حیواناتو د ماهرینو دا فیصله ده چې : (که څوک خر ته انسان اووائی نو په دې باندې دومره
تعجب نۀ دې لکه څومره چې جهینګې ته په مهی وئیلو باندې پکار دې،څکه چې دحیوان په
تقسیم اولی کښې دوه قسمه دی،یو هغه چې د ملا تیر په کښې وی او بل هغه چې د ملا تیر په
کښې نه وی،کوم کښې چې د ملا تیر نه وی نو دا قسم په چینجو کښې داخل دې.لهذا جهینګا په
اولنی تقسیم کښې د مهی د جنس نه خارجیږی او د چینجو په جنس کښې داخلیږی، په خلاف د خر
چې هغه په اولنی تقسیم کښې د انسان سره شریک دې.

د نظر او عقل بدیهی فیصله : د ماهرینو د فن ددې اجماعی فیصلې نه علاوه دبداهت عقل او
نظر همدا فیصله ده.

(د جهینګې د مهی سره چرته د لرې تعلق هم نشته ، څکه چې د اتحاد د جنس د پاره په اعضاء
ظاهره او باطنه کښې تشابه او په خواصو او په آثارو کښې اتحاد ضروری دې.که چا ته د کل
اعضاء او خواصو په تشابه او د اتحاد په قول کښې اشکال وی نو کم نه کم په اکثرو اعضاء او
خواصو کښې دتشابه او د اتحاد د لزوم نه د انکار کولو زړه د متعنت نه علاوه بل څوک نۀ شی
کولې. په جهینګا او مهی کښې په هیڅ یو اندام کښې او په هیڅ یو خاصیت کښې هم تشابه د

اتحاد نشته ،د جهینګې د مار په شان پته غورخول او د دې د لرې د خټې په ګډې باندې کیدل هم د مهی په هیڅ یوه نوعه کښې نۀ شی موندلې.
په دنیا کښې ددې هیڅ یو مثال هم نشی وراندې کیدلې، چې دیو جنس د انواعو دې نۀ په خپلو کښې په څه اندام کښې تشابه وی او نۀ دې په څه خاصیت کښې اتحاد وی.
د جنس د اتحاد د ذکر کړې شوی معیار تجربه داسې کیدې شی : (چې یو سړې د یوجنس لکه د بکرۍ، غوا ، اوښ، خر،اس،پیشو،سپی،وغیره یو فرد یا د هغې تصویر اووینی،د هغې نه پس د دغه جنس کښې د یوې نوعې هم یو فرد یا د هغه تصویر مخې ته راشی نو سمدستی ئې اوپیژنی چې دا هم هغه جنس دې.
لیکن مهی ته کتونکې سړې چې جهینګا اووینی نو هغه چیرې هم دا باور نۀ شی کولې چې دا هم هغه جنس دې.
همدغه شان په عامو خبرو کښې هم د مطلق (مهی)اطلاق په جهینګې باندې نه کیږی، تر څو پورې چې دې سره د (جهینګا) قید ونۀ لګولې شی، صرف د لفظ جهینګې له مخې نۀ مفهومیږی، مثلا چا ته دې د مهی د راوړلو اووئیل او هغه جهینګا راوړو نو دا به خلاف امر ګڼلې کیږی.
ددې نه دا خبره معلومه شوه چې په عرف کښې د مهی او د جهینګې ترمینځه عموم او خصوص نشته دې بلکه د دې ترمینځه تباین او تقابل دې،لهذا په منجد کښې دی کوم ځائې کښې چې د مهیانو د انواعو تصویران ورکړې شوې دی،په هغې کښې د جهینګې تصویر نشته دې،او په بل ځائې کښې ئې صراحتاً هغې ته د سرطانِ بحری یوقسم وئیلې دی.
ونصه: اربیان و روبیان جلس سرطان بحری من القشریات العشاریة الاقدام و یعرف(بالقریدس)فیه اصناف عدیدة لذیذة الطعم (المنجد ص۷) . برغوث البحر نوع من القشریات العشاریة الاقدام تشبه هیئة البرغوث وتسمیه العامة(القریدس) (المنجد ص۳)
په کتابونو د لغت کښې جهینګې ته سمک یا ماهی یا مهې وئیل یا په عامو خبرو اترو کښې دې سره د مهی لفظ لګول څه دلیل نۀ دې.
لهذا سقنقور ته (ریګ ماهی) وئیلې شی.او حال دا چې دا د وچې ځناور دې.
او انسان سره مشابه سمندری ځناور ته (انسان ماهی) وئیلې شی.حال دا چې هغه انسان نۀ دې.
همدغه شان ((بن مانس (یعنی د بیزو یو غټ قسم چې دې))د هغې معنی ده (ځنګلی انسان) حال دا چې په هغې باندې انسانی احکام نۀ جاری کیږی.
همدغه شان جهینګې ته په جهینګه مهی وئیلو سره دا چینجې واقعتا مهی نۀ جوړیږی،او بیا بالخصوص دا چې هر سمندری ځناور باندې بیا د سمک او د ماهی اطلاق هم کیږی. کما سیاتی.

وجه د اشتباه : جهینګې ته د مهی د نوم ورکولو د غلط فهمۍ دوه سببه دی :

۱- لفظ د سمک او د ماهی هر سمندری ځناور ته وئیلې شی،ددې وجې نه جهینګې ته هم سمک او ماهی اووئیلې شو .

قال العلامة ابوزکریا النووی رحمه الله: ان الصحیح ان اسم السمک یقع علی جمیعها (المجموع ص۳۳ ج۹)

وقال العلامة شمس الدین الشهیر بالشافعی الصغیر رحمه الله تحت قوله (السمک منه حلال کیف مات و کذا غیره فی الاصح) مما لم یکن علی صورة السمک المشهور فلاینافی تصحیح الروضة ان جمیع ما فیه یسمی سمکا.

(نهایة المحتاج ص۱۳ ج۸)

وقال ایضا: واسم السمک یقع علی کل حیوان البحر حیث کان لا یعیش الا فیه واذا خرج منه صار عیشه عیش مذبوح وان لم یکن علی صورته المشهورة (نهایة المحتاج ص۱۴ ج۸)

وقال العلامة ابو الضیاء نور الدین القاهری رحمه الله تحت (قوله سرطان) بل هو مما یسمی سمکا لانطباق تعریف السمک السابق علیه فهو طاهر یحل الانتفاع به فی الادویة وغیرها (نهایة المحتاج ص۱۳ ج۸)

وفی المنجد: السمک الحیوان من خلق الماء ای المخلوق فیه (المنجد ص۳۵۱)

همدغه شان (ماهی) ماه په معنی د ماء ارخ ته منسوب دې،یعنی د اوبو مخلوق،ددې وجې نه دا د اوبو هر یو مخلوق ته شامل دې .

وفی لسان العرب: واصل الماء ماه والواحدة ماهة وماءة (لسان العرب ص۵۴۳ ج۱۳)

وفیه ایضا: والنسبة الی الماء مائی وماوی فی قول من یقول عطاوی وفی التهذیب: والنسبة الی الماء ماهی (حواله بالا)

وفیه ایضا: وهمزة ماء منقلبة عن هاء بدلالة ضروب تصاریفه علی ما اذکره الآن من جمعه وتصغیره فان تصغیره مویه وجمع الماء امواه ومیاه وحکی ابن جنی فی جمعه امواء (حواله بالا)

وفی المنجد: الماء: هو المائع المعروف (اصله موه) وتصغیره مویه والنسبة الیه مائی وماوی وماهی ج میاه وامواه (المنجد ص۷۸۰)

۲ - په مذاهب ثلاثه کښې د نورو سمندری ځناورو په شان جهینګا هم حلاله ده،او د دې د ځینی خواصو له کبله دا چینجې هغوی ته ډیر مرغوب دې،د دې وجې نه د مذاهب ثلاثه متبعین او د هغوی نه علاوه غیر مسلمین هم په کثرت سره دا خوری .

غرض د خبرې دا چې په دې باندې د سمک او د ماهی د اطلاق،د مذاهب ثلاثه د متبعینو او د

غیرمسلمو د بې دریغه حملې کولو، او بې د څه شک شبهې نه د دې په خوړلو باندې د تعامل کولو د وجې نه بعضې احنافو ته د دې مهی کیدلو اشتباه وشوه.

لکه څنګه چې د احرام د پرانستلو دپاره د نورو مذاهبو خلقو ته د کتلو د وجې نه د احنافو عوام هم صرف د دوو دریو ویښتو په پرې کولو باندې اکتفاء کوی. همدغه شان په بازار کښې د بکرۍ د هګۍ ورتیدلو او د خوړلو تعامل ته په کتلو باندې عوام دا حلال ګڼی.

همدا حال د جهینګې هم دې، البته دومره فرق دې چې په دې باندې د سمک او د ماهی د اطلاق له کبله بعضې اهل علمو ته هم په دې کښې اشتباه وشوه، بیا د هغوی نه نقل درنقل دا سلسله راروانه شوه، چا صرف په نقل باندې د اعتماد په ځائ د جهینګې صورت ته وکتل او دا فیصله ئې وکړه، نو دې ته ئې دود یعنی چینجې اوونیلو.

د رالیګلې شوی لیک تجزیه :-

قوله : د آنجناب فتوی جاری شوې ده چې د جهینګې مهی خوړل مکروه تحریمی دی، لیکن دقرآنی آیتونو، احادیثو، د صحابهٔ کرامو ﷺ د آثارو، د امت د تعامل، د آئمهٔ اربعه او د متقدمینو اومتاخرینو علماء کرامو نه د چا نه هم د دې په حرمت یا په کراهت باندې څه دلیل نهٔ دې لیکلې شوې.

اقول: د مدارِ حکم توضیح کافی ده، ددې وجې نه ما په دې باندې اکتفاء کړې ده، وړاندې د سمندری ښاورو په حکم کښې د څلورو واړو امامانو د اختلاف او د هغوی د مذهبونو د کتابونو په دلائلو کښې لیکلې شوې دی او دا د اهل علمو نه پټه نهٔ ده. سره ددې که دمحرر په خیال کښې د تحریر د دلائلو ضرورت وی نو هغه په خپله د دې استدراک په دې سوال کښې کړې دې، د سوال په تحریر کښې ټول دلائل راغلې دی، بعضې صراحتاً او بعضې التزاماً۔

د فتاوی حمادیې د زمانې نه واخله د حضرت حکیم الامت قدس سره پورې د دومره اوږدې زمانې علماؤ مختلف اقوال په سوال کښې درج دی، په دې کښې د «تعامل د امت او د متقدمینو او د متاخرینو علماؤ» بیان صراحتاً راغئ، بیا په دې ټولو اقوالو کښې چې کوم مدار د حکم لیکلې شوې دې، د هغې لاندې التزاماً د ائمهٔ اربعه ﷺ او د هغوی ټول دلائل د قرآن، حدیث او د صحابهٔ کرامو ﷺ د آثارو نه راغلل.

قوله صرف د ماهرینو رائې د احنافو په نیزد معتبره نهٔ ده لکه څنګه چې د وختونو په پیژندلو کښې د ماهرینو قول معتبر نهٔ دې.

اقول پیژندل د وختونو د مشاهدې نه کیدلې شی، د دې وجې نه بې د مشاهدې نه صرف د ماهرینو د فلکیاتو رائې معتبره نهٔ ده، د کوم امر تحقیق چې د ماهر فن په رائې باندې موقوف وی هلته شریعت د ماهر فن د اتباع حکم کړې دې، لکه بکارت، تداوی بالمحرم، د اوبو د ضرر د وجې

نه د تیمم جواز، په حالت د مرض کښې ترک د صوم، ونظائرها كثيرة مشهورة وفي كتب المذاهب مزبورة مسطورة وعن اولى مسكة من العلم غير مستورة.

د دې کلیې د لاندې چې د کوم یو حیوان په یو جنس کښې دخول یا عدم د دخول بدیهی وی په هغې کښې د ماهرینو د فن رائې معتبره نهٔ ده، لیکن چرته چې حالت مشتبه وی په هلته د ماهرینود حیواناتو په رائې باندې د عمل نه علاوه بله لاره نشته.

د فقهې په کتابونو کښې په مسائلو د حیواناتو کښې د ماهرینو د رائې مطابق د فیصلې کولو نصوص موجود دی.

پورته (د بداهت د نظر او د عقل فیصله) د لاندې د لاندینی تفصیل مطابق د جهینګې د مهی په جنس کښې عدم دخول بدیهی دې، د دې وجې نه په دې کښې د ماهرینو د فن اړخ ته رجوع ضرورت نهٔ وو، خو سره ددې مونږ د هغوی رائې تبرعاً و لیکله.

که بالفرض ماهرینو جهینګې ته مهې وئیلې وې نو دهغوی رائې به د عقل او د نظر د بداهت خلاف کیدلو د وجې نه مردوده وه.

قوله: د ټولو نه لوئې دلیل په دې وخت کښې د امت د تعامل دې کوم چې د حرمت خلاف دې.

اقول: ۱- د دې تعامل حقیقت او وجه د (وجې د اشتباه) دلاندې تیره شوه.

۲ - په خپله په رالیګلې شوی تحریر کښې د مختلف دور دعلماؤ مختلف اقوال ذکر کړې شوې دی، نو په دې باندې تعامل د امت څنګه وشو؟

۳ - د امت نه د محرر د ماحول امت مراد کیدې شی اوکه نه نو ډیر لوئې امت داسې دې چې هغوی په هیڅ صورت کښې هم د جهینګې مهی منلو ته تیار نهٔ دی، بلکه دا داسې یو کریه المنظر چنیجې ګڼی چې د دې د تصور نه په هغوی باندې غثیان طاری شی، د دې وجې نه سلیم الطبع خلق دا په حکم قرآنی (ويحرم عليهم الخبائث) کښې داخل ګڼی. والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۹ ربیع الاول ۱٤۰۵ هجری

د ملا چرګک ((هُدهُد)) حکم

سوال:- آیا د ملا چرګک خوړل حلال دی او که حرام؟ په عالمګیریه او طحطاوی کښې ئې حلال لیکلی دی، او په شامیه کښې ئې مکروه لیکلې دی. په هندیه کښې دی: اكل الخطاف والصلصل والهدهد لا بأس به لانها ليست من الطيور التي هي ذوات مخلب كذا في الظهيرية. (عالمگیریة ص۳۰۰ ج۵)

په حاشیة الطحطاوی کښې دی: ويؤكل القمري والسوادنق والزرزور والصلصل والهدهد والبوم والطاؤوس (طحطاوی علی الدر ص۱۶۳ ج۴)

او علامه شامی رحمه الله فرمائي: قال فی غرر الافکار: عدداً یوکل الخطاف والبوم ویکره الصرد والهدهد. (ردالمحتار ص۳۰۶ ج۱) ، عن ابن عباس رضي الله عنهما نهی رسول ﷺ عن قتل اربع من الدواب النملة النحلة والهدهد والصرد رواه ابوداود والدارمی

د دې حدیث د لاندې ملا علی قاری رحمه الله لیکی:

قال الخطابی انما جاء النهی فی قتل النملة عن نوع خاص منه وهو الکبار ذوات الارجل الکبار لانه قلیلة الاذی والضرر واما النحلة فلما فیها من المنفعة وهو العسل والشمع واما الهدهد والصرد فلتحریم لحمهما لان الحیوان اذا نهی عن قتله ولم یکن لاحترامه والضرر فیه کان لتحریم لحمه الا تری انه نهی عن قتل الحیوان لغیر ماکله ویقال ان الهدهد منتن الریح فصار فی معنی الجلالة (المرقاة ص ۱۴۹ ج ۸)

ملا علی قاری رحمه الله د دې حدیث نه د ملاچرګک په حرمت باندې استدلال کړې دې، حلت، حرمت، او کراهت کوم یو قول راجح دې او وجه دترجیح ئې څه ده؟بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د حاشیة الطحطاوی او د عالمګیریه عبارتونه په حلت د ملاچرګک باندې صریح دی، همدې ته به ترجیح وی.

د ملا علی قاری رحمه الله د دې حدیث نه استدلال کول محل د اشکال دې، ځکه چې د ملاچرګک د قتل نه د نهی علت احترام هم کیدې شی، او د فقهی نصوصو په موجودګئ کښې همدا د قیاس موافق دې، ددې د احترام وجه دا ده چې الله تعالی دا د حضرت سلیمان علیه السلام د خدمت د پاره غوره کړو، او دې د یو قوم د ایمان راوړلو سبب وګرځیدلو، د دې وجې نه په ټولو مارغانو کښې دۀ ته یو ځانګړې حیثیت حاصل دې ، بله دا چې ملا علی قاری رحمه الله قول د حلت هم ذکر کړې دې، و نصه:

وقیل یحل اکله لانه یحکی عن الشافعی رحمه الله وجوب الفدیة فیه وعنده لایفدی الا الماکول (المرقاة ص۱۵۰ ج۸)

علامه ابن عابدین رحمه الله چې د غرر الافکار نه کوم کراهت نقل کړې دې، هغه هم ددې احترام له کبله په کراهت تنزیهیه باندې محمول کیدلې شی. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۰ رجب ۱۴۰۰ هجری

زیز ((یوقسم چینجې)) حرام دې

سوال: یو وروکې شان ځناور دې د کوم نوم چې په منجد کښې زیز لیکلې شوې دې، دا د سپرلې په آخره کښې پیدا کیږی، او تقریبا دوه هفتې پس مړ شی، په وونو باندې اوسیږی او تیز آواز اوباسی، ددې د غذا په حقله معلومه نده چې څه شی دی آیا دا حلال دې اوکه نه؟بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په لغت کښې د زیز او د جراد (یعنی ملخ) د تعریف او د جراد د قسمونو د کتلو نه دا خبره معلومیږی چې زیز د جراد نه د یو جدا جنس چینجې دې. لهذا دا حلال نه دې؟

په زيز او جراد کښې په لاندينو امورو کښې فرق دې:

۱ - جراد د مستقيمة الاجنحه (يعنی د پوره وزرو) د قبيلې نه دې او زيز د نصفية الاجنحه د قبيلې نه دې.

۲ - زيز د تيز آواز ويستونکو حشراتو نه دې او جراد داسې نۀ دې.

۳ - زيز د هغه حشراتو نه دې چې د هګو نه د ماشی يا د چينجې په شکل کښې راوځی.او د دې نه پس دا بيا خپل اصل شکل اختياروی.او جراد په خپل اصلی شکل کښې د هګئ نه راوځی. په جديدو تحقيقاتو کښې د دې تصريح موجوده ده.

۴ - زيز د بوټو عرق يعنی رس څښی او جراد د بوټو پاڼې خوری.

قال فی المنجد: جرادة ج جراد(ح):دويبة من مستقيمات الاجنحة انواعها عديدة تختلف باختلاف الشكل منها ما يكثر ويغزو المزروعات والاشجار بحيث لا يبقی علی شیء(المنجد ص۸۰)

وقال فی الافصاح:الجراد و انواعه الجراد: معروف وجنس حشرات مضرة من فصيلة الجراديات و رتبة مستقيمات الاجنحة واحدته:جرادة تقع علی الذكر والانثی،سمی بذلك لانه يجرد الارض و ياكل ما عليها جرد الجراد الارض يجردها جردا: اكل ما عليها من النبات،و جرد الزرع:اصابه الجراد فهو زرع مجرود و ارض مجرودة و جردة كذلك وقيل:ارض مجرودة: كثيرة الجراد

العُنظاب: العُنظاب،والعُنظب والعُنظوب،والعُنظبان:الجراد الضخم،او الذكر الاصفر من الجراد

الجُندُب: الجُندُب والجندَب:ذكر الجراد وقيل:مثل الصغير من الجراد وقيل:نوع من الجراد يصر (يصوت) ويقفز ويطير،الجمع:جنادب. الجُخدُب:الجُخدُب والجخادب:الذكر من الجراد.العُنظُوانة:الانثی من الجراد

العَرادة:الجرادة الانثی-

الليلسانة:الانثی من الجراد والجمع:الدبلسان.

السِّلقة:الجرادة التی القت بيضها.

البُصاق:لعاب الجراد

الجَرَقَم:جراد احمر الرؤس سود

القمل:قيل صغار الجراد:وقيل:شیء صغير له جناح احمر.(الافصاح ص۸۰۶ ج۲)

وقال فی المنجد: زيز:۱_ الزيز ج زيزان (ح): حشرة من فصيلة الزيزيات و تبة نصفيات الاجنحة. راسه كبير واجنحتها طويلة. تحط علی جذول الشجر وتسمع صوتا صر صريا كانها تقول (زيز) فسميت به (المنجد ص۳۲)

وقال ایضا: (مستقیمات الاجنحة (ح) حشرات یتقارب جناحاها عند الاستراحة منها انواع کثیرۃ قلها قوائم قویة تساعدها علی القفز مثل الجراد

(نصفیة الاجنحة) (ح) حشرات من ذوات الاربعة اجنحة تتدرج من البیضة الی البعوضة قبل ان تصل الی شکلها النهائی تعیش من نسغ النباتات الجناحیة (المنجد ص ۲۰) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۰ رجب ۱٤۰۰ هجری

د شیعه، قادیاني وغیره زندیقانو ذبیحه حرامه ده

سوال: شیعه،آغاخاني،او د قادیاني وغیره گمراهو فرقو د ذبیحو څه حکم دې ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: شیعه، قادیاني،آغاخاني،ذکری،پرویزی،انجمن دیندارا ن او ددې قسمه چې نورې کومې فرقې دی کوم چې د کافر کیدلو باوجود ځان ته مسلمانان وائی،په اسلام کښې په تحریف کولو سره خپل کفری عقائد په توګه د اسلام ظاهروی،او ددې اشاعت کوی، دا ټول زندیقان دی، د دوئ ذبیحه حرامه ده .

ددې زندیقانو د احکامو تفصیل کتاب الایمان والعقائد او باب البغاة کښې دې، او زیات تفصیل ئې بیا په کتاب الحظر والاباحة کښې دې۔ واللہ هو الهادی الی سبیل الرشاد

غرة ذی الحجه ١٤١٤ هجری

که په وخت د ذبحې که بسم الله وئیل ترې نه هیر شو نو ذبیحه ئې حلاله ده

سوال:- که د ذبحې په وخت کښې ئې بسم الله هیره شوه نو دا ځناور به حلال وی او که نه؟ که چیرې به مینځ کښې یا په آخره کښې ئې رایاد شی نو بیا بسم الله وئیل ضروری دی او که نه؟ بینواتوجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که چیرې بسم الله ترې نه هیره شوه نو بیا ئې هم ذبیحه حلاله ده،که د رګونو د پرې کولو نه وړاندې ورته رایاد شو نه بسم الله وئیل ضروری دی،که ددې نه وروستو ورته رایاد شو نه ضروری نۀ دی۔

قال فی التنویر وشرحه: وتارک تسمیة عمدا خلافا للشافعی رحمه الله فان ترکها ناسیا حل خلافا لمالک رحمه الله.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله (قوله خلافا لمالک کذا فی اکثر کتبنا الا ان المذکور فی مشاهیر کتب ملهبهم انه یسمی عند الارسال وعند الذبح فان ترکها عامدا لا یوکل علی المشهور وناسیا یوکل غرر الافکار (ردالمحتار ص ج) والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۲ جمادی الثانیة ۱۳۸۹ هجری

آس مکروه تحریمي دی

سوال - آس حلال دي او که حرام؟بعضي ورته مکروه وائي.د مکروه کيدلو په صورت کښې به دا مکروه تحريمي وي او که مکروه تنزيهي به وي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د مفتى به قوله په بنياد سره آس مکروه تحريمي دي

قال في التنوير وشرحه: ولا يحل ذوناب يصيد بنابه فخرج نحو البعير او مخلب يصيد بمخلبه اى ظفر فخرج نحو الحمامة من سبع بيان للذى ناب والسبع كل مختطف منتهب جارح قاتل عادة او طير بيان للذى مخلب ولا الحشرات هي صغار دواب الارض واحدها حشرة والحمر الاهلية بخلاف الوحشية فانها ولبنها حلال والبغل الذي امه حمارة فلو امه بقرة اكل اتفاقا و لو فرسا فكامه والخيل وعندهما والشافعي ﷺ تحل وقيل ان ابا حنيفة رحمه الله رجع عن حرمته قبل موته بثلاثة ايام وعليه الفتوى عمادية ولا بأس بلبنها على الاوجه

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله و عليه الفتوى)فهو مكروه كراهة تنزيه و هو ظاهر الرواية كما في كفاية البيهقي و هو الصحيح على ما ذكره فخر الاسلام و غيره قهستاني ثم نقل تصحيح كراهة التحريم عن الخلاصة والهداية و المحيط و المغنى وقاضيخان و العمادى و غيرهم و عليه المتون و افاد ابو السعود انه على الاول لاخلاف بين الامام و صاحبيه ﷺ لانهما و ان قالا بالحل لكن مع كراهة التنزيه كما صرح به في الشر نبلالية عن البرهان قال طوالخلاف في خيل البراما خيل البحر فلايؤكل اتفاقا (رد المحتار ص۳ ج۵)

والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۷ جمادى الثانية ۱۳۸۹ هجرى

د اسپې او د ځنګلي خر د يو ځائ کيدو نه چې کوم بچې پيدا شو هغه مکروه تحريمي دې

سوال:- که چيرې اسپې د ځنګلي خر نه خر راوړلو نو د هغه غوښه حلاله ده او که حرامه؟ په ځنګلي او د کور په خر کښې څه فرق دې؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : په حيواناتو کښې بچې د مور تابع وي.لهذا دا بچې د اسپې په حکم کښې د کيدلو د وجې نه به مکروه تحريمي وي.

ځنګلي خر کوم ته چه حمارِ وحش او ګورخر وائي دا حلال دې،دا خر په دې ملک کښې نه وي

والله سبحانه وتعالى اعلم ۲ ذى الحجه ۱۳۹۸ هجرى

د ذبح کولو طریقه

سوال - څناور څنګه ذبحه کول پکار دی؟ بینواتوجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب د ذبحه کولو طریقه دا ده چې قبلې ته به ورله مخ کړې شی او سم دې څملولې شی او تیره چاړه دې په لاس کښې واخستې شی او بسم الله. الله اکبر دې اووئیلې شی او دا چاړه دې ورله په مرئ باندې رابنکلې شی. تر دې پورې دې پرې چاړه راکاږی چې څلور رګونه ئې پرې شی. یو ګرګرو (حلقوم) چې څناور پرې سا اخلی. دویم هغه رګ په کوم باندې چې خوراک څښاک دننه څی. او دوه نور رګونه کوم چې دګرګرو (حلقوم) نه ښی او ګس اړخ ته وی. که په دې څلور رګونو کښې درې رګونه پرې شی نو بیا هم ذبح صحیح ده. او ددې خوراک بیا حلال دی. البته که دوه رګونه ئې پرې شو نو بیا دا څناور مردار دې. ددې خوړل روا نهٔ دی

قال فی التنویر وشرحه: وعروقه الحلقوم والمری والودجان وحل بقطع ای ثلاث منها.

وقال ایضا: وندب احداد شفرته قبل الاضجاع (ردالمحتار ص۲۰۰ ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۳ شوال ۱۳۹۴ هجری

قنفذ (شکون) حرام دې

سوال - قُنفُذ یعنی شکون د کوم په جسم چې اوږده اوږده غشی وی دا حلال دې او که حرام؟ په حقیقت کښې په ده کښې د حرام والی هغه شرطونه نشته کوم چې د فقهې په کتابونو کښې ذکر کړې شوې دی. بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب سیه یعنی شکون د خبائثو نه دې ددې وجې نه دا حرام دې. ستاسو په خیال کښې دحرمت هغه یو علت دې کوم چې په نولی وغیره کښې موندې شی لیکن په شکون کښې نهٔ شی موندلې والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۵ رجب ۱۳۹۶ هجری

په وخت د ذبحې کښې بسم الله په عربئ کښې وئیل ضروری نهٔ دی

سوال - آیا په وخت د ذبحې کښې بسم الله په عربئ کښې وئیل ضروری دی یا په بله ژبه کښې ئې هم وئیلې شي؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب بسم الله عربئ کښې وئیل ضروری نهٔ دی. لان الفقهاء رحمهم الله لم یشترطوا العربیة ولو کان لذکروه

قال فی الخانیة: رجل سمی وذبح وقال بسم الله بنام خدای وبنام محمد صلی الله علیه وسلم قال الشیخ الامام ابوبکر محمد بن الفضل رحمه الله تعالی ان اراد الرجل بذکر اسم النبی صلی الله علیه وسلم تبجیله وتعظیمه جاز ولا بأس به وان اراد به الشرکة مع الله تعالی لا تحل الذبیحة. (خانیة بهامش الهندیة ص۳۰ ج۳)

قلت لما افادات شرکة الغیر بغیر العربیة التحریم فتعبیر التسمیة ایضا بغیر العربیة والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۳ جمادی الثانیة ۱۳۹۷ هجری

په څاروو کښې اووه څیزونه حرام دي

سوال:- په حلال څاروی کښې څو څیزونه حرام دي، او هغه کوم کوم څیزونه دي؟ او کوم کوم څیزونه مکروه دي؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: اووه څیزونه په کښې حرام دي: ۱- روانه وینه ده ۲- د مذکر د متیازو ځائ ۳- خصیتین ۴- د مونث د متیازو ځائ ۵- غدود ۶- مثانه ۷- تریخې.

قال فی الهندیة: واما بیان ما یحرم اکله من اجزاء الحیوان سبعة الدم المسفوح والذکر والانثیان والقبل والغدة والمثانة والمرارة کذا فی البدائع (عالمگیریة ص۲۹۰ ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۷ ربیع الاول ۱۳۹۸ هجری

د ذبیحې او د ذابح دواړو قبلې ته مخ کیدل سنت مؤکده دی

سوال:- په وخت د ذبحې د څاروی کښې قبلې اړخ ته مخ کول مستحب دی او که سنت موکده؟ بله دا چې د ذابح د پاره څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: ذبیحې له د قبلې اړخ ته مخ کول او د ذابح په خپله هم قبلې اړخ ته مخ کول دواړه کارونه سنت مؤکد دی.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: وکره ترک التوجه الی القبلة لمخالفة السنة.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله لمخالفة السنة) ای المؤکدة لانه توارثه الناس فیکره ترکه بلا عذر اتفاقی (ردالمحتار ص۳۰۰ ج۵)

وقال العلامة الطوری رحمه الله: ویکره ان یذبحها موجهة لغیر القبلة لمخالفة السنة فی توجیهها للقبلة وتوکل (تکملة البحر ص۱۰۰ ج۸)

وقال فی الهندیة: والسنة فی الشاة والبقر ان یذبح کل منهما مضجعا لانه امکن لقطع العروق ویستقبل القبلة فی الجمیع کذا فی الجوهرة النیرة (عالمگیریة ص۲۸۸ ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۰ جمادی الثانیة ۱۳۹۷ هجری

په وخت د ذبحه کښې ئې که تول خټ پریک شو نو د هغې حکم

سوال: که په وخت د ذبحې کښې د چرګ خټ پرې شی نو څه حکم ئې دې؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: قصداً داسې کول مکروه دی،او بې د قصد نه که داسې وشی نو په دې کښې څه کراهت نشته دې،او غوښه ئې په هر صورت کښې مکروهه نۀ ده۔ واللہ سبحانہ وتعالی اعلم۔

۲۷ ربیع الاول ۱۳۹۸ هجری

د کافر د دکان نه د غوښې اخستلو حکم

سوال: په عوامو کښې مشهوره ده چې د غوښې نه علاوه هر څیز چې تر څو پورې درته هغه ناپاکه نۀ وی ثابت شوې نو هغه پاک دی،د غوښې په حقله چې تر څو پورې دا تحقیق ونۀ شی چې ذبیحه چا مسلمان په اسلامی طریقې سره ذبحه کړې ده او د ذبحه کیدلو نه تر خرڅولو پورې څوک مسلمان ددې نګهبان پاتې شوې دې نو دا به ناپاکه ګڼلې کیږی،په بعضې ځایونو کښې دا رواج دې چې د هندوانو یو قوم د چیلو (وزو) د غوښې کاروبار کوی،دغه خلق چیلۍ (وزې) په مسلمانانو باندې ذبحه کوی، او د ذبحه کولو له وخت نه د خرڅولو تر وخته پورې یو مسلمان مستقل په دکان باندې موجود وی، آیا شرعاً دا ضروری دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په غوښه کښې اصل حرمت دې، د دې حلت په بعضو شرطونو باندې موقوف دې، ددې وجې نه د ذبحې د وخت نه واخله د خرڅولو تر وخته پورې د چا مسلمان نګرانی ضروری ده۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: وفی التتارخانیة قبیل الاضحیة عن جامع الجوامع لابی یوسف رحمه الله من اشتری لحما فعلم انه مجوسی واراد الرد فقال ذبحه مسلم یکره اکله اهـ ومفاده ان مجرد کون البائع مجوسیا یثبت الحرمة فانه بعد اخباره بالحل بقوله ذبحه مسلم کره اکله فکیف بدونه تأمل (ردالمحتار ص ۳۰ ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم۔

۲۳ شعبان ۱۳۹۸ هجری

د ښځې ذبیحه حلاله ده

سوال: د ښځې ذبیحه حلاله ده او که نه؟ څه کراهت خو په کښې نشته دې؟بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: بې د کراهته حلاله ده۔ واللہ سبحانہ وتعالی اعلم۔

۲۳ شوال ۱۳۹۸ هجری

د داسې چرګې حکم کومې باندې چې حرامه غوښه خوړلې شوې وی

سوال:- د مردارو ځناورو غوښه په تپ (حرارت) باندې پخه کړې شی او د مشینونو په ذریعه میده کړې شی او بیا وچه کړې شی او میده پوډر تړې نه جوړ کړې شی.او دا بیا د چرګو په خوراک کښې استعمالولې شی.کله کله په دې غوښه کښې د سپې غوښه هم وی.آیا د دې چرګو غوښه خوړل حلال دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : د داسې چرګې غوښه حلاله ده،که په خوراک کښې ئې غالب حرام وی نو ښه خبره دا ده چې داسې چرګه دې درې ورځو پورې بنده کړې شی،او حلاله غذا دې ورې وخوړلې شی،او بیا دې ذبحه کړې شی،البته که دحرامې غذا او د نجاست د خوړلو د وجې نه د چرګې په غوښه کښې بدبوئې پیدا شوې وی،نو دا دومره مودې پورې بندول پکار دی او خوراک ورکول پکار دی چې د دې دا بدبو زائله شی،که د بدبوئې د زائله کولو نه وړاندې ذبحه کړې شوه نو ددې غوښه به بیا حلاله نهٔ وی.واللّٰه سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۲۳ شوال ۱۳۹۸ هجری

د ټیوس وغیره ویشتل

سوال: حرام ځناورلکه ټیوس وغیره په ټوپک سره شوقیه ویشتل روادی او که نه؟ بینواتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : ټیوس او د کارغهٔ په شان دضررناکو ځناورو ویشتل دثواب کار دې،او که په نیت د جهاد د نښې د ویشتو د مشق په غرض ئې ولی نو بیا خو نور هم دثواب کار دې، لیکن د ویشتو نه پس ئې په ټوپونو وهلو کښې پریښودل روا نهٔ دی،داسې طریقه دې اختیار کړې شی چې زر تر زره تړې نه سا وځی.

عن عائشة رضی اللّٰه عنها ان النبی ﷺ قال:خمس فواسق یقتلن فی الحرم الفارة والعقرب والحدیا والغراب والکلب العقور.(صحیح البخاری ص۳۰ ج۱)واللّٰه سبحانه وتعالیٰ اعلم ۸ ذی القعده ۱۳۹۸ هجری

د مذبوح ځناور د خیټې نه د راوتونکی بچی حکم

سوال:- د مذبوح ځناور د خیټې نه مړ بچې راو وتلو، نو آیا د هغې خوړل حلال دی او که حرام؟ د ذکاة الجنین ذکاة امه څه مطلب دې؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : دا حرام دې،د ذکاة الجنین ذکاة امه مطلب دادې چې د بچی د ذبحې هم هغه طریقه ده کومه طریقه ئې چې د مور د ذبحې ده.

قال فی شرح التنویر:وفی منظومة النسفی قوله ان الجنین مفرد بحکمه.لم یتلك بذکاة امه لحذف المصنف ان وقالا ان تم خلقه اکل لقوله علیه الصلوة والسلام ذکاة الجنین ذکاة امه و حمله الامام علی التشبیه ای

كذا كالامه بدليل انه روی بالنصب وليس فی ذبح الام اضاعة الولد لعدم التيقن بموته (ردالمحتار ص ۳۰۳ ج ۵)

والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۱ ربیع الثانی ۱۳۹۹ هجری

بگلا (یعني وینګ) او شارک (یوقسم مارغه) حلال دی

سوال:- د بګلې دوه قسمه دی ،یو قسم خو ئې بالکل سپین دې او د دویم وزرې داسې خړبخونې غوندې وی، دا دواړه قسمونه چینډخ وغیره خوری، بعضې په کښې چرګې وخوری، البته د کارغهٔ په شان ئې د خوراک په وخت کښې نهٔ شلوی،صرف په مخوکه باندې ئې خوری،آیا دا حلال دې او که حرام ؟

د شارک هم دوه قسمه دی،د یو مخوکه سره وی او د دویم مخوکه زیړه وی،دا دواړه قسمه د چرګې په ګندګی وغیره کښې مخوکه وهی،آیا دا هم د چرګې په شان درې ورځو پورې بند کړې شی او که نه همداسې ښکار کړې شی نو خوراک ئې روا دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د بګلې او د شارک دواړه قسمه حلال دی،درې ورځو پورې د بندولو ضرورت یې نشته دې . **والله سبحانه وتعالی اعلم.** ۲۲ ذی الحجه ۱۳۹۹ هجری

د حرام او د حلال ځناور د معلومولو اصول

سوال:- د حلال او دحرام ځناور د معلومولو څه اصول دی؟ برابره خبره ده که ځناور وی او که مارغهٔ وی. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : کوم ځناور چې ښکار کوی او هغه خوری یا د هغوی خوراک فقط نجاست وی هغه حرام دی.لکه زمرې، شرمخ، ګیدړ، پیشو، سپې، بیز، شکرې، باز، تپوس وغیره اوکوم چې داسې نهٔ وی هغه حلال دی.لکه طوطی،ښارو،کوړکوړه،مرغئ،مرز،زانې، کونتره ،ځنګلی غوا،اوسی، بطخه ،سوه وغیره **والله سبحانه وتعالی اعلم** ۲۲ ذی الحجه ۱۳۹۹ هجری

اومه (خامه) غوښه خوړل

سوال:- د حلال ځناور اومه غوښه خوړل حلاله ده او که مکروه ده ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : ددې دحلت او دحرمت مدار په ضرر باندې دې،که چیرې اومه غوښه خوړل دصحت دپاره ضرری وی نو بیا حرامه ده او که ضرری نهٔ وی نو بیا حلاله ده.د ضرر او دعدم ضرر تحقیق دې له طبیب نه وکړې شی. **والله سبحانه وتعالی اعلم.** ۱۰ محرم ۱۴۰۰ هجری

د اهل کتابو ذبیحه

سوال:- ددې زمانې یهود او نصاری ځان ته اهلِ کتاب وائی،د دوی لوئې لوئې راهبان موجود دی،کوم چې د خپلو عوامو د تعلیم او تربیت په تکل کښې دی،دعبادت پاره ئې باقاعده ګرجې جوړې کړې دی، په کومې کښې چې د هغوی عوام او خواص عبادت کوی،نکاح،جنازه او نور کارونه د خپل مذهب مطابق ادا کوی،دا څیزونه دوی ته د اهل کتاب وئیلو دپاره کافی دی،لهذا د دوی ذبیحه او د اهل کتابو د ملکونو نه راتلونکې غوښه حلالیدل پکار دی اوکه نه ؟

د دې زمانې د اهل کتابو په حقله په عامه توګه دا اشکالات ذکر کولې شی:

۱ - ددې زمانې اکثر اهل کتاب دهریان دی.

۲ - څناور په اسلامی طریقې سره نهٔ حلالوی.

۳ - بسم الله نه وائی.

جواب: د اولنی اشکال جواب دا دې چې داسې خو په مسلمانانو کښې هم د داسې خلقو کمې نشته دې چې هغهٔ دهریان، زندیقان،او ملحدین دی،او کوم خلق چې شپه او ورځ کفریه کلمات وائی هغه بې حده او حسابه دی،ددې باوجود په اسلامی ملکونو کښې د بازار غوښې ته بې د څه شک او شبهې نه حلاله وئیلې شی،صرف په دې بنا چې دا د مسلمانانو ملک دې، تر څو پورې چې د یو ذابح په حقله د دهٔ د غیرمسلمه کیدلو څه قطعی دلیل نهٔ وی نو همدا به ګڼلې کیږی چې دا چرته د یو صحیح العقیده مسلمان ذبیحه ده.

همدغه شان که د اهل کتابو په حقله دا ومنلې شی چې په دوی کښې اګرچه ډیر خلق دهریان شوې دی لیکن ټول خو داسې نهٔ دی،د تعمق او د علتونو د لټولو نه پس د حقیقت معلومولو کوشش کول څنګه چې په اسلامی ملکونو کښې روا نهٔ دی دغه شان داهل کتابو په ملکونو کښې هم روا نهٔ دی.ابهموا ماابهم الله

د دویم او ددریم إشکال جواب همدا دې چې د مسلمانانو قصابانو په حقله ډیرې خبرې راروانې دی چې هغوی د ذبحې په وخت کښې کنځل کوی،او کیف ما اتفق چاړهٔ راکاږی یو څناور په ترقیدو کښې پریږدی او د دویم په ذبح کولو باندې شروع وکړی،لیکن څو پورې چې د چا په حقله په غیر اسلامی طریقې سره د ذبحې کولو یا په قصد سره د تسمیې پریښودلو یقین نهٔ وی شوې نو د هغهٔ ذبیحې ته حلاله وئیلې شی.

د فقهې په کتابونو کښې تصریح موجوده ده،چې یو کتابی مذبوح څناور راوړی نو د هغې خوړل حلال دی.او همدغه شان که یو اهل کتاب د مسلمان په وړاندې ذبحه وکړی او دې ترې نه تسمیه وانه وری نو بیا هم حلاله ده.البته که د مسلمان په وړاندې د ذبح کولو په وخت کښې د غیر

الله نوم واخستې شی یعنی مسلمان هغه په وخت د ذبحه کښې د غیر الله د نوم په وئیلو باندې واوریدلو نو دا ذبیحه حرامه ده.

قال فی التنویر: وشرط کون الذابح مسلما حلالا خارج الحرم ان کان صیدا او کتابیا ذمیا اوحربیا.

وقال الامام الحصکفی رحمه الله: الا اذا سمع منه عند الذبح ذکر المسیح. (ردالمحتار ص۲۰۸ ج۵)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: وفی التتارخانیة قبیل الاضحیة عن جامع الجوامع لابی یوسف رحمه الله من اشتری لحما فعلم ان مجوسی واراد الرد فقال ذبحه مسلم یکره اکله اهـ ومفاده ان مجرد کون البائع مجوسیا یثبت الحرمة فانه بعد اخباره بالحل بقوله ذبحه مسلم کره اکله فکیف بدونه تامل (ردالمحتار ص۲۱۱ ج۵)

وقال العلامة الطوری رحمه الله: قال فی العنایة الکتابی اذا اتی بالذبیحة مذبوحة اکلنا فلو ذبح بالحضور فلا بد من الشرط وهو ان لا یذکر غیر اسم الله (تکملة البحر ص۱۶۸ ج۸)

وقال ایضا: وفی شرح الطحاوی وذبیحة اهل الکتاب انما توکل اذا اتی بها مذبوحة وان ذبح بین یدیك فان سمی الله تعالی لا باس باکلها وکذا اذا لم یسمع منه شیء وان سمی باسم المسیح وسمعه منه فلا یوکل (تکملة البحر ص۱۶۹ ج۸)

وقال الامام الکاسانی رحمه الله: ثم انما توکل ذبیحة الکتابی اذا لم یشهد ذبحه ولم یسمع منه شیء او سمع وشهد منه تسمیة الله تعالی وحده لانه اذا لم یسمع منه شیئا یحمل علی انه قد سمی الله تبارك وتعالی وجرد التسمیة تحسینا للظن به کما بالمسلم ولو سمع منه ذکر اسم الله تعالی لکنه عنی بالله عزوجل المسیح علیه الصلوة والسلام قالوا توکل لانه اظهر تسمیة هی تسمیة المسلمین الا انه اذا نص فقال بسم الله الذی هو ثالث ثلاثة فلا تحل وقد روی عن سیدنا علی رضی الله عنه قد احل الله ذبائحهم وهو یعلم ما یقولون فاما اذا سمع منه انه سمی المسیح لا توکل ذبیحته کذا روی سیدنا علی رضی الله عنه ولم یروعنه غیره خلافه فیکون اجماعا (بدائع الصنائع ص۴۶ ج۵)

ددې نه علاوه د امام شافعی رحمه الله په نیز باندې چې په کوم یو ځناور باندې په قصد سره تسمیه پرینبودلې شی هغه حلال دې، دې ته د خرق اجماع وئیلو څه حیثیت حاصل دې؟

پورته د ذکر کړې شوې تفصیل مطابق د اهل کتاب ملکونو نه راغوښتلې شوې غوښې کښې د خوراک ګنجائش پکار دې اګر چې احتیاط په کښې اولی دې.

تاسو نه دا طمع لرو چې دا لیک به په غور سره وګورئ او ددې اصلاح به اوفرمایئ، بینوا بیانا شافیا توجروا اجرا وافیا.

الجواب باسم ملهم الصواب قال العلامة الالوسی رحمه الله: والحق عندی ان المسالة اجتهادیة و لموبع

الاجماع غیر مسلم ولو کان ما عرفه الامام الشافعی رحمه الله واستدلاله علی مدعاه علی سمعت لا یخلو عن معانة (روح المعانی ص ج)

وقال الامام النووی رحمه الله: (فرع) فی مذاهب العلماء فی التسمیة علی ذبح الاضحیة وغیرها من الذبائح وعلی ارسال الکلب والسهم وغیرهما الی الصید

مذهبنا انه سنة فی جمیع ذلک فان ترکها سهوا او عمدا حلت الذبیحة ولا اثم علیه قال العبدری وروی هذا عن ابن عباس وابی هریرة وعطاء وقال ابو حنیفة التسمیة شرط للاباحة مع الذکر دون النسیان وهذا مذهب جماهیر العلماء وعن اصحاب مالک قولان (اصحهما) کمذهب ابی حنیفة (والثانی) کمذهبنا وعن احمد ثلاث روایات (الصحیحة) عندهم والمشهورة عنه ان التسمیة شرط للاباحة فان ترکها عمدا او سهوا فی صید فهو میتة (والثانیة) کمذهب ابی حنیفة (والثالثة) ان ترکها علی ارسال السهم ناسیا اکل وان ترکها علی الکلب والفهد لم یوکل قال وان ترکها فی ذبیحة سهوا حلت وان ترکها عمدا فعنه روایتان وقال ابن سیرین وابو ثور وداود لا تحل سواء ترکها عمدا او سهوا هذا نقل العبدری وقال ابن المنذر عن الشعبی ونافع کمذهب ابن سیرین قال وممن اباح اکل ما ترکت التسمیة علیه ابن عباس وابو هریرة وسعید بن المسیب وطاؤس وعطاء والحسن البصری والنخعی وعبد الرحمن بن ابی لیلی وجعفر بن محمد والحکم وربیعة ومالک والثوری واحمد واسحق وابو حنیفة رحمه الله (المجموع ص ج)

وقال ایضا: (فرع) ذبیحة اهل الکتاب حلال سواء ذکروا اسم الله تعالی علیها ام لا لظاهر القران العزیز هذا مذهبنا ومذهب الجمهور وحکاه ابن المنذر عن علی والنخعی وحماد بن سلیمان وابی حنیفة واحمد واسحق وغیرهم فان ذبحوا علی صنم او غیره لم یحل قال ابن المنذر وقال عطاء اذا ذبح النصرانی علی اسم عیسی فکل فقد علم الله انه سیقول ذلک وبه قال مجاهد ومکحول وقال ابو ثور اذا سموا الله تعالی فکل وان لم یسموه فلا تاکل وحکی مثله عن علی وابن عمر وعائشة قال ابن المنذر واختلفوا فی ذبائحهم لکنائسهم فرخص فیه ابو الدرداء وابو امامة الباهلی والعرباض بن ساریة والقاسم بن مخیمرة وحمزة بن حبیب وابو مسلم الخولانی وعمر بن الاسود ومکحول وجبیر بن نفیل واللیث بن سعد وکرهه میمون بن مهران وحماد والنخعی ومالک والثوری واللیث وابو حنیفة واسحق وجمهور العلماء ومذهبنا تحریمه وقد سبق ذلک فی باب الاضحیة وقالت عائشة لا تاکله

(فرع) ذکرنا ان مذهبنا تحریم ذکاة نصاری العرب بنی تغلب وتنوخ وبهراء وبه قال علی بن ابی طالب و

عطاء وسعید بن جبیر و اباحها ابن عباس و النخعی و الشعبی و عطاء الخراسانی والزہری والحکم و حماد و ابو حنیفۃ واسحق بن راہویہ وابو ثور دلیلنا ما ذکرہ المصنف

(فرع) ذبائح اہل الکتاب فی دار الحرب حلال کذبائحہم فی دار الاسلام و ہذا لاخلاف فیہ ونقل ابن المنذر الاجماع علیہ (المجموع ص ج۹)

وقال العلامۃ القرطبی رحمہ اللہ :السادسۃ .واما ذبیحۃ نصاری بنی تغلب و ذبائح کل دخیل فی الیہودیۃ والنصرانیۃ فکان علی رضی اللہ عنہ ینہی عن ذبائح بنی تغلب لانہم عرب ویقول انہم لم یتمسکوا بشیء من النصرانیۃ الا بشرب الخمر و ہو قول الشافعی و علی ہذا فلیس ینہی عن ذبائح النصاری المحققین منہم و قال جمہور الامۃ ذبیحۃ کل نصرانی حلال سواء کان من بنی تغلب او غیرہم و کذلک الیہودی واحتج ابن عباس رضی اللہ عنہما بقول تعالی (ومن یتولہم منکم فانہ منہم) فلو لم تکن بنو تغلب من النصاری الا تولیہم ایاہم لا کلت ذبائحہم. (الجامع لاحکام القرآن ص ج۶)

وقال الامام الاجل ابن العربی رحمہ اللہ : وقد قلت لشیخنا ابی الفتح المقدسی: انہم یذکرون غیر اللہ فقال لی ہم من اباہم وقد جعلہم اللہ تعالی من کان قبلہم مع علمہ بحالہم (احکام القرآن ص ج۲)

وقال الشیخ محمد بن یوسف ابو حیان رحمہ اللہ :والظاہر حل طعامہم سواء سموا علیہ اسم اللہ ام اسم غیرہ وبہ قال عطاء والقاسم بن مخیمرۃ والشعبی وربیعۃ و مکحول واللیث وذہب الی ان الکتابی اذا لم یذکر اسم اللہ علی الذبیحۃ وذکر غیر اللہ لم تؤکل وبہ قال ابو الدرداء وعبادۃ بن الصامت وجماعۃ من الصحابۃ وبہ قال ابو حنیفۃ وابو یوسف ومحمد وزفر ومالک وکرہ النخعی والثوری اکل ما ذبح واہل بہ لغیر اللہ (البحر المحیط ص ج۳)

وقال القاضی محمد ثناء اللہ العثمانی رحمہ اللہ : **مسالۃ** : لو ذبح یہودی علی اسم عزیر و نصرانی علی اسم عیسی لا یحل اکلہ عندنا قال فی الکفایۃ انما یحل ذبیحۃ الکتابی فیما اذا لم یذکر وقت الذبح اسم عزیر او اسم المسیح و اما اذا ذکر فلا یحل کما لا یحل ذبیحۃ المسلم اذا ذکر وقت الذبح اسم غیر اللہ تعالی لقولہ تعالی وما اہل بہ لغیر اللہ لان حال الکتابی فی ذلک لا یکون اعلی من حال المسلم.

وقال البغوی اختلف العلماء فی ہذہ المسالۃ قال ابن عمر لا یحل وذہب اکثر اہل العلم الی انہ یحل وہو قول الشعبی وعطاء والزہری ومکحول سئل الشعبی و عطاء عن النصرانی یذبح باسم المسیح قال یحل فان اللہ تعالی قد احل ذبائحہم وہو یعلم ما یقولون وقال الحسن اذا ذبح الیہودی او النصرانی فذکر اسم غیر اللہ تعالی و

التسمية فلا تأكلوا اذا غاب عنك فكل فقد احل الله ذلك

قلت والصحيح المختار عندنا هو القول الاول يعني ذبائح الكتابي تاركا للتسمية عامدا او على غير اسم الله تعالى لا يؤكل ان علم ذلك يقينا او كان غالب حالهم ذلك وهو محمل النهي عن اكل ذبائح نصارى العرب ومحمل قول علي رضي الله عنه لا تأكلوا من ذبائح نصارى بني تغلب فانهم لم يتمسكوا من النصرانية بشيء الا بشربهم الخمر فلعل عليا رضي الله عنه علم من حالهم انهم لا يسمون الله عند الذبح او يذبحون على غير اسم الله تعالى فكذا حكم نصارى العجم ان كان عادتهم الذبح على غير اسم الله تعالى غالبا لا يؤكل ذبيحتهم ولا شك ان النصارى في هذا الزمان لا يذبحون بل يقتلون بالوقذ غالبا فلا يحل طعامهم (التفسير المظهري ص۲۰ ج۳)

د ذكر كړې شوو تحريراتو نه دا امور ثابتيږي :

۱- د امام شافعي رحمه الله قول حلت متروك التسميه عمدا ته خرقِ اجماع وئيل محل د نظر دې، د داسې جليل القدر امام نه د اجماع مخالفت كول د قياس موافق نۀ دی، د دوی نه وړاندې هم د ډيرو صحابۀ كرامو رضي الله عنهم د تابعينو او د مذهب د امامانو رحمهم الله نه دا قول منقول دې.

۲ - بعضې شوافعو هغه ذبيحې ته مكروه وئيلې دی په كومې باندې چې قصدا تسميه پريښودلې شی.

د دې نه مراد د هغې كراهتِ تنزيهيه دی، لان كراهة التحريم تنافي الحلة وهي ثابتة عندهم بلا خلاف على انهم يذكرون درجة كراهة التحريم بين الحرام و كراهة التنزيه كما يذكرون درجة الواجب بين الحرام والمستحب

۳ - د بنو تغلب غونډې د نوم نصارى ذبيحې ته حضرت علی رضي الله عنه حرام وئيلې دی ليكن جمهور يې د حلت قائله دی.

۴ - چې نصراني په وخت د ذبح كښې د حضرت عيسى عليه السلام نوم واخستلو نو هم عند البعض ذبيحه حلاله ده ، ځكه چې د هغوی په عقيده كښې د الله تعالى او د حضرت عيسى عليه السلام مصداق هم يو دې، كه الله يې اووئيلو نو هم عيسى مراد دې او كه عيسى ئې اووئيلو نو هم ترې نه مراد الله دې، ددې وجې نه برابره خبره ده كه د الله تعالى نوم ئې واخستلو او كه د عيسى عليه السلام نوم ئې واخستلو په هر حال كښې ذبيحه حلاله ده .

د دوی دا دليل خو قوی معلوميږی ليكن سره د دې نه هم جمهور دې ته حرام وائي .

۵ - كتابي عمداً د الله تعالى نوم پريښودلو، ليكن د غير الله نوم ئې وانخستلو، نو ددې په حلت كښې هم اختلاف دې، عند الجمهور حلال دی .

ددې نه ثابته شوه چې عمداً په تسمیه پرېښودلو کښې د مسلم د فعل په نسبت فعل د کتابي اهون دې، عندالجمهور اول حرام دې او ثاني حلال دې.

ددې نه علاوه متروک التسمية جاهلا حلال دې، ورسره دا چې علم د اهليت د ذابح شرط نه دې (ردالمحتار)

ما دپاکستان نه واخله د روم (اټلي) پورې دنصاری د مشهورو مرکزونو نه نيغ په نيغه تحقيق وکړو نو ثابته شوه چې هغوی د ذبحې په وخت کښې نه بسم الله وائي او نه د حضرت عيسی ﷺ نوم اخلي.

د ذکر کړې شوې تفصيل مطابق په داسې صورت کښې خه گنجائش وو ليکن د تحقيق نه ثابت شو، چې هغوی د اسلامي طريقې مطابق ذبحه ضروري نۀ گني، په هره طريقه چې وی وژل ئې کافي گني، او دا د هغوی معمول دې، چرگ ئې ونيولو، څټ ئې ورله تاو کړلو او رائې ښکلو او بيل ئې لرې کړلو ترې نه بس دا کافي دی.

لهذا د هغوی ذبيحه يا موقوذه حرامه ده.

په سوال کښې د مسلمانانو د ملکونو په حقله چې کوم حالات ليکلې شوې دی، هغه صرف احتمالات دی، يا بس داندازو يو څو جزئيات دی، او د اهل کتابو په ملکونو کښې دا عمومي واقعات او حقيقتونه دی. فاعتبروا والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۷ رجب ۱۴۱۵ هجری

بسم الله الرحمن الرحيم

الذكاة ما بين اللبة واللحيين (الحديث)

الجوهرةُ الفردَة

في

حكم الذبح فوق العقدة

((د مرۍ د غوټې نه پورته ذبح کړې شوې څاروی حلالوالي د حدیث، فقهي، عقل او تجارب فیصله))

الجوهرة الفردة

دتالیف تاریخ ـــــــ ۲۸ ذی الحجه ۱۳۷۲ هجری

اولنۍ طبع ـــــــ ۲۳ جمادی الثانیه ۱۳۷۹ هجری

د بحث سرټکی:

- د مستحلینو او د محرمینو دلائل
- د علامه ابن عابدین رحمه الله توقف
- د حضرت حکیم الامت قدس سره توقف
- په امداد المفتیین کښې اختیار کړې شوې توقف
- د حضرت مؤلف دامت برکاته رحمه الله مشاهده او د هغې مطابق د حلت فتوی
- د حضرت سهارنپوری قدس سره مشاهده او د هغې مطابق دحلت فتوی
- د حضرت حکیم الامة قدس سره د توقف نه رجوع او د حلت فتوی

د مرئ د غوټې نه بره د ذبح کولو دحکم تحقیق

سوال . آیا د مرئ دغوټې نه بره په ذبح کولو سره ذبیحه حرامیږی او که نه؟په وضاحت سره په دې لره رڼا واچوئ او مونږ له د شکریه ادا کولو موقع راکړئ. **بینوا بالبراهان توجروا عندالرحمن**

الجواب باسم ملهم الصواب : په دې حقله د فقهاء کرامو ﷺ اختلاف دې : مستحلین دعموم د حدیث **(الذکاة ما بین اللبة واللحیین)** او د فقهې په کتابونو کښې د مبسوط د عبارت : **(الذبح ما بین اللبة واللحیین)** نه استدلال کوی.

اودحرمت قائلین دحدیث **(الفرالاوداج ماشئت)** نه تخصیص کوی،ځکه چې اوداج اسم جمع دې چې اقله درجه ئې درې دی،او د ذبحې فوق العقده سره درې رګونه نهٔ پرې کیږی لهذا دا حرامه ده.

د جامع الصغیر عبارت : **(لا بأس بالذبح فی الحلق کله وسطه واعلاه و اسفله)**. او د تنویر الابصار عبارت **(وذکاة الاختیار ذبح بین الحلق واللبة)**. هم ددې مرسته کوی،ځکه چې د عقدې (یعنی غوټې) نه پورته حلق نشته دې . **(الحلق فی الاصل الحلقوم کما فی القاموس ای من العقدة الی مبدا الصدر)(ردالمحتار ج۶)** لهذا د حرمت د قائلینو خیال دې چې حدیث : **(الذکاة ما بین اللبة واللحیین)** اود مبسوط عبارت **(الذبح ما بین اللبة واللحیین)** د تحت العقده سره مقید دې.

مستحلین وائی چې د ذبحې فوق العقده سره رګونه منقطع شی،او د جامع الصغیر او د تنویر عبارتونو هم ذبح فوق العقده لره شامل دی،ځکه چې د(حلق)اطلاق په ما فوق العقده باندې هم کیږی و **کلام الصحاح والکافی وغیرهما یدل علی ان الحلق یستعمل فی العنق بعلاقة الجزئیة فالمعنی بین مبدا الحلق ای اصل العنق کما فی القهستانی(ردالمحتار ج۶)**

په خپله د جامع الصغیر عبارت : **(لا بأس بالذبح فی الحلق وسطه واعلاه واسفله والاصل فیه قوله علیه الصلوة والسلام الذکاة ما بین اللبة واللحیین)** په دې خبره باندې ښه ښکاره دلیل دې چې د حلق لفظ مافوق العقده ته شامل دې

د ذکر کړې شوی تفصیل نه معلومیږی چې د اختلاف مبنی صرف دا امر دې چې په ذبحې فوق العقده سره رګونه پرې کیږی او که نه

علامه شامی رحمه الله هم د دیر بحث او د تمحیص نه پس همدا لیکلې دی چې د تجربې د خاوندانو نه معلومول غواړی. یا په خپله مشاهده کول غواړی چې رګونه ورسره پرې کیږی او که نه.

په امداد المفتیین او امداد الفتاوی کښې هم همدا مضمون دې.چا څه فیصله نهٔ ده کړې

ما د ذبحه کړي شوي غوا سر راوغوښتلو او مشاهده مې وکړه نو معلومه شوه چې حلقوم او مرئ دواړه په عقده باندې ختم شي. د فوق العقده په ذبحه کولو سره نۀ منقطع کيږي

د دې نه په ظاهره د قائلينو د حرمت مرسته کيږي، ددې وجې نه چې : د امام مالک رحمه الله په نيز څلور واړه رګونه حلقوم، مرئ، او ودجين قطع کول شرط دي

د امام شافعي او احمد رحمهما الله تعالى په نيزد صرف دمرئ او د حلقوم قطع کول ضروري دي

او د امام ابو يوسف رحمه الله په نيزد د حلقوم، مرئ او د احدالودجين پرې کول واجب دي

امام محمد رحمه الله فرمائي چې په څلورو رګونو کښې د هريو اکثره حصه پرې شي نو دا کافي دي

د امام اعظم رحمه الله نه يو روايت دامام محمد رحمه الله د روايت مطابق دې، او دامام صاحب رحمه الله مختار او مفتی به قول دا دې چې بې د تعيين کولو نه د درې رګونو پرې کول ضروري دي

غرض د خبرې دا چې د امام صاحب رحمه الله د قول مختار نه علاوه تول امامان رحمهم الله او په خپله امام صاحب رحمه الله هم په يو روايت کښې د حلقوم او د مرئ پرې کول ضروري بولي، او د قول مختار او مفتی به مطابق هم کم نه کم درې رګونه پرې کول شرط دي، او په ذبح فوق العقد کښې صرف ودجين پرې کيږي، حلقوم او مرئ نۀ منقطع کيږي، لهذا مذبوح فوق العقده په اتفاق سره حراميدل پکار دي . ليکن د ژور نظر کولو نه بعد معلوميږي چې په ذبحې فوق العقده سره به هم څلور واړه رګونه پرې شي، کوم چې په څو وجوهو سره ثابتيدې شي :

۱- د قطعې نه مراد (قطع العروق من وسطها) نۀ دې، بلکه ددې نه مراد قطع من الراس او الصدر دې

قال المقدسی لم يحصل قطع واحد منهما ممنوع بل خلاف الواقع لان المراد بقطعهما فصلهما عن الراس او عن الاتصال باللبة اهـ (ردالمحتار ج ۵)

او د ذبح فوق العقدې نه انفصال العروق الاربعة عن الراس مراد دی

۲ . که د قطع نه هم (قطع العروق من وسطها) مراد واخستې شي نو بيا به هم حلقوم او مرئ د ذبح فوق العقده په صورت کښې منقطع کيږي، حلقوم د دې وجې نه چې حلق اګر چې حقيقةً په عقده باندې ختميږي ليکن د حلق او د حلقوم د لفظ په مافوق العقده باندې هم اطلاق کيږي، لکه څنګه چې مونږ پورته بيان وکړو.

په اشتراط د قطعې د حلقوم کښې د حلقوم په عموم باندې څو قرينې دي

۱۔ حديث الذكاة ما بين اللبة واللحيين.

۲ – عبارة الجامع الصغير: لا بأس فى الحلق كله وسطه واعلاه و اسفله الاصل فيه قوله عليه الصلوة والسلام الذكاة ما بين اللبة واللحيين.

۳ - د مبسوط عبارت: الذبح ما بين اللبة واللحيين
٤ - د قطعې د حلقوم نه مقصد توحية اخراج الروح دې او دا مقصد د مافوق العقده د قطعې نه هم حاصليږي.

او د ذبح فوق العقدې سره مرئ ددې وجې نه منقطع شی چې په عقده باندې حلقوم او مرئ دواړه متحد شی،او ما فوق العقده چې کوم سورې دې هغه د مرئ او د حلقوم د دواړو مجموعه ده، او د دواړو کار ورکوی،د نفس او د خوراک د دواړو مجری همدا دې، لهذا د دې قطع د مرئ په مقطع باندې شامل دې،د مرئ د قطعې انقطاع به هله لازميدله چې د مرئ سورې د عقدې سره بالکل بند شوې وې،او مافوق العقده چې کوم سورې دې په هغې کښې به نۀ وې شامل.

غرض د خبرې دا چې مافوق العقده کوم سورې دې هر کله چې هغه مرئ ته شامل دې،او د مرئ کار هم ورکوی،او ددې په پرې کولو سره به هغه مقصد هم حاصل شی کوم چې د مرئ په پرې کولو سره مقصود دی.يعنی قطع مجری النفس للتوحية فی اخراج الروح خو څه وجه هم نشته چې د عدم انقطاع د مرئ قول دې وکړې شی،او په ذبحه کښې تحت العقده شرط د خپل اړخه زيات کړې شی، حال دا چې په کلام الله او په کلام الرسول ﷺ کښې چرته هم ددې قيد نشته دې.

د (الذكاة ما بين اللبة واللحيين) عموم په دې باندې دال دې چې په ذبحه ما فوق العقده کښې هغه تول رګونه پرې شی د کومو پرې کول چې ضروری دی.

لهذا ذبيحه فوق العقده په اتفاق د ټولو امامانو ﷺ حلاله ده.

که بالفرض د مرئ مستقلا د پرې کولو ضرورت ومنلې هم شی، نو بيا هم د امام صاحب رحمه الله په مفتی به او مختار قول باندې درې رګونه يعنی حلقوم او ودجين بايد پرې شی.

۳ - که فرضِ محال چيرې حلقوم او مرئ دواړه دعقد پورې محدود تسليم کړې شی.او په مافوق العقده کښې په دواړو کښې يو هم تسليم نۀکړې شی، نو بيا هم د حديث نه د فوق العقده ذبيحې حلت ثابت دې. ځکه چې الذكاة ما بين اللبة واللحيين عموم دې لره شامل دې.او (افر الاوداج) د دې منافی نۀ دې.ځکه چې د اوداج اقله درجه ثلاثه ده،او درې رګونه فوق العقده هم موجود دی، او يو هغه سورې کوم چې مجری د نفس او د علف دې او ودجين

په حديث کښې مطلقا د درې رګونو ذکر دې.دحلق او د مرئ نوم په کښې نشته.د عروقو نه داسې عروق مراد دی د کومې د قطعې نه چې توحية فی اخراج الروح وانهار الدم وی

پس که په مافوق العقده باندې د حلق او مرئ اطلاق هم ونۀ شی نو بيا هم په هر حال رګ خو موجود دې. د کومې قطعه چې د توحية فی اخراج الروح باعث دې. لهذا دفوق العقده په حالت کښې

د عروق ثلاثه دمنقطع کیدلو د وجې نه ذبیحه حلاله ده. فقط وهذا ما جاء فی فهمی هذا الفقیر والعلم عند الله اللطیف الخبیر.

رشید احمد		۲۸ ذی الحجه ۱۳۷۲ هجری

الحاق

ددې تحریر نه تقریباً شپږ کاله پس ۳۰ رمضان ۱۳۷۸ هجری کښې په امداد الفتاوی کښې د حضرت مولانا خلیل احمد صاحب سهارنپوری رحمه الله مشاهده او فتوی د بنده (یعنی مفتی رشید احمد صاحب) د فتوې او مشاهدې مطابق ومو ندل شوه، د حضرت حکیم الامة رحمه الله آخری فیصله هم ددې مطابق لیکلې ده، فالحمد لله علی ذلك، دامداد الفتاوی دا پوره مضمون لاندې لیکلې شوې دې.

سوال: جناب مولانا مولوی محمد اشرف علی صاحب سلمکم الله تعالی،

السلام علیکم و رحمة الله! مطلب که آنچه درباره مذبوحه فوق العقده فتوی او شان باشد ازان مطلع فرموده باشند و از مولانا خلیل احمد صاحب نیز جواب خواستانیده شده است، واز مدرسه دیوبند شریف نیز جواب باین الفاظ: (اقول بالله التوفیق: حل المذبوح فوق العقدة هو الراجح روایة و درایة ـ فقط والله تعالی اعلم، کتبه الاحقر عزیزالرحمن عفی عنه مفتی دارالعلوم دیوبند). آمده است اکنون آنچه بنظر او شان موجب شریعت غراء آمده است ارسال داشته باشند تا عندالله ماجور و عندالناس مشکور بوده باشند.

نقل د تحریر د حضرت مولانا خلیل احمد صاحب مدظله العالی:

مکرم محترم جناب حاجی شیرمحمد شاه صاحب سلمکم الله تعالی، ستاسو عزت نامه سره د تحریر د فریقینو مسئله ذبح فوق العقده راورسیدله، په دې مسئله کښې ماته د ډیرو کلونو نه د تحقیق اتفاق شوې دې، او ما د دې دتحقیق دپاره په خپله دغوا سر راغوښتې دې او مشاهده مې کړې ده. زما په نیزد محرمین څوک چې دا وائی: (که چیرې ذبح فوق العقده وی نو حلقوم او مرئ به په کښې نۀ قطع کیږی، دا صحیح نۀ دې، منشا د دې عدم تجربه ده، وګورئ حلقوم به په عقده باندې نۀ ختمیږی، بلکه د سر اړخ ته د عقدې نه بره پورې تلې دې لهذا دا دعوی: (که ذبح فوق العقده واقع شوې وی، نو حلقوم او مرئ به نۀ وی قطع شوې وی)

دا نهایته د تعجب خبره ده، او دا یو داسې قول دې چې ددې مرسته نۀ د کتاب الله نه کیږی او نۀ د حدیث د رسول الله ﷺ نه ددې مرسته کیږی، بلکه حدیث (الذکاة ما بین اللبة واللحیین) په خپله ددې مصدق دې، ددې په حقله چې څومره روایات مولانا محمد سعد الله صاحب انصاری مفتی د خیر پور لیکلې دی هغه کافی او شافی دی، ما ته ددې نه د زیاتو دلیکلو حاجت نشته دې، لیکن صرف ستاسو د اطمینان د پاره د امام شمس الائمه [illegible] ط نه یو څه نقل کوم:

وان نحر البقرة حلت ويكره ذلك كما بينا ان السنة في البقر الذبح قال الله تعالى ان الله يأمركم ان تذبحوا بقرة وفي الابل السنة فيه النحر وهذا لان موضع النحر من البعير لا لحم عليه وما سوى ذلك من حلقه عليه لحم غليظ فكان النحر في الابل اسهل فاما في البقر اسفل الحلق واعلاه في اللحم عليه سواء كما في الغنم فالذبح فيه ايسر والمقصود تسييل الدم والعروق من اسفل الحلق الى اعلاه فالمقصود يحصل بالقطع في اي موضع كان منه فلهذا حل وهو معنى قوله صلى الله عليه وسلم الذكاة ما بين اللبة واللحيين ولكن ترك الاسهل مكروه في كل جنس لما فيه من زيادة ايلام غير محتاج اليه (مبسوط جزء ۱۲ كتاب الذبائح)

الجواب من اشرف علی :

د حلت او د حرمت د دوارو قولونو د اختلاف مبنی صرف دا ده چې په ذبح فوق العقده کښې حلقوم او مرئ قطع کیږی او که نه،لهذا دا امر د مشاهدې متعلق دې،د مشاهدې نه پس په دې کښې د اختلاف گنجائش نشته دې ،او مشاهده د قطعې د ثقاتو د روایت نه محقق شوې ده ددې وجې نه به د حلت حکم پرې لگولې کیږی، څه موده وشوه چې احقر ددې د حرمت فتوی د فقهې د کتابونو نه نقل کړې وه،د هغې نه رجوع کوم۔ ۲۳ ذی قعده ۱۳۳۹ هـ (ترجیح خامس ص ۱۲۲)

بسم الله الرحمن الرحيم

((اُحِلَّ لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ وَمَا عَلَّمْتُمْ مِّنَ الْجَوَارِحِ (القرآن))

حرمة المقعاص برميةِ الرصاص

،،د توپک د ښکار د حلت په حقله د یو تحریر جواب د قرآن د آیتونو نه، د حدیث نه، د فقهې او د دلائلو عقليه نه د حرمت اثبات،،

د توپک په ښکار باندې مفصل بحث

سوال:- په دې مسئله کښې احقر ته په خپله تردد دې، په لاندینو دلیلونو باندې تاسو نظر واچوئ او مونږ د خپلې رائې نه خبر کړئ، او نفس دلائلو لاندې **فانظر الى ما قال ولا تنظر الى من قال** په موجب خپله رائې قائمه کړئ.

آیا د توپک ښکار به د مرمی بالسهم په حکم کښې راوستې شي او په معهودو شرطونو باندې به ورته حلال وئیلې شي او که نه؟ باوجود د دې چې لاندینی دلائل د دې په حلت باندې دال دی.

۱- **قل احل لکم الطیبت وما علمتم من الجوارح مکلبین تعلمونهن مما علمکم الله فکلوا مما امسکن علیکم واذکروا اسم الله علیه الایة.**

د جوارح ماده جرح ده. او هم ددې تفسیر د لاندې حضرت امام ابو حنیفة رحمه الله د سپي په ښکار کښې د زخم او د وینې راوتلو شرط لګوی، د کومې نه چې معلومه شوه چې په ذبح اضطراری کښې مدار د حل په خروج د دم باندې دې، او دا خبره په توپک کښې په درجه د کمال سره موندې شي.

۲- حدیث د حضرت عدی بن حاتم رضی الله عنه د معراض په حقله رسول الله ﷺ فرمائی: **کل ما خزق وما اصاب بعرضه فقتل فانه وقیذ فلا تاکله (بخاری ج ص)** منجد کښې دی: **خزقه بالرمح طعنه طعنا خفیفا.** او خرق په توپک کښې په ښه طریقه سره موندې شي.

۳- **ما انهر الدم وذکر اسم الله فکل لیست السن والظفر الحدیث (بخاری ج۲)**

دا حدیث په ذبحه اختیاری کښې دې. په دې کښې د سن یعنی د غاښ او د ظفر یعنی د نوک د استثناء نه معلومیږی. چې په ذبح اختیاری کښې د انهار الدم نه علاوه خصوصیت د آلې ته هم دخل شته. په خلاف د اضطرار چې هلته خصوصیت د آلې معتبر نه دې. مدار د حل فقط انهار الدم دې. **بای آلة کان** څکه که د سپې یا د باز د غاښونو یا د نوکونو نه چیرې **عند القدرة علی الذکاة الاختیاریة** د یو حیوان ودجین اومرئ او حلقوم پرې هم کړل نو بیا هم حرام دی. او عند الاضطرار

مثلا د ښکار په وخت کښې هم په دې غابنونو او نوکونو کوم چې د سپې یا د باز دی که چیرې خروج د دم وشي نو حلالیږي

دا خبره معلومه شوه چې په ذبحه اختیاری کښې خروج الدم مع خصوصیة الآلة وي، او په ذبحه اضطراری کښې فقط خروج الدم کافي وي، البته دا خبره ضرور معلومیدل پکار دی چې مرګ د جرح او د خروج الدم دواړو اړخ ته منسوب وي، دق او ثقل اړخ ته منسوب نهٔ وي، کمایدل علیه لفظ الجوارح فی کتاب الله

که چیرې دق او ثقل موجب د موت وي نو باوجود د دې چې لړه وینه ترې نه هم تلې وي دا به حلال نهٔ وي، صرح به قاضیخان فی فتاواه وسائر الفقهاء رحمهم الله

صاحب د هدایې یوه قاعده لیکلې ده : والاصل فی هذه المسائل ان الموت ان کان مضافا الی الجرح بیقین کان حلالا وان کان مضافا الی الثقل بیقین کان حراما وان وقع الشك ولا یدری مات بالجرح او بالثقل کان حراما احتیاطا (کتاب الصید)

اوس دا کتل دی چې په ټوپک کښې اګر چې زخم او انهار الدم کامل دې، آیا دا دلته دا مرګ مضاف الی الثقل و الدق دې که نهٔ دې؟

د تجربې او د مشاهدې نه داخبره ثابته ده، چې د ټوپک ګولئ چې لګی نو په دغه وخت کښې بیخی نه محسوسیږي، ځوک چې په دې ګولئ ولګی نو چې تر څو پورې ئې وینه نهٔ وی لیدلې یا د زخمونو نه بې دمه شوې نهٔ وی نو پته ورته نهٔ لګی چې زه په ګولئ لګیدلې یم، دا عجیبه دق او ثقل دې چې څوک پرې ولګی نو هغه ته دا محسوسیږي هم نه ، بلکه دا خو د دې په ډیر زیاتې تیزئ باندې دلالت کوي.

دا هم د مشاهدې نه ثابته ده چې یوه تخته که داسې ودرولې شی چې که معمولی غوندې لوټه باندې ئې وه ولې نو هم راغورځیږي، که چیرې همدا تخته، تهٔ په ټوپک باندې وه ولې نو ګولئ ترې نه بل اړخ ته وځی لیکن دا تخته به راونهٔ غورځیږي.

که چیرې دا دق عنیف وی لکه څنګه چې علامه شامی رحمه الله په کتاب الصید کښې لیکلې دی نو بیا به د تختې ودریدل څنګه ممکن وو. دا خبره معلومه شوه چې په ټوپک کښې مرګ د زخم او خروج الدم اړخ ته مضاف دې.

۱- په شامی جلد ۵ کتاب الذبائح کښې دی : وفی المنح عن الکفایة ان سال بها الدم تحل وان لم یسل لا

هر کله چې ذبحه اختیاری بالنار صحیح ده کما تدل علیه هذه العبارة نو داضطراری جواز به په طریقهٔ اولی وي.

دا هم تجربه ده چې هر كله كولئ د انگار په شان سره وي نو هغه وخته پورې د دې رفتار برابر وي، چې څنگه دا يخه شي بس وغورځيږي، په اوبو كښې بالكل دا ورانډې نه څي.
داخبره معلومه شوه چې كله ځناور په گولئ باندې لگې نو په دغه وخت كښې دا د انگار په شان سره وي، چې په دې كښې تيزه والې او تپ (حرارت) وي، نو دا به د اخراج الدم په حكم كښې وي، اوكه نه نوچې كله يخه شي نو په نفسِ دق او ثقلِ محض سره حيوان بالكل نه شي وژلې. كما هو مشاهد
۵- د حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله په نيزد قتل بالمثقل كښې قصاص واجب نه دې، د زخمي كوونكې آلې كيدل ضروري دي، ليكن د دې باوجود په هدايه وغيره كښې دي چه كه په سنجات ميزان سره څوك اووهلې شي او زخمي كړې شي او وينه ئې ترې نه راوه ويستله نو موجب د قصاص به وي.

باوجود د دې چې دغلته د وجې د ما يندرء بالشبهات نه احتياط ددې په ساقطيدو كښې دې نه په وجوب كښې، او دلته اضطراري ذبح او سهم او ښكاري ځناور كښې د زخمي شوې ځناور حلت رخصت دې، او رخصت كښې تساهل في الشروط منظور نظر كيدل پكار دي.
دا دليل نه دې فقط تبرعا پيش كړې شو.
۶- د رسول الله ﷺ په زمانه كښې په غشي، معراض، سپي او په باز وغيره سره دښكار كولو عادت وو، د دې وجې نه تسهيلاً بشرط الجرح په دې څيزونو د ښكار كړې شوي ځناور د حلت حكم وركړې شو. د (وما علمتم) نزول وشو.

(ولو طعنت في فخذها لاجزاء عنك) رواه الترمذي ارشاد وشو.

باوجود د دې چې په دې څيزونو كښې القدرة على الذكاة الاختيارية غالب الحصول وي، سمدستي مرگ په دوى كښې نه وي، بلكه دا چې اخراج الدم په كښې هم ناقص وي.
او اوس خو د كونترې نه واخله تر هوسئ پورې چې څومره ښكار دي دا په ټوپك سره كيږي، القدرة على الذكاة الاختيارية شاذ او نادر په لاس راځي، او اخراج الدم په كښې هم كامل وي.

نو ددې ضرورتِ شديده باوجود تمييز الدم المسفوح باكمل وجه وهو المقصود ته چې حرام اوونيلې شي نو ددې معنى به دا وي چې د دې زمانې خلق دې د خدائې پاک د رخصت نه فائده وانخلي.
دا خبره صحيح ده چې بې وجې د جديدو آلاتو او د نوې زمانې سره په احكامو كښې ترميم كول الحاد او زندقه ده، او د فقهاء كرامو رحمهم الله د عبارتونو او د اشاراتو خلاف يو حكم نافذ كول هم د فتنې نه خالي نه دې، ليكن د شرعي دليلونو په موجودگئ كښې د فقهاء كرامو رحمهم الله د مقرر كړې شوو اصولو دلاندې په يو مسئله باندې غور او فكر نه كول به هم قابل د ملامتيا وي.

او یا په توپک کښې خو یواځې د ګولۍ او د چرې په ذریعه ښکار نهٔ کیږي. بلکه د څوکه دارې ګولۍ څوکه د مقراض د څوکې نه څه کمه خو نهٔ وی، تول په یو حکم کښې راوستل به څنګه صحیح شي.

دا خیالات مې د خپل پورته ذکر کړې شوو دلیلونو لاندې ولیکل، تاسو په دې باندې غور وکړئ او جواب راله راکړئ، بلکه تاسو به مغربی پاکستان علماء کنونشن ته هم ضرور تشریف راوړئ ستاسو به ډیر مهربانی وی، ستاسو شرکت په دې کښې ډیر زیات ضروری دې،دلته په ملاقات کښې به تفصیلی خبرې او په مسائلو کښې به د خیالاتو تبادله هم وشی د دې وجې نه تاسو ضرور راشئ-والسلام

محمود عفاالله عنه مفتی مدرسه قاسم العلوم ملتان

الجواب و منه الصدق والصواب : ستا د تحریر مواد تقریبا هم هغه دې کوم چې د مودودی صاحب د تحریر دی کوم چې په رسائل و مسائل کښې په اولنۍ حصه کښې په ص ۱۰۲ باندې لیکلې شوې دی. د دې وجې نه د مودوی صاحب دا تحریر هم د بحث لاندې راوستل مناسب دی. لهذا اولاً دې تحریر هغه جملې [1] نقل کولې شی په کومو باندې چې د بحث کولو ضرورت دې.

۱- ماته په دې خبره باندې حیرانتیا ده چې تاسو ته د کوم ځای نه دا خبره معلومه شوه چې په توپک باندې وژلې شوی ښکار په حرمت باندې څلور واړه امامان متفق دی، آیا په آئمۀ اربعه کښې د چا په زمانه کښې توپک ایجاد شوې وو؟ د آئمۀ اربعه نه د اکثرو علماؤ د یوې دلې یا د ټولو د هغوی د مستنبط مسائلو نه د څه مسئلې تخریج کول او د هغې نه څه حکم راویستل بیله خبره ده او په خپله د ائمۀ اربعه څه حکم بیانول بیله خبره ده- الخ.

۲- دویم قسم (ذبحۀ اضطراری)د څناورو هغه دی کوم چې زمونږ په قابو کښې نهٔ و،لکه څنګلی څناور یا هغه د کور څناور کوم چې تختیدلی وی، او د وحشی په حکم کښې راغلې وی،یا هغه څناور چې چرته راغورځیدلې وی او د هغه د ذکاة شرط په مقرره طریقه باندې نه شی ادا کیدلې،یا هغه څناور چې په څه وجه باندې مرګ ته نزدې وی،او د ذبح کولو د پاره د چارې په کتلو کتلو کښې د هغې د مرګ امکان وی.

۳- په رومبی قسم (ذبح اختیاری)کښې ضروری دی،چې په تیره مخ آله باندې د هغې حلقوم دومره حده پورې پرې کړې شی چې ګر ګرو (مرئ) او د ساه رګ ئې پرې شی،او په دویم قسم (ذبح اضطراری) کښې په څه څیز باندې که هغه هر څیز وی د دوی په جسم کښې دومره شلول کافی کیږی چې وینه ترې نه اوبهیږی.

په دې سلسله کښې چې کوم نصوص مونږ ته د کتاب او د سنت نه ترلاسه کیږی هغه دلته په

---

[1] - بعضې بعضې ځایونو کښې په عبارت کښې اختصار کړې شوې دې مطلب نهٔ دې بدل کړې شوی

ترتیب سره لاندې ذکر کولې شي.

۱- احل لکم الطیبت وما علمتم من الجوارح الخ

۲- کل ما خزق وما اصاب بعرضه فقتل فانه وقیذ فلا تاکه (متفق علیه)

۳- رافع بن خدیج فرمائی چې ما عرض اوکړو: اې د الله رسوله ﷺ! صبا له دښمن سره زمونږ مقابله ده. او مونږ سره چړې نشته دی، چې مونږ پرې خناور ذبح کړو. نو آیا مونږ د شلیدلی بانړس په تیره څوکه باندې ذبح کولې شو؟

رسول الله ﷺ اوفرمائیل ما انهر الدم وذکر اسم الله فکل لیست السن والظفر (متفق علیه)

د دې نه دا خبره معلومه شوه چې اصل څیز هغه آله نۀ ده د کومې نه چې کار اخستلې کیږی. بلکه د ذکاة د شرط په پوره کولو کښې صرف دا خبره معتبره ده چې وینه تویه کړې شی د دې مرسته دا حدیث کوی. چې حضرت عدی بن حاتم تپوس وکړو: یارسول الله! که چیرې په مونږ کښې چا ته ښکار لاسته ورشی، او هغه سره چاړۀ نۀ وی، نو آیا هغه په تیرۀ کانی یا په شلیدلی لرګی سره هغه ذبحه کولې شی؟

رسول الله ﷺ اوفرمائیل: امرر الدم بما شئت واذکر اسم الله.

۴- لو طعنت فی فخذها لاجزا عنك (ترمذی، ابوداود، نسائی، ابن ماجه، دارمی) د دې نه دا خبره ثابته شوه چې اصل څیز هغه آله نۀ ده د کومې نه چې کار واخستې شی بلکه یواځې جسم شلول دی چې وینه ترې اوبهیږی.

۵- کعب بن مالک فرمائی چې (زمونږ چیلۍ په سلع مقام باندې څریدلې. ناګهانه زمونږ وینزې وکتل چې یوه چیلۍ مرګ ته نزدې ده. هغه سمدستی یو کانې مات کړو او په هغې باندې ئې هغه ذبحه کړو. رسول الله ﷺ د هغې د خوړلو اجازت ورکړو. (بخاری)

۶- عطاء بن یسار وائی چې په بنو حارثه کښې یو سړې وو هغه احد ته نزدې په یو خوړ کښې یوه اوښه څروله. ناګهانه هغۀ وکتل چې دا اوښه مری لیکن داسې څه څیز ورته په لاس رانغلو چې هغه ئې پرې ذبحه کړې وې، آخر دا چې هغه د خیمې د ښخولو یو میخ راواخستلو او هغه ئې د اوښ په لبلبه کښې ورښخ کړو، تر دې چې د هغې وینه تویې شوله، بیا ئې رسول الله ﷺ ته ددې خبر ورکړو. او رسول الله ﷺ د هغې د خوړلو اجازت ورکړو. (ابوداود، موطا)

۴- د مات شوی کانی تیرۀ اړخ خو بیا هم د تیرۀ څیز په حکم کښې راځی. لیکن د لرګی څوکه دار میخ د آلې په حکم کښې راوستل چې کومې پورې کیدې شی ظاهره ده

۵- ګولۍ چې په کوم قوت سره د ټوپک نه وځی، او بیا په کوم رفتار سره چې هغه ښخې نه (تقریباً ۵۰۰ ګزه په یوه ثانیه کښې) لاره وهی. په دې بنا هغه چرته څه یخ کانړې نۀ وی. بلکه په ښه

شان سره نرم او تقريبا نوکه دار شي او د جسم په شلولو سره دننه ورننوځي

په ذکر شوو عباراتو باندې بحث :

د توپک د ښکار د حلت بنا دا ښودلې شوې ده چې په ذبحه اضطراری کښې خصوصیت د آلې شرط نۀ دې، دا د آئمۀ اربعه رحمهم الله د تصريحاتو خلاف دی. **قال الحافظ العينى رحمه الله (قوله وما اصابه بعرضه) بفتح العين يعنى بغير طرفه المحدد فلا تاكل وبه قال ابو حنيفة ومالك والشافعى والثورى واحمد واسحاق رحمهم الله وقال الشعبى وابن جبير يوكل اذا خرق وبلغ المقاتل الخ (عمدة القارى ج ص)**

قال الشعبي۔ الخ. د تقابل نه معلومه شوه چې تيره نۀ وی نو که په هغې سره هر څومره زخمي شي نوبيا هم آئمۀ اربعه رحمهم الله د دې د حرمت قائل دی.

وقال الحافظ العسقلانى رحمه الله وحاصله ان السهم وما فى معناه اذا اصاب الصيد بحده حل وكانت تلك ذكاته واذا اصابه بعرضه لم يحل (الى ان قال) قوله بعرضه بفتح العين اى بغير طرفه المحدد وهو حجة للجمهور فى التفصيل المذكور وعن الاوزاعى وغيره من فقهاء الشام حل ذلك (فتح البارى ص ج)

که چيرې په آئمۀ اربعه رحمهم الله کښې هم څوک امام د جمهورو خلاف وې نو حافظ رحمه الله به دهغه نوم ضرور ذکر کړې وو.

لهذا دا وئيل چې‹دا مسئله د آئمۀ اربعه خلاف نۀ ده بلکه د آئمۀ اربعه د مقلدينو فقهاؤ خلاف ده› دا خبره صحيح نۀ ده،البته که د آلې د خصوصيت انکار نۀ وې کړې شوې،بلکه دا منلې شوې وې او د توپک ښکار ته ئې د څه قسم په اجتهاد باندې حلال وئيلې شوې وې نو قائل دا وئيلې شو چې ما د آئمۀ اربعه مخالفت نه دې کړې بلکه د مذاهبو اربعو د فقهاؤ خلاف مې کړې دې.

په عدم اشتراط د آلې باندې چې څومره دلائل هم وراندې کړې شوې دی،په هغې کښې يو دليل هم صراحتا مثبت د دعوې نۀ دې، په دې کښې د جرح،خزق،انهارالدم،امرار الدم،طعن وغيره الفاظ نشته . حالانکه په ذبحه اختياری کښې د همدې قسمه الفاظ انهارالدم،امرار الدم،وغيره الفاظ وارد شوی دی، لهذا چې څنګه په ذبحه اختياری کښې دا الفاظ دال دی د آلې په بالطبع جارح او منهرالدم کيدلو باندې،او دا شرط متفق عليه دې نو بيا څه وجه ده چې په ذبحه اضطراری کښې بعينه په همدې الفاظو سره دا دلالت خارج کړې شی،بيا په خاص توګه دا چې آئمۀ اربعه رحمهم الله هم د دې دلالت لحاظ ساتی، کمامر،

که په دې الفاظو کښې د آلې په بالطبع جارح او منهر الدم کيدلو باندې دلالت نشته . نو په ذبح اختياری کښې ئې دا شرط ولې ولګولو ؟په ذبح اختياری کښې د حدت د آلې شرط غالبا منصوص نۀ دې،صرف د امرار الدم غوندې الفاظو نه مستنبط دی،برسيره پر دې په ذبح اضطراری کښې

بعینه همدا الفاظ وارد کیدلو نه علاوه دا شرط هم منصوص دي

عن عدي بن حاتم ﷺ قال سالت النبي ﷺ عن صيد المعراض فقال ما اصاب بحده فكله و ما اصاب بعرضه فهو وقيذ (بخاري ج،ص،)

که چیرې د آلې غیرِ محددې داسې زخم په کومې کښې چې مرګ مضاف الی الثقل نۀ وی بلکه مضاف الی الجرح او امرار الدم وی موجب د حلت کیدلې نو مصاب بالعرض او بالبندقه باندې به مطلقاً حکم د حرمت نۀ لګولې کیدلو ،بلکه د مذکوره صورت استثناء ترې نه ضروری وه.ځکه چې اصابع العرض او اصابة البندقه کښې دا صورت ممکن او محتمل دی.خو سره ددې هم په روایاتو کښې بې د څه تفصیل نه او د فرق نه مطلقاً حکم د حرمت دې .

ولا تأكل من المعراض الا ما ذكيت ولا تاكل من البندقة الا ما ذكيت رواه احمد (نيل الاوطار ج،ص،)

دریم دلیل یعنی حدیث د رافع بن خدیج ﷺ مودودی صاحب د ذبحې اضطراری متعلق وګڼلو او د دې نه ئې په اطلاق د آلې باندې استدلال کړې دې،حالانکه دا حدیث د ذبح اختیاری په حقله دې. پخپله مودودی صاحب چې کوم صورتونه د ذبحې اضطراری بیان کړې دی،د دې حدیث مضمون په هغې کښې په یو کښې هم داخل نۀ دې،که چیرې مودودی صاحب ته دا علم وې چې دا حدیث د ذبح اختیاری په حقله دې نوتقریباً په همدې الفاظو سره به ئې په خصوصیت د آلې باندې استدلال کولو او د ما انهر الدم نه به ئې بالطبع جارح او مهر الدم مراد اخستلو .

آیا دا بې انصافی نۀ ده چې یو لفظ په یو ځائ کښې په یو مفهوم باندې دال تسلیم کړې شی او په بل ځائ کښې بې د څه دلیله او د قرینې صارفې نه د دې دلالت نه انکار وکړې شی .

مودودی صاحب په ذبحه اضطراری کښې داسې ځناور هم داخل کړې دې کوم چې د څه وجې نه مرګ ته نزدې وی او د هغه د ذبح کولو دپاره د چړې په کتلو کتلو کښې د هغۀ د مرګ امکان وی. په همدې بنا تاسو په دلیل خامس او سادس کښې د کعب بن مالک او د عطاء بن یسار ﷺ روایات ذکر کړې دی.حالانکه داسې ځناور په ذبح اضطراری کښې داخلول ډیره لرې خبره ده.د نورو امامانو ﷺ د اقوالو تحقیق خو ما ونه کړې شو.البته په مشایخو د احنافو ﷺ کښې یو مرجوح قول شته دې. لیکن د موقوذة او متردیه او د منخنقه د پاره د الا ما ذکیتم د شرط منصوص نه پس د دې څه ګنجائش نۀ پاتې کیږی

بیا هر کله چې مودودی صاحب د مات شوی کانی په تیرۀ والی باندې دتیرۀ والی اطلاق منی. نو د حدیث د کعب بن مالک ﷺ نه د استدلال کول **چه معنی دارد ؟** مودودی صاحب د تیرۀ مخ او په څوکه دار کښې فرق کوی.غالباً د عطاء بن یسار ﷺ د روایت نه ئې استدلال په همدې بناء باندې کړې دې.او د همدې وجې نه د تیرۀ مخ د آلې د خصوصیت نه د انکار کولو باوجود په آخر کښې د

توپک د گولئ د څوکه داره کیدلو د ثابتولو کوشش نې کړې دې.د دې نه دا ظاهریږی چې دۀ د تیره مخ نه مراد چاړۀ یا د چاقو غوندې تیرۀ مخ گڼلې دې.حالانکه د جمهورو مراد محدد دې،اگر که څوکه دار وی.لکه ښکه چې د فتح الباری ص ۴۷۲ ج ۹ د تیر شوی عبارت **السهم وما فی معناه.** الخ نه ظاهر دی

غرض د خبرې دا چې په دې دواړو روایتونو کښې ذبح اختیاری ده. **کما مر** په کوم کښې چې تاسو هم د جارحې آلې شرط منئ.او په دې بنا باندې به د میخ او د کانی تیره والې د جارح کیدلو په منلو باندې مجبوره شئ.

او که بالفرض ستاسو د قول مطابق ستاسو دا صورت ذبح اضطراری ومنلی شی نو بیا هم ددې روایتونو نه اطلاق د آلې نه ثابتیږی.په دې دواړو واقعو کښې په آلې جارحې سره ذبح موندلې شوې ده

گولئ لره د څوکه داره ثابتولو د کوشش نه دا خبره معلومه شوه چې دمودودی صاحب اختلاف جمهورو سره په خصوصیت د آلې کښې صرف لفظی دې کوم چې د جمهورو په مطلب باندې په نۀ پوهیدلو باندې مبنې دې. لیکن سره د دې د همدې نه ستاسو دا دعوی غلطه ثابتیږی : «زۀ د آئمۀ اربعه د تصریحاتو خلاف نۀ یم» . ځکه چې د خصوصیت دآلې په حقله د آئمۀ اربعه دتصریحاتو کوم مطلب تا په خپله اخستې دې تۀ دهغې دخلاف قائل ئې. نو تاسو په خپل زعم او گمان کښې د آئمۀ اربعه خلاف فتوی ورکوئ، اگرچې په حقیقت کښې تاسو د هغوی خلاف نۀ یئ.

باقی پاتې شوه داخبره چې گولئ نښې ته د رسیدلو نه وړاندې څوکه داره جوړه شی،که چیرې دا دعوی د مشاهدې نه ثابته شی.نو ددې نه بیا د انکار کولو ځائ نشته .اوکه نه نو صرف په تخیل سره د یو امر اثبات ناممکنه دې. **ان الظن لایغنی من الحق شیئا.**

د مودودی صاحب د تحریر په حقله چې کوم څه د ضرورت مطابق عرض کول وو هغه عرض کړې شو.اوس ستاسو دتحریر نه صرف په هغته امورو باندې د رائې اظهار کول دی په کومو باندې چې پورته صراحتاً یا ضمناً کلام و نۀ شو .

قولکم:د سن او د ظفر د استثناء نه معلومه شوه چې په ذبحه اختیاری کښې د انهارالدم نه علاوه خصوصیت د آلې ته هم دخل دې ــ الخ .

اقول : په سن مقلوع او په ظفر مقلوع سره ذبحه اختیاری اگرچې ممنوع ده لیکن ذبحه پرې صحیح ده.یعنی مذبوحه حلاله ده.اوپه ذبح اضطراری کښې هم همدا آلات دی.فرق په کښې صرف دا دې چې د آسانتیا دپاره نې قید د قلع باقی پاتې نه کړو.دا خو د آلې فرق نه شو بلکه د آلې د استعمال د طریقې فرق شو. لکه ښکه چې تیـراً د ذبحې د محل د قید اعتبار نۀ دې کړې شوې.

که چیرې د آلې فرق تسلیم هم کړې شي نو بیا هم ذبح اضطراری خلاف دقانون نۀ ده، هغه خو د ذبح بالجارح د قانون مطابق ده. اشکال خو به په ذبح اختیاری باندې کیږي، چې ذبح بالجارح کیدلو باوجود ولې حلاله نۀ ده؟ دسن او د ظفر په جارح کیدلو کښې خو څه شبه نشته.

قولکم: د توپک ګولۍ باندې چې څوک لړی نو دا خو هغه ته بیخی محسوسیږی هم نه.

اقول: هر مفاجاتی ګذار برابره خبره ده که په محدد سره وی او که په مثقل سره ابتداءً نۀ محسوسیږی، بیا په خاص توګه هغه وخت چې آله د ضرب د صغیر الحجم کیدلو د وجې نه په لړ خانې باندې ضرب ولګیږی، لکه د لیندۍ په ټپاخ کښې چې څومره آله وی.

قولکم: یوه تخته که داسې اودرولې شي ـ الخ.

اقول: که چیرې په داسې ګیټکی باندې اوویشتلې شي چې په وزن او حجم کښې د ګولۍ نه زیات نه وی نو بیا کیدې شي چې داسې تخته راونۀ غورځیږی، تجربه دې وکړې شي، نو که بالفرض هم غورځیږی نو په دې تجربو سره یو بالمشاهده غوندې څیز محدد بالکل هم نه شی ثابتیدلې، تخته کۀ وغورځیږی او که ولاړه وی بهر حال ګولۍ ته څوک محدد نۀ شی وئیلې.

قولکم: ولو بعار الخ

اقول: د ګولۍ په یخیدلو سره پریوتل د قیاس نه لرې معلومیږی، هر کله چې څه څیز د څه وجې نه رفتار تیزوی نو دا رفتار د څه وخته پورې قائم وی، برابره خبره ده که دا څیز تود وی او که یخ.

په اوبو کښې د ګولۍ مزل نه کول د وجې د مزاحمت نه دې، د لیندۀ ګوذار هم په اوبو کښې مزل نه کوی، حال دا چې په هوا کښې ښۀ لرې پورې ځی.

غرض دا چې اول خو دا یقین نشته چې ګولۍ په حالت د حرارت کښې لګیدلې ده.

او که د جرحې د شدت نه په حالت د حرارت کښې د ګولۍ د لګیدلو ظن غالب هم شی نو دا یقین نشته چې دا حرارت مستقلاً قوت د شلولو ته رسیدلې دې او که نه؟

او که د دې هم یقین وکړې شی مثلاً د شلولو اثرات په کښې موجود وی یا نښه ئې ډیره د نزدې نه ویشتې وی، نو د مرګ مضاف الی الاحراق کیدل قطعی نۀ دی، ځکه چې دې سره ضربِ شدید هم موجود دې، او جرح او انهار الدم هم، او احراق او ضربِ غیر محدد دواړو ارخخونو ته منسوب دې، لهذا څو پورې چې د مرګ او د جرح مضاف الی الاحراق کیدل په قطعی توګه معلوم نۀ شی نو د حلت حکم دې پرې ونۀ لګولې شی. کما وردت النصوص فی المرمی الواقع فی الماء بعد الرمی والمتردی واستنبط منها الفقهاء رحمهم الله اصلا وفرعوا علیه صورا عدیدة.

د دې وجې نه علامه شامی رحمه الله باوجود د دې چې توپک ئې محرق منلې دې د حرمت فتوی ئې ورکړې ده. ونصها لا یخفی ان الجرح بالرصاص انما هو بالاحراق والثقل بواسطة الدفاعه العنیف اذ لیس له

حد فلا يحل و به افتى ابن نجيم. (ردالمحتار ج ۵ ص ۳۰۳)

په دې مقام باندې ضروري معلومیږي چې په توپک باندې د احراق په حقله د قطب العالم ابو حنیفهٔ عصر حضرت مولانا رشید احمد صاحب گنگوهي قدس الله سره تجربه هم نقل کړې شي. هغوی فرمائي : د مولانا مملوک صاحب نه مونږ دا معلومه کړې وه هغوی اوفرمائیل چې مالوچ په نبه وه وله، معلوم به شي درته، لهذا مونږ همدا اسې وکړل، گولئ تږې نه بل اړخ ته اووتله او مالوچ لګ هم ونه سوزیده ، لهذا گولئ ماتونکې ده، محرقه نهٔ ده، تر څو پورې چې ذبح نهٔ کړې شي نو د توپک ښکار حلال نهٔ دې. (تذکرة الرشید ج ۱ ص ۱۳۹)

قولکم: د حضرت امام ابو حنیفه رحمه الله په نیزد په قتل بالمثقل کښې قصاص واجب نهٔ دې – الخ .

اقول: ۱ - هر کله چې په ذبح اضطراري کښې د تیره آله کیدل د نص او د آئمهٔ اربعه او د جمهورو رحمهم الله په اتفاق سره ثابت دی نو د دې قیاس ځائ پاتې نهٔ شو .

۲ - د ظاهري عبارتونو نه دا خبره معلومیږي چې د قصاص د وجوب د پاره د امام صاحب رحمه الله په نیزد د حدید محدد کیدل ضروري نهٔ دی، صرف جرح شرط ده، په ظاهر الروایة کښې خو جرح هم شرط نهٔ ده .

قال في شرح التنوير بآلة تفرق الاجزاء مثل سلاح ومثقل لو من حديد او محدد من خشب الخ

وفي الشامية وروى الطحاوي رحمه الله عن الامام رحمه الله اعتبار الجرح في الحد ونحوه (الى قوله) وعلى كل فالقتل بالبندقة الرصاص عمد لانها من جنس الحديد وتجرح الخ (ردالمحتار ج ۵ ص ۳۷۳)

وايضا في الشرح كل ما به الذكاة به القود والا فلا وفي حديد غير محدد كالسنجة روايتان اظهرهما انها عمد الخ

وفي الشامية ذكر هذه النقول الثلاثة (اى وفي حديد الخ) نقضا لعكس الكلية وهو قوله والا فلا وهو ظاهر لانه المشروط في الذكاة فري الاوداج وانهار الدم وذلك لا يحصل بالسنجة الخ (ردالمحتار ج ۵ ص ۳۷۴)

وايضا في الشرح وان قتله بمر يقتص ان اصابه حد الحديد او ظهره او جرحه اجماعا (ردالمحتار ۵ ص ۳۷۴)

ظهر المر جارح نهٔ دې. د دې باوجود په دې باندې دزخمي کیدلو په حالت کښې اجماعا قصاص شته دې

۳- که چیرې دا خبره هم ومنلې شي چې د امام صاحب رحمه الله په نیزد دحدید محدد کیدل لازم دی نو په سنجات میزان سره به د قصاص وجوب د امام صاحب رحمه الله په قول باندې مبني نهٔ وي، بلکه د ظاهر الروایة په بنا به وي

لما في الشامية (قوله اظهرهما انها عمد) بناء على عدم اشتراط الجرح في الحديد ونحوه (ردالمحتار ج ۵ ص ۳۷۴)

په هر حال دا خبره ثابته نۀ شوه چې امام صاحب رحمه الله د محدد د شرط د لګولو باوجود غیر محدد د عند الجرح په وخت کښې په حکم د محدد کښې ګرځوی .

قولکم: د رسول الله ﷺ په زمانه کښې غشي. معراض. سپی- الخ .

اقول : واقعي حتی الامکان د تسهیل الامر او د رخصت نه کار اخستل ښۀ دی. لیکن د جمهورو مخالفت کول په خاص توګه د حلت او د حرمت په معامله کښې تر هغه وخته پورې روا نۀ دی تر څو پورې چې یو قوی او اطمینان موجب دلیل نۀ وی. **اجرؤهم علی الفتیا اجرؤهم علی النار** نه ویریږو .

قولکم: بلکه د څوکه دارې ګولۍ څوکه خو د معراض د څوکې نه کمه نۀ وی .

اقول : د داسې ګولۍ د ښکار په حلت کښې څه شبه نشته او نۀ په دې کښې د څه قسم اختلاف څه ګنجائش شته دې. په امداد المفتین کښې هم د داسې ښکار د حلت فتوی لیکلې شوې ده. البته که چیرې همداسې ګولۍ باندې دومره وړوکې ځناور وه ویشتلې شو چې دغه ځناور د دې ګولۍ د ثقل تحمل او برداشت نۀ شی کولې. یعنی که ګولۍ تیره او څوکه داره نۀ وی نو بیا هم ددغې د ثقل نه ځناور مړ شی. نو دا ځناور حلال نۀ دې .

قال فی شرح التنویر او ببندقة ثقیلة ذات حدة لقتلها بالثقل لا بالحد ولو کانت خفیفة بها حدة حل لقتلها بالجرح وفی الشامیة (قوله ولو کانت خفیفة) یشیر الی ان الثقیلة لا تحل وان جرحت قال قاضیخان لا یحل صید البندقة والحجر والمعراض والعصا وما اشبه ذلک وان جرح لانه لا یخرق الا ان یکون شیء من ذلک قد حدده وطوله کالسهم (الی قوله) والاصل ان الموت اذا حصل بالجرح بیقین حل وان بالثقل او شک فیه فلا یحل حتما او احتیاطاً. (ردالمحتار ج۶ص۴۷۰)

فقط: وهذا ما جاء فی فهم هذا الفقیر والعلم عند الله اللطیف الخبیر.

رشید احمد، ۲۸ ربیع الاول ۱۳۷۶ هجری

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ﴾

رفع الحجاب

عن

حكم الغراب

د كارغة په حرمت باندې د يو ې رسالې جواب

معذرت

په دين اسلام باندې د هره ورخ د دې نوو نوو فتنو حملو په دې دور كښې چې كله هم ددې مسئلې په شان په يو مسئله باندې دليكلو دعوت راكړې شي. يا كله كله سترګو وړاندې يا په زړه كښې مو داسې څه مسئلې ته خيال راشي نو بې خياله مې د زړه درد د لاندينو شعرونو په صورت كې به ژبه باندې راشي

جب چلی بغداد میں تاتار کی تیغ نیام
مفتیان شرع میں جاری تھی اک جنگ کلام
ایک کہتا تھا کہ ... اتفاق وبالاجماع حلال
دوسرا کہتا کہ کالی چونچ سے تا دم حرام
اس زمانے سے ... شیشہ ... ما
مفتیان را مژده کار ملت بیضا تمام

ترجمه هر كله چې په بغداد باندې تاتاريانو حمله وكړه نو د دين مفتيانو هغه وخت بحث كولو چې يو وئيل چې كارغه حلال دې او بل به ورته وئيل چې حرام دې. د هغه زمانې تاريخ لیکونکو ... كلو ... وئيل ... د دين دغمرازي كړ ... ورد كړو

... كله كله ... مسئله راپورته كړي چې هغه په خپله د ... كړي نو ... خواسته په هغې باندې دقلم د پورته كولو ضرورت پيدا سي والله المشتكى ((رشيد احمد

د غراب (کارغه) اهلي په هکله تحقیق

د غراب (کارغه) اهلي متعلق د لاندیني تحریر په حقله زما نه استفتاء وکړې شوه. د وخت د نشت والي له کبله دا مسئله ما د جواب د پاره عزتمند مولوی محمد تقی سلمه الله تعالی متعلم شعبه تمرینِ افتاء له ورکړه، الحمد لله هغوی هم هغسې کافي او شافي جواب ولیکلو د څنګه جواب طمع چې د هغوی د قابلیت نه زمونږ وه، کټونکو ته بهٔ د جواب د کتلو نه ددې اندازه وشي- زاده الله تعالی علما وعملا وصلاحا. (رشید احمد)

سوال:- د ښکارپور سنده علماؤ د کارغهٔ په حرمت کښې يو تحریر لیکلې دې کوم چې ستاسو په خدمت کښې درلیږمه، دا تحریر د جمهورو د مسلک خلاف دې د دې وجې نه د دې په حقله جواب په جلتئ سره چې څومره تحقیق په کښې ممکن وی را کړئ. والاجر عند الله الکریم،

سوال:- غراب ملکی حلال ست یا حرام ؟ بینوا توجروا .

جواب:- غراب ملکی حرام ست از جمله فواسق و موذیات ست، در حدیث شریف :

فی موطا الامام مالک عن نافع عن عبد الله بن عمر رضی الله عنهما ان رسول الله ﷺ قال خمس من الدواب لیس علی المحرم فی قتلهن جناح الغراب والحداۃ والعقرب والفارۃ والکلب العقور،

و در **حاشیه مصفی** علی الموطا قال البغوی اتفق اهل العلم علی انه یجوز للمحرم قتل هذه الاعیان ولا شیء علیه فی قتلها فی الاحرام والحرم لان الحدیث یشتمل علی اعیان بعضها سباع و بعضها هوام و بعضها لا یدخل فی معنی السباع ولا هی من جملة الهوام وانما هو حیوان مستخبث اللحم و تحریم الاکل یجمع الکل و قالت الحنفیة لاجزاء بقتل ما ورد فیه الحدیث وقاسوا علیه الذئب وقالوا فی غیرها من الفهد والنمر والخنزیر و جمیع ما لا یؤکل لحمه علیه الجزاء بقتلها الا ان یبتدئه شیء فیدفعه عن نفسه فیقتله فلا شیء علیه

وفی البحر معنی الفسق فیهن خبثهن و کثرۃ الضرر فیهن

در هدایه می آرد : والمراد الغراب الذی یاکل الجیف و یخلط لانه یبتدء بالاذی و فی بعض النسخ او یخلط کما نقل عبارتها فی البحر او یخلط الحب بالنجس معناه یاکل الحب تارۃ والنجس تارۃ

و کذا فی الحاشیة للسید الشامی علی البحر نقلا عن النهر عن البدائع قال ابو یوسف رحمه الله الغراب المذکور فی الحدیث الذی یاکل الجیف او یخلط لان هذا النوع هو الذی یبتدء بالاذی

در مسکین شرح کنز تحت: (قوله ولا شیء بقتل الغراب) می آرد: والمراد به الابقع الذی یاکل الجیف

يخلط النجس مع الطاهر في التناول.

و درحاشيه علامه ابوالسعود مى نويسد: الواو بمعنى او اذ لا حاجة بضم الخلط الى اكلها كما ذكره الحموى النحوى.

و فقهاء كرام دو نوع غراب را از غراب كه درحديث شريف مذكور ست استثناء ساخته اند. يكى غراب الزرع ديگر عقعق كما فى عامة الكتب. بقتل اين هر دو نوع برمحرم جزا واجب ست.

در ردالمحتار درتعريف غراب الزرع مى نويسد: وهو الذى يلتقط الحب ولا يأكل الجيف ولا يأتى فى القرى والامصار.

در تعريف عقعق مى آرد: هو طائر نحو الحمامة طويل الذنب فيه بياض وسواد وهو نوع من الغربان يتشاءم به يعقعق بصوت يشبه العين والقاف.

پس اين هر دو نوع حلال اند و ازين جاست كه فقهاء كرام دركتاب ما يحل اكله و ما لا يحل همين دو نوع غراب را حلال نوشته اند ـ

و در تنوير الابصار مى نويسد: وحل غراب الزرع الذى يأكل الحب والارنب والعقعق وهو غراب يجمع بين اكل جيف وحب.

ولا شك ان غراب ديارنا غير العقعق وغير غراب الزرع فيكون داخلا فى الغراب المذكور فى الحديث فيكون فاسقا وحراما كسائر نظائره

و آنچه بعض فضلاء اين غراب ملكى را حلال دانسته و تمسك گرفته بآنچه بعبارات فقهاء واقع شده: نوع يأكل الحب مرة والاخرى جيفة غير مكروه عند الامام الاعظم رحمه الله

فانه يتوهم منه فى بادى الراى ان الغراب المعروف فى ديارنا غير مكروه عند الامام رحمه الله لانه يخلط بين الحب والنجاسة

فنقول ان الفقهاء الكرام حصروا هذا النوع فى العقعق.

قال فى العناية شرح الهداية اما الغراب الاسود والابقع فهو انواع ثلاثة نوع يلتقط الحب ولا يأكل الجيف وليس بمكروه ونوع لا يأكل الا الجيف وانه مكروه ونوع يخلط يأكل الحب مرة والجيف اخرى وهو غير مكروه عند الامام رحمه الله ومكروه عند ابى يوسف رحمه الله.

وفى الحاشية السعدية للجلبى الاول قال الزيلعى ونوع يخلط بينهما وهو يوكل عند ابى حنيفة رحمه الله وهو

العقعق كما في المنح وسيأتي

وفي حاشية شرح الوقاية نوع يجمع بين الحب والجيف وهو حلال عند ابي حنيفة رحمه الله وهو العقعق الذي يقال له بالفارسية عكه

وفي تكملة البحر للعلامة الطرطوسي في شرح (قوله الابقع) والغراب ثلاثة انواع (الى ان قوله) ونوع يخلط بينهما وهو ايضا يوكل عند الامام رحمه الله وهو العقعق

پس ظاهر شد كه اين نوع كه جامع ست درميان حب و جيفه و آن نزد امام حلال است منحصر ست درعقعق و او موذي نيست و آنچه درهدايه و شرح مسكين آورده (و يخلط) مراد ازان آن است كه اوموذي باشد وآن حرام است، پس غراب كه جامع باشد در ميان حب وجيفه دوصنف ست يكي كه او موذي نيست و آن حلال ست منحصر ست درعقعق و صنف ديگر او موذيست حرام ست .

در تيسيرالقاري شرح صحيح البخاري مي آرد فاسق بودن غراب از آنست كه پشت مجروح دواب را وچشم شتر را مي كند. انتهى . وبزبان سندهي مشهور ست: (كانو كركى گنده كنبى)

يعني وقتيكه غراب آواز دهد حيوانيكه ريش دارد مي لرزد، مصداق آن درديار ما همين غراب معروف ست چنانچه در اوصاف ذميمه او ظاهر ست.

و در المختار مي آرد تحت (قوله ولاشيء بقتل غراب لا العقعق) لان الغراب دائماً يقع على دبر الدابة كما في غاية البيان

ازين عبارت واضح گرديد كه اين غراب كه درديار ما ست موذي ست ريش دابه رامي كند و در دبر دابه مي افتد و چشم شتر را مي كند حرام ست وعقعق غير آنست عقعق را در سندهي (امتاء) گويند ـ والله اعلم بالصواب

المحرر فقير عبدالحكيم صدر مدرس مدرسه اشرفيه شكار پور

اسماء كرامي مصدقين بالالفاظ المذكورة في الاصل

محمد فضل اله مهتمم مدرسه اشرفيه شكارپور ـ عبدالقادر ثاني مدرس ـ الفقير عبدالفتاح ـ مولوي عبدالحق.مولوي غلام مصطفى .مولوي عبدالمالک.مولوي تاج محمد. مولوي مظفر دين سومرو.مولوي عزيز الله. الفقير محمد عظيم.عبدالحي جتوبي عبدالكريم جتني.محمد عارف جتوي، اميدعلي جيكب آبادي محمد اسمعيل عودوي ثم الشكارفوري.انا عبدالعزيز الباندوي.العبد عبدالغني. حامد الله بلوچستاني اجميري. عطاء الله انقلابي. مولوي مظهر الدين مدرسه صاحب عبدالعزيز جتوئي

العبارات والروايات الزيدة:

عالمگیریه اردو ص ۴۴۰ کوم مارغان چې نجس او مردار خواره وی. لکه اهلی غراب وغیره پاک طبیعت دي لره خبیث او پلید گنی - انتهی-

عن هشام عن عروة عن ابيه رضی الله عنه انه سئل عن اكل الغراب فقال و من ياكله بعد ما سماه رسول الله ﷺ فاسقا يريد به الحديث المعروف خمس فواسق يقتلن في الحل والحرام.

و في (المخصص) للاندلسى يقال للغراب ابن داية سمى بذلك لانه مولع بالوقوع على الدبر التى على دابات ظهور الابل والعقعق طائر كالغراب يحمل جهلانا و هو يدجن والغراب لا يدجن والعقعق يسرق كل شيء من الدراهم والدنانير وكل شيء ويخباه ثم يعاودها بعد ذلك.

نهى النبي ﷺ عن كل ذي مخلب من الطير و روى نهى عن كل ذى خطفة و نهبة والغراب الذى ياكل الحب والزرع حلال بالاجماع. (بدائع الصنائع ص ۳ ج ۵)

سالت اباحنيفة عليه الرحمة عن اكل الغراب فرخص فى غراب الزرع و كره الغداف فسالته عن الابقع فكره ذلك (بدائع ص ۰ ج ۵)

وفى الموعد الابقع هو الذى فى صدره بياض.

قال فى المحكم غراب ابقع يخالط فيه سواد وبياض وهو اخبثها.

ردالمحتار از عنایه نقل کرده: نوع لا ياكل الا الجيف وهو الذى سماه المصنف الابقع وانه مكروه الخ

حقیقت همین است که یک نوع غراب ابقع سوای جیف نمی خورد مراد عنایه همین نوع ست مگر در حدیث از غراب ابقع همان مراد ست که هر دو خلط می کند كما فى تبيين الحقائق والمراد بالابقع ما ياكل الجيف و يخلط كذا فى الهداية .

الجواب

اقول وبالله استعين. فاضل مجیب د ملکی کارغه په حرمت باندې کوم استدلال کړې دې د هغې حصل داده چې فقهاء کرامو رحمهم الله د کارغهٔ کوم قسم بیان کړې دې چې هغه نجاست وغیره کثیف گندګی والی کوی. د هغې هم دوه قسمه دی

۱- عقعق کوم چې موذی نه دي

۲- هغه کارغهٔ کوم چې گندګی والی کوی او ضرری دي

په دې کښې دومبې قسم خو حلال دي لیکن دا دویم قسم حرام دي. او ملکی کارغهٔ په دویم

قسم كښې داخل دې د دې وجې نه به هغهٔ حرام وی .

په ضرری كيدلو يا نهٔ كيدلو باندې هغوی دا دليل وراندې كړې دې، چې په كوم خاى كښې فقهاء كرام ﷾ دا ليكى چې په حالت د احرام كښې د كارغهٔ قتلول روا دی او په دې باندې څه جزاء نشته دې. د هغې لاندې دې كارغهٔ ته ابقع او د هغه قسم سره خاص كوى كوم چې په نجاست او زرع كښې د ګډوډ والى كولو عادتى وی،او د هغې نه پس عقعق د دې نه مستثنى كړى. كما فى الهداية وغيرها د هغوى د دې فعل نه دا معلوميږى،چې د ګډون كوونكى دوه قسمه دی. يو هغه چې ضررى دې.د دهٔ په قتلولو باندې جزاء واجبه نهٔ ده،دويم عقعق چې دې هم ګډون كوی، ليكن دې ضررى نهٔ دې د دې وجې نه د دهٔ په قتل باندې جزاء واجبه ده .

د ضررى كارغهٔ په حرام كيدلو باندې فاضل مجيب دا دليل وراندې كړې دې چې :

شاه ولى الله صاحب ﷫ په مسوى [1] كښې ليكلې دى چې كوم پنځه خيزونه په حديث شريف كښې د عام حكم نه مستثنى كړې شوې دى او دا وئيلې شوې دى چې د دوى په قتلولو كښې څه ګناه نشته دې هغهٔ ټول مكمل حرام دی .

او د فقهاء كرامو ﷾ د عبارتونو نه دا معلومه شوه چې په دې خيزونو كښې هغه ضررى كارغهٔ هم داخل دې كوم چې ګډون كوی .

نو د مسوى د دې عبارت نه د دې كارغهٔ حراميدل هم معلوم شو .

د خلاصې په توګه استدلال په دې مقدماتو باندې موقوف دې :

۱-د ګډون كوونكى دوه قسمه دی : ۱- ضررى ۲ - عقعق كوم چې ضررى نهٔ دې .

۲- د ضررى كارغهٔ په وژلو په محرم باندې جزاء نه واجبيږى،او د غير موذى په قتل باندې پرې جزاء راځى .

۳- د مسوى په عبارت كښې دى چې ټول فواسق خمسه د كومو په قتلولو چې په محرم باندې جزا نهٔ راځى هغه حرام دی.

د دې استدلال صحيح كيدل يا نهٔ صحيح كيدلو دارو مدار په دې مقدماتو باندې دې،د دې وجې نه مونږ به په دې كښې د هرې يوې مقدمې نه بحث كوو .

اوله مقدمه : دا مقدمه على الاطلاق صحيح نهٔ ده. ځكه چې عقعق هم كله كله ضرر رسوی

د صاحب د هدايې د دې قول : ((**المراد بالغراب الذى يأكل الجيف او يخلط لانه يبتدء بالاذى اما العقعق غير مستثنى لانه لا يسمى غرابا ولا يبتدء بالاذى . الخ**))

---

[1] - په اصل جواب كښې كيدې شى چې سهواً مصفى شوې دې كوم چې غلط دې.

لاندي علامه اکمل الدین بابرتی رحمه الله لیکی قیل فعلی هذا یکون فی قوله فی العقعق ولا یبتدء بالاذی نظر لانه یقع علی دبر الدابة (عنایة علی هامش الفتح ج۳ص۳۰)
او مولانا عبدالحی صاحب رحمه الله خو تر دې پورې ولیکل چې انه دائما یقع علی دبر الدابة (حاشیه هدایه ج۱ص۲۳۷)
همدغه شان علامه زین الدین ابن نجیم رحمه الله هم د هدایې په دې عبارت باندې اعتراض کړې دې او لیکلي ئې دی: فیه نظر لانه دائما یقع علی دبر الدابة کما فی غایة البیان (البحر الرائق ص۳۶ ج۳)
اګر چې علامه شامی رحمه الله د بحر په حاشیې باندې او په ردالمحتار کښې د صاحب د بحر دا اعتراض رد کړې دې او لیکلي ئې دی: واشار فی المعراج الی دفع ما فی غایة البیان بانه لا یفعل ذلك غالباً.
لیکن ددې نه هم د عقعق اصلا د ضرری نه کیدلو ثبوت نهٔ ترلاسه کیږی، ځکه چې صاحب د معراج د غالباً لفظ استعمال کړې دې، د کومې نه چې معلومیږی چې هغهٔ هم کله کله ضرر رسوی.
دویمه دا چې په خپله علامه شامی رحمه الله وړاندې لیکلي دی: ثم رایته فی الظهیریة قال وفی العقعق روایتان والظاهر انه من الصیود قلت وبه ظهر ان ما فی الهدایة هو ظاهر الروایة (منح علی البحر ص۳۶ج۳)
علامه عثمانی رحمه الله هم په فتح الملهم کښې د ظهیریې دا قول نقل کړې دې (ص۳۱۰ ج۳)
د کومې نه چې معلوم شوچې یو مرجوح روایت دعقعق په حقله دا هم دې چې د هغې په قتل باندې په محرم باندې جزاء نشته ،ظاهره خبره ده چې د دې روایت بنا همدا ده چې عقعق ضرری وی. ځکه چې د احنافو په نیزد دفواسقو خمسو په قتل باندې د جزاء نه کیدلو علت مشترکه هغه ضرردې. لکه څنګه چې علامه ابن رشد په بدایة المجتهد ص ۴۷۰ ج ۱ کښې نقل کړې دې و سیاتی نصه.

پس دا خبره ثابته شوه چې عقعق هم په یوه درجه کښې ضرری دې.که ستاسو په نیز ضرری کارغه حرام دې نو بیا خو عقعق هم حرامیدل پکار دی. وذلك خلف.
به هر حال: مقدمة الاولی علی الاطلاق صحیح نهٔ ده بلکه په دې کښې د بعضې حضراتو رائې مختلفه ده او کوم حضرات چې دې ته ضرری نهٔ وائی، هغوی هم کله کله ددې د ایذا قائل دی.
دویمه مقدمه دا مقدمه د راجح قول په بنا صحیح ده. اګرچې علامه ابن نجیم صاحب رحمه الله په دې سلسله کښې د ټولو خلقو نه متفرد دې او هغوی لیکلي دی واطلق فی الغراب فشمل الغراب بانواعه الثلاثة

ليکن دا صاحب د نهر.علامه حصکفي.علامه شامي او مولانا عثماني ﷺ رد کړي دي -
(شاميه ص-ج فتح الملهم ص-ج)

دریمه مقدمه دا مقدمه هرګز صحیح نه ده.او ددې عدم صحت به د مسوی داصل عبارت په کتلو باندې واضحه شی.دا امر ډیر افسوسناک او د حیرانتیا دی چې فاضل مجیب د مسوی د عبارت په نقل کولو کښې مجرمانه قطع او برید نه کار اخستې دی.کوم چې د علماؤ د شان نه ډیر لرې او بو ډیر بی خیه او غلط حرکت دی. زمونږ ذهن ددې فعل د تاویل په تکل کښې ډیرې سرکوندئ واړولې لیکن خه لاره ورته پیکاره نه شوه.لږ د مسوی په اصل عبارت باندې یو نظر واچوئ

قال البغوي اتفق اهل العلم على انه يجوز للمحرم قتل هذه الاعيان المذكورة في الخبر ولا شيء عليه في قتلها وقاس الشافعي رحمه الله عليها كل حيوان لا يوكل لحمه فقال لا فدية على من قتلها في الاحرام والحرم لان الحديث يشتمل على اعيان بعضها سباع وبعضها هوام وبعضها لا يدخل في معنى السباع ولا هي من جملة الهوام وانما هو حيوان مستخبث اللحم وتحريم الاكل يجمع الكل فاعتبروه وقالت الحنفية رحمهم الله لا جزاء بقتل ما ورد في الحديث وقاسوا عليه الذئب وقالوا في غيرها من الفهد والنمر والخنزير وجميع ما لا يوكل لحمه عليه الجزاء بقتلها الا ان يبتدئه شيء فيدفعه عن نفسه الخ (مسوی مع مصفی ص-ج)

د کومو جملو لاندې چې کرښې راښکلي شوې دی هغه فاضل مجیب نه دی نقل کړې دکومې نه چې دا ظاهریږی چې د تحريم الاكل يجمع الكل حکم د احنافو ﷺ دی.حال دا چې د اصل عبارت د کتلو نه هر څوک په دې باندې پوهیدې شی چې دا هر څه د امام شافعي ﷺ د قیاس مطابق بیانیږی مونږ په ذاتیاتو باندې د حملې کولو عادت نه یو. لیکن دومره عرض کول ضروری ګڼو چې داسې خو د هر مسلمان ذمه واری ده چې هر وخت خپل آخرت خان ته وړاندې کړی . لیکن د فتوی لوندې نازک مقام باندې بیا دا ذمه واری ډیره مزکه شی-

د داسې بزدلئ مظاهره په فتوی کښې یو بل ځائ هم کړې شوې ده چې فاضل مجیب د بحر د عبارت یوه ټوټه ومعنى الفسق فيهن خبثهن وكثرة الضرر فيهن نقل کړې ده او ددې نه لږ شان وړاندې د صاحب د هدايې پورتنې قول هم.دې د پاره چې صاحب بحر ئې په دې کښې ملګرې معلوم شی.حالانکه دا دومره د خندا او د افسوس حرکت دې چې دې په حقله څه وئیل نه دی پکار.ځکه چې په خپله د صاحب د بحر د ټول کلام نه د فاضل مجیب

د یوې مزعومې تردید [۱] کیږي.

صاحب د بحر لیکلي دي **واطلق فی الغراب فشمل الغراب بانواعه الثلاثه**

او د دې نه پس په صاحب د هدایې باندې ئې هم اعتراض کړی دې **الحمامه یقع علی حیر الدابة**

د کومې نه چې دا هم واضح کیږي چې د صاحب د بحر په نیزد د ټولو قسمونو د کارغنو حکم هم یو دې [۲] او دا هم چې د هغوی په نیز باندې عقعق هم ضرری دې. لهذا که چیرې ضرر رسول علت د حرمت شو نو بیا به عقعق هم د هغوی په نیز حرام شوې وي. حالانکه د عقعق په حلت باندې د ټولو فقهاؤ حنفیو ﷺ اجماع ده. الا ابایوسف رحمه الله. د دې باوجود فاضل مجیب هغوی هم خپل همخیال بنګاره کول شروع کړل. **سبحان الله هذا بهتان عظیم** معلومه نده چې د **واذا قلتم فاعدلوا ولو کان ذاالقربیٰ** ارشاد د کومو خلقو د پاره دې

بهر حال د مسوی د کوم عبارت نه چې فاضل مجیب استدلال کړې دې هغه خو د امام شافعي رحمه الله مسلک ثابت شو. اوس لږ په دې حقله د احنافو ﷺ مسلک وګورئ. د احنافو ﷺ په نیز د دې پنځو فواسقو د قتلولو علت ابتداء بالاذی ده. اکل د نجاست یا خلط نهٔ دې او نهٔ د حلت او د حرمت سره ددې څه تعلق شته، لکه څنګه چې په خپله د مسوی د ذکر کړې شوی عبارت د آخری جملو نه مستفاد کیږي.

وقالوا فی غیرها من الفهد والنمر والخنازیر وجمیع ما لا یوکل لحمه علیه الجزاء بقتلها الا ان یبتدئه هی بیدفعه عن نفسه فیقتله فلا شیء علیه

یعنی که یو ښکاور ابتداء په ضرر وکړي او په دفاع کښې هغه قتل کړې شي نو بیا په کښې هیڅ جزاء واجبه نهٔ ده. معلومه شوه دا خبره چې ابتداء بالاذی علت دې. علامه ابن رشد رحمه الله هم او د مالکیانو هم همدا مسلک دې:

قال (المسألة الثالثة) و هی اختلافهم فی الحیوان امامور بقتله فی الحرم و هی الخمس المنصوص علیها الغراب والحدأة والفارة والعقرب والکلب العقور فان قوما فهموا من الامر بالقتل لها مع النهی عن قتل البهائم المباحة الاکل ان العلة فی ذلک هو کونها محرمة و هو مذهب الشافعی رحمه الله و قوما فهموا من ذلک معنی

---

۱. اے چشم اشکبار ذرا دیکھ تو سہی یہ گھر جو بہہ رہا ہے کہیں تیرا گھر نہ ہو - **رشیداحمد** **ترجمه** اې د ژړا د سترګو خاونده لږ اوګوره دا کور چې کوم لاهو کیږي چرته ستا کور خو نهٔ دي

۲. پس که چیرې هر مبح القتل ښکاور حرام دې نو بیا خو په کښې د غراب الزرع حرمت هم لازم راځي حالانکه د هغې د حرمت څوک هم قائل نهٔ دي. **رشیداحمد**

التعدی لا معنی الصریح وهو مذهب مالك وابی حنیفة وجمهور اصحابهما رحمهم الله (بدایة المجتهد ص ج)
په دې عبارت کښې د وضاحت سره د احنافو رحمهم الله دا مذهب لیکلې شوې دی چې په حدیث کښې دمباح القتل د فرمائیلو علت ابتداء بالاذی دی،او د دې دلیل نه د یو خاص خیز په حرمت باندې دلیل نهٔ شی قائمیدلې،ددې نه علاوه د تولو فقهاء کرامو رحمهم الله د عبارتونو نه همدا معلومیږی، خکه چې هغوی د یو خاص خناور په قتلولو باندې د جزاء د واجب کیدلو یا نهٔ کېدلو په حقله ابتداء (۱) بالاذی ته مدار وائی، کما فی الهدایة والبحر والعنایة وغیرها.
هر کله چې دا خبره ثابته شوه نو ورسره دا خبره هم واضحه شوه،چې د کارغهٔ د حلالیدلو یا د حرامیدلو مسئله مونږ له په کتاب الحج کښې کتل نهٔ دی پکار بلکه ددې صحیح مقام د کتاب الذبائح هغه خائ دې کوم خائ کښې چې فقهاء کرام رحمهم الله د غراب د انواعو او د اقسامو نه بحث کوی، هم دا بنیادی غلطی ده چې یو مسئله د هغې د صحیح مقام نه اخواته په بل غیر متعلقه خائ کښې کتلې شی،حالانکه په کتاب الذبائح کښې د فقهاء کرامو رحمهم الله عبارتونه واضحه دی او د هغې نه د ملکی کارغه حلت ثابتیږی.

۱ – ملك العلماء امام کاسانی رحمه الله لیکی:

والغراب الذی یاکل الحب والزرع والعقعق ونحوها حلال بالاجماع (بدائع ص ج)

۲ – شمس الائمه سرخسی رحمه الله لیکی:

خمس فواسق یقتلن فی الحرم والمراد به ما یاکل الجیف واما الغراب الزرعی الذی یلتقط الحب فهو طیب مباح لانه غیر مستخبث طبعا وقد یالف الادمی کالحمام فهو والعقعق سواء ولا باس باکل العقعق وان کان الغراب بحیث یخلط فیاکل الجیف تارة والحب تارة فقد روی عن ابی یوسف رحمه الله انه یکره وعن ابی حنیفة رحمه الله

---

۱ - غالبا مستدل ته هم ددې نه انکار نشته دې بکله هغه د هر ضرری یا په نورو الفاظو د هر مباح القتل د حرمت مدعی دې،د مستدل دلیل به په صورت د شکلِ اول کښې دا وی: (هر مباح القتل موذی دې او هر موذی حرام دې،نتیجه ئې دا راوتله چې هر مباح القتل حرام دې).
د دې دلیل کبری مسلمه نهٔ ده: اول: خکه چې حضرات فقهاء کرامو رحمهم الله د حرمت په اصولو کښې د ضرر ذکر نهٔ دې کړې. وسیاتی ذکر اصول حرمة الطیور فانتظر
دویم: خکه چې دملکی غراب په حلت باندې دحضراتو فقهاء کرامو رحمهم الله صریح عبارتونه وراندې راروان دی
دریم: خکه چې صاحب د نهر او ابن عابدین وغیرهما د صاحب د بحر د قول اباحة قتل الغراب بانواعه الثلاثة باندې د رد کولو په وخت کښې دا وجه نهٔ ده وړاندې کړې چې په صورت د تعمیم کښې به غراب الزرع او د عقعق حرمت لازم راځی، بلکه د هغې په غیر موذی کیدلو باندې ئې استدلال کړې دې۔ رشید احمد

انه لا بأس بأكله وهو الصحيح على قياس الدجاجة فانه لا بأس بأكلها وقد اكلها رسول الله ﷺ وهي قد تخلط ايضا وهذا لان ما يأكل الجيف فلحمه ينبت من الحرام فيكون خبيثا عادة وهذا لا يوجد فيما يخلط (مبسوط سرخسي ص۳ ج۱۱)

۲- په عالمګيريه کښې د فتاوی قاضيخان نه نقل کړې شوې دی:

عن ابي يوسف رحمه الله قال سألت ابا حنيفة رحمه الله عن العقعق فقال لا بأس به فقلت انه يأكل النجاسات فقال انه يخلط النجاسة بشيء آخر ثم يأكل فكان الاصل عنده ان ما يخلط كالدجاج لا بأس (عالمګيرية كتاب الذبائح ص۳ ج۵)

دکومو جملو لاندې چې کرښې راښکلې شوې دی په هغې باندې په خاص توګه غور کولو نه پس به دا خبره واضحه شی چې هر ګډون کوونکې کارغهٔ حلال دې.

پاتې شو دا اعتراض چې فقهاء کرامو ﷺ چې د ګډون کوونکو کارغانو په حقله دا حکم کړې دې چې هغه حلال دی، هغه ئې بيا د عقعق سره محصور کړی دی.

لهذا د دې بنا صحيح نهٔ ده، ځکه چې د دې دليل دا وړاندې کړې شوې دې چې فقهاء کرام ﷺ د ګډون کوونکی کارغه نوعه اوښائی او وړاندې وروستو بيا فرمائی **وهو العقعق** او دا دليل د يو څو وجوهو نه باطل دې.

۱- **وهو العقعق** غوندې الفاظ خود حصر بالکل ندی، که محصورول ئې مقصود وو نو په صراحت سره به ئې دا وئيلې وو چې **هذا النوع محصور في العقعق**. ځکه چې د حلت او د حرمت اهمه مسئله ده، همدا وجه ده چې ټولو فقهاء کرامو ﷺ داسې نهٔ دی کړې چې په آخر کښې ئې د عقعق تصريح کړې وی، لکه عنايه، مبسوط او بدائع وغيره، معلومه شوه دا خبره چې دا قيد اتفاقی دې احترازی نهٔ دې.

۲- د دې په خلاف د مبسوط، بدائع او د عالمګيريه عبارتونه په عقعق او د غير عقعق د تفصيل [1] نهٔ کيدلو وجې نه واضحه دی، ښه صفا ترې نه دا خبره معلومه شوه چې هر ګډون کوونکې کارغهٔ حلال دې، برابره خبره ده که عقعق وی او که نه.

۳- په اصل کښې د عقعق په کارغهٔ کيدلو کښې اختلاف دې، بعضې خلق دا په غراب کښې

[1] يعنی ګډون کوونکې کارغه د عقعق نه ځان له بيل په مستقله توګه ذکر کول صريح دليل دې چې د حلت حکم د عقعق سره مخصوص نهٔ دې بلکه د عقعق نه علاوه بل کارغه هم کوم چې ګډون کوی حلال دې۔ رشيد احمد

داخل بولي او بعضې ئې نه بولي، لکه څنګه چې لويس معلوف يسوعي د خپل لغت په مشهور کتاب کښې ليکلي دي : العقعق طائر على شکل الغراب وهو الغراب (معجد ص ...)
لهذا د صاحب د هدايې په نيزد عقعق غراب نۀ دې، لکه څنګه چې هغوی ليکلي دي :

اما العقعق غير مستثنى لانه لا يسمى غرابا (هداية مجتبائى ص ۳ ج ۴)

او د نورو بعضو فقهاء کرامو ﷺ د عبارتونو نه د دې غراب کيدل معلوميږي، نو چې اوس کومو خلقو عقعق په غراب کښې داخل ونۀ منلو، هغه حضرات د غراب انواع بيان کړی او تير شي او وهو العقعق نه وائي بلکه يا خو له سره ددې ذکر نۀ کوی او يا وکذا العقعق وغيره وائي او چا چې عقعق په غراب کښې شامل کړي دې هغې حضراتو د ګډون کوونکی کارغۀ نوم عقعق کيښودلو، ددې وجې نه په دې سلسله کښې د فقهاء کرامو ﷺ په عبارتونو کښې څه تفاوت په نظر راځي.

په هر حال ؛ معلومه شوه چې وهو العقعق وئيلو سره د ګډون کوونکی نوعې حصر عقعق کښې نۀ دې کړې شوې.

د العبارات المزيدة جواب :

د فتوې په آخر کښې چې کوم (عبارات مزيده) وړاندې کړې شوي دی، په هغې کښې د (المخصص) للاندلسی نه چې کوم عبارت نقل کړې شوې دې، هغه د پورته بحث نه پس قابل د اعتناء نه پاتې کيږي، کما لا يخفى

البته د څو روايتونو د نقل کولو نه پس چې فاضل مجيب کوم تحقيق کړې دې هغۀ ډير عجيبه دې، چې د ابقع هم دوه قسمه دی، يو ګډون کوونکي او بل صرف نجاست خورونکي، څکه چې په تبيين الحقائق کښې دی : والمراد بالابقع الذى يأكل الجيف ويخلط كذا فى الهداية.

او بيا ئې هماغه دليل وړاندې کړو چې ابقع حرام دې، چونکه په حديث کښې د غراب نه مراد ابقع دې او حضرت عروه رضي الله عنه فرمائي : ومن يأكله بعد ما سماه رسول الله فاسقا.

د دې جواب دا دې چې (ابقع) لغتا هغه کارغه ته وئيلې شی، چې په کښې تور والې او سپين والې دواړه موجودوی، لهذا ددې اطلاق د کارغانو په درې واړو قسمونو [1] باندې کيږی ، صرف دانه خورونکي کارغه ته هم ابقع وئيلې کيدې شی، ګډون کوونکي کارغه ته هم، او صرف نجاست خورونکی کارغه ته هم، لهذا علامه شامی د غراب الزرع تشريح کړې ده او فرمائيلې ئې دی :

---

۱ - قال فى العناية واما الغراب الاسود والابقع فهو انواع ثلاثة نوع يلتقط الحب ولا يأكل الجيف الخ (عناية مع الفتح ص ۱۲ ج ۸) ۱۲ رشيد احمد \

قال القهستانی وارید به غراب لم یاکل الا الحب سواء کان ابقع او اسود او زاغا وتمامه فی اللغویة (شامیة ص ۳۰۶ ج ۵)

دویمه دا که چیرې واقعتاً داسې وي، نو تولو فقهاء کرامو ﷺ به دا په صراحت تامه سره تحریر کړې وو. ځکه چې دا معامله اهمه ده، په خصوصیت سره په کتاب الذبائح کښې خو پوره تفصیل ذکر کیدل پکار وو، حالاناکه فقهاء کرام ﷺ ابقع په عامه توګه د نجاست په خورونکو کښې خاص[۱] کوي، د مثال په توګه د عالمګیریې دا عبارت لږ وګورئ: الغراب الابقع وهو ما یاکل الجیف (عالمگیریه ص ۲۸۹ ج ۵)

پاتې شو د حضرت عروه ﷺ قول نو په دې سلسله کښې مونږ صرف دومره عرض کوو چې شمس الائمه سرخسي ﷺ د کارغهٔ په حقله څه لیکلي دي هغه ئې د دې حدیث[۲] د نقل کولو نه پس لیکلي دی، د هغې پوره عبارت داسې دي:

(وعن) هشام بن عروة عن ابیه ﷺ انه سئل عن اکل الغراب فقال ومن یاکله بعد ما سماه رسول الله ﷺ فاسقا یرید به الحدیث المعروف خمس یقتلن فی الحرم والمراد به ما یاکل الجیف اما الغراب الزرعی الذی یلتقط الخ (مبسوط سرخسی ص ۲۲۶ ج ۱۱)

د دې وجې نه اوس په دې کښې د څه بحث ګنجائش باقی پاتې نهٔ دې:

البته عالمګیریه د اردو چې کوم عبارت وړاندې کړې شوې دې، هغه په دې مسئله کښې صریح

---

۱ - په خپله مستدل د شامیې نه نقل کړې دی: نوع یاکل الا الجیف وهو الذی سماه المصنف الابقع وانه مکروه وهو ایضا انواع والغداف وهو المعروف عند اهل اللغة بالابقع الخ (ص ۳۰۶ ج ۵) د دې جواب حاصل دا دې چې مباح القتل ملکی کارغهٔ ته نهٔ دي شامل. لیکن هر کله چې پورته دا ثابت کړې شو چې هر مباح القتل حرامه نهٔ دې نو ددې د جواب ضرورت نهٔ پاتې کیږی ــ رشید احمد.

۲ - ابن رشد ﷺ هم په بدایة المجتهد کښې همدا حدیث ملحوظ ساتلي دي او د امام ابوحنیفة او د امام مالک رحمهما الله تعالی نه ئې دحلت قول نقل کړې دي، کمامرنصه

د حضرت عروة ﷺ د فسق د لفظ نه په حرمت باندې استدلال کول مسلم نهٔ دی، قال الامام النووی ﷺ:

تسمية هذه الخمس فواسق تسمية صحيحة جارية على وفق اللغة فان اصل الفسق لغة الخروج ومنه فسقت الرطبة اذا خرجت من قشرها
فوصفت هذه بالفسق لخروجها عن حكم غيرها من الحيوان في تحريم قتله او حل اكله او خروجها بالايذاء والافساد (نيل الاوطار ص ۳۰ ج ۵) وفي
فتح الملهم واما المعنى في وصف الدواب المذكورة بالفسق فقيل لخروجها عن حكم غيرها من الحيوان في تحريم قتله وقيل في حل اكله
وقيل لخروجها عن حكم غيرها بالايذاء والافساد وعدم الانتفاع (الى ان قال) وهو يرجح القول الاخير والله اعلم كذا في الفتح (فتح الملهم
ص ۲۳۰ ج ۳) ۱۲ رشيد احمد.

کيدي شي. ليکن افسوس چي عالمګيريه اردو موږ سره نشته او په اصل عربي عالمګيريه کښي باوجود د تکل نه ددې مطلب څه عبارت ترلاسه نۀ شو.بلکه ددې خلاف يو صراحت ترلاسه شو کوم چي موږ پورته ذکر کړي دي.تر څو پورې چي موږ ته اصل عبارت ترلاسه نۀ شي تر هغه وخته پورې موږ څه فيصله قطعي ددې عبارت په حقله نۀ شو کولې.لاسيما اذا جربها ماجربها.

او که دا عبارت بالفرض صحيح هم وي نو څومره صراحتونه چي موږ وړاندې کړل.د هغې نه پس د دې څه معتدبه حيثيت پاتې نۀ شو،ددې خلاف په خپله هم په عالمګيريه کښي دومره قدر صريح نص موجود دې .

د کلام خلاصه

فاضل مستدل د ټولو استدلاتو بنياد د کتاب الحج عبارتونه جوړ کړي دي،حال دا چي دا بنيادي غلطي ده، ځکه چي په حرم يا په حالت د احرام کښي د قتل د اباحت علت ايذاء [1] ده،کما صرح به ابن رشد ويستفاد من سائر کتب الفقه حرمت يا اکل د نجاست او ګډون نۀ دې، په خلاف د کارغۀ د حلت او د حرمت چي هلته علت صرف نجاست خوړل يا ګډون کول دي کما صرح به في الهداية والمبسوط ددې وجي نه د يو جوړ د بل سره يو ځائ کول او حکم لګول په هيڅ شان سره هم صحيح کيدي نۀ شي .

بلکه د کارغۀ د حلت او د حرمت د معلومولو دپاره په کتاب الذبائح کښي هغه ځائ کتل پکار دي کوم ځائ کښي چي فقهاء کرامو ﷺ ددې مسئلي ذکر کړي دې او د مختلف قسمونو کارغان او د دې احکام ئې ذکر کړي دي او ددې نه دا معلوميږي چي هر ګډون کوونکې کارغۀ حلال دې برابره خبره ده که هغه ضرري وي او که نۀ وي ضرري،او همدا فيصله زموږ د اکابرو مثلاً د حضرت مولانا ګنګوهي وغيره نه منقوله ده . هذا ما بدا لي بعد التحقيق وفوق كل ذي علم عليم

احقر محمد تقي عثماني غفرالله له ۴ ربيع الاول ۱۳۸۰ هجري دارالعلوم کراچي ۱۴

تکمله له جانبه د بنده رشيد احمد نه

حامدا ومصليا اما بعد قال العلامة البابرتي رحمه الله:

واما الغراب الاسود والابقع فهو انواع ثلاثة نوع يلتقط الحب ولا ياكل الجيف وليس بمكروه ونوع منه لا

---

۱ - او ايذاء علت د حرمت نۀ دې کما لايخفى رشيد احمد

یاکل الا الجیف و هو الذی سماہ المصنف الابقع الذی یاکل الجیف و انه مکروہ و نوع یخلط یاکل الحب مرۃ والجیف اخری ولم یذکرہ فی الکتاب وهو غیر مکروہ عند ابی حنیفة رحمه الله مکروہ عند ابی یوسف رحمه الله (العنایة علی هامش الفتح ص ۶۰ ج ۸)

نوع منه لا یاکل الا الجیف او د دې تفسیر د وهو الذی سماہ ـ الخ نه ثابت شو چې فقط هغه ابقع حرام دې کوم چې صرف نجاست خوری.

بله د ونوع یخلط (الی قوله) ولم یذکرہ فی الکتاب نه معلوم شو چې هر یو ګډون کوونکې کارغه حلال نهٔ دې، په دې کښې د عقعق څه تخصیص نشته دې.دا عبارت یواځې دا نهٔ چې د عقعق د تخصیص نه ساکت دی بلکه په عدمِ تخصیص باندې ناطق دی.ځکه چې د عقعق ذکر خو په هدایه کښې هم په دې موقع باندې موجود دې لهذا ولم یذکرہ فی الکتاب صریحی نص دې چې د نوع یخلط نه مراد عقعق نهٔ دې.

د مبسوط او د بدائع د عبارت نه هم دا ثابته کړې شوه.

مخدوم عبدالواحد سیوستانی رحمه الله هم د غراب اهلی د حلت تصریح فرمائیلې ده. ونصه:

ماحکم غراب الذی یطیر فی الامصار والقری و یخلط بین التقاط الحب والعذرات وما حکم سورہ؟

الجواب: الظاهر ان الغراب الابقع الذی فیه سواد و بیاض و هو مکروہ عند الصاحبین رحمهما الله تعالی وغیر مکروہ عند الامام رحمه الله لما فی السراجیة والابقع والاسودان کان یخلط فیاکل الجیف و یاکل الحب قال ابو حنیفة رحمه الله لا یکرہ وقال صاحباہ رحمهما الله تعالی یکرہ انتهی فیکون ماکول اللحم (الی ان قال) وان لم یکن لخرئه رائحة کریهة یکون طاهرا لکون خرئه خرء ماکول اللحم من الطیور التی تزرق فی الهواء الخ (فتاوی واحدیه ص ۳)

د پورتنو عبارتونو نه علاوه په لاندینی نصوصو کښې هم ددې تصریح ده چې د حلت او د حرمت مدار په خوراک باندې دې:

۱. واصل ذلك ان ما یاکل الجیف فلحمه نبت من الحرام فیکون خبیثا عادة وما یاکل الحب لم یوجد ذلك فیه وما خلط کالدجاج والعقعق فلا باس باکله عند ابی حنیفة رحمه الله وهو الاصح لانه النبی ﷺ اکل الدجاجة وهی ما تخلط (العنایة مع الفتح ص ۶۳ ج ۸)

۲- فکان الاصل عندہ ان ما یخلط کالدجاج لا باس (عالمگیریة ص ۲۸۹ ج ۵)

په آخر کښې د ابو حنیفهٔ عصر، فقیه النفس حضرت ګنګوهی رحمه الله فیصله هم د تذکرة الرشید نه

کولې شي ونصه:

هر کله چې دا فیصله له خپله د فقهې په کتابونو کښې ذکر شوې ده چې مدار د دې په خوراک باندې دې، لهذا دا کارغۀ کوم چې په دې کلو کښې موندې شي که چیرې دا عقعق نۀ وی نو بیا هم ددې په حلت کښې څه شبه نشته دې، ددې وجې نه هر کله چې دا کارغه هم ګډون کوی او نجاست او غله او دانه وغیره هر څه خوری نو ددې حلت هم په شان د عقعق معلوم شو برابره خبره ده که دې ته عقعق اووئیلې شي او که ونه وئیلې شي. فقط والله اعلم. رشید احمد گنگوهی عفی عنه

د ذکر شوی عبارت په حاشیه کښې لیکلې شوې دی:

هر کله چې د مخالفینو په دې مسئله باندې شور زیات شو نو د اویاو نه د زیاتو عالمانو د مواهیرو نه مو یو رساله په نوم د (فصل الخطاب) چاپ کړو، بله دا چې یو حاجی د علماؤ د حرم نه د دې د حلت فتوی واخسته، **وهی هذه** :

الحمد لله وحده رب زدنی علما. الغراب المذکور حلال من غیر کراهة عند ابی حنیفة رحمه الله وهو الاصح وهو المسمی بالعقعق بتصریح فقهائنا رحمهم الله واصاب من افتی بحله وجواز اکله وکیف یلام الحنفی علی اکل ما هو حلال عند امامه من غیر کراهة.

والاصل فی حل الغراب وحرمته الغذاء وکونه ذا مخلب لا بصورته ولونه کما یدل علیه تصریحات فقهائنا رحمهم الله فی غالب معتبرات المذهب کما فی البحر الرائق والدر المختار والعنایة وغیرها وفیما نصه جامع الرموز اشعار بانه لو اکل کل من الثلاثة الجیف والحب جمیعا حل ولم یکره وقالا یکره والاول اصح فتتبع ما صرح به علماؤنا ان الغراب بانواعه سواء کان عقعقا او غیره اذا کان یجمع بین جیف وحب یجوز اکله عند امامنا الاعظم رحمه الله والله اعلم.

قاله بفمه وامر برقمه عبدالله بن عباس بن صدیق مفتی مکة المشرفة.

د همدې مضمون د علماؤ د مدینې منورې هم فتوی موجوده ده. (تذکرة الرشید حصه اول ص۳۰)

د دې تحریر نه پس دا مسئله داسې واضحه شوه چې د انکار څه ځائ په کښې پاتې نۀ شو.

فبای حدیث بعده یؤمنون ❁ فقط والله الهادی الی سبیل الرشاد

رشید احمد

۱۵ ربیع الاول ۱۳۸۰ هجری

لله در المجیب الاول وارشاد الرشید الثانی حیث اوضح الحق والصواب بحیث لا یبقی منه ریب لمرتاب

بنده محمد شفیع عفا الله عنه ... الاول ۱۳۸۰ هجری

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿وَمَا تَوْفِيقِيٓ إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ﴾

احسن القضاء
فی
الذبح باعانة الكهرباء

«د ماشینی د ذبیحې حکم ، په دوو متضادو فتواګانو کښې محاکمه»

احسن القضاء

تاریخ د تالیف ـــــــــــــــ ۲۲ ربیع الاول ۱۳۸۲ هجری
اولنی طبع ـــــــــــــــ ۱۳۸۲ هجری

ملاحظات : ــــــــــ

دحلت سره له عدم جواز نه فتوی : **له مفتی محمد شفیع صاحب نه**
دحرمت فتوی : **له مفتی محمود صاحب قاسم العلوم ملتان نه**
محاکمه **له طرفه د مؤلف رحمه الله تعالی**
د دلائلو نقلیو او عقلیو سره حلت سره د ثبوت د عدم جواز نه .

د ماشینی ذبیحې حکم

د ماشینی ذبیحې په حقله د حضرت مفتی محمد شفیع صاحب او د مفتی محمود صاحب قاسم العلوم ملتان دوه متضاد فتوی ګانې ستاسو په خدمت کښې درلیږم تاسو ئې وګورئ او خپله رائې پرې قائمه کړئ. والاجر عندالله الکریم.

څه فرمائی علماء دین او مفتیان د شرعې په دې مسئله کښې:

۱- بعض علماء وائی چې په احادیثو کښې کومې طریقې د ذبحې ذکر کړې شوې دی. یعنی په حلق او لبې باندې چاړهٔ، چاقو وغیره د تیز مخ آلې باندې ذبح یا نحر کول، دا (امر تعبدی) نه دې بلکه (امر عادی) دې. په عربو کښې همدغسې ځناور ذبح کولې شی. د دې وجې نه رسول الله ﷺ د یو څو هدایاتو سره همدا طریقه قائمه وساتله. لهذا مسلمان یا کتابی چې بسم الله الله اکبر او وائی او په کومه طریقه باندې ئې هم ذبحه اوکړی، ذبیحه به حلاله وی آیا دا قول صحیح دې او که نه؟

۲- د صنعتی ترقئ په دې ماشینی دور کښې انسان د زیات نه زیات کار په خپل لاس باندې د کولو په ځائې له ماشینونو نه اخلی، لهذا په اروپا او امریکا کښې داسې برقی ماشینونه ایجاد شوې دی چې ډیر ځناور د هغې د لاندې ودرولې شی او په یو ځل بټن وهلو سره د هغې ټولو ځناورو ختونه پرې شی، نو که چیرې بټنه وهونکې مسلمان یا کتابی بسم الله، الله اکبر اووائی او بټنه اووهی نو آیا دا ذبیحه حلاله ده او که حرامه؟

الجواب: له طرفه د حضرت مفتی محمد شفیع صاحب نه:

۱- دا قول صحیح نهٔ دې، د ځناور د ذبحه کولو د پاره په نص د قرآن سره (ذکاة شرعی) ضروری دې، او د ذکاة اختیاری شرعی طریقه ذبح یا نحر ده، او ددې محل حلق او لبه ده، د کومې تعین چې په حدیث صحیح کښې د (امور عادیه) په طریقه نه بلکه په (تشریعی) طریقه باندې کړې شوې دې

۲- دغه شان د ځناور د ځټ د پورته ارخ نه پرې کول او بیلول، برابره خبره ده که په لاس سره وی او که په چاړهٔ سره وی یا د څه ماشین په ذریعه وی، دا د ذبحې د شرعی طریقې خلاف دی او په اتفاق د جمهورو ناجائز او ګناه ده، البته کوم ځناور چې په دې ناروا طریقه سره ذبح کړې شو. د هغې د غوښې په حلت کښې دا تفصیل دې چې که د بټنې په وهلو باندې دا چاړهٔ د ټولو ځناورو په ختونو باندې په یو وخت کښې راغله او د بټنې وهلو په وخت کښې بسم الله وئیلې شوې وه. نو د یو بسم الله د ټولو د پاره کافی شوه، او که نه وړاندې وروستو تړې نهٔ ختونه په وار وار پرې شو نو دا بسم الله به صرف د رومبی ځناور د پاره کافی شی او د باقی پاتې ځناورو د پاره به دا بسم الله معتبره نهٔ وی، او د دې وجې نه په اتفاق د امت سره به دا ټول ځناور حرام او مردار وی

بیا دغه شان د څټ د اړخې پورته نه د ذبحه شوي څناور، په کومو باندې چې بسم الله ونیل معتبره هم ده ددې په حلت کښې د فقهاؤ، د صحابهٔ کرامو، او د تابعینو اختلاف دې، د حضرت عبدالله بن عباس ﷺ نه د دې هم د حرام کیدل منقول دی، او د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ دې طریقې د ذبحې ته ناروا او د گناه ونیلو باوجود د دې غوښې ته حلاله وائی. (صحیح بخاری کتاب الذبائح)

د جواب تفصیل او تشریح:

تفصیل د دې اجمال دا دې چې قرآن کریم د یو څناور د غوښې د حلالیدلو دپاره ذکاة ضروری گرځولې دې، بغیر د شرعی ذکاة نه ذبیحه قطعاً حرامه ده، دا ذکاة د قرآن یو اصطلاحی لفظ دې، چې تشریح ئې عنقریب راروانه ده.

په سورهٔ مائده کښې د قرآن کریم واضح ارشاد دې: ﴿حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنزِيرِ وَمَا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ وَالنَّطِيحَةُ وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ إِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ﴾.

په دې آیت کریمه کښې د حرمت نه مستثنې صرف هغه څناور دی کوم چې په ذکاة شرعی سره حلال کړې شوي وی. د ذکاة شرعی په حقله امام راغب اصفهانی ﷫ په مفردات القرآن کښې فرمائیلې دی: وحقیقة التذکیة اخراج الحرارة الغریزیة لکن خص فی الشرع بابطال الحیاة علی وجه دون وجه

د امام راغب د دې تصریح نه دوه خبرې معلومې شوې، یوه دا چې ذکاة مطلقا د څناور دقتلولو نوم نه دې، بلکه د دې د پاره یوه خاصه طریقه مقرره ده، بله دا چې خاص طریقه هسې د عادتونو او د رسمونو پابنده نه ده، بلکه یوه شرعی اصطلاح او یو قانون دې.

بیا قرآن او سنت د ذکاة دوه صورتونه ټاکلی دی، یو اختیاری، لکه د کور او د ساتلو شوو څناورو ذکاة. دویم غیر اختیاری، لکه د ښکار، یا کوم څناور چې په څه وجه له کنترول نه بهر شی. په مقرره طریقه باندې نه شی ذبحه کیدلې. د دویم صورت ذکاة مطابق د تصریح د احادیثو صحیحو په بسم الله ونیلو سره غشې یا نیزه وغیره باندې زخم لگول او زخمی کول او وینه ترې نه توبول دی. ذبح یا نحر په کښې شرط نه دې.

او د ړومبی قسم یعنی اختیاری ذکاة د پاره ذبح یا نحر ضروری دې، په غوا. غوښی او بکرئ کښې د ذبحې او په اوښ کښې د نحر حکم دې

د ذبحې حقیقت دا دې چې څلور رگونه یعنی حلقوم، مرئ، او د دې دواړو اړخ ته د څټ دوه رگونه کومې ته چې ودجین وائی، هغه پرې کول. او د نحر د صورت دې چې څن [illegible] زړونی سره د هغې په لبه یعنی د حلقوم په کنده کښې هغه په نیزه یا په چاړهٔ باندې اووهلې شی او وینه ترې نه توبې کړې شی

په قرآن کریم کښې د غوا په حقله ((ان تذبحوا البقرة)) او د ((فذبحوها)) الفاظو سره او د ګډ په حقله د ((وفدیناه بذبح عظیم)) الفاظو نه دا خبره معلومه شوه چې په غوا ،غوني، بکرۍ او ګډ وغیره کښې ذبح کول مسنون دي.او د ((فصل لربك وانحر)) د الفاظو نه د اوښ نحر کول معلوم شو.ځکه چې دا آیت د اوښ د قرباني کولو په حقله نازل شوي دي،بل ځائ کښې په قرآن کریم کښې د اوښانو په حقله د «صواف» لفظ هم راغلي دي، ددې نه هم د اوښ نحر کول مفهومیږي.

د رسول الله ﷺ او د صحابهٔ کرامو ﷺ تعامل هم همیشه همدا وو، د دې په خلاف کول یعنی د اوښ ذبح کول اود غوا ، بکرۍ وغیره نحر کول چرته هم منقول نهٔ دی.

د دې وجې نه په اتفاق د امت سره داسې کول روا نهٔ دی،که چا د سنتو خلاف داسې وکړل، نو د امام مالک رحمه الله په نیز ددې غوښه هم حرامه شوه،د نورو امامانو رحمهم الله په نیز اګرچې د دهٔ د سنتو نه د خلاف د ذبحې کولو ګناه وشوه لیکن په حقیقت کښې په کښې ذکاة وموندلې شو د دې وجې نه ددې غوښه حلاله ده.

لما فی البدائع ولو نحر ما یذبح وذبح ما ینحر یحل لوجود فری الاوداج ولکن یکره لان السنة فی الابل النحر و فی غیرها الذبح (الی قوله) و قال مالك اذا ذبح البدنة لا تحل لان الله تبارك وتعالی امر فی البدنة بالنحر بقوله عزشانه فصل لربك وانحر فاذا ذبح ترك المامور به فلا یحل (بدائع ص ج)

ترجمه: په بدائع کښې ذکر کړې شوي دی چې که ذبح کیدونکې ښناور ئې نحر کړو،یا نحر کوونکې ښناور ئې ذبح کړو نو ذبیحه به ئې حلاله وی،ځکه چې د ښټ د رګونو پرې کیدل په کښې وموندې شول، لیکن مکروه به وی،ځکه چې سنت په اوښ کښې هغه نحر دې او په باقي پاتې ښناورو کښې ذبحه ده،دامام مالک قول دې که اوښ ذبحه کړې شوه،نو دا به حلاله نهٔ وی ځکه چې الله تعالی په آیت کریمه ((فصل لربك وانحر)) کښې د اوښ د نحر کولو حکم کړې دې،نو هر کله چې دې سرې په ځائ د نحر دا ذبحه کړو نو هغهٔ فعل مامور به «د کوم چې حکم وو» ترک کړو.

د ښناور د حلالیدلو د پارهٔ ذکاة شرعی شرط او د ذکاة قسمونه او احکامو په حقله د پورنه قرآنی،او د احادیثو تصریحاتو نه،او د اقوالو د صحابه کرامو او د تابعینو نه دومره خبره د پوهې د پاره کافی ده چې د ذبحې کومه طریقه رسول الله ﷺ تعلیم فرمائیلې ده هغه هسې رسم او عادت نهٔ دې، بلکه د جاهلیت رسمونه او عادتونه بدل کړې شو او یوه «تعبدی» طریقه جاری کړې شوه، د کومې خلاف کول چې ګناه ده.او په بعضې صورتونو کښې پرې ذبیحه هم نهٔ حلالیږی.

په موجوده سوال کښې د ذکاة غیر اختیاری او د اوښ د نحر بحث نهٔ دې،د بحث لاندې صرف هغه ښناور دی د کومو د ذکاة مسنونه طریقه چې ذبحه ده.یعنی غوا ،غوني،بکرۍ،او ګډ وغیره.د

دې وجې نه د ذبحې په شرعی حقیقت او ددې په شرطونو باندې څه قدر له نور تفصیل لیکلې کیږی، د کومې نه چې به د دویم سوال جواب واضح شی.

د ذبحې تعریف په صحیح بخاری کښې د حضرت عطاء بن ابی رباح نه دا نقل کړې شوې دې.

((الذبح قطع الاوداج)). په دې کښې ((اوداج)) د ((ودج)) جمع ده، کوم چې د حلقوم او مرئ نه ښی او چپ اړخ ته د دوو پړیړو رګونو نوم دې، او عادةً د دې پرې کول هم د حلقوم او د مرئ سره کیږی. د دې وجې نه مراد دا څلور ځیزونه پرې کول دی. یعنی حلقوم په کومې چې سا دننه ځی. او مرئ په کومې چې غذا د ننه ځی. او دواړو اړخو ته د څټ پرېر اوډبل رګونه د کومو نه چې د وینې سیلان جاری وی، او ددې د محل د متعین کولو دپاره په هدایه کښې د رسول الله ﷺ حدیث نقل کړې شوې دې په کوم کښې چې ارشاد دې: ((الذکاة بین اللبة واللحیین)) یعنی ذبحه د دوو ژامو د لاندې د څټ او د سینې د مینځ کندې پورې دې، په دې مینځ کښې چې په کوم ځائ کښې په چاړهٔ باندې پرې کړې شی نو ذبحه به درسته شی، د جمهورو فقهاء د امت په نیز د ذبحې همدا تعریف دې، او په عامو کتابونو کښې همدا ذکر کړې شوې دې، البته په دې کښې د آئمه مجتهدینو اقوال مختلف دی چې په دې څلورو واړو کښې که یو رګ پاتې شی نو ذبیحه به حلاله وی او که نه، د کومې په تفصیل کښې چې د ژور تللو دا ځائ نهٔ دې، د دې نه دا خبره معلومه شوه چې د ذبحې مسنونه او شرعی طریقه هم هغه ده کومه چې په عامه توګه په مسلمانانو کښې جاری ده، چې ځناور دې سملولې شی او د مرئ دا څلور رګونه دې پرې کړې شی، د کومو نه چې وینه تویه شی او سر ئې بالکل د بدن نه بیل هم نهٔ شی، غاړه چې د آخره پورې پرې کړې شی نو دې ته نخع وئیلې شی، په حدیث د صحیح بخاری کښې ددې نه منع کړې شوې ده:

عن ابن جریج قال اخبرنی نافع ان ابن عمر نهی عن النخع یقول یقطع ما دون العظم ثم یدع حتی یموت

یعنی حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما به د نخعې نه منع فرمائیله او فرمائیل به ئې چې د څټ آخر هډوکې کومې ته چې نخاع وئیلې شی، دا نهٔ دی پرې کول پکار، بلکه څلور رګونه دې پرې کړې شی او بیا دې پرېښودې شی تر دې چې ځناور مړ شی.

او په بدائع الصنائع کښې د رسول الله ﷺ دا ارشاد نقل دې ((الا لا تنخعوا الذبیحة)) یعنی د مذبوح ځناور سر بالکل د بدن نه مهٔ بیلوئ.

او دا خبره ظاهره ده چې دا خبره د رائې او د قیاس معامله نهٔ ده، د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنهما منع کول ددې خبرې دلیل دې چې په خپله رسول الله ﷺ د نخعې نه منع فرمائیلې ده، ددې وجې نه د غاړې رګونه دومره ژور پرې کول چې آخر د څټه پورې ورسیږی، ددې حدیث په بنیاد ناروا ثابت شو. او ددې نه زیاته ګناه او ناروا دا دی چې د څټ داړخ نه پرې کړې شی. او سر د بدن نه بیل کړې

شی، په هدایه کښې دی : ومن بلغ بالسكين النخاع او قطع الراس كره له ذلك وتوكل ذبيحته وان ذبح الشاة من قفاها فبقيت حية حتى قطع العروق حل لتحقق الموت بما هو ذكاة

یعنی کوم سړی چې د ذبحې په وخت کښې چاړهٔ نخاع پورې یعنی د څټ د آخر هډوکی پورې ورسوله نودا مکروه دی لیکن ذبیحه ئې حلاله ده،او که چیرې بکرئ ئې د څټ له اړخه ذبحه کړه او هغه د رګونو دپرې کولو پورې ژوندئ وه نودا ذبیحه حلاله ده لیکن داسې کول مکروه او ناروا دی

په درمختار او شامی کښې دی: وكره ذبحها من قفاها ان بقيت حية حتى تقطع العروق والالم تحل لموتها بلا ذكاة والنخع وقطع الراس

یعنی څناور د څټ له اړخه ذبحه کول مکروه دی که چیرې څناور د رګونو د پرې کولو پورې ژوندې پاتې شی اوکه نه نو حلال نهٔ دې ځکه چې هغه دذبحې نه وړاندې مړ شو،او نخع کول هم مکروه دی، یعنی د څټ آخری هډوکی پورې پرې کول او د سر پرې کول هم مکروه دی.

او په بدائع الصنائع کښې دی : ولو ضرب عنق جزور او بقرة او شاة بسيفه فابانها وسمى فان كان ضربها من قبل الحلقوم توكل وقد اساء اما حل الاكل فلانه اتى بفعل الذكاة وهو قطع العروق واما الاساءة فلانه زاد في ألمها زيادة لا يحتاج اليها في الذكاة فيكره ذلك وان ضربها من القفا فان ماتت قبل القطع بان ضرب على التأني و التوقف لا توكل لانها ماتت قبل الذكاة فكانت ميتة وان قطع العروق قبل موتها توكل لوجود فعل الذكاة وهي حية الا انه يكره ذلك (بدائع ص۳ ج۵)

او که چیرې اوښ،غوا ، یا بکرئ په څټ په توره باندې اووهلې شوه او څټ ترې نه بیل کړې شو او بسم الله ئې اؤوئیله او داسې ئې وکړل، نو کهٔ دا کار ئې د غاړې د اړخ نه کړې وی نو بیا خو ذبیحه حلاله ده لیکن داسې کول ښهٔ نهٔ دی،د ذبیحې حلال والې خو د دې وجې نه دی چې د ذکاة شرطونه په کښې وموندل شول،او بدی او ګناه ئې د دې وجې نه ده،چې دې سړی بې د څه ضرورت نه څناورله غیر ضروری تکلیف ورکړلو ،د دې وجې نه مکروه دی،او که د څټ له اړخ نه ئې په توره باندې وهلې وی او څټ ئې ترې نه بیل کړې وی نو که د ذبحې د رګونو د پرې کیدلو نه وړاندې څناور مړ شوۀ ،لکه ورو ورو ئې پرې کړو، او د ذبحې رګونو ته د رسیدلو نه وړاندې هغه مړ شو نو دا مردار دې.خوراک ددې حلال نهٔ دې،او که سمدستی پرې کړې شو او د مړ کیدلو نه وړاندې ئې د ذبحې رګونه پرې شو نو غوښه ئې حلاله ده، اګرچې د ذبحې دا طریقه ناروا او مکروهه ده.

د پورته ذکر کړې شوو روایتونو نه دا خبره ثابته شوه،چې څناور د څټ د پورته اړخ نه پرې کول د ذبحې مشروع طریقې نه خلاف او ناروا دی،او څټ د بدن نه پرې کول او جدا کول ځان له یو مکروه فعل دې.که د څټ د اړخه په پرې کولو کښې په رو رو پرې کړې شی د کومې د وجې نه چې

د ذبحې د رګونو د پرې کولو نه وړاندې دا ځاروې مړ شي، نو په دې صورت کښې به ذبيحه هم حرامه او مرداره شي، البته که په تيرۀ چاړۀ سره ترې نه سمدستي ښټ پرې کړې شي نو طريقه د ذبحې ئې د شرعې نه د خلاف کيدلو د ګناه نه باوجود که د دې کار په شروع کښې ئې بسم الله ونيلې وی او بيا ئې دا کار کړې وی نو دا ذبيحه ئې حلاله ده.

د بجلۍ په مشينونو د پورته نه د ښټ په ارخ په چاړۀ ايخودلو باندې او د ښټ په پرې کولو کښې به په ظاهره دا صورت خو نۀ وی چې د رګونو په پرې کيدلو باندې ئې مرګ واقع شي ځکه چې دا قطع ډيره په سرعت او تيزۍ سره وی،ددې وجې نه که د ماشين د چاړۀ ايښودونکې په ښټ باندې د دې چاړۀ د ايښودلو په وخت کښې بسم الله ونيلې وی او چاړۀ ئې ايښې وی نو اګر چې د ذبحې په غير مشروع طريقې سره د واقع کيدلو ګناه به ئې کيږی ليکن غوښه به ئې حلاله شي.

البته دلته يوه بله مسئله دا مخې ته راڅی،چې ډير ښناور د ماشين د لاندې ودرولې شي او يو ځل پرې بسم الله هم اووايی نو آيا دا يو ځل بسم الله ونيل به د ټولو ښناورو د حلاليدلو د پاره کافی شي اوکه نه صرف د ړومبې ښناور د حلاليدلو د پاره به کافی وی،او نور ښناور به مردار وی.

د دې په حقله مقتضی د نصوصو اود اصولو د شرعې دا ده چې بسم الله ونيل او ذبح کول دواړه متصل واقع شي،معمولی د يوې دقيقې يا نيمې دقيقې د تقديم خو به څه اثر نۀ وی،ځکه چې عادةً د دومره فرق راتللو نه خلاصې نشته ، ليکن ددې نه زيات تقديم که وشو نو دا تسميه به د ذبحې سره د متصل نۀ کيدلو له کبله کالعدم شي،او ښناور به مردار شمارلې کيږی.

په بدائع الصنائع کښې دی:

ووقتها في الذكاة الاختيارية وقت الذبح لا يجوز تقديمها عليه الا بزمان قليل لا يمكن التحرز عنه لقوله تبارك وتعالى ولا تاكلوا مما لم يذكر اسم الله عليه والذبح مضمر فيه معناه ولا تاكلوا مما لم يذكر اسم الله تعالى عليه من الذبائح ولا يتحقق ذكر اسم الله تعالى على الذبيحة الا وقت الذبح (بدائع الصنائع ص ج)

يعنی د تسمې (بسم الله) ونيلو وخت په اختياری ذکاة کښې بعينه د ذبحه کولو وخت دې.لهذا د وړاندې نه بسم الله ونيل ناروا دی،ما سوا د دومره لږې زمانې نه چې د هغې نه بچ کيدل ممکن نۀ وی، ځکه چې د الله تبارک و تعالی ارشاد دې ((او مۀ خورئ د هغه ښناور غوښه په کومو باندې چې د الله تعالی نوم وانخستې شی) د ذبحې لفظ ليکل دلته مضمر(پټ)دی او معنی ئې دا ده چې د ذبحې په وخت کښې په کوم ښناور باندې د الله تعالی نوم وانخستلې شی نو د هغې غوښه مۀ خورئ. لهذا په ذبيحه باندې به د الله تعالی نوم اخستل په هغه وخت کښې متحقق کيږی چې د ذبحې په وخت کښې نوم اخستې شوې وی

په همدې بناء صاحب د بدائع د امام ابويوسف رحمه الله دا روايت نقل کړې دې چې که يو سړی يوه

بکرۍ د ذبح کولو د پاره سملوله،او په هغې باندې ئې بسم الله وه وئیله،او بیا ئې هغه پرېښودله او بلې بکرۍ له ورغئ او په سابقه تسمیه باندې ئې اکتفاء وکړه او دا دویمه بکرۍ ئې ذبحه کړه نو دا بکرۍ مرداره ده د دې خوړل روا نه دي.څکه چې کومه بسم الله وئیلې شوې ده د هغې او د ذبحې ترمینځه فصل او جدایي راغلې ده.

او په مبسوط کښې د امام محمد رحمه الله په حقله دا روایت نقل کړې شوې دې:

ارايت الذابح يذبح الشاتين والثلاثة فيسمي على الاول ويدع التسمية على غير ذلك عمداً قال ياكل الشاة التي سمي عليها ولا ياكل ما سوى ذلك (بدائع الصنائع ص ج)

حضرت مسئله راته وښایئ، یو ذبحه کوونکې دوه یا درې بکرۍ ذبحه کوي او د الله تعالی نوم په رومبی ځل اخلي.او په باقي باندې ئې په قصد سره پرېږدي، (د دې څه حکم دې؟) هغوی اوفرمائیل (په داسې صورت کښې) صرف رومبۍ بکرۍ حلاله ده او باقي حلالې نه دي.

البته که چیرې دوه بکرۍ ئې په یو ځائ سملولې او په دواړو باندې ئې په یو ځائ چاړه راخکله نو دا تسمیه د دواړو د پاره کافي کیږي او دواړه به حلالې شي.

لو اضجع شاتين وامر السكين عليهما معاً ان تجزي في ذلك تسمية واحدة (بدائع ص ج)

او که دوه بکرۍ ئې په یو ځائ په زمکه باندې سملولې او په دواړو باندې ئې په یو ځائ چاړهٔ رابنکله نو په دې صورت کښې به یو ځل بسم الله وئیل کافي شي.

د ذکر کړې شوې روایتونو په رڼا کښې په دې زیر بحث مسئله (دیر ځناور چې د ماشین د چړې لاندې ودرولې شي او بسم الله وه وئیلې شي او د هغوی ختونه پرې کړې شي) په دې کښې په غیرمشروطه طریقه د ذبحې کولو د ګناه نه علاوه به صرف هغه ځناور حلال ګڼلې کیږي په کومو باندې چې چاړهٔ په یو ځل راپرېوته، په دې شرط چې د ماشین د چړې چلولو په وخت کښې بسم الله وئیلې شوې وي، او د بعضې صحابه کرامو رضی الله عنهم په نیزد دا هم په غیر مشروع طریقې سره د ذبح کولو له وجې نه حرام دي، او د کومو ځناورو په ختونو چې دا چاړهٔ د بسم الله وئیلو نه پس په وار وار راغلې ده هغه ځناور د تسمیې د ترکِ د وجې نه د جمهورو په نیز حرام او مردار دي.

د کلام خلاصه

پورته په ذکر کړې شوی تفصیل کښې د سوال د دواړو نمبرو جواب راغې،او خلاصه د دې دا ده چې د اروپا د ښارونو مروجه طریقه د ذبحې خلاف د شرعي او موجب د ګناه ده.د مسلمانانو چې څومره افسوس کیږي د دې نه دې ځان وساتي او په خپلو ملکونو کښې دې د دې رواج ختم کړي،او د اروپا په علاقو کښې اوسیدونکې مسلمانان کوم چې د دې طریقې په بدلولو باندې قدرت نه

لری او د غوښې ضرورت بهر حال شته دې، د هغوی د پاره د دې لاندې شرطونو سره ددې غوښې استعمال روا دې، که په دې کښې په کښې یو شرط هم ونهٔ موندې شو نو حرامه به وی:
۱ - د ماشین په ذریعه چې کوم سړې ذبحه کوی چې هغه مسلمان، نصرانی یا یهودی وی
۲ - د ماشین چاړهٔ د ښاورو ښتونو ته د رسیدلو په وخت کښې هغه خالص د الله تعالی نوم، بسم الله، الله اکبر وئیلی وی.
۳ - دا چاړهٔ چې د خومره ښاورو په ښتونو باندې په یو وخت راغلې وی هغه ښاور ممتاز او بیل وی، نور ښاور په کومو باندې چې چاړهٔ بیا وروستو راغلې وی هغه مردار دی، نو چې ددې ښاورو غوښه د رومبو ښاورو د غوښې سره ګډه وډه شوې نهٔ وی، لیکن ظاهره خبره ده چې بهر ملکونو ته د تلونکو او د مختلفو علاقو د اوسیدونکو مسلمانانو ته د دې شرطونو د پوره کیدلو علم کیدل آسانه نهٔ ده، ددې وجې نه ددې نه ځان ساتل ښهٔ خبره ده. والله سبحانه وتعالی اعلم

بنده محمد شفیع عفا الله عنه دار العلوم کراچی
۲۲ ذی قعده ۱۳۸۴ هجری

جواب :از مفتی محمود صاحب قاسم العلوم ملتان:

زهٔ دا ګنم چې بټنه وهونکی مسلمان هم وی او د بټنې د وهلو په وخت کښې ئې تسمیه هم وئیلې وی نو بیا هم د ماشین مروجه ذبیحې ته حلاله نهٔ شی وئیلې کیدې بلکه هغه هم مرداره ده.

تاسو دې ته وګورئ چې بټن وهونکی خو صرف همدا کړی دی چې د برقی طاقت او د ماشین کوم کنکشن (تعلق) ختم شوې وو او ددې دواړو تر مینځه چې کوم مانع وو هغه ئې لرې کړو او له سره یې بیا ورله کنکشن جوړ کړو، او بس نور ئې څه نهٔ دی کړې، په اصل کښې د ماشین چاړهٔ چلونکې او د ښاور مرئ پرې کوونکې برقی چپه (کرنټ) ده، نه چې د یو مسلمان د لاس قوت محرکه، او دا مرئ پرې کول د برقی قوت او د ماشین فعل دې، د یو مسلمان فعل خو ندې.

او په ذبحه اختیاری کښې د ذابح (یعنی د ذبح کوونکی) فعل (په خپل لاس سره د مرئ پرې کول) او د هغهٔ د تحریک موثر کیدل شرط دی، دلته خو د بټنې وهونکی فعل ماسوا د رفعې د مانع نه بل هیڅ هم نهٔ دی، په رفع د مانع سره د فعل د ذبحې نسبت درافع اړخ ته څنګه کیدې شی؟ او دهٔ ته ذبح کوونکې څنګه وئیلې کیدې شی؟

د دې په مثال داسې پوهه شئ:

۱ - یو مجوسی په لاس کښې چاړهٔ اخستې وه او یو ښاور ئې ذبح کول غوښتل، یو بل سړې راشی او د هغهٔ لاس ونیسی او ذبح کوونکې حصار کړی اوس یو مسلمان بسم الله، الله اکبر اووائی او دهغه حصارونکی لاس راکاږی او د مجوسی لاس خلاص کړی او هغهٔ فورا د ښاور په ښټ باندې چاړهٔ راکاږی. نو آیا دا ذبیحه به حلاله شی؟

وګورئ په دې مثال کښې خو د رفعې د مانع فعل يو مسلمان کړې دې او بسم الله ئې وئيلې ده او د ذبحې اهل هم دې ليکن اصل ذبح کوونکې د چا تحريک چې مؤثر دې هغه مجوسی دې ددې وجې نه لازما اصل محرک او مؤثر ته وکتلې شو او د دې ذبيحې د حرمت حکم ولګولې شو او د رافع د مانع د فعل اعتبار ونۀ کړې شو.

۲ - همدغه شان که د يو تيرۀ مخ آله مثلا چاړۀ پورته په يوه رسئ پورې ترلې شوې زوړنده وی، او د هغې لاندې بالکل نيغ په نيغه چرګه يا د بکرئ يو بچې يا يو بل ښناور ولاړ وی، اوس که څوک مسلمان تسميه اووائی او دغه رسئ پرې کړی او دغه آله په خپل طبعی ثقل سره لاندې راوغورځيږی او د دغه ښناور غاړه پرې کړی نو آيادا ذبيحه به حلاله وی؟ او دا فعل د ذبحې به دې رافع د مانع ته منسوب کيږی او دۀ ته به د ښناور د ذبحه کوونکې او دې ښناور ته به د مسلمان ذبيحه وئيلې شی؟

که په دې دواړو مثالونو کښې د ذبيحې حکم د حلت نۀ وی او دا ذبيحه حلاله نۀ وی، او يقيناً چې نۀ ده،نو د ماشين په ذبيحوباندې به د حلت حکم څنګه ولګولې شی او په دې دواړو کښې فرق څه دې؟

دويمه خبره په کښې قابل د غور دا ده چې که چيرې دې حقيقت نه سترګې پټې هم شی او د يوې لمحې دپاره دا ومنلې شی چې (بټن وهل يو مؤثر او اختياری فعل) دې، نو د بټنې د وهلو فعل خو د بټنې په وهلو باندې ختم شی، د ماشين دچليدلو او د غاړې دپرې کولو په وخت کښې خو د دۀ فعل موجود نۀ وی، ماشين چليږی او غاړې پرې کيږی،هغه خو د غاړو د پرې کيدلو نه وړاندې د خپل عمل نه فارغه شی.

دا صورتِ حال په ذبحه اضطراری کښې خو شرعاً برداشت دې،چې د غشی په ويشتلو سره د رامی عمل ختم شی او اَصابۀ سهم په وخت کښې د هغۀ فعل په ظاهره باقی پاتې نۀ وی، ليکن په دې صورت کښې شريعت صرف د عذر د اضطرار د وجې نه د اصابۀ سهم نسبت رامی سره قائم ساتلې دې، او دۀ ته ئې ذبح کوونکې وئيلې دې،او د دې وجه دا هم ده چې په غشی کښې په خپله ښکار ته د رسيدلو طاقت نشته ، دا طاقت په غشی کښې رامی پيدا کړې دې، مؤثر په حقيقت کښې هم يو دې او هغه د رامی قوت دې، ددې په عکس دماشين مؤثر برقی طاقت دې، اوهغه د ماشين چاړه چلوی. د بټنې دوهونکی قوت په دې کښې مطلق مؤثر نۀ دې، لهذا دبټنې د وهونکی فعل د رامی په فعل باندې نۀ شی قياس کولې. په اصل کښې د هغه فعل صرف رمی کول دی او بس، تر دې چې د اصابۀ سهم په وخت کښې د دې رامی اهل کيدل هم ضروری نۀ دی هر کله چې دې په وخت د رمی کښې اهل وو.

امام ابو بکر الکاساني په بدائع صنائع ص ۴۹ کښې ليکي:

ولو رمى او ارسل وهو مسلم ثم ارتد او كان حلالا فاحرم قبل الاصابة واخذ الصيد يحل ولو كان مرتدا ثم اسلم ورمى لا يحل لان المعتبر وقت الرمي والارسال فتراعى الاهلية عند ذلك

که غشې ئې اوويشتلو يا (تربيت ورکړې شوې ښکاری ځناور) ئې پريښودلو په دې حالت کښې چې هغه مسلمان وو بيا هغه سمدستی د غشې د لګيدلو نه وړاندې مرتد شو يا دې حلال وو او سمدستی ئې احرام وتړلو او ښکار ته غشې يا ځناور ور ورسيدلو نو هغه ښکار حلال شو. او که د غشې د ويشتلو يا د ښکاری ځناور د پريښودلو په وخت کښې مرتد وو او بيا مسلمان شو او تسميه ئې هم اووئيله نو هغه ښکار به حلال نۀ وی، ځکه چې اعتبار د غشی د ويشتلو يا د ځناور د پريښودلو د وخت دې، په هماغه وخت به اهليت د ذبحې ته کتلې شی (چې اهل دې او که نه).

همدغه شان په هدايه ج ۴ ص ۴۸۷ کښې ئې ليکلې دی:

ولان الكلب والبازي آلة والذبح لا يحصل بمجرد الالة الا بالاستعمال وذلك فيهما بالارسال فنزل منزلة الرمي وامرار السكين

ځکه چې تربيت ورکړې شوې سپې او باز په حکم د آلې کښې دې او ذبح د آلې نه د کار اخستلو نه بغير نه شی کيدلې او د سپی او د باز په صورت کښې د دې پريښودل هم د هغوی نه کار اخستل دی دا پريښودل د غشی د ويشتلو او چړې د چلولو قائم مقام دی.

د ذبح اختياری او د ذبحه اضطراری بنيادی فرق همدا دې چې په اختياری ذبح کښې امرار سکين عمل د ذبحې دې او په ذبح اضطراری کښې رمی او ارسال د شريعت مطابق د عمل د ذبحې قائم مقام دې. وګورئ امام شافعی رحمه الله هم په ذبح اختياری کښې (فعل انسانی) له شرط بولی په کتاب الام کښې فرمائی:

والذكاة وجهان وجه فيما قدر عليه الذبح والنحر وفيما لم يقدر عليه ما ناله الانسان بسلاح بيده او رميه بيده فهي عمل يده او ما احل الله عزوجل من الجوارح ذوات الارواح المعلمات التي تاخذ بفعل الانسان كما يصيب السهم بفعله فاما الحفرة فانها ليست واحدا من ذا كان فيها سلاح يقتل اولم يكن ولو ان رجلا نصب سيفا او رمحا ثم اضطر صيدا اليه فاصابه فذكاه لم يحل اكله لانها ذكوة بغير فعل احد (الام ص ۳ ج ۲)

د ذبحې (شرعی) دوه صورتونه دی يو صورت ئې دا دې چې ځناور ئې په قابو کښې وی په دې صورت کښې ذبح کول يا نحر کول شرعی لازم دی او که ځناور ئې په قابو کښې نۀ وی نو په دې صورت کښې دې انسان په خپل لاس په وسله باندې قتل کړی يا په خپل لاس دې غشې وه ولی، يا د هغۀ ځناورو په ذريعه کوم چې الله تعالی (د ښکار دپاره) حلال کړی دی کوم چې د غشی په شان د

انسان په فعل باندې کار کوي، ښکار وکړي. باقي کنده کنسټل برابره خبره ده چې په دې کښې څه وسله وغیره وي او که نه هغه په دې دواړو صورتونو کښې د یو صورت نه هم نهٔ دې،او که یو سړی یوه توره یا نیزه یو ځائې کښې ښخه کړه او بیا ئې ښکار هغه اړخ ته په منډه باندې مجبور کړو او دې توري یا نیزې سره د هغه غاړه پرې شوله نو د هغه خوراک به حلال نهٔ وي،ځکه چې هغه بغیر د یو انسان د فعل نه ذبح شو

او په دې کښې شک نشته چې په برقي ماشین سره کومې د څناورو مرغۍ پرې کیږي،هغه یقینا نهٔ د انسان فعل دې او نهٔ د هغهٔ د لاس د قوت په دې کښې څه دخل شته دې،همدا وجه ده چې د یو ادنی نه د ادنی پوهې خاوند هم دې ته د انسان فعل نهٔ شي وئیلې، له همدې وجې نه دې ته ماشینې ذبیحه وائي، آلهٔ شرعا هم هغې ته وائي چې هغه په خپله مؤثر او محرک نهٔ وي، ماشین بی شکه یوه آله ده، لیکن ددې چلونکی او مؤثر طاقت برقي قوت دې نه بټن وهونکی یا د هغه طاقت۔

الجواب باسم ملهم الصواب : د حضرت مفتي محمد شفیع صاحب مدظلهم جواب صحیح دې. یعنی په مشین سره ذبحه کول روا نهٔ دی لیکن ذبیحه به ئې حلاله وي

په دویم جواب کښې د وجې د حرمت حاصل دا دې چې په ذبح اختیاري کښې د فعل د ذبحې مباشرت ضروري دې او د ماشین د بټنې وهل مباشرت نهٔ دې بلکه رفع د مانع دې،د مانع د رفع کیدلو نه پس برقي چپه په خپله د ماشین چاړه چلوي،لهذا فعل د ذبحې به برقي چپې ته منسوب کیږي نه د بټن وهونکي اړخ ته۔

حقیقت دا دې، چې بټن وهل رفع د مانع نهٔ ده بلکه په بټنه کښې دننه د دوو تارونو په مینځ کښې کومه فاصله ده هغه د پیټلو د ټکرې نه ډک کړې شي او آله د حرکت (برقي چپه) چرې پورې رسولې شي، د بټنې په وهلو باندې څه تعلق (کنکشن) ختمولې نه شي بلکه جوړولې شي، لهٰذا ددې حقیقت ایصال آلة الذبح الی المذبوح دې. په رفع د مانع کښې او ایصال په واسطې دنو شي کښې فرق بدیهي دې، چې رومبې اعدام الموجود دې او دویم ایجاد المعدوم دې. یا داسې اووائې چې په اول کښې رفع الشیء دې او په دویم کښې اتیان بالشیء دې فشتان بینهما.

مانع هغې ته وائي چې سبب موجود وي لیکن د هغې د تاثیر نه څه عارض مانع وي.لکه چې چاړهٔ د رسۍ په ذریعه پورته وترلې شي، نو د هغې د غورځیدلو سبب یعنی ثقل خو موجود دی لیکن د هغې د تاثیر نه رسۍ مانعه ده۔

اوس غور وکړئ چې په برقي چپه کښې خو د هغې د وراندې تیریدلو سبب یعنی تار بالکل موجود نهٔ دې. د بټنې په وهلو باندې سبب پیدا کولې شي۔

مثلاً د اور شغلې لرې پورې تلل غواړي، لیکن د اوسپنې تخته وغیره ترې مانع ده. نو دی نه به

مانع وائی او د دې تختې اخوا ته کولو ته به رفع د مانع وئیلې شی.د دې په عکس سره که چیرته یو خیز اور نه وی حصار کړې لیکن هغه ددې وجې نه وراندې نۀ ځی چې وراندې هغۀ لره قبلولو والا څه ځیز بیخی نشته ، نو دا مانع نه بلکه انعدام السبب دې .

اوس فرض کړئ چې د اور نه په څه فاصله باندې مالوچ یا پټرول پراتۀ دی تا څه رینه وغیره واخسته اودهغې یو سر مو په اور کښې کیښودلو او دویم سر مو ورله په پټرولو کښې کیښودلو. په دې طریقه تا اور هغه ځائ ته ور ورسولو ،نو ظاهره خبره ده چې دا رفع د مانع نۀ ده بلکه ایجاد السبب دې بلکه مباشرت د فعل دې .

حضراتو فقهاء کرامو ﷺ اگر چې په بعضو ځایونو کښې رفع د مانع ته هم تسبیب وئیلې دی، لیکن ایجاد د سبب رفع د مانع نۀ ده،بیا په ایجاد د سبب باندې د مسبب ترتب که ضروری نۀ وی نو هغۀ ته هم د رفعې د مانع په شان تسبیب وئیلې شی،اوکه د مسبب ترتب لازم وی نو دا به مباشرت وی۔

لهذا په مشین سره د ذبحې مثال داسې وګڼئ چې اور بلیږی تا د اوسپنې نلکه واخسته او بسم الله دې اووئیله او د دې په ذریعه دې اور مذبوح ته راورسولو .یا د نلکې په ځائ باندې دې بل څه ځیز د اور او د مذبوح ترمینځه کیښودلو د کومې په ذریعه چې اور د مذبوحه پورې راورسیدلو. او رګونه ئې پرې شو او وینه ترې نه راروانه شوه، نو آیا د داسې ځناور په حلت کښې څه شبه کیدې شی؟

قال فی الشامیة قوله(ولو بنار)قال فی الدر المنتقی وهل تحل بالنار علی المذبوح قولان الاشبه لا کما فی القهستانی عن الزاهدی فلیعلم لکن صرحوا فی الجنایات بان النار عمدوبها تحل الذبیحة لکن فی المنح عن الکفایة ان سال بها الدم تحل وان تجمد لا اه فلیحفظ لیکن التوفیق اه(ردالمحتار ص ـــ ج ه)

وفی الخانیة والحمامة اذا طارت من صاحبها فرماها صاحبها اوغیره قالوا ان کانت لا تهتدی الی المنزل حل اکلها سواء اصاب السهم المذبح او موضعا اخر لانه عجز عن الذکاة الاختیاریة وان کانت تهتدی الی المنزل فان اصاب السهم المذبوح حل وان اصاب موضعا اخر اختلفوا فیه والصحیح انه لا یحل اکلها مروی ذلک عن محمد رحمه الله تعالی لانها لما کانت تهتدی الی المنزل یقدر علی الذکاة الاختیاریة والظبی اذا علم فی البیت فخرج الی الصحراء فرماه رجل وسمی ان اصاب المذبح حل والا فلا الا ان یتوحش فلا یؤخذ الا بصید(خانیة علی هامش الهندیة ص ـــ ج ۳)

د خانیې په دې جزئیه کښې خو بیا هم وصول د سهم کښې د رامی قوت کار کوی. لیکن د اور په مثال کښې خو دا هم نشته . لکه څنګه چې اور بالطبع محرق دې لیکن د مختار فاعل استعمال د فعل د احراق نسبت د نار نه قطع کړو او ذابح ارخ ته ئې کړو. همدغه شان برقی چپه اگرچې

بالطبع محرک وی مگر د مختار فاعل د استعمال یعنی د بټنې د وهلو نه به د دې نسبت فاعل ارخ ته کیږی ، که بټن وهل مباشرت د فعل نهٔ وی بلکه تسبیب او رفع المانع دې نو که داسې دې څوک انسان قتل کړویعنی د ماشین د چړو لاندې دې وترلو او بټن دې اووهله نو آیا په دهٔ باندې به قصاص نهٔ وی؟

په دې تحریر کښې په ماشین سره د ذبحې کولو دوه مثاله لیکلې شوې دی :

۱ - مجوسی په لاس کښې چاړهٔ اخستې وه او یو څناور ئې ذبح کول غوښتل چې یو سړی د هغهٔ لاس ونیولو او د ذبحې کولو نه ئې حصار کړو.اوس یو مسلمان بسم الله، الله اکبر وایی او د هغه حصارونکی لاس راکاږی او د مجوسی لاس خلاص کړی او هغه سمدستی د څناور په څټ باندې چاړهٔ راکاږی نو آیا دا ذبیحه به حلاله وی؟

۲ - یوه تیرهٔ مخ والا آله (مثلا چاړهٔ) په یوه رسئ باندې وترلې شی او زوړنده وی او د هغې لاندې بالکل نیغ په نیغه چرگه،د بکرئ بچې، یا بل یو څناور ودرولې شی،اوس که یو مسلمان تسمیه اووائی او دا رسئ پرې کړی او هغهٔ آله په خپل طبعی ثقل باندې لاندې راپریوځی او د دغه ترلې شوی څناور مرئ پرې کړی نو آیا دا ذبیحه به حلاله وی؟

په دې دواړو مثالونو کښې د تسمیې په ویولو سره د لاس راښکونکې یا په چاړهٔ سره د رسئ پرې کوونکې مسلمان نه حقیقتا د فعل د ذبحې مباشر دې او نه عرفا دهٔ ته د چاړهٔ استعمالونکې وئیلې شی، په دویم مثال کښې خو د چاړهٔ استعمال بیخی نشته، او په اولنی مثال کښې ددې چړې مستعمل مجوسی دې د دې وجې نه به دا څناور حرام وی ، د دې په عکس د بټنې وونکی ته د دې مستعمل وئیلې شی او د بټنې په ذریعه باندې برقی چپه مذبوح پورې رسول همداسې مباشرت د ذبحې دې لکه څنگه چې اور مذبوح ته رسول مباشرت د ذبحې دې .

اوس که چیرې تسمیه اووئیلې شوه او اور د مذبوح ترحلقه پورې ورسولې شو او بیا ترې نه اور وروسته شی او اور خپل کار کوی لگیا وی نو آیا دا څناور به حلال نهٔ وی؟

د دې نه د مفتی صاحب ددې اشکال جواب هم وشو چې فاعل خو بټن وه وهی او لرې شی، وراندې ماشین په خپله کار کوی لگیا وی .

غرض د خبرې دا چې د دې ذبیحې په حلت کښې څه شک او شبه نشته لیکن سره د دې همدا طریقه بې شکه او شبې غلطه او ناروا ده . فقط والله تعالیٰ اعلم.

رشید احمد ۲۲ ربیع الاول ۱۳۸۶ هجری

كتَابُ الاضحيَة وَالعَقيقَة

وړه بکرئ په شهادت سره غټه ثابتول روا نهٔ دی

سوال: د یوې بکرې مالک عادل اقرار کوی چې ددې بکرئ عمر په مشکله لس میاشتې دې، او په ظاهره چې بکرئ ته وګورې نو همدا معلومیږی، لیکن یو مولوی صاحب د دوو نا آشنا کسانو نه ددې د عمر په حقله پوښتنه وکړه، هغوی ورته اووئیل چې مونږ د چیلو د عمر نه نا آشنا یو. لیکن مولوی صاحب پې ډیر زور راوړو چې په اندازې سره راته اووایئ، په دې باندې هغوی اووئیل چې د دې بکرئ عمر به تقریبا یو کال یا یونیم کاله وی، پس مولوی صاحب د دوو شهادتونو اعتبار وکړو او د دې عقیقه ئې وکړه، آیا دا عقیقه صحیح ده او که نه؟بینوا توجروا.

الجواب و منه الصدق والصواب: د مولوی صاحب دا کار د دې لاندینو وجو له کبله غلط دې:

۱- دا شهادت د ظاهری عمر خلاف دې.

۲- د بکرئ د مالک عادل د قول مطابق دبکرئ عمر کم دې.

۳- د چا په ملک کښې چې حیوان پیدا شو د هغهٔ قول قابل د قبلیدلو دې.

۴- نا معلوم خبر ورکونکی د چیلو د عمر نه واقف نه دی، او په جزئیاتو د فقهه کښې تصریح ده چې د حیواناتو په عمر کښې به د واقفو خلقو د قول اعتبار وی، د ناواقفه قول به معتبر نهٔ وی.

البته د عقیقې د صحت دپاره د څناور د عمر څه قید نشته. له همدې کبله عقیقه ئې صحیح شوه. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۲۷ شوال ۱۳۷۱ هجری

د موهوب څناور قربانی روا ده

سوال: زما یو ملګری ما ته د ګډ یو بچې بې قیمته مفت راکړو، ما ورته اووئیل چې قیمت ئې واخله. نو هغهٔ اووئیل چې ما په خپله خوښه درکړې دې. قیمت ئې درنه نهٔ اخلم، اوس زهٔ د دې ګډ قربانی کول غواړم. د دې څه حکم دې؟بینوا توجروا.

الجواب و منه الصدق والصواب هر کله چې تا د ملګری په اجازت سره په دې ګډ باندې قبضه وکړه نو دا هبه مکمله شوه او دا ګډ ستا مملوک شو. لهذا د دې قربانی صحیح ده. په خپله د رسول الله ﷺ نه د موهوب ګډ قربانی ثابته ده. کما ورد فی الصحاح والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۲۶ ذی قعده ۱۳۷۱ هجری

د قربانئ د څناور د شیدو او د سوتو (ګندګی) حکم

سوال - د قربانئ څناور که شیدې ورکوی نو ددې څه حکم دې؟بینوا توجروا.

الجواب و منه الصدق والصواب په لاندينو صورتونو كښې د قربانئ د څناور د شيدو په استعمال كښې راوستل او ددې نه نفع اخستل بې د څه كراهته روا دي:

۱- څناور په كور كښې ساتلې شوې وي.

۲- څناور ئې په بيعه اخستې وي ليكن د اخستلو په وخت كښې ئې د قربانئ نيت نه وي

۳- د قربانئ په نيت سره ئې اخستې وي ليكن د دې ګذاره د بهر په خريدو باندې نه وي بلكه په كور كښې وابنه وغيره خوري.

كه د قربانئ په نيت ئې اخستې وي او بهر په خريدو باندې ګذاره كوي نو ددې د پيو په حقله اختلاف دې،جواز او عدم جواز دواړه ظاهر الرواية دي،والاول اوسع وايسر والثاني احوط واشهر،ولی قول يجوز للغني لا للفقير.

د عدم جواز قول په مطابق ددې شيدې په استعمال كښې راوستل مكروه دي،كه شيدې ئې تري نه واخستلې نو ددې صدقه كول واجب دي،د داسې څناور شيدې د يخو اوبو په شيندلو سره په غلانزه كښې وچول پكار دي،كه چيرې نه وچيږي او څناور ته تكليف وي نو بيا دې را وه ويستلې شي او صدقه دې كړې شي.

د قربانئ د څناور د سوټو(ګندګي) همدا حكم دې،چې كه څناور بهر په خريدو باندې خپله ګذاره كوي نو د سوټو ئې په استعمال كښې راوستل روا نه دي او كه داسې نه وي نو بيا روا دي

قال الامام قاضيخان رحمه الله: وان اشترى شاة يريد بها الاضحية لا تصير اضحية و كذا لو كانت الشاة عنده فاضمر بقلبه لا تصير اضحية في قولهم ولو اشترى شاة للاضحية ثم باعها و اشترى اخرى في ايام النحر فهذه على وجوه الثلاثة الاول اذا اشترى شاة ينوي بها الاضحية والثاني ان يشتري بغير نية الاضحية ثم نوى الاضحية والثالث ان يشتري بغير نية الاضحية ثم يوجب بلسانه ان يضحي بها فيقول لله على ان اضحي بها عامدا هذا ففي الوجه الاول في ظاهر الرواية لا تصير اضحية ما لم يوجبها بلسانه وعن ابي يوسف عن ابي حنيفة رحمهما الله تعالى انها تصير اضحية بمجرد النية كما لو اوجبها بلسانه وبه اخذ ابو يوسف رحمه الله وبعض المتأخرين وعن محمد رحمه الله في المنتقى اذا اشترى شاة ليضحي بها واضمر نية التضحية عند الشراء تصير اضحية كما نوى فان سافر قبل ايام النحر باعها سقطت عنه الاضحية بالسافر قوا اما اذا اشترى شاة بغير نية الاضحية ثم نوى الاضحية بعد الشراء لم يذكر هذا في ظاهر الرواية وروى الحسن عن ابي حنيفة رحمهما الله تعالى ان لا تصير اضحية لو باعها يجوز بيعها وبه ناخذ اما اذا اشترى شاة ثم اوجبها اضحية بلسانه وهو الوجه الثالث تصير اضحية في قولهم ولو ولدت ولدا يكون ولدها للاضحية ولو باعها يجوز بيعها في قول ابي حنيفة و محمد رحمهما الله تعالى الا انه يكره ولو قال ان

يوسف رحمه الله تعالى لا يجوز بيعها وهي كالوقف عنده (خانية بهامش الهندية ص۳۰۰ ج۳)

وقال في العلائية: ويكره الانتفاع بلبنها قبله

وقال في الشامية: فان كانت التضحية قريبة ينضح ضرعها بالماء البارد والا حلبه وتصدق به كما في الكفاية

(ردالمحتار باب الاضحية ص۲۰۹ ج۵)

وفي الهندية: ولو اشترى شاة للاضحية يكره ان يحلبها او يجز صوفها فينتفع به (الى ان قال) والصحيح ان الموسر والمعسر في حلبها وجز صوفها سواء هكذا في الغياثية ولو حلب اللبن من الاضحية قبل الذبح او جز صوفها يتصدق به ولا ينتفع به (الى ان قال) ولو اشترى بقرة بروبها فان كان يعلفها فما اكتسب من لبنها او النفع من روثها فهو له ولا يتصدق بشيء كذا في محيط السرخسي (عالمگيرية كتاب الاضحية ص۳۰۰ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم

۵ ذی الحجه ۱۳۷۱ هجری

د قربانۍ د څناور د وړۍ حکم

سوال:- د قربانۍ د څناور وړۍ چې پرې کړې شي نو په خپل کار کښې ئې راوستل روا دي او که نه صدقه کول ئې پکار دي؟ بينوا توجروا۔

الجواب و منه الصدق والصواب: که چيرې څناور د کور ساتلې شوې وی يا په بيعه د اخستلو په وخت کښې ددې د قربانۍ نيت نۀ وی کړې شوې، نو ددې وړۍ استعمال کښې راوستل روا دي۔

کوم څناور چې د قربانۍ په نيت اخستې شوې وی نو ددې د وړۍ د استعمال په جواز کښې اختلاف دې، على التفصيل الذى حررنا فى جواب السوال السابق.

مطابق دعدم جواز د قول وړۍ ترې نه پرې کول روا نۀ دی، که پرې ئې کړه نو بيائې صدقه کول واجب دی، البته د ذبحې نه پس ئې وړۍ پرې کولې شی او په خپل کار کښې ئې راوستلې شی، يا دې خرڅه کړی او قيمت دې صدقه کړی، قيمت په خپل کار کښې راوستل روا نۀ دی

وتحرير الدلائل قدمر فى جواب السوال السابق والله سبحانه وتعالى اعلم. ۵ ذی الحجه ۱۳۷۱ هجری

چې د قربانۍ ورځې تيرې شوې نو قيمت د ګډ واجب دې

سوال - په يو سړی باندې قربانی واجبه وه، ليکن د قربانۍ په ورځو کښې هغه قربانی ونۀ کړه، اوس د بکرۍ د قيمت په ځائ د غوا د اوومې حصې قيمت خيرات کړی يا يو بکرۍ واخلی ژوندئ ئې يو مسکين ته ورکړی يا داسې اووه کسان رايوځائ شی او د يوې غوا قيمت يا نفس غوا يو مسکين ته ورکړی نو په دې سره به واجب ساقط شی او که نه؟ بينوا توجروا

الجواب و منه الصدق والصواب: د قربانئ قابل د متوسطې درجې د بکرئ یا د گډ قیمت صدقه کول واجب دي، په دې شرط چې قرباني کوونکی غني وي، او که غني نه وي نو بیا پرې واجب نه دي، د غوا د اوومې حصې د قیمت برابر صدقه کول نه کافي کیږي، ځکه چې د قربانئ نه مقصد اراقة الدم دې په کومې کښې چې شرکت متصور نه دې، د قربانئ په ورځو کښې په غوا کښې جواز د شرکت خلاف القیاس دې. وروستو وجوب د قیمت په دې باندې نه شي قیاس کولې.

قال العلامة الحصکفي رحمه الله: ولو ترکت التضحیة ومضت ایامها تصدق بها حیة ناذر فاعل تصدق لمعینة لو فقیرا.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله ومضت ایامها الخ) قید به لما فی النهایة اذا وجبت بایجابه صریحا او بالشراء لها فان تصدق بعینه فعلیه مثلها مکانها لان الواجب علیه الاراقة وانما ینتقل الی الصدقة اذا وقع الیاس عن التضحیة بمضي ایامها وان لم یشتر مثلها حتی مضت ایامها تصدق بقیمتها لان الاراقة انما عرفت قربة فی زمان مخصوص ولا تجزیه الصدقة الاولی عما یلزمه بعد لانها قبل سبب الوجوب (ردالمحتار ص ۲۰۰ ج ۵)

وقال العلامة الحصکفي رحمه الله: وتصدق بقیمتها غني شراها اولا لتعلقها بذمته شراها اولا فالمراد بالقیمة قیمة شاة تجزی فیها. (ردالمحتار ص ۲۰۰ ج ۵). والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۵ جمادی الاولی ۱۳۷۲ هجری

جواز اشتراء اضحیه قبل ایام النحر

سوال:- چه می فرمایند علماء عظام درین مسئله که علماء این دیار اختلاف کرده اند بعض می گویند که حیوان برای اضحیه قبل ایام النحر گرفته شود وبعض می گویند که فی ایام النحر، فرقه اول دلیل و سند می گیرد از حدیث شریف: سمنوا ضحایاکم فانها علی الصراط مطایاکم

وفرقه ثانی دلیل میگیرند از روایة ردالمحتار ص ۳۱۳ ج ۵.

واعلم انه قال فی البدائع ولو نذر ان یضحی شاة وذلك فی ایام النحر وهو موسر فعلیه ان یضحی بشاتین عندنا شاة بالنذر وشاة بایجاب الشرع ابتداءً الا اذا عنی به الاخبار عن الواجب علیه فلا یلزمه الا واحدة ولو قبل ایام النحر لزمه شاتان بلا خلاف لان الصیغة لا تحتمل الاخبار عن الواجب اذ لا وجوب قبل الوقت و کذا لو کان معسرا ثم ایسر فی ایام النحر لزمه شاتان

وایضا فیه تحت (قوله ناذر لمعینة) قال فی البدائع اما الذی یجب علی الغنی والفقیر فالمنذور به بان قال لله علی ان اضحی شاة او بدنة او هذه الشاة او البدنة او قال جعلت هذه الشاة اضحیة لانها قربة من جنسها ایجاب وهو هدی المتعة والقران والاحصار فتلزم بالنذر کسائر القرب والوجوب بالنذر یستوی فیه الغنی والفقیر اه واستفیدمنه ان الجعل المذکور نذر وان النذر بالواجب صحیح اهـ بینوا توجروا.

الجواب و منه الصدق والصواب : فریق ثانی که فتوایٔ عدم جواز اشتراء اضحیه قبل النحر اختراع نمودند در ضلالت بینه هستند زیراکه: ١- اشتراء بنیت تضحیه سبب وجوب بر فقیر است نه بر غنی.

قال فی شرح التنویر :لو هلکت او سرقت فشری اخری فظهرت فعلی الغنی احدهما وعلی الفقیر کلاهما (ردالمحتار ص٢٠٠ ج٥)

وایضا فیه: والفقیر شراها لها لوجوبها علیه بذلک حتی یمتنع علیه بیعها (ردالمحتار ص٢٠٠ ج٥)

وفی الشامیة: جاز له (ای للغنی) ان یبدلها بغیرها مع الکراهة (ردالمحتار ص٢٠٣ ج٥)

و اما نیت تضحیه بعد از شراء یا نیت درحیوان پرورده، خانه پس برفقیر هم موجب تضحیه نیست

قال فی الشامیة :فلو کانت فی ملکه فنوی ان یضحی بها او اشتراها ولم ینو الاضحیة وقت الشراء ثم نوی بعد ذلک لا یجب لان النیة لم تقارن الشراء فلا تعتبر (ردالمحتار ص٢٠٠ ج٥)

٢- درکتب مذهب مسطور ست که لبن اضحیه دراستعمال خود آوردن روانیست،پس اگر تضحیه قریب ست بآب بارد نضح ضرع کند و الا بعد الحلب صدقه کند .

قال فی شرح التنویر :ویکره الانتفاع بلبنها قبله

وفی الشامیة :فان کانت التضحیة قریبة نضح ضرعها بالماء البارد والاحلبه وتصدق به (ردالمحتار ص٢٠٠ ج٥)

پس اگر قبل از وقت تضحیه اشتراء اضحیه روا نباشد محمل این جزئیه چه خواهد شد؟

اگر گفته شود که مراد ازین اضحیه منذوره هست پس جزئیه ذیل ابطال این تاویل خواهد کرد.

ومنهم من اجازها للغنی لوجوبها فی الذمة فلا تتعین (شرح التنویر)

وفی الشامیة :والجواب ان المشتراة للاضحیة متعینة للقربة الی ان یقام غیرها مقامها فلا یحل له الانتفاع بها ما دامت متعینة ولهذا لا یحل له لحمها اذا ذبحها قبل وقتها بدائع ویأتی قریبا انه یکره ان یبدل بها غیرها فیفید التعیین ایضا.(ردالمحتار ص٢٠٠ ج٥)

٣ - سوق الهدی من سیدالکونین ﷺ الی هذا الاوان قبل ایام النحر معمول به ست کسی از امت مسلمه بصیرورة این هدی واجب بالنذر و بوجوب دم تمتع و قران علی حده قول نه کرده است، نه خود سید الکونین ﷺ دم تمتع یا قران جداگانه اداء فرمودند .

٤ - عوام الناس الفاظیکه برای جانور اضحیه اطلاق میکنند (مثلاً این جانور برای قربانی خرید کرده ام یا این جانور برای قربانی ست) ازین الفاظ نذر نخواهد شد، چراکه درعرف مثل این الفاظ برای اظهار اراده هستند نه برای ایجاب، ووجوب نذر بلفظی موقوف بر عرف ست یعنی اگر لفظ

برای نذر درعرف مستعمل ست از و نذر واجب خواهد شدوالا فلا، لان العرف قاض .

قال فی شرح التعویر: الن الایمان مبنیة عندنا علی العرف (ردالمحتار ص۳ ج۳)

۵ - اگر تسلیم کرده شود که مثل این چنین الفاظ موجب نذر هستند پس مقصد عوام اخبار از وجوب فی المستقبل ست،اگرچه نیت اضحیه واجبه قبل ایام النحر صحیح نیست چنانکه مستدل گفت و لیکن عوام الناس درین الفاظ محض نیت اضحیه واجبه نمی کنند بلکه درالفاظ هم مصرح می کنند که این جانور برای قربانی عید ست،اگر کسی لفظ عید زائد نه کرد بلکه لفظ قربانی مطلقًا گفت پس چونکه در عرف لفظ قربانی برای قربانی عید معین شده است فلذا لفظ عید باوجود حذف بحکم مذکور ست (لان المعروف کالمشروط) فلذا باین چنین الفاظ که درعوام الناس رائج هستند وجوب نذر نخواهد گشت، پس تضحیه این جانور از واجب اصلی خواهد شد .

تنبیه : د حدیث ((سمنوا ضحایاکم۔الخ)) هیڅ ثبوت نشته دي.

قال العلامة الطرابلسی رحمه الله: (استسمنوا.وفی لفظ.استفرهوا ضحایاکم فانها مطایاکم)قال الامام ابن الصلاح رحمه الله:لا اصل له(الکشف الالهی).قال الدکتور احمد محمود بکار فی تعلیقه:

رواه الدیلمی من طریق ابن المبارک عن یحیی بن عبدالله عن ابیه عن ابی هریرة رضی الله عنه.قال السیوطی فی الدرر یحیی ضعیف وقال السخاوی یحیی ضعیف جدا وجاء بلفظ:عظموا ضحایاکم فانها علی الصراط مطایاکم.

وقال ابن الصلاح هذا الحدیث غیر معروف ولا ثابت فیما علمناه وقال ابوبکر ابن العربی فی شرح الترمذی لیس فی فضل الاضحیة حدیث صحیح قال صاحب المغیر هو من وضع الزنادقة اعداء الاسلام الذین یریدون تشویه الشریعه و ادخال امثال هذه المجاز فات المضحکة فیها فاذا کان المسلمون سیرکبون الخرفان علی الصرط فسیکون عدد الخرفان فیه اکثر من عدد الحصی اذ ما من احد من المسلمین غالبا الا وقد ذبح فی عمره الکثیر وایضا اذا کانت الخرفان مطایا المسلمین فیلزمه ان کل واحد منهم سیرکب عدة کباش هل یعقل ان ینطق بهذا من لا ینطق عن الهوی ﷺ ولعن الله اعداء شریعته.

وحمل الغماری حملته الشدیدة علی السخاوی حین وجه الخبر علی انه ضعیف وحمله علی الحقیقة لا علی المجاز. والفارة:القوی النشیط(الکشف الالهی ص۳ ج۱)

قال السخاوی رحمه الله: حدیث: استفرهوا ضحایاکم فانها مطاکم علی الصراط.اسنده الدیلمی من طریق ابن المبارک عن یحیی ابن عبیدالله عن ابیه عن ابی هریرة رضی الله عنه رفعه بهذا و یحیی ضعیف جدا، ووقع فی النهایة لامام الحرمین ثم فی الوسیط ثم فی العزیز:عظموا ضحایاکم فانها علی الصراط مطایاکم و قال الاول معناه: انها تکون مراکب

للمضحين وقيل انها تسهل الجواز على الصراط لكن قد قال ابن الصلاح: ان هذا الحديث غير معروف ولا ثابت فيما علمناه وقال ابن العربي في شرح الترمذي: ليس في فضل الاضحية حديث صحيح ومنها قوله انها مطاياكم الى الجنة (المقاصد الحسنة ص٣٠)

وهكذا قال الشيخ العجلوني رحمه الله (كشف الخفاء ومزيل الالباس ص٣٣ ج١) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۹ محرم ۱۳۷۵ هجری

تحقیق دحدیث ((**سمنوا ضحایاکم**)) : پورته د عنوان (جواز اشتراء اضحیه قبل ایام النحر) د لاندې دې

که په رومبئ ورځ ئې د څه عذر د وجې نه مونځ ونۀ کړو نو پس د زوال نه قرباني کول روا دي

سوال:- دلته د باران د شدت د وجې نه په رومبئ ورځ د اختر مونځ و نه کړې شو اوس قرباني په کوم وخت کښې ذبح کړو؟ بينوا توجروا.

الجواب و منه الصدق والصواب : په همدغه ورځ پس د زوال نه قرباني کولې شئ.

قال في شرح التنوير: وبعد مضي وقتها لو لم يصلوا لعذر ويجوز في الغد وبعده قبل الصلوة لان الصلوة في الغد تقع قضاء لا اداء زيلعي وغيره.

وفي الشامية: ووقت الصلوة من الارتفاع الى الزوال (ردالمحتار ص٢٠٠ ج٥) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۱ ذی الحجه ۱۳۷۵ هجری

د چرګې قرباني روا نۀ ده

سوال:- يو سړې وائي چې که د قربانئ په نيت سره چرګه ذبحه کړې شي نو واجبه قرباني به ادا شي.او په استدلال کښې تهجير الى الجمعة باندې د ثواب هغه حديث وړاندې کوی.آيا د هغۀ دا وينا صحيح ده؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د چرګې په ذبحه کولو باندې واجبه قرباني نۀ ادا کيږی. په کوم سړی باندې چې قرباني واجبه نۀ وی.هغۀ که د قربانئ په نيت سره چرګه ذبحه کړی نو هم مکروه تحريمي ده

د حديث تهجير الى الجمعة نه استدلال کول د دوو وجوهو نه صحيح نۀ دي

۱- د حديث نه مقصود د اجر مقدار بيانول دی نۀ ... راز د اضحيې

۲- که چيرې د معهودو حيواناتو نه علاوه د يو بل ځناور لکه چرګه، مرغئ وغيره قرباني جائز

وې نو رسول الله ﷺ او صحابه کرام ﷺ به په زمانه دفقر کښې کله خو په دې عمل کړې وي

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: وركبها ذبح ما يجوز ذبحه من النعم لا غيرهم فيكره ذبح دجاجة وديك لانه تشبه بالمجوس بزازية.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله فيكره ذبح دجاجة وديك الخ) اى بنية الاضحية والكراهة تحريمية كما يدل عليه التعليل ط وهذا فيمن لا اضحية عليه والا فالامر اظهر (ردالمحتار ص٢٠٠ ج٥)

وقال العلامة عبدالحليم اللكنوى رحمه الله: وقالت الظاهرية يجوز التضحية بكل حيوان وحشى او انسى و كل طائر يؤكل لحمه لحديث ابي هريرة ﷺ مرفوعا مثل المهجر الى الجمعة كمثل من يهدى بدنة ثم كمن يهدى بقرة ثم كمن يهدى شاة ثم يهدى دجاجة ثم كمن يهدى بيضة والعصفور قريب الى البيضة والجواب عنه المراد به بيان قدر الثواب لا انه يجوز التضحية به. (حاشية الهداية ص٤٣٠ ج٤) والله سبحانه وتعالى اعلم

يوم العرفة ١٣٨٣ هجرى

په شريکانو کښې په هر يو شريک باندې قرباني واجبه ده

سوال:- خلور ورونو خپل مشترک ميراث تقسيم کړو او بيل شول. ددې نه پس دوو ورونو فيصله وکړله چې هغوی به بيل اوسيږي، او معامله به يو ځاۍ چليږي، اوس د هغوی منقول مال مشترک دې او غير منقول مال ئې غير مشترک دې.

نو پوښتنه داده چې په دې دواړو باندې به ځان له بيله بيله قرباني واجب وی او که نه يوه قرباني به ددې دواړو د اړخه کافی شی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په دواړو باندې ځان له بيله بيله قربانی واجبه ده.

قال العلامة التمرتاشي رحمه الله: فتجب التضحية على حر مسلم مقيم موسر (ردالمحتار ص٢٠٠ ج٥) والله سبحانه وتعالى اعلم.

١١ شعبان ١٣٨٥ هجرى

د قربانۍ خرمن او غوبنه خرخول روا نهٔ دی

سوال:- آيا ذابح دپاره دقربانۍ د ځناور ځرمن او غوبنه خرخول روا دی او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د غوبنې خرخول خو په هر حال کښې ناروا دی، که چا خرخه کړه نو د هغې دقيمت تصدق پرې واجب دې، البته ديو دائمی استعمال د څيز سره ددې بدلون کول روا دی په خرمن کښې تفصيل دا دې چې ددې نه د مصلی وغيره په شان د دائمی استعمال څيز جوړ کړی نو په خپله ئې هم استعمالولې شی يا ددې په شان د بل څيز سره ئې بدلولې هم شی، د خرمنې

خرخول روا نه دی، که چا خرخه کړه نو قیمت ئې په مسکینانو باندې صدقه کول واجب دي البته که بعینه خرمن ورکول غواړی نو مالداره ته ئې هم ورکولې شی

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ویتصدق بجلدها او یعمل منه نحو غربال وجراب وقربة وسفرة ودلو او یبدله بما ینتفع به باقیا کما مر لا بمستهلك كخل ولحم ونحوه كدراهم فان بيع اللحم او الجلد به ای بمستهلك او بدراهم تصدق بثمنه ومفاده صحة البيع مع الكراهة وعن الثانی باطل لانه كالوقف مجتبى.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله فان بیع اللحم او الجلد به الخ) افاد انه لیس له بیعهما بمستهلك وان له بيع الجلد بما تبقى عينه وسكت عن بيع اللحم به للخلاف فيه ففى الخلاصة وغيرها لو اراد بيع اللحم ليتصدق بثمنه ليس له ذلك وليس له فيه لا ان يطعم او ياكل اهـ والصحيح كما فى الهداية وشروحها انهما سواء فى جواز بيعهما بما ينتفع بعينه دون ما يستهلك وايده فى الكفاية بما روى ابن سماعة عن محمد رحمه الله لو اشترى باللحم ثوبا فلا باس بلبسه اهـ (ردالمحتار ص۲۰۰ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۹ ذی الحجه ۱۳۸۹ هجری

د خراب تی د څناور قربانی

سوال یو سړی د قربانۍ د پاره بکرۍ یا غوا واخستله، لیکن د هغې تی خراب وو. آیا د داسې څناور قربانی روا ده؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چې د غوا دوه تی او د بکرۍ یو تې خراب وی نو دهغې قربانی کول روا نه دی.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: لا بالعمياء (الى قوله) والجذاء مقطوعة رؤس ضرعها او يابسها ولا الجدعاء مقطوعة الانف ولا المصرمة اطباؤها وهى التى عولجت حتى انقطع لبنها ولا التى لا الية لها خلقة مجتبى

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تحت (قوله وهى التى عولجت الخ) وفى التتارخانية والشطور لا تجزء وهى من الشاة ما قطع اللبن عن احدى ضرعيها ومن الابل والبقر ما قطع من ضرعيها لان لكل واحد منهما اربع اضرع (ردالمحتار ص۲۰۰ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲ رجب ۱۳۸٦ هجری

د قربانۍ څناور بدلول

سوال چا د قربانۍ په غرض سره بکرې وساتلو بیا ئې په بیعه واخستلو. نو آیا د دې بدلون کولی شی او که نه؟ بینوا بالتفصیل مع الدلیل اجرکم الله المولى الجليل.

الجواب باسم ملهم الصواب : بکرۍ که د کور ساتلې شوې وی یا ئې د اخستلو نه پس په کښې د قربانۍ نیت کړې وی، ددې بدلول بهر حال روا دی. او که د قربانۍ په نیت سره ئې اخستې وی نو په دې کښې بیا درې روایتونه دی

۱- د غنی او د فقیر دواړو دپاره موجب نهٔ دې ، لهذا د دواړو د پاره بدلول روا دی

۲. د دواړو د پاره موجب دی.په غنی باندې په قدر د مالیت او په فقیر باندې هم د دغه څناور قربانی واجبه ده .

د دې روایت مطابق په استبدال د غنی کښې اقوال مختلف دی،اعدل الاقاویل دا معلومیږی چې چرته د دویمې اضحیې د ذبحه کولو نه پس د ړومبۍ ترک بې د کراهته روا دې، د ذبحې نه وړاندې تبدیل د اولی مکروه تنزیهی دې.په دواړو صورتونو کښې ئې که د ادنی سره بدلون وکړو نو زیادت ئې واجب التصدق دې .

د فقهاء کرامو ﷺ په بعضې عبارتونو کښې (اقامة غیرها مقامها) نه ذبحه ثانیه مراده ده . هکذا افاد ملك العلماء الامام الکاسانی رحمه الله

دا دواړه قوله ظاهر الروایة دی .

والاول اوسع وایسر واوفق لقاعدة (ان النذر لا ینعقد بدون الایجاب باللسان).

والثانی احوط واشهر واوفق لقاعدة (الاحتیاط فی باب العبادات واجب)

۳ - د غنی د پاره موجب نهٔ دی،د فقیر د پاره موجب دی ، لهذا د غنی دپاره بدلول مطلقا روا دی،او د فقیر دپاره مطلقا ناروا دی .

فروع :

۱- په نیت د قربانۍ ئې څناور واخستلو،هغه ورک شو،بیا ئې دویم څناور واخستلو،د هغې نه پس دقربانۍ په ورځو کښې ړومبې څناور هم بیاموندې شو نو د ړومبې روایت مطابق غنی او فقیر دواړو ته اختیار دې چې په دواړو څناورو کښې هر یو چې وی هغه او یا د دې دواړو نه علاوه بل یو ذبح کړی. فقیر ته دا هم اختیار شته دې چې هیڅ یو څناور ذبح نهٔ کړی .

د دویم روایت مطابق په غنی باندې په دې دواړو څناورو کښې د یو څناور قربانی واجبه ده، البته د دویم څناور د ذبحه کولو په صورت کښې که دا د اولنی نه د کم قیمت وی نو د زیاتی پیسو تصدق پرې هم واجب دې، د ړومبی د ذبحه کولو په صورت کښې پرې زیاتې واجب نهٔ دې،د دواړو ذبح کول بهتر دی .

په فقیر باندې د دواړو ذبحه کولو واجب دی .

د دریم روایت مطابق غنی ته د ړومبی روایت د تفصیل مطابق اختیار دې.او په فقیر باندې د

دویم روایت په شان د دواړو ذبحه کول واجب دي.

۲- په نیت دقربانئ ئې څناور واخستلو.بیا هغه روک شو یا مړ شو نو

په غنی باندې د دریم روایت مطابق د دویم څناور ذبح کول واجب دی.اگرکه هغه د ړومبې نه کم

نیمت وی. په فقیر باندې هیڅ هم واجب ندې

۳- په نیت د قربانئ ئې څناور واخستلو.بیا هغه ورک شو.بیا ئې دویم څناور واخستلو او

دقربانئ په ورځو کښې ئې هغه ذبح کړو. ددې نه پس د قربانئ په ورځو کښې هغه ورک شوې

څناور بیاموندې شو نو د ړومبی روایت مطابق په غنی او فقیر دواړو باندې هیڅ هم واجب نهٔ

دی . د دویم روایت مطابق په غنی باندې ددې ذبحه کول واجب نهٔ دی.

ددویم صورت د کم قیمت دکیدلو په صورت کښې د زیاتی پیسو تصدق واجبیدل پکار وو

لیکن د ادنی اختیاردلته عمداً ونهٔ موندې شو ددې وجې نه زیاتې په کښې واجب التصدق نهٔ دې.

په فقیر باندې ددې ذبح کول هم واجب دی.

د دریم روایت مطابق په غنی باندې ددې ذبح کول واجب نهٔ دی،په فقیر باندې د دې ذبح کول

واجب دی.

۴- په نیت د قربانئ ئې څناور واخستلو.هغه ورک شو.بیا ئې دویم څنارو واخستلولیکن د

قربانئ په رځوکښې ئې ذبح نه کړو.د قربانئ د ورځو د تیریدلو نه پس ړومبې څنارو هم بیاموندې

شو نو د ړومبی روایت مطابق غنی باندې واجب دی چې په دواړو کښې چرته یو څناور ژوندې

صدقه کړی یا د یو لائق د ذبحې د څنارو قیمت صدقه کړی،په فقیر باندې هیڅ هم واجب نهٔ دی

د دویم روایت مطابق په غنی باندې په دواړو کښې د افضل تصدق واجب دې.

د دې روایت مقتضی خو دا ده چې د غنی دپاره ددې څناور د قیمت یا د دې په شان د یو بل

څناور تصدق دې هم روا شی. لیکن د قربانئ د ورځو په تیریدلو باندې ددې څناور عین د قربت د

پاره متعین شو.

په فقیر باندې د دواړو څنارو ژوندی صدقه کول واجب دی.

د غنی او د فقیر د دواړو دپاره ذبح کول روا نهٔ دی،که چا ذبح کړو نو په هغهٔ باندې د تولو

غوښو تصدق واجب دې.که د غوښې قیمت د ژوندی څناور د قیمت نه کم وی، نو د زیاتی تصدق

ېرې هم واجب دې

د دریم روایت مطابق په غنی باندې د ړومبی روایت د تفصیل په شان تصدق واجب دې

په فقیر باندې د دواړو څنارو صدقه کول واجب دی.

۵- په نیت د قربانئ ئې څناور واخستلو.هغه ورک شو.بیا ئې دویم څناور واخستلو او په

ورځو د قربانئ کښې ئې هغه ذبح کړو.د قربانئ د ورځو د تیریدلو نه پس ورته هغه ړومبې څناور

هم ترلاسه شو نو: د وړومبی روايت مطابق په غني او فقير دواړو باندې څه هم واجب نهٔ دی

د دويم روايت مطابق په غني باندې څه هم واجب نهٔ دی.

دا حکم اگر چې ددې روايت د مقتضی خلاف دې ليکن په وجه د عدم وجود د عمد په کښې زياتي واجب التصدق نهٔ دې.

په فقير باندې د دې څناور ژوندې صدقه کول واجب دی.

د دريم روايت مطابق په غني باندې څه هم واجب نهٔ دی.

په فقير باندې ددې څناور ژوندې صدقه کول واجب دی.

۲ - په نيت د قربانۍ ئې څناور واخستلو، ليکن د قربانۍ په ورځو کښې ئې ذبح نهٔ کړو نو:

د وړومبی روايت مطابق په غني باندې همدا څناور ژوندې يا د کوم يوڅناور هم چې لائق د قربانۍ وی د هغې قيمت صدقه کول واجب دې. په فقير باندې هيڅ هم صدقه کول واجب نهٔ دی.

د دويم روايت مطابق په غني او فقير دواړو باندې ددې څناور ژوندې صدقه کول واجب دی.

په ظاهره د غني دپاره د دې روايت مطابق په تصدق بالعين کښې اوپه تصدق بالقيمة کښې اختيار کيدل پکار دی، ليکن د قربانۍ د ورځو په تيريدلو باندې عين متعين شولكما مرفي الفرع الرابع.

د دريم روايت مطابق په غني باندې په وجوب کښې هم هغه تفصيل دې کوم چې په دويم روايت کښې تير شو، په فقير باندې همدا څناور ژوندې صدقه کول واجب نهٔ دې.

۷ - فقير د قربانۍ په نيت سره څناور واخستلو او ذبح ئې کړو، بيا د قربانۍ په ورځو کښې مالداره شو نو: د وړومبی روايت مقتضی عدم وجوب دې، او د دويم روايت مقتضی وجوب دې.

امام کاسانی رحمه الله دويم روايت اختيار کړې دې، د هغې مطابق هغوی دلته وجوب ته صحيح وئيلې دی.

البته امام کردری رحمه الله په ظاهره دويم روايت ته د ترجيح ورکولو باوجود دلته عدم وجوب راجح گرځولې دې.

۸ - په نيت د قربانۍ سره د اخستلې شوی څناور د شيدو، سوټو او د وړۍ استعمال:

د وړومبی روايت مطاب د غني او د فقير دواړو دپاره روا دی.

د دويم روايت مطابق د دواړو دپاره روا نهٔ دی.

د دريم روايت مطابق د غني د پاره روا او د فقير دپاره ناروا دی.

په شيدو او سوټو کښې دا تفصيل په دې صورت کښې دې، چې څناور بهر څريدل کوی، که چيرې په کور کښې وابنه وغيره خوری نو دغني او د فقير دپاره بهر حال روا دی.

وهذه نصوص الفقهاء رحمهم الله

قال الامام شمس الائمة السرخسی رحمه الله: واذا اشتری اضحیة ثم باعها فاشتری مثلها فلا بأس بذلك لان بنفس الشراء لاتتعین الاضحیة قبل ان یوجبها (المبسوط ص ج ۱۲)

وقال الامام قاضیخان رحمه الله: ولو اشتری شاة للاضحیة ثم باعها واشتری اخری فی ایام النحر فهذه علی وجوه ثلاثة الاول اذا اشتری شاة ینوی بها الاضحیة والثانی ان یشتری بغیر نیة الاضحیة ثم یوجب بلسانه ان یضحی بها فیقول لله علی ان اضحی بها عامنا هذا ففی الوجه الاول فی ظاهر الروایة لا تصیر اضحیة مالم یوجبها بلسانه وعن ابی یوسف عن ابی حنیفة رحمهما الله تعالی انها تصیر اضحیة بمجرد النیة کما لو اوجبها بلسانه وبه اخذ ابویوسف رحمه الله: و بعض المتاخرین و عن محمد رحمه الله فی المنتقی اذا اشتری شاة لیضحی بها واضمر نیة التضحیة عند الشراء تصیر اضحیة کما نوی فان سافر قبل ایام النحر باعها وسقطت عنه الاضحیة بالسفر فلو اما اذا اشتری شاة بغیر نیة الاضحیة ثم نوی الاضحیة بعد الشراء لم یذکر هذا فی ظاهر الروایة وروی الحسن عن ابی حنیفة رحمهما الله تعالی انه لا تصیر اضحیة لو باعها یجوز بیعها وبه ناخذ فاما اذا اشتری شاة ثم اوجبها اضحیة بلسانه وهو الوجه الثالث تصیر اضحیة فی قولهم ولو ولدت ولدا یکون ولدها للاضحیة ولو باعها یجوز بیعها فی قول ابی حنیفة ومحمد رحمهما الله تعالی الا انه یکره وقال ابویوسف رحمه الله لا یجوز بیعها و هی کالوقف عنده. (خانیة بهامش الهندیة ص ج ۳)

وقال الامام طاهر بن عبدالرشید البخاری رحمه الله: وبالشراء بنیة الاضحیة ان کان المشتری غنیا لا یجب علیه باتفاق الروایات حتی لو باعها و اشتری بثمنها اخری والثانیة دون الاولی جاز ولا یجب علیه شیء وان کان المشتری فقیرا قال فی شرح الشافی من اشتری شاة لیضحی بها تعینت لها بالنیة عند الطحاوی رحمه الله قال و مذهب الجمهور انها لاتصیر لها الا ان یقول علی ان اضحی بها لان نفس النیة غیر موجبة وهکذا ذکر شمس الائمة الحلوانی رحمه الله و ذکر الامام خواهرزاده رحمه الله فی ظاهر الروایة عن اصحابنا تصیر واجبة و هکذا ذکر الطحاوی رحمه الله وفی الزیادات فی کتاب الهبة رجل اشتری شاة فاوجبها اضحیة وجبت علیه موسرا کان او معسرا واختلف المشائخ رحمهم الله فی قوله فاوجبها اضحیة قال بعضهم اوجبها بلسانه بعد الشراء فیقول لله علی ان اضحی بهذه الشاة وقال بعضهم اراد به انه اشتراها بنیة الاضحیة و قوله اوجبها ای بذلك الشراء قال و ظاهر المذهب هذا (خلاصة الفتاوی ص ج ۴)

وقال الامام الكاساني رحمه الله: وان كان معسرا فاشترى شاة للاضحية فهلكت في ايام النحر او ضاعت سقطت عنه وليس عليه شيء آخر لما ذكرنا ان الشراء من الفقير للاضحية بمنزلة النذر فاذا هلكت فقد هلك محل اقامة الواجب فيسقط عنه وليس عليه شيء آخر بايجاب الشرع ابتداء لفقد شرط الوجوب وهو اليسار ولو اشترى الموسر شاة للاضحية فضلت فاشترى شاة اخرى ليضحي بها ثم وجد الاولى في الوقت فالافضل ان يضحي بهما فان ضحى بالاولى اجزاه ولا تلزمه التضحية بالاخرى ولا شيء عليه غير ذلك سواء كانت قيمة الاولى اكثر من الثانية او اقل والاصل فيه ما روي عن سيدتنا عائشة رضي الله عنها انها ساقت هديا فضاع فاشترت مكانه آخر ثم وجدت الاول فنحرتهما ثم قالت الاول كان يجزئ عني فثبت الجواز بقولها والفضيلة بفعلها رضي الله عنها ولان الواجب في ذمته ليس الا التضحية بشاة واحدة وقد ضحى وان ضحى بالثانية اجزاه وسقطت عنه الاضحية وليس عليه ان يضحي بالاولى لان التضحية بها لم تجب بالشراء بل كانت الاضحية واجبة في ذمته بمطلق الشاة فاذا ضحى بالثانية فقد ادى الواجب بها بخلاف المتنفل بالاضحية اذا ضحى بالثانية انه يلزمه التضحية بالاولى ايضا لانه لما اشتراها للاضحية فقد وجب عليه التضحية بالاولى ايضا بعينها فلا يسقط بالثانية بخلاف الموسر فانه لا يجب عليه التضحية بالشاة المشتراة بعينها وانما الواجب في ذمته وقد اداه بالثانية فلا تجب عليه التضحية بالاولى وسواء كانت الثانية مثل الاولى في القيمة او فوقها او دونها لما قلنا غير انها ان كانت دونها في القيمة يجب عليه ان يتصدق بفضل ما بين القيمتين لانه بقيت له هذه الزيادة سالمة من الاضحية فصار كاللبن ونحوه ولو لم يتصدق بشيء ولكنه ضحى بالاولى ايضا وهو في ايام النحر اجزاه وسقطت عنه الصدقة لان الصدقة انما تجب خلفا عن فوات شيء من شاة الاضحية فاذا ادى الاصل في وقته سقط عن الخلف واما على قول ابي يوسف رحمه الله فانه لا تجزيه التضحية الا بالاولى لانه يجعل الاضحية كالوقف (بدائع ص۳ ج۵)

وقال العلامة الطوري رحمه الله: فلو قال كلاما نفسيا لله علي ان اضحي بهذه الشاة ولم يذكر بلسانه شيئا فاشترى شاة بنية الاضحية ان كان المشتري غنيا لا تصير واجبة باتفاق الروايات فله ان يبيعها ويشتري غيرها وان كان فقيرا ذكر شيخ الاسلام خواهر زاده في ظاهر الرواية تصير واجبة بنفس الشراء وروى الزعفراني رحمه الله عن اصحابنا لا تصير واجبة واشار اليه شمس الائمة السرخسي رحمه الله في شرحه واليه مال شمس الائمة الحلواني في شرحه وقال انه ظاهر الرواية (تكملة البحر ص۳ ج۸)

وتركنا تحرير الدلائل على الفروع حذرا من الاطالة والله سبحانه وتعالى اعلم۔ ۲ رجب ۱۳۸٦ هجری

په نوکر باندې د قربانۍ غوښه خوړل

سوال۔ کوم نوکران چې په کورونو کښې د کار د پاره ساتلې شوې وی دهغوی خوراک دمالک په ذمه وی، آیا مالک په هغوی باندې د خپلې قربانۍ غوښه خوړې شی او که نه؟ دلته د علماؤ دوه ډلې دی، یو فریق ئې د جواز قائل دې او بل فریق ئې د عدم جواز قائل دې، د عدم جواز قائلین دا دلیل وړاندې کوئ چې کوم نوکر ته څوک روټئ نه ورکوی د هغه تنخوا زیاته وی مثلا شپیتۀ روپئ، او کوم نوکر له چې روټئ ورکولې کیږی د هغه تنخوا کمه وی مثلا څلوېښت روپئ، لهذا کومه روټئ چې په نوکر باندې خوړلې کیږی هغه د دۀ د باقی پاتې تنخوا په مقابله کښې وی، او دا بیعه ده او د قربانۍ غوښه خرڅول روا نۀ دی۔
کوم حضرات ئې چې د جواز قائل دې هغوی دا دلیل بیانوی چې دې ته بیعه نۀ شی وئیلې کیدې. ځکه چې د بیعې د پاره انشاء ایجاب او قبول ضروری دې او هغه دلته مفقود دې۔
تاسو غور وکړئ او فیصله اوفرمایئ چې د کوم فریق قول صحیح دې؟ که د عدم جواز د قائلینو قول راجح وی نو په نوکر باندې دغوښې خوړلو څه حیله شته او که نه؟ د کتابونو په حوالو سره او سره د مخالفینو له جواب نه راته فیصله اوفرمایئ ډیره مهربانی به مو وی۔ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: قول د عدم جواز صحیح دې، لیکن د دې چې کوم دلیل وړاندې کړې شوې دې هغه کافي نۀ دې، صحیح دلیل دا دې چې خوراک د نوکر د اجرت یو جز دې، او د قربانۍ غوښه په اجرت کښې ورکول روا نۀ دی۔
نوکر باندې د غوښې خوړلو حیله دا اختیارول کیدې شی چې هغه ته د هغه ورځو د خوراک قیمت ورکړې شی۔

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ولا یعطی اجر الجزار منها لانه کبیع و استفیدت من قوله علیه الصلوة والسلام من باع جلد اضحیته فلا اضحیة له هدایة (ردالمحتار ص ۲۰۰ ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲ ذی الحجه ۱۳۸۶ هجری

د قربانۍ څرمن د مدرسې په تعمیر وغیره باندې لګول روا نۀ دی

سوال: یو تنظیم د مسلمانانو د فلاح کارونه په محدوده پیمانه باندې کوی، د هغې تنظیم اراده دیوې مدرسې او د یوې شفاخانې د جوړولو ده، او ددې په تعمیر باندې د قربانۍ څرمن، صدقة الفطر او د زکوة پیسې لګول غواړی. آیا دا روا دی؟ بینوا توجروا۔

د زکوة، صدقة الفطر، او د قربانۍ د څرمنو پیسې د جمات، مدرسې، او د شفاخانې یا د هر قسمه رفاهی ادارې په تعمیر کښې لګول روا نۀ دی. ځکه چې ددې ټولو څیزونو د فقیر په ملکیت

کنبي ورکول ضروري دي، او دلته تملیک د فقیر ونهٔ موندې شو۔
البته په مدرسه کنبي د سبق ویونکو غریبانانو طالبانو په طعام وغیره باندې ئې خرچ کولې شي

قال فی التنویر: هی لغة الطهارة والنماء وشرعا تملیک جزء مال عینه الشارع من مسلم فقیر غیر هاشمی ولا مولاه مع قطع المنفعة عن المملک من کل وجه لله تعالی (ردالمحتار ص ج ۲)

وقال فی التنویر وشرحه: لا یصرف الی بناء نحو مسجد

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله نحو مسجد) کبناء القناطیر والسقایات واصلاح الطرقات وکری الانهار والحج والجهاد وکل مالا تملیک فیه زیلعی (ردالمحتار ص ج ۲)

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله: ویتصدق بجلدها او یعمل منه نحو غربال وجراب وقربة وسفرة ودلوا و یبدله بما ینتفع به باقیا کما مر. (ردالمحتار ص ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم

۲ ذی الحجه ۱۳۸٦ هجری

د قربانئ څرمن او غوښه کافر له ورکول روا دي

سوال:- د قربانئ څرمن او غوښه کافر له ورکول روا دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: روا دي۔

قال فی الهندیة: ویهب منها ما شاء للغنی والفقیر والمسلم والذمی کذا فی الغیاثیة (عالمگیریة ص ج ۵)

والله سبحانه وتعالی اعلم

د وصیت د قربانئ غوښه خوړل روا نهٔ دي

سوال:- زید وصیت وکړو او مړ شو، چې زما د مال نه قربانی وکړئ، او د هغې نه ځان د پاره هم غوښه وساتئ، د هغوی د وصیت مطابق د قربانئ غوښه ځان له ساتل او خوړل روا دي او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب:

دا روانهٔ دي، البته که د مړي د حکم نه بغیر د خپل مال نه قرباني وکړي نو بیا روا دي۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (فرع) من ضحی عن المیت یصنع کما یصنع فی اضحیة نفسه من التصدق والاکل والاجر للمیت والملک للذابح قال الصدر والمختار انه ان بامر المیت لا یاکل منها و الا یاکل بزازیة و یسل کرقی النظم (ردالمحتار ص ج ۵)

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله: وعن ...

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله وعن ميت) اي لو ضحى عن ميت وارثه بامره الزمه بالتصدق بها وعدم الاكل منها وان تبرع بها عنه له الاكل لانه يقع على ملك الذابح والثواب للميت ولهذا لو كان على الذابح واحدة سقطت عنه اضحيته كما في الاجناس قال الشرنبلالي لكن في سقوط الاضحية عنه تامل اه اقول صرح في فتح القدير في الحج عن الغير بلا امر انه يقع عن الفاعل فيسقط به الفرض عنه وللآخر الثواب فراجعه (ردالمحتار ص ۳۰ ج ۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۹ ذی الحجه ۱۳۸٦ هجری

په عشري (لسو ورځو) د ذولحجې کښې د نوکونو خوړلو وغیره حیثیت

سوال په کوم سړی باندې چې قرباني واجبه نۀ وی که حجامت ونۀ کړی او نوکونه پرې نۀ کړی نو هغه ته به ثواب ورکول کیږی او که نه ؟بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : نه ؛ دۀ ته ثواب نۀ ورکول کیږی، دا استحباب صرف د قربانئ کونکو سره خاص دې، هغه هم په دې شرط چې د نامه نه د لاندې او د تخرګونو د صفايئ او د نوکونو د پرې کولو څلویښت ورځې نۀ وی تیرې شوې،که څلویښت ورځې تیرې شوې نو د ذکر کړې شوو ځیزونو صفائې واجبه ده .

عن ام سلمة رضي الله عنها قالت قال رسول الله ﷺ: اذا دخل العشر واراد بعضكم ان يضحي فلا يمس من شعره و بشره شيئا وفي رواية فلا ياخذن شعرا ولا يقلمن ظفرا وفي رواية من راى هلال ذي الحجة واراد ان يضحي فلا ياخذن شعره ولا من اظفاره رواه مسلم (مشكوة ص ۱۲۷ ج ۲)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله: ويستحب حلق عانته وتنظيف بدنه بالاغتسال في كل اسبوع مرة والافضل يوم الجمعة وجاز في كل خمسة عشر وكره ترکه وراء الاربعين مجتبی (ردالمحتار ص ۲۱ ج ۵) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۵ ذی الحجه ۱۳۸٦ هجری

چې پلار او ځوئ شریک وی نو په ځوئ باندې قربانی نشته

سوال - عمرو د خپل پلار سره په کاروبار کښې شریک دې. خوراک څښاک وغیره هر څه ئې یوځئ دی. آیا شرعاً په عمرو باندې صدقه د فطر.قربانی او حج فرض دې او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب که د عمرو په کاروبار کښې مستقله حصه نۀ وی او خان له هغه سره په قدر د نصاب مال نۀ وی نو په هغه باندې هيڅ هم فرض نۀ دی . والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۵ ذی الحجه ۱۳۸٦ هجری

په نابالغه باندې قرباني واجبه نۀ ده

سوال - چې نابالغه هلک مالدار وي نو په هغۀ باندې قرباني واجبه ده او که نه؟ آیا ولي د هغه له خوا نه د هغه د مال نه قرباني کولې شي او که نه؟ که ولي قرباني وکړه نو د غوښې د تقسیم په حقله څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : په نابالغه باندې قرباني واجبه نۀ ده،ولي له د هغه د پاره دهغه د مال نه قرباني کول روا نۀ دي.که ولي قرباني وکړه نو ولي له نۀ د دې نه خوراک کول روا دي او نه ددې صدقه کول روا دي. نابالغه ترې په خپله خوراک کولې شي،د زیاتې غوښې نه د هغه دپاره یو باقي پاتې کیدونکې څیز لکه کپړه وغیره اخستلې کیدې شي، د نقدو په عوض کښې ئې خرڅول روا نۀ دي.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: ويضحي عن ولده الصغير من ماله صححه في الهداية وقيل لا صححه في الكافي قال وليس للاب ان يفعله من مال طفله ورجحه ابن الشحنة قلت وهو المعتمد لما في متن مواهب الرحمن من انه اصح ما يفتى به وعلله في البرهان بانه ان كان المقصود الاتلاف فالاب لا يملكه في مال ولده كالعتق او التصدق باللحم فمال الصبي لا يحتمل صدقة التطوع وعزاه للمبسوط فليحفظ ثم فرع على القول الاول بقوله واكل منه الطفل وادخر له قدر حاجته وما بقي يبدل بما ينتفع الصغير بعينه كثوب وخف لا بما يستهلك كخبز ونحوه ابن كمال وكذا الجد والوصي.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله قلت وهو المعتمد) واختاره في الملتقى حيث قدمه وعبر عن الاول بقيل ورجحه الطرسوسي بان القواعد تشهد له ولانها عبادة وليس القول بوجوبها اولى من القول بوجوب الزكوة في ماله (قوله بما ينتفع بعينه) ظاهره انه لا يجوز بيعه بدراهم ثم يشتري بها ما ذكر ط ويفيده ما ذكره عن البدائع (ردالمحتار ص۲۰۰ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۵ ذي الحجه ۱۳۸۶ هجرى

د مړي له اړخه په غوا کښې حصه نیول

سوال دوو ورونو یو ځائ قرباني وکړه، درې حصې یو ونیولې، درې حصې بل ونیولې.او یوه حصه ئې خپل پلار ته ونیوله.د نیمې حصې قیمت یو ورکړو او د نیمې حصې قیمت بل ورکړو.آیا د والدینو له اړخه داسې قرباني کول صحیح ده؟بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د غوا چې څومره مالکان وي.په هغې کښې حصې هم صرف هغومره وي. په دې صورت د سوال کښې مالکان دوه دي.نو په ټوله غوا کښې به حصې هم صرف دوه وي، ددوو نه زیاتې څه حصې به بیخي نه وي . لهذا د والد له اړخه ئې قرباني ونۀ شوه

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: و لو ضحی بالکل فالکل فرض کار کان الصلوة فان الفرض منها ما یطلق الاسم علیه فاذا طولها یقع الکل فرضا مجتبی.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله لو ضحی الکل الخ) الظاهر ان المراد لو ضحی ببدنة یکون الواجب کلها لا سبعها بدلیل قوله فی الخانیة و لو ان رجلا موسرا ضحی ببدنة عن نفسه خاصة کان الکل اضحیة واجبة عند عامة العلماء وعلیه الفتوی اه مع انه ذکر قبله بأسطر لو ضحی الغنی بشاتین فالزیادة تطوع عند عامة العلماء فلا ینافی قوله کان الکل اضحیة واجبة ولا یحصل تکرار بین المسألتین فافهم ولعل وجه الفرق ان التضحیة بشاتین تحصل بفعلین منفصلین واراقة دمین فیقع الواجب احداهما فقط والزائدة تطوع بخلاف البدنة فانها بفعل واحد واراقة واحدة فیقع کلها واجبا هذا ما ظهر لی (رد المحتار ص ۲۰۰ ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم

۱٦ ذی الحجه ۱۳۸٦ هجری

د دې تفصیل په رساله (د غوا په قربانۍ کښې د یو سړی دوه حصې) کښې ده.

د څناور د اخستلو نه پس ئې عیب معلوم شو

سوال: زید د قربانۍ د پاره په دوه سوه باندې د قربانۍ څاروې واخستلو. وروستو ورته معلومه شوه چې د دې دوه غابنونه نشته. اوس ورته دا نه معلومیږی چې عمر ئې یو کال دې او که دوه کاله دې، زید اوونیل چې دا به په ولیمه کښې ذبحه کړو، د قربانۍ د پاره به دویم څاروې واخلو. اوس پوښتنه داده چې دویم څناور دې هم د دوو سوو روپو وی او که نه د سلو روپو هم اخستلې او قربانی کولې شی. حال دا چې په زید باندې قربانی واجبه ده؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دویم څنارو د کم قیمت هم اخستې شی.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ولو اشتراها سلیمة ثم تعیبت بعیب مانع کما مر فعلیه اقامة غیرها مقامها ان کان غنیا و ان کان فقیرا اجزاه ذلك و کذا لو کانت معیبة وقت الشراء لعدم وجوبها علیه بخلاف الغنی (رد المحتار ص ۲۰۰ ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۵ ذی الحجه ۱۳۸٦ هجری

د قربانۍ د غوښې د تقسیمولو غلطه طریقه

سوال: څو حقیقی ورونو یو ځائ قربانی وکړه. څه غوښه ئې په خلقو کښې تقسیم کړه، د باقی د پاره هر یو بل له په خوشحالۍ سره اجازت ورکړو چې د چا څومره زړه غواړی یو دې سی. په تول کولو او د برابر ورکولو څه ضرورت نشته دې. آیا دا طریقه شرعاً روا ده؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب دا طریقه روا نه ده. البته که په هره حصه کښې د سر یا د خپو څه

حصه کیږدي نو بیا روا ده.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: ويقسم لحمه وزنا لا جزافا الا اذا ضم معه من الاكارع او الجلد صرفا للجنس بخلاف جنسه

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله لا جزافا) لان القسمة فيها معنى المبادلة ولو حلل بعضهم بعضا قال في البدائع اما عدم جواز القسمة مجازفة فلان فيها معنى التمليك واللحم من اموال الربوا فلا يجوز تمليكه مجازفة فاما عدم جواز التحليل فلان الربا لا يحتمل الحل بالتحليل ولانه في معنى الهبة وهبة المشاع فيما يحتمل القسمة لا تصح اهـ وبه ظهر ان عدم الجواز بمعنى انه لا يصح و لا يحل لفساد المبادلة خلافا لما بحثه في الشرنبلالية من انه فيه بمعنى لا يصح ولا حرمة فيه (ردالمحتار ص۲۰۰ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۶ ذی الحجه ۱۳۸۷ هجری

چې خوراک څښاک مشترک وی نو د غوښې تقسیمول ضروری نهٔ دی

سوال:- والدینو او ورونو خویندو په شریکه قربانی وکړه، څه غوښه ئې په غریبانانو کښې تقسیم کړه، او باقي پخول او یوځائ خوړل غواړی نو په دې صورت کښې د غوښې تقسیمول او هر یو ته خان له حصه ورکول ضروری دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په دې صورت کښې تقسیم ضروری نهٔ دې څکه چې دا اباحت دې د تملیک او تملک معنی په دې کښې نشته دې.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله ويقسم اللحم) انظر هل هذه القسمة متعينة او لا حتى لو اشترى لنفسه ولزوجته و اولاده الكبار بدنة ولم يقسموها تجزيهم اولا والظاهر انها لا تشترط لان المقصود منها الاراقة وقد حصلت وفي فتاوى الخلاصة والفيض تعليق القسمة على ارادتهم وهو يؤيد ما سبق غير انه اذا كان فيهم فقير والباقي اغنياء يتعين عليه اخذ نصيبه ليتصدق به اهـ ط وحاصله ان المراد بيان شرط القسمة ان فعلت لا انها شرط لكن في استثنائه الفقير نظر اذ لا يتعين عليه التصدق كما يأتي نعم الناذر يتعين عليه فافهم (ردالمحتار ص۲۰۰ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۶ ذی الحجه ۱۳۸۷ هجری

د خنثی څناور قربانی صحیح نهٔ ده

سوال:- د خنثی څناور قربانی روا ده او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب دا روا نهٔ ده.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: ولا بالهتمى لان لحمهما لا ينضج شرح وهبانية وتمامه فيه (ردالمحتار ص ج)

والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۰ محرم ۱۳۸۸ هجری

د بې ښکرو څناور قرباني

سوال: د کوم څناور چې د پیدایش نه دوه یا یو ښکر نه وی یا وروستو ئې ښکرې ماتې شی نو آیا د هغې قربانی روا ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دا روا ده، البته که چیرې یو ښکر ئې هم وخی نو دا بیا روا نهٔ ده۔

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله ويضحى بالجماء) هي التي لا قرن لها خلقة و كذا العظماء التي ذهب بعض قرنها بالكسر او غيره فان بلغ الكسر الى المخ لم يجز قهستاني وفي البدائع ان بلغ الكسر المشاش لا يجزى والمشاش رؤس العظام مثل الركبتين والمرفقين (ردالمحتار ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم

۲۵ صفر ۱۳۸۸ هجری

د مات شوی ښکر د خاروی د قربانۍ د عدم جواز په حقله د حدیث جواب

سوال: یو عالم دین فرمائی چې د کوم څناور ښکر مات وی نو د هغې قربانی روا نهٔ ده، برابره خبره ده که د پورته نه مات شوې وی او که د بیخ نه مات شوې وی، ځکه چې په حدیث کښې مطلقا ممانعت دې: عن علي رضي الله عنه نهى رسول الله ﷺ ان يضحى بأعضب القرن والاذن

او د فقهې په کتابونو کښې چې کوم لیکلې شوې دی چې د بیخه مات شی نو قربانی ئې صحیح نهٔ ده، او د مینځ نه چې مات شی نو صحیح ده، د دې څه اصل نشته دې۔

آیا د دوی دا وئیل صحیح دی؟ بینوا توجروا۔

لجواب باسم ملهم الصواب: عن حجية بن عدى قال اتى رجل عليا رضي الله عنه فساله عن المكسورة القرن فقال لا يضرك (شرح معاني الآثار ص ج) په دې حدیث کښې په خپله د حدیث د منعې د راوی د حضرت علی رضي الله عنه د جواز فتوی منقوله ده، بله دا چې دَ حضرت عمار رضي الله عنه د حضرت سعید بن المسیب او د حضرت حسن بصری رحمهما الله تعالی فتوی هم ددې مطابق ده۔ (اعلاء السنن ص ج)

د حدیث د منعې مختلف جوابونه ورکولې شی:

۱- د حضرت علی رضي الله عنه د فتوې نه ثابتیږی چې دا حدیث منسوخ دې۔

۲- د منعې روایت خلاف اولی باندې محمول دې۔

۳- ممانعت د داسې څناور نه دې، د کوم ښکر چې بالکل د بیخ نه مات وی

والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۹ ذی الحجه ۱۳۹۸ هجری

د قربانۍ د وجوب د پاره د کال تیریدل شرط نهٔ دی

سوال- یو سړی سره د قربانۍ په ورځو کښې په قدر د نصاب یا د دې نه زیات مال دې لیکن په ده باندې تر اوسه پورې کال ندې تیر شوې، آیا په ده باندې قربانی واجبه ده او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: په دهٔ باندې قربانی واجبه ده. په دې شرط چې دا مال ئې د حوائجو اصلیه نه زیات وی، حولان حول په کښې شرط نهٔ دې.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: فتجب التضحیة ای اراقة الدم من النعم عملا لا اعتقادا بقدرة ممکنة هی ما یجب بمجرد التمکن من الفعل فلا یشترط بقاؤها لبقاء الوجوب لانها شرط محض لا میسرة هی ما یجب بعد التمکن بصفة الیسر (در المحتار ص ۲۰۰ ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم ۵ ذی قعده ۱۳۸۸ هجری

د بانک د نوکر په شرکت سره د هیچا قربانی هم نهٔ کیږی

سوال:- په یوه غوا کښې د بانک یا انشورنس نوکر یا یوهمداسې سړې شریک وی چې د چا اکثر آمدن حرام وی، آیا دده په شرکت سره به د نورو شریکانو په قربانۍ باندې څه اثر غورځیږی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په دې صورت کښې د چا قربانی هم صحیح نهٔ ده.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: وان مات احد السبعة المشترکین فی البدنة وقال الورثة اذبحوا عنه وعنکم صح عن الکل استحسانا لقصد القربة من الکل ولو ذبحوها بلا اذن الورثة لم یجزهم لان بعضها لم یقع قربة وان کان شریک الستة نصرانیا او مریدا اللحم لم یجز عن واحد منهم لان الاراقة لا تتجزأ هدایة.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله وان کان شریک الستة نصرانیا الخ) و کذا اذا کان عبدا او مدبرا یرید الاضحیة لان نیته باطلة لانه لیس من اهل هذه القربة فکان نصیبه لحما فمنع الجواز اصلا بدائع. (رد المحتار ص ۲۰۰ ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۰ ذی الحجه ۱۳۸۸ هجری

د قربانۍ هډوکی خرڅول روا نهٔ دی

سوال - د قربانۍ د غوښې هډوکی د غوښې پخولو نه وړاندې یا د غوښې د پخولو نه وروستو خرڅول او د هغې پیسې په خپل تصرف کښې راوستل روا دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب داسې کول روا نهٔ دی. که چا هډوکی خرڅ کړل نو د هغې پیسې به مسکینانو باندې صدقه کول واجب دی. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۳ محرم ۱۳۸۹ هجری

که څناور ورک شي یا مړ شي نو د دویمې قربانۍ حکم

سوال - زید د قربانۍ څناور واخستلو. دا څناور مړ شو یا ورک شو. آیا دویم څناور اخستل او قربانی کول واجب دي او که نه؟ که واجب وي نو د ړومبي څناور د قیمت سره برابریدل ضروري دي او که نه د لږ قیمت څناور هم کافي کیږي؟ یو عالم فرماني چې په قیمت کښې برابري ضروري ده او په دلیل کښې د درمختار دا عبارت وړاندې کوي.

وكذا الثانية لو قيمتها كالاولى او اكثر وان اقل ضمن الزائد ويتصدق به بلا فرق بين غني وفقير.

آیا د دوی دا استدلال صحیح دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب په غني باندې د دویم څناور قرباني واجبه ده، په قیمت کښې برابري ضروري نۀ ده. په فقیر باندې هیڅ هم واجب نۀ دي.

قال الامام طاهر بن عبد الرشيد البخاري رحمه الله: والفقير لو سرق شاته ولم يشتر اخرى ليس عليه اخرى والغني يجب عليه اخرى لان الوجوب على الفقير بالشراء والشراء يتناول هذا المعين فوجب التضحية به فسقط الواجب بهلاك هذا المعين (خلاصة الفتاوی ص۳۱۰ ج۴)

وقال الامام الكاساني رحمه الله: ولو اشترى اضحية وهي صحيحة ثم اعورت عنده وهو موسر او قطعت اذنها كلها او اليتها او ذنبها او انكسرت رجلها فلم تستطع ان تمشي لا تجزي عنه وعليه مكانها اخرى لما بينا و كذلك ان ماتت عنده او سرقت (بدائع ص۷۰ ج۵)

په سوال کښې د ذکر کړې شوي عبارت نه استدلال کول صحیح نۀ دي. ځکه چې دا د هغه صورت سره متعلق دي چې ړومبي څناور په ورځو د قربانۍ کښې بیا موندې شو. د دې نه علاوه بلا فرق بين غني وفقير ته علامه ابن عابدین رحمه الله مرجوح وئیلي دي. راجح دا دی چې په فقیر باندې د دواړو ذبح کول واجب دي.

په فقیر باندې د وجوب دا دواړه قوله په دې روایت باندې مبني دي په کوم کښې چې شراء الفقير بنية الاضحية ته موجب وئیلي شوې وي. دویم روایت د عدم وجوب په کښې هم شته. دا دواړه روایتونه ظاهر الروایة دي. ورواية الوجوب احوط واشهر والثانية اوسع وايسر والله سبحانه وتعالى اعلم.

۳۰ محرم ۱۳۸۹ هجری

د ګوډ څناور قرباني

سوال زید یو څناور واخستلو. وروستو هغه ګ. سو. د خپې د ماتیدلو ئې خه نۀ معلومیدل.

آیا ددې قربانی روا ده او که نه؟ د امیر او دغریب په کښې څه فرق شته او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب که ښپه په زمکه اینبودې شی او په هغې باندې څه څای پورې تلې شی نو قربانی پرې روا ده او که داسې نهٔ وی نو نهٔ ده روا، کوم سړې چې د قدر د نصاب مالک نه وی هغه د پاره بهر حال قربانی روا ده۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله والعرجاء) ای التی لا یمکنها المشی برجلها العرجاء انما تمشی بثلاث قوائم حتی لو کانت تضع الرابع علی الارض وتستعین بها جاز عنایة (ردالمحتار ص۰۰ ج۰) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۸ ربیع الاول ۱۳۸۹ هجری

د غلا د خاروی قربانی روا نهٔ ده

سوال:- زید د عمرو یوه غوا غلا کړه. او هغه ئې د قربانئ دپاره ذبح کړه، پوښتنه دا کول دی. چې آیا د زید دا قربانی وشوه او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د زید قربانی ادا نهٔ شوه ځکه چې هغه د غوا مالک نهٔ دې، البته دا ذبیحه حلاله ده. خوسره د دې هم بې د مالک د اجازت دا خستلونه ددې غوښه استعمالول روا نهٔ دی

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: قال فی البدائع غصب شاة فضحی بها عن نفسه لا تجزئه لعدم الملک (ردالمحتار ص۰۰ ج۰). والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۸ جمادی الثانیة ۱۳۸۹ هجری

په حرام مال باندې قربانی واجبه نهٔ ده

سوال:- په حرام مال باندې قربانی واجبه ده او که نه؟ لکه د رشوت ګټه شوه وغیره وغیره. بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: حرام مال خو ټول صدقه کول واجب دی. لهذا په دې باندې قربانی واجبه نهٔ ده۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: فی القنیة لو کان الخبیث نصابا لا یلزمه الزکوة لان الکل واجب التصدق علیه فلا یفید ایجاب التصدق ببعضه اهـ ومثله فی البزازیة (ردالمحتار ص۰۰ ج۰) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۷ محرم ۱۳۹۰ هجری

د قربانئ په وجوب کښې د زمکې حکم

سوال - د قربانئ په وجوب کښې به د زمکې د قیمت اعتبار وی او که نه د پیداوار اعتبار به ئې کولې شی؟ که د قیمت اعتبار ئې کولې شی نو چې کومه زمکه د کرکرونډې قابله نهٔ وی د هغې قیمت به لګولې شی او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: که د قدر د معاش نه زیاته د کر کروندې قابله یا ناقابله زمکه او د پیداوار مجموعه یا په کښې یو په قدر د نصاب وی نو قربانی پرې واجبه ده

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله معزیا الی التتارخانیة سئل محمد رحمه الله عمن له ارض یزرعها او حانوت یستغلها او دار غلتها ثلاثة الاف و لایکفی لنفقته و لنفقة عیاله سنة؛ یحل له اخذ الزکوة و ان کانت قیمتها تبلغ الوفا و علیه الفتوی و عندهما لایحل اهـ (ردالمحتار ص ج۲)

و قال ایضا: ولو له عقار یستغله فقیل تلزم لو قیمته نصابا و قیل لو یدخل منه قوت سنة تلزم و قیل قوت شهر فمتی فضل نصاب تلزمه والو العقار وقفا فان وجب له فی ایامها نصاب تلزم (ردالمحتار ص ج۵)

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۲ محرم ۱۳۹۰ هجری

په مقروض باندې د قربانۍ د وجوب تفصیل

سوال:- چا سره د قربانۍ د وجوب پوره نصاب موجود وی لیکن په دهٔ باندې قرض هم وی، که د نصاب نه د قرض ادا کولو نه پس دومره مالیت پاتې شی چې په هغې باندې د قربانۍ څناور اخستلې شی نو په هغهٔ باندې قربانی واجبه ده او که نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د نصاب نه د قرض په ورکولو باندې که په نصاب کښې نقص نهٔ راځی، نصاب کامل باقی پاتې وی نو قربانی پرې واجبه ده او که نه نو نده پرې واجبه.

قال الامام الکاسانی رحمه الله: ولو کان علیه دین بحیث لو صرف الیه بعض نصابه لانتقص نصابه لاتجب لان الدین یمنع وجوب الزکاة فلان یمنع وجوب الاضحیة اولی لان الزکاة فرض والاضحیة واجبة والفرض فوق الواجب (بدائع ص ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۸ ذی الحجه ۱۳۹۰ هجری

که په اوښ باندې د اووو شریکانو نه زیات شی نو د چا قربانی هم نهٔ صحیح کیږی

سوال: آیا د اوښ په قربانۍ کښې لس کسان شریکیدې شی؟ که د اوو نه زیات کسان په کښې شریک شو نو آیا د دوی قربانی به صحیح شی ؟بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د غوا په شان په اوښ کښې هم د زیات نه زیات اوه کسان شریکیدې شی.که د اوو نه زیات شو نو د یو قربانی په کښې هم نهٔ صحیح کیږی. **والله سبحانه وتعالی اعلم**

۱۸ ذی الحجه ۱۳۹۰ هجری

د تقسيم نه وړاندې غوښه صدقه کول روا نهٔ دي

سوال :- د تقسيم نه وړاندې د مشترکه غوښې په فقيرانو باندې صدقه روا ده او که نه؟بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : که چيرې څو کسان په قربانۍ کښې شريک وي.او هغوی ټول غوښه په خپلو کښې نهٔ تقسيموی بلکه ټول ښه په رضا او رغبت سره يوځائې په فقيرانو. رشته دارو، کښې تقسيمول يا پخول او په هغوی باندې خوړل غواړي نو دا روا دي اوکه نه ؟.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله : (قوله ويقسم اللحم) انظر هل هذه القسمة متعينة اولا حتى لو اشترى لنفسه ولزوجته واولاده الكبار بدنة ولم يقسموها تجزيهم اولا والظاهر انها لا تشترط لان المقصود منها الاراقة وقد حصلت (ردالمحتار ص۲۰۰ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۹ ذی الحجه ۱۳۹۰ هجری

که چا دقربانۍ د ورځو د ختميدلو نه وړاندې ټول مال هبه کړو نو په هغه باندې قرباني واجبه نهٔ ده

سوال:- هندې سره دومره مال دې چې په هغې باندې قرباني واجبه ده،که هنده خپل ټول مال خاوند ته ورکړی نو آيا په دې باندې به قرباني واجبه پاتې وی او که نه؟بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : که دقربانۍ دورځود ختميدلونه وړاندې هندې خپل خاوندته دومره مال هبه کړو چې هندې سره په قدر دنصاب مال پاتې نهٔ شو نو په هغې باندې قرباني واجبه نهٔ ده.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تحت (قوله الى اخر ايامه) والاصل ان ما وجب كذلك يتعين الجزء الذى ادى فيه للوجوب اواخر الوقت كما فى الصلوة وهو الصحيح وعليه يتخرج ما اذا صار اهلا للوجوب فى اخرها بان اسلم اواعتق اوايسر اواقام تلزمه لا ان ارتد اواعسر اوسافر فى اخره (ردالمحتار ص۲۰۰ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۶ ذی قعده ۱۳۹۱ هجری

د قربانۍ د وجوب نصاب

سوال:- د قربانۍ د وجوب نصاب څه دې ؟بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : چې ۸۷,۴۷۹ گرامه سرهٔ زر يا ۳۵,۲۱۲ گرامه سپين زر وی يا په دې دواړو کښې د يو برابر نقدې روپۍ يا مال د تجارت يا د ضرورت نه زيات سامان يا دا پنځه واړه يا په دې کښې بعضې وی نو قرباني پرې واجبه ده.

د دې جوړو نه زيات لباس، راديو او د ټی وی (ټلويزيون) غوندې بې فائدې څيزونه په حاجت کښې داخل نهٔ د...د دې وجې نه ددې قيمت به هم په نصاب کښې شمارلې شي

قال الامام الحصكفي رحمه الله تعالى: وشرطها الاسلام والاقامة واليسار الذي يتعلق به وجوب صدقة الفطر.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله واليسار الخ) بان ملك مائتي درهم او عرضا يساويها غير مسكنه وثياب اللبس ومتاع يحتاجه الى ان يذبح الاضحية (الى قوله) وصاحب الثياب الاربعة لو ساوى الرابع نصابا غني وثلاثة فلا لان احدها للبذلة والاخر للمهنة والثالث للجمع والوفد والاعياد (ردالمحتار ص ج ٥) والله سبحانه وتعالى اعلم. غرة ذي الحجه ١٣٩٢ هجری

د غير (بل چا) په مال باندې د ساتلې شوي څناور قرباني

سوال - زید يوه غوا واخستله او په بازار کښې ئې پريښودله، دا غوا د نورو خلقو مال وغيره خوري او گرځي. او د خلقو نقصان کوي، آيا داسې څناور د مالک نه په بيعه اخستل او ددې قرباني کول روا دي. او قرباني به ترې ادا شي او كه نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په دې غوا کښې د هيڅ قسمه څه قباحت نشته دې، لهذا د دې غوا قرباني روا ده. والله سبحانه وتعالى اعلم غره جمادى الاولى ١٣٩٢ هجری

د شيعه په شرکت باندې به د چا قرباني هم نهٔ کيږي

سوال - آيا په قربانئ کښې د اهل سنت سره شيعه شريکيدې شي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: شيعه کافر دې، که په يو څناور کښې د هغهٔ حصه وساتلې شوه نو د چا قرباني هم ونهٔ شوه. والله سبحانه وتعالى اعلم ١٣ جمادى الاولى ١٣٩٢ هجری

د مشرک په شرکت سره به د چا قرباني هم نهٔ صحيح کيږي

سوال - د قربانئ په شريکانو کښې يو شريک بريلوي دې. عقيده ئې داده چې رسول الله ﷺ ته علم غيب حاصل دې. او هغوی ﷺ هر ځائې حاضر او ناظر دی. رسول الله ﷺ او اولياء کرام رحمهم الله مختار کل دی. نفع او نقصان رسولې شي. بيماري او صحت، عزت او ذلت او اولاد د هغوی په لاس کښې دی. په همدې وجه دغه سړې د اولياء الله قبرونو له ځي او هلته د خپلو حاجتونو د پوره کيدلو دپاره نذرونه کوی او له هغوئ نه خپل حاجتونه غواړي. آيا داسې سړې چې د قربانئ په څناور کښې شريک شي نو د نورو شريکانو ورسره قرباني صحيح کيږي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب داسې سړې مشرک دې. دهٔ سره د قربانئ په څاروی کښې شريکيدل روا نه دی. کوم خلق چې دهٔ سره شريکيږي د قربانئ په څاروی کښې په هغوی کښې به د چا قرباني هم نهٔ صحيح کيږي. والله سبحانه وتعالى اعلم ٧ ذی القعده ١٣٩٩ هجری

د شپې قرباني كول

سوال - آيا په شپه كښې قرباني كول بې د كراهته روا دي؟بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په لسمه او ديارلسمه شپه روا نۀ ده،په يوولسمه او دولسمه شپه روا ده البته د شپې د رګونو د نۀ پرې كيدلو،يا د لاس په خوږولو،يا د قربانۍ په آرام كښې د خلل د انديښنې له كبله ذبح كول مكروه تنزيهي دي

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وكره تنزيها الذبح ليلا لاحتمال الغلط

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله تنزيها) عبر من المصنف حيث قال قلت الظاهر ان هذه الكراهة للتنزيه ومرجعها الى خلاف الاولى اذ احتمال الغلط لا يصلح دليلا على كراهة التحريم اه

الول وهو مصرح به في بدائع الصنائع (قوله ليلا) اي في الليلتين المتوسطتين لا الاولى ولا الرابعة اذ لا تصح فيهما الاضحية اصلا كما هو الظاهر ونبه عليه في النهاية وهذا خفي على المحشي (ردالمحتار ص۲۰۳ ج۵)

وقال الامام الكاساني رحمه الله تعالى: (منها) ان المستحب ان يكون الذبح بالنهار ويكره بالليل والاصل فيها ما روى عن رسول الله ﷺ انه نهى عن الاضحى ليلا وعن الحصاد ليلا وهو كراهة تنزيه ومعنى الكراهة يحتمل ان يكون لوجوه احدها ان الليل وقت امن وسكون وراحة فايصال الالم في وقت الراحة يكون اشد والثاني انه لا يأمن من ان يخطئ فيقطع يده ولهذا كره الحصاد بالليل والثالث ان العروق المشروطة في الذبح لا تتبين في الليل فربما لا يستوفي قطعها (بدائع الصنائع ص۸۰ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۳ رمضان ۱۳۹۲ هجرى

د ذبحې نه وړاندې په كښې عيب پيدا شو

سوال په يو سړي باندې قرباني واجبه نۀ وه،هغه د قربانۍ د پاره غوښې واخستلو.بازار نه د راوستلو نه پس غوښې كښيناستلو اونه پاسيدلو ده هغه غوښې ذبح كړو او غوښه ئې خرڅه كړه.آيا په ده باندې د دويم څناور اخستل او د دې قربانول ضروري دي ؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب په دې كښې اختلاف دې،د وجوب او د عدم وجوب د دواړو قول په كښې شته .او دواړه قوله ظاهر الرواية دي،الاول احوط والثاني اوسع.كه آسانه وي ورته نو د بل څناور قرباني دې وكړي.والله سبحانه وتعالى اعلم. ۸ ذى الحجه ۱۳۹۲ هجرى

غني څناور واخستلو او د قربانۍ په ورځو كښې فقير شو

سوال - زيد مالداره وو.هغه شپږ مياشتې وړاندې د قربانۍ په نيت سره څاروې واخستلو،بيا زيد مسكين شو،نو آيا د دې څناور قرباني په زيد باندې واجبه ده او كه مستحبه؟بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: واجبه پرې نهٔ ده:

قال العلامة التمرتاشی رحمه الله: والمعتبر اخر وقتها للفقیر و ضده والولادة والموت فلو کان غنیا فی اول الایام فقیرا فی اخرها لا تجب علیه وان ولد فی الیوم الاخر تجب علیه وان مات فیه لا تجب علیه

وقال العلامة ابن عابدین: (قوله والولادة) ای علی القول بوجوبها فی مال الصغیر او الاب و هو خلاف المعتمد کما مر. والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۵ ذی الحجه ۱۳۹۲ هجری

د لیونی څناور قربانی روا ده

سوال:- کوم څناور باندې چې کله کله د میرګی دوره راځی،او هسې دا څناور ښه څرب دې، نو آیا د دې څناور قربانی روا ده او که نه؟بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په دهٔ باندې قربانی روا ده۔

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: و یضحی بالجماء والخصی والثولاء ای المجنونة (ردالمحتار ص ۲۰۰ ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۷ ذی قعده ۱۳۹۷ هجری

په قرض ورکوونکی باندې قربانی واجبه ده

سوال:- زید سعودی عرب ته د تلو دپاره خپل کور او ټول سامان خرڅ کړلو او پنځه زره روپئ نې عمرو له ورکړې، عمرو زید سعودی عرب ته وښه لیږلې شو،او عمرو په خپله لاړو او د هغه ځائ نه نې زید ته خط ولیکلو چې د لوئ اختر نه پس به درته ټولې پیسې راولیږم، اوس پوښتنه داده چې په زید باندې قربانی شته او که نه؟بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: دې ته دَین قوی وائی او په دې باندې بالاتفاق زکوة فرض دې، لهذا قربانی به پرې په طریق اولی واجب وی،البته که د قربانئ دپاره ورسره نهٔ نقدې وی او نهٔ ورسره د ضرورت نه زیات څه سامان وی چې هغه خرڅ کړی او قربانی پرې وکړې شی نوپه دې صورت کښې پرې بیا قربانی واجبه نهٔ ده۔

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: له مال کثیر غائب فی ید مضاربه او شریکه و معه من الحجرین او متاع البیت ما یضحی به تلزم. (ردالمحتار ص ۲۰۰ ج ۵)

وفی الهندیة عن البدائع: ولو کان علیه دین بحیث لو صرف فیه نقص نصابه لا تجب و کذا لو کان له مال غائب لا یصل الیه فی ایامه (عالمگیریة ص ۲۰۰ ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۸ ذی الحجه ۱۳۹۰ هجری

د مهر په قرض باندې قرباني واجبه نۀ ده

سوال: زينب د نصاب مالكه نۀ ده. ليكن د هغې په خاوند باندې دوه زره روپئ مهر شته. آيا په زينب باندې د دې دوو زرو روپو د اخستلو نه وړاندې قرباني واجبه ده؟بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د دې درې صورته دی:

١- مهر معجل وی او خاوند ئې مالداره وی.

٢- مهر معجل وی او خاوند ئې مسكين وی.

٣- مهر مؤجل وی، خاوند ئې برابره خبره ده كه غني وی او كه فقير وی.

په رومبی صورت كښې پرې قرباني واجبه ده، په دويم او دريم صورت كښې پرې قرباني واجبه نۀ ده.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تحت (قوله واليسار الخ) والمراة موسرة بالمعجل لو الزوج مليا وبالمؤجل لا (ردالمحتار ص٢٠٠ ج٥) والله سبحانه وتعالى اعلم ١٨ ذی الحجه ١٣٩٥ هجری

څناور په قرض باندې اخستل او قرباني كول روا دی

سوال: د قربانئ څناور په قرض اخستل او قرباني كول روا دی او كه نه؟ زيد وائی چې روا نۀ دی. ځكه چې كه د قربانئ كولو نه پس ورته مرګ راشي او وارثان ئې د قرض د ادا كولو نه انكار وكړی نو بيا به څه وی؟بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: څناور په قرض اخستل او قرباني پرې كول روا دی،قرض به د دۀ د تركې نه ادا كولې شی.كه وارثان ترې نه انكار وكړی نو دائن چې هرڅنګه هم وی خپل قرض ترې نه اخستلې شی. والله سبحانه وتعالى اعلم ١٩ ذی الحجه ١٣٩٥ هجری

دكوم خاروی چه غاښونه سوليدلی وی دهغه قرباني

سوال: د كوم خاروی غاښونه چې په سوليدلو سوليدلو اورو سره ولګی، نو د داسې خاروی قرباني صحيح ده او كه نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د غاښونو نه مقصد په وښو خوړلو باندې قدرت دې.د دې وجې نه كه غاښونه ئې بالكل سوليدلې وی نو قرباني پرې روا نۀ ده

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: ولا بالهتماء التي لا اسنان لها ويكفي بقاء الاكثر وقيل ما تعتلف به.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله وقيل ما تعتلف به) هو وما قبله روايتان حكاهما في الهداية عن الثاني وجزم في الخانية بالثانية وقال قبله والتي لا اسنان لها وهي تعتلف اولا تعتلف لا تجوز (ردالمحتار ص

۱۹ ذی الحجه ۱۳۹٦ هجری
..ج)والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

په غاښونو کښې د قربانۍ د څناور معيار

سوال - د قربانۍ د څناور د اکثرو غاښونو موجوديدل ضروري دی، پوښتنه داده چې د اکثر نه مراد د مخامخ د اتو غاښونو اکثر غاښونه دی (لکه څنګه چې د غوا او غوټی وغیره صرف د لاندې اورۍ وی اتهٔ غاښونه ئې وی پورته ئې نهٔ وی) او که نه په ټولو غاښونو کښې ترې نه اکثر غاښونه مراد دی؟ بينوا توجروا -

الجواب باسم ملهم الصواب : د اکثرو اعتبار په کښې نشته ، بلکه معيار په کښې دا دې چې څناور پرې وابنهٔ خورې شی نو قربانی پرې روا ده اوکه نه نو بيا پرې روا نهٔ ده، څکه چې د غاښونو نه مقصود همدا دې .

قال الامام الحصكفي رحمه الله : ولا بالهتماء التي لا اسنان لها ويكفي بقاء الاكثر وقيل ما تعتلف به

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله : (قوله وقيل ما تعتلف به) هو وما قبله روايتان حكاهما في الهداية عن الثاني و جزم في الخانية بالثانية وقال قبله والتي لا اسنان لها وهي تعتلف اولا تعتلف لا تجوز (ردالمحتار ص ج ه)

وقال الامام الكاساني رحمه الله : واما الهتماء وهي التي لا اسنان لها فان كانت ترعى و تعتلف جازت والا فلا وذكر في المنتقى عن ابي حنيفة رحمه الله انه ان كان لا يمنعها عن الاعتلاف تجزيه وان كان يمنعها عن الاعتلاف الا ان يصب في جوفها صبا لم تجزيه (بدائع الصنائع ص ج ه)

وقال في الهندية : واما الهتماء وهي التي لا اسنان لها فان كانت ترعى و تعتلف جازت والا فلا كذا في البدائع.

(عالمگیریة ص ج ه) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم ۲٤ محرم ۱۳۹۹ هجری

د قربانۍ د څناور نه کار اخستل

سوال - چا د قربانۍ د پاره غوايه واخستلو .اوس په دې قلبه کول يا چا له په اجرت ورکول روا دی او که نه؟ که چا داسې وکړل نو څه حکم ئې دې؟بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب د جواز او د عدم جواز دواړه قولونه پکښې شته .او دواړه ظاهرالرواية دی. الاول اوسع و ايسر والثاني احوط و اشهر

د دې قول ثانی په مطابق که چا د قلبې دپاره غوئې استعمال کړو او په دې سره د هغې په قيمت کښې څه کمې راغئ نو د هغې اندازه دې وکړی نو هغومره صدقه کول پرې واجب دی. او په اجرت بندې د ورکولو په صورت کښې پرې بيا دا اجرت صدقه کول واجب دی

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ولا یرکبها ولا یحمل علیها شیئا ولا یؤجرها فان فعل تصدق بالاجرة حاوی الفتاوی لانه التزم اقامة القربة بجمیع اجزائها.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله فان جزه تصدق به الی قوله حاوی الفتاوی) یوجد فی بعض النسخ قوله فان فعل تصدق بالاجرة ای فیما لو اجرها واما اذا رکبها او حمل علیها تصدق بما نقصته کما فی الخلاصة.

(ردالمحتار ص۲۰۰ ج۶) والله سبحانه وتعالی اعلم ذی الحجه ۱۴۰۳ هجری

په عیب مانع د تضحیې کښې تفصیل

سوال:-د څناور په غوږ،خپه،لکئ،او سترګه کښې چې څومره عیب پیدا شي نو قربانی پرې نه ده روا ددې څه معیار دې؟بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د غوږ یا د لکئ چې په کښې د نیمې نه زیات پرې شوې وی نو قربانی پرې روا نۀ ده . په کومه خپه کښې چې عیب دې که هغه خپه په زمکه اینبودې شی او تلې شی پرې نو قربانی پرې روا ده اوکه نه نو نۀ ده روا پرې .

د سترګې رڼا چې نیمه یا د دې نه کمه پاتې شوې وی نو قربانی پرې روا نۀ ده .

د دې د معلومولو طریقه دا ده چې څناور دې دوه درې ورځې وږې وساتلې شی بیا دې ورله عیب داره سترګه وتړلې شي او واښۀ دې ورته د لرې نه وښودلې شی او بیا دې ورله دا واښه نزدې راوړې شی.دکوم ځائ نه چې څناور ته ښکاره شی هلته دې نښه ولګولې شی.بیا دې ورله صحیح سترګه وتړلې شی او داسې کار دې ورسره وکړې شی، بیا دې د دواړو فاصلو نسبت معلوم کړې شی،که فرق نیم یا د نیم نه زیات وی نو قربانی پرې روا نۀ ده او که داسې نه وی نو بیا پرې روا ده

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: لا بالعمیاء والعوراء والعجفاء المهزول لا مخ فی عظامها والعرجاء التی لا تمشی الی المنسك ای المذبح والمریضة البین مرضها ومقطوع اکثر الاذن او الذنب او العین ای التی ذهب اکثر نورعینها فاطلق القطع علی الذهاب مجازا وانما یعرف بتقریب العلف.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله: (قوله والعرجاء) ای التی لا یمکنها المشی برجلها العرجاء انما تمشی بثلاث قوائم حتی لو کانت تضع الرابعة علی الارض و تستعین بها جاز عنایة (قوله الی المنسك) بکسر السین والقیاس الفتح (قوله ومقطوع اکثر الاذن الخ) فی البدائع لو ذهب بعض الاذن او الالیة او الذنب او العین ذکر فی الجامع الصغیر ان کان کثیرا یمنع وان یسیرا لا یمنع واختلف اصحابنا فی الفاصل بین القلیل والکثیر فعن ابی حنیفة رحمه الله اربع روایات وعن محمد رحمه الله فی الاصل والجامع الصغیر ان المانع ذهاب اکثر من الثلث وعنه انه

الثلث وعنه انه الربع وعنه ان يكون الذاهب اقل من الباقي او مثله اهـ المعنى والاولى هى ظاهر الرواية وصححها فى الخانية حيث قال و الصحيح ان الثلث و ما دونه قليل و ما زاد عليه كثير وعليه الفتوى اهـ و مشى عليها فى مختصر الوقاية والاصلاح والرابعة هى قولهما قال فى الهداية وقال اذا بقى الاكثر من النصف اجزاه وهو اختيار الفقيه ابى الليث وقال ابو يوسف رحمه الله اخبرت بقولى ابا حنيفة رحمه الله فقال قولى هو قولك قيل هو رجوع منه الى قول ابى يوسف رحمه الله وقيل معناه قولى قريب من قولك وفى كون النصف مانعا روايتان عنهما اهـ وفى البزازية و ظاهر مذهبهما ان النصف كثير اهـ وفى غاية البيان و وجه الرواية الرابعة وهى قولهما و اليها رجع الامام ان الكثير من كل شىء اكثره وفى النصف تعارض الجانبان اهـ اى فقال بعدم الجواز احتياطا بدائع وبه ظهر ان ما فى المتن كالهداية والكنز والملتقى هو الرابعة و عليها الفتوى كما يذكره الشارح عن المجتبى و كانهم اختاروها لانه المتبادر من قول الامام السابق هو الرجوع عما هو ظاهر الرواية عنه الى قولهما والله تعالى اعلم.(رد المحتار ص۲۰۰ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۸ محرم ۱۳۹۸ هجری

د ګډ د لکۍ اعتبار نشته

سوال:- د ګډ د لم لاندې يوه وړه غونډې لکۍ وی.دا لکۍ که چيرې ماته شوه نو ددې ګډ قربانی روا ده اوكه نه؟بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د ګډ د لکۍ اعتبار نشته .لهذا که پوره لکۍ ئې پرې شوې وی نو بيا پرې هم قربانی روا ده.

قال العلامة الحصكفى رحمه الله: ولا التى لا الية لها خلقة مجتبى

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله ولا التى لا الية لها خلقة) الشاة اذا لم يكن لها اذن ولا ذنب خلقة قال محمد رحمه الله لا يكون هذا ولو كان لا يجوز وذكر فى الاصل عن ابى حنيفة رحمه الله انه يجوز خانية ثم قال وان كان لها الية صغيرة مثل الذنب خلقة جاز اما على قول ابى حنيفة رحمه الله فظاهر لان عنده لو لم يكن لها اذن اصلا ولا الية جاز واما على قول محمد رحمه الله صغيرة الاذنين جائزة وان لم يكن الية ولا اذن خلقة لا يجوز (رد المحتار ص۲۰۴ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۹ محرم ۱۳۹۸ هجری

په يوه غوا چې رسولۍ ((يوقسم دانه ده)) وی د هغې د قربانۍ حکم

سوال: چې په يو غوا باندې رسولۍ وی.دا رسولۍ په څټ، سر يا د بدن په کومه حصه هم کيدې شی.ددې غوا په عمل او ددې په شيدو وغيره باندې ددې رسولۍ څه اثر نه غورځي ... [illegible]

د سود اګرو په نظر کښې ددې قیمت کمیږي. آیا د داسې غوا قرباني کیدې شي؟بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب که د دې غوا صحت باندې ترې نه څه اثر نهٔ غورزیږي نو بیا روا ده. لیکن خلاف اولی ده. او که ددې د وجې نه غوا کمزورې او ضعیفه شوې وی نو بیا روا نهٔ ده

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: ويضحي بالجماء (الى قوله) والجرباء السمينة فلو مهزولة لم يجز لان الجرب في اللحم نقص. وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله فلو مهزولة الخ) قال في الخانية وتجوز بالثولاء والجرباء السمينتين فلو مهزولتين لا تنقى لا يجوز اذا ذهب مخ عظمها فان كانت مهزولة فيها بعض الشحم جاز يروى ذلك عن محمد رحمه الله اه وقوله لا تنقى ماخوذ من النقي بكسر النون واسكان القاف هو المخ اى لا مخ لها وهذا يكون من شدة الهزال فتنبه قال القهستاني واعلم ان الكل لا يخلو عن عيب والمستحب ان يكون سليما عن العيوب الظاهرة فما جوز ههنا جوز مع الكراهة كما في المضمرات (ردالمحتار ص ج). والله سبحانه وتعالى اعلم

۲۳ صفر ۱۳۹۸ هجری

په قربانۍ کښې شریک له د ذبحې اجرت اخستل روا نهٔ دی

سوال:- د قربانۍ په اوو شریکانو کښې یو یا دوه کسانو له د قربانۍ د ذبح کولو او د غوښې د پرې کولو اجرت اخستل روا دی او که نه؟د مظفر نګر په علماؤ کښې په دې حقله اختلاف دې. تاسو په دې باندې غور وکړئ او جواب راکړئ، که چیرې ناروا وی نو په څه دلیل سره ؟بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : په قربانۍ کښې شریک سړی له د ذبحې اجرت اخستل په دوو وجوهو سره ناروا دی:

۱- ذبح کول په خپله په هغهٔ باندې واجب دی. اصالةً یا نیابةً او په واجب علی التعیین باندې اجرت اخستل روا نهٔ دی.

۲- د مشترک فعل د اجرت استحقاق نهٔ وی.

د ذبحې کولو نه پس د څرمنې ایستلو او د غوښې د جوړولو اجرت صرف د دویمې وجې له کبله ناروا دي.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: ولو استأجره لحمل طعام مشترك بينهما فلا اجر له لانه لا يعمل شيئا لشريكه الا ويقع لنفسه فلا يستحق الاجر.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله لانه لا يعمل الخ) فان قيل عدم استحقاقه للاجر على فعل نفسه لا يستلزم عدمه بالنسبة الى ما وقع لغيره فالجواب انه عامل لنفسه فقط لانه الاصل وعمله لغيره مبنى على امر مخالف للقياس فاعتبر الاول ولانه ما من جزء يحمله الا وهو شريك فيه فلا يتحقق تسليم المعقود عليه لانه

بمنع تسليم العمل الى غيره فلا اجر عناية وتعيين ملخصا. (ردالمحتار ص ج)

وقال العلامة الرافعي رحمه الله تعالى: (قوله وعمله لغيره مبني على امر خالف للقياس الخ) للحاجة وهي تندفع بعمله عاملا لنفسه لحصول مقصود المستاجر عناية (التحرير المختار ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم.

١٠ ربيع الاول هجری

مسافر پس د قربانۍ نه مقيم شو

سوال - يو سړي د اختر په ورځ د سفر په مسافت باندې لاړلو او هلته ئې قرباني وکړه بيا په ۱۲ د ذي الحجې د نمر د ډوبيدو نه وړاندې خپل وطن ته واپس راغئ نو په دۀ باندې دوباره قرباني کول واجب دي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب د دۀ هم هغه قرباني صحيح شوه د سفر نه په واپسۍ پرې بيا دوباره قرباني واجبه نۀ ده

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى (قوله والاقامة) فالمسافر لاتجب عليه وان تطوع بها اجزاته عنها (ردالمحتار ص ج)

وقال ايضا تحت (قوله الى اخر ايامه) ولو ضحى الفقير ثم ايسر في آخره عليه الاعادة في الصحيح لانه تبين ان الاول تطوع بدائع ملخصا لكن في البزازية وغيرها ان المتاخرين قالوا لا تلزمه الاعادة وبه ناخذ (ردالمحتار ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۳ محرم ۱۳۹۹ هجری

د قربانۍ په ورځو کښې مقيم، مسافر شو يا مسافر مقيم شو

سوال - که څوک سړې د اختر د ورځې د شروع کيدلو نه وړاندې په سفر باندې اووتلو يا څوک مسافر د ۱۲ د ذي الحجې د نمر ډوبيدو نه وړاندې وطن ته واپس راغې نو په هغۀ باندې به قرباني واجبه وي او که نه؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب د قربانۍ په وجوب کښې د آخري وخت اعتبار دې. لهذا په رومبي صورت کښې پرې قرباني واجبه نه ده. او په دويم صورت کښې پرې قرباني واجبه ده

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله الى اخر ايامه) دخل فيها الليل وان كره كما يأتي وافاد ان الوجوب موسع في جملة الوقت غير عين والاصل ان ما وجب كذلك يتعين الجزء الذي ادى فيه للوجوب او اخر الوقت كما في الصلوة وهو الصحيح وعليه يتخرج ما اذا صار اهلا للوجوب في اخره بان اسلم او اعتق او ايسر او اقام تلزمه لا ان ارتد او اعسر او سافر في اخره والله سبحانه وتعالى اعلم.

٤ محرم ۱۳۹۹ هجری

د قربانۍ په عمر کښې د دوو غاښونو موجوديدل ضروري نه دي

سوال:- کله کله د بکرۍ عمر يو کال او د غوا عمر دوه کاله شي ليکن غاښونه ئې نه وي ظاهر شوي، آيا د دوي قرباني کول روا دي؟بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: چې د عمر د پوره کيدلو اطمينان ئې وي نو قرباني کول ئې روا دي . والله سبحانه وتعالى اعلم. ٦ محرم ١٣٩٩ هجرى

د قربانۍ د غوښې د خوراک نه وړاندې خوراک څښاک کول

سوال:- د کوم سړي چې د قربانۍ کولو اراده وي .د هغهٔ د پاره د قربانۍ د غوښې د خوراک نه وړاندې چائې وغيره څښل صحيح دي او که نه؟ د چا چې د قربانۍ اراده نوي د هغهٔ د پاره څه حکم دې ؟ بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب که دقربانۍ اراده ئې وي او که نه وي بهر حال د قربانۍ د غوښې نه وړاندې خوراک څښاک نهٔ کول مستحب دي . چائې دې هم نه څښي ځکه چې په چايو کښې د شيدو او د بورې د وجې نه غذائيت دې .

دا حکم صرف مستحب دې.د دې په خلاف کولو کښې هيڅ قباحت نشته .

قال الامام الحصكفي رحمه الله: وندب تاخير اكله عنها وان لم يضح في الاصح ولو اكل لم يكره اى تحريما.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله في الاصح) قيل لا يستحب التاخير في حق من لم يضح بحر(قوله لم يكره)قال في البحر وهو مستحب ولا يلزم من ترك المستحب ثبوت الكراهة اذ لا بد لها من دليل خاص (ردالمحتار ص٢٢ ج١)

وقال في الهندية :وفي الكبرى الاكل قبل الصلوة يوم الاضحى هل هو مكروه فيه روايتان والمختار انه لا يكره لكن يستحب له ان لا يفعل كذا في التتارخانية.ويستحب ان يكون اول تناوله من لحوم الاضاحي التي هو ضيافة الله كذا في العيني شرح الهداية. (عالمگيرية ص٣٠ ج١) والله سبحانه وتعالى اعلم

٩ محرم ١٣٩٩ هجرى

د قربانۍ د غوښې نه د خوراک شروع کول د لسم تاريخه پورې خاص دي

سوال:- که قرباني په يولسم يا په دولسم تاريخ باندې وکړې شي نو قرباني کوونکي دې د قربانۍ د غوښې نه وړاندې څه نهٔ خوري شرعاً د دې څه حکم دې ؟بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب دا حکم صرف د لسم تاريخ سره خاص دې۔ والله سبحانه وتعالى اعلم.

٨ محرم ١٤٠١ هجرى

د شنډ څناور قرباني روا ده

سوال - کوم څناور چې د ابتداء نه شنډ وي د هغهٔ قرباني شرعا روا ده او که نه ؟یو عالم وائي چې دا روا نهٔ ده، د دې وجې نه د کتابونو د حوالې سره جواب مطلوب دې. بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د شنډ څناور د قربانۍ د عدم جواز څهٔ وجه نشته .او نهٔ داسې څه جزئیه زما د نظر لاندې راغلې ده.بلکه د دې لاندې وجوهاتو په بنا د دې جواز ثابت دې

۱- د شنډ څناور په غوښه کښې څه نقص نهٔ وي.بلکه نسبتا ددې غوښه ښهٔ وي.د دې وجې نه ددې قرباني کول افضل کېدل پکار دی۔ کما قالوا في الخصي

۲- د خصي څنارو د تولید د قوت د ختمیدلو باوجود د هغهٔ قرباني روا بلکه افضله ده.قیاساً علیه د شنډ څناور قرباني هم روا بلکه افضله کېدل پکار دی،په دواړو کښې د تولید د قوت د ختمیدلو عیب موجود دې

۳- که د عمر د زیاتوالی له کبله په کښې د تولید قوت ختم شوې وی نو قرباني پرې روا نهٔ ده

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تحت (قوله ولا تاکل غیرها) بعدوا (التتمة) تجوز التضحیة بالمجبوب العاجز عن الجماع والتي بها سعال والعاجزة عن الولادة لکبر سنها (ردالمحتار ص۲۰۰ ج۵)

۴ - دخنثی د قربانۍ د عدم جواز وجه فقهاء کرام رحمهم الله دا بیانوی چې د هغې غوښه نه پخیږی .د دې نه دا خبره ثابته شوه چې که د غوښې د نهٔ پخیدلو عیب په کښې نهٔ وې نو د خنثی قرباني به بیا روا وی، او دخنثی په نسبت شنډیدل اهون دی،ددې وجې نه ددې قرباني به په طریق اولی روا وی

۵ - اصل څیز اباحت دې لهذا چې تر څو پورې د عدم جواز څه صریحه جزئیه رانهٔ شی نو په دې باندې به د اباحت حکم لګولې شی۔ والله سبحانه وتعالی اعلم۔ ۱۳ صفر ۱۳۹۹ هجری

د قربانۍ د څناور څرمن خوړل روا دی

سوال - که چا د قربانۍ کولو نه پس د قربانۍ د څناور څرمن په اور کښې پخه کړه او وې خوړله نو په دهٔ باندې څه ضمان شته او که نه؟دا شبه راته د دې وجې نه پیدا شوه چې په تنویر الابصار کښې دی ویتصدق بجلدها او یعمل منه نحو غربال وجراب او یبدلها بما ینتفع به لا عستهلك کخل ولحم.

لیکن په عالمګیریه کښې ئې د بدلون تفسیر په اشتراء سره کړې دې

بله دا چې په بزازیه ص ۲۹۴ ج ۲ کښې ئې هم تفسیر په اشتراء سره کړې دې د کومې نه چې جواز معلومیږی . د خانیې ص ۳۵۴ ج ۳ نه هم د جواز اړخ ته اشاره ده. حیث قال: لا باس بان ینتفع بالجلد الاضحیة او یشتری بها الغربال والمنخل بینوا توجروا -

الجواب باسم ملهم الصواب په صورت د بیعې کښې په کښې دا شرط دې چې د باقی پاتې کیدونکی څیز سره دې د دې بدلون وکړې شی. په خپله دخپل کار په راوستلو کښې په کښې دا شرط نشته .د دې وجې نه ددې خوړل روا دی ـ **والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.** ۲۶ ذی الحجه ۱۳۹۹ هجری

د دواړو غوږونو پرې شوې حصه به شمارلې کیږی

سوال - که د بکرئ یا د گډ د دواړو غوږونو دومره حصه پرې شوې وی چې د دواړو مجموعه د ثلث نه زیاته جوړیږی. لیکن د هر یو پرې شوی غوږ حصه د ثلث نه کمه وی،نو آیا ددې قربانی صحیح ده او که نه؟بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : چې د دواړو غوږونو دومره حصه ئې پرې شوې وی چې مجموعه یې نصف یا د نصف نه زیاته وی نو قربانی کول پرې خلافِ احتیاط دی،که چا پرې وکړه نو قربانی به ئې صحیح وی.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: فی البزازیة و هل تجمع الخروق فی اذنی الاضحیة اختلفوا فیه قلت و قدم الشارح فی باب المسح علی الخفین انه ینبغی الجمع احتیاطا (ردالمحتار ص۲۰۰ ج۵) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۷ ذی قعده ۱٤۰۰ هجری

ضان غیر ذات الیه (بغیر له لم نه) ته شامل دې

سوال - تاسو د یو سوال په جواب کښې لیکلې دی،چې لفظ د (ضان) ذات الیة (د لم والا) او غیر ذات الیة دواړو لره شامل دې. په دې باندې اشکال دادې چې علامه ابن عابدین رحمه الله د قوسلة اشهر من الضان د لاندې لیکلې دی هو ماله الیة.

لهذا داسې څه جزئیه چې هغه ماله الیة لره مرجوح گرځوی یا که د تخصیص یا د تطبیق څه صورت کیدې شی نو وئې لیکئ او زمونږ تشفی پرې اوفرمائې. **بینوا توجروا** .

الجواب باسم ملهم الصواب :

(ضان)ذات الیة او غیر ذات الیة دواړو ته شامل دې.په بعضو کتابونو کښې چې د ضان تعریف کوم په ذات الیة سره مذکور دې.دا قید احترازی نهٔ دې بلکه تعریف بالنوع الاغلب دې.ځکه چې په عربو کښې زیات تر همدا نوعه ده.په دې باندې دا لاندینی دلائل دی :

۱- په قرآن کښې د ازواج ثمانیه ذکر دې د کومې تفصیل چې داسې دې **من الضان اثنین و من المعز اثنین. ومن الابل اثنین ومن البقر اثنین**

په دې کښې ضان ذات الية او غير ذات الية دواړو ته شامل دې

۲ - قال ابن منظور الافريقي: الضان من الغنم ذو الصوف ويوصف به فيقال كبش ضائن والانثى ضائنة خلاف الماعز. (لسان العرب ص۳۰۱ ج۳)

په دې کښې د ضان په عموم باندې دوه دليله دي: ۱- ذوالصوف ۲- خلاف الماعز

د مدعيانو د تخصيص په ذمه د دې خبرې اثبات دې چې که غير ذات الية په ضان کښې داخل نه وي نو په لغت د عربو کښې د دې دپاره کوم يو لفظ موضوع دې؟ والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱٤ ربيع الثاني ۱٤۰۳ هجري

چې يو ځاې کښې د اختر مونځ وشي نو د ټولو دپاره قرباني روا ده

سوال- په ښار کښې په ډيرو ځايونو کښې د اختر مونځ کيږي چرته په جمات کښې کيږي او چرته په عيدګاه کښې. او وختونه ئې مختلف وي، نو آيا د قربانۍ کولو دپاره دې هرې علاقې والا په خپله خپله علاقه کښې د اختر دمونځ د کيدلو انتظار وکړي او که نه چې چرته يو ځاې د اختر مونځ وشي نو د ټولو د پاره قرباني کول روا دي؟

بله دا چې د جمات د مونځ اعتبار به وي او که د عيدګاه د مونځ اعتبار به وي؟

بله داچې معذور کوم چې د اختر مونځ له نۀ شي تلې په هغۀ کښې او روغ انسان کښې به څۀ فرق وي او که نه؟ بينوا توجروا ـ

الجواب باسم ملهم الصواب: چې يو ځاې د اختر مونځ وشي نو د ټولو د پاره قرباني کول روا دي. برابره خبره ده که په جمات کښې شوې وي او که په عيدګاه کښې شوې وي.

په معذور او په روغ رمټ کښې هيڅ فرق نشته.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: واول وقتها بعد الصلوة ان ذبح في مصر اى بعد اسبق صلاة عيد ولو قبل الخطبة لكن بعدها احب.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله بعد اسبق صلوة عيد) ولو ضحى بعد ما صلى اهل المسجد ولم يصل اهل الجبانة اجزاه استحسانا لانها صلوة معتبرة حتى لو اكتفوا بها اجزاتهم و كذا عكسه هداية (رد المحتار ص۲۰۰ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم ۳ ذى الحجه ۱٤۰۳ هجري

د نذر د قربانۍ نه د خوراک د جواز تحقيق

سوال د بدائع ص ۸۰ ج ۵ په عبارت باندې راته اشکال دې

وجملة الكلام فيه ان الدماء انواع ثلاثة نوع يجوز لصاحبه ان ياكل منه بالاجماع ونوع لا يجوز له ان ياكل

معه بالاجماع ونوع اختلف فیه فالاول لحم الاضحیة نفلا او واجبا منذورا کان او واجبا مطلقا.
شبه په کښې دا ده. چې اولنئ نوعه چې خوراک یې بالاجماع روا دې.په دې کښې د نذر قربانی هم شامله کړې شوې ده. حال دادې چې د نذر د اضحیې نه د ناذر دپاره خوراک کول روا نهٔ دی.په فهم ناقص کښې مې دا خبره راغلې ده چې کیدې شی چې ددې نه هغه نذر مراد وی کوم چې غنی په ایامو د نحر کښې منلې وی او د دهٔ قصد اخبار وی نو ددې منذور نه به خوراک کول روا وی آیا دا خبره صحیح ده ؟

والدلیل علی ما فهمت ما الشامیة ان الموسر اذا نذر فی ایام النحر و قصد الاخبار لم یکن ذلك منه نذرا حقیقة و ان الشاة بایجاب الشرع (ص[illegible] ج۵). وفیه الصفحة الاتیة تحت قول الدر المختار (قوله ولا یاکل الناذر منها) ای نذرا علی حقیقته کما علمت(ص[illegible] ج۵) بینوا توجروا ـ

الجواب باسم ملهم الصواب : کتابونو ته د رجوع نه داخبره ثابته شوه چې د منختې د قربانئ نه ناذر له خوراک کول حلال دی.او د نذر په ذبحه کښې حلال نهٔ دې.

۱- قال الامام ابوبکر الجصاص رحمه الله المتوفی ۳۷۰ هجری:

وروی نافع عن ابن عمر رضی الله عنهما کان یفتی فی النسك والاضحیة ثلث لك ولاهلك وثلث فی جیرانك وثلث للمساکین وقال عبدالملك عن عطاء رحمه الله مثله قال وکل شیء من البدن واجبا کان او تطوعا فهوا بهذه المنزلة الا ما کان من جزاء صید او فدیة من صیام او صدقة او نسك او نذر مسمی للمساکین (احکام القرآن ص[illegible] ج۳)

په دې کښې د اضحیې نه **علی الاطلاق جواز اکل** نه پس د اضحیې منذوره دپاره د مسمی للمساکین قید دې، د کومې نه چې ثابته شوه چې که په اضحیه منذوره کښې د تصدق نیت نې کړې هم وی نو د هغې تصدق به واجب وی اوکه نه نو واجب به نهٔ وی

۲- قال الامام قاضیخان رحمه الله المتوفی ۵۹۲ هجری:

ولا یبیع لحم الاضحیة لیتصدق بل یاکله او یطعم ولو ولدت الاضحیة یضحی بالام والولد الا انه لا یاکل من الولد بل یتصدق به فان اکل منه یتصدق بقیمة ما اکل والمستحب ان یتصدق بولدها حیا ولو حلب اللبن من الاضحیة قبل الذبح او جز صوفها یتصدق بها ولا ینتفع بها.

وعن محمد رحمه الله اذا نذر ذبح شاة لا یاکل منها الناذر فان اکل کان علیه قیمته (خانیة بهامش الهندیة ص[illegible] ج۳)

په دې کښې زومبې **علی الاطلاق جواز اکل** لیکلې شوې دی. بیا ئې د واجب التصدق دصورتونو

تفصیل بیان کړي دي. او په آخر کښې ئې د امام محمد رحمه الله نه په نذر د ذبحه کښې د تصدق وجوب نقل کړي دي. که چیرې اضحیه منذوره د ولا یبیع لحم الاضحیة لیتصدق بها بل یأکله او یطعم په اطلاق کښې داخله نه وی بلکه ددې تصدق واجب وی نو ددې حکم ئې ولې و نه لیکلو؟ هر کله چې د واجب التصدق صورتونو تفصیل او په خصوصیت سره د نذر بالذبح حکم ئې لیکلې دي. ددومره لوئ امام نه داسې غلطی بالکل قرینِ قیاس نهٔ ده:

۳ . قال الامام الکاسانی رحمه الله المتوفی ص ۵۸۷ھجری: ان الدماء انواع ثلاثة نوع یجوز لصاحبه ان یأکل منه بالاجماع ونوع لا یجوز له ان یأکل منه بالاجماع ونوع اختلف فیه الاول دم الاضحیة نفلا کان او واجبا منذورا کان او واجبا مبتدأ والثانی دم الاحصار وجزاء الصید ودم الکفارة الواجبة بسبب الجنایة علی الاحرام کحلق الراس ولبس المخیط والجماع بعد الوقوف بعرفة وغیر ذلک من الجنایات و دم النذر بالذبح والثالث دم المتعة والقران فعندنا یؤکل وعند الشافعی رحمه الله لا یؤکل. (بدائع الصنائع ص۸۰ ج۵)

دا تاویل قابل نص نهٔ دي، چې د اضحیې منذورې نه په جواز اکل او د نذر ذبح نه په عدم جواز باندې اجماع ده.

۴ - په ټولو متونو کښې علی الاطلاق د اضحیې نه جواز د اکل لیکلې شوې دي. او دا اضحیې منذورې ته هم شامل دي، که د اضحیې منذورې حکم مختلف وې، نو ددې تصریح لازمه وه، حال دا چې په متونو کښې په یو کښې هم د دې ذکر نه معلومیږی ، بلکه په هدایه او فتح القدیر غوندې د لوئې مرتبې شروحو کښې هم ددې څه ذکر نشته ، په شرح الوقایه، مجمع الانهر او شرح التنویر کښې هم نشته دي.

۵ - مبسوط د سرخسی د ظاهر الروایة کتابونو مجموعه ده، په دې کښې هم د منذورې خان له حکم موجود نهٔ دي.

۶- په بذل المجهود کښې صرف د امام کاسانی رحمه الله په ذکر کړې شوی تحقیق باندې اکتفاء کړې شوې ده. (بذل المجهود ص۸۰ ج۵)

د دې نه دا خبره ثابته شوه چې د حضرت سهارنپوری قدس سره په نیز همدا صحیح دی.

۷ - د شرعي داصولو د لاندې همدا صحیح دی، چې د ذبحې په نذر کښې غوښه واجب التصدق ده. په نذر د قربانئ کښې نهٔ ده. البته که په نذر د تضحیې کښې ئې د غوښې د تصدق نیت هم کړې وی نو بیا به تصدق واجب وی

په نذر د ذبح کښې او نذر د تضحیې کښې دا تفریق اصولاً ښکه لازم دي، چې که په نذر د تضحیې کښې ئې د غوښې د تصدق نذر نهٔ وی کړې. نو دا ولې واجب التصدق شوه، وجوب د

تضحيې وجوب د تصدق لره مستلزم نۀ دې.او په نذر د ذبحې كښې فعل د ذبحې عبادت نۀ دې. ددې وجې نه نذر د ذبحې تصدق د لحم لره مستلزم دې.اوكه نه نو د عاقل د فعل ابطال په كښې لازميږي.او دا عقلاً او شرعا په يو شان له هم صحيح نۀ دې .

په نذر د ذبح كښې د نذر دتصدق عرف دې.كه دا عرف په كښې نه وې نو بيا هم د عاقل د فعل د تصحيح دپاره به عقلا او شرعا دې ته نذر د تصدق وئيلې شي .

غرض د خبرې دا چې نذر د ذبحې نذر د تصدق لره مستلزم و نۀ منلې شي نو بيا خو دا نذر صحيح نۀ شو .او كه استلزام ئې ومنلې شي نو صحت د نذر او وجوب د تصدق دواړه د اصولو د شرعې مطابق دى .

د فعل د ذبحې د عبادت نۀ كيدلو باوجود د دۀ د نذر په صحيح كيدلو كښې د اشكال جواب په امداد الفتاوى كښې داسې وركړې شوې دې :

په دې كښې د نص د واربديدلو د وجې نه د دې صحت خلاف القياس دې :

والنص رواه ابوداود رحمه الله عن ثابت بن ضحاك رضي الله عنه قال نذر رجل على عهد رسول الله ﷺ ان ينحر ابلا ببوانة فاتى النبى ﷺ فقال انى نذرت ان انحر ابلا ببوانة فقال النبى ﷺ هل كان فيها وثن من اوثان الجاهلية يعبد قالوا لا قال هل كان فيها عيد من اعيادهم قالوا لا قال رسول الله ﷺ اوف بنذرك فانه لا وفاء لنذر فى معصية الله و لا فيما لا يملك ابن ادم (سنن ابى داود ص۱۱۰ ج۲)

د بنده په تحرير كښې بيان كړې شوې تفريق مذكور د لاندې صحت د نذر د ذبحې خلاف القياس نۀ دې .

۸ - په اضحيه واجبه ابتداءً كښې تصدق د لحم واجب نۀدې. نو په منذوره كښې د قول د وجوب نه د ايجاب العبد په ايجاب الله تعالى باندې ترجيح لازميږي .

۹ - شراء د فقير په حكم دنذر كښې د كيدلو باوجود په دې كښې على الراجح تصدق واجب نۀ دې. ددې نه هم د منذورې د واجب التصدق نۀ كيدلو مرسته كيږي .

په بعضو شروحو او حواشيو كښې د اضحيې منذورې د تصدق وجوب مذكور دې.د هغې په دې باندې د حمل كولو نه خلاصې نشته چې د تضحيې د نذر سره ئې نذر د تصدق هم كړې وى. كما قدمنا عن الامام الجصاص رحمه الله من قوله نذر مسمى للمساكين.

په دې باندې چې محمول نۀ كړې شي نو بيا به په دې صورت كښې په كښې تعارض راشى، نو ترجيح به بيا د مذهب د امامانو رحمهم الله نصوصو ته وركولې شي.كوم چې درايةً هم مؤيد دى.د كومې تفصيل چې په اووم نمبر دليل كښې تير شو .

د حضرت ابن عمر رضی الله عنه ،دحضرت عطاء او دحضرت امام محمد رحمهما الله تعالی اقوال وړاندې وليکلې شو

او بيا د دې اقوالو ناقلين او د دې مطابق فتوې ورکونکی لکه امام جصاص، امام قاضيخان، او امام کاسانی رحمه الله د هغوی ذکر هم تير شو، او ددې حضراتو تقدم د زمان او جلالت د شان تسليم کړې شوې دې

د وجوب تصدق قول د ټولو نه وړاندې په اتمه پيړۍ کښې امام زيلعی صاحب رحمه الله المتوفی ۷۴۳ مجری کړې دې. د هغوی نه پس بعضې نورو شارحينو او محشينو هم دا ليکلي دی. دغه شارحينو او محشينو کښې بعضې د زيلعی رحمه الله اړخ ته نسبت ظاهر کړې دې او بعضو نۀ دې ظاهر کړې. په ظاهره د دوی ماخذ هم هغه دې. کيدې شی چې د دې حضراتو د نذر د ذبحې نه اشتباه شوې وی

والتوفيق اولى من التخطئة.

د جنتی کالی په حاشيه کښې د وجوب د تصدق په دليل کښې ئې د شرح التنوير دا جزئيه نقل کړې ده. ولاياكل الناذر منها (در المحتار ص۲۰۳ ج۵)

د دې نه استدلال ځکه صحيح نۀ دې چې دا د قربانۍ د ورځو د تيريدلو نه پس د ذبحې په حقله دې. لکه څنګه چې د دې د سياق او د سباق نه ظاهره ده، او علامه ابن عابدين رحمه الله هم په دې باندې خبردارې فرمائيلې دې۔ والله سبحانه وتعالى اعلم. ۵ ربيع الاول ۱۴۰۵ هجری

شراء الفقير قبل ايام النحر هم موجب دې

سوال - په شاميه کښې دی. ووقع في التتارخانية التعبير بقوله شراها ايام النحر وظاهره انه لو شراها قبلها لا تجب ولم ار من صرح به فليراجع.

د ايام النحر قيد په اکثرو عبارتونو کښې نشته .ستاسو فتوی څه ده ؟آيا دا قيد معتبر دې؟ د دې مقتضې دا ده چې کوم څناور د ايام نحر نه وړاندې چا فقير اخستې وی، د دې قربانی به په هغه باندې واجب نۀ وی. ددې تبديلی کول روا وی

همدغه شان غنی دپاره به هم ددې ورځو نه وړاندې د اخستلې شوی څناور بدلون مکروهه نۀ وی. اودکم قيمت د بيعې په صورت کښې به ئې دزيات قيمت تصدق به ذمه نۀ وی۔ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په تاتارخانية کښې د ايام نحر نه قبل مضی ايام نحر مراد دې. د قيد احترازی نۀ دې بلکه قيد واقعې دې. د دې نه وړاندې په (لو ترکت التضحية ومضت ايامها) کښې د (ايام النحر) ذکر وو .همدغه سياق کښې دلته هم راغلو.احترازی مقصود نۀ دی. په دې

باندې دا لاندېنۍ قرينې دي.

۱. په بل كتاب كښې ددې ذكر نشته دې

۲. دا جزئيه د ترك التضحية ايام النحر په بيان كښې ده،كه دا قيد احترازي وې نو د شراء الفقير په مستقل بحث كښې به هم ددې ذكر لازما وو كوم چې ددې اصل ځائ دې. حال دا چې هلته د دې هيڅ ذكر نشته دې

۳. د حقيقةً نذر په صحت كښې د ايام نحر قيد نشته دې نو په دلالةً نذر يعنې شراء الفقير كښې د دې تقييد څه معقوله وجه نشته.

۴. د خانيې په لاندېنۍ جزئيه كښې هم د قبل ايام النحر د الفاظو نه همدا ثابتيږي چې د ايام النحر نه وړاندې هم شراء الفقير په منزله د نذر ده.

و اذا اشترى شاة للاضحية ثم باعها و اشترى اخرى فى ايام النحر (الى قوله) وعن محمد رحمه الله فى المنتقى اذا اشترى شاة ليضحى بها واضمر نية التضحية عند الشراء تصير اضحية كما نوى فان سافر قبل ايام النحر باعها و سقطت عنه الاضحية بالمسافرة واما اذا اشترى بغير نية الاضحية ثم نوى الاضحية بعد الشراء لم يذكر هذا فى ظاهر الرواية و روى الحسن عن ابى حنيفة رحمهما الله تعالى انه لا تصير اضحية لو باعها يجوز بيعها و به ناخذ (خانية بهامش الهندية ص۳۰۰ ج۳)

بلكه دا چې په دې كښې دا هم ظاهر دى چې قبلا ايام النحر نه قبل مضى ايام النحر مراد دې.

و كذا فى قوله: اذا اشترى الغنى اضحية فضلت فاشترى اخرى ثم وجد الاولى فى ايام النحر كان له ان يضحى بايهما شاء (ص۳۰۰)

د دې نه دا خبره ثابته شوه چې دا ټول جزئيات د قبل مضى الايام په حقله دى،د قبل النحر نه احتراز مقصود نهٔ دى.

تنبيه: د شراء الفقير بنية الاضحية په موجب تضحيه كيدو كښې اختلاف دې،د وجوب او د عدم وجوب دواړه قولونه په كښې شته،او دواړه ظاهرالرواية دى.والاول احوط و اشهر و اوفق للقاعدة (الاحتياط فى باب العبادات واجب) والثانى اوسع و ايسر و اوفق للقاعدة (ان النذر لا ينعقد حتى يتلفظ بصيغة الالتزام والايجاب) والله سبحانه وتعالى اعلم ۷ ربيع الاول ۱٤۰۵ هجرى

د قربانۍ څرمن د عطيه په سلسل كښې د لګولو د يوې حيلې ابطال

سوال: د قربانۍ د څرمنې په حقله د لاندينو صورتونو څه حكم دې؟

۱. د جمات منتظمين د محلې د خلقو نه په کم قيمت باندې څرمنې واخلي او په ډير قيمت ئې خرڅې کړي او ددې منافع بيا د جمات په مصارفو کښې خرچ کوي،او د محلې خلق ئې هم د جمات دوجې نه په کم قيمت ورکوي.

۲. بعضې خايونو کښې د محلې خلق د جمات متولي له څرمنې مفتې ورکوي او د هغوي نيت داوي چې د دې قيمت په جمات کښې ولګولې شي. بلکه بعضې خايونو کښې په ژبه باندې ددې اظهار هم وکړي.

۳. بعضې خايونو کښې ئې د مدارسو مهتميمنو له مفتې ورکوي او نيت ئې دا وي چې پيسې به ئې د مدرسې په مصارفو کښې خرچ کړي.

۴. او بعضې خلق ئې د مدرسې د پاره چنده اخستلو له د مدرسې دپاره په چنده کښې ورکړي او ورته وائي هم چې دا چنده ده ، نو آيا دا پيسې د جمات او د مدرسې په مصارفو کښې خرچ کول روا دي او که ناروا دي؟بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د قربانۍ څرمن د چا فقير يا د غني په ملک کښې ورکول ضروري دي، برابره خبره ده چې په صورت د بيعه کښې وي که په صورت د هبې کښې وي او که په صورت د صدقې کښې وي، بيا ئې هغه سړې خرڅه کړي نو ددې ثمن په مالک ثاني باندې واجب التصدق نۀ دې، په پوښتلې شوی سوال کښې چې د مدرسې او د جمات د پاره کومه حيله ليکلې شوې ده په هغې کښې داسې تمليک نۀ دې موندلې شوې،لهذا د مدرسې مهتمم يا د جمات متولي چې په خو باندې څرمن خرڅه کړه نو د هغې نه دې هغومره پيسې واخلي چې په څو باندې ئې دا اخستې وي او باقي ثمن پرې واجب التصدق دې،دا دې د صدقاتو واجبو په سلسله کښې شاملې کړې شي، او په قدر د شراء د ثمن وضع کړې شوې پيسې د اصل پيسو تابع دی.

داحيله هم صحيح نۀ ده چې مهتمم د مدرسې ياد جمات متولي دې اول د ځان دپاره واخلي،او بيا ئې خرڅې کړي او ثمن ئې په سلسله د عطيې کښې خرچ کړي،ځکه چې بيع اول فاسده ده او واجب الرد ده،په دې کښې په مدرسه يا په جمات باندې د خرچ کولو شرط منصوص يا معروف دې، والمعروف كالمشروط وفيه نفع للبائع فيكون مفسدا للعقد

متعاقدين سخت ګناهګار دی او په دوی باندې توبه واجبه ده۔ والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۴ ربيع الثاني ۱٤۰۸ هجری

د قربانۍ د څرمنې په تصدق کښې تمليک ضروري دې

سوال: يو مفتي صاحب فتوی ورکړې ده، چې د قربانۍ څرمن د مدرسې او د جمات په تعمير باندې لګول روا دی،ځکه چې دا هم صدقه ده،د دې فتوې په بناء زمونږ د محل اهل ...

۱. د جمات منتظمین د محلې د خلقو نه په کم قیمت باندې څرمنې واخلی او په ډیر قیمت ئې
څرخې کړی او ددې منافع بیا د جمات په مصارفو کښې خرچ کوی. او د محلې خلق ئې هم د جمات
د وجې نه په کم قیمت ورکوی.
۲. بعضې خایونو کښې د محلې خلق د جمات متولی له څرمنې مفتې ورکوی او د هغوی نیت
داوی چې د دې قیمت په جمات کښې ولګولې شی. بلکه بعضې خایونو کښې په ژبه باندې ددې
اظهار هم وکړی.
۳. بعضې خایونو کښې ئې د مدارسو مهتمیمنو له مفتې ورکوی او نیت ئې دا وی چې
پیسې به ئې د مدرسې په مصارفو کښې خرچ کړی.
۴. او بعضې خلق ئې د مدرسې د پاره چنده اخستلو له د مدرسې دپاره په چنده کښې ورکړی
او ورته وائی هم چې دا چنده ده، نو آیا دا پیسې د جمات او د مدرسې په مصارفو کښې خرچ کول
روا دی او که ناروا دی؟بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: د قربانۍ څرمن د چا فقیر یا د غنی په ملک کښې ورکول ضروری
دی، برابره خبره ده چې په صورت د بیعه کښې وی که په صورت د هبې کښې وی او که په صورت
د صدقې کښې وی، بیا ئې هغه سړې څرخه کړی نو ددې ثمن په مالک ثانی باندې واجب التصدق
نه دی، په پوښتلې شوی سوال کښې چې د مدرسې او د جمات د پاره کومه حیله لیکلې شوې ده
په هغې کښې داسې تملیک نه دې موندلې شوې، لهذا د مدرسې مهتمم یا د جمات متولی چې په
خو باندې څرمن څرخه کړه نو د هغې نه دې هغومره پیسې واخلی چې په څو باندې ئې دا اخستې
وی او باقی ثمن پرې واجب التصدق دې، دا دې د صدقاتو واجبو په سلسله کښې شاملې کړې
شی. او په قدر د شراء د ثمن وضع کړې شوې پیسې د اصل پیسو تابع دی.
داحیله هم صحیح نه ده چې مهتمم د مدرسې یاد جمات متولی دې اول د خان دپاره واخلی، او
بیا ئې څرخې کړی او ثمن ئې په سلسله د عطیې کښې خرچ کړی. څکه چې بیع اول فاسده ده او
واجب الرد ده، په دې کښې په مدرسه یا په جمات باندې د خرچ کولو شرط منصوص یا معروف
دې. والمعروف کالمشروط وفیه نفع للبائع فیکون مفسدا للعقد
متعاقدین سخت گناهگار دی او په دوی باندې توبه واجبه ده. والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۴ ربیع الثانی ۱۴۰۸ هجری

د قربانۍ د څرمنې په تصدق کښې تملیک ضروری دې

سوال: یو مفتی صاحب فتوی ورکړې ده، چې د قربانۍ څرمن د مدرسې او د جمات په تعمیر
باندې لګول روا دی. څکه چې دا هم صدقه ده، د دې فتوې په بناء زمونږ د محلې امام صاحب د

خلقو نه د قربانئ څرمنې اخلي او د هغوی قیمت د جمات او د مدرسې په تعمیر باندې خرج کوي.
آیا دا فتوی صحیح ده؟ که صحیح نهٔ وی او کومو خلقو ته معلومه شی چې زمونږ د قربانئ د
څرمنو پیسې د جمات او د مدرسې په تعمیر باندې مصرف کیږی نو آیا هغوی به بری الذمه شی.
بله دا چې د هغوی په قربانئ باندې به څه اثر غورځیږی او که نه؟بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : که د قربانئ څرمن په خپل استعمال کښې راوستل نهٔ غواړی بلکه
صدقه کول ئې غواړی، نو په دې کښې بل مالک جوړول ضروری دی،که چا دا څرمن خرڅه کړه نو
ددې قیمت پرې صدقه کول واجب دی،او په دې کښې هم تملیک د فقیر ضروری دی،او د مدرسې
او د جمات په تعمیر کښې تملیک ونهٔ موندې شو د دې وجې نه ناروا دی۔

کومو خلقو ته چې د څرمنو د قیمت په غیر مصرف کښې د خرج کیدلو علم وی نو د هغوی په
ذمه د قیمت تصدق واجب دې،او قربانئ ئې صحیح ده۔

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ویتصدق بجلدها او یعمل منه نحو غربال وجراب وقربة وسفرة ودلو او یبدله
عا ینتفع به باقیا کما مر لا بمستهلك کخل ولحم ونحوه کدراهم فان بیع اللحم او الجلد به ای بمستهلك او
بدراهم تصدق بثمنه

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: ویتصدق بجلدها و کذا بجلالها و قلائدها فان یستحب اذا وجب بقرة ان
یجللها ویقلدها واذا ذبحها تصدق بذلك کما فی التتارخانیة (ردالمحتار ص۲۰۰ ج۵)

وقال ایضا: فی القنیة اشتری بلحمها ماکولا فاکله لم یجب علیه التصدق بقیمته استحسانا (ردالمحتار
ص۲۰۰ ج۵)، وقال العلامة الحصکفی رحمه الله: الصدقة کالهبة بجامع التبرع و حینئذ لا تصح غیر مقبوضة
(ردالمحتار ص۵۱۳ ج۴)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله فی ابتداء کتاب الهبة: وهی تملیك العین مجانا(ردالمحتار ص۵۰۸ ج۴)

وقال فی باب المصرف تحت (قوله ای مصرف الزکوة والعشر) و هومصرف ایضا لصدقة الفطر والکفارة
والنذر وغیر ذلك من الصدقات الواجبة کما فی القهستانی (ردالمحتار ص۸۵ ج۲)

وقال الامام المرغینانی رحمه الله: ولا یشتری به (ای بالجلد) ما لا ینتفع به الا بعد استهلاکه کالخل والابازیر
اعتبارا بالبیع بالدراهم والمعنی فیه انه تصرف علی قصد التمول۔

و قال العلامة ابو محمد العینی رحمه الله: (والمعنی فیه انه تصرف علی قصد التمول) ای المعنی فی اشتراء مالا
ینتفع به الا بعد استهلاکه انه تصرف علی قصد التمول وهو قد خرج عن جهة التمول فاذا تموله بالبیع وجب
التصدق لان هذا الثمن حصل بفعل مکروه فیکون خبیثا فیجب التصدق (البنایة ص۳۰ ج۱۱)

وقال فی حاشیة الهدایة معزیا الی الکافی: (قوله تصدق بثمنه) لان معنی التمول سقط عن الاضحیة فاذا

مولها بالبيع انتقلت القربة الى بدله فوجب التصدق (هداية ص ۴۰۰ ج ۴)

وقال في الهندية: ويتصدق بجلدها او يعمل منه نحو غربال وجراب ولا بأس بأن يشتري به ما ينتفع بعينه مع بقائه استحسانا وذلك مثل ما ذكرنا ولا يشتري به ما لا ينتفع به الا بعد الاستهلاك نحو اللحم والطعام ولا يبيعه بالدراهم لينفق الدراهم على نفسه وعياله واللحم بمنزلة الجلد في الصحيح حتى لا يبيعه بما لا ينتفع به الا بعد الاستهلاك ولو باعها بالدراهم ليتصدق بها جاز لانه قربة كالتصدق كذا في التبيين (عالمگيرية ص ۳۰۱ ج ۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۴ ربيع الاول ۱۴۱۵ هجری

كه په ورځو د قربانۍ كښې ئې قرباني ونۀ كړه نو وروستو دې بيا د يوم الاداء قيمت صدقه كړي

سوال:- يو سړي د قربانۍ په ورځو كښې قرباني ونۀ كړه نو وروستو چې پرې بيا كوم تصدق د قيمت واجب دې، په هغې كښې بيا كوم قيمت معتبر دې؟ د يوم الوجوب او كه د يوم الاداء؟

د ضمان اضحيه په مضمون كيدلو كښې د مغصوب قيمت مثل لازم دې، لهذا څنګه چې په ضمان الغصب كښې د يوم الغصب اعتبار دې نو دلته به هم يوم الوجوب معتبر وي.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: وتجب القيمة في القيمي يوم غصبه اجماعا (ردالمحتار ص ۱۳۰ ج ۵)

په زكوة د سوائمو كښې د يوم الاداء قيمت معتبر دې، په هغې باندې د قياس تقاضه دا ده چې په اضحيه كښې دې هم د يوم الاداء قيمت معتبر وي.

قال في التنوير: وجاز دفع القيمة في زكوة وعشر وخراج وفطرة ونذر وكفارة غير الاعتاق

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله: وتعتبر القيمة يوم الوجوب وقالا يوم الاداء وفي السوائم يوم الاداء اجماعا وهو الاصح (ردالمحتار ص ۲۲ ج ۲)

په دې دواړو كښې په كوم يو باندې قياس صحيح دې؟ په ضمان د غصب باندې او كه نه د سوائمو په زكوة باندې او كه نه د دې دواړو نه د اضحيې حكم بيل دې؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د زكوة د سوائمو په شان په كښې د يوم الاداء قيمت واجب دې.

اشكال - په زكوة د سوائمو كښې د حيوان نه قيمت ارخ ته حكم نۀ منتقليږي. مالك چې كله هم زكوة ادا كول غواړي نو په هغه وخت هغۀ ته اختيار دې چې د حيوان قيمت وركوي او كه په خپله حيوان وركوي. لهذا په وخت د ادا كښې په دواړو كښې مساوات لازمي دې. په خلاف د اضحيې چې د قربانۍ د ورځو په تيريدلو باندې حكم د نفس حيوان نه قيمت ارخ ته منتقل شي. فصار كهلاك المغصوب بل كالاستهلاك

جواب په مغصوب باندې قياس په هغه وخت كښې صحيح كيدې شو چې د اضحيې څناور معين وې، بيا به د دې د هلاک او د استهلاک د وجې نه قيمت ارخ ته انتقال كيدلو .حالانكه په مسئله زير بحث كښې دا صورت نۀ دې.هيڅ يو حيوان معين نۀ دې.په صدقه كښې ورته اختيار دې چې كوم حيوان صدقه كوي يا د هغۀ حيوان قيمت.لهذا په وخت د اداء كښې لزوم د مساواتو ظاهر دې. البته كه چيرې په ذريعه د نذر معين يا د مشهور قول په بنا د شراء د فقير نه حيوان متعين شو . نو ددې قياس په مغصوب باندې صحيح دې. د همدې حيوان ژوندې تصدق لازم دې. او په صورت د استهلاک كښې د هغې ورځې د قيمت تصدق. والله سبحانه وتعالى اعلم.

١١ ذى الحجه ١٤١١ هجرى

تحقيق د (جعلت هذه الشاة اضحية)

سوال: په شاميه كښې دى چې (جعلت هذه الشاة اضحية) وئيلو سره د اضحيې نذر منعقد شي،په اردو كښې به د دې تعبير څنګه كيږي؟ آيا بعينه د دې الفاظو په ترجمې سره به نذر واجب شي،او كه نه ددې په شان د نورو الفاظو په وئيلو سره به هم پرې نذر واجب شي؟بينوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: د نذر د منعقد كيدلو دپاره د التزام الفاظ وئيل ضروري دى،په هغه زمانه كښې به په عرف عام كښې به كيدې شى دا الفاظ د التزام دپاره استعماليدل ، زمونږ په عرف كښې داسې قسمه الفاظ د التزام د پاره نۀ وئيلې كيږى،د دې وجې نه به نذر نۀ كيږى. والله سبحانه وتعالى اعلم.

٢٧ رجب ١٤١٥ هجرى

عقيقه او قربانۍ په يو څناور كښې جمع كول

سوال:- په يوه غوا كښې يوه حصه د قربانۍ او باقى شپږ حصې د عقيقې اېښودلې كيدې شى او كه نه؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب: د كوم سړى چې د قربانۍ حصه ده هماغه سړې په كښې د عقيقې حصې نه شى نيولې.كه وې نيولې په كښې نو د هغه ټولې حصې به راجمع شى او يوه قربانى به ترې نه جوړه شى عقيقه به نې ونۀ شى .

نور خلق په كښې د عقيقې حصې نيولې شى، هغه هم داسې چې په يوه غوا كښې به د يو سړى له ارخه صرف يوه حصه د عقيقى كيږى

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى (قوله وان كان شريك الستة نصرانيا الخ) و كذا لو اراد بعضهم العقيقة عن ولد قدولد له من قبل لان ذلك جهة التقرب بالشكر على نعمة الولد ذكره محمد رحمه الله (ردالمحتار ص ٣٠٠ ج٥)

والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۰ ذی قعده ۱۳۸۷ هجری

د دې مسئلې تفصیل په رساله «د غوا په قربانۍ کښې د یو سری دوه حصې» کښې شته دې.

د هلک د عقیقې د پاره یوه بکرۍ هم کافی ده

سوال:- بعضې خلق د جینۍ د عقیقې دپاره یو بکرۍ او د هلک د عقیقې د پاره دوه بکرۍ ضروری گنی، آیا دا مسئله همداسې ده؟بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که هلک وی او که جینۍ وی په دواړو صورتونو کښې یوه بکرۍ کافی ده،البته د هلک د پاره د دوو بکرو کیدل ښۀ خبره ده.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: وهي شاة تصلح للاضحية تذبح للذكر والانثى سواء فرق لحمها نيا او طبخه بحموضة او بدونها مع كسر عظمها اولا واتخاذ دعوة اولا وبه قال مالك رحمه الله وسنها الشافعي واحمد رحمهما الله تعالى سنة مؤكدة شاتان عن الغلام وشاة عن الجارية غرر الافكار ملخصا والله تعالى اعلم (ردالمحتار ص۳۳۶ ج۵)والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۰ ذی قعده ۱۳۸۷ هجری

د بالغ کیدلو او د وفات نه پس عقیقه کول

سوال:- د ماشوم د بالغ کیدلو نه پس یا د وفات نه پس عقیقه کول صحیح دی او که نه؟بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د بالغ کیدلو نه پس ئې عقیقه کول صحیح دی،د انتقال نه پس ئې عقیقه کول صحیح نۀ دی،ځکه چې عقیقه د مصیبت او بلاء د رد د پاره وی والله سبحانه وتعالی اعلم.

۵ محرم ۱۳۹۰ هجری

په یوه غوا کښې قربانی، ولیمه او عقیقه جمع کول

سوال:- د لاندینی درې صورتونو څه حکم دې؟

۱- په یوه غوا کښې یو سرې د قربانۍ حصه نیسی او بل په کښې د ولیمې حصه نیسی.

۲- یو سرې په کښې د ولیمې حصه نیسی او بل سرې په کښې د عقیقې حصه نیسی.

۳- یو سرې په کښې د قربانی حصه نیسی بل په کښې د ولیمې او دریم په کښې د عقیقې حصه نیسی.بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: درې واړه صورتونه روا دی

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى (قوله وان كان شريك الستة نصرانيا الخ) و كذا لو اراد بعضهم العقيقة عن ولد قد ولد له من قبل لان ذلك جهة التقرب بالشكر على نعمة الولد ذكره محمد رحمه الله تعالى ولم يذكر

الوليمة وينبغي ان تجوز لانها تقام شكر الله تعالى على نعمة النكاح وورد ت بها السنة فاذا قصد بها الشكر او اقامة السنة فقد اراد القربة.(ردالمحتار ص۲۰۰ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم ۳۰ جمادى الاولى ۱۳۹۹ هجرى

د عقيقې د څناور هډوکې ماتول روا دي

سوال:- په اعلاء السنن ص ۱۱۵ ج ۱۷ کښې ئې د عقيقې هډوکی ماتول خلاف اولی ليکلې دی، او ددې حديث نه ئې استدلال کړې دې، (**ولم يكسر لها عظم فيأكل ويطعم ويتصدق**).حالانکه په کفاية المفتی ص ۲۲۳ ج ۸ کښې ليکلې دی،چې بعضې خلقو د هډوکو ماتول منع ليکلې دی. ليکن د دې ممانعت د پاره څه سند نشته، همدارنګه حضرت مفتی محمد شفيع صاحب نورالله مرقده هم د هډوکو د ماتولو د جواز فتوی ورکړې ده،په ظاهره په دې کښې تعارض راځی، ستاسو به ډيره مهربانی وی چې دا تعارض رفع کړئ او د تسلئ قابل جواب راله راکړئ- بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په جواز او خلاف اولی کښې تعارض نشته.

او په کفاية المفتی کښې ئې د سند د ممانعت نفی کړې ده،يعنی د هډوکو ماتولو نه د منعې او د ناروا وئيلو څه سند نشته، د خلاف اولی نفی ئې نۀ ده کړې.

حاصل د خبرې دا چې په کومو روايتونو کښې ئې دعدم کسر حکم دې هغه وجوبی حکم نۀ دې بلکه استحبابی خبره ده، عوامو دې له د واجبو درجه ورکړې ده،او د هډوکو ماتولو ته ناروا او ممنوع وائی او دا عقيده غلطه ده او قابله داصلاح ده،د دې وجې نه علماؤ د دې ترديد کړې دې،

د احنافو او د مالکيانو په نيزد په عدم کسر کښې څه فضيلت نشته، د هغوی په نيزد به دا حديث غير ثابت يا مؤول وی.

قال ابن عابدين رحمه الله معزيا الى غرر الافكار: وهى شاة تصلح للاضحية تذبح للذكر والانثى سواء فرق لحمها نيا او طبخه بحموضة اوبدونها مع كسر عظمها اولا واتخاذ دعوة اولا وبه قال مالك رحمه الله (ردالمحتار ص۲۳۰ ج۵)

والله سبحانه وتعالى اعلم. ۳ شعبان ۱٤۱٤ هجری

تنبيه

د حضرت امام اعظم رحمه الله تحقيق دا دې چې عقيقه په ابتداء د اسلام کښې وه بيا منسوخه شوه، بعضې حضراتو د امام صاحب رحمه الله د قول د قياس نه لرې لرې تاويلونه کړې دی،د امام صاحب مذهب بې د څه شک او شبې نه همدا دې چې عقيقه منسوخه ده، د دې وجې نه په کتابونو د فقهې کښې د دې د احکامو په حقله ذکر کړې شوی تفصيلات او تقييدات ټول بې معنې دی، وروستو بيا زما د تحقيق مطابق په اعلاء السنن کښې هم يوه ډيره مدلله او مفصله رساله تر لاسه شوه تفصيل به ئې انشاء الله په تتمه کښې راشی.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

﴿وَقَٰتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ ٱلدِّينُ كُلُّهُۥ لِلَّهِ﴾

او د دوی (کافرانو) سره جنګیږه تر دې چې فساد پاتې نه شی او شی ټول حکم د الله

﴿وَمَا تَوْفِيقِىٓ إِلَّا بِٱللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ﴾

تَنميةُ الخير فی التضحية عن الغير

د غیر له اړخه د قربانۍ د کولو د روا او ناروا صورتونو تفصیل

✹✹✹✹✹✹✹✹
✹✹✹✹✹✹

د غیر له اړخه د قربانۍ کولو حکم

سوال:- که د غوا په قربانۍ کښې دیو غائب سړی حصه دهغهٔ د امر نه بغیر شامله کړې شوه نو په داسې صورت کښې به د هغهٔ قربانی او د نورو شریکانو قربانی صحیح شی او که نه؟بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب :

۱- فی الهندية اذا ضحى بشاة نفسه عن غيره بامر ذلك الغير او بغير امره لا تجوز لانه لا يمكن تجويز التضحية عن الغير الا باثبات الملك لذلك الغير فی الشاة ولن يثبت الملك له فی الشاة الا بالقبض ولن يوجد قبض الامر ههنا لا بنفسه ولا بنائبه كذا فی الذخيرة (عالمگيرية ص۳۰۲ ج۵)

۲- وفيها ايضا ولو ضحى ببدنة عن نفسه وعرسه واولاده ليس هذا فی ظاهر الرواية وقال الحسن بن زياد فی كتاب الاضحية ان كان اولاده صغارا جاز عنه وعنهم جميعا فی قول ابی حنيفة وابی يوسف رحمهما الله تعالى وان كانوا كبارا ان فعل بامرهم جاز عن الكل فی قول ابی حنيفة وابی يوسف رحمهما الله تعالى وان فعل بغير امرهم او بغير امر بعضهم لا تجوز عنه ولا عنهم فی قولهم جميعا لان نصيب من لم يامر صار لحما فصار الكل لحما وفی قول الحسن بن زياد رحمه الله اذا ضحى ببدنة عن نفسه وعن خمسة من اولاد الصغار وعن ام ولده بامرها او بغير امرها لا تجوز عنه ولا عنهم قال ابو

القاسم يجوز عن نفسه كذا في فتاوى قاضي خان. (عالمگيرية ص ج٥)

۳ - وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله ولو ضحى ع اولاده الكبار وزوجته لا يجوز لا باذنهم وعن الثاني رحمه الله انه يجوز استحسانا بلا اذنهم بزازية قال في الذخيرة ولعله ذهب الى أن العادة اذا جرت من الاب في كل سنة صار كالاذن منهم فان كان على هذا الوجه استحسنه ابو يوسف رحمه الله فهو مستحسن اهـ (ردالمحتار ص ج٥)

٤ - وقال ايضا (قوله وعن ميت) اى لو ضحى عن ميت وارثه بامره الزمه بالتصدق بها وعدم الاكل منها و ان تبرع بها عنه له الاكل لانه يقع على ملك الذابح والثواب للميت ولذا لو كان على الذابح واحدة سقطت عنه اضحيته كما في الاجناس قال الشرنبلالي لكن في سقوط الاضحية عنه تامل اهـ اقول صرح في فتح القدير في الحج عن الغير بلا امر انه يقع عن الفاعل فيسقط به الفرض عنه وللاخر الثواب فراجعه (ردالمحتار ص ج٥)

د پورته عبارتونو نه لاندېنۍ خبرې ثابتې شوې:

۱ - د غير له اړخه نفلي قرباني بې د هغهٔ د امر نه هم روا ده، للرواية الرابعة

البته که چیرې چا په غوا کښې د خپلې حصې سره د غير له اړخه نفلي قرباني یا د عقیقې حصه وساتله، نو دا سرې خو د دې ټولو حصو په خپله مالک دې، د دې وجې نه به د قول راجح مطابق دا ټولې حصې رابوځائ کړې شي او ددهٔ به ترې نه یوه قرباني صحیح شي.

قال في العلائية ولو ضحى بالكل فالكل فرض كاركان الصلوة (ردالمحتار ص ج٥)

د دهٔ دا قرباني برابره خبره ده که نفلي وي او که واجبه وي چا ته ئې خوښه وي ثواب يې ورته بخښلې شي، لما في ظاهر الرواية الرابعة

۲ - که په واجبه قربانۍ کښې ئې د غير له اړخه خپله بکرئ ذبحه کړه نو دغير قرباني به نهٔ کیږي برابره خبره ده که د غير په امر سره وي او که بې د هغه د امرنه وي، للرواية الاولى

البته که د غير په امر سره ئې بکرئ واخستله او قرباني ئې وکړه نو قرباني به ئې صحيح شي خکه چې مامور په شراء او په قبض کښې د آمر وکيل دې، لهذا د آمر ملک ثابت شو.

۳ - که د غير په امر سره يې د هغه له اړخه په غوا کښې حصه وساتله نو دټولو قرباني وشوله، للرواية الثانية. په دې صورت کښې به د غير ملک ثابت شي، که د غير نه ئې قيمت واخستلو نو دا بيعه شوه او که قيمت يې وانخستلو نو دا هبه شوه، او په هبة المشاع کښې قبض شرط نهٔ دې.

۴ - بې د امر نه ئې په غوا کښې د داسې خلقو له اړخه حصه وساتله چې د هغوی له اړخ نه د قربانۍ کولو معمول وي، نو د ټولو قرباني به وشي، للرواية الثالثة

۵ - بې د امر نه ئې د داسې سړي حصه وساتله چې د هغهٔ له اړخه د قربانۍ کولو معمول وي، نو ددې

سري قرباني ونه شوه، للرواية الثانية والثالثة.
اوس دا بحث پاتې شو چې په دې صورت كښې د نورو شريكانو قرباني به صحيح شي او
كه نه؟ په روايت ثانيه كښې د عدم جواز تصريح ده
روايت رابعه د جواز تقاضا كوي .
دراية ترې نه هم جواز معلوميږي، ځكه چې د دغه بل په نوم كړې شوې د حصې هم ذابح مالک
دې. نو د هغهٔ د قربانۍ د نه صحيح كېدلو څه وجه نشته دې .
په امداد الفتاوی كښې د حضرت مولانا ظفر احمد صاحب رحمه الله د جواز فتوی شته، دوی د
روايت ثانيه مسئلې ته اختلافي وئيلې دی او د ابو القاسم قول د جواز ته ئې ترجيح وركړې ده .
زما په خيال كښې د دوی نه په دې كښې تسامح شوې ده، ځكه چې په روايت ثانيه كښې دوه
مسئلې ذكر شوې دی،د ابو القاسم قول د مسئله ثانيه په حقله دې،او دا زير بحث مسئله اولی ده.
په كومې كښې چې څه اختلاف نشته ، بلكه د فى قولهم جميعا تصريح په كښې موجود ده .
په دواړو روايتونو كښې وجه د فرق دا په پوهه كښې راځي،چې په روايت رابعه كښې د غير له
اړخه د نفل قربانۍ بيان دې،د كومې حقيقت چې دا دې چې قرباني خو د ذابح له اړخه كيږي.صرف
ثواب په كښې غير ته وركول كيږي ، لهذا د غير دپاره نيت كول د خپله اړخه د هغه حصې نفي
كولو لره مستلزم دی .
او په روايت ثانيه كښې د غير له اړخه د واجب قربانۍ نيت كولو سره دې د دغه حصې د خپل
ځان نه نفي كوی.د دې وجې نه به دا حصه صرف غوښه شی،او محض د لحم د پاره ځناور ذبحه
كول يو معروف او يو مستقل مقصود او مفيد امر دې، په خلاف د حج د اركانو چې د هغې په
اداكيدو كښې بې د حج نه بل څه امر مقصود اومفيد نهٔ شی كيدلې.د دې وجې نه حج عن الغير
بغير د امرله صورت نه به بهر حال د فاعل حج كيږي،اگرچې دغيرله اړخه ئې د فرض د اداء نيت وی
فقط والله سبحانه وتعالی اعلم
۱۲ صفر ۱۳۹۵ هجری

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَمَا تَوْفِيقِيٓ إِلَّا بِٱللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ﴾

د غوا په قربانۍ كښې د يو سړي دوه حصې

- د يو ښه ارخ په رومبي خل وضاحت
- تحقيق انيق و تدقيق عميق
- د حديث او فقه په رڼا كښې يو منفرد بحث
- د نقل اوعقل د روايت او درايت فيصله

****
****

د غوا په قربانۍ كښې
د
يو سړي دوه حصې

په دې حديث كښې دا ثابت كړې شوې دی چې په يوه غوا او يو اوښ كښې د يو سړي د يوې حصې نه زياتې نۀ شي كيدې

لهذا :

كه چيرې څوك پوره غوا يا پوره اوښ قرباني كړي نو اووه قربانۍ به ئې نۀ كيږي مجموعه به ئې صرف يوه وي

****
****

په يوه غوا كښې د يو شخص له قربانۍ سره سره د ايصال ثواب يا د عقيقې حصه نيول

سوال:- كه يو سړې په يوه غوا كښې د خپلې واجبې قربانۍ سره سره د ايصال ثواب دپاره نفل حصه ونيسي يا د عقيقې حصه ونيسي، په دې حقله تاسو تحقيق كولو د هغې څه فيصله وشوه كه يو سړې پوره غوا ذبحه كړه نو د هغه يوه قرباني وشوه كه اووۀ قربانۍ ئې وشوې؟بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب که یو سړي پوره غوا ذبحه کړې نو د بعضو په نیزد یوه قرباني واجب او شپږ په کښې نفلي شوې. لیکن د عامو مشایخو قول دا دې چې د پوره غوا صرف یوه قرباني وشوه او په همدې باندې فتوی ده:

قال الامام الحصكفي رحمه الله تعالى: ولو ضحى بالكل فالكل فرض كاركان الصلوٰة

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: الظاهر ان المراد لو ضحى ببدنة يكون الواجب كلها لا سبعها بدليل قوله في الخانية ولو ان رجلا موسرا ضحى ببدنة عن نفسه خاصة كان الكل اضحية واجبة عند عامة العلماء وعليه الفتوى اه مع انه ذكر قبله باسطر لو ضحى الغني بشاتين فالزيادة تطوع عند عامة العلماء فلا ينفي قوله كان الكل اضحية واجبة ولا يحصل تكرار بين المسألتين فافهم ولعل وجه الفرق ان الضحية بشاتين تحصل بفعلين منفصلين واراقة دمين فيقع الواجب احدهما فقط والزائد تطوع بخلاف البدنة فانها بفعل واحد واراقة واحدة فيقع كلها واجبا هذا ما ظهر لي (ردالمحتار ص ۲۰۳ ج ۵)

وراندې په کښې دا بحث پاتې کیږي که یو سړی په یوه غوا کښې د مختلفو قرباتو (ثوابونو) نیت وکړو نو آیا دا به معتبر وي او که نه؟ یعنی د دهٔ د نیت مطابق به ټول قربات ادا شي او که نه په دې صورت کښې به هم صرف یوه قرباني وشي؟

په دې حقله د حدیث یا د فقهې څه صریحه جزئیه ترلاسه نهٔ شوه. د لاندې وجوهو له کبله د ډیرو نیتونو عدم اعتبار معلومیږي:

۱- د علائي او د شامي عبارت مذکوره: د ولو ضحى بالكل فالكل فرض كاركان الصلوٰة الخ عموم

۲- په حدیث او فقه کښې اجزاء عن السبعه ذکر دې. د یو سړي د طرفه دجهاتو د تعدد د اعتبار څه ثبوت نشته دې.

۳- په کتابونو دفقې کښې دمختلفو جهاتو دصحت ذکر د اجزاء عن السبعة د لاندې کړې شوې دې

۴- د شامي په عبارت کښې د وكذا لو اراد بعضهم العقيقة نه که د یو سړي د اضحیې او د عقیقې نیت بیانول مقصود وې نو هغې سره بیا د لفظ (ایضا) اضافه لازمه وه.

۵- په ډیرو کتابونو کښې د جهاتو مختلفو د اشخاصو مختلفو نه د کیدلو تصریح شته دې.

اراد بعضهم الاضحية وبعضهم جزاء الصيد الخ (عالمگيرية ص ۳۰۴ ج ۵) (خانية بهامش العالمگيرية ص ۳۵۰ ج ۳ بدائع ص ۷۲ ج ۵ شلبي على تبيين الحقائق ص ۹ ج ۶ الجوهرة النيرة بهامش مختصر القدوري ص ۲۰۳)

ددې نه داخبره معلومیږي چې تعدد د نیت معتبر نهٔ دې او دا هم د ولو ضحى بالكل ـ الخ په کلیه کښې داخل دې.

۶- د فقهې په ټولو کتابونو کښې د بیان د موقعې باوجود د دې نه سکوت شوې دې

۷- قال الامام قاضيخان رحمه الله تعالى: سبعة اشتروا بقرة للاضحية فنوى احدهم الاضحية عن نفسه لهذه السنة

ونوی اصحابه الاضحية عن السنة الماضية قالوا تجوز الاضحية عن هذا الواحد ونية اصحابه للسنة الماضية باطلة و صاروا متطوعين و وجبت الصدقة عليهم بلحمها و على الواحد ايضا لان نصيبه شائع و لو اشترى بقرة للاضحية و نوى السبع منها لعامه هذا و ستة اسباعه عن السنين الماضية لا تجوز عن الماضية و تجوز عن العام (خانية بهامش الهندية ص۳ ج۳)

په دې جزئيه کښې په صورت د تعدد د اشخاصو کښې په نيت د اضحيې ماضيې سره واقع کيدل د تطوع ذکر دې. ليکن په صورت د توحد د شخص سره واقع کيدل د تطوع ذکر په کښې نشته دې. ددې نه دا خبره ثابته شوه چې د توحد د مالک په صورت کښې تعدد د نيت معتبر نۀ دې. او دا ټوله غوا به اضحيه واجبه شمارلې کيږي.

ورسره دا هم چې د تعدد د اشخاصو په صورت کښې تصدق د غوښې واجب دې، يعنې په اراقة کښې د ماضی د کلونو نيت غير معتبر دې او په لحم کښې معتبر دې. ليکن د شخص واحد په صورت کښې تصدق مذکور نۀ دې.

د دې فرق نۀ ښه وضاحت وشو چې د نيت د تعدد اعتبار نشته ،اوکه نه نو د توحد د شخص په صورت کښې به هم لحم واجب التصدق وي.

يو طالب علم ته د خانيې د يوې جزئيې نه د تعدد د نيت د معتبر کيدلو اشتباه شوې ده،د دې وجې نه دهغې وضاحت کولې شي:

ضحى غني ببدنة عن نفسه وعن ستة من اولاده ليس هذا في ظاهر الرواية وقال الحسن بن زياد رحمه الله في كتاب الاضحية له ان كان اولاده صغارا جاز عنه وعنهم جميعا في قول ابي حنيفة وابي يوسف رحمهما الله تعالى وان كانوا كبارا ان فعل بامرهم جاز عن الكل في قول ابي حنيفة رحمه الله وان فعل بغير امر بعضهم لا يجوز لا عنه ولا عنهم في قولهم جميعا لان نصيب من لم يامر صار لحما فكان الكل لحما. (خانية بهامش الهندية ص۳۰ ج۳)

په دې جزئيه کښې د اولاد صغار له اړخه اضحيه په صورت د تمليک کښې مراده ده.لهذا د تعدد د املاکو له کبله د ټولو قرباني وشوه.په تمليک باندې دا لاندې شواهد دی:

۱ - د تضحيه عن الحي متبادر مفهوم او عام معروفه طريقه هم په صورت د تمليک کښې ده دا نه چې د ايصال ثواب د پاره په ملک د ذابح کښې.

۲- دا جزئيه د صغير له اړخه د وجوب تضحيه په قول باندې مبنی ده.او اضحيه واجبه بې د ملک نه نۀ ادا کيږي

قال الامام قاضيخان رحمه الله: وفي الولد الصغير عن ابي حنيفة رحمه الله روايتان في ظاهر الرواية يستحب ولا يجب بخلاف صدقة الفطر وروى الحسن عن ابي حنيفة رحمه الله انه يجب ان يضحي عن ولده الصغير وولد ولده الذي لا اب له والفتوى على ظاهر الرواية فان كان للصغير مال قال بعض مشايخنا رحمهم الله يجب على الاب او الوصي

فی قول ابی حنیفة رحمه الله ان یضحی من مال الصغیر قیاسا علی صدقة الفطر ولا یتصدق بلحمه بل یاکل الصغیر فان فضل شیء لا یمکن ادخاره یشتری بذلک ما ینتفع بعینه (عالمگیریة بهامش الهندیة ص ج ۲)

۲ - که چیرې دا جزئیه د ایصال ثواب د ملک د ذابح په حقله وي. نو د تضحیه عن الکبار د پاره به ئې د اذن شرط نهٔ لګولو .اشتراط د اذن صرف په صورت د تملیک کښې کیدې شي.لهذا ددې قرین یعنی تضحیه عن الصغار هم په صورت د تملیک کښې مراد دہ.

که علی سبیل النزول دا شواهد د اثبات د تملیک دپاره ناکافی ومنلې شي. نو بیا هم احتمال دتملیک په کښې شته او دا د ابطال د استدلال دپاره کافی دی.

د دې نه علاوه په دې جزئیه کښې دې هم عدم تملیک ومنلې شي. نو ددې نه بې صرف د واجباتو متعددو صحت ثابت شي، په واجباتو کښې په خپلو کښې تزاحم کیدې شي لیکن په نفلو کښې د واجبو د تزاحم صلاحیت نشته دې. فافترقا.

مفتی عبدالستار صاحب د خیرالمدارس ددې جزئیې نه دترک استدلال هم دا وجه بیان کړې دہ.

ما دا بحث په غرض د تحقیق نورو اهل دفتواګانو ته وراندې کړو، په کومو کښې چې مفتی محمود حسن ګنګوهی صاحب دارالعلوم دیوبند. مفتی نظام الدین صاحب دارالعلوم دیوبند. مفتی جمیل احمد صاحب تهانوی جامعه اشرفیه لاهور.او د مفتی عبدالستار صاحب خیر المدارس ملتان جوابونه ما ته راورسیدل. د خلورو وارو لیکونو نه ددې نوره مرسته هم وشوه، چې د نیت دتعدد د اعتبار په حدیث او فقه کښې څه ثبوت نشته ، سره د دې نه دې حضراتو د نیت د تعدد د املاکو د تعدد سره پیوستوالې کړې دې. او مختلف نیتونه ئې افراد اعتباری ګرځولې دی او جواز ئې لیکلې دې . دا خبره دې په ذهن کښې وی چې ددې پیوستوالې او د افراد اعتباری په حدیث او فقه کښې څه ثبوت نشته دې. دا ددې حضراتو خپله رائې دہ .

خاتمة الکلام

د خپلې واجبې قربانۍ سره د عقیقې یا د ایصال ثواب د پاره د نفلی حصې په ساتلو باندې ددې بحث څه خاص اثر نهٔ غورځیږی، ځکه چې عقیقه واجبه نهٔ دہ،وشوه او که ونهٔ شوه څه لازمی خبره نهٔ دہ.او ایصال ثواب د واجبې قربانۍ هم کیدلې شی. لهذا د ایصال ثواب مقصد په هر صورت کښې حاصل دې.البته د اضحیې سره د دم شکر او د دم جنایت په جمع کیدلو باندې دا بحث مؤثر کیدلې شی.

بې د نیت د تعدد نه هم یو مرجوح قول د تعدد دې،بیا د معاصرینو فتوی هم د اعتبار د تعدد دنیت دہ.ددې نه علاوه په دې کښې عامه ابتلاء دہ.او په قول د عدم جواز کښې حرج عظیم دې. لهذا په یوه غوا کښې د یو سری د طرفه اضحیه،دم شکر،او دم جنایت د جمع کیدلو د جواز قول

انسب او اوسع دي.

ددې تحرير نه پس د دارالعلوم ديوبند نه د حضرت مفتى محمود حسن صاحب دويم تحرير راورسيدلو چې په كښې ئې د ملتقى الابحر دا عبارت نقل كړې دي : وان مات احد سبعة وقال ورثته اذبحوها عنكم وعنه صح وكذا لو ذبح بدنة عن اضحية ومتعة وقران.

زما په خيال ددې عبارت نه هم استدلال كول تام نۀ دى،په دې كښې (ذبح) صيغه د مجهول كيدې شى. د مونث لفظى عام كولوسره تذكير روا نۀ دې،د استدلال د ابطال دپاره د احتمال انشاء كافى ده. او دلته خو متبادر همدا دى. خكه چې ددې نه وراندې په تعدد د اشخاصو كښې تصريح ده كومه چې په دې باندې قرينه ده چې په دې مسئله كښې هم تعدد د اشخاصو مراد دې.

دويمه قرينه دا چې په دويم كتاب كښې هم د شخص واحد قرينه نۀ موندې كيږى. لهذا د عامو عباراتو سره د مطابقت مقتضى همدا ده چې دا صيغه د مجهول ده،چنانچه په مجمع الانهر كښې د قول مذكور لاندې فرمائى : مع اختلاف جهات قربهم (ملتقى الابحر مع شرح مجمع الانهر ص۲۲ ج۲)

د قربهم د ضمير د جمعې نه ثابت شوچې د شارح په نيز دا مسئله هم د تعدد اشخاص ده.

د دې نه علاوه بنده رومبى دا ليكلي دى چې متعدد واجبات د تزاحم صلاحيت لرى،په خلاف د تزاحم د نفلو د واجبو سره. لهذا ددې اضحيه واجبه سره د نفلى حصې صحت ثابت نۀ شو،چنانچه حضرت مفتى صاحب دمذكوره جزئيې د نقل كولو نه پس د زيربحث مسئلې په حقله په خپله ليكى:

د دې حكم صراحتاً په كتابونو د فقې كښې ترلاسه نۀ شو.

همدغه شان د حضرت مفتى عبدالستار صاحب قول هم پورته نقل كړې شو.

د تحرير مذكور نه پس ما د حضرت مفتى محمود حسن صاحب په خدمت كښې وليكل چې د ملتقى الابحر په جزئيه : لو ذبح بدنة عن اضحية ومتعة وقران كښې (ذبح) صيغه د مجهول ده،ددې وجې نه ددې نه استدلال تام نه دې،ددې په جواب كښې مفتى صاحب وليكل:

(د ملتقى الابحر جزئيه كه چيرې په صيغه د مجهول وى نو ددې نه به صراحتاً د شخصې واحد له اړخه په تعدد د جهاتو باندې استدلال قوى نۀ وى)

ددې نه پس ددې جزئيې په حقله يوه بله خبره مې په ذهن كښې راغله، چې يو سړې په يو وخت كښې متعه او قران نۀ شى كولې ، د دې وجې نه دا جزئيه لازماً د تعدد د اشخاصو په حقله ده،د دې په شخصِ واحد باندې محمول كولو كښې هيڅ گنجائش نشته دې.

غرض دا چې اوسه پورې د متعددو واجباتو د صحت په حقله هم څه صريحه جزئيه نۀ ده ترلاسه شوې،او تزاحم النفل بالواجب خو ددې نه هم ابعد دې،ددې جواز به څنگه ثابت شى؟ والله تعالىٰ اعلم

۲ ربيع الاخر ۱۴۰۱ هجرى

کتاب الحظر والاباحة

دقرآن کریم او د احادیثو دکتابونو او داسی نورو مقدسو څیزونو احکام

په کوموکاغذونو چی قرآنی آیاتونه لیکل شوی وی له هغوڅخه پړیۍ (پاکټ) جوړول جائزندی

سوال: څه فرمائی ددین علماء په دی مسئله کښی چی په انگریزی اخبارونو کښې دقرآن کریم د آیاتونه لیکل کیږی اودهغو لاندی په انگریزی ژبه دهغو ترجمه لیکل شوې وی آیا له داسې کاغذونو څخه پاکټونه جوړول جائزدی؟ حالانکه داکاغذونه ترپښو لاندې کیږی، په دی اخبارونو کښې د حضور صلی الله علیه وسلم نوم هم لیکل شوې وی آیا د قرآنی آیاتونو د لرې کولوپه صورت کښې د دې کاغذ باقی حصه استعمالول جائزدی اوکه نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: په کومو کاغذونو چی قرآنی آیاتونه یا مباحث شرعیه یا مسائل لیکل شوی وی له هغو څخه پاکټونه جوړول جائز ندی. البته که چیری مباحث شرعیه نه وی نو دالله جل جلاله اوانبیاء علیهم السلام اوکتب سماویه نومونو په لری کولو سره له باقی کاغذ څخه پاکټ جوړول جائز دی بیاهم دپښو لاندی غورځول اوبی عزتی کول د هیڅ کاغذ جائز ندی اگر که خالی کاغذولی هم وی.

قال فی الدر ولا یجوز لف شیء فی کاغذ فقه ونحوه وفی کتب الطب یجوز وفی الشامیه (قوله ونحوه) الذی فی المنح ونحوه فی الهندیه ولا یجوز لف شیء فی کاغذ فیه مکتوب من الفقه وفی الکلام الاولی ان لا یفعل وفی کتب الطب یجوز ولو کان فیه اسم الله تعالی واسم النبی علیه السلام یجوز محوه لیلف فیه شیء ومحو بعض الکتابة بالریق وقد ورد النهی عن محو اسم الله تعالی بالبصاق ولم یبین محو کتابة القران بالریق هل هو کاسم الله تعالی او کغیره (شامیه ص۲۲۶ ج۵) ۸جمادی الاولی سنة ۱۴ھ.

دقرآنکریم زړې شوې پاڼې سوځول جائز ندی

سوال: څه فرمایی علماء کرام په دی مسئله کښې چی دقرآن کریم زړې شوې پاڼې سوځول جائزدی اوکه ناجائز دی؟ بینوا توجروا.

الجواب ومنه الصدق والصواب: دقرآن کریم ناقابل انتفاع اوراق (پاڼې) دې په جاری اوبو کښې واچول شی یا دې په محفوظ مقام کښې دفن (ښخ) کړل شی سوځول یې جائز ندی

قال فی الدر المختار قبیل باب المیاه من کتاب الطهارة المصحف اذا صار بحال لا یقرا فیه یدفن کالمسلم

(وبعد اسطر) تكره اذابة درهم عليه اية الا اذا كسره
وفي الشاميه تحت (قوله يدفن) واما غيره من الكتب فسياتي في الحظر والاباحة انه يمحى عنها اسم الله تعالى الخ (ردالمحتار ص۱۱۹ ج۱)
وايضاً في الدر: الكتب التي لا ينتفع بها يمحى عنها اسم الله وملائكته ورسله ويحرق الباقي ولا بأس بان تلقى في ماء جار كما هي او تدفن وهو احسن كما في الانبياء عليهم السلام.
وفي الشامية: يعني ان الدفن ليس فيه اخلال بالتعظيم لان افضل الناس يدفنون وفي الذخيرة المصحف اذا صار خلقا وتعذر القراءة منه لا يحرق بالنار اليه اشار محمد رحمه الله تعالى وبه نأخذ ويكره دفعه وينبغي ان يلف بخرقة طاهرة ويلحد له لانه لو شق ودفن يحتاج الى اهالة التراب عليه وفي ذلك نوع تحقير الا اذا جعل فوقه سقف وان شاء غسله بالماء ووضعه في موضع طاهر لا تصل اليه يد محدث ولا غبار ولا قذر تعظيما لكلام الله عزوجل (ردالمحتار ص۲۶۱ ج۵)
وفي الهندية: المصحف اذا صار خلقا لا يقرا منه ويخاف ان يضيع يجعل في خرقة طاهرة ويدفن ودفنه اولى من وضعه موضعاً يخاف ان يقع عليه النجاسة اونحو ذلك ويلحد له لانه لو شق ودفن يحتاج الى اهالة التراب عليه وفي ذلك نوع تحقير الا اذا جعل فوقه سقف بحيث لا يصل التراب اليه فهو حسن ايضا كذا في الغرائب المصحف اذا صار خلقا وتعذرت القراءة منه لا يحرق بالنار اشار الشيباني الى هذا في السير الكبير وبه نأخذ كذا في الذخيرة (عالمگيريه ص۳۲۳ ج۵.
دحضرت عثمان رضى الله تعالى عنه دمصحف دسوخولو په باره کښې په شرح سير کبير کښې سيرکبير . ص۲۷۷ ج ۲ کښې راغلی دی چې ((لا يكاد يصح لا اصل لهذا لك الحديث)).
ليکن دا روايت چونکه په صحيح البخاری کښې دې دسند په لحاظ دې ته بې بنياد ويل مشکل دی لهذا حافظ عينی اوعسقلانی اونوروشارحينو ددې مختلف جوابات کړی دی:
۱ – ان تحرق بالخاء المعجمة رواية الاكثرين (الى ان قال) وبالمعجمة اثبت
۲ – وقد جزم عياض بانهم غسلوها بالماء ثم احرقوها مبالغة في اذهابها. (عمدة القاري ص۱۸ ج۲۰ فتح الباري ص۱۸ ج۹)
۳ – وقال الحافظ العيني رحمه الله تعالى: قال الكرماني فان قلت كيف جاز احراق القرآن قلت المحروق هو القرآن المنسوخ او المختلط بغيره من التفسير اوبلغة غير قريش اوالقراءات الشاذة وفائدته ان لا يقع

الاعلاء عليه (عمدة القاري ص۱۸ ج۲۰)

وقال الحافظ العسقلاني رحمه الله تعالى: وفي رواية سويد بن غفلة عن علي رضي الله تعالى عنه قال لا تقولوا لعثمان في احراق المصاحف الاخيرا (الى قوله) قال ابن عطيه الرواية بالحاء المهملة اصح هذا الحكم هو الذي وقع في ذلك الوقت واما الآن فالغسل اولى لما دعت الحاجة الى ازالة. (فتح الباري ص۱۸ ج۹)

علامه عيني رحمه الله د احنافو هغه مذهب نقل كړې دې كوم چې په شامى كښې دې.

قلت وهذا حاصل ما قال ابن عطية وفي البريقة المحمودية شرح الطريقة المحمدية لابي سعيد الخادمي رحمه الله تعالى وفيه (اى في المصاب) ايضا الكتب التي يستغنى عنها وفيها اسم الله تعالى تلقى في الماء الكثير الجاري او تدفن في ارض طيبة ولا تحرق بالنار وفي التتار خانية المصحف الذي خلق وتعذر الانتفاع به لا يحرق بل يلف بخرقة طاهرة يحفر بلحد بلا شق اذ يحتاج سقفا و يدفن او يوضع بمكان طاهر لا يصل اليه الغبار والاقذار وفي السراجية يدفن او يحرق انتهى ملخصا و كذا عن منية المفتي وعن المجتبى الدفن افضل من الالقاء في الماء الجاري كالانبياء عليهم السلام كذا جميع الكتب وفي التتار خانية الافضل ان يغسلها ويأخذ القراطيس وعن الحلمي لا بأس بالاحراق لاحراق عثمان رضي الله عنه مصاحف فيها ايات منسوخة بلا نكير وايضا قيل الاحراق اولى من الغسل لوقوع الغسالة على الارض والقاضي حسين حرم الاحراق لمنافيه الاحترام و كرهه النووي هذا. والقول الراجح هو الدفن او الغسل لا الاحراق لقوة قائلهما ودليلهما ولترجيح الحظر على الاباحة واما ما نقل عن عثمان رضي الله عنه فالظاهر انه ليس بصحيح اذ لو صح ذلك بلا نكير لحل محل الاجماع اليهم سوء ظن بهم وطعن لطلاقتهم على ان الاحراق لازم للاستهانة ومخل بالتعظيم. (بريقه محمودية ص۱۹۹ ج۴)

كه في نفسه د سوځولو جواز هم تسليم كړې شي بيا هم زمونږ په زمانه كښې په سبب د فتنى واقع كيدلو به مينځ د مسلمانانو كښې ناجائز دى، همدارنګه د احترام او بې حرمتئ مدار په عرف باندې دې او په اوسنى عرف كښې سوځول د انتهاى درجې بې حرمتى بلل كيږى والله سبحانه وتعالى اعلم (۲۰ رجب سنه ۷۲)

داحاديثو دزړو اوراقو سوځول

سوال د احاديثو دزړو اوراقو كه چيرې دخښولو وخت پيدا نشى يا په ښاركښې مناسب ځاى ددفن كولو لپاره پيدا نشى آيا سوځول ئې جائز دى كه ناجائز؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب كه له دغو اوراقو څخه دالله جل جلاله او انبياء عليهم السلام يا ملائكو نومونه محوه كړل شى بيايې سوځول جائز دى ليكن بهتر دادى چې هغه په جارى

اوبوکښې واچول شي

قال العلامة الحصکفي رحمه الله تعالى: اکتب التي لاينتفع بها يمحى عنها اسم الله تعالى وملائكته ورسله ويحرق الباقي ولا بأس بان تلقى في ماء جار کما هي اوتدفن وهو احسن کما في الانبياء عليهم السلام. (ردالمحتار ص۲۷۱ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۰ ذي الحجة سنة ۸۸ھ

کوچنيانو ته خلاف ترتيب دقرآن کريم تعليم ورکول

سوال: ماشومانوته د((عم)) سپارې خلاف ترتيب تعليم ورکول لکه څنګه چې عموماً نن سبا دغه کار کيږي جائز دی يا ناجائز ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: هو! جائز دی:

قال العلامة الحصکفي رحمه الله: ويکره الفصل بسورة قصيرة وان يقرا منکوساً الا اذا ختم.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وان يقرا منکوسا) بان يقرا في الثانية سورة اعلى مما قرا في الاولى لان ترتيب السور في القراءة من واجبات التلاوة وانما جوز للصغار تسهيلا لضرورة التعليم .(رد المحتار ص۳۶۷ج۱) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۵ شعبان سنه ۷۴

دالله جل جلاله، له ذکرنه دګوم بل مقصد لپاره وسيله (آله) جوړول جائز ندی

سوال: دلته یوپیرصاحب دې دهغه دمریدوانو دا دستوردې کله چې يې دچا راغوښتل مقصود وي نو په ځای د دروازې ټکولو یاغږ کولو کلمه طیبه ((لااله الاالله)) وايي، دا طریقه ددوی په منځ کښې مشهوره ده، لهذا دننه سرې پوهيږي چې ما دباندی څوک غواړی، آيا دا طريقه شرعاً صحيح ده اوکه نه ؟ بينوا بالدليل آجرکم الجليل.

الجواب ومنه الصدق والصواب: داطريقه صحيح نده ځکه چې دالله جل جلاله ذکر د بل مقصد لپاره استعمالول او له هغې نه آله جوړول جائز ندی، لهذا له دې نه دا خبره هم معلومه شوه چې نن سبا په وعظ کونکو کښې رواج ده چې صرف دخلکو د بيدارولو اوپه هغوی کښې دنشاط پيدا کولو لپاره دوعظ په منځ کښې درود شريف وائی، درود شريف خالص دثواب په نيت مقصود ګرځول ويل پکاردی، د بل څيز لپاره يې آله ګرځول ناجائز دی

قال العلامه الحصکفي رحمه الله تعالى في اخر کتاب الحظر والاباحة ولذا کرهوا والله اعلم ونحوه لاعلام ختم الدرس حين يقرر.

وفي الشامية تحت قوله ونحوه كان يقول وصلى الله على محمد (قوله لاعلام غيره الدرس) اما اذا لم يكن اعلاما بانتهائه لا يكره لانه ذكر وتفويض بخلاف الاول فانه استعمله الة للاعلام ونحوه اذا قال الداخل يا الله مثلا ليعلم الجلاس بمجيئه ليهيؤله محلا ويوقروه واذا قال الحارس لا اله الا الله ونحوه ليعلم باستيقاظه فلم يكن المقصود الذكر اما اذا اجتمع القصدان يعتبر الغالب كما اعتبر في نظائره اھ (ردالمحتار ص۲۷۴ ج۵)

والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۲ ذی الحجه سنه : ۷۵ھ

قرآني آياتونه په وينو سره ليکل

سوال آيا دچرګ په وينه دقرآن کريم آياتونه ليکل اوهغه بيا په غاړه کښې اچول جائز دی اوکه نه ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د قرآن مجيد آياتونه په وينه يا په بل نجاست سره ليکل کفردي ، دبعضي خلکو خيال دی که چيرته دخان خطره وی اويقين يی وی چې دده علاج بغير له دې څخه بل څه نه دي نوليکلي يی شی يعنی ګنجائش يی شته. قياسا علی شرب الخمر للعطشان واکل الميتة في المخمصة ددې قياس بطلان بالکل ښکاره دي لهذا په هيڅ حال کښی ددې دجوازګنجائش نشته .

وقال العلامه ابن عابدين رحمه الله تعالی تحت قوله لکن نقل المصنف الخ) ونص ما في الحاوي القدسي اذا سال الدم من انف انسان ولا ينقطع حتی يخشی عليه وقد علم انه لو کتب فاتحة الکتاب اوالاخلاص بذلك الدم علی جبهته ينقطع فلا يرخص له فيه وقيل يرخص کما رخص في شرب الخمر للعطشان واکل الميتة في المخمصة وهو الفتوی (ردالمحتار ص۱۴۰ ج۱) والله سبحانه وتعالی اعلم ۲ جمادی الاولی سنه ۸۶ ھ

بنګی ((هغه عيسائي چې ګندګی صفا کوی)) ته دزمزم داوبو دورکولو حکم

سوال حاجی که چيرته دخپل کور صفايی کونکی ته دزمزم اوبه يا کجوري ورکړی آيا دا جائز دی اوکه ناجائز؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب بهتره خبره داده چې ورنکړل شی او که بنګی يی خپله وغواړی اويقين يی وی چه دعقيدت دوجی نه يی غواړی او ادب اواحترام يی ملحوظ کوی نو جائز دی

والله سبحانه وتعالی اعلم يوم عرفه سنه ۸۶۰ھ

د قرآني آياتونو ليکل شوي لوحې اوکاغذونه ښکلول او مچو کول

سوال زمونږ دمحلی په مسجد کښې دقرآني آياتونو او دالله جل جلاله او رسول الله صلی الله عليه وسلم دنومونو ليکل شوی لوحې دی. زيد روزانه هغه ښکل کوی او په هغې لاس تيروی

اوبيايي په تول بدن را كاږي آيا د زيد داعمل جائز دى اوكه ناجائز؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : هو ؛ جائز دى مگر التزام اوغلو دې پکښې نکوی همدا راز دقرآن كريم تلاوت اودهغه په احكامو باندى عمل كول دې اهم وگنى.

د قرآن كريم دتلاوت كولو په وخت كښې دې قرآن كريم خلاص كړى او ښكل دې كړى او په هغه باندې دعمل كولو عهد دې وكړى، له حضرت عمر رضى الله عنه څخه دا دعا نقل شوې ده عهدربي ومنشور ربي عزوجل.

له دى څخه په قرآن كريم دعمل كولو همت پيداكيږى چې ددنيا او آخرت دهر مصيبت نه دنجات او خلاصون يواځنئ ذريعه ده ، بعضې خلكو دقرآن كريم تقبيل ته بدعت ويلى دى ليكن هغه قول ضعيف دې .

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وفي القنية في باب ما يتعلق بالمقابر تقبيل المصحف قيل بدعة لكن روي عن عمر رضي الله عنه انه كان يأخذ المصحف ويقبله ويقول عهد ربي ومنشور ربي عزوجل وكان عثمان رضي الله عنه يقبل المصحف ويمسحه على وجهه (ردالمحتار ص٢٣٦ج٥) والله سبحانه وتعالى اعلم

۱۳ محرم سنه ۸۷ هـ

دقرآن كريم هديرې ته وړل اوهلته يې دتلاوت كولو حكم

سوال: قرآن كريم هديرې ته وړل اوهلته يې تلاوت كول جائز دى كه ناجائز ؟ په شرح برزخ كښې يې ليكلى دى چې دقبر خواته قرآن لوستل جائز دى فتوى هم پرهمدى ده بدليل قوله عليه السلام نوروا قبور موتاكم بالقران دا استدلال او فتوى صحيح دى كه غلطه ده ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا روايت زمونږ له نظره ندې تير شوې كه ثابت هم وى خوددې دا معنى نده چې قرآن مجيد دې قبرستان ته يوړې شى او هلته دې تلاوت وكړې شى، بلكه مطلب دادر چې قرآن مجيد تلاوت كړئ اوثواب يې مړوته وبښئ، دقرآن كريم هديرې ته وړل اوهلته يې تلاوت كول له قرون مشهود لها بالخير څخه ثابت ندى والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۰ ذى الحجه سنه ۸۷هـ

د حديث اوفقهې په كتابونو تكيه كول

سوال : دحديث او فقهې له كتابونو څخه كار اخستل يا په هغو باندى ډډه وهل جائز دى كه ناجائز ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دقرآن كريم يا د حديثو اوفقهې دكتابونونه دتكيې كار اخستل؟

مفوته خنګ وهل سخته ګناه ده لیکن که په سفرکښی یی د حفاظت بله طریقه نه وی نو جائز دی.

قال العلامه الحصکفی رحمه الله تعالی: ویکره وضع المصحف تحت راسه الا للحفظ وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله ویکره وضع المصحف الخ) وهل التفسیر والکتب الشرعیة کذلك یحرر القول الظاهر نعم کما یفیده المسالة التالیة ثم رایته فی کراهیة العلامی (قوله الا للحفظ) ای حفظه من سارق ونحوه (رد المحتار ص۱۱۱ج۱) والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۲ صفر سنه ۸۹ هـ

دحضوراکرم صلی الله علیه وسلم له نوم سره د (ص) لیکل

سوال: دحضور اکرم صلی الله علیه وسلم له نوم سره په ځای دمکمل صلوة وسلام صرف (ص) لیکل او دصحابه کرامو له نومونوسره صرف (رض) لیکل څنګه دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دحضور صلی الله علیه وسلم له محترم نوم سره او دصحابه کرامو دقدرمنو نومونو سره پوره صلوة اوسلام او رضی الله عنهم لیکل په کار دی صرف (ص) لیکل خلاف ادب دی، چیرته چی پانی پانی اوپوره کتاب لیکل کیدې شی نود پوره صلوة اوسلام او د ترضی په صیغو به خومره ځای مصرف شی؟ په حقیقت کښی دا د محبت دکمښت دلیل دې همدارنګه د تعالی په ځای صرف (تعـ) او درحمه الله پرځای صرف (رح) دلیکلو دستور هم صحیح نه دی والله سبحانه وتعالی أعلم ۲۳ ذی الحجه سنــ ۹۰هــ

په اخبارونو کښې دلیکل شوی آیت بی اوداسه مسحه کول څنګه دی؟

سوال: داخبار په کومه صفحه کښی چی دقرآن کریم آیت لیکل شوې وی هغه سره بی اودسه لاس لګول څنګه دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په کوم ځای چی قرآنی آیت لیکل شوې، وی صرف هغه ځای سره بی اودسه لاس لګول منع دی او په نورو ځایونو لاس لګول جائز دی، البته که یو وړوکې آیت وی یعنی چی دشپږو حروفونه هم لږوی نو دیوقول مطابق هغه ته دلاس ور وړلو ګنجائش شته.

قال العلامه الحصکفی رحمه الله تعالی: ویحرم به ای بالاکبر وبالاصغر مس مصحف ای مافیه اٰیة کدرهم وجدار.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی تحت (قوله ای مافیه اٰیة) لکن لایحرم فی غیر المصحف الا المکتوب ای موضع الکتابة کذا فی باب الحیض من البحر وقید بالاٰیة لانه لو کتب مادونها لایکره مسه کما فی حیض القهستانی وینبغی ان یجری هنا ماجری فی قراءة مادون اٰیة من الخلاف والتفصیل وینبغی ان یجری هنا ماجری فی قراءة مادون اٰیة من الخلاف والتفصیل المارین هناك بالاولی لان المس یحرم بالحدث ولو اصغر

بخلاف القراءة فلكا محونه تأمل (ردالمحتار صه ۱۱ ج ۱) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۷ رجب سنه ۹۲ هـ

دپښی مبارکې دنقش بشکل کولو حکم

سوال: دحضور صلى الله عليه وسلم دپښی مبارکې نقش په سر کيښودل او مچو کول او دهغې په توسل دعاء غوښتل شرعًا څنګه دی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا ټول کارونه دمحبت اوتبرك په طور سره کول خلاف شريعت ندی اودعقيدی د فساد دانديښنې له وجې څخه نه کول خلاف محبت ندی، والله سبحانه وتعالى اعلم

۲۰ صفر ۹۳هـ

قرآنکريم دمسقف زينی (کومه سميتی زينه چه بره چت ته ختلې وی) لاندی کيښودل

سوال: ديومسجد د زينی لاندی الماری ده ، آيا په هغه الماری کښې دقرآن مجيد کيښودل جائز دی اوکه نه؟ په داسی حال کښی چی په دغه زينه خلك پورته کيږی اوښکته کيږی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا جائز دی. والله سبحانه وتعالى اعلم ۳۰ ربيع الاول سنـ۹۵ـه

په لوړ ځای کښې دايښودل شوی قرآن کريم طرفته پښی غزول

سوال: په الماری کښی په پورتنۍ خانه کښی قرآن کريم ايښودل شوې دې آيا هغه طرفته پښی غزول يا شا کول جائز دی که ناجائز، په فتاوی رشيديه کښې يی جائز ورته ليکلی دی، ليکن دفقه کتابونو کښې چيرته زمونږ له نظره ندی تيرشوی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: جائز دی . قال فى الهندية: مد الرجلين الى جانب المصحف ان لم يكن بحذائه لايكره وكذا لو كان المصحف معلقا فى الوتد وهو قد مد الرجل الى ذلك الجانب لايكره كذا فى الغرائب (عالمگيريه صه ۳۲۲ ج ۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۶ ربيع الثانى سنه ۹۹هـ

په مکان يا دکان وغيره کښې دقرآنی آياتونو زوړندول

سوال: په مکان يا دوکان کښی په ګته يا بل څه دقرآن آياتونه ليکل او زوړندول څنګه دی همدا راز په ديوال يا دروازه «بسم الله الرحمن الرحيم» يا «ماشاء الله» يا «هذا من فضل ربی» ليکل څنګه دی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب په کوم ځای کښی چی تلويزون غږولی شي يا تصويرونه وی هلته آياتونه ليکل او رازوړندول دقرآن کريم بی عزتی ده. له همدې کبله ناجائز دی. که چيری د

خرافات نه وی او تعظیم یی ملحوظ وی او دګرد او غبار نه صفا وی نو جائز دی. په دیوال یا دروازه د آیاتونو لیکل په هر حال مکروه تنزیهی دی.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: بساط اوغیرہ کتب علیه الملك لله یکرہ بسطه واستعماله لاتعلیقه للزینة وینبغی ان لایکرہ کلام الناس مطلقا وقیل یکرہ مجرد الحروف والاول اوسع وتمامه فی البحر وکراهیة القنیة فلمعو وظاهرہ انتفاء الکراهة بمجرد تعظیمه وحفظه علق اولا زین اولا وهل مایکتب علی المراوح وجدر الجوامع کذا یحرر.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله مطلقا) ای سواء استعمل اوعلق (قوله وتمامه فی البحر) حیث قال وقیل یکرہ حتی الحروف المفردة ورای بعض الائمة شبانا یرمون الی هدف کتب فیه ابوجهل لعنه الله فنهاهم عنه ثم مربهم وقد قطعوا الحروف لکن الاول احسن واوسع اهـ قال سیدی عبدالغنی ولعل وجه ذلك ان حروف الهجاء قران انزلت علی هود علیه السلام کما صرح بذلك الامام القسطلانی فی کتابه الاشارات فی علم القرات اهـ

(قوله قلت وظاهرہ الخ) کذا یوجد فی بعض النسخ ای ظاهر قوله لاتعلیقه للزینة (قوله یحرر) القول فی فتح القدیر وتکرہ کتابة القران واسماء الله تعالی علی الدراهم والمحاریب والجدران ومایفرش اهـ والله سبحانه وتعالی اعلم (ردالمحتار ص۲۲۰ ج۱). ۲۹ ربیع الاول سنه ۱۴۰۰ هـ

په اخبارونو او رسمي خطونو کښې قرآنی آیاتونه اوبسم الله لیکل

سوال: په اخبارونو کښې دقرآن مجید د آیاتونه او «بسم الله الرحمن الرحیم» او احادیثو وغیره لیکلو رواج را روان دې پداسې حال کښې چې په اخبارونو کښې تصویرونه او دسینما اشتهارات هم موجود وی بیا دا اخبارونه په ردی شیانو کښې هم خرڅیږی بیا دکانداران خپلو مشتریانو ته پدغو اخبارونو کښې سودا وغیره ورکوی همد راز دا اخبارونو یوڅای ، بل ځای پراته وی او له پښو لاندی کیږی آیا پداسې صورت کښې په اخبارونو کښې آیاتونه او احادیث لیکل جائز دی ؟ همدا راز له څه وخت راهیسې په حکومتی دفترونو کښې په رسمی خطونو کښې مکمل بسم الله الرحمن الرحیم لیکل دستور چلیږی، بیا ددغو کاغذونو هم پورتني انجام وی نو آیا په دغو خطونو کښې بسم الله لیکل جائز دی ؟ او که دپوره بسم الله په ځای صرف بسمه سبحانه وتعالی یا بسمه تعالی یا ۷۸۶ ولیکل شی نو دبسم الله ثواب حاصلیږی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په اخبارونو او اشتهاراتو کښې دقرآن آیاتونه اوبسم الله الرحمن

الرحيم ليکل جائز ندی، په دولتي دفترونو کښې په مکتوبونو باندې جائزخه چې مستحسن دی او گناه یې دبې عزتې کونکې په غاره ده. دبسم الله پرخای نور کلمات یا ۷۸۶ لیکل دقرآن کریم او عمل رسول الله صلی الله علیه وسلم او دامت دمتوارث عمل خلاف دی، دحدیبیه دصلحې په موقع حضور صلی الله علیه وسلم دبسم الله الرحمن الرحیم دلیکلو امر کړې وو، مشرکینو اعتراض کړې وو او ویلی یې وو ((اکتب ما کنت تکتب باسمك اللهم)) له دې څخه ثابته شوه چې اسلام دبسم الله لیکلو لپاره خاصه طریقه ښودلې ده، دهغې په ځای دنورو کلمو په لیکلو سره دبسم الله ثواب نه حاصلیږي او سنت هم نه ور باندې اداء کیږي والله سبحانه وتعالی اعلم ۵ ربیع الاول سنه ۱۴۰۱هـ

په روپۍ باندې قرآنی آیت لیکل

سوال: دپاکستان حکومت په کال ۱۹۷۷میلادی کښې دیوې روپۍ سکه جاری کړه چې په هغې کښې آیت (واعتصموا بحبل الله جمیعاً ولاتفرقوا) او کلمه طیبه لیکل شوی وو آیا په سکه باندې آیت یا بل څه لیکل جائز دی ؟ او په داسې سکه باندې کاروبار کولې شی پداسې حال کښې چې زمونږ کاروبار له غیر مسلم خلکو سره هم وی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په سکه باندې قرآنی آیت لیکل مکروه تنزیهی دی، لیکن کاروبار وربانديې کول بلاکراهیته جائز دی.

قال العلامه ابن عابدین رحمه الله: تحت (قوله یحرر) القول فی فتح القدیر وتکره کتابة القران واسماء الله تعالی علی الدراهم والمحاریب والجدران ومایفرش اهوالله تعالی اعلم (ردالمحتار ص۱۲۰ج۱)

وقال فی الهندیة: لابأس بکتابة اسم الله تعالی علی الدراهم لان قصد صاحبه العلامة لاالتهاون کذا فی جواهر الاخلاطی (عالمگیریه ص۳۲۳ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم ۸جمادی الاولی سنه ۱۴۰۱هـ

بې اودسه دقرآن کریم لیکل

سوال: بغیر له اودس نه په کومه ورقه دقرآن کریم آیت لیکل څنگه دی ؟ که معلمې یا متعلمې ته دحیض په حالت کښې دکوم آیت دلیکلو ضرورت پیښ شی آیا دهغې دلیکلو گنجائش شته او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په کاغذ لاس لگولو سره د آیت دلیکلو گنجائش نشته بغیر دلاس لگولو په جواز دکتابت کښې اختلاف دی په وخت دضرورت کښې یې گنجائش شته

قال الشیخ الاسلام ابوبکر بن علی الحداد رحمه الله تعالی وهل یجوز للجنب کتابة القران قال فی منیة المصلی لایجوز وفی الهندیة یکره للجنب والحائض کتابة القران اذا کان مباشر اللوح والبیاض وان وضعها علی

الارض و کتبه من غیر ان یضع یده علی المکتوب لا باس به (الجوهرة ص۲۰ ج۱)

قال العلامة الحلبی رحمه الله تعالی: وذکر فی الجامع الصغیر المنسوب الی قاضیخان لا باس للجنب ان یکتب القران والصحیفة او اللوح علی الارض او الوسادة عند ابی یوسف رحمه الله تعالی خلافا لمحمد رحمه الله تعالی لانه لیس فیه مس القران ولذا قیل المکروه مس المکتوب لا مواضع البیاض ذکره الامام التمرتاشی رحمه الله تعالی وینبغی ان یفصل فان کان لا یمس الصحیفة بان وضع علیها ما یحول بینها وبین یده یؤخذ بقول ابی یوسف رحمه الله تعالی لانه لم یمس المکتوب ولا الکتاب والا فبقول محمد رحمه الله تعالی لانه ان لم یمس المکتوب فقد مس الکتاب (حلبی کبیر ص۵۸)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: ولا تکتب الحائض القران ولا الکتاب الذی فی بعض سطوره ایة من القران وان لم تقرا فهل ما اذا کان الصحیفة علی الارض فقال ابو اللیث رحمه الله تعالی لا یجوز وقال القدوری رحمه الله تعالی یجوز قال فی الفتح وهو اقیس لانه ماس بالقلم وهو واسطة منفصلة فکان کثوب منفصل الا ان یمسه بیده (رسائل ابن عابدین ص۱۱۳ ج۱)

تنبیه: بعضې علماؤ ته دبعضې روایاتوله ظاهر څخه په صورت دمس کښې هم دجواز کتابت شبه پیداشوې ده.

اول: دابن عابدین درسائل عبارت: ((الا ان یمسه بیده)) کښې د ((یمسه)) ضمیر مذکر دې اوصحیفه مؤنث ده، لهذا ددې مرجع مکتوب کېدلی شي چه دکلام دسیاق څخه معلومېږي.

دویم: په الجوهره کښې دمکتوب تصریح موجوده ده.

دریم: که چیرته د کومې ورقې په یوې حصې باندې آیت لیکل شوې وي د آیت نه ماسوا دنورې حصې مسه په اتفاق جائزه ده نو په وخت دکتابت کښې مس ورق ولې ندی جائز؟ ما به الفرق څه دی

جواب (۱): د ((یمسه)) دضمیر مرجع صحیفه ده خو په تاویل دبیاض سره، دکلام دمفهوم تاویل بلادلیله او بلاضرورت دې، همدارنګه که مرجع مکتوب ((آیت مکتوبه)) شي نو دوضع علی الارض قید لګول څه ظاهری فائده نه ورکوی.

(۲): دالجوهره په عبارت کښې (مکتوب) په معنا دکتاب یا صحیفه سره دې اوکه نه نو دصدر دکلام ((مباشر اللوح والبیاض)) سره به ددې تعارض راشی، همدارنګه د ((ان وضعهما علی الارض)) قید لګولو به کومه فائده نه ظاهرېږي. ځکه که چیرته آیت مکتوبه مراد شي نوبیا د وضع علی الارض او حمل فی الید ترمینځ هیڅ فرق نشته.

(۳) دریمه وجه دفرق دا معلومېږي چې قلم ذریعه دکتابت ده، لهذا دهغه قیاس په باریك شي

باندې تام قیاس نذې د ذکرشوی فرق دوجی نه قلم من وجه واسطه ده او من وجه واسطه نده،
دکتابت دوه صورتونه دي : یو په کاغذ لاس کیښودل . دویم : په کاغذ باندی دلاس کیښودلونه
بغیرپه میز وغیره باندی کیښودل. په اولنی صورت کښی دمتعارف کیدو دوجی نه دقلم دواسطی
غیر معتبرو لوسره دعدم جواز قول شوې دې. اوپه دوم صورت کښی دغیر متعارف کیدوله وجی
نه دقلم دواسطی پہ معتبرولو دجواز قول اختیار شوې دې ، والله سبحانه وتعالی اعلم .

محرم سنه ۱۴\ ۱۴۱۸ هـ

★★★★★★

دپردې وغیره متعلقه مسائل

د ښځو معانقه کول

سوال : دښځوپه خپل منځ کښی معانقه کول سنت دی اوکه نه ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دمعانقې مروجې طریقه دسړو لپاره هم جائزه نده، ددی تفصیل دمصافحې اومعانقې په رساله کښې دې ، والله سبحانه وتعالی اعلم. ۴ذی القعده سنه ۱۳۸۶هـ

دښځوله بازار ځخه دسودا راوړل

سوال : دښځودسامان اخستلو لپاره بازار ته تلل جائز دی اوکه ناجائز ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دښځو لپاره په اندازه دضرورت له کوره دباندې وتل جائز دی، په اوسنۍ زمانه کښې خلکو خپلو خواهشات نفسانیه اوهوس ته دضرورت نوم ورکړې دې. نو دښځی په متعلقینو سړو دافرض دی چی بلاضروته ښځه له بهر وتلو ځخه منع کړی اوکه نه نو هغوئ به هم سخت ګنهګاروی. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۲محرم ۱۳۸۷ هـ

دتنګ لباس اغوستل جائزندی

سوال : سړی یا ښځی ته دتنګوجامو اغوستل جائزدی اوکه ناجائز؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : په کوم لباس کښې چې دواجب الستر اندامونو حجم او جوړښت ښکاریږی اوپه نظر راځی. دغه قسم لباس سړو اوښځو ټولوته حرام دې، او هغه طرفته کتل هم حرام دی او د تنګ لباس په اغوستلوکښې یوقباحت بل هم دې، هغه دا چی پدې کښی دکفاروسره مشابهت دې، لهذا ددې وجی نه جائز ندې

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى تحت (قوله ولا يضر التصاقه) وعبارة شرح المنية اما لوكان غليظا

لایری معه لون البشرة الا انه التصق بالعضو وتشکل بشکله فصار شکل العضو مرئیا فینبغی ان لایمنع جواز الصلوة لحصول الستر اهـ قال ط وانظر هل یحرم النظر الی ذلك المتشکل مطلقا او حیث وجدت الشهوة اهـ قلت سنتکلم علی ذلك فی کتاب الحظر والاباحة والذی یظهر من کلامهم هناك هو الاول (رد المحتار ص۲۷۵ ج۱)

وقال فی الحظر بعد نقل کلام الفقهاء رحمهم الله تعالی: وعلی هذا لایحل النظر الی عورة غیره فوق ثوب ملتزق بها یصف حجمها (رد المحتار ص۲۳۳ ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۲ محرم سنه ۸۷هـ

له محرم لرونکې ښځې سره سفرکول جائز ندي

سوال یوه دینداره ښځه له خپل محرم سره حج ته روانه ده، نورې ښځې غواړي چې له دغې ښځې سره حج ته لاړې شي آیا که له یوې دینداره او با اعتماده ښځې سره خپل محرم سرې موجود وی نوله دغې ښځې سره دنورو ښځو چې ددې ښځې له محرم سره نامحرمې وی سفر کول جائز دی اوکه نه ؟ بعضې حضرات دمعتدې او دهغې دخاوند ترمنځ د یوې ثقه ښځې دحائل جوړیدلو په جواز دسفر دجواز استدلال کوی آیا ددوئ دا استدلال صحیح دې؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب جائز ندی که څه هم داښځه ډیره زړه وی بیا یی هم دنامحرم سره سفر کول حرام دی، په حدیث کښې په دی باندی سخت وعید راغلې بلکه څوفهره چې ښځې زیاتې وی هغومره دفتنی اندیښنه زیاته وی، د ثقې ښځې له حائل کیدلو څخه د جواز استدلال صحیح ندې. ځکه چې هغه دحضر (په کور کښې د اوسیدلو) مسئله ده په خپل کور کښې ښځه خاوند اوحائل جوړیدونکې ښځه دخپل خاندان نه له حیاء او دبدنامی له خطره مانع دمعصیت وی همدارنګه که چیرته سرې دبدنامئ اراده وکړی نو حائل جوړیدونکې ښځه فریاد کوی اونور خلك راخبروی لیکن په سفر کښې هغه لاچاره اومجبوره وی اوپه خپله دفاع قادره نه وی

قال العلامه ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله ولو عجوزا) ای لاطلاق النصوص بحر قال الشاعر:

لکل ساقطة فی الحی لاقطة وکل کاسدة یوما لها سوق

(قوله فی سفر) هو ثلاثة ایام ولیالیها فیباح لها الخروج الی مادونه لحاجة بغیر محرم بحر.

وروی عن ابی حنیفة وابی یوسف رحمهما الله تعالی کراهة خروجها وحدها مسیرة یوم واحد وینبغی ان یکون الفتوی علیه لفساد الزمان شرح اللباب ویؤید حدیث الصحیحین لایحل لامراة تؤمن بالله والیوم الاخر ان تسافر مسیرة یوم ولیلة الا مع ذی محرم علیها وفی لفظ لمسلم مسیرة لیلة وفی لفظ یوم (رد المحتار ص۱۳۶ ج۲).

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: (وحسن ان یجعل القاضی بینهما امرأة ثقة ترزق من بیت المال بحر عن

تلخيص الجامع (قادرة على الحيلولة بينهما)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله امرأة ثقة) لايقال المرأة على اصلكم لاتصلح للحيلولة حتى لم تجيزوا المرأة السفر مع نساء ثقاة ولو لعم بانضمام غيرها تزداد الفتنة لانا نقول تصلح للحيلولة في البلد لمقام الاستحياء من العشيرة وامكان الاستغاثة بخلاف المفاوز زيلعي وافادان معنى القدرة عليهما امكان الاستغاثة (ردالمحتار ص۲۱ ج۲) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۶ صفر سنه ۸۷ هـ

له نابالغ محرم سره سفر کول

سوال: د ښځي لپاره بغير له محرم څخه سفر کول جائز ندي، که له نابالغ محرم سره سفر وکړي آيا دا جائز دي او که د محرم بالغ کيدل ضروري دي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: له دولس کالو چې کم عمر ولري له هغه هلك سره بالاتفاق سفر جائز ندي، اوپه دولس کلن هلك کښې اختلاف دې، لهذا که چيرته دولس کلن هلك هوښيار وي په عقلي او جسماني لحاظ سره لکه د بالغ داسې معلوميږي نو هغه سره د سفر کولو گنجائش شته.

وقال العلامة التمرتاشي رحمه الله تعالى في الحج: مع امن الطريق وزوج او محرم بالغ عاقل والمراهق كبالغ جوهرة (ردالمحتار ص۱۴۲ ج۲)

وقال العلامة الرافعي رحمه الله تعالى: (قول المصنف والمراهق كبالغ) جعل الرحمتي كصبي لانه يحتاج الى من يدفع عنه ولذا كان للاب معه عن جهة الاسلام يصلح لحمايتها وفي المحيطين والبدائع الذي لم يحتلم لاعبرة له لكن ما في الجوهرة لما في الخلاصة والبزازية اسندي (التحرير المختار ص۱۸۷ ج۱)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وادنى مدته (اى البلوغ) له اثنا عشرة سنة ولها تسع سنين هو المختار كما في احكام الصغار فان راهقا بان بلغ هذا السن فقالا بلغنا صدقا كان لم يكذبهما الظاهر وهما حينئذ كبالغ حكما الخ (ردالمحتار ص۱۰۷ ج۵) والله سبحانه وتعالى أعلم. ۲۵ ذی القعده سنه ۹۸ هـ

اجنبي ښځې ته بنگړي وريه لاس کول

سوال: د بنگړو په لاس کول په خپله ډير مشکل وي که تجربه کاره ښځه نه وي چې بنگړي وريه لاس کړي آيا بنگړي خرخونکي سړي کومې ښځې ته بنگړي وريه لاس کولی شي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: پردي سړي ته لاس ورکول يا د کوم اندام د مس کولو قدرت ورکول د ښځې لپاره بلاضرورته شديد حرام دي او بنگړي په لاس کول په ضرورت کښې داخل ندي. والله سبحانه وتعالى اعلم ۶ جمادی الاولی ۱۳۸۹

دښځی رایه ورکول او په انتخاباتو کښې شرکت

سوال ښځې درائی ورکولو لپاره تلل او د پارلمان په انتخاباتو کښې برخه اخستل جائز دی که ناجایز ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دښځولپاره رایه ورکول او په انتخاباتو کښې برخه اخستل جائز ندی، دښځو لپاره کومی عهدی اوظیفه ته وراندې کیدل گناه ده .

البته کله چی انتخابات په اسلامی اوغیر اسلامی نظریی بناوی یا یو کاندید صالح او په مقابل کښې یی فاسق وی او دښځو د رائی په نه استعمالولو کښې ددین لپاره خطر وی نو بیایی استعمالول ضروری دی .

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: المرأة تقضي في غير حد وقود وان اثم المولى لها الخبر البخاري لن يفلح قوم ولوا امرهم امرأة (رد المحتار ص۴۵۶ج۴) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۰ ذی الحجه سنه ۹۰ هـ

له زنا څخه حاملې شوې ښځی سره صحبت جائز دي

سوال : دبکر دښځی له زنا څخه حمل دې آیا پداسې حالت کښې بکر ته له هغی سره کوروالي جائز دي ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : هو ! جائز دې او دا اولاد به دبکر بلل کیږی او ولد الزنا ورته ویل جائز ندی .

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله : (قوله وله وطؤها بلا استبراء) ای عندهما وقال محمد رحمه الله تعالى لا احب له ان يطأها مالم يستبرئها هداية (وبعد سطر) بل لو ظهر حمل يكون من الزوج لان الفراش له فلا يقال انه يكون ساقيا زرع غيره لكن هذا مالم تلده لاقل من ستة اشهر من وقت العقد (رد المحتار ص ۴۹۲ والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۹ ربیع الاول سنه ۹۱ هـ

دښځو لپاره دمکتب او کالج تعلیم جائز ندی

سوال : ښځوته د مکتب او کالج او پوهنتون دنیوی تعلیم ورکول جائز دی او که نه؟ پداسې حال کښی چی عموماً په کالجونو او پوهنتونونو کښې هلکان او نجونې گډ وډ وی او دپردې هم څه انتظام نه وی او که چیرته په کوم ځای کښې دهلکانو او نجونو بیل بیل انتظام وی او دهغوی ترمنځ اختلاط نه وی بیا یی گنجائش شته او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : ښځی ته په موجوده کالجونو او پوهنتونو نو کښې په تعلیم ورکولو کښې ډیر مفاسد دی اگر که د هلکانو او نجونو ترمنځ اختلاط هم نه وی

اول د ښځی لپاره بغیر له ضرورت نه دباندی وتل او د پردو سرو دمائل کیدلو سبب جوړیدل

دویم : بی کاره او خراب ماحول ته تلل.
دریم : دمختلف مزاج قسم ښځو سره دمسلسل اختلاط کولو په وجه ډیری خرابی پیدا کیدل
څلورم : دکالج اوپوهنتون په غیر شرعی محفلونو کښې شریك کیدل.
پنځم : له بی دینه ښځونه په تعلیم حاصلولو کښې دایمان او اخلاقو تباهی.
شپږم : دبی دینه ښځوپه مخ کښې بی حجابه راتلل ، شریعت له فاسقی ښځی نه هم دپردې حکم کړی دی.
اووم : بلاحجابه دسړونه دتعلیم حاصلولو ګناه.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: ولاینبغی للمرأة الصالحة ان تنظر الیها المرأة الفاجرة لانها تصفها عند الرجال فلا تضع جلبابها ولاخمارها کما فی السراج اهـ(ردالمحتار ص۲۳۸ ج۵)

اتم : دکافرو اوبی دینو قومونو دعادت او رواج دنقل کولو شوق.
نهم : ددې تعلیم په وجه دمال او جاه محبت زیاتیدل اودهغې له وجی نه ددنیا اوآخرت تباهی.
لسم : دخاوند دخدمت او د اولاد دتربیت نه او د کور د نګرانئ او صفایی وغیره فطری اوبنیادی ذمه واریو نه غفلت کول.
یولسم : په دفترونو کښې وظیفه غوره کول چی ددین اودنیا دواړو دتباهی باعث دی.
دولسم : په سړیو باندی دمعاش ذرائع تنګول.
دیارلسم : په خاوند باندې حاکمه ګرځیدل.

په مخلوط تعلیم کښې دپورته ذکر شویو مفاسدونه علاوه دهلکانو او نجونو ترمنځ داختلاط اوبی تکلفئ له وجی دوستی او عشق بازی ، بدکاری او اغواء، په شان مفاسد پیدا کیږی، لهذا داوسنئ زمانی په تعلیمی اداروکښې ښځوته تعلیم ورکول جائز ندی. والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۶ جمادی الاخره سنه ۱۴۹۲هـ

ښځی ته د ډاکټری (طب) دتعلیم د ورکولو حکم

سوال : آیا نجونو ته طبی تعلیم ورکول جائز دی ؟ پداسی حال کښې چی په میډیکل کالجونو (دطب پوهنځیو) کښې په مخلوطه طریقه تعلیم رائج ده، کچیرته په کوم ځای کښې شاذ او نادر دتعلیم علیحده انتظام هم وی لیکن استاذان بیاهم نارینه وی همدارنګه دطب دتعلیم په دوران کښې دمړیو ځیرل دستجربی لپاره هم کیږی او که چیرته دطب تعلیم دښځو لپاره ناجائز وی نو په اسلامی معاشره کښې به د ښځو دعلاج څه صورت وی خصوصاً کله چی دښځو دداسې ځای دعلاج او معالجی اومعاینې ضرورت پیښ شی چه هغه له نارینه ډاکټر څخه نشی کولی دمثال په طور دماشوم پیدا کیدل او نورې ښځینه ناروغئ. د نرس په شان معمولی تعلیم هم په مخلوطه

طریقه سره کیږي. نو په داسې حال کښې څه طریقه اختیارول پکار دي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: د ښځې لپاره په اوسنی عصر کښې په میډیکل کالجونو کښې تعلیم حاصلول جائز ندي برابره خبره ده که دتعلیم طریقه مخلوطه وي او که غیر مخلوطه. ځکه په دواړو صورتونو کښې ښوونکي نارینه وي دښځو لپاره دطبي تعلیم صحیح صورت دادې چې دسرېو څخه بیل یې انتظام وشي اوښوونکي ي هم ښځینه وي

همدارنګه دمړو ځیرل هم حرام دي، دمشق کولو لپاره دانساني جسمونه پرځای دحیواناتو د جسمونه څخه کاراخستل پکار دي.

په اسلامي ملکونو کښې دمسلمانو ښځینه ډاکټرانو شمیر دومره زیات دې چې دنجونو دعلیحده طبي کالجونو او شفاخانو انتظام په آسانۍ سره کیدې شي. والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۱صفر سنه ۱۴۰۰ھ

ښځې ته لیک اوخط ورزده کول

سوال: آیا دښځې لپاره خط اوکتابت زده کول او نور نجونو ته ښودل جائز دي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: دضرورت موافق لیکل اوښودل یې جائز دي. البته که دعلاماتو او قرائنو څخه د کومې ښځې دطبیعت نه شرخرګندیږي او دفتنې اندیښنه وي نو جائز ندي.

اخرج الامام البخاری رحمه الله تعالی عن عائشة بنت طلحة قالت قلت لعائشة رضی الله تعالی عنها وانا فی حجرها وکان الناس یأتونها من کل مصر فکان الشیوخ ینتابون لمکانی منها وکان الشباب یتاخونی فیهدون الی ویکتبون الی من الامصار فاقول لعائشة رضی الله عنها یا خالة هذا کتاب فلان وهدیته فتقول لی عائشة رضی الله عنها ای بنیة فاجیبی واثیبی فان لم یکن عندک ثواب اعطیتک فقالت تعطینی (الادب المفرد ص۳۰ ج۲)

واخرج الامام ابوداود رحمه الله تعالی عن الشفاء بنت عبدالله رضی الله تعالی عنهما قالت دخل علی النبی صلی الله علیه وسلم وانا عند حفصة رضی الله عنها فقال لی الا تعلمین هذه رقیة النملة کما علمتیها الکتابة.

قال الملا علی القاری رحمه الله تعالی فی شرح هذا الحدیث: قال الخطابی فیه دلیل علی ان تعلم النساء الکتابة غیر مکروه وقلت یحتمل ان یکون جائزا للسلف دون الخلف لفساد النسوان فی هذا الزمان ثم رأیت قال بعضهم خصت به حفصة رضی الله عنها لان نساءه صلی الله علیه وسلم خصصن باشیاء قال تعالی یا نساء النبی لستن کاحد من النساء وخبر لا تعلمن الکتابة یحمل علی عامة النساء خوف الافتتان علیهن (المرقاة ص۳۶۲ ج۸)

وقال العلامة السهارنفوری رحمه الله تعالی: فیه دلیل علی جواز تعلم النساء الکتابة واما حدیث لا تعلموهن الکتابة فمحمول علی من یخشی فی تعلیمها الفساد (بذل المجهود ص۵ ج۶) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۵ جمادی الاولی سنه ۱۴۰۰هـ

له هیجړا (مخنث) ښځه پرده کول

سوال : په حدیث کښې دهیجړا ګانو ښځه دپردې کولو حکم شته، عرض دادې چې هغوی دجماع کولو قابل ندی نو له هغوی ښځه دپردې کولو حکم ولی ورکړل شوې دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دپردې سبب دجماع کولو قدرت ندې په حدیث شریف کښې دی چه د استلذاذ په غرض کتل یاخبرې آوریدل یامس بالید کول دستر ګو او غوږونو او لاس زنا ده او دا صفت په هیجړا ګانو کښې هم موجود دې او ډیر هیجړاګان داسې هم وی چې په هغوئ کښې قدرت دجماع موجود وی. والله سبحانه وتعالی اعلم غره جمادی الثانیه سنه ۹۳هـ

له خسر ښځه دپردې کولو حکم

سوال : له خسر ښځه پرده کول فرض دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : نه ! البته که چیرته دفتنې خطروی نو احتیاط ضروری دې پداسې حال کښې له خسر سره خلوت او سفر جائز ندې، په بعضې علاقو کښې خسر ته دلاس ورکولو رواج دې چې دا بالکل غلط رواج دې او واجب الاصلاح دې که چیرته په شهوت سره دکوم یوه کومه عضو دبل له کوم اندام سره بغیر له حائل نه ولګی نو ښځه په خپل خاوند باندې دهمیش لپاره حرامه ګرځی، لهذا ډیر احتیاط ضروری دې.

قال العلامه ابن عابدین رحمه الله تعالی تحت قوله (والصهرة الشابة) والمسالة مفروضة هنا فی امها والعلة تفيدان الحكم كذلك فی بنتها ونحوهم كما لا يخفی (ردالمحتار ص۲۳۶ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۷ ربیع الاول سنه ۸۸هـ

له زوم ښځه دپردې کولو حکم

سوال : له زوم ښځه پرده کول دخواښې لپاره څنګه دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : په خواښې باندې له زوم ښځه پرده کول فرض نه دی، البته دفتنې دخوف له وجی نه احتیاط ضروری دې، خلوت اوسفر کول ورسره جائز ندی په بعضې علاقو کښې له خواښې سره مصافحه کول رواج دې چې انتهایی خطرناك عمل دې، پداسې حال کښې که چیرته کوم یوه ته شهوت راغې نو په زوم باندې دهغه ښځه دهمیش لپاره حرامیږی.

قال العلامه الحصكفی رحمه الله تعالی : والخلوة بالمحرم مباحة الا الاخت رضاعا والصهرة الشابة (رد المحتار ص۲۳۶ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۳ذی القعده سنه ۹۲هـ

د پردې دفرض کېدلو عمر

سوال په نجلۍ باندې په څومره عمرکښې پرده فرض کیږی ؟ او هلك چی دڅومره عمرشی نو ښځوته له ورتګ څخه دی منع کړې شی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب دحجاب له احکامو څخه مقصد سری اوښځی دبدنظر او بدو خیالاتو څخه محفوظ کول دی نو دماشومانو چی په کوم عمر کښې دګناه دمبتلا کیدلو احتمال وی، نو هغوی له هماغه عمر څخه مکلف په حجاب باندی ګرځی اود پردې په سلسله کښې دداسې ماشومانو لپاره هغه حکم دې کوم چی دبالغو سړیو او ښځو لپاره وی لکه څرنګه چی په دې باره کښې دالله تعالی ارشاد دې چې ((اوالطفل الذین لم یظهروا علی عورات النساء)) یعنی کله چی په ماشوم کښې شهوت پیدا شی نو له هغه څخه پرده کول فرض دی.

قال الامام الخازن رحمه الله تعالی: لم یبلغوا احد الشهوة والقدرة علی الجماع (روح المعانی ص۱۴۱ ج۵)

وقال العلامه الالوسی رحمه الله تعالی: الذین لم یبلغوا احد الشهوة والقدرة علی الجماع روح المعانی ص۱۴۱ ج۵)

دشهوت درجې ته درسیدلو سره قدرت علی الجماع هم موجودوی لکه څنګه چی داظاهره ده دعلامه آلوسی دکلام څخه. ومصرح لما سیجیئ من نصوص الفقهاء رحمهم الله تعالی.

بالفرض که ددواړو په عمر کښې څه معمولی فرق وی نو دحجاب دحکم مدار په شهوت باندی دې په قدرت علی الجماع باندی ندې، داحقیقت عقلاً اونقلاً له هر لحاظ څخه له بدهیاتو او مسلماتو نه دې چی دهغه دوه وجې دی:

اول د زړه له شهوت نه دنظر او فکر مستقله ګناه کبیره ده بلکه که دبلاشهوت نظر یا تفکر نه دشهوت پیدا کیدو احتمال وی هغه هم حرام دی.

دویم دمشتهی هلك نظر د آینده راتلونکې لپاره دزنا او نورو بدکاریو دمبتلاکیدلو ذریعه ده وذریعة الحرام حرام.

حضور صلی الله علیه وسلم لس کاله عمر حد دشهوت مقرر کړې دې.

عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم مروا اولادکم بالصلوة وهم ابناء سبع سنین واضربوهم علیها وهم ابناء عشر سنین وفرقوا بینهم فی المضاجع رواه ابوداود (مشکوة ص۵۸ ج۱)

په لس کاله کښی یی دتفریق بین المضاجع حکم کړې دې ددې حکم علت احتمال دشهوت دې او په دغه عمر کښې یی په لمونځ نه کولو دضرب حکم ورکړې چی دا د لیل ددی خبرې دې چی ددې عمر لړونکی ماشومان په حکم دبالغینو کښې دی.

قال العلامه علی القاری رحمه الله تعالی: لانهم بلغوا اوقاربوا البلوغ (مرقاة ص۱۱۵ ج۲) وقال الطیبی رحمه الله تعالی لان بلوغ العشر مظنة الشهوة (مرقاة ص۱۱۶ ج۲)

دحدیث مذکور مطابق فقهاء کرامو رحمهم الله هم لس کاله عمر لرونکې هلك مراهق اومشتهی گرځولی دې.

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: ولو مراهقا یجامع مثله وقدر تشیخ الاسلام بعشر سنین.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله ولو مراهقا) هو الدانی من البلوغ نهر (قوله یجامع مثله) تفسیر للمراهق ذکره فی الجامع وقیل هو الذی تتحرك آلته ویشتهی النساء کذا فی الفتح ولا یخفی انه لاتعانی بین القولین نهر. (ردالمحتار ص۵۲۸ ج۲)

سوال: په درمختار کښې یې له اشباه نه نقل کړی دی: یدخل علی النساء الی خمسة عشر سنة حسبه

جواب: دحدیثو او فقهی دپورتنی تصریحاتو په نظر کښې نیولو سره ددې مطلب دادې که چیرته باوجود دپنځلس کالو شهوت ظاهر نشی بیاهم په دغه عمر کښې پرده کول فرض دی.

د نجلۍ په باره کښې دعائشې صدیقې رضی الله عنها دحدیث او نورو دلائلو او تجربوله مخې دفقهاؤ حضراتو دافیصله ده چې هغه دنهو کلونو په عمر کښې مشتهاة گرځی، لهذا دنهو کلونو په نجلۍ باندې پرده کول فرض دی. د عائشې صدیقې دحدیث او نورو فقهاء کرامو دنصوصو مطابق نجلۍ په نهو کلونو کښې بالغه کیدلې شی نو په دغه عمر کښې مشتهاة اومراهقه خو په طریقه اولی سره کیدې شی. له دی کبله فقهاء کرام دنهو کلونو نجلۍ بالاتفاق مشتهاة گرځولی ده.

قال العلامه الحصکفی رحمه الله تعالی: وقدر بتسع وبه یفتی وبنت احدی عشرة مشتهاة اتفاقا زیلعی.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: بل فی محرمات المنح وبنت تسع فصاعدا مشتهاة اتفاقا سائحانی (ردالمحتار ص۶۲۰ ج۲)

دپورته ذکر شویو روایات د احادیثو او دفقهاو له اقوالو نه داخبره متحققه شوه چې دنهو کلونو نجلۍ او دلسو کلونو هلك دحجاب داحکامو مکلف دی که چیرته هغوئ خپله کوتاهی وکړی نو په اولیاؤ باندې فرض دی چې په هغوئ باندې دا احکام عملی کړی دنشو ونما او چاپیریال په نظرکښې نیولوسره دهلك او نجلۍ دپردې په عمر کښې څه کمې او زیاتې کیدلې شی والله سبحانه وتعالی اعلم ۴رمضان سنه ۱۳۹۶هـ

ښځوته بغیر له پردې نه وعظ کول جائز ندی

سوال یومولوی صاحب په روژی کښې له اته بجو څخه تر یوولسو بجو پورې په یوه چار

دیوالی کښې چې هلته دچاتلل را تلل نشته بغیر له پردې ښځوته وعظ کوی چې پدې کښې دکلی خوانانې اوسپین سری ښځې په کافی تعداد کښې شرکت کوی، څوکسانو له دې څخه منع کوله نو مولوی صاحب په جواب کښې ورته وویل چې دا ښځې هسې هم مونږ ته دتعویذ اونورو معاملاتو لپاره راځی نو ددین دخبرو دبیانولو لپاره که هغوئ راشی نه په دې کښې څه حرج دی؟ کچیری زه له پردې څخه ورته خبره کوم نه هیڅ ښځه هم آوریدلوته نه راځی، آیا دشریعت له مخې دمولوی صاحب دا عمل جائز دې ؟ او د داسی مولوی صاحب امامت جائز دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : داسې دلیل نیول ښکاره باطل دی او دا کار حرام دې، په مولوي صاحب باندی ددې شیطانی حیلو پرېښودل اود دې ناکاره عمل څخه توبه کول فرض دی، که توبه نه کوی نو دداسې فاسق سړی امام جوړول جائز ندی، والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۷ذی الحجة سنـــ ۱۳۹۶هـــ

له اوښې (دخور له میړه) څخه پرده کول فرض دی

سوال : زیدوایی چه له بکر څخه دهغه په سکه ښینه باندی پرده فرض ده بکروائی چی تر څوپوری زما ښځه ژوندئ وی نو زما دخپلې ښینې سره نکاح خرامه ده اوله کومی ښځی سره چی نکاح کول حرام وی له هغې څخه پرده هم نه وی، مهربانی وکړئ شرعی مسئله راته ولیکئ او مونږ ممنون وکرځوی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د خور له میړه څخه پرده کول فرض دی، کومې ښځی چی دهمیش لپاره حرامې وی په هغو باندی پرده کول نشته، ښینه دهمیشه لپاره حرامه نده بلکه دهغې حرمت دعارض له وجې نه دې، کچیرته دبکرښځه مړه شی یا بکر هغی ته طلاق ورکړی نو دعدت له تیریدلو وروسته دهغه له دې ښینی سره نکاح جائزده. داسې عارضی حرمت خوله هری واده شوی ښځی سره دې. څوپوری چی دهغې خاوند ژوندی وی دابښځه ددنیا هیڅ سړی ته حلاله نه ده په تولوباندی حرامه ده که چیرته دعارضی حرمت له وجی دپردې حکم ساقط شی نو په واده شوې ښځه باندې به له هیچا څخه پرده فرض نشی . والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۱صفر سنـــ ۱۳۹۹ هـــ

له پردئ (غیر محرمې) ښځی سره خبری کول

سوال دنن سبا ښځې خو پرده هسی هم نکوی له هغوئ سره کله کله دلاچارئ له وجې کار پیښیږی انسان یواځی بالکل نشی اوسیدلې له هغوی سره کله کله دخبرو کولو نوبت هم راځی داسی هم کیږی چی بعضې ښځې مثلا لکه ښینه وغیره توکې اومزاح هم کوی. پداسې صورت کښې که کومه ښځه خبرې وکړی یا توکه وکړی. نو جواب به ورکول کیږی اوکه نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: غیر محرمو ښځوسره په قدر دضرورت خبرې کول جائز دي بلاضرورته جائز ندي، دخندلو یا ټوکوکولو یا دهغې دجواب ورکولو هیڅ ګنجائش نشته دا سخته ګناه ده بغیر له ضرورت نه کتل هم ندي جائز، حتی الامکان دنظر حفاظت هم ضروري دي، پداسې چاپیر یال کښې که چیرته دخبرو ضرورت پیښ شي نو هغوئ ته دشرعي پردې کولو ترغیب ورکول او دقرآن او حدیث احکام ورته بیانول په کار دي.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وفي الشرنبلالية معزيا للجوهرة ولا يكلم الاجنبية الا عجوزا عطست او سلمت فيشمتها ويرد السلام عليها والا لا وبه بان ان لفظة لا في نقل القهستاني ويكلمها بما لا يحتاج اليه زائدة فتنبه

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله زائدة) يبعده قوله في القنية رامزا ويجوز الكلام المباح مع امرأة اجنبية اهـ وفي المجتبى رامزا وفي الخوض في ما لا يعنيه انما ذلك في كلام فيه اثم اهـ فالظاهر انه قول آخر او محمول على العجوز تأمل وتقدم في شروط الصلوة ان صوت المرأة عورة على الراجح ومر الكلام فيه فراجعه (رد المحتار ص۲۳٦ ج٥)

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى في شروط الصلوة: والحرة ولو خنثى جميع بدنها حتى شعرها النازل في الاصح خلا الوجه والكفين فظهر الكف عورة على المذهب والقدمين على المعتمد وصوتها على الراجح وذراعيها على المرجوح

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وصوتها) معطوف على المستثنى يعني انه ليس بعورة ح (قوله على الراجح) عبارة البحر عن الحلية انه الاشبه وفي النهر وهو الذي ينبغي اعتماده ومقابله ما في النوازل نغمة المرأة عورة وتعلمها القرآن من المرأة احب قال عليه الصلوة والسلام التسبيح للرجال والتصفيق للنساء فلا يحسن ان يسمعها الرجل اهـ وفي الكافي ولا تلبي جهرا لان صوتها عورة ومشى عليه في المحيط في باب الاذان بحر قال في الفتح وعلى هذا لو قيل اذا جهرت بالقراءة في الصلوة لاعلام الامام بسهوه الى التصفيق اهـ فاقره البرهان الحلبي في شرح المنية الكبير وكذا في الامداد ثم نقل عن خط العلامة المقدسي ذكر الامام ابو العباس القرطبي في كتابه في السماع ولا يظن من لا فطنة عنده انا اذا قلنا صوت المرأة عورة انا نريد بذلك كلامها لان ذلك ليس بصحيح فانا نجيز الكلام مع النساء للاجانب ومحاورتهن عند الحاجة الى ذلك ولا نجيز لهن رفع اصواتهن ولا تمطيطها ولا تليينها وتقطيعها لما في ذلك من استمالة الرجال اليهن وتحريك الشهوات منهن ومن هذا لم يجز ان تؤذن المرأة اهـ قلت ويشير الى هذا تعبير النوازل بالنغمة (رد المحتار ص۲۷۲ ج۱) والله سبحانه

واللہ تعالیٰ اعلم۔

۱۷ ذی الحجۃ سنہ ۹۹ھ

غیر محرم سړی ته سلام کول

سوال: دښځي لپاره غیرمحرم سړی ته سلام کول یادهغه دسلام جواب ورکول جائز دی اوکه نه؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: اجنبی سړی او ښځی ته یوپربل سلام اچول یادسلام جواب ورکول جائز ندی که څوک سلام وکړی نو بل دې په زړه کښې جواب ورکړی نه په خوله، البته که دکوم ضرورت له وجی دخبروکولو نوبت راشی نو دسلام کولو او دسلام دجواب ورکولو گنجائش شته۔

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالیٰ: وفی الشرنبلالیة معزیاللجوهرة ولایکلم الاجنبیة الاعجوزا عطست اوسلمت فیشمتها ویرد السلام علیها والالا انتهی۔

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: (قوله والالا) ای والالاتکن عجوز ابل شابة لایشمتها ولایرد السلام بلسانه قال فی الخانیة وکذا الرجل مع المرأة اذا التقیا یسلم الرجل اولا واذا سلمت المرأة الاجنبیة علی رجل ان کانت عجوزا رد الرجل علیها السلام بلسانه بصوت تسمع وان کانت شابة رد علیها فی نفسه وکذا الرجل اذا سلم علی امرأة اجنبیة فالجواب فیه علی العکس اهـ وفی الذخیرة واذا عطس فشمتته المرأة فان عجوزا رد علیها والارد فی نفسه اهـ وکذا لو عطست هی کما فی الخلاصة (ردالمحتار ص۲۳۶ ج۵) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم

۲۰ ذی الحجۃ سنہ ۹۹ھ

د هوائی جهاز «طیارې» له ښځینه عملې سره دخبروکولو حکم

سوال: په طیاره کښې دخوراک او څښاک وغیره لپاره د طیارو له ښځینه کارکوونکو سره خبرې کول جائز دی اوکه نا جائز؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب: په طیاره کښې دوډئ او چای وغیره په خپل مقرر وخت دعملې له طرفه رسول کیږی، دطلب کولو لپاره ضرورت نه پیښیږی سره له دې که بیاهم ضرورت وی له ښځینه عملې سره په قدر دضرورت خبری کول جائز دی، والله سبحانه وتعالیٰ اعلم۔

۵ذوالحجه سنہ ۱۳۹۹ھ

دعلاج په غرض دښځی شرمگاه ته کتل

سوال دنارینه ډاکتر لپاره دعلاج په غرض دښځی په شرمگاه کښی لاس دننه کول یاکتل جائزدی اوکه نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د داسې ضرورت په موقع حتى الامكان له مسلمانې ډاکټرې سره رابطه کول لازم دی که چیرته په دغه وقت کښې ښځینه ډاکټره پیدا نشي او ضرورت هم شدید وي نو نارینه ډاکټر ته هم جائز دی . والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۰ ذالحجه ۹۹ھ

له غیر محرم سړي نه تجوید زده کول

سوال ښځې په عام طور په ماشوم والی کښې دچا ماهر سړي نه قرآن نه زده کوی لدې کبله په قرآن ویلوکښې کافی غلطی کوی آیا دبالغ کیدونه یا دواده کیدونه وروسته د پردې په اهتمام کولو سره دغیر محرم نه تجوید زده کولې شي؟ همداراز که څپله په قدر دضرورت سره دتصحیح د الفاظوقرآن لولی لیکن ماشومانو ته دتعلیم ورکولو لپاره زیات مشق ته ضرورت وی کچرته تجوید زده کړی او په تجوید سره یی بل ته ښوونه کوی نو د آینده نسل فائده به وی آیا د دې مقصد لپاره له غیر محرم نه تجوید زده کول اوقرآن لوستل او مشق کول جائز دی اوکه ناجائز ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : په دی کښې لاندی مفاسد دی :

اول داستاذ اوشاګرد لفظ په لفظ بلکه حرف په حرف ترډیره وخته یو تربله تکرارول او یو بل ته خاص مراجعه کول .

دویم : دیوبل آواز تر ډیره وخته آوریدل .

دریم : په تجوید سره قرائت کولو کښې کشش او جاذبیت .

څلورم : له دواړو جانبو څخه دشخصیت متعین کیدل .

پنځم دمذکوره محرکاتو روزانه تر ډیره وخته مسلسل قائمول. لهذا دا طریقه جائزه نده بالخصوص چی ددې ضرورت پوره کولو لپاره لاندی صورتونه موجود وی

اول له محرمو سړو څخه لوستل.

دویم وړی نجونه دې زده کړی او نورو ښځوته دې ورزده کړی .

قال العلامة الملا على القارى رحمه الله تعالى: ورفع الصوت بها الشهادة الارض والحجر والمدر والشجر له الا المرأة فان صوتها عورة فليجب صوتها.

وقال العلامة حسين بن محمد سعيد المكي الحنفي رحمه الله تعالى (قوله فان صوتها عورة) هذا ضعيف قال في الدر المختار عند قول المتن ولا تلبي جهر ابل تسمع نفسها دفعا للفتنة وما قيل ان صوتها عورة ضعيف (ارشاد السارى ص۳۳) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۰ ذی القعدة سنه ۱۴۰۰ھ

د اوښې ((دښځې د ورور)) له ښځې سره دخبرو کولو حکم

سوال زید وائی چی که بکر چیرته له لرې ځای څخه، دخپل اوښې کورته ورشي اتفاقاً هغه حنر

کار ته یا مزدوری ته تللی وی نو دبکر د اوښی ښځه له بکرسره نه بوښتنه کولی شی. نه په مهمان خانه کښې دناستی ورته ویلی شی. نه دچای او خوراك لپاره ورسره خبرې کولې شی. که خاوندیی موجود وی. هم داسی نشی کولی خو بکر وایی که چیرته همداسې وی نوبیا خو هیڅوك هم دچاکور ته نشی ورتلې. له داسی کولو سره خود صله رحمی دقطع کیدلو خطره ده چی هغه پوشدید جرم دی، دلته زمونږ په برصغیر کښې خو ما حول هم دومره خراب ندې، دلته خو له قریبی رشته دارانو سره دخیر خیریت دپوښتنی او دخوراك اوڅښاك دورکولو څه حرج نه بلل کیږی، لهذا مهربانی و کړئ له شرعی مسئلی څخه موخبر کړئ ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دکوم محرم په موجودگی کښی د اوښی له ښځی سره دخبرو ضرورت نه وی، لهذا جائز ندی البته که محرم موجود نه وی نو دپردې له شا یی په مهمانخانه کښې کینولې شی او خوراك او څښاك هم ورته له پردې اخوا ورکولې شی. دپردې باید پوره اهتمام وکړی اوپه قدر دضرورت دې په خبرو اکتفاء وکړی، په لهجه کښې دې تکلف اوسختی پیداکړی، که دهغه دبیا بیا راتگ اندیښنه وی نو د پرې شاته یی هم کینول ندی جائز.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله او بحائل) قال فى القنية سكن رجل فى بيت من دار وامراة فى بيت اخر منها ولكل واحد غلق على حدة لكن باب الدار واحد لا يكره مالم يجمعهما بيت اهـ درمزله ثلثة رموز ثم رمز الى كتاب اخر هى خلوة فلا تحل ثم رمز ولو طلقها بائنا وليس الا بيت واحد يجعل بينهما سترة لانه لولا السترة تقع الخلوة بينه وبين الاجنبية وليس معها محرم فهذا يدل على صحة ما قالوه اهـ لان البيتين من دار واحد كالسترة بل اولى وماذكره من الاكتفاء بالسترة مشروط بما اذا لم يكن الزوج فاسقا اذلو كان فاسقا يحال بينهما بامراة ثقة تقدر على الحيلولة بينهما كما ذكره فى فصل الاحداد وقد بحث صاحب البحر هناك بمثل ما قاله فى القنية فقال يمكن ان يقال فى الاجنبية كذلك وان لم تكن معتدته الا يوجد نقل بخلافه (رد المحتار صـ۲۳۵ جـ۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۱ ذی القعده سنـ ۱۴۰۰هـ

دښځې له شرمگاه څخه مچو (بوسه) اخستل

سوال دمحبت دغلبی او جوش له وجی دخپلی ښځی شرمگاه ښکلول جائز دی اوکه جائز؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب لاس لگول جائز دی ښکلول (مچی کول) ندی جائز

قال فى الهندية: فى النوازل اذا ادخل الرجل ذكره فى فم امرأته قد قيل يكره وقد قيل بخلافه كذا فى الذخيرة (عالمگيرية صـ۳۷۲ جـ۵). القول الصحيح مجهول منكر وقوله مردود شرعا وعقلاً والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۷ ذی الحجه سنـ ۹۸هـ

دښځې خاوند دیوبل شرمګاه ته دکتلو حکم

سوال: یوروایت له نظره تیرشوې دې، مشهوره ده چې دصحبت په وخت کښې دخپلې ښځې شرمګاه ته کتل انسان ړوندوی اوروایت دادې: (وروی بقیة بن مخلد وابن عدی عن ابن عباس رضی الله عنه مرفوعا اذا جامع احدکم زوجته اوجاریته فلا ینظر الی فرجها فان ذالك یورث العمی قال ابن صلاح جید الاسناد کذا فی الجامع الصغیر) آیا دا روایت یا پدې مضمون باندې کوم بل صحیح سند سره روایت شته؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: فقهی بصیرة چې داسې روایات وینی یاد موضوع یاد انتهائی ضعف فتوی ورکوی دکتابونه مراجعې ددې توثیق کوی قال الامام ابوالفرج ابن الجوزی فی باب النظر الی الفرج فیه عن ابن عمر وابی هریرة رضی الله عنه فاما حدیث ابن عباس فانبانا اسماعیل بن السمرقندی انبانا اسمعیل بن مسعدة انبانا حمزة بن یوسف انبانا احمد عدی حدثنا ابن قتیبة حدثنا هشام بن خالد حدثنا بقیة عن ابن جریج عن عطاء عن ابن عباس رضی الله عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا جامع احدکم زوجته اوجاریته فلا ینظر الی فرجها فان ذلك یورث العمی.

قال ابوحاتم بن حبان: کان بقیة یروی عن کذابین وثقاة ویدلس وکان له اصحاب یسقطون الضعفاء من حدیثه ویسوونه فیشبه ان یکون سمع هذا من بعض الضعفاء عن ابن جریج ثم یدلس عنه والکرف (الترق) به وهذا موضوع.

واما حدیث ابی هریرة رضی الله عنه فانبانا محمد بن ناصر انبا نا المبارك بن عبدالجبار انبانا ابونصر عبدالباقی بن احمد الواعظ انبانا محمدبن جعفر بن علان انبانا ابو الفتح الازدی انبانا زکریا بن یحی المقدسی حدثنا ابراهیم بن محمد الفریابی حدثنا محمدبن عبدالرحمن التستری عن مسعدة ابن کرام عن سعید المقبری عن ابی هریرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم اذا جامع احدکم فلا ینظر الی الفرج فانه یورث العمی ولایکثر الکلام فان یورث الخرس.

قال الازدی: ابراهیم بن محمد بن یوسف ساقط (کتاب الموضوعات ج ۲ ص ۲۷۱) وقال الحافظ ابن عدی الجرجانی رحمه الله تعالی بعد نقل حدیث یشبه ان تکون بین بقیة وابن جریج بعض المجهولین او بعض الضعفاء لان بقیة کثیرا مایدخل بین نفسه وبین ابن جریج بعض الضعفاء او بعض المجهولین الا ان هشام بن خالد قال عن بقیة حدثنی ابن جریج. (الکامل ص ۷۵ ج ۲)

وقال الامام البابرتی رحمه الله تعالی: روی عن ابی یوسف رحمه الله تعالی فی الامالی قال سالت اباحنیفة رحمه الله تعالی عن الرجل یمس فرج امرأته وتمس هی فرجه لیتحرك علیها هل تری بذلك بأسا؟ قال لا. ارجوان یعظم الاجر (العنایة بهامش تکملة الفتح ص۱۰۳ ج۴)

پدی کښې که جواز دنظر صراحتا مذکور ندی مگر قیاسا ظاهردی.

د ښځې دتفریح لپاره ویستل

سوال: دښځو اونجونو لپاره سره دحجاب اغوستلو له خپل خاوندیا پلار یا بل کوم محرم سره عامو دتفریح ځایونو ته لك کلفتن، هاکس بی، هل پارك وغیره ته تلل شرعاً څنگه دی؟ پداسی حال کښی چی عام طور علماء کرام له شرعی ضرورت نه پرته دښځو وتل له خپلو کورونو څخه ناجائز بولی ځکه چی که څه هم ښځی خپله برقع اغوستی وی او دهغی په مخ باندی دپردو سرو نظرنه لگیږی لیکن خپله ددغو ښځو نظرونه په پردو سرو باندی پریوځی اوهغوی ته گوری آیا دتفریح لپاره تفریح گاهونو ته تلل په شرعی ضرورت کښی داخل دی؟ پداسی حال کښې چی علماء کرام په حج او عمره تللی ښځی مسجد حرام او مسجد نبوی ته دلمانځه لپاره له تللو څخه منع کوی اوپه خپلو قیامگاهونو کښې دلمونځ کولو تاکید ورباندی کوی، آیا دتفریح کولو اهمیت دهغو مسجدونو دلمونځ کولونه هم زیات دې.

نن سبا بعضې دیندار خلك له خپلی صوفیانه وضعې سره خپلې ښځې او پیغلې لونه له ځان سره عامو تفریح گاهونوته بیائی اوپه پارکونوکښې کښینی اوپه خوراکونو وغیره کښې مشغولیږی یعنی یوقسم، پکنك، لمانځی چی پدې سره دعامو خلکو په ذهن کښې ددې دجواز خیال پیداکیږی او داسې عامو تفریحی ځایونوته تلل ددین دغلط تصور پیش کولو سره مترادف معلومیږی. او دعوام الناس لپاره دا دداسې کارونو دحوصله افزائی سبب گرځی، لهذا ددې په باره کښې مفصله فتوی صادره کړئ مهربانی به مو وی. بینوتوجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په قرآن او حدیث کښې دپردې په باره کښې سخت تاکید راغلې او دښځو دبهر وتلوپه مفاسد کثیره باندی دنظر کولو له مخې ښځې ته دتفریح کولو لپاره له کوره بهر وتل جائز ندی که چیرته ووځی نو له هغې څخه علاوه دهغو اولیاء خاوند اونور هم سخت گناهگار دی په هغوئ تولو باندی له داسې فسق څخه توبه کول فرض دی.

داختصار په طور د دې څو دلائل او مفاسدو ملاحظه وکړئ:

اول ښځې ته بلاضرورته سره دبرقع اغوستلو له کوره وتل حرام دی.

دویم وقرن فی بیوتکن ولا تبرجن تبرج الجاهلية الاولی ۳۳

دريم واذا سألتموهن متاعاً فاسئلوهن من وراء حجاب ذالكم اطهر لقلوبكم وقلوبهن[۵۳۳]
له دې آيت نه معلومه شوه چې دسوال اوجواب دضرورت په وخت هم سره دبرقع بايد زنانه ونه وځي بلكه د حجاب له خوا دې ضرورت پوره كړي.

عن ام سلمة رضي الله تعالى عنها انها كانت عند رسول الله صلى الله عليه وسلم وميمونة رضي الله تعالى عنها اذ اقبل ابن ام مكتوم رضي الله عنه فدخل عليه فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم احتجبا منه فقلت يارسول الله اليس هو اعمى لايبصرنا فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم افعمياوان انتما الستما تبصرانه رواه احمد والترمذي وابوداود.

دريم : دباندې په وتلو كښې يې په منكراتو او فواحشو لغړو ښځو او تصويرونو باندې په نظر پريوتو سره په زړه بد اثر پريوځي.

څلورم : دساز او سرود غږ يې په غوږونو پريوځي چې په زړه بد اثر كوي.

پنځم : دبې دينه خلكو قسم قسم آوازونه يې غوږونوته ورځي چې له هغې څخه زړه متاثر كيږي.

شپږم : ددې زمانې دغلبهٔ فساد په وجه له كوره دباندې هرطرفته دفسق اوفساد چاپيريال دې چې حتى فضاء هم ترينه متاثره كيږي. دانسان په زړه خو لازماً اثركوي.

اووم : ښځه كه پردې سره هم ووځي بياهم فساق او فجار دهغې طرفته په غورباندې گوري او ذهغوئ ميلان ددې طرفته وى اوددې سبب دانښځه جوړه شوه چې پدې سره داهم گناهگاره شوه لهذا قرآن اوحديث داشخاصو پرده هم ضروري گرځولې ده چې دهغې دلائل په اول نمبر كښې په تفصيل سره تيرشول.

ذكر شوي مفاسد اگر كه دسړو په وتلوسره هم پيدا كيږي مگر د سړيو او ښځو دوتلو په دوو وجوهو سره فرق دې:

اول : دسړي وتل ددينې او دنيوي ضرورتونو له وجې وى، لدې وجې الله تعالى دهغو حفاظت كوي او دښځې وتل دتفريح لپاره په ضرورت كښې ندى داخل.

دويم : دحفظ صحت لپاره هم دسړيو دباندې وتل ضروري دى دښځو وتل ددې لپاره ضروري ندى. له دې كبله چې الله تعالى مختلف قسم مخلوقات پيدا كړي او دهغوى دصحت لپاره چې څه ضروري دى الله جل جلاله هغه په همدې چاپيرپال كښې ورته پيدا كړي دى او دهغه چاپيرپال يې دهغه لپاره مناسب گرځولې دې. بيا دمختلف قسم مخلوق په افرادو كښې هم تفاوت موجود وى دهر فرد طبيعت چې الله تعالى جوړكړى نو دهغه ماحول هم الله تعالى دهغه لپاره برابر كړې دې روزانه دهغې مشاهده او تجربه كيږي دكومو علماء او مشائخو لپاره چې الله تعالى دناستى لپاره د دلجمعي سره دكار كولو لپاره كوم ځاى مقرر كړې دهغوي صحت په همدغه چاپيرپال كښې برابر

وی که چیرته دباندې په سفر لاړشی نو ناروغ کیږی او دچا لپاره چی الله تعالی دباندې د وتلو اونورو ملکونو کښې دتبلیغ کولو لپاره اوددین دنشر او اشاعت او اصلاح لپاره کار مقدر کړی دهغوی صحت په پرله پسی سفر کښې برابر وی که چیرته په کور کښی وی نو صحت یې خرابیږی دښځو لپاره د «قرن فی بیوتکن» حکم دې لدې کبله الله تعالی هغوئ ته دکور دننه ما حول برابر کړې، کومه ښځه چی دصحت لپاره دکورنه دباندې د وتلو ضرورت محسوس کوی نودا ددې دلیل دې چی ډیرو گناهونو ددې فطرت تبدیل کړې دې، دا د دې دبی دینه کیدو علامه ده د دیندارو ښځو صحت په کور کښې دننه برابر وی، البته دصحت دلوازمونه ورزش دمسلماتونه دې او دکور دکار کولو په وجه د ښځو ورزش کیږی . د ورزش معیار دادې : اول دساه (نفس) تیزیدل، دویم خوله راتلل . دریم سترتیا محسوس کول.

که دښځې لپاره دومره کار په کور کښې نه وی نو میچن دې وگرځوی، ښځی خو د کورونو کارنکوی دهغې لپاره خادمه نیسی لدی کبله دصحت لپاره دباندې وتلو ضرورت محسوس کیږی.

قال الشیخ ابوسعید الخادمی رحمه الله تعالی: (ویمنع من الحمام) ای الزوج زوجته من الذهاب الی حمام السوق وهو المتبادر ظاهر الاطلاق مساواة الشابة وغیرها لیلا او نهارا عند فساد الزمان وامنه . (البریقة المحمودیة ص۱۱ ج۴)

وقال ایضا: لا یاذن لها بالخروج الی المجلس الذی یجتمع فیه الرجال والنساء فیه من المنکرات کالتصدیة ورفع الاصوات المختلفة واللعب من المتکلم بالقاء الکم وضرب الرجل علی المنبر والصعود والنزول عنه فکل من المذکور منکر وتولا یحضر ولا یاذن لها ولو فعل یتوب الی الله تعالی (ایضا ص۱۵)

وقال ایضا: ولا یبیحها ان تخرج من الستر من البیت فانها عورة وخروجها اثم وعد فی الخلاصة من المواضع التی یضرب الزوج زوجته فیها الخروج من البیت وفی القنیة: یضرب ایضا (الی) او کشفت وجهها لغیر محرم (ایضا ص۱۵۶)

قال الشیخ حافظ الدین محمد بن محمد رحمه الله تعالی: ولا یاذن بالخروج الی المجلس الذی یجتمع فیه الرجال والنساء وفیه المنکرات الخ (البزازیة بهامش الهندیة ص۱۵۶ ج۴)

وقال ایضا: ولها منعها من زیارة الاجانب وعیادتهم والولیمة لا وان یاذن وان اذن الزوج کانا عاصیین (ایضا ص۱۵۸)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: وحیث ابحنا لها الخروج فانما یباح بشرط عدم الزینة وتغیر الهیئة الی مالا یکون داعیة لنظر الرجال والاستمالة (رد المحتار ص۶۶۵ ج۲) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲ جمادی الاولی ۔ ۴ ۱۴ھ

دښځې پواځې کیناستل له دریور «موټروان» سره

سوال: دجامعات اللبنات لپاره چې کوم بس یاموټر مقرر دې آیا دهغو دریوران بغیر دمحرم نه نجونې له خپلو کورونو را وستلې او بیرته بیولې شي؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که په موټرکښې دوه یا له دوونه زیاتې نجونې وي نو دریورته نی وړل او را وړل جائز دی دیوې نجلۍ وړل اوراوړل جائز ندی، ځکه چې دلته خلوت بالاجنبیه لازمیږي چې دسړي اوښځې دواړو لپاره حرام دې.

قال الامام القاضيخان رحمه الله تعالى: والخلوة الصحيحة ان يجتمعا في مكان ليس هناك مانع يمنعه من الوطء حسا اوشرعا اوطبعا (الى قوله) ولو كان معهما جارية احدهما اوامراة اله اخرى كان محمد رحمه الله تعالى يقول اولا جارية الرجل لاتمنع الخلوة لان له ان يجامعها بحضرة جارية او امراة اله اخرى ثم رجع وقال جارية احدهما تمنع الخلوة وهو قول ابي حنيفة وابي يوسف رحمهما الله تعالى (خانية بهامش الهندية ص۳۶۶ ج۱) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۲ جادى الثانية ـــ ۱۴۱۷ هـ

دښځې په کور کښې دلوڅ سرګرځیدلو حکم

سوال: دښځې په خپل کورکښې دخپلو محارمو په مخکښې لوڅ سرګرځیدل راګرځیدل جائزدی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: داسې کول په دیندارو اوشریفو کورنیو کښې دیرزیات معیوب بلل کیږي اوپه ښځوکښې دبې پردګۍ او آزادۍ ذریعه ده، علاوه لدې نه دخپلو محارمو ترمخ خپله سینه ظاهرول ډیره بې حیائي ده، لهذا جائز ندی. والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۷ رجب ـــ ۱۴۱۷ هـ

دمخطوبې لیدل

سوال: نن سبا هلك دنجلۍ له لیدو بغیر په نکاح کولو نه راضي کیږي او په لیدلویې اصرار کوي ترڅوچې په زندګۍ تیرولو کښې همکاري کونکې وګرځي، نو نجلۍ ښه ځان سینګار کړې وي دمور اوپلار اوبعضې نورو اهل تعلق په موجودګۍ کښې یا په تنها کوټه کښې دهلك دلیدلو لپاره انتظام کوي او دا دلیل پیش کوي چې نبي کریم صلى الله علیه وسلم خپلو بعضې صحابه کراموته دلیدلو حکم کړې وو آیا دا استدلال او په دې طریقه لیدل کتل شرعا جائز دی اوکه نه؟ او که صحیح نه وي نو د ښځو په ذریعه لیدل ښودل جائزدی اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: داطریقه بالکل نده جائزه دا انتهائي بې غیرتي او بې حیایي ده که

هرځوك د داسې صفا او واضح ليدلو مطالبه وكړي او دهغه دا بې خايه غوښتنه پوره كړې شي نو راځونده معلومه چې ديوې بوې جينۍ دواده كولو لپاره به دځومره هلكانو دليدلو نوبت ورسيږي دآس او غوا په شان كيفيت به جوړشي. هلك به راځي گوري به يې او خوښيږي به يې نه او ځي به دنبې زندگۍ تيرولو صرف صورت سره تعلق نه وي بلكه ديني او اخلاقي تعليم اوتربيت گفت اوشنيد ناسته پاسته اودكور د كار وغيره اموروپكې دير دخل وي. صرف دصورت په ليدلو ددې نولو كارونو په باره كښې صحيح رايه قائمول دير مشكل دي له حديث نه په دې بې حيا مروجه طريقه استدلال قائمول ناپوهي اوتحريف ددين دي.

په حديث كښې دروئيت ذكر دې نه د اراءة او دروئيت دحكم مطلب دادې چې كه هلك يې په پته ليدل غواړي نو كولې شي په پته ليدلو كښې هم داسې طريقه اختيارول پكاردي چه دچاوربانډي دبدنظر گمان ونه شي، په دې خبره باندې دا دلائل دي:

اول په بعضې روايتونو كښې د «ان استطاع» تصريح موجوده ده.

دويم خپله حضور صلى الله عليه وسلم مخطوبه دښځوپه ذريعه ليدلې ده په داسې حال كښې چې هغه مبارك دامت لپاره په منزله دپلار وو او دهيڅ قسم مفسدې قطعاً امكان نه وو.

دريم ددوو صحابه كرامو حضرت جابر او حضرت محمد بن مسلمه رضى الله عنهما نه داعمل منقول دې چې هغوى به په پته دليدلو كوښښ كولو او دصحابه كرامو عمل دحديث تشريح وي بيا خصوصاً دحضرت جابر رضى الله عنه عمل ځكه چې خپله هم ده ته حضور صلى الله عليه وسلم دليدلو امر كړې وو.

نجلۍ ته دخبر وركولونه بغير دښځو په ذريعه سره ښودل جائز دي د نجلۍ دخبرولو په صورت كښې دښځوپه ذريعه سره دښودلو دالاندې قباحتونه موجود دي.

اول كه چيرته نجلۍ ددينداراو حيادار قوم څخه وي نو هغه به دشرم دوجې مرگ ته نزدې شي وبه شرميږي اوبالكل به رانشي اوكه را هم شي نه به ځه وائي اونه به ځه كولې شي په كونج كښې به ناسته وي نور امور خوپريږده دصورت صحيح اندازه لگول يې هم مشكل وي

دويم اوكه نجلۍ دبې دينه اوبې حياء خاندان څخه وي نو په صورت او خبرو او كار وغيره هر څه كښې به تصنع كوي دحقيقت معلومول به يې ممكن نه وي

كه چيرته زنانه ناځايې ورشي نو نجلۍ به په خپل اصلي هيئت كښې وي داصلي صورت نه علاوه خبرې. رفتار او تولو كارونو كښې به په خپل اصلي هيئت كښې په نظر راشي

دريم كه چيرته يې خوښه نه شي نو نجلۍ به احساس دكمترۍ و كړي اوذلت به محسوس كړي

څلورم دځينې نه كولو په صورت كښې به ددواړو كورنيو تر منځ سخت منافرت پيدا شي سبب به دبويل مخ كتل هم نه خوښوي

د آخرې دوو صورتونو په نظر کښې نيولوسره داسې صورت اختيارول بهتر دې چې کور والو ته هم معلومات ونه شي.

عن جابر بن عبدالله رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا خطب احدكم المرأة فان استطاع ان ينظر الى ما يدعوه الى نكاحها فليفعل قال فخطبت جارية فكنت اتخبا لها حتى رأيت منها ما دعاني الى نكاحها فليفعل قال فخطبت جارية فكنت اتخبأ لها حتى رأيت منها ما دعاني الى نكاحها وتزوجها فتزوجتها (ابوداود ص۲۹۱ ج۱)

عن سهل بن ابي حثمة قال رأيت محمد بن مسلمة رضي الله تعالى عنه يطارد ثبيتة بنت الضحاك فوق اجار له ببصره طردا شديدا فقلت اتفعل هذا وانت من اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال اني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول اذا القى في قلب امرئ خطبة امرأة فلا بأس ان ينظر اليها (شرح معاني الآثار ص۱۰ ج۲)

عن انس رضي الله عنه ان النبي صلى الله عليه وسلم اراد ان يتزوج امرأة فبعث بامرأة لتنظر اليها فقال شمي عوارضها وانظري الى عرقوبيها.

قال العلامة ظفر احمد العثماني رحمه الله تعالى: قال العبد الضعيف وحجة الجمهور قول جابر رضي الله عنه (فخطبت جارية فكنت اتخبأ) والراوي اعرف بمعنى ما رواه فدل على انه لا يجوز له ان يطلب من اوليائها ان يحضروها بين يديه لما في ذلك من الاستخفاف بهم ولا يجوز ارتكاب مثل ذلك لامر مباح ولا ان ينظر اليها بحيث تطلع على رويته لها من غير اذنها لان المرأة تستحي من ذلك ويثقل نظر الاجنبي اليها على قلبها لما جبلها الله على الغيرة وقد يفضي ذلك الى مفاسد عظيمة كما لا يخلو وانما يجوز له ان يختبأ لها وينظر اليها خفية ومثل هذا النظر يقتصر على الوجه والكف والقدم لا يعدوها الى مواضع اللحم ولا الى جميع البدن (اعلاء السنن ص۲۸۰ ج۱۷) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۹ شوال ــــ ۱۴۱۷ هــ.

دښځوپه تبليغي جماعت کښې وتل جائز ندي

سوال : دښځو په تبليغي جماعت کښې له خپلو محارموسره درې ورځو ته يالسو ورځونه يا دکال لپاره له خپلې علاقې نه يا له خپل ملك نه نورو ملکونو ته وتل څنګه دي؟ پداسې حال کښې چې دموجوده دور حالات هم ستاسې حضراتو په مخ کښې دي که جائزوي بيا خو هيڅ حرج نشته اوکه ناجائز وي نوبيا چې څوك خپلې ښځې بيايي دهغوی په باره کښې څه حکم دې آيا هغوی ګنهګار دي اوکه نه؟ دمسئلې مکمل وضاحت مطلوب دې؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دښځو له خپلو کورونو نه دباندې ايستل ډيره لويه فتنه ده لدې کبله فقهاء کرامو په هغوئ ډيره سخته پابندی لګولې ده، ددينې کارونو لپاره يې هم دښځو وتل

بالاتفاق حرام کر دی

قال العلامة الخوارزمی ناقلا عن فخر الاسلام رحمهما الله تعالیٰ: والفتوی الیوم علی الکراهة فی الصلوات کلها لظهور الفساد ومتی کره حضور المسجد للصلوٰة لان یکره حضور مجالس العلم خصوصا عند هؤلاء الجهال الذین تحلوا بحلیة العلم اولیٰ (الکفایة مع فتح القدیر ص۳۱۸ ج۱)

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالیٰ: ویکره حضورهن الجماعة ولو لجمعة وعید ووعظ مطلقا ولو عجوزا لیلا علی المذهب المفتی به لفساد الزمان واستثنی الکمال بحثا العجائز المتفانیة.

وقال الامام الطحطاوی رحمه الله تعالیٰ: (قوله ولو لجمعة وعید ووعظ) قال فی مجموع النوازل یجوز للزوج ان یاذن لها بالخروج الی زیارة الابوین وعیادتهما وتعزیتهما او احدهما وزیارة المحارم فان کانت قابلة اوغاسلة وکان لها علی اخر حق او علیها حق تخرج بالاذن والحج علی هذا وفیما عدا ذلك من زیارة الاجانب وعیادتهم والولیمة لایاذن لها ولا تخرج ولو اذن لها وخرجت کانا عاصیین وتمنع من الحمام وان ارادت ان تخرج الی مجلس العلم بغیر رضی الزوج لیس لها ذلك فان وقعت لها نازلة ان سال الزوج من العالم واخبرها بذلك لایسعها الخروج. وان امتنع من السؤال یسعها الخروج من غیر رضی الزوج وان لم یقع لها نازلة وارادت ان تخرج لمجلس العلم لتعلیم المسالة من مسائل الوضوء والصلوٰة ان کان الزوج یحفظ المسائل ویذکرها معها له ان یمنعها وان کان لایحفظها الاولیٰ ان یاذن لها احیانا وان لم یاذن لها فلاشیء علیه ولا یسعها الخروج مالم تقع نازلة اھ (قوله ولولیلا بیان للاطلاق ایضا (قوله علی المذهب المفتی به) قد یقال هذه الفتوی التی اعتمد المتاخرون مخالفة لمذهب الامام وصاحبیه فانهم نقلوا ان الشابة تمنع مطلقا اتفاقا واما العجوز فلها حضور الجماعة عند الامام فی الظهر والعصر والجمعة فالافتاء بمنع العجائز فی الکل یخالف الکل وما فی الدر المنتقی یوافق ماهنا بحیث قال وفی الکافی وغیره اما فی زماننا فالمفتی به الکل فی الکل حتی فی الوعظ ونحوه (حاشیة الطحطاوی علی الدر ص۲۴۵ ج۱)

وقال الشمس العلماء العلامة ابن نجیم رحمه الله تعالیٰ: قال المصنف فی الکافی والفتوی الیوم علی الکراهة فی الصلوات کلها لظهور الفساد ومت کره حضور المسجد للصلوٰة فلان یکره حضور مجالس الوعظ خصوصا عند هؤلاء الجهال الذین تحلوا بحلیة العلماء اولیٰ ذکره فخر الاسلام اھ. (البحر الرائق ص ۳۵۸ ج ۱)

وقال الحافظ العینی رحمه الله تعالیٰ: (قال ویکره لهن حضور الجماعات ای یکره للنساء (یعنی الشواب منهن وهی جمع شابة وهذه اللفظة باطلاقها تتناول الجمع والاعیاد والکسوف والاستسقاء وعن الشافعی یباح لهن

الخروج (لما فيه) اى فى حضور الجماعة (من خوف الفتنة) عليهن من الفساد وخروجهن سبب للحرام وما يفضى الى الحرام حرام وذكر فى كتاب الصلوة مكان الكراهة الاساءة والكراهة افحش۔

قلت المراد من الكراهة التحريم ولا سيما فى هذا الزمان لفساد اهله۔

(ولا بأس للعجوز ان تخرج فى الفجر والمغرب والعشاء) لحصول الامن وفى المغرب اختلاف الروايات وفى المنظومة الحق المغرب بالعشاء كما ذكره المصنف والمبسوط لشمس الائمة وفى المختلف الحق العصر والمغرب بالظهر كما فى مبسوط شيخ الاسلام ويحتمل ان ذلك بناء على ان المغرب تنتشر فيه الفسقة ايضا كالعصر فى بعض البلاد قيل هذا كله فى زمانهم اما فى زماننا فيكره خروج النساء الى الجماعة لغلبة الفسق والفساد فاذا كره خروجهن الى الجماعة فلان يكره حضورهن مجالس العلم خصوصا عند هؤلاء الجهال الذين تحلوا بحلية اهل العلم اولى (العناية ص۳۲۰ ج۲)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله : واذا منع حضور الجماعة فمنعها عن حضور الوعظ والاستسقاء اولى وادخله العينى فى الجماعات وما قلناه اولى (منحة الخالق بهامش البحر ص۳۵۹ ج۱)

وقال العلامة منلا مسكين رحمه الله تعالى: ومتى كره حضور المسجد للصلوة فلان يكره حضورهن مجالس الوعظ خصوصا عند هؤلاء الجهال الذين تحلوا بحلية العلماء اولى ذكره فخر الاسلام۔

وقال العلامة ابو السعود رحمه الله تعالى: (قوله ومتى كره حضور المسجد الخ) اى كراهة تحريمية تدل على ذلك قوله فى النهر ولا يحضرن اى لا يحل لهن ان يحضرون لكن ذكر بعده عن كتاب الصلوة انه ذكر الاساءة التى هى ادون من الكراهة (فتح المعين ص۲۱۵ ج۱)

وقال العلامة ابوبكر بن على الحدادى رحمه الله: والفتوى اليوم على الكراهة فى الصلوات كلها لظهور الفسق فى هذا الزمان ولا يباح لهن الخروج الى الجمعة عند ابى حنيفة رحمه الله تعالى كذا فى المحيط لجعلها كالظهر وفى المبسوط جعلها كالعيدين حتى انه يباح لهن الخروج اليها بالاجماع (الجوهرة ص۷۰ ج۱)

وقال العلامة السهارنفورى رحمه الله تعالى: معزيا لشرح النقاية: والفتوى اليوم على الكراهة فى الصلوات كلها لظهور الفساد ومتى كره حضورهن فى المسجد للصلوة فلان يكره حضورهن فى مجالس الوعظ خصوصا عند هؤلاء الجهال الذين تحلوا بحلية العلماء اولى هكذا قال المشائخ رحمهم الله تعالى، ولو شاهدوا ما شاهدنا من حضورهن بين مجالس وعاظ زماننا معبرجات بزينتهن لانكروا كل الانكار رحم الله معاشر الابرار (بذل المجهود ص ۳۱۹ ج۱)

جلد هشتم ۱۵

ددکرشویو نصوصو حاصل

دښځوله کورونو نه وتل ډیره لویه فتنه ده. له همدې کبله فقهاء کرام رحمهم الله تعالی مسجد ته دجُمعې دلمانځه او دجماعت دلمانځه او دعلم دطلب او وعظ اوریدو لپاره له کورونو ښځه دښځوتل ناجائز ګرځولی دی نو چې ددومره اهمو اوضروری عباداتو اوددین دضروریاتو په خاطر د لږ وخت لپاره ډیرو نزدې ځایونو ته وتل هم منع شول. نو دتبلیغ لپاره خو د ځوځوورځو بلکه دمیاشتو او چلو لپاره لرې لرې ځایونو ته تلل په طریقه اولی ناجائز کیدل پکاردی.

فقهی بصیرت : دفقاؤحضراتو له عباراتو مذکوره ښځه ثابته شوه چې ددینی امورو لپاره دښځو د وتلو ممانعت په قرآن او حدیث کښې منصوص ندې بلکه فقهاء کرامو دخپلوزمانو دحالاتو او دفتنو اوفساد دخوریدلو په وجه دشریعت داصولو په نظر کښې نیولو سره دخپلو نظریاتو او رایو اظهار فرمایلې دې، لدې وجې نه دهغوئ حضراتو فیصله کوم نص قطعی اوحرف آخر ندې بلکه دزمانې دتغیر په بناء دترمیم امکان پکښې شته.

ددورحاضر دناپوهی غلبه اوله دین نه بی پرواهی دې اندازې ته رسیدلې ده چې دښځو د دینی ضروریاتو لپاره له وتلونه مطلقاً منع کول او دباندی وتل حرام ګڼل. دهیڅ یو شرعی ضرورت لپاره د خروج اجازت نه ورکول. داقامت دین په ځای باندی هدم دین دې. له همدې کبله په مجموع النوازل کښې یې دمسائل شرعیو معلوماتو حاصلولو دضرورت لپاره دخروج اجازت ورکړې دې.

ومرنصه عن الطحاوی رحمه الله تعالی لهذا دفقهی له نظره په دی مسئله کښې لاندې تفصیل ضروری معلومیږی.

ددینی علم لپاره وتل

دشریعت په احکامو باندې عمل کولو کښې دتصلب او پختګی حاصلولو لپاره پداسې مدرسة البنات کښې زده کړه کول جائزدی چې دلاندی شرائطو اهتمام پکښې وی.

اول ښوونکې صرف ښځینه وی. دنامحرم سړی ښځه زده کړه کول جائز ندی دعدم جواز وجې په تفصیل سره راځی.

دوئم ښوونکې باید دژوند دورځنیو مسائلو او احکامو شرعیه په علم کښې ښه مهارت ولری.

دریم په عمل کښې باثباته وی او په زده کونکیو کښې هم دعمل دثبات پیداکولو فکر لری دمعاشرې دبدعاتو او منکراتو او فواحشونه دځان ژغورنې او دنورو دژغورلو درد ورسره وی خصوصاً هغه منکرات چې عام طور په تولنه کښې داخل شوی دی ، لکه بی پردګی ، تصویرونه ، غیبت وغیره.

خلورم دتعليمي نصاب ا... تعليم محور اومقصد صرف همه امور وى كوم چي پوره ذكر شول، يعنى دزندگى دروزمره متعلق احكام شرعيه او دهغو علم اوپرهغو باندى عمل كولو كښې پوخوالى پيداكول. په بل عبارت بايد وه وايو چې د آخرت فكر پيداكول داصلاحى عالماتو او فاضلاتو جوړولو والا تعليمى نصاب واجب الترك دې اودداسى القابو حاصلولو هوس واجب الترك دى.

پنځم مدرسې ته نى دمحرم راوستل او بيا دوباره بيرته بيول

په موجوده جامعات للبنات كښې داشرائط مذكوره مفقود دى

علاوه لدې نه په موجوده جامعاتو كښې دزده كړې كولو لاندى فسادات دى.

اول ترمدرسو پورې روزانه تګ راتګ او دجامعې نه دخروج او دخول په وخت كښې او دتلو راتلو دلارې دمتعين كيدو په وجه ددوى تعاقب بدمعاش اوبداخلاقه خلق كوى. او كوم موټر چې ددوئ لپاره متعين شوې وى نو دريور شرارت كوى، داخطرات ندى بلكه واقعات دى اوپه جامعه كښې دطالباتو مستقل اوسيدل تردې زيات خطرناك دى اګر كه انتظامات څومره هم بهتر وى.

دويم: دكور دسمبالولو دصلاحيت څخه بى برخى كيدل.

دريم دكور كاركول دخپل شان خلاف ګڼل

خلورم دكوردكار لپاره خادمه ساتل چې هغه هم فاسقه وى ددين اوځان اوعزت اومال لپاره مهلكه ثابتيږى

پنځم په كورونو كښې دفارغې ناستې له وجې نه دنفسانى او شيطانى خطراتونه علاوه دجسمانى ورزش دفقدان له وجى دقلب اوقالب دواړو صحت بربادېدل.

شپږم. دجامعاتو نه پرفارغ شويو عالماتو اوفاضلاتوكښې دكبراو عجب مرض پيداكيدل.

اووم دقرآن اوحديث نه براه راست دمسائلو دتخريج شوق لرل چې ددين دتباهى اوشيوع الحاد لپاره دملادتيرحشيت لرى بلكه دفقهى دكتابونونه دغير مفتى لپاره مسائل را ايستل جائز ندى

اتم دغو عالماتو او فاضلاتوته دعلماؤ او فضلاؤ رشته نه پيداكيږى نو جهلاء اوفساق او فجار اوبى دين او ملحدين اومبتدعينو سره هم واده كوى چې پدى سره دعلم دين سخت توهين دې بلكه په حقيقت كښې ددين توهين دې

دپورتنيو حالاتوپه نظركښې نيولو سره ددغو جامعاتو داصلاح طرفته خصوصى توجه كول دعلماؤ فرض دى. بهتره او بى ضرره طريقه داده چې نجونې په خپلو كورونو كښې وى اومقصد مذكور ته درسيد لولپاره كوشش پرې وشى چې دهغې لپاره دلاندى خلورو امورو اهتمام كافى دې

اول تجويد القرآن الكريم

دويم دبهشتى زيور دجنتى كالى تعليم

دریم دکوم شیخ کامل دنصیحتونو لوستل

څلورم دکور دسنبالولو او دکور دکار کولو سلیقه پکښې پیدا کول او په هغې عادت کول دپورته ذکرشویو کارونو په پابندۍ کښې به څه محنت خامخا برداشت کول وی مګر که چیرته فکر آخرت وی نو دومره محنت کول هیڅ هم ندی څکه چې ددنیا دحاصلولو لپاره ددې په نسبت په زرګونو درجو زیات محنت اوسختی برداشت کولی شی

دنامحرمو سړیو درس ورکول په لاندې وجوهو سره ناجائزدی

اول هره ورځ دنامحرم په صحبت او مجلس کښې کیناستل

دویم تردیره وخته کیناستل

دریم دعلمی اشکالاتو دحل کولو او دافهام اوتفهیم لپاره داستاذ او طالباتو تر منځ بیابیا مراجعه کول

څلورم قرب مکانی دمجلس وعظ په نسبت زیات وی

پنځم طالباتی د ګوتو په شمار وی او داستاذ په نظر کښی مشخصې او معهودې وی په مجلس وعظ کښې عموماً داسی نه وی

شپږم دمعتبرو ذریعو څخه دامعلومه شوې ده چې استاذ د حاضری اخستلو لپاره دهرې طالبې نوم اخلی اوهغه جواب ورکوی چې په داسې کولو سره دجانبینو ترمنځ خصوصی معرفت اوزیات تعلق پیداکیږی

دوعظ دمجلسونو لپاره وتل

دکوم غیرمحرم عالم دوعظ مجلس ته په تللو کښې هغه مفاسد نه وی کوم چې دنامحرم استاذ ددرس په ورکولو کښې بیان شوی دی. سره لدې بیاهم ددې لپاره دا لاندې شرائط دی

اول د واعظ په علم او تقوی اوطریقه اصلاح باندې دوخت دعلماو اعتمادوی

دویم دبدعاتو او منکراتو او فواحشو کوم چې معاشره کښې داخل شوی دځان ساتلو زیات نه زیات زورورکوی

دریم دده دوعظ دوجی نه دصحیح مسلمان دجوړیدلو او دنورو دصحیح مسلمان جوړلو فکر پیدا شی او دمعاشری نه منکرات ختم شی

څلورم دپردې مکمل انتظام وی. دوعظ دځای په دروازه کښې هم باید دنارینه ؤ اختلاط نه وی اوحتی الامکان باید ترینه پرهیز وشی

پنځم ښځې باید چې په ښانسته لباس او دول سنګار اوزیب اوزینت او خوشبوئی کښې رانشی

شپږم په هر ځل باید لباس بدل نکړی لږ ترلږه باید تر یوې میاشتی پورې په هره حاضری کښې

یی باید یوه جوړه لباس اغوستی ...

اووم: دښځو دناستې ځای باید دسړیو او واعظ له مجلس څخه دومره لرې وی چې دلاسپیکر له آواز څخه بغیر دبل څه آواز هلته ونه رسیږی اوکه دامشکل وی نو خومره چې فاصله لرې وی نوښه خیره ده.

اتم: په هفته کښې دیوه وار څخه باید زیات نه وی، ددومره وقفې دمناسب والی په باره کښې ددین او دنیا ډیر شواهد موجود دی. دحضراتو فقهاء کرامو مطلق دحرمت دفیصلی نه دضرورت شرعیه په بناء دڅه ګنجائش دتلاش کولو دکوښښ کولو باوجود دښځو تبلیغ ته دوتلو دجواز په باره کښې کوم ګنجائش راونه وتلو. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۸ربیع الاول سنه۱۴۱۸هـ



دزینت اولباس احکام

دسړیو لپاره منع شوې رنګ

سوال: دسړیو لپاره دکوم قسم رنګ نه جامې جوړل مکروه دی؟ بینوا توجروا.

الجواب ومنه الصدق والصواب: په عصفرواوزعفرانو باندې رنګ شوې جامې دسړیو لپاره مکروه تحریمی دی که کوم رنګ بعینه دعصفرو یا زعفرانو په شان وی خود عصفر یا زعفران رنګ نه وی نودهغه استعمال جائز دې، دعصفراوزعفران له رنګ څخه بغیر نور ټول رنګونه جائز دی البته په احمر قانی کښې اختلاف دې دمختلفو اقوالو څخه یوقول داستحباب هم دې مګر ترجیح دکراهت تنزیهی قول ته ورکړل شوې، البته دسرد پګړۍ وغیره لپاره بالاتفاق بلاکراهت جائزدې.

قال فی شرح التنویر: وکره لبس المعصفر والمزعفر الاحمر والاصفر للرجال مفاده انه لایکره للنساء ولابأس بسائر الالوان وفی المجتبی والقهستانی وشرح النقایة لابی المکارم لابأس بلبس الثوب الاحمر ومفاده ان الکراهة تنزیهیة لکن صرح فی التحفة بالحرمة فافادانها تحریمیة وهی المحمل عند الاطلاق قاله المصنف قلت وللشرنبلالی فیه رسالة نقل فیها ثمانیة اقوال منها انه مستحب

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله فافادانها تحریمیة هذا مسلم لولم یعارضه تصریح غیره بخلافه ففی جامع الفتاوی قال ابوحنیفة والشافعی ومالک رحمهم الله تعالی یجوز لبس المعصفر وقال جماعة من العلماء مکروه بکراهة التنزیه وفی منتخب الفتاوی قال صاحب الروضة یجوز للرجال والنساء لبس الثوب الاحمر والاخضر بلا کراهة وفی الحاوی الزاهدی یکره للرجال لبس المعصفر والمزعفر والمورس

والمعبر ای الاحمر حریرا کان اوغیرہ اذا کان فی صبغہ دم والا فلا ونقله عن عدۃ کتب وفی مجمع الفتاوی لبس الاحمر مکروہ وعند البعض لا یکرہ وقیل یکرہ اذا صبغ بالاحمر القانی لانه خلط بالنجس ولوصبغ بقشر الجوز عسلیا لا یکرہ لبسه اجماعا اھ فهذہ النقول مع ماذکرہ عن المجتبی والقهستانی وشرح ابی المکارم تعارض القول بکراهة التحریم ان لم یدع التوفیق بحمل التحریم علی المصبوغ بالنجس اونحو ذلك (قوله وللشرنبلالی فیه رسالة) سماها (تحفة الاکمل والهمام المصدر لبیان جواز لبس الاحمر) وقد ذکر فیها کثیرا من النقول منها ماقدمناہ وقال لم نجد نصا قطعیا لاثبات الحرمة ووجدنا النهی عن لبسه لعلة قامت بالفاعل من التشبه بالنساء اوبالاعاجم او التکبر وبانتفاء العلة تزول الکراهة باخلاص النیة لاظهار نعمة الله تعالی وعروض الکراهة للصبغ بالنجس تزول بغسله ووجدنا نص الامام الاعظم رحمه الله تعالی علی الجواز ودلیلا قطعیا علی الاباحة نص الامام الاعظم رحمه الله تعالی علی الجواز ودلیلا قطعیا علی الاباحة وهو اطلاق الامر باخذ الزینة ووجدنا فی الصحیحین موجبة وبه تنتفی الحرمة والکراهة بل یثبت الاستحباب اقتداء بالنبی صلی الله علیه وسلم اھ ومن اراد الزیادۃ علی ذلك فعلیه بها. اقول ولکن جل الکتب علی الکراهة کالسراج والمحیط والاختیار والملتقی والذخیرة وغیرها وبه افتی العلامة قاسم وفی الحاوی الزاهدی ولا یکرہ فی الراس اجماعا (رد المحتار ص۲۲۸ ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۷ ربیع الاول سنه ۷۵ ھ

دزعفرانی رنګ ازار بند حکم

سوال دممنوعه رنګونو څخه مثلا دسره زعفرانی رنګ څخه ازار بند استعمالول جائز دی اوکه ناجائز ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : بغیر له کراهت نه جائز دی، البته که د زعفرانو او یاد عصفرو په رنګ. رنګ شوی وی نو جائز ندی، نور رنګونه اګر که دزعفرانو په شان وی جائز دی، والله سبحانه وتعالی اعلم

دتور رنګ لباس حکم

سوال آوریدل شوی دی چی دسپیو اوښخولپاره دتوررنګ لباس اغوستل ندی پکار خکه چی درسول الله صلی الله علیه وسلم شریئ توره وه نو تور لباس اغوستل دحضور صلی الله علیه وسلم په شان کښې بی ادبی ده ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب . داخیال صحیح ندې حضرت صلی الله علیه وسلم دمختلفو رنګونو لباس استعمال کړې دې سپین رنګ هغه ته ترټولو زیات خوښ وو. دپورتنی خیال په بناء خوبايد

هر رنګ لباس ممنوع او خلاف ادب شي. البته دي کښه له ممنوع رنګونو څخه علاوه، دهر رنګ لباس جائز دي بلکه دحضور صلی الله علیه وسلم سره دمحبت او جذبه اتباع تقاضا خوداده چې حضور صلی الله علیه وسلم کوم شي خوښ کړي وی هغه غوره کړي سی. البته تور رنګ په لباس کښې چونکه شرعا اوعقلاً او طبعاً ناخوښ دي لدې وجې تور لباس ندی اغوستل پکار. خاص طور په اوسنی عصرکښې چې دا دشیعه ګانو شعار ګرځیدلی. نو لدې وجې نه لدی څخه احتراز لازم دي. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۷جمادی الاولی سـ۱۳۸۹ـه

دپتلون د اغوستلو حکم

سوال: په دور حاضرکښې پتلون اوشرټ اغوستل دومره رواج شوی دی چې دا اوس دکوم خاص قوم شعار ندې پاتې. همدارنګه په پخوانیو زمانو کښې دمسلمانانو اوغیرمسلمو په لباس کښې کومه امتیازی نښانه نه وه. داخبره ددې تقویت ورکوی چې (**من تشبه بقوم فهومنهم**) کښې چې کوم مشابهت ذکردې دلباس مشابهت پکښی ندې داخل. لدی وجی دپتلون اوشرټ اغوستل جائز معلومیږی جناب! تاسوموله خپل تحقیق څخه خبرکړئ مهربانی به مووی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب نن سبا اګر که پتلون او کوټ وغیره دمسلمانانو عام رواج ګرځیدلې لیکن سره له دې بیاهم دا انګریزی لباس بلل کیږی بالفرض که تشبه بالکفار هم نه وی لیکن په تشبه بالفساق کښې خوئی څه شك نشته. لهذا له داسی لباس څخه ځان ساتل ضروری دی

داویل صحیح ندی چې په پیره زمانه کښې دمسلمانانو او غیرمسلمو په لباس کښې کوم امتیازنه وو موجود. همدارنګه که په کومه زمانه یاعلاقه کښې امتیازنه وی نو دتشبه مسئله هم نه پیداکیږی دامسئله هلته پیداکیږی چې هلته دغیرمسلمو کوم خاص لباس نه وی په احادیثو کښې دغیرمسلمو دلباس څخه صراحتاً ممانعت وارد شوې

داتفصیل دهغه لباس په باره کښې دې چه له هغه څخه دواجب الستر اعضاو جوړښت او حجم په نظر نه راځی که چیرته پتلون دومره تنګ او چست وی چې دهغو اعضاو جوړښت او حجم په نظر راځی لکه چې نن سبا داسی پتلونونه په کثرت سره رواج دی نو داسی پتلون اغوستل او خلقوته ښودل او ورته کتل تول حرام دی لکه چې لغړ انسان ته کتل حرام دی.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله ولا يضر التصاقه) اى بالالية مثلا وقوله وتشكله من عطف المسبب على السبب وعبارة شرح المنية امالو كان غليظا لا يرى منه لون البشرة الا انه التصق بالعضو وتشكل بشكله فصار شكل العضو مرئيا فينبغى ان لا يمنع جواز الصلوة لحصول الستر اه قال ط وانظر هل يحرم النظر الى ذلك المتشكل مطلقا اوحيث وجدت الشهوة اه قلت سنتكلم على ذلك فى كتاب الحظر والذى يظهر من

كلامهم هناك هو الاول(رد المحتار ص۲۴۵ ج۱)

وقال ايضا: وعلى هذا لا يحل النظر الى عورة غيره فوق ثوب ملتزق بها يصف حجمها فيحمل ما مر على ما اذا لم يصف حجمها فليتامل(رد المحتار ص۲۳۳ ج۱) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۱ ربيع الثانى سنه۹۹ھ

دسپينو زرو دتار لباس استعمالول

سوال دزری دار لباس چې په هغه کښې دسپينو زرو تار لګيدلې وی د استعمالول او اغوستل څنګه دی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دښځو لپاره مطلقا جائز دی . دسړيو لپاره دوريښمو او سرو او سپينو دتارنه جوړشوې لباس وغيره په دې شرط جائز دی چې دهغه دپټه ياګل پلن والې له څلورو ګوتو څخه زيات نه وی د اوږدوالی يی کوم خاص حد نشته داسی پټه ياګل چې متعددوی نو دهغه په جواز کښې داشرط دې چې دهغو ترمنځ به له يوګل ياپټې څخه زياته فاصله وی که فاصله کمه يابرابره وی چې کتونکی ته توله توته وريښمی يازری په نظر ورځی نو جائز ندی.

قال العلامة التمرتاشى رحمه الله: يحرم لبس الحرير ولو بحائل على المذهب او فى الحرب على الرجل لا المرأة الا قدر اربع اصابع مضمومة وكذا المنسوج بذهب يحل اذا كان هذا المقدار والالا.

وقال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى: وظاهر المذهب عدم جمع المتفرق ولو فى عمامة كما بسط فى القنية.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: تحت (قوله الا قدر اربع اصابع الخ) وهل المراد قدر الاربع اصابع طولا وعرضا بان لا يزيد طول العلم وعرضه على ذلك او المراد عرضها فقط وان زاد طوله على طولها المتبادر من كلامهم الثانى ويفيده ايضا ماسياتى فى كلام الشارح عن الحاوى الزاهدى.

(قوله وظاهر المذهب عدم جمع المتفرق) اى الا اذا كان خط منه قزا وخط منه غيره بحيث يرى كله قزا فلا يجوز كما سيذكره عن الحاوى من تقوشه اربع اصابع وان زادت بالجمع مالم يركله حريرا تأمل. رد المحتار ص۲۰۲ ج۵ والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲ محرم سنه ۹۵ھ

دمصنوعی ريښمو حکم

سوال نن سبا مختلف قسم لباس رواج شوې دې چې دبعضې په باره کښې مشهوره ده چې دا وريښمی دې همدارنګه هغه دستمالونه چې عام طور داوګی اچولو لپاره استعماليږی دهغو هم يو قسم وريښمی مشهور دې آيا د داسی رختونو په عرف کښې دوريښمی بللو او دهغه په اعتبار کولو سره دسړيو لپاره حرام بللې شی؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: نن سبا عموماً مصنوعی وریښم استعمالیږی دهغې استعمال جائزدې اگر که په عرف کښې هغه ته وریښم وائی البته که دکوم لباس اصلی وریښم کیدل ثابت شی نو دسړیو لپاره یی استعمالول جائز ندی. والله تعالی اعلم۔ ۴۔ رجب سنه ۹۵ هـ

دسړیو اوښځوپه لباس کښې له یو بل سره مشابهت کول

سوال: دزعفران یا عصیرخخه علاوه نور تول رنگونه دسړیو لپاره جائزدی لیکن په بعضې علاقوکښې تور او سوررنگ دښځوشعار بلل کیږی او سپین لباس دسړیو شعار بلل کیږی آیا په دغو علاقو کښې دسړیو لپاره هغه رنگ لباس چی تر ښځو پوری مخصوص وی او دښځو لپاره هغه قسم لباس چه دهغی رنگ ترسړیو پوره خاص وی استعمالول جائزدی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: سړیو اوښځوته دیوبل تشبه اختیارول جائزندی لهذا په دغو علاقو کښې ددی شعار رعایت ضروری دې او دیو اوبل شعار اختیارول جائز ندی، والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۷محرم سنه ۹۲ هـ

پټکی بغیر له خولی نه په سرکول جائزدی

سوال: آیا دپټکی یا رومال نه لاندی خولی په سرکول سنت مؤکد دی اوکه غیر مؤکد او بغیر له خولی په پټکی کښې لمونځ کول مکروه دی اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که څه هم دجواز دبیان لپاره حضور صلی الله علیه وسلم دخولی نه بغیرهم پټکی استعمال کړې دې لیکن عام معمول دهغه مبارك دپټکی نه لاندی خولی استعمالول وو دسلف صالحینو او ددین دبزرگانو هم په همدی باندې عمل وو، لهذا له خولی نه بغیر پټکې ترل خلاف الاولی دی اومکروه ندی لمونځ کول ورسره بلا کراهیته جائز دی . والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۶ شوال سنه ۱۳۹۷ هـ

دواده په موقع باند دپټکی په سرکولو التزام

سوال: زمونږ په علاقه کښې دواده په موقع باندې دپټکی په سرکولو داسی التزام کیږی چی په نه پسرکوونکی باندی لعن طعن کولې شی او بغیر له پټکی واده کول له کوندی سره واده کولو پورې خاص دی آیاپه داسې حالاتوکښې د واده کولو په موقع پټکې ترل جائز دی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دمندوب کار دواجب په شان لازم گرځولوسره دهغه ترك كول واجب دی. لهذا دا التزام جائز ندی، والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۱محرم سنه ۱۴۰۱ هـ

دښځې دخپل خاوندلپاره سورخی اوپودر لگول

سوال آیا ښځه دخپل میړه دخوشحالولو لپاره په شوندو او مخ سرخی اوپودر لگولی شی او

که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب . دا کار دفهم دین اوعقل سلیم اوطبع مستقیم خلاف دي او دبې دینو خلکوشعار دي. والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۷ شوال ۱۳۹۷

دمحارمو په مخ کښې ډول اوسنګار کول

سوال . دښځې لپاره دخپلو محارمو لکه پلار ورونو وغیره په مخ کښې ډول اوسنګار کول اوله هغو سره کیناستل یا ورسره سفر کول جائز دی اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : فی نفسه جائز دی لیکن په موجوده زمانه کښې فسق غالب شوې دې دټلویزون او وی سی آر لعنت اخلاقی اقدار تر پښو لاندې کړی دی. بې حیایی او بد اخلاقی دې حدته رسیدلې ده چې پلار دخپلې لورسره او ورونو د خپلو خویندو سره دمخونو توره ولو واقعات شوی دی. لهذا دخپل خاوند نه ماسوا دبل محرم په مخ کښې هم ډول اوسنګار کول دخطرې نه خالی ندی اوله دې ځخه ځان ساتل ضروری دی. والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۲ذوالحجه ۱۳۹۷ هـ

دسړیو لپاره دنداسه استعمالول

سوال . دسړیولپاره فقط دغابښونودپاکوالی په خاطرنه په قصد د زینت سره دنداسه استعمالول څنګه ده ؟ چې احتیاط هم وکړل شی چې دهغې سوروالي په شوندو ښکاره نشی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : که په هغه احتیاط سره چې په سوال کښې ذکر شوې استعمال کړای شی نو جائز دی. والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۵محرم۱۴۰۱

دسړی لپاره دګوتمې داستعمال حکم

سوال . دسړی لپاره دکوم معدنی شی نه ګوتمې جوړول او استعمالول جائز دی اوکه نه او دکوم یونه ناجائز دی او دمقدارېې هم کوم تعین شته او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب . دسړی لپاره په دوه شرطونو ګوته (ګوتمې) په ګوته کول جائز دی

اول . دسپینو زرو به وی

دوېم . دپنځوماسو ((۴.۸۶)) ګرامه نه به کمه وی

قال العلامة التمرتاشی رحمه الله تعالی: ولا یتحلی الرجل بذهب وفضة الا بخاتم ومنطقة وحلیة سیف منها ولا یتختم بغیرها كحجر وذهب وحدید وصفر والعبرة بالحلقة لا بالفص.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله ولا یتختم الا بالفضة) هذه عبارة الامام محمد رحمه

تعالی فی الجامع الصغیر ای بخلاف المنطقة فلایکرہ فیہا حلقة حدید ونحاس کما قدمه وهل حلیة السیف کذلك یراجع قال الزیلعی رحمه الله تعالی وقد وردت اثار فی جواز التختم بالفضة وکان للنبی صلی الله علیه وسلم خاتم فضة وکان فی یدہ الکریمة حتی توفی صلی الله علیه وسلم ثم فی ید ابی بکر رضی الله تعالی عنه الی ان توفی ثم فی ید عمر رضی الله تعالی عنه الی ان توفی ثم فی ید عثمان رضی الله عنه الی ان وقع من یدہ فی البئر فانفق مالا عظیما فی طلبه فلم یجدہ ووقع الخلاف فیما بینهم والتشویش من ذلك الوقت الی ان استشهد رضی الله تعالی عنه (قوله فیحرم بغیرها) لما روی الطحاوی باسنادہ الی عمران بن حصین وابی هریرة رضی الله عنهما قالا نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن خاتم الذهب وروی صاحب السنن باسنادہ الی عبدالله بن بریدة عن ابیه رضی الله تعالی عنه ان رجلا جاء الی النبی صلی الله علیه وسلم وعلیه خاتم من شبه فقال له مالی اجد منك ریح الاصنام فطرحه ثم جاء وعلیه خاتم من حدید فقال مالی اجد علیك حلیة اهل النار فطرحه فقال یارسول الله ای شئ اتخذہ قال اتخذہ من ورق ولاتتمه مثقالا فعلم ان التختم بالذهب والحدید والصفر حرام فالحق الیشب بذلك لانه قد یتخذ منه الاصنام فاشبه الشبه الذی هو منصوص معلوم بالنص اتفاقی والشبه محرکا النحاس الاصفر قاموس وفی الجوهرة والتختم بالحدید والصفر والنحاس والرصاص مکروہ للرجال والنساء (ردالمحتار ص۲۲۹ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۹ محرم سنه ۱۴۰۱ هـ.

دښځو لپاره دزیوراتو اوګوتو حکم

سوال په بازار کښې چې کوم زیورات دښځو موندل کیږي هغه دمختلفو معدني شیانو څخه جوړشوي وي آیا ښځې ته دهر قسم شي زیورات او ګوتې استعمالول جائز دي ؟ یا په ې کښې څه تفصیل شته ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دښځې لپاره علاوه له ګوتې نور هرقسم زیورات چې دهرشي څخه جوړشوي وي جائز دي او ګوتې دسرو او سپینو جایز دي که هر څومره مقداروي او دنورومعدنیاتو څخه جوړشوي ګوتې ندي جائز

قال العلامه ابن عابدین رحمه الله تعالی تحت قوله فیحرم بغیرها وفی الجوهرة والتختم بالحدید والصفر والنحاس والرصاص مکروہ للرجال والنساء (ردالمحتار ص۲۲۹ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم. ,, ددي نه رجوع کول په تتمه کښې ذکر شوي دي،،

دسرپولپاره دسپینواودسروزروبټنی استعمالول

سوال یو عالم دسرپو لپاره دسپینو اوسروزرو دبټنو استعمال جائز بولي او دفتاوی رشیدیه حواله ورکوی آیا دا خبره صحیح ده ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب جائز ندی - **قال الحصکفی رحمه الله تعالیٰ: لا بأس بأزرار الدیباج والذهب** **(ردالمحتار ج۵ ص۲۲۶)**

بعضي ددي عبارت نه دسروزرو دبټنو دجواز فهم کړي چې هغه صحیح ندي خکه چې ازار غوټۍ ته ویلي شی بټن ته نشی ویلې غوټه دلباس تابع وی او بټن یې تابع نه وی لهذا دسرو یا دسپینو زرو د تار غوټه جائز ده او بټن بې ندی جائز . والله سبحانه وتعالیٰ اعلم

محرم سنه ۱۴۰۱ هـ

ارائشگاه ته تلل اوخان سنګارول اومیک اپ کول

سوال د نجونو دوادد په وخت کښې یا عامو ورخوکښې بیوټی پارلر ارائشګاه، ته تلل او میک اپ کول جائز دی او که ناجائز؟ پداسې حال کښې چې په دغه ټول فعل کښې کوم ناجائز عمل موجودنه وی لکه وریحی جوړول ب ویښته پریکول؟ بینو اتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب نه جائز ندی نه دي کښې لاندی فسادات موجود دی

اول دکوم حیز کړ لپاره بغیر ضرورته ونل دبنځی له کوره داجائزندی او دافعل خیله ناجائز دی **دویم** هلته ډېې دینه ښځو دصحبت اثر وی **دریم** له بې دینه خلکو سره مشابهت

خلورم داصلي صورت دبنولو فریب. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم بالصواب

۲۴ربیع الاول سنه ۱۴۱۷

شرعي پرتوګ اغوستل جائز ندی

سوال دیرخلك دپتلون په شان تنګ پرتوګ اغوندی چې هغه ته شرعي پاجامه وائ آیا داسې پرتوګ واقعاً شرعي پاجامه ده ؟ که چیرته وی نو دهغې حیثیت څه دی؟ سنت . مستحب یا صرف جائزدي ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب نن سبا چې کوم پرتوګ ته دشرعي پاجامې نوم ورکول کیږی هغه شرعي ندي بلکه شري پاجامه ده چې په هغه کښې اعضاء خصوصا دعورت غلیظه حجم بالکل واضح په نظر راځي اوسبا عموماً قمیص هم لندوی چې دلمانځه په وخت کښې اعضاء مخصوصه مستوره واضح طور سره خورند معلومیږی چه دهغې نه وجه لمونځ مکروه تحریمی ګرځی چې اعاده یې ددغه واجبه ده دلمانځه نه علاوه هم د ناستې او ولاړې په دوران کښې داعضاء

مخصوصه شکل لیدل کیږی چی دهغې کتل اونبودل دواړه حرام دی، لهذا دداسې پاجامې اغوستل جائز ندی

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: تحت قوله (وهي شيرباديه) الاول مفاده ان رؤية الثوب بحيث يصف حجم العضو ممنوعة ولو كثيفا لا ترى البشرة منه قال في المغرب يقال مسست الحبلى فوجدت حجم الصبي في بطنها واحجم الثدي على نحر الجارية اذا نهد وحقيقة صارله حجم اى نتو وارتفاع ومنه قوله حتى يتبين حجم عظامها اهـ وعلى هذا لا يحل النظر الى عورة غيره فوق ثوب ملتزق بها يصف حجمها فيحمل ما مر على ما اذا لم يصف حجمها فليتامل (رد المحتار ص ۲۳۲ ج ۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۳ ذي القعده سنه ۱۴۱۷ هـ

دناواده شوې ښځې لپاره ښګړی په لاس کول جائزدی

سوال ښځه که غیرشادی شده وی نو دهغې لپاره ښګړی په لاس کول ښکه دی ؟ په بعضې علاقوکښې دا دستوردې چی غیر شادی شده ښځې ته ښګړی نه وركوی په لاس کوی وائی چی بیا ښځه واده شوې معلومیږی. پداسی حال کښې چی زمونږ مشران په خالی لاسونو په غوصه کیږی ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : ښګړی په لاس کول ښځې ته په هر حال کښې جائز دی، دخینی خلکو دهغه معیوب ګڼل او دا د واده شوې ښځې علامه ګڼل غلط دی، البته دغیرواده شوې ښځې لپاره ډیر زیب اوزینت کول دفتنې دخوف له وجی جائزندی.

عن ابي موسى الاشعري رضي الله تعالى عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال حرم لباس الحرير والذهب على ذكور امتي واحل لاناثهم (الترمذي ص ۳۰۲ ج ۱)

قال العلامه العثماني رحمه الله تعالى: وفيه ايضا يجوز للنساء لبس انواع الحلي كلها من الذهب والفضة والخاتم والحلقة والسوار والخلخال والطوق والعقد التعاويذ والقلائد وغيرها (اعلاء السنن ص ۳۴۸ ج ۱۷) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۳ شعبان سنه ۹۸ هـ



دوینتانو احکام

ږیره خریل او لنډول له نورو ګناهونو څخه بدترینه ګناه ده

سوال زید دمحلې دمسجد امام دې ږیره قطع کوی که څوك ئې دږیرې په باره کې پوهوی نو

په خواب کښې وائی چې ډیره پریکول فسق دي او نن سبا نه نوی (۹۹) خلك سل په سلو کښې فاسق دی ډیره لږونکی هم په غیبت، دروغو وغیره ګناهونو کښې مبتلاء دی. لهذا امام او مقتدیان ټول یورنګ فاسقان دی پس هیڅاته هم پرما داعتراض کولو حق نشته. آیا د زید داخیال صحیح دی یانه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: دزید رایه بالکل غلطه اوفریب دی که یوسړی پټه زنا کوی اوبل علانیة علی الاعلان سربازار دزنا مرتکب کیږی یا یوسړی په پټه غلاکوی اوبل برسر عام علی الاعلان لاری نیسی او خلك لوټ کوی او دحکومت بغاوت کوی نو ظاهره خبره ده چې ددواړو په ګناهون کښې دځکمی او اسمان فرق دی لهذا هر سړی به دیوی درجی فاسق اوګناهګاروی لیکن دهغه دظاهر شریعت نه به مخالف نه وی او دګناه دمخفی والی له وجی نه به دډیره کمونکښې نه بدر جها کم وی ډیره کمونکښې علی الاعلان دشریعت مخالفت کوی اوپه دینا کښې دداسی شکل اوصورت سره ګرځی چې له لری یی هرسړی وینی نو فاسق او دشریعت مخالف یی بولی ددی مثال داسی دی لکه څوك چې دحکومت دبغاوت جنډه اوچته کړی او سرعام په بازارکښې ګرځی ددی شخص داسی ناقابل معافی جرم به حکومت هیڅ کله هم نظر انداز نکړی غرض داچې دزید ډیره کمول دنورو ګناهونو سره برابر ګڼل بدترین عذر دې زید دحکومت الهی اودشریعت مصطفوی علی صاحبها الصلوة والسلام دبغاوت جنډه پورته کړې ده او سرعام په بازارونو اوښارونو کښې ګرځی او له لرې نه هر عام اوخاص ته ځان دشریعت باغی ظاهروی دګناه په اظهار او اخفاء کښې دیر فرق دې نو څکه فقهاء کرامو په رمضان کښې دعلانیه روژه خوړونکو خلکو ددین داهانت له وجی وینه تویول او قتلول جائز ګڼلی دی.

دحضور صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دې چې دعلانیه اوڅکاره ګناه کوونکی نه سوا زما ټول امت لائق دعفوې دې ((کل امتی معافی الا المجاهرین)).(متفق علیه)

حضورصلی الله علیه وسلم ډیره کمول اوله ګوتو څخه ټکونه ایستل او ساز اوسرود آوریدل له هغو بدو اعمالو څخه شمیر کړی چې دهغو له وجی دلوط علیه السلام قوم هلاك کړې شوې دې. (درمنثور)

علاوه له دې نه نورګناهونو وقتی وی مګرد ډیری کمول خلورویشت (۲۴) ساعته موجود وی دخوب اوویښې په حالت کښې حتی دلمانځه وغیره عبادتو نو په حالت کښې هم دا ګناه موجوده وی لدې وجی نه دډیری کمول دنورو ټولو ګناهونو نه غټه ګناه ده

بیاد زید په هر سړی دغیبت اوکذب یا نورو ګناهونو کښې دمبتلاء کیدلو ګمان کول محض سوء ظن دې چې په خپل نفس باندې دنورو دقیاس کولو نه پیداشوې. په هر کیفیت دفاسق امامت مکروه تحریمی دې. دداسې شخص امام مقررکول ضروری دی چې ظاهر العداله وی ماهر

یی الله جل جلاله ته سپارل دی والله سبحانه وتعالی اعلم ۷جمادی الاولی سنه ۳۷۳

دږیری توهین کفردی

دامسئله په کتاب الایمان والعقائد جلداول کښې په تفصیل سره راغلې او زیات تفصیل یی په تتمه کښې دې

دښځو ویښته غونډول په سرباندی

سوال نن سبا ښځی په مختلفو طریقو سره ویښته جوړوی بعضې تول ویښته جمع کوی اوشاطرفته ئی غونډوی اوبعضې یی گومنځ کوی اوشاته ئ خوروی اوبعضې یی په خپل رخسار راپرېږدی پدې کښې کوم صورت جائز اوکوم ناجائزدی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: دښځو ویښته جمع کول اوبیا په سرباندی کېښودل ناجائزدی په حدیث کښې په دی باندی وعید راغلې چی داسی زنانه به دجنت خوشبوئی هم ونه وینی لدې نه علاوه نورې طریقی جائزې دی خو پدی شرط چی دنامحرم سرې نظرپری نه لگیږی او دکفاروسره مشابهت نه وی دویښتانو سخته پرده ده حتی چی د سپین سرو ښځو ویښته هم لیدل ندی جائز

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: صنفان من اهل النار لم ارهما قوم معهم سیاط کاذناب البقر یضربون بها الناس ونساء کاسیات عاریات ممیلات مائلات رؤسهن کاسنمة البخت المائلة لایدخلن الجنة ولایجدن ریحها وان ریحها لتوجد من مسیرة کذا وکذا رواه مسلم.

د شاطرفته ویښتان تړل جائز دی بلکه په حالت دلمانځه کښې افضل دی ځکه چی پدیکښې دویښتو په پرده کولو کښې آسانتیا وی والله سبحانه وتعالی اعلم ۸شوال سنه ۹۶ھ

مصنوعی ویښته لگول

سوال بعضی ښځې له بازار څخه مصنوعی ویښتان اخلی اوله خپلو ویښتانو سره ئی یوځای کوی چی ویښتان ئی اوږده ښکاره شی آیا داکار جائز دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب که چیرته داویښته دانسان وی نو دهغو لگول گناه کبیره ده اوپدې باندې په حدیث کښې لعنت وارد شوې دې او که دبل حیوان ویښتان وی نو جائز دی

قال العلامه ابن عابدین رحمه الله تعالی: تحت (قوله وشعر الانسان) لایجوز الانتفاع به لحدیث لعن الله الواصلة والمستوصلة وانما یرخص فیما یتخذ من الوبر فیزید فی قرون النساء وذوائبهن هدایه (ردالمحتار ص۲۰۰ ج۴)

والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۴ربیع الاول سنه ۹۹ھ

دښځې دمخ دوېښتانو دصفا کولو حکم

سوال دښځې لپاره دخپل مخ دوېښتانو صفا کول جائز دي که نه ؟ په حدیث کښې په نامصه اومتنمصه باندې لعنت واردشوې. ددې نه څه مراد دی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب دښځې لپاره دخپل مخ وېښتان صفا کول جائز دی که چیرته یې ږیره یا بریت راشي نو دهغو لرې کول مستحب دی دنامصه او متنمصه دلعنت مورد دادې چې دوریځو وېښتان وباسل شي او یوه نرۍ لیکه پرېښودل شي لکه چې دلالت کوي پدې باندې تعلیل بتغیر خلق الله که چیرته وریځې ډیرې پلنې وي نو دهغوبرابرول او عام حالت ته راوستل جائزدي غرض داچې تزئین مستحب دي او دعیب دلرې کولو استحباب نسبتاً زیات مؤکد دې او تلبیس او تغیر دخلق الله ناجائز دې

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله والنامصة الخ) فی الاختیار ایضا وفی المغرب النمص نتف الشعر ومنه المنماص المنقاش اھ ولعله محمول علی ما اذا فعلته لتتزین للاجانب والا فلو کان فی وجهها شعر ینفر زوجها عنها بسببه ففی تحریم ازالته بعد لان الزینة للنساء مطلوب للتحسین الا ان یحمل علی ما لا ضرورة الیه لما فی نتفه بالمنماص من الایذاء وفی تبیین المحارم ازالة الشعر من الوجه حرام الا اذا نبت للمرأة لحیة اوشوارب فلا تحرم ازالته بل تستحب اھ وفی التتارخانیة عن المضمرات ولا بأس باخذ الحاجبین وشعر وجهه مالم یشبه المخنث ومثله فی المجتبی تأمل (رد المحتار ص۲۳۹ ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۳ ربیع الاول سنه ۱۴۰۲ھ

دغاړې دوېښتانو دخرېیلو حکم

سوال دغاړې وېښتان خرېیل جائز دی که ناجائز؟ په امداد الفتاوی ص ۳۱۳ ج ۴ کښې دی چې دغاړې دوېښتانو خرېیلو ته فقهاء کرام مکروه ویلی دی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب په عالمګیری کښې دقفا دوېښتانو خرېیل مکروه نقل شوی دی.

((عن ابی حنیفة رحمه الله تعالی یکره ان یحلق قفاه الا عند الحجامة)) کذا فی الینابیع عالمګیری ص۳۵۷ ج۵.

په امداد الفتاوی کښې غالبا ددې عبارت قفا په معنی دګردن اخیستی او حکم یې لګولې دې. حقیقت دادې چې قفا ویل کېږی موخر الراس ته او په مؤخر العنق کښې هم استعمالیږی خو دسر حصه ده اوغاړه مستقله عضوه ده خپله په امداد الفتاوی ج اول ص۱۳ کښې دمسح ګردن په بیان کښې لیکل شوی چې خو دقفا د سرحصه ده او رقبه (غاړه) دهغه څخه خارجه ده. لهذا دخو خرېیل جه نزع کښې داخلیدو په وجه مکروه دی لیکن دغاړې (حلق) دکراهیت کومه وجه ظاهره

نده، حضرت گنگوهی رحمه الله فرمائی چې غاړه بیله عضوه ده اوسر جدا، لهذا دهارې وینسته خریبل صحیح دی او دسر جوړښت علیحده دغوړونو دنرمیو ترشا معلومیږي. او دهغه نه لاندې غاړه ده. فتاوی رشیدیه صـ ۴۴۷ لدی څخه معلومیږی چی په عالمگیری کښې قفا په معنا دخټ ده. والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۲صفحه سنه ۱۳۹۹هـ

دږیرې د راپیدا کولو لپاره دماشین چاړه ((بلید)) استعمالول

سوال یوسړې د درویشتوکالو دې مگر دهغه تراوسه ږیره اوبریت ندی راغلی آیاهغه ددې احتمال په بناء چی شاید ږیره مې راشی د ماشین چاړه استعمالولې شی اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب ددې ضرورت لپاره دماشین چاړې استعمالول جائز دی، والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۳رجب سنه ۱۳۹۹هـ

دنامه نه دلاندې ځای دحلق ((خریلو)) حدود

سوال دنوم نه لاندې وینسته ترکوم ځای پورې صفا کول پکاردی ؟ آیا له نوم څخه ترڅنگون پورې ؟ اوهمدارنگه د دبر یعنی د دواړه ورنونو ترمنځ چی کوم ژور ځای دی دهغه دوینستانو صفا کول مشکل دی او دپریکیدو خطره وی آیا ددبردوینستانو صفائی هم ضروری ده؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب دعانې حد دمثانی نه لاندې چی کوم هډوکې دې ددې نه شروع کیږی چی په دې باندې دا لاندې دلائیل موجود دی.

اول شرمگاه چی په کومه حصه کښې ده دهغې هډوکې دلته ختمیږی.

دویم دیومخصوص نوعیت گنو وینستانو ابتداء له همدې ځای څخه وی.

دریم دستر په بیان کښې چی ((الخط المار بالسرة المحیط بجوانب البدن)) نه ترعانې پورې دا یوه عضوه شمیرل کیږی، ددې نه معلومیږی چی دعانی او سرة (نوم) په مینځ کښې یوه عضوه فاصله موجوده ده اوله سره (نامه) نه بیادکناتیو ترهډوکی پورې یو نوعیت دې لهذا دا عضو فاصل دکناتیوتر هډوکی پورې ده اوله هغه هډوکښې څخه بیا عانه شروع ده.

څلورم دلفقهې په کوم کتاب کښې له نظره تیر شوی چی دخط تحت السرة نه عانه ده اوس مو هغه جزئیه پیدا نشوه کړای ممکنه ده چی دستر په بیان کښې تحت الخط المار بالسره نه اشتباه شوې وی، په هر حال دکناتیودهډوکښې په شروع کښې هم یو خط شته چه دعانه حد دې

پنځم دشامی د آینده عبارت الشعر القریب ـ الخ نه هم دا ثابتیږی چی د عانې ابتداء دنوم سره متصل نده نو دکناتیو دهډوکی نه واخله اعضاء ثلاثه او دهغو شاوخوا (گیرچاپیره) اودهغو محاذاة دورنونو هغه حصه چی دتلوث خطروی او ددبر وینستان صفاکول واجب دی، ددبر دوینستانو صفائی طحطاوی رحمه الله مستحب لیکلې ده مگر علامه ابن عابدین رحمه الله دهغې

حکم هم دعانې په شان بلکه دهغې نه هم زيات مؤکد ليکلې دے

قال الطحطاوی رحمه الله تعالی: العانة هي الشعر الذي فوق الذكر وحواليه وحوالي فرجها ويستحب ازالة شعر الدبر خوفا من ان يعلق شيء من النجاسة الخارجة فلا يتمكن من ازالتها بالاستجمار (طحطاوی علی المراقی ص۲۸۳)

وقال ابن عابدين رحمه الله تعالی في فصل في الاحرام والعانة الشعر القريب من فرج الرجل والمرأة ومثلها شعر الدبر بل هو اولی بالازالة لئلا يتعلق به شيء من الخارج عند الاستنجاء بالحجر (رد المحتار ص۴۸۱ ج۲)

والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۴ محرم سنه ۱۴۰۱ھ

دنوم نه د لاندې ويښتانو دصفائی لپاره دپوډر استعمال

سوال دنوم دلاندی ويښتانو دصفائی مستحب طريقه کومه ده؟ په قيچی پريکول يا خريل يا له بيخه ويستل او په اوسنی زمانه کښې چی کوم کريم يا پوډر استعماليږی دهغې استعمال دشريعت له مخی څنګه دی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دسريو لپاره په چاړه وغيره خريل او دښځو لپاره له بيخه ويستل مستحب دی، دکريم اوپوډر استعمال هم جائز دې.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالی تحت (قوله ويستحب حلق عانة) قال في الهندية ويبتدء من تحت السرة ولو عالج بالنورة يجوز كذا في الغرائب وفي الاشباه والسنة في عانة المرأة النتف (رد المحتار ۲۶۱ ج۵)

دسر دويښتانو دجائز او ناجائز صورتونو تفصيل

سوال يو خودوستانو يو انجمن (تولنه) جوړکړې دې ددې انجمن لاندی خوتعليمی ادارې چليږی دمستحقو طلباء رعايت هم کيږی. دې ادارې دښومسلمانانو دپيدا کولو عزم کړې دې لکه څنګه چی ددې اداری داهتمام لاندی پر چيلډونکو مکتبونو اوکالجونو کښې دقرآن کريم ناظره ښودل دينی معلومات دقرآن کريم ترجمه دحديثو دعاګانی او رياض الصالحين او دعربی ژبې صرف او نحو هم ويل کيږی چی ددې لپاره ددينی مدرسو دعالمانو اومستندو پوهانو خدمات هم حاصل دی

دويمه خبره داده چی دداسې سړی مقرر کول اوپه کارګمارل هم منع دی څوک چی ددين اسلامی دوضع قطع خلاف وی يا هغه دکومی ظاهری ګناه عادی وی يا لمونځ نه کوی وغيره وغيره په دې سلسله کښې انجمن (تولنه) په خپلو قواعدو باندې په سختی سره پابندی کوی ترڅوپه ټول چاپيريال باندې دينی رنګ غالب شي

زدکونکوته هم دوعظ اوتقرير په ذريعه ترغيب ورکول کيږی چی دسنتو پابند اوومسيږی او په

شریعت کښې چې کوم کارونه منع دي له هغو څخه ځان وساتي
اوس دانجمن په انتظامیه او مدرسینو کښې اختلاف پیداشوې داختلاف قصه داده چې انتظامیه وائي چې دنورو ملازمینو په شان استاذان هم باید خپله وضع قطع په دین برابره کړي چې په هغو کښې دسنت مطابق ږیره دسر ویښتان اولباس ته دمظهرخارجي دوجې نه اولیت حاصل دې اختلافي نقطه داده چې بعضې مدرسین «دانتظامیې په قول» انګریزي ویښتان ساتي اوپر دې اصرار هم کوي. مشکل دادې چې داهغه مدرسین دي چې عالم اوفاضل دي لدې وجې نه انتظامیه پخپل موقف ورپېژندلو کښې مشکلات محسوسوي چې داخلك خپله خانونه حاکمان بولي
داحضرات فرمائي که چیرته داخبره داسې وي نو مونږ په دیني مدرسو کښې په کلونو درسونه ویلي دي او زمونږ دویښتانو داحال وو نو زمونږ بزرګانو مشرانو مونږ ولې نه منع کولو ؟ لدې څخه معلومیږي چې دادومره ضروري خبره نده.
اوکله وائي چې زمونږ ویښتان انګریزي ندي بلکه مونږ په قیچي برابر کړي دي اوکله وائي چې پدې کارونو کښې اتباع ضروري نده ځکه چې دا عادتي سنت دي.
اوس ددېرې بحث او مباحثې څخه وروسته داطې شوه چې ستاسو څخه فتوي وغواړو لهذا تاسو دمهرباني له مخې دلاندې سوالونو خوابونه راکړئ که تاسو دهریو ترتیب وارخواب راکړئ دابه ستاسې ډیره مهرباني وي
اول . دانګریزي ویښتانو تعریف څه دي؟ داسې تعریف په سلیسه اوردو کښې وکړئ چې هر خاص او عام ورباندې پوه شي چې دهر چا ویښتان اووینې یا اندازه کړې شي نو معلوم شي چې انګریزي دي یا اسلامي
دویم : آیا انګریزي ویښتان ساتل ناجائزدي.
دریم . که ناجائز وي نو کوم قسم ناجائز دي؟ ځکه دکومو مدرسینو ذکر چې مخکښې وشو هغوئ وائي نا جائز هم څوقسمه دي. انګریزي ویښتان مکروه دي چې معمولي خبره ده تاسو بیان کړئ چې حرام دي اوکه مکروه؟ آیا دمکروه ارتکاب کول جائز دي ؟
څلورم که مکروه هم وي دبیان شوي صورت په نظر کښې نیولو سره مدرسینو ته ددې شدت ندې پکار په داسې حال کښې چې هغوي عالمان او فاضلان دي او داخلك دزده کونکو او عملي لپاره نمونه دي.
پنځم دا مدرسین داخبره هم کوي چې دسر خریيل مثله ده آیا دسر دویښتانو خریيلوته مثله ویل جائز دي .
شپږم دا مدرسین داهم وائي چې څوك د ویښتان صفاکړي هغه احساس دکمترۍ کوي او دا پرمونږ څپله تیرشوي دي لهذا تاسو زده کونکوته دسر خریيلو ترغیب مه ورکوئ ځکه چې هغوئ

احساس دکمتری کوی

اوم آیا دسرخریلو سره احساس دکمترئ کومه معقوله خبره ده؟

الجواب باسم ملهم الصواب اول دوېښتانو ټول جائز او ناجائز صورتونه لیکلې شی او دهغې څخه وروسته دسوالونو جوابونه لیکلې شی:

جائز صورتونه دوېښتانو دساتلو لپار درې دی: **یو دا** چی ټنی پرېښودل او دهغو درې قسمونه دی اول داچی ترغوږونو پورې وی، دیته په عربی کښې «وفره» ویل کیږی. دویم: دغوږونو او اوږو ترمنځ وی، دیته «لمه» ویل کیږی. دریم: تراوږوپورې وی، دیته «جمه» ویل کیږی.

دویم حلق یعنی دټول سرخریل.

دریم دټول سر وېښتان برابر لنډول پدې ټولو کښې اولنې صورت غوره دې، بیا دویم صورت اوبیا د دریم صورت ګنجائش شته.

په دی کښې دهیڅ اختلاف نشته چی ټنی پرېښودل سنت دی، البته دحلق سنتیت کښې اختلاف دی: علامه طیبی رحمه الله دحضرت علی د دائمی عمل له وجی مسنون ګڼلی، امام طحاوی هم ددې سنتیت نقل کړې دې، حافظ ابن حجر او ملاعلی قاری رحمهما الله په اباحت محمول کړې دې په هر حال ددې په جواز کښې هیڅ شبه نشته.

دماشومانو دتربیت په خاطر دهغوئ سرونه خریل افضل بلکه دغلبۀ فساد له وجی ضروری دی

اخرج الامام ابوداود رحمه الله تعالی عن علی رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال من ترك موضع شعرة من جنابة لم یغسلها فعل کذا و کذا من النار. قال علی رضی الله عنه فمن ثم عادیت راسی فمن ثم عادیت راسی فمن ثم عادیت راسی وکان یجز شعره رضی الله تعالی عنه.

قال العلامة السهارنفوری رحمه الله تعالی وبهذا الحدیث استدل الطیبی علی سنیة حلق الراس لتقریره صلی الله علیه وسلم ولانه من الخلفاء الراشدین الذین امرنا بمتابعة سنتهم ورد علیه القاری وابن حجر فقالا ان فعله رضی الله تعالی عنه اذا امرنا بمتابعة سنتهم ورد علیه القاری وابن حجر فقالا ان فعله رضی الله عنه اذا کان مخالفا لسنة علیه الصلوة والسلام وبقیة الخلفاء رضی الله عنه اذا کان مخالفا لسنة علیه الصلوة والسلام وبقیة الخلفاء یکون رخصة لاسنة (بذل المجهود ص ۱۵۲)

وعن عبدالله بن جعفر رضی الله عنهما ان النبی صلی الله علیه وسلم امهل ال جعفر ثلاثا ان یاتیهم ثم اتاهم فقال لاتبکوا علی اخی بعد الیوم ثم قال ادعوا الی بنی اخی فجیء بنا کانا افرخ فقال ادعوا الی الحلاق فامر فحلق رؤسنا.

قال الشیخ السهارنفوری رحمه الله تعالی: وفیه ان ان الکبیر من اقارب الاطفال یتولی امرهم وینظر فی

مصالحهم من حلق الراس وغيره (بذل المجهود ص۶۶ ج۹)

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وفي الروضة للزندويستي ان السنة في شعر الراس اما الفرق او الحلق وذكر الطحاوي رحمه الله تعالى ان الحلق سنة ونسب ذلك الى العلماء الثلاثة (رد المحتار ص۲۶۰ ج۹)

وكذا في الهندية عن التتارخانية وزاد: يستحب حلق الراس في كل جمعة كذا في الغرائب (عالمگيرية ص۳۵۷ ج۵)

دویښتانو ناجائز صورتونه

قزع یعنی دسر د بعضې حصې ویښتان خریل او بعضې پرېښودل. یا بعضې زیات کمول او بعضې لږ. په حدیث کښې له داسې ویښتانو نه صراحتاً ممانعت راغلې دې **كما سنذكر**

دویم داسې ویښتان ساتل چې دکفارو او فساقو شعار وی دا دتشبه بالکفار والفجار له وجې ممنوع دی. البته په دی کښې داتفصیل دی چې دهرې زمانې دکفاروا و فساقو شعار ته اعتبار دې

اخرج الامام ابوداود رحمه الله تعالى عن ابن عمر رضي الله عنهما قال نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن القزع والقزع ان يحلق راس الصبي فيترك بعض شعره.

وعنهما رضي الله تعالى عنهما ان النبي صلى الله عليه وسلم نهى عن القزع وهو ان يحلق راس الصبي ويترك له ذؤابة.

قلت وليس هذا مختصا بالصبي بل اذا فعله كبير يكره له ذلك فذكر الصبي باعتبار العادة الغالبة.

وعنهما رضي الله تعالى عنهما ان النبي صلى الله عليه وسلم راى صبيا قد حلق بعض راسه وترك بعضه فنهاهم عن ذلك فقال احلقوه كله او اتركوه كله.

قال النووي رحمه الله تعالى: مذهبنا كراهة مطلقا للرجل والمرأة لاطلاق الحديث وهي كراهة تنزيه وكذلك كرهه مالك والحنفية رحمهم الله تعالى.

وعن انس بن مالك رضي الله تعالى عنه قال كانت لي ذؤابة فقالت لي امي لا اجزها كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يمدها ويأخذ بها.

وقيل ان ذؤابة انما يجوز اتخاذها للغلام اذا كانت مع غيرها من الشعور التي في الراس واما اذا حلق شعره وترك له ذوابة فهو القزع الذي نهى عنه رسول الله صلى الله عليه وسلم.

وعن الحجاج بن حسان قال دخلنا على انس بن مالك رضي الله تعالى عنه فحدثتني اختي المغيرة قالت وانت يومئذ غلام ولك قرنان او قصتان فمسح راسك وبرك عليك وقال احلقوا هذين او قصوهما فان هذا زي اليهود

وهذا يدل على ان الرواية المتقدمة عن انس رضي الله عنه قال كانت لي ذؤابة لا يدل على جواز ذوابة مطلقا

بل الظاهر ان المنهی عنه غیر البعض فیه فالرخصة انما هی اذا کان جمیع شعر الراس موجودة وکانت الذوابة طویلة من سائر الشعور واما اذا کان البعض محلوقا والذوابة باقیة فلا رخصة فیه (بذل المجهود ص۸۰ج۶)

وقال الحافظ العسقلانی رحمه الله تعالی: قال النووی رحمه الله تعالی الاصح ان القزع ما فسر به نافع رحمه الله: قال النووی رحمه الله الاصح ان القزع ما فسر به نافع رحمه الله وهو حلق بعض راس الصبی مطلقا ومنهم من قال هو حلق مواضع متفرقة منه والصحیح الاول لانه تفسیر الراوی وهو غیر مخالف للظاهر فوجب العمل به. وقلت الا ان تخصیصه بالصبی لیس قیدا . قال النووی رحمه الله اجمعوا علی کراهیة اذا کان فی مواضع متفرقة الا للمداواة اونحوها وهی کراهة تنزیه ولا فرق بین الرجل والمراة وکرهه مالك فی الجاریة والغلام وقیل فی روایة لهم لا باس به فی القصة والقفا للغلام والجاریة والغلام قال ومذهبنا کراهته مطلقا قلت حجته ظاهرة لانه تفسیر الراوی واختلف فی علة النهی فقیل لکونه یشوه الخلقة وقیل لانه زی الشیطان وقیل لانه زی الیهود وقد جاء هذا فی روایة لابی داود (وبعد سطر) ویمکن الجمع بان الذوابة الجائزة اتخاذها ما یفرد من الشعر فیرسل ویجمع ما عداها بالضفر وغیره والتی تمنع ان یحلق الراس کله ویترك ما فی وسطه فیتخذ ذوابة وقد صرح الخطابی بان هذا مما یدخل فی معنی القزع والله اعلم (فتح الباری ص۳۰۸ج۱۰)

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله: وفی الذخیرة ولا باس بان یحلق وسط راسه ویرسل شعره من غیر ان یفتله وان فتله فذلك مکروه لانه یصیر مشبها ببعض الکفرة والمجوس وفی دیارنا یرسلون الشعر من غیر فتل ولکن لا یحلقون وسط الراس بل یجزون الناصیة تتارخانیة قال ویکره القزع وهو ان یحلق البعض ویترك البعض قطعا مقدار ثلاثة اصابع کذا فی الغرائب (رد المحتار ص۴۰۷ج۲)

وکذا فی الهندیة وزاد وعن ابی حنیفة رحمه الله یکره ان یحلق قفاه الا عند الحجامة کذا فی الینابیع (عالمگیریة ص۳۵۷ج۵)

په ذخیره کښې په ذکر شوی صورت دجواز کښې علت دنهی په تشبه بالکفار کښې منحصر گڼل شوې دې چې داخیال له دوه وجوهو څخه صحیح ندی. **اول**: تغیر فی خلق الله او تشویه په هرصورت کښې موندلې شي چې دنهی لپاره کافی دې. دا علت دنهی دبنده په خیال کښې وو وروسته ددې تصریح په فتح الباری کښې هم ومندل شوه ولله الحمد علی مواهبه الاکابر.

دویم دقزع لغوی معنی تولو صورتونو ته شامله ده

قال الحافظ رحمه الله: القزع بفتح القاف والزاء ثم المهملة جمع قزعة وهی القطعة من السحاب وسمی شعر

الراس اذا حلق بعضه وترك بعضه تشبيها بالسحاب المتفرق (فتح الباري ص۳۰۶ ج۱)

په وجوه مذکوره کښې امام نووی او حافظ بن حجر رحمهما الله اطلاق صحیح او واجب العمل ګرځولې دې ومرنصهما عن الفتح. دبذل مجهود وجه دتطبیق کښې مذکوره صورت دجواز ددې وجې نه ندې صحیح چې پدې کښې علت دنهی تغیر خلق الله موجود دې. امام نووی په قزع کښې دکراهیت تنزیهی قول کړې دې په دې باره کښې درې امور دی:

اول له ظاهر دحدیث نه او تعلیل دتغیر خلق الله نه کراهت تحریمی ثابتیږی.

دویم دوام په کراهت تنزیهی سره بیا کراهت تحریمی ګرځی.

دریم دا صورت په هغه وخت کښې دې چې تشبه بالکفار نه وی کله چې له تغیر الخلق سره تشبه بالکفار هم یوځای شی نو کراهت تحریمی کیدل ظاهر دی.

په مرتب ډول د سوالونو جوابونه

اول اودویم په فیشن کښې ورځ په ورځ تبدیلیانې راځی مګر دانګریزی دور له ابتداء نه تر اوسه پورې داکار ددې فیشن دیوجزء لازم او قدر مشترك په طور راروان دې چې وینښتان دځینې ځای واړه او دځینی ځای غټ وی ګویا دافیشن هلته پوره اومکمل کیدای شی چې په وینښتانو کښې یوشان والې نه وی. دیو رنګ والی فقدان لکه څنګه چې په کمولو سره وی په خریلو سره هم وی، لکه چې دغوړونو شاوخوا خریل معمول دی.

داصورت چې وینښتان دټول سریو برابرنه وی دحضور صلی الله علیه وسلم د ارشاداتو او دفقهاء کرامود نصوصو څخه په واضح طور ممنوع دی. برابره خبره ده که دکوم فاسق یا کافر قوم شعاروی او که نه وی، که دفساقو او فجارو شعار هم وی، نو ددې ګناه خونوره هم سخته ده او دالله تعالی ارشاد دی چې ((وَلَا تَرْكَنُوٓا۟ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُوا۟ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ)) او حضور صلی الله علیه وسلم فرمائلی دی «**من تشبه بقوم فهومنهم**» او همدا راز فرمائی «**لاتتشبهوا باليهود والنصارى**» او فرمائی «**خالفوا اليهود والنصارى**».

دریم کله چې دیوشی ګناه کیدل واضح شو بیا دا ویل چې دا دکمې درجې ناجائز دی او دا دلویی درجې ناجائز ی. نودا سخته خطرناکه ګمراهی ده. دالله تعالی دنافرمانۍ نه دځان ساتلوپه ځای دا سپك ګڼل او دګناه دجائز کولولپاره خپلې بهانې جوړول دعامو مسلمانانو شان هم ندې خدانخواسته که دا حالت دخاتنه دعالم ویلو والا شی نو ددې په باره کښې داسې ویلې شی چې

شعر **چون کفراز کعبه برخیزد ازکجا آید مسلمانی**

دمکروه تحریمی او حرامو په مینځ کښې صرف دعقیدې په اعتبار سره فرق دې عملاً دواړه مساوی دی. دواړه ګناه کبیره دی او د دواړو عذاب برابر دې.

څلورم: علماء چې دټول امت لارښوونکي او مقتدا دی، نو ددوئ ډیره وړه نامناسبه خبره هم ډیره معیوبه گڼل کیږی او لږ کوتاهی دلکونو او کروړونو انسانانو دگمراهئ سبب گرځی اوخصوصاً چې مکروه تحریمی سپك شې وګڼل شی په دې کښی دکفر خطر دې.

پنځم د سرویښتان خریيل جائز دی دحضرت علی رضی الله عنه سنت دائمه دی او دحضور صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارك دې «**علیکم بسنتی وسنة الخلفاء الراشدین**». لهذا دې ته مثله ویل ډیره خطرناکه گمراهی ده.

شپږم دکمترئ احساس دتربیت دنه موجودوالی له وجی نه کیږی ظاهره خبره ده چې کله دتربیت ورکونکی حال داوی چې د حضرت علی اونورو نیکانو دشکل اوهیئت په ځای دفساقو او فجارو دشکل اوهیئت سره مینه لری، نو دهغې نه تربیت اخستونکی به هم دهمدوئ دلداده اودهغوئ په لار روان وی دهغوئ دصحیح تربیت ورکولو په وجه دصلحاؤ په هیئت باندې دفخرکولو جذبه پیدا کیږی. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۲ربیع الاول ۱۴۱۴ھ

دسرې لپاره کمڅئ جوړول جائز ندی

سوال که د سرې ویښتان ډیر لوئ او اوږده وی نو د هغو دساتنې اوحفاظت لپاره کمڅئ جوړول جائز دی اوکه ناجائز؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب جائز ندی

قال العلامة عالم بن العلاء الدهلوی رحمه الله تعالی: ویکره ان یصلی وهو عاقص شعره والعقص هو الاحکام والشد والمراد من المسالة عند بعض المشائخ ان یجمع شعره علی هامته ویشده بصمغ اوغیره لیتلبد وعند بعضهم ان یلف ذوائبه حول راسه کما تفعله النساء فی بعض الاوقات وعند بعضهم ان یلف ذوائبه حول راسه کما تفعله النساء فی بعض الاوقات وعند بعضهم ان یجمع الشعر کله من قبل القفا ویمسکه بخیط او خرقة کیلا یصیب الارض ان یجمع الشعر کله من قبل القفا ویمسکه بخیط او خرقة کیلا یصیب الارض اذا سجد (التاتارخانیة ص۱ ۱٦۱ ج۱)

قال العلامة الملا علی القاری رحمه الله تعالی: وکره عقص شعره وهو ان یشد ضفیرته حول راسه کما یفعله النساء او یجمع شعره فیعقده فی مؤخر راسه وانما کره لما روی مسلم عن کریب مولی ابن عباس رضی الله عنه ان ابن عباس رای عبدالله بن الحارث یصلی وراسه معقوص من ورائه فقال فجعل یحله فلما انصرف اقبل علی ابن عباس وقال مالك وراسی فقال سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول انما مثل هذا مثل الذی یصلی وهو مکتوف وفی شرح مسلم قال العلماء والحکمة فی النهی عنه ان الشعر یسجد معه ولهذا مثله بالذی

يصلي وهو مكتوف ولقول علي رضي الله عنه قال رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول انما مثل هذا مثل الذي يصلي وهو مكتوف وفي شرح مسلم قال العلماء والحكمة في النهي عنه ان الشعر يسجد معه ولهذا مثله بالذي يصلي وهو مكتوف ولقول علي رضي الله عنه قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا تعقص شعرك في الصلوة فانه كفل الشيطان رواه عبدالرزاق وعن ابي رافع قال نهى النبي صلى الله عليه وسلم ان يصلي الرجل وراسه معقوص رواه احمد وابن ماجه وفي الباب احاديث في الصحيحين وغيرهما (شرح النقاية ص۲۱۵ ج۱)

قال العلامة الشيخ ابراهيم الحلبي رحمه الله: ويكره ايضا العقص اي عقص الشعر وهو ضفره وفتله والمراد به في الجامع في هذه الموضع ان يجعل شعره على هامته ويشده بصمغ او ان يلف ذوائبه تغلية ذوابة بضم الذال المعجمة وبعدها همزة ممدودة ثم باء موحدة قال في القاموس هي الناصية والمراد هنا خصلة شعره حول راسه كما يفعله النساء في بعض الاوقات او ان يجمع الشعر كله من قبل اي من جهة القفا ويمسكه اي يشده بخيط او خرقة كيلا يصيب الارض اذا سجد وجميع ذلك مكروه اذا فعله قبل الصلوة وصلى يصيب الارض اذا سجد وجميع ذلك مكروه اذا فعله قبل الصلوة وصلى به على تلك الهيئة اما لو فعل شيئا من ذلك وهو في الصلوة تفسد صلوته لانه عمل كثير بالجماع ووجه الكراهة ماروى الطبراني عن الثوري عن مكحول بن راشد عن سعيد بن المقبر عن ابي رافع عن ام سلمة رضي الله تعالى عنها انه عليه السلام نهى ان يصلي الرجل وراسه معقوص وكذا رواه اسحق بن راهويه قال انبانا المومل انبه ام سلمة قال بلا شك واخرج الستة عنه عليه الصلوة والسلام امرت ان اسجد على سبعة اعضاء وان لا اكف شعرا ولا ثوبا وفي العقص كف الشعر فيكون منهيا (غنية المستملي ص۳۳۶) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۶ ذي القعدة سنه ۱۴۱۶ھ



حلال او حرام کسب

دسرو زرو جوړول

سوال: سره زر جوړول د شريعت له مخې صحيح دي او که نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: پدې کښې دمال او وخت ضائع کيدل دي له دې وجې ناجائز دي البته که چيرته څوک پدې فن کښې پوره ماهروي او سره زر جوړ کړي او دهغه په سروزرو کښې شک اوشبه نه وي نو بيا جائز دي په شرط ددې چې خلاف قانون نه وي.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالیٰ: (قوله علم الحرف) يحتمل ان المراد به الكاف الذى هو اشارة الى الكيميا ولاشك فى حرمتها لما فيها من ضياع المال والاشتغال بما لايفيد (الى قوله) وحاصله انه اذا قلنا باثبات قلب الحقائق وهو الحق جاز العمل به وتعلمه لانه ليس بغش لان النحاس ينقلب ذهبا اوفضة حقيقة وان قلنا انه غير ثابت لايجوز لانه غش كما لايجوز لمن لايعلمه حقيقة لما فيه من اتلاف المال اوغش المسلمين والظاهر ان مذهبنا ثبوت انقلاب الحقائق بدليل ماذكره فى انقلاب عين النجاسة كانقلاب الخمر والدم مسكا ونحو ذلك (ردالمحتار ص۳۲ ج۱) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۶ ذی الحجة سنــ۸۵ـه

دجوالی ((پنډی یا مزدور)) دمقررنرخ نه زيات أجرت اخستل

سوال: نن سبا حکومت دستیشن دمزدورانو لپاره اجرت ټاکلي دي، دمثال په توګه دیو من وزن پورته کولو څلور انی أجرت ټاکل شوي دي. لیکن عموماً مزدور ددې نه ډیر زيات أجرت غواړی که نه نو سامان نه پورته کوی، لهذا مسافر دمجبورئ له کبله په أجرت معلوملو راضی کیږی، آیا کوم أجرت چی مجبوراً معلوم کړې شی ددینه کم ورکول جائزدی؟ او مزدور ته دمقرره أجرت نه زيات أجرت اخستل جائز دی؟ بعضې وخت مزدور مزدوری نه معلوموی، واثی چی څومره ستا مرضی وی هغومره ورکړه، لیکن وروسته دحکومت دمقرره اندازې څخه زيات غواړی آیا پدې صورت کښې چی دحکومت دمقررکړې شوې اندازې څخه زيات وی او دمزدور د مطلوبه مقدارنه کم وی ورکول جائزدی اوکه نه ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: په مزدور باندې له حکومت سره په شوی معاهده باندی پابندی کول لازم دی او دهغې خلاف کول ګناه ده لیکن عموماً مزدورد هغه پابندی نه کوی لدې وجی نه مخکښې ورسره اجرت معلومول ضروری دی او معلوم کړې اجرت ورکول ضروری دی په مقرره أجرت باندی په مجبوره کولو کښې اختلاف دې کما حرره العلامة ابن عابدين رحمه الله فى بحث التسعير. لهذا مجبوره کول بهتر ندی بلکه جوازخلاف تقوی دی. والله سبحانه وتعالى اعلم

۸ رمضان سنــ۱۳۸۷ هـ

دټیکسی ډریورته له میټرنه زیاتی پیسی اخستل

سوال دټیکسی ډریور له سورلئ څخه دمیټر له حساب څخه په خلاف زیاته کرایه اخستل جائز دی اوکه ناجائز؟پداسی حال کښې چی دمیټرپه خلاف کرایه اخستل قانوناجرم دی ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په ډریورباندی دحکومت سره په لوظ نامه باندی پابندی لازمی ده له هغی خلاف ورزی کول ګناه ده خوسره له دې که چیرته زيات أجرت معين کړای شی نو دا اجرت اخستل حلال دی مګر میټر تیزول اوپه دوکه باندې زيات أجرت اخستل جائز ندی. دمیټر د

تیزولو په وجه که څومره زیات اجرت واخـسـل شی هغه حرام دي چی رسول یی بیرته خپل مالك ته فرض دی که دا ممکن نه وی نو په مسکینانو باندې یی صدقه کول فرض دی والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۸شوال سـنـ ۸۸هـ

دبانک اوبیمه کمپنئ او انکم ټکس وغیره محکمو کښې وظیفه اجراء کول

سوال : په بانك اوبیمه کمپنئ او دانکم ټکس په محکمه کښې چی هلته په سینما او موټرو او مکاناتو باندې دټکس دتشخیص اوتحصیل کارکیږی همدارنګه په کستم آبیاری کښې چی په هغې کښې دنشه یی توکو دواردولو ټکس اخستل کیږی په داسې ادارو کښې وظیفه اجرا کول څنګه دی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : بانك اوبیمه ربئ (سود) دي او دټکسونو دتشخیص مروجه طریقه ظلم دې او دهغو مصارف هم صحیح نه دی. لهذا په دغو ادارو کښې وظیفه اجرا کول صحیح ندی

قال الله تعالی: وتعاونوا علی البر والتقوی ولاتعاونوا علی الاثم والعدوان.

وعن انس رضی الله تعالی عنه قال لعن رسول الله صلی الله علیه وسلم فی الخمر عشرة عاصرها ومعتصرها وشاربها وحاملها والمحمولة الیه وساقیها وبائعها واکل ثمنها والمشتری لها والمشتری له (ترمذی ص۲۰۶ ج۱) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۳ ذی القعده سـنـ ۸۸هـ

په سینما کښې وظیفه اجراکول څنګه دی

سوال . په سینما کښې وظیفه اوملازمت کول څنګه دی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب په سینما کښې وظیفه کول له دوو وجوهو حرام دی : اول تنخوا له حرام آمدن څخه ورکول کیږی، دویم که دده په ذمه کښې کوم ناجائز کارهم نه وی بیاهم تعاون علی الاثم خو دې چی هغه په نص قرآنی سره حرام دې (وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ) لهذا د هغه اجرت اخستل حرام دی . والله سبحانه وتعالی اعلم ۹ربیع الاول سـنـ ۱۳۸۹هـ

دسینما اوبانک اونورو سودی ادارو په آبادی جوړولو کښې مزدوری کول

سوال دسینما اوبانك اوبیمه کمپنئ دعماراتوتعمیر کول څنګه دی ؟ اوددې تعمیر نه چی کوم أجرت حاصل شی هغه حلال دې او که حرام دې ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب ددې په باره کښې کومه صریحه جزئیه لاس ته رانغله اونه داسې جزئیه لاس ته راغله چی په هغې باندې قیاس کول بلاشبه تام وی. له قواعدو څخه دا رجحان

معلومیږي چې که دعمارت نمونه داسې وي چې دهغې څخه دسینما یا بنك وغیره نه ماسواد بل څه کار لپاره په سهولت سره نشي استعمالیدې نو دهغې أجرت اخستل ناجائز دی او که نه نو بیا جائز دی دا لاندې دوه جزئیې ددې مشابه معلومیږي

۱ــ قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وجاز تعمير كنيسة وحمل خمر ذمي بنفسه اودابته بأجر لاعصرها لقيام المعصية بعينه (ردالمحتار ص۲۵۳ ج۵)

۲ــ وقال العلامة السرخسي رحمه الله : واذا استأجر الذمي من المسلم بيتا ليبيع فيه الخمر لم يجز لانه معصية فلا ينعقد العقد عليه ولا اجر المسلم بيتا ليبيع فيه الخمر لم يجز لانه معصية فلا ينعقد العقد عليه ولا اجر له عندهما وعند ابي حنيفة رحمه الله تعالى يجوز والشافعي رحمه الله تعالى يجوز هذا العقد لان العقد يرد على منفعة البيت ولايتعين عليه بيع الخمر فيه فله ان يبيع فيه شيئا اخر يجوز العقد لهذا ولكنا نقول تعرضهما بالمقصود لايجوز اعتبار معنى اخر فيه وماصرحا به معصية (مبسوط ص۳۸ ج۱۶)

مګر په اوله جزئیه باندې په دقیاس کولوسره دجواز په قول باندی داکلام دې چې کنیسه کافر استعمالوی اوسینما مسلمان اوپه دویمه جزئیه دقیاس کولو سره په قول دعدم جواز باندې استدلال هم ددې وجې نه تام ندی چې هلته خپل کور دمعصیت داستعمالولو لپاره ورکوی اوپه زیربحث مسئله کښې خپل څه دمعصیت په استعمالولو کښې نه ورکوی بلکه دمعصیت د استعمالولو د مکان دتعمیر کارکوی، نو لدې وجې نه رجحان دعدم جواز تائید کوی والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۹ربیع الاول سنه ۱۳۸۹هـ

دکوټ اوپتلون دجوړولو آمدن

سوال دیوسړی آمدن صرف دپتلون جوړولو څخه دې آیا ددې سړی آمدن حلال دې ؟ اوکه آمدن له کوټ پتلون او شرټ اوشیروانی او قمیص وغیره دګنډلو څخه حاصل شوی وی، نو ددې څه حکم دې ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب پتلون که چیرته دومره تنګ وی چې داعضاء مستوره حجم په نظر راځی نو دهغه اغوستل او ګنډل حرام دی، لهذا لدې څخه آمدن هم حرام دې او که دومره تنګ نه وی بلکه آزاد وی نو دهغه د اغوستلو اوګنډلو ګنجائش شته مګر خلاف تقوی دې، په هرصورت کښې دحرامو تصدق واجب دی والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۰ربیع الاول سنه ۸۹هـ

دهغه مال اخستل چې حکومت ضبط کړې وی

سوال له بهر ملکونو څخه چې تجاران کوم خلاف قانون اشیاء راغواړی بعضې وخت حکومت

هغه ضبط كړى اوبيايى ليلام كړى او په ارزانه قيمت باندې يى خرڅوى او لاس ته راغلې پيسى يى حكومتى خزانه كښې داخلوى، له حكومت څخه د داسې مال اخستل جائزدى او كه ناجائز؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : پدې باندې دحكومت قبضه ظلم دې،مالى جرمانه په هرحال ناجائزه ده كه چيرته اخستونكى ته علم وى نو اخستل يى جائز ندى، **قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: لايحل مال امرء مسلم الابطيب نفس منه**

قلت: وكل مال محترم حكمه حكم مال مسلم،والله سبحانه وتعالى اعلم. ۳جمادى الثانية سنـــ ۸۹هـ

په كسب كښې افراط جائز ندي

سوال يوسړې له سهارنه ترماښام پورې په كار كولو كښې مشغول دې آيا دا جائز دى او كه ناجائز ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د دنيا په گټلو كښې دومره غرقيدل چې په حقوق الله اوحقوق العباد كښې خلل واقع شى په جسمانى او دماغى صحت باندې بداثر وكړى جائز ندى.

قال الله تعالى ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تُلْهِكُمْ أَمْوَٰلُكُمْ وَلَآ أَوْلَٰدُكُمْ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ ۚ وَمَن يَفْعَلْ ذَٰلِكَ فَأُو۟لَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْخَٰسِرُونَ ﴿٩﴾ ﴾ والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۴ جمادى الاخره سنـــ ۹۱ هـ

په جلسه كښې چنده كول

سوال دمدرسې په سالانه جلسه كښې خلكو ته دچندې وركولو ترغيب وركول او چنده اخستل څنگه دى ؟ په داسې حال كښې اكثر خلك دترغيب اوترهيب په جوش كښې راشى او چنده وركړى؟ بينوا توجروا!

الجواب باسم ملهم الصواب كه دعامو خلكو جلسه وى او صورت همداسې وى چې څوك هم په چنده نه وركولو زره قدرى هم خپله بيعزتى نه محسوسوى او دبيان په طرز كښې هم تملق او ددين او اهل دين توهين نه وى، نو جائز دى اوكه نه نو ندى جائز. ددې تفصيل په رساله «الكلام البديع فى احكام التوزيع» كښې چې داحسن الفتاوى په اول جلد كښې تيره شوې ده موجود دې، والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۸جمادى الاخره سنـــ ۱۳۹۲هـ

له نورو ملكونو څخه سره اوسپين زر راوړل

سوال يوسړې حج ته روان دې بل سړې ورته وائى چې هلته دسروزرو قيمت كم دې لهذا تاسو

زما لپاره ځلور . پنځه تولې سره زر راوړئ زه به یې قیمت درکړم. آیا حاجی ته له هغه ځایه سره زر راوړل جائز دی ؟ آیا دهغه په حج خو کوم اثرنه غورځوی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب حج کیږی مگر دا کار کول جائز ندی. ځکه چی دا د ملك نقصان دې او قانون ماتول او دعزت خطره ده پکښې . والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۶شعبان سنه ۱۳۹۲هـ

په شیدو کښې اوبه گډول

سوال په شیدو کښې اوبه گډول اوبیا خرخول څنګه دی؟ سره ددې چی اخستونکی ته هم خبر ورکړل شی که جائز وی نو آیا شیدې چی دالله تعالی یو نعمت دې په هغې کښې اوبه گډول گناه ده او که نه ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : که اخستونکی ته د اوبو دگډولو علم وی نو خرخول یې جائز دی که چیرته دوکه ورکول مقصود نه وی نو په شیدوکښې اوبه گډول کوم دعیب خبره نده، والله سبحانه وتعالی اعلم ۶ربیع الثانی سنه ۹۳هـ

قاچاق (سمگلنگ) کول

سوال قاچاق کول ، دقاچاق شوی مال خرخول او اخستل او په هغې کښې مدد کول څنګه دی ؟خوك چه د دغه کارونو مرتکب وی دهغه له مال نه خوراك کول جائز دی اوکه نه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : قاچاق دحکومت دقانون خلاف ورزی ده دملك نقصان او دعزت خطره ده لدی وجی نه جائز ندې د داسې مال خرید اوفروخت اوپه دې کښې تعاون کول هم جواز نلری مگر دهغه منافع حرامې ندی لهذا ددغو کارونو دمرتکب په طعام خوړلو کښې گناه نشته والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۰جمادی الاولی سنه ۱۳۹۶هـ

غیر طبیب لره دعلاج کولو پیشه اختیارول

سوال زه دتجربی په بنیاد دخلکو علاج کوم نه ۲۳ کالو راپدې خوا زما دا ذریعه دمعاش ده. زه دلسو کسانو یواځینې کفیل یم او زما عمر ۴۸ کا‌ل . دې. پریشانی داده چی بعضې وختونه دستنی (انجکشن) لگولو له وجی دمریض حالت گډوډشی. اسهال ورته شروع شی یابی هوشی وربانډی راشی. کله یوه ورځ پس مریض شی. آیا ددې سزا به ماته راکول کیږی او زه دا کار پریږدم اوکه نه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دکوم ماهر فن څخه دتعلیم حاصلولو نه بغیر دعلاج کولو پیشه غوره کول جائز ندی همدارنگه پدې کښې دحکومت د قانون دخلاف ورزی گناه هم ده تاسو خپله دقانون مطابق امتحان ورکړئ دکمپوډری یاهومیوپیتهك سند حاصل کړئ له هغې وروسته

داپیشه اختیارکړي.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: بل يمنع مفت ماجن يعلم الحيل الباطلة كتعليم الردة لتبين من زوجها اوتسقط عنها الزكاة وطبيب جاهل.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله: (قوله وطبيب جاهل) بأن يسقيهم دواء مهلكا واذا قوى عليهم لايقدر على ازالة ضرره زيلعي (ردالمحتار ص۳۰۲ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲ رمضان سنه ۹۸ هـ

له ناجائز محصول اخستو څخه دځان ژغورنې لپاره رشوت ورکول

سوال له یوښار څخه بل ښارته په سامان ورلو باندې حکومت محصول اخلي له دې نه دځان ساتلولپاره داتدبیر غوره کولې شي چې دبس دریور یا کنډیکټر ته څه پیسې ورکولې شي هغه دمعلومې ادې په ځای دسامان ښکته کولو چیرته بل ځای مال کوزوي. که په معلومه اډه کښې ځوك دمحصول والا پوښتنه وکړي نو دریور دبل کوم ځای یاښار نوم واخلي اوورته وائي چې موټر هلته ځي. کله خو هغه په خپله خبره کښې صادق هم وي چې موټر بل ښارته ځي اګر چه سامان په دې ښارکښې کوزوي اوکله موټر تر همدې ښاره پورې ځي کوم کښې چې سامان کوزوي دریور دروغ اووائي اوسامان له محصول څخه خلاص کړي دپوښتنې ځای دادې چې صاحب مال دریور یا کنډیکټرته کومې پیسې بطور رشوت ورکوي ددې ورکول اواخستل څنګه دي؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب صحاب مال ته ورکول مطلقا جائزدي او دریویاکنډیکټر څکه ورکول جائزدي چې په لاره کښې علاوه له محصول څخه دمال حفاظت له غلو وغیره څخه هم دهغه په ذمه وي والله سبحانه وتعالى اعلم بالصواب. ۲۴ جمادی الاولی سنه ۱۴۰۰ هـ

دطبیب دبې پرواهئ نه دځان ژغورنې لپاره رشوت ورکول

سوال بعضې وخت کوم مریض په شفاخانه کښې ترعلاج لاندې وي دمریض خپلوان د ډاکټر یاکمپیوټر دمراعات حاصلولو لپاره او مریض ته دښې توجه ورکولو لپاره کوم شې یا روپئ ورکوي آیا دا جائز دي ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب نه ، جائز ندي د ډاکټر دمراعات حاصلولو لپاره یا دبې اعتنایي نه دځان ساتلو لپاره د داسې رشوت ورکولو څخه د هغه عادت خرابیږي چې ددې له وجې ټول قوم دظلم ښکار ګرځي والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۴ جمادی الاولی سنه ۱۴۰۰ هـ

درشوت جائز او ناجائز صورتونه

سوال نن سبا هرطرفته درشوت بازارګرم دې دیرې موقع داسې راځي چې شریف سړې هم به

رشوت ورکول مجبوریږی دجواز او عدم جواز دخابونو دنه معلوموالی له وجی سخته پریشانی وی او ډیرځله سخت نقصان برداشت کړي شی. لهذا داسې یوه جامعه ضابطه بیان کړئ چی مخې ته کیږودل شی او دهرې موقع حکم معلوم کړای شی ترڅو د احکامو شرعیه پابندی وشی او له نافرمانی څخه یې ځان وساتل شی. بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب درشوت ورکولو او اخستلو مختلف صورتونه دی. دهریو حکم ځانته لیکلې شی

اول له حکومت څخه قضاء یا داسې بل منصب حاصلولو لپاره

دویم له حاکم څخه دکوم شی د فیصلې کولو لپاره

دریم دظلم سره د اعانت کولو لپاره

په دغه درې وارو صورتونو کښې رشوت ورکول هم حرام دی او رشوت اخستل هم حرام دی حاکم نه که دحق منع کولوخطره وی نو دهغه دظلم ددفع کولو لپاره درشوت ورکول هم جائز ندی ځکه چی پدې سره دحاکم عادت خرابیږی چی په ټول قوم دظلم سبب ګرځی فهذا دخل فی قاعدة (ان الضرر الخاص يتحمل لدفع ضرر العام).

څلورم له چا څخه چی د ضرر رسولو خطره وی هغه ته رشوت ورکول جواز لری اودهغه لپاره یی اخستل حرام دی

پنځم د دفع مضرت یا جلب منفعت د واسطی جوړیدونکی یعنی صرف سفارش کونکی لپاره رشوت ورکول جائز او اخستونکی لپاره ناجائز دی. البته که دمینځ واسطی جوړیدونکی په ذمه کوم کارحواله شی نو هغه ته ددې اجرت اخستل جائز دی. پدې شرط چی هغه خپله په همدې کار کولو باندې قادر وی دبل چا قدرت ته اعتبار نشته.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: وفي الفتح الرشوة اربعة اقسام منها ما هو حرام على الاخذ والمعطي وهو الرشوة على تقليد القضاء والامارة الثاني ارتشاء القاضي ليحكم وهو كذلك ولو القضاء بحق لانه واجب عليه الثالث اخذ المال ليسوي امره عند السلطان دفعا للضرر او جلبا للنفع وهو حرام على الاخذ فقط وحيلة حلها ان يستاجره يوما الى الليل او يومين فتصير منافعه مملوكة ثم يستعمله في الذهاب الى السلطان للامر الفلاني وفي الاقضية قسم الهدية وجعل هذا من اقسامها فقال حلال من الجانبين كالاهداء للتودد وحرام منهما كالاهداء ليعينه على الظلم وحرام على الاخذ فقط وهو ان يهدي ليكف عنه الظلم والحيلة ان يستاجره الخ قال اي في الاقضية هذا اذا كان فيه شرط اما اذا كان بلا شرط لكن يعلم يقينا انه انما يهدي ليعينه عند السلطان فمشايخنا على انه لا باس به ولو قضى حاجته بلا شرط ولا طمع فاهدى اليه بعد ذلك فهو حلال لا باس به وما نقل

عن ابن مسعود رضی الله عنه من كراهيته فورع الرابع ما يدفع من دفع الخوف من المدفوع اليه على نفسه اوماله حلال للدافع حرام على الاخذ لان دفع الضرر عن المسلم واجب ولا يجوز اخذ المال ليفعل الواجب اهما فى الفتح ملخصا (ردالمحتار ص۳۰۲ ج۴) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۳۰ جمادى الاولى سنــ ۱۴۰۰هـ

دمختلفو ټکسونو حکم

سوال: انکم ټکس، ويلتهـ ټيکس، ګفټ ټيکس، سيل ټيکس، چولها ټيکس، چی دهر شادی شده جوړی څخه اخستل کيږی برابره خبره ده که هغه خوراك خپله پخوی او که تياره پخه اخلی او خوری بی شادی ټيکس په هره نکاح باندې، دحيواناتو دساتلو ټيکس چی په هغې کښې دميږی او وزی ټيکس د غوا اوميښی دټيکس نيم وی، پيدائشی ټيکس چی د هر ماشوم په پيدا کيدو سره اخستل کيږی، دچونګی محصول اودغه راز دنورو ټيکسونو شرعی حيثيت څه دې؟ همدارنګه په دغه محکمو کښې کارکول څنګه دی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: داټول ټکسونه ناجائز دی اوپه دغو محکمو کښې وظيفه اجرا کول هم ناجائزدی حکومت ته که چيرته ضرورت وی نو دټيکس لګولو دا لاندې شرائط دی:

اول: دحکومت مصارف دې داسراف اوتبذير څخه پاك کړې شی.

دويم: دپورته اواعلی طبّی مامورينوتنخوادې دافراط له درجې څخه داعتدال درجې ته راولی.

دريم: ټيکس دې دهر چا دحال مطابق ولګول شی يعنی دهغه آمدنی او مصارفوته دې نظر وکړل شی اوټيکس دې وربانډی مقررکړې شی.

مروجه ټيکس دحافظ غونداړې دې، دانکم ټيکس نه ماسوا نور ټول ټيکسونه ظاهره خبره ده چی په هر اميراو غريب باندې لګول کيږی، په انکم ټيکس کښې اګر چی آمدن ملحوظ وی خو د هغه شخصی مصارف په نظرکښې نه نيول کيږی، همدارنګه دجائيداد ټکس له هرصاحب جائيداد څخه په هر حال لازما اخستل کيږی اګر چه دهغه ذريعه د آمدن هيڅ هم نه وی، همدارنګه دجائيداد ټيکس دتشخيص داطريقه صريح ظلم او حرامه ده.

همدارنګه دحکومت په مصارفو کښې هم د محرماتو زياتوالې دې مثلا:

۱ - دحکومت الهيه اوداسلام دقانون نه نافذ کول او دهغه څخه عدم دفاع.

۲ - منکرات او فواحشو اوعريانی ته وده ورکول.

۳ - بل لهو اولعب او مسرفانه طرز اوطريقه والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۶ رجب سنــ ۱۴۰۰هـ

صراف ته په معروفه اندازه ګټه ورکول جائزدی

سوال صراف دسپینو زرو دزیوراتو په جوړولو کښې ګټه او دسروزرو په زیوراتو جوړلو کښې تامبه استعمالوی ددې وجی نه چی بغیرلدې ښخه زیورات نرم راځي خلك یی نه خوښوی. د خرڅولو په وخت ئی صراف خلکوته وائی چی پدې کښې ګټه او تانبه (مس) استعمال شوی. مګر قیمت به دسرواوسپینو اخلم خلك یی په خوشحالئ سره اخلی آیا داسې کول جائز دی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : هو ؛ جائزدی ، والله سبحانه وتعالی اعلم. ۹شعبان سنه ۱۴۰۰ھ

دمودودی د تفسیر تجارت جائز ندې

سوال : زید کتاب فروش دې له بازار ښخه مختلف کتابونه اخلی اوپه دوکان کښې یی ږدی دپوښتنی ور خبره داده چی دمودودی صاحب دتفسیر (تفهیم القرآن) تجارت جائز دې اوکه غیر جائز ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : نه ؛ جائز نه دی ، والله سبحانه وتعالی اعلم.

۶صفر سنه ۱۴۰۱ھ

په دار الحرب کښې سود کول او دشرابو په کارخانه کښې ملازمت اجرا کول

سوال : په دار الحرب کښې په بانك انشورنس او دکافرانو په نورو اداروکښې اودشرابو په کارخانو کښې کار کول څنګه دی. آیا جائزدی اوکه ناجائز؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب په بانك اونشورنس او نورو سودی اداروکښې وظیفه اجراء کول ناجائز دی ځکه چی سود دکفارو لپاره هم حرام دې پداسې ادارو کښې کارکول داعانت علی المعصیة له وجی حرام دی، قال الله تعالی ﴿وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾ د اجرت د حراموالی دویمه وجه داده چه دا له حرام مال ښخه دی.

که چیری کافر د شرابو کاروبار کوی نو په هغې کښې دمسلمان لپاره دکار کولو ګنجائش شته دې، ځکه دهغوی په نزد شراب حلال دی البته دشرابو خرید اوفروخت او چاته ورکول یی دمسلمان لپاره حلال ندی په نوروکارونو کښې هم دیرې دینی خطرې دی، لهذا ځان ساتل ورښخه بهتردی.

عن ابن عمر رضی الله عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لعن الله الخمر وشاربها وساقیها وبائعها ومبتاعها وعاصرها ومعتصرها وحاملها والمحمولة الیه (سنن ابی داود ص۱۸۰ج۲)

قال العلامة الکاسانی رحمه الله : ومن استاجر حمالا یحمل له الخمر فله الاجر فی قول ابی حنیفة رحمه الله وعند ابی یوسف ومحمد رحمهما الله لا اجر له کذا ذکر فی الجامع الصغیر انه یطیب له الاجر فی قول ابی حنیفة

وعندهما يكره لهما ان هذه اجارة على المعصية لان حمل الخمر معصية لكونه اعانة على المعصية وقد قال الله عزوجل ولاتعاونوا على الاثم والعدوان ولهذا لعن الله تعالى عشرة منهم حاملها لمحمول اليه ولابي حنيفة رحمه الله ان نفس الحمل ليس بمعصية بدليل ان حملها للاراقة والتخليل مباح وكذا ليس بسبب للمعصية وهو الشرب لان ذلك يحصل بفعل فاعل كعصر العنب وقطفه والحديث محمول على الحمل بنية الشرب وبه نقول ان ذلك معصية ويكره اكل اجرته (بدائع الصنائع ص۱۹۰ ج۴) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۲ ربيع الثاني سنه ۱۴۰۳هـ

دكستم (گمرك) حكم

سوال: له خارجي ملكونو څخه چې كوم مال راځي په هغې حكومت محصول اخلي آيا دا جائز دى او كه ناجائز ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دحكومت چارواكي دكستم خستلو وجه دا ښايي چې بهرني تجارتي كمپنۍ خپل مصنوعات عموما په ډير ارزان قيمت وركوي، كه حكومت كستم وانخلي نو ټول تجار به له بهرنيو كمپنيو څخه مال اخلي پداسې شان به دخپل ملك مصنوعات څوك هم نه اخلي. نتيجه به داشي چې دخپل ملك كارخانې به مال جوړول بند كړي، نوملك ته به شديد نقصان ورسيږي دحكومت دچارواكو دپورتنې وضاحت په رڼا كښې په لاندې شرائطو كستم اخستل جائزدي.

اول: دكستم په نه اخستو باندې دخپل ملك مصنوعاتو دضائع كيدلو او په معاشي او اقتصادي لحاظ سره په ترقي كښې نقصان يقيني وي.

دويم: دضرورت په وخت كښې بايد په قدر دضرورت واخستل شي.

دريم: حكومت دمصارف ضروريه په مصرفولو كښې په اسراف سره خرچ ونه كړي دغيرضروري مصارفو او خرافاتو خرچ كولو څخه احتراز وكړي. ۷ذي قعده سنه ۱۴۱۶هـ

د وكيل بالشراء زيات قميت اخستل

سوال: كمپنۍ بعضې كاريگر ددې لپاره ساتي چې هغه له بازار څخه سامان واخلي او راي وړي كاريگر ارزانه شې واخلي او په دكاندار جعلي بل جوړ كړي او له كمپنۍ څخه زياتې پيسې واخلي آيا داجائز دى ؟ همدارنگه د مكان جوړولو ټيكه دار اوسپنې او نورشيان په كم قيمت واخلي او دمكان مالك ته زياتې روپۍ ظاهرې كړي او ترينه يې واخلي آيا داسې كول جائزدي ؟ كه چرته ملازم يا ټيكه دار داحيله جوړه كړي چې يوشې دخپل خان لپاره واخلي او په كمپنۍ ئې په گرانه بيعه خرڅوي آيا ددې څه گنجائش موجود دې او كه نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: کاريگري او ټيکه دار وکيل بالتجارة دی هغوی ته دکمپنۍ يا مکان له مالك څخه له اصل قيمت نه زياتې پيسی اخستل ناجائز او حرام دی، او مذکوره حيله باطله ده.څکه چې وکيل امين وی نو دهغه دځان لپاره اخستل جائز ندی. والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۸ شوال سنه ۱۴۱۷ هـ

دوکيل له دکاندار څخه کميشن اخستل

سوال: دکاندار دکمپنۍ نوکر ته وائی چې که ته دکمپنۍ سامان له مونږ څخه واخلې نو تاته به دومره فيصده کميشن درکوو آيا ملازم ته داکميشن جائز دې؟ بينو ا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا دکميشن په نوم دسامان په قيمت کښې رعايت دې چې دکمپنۍ حق دې لهذا ملازم ته دهغې استعمالول جائز ندی، بلکه کمپنۍ ته ورکول واجب دی. والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۸شوال سنه ۱۴۱۷هـ



دخوراک اوڅښاک حرام او حلال شيان او دهغو متعلقات

درشوت خور هديه يا دعوت قبلول

سوال: درشوت اخستونکی څخه هديه اخستل يا دهغه دعوت قبلول څنگه دی؟بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که حرام مال جدا او ممتاز نه وی يعنی دخالص حرام يا دحلال او حرام مخلوط کيدو يقين نه وی او حلال مال زيات وی نو له هغه څخه هديه او دهغه دعوت قبلول جائز دی او که حرام مال زيات وی يا دواړه برابروی ياحرام مال جدا او ممتاز وی نو بيايی قبلول جائز ندی

قال في الهندية اهدى الى رجل شيئا او اضافه ان كان غالب ماله من حلال فلا بأس الا ان يعلم بانه حرام فان كان الغالب هو الحرام ينبغي ان لا يقبل الهدية ولا ياكل الطعام الا ان يخبره بانه حلال ورثه او استقرضه من رجل كذا في الينابيع.

وايضا فيها اكل الربوا وكاسب الحرام اهدى اليه او اضافه وغالب ماله حرام لا يقبل ولا ياكل ما لم يخبره ان ذلك المال اصله حلال ورثه او استقرضه وان كان غالب ماله حلال لا بأس بقبول هديته والاكل معه كذا

فی الملتقط (عالمگیریه کتاب الکراهیة ج ۴)

وفی الاشباه فی القاعدة الثانية من النوع الثانی: اذا اجتمع عند احد مال حرام وحلال فالعبرة للغالب مالم يتبين (الاشباه والنظائر ص ۱۴۰ ج ۱)

دمذکور مخلوط مال حکم په هغه صورت کښې دې چې خلط متيقن نه وی او که دخلط يقين وی نو په هر حال حرام دي برابره خبره ده که حلال غالب وی يا مغلوب، والتفصيل فی رساله ر **حلال وحرام سی مخلوط مال کاحکم**، والله سبحانه وتعالى اعلم ١١ ربيع الاول سنـ ١٣٧۴ هـ

دحرام مال نه اخستل شوي طعام هم حرام دی

سوال: په حرامه طريقه مثلا بانك يا انشورنس کښې د نوکری يا درشوت يا غصب نه دحاصل شوی مال په عوض کښې اخستل شوي طعام حلال دې که حرام ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که مغصوب شې عين وی نو دهغې په عوض کښې داخستل شوی اشياء استعمال بالاتفاق حرام دی او که نقدوی نو دامام کرخی قول دادې چې که داشتراء په وخت کښې يې مغصوبه پيسو ته اشاره کړې وی اوبيا يې اداء هم له هغو څخه کړې وی نو اخستل شوی اشياء حرام دی او که په وخت داشتراء کښې يې مغصوبه پيسو ته اشاره نه وی کړې يايې اشاره کړې وی مګرثمن يې له هغو څخه نه وی اداء کړی بلکه نورې پيسې يې ورکړې وی نو پداسې حالت کښې په اخستل شوی شيانو کښې کوم کراهت نشته، راجحه داده چې په هر حال دحرام مال نه حاصل شوی شيان حرام دی که اشاره يې ورته کړې وی او که نه او احتياط هم په همدی کښې دې

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله نقل ط عن الحموی عن صدر الاسلام: ان الصحيح لا يحل له الاكل ولا الوطء لان فی السبب نوع خبث اهـ فليتأمل (ردالمحتار ص ۱۶۵ ج ۵)

د رکرخی قول دقرآن اوحديث اوقياس څخه مخالف ښکاری، بنده دهغه دصحيح محمل دتلاش کوشش وکړو او له بعضې نورو محققينو علماء څخه مې هم پوښتنه وکړه مګر داعقده حل نشوه والله سبحانه وتعالى اعلم ٢٠ ربيع الاخر ١٣٧۴هـ

د تير شوی سوال په شان يو بل سوال

سوال: يو سړی پرغصب شويو روپو څه شې واخستل آيا هغه شې ددې سړی لپاره جائزدې او که نه؟ که جائزنه وی نو اوس به څه کوی ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: داشې حرام دې دمغصوبو پيسو مقدار دې خپل مالك ته ورکړی او که هغه نه وی معلوم نو کوم مسکين ته دې ورکړی نو داشې به دده لپاره حلال وګرځی اګر که دهغه

قیمت د مغصوبه پیسو نه زیات وی. اوکه داشی یی په زیاتو روپو خرڅ کړنو گټه واجب الرد ده.
حاصل داچی که زیادت دجنس مغصوب څخه وی نو حرام دې اوکه نه نو حلال دي عروض مغصوبه
که دهغو له قیمت څخه په زیاتو پیسو خرڅ شی نو ربح د جنس مضمون کیدو له وجی حرامه ده

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی تحت (قوله اذا کان متعینا بالاشارة) قال الزیلعی فان کان مما یتعین لایحل له التناول منه قبل ضمان القیمة و بعده یحل الا فیما زاد علی قدر القیمة وهو الربح فانه لا یطیب له و یتصدق به وفی القهستانی وله ان یؤدیه الی المالك ویحل له التناول لزوال الخبث (ردالمحتار ص۱۲۰ج۵)

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: وعند ابی یوسف رحمه الله تعالی لایتصدق بشیء منه کما لو اختلف الجنس ذکره الزیلعی فلیحفظ.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله کما لو اختلف الجنس) قال الزیلعی وهذا الاختلاف بینهم فیما اذا صار بالتقلب من جنس ما ضمن بأن ضمن دراهم مثلا وصار فی یده من بدل المضمون دراهم ولو طعام اوعروض لایجب علیه التصدق بالاجماع لان الربح انما یتبین عند اتحاد الجنس ومالم یصر بالتقلب من جنس ماضمن لایظهر الربح اهـ (ردالمحتار ص۱۲۱ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۴ ربیع الاخر ـــــ ۷۶هـ

دبازار دمیوې او غوښی اوشیدو حکم

سوال دلاندی سوالونو خوابونه راکړی ډیره مهربانی به مووی.

اول کوم خلك چی د آمونو او امرودو او نورو میوو باغونه واخلی له هغوی څخه دتحقیق کولونه داثابته شوې ده چی دا معامله مخکې دمیوې د را زرغون کیدو څخه کیږی. لهذا دا دمعدوم شی بیعه شوه چی باطله ده او بیع باطلې څخه چی کوم حرمت او خباثت راشی هغه کله هم نه زائل کیږی ترڅو پورې چی ددې میوی اخـــتل او خرڅول کیږی دامیوه دتولو لپاره حرامه شوه

سربیره پردې په ونو کښې دمیوې پریښودوشرط فاسد دې اگرچه دا شرط صراحتاً نه وی لیکن معروف ضرور دې پداسی صورت کښې چی په بازارکښې کومه میوه خرڅیږی دهغې بلا تحقیقه اخـــتل او استعمالول جائزدی او که ناجائز؟

دویم بعضې اهل مشاهده ویلی دی چی دکراچئ په مذبح کښې دذبح کولو په وخت ذبح کونکې بسم الله اکبر نه وائی همدارنګه بعضې اوقات دمردار حیوان غوښه بازارته راوړل کیږی او خرخول کیږی پداسې حالاتو کښـې له بازارڅخه را اخـــتل شوې غوښه خوړل جائز دی او که ناجائز؟

دریم بعضې شیدی خرڅونکی دپاکی او ناپاکی اهتمام نه کوی دهغه مکان ته تلونکی دمشاهدې والا خلق وائی چی دغوجل او دهغه شاوخوا چی کومی میتیازې یا خوشایی وی هغه په ډیرو کمو اوبو وینځل کیږی چی دهغې په وجه نو رهم نجاست خپریږی او دهغه خاخکی لوښی ته

هم ور الوزی کله کله داسې هم کیږی چې د لوښلو په وخت کښې حیوان میتیازې وکړی دهغو څاڅکی په شیدوکښې پریوځی دا شیدې بیاپه بازار کښې خرخیږی آیا ددې اخستل او استعمال جائز دې ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب تر تولو دمخه اول دوه أصول لیکل کیږی **الاصل الاول** الیقین لایزول الا بالقین.

الاصل الثاني اصل په اشیاؤ کښې اباحت دې تر څو پورې چې دحرمت یقین نه وی. ددغو اصولو په رڼا کښې فقهاء کرامو په کثیر الاستعمال کښې مثلا داوبو، غلې، شیدو، میوو وغیره په استعمال کښې وسعت کړی دی.

نصوص الفقهاء رحمهم الله تعالى:

۱ــ قال العلامة التمرتاشي رحمه الله تعالى: اذا وقعت نجاسة في بئر دون القدر الكثير او مات فيها حيوان دموي وانتفخ او تفسخ ينزح كل مائها بعد اخراجه.

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى تحته: قيد بالموت لانه لو اخرج حيا وليس بنجس العين ولا به حدث او خبث لم ينزح شيء.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى تحت (تحت قوله ليس بنجس العين) اي بخلاف الخنزير وكذا الكلب على القول الآخر فانه ينجس البئر مطلقا وبخلاف المحدث فانه يندب فيه نزح اربعين كما يذكره وبخلاف ما اذا كان على الحيوان خبث اي نجاسة وعلم بها فانه ينجس مطلقا قال في البحر وقيدنا بالعلم لانهم قالوا في البقر ونحوه يخرج حيا لا يجب نزح شيء وان كان الظاهر اشتمال بولها على افخاذها لكن يحتمل طهارتها بان سقطت عقب دخولها ماء كثيرا مع ان الاصل الطهارة اه ومثله في الفتح (رد المحتار ص۱۴۱ ج۱)

۲ــ قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: العبرة للطاهر الخ) هذا ما عليه الاكثر فتح وهو قول محمد رحمه الله تعالى والفتوى عليه بزازية (رد المحتار ص۲۳۳ ج۱)

۳ــ قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: مشى في حمام ونحوه لا ينجس ما لم يعلم انه غسالة نجس

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله مشى في حمام ونحوه) اي كما لو مشى على الواح مشرعة بعد مشي من برجله قذر لا يحكم بنجاسة رجله ما لم يعلم انه وضع رجله على موضعه للضرورة فتح (رد المحتار ص۲۳۳ ج۱)

۴ــ قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وغسل طرف ثوب او بدن اصابت نجاسة محلا منه ونسي المحل مطهر له ان وقع الغسل بغير تحر هو المختار. (رد المحتار ص ۲۱۸ ج ۱)

٥ ـ وقال ايضاً: كما لو بال حمر على حنطة تدوسها فقسم او غسل بعضه او ذهب بهبة او اكل او بيع كما مر حيث يطهر الباقي وكذا الذاهب لاحتمال وقوع النجس في كل طرف كمسئلة الثوب

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله لاحتمال الخ) اى انه يحتمل كل واحد من القسمين اعنى الباقي والذاهب او المغسول ان تكون النجاسة فيه فلم يحكم على احدهما بعينه ببقاء النجاسة فيه وتحقيقه ان الطهارة كانت ثابتة يقينا لمحل معلوم وهو جميع الثوب مثلا ثم ثبت ضدها وهو النجاسة يقينا لمحل مجهول فاذا غسل بعضه وقع الشك في بقاء ذلك المجهول وعدمه لتساوي احتمال البقاء وعدمه فوجب العمل بما كان ثابتا يقينا للمحل المعلوم لان اليقين في محل معلوم لا يزول بالشك بخلاف اليقين لمحل مجهول وتمام تحقيقه في شرح منية الكبير. (ردالمحتار ص ٢١٨ جـ ١)

٦ ـ قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله يعقل التسمية الخ) زاد في الهداية ويضبط وهما قيد لكل المعطوفات السابقة واللاحقة اذا لاشتراك اصل في القيود كما تقرر قهستاني فالضمير فيه للذابح المذكور في قوله وشرط كون الذابح لا للصبي كما وهم واختلف في معناه ففي العناية قيل يعني يعقل لفظ التسمية وقيل يعقل ان حل الذبيحة بالتسمية ويقدر على الذبح ويضبط اى يعلم شرائط الذبح من فري الاوداج والحلقوم اهـ ونقل ابو السعود عن مناهي الشرنبلالية ان الاول الذي ينبغي العمل به لان التسمية شرط فيشترط حصولها لا تحصيلها فلا يتوقف الحل على علم الصبي ان الذبيحة انما تحل بالتسمية اهـ وهكذا ظهر لي قبل ان اراه مسطورا ويؤيده ما في الحقائق والبزازية لو ترك التسمية ذاكرا لها غير عالم بشرطيتها فهو في معنى الناسي اهـ (ردالمحتار ص [illegible] جـ ٥)

٧ ـ قال ايضا تحت (قوله لا تحل ذبيحة غير كتابي) اقول وفي بلاد الدروز كثير من النصارى فلذا جيء بالمرينة او الجبن من بلادهم لا يحكم بعدم الحل ما لم يعلم انها معمولة بانفحة ذبيحة درزي والا فالاصل الحل بغير المسلم يبلغ الذبيحة تصير الى تأمل وسيأتي عن المصنف اخر كتاب الصيد ان العلم بكون الذابح اهلا ليس بشرط (ردالمحتار ص جـ ٥)

٨ ـ وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: في الخلاصة من اللقطة قوم اصابوا بعيرا مذبوحا في طريق البادية ولم يكن قريبا من الماء ووقع في قلبه ان صاحبه فعل ذلك اباحة للناس لا بأس بالاخذ والاكل لان الثابت بالدلالة كالثابت بالصريح انتهى فقد اباح اكلها بالشرط المذكور فعلم ان العلم بكون الذابح اهلا

للزكالبس بشرط قاله المصنف (ردالمحتار ص۲۰۶ج۵)

دمذکوره نصوصو په رڼا کښې ځوابونه په لاندې ترتیب سره دی:

اول په بازار کښې دخرخیدونکي میوی خوراك جائز دې په لاندی دلائلو سره.

۱- اگرچه بعضې باغونه په ناجائزه طریقه خرڅیږی لیکن ډیرباغونه داسې هم دی چې په جایزو طریقو سره خرڅیږی.

۲- بعضې خلك داسې وی چې دخپل باغ میوه په خپله په بازار کښې خرڅوی.

۳- نن سبا اکثرې میوې دلرې ځایونو څخه بازار ته راځی دکویټې اوپیښور میوې په کراچۍ کښې خرڅیږی. لهذا که چیرته په کوم ځای کښې بیعه باطله دستوروی بیاهم هلته میوه اخستل جائز دی پدې بناء چې شاید دا میوه له بل هغه ځای څخه راوړل شوې وی چیرته چې بیع صحیح دستور وی، دحلت ددومره احتمالاتو باوجود دې میوی ته ولی حرام وویل شی.

دویم دقصاب دبسم الله نه ویلو به څنګه یقین وکړل شی شاید چې ورو او آهسته یې ویلی وی که چیرته دکوم خاص قصاب په باره کښې په کومه خاصه موقع دبسم الله نه ویلو په څه قسم یقین راهم شی نو صرف همدغه ذبیحه به حرامه وی ددې قصاب نورې ذبیحې یا د نورو قصابانو په ذبیحو باندې دحرمت حکم څنګه جائز کیدې شی؟

دریم همدا حکم دشیدو هم دې البته که چاپه شیدوکښې نجاست ولیدلو یائې دمیتیازو ځاځکی پکښې ولیدل نو بیا به دغه شیدې حرامې وی، والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۵ صفر سنه ۱۳۸۶هـ

دخوراک په وخت کښې چپ اوسیدل

سوال دخوراك دخوړلو په وخت کښې چپه خوله کیناستل بهتر دی اوکه خبرې کول بهتر دی؟ په شامی کښې چپ اوسیدلو ته مکروه ویل شوی دی، ستاسی تحقیق څه دې؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : په شامی کښې علت دسکوت تشبه بالمجوس ښودل شوې دې مگر دزمانې او مکان دتغیر له وجی احکام دتشبه بدلیږی په دی زمانه کښې تشبه نشته لهذا کراهت به هم نه وی، البته بهتره داده چې جائزې تفریحی خبری وشی، والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۴ جمادی الاولی سنه ۱۳۸۶هـ

په ډوډۍ خوړونکو باندې دسلام نه اچولو حکمت

سوال کله چې په وخت دخوراك کښې کلام بالمعروف منع نه دې نو سلام علی الاکل ولی منع دې؟ بینو اتوجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : ددې وجه دا معلومیږي چې کله په خوراك کونکو باندې سلام واچول شي نو دهغوئ په طبیعت کښې فوراً دجواب ورکولو داعیه پیداشي. کیدای شي چې په خوله کښې یې دنوړي (ګولې) له وجې هغه قادر نشي په سلام رد کولو باندی او سلام اچونکې هم فوراً دځواب ورکولو منتظر اوسیږي که چرته ځواب فورا ورنکړل شي نو دهغه په طبیعت کښې به یوقسم پریشاني او انقباض پیداشي په خلاف دخبرو چې سائل او متکلم نه فوراً دځواب منتظر وي اونه دمخاطب په طبیعت کښې فوراً دځواب ورکولو داعیه موجوده وي اونه په تاخیر دځواب په سائل یا متکلم کوم قسم انقباض را ځي. فاتفرقا والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۸ جمادی الاولی ۱۳۸۶ هـ

په پان کښې چونه اوتمباکو خوړل

سوال : دپان خوړل څنګه دی پداسی حال کښې چې په هغې کښې دخاوری دجنس څخه چونه هم وی اونښه یی توکی ((تمباکو)) هم وی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دخاورې دخوړلو حرمت دضرر په وجه دې اوپه پان کښې په چونه خوړلو کښې هیڅ ضرر نشته بلکه مفیده ده. تمباکو مسکراو مفتر ندی. لدې وجی نه په دماغو کښې فتور هم نه راولی بلکه پدې کښې حدت دی لکه دمرچو زیاتو خوړلو کښې پریشانی وی لیکن نشه نه راولی. تمباکو خوړل په نسبت دڅکولو اخف دی په څکولو کښې دبدبویی قباحت زیات وی

الحاصل بغیر له تمباکو صرف له چونې سره په پان خوړلوکښې څه قباحت نشته په وخت دضرورت کښې دتمباکو هم اجازت شته بغیر ضرورته یی خوړل ندی په کار البته که چاته تمباکو یا چونه نقصان ورکوی نو هغه ته ندی جائز.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: والتتن الذی حدث وکان حدوثه بدمشق فی سنة خمسة عشر بعد الالف یدعی شاربه انه لا یسکر (الی ان قال) فللمفتی فهم منه حکم النبات الذی شاع فی زماننا المسمی بالتتن فتنبه

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی تحت (قوله والتتن) وللعلامة الشیخ علی الاجهوری المالکی رسالة فی حله نقل فیها انه افتی بحله من یعتمد علیه من ائمة المذاهب الاربعة قلت والف فی حله ایضا سیدنا العارف عبد الغنی النابلسی رسالة سماها الصلح بین الاخوان فی اباحة شرب الدخان وتعرض له فی کثیر من تآلیفه الحسان واقام الطامة الکبری علی القائل بالحرمة او بالکراهة فانهما حکمان شرعیان لابد لهما من دلیل ولا دلیل علی ذلک فانه لم یثبت اسکاره ولا تفتیره ولا اضراره بل ثبت له منافع فهو داخل تحت قاعدة الاصل

فی الاشیاء لاباحة وان فرض اضرارة للبعض لایلزم منه تحریمه علی کل احد فان العسل یضر اصحاب الصفراء الغالبة وربما امرضهم مع انه شفاء بالنص القطعی الخ)

(قوله فیفهم منه حکم النبات) وهو الاباحة علی المختار او التوقف وفیه اشارة الی عدم تسلیم اسکاره وتفتیره واضراره والا لم یصح ادخاله تحت القاعدة المذکورة ولذا امر بالتنبه (رد المحتار صـ ۲۹٦ جـ ٥) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۲ محرم سنـــ ۸۷ هـــ

له پیزار (بوټانو) سره خوراک کول

سوال له بوټانو سره خوراك او څښاك كول څنګه دی ؟ بینوا توجرو.

الجواب باسم ملهم الصواب : قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : اذا وضع الطعام فاخلعوا نعالکم فانه اروح لاقدامکم (مشکوة صـ ۳۶۸ جـ ۲) په حدیث کښې «فانه اروح لاقدامکم» علت نه داسې معلومیږی چی دخلع نعال امر په شفقت مبنی دې چی د بوټانو په ویستلو کښې آرام اوسهولت دې سره له پیزاره هم خوراك جائز دې لیکن نن سبا سره دبوټانو په میز او کرسئ خوراك كول دمتکبرینو شیوه او شعار جوړشوې. لهذا لدې څخه ځان ساتل ضروری دی.

دحضور صلی الله علیه وسلم ارشاد دې چی داسې په عاجزئ سره په ناسته خوراك كوه لكه څنګه چی غلام دخپل مالك مخی ته ناست وی. په میز او چوکښې خوراك كول دتواضع شان ختموی . والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۶ذی القعدة سنـــ ۱۳۸۷هـــ

فقیرته پس خورده یا پاتې شوې دوډی ورکول

سوال فقیر ته جوټه یا دشپی پاتې شوې خوراك ورکول جائز دی اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب جوټه یاپاتی شوې خوراك وركول جائز خودی مګر دښه خوراك ورکولو برابرثواب یې نه ورکول کیږی.

قال الله تعالی: لن تنالوا البر حتی تنفقوا مما تحبون.

قال العلامة الالوسی رحمه الله تعالی: وفی المراد من قوله سبحانه مما تحبون اقوال. فقیل المال وکنی بذلك عنه لان جمیع الناس یحبونه وقیل نفائس الاموال و کرائمها وقیل مایعم ذلك وغیره من سائر الاشیاء التی یحبها الانسان ویهواها والانفاق علی هذا مجاز وعلی الاولین حقیقة (روح المعانی صـ ۱۳۶ جـ ۱)

وقال ایضا: واستشکل بعضهم الایة بان ظاهرها یستدعی ان الفقیر الذی لم ینفق طول عمره مما یحبه لعدمه

امکانه لایکون بارا او لاینالہ برالله تعالی الکامل باهل طاعته مع انه لیس کذلك واجیب بان الکلام خارج مخرج الحث علی الانفاق وهو مقید بالامکان وانما اطلق علی سبیل المبالغة فی الترغیب وقیل الاولی ان یکون المراد لن تنالوا البر الکامل الواقع علی اشرف الوجوه حتی تنفقوا مما تحبون والفقیر الذی لم ینفق طول عمره لایبعد القول بانه لایکون بارا کاملا ولاینالہ برالله تعالی الکامل باهل طاعته (روح المعانی صہ ۱۹۰ جہ ۱) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۱ شوال سنہ ۸۸ھ

په حرام شی بسم الله ویل

سوال دحرام شی دخوړلو په وخت بسم الله ویل جائز دی او که ناجائز؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: دحرام شی دخوراك په وخت کښې په قصد داستخفاف بسم الله ویل بالاتفاق کفردې او بغیر له استخفافه نه په ویلو کښې یې اختلاف دې صحیح او راجح داده چې کفرنده او حرامه ده

قال العلامة الالوسی رحمه الله تعالی: نعم التسمیة علی الحرام والمکروه مما لاینبغی بل هی حرام فی الحرام لاکفر علی الصحیح مکروهة فی المکروه وقیل مکروهة فیهما ان لم یقصد استخفافا وان قصده والعیاذ بالله تعالی کفر مطلقا (روح المعانی صہ ۶۳ جہ ۱) والله سبحانه وتعالی اعلم.

تفصیل په تتمه دکتاب الایمان والعقائد کښې دی.

دسبیل اوبه په ولاړه څښل

سوال په سرکونو باندې لګیدلی سبیلونو یا چه مسجد کښې داینودل شوی کولر وغیره نه په ولاړه اوبه څښل څنګه دی؟ یوعالم وائی چې د داسې اوبو دڅښلوحکم په ولاړه باندې دې او دا باعث دثواب دې آیا دا صحیح دی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دا ګمان غلط او په جهالت باندې بناء دې په ولاړې له اوبو څخه په احادیثو کښې منع راغلی ده دسبیل وغیره نه چیرته هم استثناء نشته البته دحضورصلی الله علیه وسلم نه په ولاړه داوبو څښلو ثبوت هم شته محدثینو ددواړه قسمه احادیثو ذکر کړې او تطبیق یې داکړې دې چې دنهی له احادیثو څخه کراهت تنزیهی مراد دې اودشرب قائما له احادیثو څخه بیان دجواز مراد دې دسبیل او کولر داوبوهم همداحکم دې البته که د ازدحام له وجې دناستې ځای نه وی یاخټې وی چې دجامو دخرابیدلو خطر وی یا بل داسې کوم عذروی نو په ولاړه اوبه څښل بغیر له کراهیته جائزدی والله سبحانه وتعالی اعلم ۹ربیع الاول سنہ ۱۳۸۹ ھ

دغیرمسلمو لوښی استعمالول

سوال دیوکالج په کوټو (اطاقونو) کښې مسلم اوغیر مسلم دواړه قسمه محصلین اوسیږی دخوراك اوڅښاك لوښی مشترك استعمالیږی آیا د مسلمانو شاګردانو لپاره پداسې صورت کښې داقسم لوښی استعمالول جائز دی؟ همدارنګه د اروپا په هوټلونو کښې دهغوی لوښی دخوراك وغیره لپاره استعمالول څنګه دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : که غالب ګمان داوی چی غیر مسلم شاګردان په دغولوښو کښې نجس شې مثلاشراب اچوی نو داستعمال په وخت کښې دهغو وینځل ضروری دی او استعمال یې جائز دې اوکه نجس شې پکښې نه اچوی نو بغیر وینځلو یې هم داستعمال ګنجائش شته د اروپا دهوټلونو هم همداحکم دې مګر دغیرمسلم شاګردانو سره دوستانه تعلق ساتل اوبغیر له ضرورت نه دهغوئ شیان استعمالول یا له هغوئ سره په یوه لوښی کښې خوراك کول دغیرت ایمانی خلاف دی او په دنیا او آخرت کښې دتباهی باعث ګرځی. لهذا حتی المقدرو لدې څخه احتراز کول لازم دی والله سبحانه وتعالی اعلم.

دمنکراتو په ځای کښې دعوت ته تلل

سوال په هغو ودونو کښې چی ساز اوسرود وغیره منکرات پکښې وی په هغوکښې شرکت کول جائز دی او که نه؟ که ناجائز وی نو په کومه درجه کښې دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : که له مخکې نه معلوم وی نو شرکت کول مکروه تحریمی دی اوکه دورتګ نه وروسته معلوم شی که دخوراك په مجلس کښې کوم منکروی نو په دې مجلس کښې شرکت مکروه تحریمی دې او که په دغه مجلس کښې نه وی نو که په بندولو یې قادر وی نو بند دې کړی او که قادر نه وی نو صبردې وکړی دا حکم دعامو خلکو لپاره دې دعالم. مقتدا او صالح شخص لپاره شرکت په هر حال مکروه تحریمی دې.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: دعي الى وليمة وثمة لعب اوغناء قعد واكل لو المنكر في المنزل فلو على المائدة فلا ينبغي ان يقعد بل يخرج معرضا لقوله تعالى فلا تقعد بعد الذكرى مع القوم الظالمين.

فان قدر على المنع فعل والا يقدر صبر ان لم يكن ممن يقتدى به فان كان مقتدى ولم يقدر على المنع خرج ولم يقعد لان فيه شين الدين والمحكي عن الامام كان قبل ان يصير مقتدى به وان علم اولا باللعب لا يحضر اصلا سواء كان ممن يقتدى به اولا لان حق الدعوة انما يلزمه بعد الحضور لا قبله ابن كمال (رد المحتار ص ۲۲۱ ج ۵) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۴ رجب سنه ۹۰ ھ

ډکانو او بجانو (ساز اوسرود) په هوټل کښې خوراک کول

سوال نن سبا په بازار کښې تقريبا په ټولو هوټلونو کښې ساز او سرود عام دي يو سړي دسود ا اخستلو لپاره يا دبل کوم ضرورت لپاره بازارته ځي دخوراك ضرورت پيښيږي نو آيا پداسې هوټل کښې خوراك جائز دي ؟ که جائز وي نو آياد هوټل مالك له داسې منکر څخه منع کول ضروري دی؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب که له منکراتو څخه پاك هوټل نه پيدا کيږي نو پداسې هوټل کښې دخوراك کولو گنجايش شته دي.

بيا که دهوټل له مالك څخه دمنلو اميدوی نو دهغه لدې منکر څخه منع کول فرض دی او که دمنلو اميد نه وی ليکن دفتنې انديښنه هم نه وی نو منع کول يې مستحب دی او که د فتنې انديښنه وی ياد انکار کولو او د دين اواهل دين د مذاق اومسخرې کولو انديښنه وی نو منع کول يې جائز ندی والله سبحانه وتعالی اعلم. غره شعبان سنه ۹۰ هـ

پنير مايه حلاله ده

سوال آيا پنير مايه حلاله ده اوکه نجسه اوحرامه ده ؟ برابره خبره ده که عربی اوښ وی يا دبل کوم ماکول اللحم حيوان وی ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب پنير مايه حلاله او پاکه ده برابره خبره ده که دهر ماکول اللحم مذبوح حيوان وی دهغه حلت دنص دورود دوجې نه خلاف القياس دي اوکه نه نو دمعدی نه هر وتونکې شې دخوشيانو په حکم کښې وی او دخرشين په شان نجس وی .

اخبرنا ابوبكر بن فورك انبا عبدالله بن جعفر ثنا يونس بن حبيب ثنا ابوداود الطيالسي ثنا شريك عن جابر عن عكرمه عن ابن عباس رضی الله عنهما ان رسول الله صلی الله عليه وسلم لما فتح مكة رای جبنة فقال ماهذا فقالوا هذا طعام يصنع بارض العجم قال فقال رسول الله صلی الله عليه وسلم ضعوا فيه السكين واذكروا اسم الله وكلوا.

اخبرنا ابونصر بن قتادة انبا ابو عمرو بن مطر وابو الحسن السراج قالا انبا محمد بن يحيی بن سليمان المروزی ثنا عاصم بن علی ثنا شعبة عن ابی اسحاق قال سمعت مضرب يحدث عن كثير بن شهاب قال سالت عمر بن الخطاب رضی الله عنه عن الجبن فقال ان الجبن من اللبن واللبا فكلوا واذكروا اسم الله عليه ولا يغرنكم اعداء الله.

اخبرنا ابو عبدالله الحافظ انبا اسماعيل بن عباس ثنا محمد بن بشار ثنا محمد بن جعفر ثنا شعبة عن قتادة عن ابی الملزع انه سئل ابن عمر رضی الله عنهما عن الجبن فقال كل ما صنع المسلمون واهل الكتاب (السنن الكبری

للبيهقي ص۶ ج۱۰)

قال الامام البيهقي رحمه الله تعالى: وهذا لان السخال تذبح فتؤخذ منها الانفحة التي بها يصلح الجبن فاذا كانت من ذبائح المجوس واهل الاوثان لم يحل وهكذا اذا ماتت السخلة فاخذت منها الانفحة لم تحل (السنن الكبرى للبيهقي ص۶ ج۱۰)

وقال العلامة ظفر احمد العثماني رحمه الله تعالى: اجمعت الامة على جواز اكل الجبن مالم يخالطه نجاسة بان يوضع فيه انفحة سخلة ذبحها من لا يحل ذكاته فهذا ذكرناه من دلالة الاجماع هو المعتمد في اباحة وقد جمع البيهقي فيه احاديث كثيرة فروى عن عمر وابن مسعود وابن عمر رضي الله تعالى عنهم كلوا من الجبن ما صنعه المسلمون واهل الكتاب قال البيهقي رحمه الله وهذا التقييد لان الجبن يعمل بانفحة السخلة المذبوحة فاذا كانت من ذبائح المجوس لم يحل وعن ابن عمر رضي الله عنهما انه سئل عن السمن والجبن فقال سم وكل فقيل ان فيه ميتة فقال ان تعلمت ان فيه ميتة فلا تاكل قال البيهقي وكان بعض العلماء لا يسئال منه تغليبا للطهارة فرويناه ذلك عن ابن عباس وابن عمر وغيرهما رضي الله عنهم وكان بعضهم يسال عنه احتياطا رويناه عن ابي مسعود الانصاري وعن الحسن البصري رحمهما الله تعالى قال كان اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم يسالون عن الجبن ولا يسالون عن السمن اه من شرح المهذب (ص۶۹ ج۹) (اعلاء السنن ص۱۶۲ ج۱۷) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۷ ربیع الاول سنــــ ۹۳ هــ

له غیر مسلم ملکونو څخه راتلونکي پنیر مایه

سوال له خارجي ملکونو څخه چه کومه پنیر مایه راځی آیا هغه حلاله ده اوکه حرامه ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : پنیر مایه له غیر انفحه څخه هم جوړیږی . له همدې کبله ترڅو پورې چه دخارجی ملکونو دپنیر مایی متعلق له انفحه څخه دجوړولو یقین نه وی نو حلاله ده لیکن بیا هم احتیاط غوره دې . اوکه چیرې له انفحه څخه د جوړیدلو یقین وی نو بیا حرامه ده

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تحت (قوله لا تحل ذبيحة غير كتابي) اقول وفي بلادنا الدروز كثير من النصارى فاذا جيء بالقريشة او الجبن من بلادهم لا يحكم بعدم الحل مالم يعلم انها معمولة بانفحة ذبيحة درزي والا فقد تعمل بغير انفحة وقد يذبح الذبيحة نصراني تامل وسياتي عن المصنف اخر كتاب الصيد ان العلم بكون الذابح اهلا للذكاة ليس بشرط (رد المحتار ص۱۸۹ ج۵)

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالیٰ: لکن فی الخلاصة من اللقطة قوم اصابوا بعیرا مذبوحا فی طریق البادیة ان لم یکن قریبا من الماء ووقع فی القلب ان صاحبه فعل ذلک اباحة للناس لاباس بالاخذ والاکل لان الثابت بالدلالة کالثابت بالصریح انتهی فقد اباح اکلها بشرط المذکور فعلم ان العلم بکون الذابح اهلا للذکوة لیس بشرط. (ردالمحتار صـــ ۳۰۷ جـــ ۵)

د ذکر شوو نصوصو څخه مطلق حلت معلومیږی مګر ددې زمانی داهل کتابو ذبیحه حلاله نده. دذبیحې تفصیل په تیروشو بحثونو کښې تیر شوې دی ، والله اعلم بالصواب:

۱۷ ربیع الاول سنـــ ۱۳۹۳

دصابون شیدی خښل

سوال : که په شیدوکښې صابون ولویږی دشیدوپه حلت خوکوم اثرنه کوی؟ برابره خبره ده که شیدې یخی وی یا ګرمی خواه صابون فوراً وه ویستل شی اوکه لږ وخت پکښې پاتی شې؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : په هر حال شیدې حلالې دی، البته که له صابون نه دنقصان ظن غالب وی نو حرامې دی . والله سبحانه وتعالیٰ اعلم

له حرام مال څخه دلګول شوې نلکې نه اوبه څښل

سوال چا دشرابو او جواری په پیسو نلکه ولګوله چی لدې څخه اهل محله اوبه استعمال کری آیا ددې اوبه څښل او استعمالول جائزدی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دداسې نلکې نه اوبه ورل ګناه ده لیکن استعمالول اوڅښل یې جائزدی. والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۱۲ جمادی الاول سنـــ ۱۳۹۳

په ناپاکو اوبو چنګاوشوې سبزی حلاله ده

سوال په ناپاکه اوبوباندې لمده شوې سبزی مثلا پالك دنیا وغیره خوړل جائزد ی اوکه نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : په ناپاکه اوبوباندې چنګاوشوې سبزی خوړل جائز دی مګر که ناپاکه اوبه په هغو لګیدلې وی او وچې شوې نه وی نو دا سبزی ناپاکه ده بنه صفا ستره دې ومینځل شی بیادې استعمال کړې شی .

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ تحت (قوله لان لحمه لایتغیر .فیفرع) فی ابی السعود الزروع المسقیة

بالنجاسات لا يحرم ولا تكره عند اكثر [illegible] رحمهم الله تعالى (رد المحتار ص۱۰۲ جه) والله سبحانه وتعالى اعلم

۲۰ جمادی الاخرة سنه ۹۳ هـ

دناپاکو اوبو څښونکی حیوان شیدې حلالې دی

سوال په یوه کوهی کښې پښوغورځېدلې وه او یکې مړه شوې وه ددې کوهی اوبه نې حیواناتو ته ورکړې دې او بیایی له دغو حیواناتو څخه غوړی اوپنیر لاس ته راوړې وو ایا اوس دا غوړی اوپنیر پاك دې او که ناپاك ؟ که ناپاك وی نو څنګه به پاك کړې شی ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب غوړی اوپنیر پاك دی. والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۲ محرم سنه ۱۳۹۵ هـ

دکوربه په کورکښې وروسته له ډوډۍ خوړلونه تردیره وخته کیناستل

سوال زید وایی چی د ډوډۍ دخوړلو څخه وروسته دکوربه په کور کښې کیناستل اوپه خبرو کښې مشغولیدل جائزندی آیا داخبره صحیح ده ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د ډوډۍ دخوړلو څخه وروسته دکوربه په کور کښې تردیره وخته کیناستل جائز ندی څکه پدې کښې کوربه ته تکلیف وی او هغه دغیرت له وجی بیرته دتللو نشی ویلی . البته که دکوم کار دوجی ددیروکیناستلو ضرورت وې یا له کوربه سره داسی خصوصی تعلق وی چی دهغه دتکلیف باعث نه وی نو تردیره په ناستې کښې کوم حرج نشته.

قال العلامة الالوسی رحمه الله تعالی تحت قوله تعالی فاذا طعمتم فانتشروا ولا مستانسین لحدیث ان ذلکم کان یؤذی النبی فیستحیی منکم: ای فاذا اکلتم الطعام فتفرقوا ولا تلبثوا والفاء للتعقیب بلا مهلة للدلالة علی انه ینبغی ان یکون دخولهم بعد الاذان والدعوة علی وجه یعقبه الشروع فی الاکل بلا فصل والایة علی ماذهب الیه الجل من المفسرین خطاب لقوم کانوا یتحینون طعام النبی صلی الله علیه وسلم فیدخلون ویقعدون منتظرین لادراکه مخصوصة بهم وبامثالهم ممن یفعل مثل فعلهم فی المستقبل فالنهی مخصوص عمن دخل بغیر دعوة وجلس منتظرا للطعام من غیر حاجة فلا تفید النهی عن الدخول باذن لغیر طعام ولا عن الجلوس واللبث بعد الطعام لمهم اخر ولو اعتبر الخطاب عاما لکان الدخول واللبث المذکوران منهیان عنهما ولا قائل به (روح المعانی ص۱۵ ج۲۲)

۲۵ ربیع الاول سنه ۹۵ هـ

دستیل (نیکل) په لوښی کښې خوراك او څښاك کول

سوال نن سبا دستیلو دلوښو عام رواج دې یو مولوی صاحب وائی چی دا اوسپنه ده پدې کښې

خوراك اوڅښاك كول مكروه كيدل پكار دي دجناب تحقيق په دې باره كښې څه دى؟ بينوا توجروا
الجواب باسم ملهم الصواب : داوسپنې اوستيل په لوښو كښې خوراك اوڅښاك كول بلاكراهته جائز دى. فقهاى كرامو د مسو او پيتلو په لوښى كښې خوراك ته مكروه ويلى دى او دهغې وجه يې دا ښودلې ده چې دهغو رنګ له خوراك سره يو ځاى كيږى چې دصحت لپاره مضر دې لدې وجې نه له قلعي كولو وروسته جائزدى دستيلو لوښى خودصحت لپاره مفيد دى نو پدې كښې دكراهت هيڅ وجه نشته.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ويكره الاكل في نحاس اوصفر والافضل الخزف.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: ثم قيد النحاس بالغير المطلى بالرصاص وهكذا قال بعض من كتب على هذا الكتاب اى قبل طليه بالقزدير والشب لانه يدخل الصداء في الطعام فيورث ضررا عظيما واما بعده فلا اهـ

وقال بعد اسطر: وفي الجوهرة واما الآنية من غير الفضة والذهب فلا بأس بالاكل والشرب فيها والانتفاع بها كالحديد والصفر والنحاس والرصاص والخشب والطين اه ملخصه (رد المحتار ص۲۱۸ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۸ ذي القعده سنه ۹۸ هـ

په ميز او كرسئ باندې خوراک كول

سوال : په ميز او كرسئ خوراك كول څنګه دى؟ دا خوپه عواموا وخواصو كښې رواج دې آيا دا په تشبه بالكفار يا تشبه بالفساق كښې د داخليدو په وجه ممنوع دى اوكه دعام رواج كيدلوله وجې په تشبه كښې داخل ندى اوله دې وجې جائز دى ؟ اوكه په تشبه كښې داخل وى نو په وخت ددعوت دنزدې قريبانو يا ديندارو خلكو كښې څه طريقه اختيارول په كار دى ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : كه نيت دتشبه بالكفار و الفساق وى نو په ميز اوكرسيئ خوراك ناجائز دې اوكه دتشبه نيت نه وى بياهم په هرحال خلاف سنت دې، لهذا لدې ځخه ځان ساتل پكاردى. البته كه چيرته ابتلاء وشى نود خوراك ګنجايش شته دى. والله سبحانه وتعالى اعلم.

غره ذى الحجة سنه ۱۳۹۸هـ

خاک شفا خوړل جائز ندى

سوال : حاجيان دمكې اومدينې منورې ځخه دخاورې توته راورى اوتقسيم كوى يى بعضې ښځې هغه بابركته بولى دشفا حاصلولو په نيت يى خورى، شرعا ددې څه حكم دې ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دخاورې خوړل جائزندى البته په لږه اندازه چې دصحت لپاره مضره نه وى جائزدى، والله سبحانه وتعالى اعلم.

۳۰ ذى الحجة سنه ۱۳۹۸.

ديتيم له مال سره له مشترك مال څخه ميلمنوته خوراک ورکول

سوال په يوكوركښې يتيم هم اوسيږي ټول ځانيدادمشترك دې په دى كوركښې ميلمه ته دودئ وركول اودميلمه هلته دودئ خوړل اومسكين ته خوراك وركول جائزدى اوكه نه؟بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب . له يتيم سره له مشترك مال څخه ميلمنوته دودئ وركول يامسكين ته وركول جائزندى اوميلمه اومسكين ته دهغې خوړل حرام دى. ديتيمانو دمصارفو صحيح حساب كول فرض دى دميلمستيا وغيره انتظام دې بالغ شريكان له خپل طرف څخه كوى، البته كه بالغ شريكان له بل كوم طرف څخه آمدن لرى او خپل آمدن په مشترك حساب كښې جمع كوى او ددوئ ځانګړى آمدن دومره زيات وى چې له مشترك مال څخه دمهمان نوازى كولو په صورت كښې ديتيمانو دحق تلفى دنه كيدلو يقين وى نو بياګنجائش شته .

قال الامام القرطبي رحمه الله تعالى: السادسة: قوله تعالى وان تخالطوهم فاخوانكم هذه المخالطة كخلط المثل بالمثل كالتمر بالتمر وقال ابوعبيد: مخالطة اليتامى ان يكون لاحدهم المال ويشق على كافله ان يفرد طعامه عنه ولايجد بدا من خلطه بعياله فيأخذ من مال اليتيم مايرى انه كافيه بالتحري فيجعله مع نفقة اهله وهذا قديقع فيه الزيادة والنقصان فجاءت هذه الاية الناسخة بالرخصة فيه (الجامع لاحكام القران ص٦٥ج٣) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۹ رمضان سنه ۹۹هـ

دشيعه خوراک خوړل

سوال كه دشيعه كورته يوسنى لاړشي نودهغه دكور خوراك خوړل جواز لرى اوكه نه؟ په غوښه اونوروشيانو كښې څه فرق شته اوكه نه؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب . شيعه ګان زنديقان دى لهذا له هغوئ سره هيڅ قسم تعلق ندې جائز دهغوئ له كورڅخه څه شي خوړل دايمانى غيرت خلاف اوناجائزدى. البته دشديدضرورت په وخت كښې ګنجائش شته مګردغوښې په باره كښې څه تفصيل دې لهذا له هغې څخه احتراز واجب دى

دكافر دعوت قبلول

سوال دكافر دعوت قبلول جائز دى اوكه نه؟ بينوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب كوم كافر چې زنديق نه وى يعنى ځانته مسلمان نه وائى دهغه دكور خوراك خوړل جائزدى په دې شرط چې دهغه آمدن داسلام يا دهغه دمذهب له مخه حلال وى اوكه نه نو ندى جائز. البته دهغه ذبيحه په هر حال حرامه او مرداره ده. والله سبحانه وتعالى اعلم

۵ذى الحجه سنه ۱۳۹۹ هـ

دنائي دعوت قبلول

سوال: دنائي دعوت قبلول څنګه دی؟ په داسې حال کښې چې هغه لمونځ کونکې او متقي هم وی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: نائي که چيرته دخلکو ږيره خريي يايې کموی او خلاف شرع ږيښتان جوړوی نو دهغه ددعوت قبلولو لپاره درې شرطونه دی: (۱): دحرام آمدن دحلال آمدن نه دلږوالي يقين وی. (۲): ددعوت مال دخالص حرامونه دنه کيدو يقين وی. (۳): دحرام او حلال دمخلوط کيدو يقين نه وی په دغو دريو شيانو کښې داشتباه په صورت کښې دعوت خوړل جائز دی مګر ځان ساتل ترينه غوره دی، والله سبحانه وتعالی اعلم. غره ذی الحجه ۱۳۹۹ هـ

له غابښونو ځخه را ايستلې شوې دوډئ تيرول

سوال: د ډوډئ دخوړلو په وخت کښې دډوډی ځينې ذرې په غابښونو کښې نښلی دا ذرات کله ذږبی په څوکه او کله هم دخلال کولو سره راوزی نو هغو تيرول څنګه دی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په دواړو صورتونو کښې تيرول جائزدی مګر دخلال کولو په صورت کښې تيرول دنظافت خلاف دی دخلال په وخت کښې دوينې دوتلو او له غذا سره دخلط کيدو احتمال وی لهذا بهتر يې نه تيرول دی.

عن ابی هريرة رضی الله عنه قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم فی حديث: من اکل فما تخلل فليلفظ وما لاک بلسانه فليبتلع من فعل فقد احسن ومن لا فلا حرج (مشکوة ص ۴۳ ج۱) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۰ محرم سنه ۱۴۰۰ هـ)

دوچې وزی (چيلئ) شيدې

سوال: يوه وزه بغير دملاقات دفحل او بغير دولادت ځخه شيدې ورکوی آيا دا شيدې حلالې دی اوکه حرامی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: حلالې دی. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۳ محرم سنه ۱۴۰۰

په حرام سوزول شوی شی سره دپوخ شوی طعام خوراک

سوال: په هاسټل (ليليه) کښې دبرق په منقل (هيټر) باندې ناشته وغيره تيارېدل چې قانوناً منع ده همدارنګه په يخنی کښې درباندی کمره (اطاق) ګرمولې شی په هاسټل کښې ديوځو ديندارو شاګردانو نه علاوه سل په سلو کښې زده کونکی منقل استعمالوی آيا د منقل استعمالول جائز دی اوپه هغه پوخ شوې طعام خوړل جائزدی؟ که مونږ دکوم ملګری کمرې ته ورشو او هغه په منقل باندې چای تيارکړی او رايې وړی نو دهغه څښل جائزدی اوکه نه؟ همداراز که دکمرې نور

ملګری په منقل باندې دکمرې په ګرمولو باندې مصروی نو ماته څه کول پکاردی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: خلاف قانون هیټر (منقل) استعمالول حرام دی په هغه باندې پوخ شوې خیز اګرچه حرام ندې مګرله هغه څخه ځان ساتل لازم دی له نورو ملګرو سره دې هم هغه چای نه ښنی او کمره هم ګرم کول ورباندې ندی جائز که نور ملګری په منع کولو سره هم داکار پرې نږدی نو په تا کومه ګناه نشته ، والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۵ صفر سنه ۱۴۰۰هـ

ملتانی خاوره خوړل

سوال: ځینی ښځی ملتانی خاوره پخوی یا بی خامه خوری آیا دا جائز دی اوکه نه له چانه چی معلومات شوې چی دا ولی خورئ نو وائی چی دحمل په دوران کښې دا ښه لګیږی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دخاورې حرمت په سبب دضرر سره دې که کوم مستند طبیب اووائی یاپه تجربه سره ثابته وی چی ددې په خاص مقدار کښې ضرر نشته نو دومره مقدار خوړل جائزدی له هغه څخه زیات ندی جائز، والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۰ ربیع الاول سنه ۱۴۰۰هـ

له وینې سره خلط شوې شیدې ماشوم ته ورکول حرام دی

سوال: دیوې ښځې له تیونو څخه له شیدو سره وینه هم راځی پداسې حال کښې چی دماشوم رضاعت لا اوس هم باقی پاتې دې آیا دې ښځی ته جائزدی چی ماشوم ته تې ورکړی ؟ ددې په باره کښې که کومه جزئیه دفقهی دکتابونو معلومه وی هغه هم ولیکئ ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: ددې لپاره دصریحی جزئیی ضرورت نشته دوینی حرمت منصوصی دې لهذا چی په شیدو کښې دوینې رنګ راشی نو حرامې دی، والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۹ ربیع الاول سنه ۱۴۰۰هـ

دفارمی چرګانو دخوراک اوغوښی حکم

سوال: پولټری فارم والا دمختلف قسم مردارو حیواناتو وینه او نورځینی اعضاء یوځای کوی او دچرګانو غذا ترینه تیاروی اوهغه ورته ورکوی دداسې قسم خوراك ورکول چرګانو ته او دهغه خوراك خرید او فروش جائز دې او که نه؟ او په همدې خوراك دغټ شویو چرګانو غوښه حلاله ده او که حرامه ؟ بینو ا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د داسې غذا خوراك، خرید اوفروش اوپه چرګانو خوړل جائزندی البته داسې چرګان حلال دی دغوښی دحرمت لپاره شرط دادې چی دنجسې غذا له وجی په غوښه کښې بدبویی پیداشی چی دهغې مفقود والی شاهد دې .

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى (قوله وكره لحم الجلالة التي تأكل العذرة) اى فقط حتى انتن لحمها

قال في شرح الوهبانية وفي المنتقى الجلالة المكروهة التي اذا قربت وجدت منها رائحة فلا تؤكل ولا يشرب لبنها ولا يعمل عليها وتلك حالها ويكره بيعها وهبتها وتلك حالها وذكر البقالي ان عرقها نجس اهو تمامه في الذبائح (رد المحتار ص۲۱۶ ج۵)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وتحبس الجلالة حتى يذهب نتن لحمها وقدر بثلاثة ايام لدجاجة واربعة لشاة وعشرة لابل وبقر على الاظهر ولو اكلت النجاسة وغيرها بحيث لم ينتن لحمها حلت كما حل اكل جدي غذي بلبن خنزير لان لحمه لا يتغير وما غذي به يصير مستهلكا لا يبقى له اثر.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله (قوله حلت) وعن هذا قالوا لا بأس باكل الدجاج لانه يخلط ولا يتغير لحمه وروي انه عليه الصلوة والسلام كان يأكل الدجاج وما روي ان الدجاجة تحبس ثلاثة ايام ثم تذبح فذلك على سبيل التنزه زيلعي (رد المحتار ص۲۱۷ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۰ ذی القعده سنه ۱۴۰۰ هـ

دماتې شوې پيالې څخه څښاک کول

سوال: دپيالې غاړه که چيرته ماته شي نو له هغې څخه چای يا اوبه وغيره څښل څنګه دی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دپيالې په مات شوی ځای خوله کيښودل څښاک کول مکروه دی دکراهيت وجوهات يې داده چې: **اول**: د اوبو د تويېدلو خطره ده. **دويم**: دخولې دزخمي کولو خطره ده. **دريم**: په دغه ځای کښې دخيري وغيره دجمع کيدو احتمال وی. د کوزې له غوږې څخه دڅښلو دکراهيت وجه هم داده اوبله وجه دکراهيت داده چې کيدای شي په غوږ که کښې چينجې يا کومه حشره اوخزنده وی. **څلورم**: دا دسليم طبعيت خلاف دی.

عن ابي سعيد الخدري رضي الله عنه انه قال نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن الشرب من ثلمة القدح وان ينفخ في الشراب. سنن ابي داود ص۱۶۳ ج۲

عن ابي هريرة رضي الله عنه انه كره ان يشرب الرجل من كسر القدح او يتوضأ منه (مصنف عبدالرزاق ص۴۲۸ ج۱۰) والله سبحانه وتعالى اعلم. غره محرم سنه ۱۴۱۳ هـ

دمردارې په هډوکی کښې مغز حرام دی

سوال: د مردارې په هډوکو کښې چې کوم ماغزه وغيره وی دا پاک دی او که ناپاک؟ که ناپاک وی نو دنجاست وجه يې څه ده؟ هډوکی خود دواړو طرفونو نه بندوی پدې کښې خوحلول دنجاست ناممکن وی که په حلال طعام کښې د مردارې هډوکی يامغز واچول شي نو دهغه خوړل حلال دی

که حرام ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دهډوکی دننه مغز هم دخوراك څخه پیداکیږی لدې معلومه شوه چی دخوراك وغیره اثر دهډوکښې داخل ته هم رسیږی څنګه چی قدرت دهغه د رسولو انتظام کړې وی نو کله چی دخوراك داثرڅخه دهډوکی مغز پیداکیږی نو دا به هم نجس وی. هډوکې پاك دې مګر د مردارې چی کوم شې حلال دې دهغو خوراك ناجائزدې که په هډوکی دپاسه وی یا دننه دځه قسم رطوبت اثر وی نو په طعام کښې د داسې هډوکی داچولو څخه طعام حرام ګرځی.

۱۲رجب سنه ۱۴۰۳

دجیلی (یوقسم خوراکی مواد دی) تحقیق

سوال : په ډبل روټی باندې جیلی لګول اوبیا خوړل کیږی څینی خلك داناجائزبولی څکه دا دحیواناتو دڅرمنی اوهډوکښې څخه جوړیږی ستاسې تحقیق پدې باره کښې څه دی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : اول خو د جیلی جوړول دڅرمنې او هډوکی څخه ضروری نده چی داڅرمن دې دمردارې وی څکه چی دحلالې ذبیحی څرمنې ډیرې دی.

دویم دا چې دجیلی په صنعت کښې دماهیت دتبدیل هم احتمال شته پدی صورت کښې دحرام څناور دڅرمنی څخه جوړه جیلی هم حلاله ده زیات تجسس اوتحقیق کول اودخیالاتو او اوهامو په بناء احتراز کول په دین کښې دتعمق او غلو کولو له وجی منع ده او بغیر له شرعی دلیل نه دحرمت حکم لګول په دین کښې زیادت او تحریف دی. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۶صفرسنه ۱۴۰۵ھ

دمچ په چای کښی لویدل

سوال : چې په ګرم چای کښې مچ پریوځی اوهغه ته پکې غوټه ورکړل شی آیا دهغې څښل جائز دی اوکه حرام دی ؟ دالبحر دلاندې جزئیی څخه حلت معلومیږی : **ومعنى امقلوه اغمسوه ووجه الاستدلال به ان الطعام قد يكون حارا فيموت بالغمس فيه فلو كان يفسده لما امر النبي صلى الله عليه وسلم ليكون شفاء لنا اذا اكلناه(البحر الرائق ص۸۸ج۱)**.جواب محقق ورکړی ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : مچ دنورو حشرات الارض په شان حرام دې دخوراك یاڅښاك شیان که دومره ګرم وی چی دمچ اجزاء پکې حل کیږی یا په هغې کښی دده دعرق شاملیدو ظن غالب وی نو دحضراتو فقهاء کرامو دتصریحاتو موافق دهغې استعمال حرام دې دبحر جزئیه په هغه صورت محموله ده چی دمچ داجزاء یا دعرق داختلاط ظن غالب نه وی چونکه د حشرات الارض دحرمت اصل علت استخباث دې او دا په لږ مقدار کښې پیداکیږی په طعام یاشراب کثیرکښې که وی نو نو دا علت نه پیداکیږی لهذا که لوی دیګ ته مچ ولویږی نو دهغه استعمال جائز دې.

قال الامام ابن الهمام رحمه الله تعالى: روی عن محمد رحمه الله تعالى اذا تفتت الضفدع في الماء كرهت شربه لا للنجاسة بل لحرمة لحمه وقد صارت اجزاؤه فيه وهذا تصريح بأن كراهة شربه تحريمية وبه صرح في التجنيس فقال يحرم شربه (فتح القدير ص۸۴ج۱)

وكذا قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى (البحر الرائق ص۹۸ج۱)

وقال ايضا: واعلم ان كل مالا يفسد الماء لا يفسد غير الماء وهو الاصح كذا في المحيط والتحفة والاشبه بالفقه كذا في البدائع لكن يحرم اكل هذه الحيوانات المذكورة ما عدا السمك الغير الطافي لفساد الغذاء وخبثه متفسخا اوغيره وقد قدمناه عن التجنيس (البحر الرائق ص۱۰۰ج۱) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۹ صفر سنہ ۱۴۱۲ ھ

چینجی خوړلې میوه یا غله خوړل

سوال په کومه میوه کښې چې چنجې لګیدلې وی دهغې خوړل څنګه دی ؟ دنفع المفتی والسائل بغرض تصدیق استفتـاء او استبشار ستاسو په خدمت کښې دی.

الاستفسار: هل يحل اكل الدود التي تكون في التفاح وغيره معه.

الاستبشار: نعم لتعسر الاحتراز منه واما اذا فرد عنه واكلت فحكمه حكم الذباب كذا في مطالب المؤمنين (نفع المفتي والسائل ص۱۱۰) بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب چنجې ایستل او میوې خوړل جائزدی. دنفع المفتی والسائل جواب صحیح ندی

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله: ولا بأس بدود الزنبور قبل ان ينفخ فيه الروح لان مالا روح له لا يسمى ميتة خانية وغيرها قال ويؤخذ منه ان اكل الجبن او الخل او الثمار كالنبق بدوده لا يجوز ان نفخ فيه الروح (رد المحتار ص۳۰۴ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم.   ۱۰ ذی القعدۃ سنہ ۱۴۱۳ ھ

دمسلمان مملوکه غونبه کافر ته په لاس ورتللو سره حرامه نګرځی

سوال دلاندې سوالونو ځوابونه مطلوب دی

اول کافرمسلمان ته خبرورکړ چی داغوښه مې له مسلمان څخه اخستې ده یا مسلمان هدیه ورکړې ده آیا دهغه خبر معتبر ګرځول او غوښه یې حلاله بلل اوخوړل ئې جائزدی؟

دوهم دمسلمان مملوکه غوښه څه وخت پداسې حالت کښې دکافر په قبضه کښې راغله چې له هغه سره خولګ مسلمان نه وو نو په داسې حالت کښې پداسې طریقې سره داغوښه حرامه ګرځی ؟

خینی خلك هغه حرامه بولی آیا مسئله همداسی ده ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په دواړوصورتونو کښې غوښه حلاله ده اودهغی استعمال جائزدی

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: ويقبل قول كافر ولو مجوسيا قال اشتريت اللحم من كتابي فيحل اوقال اشتريته من مجوسي فيحرم ولايرده بقول الواحد واصله ان خبر الكافر مقبول بالاجماع في المعاملات لافي الديانات وعليه يحمل قول الكنز ويقبل قول الكافر في الحل والحرمة يعني الحاصلين في ضمن المعاملات لامطلق الحل والحرمة كما توهمه الزيلعي.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله واصله) اى اصل ماذكر من ثبوت الحل والحرمة وهويشير الى سؤال وجوابه المذكورين في النهاية وغيرها حاصل السؤال ان هذه المسألة مناقضة لقوله الاتي وشرط العدالة في الديانات فان من الديانات الحل والحرمة كما اذا اخبريان هذا حلال اوحرام وقد شرط فيها العدل والمراد به المسلم المرضي وهنا قوله شريته من كتابي الخ معناه انه حلال اوحرام وقد قبل فيه خبر الكافر ولو مجوسيا والجواب ان قوله شريته من المعاملات وثبوت الحل والحرمة فيه ضمني فلما قبل قوله في الشراء ثبت ما في ضمنه بخلاف مااذا... وكم من شئ يثبت ضمنا لاقصدا كوقف المنقول وبيع الشرب وبه يتضح الجواب عن الكنز (ردالمحتار ص ۲۲۰ ج ۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۸ جمادی الثانية سنه ۱۴۱۵ھ

دکافر په نیزد د غوښې د خوړلو دجواز حیله

سوال کافر یو حیوان واخیست اوپه کوم مسلمان باندې یې ذبح کړ د دغې غوښې لپاره مسلمانانو ته دعوت ورکول غواړی لیکن هغه ته داخبره انتهائی مشکله معلومیږی چی داغوښه دذبحې له وخته بیاد خوراك تروخته پورې دکوم مسلمان په نگرانئ کښې وی، اوس پوښتنه داده چی داسې تدبیر شته چی لدې مشکل څخه نجات حاصل شی او مسلمانانو ته ددې غوښې خوراك حلال شی ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ددې تدبیر دادې چی کافر دې خپل حیوان کوم مسلمان ته قیمتا یاهدیتا ورکړی هغه دې مالك و گرځوی بیادې مسلمان هغه ذبح کړی اودهغې غوښه دې قیمتا یا هدیتا کافرته ورکړی، پدې صورت کښې دمسلمان نگرانی ضروری نده اومسلمانانو ته دهغې خوراك جائزدې، کافرته دومره ویل کافی دی چی ما دا له مسلمان څخه اخستی ده یامسلمان ماته هدیه راکړې ده والله سبحانه وتعالی اعلم ۲ رجب ۱۴۱۵ ھ

له حرام مال څخه مسکین ته خوراک ورکول جائز ندی

سوال: یو سړی په بانك کښې مامور دی دهغه بالغ اولاد که مسکین وی نو آیا هغوئ ته دپلار دحرام آمدن څخه خوراك، پوښاك جائزدی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: حرام مال واجب التصدق دی چی په هغې کښې تملیك دمسکین ضروری دی لدې وجې نه له حرام آمدن څخه مسکین ته هم خوراك کول جائز ندی. البته که هغه مسکین دهغه مالك وګرځول شی نو دهغه لپاره جائزدی مګر دمسکین دتملیك نه پس هم دغنی لپاره ندی جائز ځوپوری یې چی غنی مالك نه وی ګرځولی.

په سوال کښې په مذکوره صورت کښې داتدبیر اختیارولې شی چی پلار خپل کوم بالغ اولاد دنغدو مالك وګرځوی او هغه بیاد کور تولو مصارفو باندی خرج کوی پداسې طریقې سره به تول کورنی له حرامو خوړلو څخه بچ شی.

فی الباب الخامس عشر من کراهیة الهندیة: والسبیل فی المعاصی ردها وذلك ههنا برد الماخوذ ان تمکن من رده بان عرف صاحبه وبالتصدق به ان لم یعرفه لیصل الیه نفع ماله ان کان لا یصل الیه عین ماله.

(عالمگیریه ص۳۴۹ ج۵)

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: علیه دیون ومظالم جهل اربابها وایس من علیه ذلك من معرفتهم فعلیه التصدق بقدرها من ماله وان استغرقت جمیع ماله (ردالمحتار ص۳۳۳ ج۴)

وقال ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله تملیکا) فلا یکفی فیها الاطعام الا بطریق التملیك ولو اطعمه عنده ناویا الزکاة لا تکفی. (ردالمحتار ص۶۲ ج۲)

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: وطاب لسیده وان لم یکن مصرفا للصدقة ما ادی الیه من الصدقات فعجز لتبدل الملك واصله حدیث بریرة رضی الله عنها هی لك صدقة ولنا هدیة کما فی وارث فقیر مات عن صدقة اخذها وارثه الغنی و کما فی ابن السبیل اخذها ثم وصل الی ماله وهی فی یده ای الزکاة و کفقیر استغنی وهی فی یده فانها تطیب له بخلاف فقیر اباح لغنی او هاشمی عین زکاة اخذها لا یحل لان الملك لم یتبدل.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی تحت (قوله لان الملك لم یتبدل) لان المباح له یتناوله علی ملك المبیح ونظیره المشتری شراء فاسدا اذا اباح لغیره لا یطیب له ولو ملکه یطیب هدایة (ردالمحتار ص۴۲ ج۵)

والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۴ ربیع الاول سنه ۱۴۱۷ هـ

د سلام احکام

په کافر دسلام اچول یااخستل

سوال په کافر باندې سلام اچول جائزدی اوکه ناجائز؟ او دکافر دسلام ورکولو جواب څنګه دې؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب کافرته تعظیما سلام کول کفردې که تعظیم مقصود نه وی محض دتحیه په طور وی نو ناجائزدی او که دکوم حاجت له وجې نه وی نو جائز دې مګر السلام علی من اتبع الهدی دې اووائی دکافر دسلام جواب ورکول جائزدی لیکن په ځواب کښې صرف وعلیك ویل پکار دی

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ويسلم المسلم على اهل الذمة لوله حاجة اليه والا كره هو الصحيح(الى ان قال) ولوسلم يهودي اونصراني اومجوسي على مسلم فلابأس بالرد ولكن لايزيد على قوله وعليك كما في الخانية ولوسلم على الذمي تبجيلا يكفر لان تبجيل الكافر كفر.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله : (قوله ويسلم المسلم على اهل الذمة الخ) انظر هل يجوز ان يأتي بلفظ الجمع لوكان الذمي واحدا والظاهر انه يأتي بلفظ المفرد اخذا مما يأتي في الرد تامل لكن في الشرعة والظاهر انه يأتي بلفظ المفرد اخذا مما يأتي في الرد تامل لكن في الشرعية اذا سلم على اهل الذمة فليقل السلام على من اتبع الهدى وكذلك يكتب في الكتب اليه اهـ وفي التتارخانية قال محمد رحمه الله تعالى اذا كتبت الى يهودي اونصراني في حاجة فاكتب السلام على من اتبع الهدى اهـ (قوله لوله حاجة اليه) اى الذمي المفهوم من المقام قال في التتارخانية لانه النهي عن السلام لتوقيره ولاتوقيراذاكان السلام لحاجة. (رد المحتار صـ ۲۶۴ جـ ۵)

وقال ايضا: (قوله فلابأس بالرد) المتبادر منه ان الاولى عدمه لكن في التتارخانية واذاسلم اهل الذمة ينبغي ان يرد عليهم الجواب وبه ناخذ(ردالمحتار ص۲۵۹ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. (۱۹ شعبان سنـ۸۸هـ)

بدعتی اوفاسق ته سلام اچول

سوال په بدعتی او فاسق باندی سلام اچول شرعاً څنګه دی؟ اودهغه دسلام ځواب ورکول څنګه دی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په بدعتی او په علانیه فسق کښې په مبتلاء شخص سلام اچوال جائزندی زیره دیوموتی نه کمول او بښنګری په پایڅو کښې پټول، تی وی کتل تصوریرونه جوړول اوساتل، دښځودشریعت موافق پرده نه کول. حرام خوړل. په بانك انشورنس وغیره سودی ادارو

کښې کار کول .غیبت کول. دا ټول علانیه بغاوتونه دی څوك چې ددې ارتکاب کوی او څو پورې چې له دغو شخه په علانیه توبه ونه کړی په دغو خلکو سلام اچول جائزندی البته که دکوم فاسق سره تعارف او پیژند ګلووی نو په هغه سلام کول جائزدی لدې وجې چې په سلام نه کولو باندې دکبر ګمان کیږی او پدې سره له دین او دیندارو خلکو شخه نفرت پیداکیږی خواب ورکول په هرحال ضروری دی.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالیٰ: ویکره سلام علی الفاسق لو معلنا والالا.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تحت (قوله لو معلنا) وفی فصول العلامی لایسلم علی الشیخ المازح الکذاب واللاغی من یسب الناس اوینظر وجوه الاجنبیات ولا علی الفاسق المعلن ولاعلی من یغنی اویطیر الحمام مالم تعرف توبته (ردالمحتار ص۲۶۴ ج۵)

وقال ایضا: وینبغی وجوب الرد علی الفاسق لان کراهة السلام علیه للزجر فلاتنافی الوجوب علیه تأمل (ردالمحتار ص۲۶۸ ج۵) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۱۸ ربیع الاول سنه ۸۹ھ

دسلام دکراهیت مواقع (ځایونه)

سوال کوم کوم ځایونه داسې دی چې په هغې کښې سلام اچول مکروه دی؟ که دکراهیت په ځایونو کښې څوك سلام واچوی نو خواب ورکول ضروری دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب دسلام دکراهیت مواقع (ځایونه) دا لاندې دی:

اول کوم سړې چې دخواب ورکولو شخه عاجزوی هغه ته سلام کول خواه حقیقتاً عاجزوی لکه خوراك کوی یا شرعاً عاجزوی لکه په لمونځ یا اذان یا اقامت یا ذکر یا تلاوت یا دعلوم دینیه په تعلیم او تعلم کښې مشغول وی.

دویم قاضی ته په مجلس دقضاء کښې دخصمینو سلام کول.

دریم نامحرمه ځوانه ښځه باندی سلام اچول

څلورم په لوځ شخص باندی سلام اچول

پنځم په قضاء حاجت بول یا پاخانه باندې مشغول شخص باندی سلام اچول

شپږم په شطرنج تاش وغیره باندې په مشغول شخص باندی

اوم له ښځی سره په مشغول شخص باندی په دغو ټولو صورتونو کښې راجح قول دادی چې که څوك سلام وکړی نو خواب دسلام واجب ندې

قال العلامة الحصكفي رحمه الله: وفي البحر عن صدر الدين الغزي:

سلامك مكروه على من تسمع ومن بعد ما ابدى يسن ويشرع

مصل وتال ذاكر ومحدث خطيب ومن يصغي اليهم ويسمع

مكرر فقه جالس لقضائه ومن بحثوا في الفقه دعهم لينفعوا

مؤذن ايضا مقيم مدرس كذا الاجنبيات الفتيات امنع

ولعاب شطرنج وشبه بخلقهم و من هو مع اهله يتمتع

ودع كافرا ايضا ومكشوف عورة و من هو في حال التغوط اشنع

ودع اكلا الا اذا كنت جائعا و تعلم منه انه ليس يمنع

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى تحت (قوله وصرح في الضياء) قلت لكن في البحر عن الزيلعي ما يخالفه فانه قال يكره السلام على المصلي والقارئ والجالس للقضاء او البحث في الفقه او التخلي ولو سلم عليهم لا يجب عليهم الرد لانه في غير محله اه ومفاده ان كل محل لا يشرع فيه السلام لا يجب الرد وفي شرح الشرعة صرح الفقهاء بعدم وجوب الرد في بعض المواضع القاضي اذا سلم عليه الخصمان والاستاذ الفقيه اذا سلم عليه تلميذه او غيره او ان الدرس وسلام السائل والمشتغل بقراءة القران والدعاء حال شغلهم والجالسين في المسجد لتسبيح او قراءة او ذكر حال التذكير اه وفي البزازية لا يجب الرد على الامام والمؤذن والخطيب عند الثاني وهو الصحيح اه (رد المحتار ص ۲۶۳ ج ۱۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۸ ربیع الاول سنہ ۸۹ ھ

دخط دسلام ځواب ورکول

سوال دخط دسلام ځواب ورکول واجب دی او که نه؟ که واجب وی نو بالفور واجب دی یا عند جواب الکتاب؟ که دخط دځواب ورکولو اراده نه وی یا خط قابل دځواب نه وی نو بیا څه حکم دي؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب زباني یا په ذریعه دخط ځواب ورکول واجب دی بهتر دادی چې فوراً په ژبه سره ځواب ورکړې شی ځکه ممکنه ده دخط ځواب ورکولو فرصت پیدا نشی نو واجب به فوت شی او ګناه ګاربه شی

که دخط دځواب ورکولو اراده نه وی یا خط قابل دځواب نه وی نو فوراً ځواب په ژبه ورکول واجب دی

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ويجب رد جواب كتاب التحية كرد السلام.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله ويجب رد جواب كتاب التحية) لان الكتاب من الغائب بمنزلة الخطاب من الحاضر مجتبى والناس عنه غافلون ط اقول المتبادر من هذا ان المراد رد سلام الكتاب لا رد الكتاب لكن فى الجامع الصغير للسيوطى رد جواب الكتاب حق كرد السلام قال شارحه المناوى اى اذا كتب لك رجل بالسلام فى كتاب ووصل اليك وجب عليك الرد باللفظ او بالمراسلة وبه صرح جمع شافعية وهو مذهب ابن عباس رضى الله تعالى عنهما (رد المحتار ص۲۶۶ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۰ ربیع الاول سنہ ۹۸ ھ۔

درادیو دسلام خواب ورکول واجب ندی

سوال: په رادیو دتقریر کولو یا دقرآن ددرس ورکولو یا دخبرونو څخه مخ کښې السلام علیکم ویل کیږی ایا په آوریدونکو باندې دهغه ځواب ورکول واجب دی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: بغیر له ضرورته خبرونه آوریدل جائزندی لدې وجې په رادیو دسلام آوریدو او دځواب ورکولو سوال نه پیدا کیږی، که چیرته دضرورت واقعی له وجې خبرونه آوریدل وی او په رادیو سلام واوریدل شی نو دهغه ځواب ورکول جائزندی، ددی لپاره چی دا سلام دسنت خلاف اوبی موقع ده.

د وعظ اوتقریر اودبل کوم کار دعام اشاعت او اعلان نه مخکښې سلام دحضور صلی الله علیه وسلم اوصحابه کرامو اوتابعینو اوسلف صالحینو څخه ثابت ندې. له حضور صلی الله علیه وسلم څخه اوله صحابه کرامو څخه خطبات ماثوره شته دی مگر له هغوئ څخه مخکښې سلام چیرته هم منقول ندې.

عن هلال بن يساف قال كنا مع سالم بن عبيد فعطس رجل من القوم فقال السلام عليكم فقال له سالم وعليك وعلى امك فكان الرجل وجد فى نفسه فقال اما انى لم اقل الا ما قال النبى صلى الله عليه وسلم اذ عطس رجل عند النبى صلى الله عليه وسلم فقال السلام عليكم فقال النبى صلى الله عليه وسلم عليك وعلى امك الحديث رواه الترمذى وابوداود. (مشكوة صـ۴۵۶) فعدل صلى الله عليه وسلم عن الجواب المسنون واختار الطريق الغريب تنبيها على ان العاطس ليس محلا للسلام.

بعضې اکابرینو درادیو دسلام دځواب دنه وجوب دا وجه بیان کړې ده چی مجیب په سلام اچونکی باندې دسلام د ور آوریدو قادر ندې مگر پدې دا اشکال دې چی دوجوب دجواب لپاره قدرت علی الاسماع شرط ندې کما قال فی جواب سلام الکتاب والاصم. بلکه په بعضې صورتونو کښې فقهاء کرامو د قدرت اسماع باوجود جواب بدون اسماع لیکلې دې. کما فی جواب سلام

الاجنبیه الشابه ، والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۷ جمادی الثانیه سنه ۱۳۹۸هـ

په سلام کښې په «برکاته» باندې زیادت کول مکروه دی

سوال: یو مولوی صاحب فرمایي چې په سلام اوخواب دسلام کښې د «وبرکاته» نه بعد مغفرته وغیره زیاتول مکروه دی حالانکه ما په مشکوة شریف کښې دزیادت په فضیلت کښې حدیث لوستې دې، لهذا په دې باره کښې تحقیق ولیکئ، ډیره مهربانی به مو وی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په دې باره کښې روایات مختلف دی له بعضو نه جواز معلومیږی اوله بعضو څخه کراهت معلومیږی په لاندې وجوهو سره کراهیت ته ترجیح معلومیږی. **اول**: فقهاء کرام اوعام مفسرین دکراهیت قائل دی. **دویم**: په وخت دتعارض کښې اصولاً کراهیت ته ترجیح وی. **دریم**: دممانعت روایت سنداً هم قوی دې. **څلورم**: دمقلد لپاره قول دفقهاؤ دلیل دې.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: ولا یزید الراد علی وبرکاته.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: قال فی التتارخانیة والافضل للمسلم ان یقول السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته والمجیب کذلک یرد ولا ینبغی ان یزاد علی البرکات شئ اهـ (رد المحتار ص۲٦٦ ج۵)

قال الحافظ العسقلانی رحمه الله تعالی: (قوله فزادوه ورحمة الله) فیه مشروعیة الزیادة فی الرد علی الابتداء وهو مستحب بالاتفاق لوقوع التحیة فی ذلک فی قوله تعالی (فحیوا باحسن منها او ردوها) فلو زاد المبتدء ورحمة الله استحب ان یزاد وبرکاته ولو زاد وبرکاته فهل تشرع الزیادة فی الرد وکذا لو زاد المبتدء علی وبرکاته هل یشرع له ذلک اخرج مالک فی الموطا عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما قال انتهی السلام الی البرکة واخرج البیهقی فی الشعب من طریق عبدالله بن بابیه قال جاء رجل الی ابن عمر رضی الله عنهما فقال السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ومغفرته فقال حسبک الی وبرکاته انتهی الی وبرکاته ومن طریق زهرة بن معبد قال قال عمر رضی الله عنه انتهی السلام الی وبرکاته ورجاله ثقات وجاء عن ابن عمر رضی الله تعالی عنهما الجواز فاخرج مالک ایضا فی الموطا عنه انه زاد فی الجواب والغادیات والرائحات واخرج البخاری فی الادب المفرد من طریق عمرو بن شعیب عن سالم مولی ابن عمر قال کان ابن عمر رضی الله عنهما یزید اذا رد السلام فاتیته مرة فقلت السلام علیکم فقال السلام علیکم ورحمة الله ثم اتیته فزدت وبرکاته فرد وزاد فی وطیب صلوته ومن طریق زید بن ثابت انه کتب الی معاویة رضی الله عنهما السلام علیکم یا امیر المؤمنین ورحمة الله وبرکاته ومغفرته وطیب صلوته ونقل ابن دقیق العید عن ابی الولید ابن رشد انه یؤخذ من قوله تعالی (فحیوا باحسن منها) الجواز فی الزیادة علی

البرکۃ اذا انتہی الیہ المبتدئ واخرج ابوداود والترمذی والنسائی بسند قوی عن عمران بن حصین رضی اللہ تعالیٰ عنہ قال جاء رجل الی النبی صلی اللہ علیہ وسلم فقال السلام علیکم فرد علیہ وقال عشر ثم جاء اخر فقال السلام علیکم ورحمۃ اللہ فرد علیہ وقال عشرون ثم جاء اخر فزاد وبرکاتہ فرد وقال ثلاثون واخرج البخاری فی الادب المفرد من حدیث ابی ہریرۃ رضی اللہ عنہ وصححہ ابن حبان وقال ثلاثون حسنۃ وکذا فیما قبلہا صرح بالمعدود وعند ابی نعیم فی عمل یوم ولیلۃ من حدیث علی رضی اللہ عنہ انہ ہو الذی وقع لہ مع النبی صلی اللہ علیہ وسلم ذلک واخرج الطبرانی من حدیث سہل بن حنیف بسند ضعیف رفعہ من قال السلام علیکم کتب لہ عشر حسنات ومن زاد ورحمۃ اللہ کتبت لہ عشرون حسنۃ ومن زاد وبرکاتہ کتبت لہ ثلاثون حسنۃ واخرج ابوداود من حدیث سہل بن معاذ بن انس الجہنی عن ابیہ بسند ضعیف نحو حدیث عمران وزاد فی اخرہ ثم جاء اخر فزاد ومغفرتہ فقال اربعون وقال ہکذا تکون الفضائل واخرج ابن السنی فی کتابہ بسند واہ من حدیث انس رضی اللہ تعالیٰ عنہ قال کان رجل یمر فیقول السلام علیک یارسول اللہ فیقول لہ وعلیک السلام ورحمۃ اللہ وبرکاتہ ومغفرتہ ورضوانہ واخرج البیہقی فی الشعب بسند ضعیف ایضا من حدیث زید بن ارقم کنا اذا سلم علینا النبی صلی اللہ علیہ وسلم قلنا وعلیک السلام ورحمۃ اللہ وبرکاتہ ومغفرتہ وہذہ الاحادیث الضعیفۃ اذا انضمت قوی ما اجتمعت علیہ من مشروعیۃ الزیادۃ علی وبرکاتہ. (فتح الباری ص ۵ ج ۱۱)

قال العبد الضعیف: فانی راجعت الموطا فوجدت فیہ خلاف ما نقل عنہ الحافظ رحمہ اللہ تعالیٰ ونصہ عن یحیی بن سعید ان رجلا سلم علی عبداللہ ابن عمر رضی اللہ عنہ فقال السلام علیکم ورحمۃ اللہ وبرکاتہ والغادیات والرائحات فقال لہ عبداللہ بن عمر وعلیک الفا کانہ کرہ ذلک (موطا ص ۷۲۵)

قال العلامۃ محمود الالوسی رحمہ اللہ تعالیٰ: (فحیوا باحسن منہا) ای بتحیۃ احسن من التحیۃ التی حییتم بہا بان تقولوا وعلیکم السلام ورحمۃ اللہ تعالیٰ ان اقتصر المسلم علی الاول وبان تزید واو برکاتہ ان جمعہا المسلم وہی النہایۃ فقد اخرج البیہقی عن عروۃ بن الزبیر رضی اللہ عنہما ان رجلا سلم علیہ فقال السلام علیکم ورحمۃ اللہ وبرکاتہ فقال عروۃ ما ترک لنا فضلا ان السلام قد انتہی الی وبرکاتہ وفی معناہ ما اخرجہ الامام احمد والطبرانی عن سلمان الفارسی رضی اللہ تعالیٰ عنہ مرفوعا وذلک لانتظام تلک التحیۃ لجمیع فنون المطالب التی ہی السلامۃ عن المضار ونیل المنافع ودوامہا ونماؤہا وقیل یزید المحی اذا جمع المحیی الثلاثۃ لہ فقد اخرج البخاری فی الادب المفرد عن سالم مولی عبداللہ بن عمر قال کان ابن عمر رضی اللہ تعالیٰ عنہما اذا

سلم عليه فرد زادفاتبعه فلما السلام عليكم فقال السلام عليكم ورحمة الله وبركاته فقال السلام عليكم ورحمة الله وبركاته وطيب صلوته ولا يتعين ما ذكر للزيادة فقد ورد خير رواه ابوداود والبيهقي عن معاذ رضي الله عنه زيادة ومغفرته لما في الدر من ان المراد لا يزيد على وبركاته غير صحيح عليه. (روح المعاني صـ ۹۹ جـ۵)

قال الامام الرازي رحمه الله تعالى: (المسالة الرابعة) منتهى الامر في السلام ان يقال السلام عليكم ورحمة الله وبركاته بدليل ان هذا القدر هو الوارد في التشهد واعلم انه تعالى قال (فحيوا باحسن منها اوردوها فقال العلماء والاحسن هو ان المسلم اذا قال السلام عليك زيد في جوابه الرحمة وان ذكر السلام والرحمة في الابتداء زيد في جوابه البركة وان ذكر الثلاثة في الابتداء اعادها في الجواب روى ان رجلا قال للرسول صلى الله عليه وسلم السلام عليك يا رسول الله فقال عليه الصلوة والسلام وعليك السلام ورحمة الله وبركاته واخر قال السلام عليك ورحمة الله فقال وعليك السلام ورحمة الله وبركاته وجاء ثالث فقال السلام عليك ورحمة الله وبركاته فقال عليه الصلوة والسلام وعليك السلام ورحمة الله وبركاته فقال الرجل نقصتني فاين قول الله فحيوا باحسن منها فقال صلى الله عليه وسلم انك ما تركت لي فضلا فرددت عليك ما ذكرته (التفسير الكبير صـ ۲۱۲ جـ۱۰)

قال الحافظ ابن كثير رحمه الله تعالى بعد نقل الحديث المذكور بطريق متعددة: وفي هذا الحديث دلالة على انه لا زيادة في السلام على هذه الصفة السلام عليكم ورحمة الله وبركاته اذ لو شرع اكثر من ذلك لزاده رسول الله صلى الله عليه وسلم (التفسير ابن كثير صـ ۵۳۰ جـ۱)

قال العلامة ابوالسعود رحمه الله تعالى: (فحيوا باحسن منها) اى بتحية احسن منها بان تقولوا وعليكم السلام ورحمة الله ان اقتصر المسلم على الاول وبان تزيدوا وبركاته ان جمعهما المسلم وهي النهاية لانتظامها لجميع فنون المطالب التي هي السلامة عن المضار ونيل المنافع ودوامها ونماؤها (التفسير ابي السعود صـ ۶۰ جـ۱)

والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۷ جمادى الثانية سنـ ۹۸هـ

دیبایا تلوراتلو دسلام تکرار

سوال حضور صلی الله علیه وسلم فرمایي: اذا لقي احدكم اخاه فليسلم عليه فان حالت بينهما شجرة اوجدار اوحجر ثم لقيه فليسلم عليه رواه ابوداود (مشكوة صـ ۳۹۹ جـ۲) لدې څخه معلومیږی چې څومره مرتبې هم دیوال یا بل څه حائل وی بیا هم دمخامخ کیدو په صورت کښې سلام کول په کاردی آیا دا صحیح ده؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: داحکم په احیاناً مخ ته راتلو صورت باندې محمول دی په کوم

خای کښې چې بیابیا دا صورت پیښیږی مثلا څوك دمخدوم کمرې ته باربار څی راځی نو هلته په تکرار دسلام اوجواب کښې حرج ظاهردې. لهذا دا صورت له حدیث څخه مستثنی دی. والله سبحانه وتعالی اعلم. غره ذی القعده سنه ۱۴۱۶هـ

په وخت دسلام کښې په تندی باندی لاس کیښودل

سوال: دسلام کولو په وخت کښې په تندی باندی لاس کیښودل څه حکم لری ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: داد هندوانو شعار دې او دسجدې قائمقام دې لدې وجی حرام دې. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۸ذی الحجة سنه ۱۳۸۶

دلاس په اشاره سره سلام کول

سوال: دلاس په اشاره کولو سره سلام کول جائزدی اوکه نه اودهغه خواب ورکول واجب دی اوکه نه ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که له کومې وجې دغږ رسولومشکل وی نو په لاس سره سلام کول جائز دی اوځواب یی واجب دې او که آواز رسیږی نوصرف اشاره کافی نده بلکه په ژبه باندی سلام اوځواب ورکول سره دلاس د اشاری جائزدی څکه چی دا دمصافحی قائم مقام دی. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۸ذی الحجه سنه ۱۳۸۶هـ

د تیر شوی سوال په شان یو بل سوال

سوال: دلفظ دسلام نه بغیر صرف په لاس سره په اشاره کولو سلام کول اوځواب ورکول جائزدی اوکه نه ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: بغیر له عذرنه دلاس په اشاره سره سلام کول جائزندی او دهغه خواب ورکول هم واجب ندی اوبلاعذره له سلام سره دلاس اشاره یوځای کول جائزدی څکه چی دا دمصافحې قائمقام دی او دعذر دوجی صرف په لاس سره اشاره کول هم جائزدی البته که ممکن وی نوله هغه سره تلفظ هم کول په کاردی .

حدثنا قتیبة نا ابن لهیعة عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال لیس منا من تشبه بغیرنا لا تشبهوا بالیهود ولا بالنصاری فان تسلیم الیهود الاشارة بالاصابع وتسلیم النصاری الاشارة بالاکف هذا حدیث اسناده ضعیف وروی ابن المبارك هذا الحدیث عن ابن لهیعة فلم یرفعه (سنن الترمذی ص ۹۹ ج ۲)

قال الملاعلی القاری رحمه الله تعالی : رواه الترمذی وقال اسناده ضعیف ولعل وجهه انه من عمرو بن

شعیب عن ابیه عن جده وقد تقدم الخلاف فیه وان المعتمد ان سنده حسن لاسیما وقد اسنده السیوطی فی الجامع الصغیر الی ابن عمر . فارتفع النزاع وزوال الاشکال.

وقال الامام النووی رحمه الله تعالی: روینا عن اسماء بنت زید ان رسول الله صلی الله علیه وسلم مرفی المسجد یوما وعصبة من النساء قعود فالوی بیده بالتسلیم.

قال الترمذی : هذا حدیث حسن وهو محمول علی انه صلی الله علیه وسلم جمع بین اللفظ والاشارة ویدل علی هذا ان اباداود روی هذا الحدیث وقال فی روایته فسلم علینا قلت علی تقدیر عدم تلفظه علیه السلام بالسلام لامحذور فیه لانه ماشرع السلام علی من مرعلی جماعة من النسوان (الی ان قال) وقد یحمل علی انه لبیان الجواز بالنسبة الی النساء ران نهی التشبه محمول علی الکراهة لاعلی التحریم والله اعلم.

(مرقاة المفاتیح صـ۴۳۱ جـ۸)

وقال الحافظ العینی رحمه الله تعالی: ولوکان السلام علی اصم فینبغی الاشارة مع التلفظ لیحصل الافهام والا فلا یستحق جوابا وکذا اذا سلم علیه الاصم واراد الرد علیه فیتلفظ باللسان ویشیر بالجواب ولوسلم علی الاخرس فاشار الاخرس بالید سقط عنه الفرض وکذا لوسلم علیه اخرس بالاشارة استحق الجواب (عمدة القاری صـ۲۳۰ جـ۲۲)

قال فی الهندیة ویکره السلام بالسبابة کذا فی الغیاثیة (عالمگیریة صـ۳۲۶ جـ۵)

وفی الشرعة ولایشیر المسلم بالاصبع فانه من داب الیهود ولا بالکف فانه من عادة النصاری (المعانة فی مرمة الخزانة صـ۸) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۷ جمادی الثانیة سنـ ۱۴۱۷ هـ



رواج شوی رسمونه

دنعتیه اشعاروحکم

سوال په شریعت مطهره کښې دنعتیه اشعارو دسرورعالم صلی الله علیه وسلم په مدح کښې دویلو څه حکم دې ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دلوی محسن صلی الله علیه وسلم په مدح کښې نعتیه اشعار لوستل او دهغوئ صلی الله علیه وسلم دمعجزاتو او کمالاتو په اشعارو کښې بیانول جائزد بلکه

موجب د اجر وثواب او خیر او برکت دی او متعدد و صحابه کرامو څخه ثابت دی. البته دا ضروری دی چې د نبی معجزات او مضامین بیان کړی شی چې د صحیحو روایاتو څخه ثابت وی. د دروغو قصه ویل جائز ندی

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى وحمل ما وقع من بعض الصحابة من انشاد الشعر المباح الذي فيه الحكم والمواعظ فليس بغناء كما نقل عن الشعر وما نقل عن غيره كما قال الشيخ ... ان الشعر ليس
ولا يجار من ... الشعر ... ما ... لأجل كشفه الذكور والمرأة ...
قوله) الا اذا اراد ... للاستشهاد به او ليعلم فصاحته وبلاغته وكان فيه وصف امرأة ليست كذلك او
... والاثار ... (رد المحتار ص ۲۲ ج ۵)
اقول لما جاز انشاد الشعر ... لأجل ... معجزات
رسول الله صلى الله عليه وسلم ... والاهوال ولله سبحانه
وتعالى اعلم.
۲۷ محرم ــــ ۷۳ هـ

د اختر د کارت حکم

سوال د دوستانو او اخوانو سره کومی د اختر په موقع د عید کارډ په التزامی یا غیر التزامی طور سره یو بل ته لیږل جائز دی او که غیر جائز دی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د مصارفو پنځه درجې دی اول ضرورت دویم حاجت دریم اسائش څلورم ارائش او زیبائش پنځم نمائش

ضرورت هغه دې چې د ژوندگی دلپاره هرڅه وی دهغو د نشتوالی له وجې ضرر لاحق کیږی لکه په قدر د کفایت طعام او لباس وغیره

حاجت چې دهغه نه موجود والی له وجې ضرر نه وی مګر ګذاره مشکله وی لکه د قدر کفایت نه زیات شیان چې په حاجاتو کیښې په کار راځی

اسائش له حاجت څخه اضافه شیان لکه د آرام او راحت شیان

ارائش او زیبائش صرف د زیب او زینت شیان

نمائش هغه چې مقصد ورڅخه فخر او ځان ښودنه وی په ضرورت خرچ کول فرض دی او په حاجت او اسائش او ارامش او زیبائش باندی خرچ کول جائز دی په شرط د دې چې اسراف نه وی. اسراف وادې چې بلا ضرورته د آمدن نه زیات خرچ وشی

د نمائش لپاره خرچ کول حرام دی. زیبائش او نمائش وزره د افعالو څخه دی په دواړو کیښې فرق صرف په نیت سره دی لهذا بلا وجه په چا د نمائش حکم لګول صحیح ندی د اختر کارت څخه که

فخر او نمود مقصود وی نوبلاشبه ناجائزدي او که له هغه څخه صرف زینت او دبل چا زړه خوشحالول مقصود وی نو دا په ارائش اوزیبائش کښې داخل دي چی بلاشبه جائزدي بلکه القاء السرور فی قلب المؤمن دلاندی باعث دثواب دي. ددې دیر مثالونه دی : مثلا ګلدسته یا منظره خوبصورت پید اوښائسته ګلدار کاغذ . ښائسته ګلداره لفافه ددي په شان دزینت شیان بالاتفاق جائزدی په علماء اوصلحاو کښې هم رواج دي نو د اختر کارت دناجائزوالی هیڅ وجه نشته. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۶شوال سنہ ۱۳۸۶ھ

د عیدی ((داختردپیسواوتحفو ورکولو)) لین دین

سوال: آیا د اختر په ورځوکښې داختر په خوشحالیې کښې دعیدی په نوم پیسی ورکول اواخستل جائزدی اوکه ناجائز؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دعیدی لین دین دلاندی فساداتوله وجی ناجائز دي.

اول: فخراونمود . **دویم**: عموماً دمبادلې نیت پکښې وی . **دریم**: دورکونکی نیت که دعوض اخستلوهم نه وی بیاهم چی دچا ماشومانوته عیدی ورکوی نو هغه داپه ځان بوج محسوس کوی او ددې عوض ورکول ضروری ګنی. **څلورم**: دمعاوضې دناجائزرسم تائید اوترویج . **پنځم**: دلیدونکو او آوریدونکو لپاره دناجائز رسم د مرتکب کیدلو بدګمانی او دتهمت مظنه ګرځیدل . **شپږم**: دماشومانو په زړونوکښې دمال محبت پیداکیږی، ددې وجی نه خپلو ماشومانو ته هیڅ کله هم پیسې مه ورکوئ، ماشومانو ته دپیسو ورکولو اودهغوئ ددنیا او آخرت دتباه کولو په ځای هغه صدقه او خیرات اوددین په کارونو کښې زیات نه زیات دخرچ کولو ترغیب ورکول لازم دی، والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۵جمادی الثانیة سنہ ۱۳۹۸ھ

په مختلفو مواقعوکښې دتحائفولین دین

سوال: په دې زمانه کښې په مختلفو مواقعوکښې دهدیو اوتحفو دلین دین سلسله عامه شوې ده ، مثلا : **اول**: څوک چې حج یا عمرې ته ځی نو اقارب اودوستان هغه ته تحفې او هدیې ورکوی، بیاهغه سرې په واپسۍ کښې هغوئ ته تحفې او هدیې راوړی اونه ورکول عار اوشرم ګنی

دویم: دچاپه کور کښې چی ماشوم وشی نوهغه دعوتونه کوی اوڅوک چی ورځی هغه تحفې او دالۍ ورکوی، دغه شان دماشوم دلیدلوپه وخت هم . **دریم**: که څوک نوې مکان یا کور جوړوی نو خلک ورځی اوتحفې وروړی اوخالی لاس تلل عار اوشرم بولی . **څلورم**: د واده او غوښتنی په وخت کښې خلک تحفې ورکوی . **پنځم**: دمریض دپوښتنی په وخت له ځان سره تحفې وروړی **شپږم** د اختر په وخت دعیدی لین دین وی.

په دغه ټولو صورتونو کښې دخلکو څه ورکول او بیادهغه قبلول او دقبول کولو نه بعدپه بله موقع کښې تحفه ورکونکی ته تحفه ورکول ددې ټولو صورتونو شرعی حیثیت څه دې؟ په دې کښې چې کوم قباحتونه دی دهغو په تفصیل سره لیکل مطلوب دی ترڅوپه خلکو کښې دهغې زیات نه زیات اشاعت وشی اوهغوئ صراط مستقیم طرفته راوستل شی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: په خپل مینځ کښې دتحفې ورکولو لین دین اوپه مشکلو حالاتو کښې دیوبل مددکول د خپل منځی محبت اوالفت پیداکولو یوه موثره ذریعه اودشریعت یومؤکد حکم دې دحضورصلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دې ((تهادوا تحابوا)) (موطا امام مالك)

مگر شریعت دهدیی اوتحفی اود خپل منځی تعاون اوتناصر الفاظ دخاص خاص حقیقتونو لپاره وضع کړی دی، ددغو حقائقو د پیداکیدو په صورت کښې به ددغو الفاظو استعمال دشریعت مطابق وی او دا عمل به سبب داجر اوثواب وی مگر کوم ځای چې دا حقیقت تر لرې لرې په نظر نه راځی نو هلته اصطلاحات شرعیه استعمالول داحکامو داسلام سره ټوکې کول اواهانت دې ، آیا رشوت ته د «چای پانی» نوم ندې ورکول شوی؟ سود اوجواری ته په متعدد صورتونو کښې دنفع اوانعام په نوم جواز ندې ورکړشوی.

دمعاشرې نه باخبراشخاص ښه پوهیږی چې کوم صورتونه په سوال کښې ذکردی په هغوکښې دهدیی اوتحفی او خپل منځی تعاون اوتناصر وغیره اصطلاحاتو سره دغه ناروا معامله کیږی.

ددغو اصطلاحاتو احترام په هر مسلمان باندې واجب دې په دې ټولو صورتونو کښې دهدیې او تحفی اوعیدی وغیره په نوم ورکول اواخستل دواړه ناجائزدی او تقریبا دا ټول صورتونه په لاندې قباحتونو مشتمل دی.

اول دا پیسې اوسامان جبرا اخستلې شی پداسې طریقې سره چې نه صرف ورکونکې ملامته کولی شی بلکه د خپلولی ځخه بهر کولی شی اوجبرا له چاځخه څه اخستل حرام دی

دویم داخستونکی نیت کښې ریاء اوسمعت وی او د شهرت اوسمعت دنیت له وجې جائز فعل هم ناجائزگرځی

دریم دا پیسې او اسباب قرض دی چې دهغوپه موقع سره واپس کول ضروری گڼل کیږی اوبلا ضرورته دقرض لین دین کول ناجائزدی لدې وجې نه چې هدیه خو دلیل دمحبت اوباعث دزیادت دمحبت ده مگر ددې برعکس قرض قاطع دمحبت دې. ددې نوم لدې وجې «قرض» اینبودل شوې چې دا مقراض دې نومقراض محبت ته دمحبت دهدیی نوم ورکول او دا جائز کول بلکه مندوب اومستحب کول دالله اودرسول الله صلی الله علیه وسلم له احکامو څخه ښکاره بغاوت اودشرعی اصطلاحاتو ښکاره تحریف دی

څلورم دقرض متعلق داحکم دی چې کله هم استطاعت وی باید اداء کړې شی مگر دا اشیاء

داستطاعت باوجود دمعهودو مواقع نه مخکې نه ورکول کیږی اوبلاعذره قرض ځنډول ظلم دی بیا که یو دوه ورځې پوروسته مقروض دا قرض اداء کول وغواړی نو قرض خواه یی نه قبلوی بلکه په معهودو مواقعو کښې یی قبلوی داهم یوه مستقله ګناه ده څه معلومه ده چې تر هغې موقع پورې به ژوند باقی وی اوکه نه اوقرض به اداء کړې شی اوکه نه خدا نخواسته که دقرض ادا کولو نه مخکښې مرګ راشی نو څه به جوړشی؟ دمعروض دوفات په صورت کښې دوارثانو ادا کول یقینی ندی اودقرض خو د وفات په صورت کښې دهغه په تولو وارثانو قرض تقسم کول اوهر یوته خپله حصه رسول ضروری دی حالانکه ددې اهتمام نه کیږی بلکه دعرف مطابق په معهودو مواقعواکښې کوم یووارث ته ورکړل شی اوهغه یی خپل حق وګڼی اواستعمالوی یی او دنورو وارثانو دحق خیال هم پکښې نه کوی.

پنځم دیر قرض غوښتونکی دقرض د اخستونکو نه مخکې مره شی او دا قرض وارثانو ته منتقل شی بیا څوورثان هم مره شی نوپه صورت دمناسخه کښې تقسیم درتقسیم اونقل درنقل شی اودومره خورشی چې تول اهل حقوق او دهریوه دحق مقدار معلومول ناممکن وګرځی بیاکه مقروض قرض اداکول هم وغواړی نو هغه ته دحقوق العباد نه دسبکدوشی هیڅ صورت ممکن نه وی د دیرو خلکو دحقوقوبوج واخلی اوله دنیا څخه رخصت شی.

شپږم په دغورسمونو باندی دفرضواوواجبوپه شان اصرار اوالتزام کولې شی حالانکه دداسې قسم التزام له وجې امرمباح یا مندوب هم واجب الترک شی.

عن ابي حرة الرقاشي عن عمه رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم الا لا تظلموا الا لا يحل مال امرئ الا بطيب نفس منه رواه البيهقي في شعب الايمان والدار قطني في المجتبى (مشكوة ص ۲۵۵)

عن ابن عمر رضي الله تعالى عنهما قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من لبس ثوب شهرة في الدنيا البسه الله ثوب مذلة يوم القيامة رواه احمد وابوداود وابن ماجه (مشكوة ص ۳۷۵). وعنه رضي الله عنهما يرفعه قال من لبس ثوب شهرة البسه الله اياه يوم القيامة ثم الهب فيه النار ذكره رزين في جامعه.

وعن ابي ذر رضي الله تعالى عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال من لبس ثوب شهرة اعرض الله عنه حتى يضعه متى وضعه (الترغيب والترهيب ص ۱۳۳ ج ۳)

محمد بن جحش رضي الله تعالى عنه كنا جلوسا عند رسول الله صلى الله عليه وسلم فرفع راسه الى السماء ثم وضع راحته على جبهته ثم قال سبحان الله ماذا انزل من التشديد فسكتنا وفزعنا فلما كان من الغد سألته يا رسول الله ما هذا التشديد الذي نزل فقال والذي نفسي بيده لو ان رجلا قتل في سبيل الله ثم احيي ثم قتل ثم

احق ثم قتل وعليه دين ما دخل الجنة (جمع الفوائد)

وفی الحديث مطل الغنی ظلم.

نقل العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى عن الخيرية سئل فيما يرسله الشخص الى غيره فی الاعراس ونحوها هل يكون حكمه حكم القرض فيلزمه الوفاء به ام لا؟ اجاب ان كان العرف بانهم يدفعونه على وجه البدل يلزم الوفاء به (الى ان قال) نعم فی بعض القرى يعدونه قرضا فی كل وليمة يحضرون الخطيب يكتب لهم ما يهدى فاذا جعل المهدی وليمة يراجع المهدى الدفتر فيهدى الاول الى الثانی مثل ما اهدى اليه (رد المحتار ص ۴۱۳ ج ۵)

قال الفقيه لا بأس ان يستدين الرجل اذا كان له حاجة لابد منها ويريد قضاءها (بستان العارفين) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۱ جمادی الاولی سنہ ۱۴۱۶ھ

دښادۍ په پروګرامونو کښې په ديوالونو باندې بلفونه او څراغان خوړندول

سوال : دښادی اوخوشحالۍ په موقع يومکان باندې دبرق واړه واړه رنګين ګروپونه خوړندول او ښائسته کول شرعا جائزدی اوکه ناجائز؟ بينواتوجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دزينت په قصد سره څراغان کول جائزدی په نيت دفخر او غرور ناجائزدی. والله سبحانه وتعالى اعلم. ((ددی تفصيل په عيد کارډ عنوان کښې تيرشوی دی)).

۱۵ ذی قعده سنہ ۱۳۸۷ھ

د تير شوی سوال په شان يو بل سوال

سوال دبعضې دينی جلسو يا ښاديو په اجتماع کښې واړه واړه بلفونه په ډير تعدا کښې د زينت لپاره لګول کيږی اورنګينې جنډې هم لګول کيږی آيادا اصراف ندې؟ او د تعدد دبلفونو په وجه له ديواليانو سره مشابهت نه راځی؟ اګرکه قصد دمشابهت يې نه وی. آيا دعلامه شامی دقاعدې کليی ((المراد بالتشبه ماقصد به التشبه)) نه داعمل خارج دتشبه څخه نه بلل کيږی ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د مشابهت د قصد د نشتوالی له وجی له ديوالی سره دمشابهت علت صحيح ندې او اسراف هغه ته وائی چی د آمدن څخه زيات خرچ وکړل شی اوکه د آمدن دننه خرچ وکړل شی نو دا اسراف ندې، په ما کولاتو اومشروباتو اوملبوساتو اومکان اوسورلۍ و غيره کښې دضرورت نه زائد مصارفو ته ولی اسراف نه ويل کيږی؟ اسراف تر بلفونو اوجنډوپورې دخاص کولو لپاره څه وجه ده ؟ په حقيقت کښې په اسائش اوارائش باندی خرچ کول فی نفسه مباح دی بلکه په ځينی صورتو نو کښې مستحسن دی

قال الله تعالى: قل من حرم زينة الله التي اخرج لعباده والطيبات من الرزق قل هي للذين امنوا في الحيوة الدنيا خالصة يوم القيامة.

حضرت عثما ن رضي الله تعالى عنه مسجد نبوی په سنګ مرمروسره مزين کړو په هغه باندې کوم صحابی اعتراض ونه کړو ددې وجی نه دعثمان رضی الله عنه دا جواز دتزين په اجماع دصحابه کرامو سره ثابت شو، البته ارائش او سائسته کول دوقف له مال څخه جائز ندی دچاچی شوق وی هغه دې دخپل ذاتی مال څخه وکړی، يادې دچنده ورکونکو څخه اجازه وغواړی په کوم ځای کښې چی د داسې قسمه ښائست عام دستور وی او چنده ورکونکوته هم علم وی هلته صراحتاً اجازه غوښتل ضروری ندی د اذن دلالت هم کافی دی. ۴ــ صفرســ ۱۴۰۵هـ

له مرض څخه دجوړيدو په صورت کښې په غاړه کښې اميل اچول

سوال دمريض په جوړيدو دوستان اوعزيزان دهغه په غاړو کښې دګلونو اميل اچوی آيا داجائز دی اوکه نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: داظهار سرور او شکرنعمت لپاره داسې کول جائزدی مګر په هغې کښې غلوکول ناجائز دی، دغه رنګه دا قسم شيان عموما اول په صحيح نيت سره په انفرادی طور سره شروع کيږی ليکن ورو ورو باقاعده رسم اختيارکړی اودهغې التزام کيږی چی په هغې کښې ډير قباحتونه او ناجائز کارونه شروع شی دهغو دسد باب لپاره له داسی کارونو څخه ځان ساتل په کار دی، دنعمت دشکر حقيقت دادې چی معاصی اوګناهونو څخه توبه وباسی اودمنعم حقيقی طرفته توجه وکړل شی، والله سبحانه وتعالی اعلم. ۴ربيع الاول ســ۱۳۸۸ هــ

دامام په غاړه کښې اميل اچول

سوال: زمونږ امام دماخوستن له لمانځه څخه وروسته دحديثو درس ورکوی په داسې موقع که کله کله مقتدی دامام صاحب په غاړه کښې دګلونو اميل واچوی آيا پدې کښې څو څه حرج نشته؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا کار فی نفسه جائز دې مګر داسې شيان عموما وروسته بدعت يا د رسم صورت غوره کړی اوپه هغې کښې زياته غلوکيږی.لهذا لدې څخه ځان ساتل په کاردی.

دختم قرآن لپاره دعوت کول

سوال دماشومانو دقرآن مجيد ختمولوپه موقع دعوت کول ياخواږه تقسيمول جائز دی که ناجائز؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: هو! جائز دی حضرت عمر فاروق رضی الله عنه دسورة بقره تعلیم په دولس کالوکښې مکمل کړ اوددې په خوشحالۍ کښې یې اوښ ذبح کړو. البته دفخر اوخان ښودنې یا له خپل حیثیت څخه زیات قرض اخستل او خرچ کول جائزندی همدارنګه له التزام څخه هم خان ساتل په کاردی.

عن مرداس بن محمد ابی بلال الاشعری قال حدثنا مالك عن نافع عن ابن عمر رضی الله تعالی عنهما قال تعلم عمر رضی الله تعالی عنه البقرة فی اثنتی عشر فسنة فلما ختمها نحر جزورا (الجامع لاحکام القران ص۴۰ ج۱)

دماشومانو سالګره لمانځل

سوال: دماشومانو کال لمانځل اوَ په دې موقع دقرآن خوانی اهتمام کول له شریعت څخه ثابت دی اوکه نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: دسالګرې لمانځل یوقبیح رسم دې ددې ترک واجب دې اصل سالګره داده چې پداسې ځایونو کښې دخپلې زندګۍ احتساب وکړل شی اودخپلو عملونو په باره کښې فکر وکړل شی چې جنت طرفته روان دی او که دجهنم طرفته؟ والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۴رجب سنه ۱۳۹۱هـ

دحاجی دعوت کول

سوال زید حج وکړو او راغلې دې، اوس زید د اظهار مسرت لپاره خپلوخپلوانوته دعوت وکړې یانور خپلوان زیدته دعوت وکړی نوشرعا داجائزدی اوکه ناجائز؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: هو! جائزدی مګر دهغه داسې التزام نه کول معیوب ګڼل یا یوپربل قرض ګڼل بیا جائز ندی. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۸ محرم سنه۱۳۹۲هـ

د ختنې ((سنتی)) دعوت

سوال: د ماشوم د سنت کولو په موقع باندې خلکو ته دعوت ورکول شرعًا جائز دی اوکه نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: د سنتی ددعوت په شریعت کښې هیڅ ثبوت نشته او نه دهغې نصاً چرته ذکر شته اونه دا (الدعوة فی السرور) د ضابطې د مشروعت لاندې داخل دی. لهذا دا دعوت جائزندې بیا داسنت ګڼل دبدعت شنیعه کیدو اضافه ده. د تبدیع (بدعت) لپاره عدم ثبوت کافی دې او په دې خوپه قرون مشهود لها بالخیر کښې انکار موجود دې

حدثنا عبدالله حدثنی ابی حدثنا محمد بن سلمة الحرانی عن ابن اسحق یعنی محمدا عن عبیدالله او عبدالله بن

طلحه بن لريز عن الحسن قال دعي عثمان ابن ابي العاص رضي الله تعالى عنه الى ختان فابى ان يجيب فقيل له فقال انا كنا لا نأتي الختان على عهد رسول الله صلى الله عليه وسلم ولا ندعى له (مسند احمد ص۲۱۷ ج۴)

رواية الادب المفرد: حدثنا زكريا بن يحيى قال حدثنا ابو اسامة عن عمرو بن حمزة قال اخبرني سالم قال ختنني ابن عمر رضي الله عنهما انا ونعيما فذبح علينا كبشا فلقد رايتنا وانا لنجذل به على الصبيان ان ذبح علينا كبشا.

ددې روايت د سند دتحقيق لپاره حاجت نشته د سند دصحت د تسليمولو سره سره هم په لاندې وجوه سره استدلال صحيح ندې

اول داصرف يوه جزئي واقعه ده چې دصحابه كرام رضى الله عنهم دتعامل خلاف ده .

دويم د دعوت دمشروعيت له ذكر شوې ضابطې څخه خلاف دې .

دريم دحديث اوفقهې امامانو هغه ندې اختيار كړې. ددغو وجوه ثلاثه مذكوره په بناء سره دا جزئيه واجب التاويل ده. حقيقت دادې چې دجاهليت په ايامو كښې په عربو كښې د نجونو ولادت ډير بدګڼل كيدو ﴿ وَإِذَا بُشِّرَ أَحَدُهُم بِالْأُنثَىٰ ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ ﴿٥٨﴾ يَتَوَارَىٰ مِنَ الْقَوْمِ مِن سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ ۚ أَيُمْسِكُهُ عَلَىٰ هُونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ ۗ أَلَا سَاءَ مَا يَحْكُمُونَ ﴿٥٩﴾ ﴾

ددې برعكس دهلكانو په ولادت به ډير زيات خوشحاليدل اوفخر به يې كولو :

﴿ عُتُلٍّ بَعْدَ ذَٰلِكَ زَنِيمٍ ﴿١٣﴾ أَن كَانَ ذَا مَالٍ وَبَنِينَ ﴿١٤﴾ ﴾

له دې وجې نه دهلك په ولادت به يې دهغه دتشهير اواظهار سرور اوفخر اومباهاة په غرض ددې كار اظهار اواعلان كولو او د دې لپاره چې نجلۍ نده پيدا شوې بلكه هلك پيدا شوې دې نو د سنتي دعوت به يې كولو او دا په هغوئ كښې عام دستور وو.

په شريعت كښې ددې دعوت صراحتاً نهي نده وارده شوې. حضورصلى الله عليه وسلم اوصحابه كرامو رضى الله عنهم دغه دعوت دشرعي ضابطې خلاف كيدلو اود عقل خلاف كيدلو له وجې ددې ترك هم دممانعت لپاره كافي وګڼلو اودداسې بديهي البطلان كار څخه يې صراحتاً دنهي ضرورت محسوس نكړو. له دې وجې نه دصحابه كرامو رضى الله عنهم له دومره لوئ جم غفير څخه ديو فرد نه هم د نص صريح د نشتوالي او دممانعت د شائع كيدلو د نشتوالي له وجې دعربو د عام دستور مطابق عمل كول بعيد ندې .

اقوال الفقهاء رحمهم الله تعالى دفقهې په كتابونو كښې ددعوت ختان ذكر پيدا كيږى مګر ائمه احناف رحمهم الله نه يې هيڅ ثبوت نشي موندل كيدى

قال الامام الكرلي رحمه الله تعالى: ودعوة الختان لا يعرفها المتقدمون، ولا على من دعي اليها ان يجيب وانما

وردت السنة فی اجابة من دعی الی ولیمة تزویج.

وقال الامام ابن قدامة رحمه الله تعالی: یعنی بالمتقدمین: اصحاب رسول الله صلی الله علیه وسلم الذین یقتدی بهم. وذلک لما روی ان عثمان بن ابی العاص رضی الله تعالی عنه دعی الی ختان فابی ان یجیب فقیل له فقال: انا کنا لاناتی الختان علی عهد رسول الله صلی الله علیه وسلم ولاندعی الیه. رواه الامام احمد رحمه الله تعالی باسناده. اذا ثبت هذا فحکم الدعوة للختان وسائر الدعوات غیر الولیمة: انها مستحبة. لما فیها من اطعام الطعام والاجابة الیها مستحبة غیر واجبة. وهذا قول مالک والشافعی وابی حنیفة واصحابه رحمهم الله تعالی.

وقال: فاما امر الاجابة الی غیره (طعام الولیمة) فمحمول علی الاستحباب. بدلیل انه لم یخص به دعوة ذات سبب دون غیرها واجابة کل داع مستحبة لهذا الخبر ولان فیه جبر قلب الداعی وتطییب قلبه وقد دعی احمد رحمه الله تعالی الی ختان فاجاب واکل. فاما الدعوة فی حق فاعلها فلیست لها فضیلة تختص بها لعدم ورود الشرع بها ولکن هی بمنزلة الدعوة لغیر سبب حادث فاذا قصد فاعلها شکر نعمة الله علیه واطعام اخوانه وبذل طعامه فله اجر ذلک انشاء الله تعالی. (المغنی صـــ ۲۸۶ جـــ ۷)

عبارت مذکوره نص دې پدې خبرو چی قرون مشهود لها بالخیر کښې ددعوت ختان دبدعت هیڅ وجودنه وو. البته ددغه عبارت نه دا لاندې امور محل دبحث دی:

اول ائمه حنفیه رحمهم الله طرفته داستحباب نسبت. اول جواب: په نقل مذهب کښې دغیر اصحاب مذهب قول معتبر ندې لان صاحب البیت ادری مافی البیت.

دویم جواب: سائر الدعوات نه هغه دعوت مراد دې چی دکوم داعی شرعی یا عقلی له وجی وی. دعوت ختان یی په هغو کښې داخل بللی نو ذکر کړی یی دې حالانکه دهغه عدم دخول واضح دې دا احتمال دنورو ائمه ثلاثه طرفته په نسبت کولو کښې هم موجود دې دلته احتمال بعد هم معتبر بلکه واجب القبول دې لمابینا

دویم ددعوت بلاسبب اثبات اول جواب: په دې ذکر شوو مثالونو کښې یعنی جبر قلب داعی. تطیب القلب. شکر نعمت اطعام اخوان. اوبذل الطعام بلاسبب ګرځول صحیح ندی

دویم جواب که دعوت بلاسبب تسلیم هم کړل شی نو دهغې جواز به تردې پورې مقید وی چی خولډ داسبب ونه ګنی چی نه شرعاً سبب وی اونه عقلاً. دعوت ختان ته بلاسبب وبل صحیح ندی. سبب خوموجود دې مګر داسبب مخترع دې نه شرعی دې اونه عقلی دې بلکه شریعت ددې به سبب دعوت ګرځولو باندې رد کړې دې. عوامو دجاهلیت د زمانې مطابق غیر سبب. سبب ګرځولې دی وهذا ظاهر

دابن عمر رضی الله تعالی عنه دفعل اوداقوال فقهاء کرامو دا تاویل قرین قیاس ندي چی لدې څخه دعوت عند اندمال زخم مراد دې چی دحصول صحت په موقع باندی اظهار شکر اوسرور دې حاصل داچی ددې رسم شنیع اوقبیح بطلان فی نفسه هم ظاهردې اوددې وجی نه هم چی ددې بنیاد دجاهلیت مغضوب علیهم دغه رنګه مبغوض عمل باندې دې چی په هغې باندې الله تعالی په قران کریم کښې څوځایه سخت نکیر کړې دې، دومره لوی جرم ته سنت ویلو په شان بدعت باندې چی څومره رد وشی او دهغه څومره اوتشنیع اوتقبیح بیان شی هغه بیا هم کم دې ، والله هو العاصم من البدع فی الدین وهو الهادی لسبیل الرشاد. والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۰ ربیع الاول سنـــ ۱۳۹۲ هــ

دحسن قرائت مقابله

سوال : دحسن قرائت مقابله څه حکم لری؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : که په خلکو کښې د قران د تجوید شوق پیداکول مقصود وی نو جائزه ده مګر په موجوده محافل حسن قرائت کښې دا لاندې مفاسد موندل کیږی.

اول : دسړیو اوښځو بی حجابانه اختلاط.

دویم دتصویرونو لعنت.

دریم : خلاف شریعت دعوتونه.

پداسې حالاتو کښې احتراز کول لازم دی. والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۲ ربیع الاخرت ۱۳۹۲ هـ

په سیاسی او لسانی فساداتوکښې دقنوت نازله حکم

سوال : نن سبا سیاسی اولسانی فسادات ډیرکیږی اودغیر مسلم قوتونو دسازشونو په نتیجه کښې مذهبی فسادات هم کیږی چی په هغو کښې بی ګناه مسلمانان شهیدان کیږی آیا پداسې حالاتو کښې قنوت نازله لوستل په کار دی اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : په مسلمانانو باندې دراتلونکو مصائبو اوبلیاتو په وخت کښې قنوت نازله لوستل جائزدی مګر په دنیا او آخرت کښې دالله تعالی دعذاب نه دنجات أصل نسخه چی هغه الله تعالی پخپله ځای په ځای په قرآن کریم کښې باربار اعلان کړی ده هغه داده چی دالله تعالی دنافرمانی نه توبه او استغفار وکړې شی اوهرقسم منکرات ترک کړې شی دګناه د پریښودلو نه بغیر که کلونه قنوت نازله ولوستل شی دالله تعالی دعذاب نه نجات هر ګزنشی حاصلیدې.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله الانازلة) قال فی الصحاح النازلة الشدیدة من شدائد الدهر ولاشك ان الطاعون من اشد النوازل اشباه (قوله فیقنت الامام فی الجهریة) یوافقه ما فی البحر و

الفرنہایۃ عن شرح النقایۃ عن الغایۃ وان نزل بالمسلمین نازلۃ قنت الامام فی صلوۃ الجہر وہو قول الثوری واحمد اھ وکذا ما فی شرح الشیخ اسماعیل عن البنایۃ اذا وقعت نازلۃ قنت الامام فی الصلوۃ الجہریۃ لکن فی الاشباہ عن الغایۃ قنت فی صلوۃ الفجر ویؤیدہ ما فی شرح المنیۃ حیث قال بعد کلام فتکون شرعیتہ ای شرعیۃ القنوت فی النوازل مستمرۃ وہو محمل قنوت من قنت من الصحابۃ بعد وفاتہ علیہ الصلوۃ والسلام وہو مذہبنا وعلیہ الجمہور قال الحافظ ابوجعفر الطحاوی رحمہ اللہ تعالی انما لایقنت عندنا فی صلوۃ الفجر من غیر بلیۃ فان وقعت فتنۃ اوبلیۃ فلاباس بہ فعلہ رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم (رد المحتار ص ۴۵۱ ج ۱) واللہ سبحانہ وتعالی اعلم.

۲۸ ربیع الاول سنہ ۹۷ھ

دواده په موقع دنکریزو رواج

سوال : زمونږ په ځای کښې یو پخوانې رسم راروان دې چې دښادی په موقع باندې ناوی ته ګلونه اغوستل کیږی او نکریزی ورته لګول کیږی ورسره نوری نجونې هم نکریزی لګوی آیا دښځو لپاره دګلونو اچول اونکریزی لګول سنت دی ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : دښځولپاره نکریزی لګول مستحب دی مګر نن سبا چې دنکریزو کوم رسم دې چې دنورو ښځوهم یوه لویه مجمع وی دا د ډیرومفاسدو مجموعه ده لهذا لدې څخه احتراز کول لازم دی. خاتنه ښځې نکریزی لګولې شی دګلونو داغوستوکوم ثبوت نشته مګر د ښادی په موقع زیب اوزینت اختیارول جائزبلکه مستحسن دی، لدې وجی نه پدې کښې څه حرج نشته. البته زیب اوزینت سره دکوم غیرمحرم مخی ته تلل سخته ګناه ده او حرام دی . واللہ سبحانه وتعالی اعلم بالصواب.

۳ / شعبان ، سنه : ۹۸ هـ

دمکان (کور) په بنیاد (تاداو) کښې د وزې وینه اچول

سوال نن سبا چې څوك مکان جوړوی نو دهغه په بنیادونو کښې وزه ذبحه کړی اووینه یې په بنیادونو کښې واچوی اوغوښه یې په دوستانو اوفقیرانو باندې تقسم کړی آیا په شریعت کښې دې کوم ثبوت شته اوکه نه؟ که نه وی نوپه دې کښې کوم حرج شته اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : داعمل ناجائزدې دا دهندوانو اوبت پرستانو عقیده اوشعار دې په اسلام کښې ددې هیڅ ګنجائش نشته . والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۰ ربیع الاول سنه ۱۳۹۹ هـ

دثواب هبه کول او دهغې قبلول

سوال دقرآن خوانی په رسم کښې که ټول خلق دثواب دبښلو په طریقه نه پوهیږی نو که دهغې مقدار معلوم کړی او دیو شخص ملك ګرځول اودهغه قبلول څنګه دی ؟ پدی کښې دترتیب

اومقدار معلومولو خوبی هم شته ؟ بینوا توجروا
الجواب باسم ملهم الصواب دا ایجاب اوقبول خلاف شرع اوعبث دي بلکه دداسې اجتماعی قرآن خوانی څه ثبوت هم نشته او دا بدعت دی د ایصال ثواب لپاره صرف نیت کافی دي چی هر شخص یی کولې شی. والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۲ربیع الاول سنه۱۳۹۹ هـ

دحاجی دتندی نه بوسه (مچو) اخستل

سوال څوك چی حج وکړی اوبیرته راشی نو دتبرك حاصلولو لپاره یا دحاجی داعزاز په خاطر دهغه تندي ښکلول جائز دی اوکه ناجائز؟ بینوا توجروا
الجواب باسم ملهم الصواب که درسم دجوړیدواو دفتنې خطره نه وی نو جائزدی. والله سبحانه وتعالی اعلم ۹رجب سنه ۱۳۹۹هـ

دعیادت په موقع خوراك څښاك كول

سوال دلته زمونږ په علاقه کښې دمریض دپوښتنې په کولو کښې دا رواج دي چی دمریض پوښتنې ته راتلونکو خلکوته چای وغیره ورکولې شی. ځینی علماء فرمائی چی دا دستور غلط وقابل اصلاح دي. که تاسو خپله رایه ظاهره کړئ. ډیره مهربانی به موموی؟ بینوا توجروا.
الجواب باسم ملهم الصواب دعیادت په موقع ډیر وخت کیناستل هسی هم خلاف دسنت عمل دی. بیا چی دمریض په کورنۍ باندې دمریض دعلاج مصارف او دکار دوختونو حرج او دمریض دتیمار داری محنت هم وی نو پداسی حالاتو کښې له هغوئ څخه چای وغیره حاصلول اودهغوئ په محنت اومصارفو کښې اضافه کول عقلا اوشرعاً سخت قبیح او انتهائی دبی شرمئ خبره ده. همدارنګه ډیر خله دمریض کورنۍ درواج نه مجبوره شی او دغیرت له وجی خوراك څښاك ورکوی اوپه هغې راضی نه وی چنانچه نادار فقیر اومسکین هم درواج دمجبورئ له وجی دځه ناځه په ورکولو مجبوروی چی پداسې صورت کښې د ((لايحل مال امرء مسلم الا بطيب نفس منه)) له وجی دا خوراك څښاك حرام دي که څوك صاحب دثروت په خوشحالی سره خوراك څښاك ورکړی اګر چی فی نفسه جائزدي لیکن دفقیرانو لپاره وبال جان دي والله سبحان وتعالیٰ اعلم.
۲۴شوال سنه ۱۴۱۰هـ

د دیوالی شیرنی خوړل

سوال دهندوانو د دیوالی دخوشحالی شیرنی خوړل څنګه دی ؟ بینوا توجروا
الجواب باسم ملهم الصواب دهندوانو ددیوالی میتایانی خوړل دشمسی کال دابتداء دشیرنی خوړلو په شان معلومیږی څکه چی دکرسمس دکال ابتداء دیهودواونصاراو دغلطی نظریی یعنی

دعیسی علیه السلام دقتل تائید اوترویج کیږی او ددیوالی بنیاد په کومه غلطه نظریه ندي بناء دغمری کال دکوم خاص مقام ته درسیدو په موقع دا رسم اداء کیږی. لدې وجی نه ددې دخوراك گنجائش معلومیږی داحکم دابتلاء اوضرورت په صورت کښې دې په عامو حالاتو کښې له کفارو سره داسې تعلقات ساتل دیوبل دغم اوښادی په موقع کښې دشرکت زمینه برابروی چی ددین لپاره سخت مضر کیدونه علاوه دغیرت ایمانی نه هم خلاف دی ، والله سبحانه وتعالی اعلم

۶ذی قعده سنه ۱۴۱۶ هـ

دمروجه قرآن خوانی حکم

سوال نن سبا چی دقرآن خوانی کوم رواج عام شوې دې مثلا نوې کور واخستل شی نو قرآن خوانی پکښې کوی. چې د دوکان افتتاح وی نو قرآن خوانی پکښې کیږی. دچا څلویښتی وی نو قرآن خوانی پکښې کیږی، یادریمه وی نو قران خوانی پکښې کیږی چی مړی ته یې ثواب ورسیږی ځینی وخت خوپه اخبار کښې هم ددې اعلان کیږی اوخلك دلرې لرې نه صرف د قرآن خوانی لپاره څی او راځی نو تاسو وفرمایی چی قرآن خوانی څنگه عمل دې ددې څه ثبوت دقرآن اوحدیث نه شته اوکه نه ؟ یا دا کار بی اصله اوبدعت دې؟ آیا پدی کښې زمونږ دخاندان یا دوستانو اوعزیزانو څخه شرکت وکړی اوکه نه؟ که مونږ پکښې په خپله شرکت وکړو آیا نو دگناه مرتکب کیږو خونه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ۱ــ قال الامام محمد بن اسماعیل البخاری رحمه الله تعالی: حدثنا قتیبة ثنا جریر عن منصور عن مجاهد قال دخلت انا وعروة بن الزبیر رضی الله تعالی عنهما المسجد فاذا عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما جالس الی حجرة عائشه رضی الله تعالی عنها واذا اناس یصلون فی المسجد صلوة الضحی قال فسالناه عن صلاتهم فقال بدعة الخ (صحیح البخاری ص۲۳۸ ج۱)

۲ــ وقال الامام ابوالحسین مسلم بن الحجاج بن مسلم القشیری رحمه الله تعالی: حدثنا اسحق بن ابراهیم انبرنا جریر عن منصور عن مجاهد قال: دخلت انا وعروة بن الزبیر رضی الله تعالی عنهما جالس الی حجرة عائشه رضی الله تعالی عنها والناس یصلون الضحی فی المسجد فسالناه عن صلوتهم فقال بدعة الخ (صحیح مسلم ص۴۰۹ ج۱)

۳ــ قال الشیخ محی الدین ابوزکریا یحیی بن شرف النواوی رحمه الله تعالی (قوله انهم سالوا ابن عمر رضی الله تعالی عنهما عن صلوة الذین کانوا یصلون الضحی فی المسجد والاجتماع لها هو البدعة. لاان اصل صلوة الضحی بدعة وقد سبقت المسالة فی کتاب الصلوة (شرح النووی علی صحیح مسلم صفحه مذکور ج۱)

۴ــ وقال الامام محمد بن محمد بن شهاب المعروف بابن البزاز الکردری الحنفی رحمه الله تعالی: وقد صح عن

ابن مسعود رضی الله تعالیٰ عنهما انه سمع قوما اجتمعوا فی مسجد یهللون ویصلون علیه علیه الصلوة والسلام جهر افراح الیهم فقال ماعهدنا ذلک علی عهده علیه السلام وما اراکم الا مبتدعین فمازال یذکر ذلک حتی اخرجهم عن المسجد. (بزازیة بهامش الهندیة ص۳۷۸ ج۶)

۵۔ وقال فی موضع اخر: ویکره اتخاذ الطعام فی الیوم الاول والثالث وبعد الاسبوع والاعیاد ونقل الطعام الی القبر فی المواسم واتخاذ الدعوة بقراءة القران وجمع الصلحاء والقراء للختم او لقراءة سورة الانعام او الاخلاص فالحاصل ان اتخاذ الطعام عند قراءة القران لاجل الاکل یکره (بزازیة بهامش الهندیة ص۸۱ ج۴)

۶۔ وقال الفقیه المخدوم محمد جعفر بن العلامة عبدالکریم البوبکانی السندی رحمه الله تعالیٰ: فی الصیرفیة قراءة القران لاجل المهمات والناس مکروه (وبعد صفحة) یکره للقوم ان یقرا القران جملة لتضمنها ترک الاستماع والانصات المامور بهما (قلت) لاباس به فی التتارخانیة من المحیط من المشائخ من قال: ان ختم القران بالجماعة جهر اویسمی بالفارسیة (سپاره خواندن) مکروه (الی قوله) فی عین المعلم ولا یختم القران فی المجالس یکره لانه یقرا طمعا فی الدنیا وکذلک فی الاسواق وکذلک علی راس القبر قیل: ولو قرا ولا یسال والناس اعطوه من غیر سوال قال یکره ایضا لانه اذا لم یقصد السوال لم لایجلس فی بیته ویقرا القران (المتانة فی المرمة عن الخزانة ص۶۳۲، ۶۳۳، ۶۳۴)

۷۔ وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: (تتمة) اشار بقوله فرادی الی ماذکره بعد فی متنه من قوله ویکره الاجتماع علی احیاء لیلة من هذه اللیالی فی المساجد وتمامه فی شرحه وصرح بکراهة ذلک فی الحاوی القدسی قال: وماروی من الصلوات فی هذه الاوقات یصلی فرادی غیر التراویح.

قال فی البحر: ومن هنا یعلم کراهة الاجتماع علی صلوة الرغائب التی تفعل فی رجب فی اول جمعة منه وانها بدعة وما یحتاله اهل الروم من نذرها لتخرج عن النفل والکراهة فباطل اھ

قلت: وصرح بذلک فی البزازیة کما سیذکره الشارح اخر الباب، وقد بسط الکلام علیه شارحا المنیة، وصرحا بان ماروی فیها باطل موضوع، وبسطا الکلام فیها خصوصا فی الحلیة، وللعلامة نور الدین المقدسی فیها تصنیف حسن سماه (ردع الراغب عن صلاة الرغائب) احاط فیها بغالب کلام المتقدمین والمتاخرین من علماء المذاهب الاربعة (ردالمحتار ص۲۶ ج۲)

۸۔ وقال فی موضع اخر: وقال ایضا: ویکره اتخاذ الضیافة من الطعام من اهل المیت لانه شرع فی السرور

لاالضرور. وهی بدعة مستقبحة. وروی الامام احمد وابن ماجه باسناد صحیح عن جریر بن عبدالله رضی الله عنهما قال کنا نعد الاجتماع الی اهل المیت وصنعهم الطعام من النیاحة) اه وفی البزازیة : ویکره اتخاذ الطعام فی الیوم الاول والثالث وبعد الاسبوع ونقل الطعام الی القبر فی المواسم واتخاذ الطعام فی الیوم الاول والثالث وبعد الاسبوع ونقل الطعام الی القبر فی المواسم. واتخاذ الدعوة لقراءة القران وجمع الصلحاء والقراء للختم اولقراءة سورة الانعام اوالاخلاص.

والحاصل ان اتخاذ الطعام عند قراءة القران لاجل الاکل یکره وفیها من کتاب الاستحسان : وان اتخذ طعاما للفقراء کان حسنا اه واطال فی ذلک فی المعراج وقال: وهذه الافعال کلها للسمعة والریاء فیحترز عنها لانهم لایریدون بها وجه الله تعالی (ردالمحتار ص ۲۴۰ ج ۲).

۹ــ وقال فی موضع اخر: وقد اطنب فی رده صاحب تبیین المحارم مستندا الی النقل الصریحة فمن جملة کلامه قال تاج الشریعة فی شرح الهدایة: ان القران بالاجرة لایستحق الثواب لاللمیت ولاللقاری. وقال العینی فی شرح الهدایة: ویمنع القاری للدنیا، والاخذ والمعطی اثمان.

فالحاصل ان ماشرع فی زماننا من قراءة الاجزاء بالاجرة لایجوز لان فیه الامر بالقراءة واعطاء الثواب للامر والقراءة لاجل المال فاذا لم یکن للقاری ثواب لعدم النیة الصحیحة فاین یصل الثواب الی المستاجر ولولا الاجرة ماقرا احد فی هذا الزمان بل جعلوا القران العظیم مکسبا ووسیلة الی جمع الدنیا. انا لله وانا الیه راجعون (وبعد اسطر) کما صرح به فی التتارخانیة حیث قال: لامعنی لهذه الوصیة ولصلة القاری بقراءته. لان هذا بمنزلة الاجرة والاجارة فی ذلک باطلة وهی بدعة ولم یفعلها احد من الخلفاء الخ (ردالمحتار ص ۵۶ ج ۶)

۱۰ ــ وقال ایضا: ونقل العلامة الخلوتی فی حاشیة المنتهی الحنبلی عن شیخ الاسلام تقی الدین مانصه. ولایصح الاستئجار علی القراءة واهداؤها الی المیت لانه لم ینقل عن احد من الائمة الاذن فی ذلک وقد قال العلماء: ان القاری اذا قرا لاجل المال فلا ثواب له فای شئ یهدیه الی المیت وانما یصل الی المیت العمل الصالح والاستئجار علی مجرد التلاوة لم یقل به احد من الائمة (وبعد اسطر) وحینئذ فقد ظهر لک بطلان ما اکب علیه اهل العصر من الوصیة بالختمات والتهالیل مع قطع النظر عما یحصل فیها من المنکرات التی لاینکرها الامن طمس الله بصیرته. وقد جمعت فیها رسالة سمیتها شفاء العلیل وبل الغلیل فی حکم الوصیة بالختمات والتهالیل (ردالمحتار ص ۵۷ ج ۶)

[1] دغو روایاتو څخه ثابته شوه چې مروجه قرآن خوانی بدعت او ناجائزه ده په قرآن او حدیث

اوفرون مشهود لها بالخير كښې ددې هيڅ ثبوت نشته، په دې كښې شركت كول جائزندي علاوه پردې په مروجه قرآن خواني كښې بې شميره خرابيانې دي چې خويې په لاندې ډول دي.

اول په اعلان اوجبر اوزبردستي سره په دې كښې خلك جمع كولې شي دشريعت په اصطلاح كښې دې ته تداعي ويل كيږي چې په نفلي عبادتونو كښې ممنوع ده لكه چې دحضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما په مخكښې خوكسانو چه جومات كښې صلاة الضحى په جمع كولو كله چې له هغه نه پوښتنه وشوه ددې په باره كښې نو هغه دا عمل بدعت وګانه حالانكه صلوة الضحى انفرادا لوستل ثابت دي. همداشان حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ديوه قوم په باره كښې واوريدل چې په اجتماعي حالت كښې په جهر سره تهليل او درود شريف وائي نو هغه دغه خلكو ته بدعتيان وويل اوله جومات څخه يې بهر كړل حالانكه انفرادا تسبيح اوتهليل اودرود شريف لوستل باعث داجر اوثواب دي.

دويم : د راغوبنتلو نه پس كه څوك دې قرآن خواني ته حاضر نشي نو په هغه قسم قسم ملامتياګاني ويل كيږي حالانكه دمستحب كار په پرېښودلو ملامت كول جائزندي.

دريم : دنه حاضر يدونكي څخه بغض اونفرت او كدورت په زړه كښې پيدا كيږي.

څلورم : قرآن خواني كونكي د ډيرو خلكو په جمع كيدلو فخر كوي

پنځم : مروجه قرآن خواني دومره ضرورۍ بلل كيږي چې كه څوك قرآن خواني ونكړي ياپه هغه كښې كم خلك حاضروي نو هغه د تنقيد هدف ګرځوي.

شپږم : دټول قرآن ختم ضروري بولي پداسي حال كښې چې دبركت اوايصال ثواب لپاره كوم خاص مقدار معين ندې بلكه دتلاوت قرآن نه سوا ذكر او اذكار، تسبيحات اونوافل او صدقات وغيره په نورو طريقو سره هم همدا مقصد حاصليږي.

اووم : كه لوستونكي لږ راټول شوي وي نو ټول قرآن ختمول په خپل خان بوج ګڼي او دزهرو دګوټ د ګټلو په شان يې په يوه طريقه سره ترستوني دتير ولو كوښښ كوي پداسې حال كښې چې په حديث كښې ارشاد دې چې ((اقرؤا القرآن ما ائتلفت عليه قلوبكم فاذا اختلفتم فقوموا عنه)) صحيح البخاري ص۷۵۷ ج ۲ يعني ترهغه وخته قرآن لولئ چې ترڅومو زړه غواړي.

اتم : پداسې صورت كښې دتجويد دقواعدو، دحروفو اوصفاتو دصحيح ادا كولو دغُنّې، اخفاء، اظهار، او ادغام او مدونو وغيره دلحاظ ساتلو نه بغير د الفاظو او حروفو دقطع كولو سره، دخان خلاصولو كوښښ كيږي.

نهم : په مروجه قرآن خواني كښې هغه خلك هم حاضريږي چې قرآن يې نوي زده، هغوئ كومه سپاره را واخلي اوپه هره كرښه ګوته تيروي اوبسم الله وايي يا صرف ګوته ورباندې تيروي اوبيا سپاره كيږدي «چې ديته دګوتې اوبسم الله ختم وايي» چې ددې په شريعت كښې هيڅ ثبوت نشته

او په دې کښې د قرآن کریم توهین دې

لسم په ختم کښې ترآخره پورې ناسته ضروري بلل کیږي لهذا څوک چې خپله سپاره ختمه کړي شدید ضرورت باوجود د پاڅیدو جرأت نشي کولې ځکه چې دا ډیر عیب ګڼل کیږي

یوولسم بعضې خلکوته د سجده تلاوت علم نه وي هغه د سجدو آیاتونه ولولي یا یې واوري د سجده تلاوت دنه کولو په وجه د ثواب پرځای د ترك واجب مرتکب وګرځي او د ګناه پیټې په خپل سرواخلي

دولسم په بعضې ځایونو کښې د قرآن خواني والا خلك د ټولو خلکو پرځای څوارلس سجدې کوي چې په دې سره د خلکو ذمه نه فارغیږي او خلاف شرع سجده کونکې ګناهګاریږي

دیارلسم په مروجه قرآن خواني کښې د دعوت یا شیرني بندوبست هم کیږي چې د «المعروف کالمشروط» د قاعدې مطابق دا د قرآن لوستونکو اجرت دې او په أجرت سره قرآن لوستونکې او أجرت ورکونکې دواړه ګناهګاردي نو په دې کښې به د ثواب څه توقع وي، کله چې لوستونکي ته خپله ثواب نه ورکول کیږي نو مړي ته به یې ایصال ثواب څنګه وشي؟

څوارلسم دعوت یاشیرني دومره لازم ګرځول شوي ده چې په انتظام نه کونکي باندې طعن او بد اورد ویل کیږي.

پنځلسم د مروجه قرآن خواني لپاره د خاصو ورځو مثلا دریمه یا څلویښتمه وغیره تعین کیږي او په غیر معین عبادت کښې تعین کول د خپل طرفنه ناجائز بلکه بدعت دې.

شپاړسم حضرت جریر بن عبدالله رضی الله عنه فرمائي: «کنا نعد الاجتماع الی اهل المیت وصنعهم الطعام من النیاحة» یعنی مونږ به د مړي کورته ورجمع کیدل او دهغوی طعام تیارول (نوحه) بلل او نوحه خو حرامه ده.

اوولسم په قرآن خواني کښې د شرکت کونکي اوبلونکي نیت د نمائش او ښودنې وي او ظاهره ده چې د ریا کارې له وجې د انسان لوئ عمل هم ضائع کیږي، په حدیث کښې راغلي چې ریا کاري نیك عمل داسې تباه کوي لکه چې اورخس سوزوي او دالله جل جلاله په نزد داسې عمل مردود وي کوم عمل چې دالله لپاره کیدل اوبرکت اوثواب رسول ترینه مقصود وو ، د ریا کارئ له وجې دې عمل ته اوروګیده ثواب خو څه کوي چې ورنکړل شو بلکه سرچپه د ریاکارۍ عذاب یې اضافه په سرباندې راغې

دا ټولې خرابیانې د شریعت او سنت د طریقونه د مخ اړولو نتیجه ده ددې برعکس که د شریعت طریقه اختیار کړل شوې واي نو راحت به وو او دومره مشقت او تکلیف به نه وو برداشت شوې. که اخلاص للنیت واي نو دهغه په وجه به لوستونکو ته هم نفع وه اومړي ته هم او د ریا او ځان ښودنې

دگناه پیتې به هم نه وو په سرشوې .

دایصال ثواب صحیح طریقه

د ایصال ثواب صحیح طریقه داده چې لسانی اوجسمانی عبادات چې هر سړې یې په کور کښې بطورنیك عمل کوی دخپل ځان لپار مثلانفل لمونځ کوی نفل روژې نیسی، تسبیحات وائی تلاوت کوی نفل حج یاعمره کوی اوطواف کوی، په دې کښې دې دانیت وکړی چې ددې ثواب دې زما فلانی عزیز یا دوست ته ورسیږی هغه به ورسیږی بس دا ایصال ثواب دې، اوهغه ثواب چې تاته رسیده هغه به تاته هم رسیږی اودچانیت دې چې کړې و هغوی ته به هم پوره ثواب رسیږی دمالی صدقې اوخیرات کولو ترټولو غوره طریقه داده چې دخپل وس مطابق نقدې پیسې په کار دخیر کښې ولګول شی یامسکین ته ورکړل شی .

داطریقه ځکه غوره ده چې له دې ځخه مسکین هرحاجت پوره کولی شی که نن دهغه ځه ضرورت نه وی دسبا دضرورت لپاره یې کیښودلې شی بل دا چې دا صورت د ریا او ځان ښودنې نه پاك دې په حدیث کښې دپټې صدقې ورکونکی په حقله دافضیلت وارد دې چې داسړې به په ورځ دقیامت دالله جل جلاله درحمت دسورې نه لاندې وی پداسې حال کښې چې بل سورې به نه وی او خلك به خپلو خولو کښې دهیبت له وجې ډوب وی . دفضیلت په لحاظ سره په دویمه درجه کښې داصورت دې چې دمسکین دحاجت مطابق هغه ته صدقه ورکولې شی یعنی دهغه حاجت وکتل شی اوهغه پوره کړل شی او دمکان اودکان دبرکت لپاره هم مالك داپورتنې صورت اختیارولې شی والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۴ ربیع الاول سنــ ۱۴۱۷هـــ

ددې مروجه قرآن خوانی بیان په کتاب الاجاره کښې تیر شوې دې .

متفرقات الحظر والاباحة

په یوه بستره باندې د دوه کسانو څملاستل

سوال: په یوه بستره باندې ددوه کسانو څملاستل جائز دی اوکه نه؟ او اوړه پوزې یا درئ او لوی چپرکټ په حکم دفراش واحد کښې دې او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دلسو کالو یاترلسو کالو زیات عمروالا دوه کسان برابره خبره ده که دواړه سری وی یا دواړه ښځې وی یا یو سړې اوبله ښځه وی په یوفرش ویده کیدل جائزندی، برابره خبره ده که یو یی یوطرفته وی اوبل یی بل طرفته وی خوچی ددوئ په مینځ کښې څه پرده وغیره حائل نه وی او که حائل وی نو یو ځای څملاستل مکروه تنزیهی دی، البته هلك له خپل پلار سره او نجلی له خپلې مورسره ویده کیدای شی، اوړه درئ اولوی چپرکټ دفراش واحد په حکم کښې ندې البته دومره نزدې ویده کیدل چی کټونکښې ته دفراش واحدویده کیدوپه شان معلوم شی جائزندی.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله: ولایجوز للرجل مضاجعة الرجل وان کان کل واحد منهما فی جانب من الفراش قال علیه الصلوٰة والسلام لایفضی الرجل الی الرجل فی ثوب واحد ولاتفضی المراة الی المراة فی الثوب الواحد واخته وامه وابیه فی المضجع لقوله علیه السلام وفرقوا بینهم فی المضاجع وهم ابناء عشر وفی النتف اذا بلغوا ستاً کذا فی المجتبی وفیه الغلام اذا بلغ حد الشهوة کالفحل.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: (قوله مضاجعة الرجل) ای فی ثوب واحد لاحاجز بینهما وهو المفهوم من الحدیث الاٰتی وبه فسر الاتقانی المکامعة علی خلاف مامر عن الهدایة وهل المراد ان یلتفا فی ثوب واحد اویکون احدهما فی ثوب دون الاخر والظاهر الاول یؤیده ما نقله عن مجمع البحار ای متجردین وان کان بینهما حائل فیکره تنزیها اهـ تأمل (قوله بین اخیه واخته الخ) قال فی الشرعة ویفرق بین الصبیان فی المضاجع اذا بلغوا عشر سنین (الی قوله) فان ذلك داعیة الی الفتنة ولو بعد حین اهـ وفی البزازیة اذا بلغ الصبی عشر الاینام مع امه واخته وامرأة الا بامرأته اوجاریته اهـ فالمراد التفریق بینهما عند النوم خوفاً من الوقوع فی المحذور (الی قوله) بخلاف ما اذا کان نائماً وحده او مع ابیه وحده او البنت مع امها وحدها. (رد المحتار ص ۲۴۳ ج ۵) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۲۴ صفر سنه ۸۶هـ

دمقروض له مال نه په پټه دخپل حق اخستل

دامسئله په تیر شوی جلد «باب القرض والدین» کښې دقرض اخستلو دتدبیر ترعنوان لاندې تیره شوې ده.

دحج د فلم کتل حرام دی

سوال: نن سبا دکراچی، حیدرآباد اوسکهرپه سینما گانو کښې دحج فلم کتلې شی دلیدونکو وینا ده چی په دې کښې څه غیر شرعی فعل، مزامیر، رقص، عریانی، تصویرونه اوسندرې وغیره بالکل نشته، صرف دحجاج کرامو دجدې په بندرگاه کښې دکوزیدو څخه بیا دسپریدلونه ترحج دبیت الله اوزیارت دمدینې طیبې «زادها الله شرفاً وتعظیماً» کارگذاری ښودل کیږی، یعنی طواف، سعی، صفا اومروه، استلام دحجر اسود، رمی الجمار، د وقوف عرفه مناظر او نورو عباداتو کولو تصاویر ښودل کیږی، یومولانا صاحب او یو قاری صاحب له هغې سره سره دحج متعلق بیان کوی او تلاوت هم ورسره کوی، د پوښتنې ور خبره داده چې دحج مناسک چی شعائر داسلام دی دهغو فلم جوړول اوپه سینما باندې یې کتل اوښودل څنگه دی؟ دجواز یا عدم جواز چی کوم حکم شرعی دې دهغې اسباب اوعلل هم بیان کړی مهربانی به مووی، او که څوك دافلم په نیت دثواب گوری دهغه څه حکم دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: فقهاء کرامو تصریح کړیده چی (تعریف) یعنی نقل دوقوف عرفه بدعت دې حالانکه هلته نور منکرات نشی کیدې اوپه فلم کښې خو ډیر منکرات دی، لهذا دا به په طریقه اولی سره ناجائز وی، ددې وجوهات په لاندې دول دی:

اول: فلم آله د لهو اولعب کیدل ظاهره خبره ده او آلات دلهو اولعب په مقاصد دینیه وکښې استعمالول ددین سخت اهانت او استخفاف دې: قال الله تعالی: ﴿اتَّخَذُوا دِينَهُمْ لَهْوًا وَلَعِبًا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيَاةُ الدُّنْيَا﴾

دویم: اکثر افعال دحج تعبدی غیرمدرك بالقیاس دی او هغه مخالفین داسلام هم گوری دا افعال چی وینی نو په اسلام پورې به مسخرې کوی اوفلم اخستونکې ددې سبب وگرځیده.

دریم: په دې کښې دتصویرونو استعمال اوله هغې نه خونداخستل چی ددې په بدوالی کښې یې دچاهم کلام نشته اگرکه دعابدینو تصوریرونه هم وی.

دحضرت ابراهیم واسماعیل علیهما السلام کوم تمثالونه چی په بیت الله کښې ایښودل شوی وو حضورصلی الله علیه وسلم چی کومه معامله له هغوسره وکړه هغه هم معلومه ده.

څلورم: له دې څخه به اهل هوی د هغه رسم په جواز باندې استدلال وکړی چی یو څه مړه

مخکښې ایجاد شوې دې چې په یوه خاصه علاقه کښې خلق جمع کیږی او دحج نقل کوی. ممکنه ده چې له دغه رسم نه هم اول دحج دترغیب اوتشویق نیت وو مگر اوس هغه خاص حج کول بلل کیږی چې دهغو په مفاسدو دټولو اتفاق دې داهل هوی په مخ کښې به د دواړو رسمونو ترمنځ کوم فرق بیان کړې شی؟

پنځم : همدارنګه فقهاء کرامو دچوکیدار دبیدارساتلو لپاره رفع الصوت بالتهلیل معصیت بللې دې حالانکه دطاعت اومباح ترمنځ دومره بُعد نشته څومره چې دطاعت اومعصیت ترمنځ دی.

شپږم : دمعصیت یعنی فلم دحج دترغیب ذریعه جوړیدلو کښې ترټولولوئ شناعت دادې چې په دې کښې دصالحینو اهانت وی په حقیقت کښې دا داسلام اهانت دې چې دهغې تحمل طبعا اوشرعا په هیڅ طریقې سره ممکن ندې.

کله چې په دې عمل کښې اباحت له سره نشته نو دثواب عقیده ساتل خویی تقریبا کفردې، والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۶ ربیع الثانی، سنه : ۱۳۸۶

د «محمد» نوم بدلول

سوال : دخالد ښځه حامله وه دهغې حمل یی هلك تصورکړې وو اومحمد نوم یی وریاندې ایښی وو دالله په فضل اوکرم هلك پیداشو اوس که دمحمد په ځای «محمد احمد» یا «محمد عبدالرحمن» یا بل نوم کیښودل شی څه حرج خوبه نه وی؟ ګناه خوبه نه کیږی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دماشوم دپیدا کیدونه پس بل نو م ایښودل یا له «محمد» سره بل څه یوځای کول اګر که شرعاً جائز دی مګر بهتر ندی د داسې محبوب نوم بدلول باعث دحرمان دی، دمسلمان طبیعت کله داسې برداشت کولی شی؟ والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۲ ذی الحجة سنــــ ۱۳۸هـــ

عبدالرسول یا غلام غوث نو م کیښودل

سوال د داسې نومونو کیښودلو څه حکم دې لکه غلام غوث. غلام احمد. غلام مصطفی. عبدالرسول. عبدالنبی. عبدالعلی وغیره؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : په غلام غوث او غلام احمد نوم کیښودلو کښې هیڅ حرج نشته. عبدالرسول وغیره نو م کیښودلو کښې دعبد په اضافت کیدو غیرالله طرفته د شرك د وهم کیدو له وجې ناجائز دی. البته داسې سړی ته مشرك نشی ویل کیدې ځکه چې دعبدنه خادم اوتابعدار هم مراد کیدای شی

قال الملا علی القاری رحمه الله تعالی: ولا یجوز نحو عبد الحارث ولا عبد النبی ولا عبرة بما شاع فیما بین الناس

(البحر الرائق ص۱۰۶ ج۹)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: ولا يسميه حكيما ولا ابا الحكم ولا ابا عيسى ولا عبدفلان (الى ان قال) الول ويؤخذ من قوله ولا عبدفلان منع التسمية بعبدالنبي ونقل المناوى عن الدميرى انه قيل بالجواز بقصد التشريف بالنسبة والاكثر على المنع خشية اعتقاد حقيقة العبودية كما لا يجوز عبدالدار اه (رد المحتار ص۲۶۸ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۷ جمادى الاولى سنه ۸۹ھ

نوم بدلول یا متعدد نومونه کیښودل

سوال : آیا نوم بدلیدلې شی او که نه؟ له دې وجی چی مخکنې نوم د معنا له لحاظه ښه نه وی یا بی معناوی یا بل نوم خوښ کړې شی او آیا یو شخص د خان لپاره له یوه نه زیات نومونه کیښودلې شی ؟ . بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : بدنوم په ښه نوم بدلول ضروری دی، بلاضرورته نوم بدلول یا متعدد نومونه کیښودل پروانلری .

قال العلامع ابن عابدين رحمه الله تعالى تحت بحث ما يجوز التسمية به من الاسماء ومالا يجوز: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يغير الاسم القبيح الى الحسن جاءه رجل يسمى اصرم فسماه زرعة (رد المحتار ص۲۶۸ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۹ صفر سنه ۹۲ھ

غیر قریشی ته قریشی ویل خنګه دی

سوال : غیرقریشی خپل خان ته قریشی وائی داخنګه دی؟ زمونږ د کورنی متعلق شیخ یاقصاب یاقصائی مشهوره اومعروفه ده، خینو هلکانو بی ای «خوارلسمه پورې کالج» ویلې دې هغوی اوس خپل خان ته قریشی وایی آیاداسی کول جواز لری ؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : دغیر قریشی خانته قریشی ویل یا د یو خاندان سره تعلق لرونکې بل خاندان طرف ته خان منصوب کول حرام دی او سخته ګناه ده او په دې سخت وعید راغلې دې

عن سعد بن ابی وقاص وابی بکرة رضی الله تعالى عنهما قالا قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من ادعى الى غير ابيه وهو يعلم فالجنة عليه حرام متفق عليه

عن ابی هریرة رضی الله تعالى عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا ترغبوا عن آبائكم فمن رغب عن ابيه فقد كفر متفق عليه (مشكوة ص۲۸۶ ج۲) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۵ شعبان سنه ۹۱ھ

عبدالرحمن یا عبدالرحیم نوم کیښودل

سوال دعبدالرحمن یا عبدالرحیم په شان نومونونه چې مضاف حذف شي صرف رحمن یارحیم وویل شي لکه عام دستور دا جوړشي آیا دا جائزدی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب چونکه پداسې اسماؤ کښې مضاف محذوف معنوی کیږی لدې وجې نه جائز خو دی لیکن له کراهیت څخه خالي ندی، بالخصوص په هغو نومونو کښې چې له ذات دباری تعالی سره مختص وی، لکه غفار رحمن وغیره، پدې کښې حذف دمضاف زیات قبیح دې . والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۷ ذالحجه سنه ۱۳۹۴هـ

پتنګ ((کاغذپران)) الوزول روا ندی

سوال آیا پتنګ الوزول روا دی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب پتنګ الوزول جائزندی پدې کښې دا لاندې مفاسد دی:

اول په کوتروپسې منډی وهونکی باندی نبی کریم صلی الله علیه وسلم لعنت ویلې دې.

عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم رای رجلا یتبع حمامة فقال شیطان یتبع شیطانة(ابوداود ص۳۱۴ ج۲)

په کوتر بازی کښې دانهماك له وجې په امور دینیه اودنیوی کښې دغفلت مفسده وی اودا په پتنګ بازی کښې هم موندل کیږی لهذا دا وعید هغوی ته هم شامل دی.

دویم دجومات دجمعې دلمانځه بلکه له خپل لمانځه څخه غافل کیږی دشرابواو جواری دحرمت وجه الله تعالی همدا بیان کړې ده ((ویصدکم عن ذکر الله وعن الصلوة))

دریم دپتنګ بازی لپاره اکثر دکورونو په چتونو باندې خلك ودریږی بیا هغه الوزوی نو دګیر چاپیره کورونو بې پردګی کیږی.

څلورم ځینی وخت څوك پتنګ الوزوی اوپه شاروان وی اولاندی راپریوزی لکه چې په اخبارونو کښې ددې واقعات شائع کیږی پدې کښې خپل ځان په هلاکت کښې اچوی، نبی کریم صلی الله علیه وسلم په داسې چت باندې له ویده کیدو څخه منع کړې ده چې دهغه ګیرچاپیره دیوال نه وی.

پنځم بې ځایه مال مصرفول تبذیر اوحرام دی، قرآن کریم کښې داسې خلك دشیطان ورونه بلل شوی دی، په پتنګ بازی کښې یوتربله په معصیت اوفخر کولوکښې مسابقه کول چې یوحرام کاردې چې دکفر خطره پکښې ده والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۱ می سنه ۱۳۸۷هـ

دمرض دتعدیت (له یوځخه بل ته د نقل کیدلو) تحقیق

سوال : که په کومه علاقه یابنارکښې کومه وباء خپره شی له هغه ځای ځخه بل ښاریا محلې طرفته منتقل کیدل جائزدی اوکه نه؟ همدارنګه که په حیواناتو کښې کومه وباء راشی نو له هغو ځخه نور حیوانات جدا کول ځنګه دی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : له ځینی احادیثو ځخه دعدوی نفی کیږی اوله ځینوځخه یې ثبوت کیږی دتطبیق صورت یې دادې چی دنفی په احادیثو کښې هغه عدوی مراد ده چی دهغې قائل اهل جاهلیت وو او اوس هم دهغې عقیده لرونکی موجود وی، ((یعنی دا عقیده ساتل چی دځینی مرضونو دا خاصیت طبعی دې اولازمی دې چی هیڅ کله تخلف پکښې نشی راتلې)) ددې عقیدې نفی د ((لاعدوی ولاطیرة)) له نص نه علاوه په مشاهدې سره هم کیږی مثلا په کوم ځای کښې طاعون خپرشی نو دمړیو تعداد له ژوندیو اومحفوظو خلقو ځخه ډیرکم کوی که چیرته تعدیه ضروری وی نو ددې په عکس پکاروه بلکه هیڅوك هم باید ژوندې نوې پاتی شوې.

اوپه کومو احادیثو کښې چی دپرهیز حکم دې هغه په درجه دسبب کښې دی مګرددې سبب حیثیت داسباب ظاهره ځخه کم دې لهذا پرهیز ضروری ندې د ((فرمن المجذوم فرارك من الاسد)) حکم دضعیف الاعتقاد دخلکو لپاره دې هغوئ ته که د الله په مشیت مرض ولګیږی نو هغوئ به د ((لاعدوی ولاطیرة)) په شان احادیثو ځخه انکار وکړی ، چی په هغه کښې ددوی دسلب ایمان خطره ده مګرفرار من الوباء چونکه په حدیث کښې صراحتاً منع راغلې لهذا یوښار پرینبودل اوبل ښارته تلل ناجائزدی، البته له یوی محلې ځخه بلې محلې ته یادیوکورنه بل کورته تلل جائزدی.

همدارنګه حیوانات په درجه دسبب کښې جداکول جائزدی، دلزوم اعتقاد جائزندې، والله سبحانه وتعالیٰ اعلم. ۲۶ / ربیع الاول ، سنه : ۸۷ هـ .

دمعاش دطلب لپاره دمور اوپلار له اجازی پرته تلل

سوال : دوالدینو او ښځې له اجازې ځخه پرته دمعاش دحاصلولو لپاره بل ښارته سفر کول او تلل ځنګه دی پداسی حال کښې چی په دغه ښارکښې کارنه پیداکیږی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : که دسفر له وجی دمور اوپلار یا ښځې یا اولاد دضائع کیدو خطر وی یعنی هغوئ خپله غنیان نه وی یا دهغوئ حفاظت کونکې څوك نه وی نو په دې صورت کښې به سفر نه کوی او که په خپل ښار کښې دکار څه انتظام نه کیږی نو هغوی ته دنفقی او حفاظت معقول انتظام کول په کار دی او بیا دې سفر کولی شی، البته که سفر دومره خطرناك وی چی دهلاکت غالب ګمان پکښې وی نو بیا په هر صورت دوالدینو له اجازی نه بغیر سفر کول جائزندی.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالیٰ: وله الخروج لطلب العلم الشرعی بلا اذن والدیه لو ملتحیا وتمامه فی الدرر.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ (قوله وله الخروج الخ) ای ان لم یخف علی والدیه الضیعة بان کان موسرین ولم تکن نفقتهما علیه فی الخانیة ولو اراد الخروج الی الحج و کرها ذلک قالوا ان استغنی الاب عن خدمته فلا باس والا فلا یسعه الخروج فان احتاجا الی النفقة ولا یقدر ان یخلف لهما نفقة کاملة او امکنه الا ان الغالب علی الطریق الخوف فلا یخرج ولو الغالب السلامة یخرج وفی بعض الروایات لا یخرج الی الجهاد الا باذنهما ولو اذن احدهما فقط لا ینبغی له الخروج لان مراعاة حقهما فرض عین والجهاد فرض کفایة (الی ان قال) فلو فی سفر تجارة او حج لا باس به بلا اذن الابوین ان استغنیا عن خدمته ولو خرج المتعلم وضیع عیالا یراعی حق العیال اھ (رد المحتار ص ۲۶۱ ج ۵) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۱۷ جمادی الثانیة سنــــ ۸۷ھـــ

دوالدینو داستغناء په صورت کښې بلا اجازت سفرکول جائزدي

سوال : دیوه سړ مور ډیره ضعیفه ده دهغې خدمت په ښه طریقه سره کیږي، دهغې زوئ ته څه ضرورت نشته، زوئ یې د یو یا دوه کالو لپاره په سفر تلل غواړي، مور اجازه ورکوي مګر له علامو څخه معلومیږي چې هغې ته به د زوئ په جدائی کافي صدمه رسیږي ، پداسې صورت کښې سفر کولو باندې خوبه زوئ نه ګناهګاریږي ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : که دکوم دیني یا دنیوي حاجت لپاره سفرکوي نو جایز دي بلکه داستغناء والدین په صورت کښې دهغوئ له اجازې نه پرته هم سفر کول جائزدي پدې شرط چې لاره خطري نه وي د استغناء مطلب دادې چې هغوی د زوی جسماني خدمت یامالي تعاون ته محتاج نه وي، طبعي صدمه خو په هرحال وي.

قال العلامة الحصکفي رحمه الله: وله الخروج لطلب العلم الشرعي بلا اذن والدیه.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ : (قوله وله الخروج) ای ان لم یخف علی والدیه الضیعة بان کانا موسرین ولم تکن نفقتهما علیه فی الخانیة ولو اراد الخروج الی الحج و کرها ذلک قالوا ان استغنی الاب عن خدمته فلا باس والا فلا یسعه الخروج و کرها ذلک قالوا ان استغنی الاب عن خدمته فلا باس والا فلا یسعه الخروج فان احتاجا الی النفقة ولا یقدر ان یخلف لهما نفقة کاملة او امکنه الا ان الغالب علی الطریق الخوف فلا یخرج ولو الغالب السلامة یخرج (الی ان قال) ولو اذن الابوان لا یلتفت الی غیرهما هذا فی سفر الجهاد فلو فی سفر تجارة او حج لا باس به بلا اذن الابوین ان استغنیا عن خدمته اللیس فیه ابطال حقهما الا اذا کان الطریق مخوفا کالبحر فلا یخرج بلا اذنهما وان استغنیا عن خدمته (رد المحتار ص ۲۶۱ ج ۵) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۱۹ شعبان سنــــ ۸۸ھـــ

بغیر دمور اوپلارله اجازته بل ځای تدریس کول

سوال یو سړي بغیر دمور اوپلار له اجازې څخه بل ځای تدریس کوی د والدینو اصرار دې چې هغه ځای دې تدریس پرېږدی بل نژدې ځای دې تدریس وکړی آیا دې شخص ته دشریعت له نظره پداسې حالت کښې په دغه ځای کښې تدریس کول جائزدی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : اوسنې دور دقحط الرجال دور دې په مدارسو اواسلامی جامعاتو کښې دعلم اوعمل په اعتبارسره ماحول دومره خراب شوې دې چې په هرکال په سلګونو فاضلان له هرې جامعې څخه فارغیږی لیکن له هغوئ څخه دګوتو په شمیر یوڅو افراد دعلم اوعمل په اعتبار باصلاحیته وی، راسخ فی العلم اومحققین علماء یو یو له دنیا څخه رخصتیږی، دهغو اکابرو دمنصب دسنبالولو اوتر یوه حده پورې دهغوی دجانشینی ادا کولو او ساتلو امید که کیږی نو له دغو محدودو باصلاحیته خوانانو څخه کیږی.

بل طرفته دوالدینو اوقریبانو له دین څخه انتهائی درجه لرې والې او ددنیا په محبت کښې دمبتلا کیدو له وجې حالات داسې دی چې په هیڅ قیمت دعلم نه برخمن اولاد ته په کومه بهتره دینی اداره کښې په اطمینان سره دکارکولو لپاره په خوښه اجازه نه ورکوی هغوئ صرف خپل سهولت او آسانتیا او تعیش په نظر کښې نیسی، چنانچه که یوهلك د دنیا ګټلولپاره امریکا یا اروپا ته ځی نوهیڅ اشکال یی نه وی.

ډینی خو بیخی ددین کارته هم نه پرېږدی بلکه ددنیا په ګټلو باندې یی مشغولوی اوډینی یی په نژدې ځای کښې په تدریس مجبوروی ددې نتیجه داشی چې مدرس نژی اوسړی نو دکور ۵مشاغلو اوپریشانیو له وجې په دلجمعی سره کارنه شی کولې بلکه ډیرځله دماحول د نه پیداکیدو له وجی ورو ورو له تدریس څخه لاس په سرشی اوزړه ئی له تدریس څخه پورته شی او ددین له هر خدمت څخه لاس وه مینځی، خالص دینا دار جوړشی بلکه ځینی وخت دبدچاپیریال د اثر له وجې له دین اوعلماء دین څخه متنفرشی او په قسم قسم فسق اوفجور کښې مبتلاء شی دغه شان بیا هغه په ځای ددې چې ددین لپاره قابل قدر خدمتونه وکړی، ددین او علماء دین دبدنامیدو ذریعه وګرځی اوډیرو دین دوستو اودعلم شوق لرونکو لپاره خندجوړشی

بناء پردې که چیرته داڅو معدود خوانان هم دبې دینه مور اوپلار دتعیش لپاره قربانی کړې شی نو ددین اوعلم دین نوم اونشان به له دنیا څخه پورته شی او ددین د یوې مسئلې ښودلو به هم څوك پاتې نشی

له دې وجی نه کومو والدینو چې دخپل اولاد دعالم جوړیدو سعادت حاصل کړې وی هغوئ دې دهغه ددینی خدمتونو دممانعت شقاوت په سرنه اخلی بلکه هغه ته دې په خوشحالی سره ددین دخدمت اجازه ورکړی بلکه له هغه سره دې تعاون وکړی او دائمی سعادت دې خپله مقدره حصه

وګرځوي. دتدريس اوديني خدمت کولو لپاره دې په ځای انتخاب کولوکښې هغه نه پوره خپاروړکړي هغه دخپل طبيعت او صلاحيت په نظر کښې نيولوسره دښه ځای انتخاب کولې شی هغه ډيرښه پوهيږي چې چيرته ډير خدمت کولې شي او دهغه دعلمي اوعملي ترقي موانع چيرته ډيری دی

خلاصه داچې په اوسني دور کښې چيرته هم په تدريس کولوکښې دوالدينو رضاضروري نده بلکه که مور اوپلار دخدمت محتاج نه وي اومدرس ددوئ په تمنا پوره کولو کښې خپل ديني نقصان ويني اوپه لرې اوسيدو سره متعدي اوغيرمتعدي ديني خدمتونه په ښه طريقه سره سرته رسولې شي نو په دغه کار کښې دمور اوپلار اطاعت ندې جائز.

دتجارت دسفر لپاره دوالدينو اجازت ضروري ندې حالانکه دامحض دنيوي او د ذاتي نوعيت نفع ده په علم دين کښې چې دټول امت دنيوي او اخروي کاميابي په دې پورې موقوفه ده ددې لپاره سفر کول څنګه دوالدينو په اجازت پورې موقوف شي.

البته په لاندې صورتونو کښې دوالدينو له اجازته بغير سفر کول يالرې اوسيدل جائزندي.

اول چې والدين دجسماني خدمت محتاج وي اودهغو څوك دخدمت کولونه وي.

دويم سفر داسې له خطره ډك وي چې هلته دهلاکيدو ظن غالب وي.

دريم هلك امرد يعني بې ګيرې وي او دهغه په فتنه کښې دمبتلاء کيدو خطروي. والله سبحانه وتعالی اعلم

۸محرم ۱۳۹۵هـ

سرتور سر اوبربندې يالوڅې پښې ګرځيدل

سوال سرتور سريا لوڅې پښې اوسيدل جائزدي او که ناجائزدي ؟ که ناجائزوي نو دعدم جواز لپاره يې څه دليل دی ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب خولۍ ياپټکې په سر کول اوپيزارپښوکول سنت دی دخلاف سنت په وضع قطع کښې دبدوالي اوقبح هيڅ شك نشته حضور صلی الله عليه وسلم د دواړه شيانو په استعمال مواظبت کړې دې همدارنګه سرتور سرګرځيدل نن سبا د فساقو اوفجارو شعار ګرځيدلې دې لهذا په دې کښې زيات قباحت دې همدارنګه لباس دالله تعالی نعمت دې چې زينت هم دې او ګرمۍ اويخنۍ دتکاليفو څخه حفاظت هم دې اودنعمت ترك کول کفران نعمت دی والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۵جمادی الثانية ۱۳۸۷هـ

دغير عالم لپاره دقرآن اوسنت درس ورکول جائزندي

سوال نن سباچې عام طور دجماتونو امامان باقاعده سند يافته نه وي او دو ترجمه ګوري اوبه

خپلو جماتونو کښې درس قرآن اوحدیث ورکوی آیا هغوی ته درس ورکول جائزدی ؟ بینوا توجروا.
الجواب باسم ملهم الصواب : خوپورې یی چې دیوه مستند عالم څخه باقاعده علم نه وی حاصل کړی نو هغه ته درس قرآن یا درس حدیث ورکول جائزندی . والله سبحانه وتعالی اعلم.
غره رجب سنه ۱۳۸۷ھ

په غسل خانه کښې متیازی کول

سوال . په غسل خانه کښې متیازې کول څنګه دی ؟ چې فرش هم سمتی (پوخ) وی اوپه متیازو باندې اوبه اوبهول شی ؟
الجواب باسم ملهم الصواب : جائز دی مګر احتراز غوره دې څکه چې ددې څخه د وسواس پیداکید وخطره ده. قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لایبولن احدکم فی مستحمه ثم یغتسل اویتوضأفیه فان عامة الوسواس منه والله سبحانه وتعالی اعلم. ۵رجب سنه ۸۷ھ

دیوشی لپاره ډول غړول اونغاره وهل جائزدی

سوال . دیوشی داعلان کولو لپاره ډول غړول اونغاره وهل جائزدی اوکه نه ؟ بینوا توجروا.
الجواب باسم ملهم الصواب : دکوم نیك او جائز کار لپاره داسې قسم اعلان کول جایزدی لکه چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم دنکاح داعلان لپاره تمبل (دریا) وهلوته اجازه ورکړې ده . قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی (قوله ویندب اعلانه) ای اظهاره والضمیر راجع الی النکاح بمعنی العقد لحدیث الترمذی اعلنوا هذا النکاح واجعلوه فی المساجد واضربوا علیه بالدفوف فتح (رد المحتار ص۲۶۱ ج ۲)والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۴رجب سنه ۸۷ھ

څوان سړی ته دسپینو ویښتانو ایستل جائزدی

سوال . دځوان سړی چې دنزلی له وجی دوه یا څلور ویښتان سپین شوی وی آیا دهغو ویستل جائز دی اوکه ناجائز؟ بینوا توجروا.
الجواب باسم ملهم الصواب : دعیب لرې کولولپاره سپین ویښته لرې کول جائزدی اوله وخته مخکښې دویښتوسپینیدل عیب دې لهذا جائز دی .
وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: ولابأس بنتف الشیب.
وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله ولابأس بنتف الشیب) قیده فی البزازیة بان لایکون علی وجه التزین(ردالمحتار ص۲۶۱ ج۵)والله سبحانه وتعالی اعلم.
۱۷رجب سنه ۸۷ھ

له سود خورسره خپلې اودوستۍ کول

سوال دبانك يا بيمې مامور په کور کښې ښخه ورکول يا له هغوئ څخه ښخه کول اوجهيز وغيره قبلول جائزدي اوکه غير جائز؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب نه ، جائزندي ، والله سبحانه وتعالى اعلم ۲۲شعبان سنه ۱۳۸۷

بلاربه غوا د ذبحې لپاره خرڅول

سوال بلاربه غوا د ذبحې کولو لپاره په قصاب باندې خرڅول جائزدي اوکه ناجائز؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : دبلاربې غوا وغيره ذبح کول جائزدي، لهذا په قصاب يې خرڅول هم جائز دي څه حرج پکښې نشته، البته که قريب الولادت وي نو ذبح کول يې بعضې علماؤ مکروه ګڼلي دي

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وليس في ذبح الامر اضاعة الولد لعدم التيقن بموته.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وليس في ذبح الام الخ) جواب عما يقال انه لولم يحل بذبح امه لما حل ذبحها حاملا لاتلاف الحيوان وتقرير الجواب ظاهر لكن في الكفاية ان تقاربت الولادة تكره ذبحها (رد المحتار ص۲۳ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۹ شوال سنه ۸۷هـ.

ممتحن ته دنالائق شاګرد کامیابول جائزندی

سوال که کوم ممتحن يوهلك رعايتاً کامياب کړي له هغه وروسته هغه هلك ته يوه نوکري هم پيدا شي آيا دغه هلك ته خو ددې نوکري پيسې ناجائزې نشوې ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب که د نوکرۍ دکار کولو پوره صلاحيت لري نو ملازمت يې جائزدې هغه په آمدن باندې دممتحن دفعل کوم اثر نه پريوځي، البته ممتحن دمحکمې له طرفه امين وو او دې پابندوو چې لائق شاګردان کامياب کړي اوهغه نا اهل کامياب کړو نو ده په امانت کښې خيانت وکړو چې په دې به دې ګناه ګاروي اوپه ده باندې توبه او استغفار لازم دي

قال الله تعالى: ان الله يامركم ان تؤدوا الامانات الى اهلها واذا حكمتم بين الناس ان تحكموا بالعدل الاية والله سبحانه وتعالى اعلم. غره ذى القعده سنه ۸۷هـ

دضرری حیواناتو وژل

سوال دسې اوپيشو، مچ، جولاګي (عنکبوت) ميږي وغيره تکليف ورکونکي حشراتو

اوحیواناتو قتل جائز دي او که نه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب حیوانات اوحشرات که شروع په ضررسره وکړی نو دهغوی په قتل کښې هیڅ حرج نشته اوکه نه نو خلاف الاولی دی. مار او لړم چونکه خلقتاً ضرری دی لهذا دهغو وژل جائزبلکه باعث دثواب دی د دواړونکی سپی اوپیشوهم همداحکم دې دضرری حیواناتو اوحشراتو د وژلوپاره داسې طریقه اختیارول پکاردی چی زربی سا (نفس) وخیژی په اور باندې سوځول یی منع دی.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وجاز قتل مايضر منها ككلب عقور وهرة تضر ويذبحها اى الهرة ذبحا ولايضر بها لانه لايفيد ولايحرقها وفي المبتغى يكره احراق جراد وقمل وعقرب ولابأس باحراق حطب فيها النمل.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله ويذبحها) الظاهر ان الكلب مثلها تامل (قوله يكره احراق جراد) اى تحريما ومثل القمل البرغوث ومثل العقرب الحية (ردالمحتار ص۴۸۱ ج۵)

وفي الهندية: قتل الزنبور والحشرات هل يباح في الشرع ابتداء من غير ايذاء وهل يثاب على قتلهم قال لايثاب على ذلك وان لم يوجد منه الايذاء فالاولى ان لايتعرض بقتل شئ منه كذا في جواهر الفتاوى، عالمگيرية ص۳۶۱ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲رجب سنه ۹۲ھ

دچرمښکې ((کربوړی)) وژل ثواب دي

سوال : په ځنګلونو کښې دچرمښکې (کربوړی) په شان حیوان پیدا کیږی اوپه کورونوکښې چرمښکې (کربوړی) په کثرت سره پیدا کیږی آیا ددې دواړو وژل جائزدی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د دواړو وژل باعث داجر اوثواب دی، په حدیث کښې د (وزغ) لفظ راغلې دې چی دواړوته شامل دې.

حضورصلی الله علیه وسلم دهغه وژل داسې بیان کړی دی چی هغې دنمرود اورته پوکې ورکاوه چی تیزشی اوابراهیم علیه السلام ته یی په ضرر رسولو کښې تعاون کاوه.

عن ام شريك رضي الله تعالى عنها ان رسول صلى الله عليه وسلم امر بقتل الوزغ وقال وكان ينفخ على ابراهيم عليه السلام (بخاري ص۴۷۵ ج۱)

عن ابي هريرة رضي الله تعالى عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم من قتل وزغا في اول ضربة كتبت له مائة حسنة وفي الثانية دون ذلك وفي الثالثة دون ذلك (مسلم ص۲۳۶ ج۲)

عن ابي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من قتل وزغة في الضربة الاولى كان له كذا وكذا حسنة فان قتلها في الضربة الثانية كان له كذا وكذا حسنة فان قتلها في الضربة الثالثة كان له كذا وكذا

صلوٰة البليس عن ابن مسعود وعائشة وام هريرة وحديث ابي هريرة حديث حسن صحيح (الترمذي ص ۲۴۳ ج ۱)

قال الامام القرطبي رحمه الله تعالیٰ: وقال كعب وقتادة والزهري ولم تمض بوم علي حالة الا اطفا معه العار الا الوزغ فانها كانت تنفخ عليه وكذلك امر رسول الله صلى الله عليه وسلم بقتلها وسماها فويسقة (الجامع لاحكام القرآن ص ۲۰۳ ج ۱۱)

د نوکری دحاصلولو لپاره خپل ستر اوعورت ښکاره کول

سوال۔ حکومت په ائرفورس کښې دمذهبی تعلیم په سلسله کښې یوه نوې شعبه پرانستې ده چې په هغه کښې علماء د وارنټ افیسر (ریلیجس ټیچر) په عهده مقررکیږی، سرکاری قانون دادې چې دمقرر کیدو په وخت کښې طبی معاینه کول ضروری وی چې په هغې کښې ستر خلاصول عورت لوڅول ضروری دی آیا په مذکوره صورت کښې عورت بربنډول او د اعضاء مخصوصه معاینه کول جائزدی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا داسې ضرورت ندې چې دهغې لپاره دچا په مخ کښې عورت ښکاره کول جائز شی د تعجب اوافسوس مقام د چې څوك دمذهبی تعلیم دورکولو لپاره بیول کیږی اوبیایی دمذهب په خلاف کولو مجبوروی کوم خلك چې د منصب داخستلو لپاره دداسې گناه کبیره اودحرامو ارتکاب ته تیار وی هغه که دمذهب څه تعلیم ورکوی هم ظاهر ده چې د داسې خلکونه دفائدې رسولو په ځای مذهب ته نقصان رسیږی.

بهر حال بغیر دشدید ضرورت نه چاته هم دعورت ښودل اوورته کتل سخته گناه اوحرام دی اوپه سوال کښې ذکرشوی صورت په ضرورت کښې داخل ندی. والله سبحانه وتعالی اعلم.

غره محرم ۱۳۸۸ھ

دغوا مصنوعی بچې

سوال که دغوا بچې مرشی اوله بل څه نه د بچی شکل جوړشی اودشیدو درا لوشلو لپاره هغه غواته کینودل کیږی آیا دا جائزدی اوکه ناجائز؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب که دبچی سترگی اوچهره بالکل ظاهرنه وی بلکه همداسې یوشکل جوړشوی وی نو جائزدی. والله سبحانه وتعالی اعلم.

۷ محرم سنه ۱۳۸۸ھ

په غرځای کښې دنولوحق دی

سوال زمونږ په علاقه کښې تول غر علاقه وار تقسیم شوی دې دیوه کلی خلك خپل حیوانات بل کلی غرځای ته نشی بیولې که څوك یې بوزی له هغه څخه معاوضه غوښتل کیږی آیا

دامعاوضه اخستل جائزدی او که نه؟ که معاوضه وانخلی نو ټول خلك خپل مالونه يوه څرځای ته بيايي پداسې صورت کښې هغه خلکوته نقصان وی دچاچی داحصه څرځای رسيدلې ده. که ديو کلی خلك په خپل څرځای کښې بل څوك نه پريږدی نو د علاقی حاکم يې جبراً ورليږی پداسې حالاتو کښې څه کول پکاردی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دغرونو داسې تقسيم چې ديوقوم مال به دبل قوم څرځای ته نه ورځی دا جائزندی، معاوضه اخستل هم سخت ظلم دې په ټولو غرنزه علاقو کښې په وښوکښې ټول مسلمانان برابرشريك دی، ارض مباحه خوپريږده په ارض مملوکه کښې له خپله زرغون شوی وښو څخه منع کول جائزندی که دځمکې مالك ځمکې ته د داخليدو اجازه نه ورکوی نو هغه دې پخپله وابنه ورته وريبی اوغوښتونکی ته دې ورکړی.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وبيع ثوب من ثوبين والمراعي اي الكلا واجارتها اما بطلان بيعها فلعدم الملك لحديث الناس شركاء في ثلاث في الماء والكلا والنار واما بطلان اجارتها فلانها على استهلاك عين ابن كمال وهذا اذا نبت بنفسه وان انبته بسقي وتربية ملكه وجاز بيعه عيني وقيل لا.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى تحت (قوله لحديث الناس شركاء في ثلاث) ومعنى الشركة في النار الاصطلاء بها وتجفيف الثياب لا اخذ الجمر الا باذن صاحبه وفي الماء الشرب وسقي الدواب والاستقاء من الابار والحياض والانهار المملوكة وفي الكلا الاحتشاش ولو في ارض مملوكة غير ان لصاحب الارض المنع من دخوله ولغيره ان يقول ان لي في ارضك حقا فاما ان توصلني اليه او تحشه او تسقي وتدفعه لي وصار كثوب رجل وقع في دار رجل اما ان ياذن للمالك في دخوله ليأخذه واما ان يخرجه اليه فتح ملخصا (رد المحتار ص۱۱۰ ج۴) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۷ صفر سنه ۸۸ھ

په خنزير پورته کولو کښې له کافر سره تعاون کول

سوال: زيد دښکارلپاره تللی وُو هلته له ده څخه مخکښې يو انګريز يوخنزير ښکار کړې وُ، انګريز زيد ته وويل چې داپورته کړه اوزمونږ په موټر کښې يې کيږده. زيد انکار وکړ. کافر ورته وويل که چيرته ستاسو کوم شې مردارشی هغه خو حرام شی بيايي هم تاسو په لاس کښې اخلئ او دباندې يې غورځوی، زيد خو خنزير ورسره وانخست ليکن له ده سره کوم معقول جواب نه وه چې انګريز ته يې ورکړې وې اوس پوښتنه داده چې آيا پداسې کومه موقع کښې دخنزير په پورته کولو کښې تعاون کول جائز دی او که نه؟ آيا له خنزير سره لاس لګول لاس ناپاك کوی اوکه نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب په دی کښې دمسلمان تذلیل دې له همدې کبله جائز ندی . د انګریز استدلال باطل دې ځکه چې دمردار حیوان له کوره ویستل دحرام اونجس اومتعفن شی دبهر کولو لپاره کیږی پدې کښې دکافر په وړاندی دمسلمان تذلیل ندې بلکه دا ماموربه او اطاعت دې . که دخنزیر ویښتان یا دنیونکی لاس لوند وی نو ناپاك ګرځی او داسې که نه وی نو نه ګرځی، والله سبحانه وتعالی اعلم . ۴ربیع الاول سنه ۱۳۸۸ هـ

په اخبار کښې دسړیو اوښځوتصویرونه کتل

سوال داخبار دمطالعې په وخت کښې دسړیو اوښځوتصویرونه کتل څنګه دی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : که دضرورت له وجې اخبار کتل وی نو حتی الامکان دې تصویرونو ته نه ګوری اوتصویرونه په قلم وړانول په کار دی، نن سبا اخبار کتل یو ذهنی تعیش جوړشوې دې چې خلق ورنه دضروت تعبیر کوی چې دا دایمان دسختی کمزورئ علامه ده والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۷ربیع الثانی سنه ۱۳۸۸هـ

دتبلیغ په نیت دمعصیت ارتکاب ندې جائز

سوال : که دکوم فاسق سره دهغه په فسق کښې دشریکیدوپه وجه دهغه داصلاح امیدوی نو آیا داسی کول جائز دی ؟ لکه د اهل بدعت دبدعت په مجلس کښې له هغوی سره شریکیدل ؟ بینواتوجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : د اصلاح اوتبلیغ په نیت دمعصیت ارتکاب هرګزجائزندې کله چې دارشاد اوتبلیغ نه مقصد دالله جل جلاله رضاوی نو ددې مقصد دتحصیل لپاره دهغه له معصیت نه څه مطلب؟ که کوم سړې له کومې فاحشی ښځې سره دهغې د اصلاح په نیت بدکاری کوی نو آیا کوم احمق به دیته جائز وایی ؟ والله سبحانه وتعالی اعلم . ۱۱شعبان سنه ۱۳۸۸هـ

تنبیه . ددې مسئلې مفصل اومدلل تحقیق په «تبلیغ کی شرعی حیثت اورحدود» رساله کښې دې چې مطالعه یې ډیره ضروری ده.

دکوم مصلحت په خاطر ګناه ته جائزویل الحاد دې

سوال په یوکار کښې دحکم شرعی کول او نه کول موجود دی، مګر زید وایی چې دمصلحت په خاطر حکم شرعی پریښودل په کار دی آیا دزید دانظریه صحیح ده ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دمصلحت په بناء حکم شرعی پریښودل الحاد اوبې دینی ده داسی ویلو والا فاسق دې اوددې آیت قرآنی ﴿أَفَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ وَأَضَلَّهُ ٱللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِۦ

وَقَلْبِهِ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِ غِشَاوَةً ﴾ مصداق دې اوله داسې باطلې اوالحادی نظریې څخه توبه او استغفار لازم دي.

دشریعت فیصله داده چې په مسائلو باندې د مصلحتونو مصالحه واچول شي نوځومره چه مصالحه زیاتې پرې واچول شي نو په هماغه اندازه سالن مزیدار اوخوندور راځي.

ددې مفصل اومدلل تحقیق په رساله د «سیاست اسلامیه» کښې دې دي، والله سبحانه وتعالی اعلم. غره، ربیع الاخر، سنه: ۹۶.

دعالم تصویر اخستل زیات شنیع دي

سوال: په دې زمانه کښې که دتصویر داخستلو دجواز استنباط شوې وی نو په دلائلوسره یې واضح کړئ او که نه وی نو ددې وضاحت وکړئ چې پدې کښې دعالم یامفتی یا عامی سړی څه فرق شته اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: تصویر اخستل په اجماع دامت سره حرام دی. دعوامو په مقابل کښې دکوم عالم یامفتی تصویر اخستل دځوجوهو نه زیات شنیع اوقبیح دی.

اول: په اهل علمو او اهل فهم اومقربینو باندې گرفت ډیر زیات سخت وی.

دویم: دعلماؤ دمعصیت کولو په وجه عوام په معاصیو باندې زړور کیږی.

دریم: دعلماؤ د مداهنت له وجې عوام دا گناه جائزه بولی.

تنبیه: دمعتبروذرائعو څخه دا خبره معلومه شوې ده چې بغیر له اجازته دچاتصویر اخستل قانونا منع دی له دې وجې نه که دچا تصوزیر په غفلت کښې چا اخستې وی په هغه فرض دی چې داسې مجرم ته دقانونی سزا اختار ورکړی او دتصویرپه ضائع کولو یې مجبورکړی که چیرته یې هغه ضائع نکړی نو قانونی چلن ورسره فرض دې خصوصا په علماؤباندی دا فریضه زیاته مؤکده ده پدې کښې تساهل کول حرام دی الله تعالی دې مونږ ټولو ته شرعی حفاظت نصیب کړی. والله سبحانه وتعالی اعلم. غره جمادی الثانیه سنه ۱۳۸۸هـ

د آسونو دځغلولوپه مقابله کښې جانبینوته عوض (انعام) ورکول

سوال: دخرو او آسونو دځغلولو په مقابله کښې گټونکوته عوض (انعام) ورکول اوپه هغې اجرت اخستل جائز دی که ناجائز؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په منډه اوځغلولوکښې که دپیسو ورکړه که له جانبینو څخه شرط وی نو دا فعل حرام دې او د حرام فعل لپاره عوض ورکول اوپه هغې اجرت اخستل هم حرام دی والله سبحانه وتعالی اعلم. غره رمضان سنه ۱۳۸۸

د غوږاوپوزې سورې کول

سوال اکثره ښځې که هغه له هر مذهب سره تعلق لری غوږ اوپوزه سوری کوی آیا شرعا غوږ اوپوزه سوری کول جائزدی؟ او دا په تغیر الخلق کښې نه راځی ؟ په حدیث کښې په خال کینودونکې اوخوك چی خال لګوی په هغې ښځې لعنت راغلې دې چی دهغې علت تغیر الخلق دې په غوږ اوپوزه کښې په سوری کولو سره په طریقه اولی تغیر الخلق راځی ځکه چی دلته هم په غوټه کښې سورې کیږی پداسې حال کښې چی په خال وهلوسره صرف په پوستکښې کښې سورې وی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : په غوږونو کښې دغوږوالۍ اچول دحضورصلی الله علیه وسلم په زمانه کښې رواج وو او اوس هم په عربوکښې رواج دی پر دې باندی د پوزې قیاس کول هم جائز دی چی سورئ کړې شی که چیرته دا په تغیر الخلق کښې داخل وای نو حضورصلی الله علیه وسلم به ضرور وریاندی رد کړې وای.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: ویکره للولی الباس الخلخال السوار للصبی ولا بأس بثقب اذن البنت والطفل استحسانا ملتقط لعله وهل یجوز الخرام فی الانف لم اره.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله للصبی) ای الذکر لانه من زینة النساء (قوله والطفل) ظاهره ان المراد به الذکر مع ان ثقب الاذن لتعلیق القرط وهو من زینة النساء فلا یحل للذکور والذی فی عامة الکتب وقدمناه عن التتارخانیة لا بأس بثقب اذن الطفل من البنات وزاد فی حاوی القدسی ولا یجوز ثقب اذان البنین فالصواب اسقاط الواو (قوله لم اره) قلت ان کان مما یتزین النساء به کما هو فی بعض البلاد فهو فیها کثقب القرط اهو قدنص الشافعیة علی جوازه مدنی. (ردالمحتار صـــ ۲۷۰ جـــ۵)

وفی الهندیة: ولا بأس بثقب اذان النسوان کذا فی الظهیریة ولا بأس بثقب اذان الاطفال من البنات لانهم کانوا یفعلون ذلك فی زمان رسول الله صلی الله علیه وسلم من غیر انکار کذا فی الکبری (عالمگیریة صـ ۳۵۶ جـ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۴ صفر سنـــ۸۹ هـــ

دغیبت د جائز او ناجائز صورتونو تفصیل

سوال غیبت څه ته وائی او آیا دا ګناه کبیره ده اوکه صغیره ده ؟ دبعضې علماؤ وینا ده چی دعلانیه فسق اوفجور کونکی غیبت جائز دې آیا دا خبره صحیح ده ؟ دغیبت جائز او ناجائز صورتونه بیان کړئ مهربانی به مو وی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دچا پسی شا دهغه په اړه داسې دعیب واقعه بیانول که هغه ته

معلومه شی نو وربانډې خفه کیږی دا غیبت دې اوغیبت گناه کبیره ده چی پدې باندې د قرآن اوحدیث شدید ترین وعیدونه راغلی دی.

دغیبت ناجائزصورتونه :

اول : غیبت حلال گنل اوکول یی مثلا که غیبت کونکې دغیبت کولو څخه منع کړې شی نوپه جواب کښې وایی چی داغیبت ندې خکه چی زه رشتیاوایم دا کفردې خکه چی دغه انسان قطعی حرام حلال گنی.

دویم : دنوم ذکرکولونه بغیر دچاغیبت کول چی هغه مخاطب ته معلوم اومتعین وی دا دنفاق او ریا مجموعه ده.

دریم : دکوم معلوم شخص غیبت کول دا گناه کبیره ده.

دغیبت جائزصورتونه :

اول : دظلم د دفع کولولپاره دقادر علی دفع الظلم په مخ کښې غیبت کول.

دویم : دمنکر دتغیر په نیت دقادر علی دفع المنکر په مخ کښې غیبت کول.

دریم : دحکم شرعی دمعلومولولپاره دمفتی په مخ کښې غیبت کول لیکن نوم مبهم پرینبودل بهتر دی.

خلورم : دچا د شرنه دخان ساتلولپاره دهغه غیبت کول مثلاپه شاهدانو او راویانو باندی جرح کول

پنځم : دښکاره گناه کونکو غیبت کول البته صرف دهغې گناه یادول جائزدی کومه چی یی ښکاره کوی دپټوگناهونو ذکر یی جائزندې.

شپږم : دتعارف په غرض دچاعیب بیانول مثلا اعور اواعمش وغیره دا پدې شرط جائزدی چې ددې څخه بغیر تعارف ممکن نه وی یا متعذر وی.

عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال اتدرون ما الغیبة قالوا الله ورسوله اعلم قال ذکرك اخاك بما یکره قیل افرایت ان کان فی اخی ما اقول قال ان کان فیه ما تقول فقد اغتبته وان لم یکن فیه ما تقول فقد بهته رواه مسلم (مشکوة ص۴۱۲)

وقال العلامة الالوسی رحمه الله تعالی تحت الایة ایحب احدکم ان یاکل لحم اخیه : والایة دالة علی حرمة الغیبة ،وقد نقل القرطبی وغیره الاجماع علی انها من الکبائر وعن الغزالی وصاحب العدة انهما صرحا بانها من الصغائر وهو عجیب منهما لکثرة ما یدل علی انها من الکبائر. وقصاری ما قیل فی وجه القول بانها صغیرة انه لولم تکن کذلك یلزم فسق الناس کلهم الا القلیل النادر منهم وهذا حرج عظیم وتعقب بان فشو المعصیة وارتکاب جمیع الناس لها فضلا عن الاکثر لا یوجب ان تکون صغیرة. وهذا الذی دل علیه الکلام مهلا تکلف

اكثر الناس لها لم يكن قليل على ان الاصرار عليها قريب منها في كثرة الفعول الناس وهو كبيرة بالاجماع ويلزم عليه الحرج العظيم وان لم يكن في عظم الحرج السابق مع ان هذا الدليل لا يقاوم تلك الدلائل الكثيرة. (روح المعانی ص ۱۵۹ ج ۲۶)

وعن عبد الله بن مسعود رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم واياكم والكذب فان الكذب يهدي الى الفجور وان الفجور يهدي الى النار وما يزال الرجل يكذب ويتحرى الكذب حتى يكتب عند الله كذابا متفق عليه (مشکوٰۃ ص ۴۱۲)

وقال العلامة الالوسي رحمه الله تعالى: وقد تجب الغيبة لغرض صحيح شرعي لا يتوصل اليه الا بها وتنحصر في ستة اسباب الاول التظلم فلمن ظلم ان يشكو لمن يظن له القدرة على ازالة ظلمه او تخفيفه. الثاني الاستعانة على تغيير المنكر بذكره لمن يظن قدرته على ازالته. الثالث الاستفتاء فيجوز للمستفتي ان يقول للمفتي، ظلمني فلان بكذا فهل يجوز له او ما طريق تحصيل حقي او نحو ذلك، والافضل ان يبهمه. الرابع تحذير المسلمين من الشر كجرح الشهود والرواة والمصنفين، والمتصدين لافتاء او اقراء مع عدم اهلية فتجوز اجماعا بل تجب (الى ان قال) والخامس ان يتجاهر بفسقه كالمكاسين وشربة الخمر ظاهرا فيجوز ذكرهم بما تجاهروا فيه دون غيره الا ان يكون له سبب آخر مما مر (روح المعانی ص ۱۶۱ ج ۲۶)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وتباح غيبة مجهول ومتظاهر بقبيح ولمصاهرة ولسوء اعتقاد تحذيرا منه ولشكوى ظلامة للحاكم اھ شرح وهبانية.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى تحت (قوله وتباح غيبة مجهول) وفي تنبيه الغافلين للفقيه ابي الليث الغيبة على اربعة اوجه في وجه هي كفر بان قيل له لا تغتب فيقول ليس هذا غيبة لاني صادق فيه فقد استحل ما حرم بالادلة القطعية وهو كفر وفي وجه هي نفاق بان يغتاب من لا يسميه عند من يعرفه فهو مغتاب ويرى من نفسه انه متورع فهذا هو النفاق وفي وجه هي معصية وهو ان يغتاب معينا ويعلم انها معصية فعليه التوبة وفي وجه هي مباح وهو ان يغتاب معلنا بفسقه او صاحب بدعة وان اغتاب الفاسق ليحذره الناس يثاب عليه لانه من النهي عن المنكر اھ اقول والاباحة لا تنافي الوجوب في بعض المواضع الآتية (قوله ومتظاهر بقبيح) وهو الذي لا يستتر عنه ولا يؤثر عنده اذا قيل عنه انه يفعل كذا اھ ابن الشحنة قال في تبيين المحارم فيجوز ذكره بما يجاهر به لا غيره قال صلى الله عليه وسلم من القى جلباب الحياء عن وجهه فلا غيبة له واما اذا

كان مستترا فلا يجوز غيبته اه فليس ما اشتهر بين العوام من انه لا غيبة لتارك الصلوة ان اريد به ذكره بما فيه وكان متجاهرا فهو صحيح والا فلا (رد المحتار ص ٢٦٢ ج٥) والله سبحانه وتعالى اعلم. ٢١ صفر سنه ٨٩هـ

په تصوير لرونکي سايکل سوريدل

سوال کوم سايکل چې په کرايه ورکول کيږي په وخت دضرورت کښې په هغه باندې سورلي کيږي دهغه په ډنډوباندې دښځوتصويرونه لږيدلي وي آيا په هغو سايکلونو باندې سورلي کول جائزدي اوکه نه ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : پداسې سايکل سوريدل جائزندي که بغير له تصويره سايکل نه پيداکيږي اوسخت ضرورت وي نو ګنجائش شته مګر تصوير دې په څه شي باندې پټ کړي که داهم نه کيږي نو له تصوير څخه حتى المقدور اغماض واجب دې . والله سبحانه وتعالى اعلم

١٥ ربيع الاول سنه ١٣٨٩هـ

دخانداني منصوبه بندي «اولاد بندولو» جائزصورتونه

سوال د خانداني منصوبه بندي څوطريقه دي :

اول : دښځې بچه دان ويستل کيږي .

دويم : دسړي اپريشن کيږي چې له هغې وروسته د اولاد دپيداکيدو قابل نه وي .

دريم : د دواګانو استعمالول .

څلورم : په وخت دجماع کښې دپلاستيکي پوکاني استعمالول .

اوس دپوښتنې ځاى دادې چې پدې کښې کوم صورتونه جائزاوکوم ناجائزدي؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : منصوبه بندي درزق دکموالي له وجې په هرصورت کښې حرامه ده البته که دانظريه نه وي بلکه دښځې دصحت يا د ماشومانو دپرورش په خاطر وي نو دپلاستک خلطه يا دوا استعمالول جائز دي دبچه داني لرې کول يا دسړي آپريشن کول چې دهميشه لپاره بيکاره شي جائزندي ددې تفصيل په رساله د «ضابطه توليد واسقاط حمل» کښې دي .

٣ جمادى الثانيه سنه ١٣٨٩ هـ

له فاسق زوى سره تعلق قطع کول

سوال زما زوى بالکل بنکاره په فسق اوفجور کښې مبتلادې اوپه دې باندې فخر هم کوي ماته هم کنځل اوبدې ردې وايي حتى چې زما له هغه څخه دسرخطره ده. ماله هغه سره تعلق قطع کړي دې. څه خپلوان تينګارکوي چې هغه معاف کړه پدې باره کښې دشريعت څه حکم دې؟ آيا د هغه معاف کول اوتعلق ورسره ساتل جائز دي ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دلته دوه مسئلې جداجدا دي يو معاف کول يعني په دنيا يا آخرت کښې انتقام نه اخستل دا ډير لوړ مقام دي. او دالله جل جلاله دقرب لويه ذريعه ده. شريعت دهغې فضائل په تفصيل سره بيان کړی دی

دويم داچې له زوئ سره تعلق ساتل. ددې فيصله دهلك د آينده حالاتو تر اطمينان پورې موقوفه ده که اطمينان وی چې هغه به خپل حالات درست اوسم کړی نو تعلقات ورسره ساتل پکاردی او که اطمينان نه وی نو تعلق ساتل هم ندی پکار. والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۲ رجب سنه ۱۳۸۹هـ

دبخمل په مصلی لمونځ کول جائزدی

سوال دبخمل په جانماز لمونځ کول جائزدی اوکه نه ؟ دا خوبه د وريښمو په حکم کښې نه وی؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : کوم جای نماز چې خالص د وريښمووی نو په هغه په لمونځ کولو کښې اختلاف دې دجواز قول راجح دې. نن سبا چې کوم قسم جای نماز په بازار کښې موندل کيږی دا دخالصو وريښمونه وی لدې وجی نه پدې باندې بالاتفاق لمونځ کول جائزدی.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالی: ويحل توسده والافتراشه والنوم عليه وقالا والشافعي ومالك رحمهم الله تعالى حرام وهو الصحيح كما في المواهب قلت فليحفظ لالكنه خلاف المشهور.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : (قوله لكنه خلاف المشهور) قال في الشرنبلالية قلت هذا الصحيح خلاف ما عليه المتون المعتبرة المشهور قوالشروح (ردالمحتار ص۲۲۶ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۸ رجب سنه ۸۹هـ

جعلی سند جوړول اوبيا د هغې په سبب وظيفه اجراکول

سوال يو سړی ته وظيفه اونوکری پيداکيږی مگر شرط دادې چې دپنځم صنف سند ولری او دغه سند له هغه سره نشته مگرجعلی جوړيږی. پداسې صورت کښې کومه گناه شته اوکه نه؟ همدارنگه لده سره په دې کار کښې په اعانت کونکو گناه شته اوکه نه ؟ همدارنگه د ولډنگ وغيره کارونو دمهارت جعلی سند حاصلول او نوکری ورباندی حاصلول جائزدی اوکه نه؟ اوپدې حاصليدونکې تنخوا حلاله ده اوکه حرامه ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دا دروغ اودوکه ده لهذا جائزندی په دی اعانت کونکې هم گناهگار دی البته کوم کار چې دده په ذمه دې که چيرته دې هغه په حسن او خوبی سره دسرته رسولو صلاحيت لری نو تنخوا ورته حلاله ده والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۵ ذی الحجه سنه ۱۳۹۰هـ

ددوا په بل کښي دمقرر ډاکټر دتشخیص رعایت

سوال : دحکومت له طرفه ځینی مامورینوته طبی سهولت مهیا وی دتشخیص لپاره دهري محکمي خپل ډاکټر مقرروی چی دهغه تشخیص ضروری وی اوس یو سړي له بل ډاکټر څخه تشخیص کوی او دمتعلقه ډاکټرته راشی او اخلاقًا هغه ورته دغه بل منظور کړی ، نوآ ددي شخص لپاره دا جائزدی اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : متعلقه ډاکټر که دهغه بل ډاکټر له تشخیص څخه مطمئن وی نو بل منظورول جائزدی اوکه نه وی نوجائز ندی. د اخلاقو په بناء دبل منظورول ندی جائز . والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۳ جمادی الاولی سنــ۱۳۹۲هــ

تار دمول او هغه ته غوټی اچول

سوال دچیچلو لپاره په تارسورة الرحمن لوستل کیږی یابل کوم آیت ویل کیږی او هغه وربانديږ دمیږی اوغوټي وراچول کیږی او دماشومانو په غاړه کښي اچول کیږی آیا داجائز دی اوکه نه؟ چونکه په حدیث کښي له دي څخه منع راغلي نو اوس شرعاً څه حکم دي ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : هو ! جائزدی دجاهلیت په دور کښي داسي شیان مؤثر بالذات ګڼل کیدل لدي وجی ترینه ممانعت راغلی دي، والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۵ذی الحجه سنــ۱۳۹۰هــ

په راډیو باندي تلاوت اوتفسیر

سوال : په راډیو باندي دقرآن کریم تلاوت اوتفسیر کول او دهغه آوریدل جائزدی اوکه نه؟ اوپه دغه وخت کښي استماع (غوږ نیول) اوانصات (چپ کیدل) ضروری دی اوکه نه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : خالص تلاوت له دوه وجوهونه جائز ندی .

اول : عموماً تلاوت کونکي اجرت اخلی اوتلاوت محضه باندي اجرت اخستل حرام دی.

دویم : پداسي مجلس کښي ساز اوسرود هم وی چی دا دقرآن توهین دي لهذا دهغه آوریدل هم جائز ندی، تفسر بیانول او اجرت وربانديی اخستل جائز دی . والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۵ ذی الحجه سنــ ۱۳۹۰ هــ

په ټی وی (تلویزون) باندي اسلامی نشریات آوریدل هم حرام دی

سوال په تلویزون باندي دکوم عالم تقریرآوریدل یا کرکټ لیدل جائزدی اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : تلویزون لیدل په لاندي وجوسره حرام دی :

اول : دلته عموما د اصل په ځای فلم راځی چی د تصویر کیدوله وجی حرام دي اوپه کوم مجلس کښي چی تصویر وی هلته تلل حرام دی په حدیث کښي په تصویر والاو لعنت شوی دی

چیرت چی تصویر وی هلته درحمت ملائك نه راځي.

دویم. نطاق (اناؤنسر) ښځه وی اودښځې عکس کتل حرام دی برابر خبره ده که تصویر وی یابراه راست عکس وی د دواړو حکم یو دې.

دریم: له نطاق ځخه علاوه په تلویزون ډیری ښځې راځی چی هغه سری وینی اوپه تلویزون راتلونکی سری ښځې وینی غیرمحرمې ښځې اوسری ته بلاضروت شدیده یوبل ته کتل حرام دی

څلورم: په لوبو او نوروفحش اوبې حیا مشتمل نشریات پکې کیږی چی دهغو لیدل او آوریدل دواړه حرام دی.

پنځم: په موسیقی او نورو فحش اوبې حیا مشتمل نشریات پکې کیږی چی دهغو لیدل او آوریدل دواړه حرام دی.

شپږم: دتلویزون دمذکوره مفاسدو له وجی په ټولنه کښې بی حیایی، فحاشی، بدمعاشی زنا او دهر قسم بدعملی طوفان قائمیږی حتی چی دسکه ورور او خور ترمنځ او دپلار او لور ترمنځ دبدکاری متعلق هم مونږ ته استفتاګانې راغلی دی.

اووم: دټولو سائنسدانانو په دې خبره اتفاق دې چی تلویزون لیدل بلکه هغه ته نژدی کیناستل هم دصحت لپاره سخت مضردی ، دیوې نجلی ددماغ رګ پرې شوې وودماغ پروفیسر ورته ویلی وو چی دا د تلویزون د لیدو نتیجه ده، دیوې نجلی نظرکمزوري شوې وو دسترګوپروفیسرورته ویلی وو چی دا دتلویزون د لیدوله وجی ده که آینده احتیاط ونکړې نو ړنده به شی.

اتم: اکثر مضامین داسې وی چی نه ددین څه فائده وی پکې او نه د دنیا او هر هغه څه ممنوع دی چی په هغه کښې څه نفع نه وی.

نهم: دتلویزون په شان دلهولعب اوبې دینی اوفحاشی اودمنکراتو په مرکز کښې دینی پروګرامونه ښودل کیږی اوبیا هغوته داشاعت اسلام نوم ورکول کیږی دا ددین سخته بی حرمتی اومسلمانانو ته ناقابل برداشت توهین دې.

لسم: که څوك هر څومره اهتمام وکړی چی صرف جائزشیان به وریاندی ګورم بیا هم ځان ساتل ناممکن دی.

یولسم: که بطور فرض محال دا فرض کړې شی چی دکوم حرام کار د ارتکاب نه بغیر جائز کارونه لیدل ممکن دی بیاهم به دې کښې دافساد دې چی دشروع کولو نه بعد ددې شوق نشه دومره زیاته شی چی خبره ترحرامو شیانو کتلوپورې ورسیږی اوهر هغه کار چی دحراموذریعه ګرځی حرام دې اګر چه فی نفسه هغه مباح هم وی.

دولسم: کوم دینداره سړې چی دمحرماتو نه ځان ساتی او دتلویزون دلیدلو کوښښ وکړی نو عوام خلق مطلقا دهغې په اباحت باندی استدلال کوی دتلویزون دتباه کاریو تفصیل په رساله

«تی وی کازهر تی وی سی مهلك تر» کښې دی والله سبحانه وتعالی اعلم ۹ محرم سنه ۹۹هـ

انګریزی ژبه لوستل

سوال انګریزی ژبه لوستل جائزدی اوکه نه؟ که ناجائزوی نو وجه یې څه ده ؟ نن سبا عام اوخاص خلك دې طرفته مائل په نظر راځی ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب انګریزی ویل جایزدی مګر دسکول اوکالج ماحول اوچاپېریال دبې دینۍ دې کوم شې چې بې دینی طرفته داعی وی له هغه څخه احتراز لازم دی والله سبحانه وتعالی اعلم ۵ جمادی الاخره سنه ۱۳۹۱هـ

دمصنوعی مجسمې دلوبودسامان حکم

سوال ماشومانو ته دلوبوسامان ورکول څنګه دی؟ خصوصاً هغه چې مصنوعی مجسمه وی لکه انسان ، آس ، وزه وغیره؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : ماشومانوته دلوبوسامان ورکول جائزدی مګر د روح لرونکو شیانو مجسمې لکه انسان ، آس ، وزه وغیره ورکول ندی جائز.

دتصویر دحرمت دلائل او احکامو تفصیل په رساله «النذیر العریان عن عذاب صورة الحیوان کښې دې، والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۰ جمادی الاخره سنه ۱۴۹۱هـ

له ښاروالی (بلدیه) څخه د مردارو حیواناتو ټیکه نیول

سوال : زید دښاروالی له کمیټې څخه مردار حیوانات دکال په لس زره روپۍ ټیکه نیولې، مثلا که په ښارکښې کوم حیوان مرشی نوزید به هغه وړی دهغه څرمن اوهډوکښې به پکار راولی چربی «وازده» به یې ویلې کوی او دصابون په کارخانه دارو به یې خرڅوی، آیا د زید دافعل شرعاً صحیح دی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : نه ؛ جائزندی والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۷ شوال سنه۱۳۹۱هـ

د اضطرار په حالت کښې دبل چا مال خوړل

سوال یوفقیر چې له هغه سره دخوراك او څښاك هیڅ هم نه وی په سوال کولو یې هم ګزاره نه کیږی پداسې حالت کښې هغه ته څه کول په کار دی؟ که چیرته هغه په حالت داضطرار کښې له کوم غنی سره په دوډۍ نه ورکولو جنګ وکړی اوپه دغه حالت کښې مرشی نو دهغه مرګ به څنګه وی بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دغیر مال دهغه دطیب خاطرنه بغیر اخستل حرام دی. «الله سول

صلی الله علیه وسلم لایحل مال امرء مسلم الا بطیب نفس منه))
په حالت داضطرار کښې هم دخان دژغورلولپاره بې اجازته دچا دمال خوړلو په نسبت بقدر
ضرورت مرداره خوړل اهون دی. البته که د مرداری غوښه هم نه پیداکیږی نو دخان ساتنې لپاره
دضرورت په اندازه دغیر مال بلا اجازته خوړلې شی

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی فی جنایات الحج : او هو مضطر الی اکله (الی قوله) ویقدم المیتة علی
الصید والصید علی مال الغیر ولحم الانسان الخ (ردالمحتار ص۲۳ج۲)

بیا تعجب په دی خبره دې چې یوشخص دمال په گټلو قدرت نه لری او جنگ کولو ته تیاریږی
که دا شخص په دې جنگ کښې مړشی نو په حرام مرگ مری. والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۸ ربیع الثانی سنه ۱۳۹۱هـ

دضرورت په وجه سپی ساتل

سوال په حدیث کښې راغلی دی چې هغه کورته ملائك نه داخلیږی چې په هغه کښې سپی یا
تصویروی آیامطلقا سپی ساتل جائزندی که دضرورت په وخت کښې گنجائش شته؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : دحفاظت یا ښکار لپاره سپی ساتل جائز دی په حدیث کښې
ممانعت دبلاضرورته ساتلونه راغلې دې . والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۵ جمادی الاخرہ سنه ۱۳۹۱هـ

دپاسپورت تصویر ویستل اوپه هغې اجرت اخستل هم حرام دی

سوال دپاسپورت سایز تصویرونه ویستل اوپه هغې اجرت اخستل جائزدی او که ناجائز؟
بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دا حرام دی دهغوپه حرمت باندې دنبی کریم صلی الله علیه وسلم
اراشادات په کثرت سره منقول دی.

عن سعید بن ابی الحسن قال کنت عند ابن عباس اذا تاه رجل فقال یا ابن عباس انی انسان انما معیشتی من
صنعة یدی وانی اصنع هذه التصاویر فقال ابن عباس لا احدثك الا ما سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم
یقول سمعته یقول من صور صورة فان الله معذبه حتی ینفخ فیها الروح ولیس بنافخ فیها ابدا الحدیث (بخاری
صـ۲۹۶ج۱) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۷ جمادی الاخرۃ سنه ۹۲هـ

ماشومانو ته دتصویرونو په ذریعه تعلیم ورکول

سوال ماشومانو ته د تعلیم ورکولو لپاره دتصویر استعمال ترکومه حده صحیح دی؟ آیا په

دې مسئله کښې دام المؤمنین حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها دګوډیو او ذوالجناح کومه رنایی پریوځی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دا حرام دی. دحضرت عائشه رضی الله تعالی عنها دلوبوپه سامان کښې تصویرونه، نه وو.

قال فی حاشیة المشکوة معزیا الی اللمعات: والمراد منها ماتلعب به الصبیة من الخرق والرق ولم یکن لها صور مشخصة کالتصاویر المحرمة فلاحاجة الی ماقیل ان عدم الانکار صلی الله علیه وسلم لعبها بالصور وابقاءها فی بیتها دال علی ان ذلک کان قبل التحریم وان اللعب الصغار مظنة للاستخفاف (حاشیة مشکوة ۲۸۲ ج۲) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۲ جمادی الثانیة سنه ۹۲هـ

دږیره لندونکی سړی په جومات کښې بیان کول

سوال: آیا ږیره لندونکې سړی په جومات کښې وعظ کولې شی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په دې کښې ددین اود وعظ د منصب توهین دی له همدې کبله ندی جائز. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۴ جمادی الاخره سنه ۱۳۹۲هـ

کافر ته دبنائست ((ډیکوریشن)) سامان ورکول

سوال: دکافرانو په ودونو اوبنادیووغیره کښې مسلمان خپل د ډیکوریشن سامان ورکولې شی اوکه نه؟ مثلا دیګ، پلیټ، ګلاسونه وغیره ورکول جائزدی اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: هو ! جائز دی.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: وجاز بیع عصیر عنب ممن یعلم انه یتخذه خمرا الاان المعصیة لاتقوم بعینه الخ (ردالمحتار ص۲۵۰ ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۴ رجب سنه ۹۲هـ

د خپل حق اخستلو لپاره دروغ ویل

سوال: زید دبکر په ځمکه جبرا قبضه کړې ده او مقدمه یی روانه ده، اوس که بکر دخپل حق اخستلو لپاره دروغ اووائی نو آیا جائزبه وی اوکه نه؟ مثلا زید ته بکر دوه زره روپئ ورکړی دی اودې اووایی چې پنځه زره روپئ یی ورکړی دی آیا داسی کول شرعا جائزدی اوکه نه؟ پداسې حال کښې چې بغیرددروغو ویلو کارنه کیږی او بغیرله مقدمې فیصله هم نه کیږی ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: صریح دروغ ویل جائزندی دضرورت په موقع تعریض کول جائزدی یعنی داسی خبره کول چې په ظاهر یی خلاف الواقع وی لیکن له هغې ځنې صحیح مطلب هم اخستل کیدای شی.

قال الحصكفي رحمه الله تعالى: الكلب مباح لاحياء حقه ودفع الظلم عن نفسه والمراد العمريهش لان حتى الكلب حرام (رد المحتار ص ۲۳۲ ج ۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ذی القعده سنه ۹۲ھ

په تبلیغی اجتماع کښې په لوړ آواز سره دعا کول

سوال دتبلیغی اجتماع په اختتام کښې همیشه په زوره په لوړ آواز دعا کیږی او آوریدونکی په لوړ آواز آمین وایی او په اکثرو ژړا غالبه شی اوددې دپر اهتمام کیږی. اکثر خلك دا دعا دقرآن ددرس نه هم زیاته باعث دثواب گڼی آیا د دعا دا طریقه دشریعت موافقه ده او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: د دعاء لپاره اجتماع ثابته نده، البته اجتماع که دبل مقصد لپاره وی نو په هغې کښې اجتماعی دعا جائزه ده، له تبلیغی اجتماع څخه مقصود دعاء نده بلکه دخلکو دین طرفته متوجه کول اوددین تبلیغ مقصود وی، لهذا هلته په لوړ آوازسره اجتماعی دعاء کولوکښې څه حرج نشته. والله اعلم. ۸ صفر سنه ۱۳۹۳ھ

دظلم نه دخلاصون لپاره دروغ ویل اورشوت ورکول

سوال: حکومت چی کوم تیکس په عامو خلکو لگوی دهغې نه دخان خلاصولو لپاره دروغ ویل اورشوت ورکول جائزدی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: حکومت په لاندې شرطونو سره تیکس لگولې شی.

اول چې دحکومت ضرورت وی. **دویم**: تیکس په قدر دضرورت ولگول شی. **دریم** مصرف صحیح وی. **څلورم** تعین اوتشخیص صحیح وی. که له ذکر شوی شرطونو نه کوم یوشرط هم مفقود شی نوتیکس لگول ظلم دې له هغه څخه دخان خلاصولو کوشش جائزدې که درشوت ورکولو ضرورت پیښ شی نو دهغه هم گنجائش شته دې، صریح دروغ ویل جائز ندی، البته داسې خبره کولې شی چی په حقیقت کښې خلاف الواقع وی مگرکوم صحیح مطلب ترینه اخستل کیږی والله سبحانه وتعالی اعلم.

په حرمت د ((لااله الاالله)) ویل

سوال بحق یا په حرمت دلااله الاالله ویل او دعاء غوښتل صحیح دی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: هو اصحیح دی. والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۰ ذی القعده سنه ۱۳۹۳ھ

دمورواوپلار دزیارت کولو لپاره پاسپورت جوړول

سوال. دمور اوپلار دزیارت لپاره پاسپورت جوړول چی په هغه کښې تصویر اخستلو نه

ضرورت پېښېږي آیا داسې پاسپورت جوړول جائز دي او که ناجائز؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دوخت علماء دا فتوی ورکوي. مانه ددي شرح صدر نشته عام خلق دي دعلماء وقت په فتوی عمل وکړي والله سبحانه وتعالی اعلم ۵ رمضان سنه ۱۳۹۴هـ

دتوبې داعلان کولو وروسته دتعلق قطع کولو جواز نشته

سوال یوې ښځې دیوسړي سره غلط تعلق ساتلو بیا د والدینو داجازې نه بغیر یې له داسې چاسره واده وکړو چې کفو (سیال) هم نه وو چې پدې سره دهغې دنولې قبیلې بې عزتي وشوه، ددې په بناء له هغې سره تولو خپلو خپلوانو تعلق قطع کړو. له ډیرې مودې وروسته هغه په خپل کار پښیمانه شوه او له خپلو تولو خپلوانو څخه یې معافي وغوښته آیا اوس دمعافي له غوښتلو وروسته بیاهم دهغې خپلو خپلوانو ته قطع تعلق جائزدې او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب که ذکر شوې ښځې له هغې گناه څخه توبه ایستلې وی اوتولو هغو خلکو ته چې ددې گناه ورته علم وو هغوئ ته یې دخپلې توبې اعلان هم کړې وی او له خپلو تولو قریبانو نه یې معافي هم غوښتې وی نو اوس ورسره تعلق قطع کول جائزندي والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۹ ذی الحجه سنه ۱۳۹۴هـ

مار، شادو، خرس، یگ وغیره ساتل

سوال مار، شادو، یگ دغیره ساتل او دهغو خلکوته د تماشې (سیل) لپاره ښودل اودخلکو په هغو باندې پیسې ورکول او دهغو روپو اخستل جائزدي او که نه؟ په ظاهره خو اخستل او ورکول منع معلومیږي څکه چې اول خو د یو حیوان حبس دې چې ممنوع دې، دویم حیوان هم داسې حیوان چې دهغه حکم قتل دې، دریم دخلکو په لهو اولعب کښې مشغولول؟ بینوا توجروا؟

الجواب باسم ملهم الصواب. داسې تماشې ښودل اوکتل ناجائزدي

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وفي البزازية استماع صوت الملاهي كضرب قصب ونحوه حرام لقوله عليه الصلوة والسلام استماع الملاهي معصية والجلوس عليها فسق والتلذذ بها كفر اي بالنعمة. (رد المحتار ص ۲۲۳ ج ۵)

وقال ايضا: وكره كل لهو لقوله عليه الصلوة والسلام كل لهو المسلم حرام الا ثلاثة ملاعبته اهله وتاديبه لفرسه ومناضلته بقوسه

قال ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وكره كل لهو) اي كل لعب وعبث فالثلاثة بمعنى واحد كما في شرح التأويلات والاطلاق شامل لنفس الفعل واستماعه كالرقص والسخرية والتصفيق وضرب الاوتار من

الطنبور والربط الخ (ردالمحتار ص ۲۵۳ ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۴ محرم سنه ۹۵ هـ

دمروجه کمیټی حکم

سوال: نن سبا په هره علاقه کښې دا رواج دې چې څو افراد یوځای شي یوه کمیټه جوړه کړي په هره میاشت کښې هر رکن دکمیټې یومعین مقدارپیسی جمع کوی بیا په جمع شوی پیسو قرعه اندازي کیږي، دکمیټې له ارکانو څخه چې دچانوم په قرعه کښې راووت هغه ته جمع شوې روپئ ورکول کیږي، داسی هره میاشت کیږي، نو بت په نوبت هررکن دکمیټې ته له جمع شوی پیسو څخه دفائدی اخستلو موقع ورکول کیږي، دا د باهمی امداد یوشکل ګڼل کیږي، اوس پوښتنه داده چې شرعاً دا صورت جائزدی او که نه؟ بنده ته په دی کښې یوڅو شبهات دی.

اول: هر فرد په دې امید پدی کښې شریك کوی چې دده لرپیسی به ډیری روپئ له ځان سره راوړی ګویاکه دیولوی مقدار پیسو بطورقرض لاسته راوړلولپاره لرپیسې له خپل جیب څخه وباسی د استقراض داشکل غلط دې څکه چې ((کل قرض جر نفعا فهو ربا)) فرمایل شوی دی.

دویم: په موجوده صورت کښې په قرعه اندازی کښې قرض حاصلول که قمار ندې خومشابه دقمار ضرور دې.

دریم: کوم ممبر (رکن) که د پیسو حاصلولو وروسته خپله ماهانه چنده بنده کړی نو نزاع پیداکیږي ظاهره خبره ده چې داسې معاملات شرعا غلط وی.

څلورم: دا هم ممکنه نده بلکه امر واقعی دې چې څوك واقعا ضرورتمند وی په قرعه کښې یې دنوم نه راوتلو په وجه ترڅه وخته له قرض حاصلولو څخه محروم پاتې کیږي، دخپل احتیاج باوجود هره میاشت چنده ورکوی چې د ډیرومشکلاتو ښکارګرځی، لهذا دا امداد باهمی ندې بلکه په یو حاجتمند باندی ظلم دې.

پنځم: هررکن کمیټی ته هره میاشت چنده ورکوی چې دې په خپله هم ددې کمیټی جزء او رکن دې نو هرسړی خپل ځان ته قرض ورکونکې شو او دا یو مهمل امردی. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دکمیټی مروجه طریقه بلاشبه ناجائزه ده، البته دجواز دا صورت کیدای شي چې دلاندی شرطونو مکمله پابندی وکړی.

اول: دکمیټی په نوم جمع شوې روپئ دټولو شرکت کونکو په رضا بغیر دقرعی نه یوه شخص ته دقرض په طور ورکړل شي یاپه ذریعه دقرعی سره ورکړل شي مګر دقرعی نتیجه لازمی ونه ګرځول شي بلکه دټولو شریکانو په رضا سره صرف د انتخاب دسهولت لپاره یوذریعه وګڼل شي.

دویم: هرشریك ته په هروخت کښې دجدا کیدو اختیار وی کوم جبرورباندی نه وی بلکه بعد له جربا څرخله د پیسو ورکولو کوم شریك بیاهم دجدا کیدو پوره اختیار ولری او دورکړو پیسو د

واپس کولو دمطالبې پوره حق ولري پدې باندې دهيڅ کوم شريك اعتراض نه وي

دريم : ديوې مياشتې نيته لازمی ونه بلل شی هر شريك ته په هر وخت کښې دقرض پطور دورکړې شوو روپو دبيرته اخستو دمطالبی حق وی، ددغو شرطونو لاندې که معامله وشی نوپه سوال کښې چی کوم اشکالات دی هغه نه وربانديی وارديږی اوتفصيل يی داسې دې

اول : ددې اول اشکال دوه ځوابونه دی : ١- دلته جرنفع دمستقرض څخه نه دې بلکه دغيرنه دې ٢- کله چی هرشخص ته هر وخت دجدا کيدو اختياروی نو دا نفع نه مشروط کيږی.

دويم : دشرط اول لاندی نه قمار دې او نه دقمارمشابهت.

دريم : دا صورت په هر قرض کښې وی چی قرض خواه ته دمطالبې حق وی. البته ديوې مياشتې تاجيل باطل دې او دابطلان په دريم شرط سره پورته کيږی.

څلورم : ددوم شرط لاندې هر شريك ته په هره مرحله اختياروی او چی هغه کله هم وغواړی نو خپلې ورکړې پيسی بيرته اخستې شی نودا اشکال هم پاتې نه شو.

پنځم : قرض کميتی ته نه ورکول کيږی بلکه دچاپه نوم چی قرعه وختله هغه ته ورکولو کيږی دکميتی قبضه وکالة ده.

په لوبو کښې انهماک او په هغوکښې عزت ګڼل

سوال : آيا دمسلمانانو لپاره په دنيا کښې دکافرانو په مقابل کښې دخپل عزت قائم ساتلو لپاره په لوبوکښې حصه اخستل او دګټلو کوښښ کول او دعاء ورته کول د قرآن او حديث څخه ثابت دی اوکه نه؟ او آيا پداسې طريقه واقعا عزت حاصليږی ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دمسلمانانو عزت او وقار او د دنيا او آخرت سرخروئی صرف په دې کښې ده چی هغوئ په صحيح معنو مسلمانان جوړشی او د اسلام په ټولو احکامو عمل وکړی اوپه کفارو باندی دخپل دباو او رعب اچولولپاره اودهغوی په مقابل کښې دخپل سرلوړ ساتلو لپاره دجهاد تياري وکړی او داسې ورزش وکړی چی دهغه له وجی جسم مضبوط شی او دجهاد کولو قابل وکرځی. دالله تعالی ارشاد دی :﴿وَأَعِدُّوا لَهُم مَّا اسْتَطَعْتُم مِّن قُوَّةٍ وَمِن رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَدُوَّكُمْ﴾ الايه.

دحضوراکرم صلی الله عليه وسلم او دصحابه کرامو رضی الله عنهم په دورکښې دجهاد دتربيت کولو په ذريعې سره په کفارو رعب اچول کيده لکه چی په مسجدنبوی کښې تير اندازی دغشی ويشتلو مقابله کيدله ددغسې تربيت په وجه دحضرت سعد رضی الله عنه په شان قهرمان مهارت حاصل کړو چی کله به دکفارو مقابلی ته ووت نو مربی اعظم صلی الله عليه وسلم به ورته دفدا

ابی وامی (ارم یا سعد ، بابی وامی) نعره کوله او دده په غشی ویشتلو به یې فخر کولو
ددې تربیت نتیجه وه چې ماشومان، ځوانان، بوداګان، ټول د جهاد له جذبې څخه سرشارو و
ماشومان به دپښو دګوتو په سرونو ودریدل اوخپل قد به یې لوړ ښودلو ترڅوپه جهاد کښې د
ګډون اجازه ورته ورکړل شي.
دځوانانو ناوی دحقوقو ادا کولونه پس چې یې دجهاد اعلان واوریدونو پرته دغسل دمکمل
کولونه به یې د میدان طرفته منډې وهلې او دشهادت جام به یې نوش کاوه. په پښو معذوربه هم
دجهاد میدان ته تللو اوداسې دعاء به یې کوله : «اللهم لاتردني الی اهلي». دنوی کالو (۹۰) سپین
ږیری به هم جهاد ته تلل اوپه لاره کښې به یې دمتوقعه انتقال په نظرکښې نیولو سره دا وصیت
کاوه چې زما جنازه له ځان سره مخکې وړئ اودجهاد په میدان کښې به مې دفن کوئ.
دغو قدس (پاك) صفته حضراتو کله هم په لوبو کولوسره دکفارو دمقابلې کولو اوپه هغوئ
درعب غورځولوسوچ نه وو کړې او نه یې په دې فلسفه کښې داسلام سرلوړی بلله په حقیقت کښې
دا داسلام ددښمنانو یو مکر او سازش دې چې مسلمان نوجوانان په لوبو. لهو لعب کښې مشغول
وساتی ترڅوهغوئ دخپل دین له ټولو احکاماتو څخه غافل بلکه عاری وه وسیږی او له مونږ سره
دوستانه تعلقات قائم کړی اوپه مکمل طور سره زمونږ په رنګ رنګ کړل شی او زمونږ په خلاف
دجهاد دبیرغ دپورته کولو تصور یې هم له ذهن څخه ووځی.
افسوس : دنن مسلمان حکومتونو او مسلمانو ځوانانو خپل حیثیت هیرکړې او په څومره ژوره
کنده کښې پریوتی دی او داسلام د دشمنانو دسازشونو په جال کښې دپریوتو په وجه د آخرت
دفکرنه په لرې پریوتو سره د دنیا دمنافعو څخه یې هم لاسونه وینځلی دی. (**نسوالله فانساهم انفسهم**)
الله تعالی اودهغه احکام یې شاته وغورځول. نو الله تعالی هم دوئ ددنیا او آخرت دنفع دشعور
څخه بې برخی کړل لکه څنګه چې دلوبوپه مقابلو کښې دبې شمیره خلاف شرع کارونو ارتکاب
کیږی دلمونځ او روژی په شان اهمو فرضونه غفلت بلکه دتنفرنه علاوه دقوم میلیونونه او اربونه
روپۍ سرمایه دلوبو په میدانونو جوړولو او د سیل کوونکو دناستی په انتظام کولو دغیرمسلمو
ښکارو دخوشحال ساتلو او دیهود او هنودو سره دتعلقاتو جوړولو په شان لغویاتو اودغیرت
ایمانی خلاف حیاسوزو حرکاتو باندې خرڅ کیږی فالی الله المشتکی.
بنابر دې دلوبو د مروجه مقابلو هیڅ جواز نشته. لهذا هغوئ ته هیڅ قسم دعا کول او غوښتل
جائز ندی بلکه په هرشخص دخپل توان اوطاقت موافق دمسلمان ځوان نسل ددغه تباه کن او
دحکومت ددې هلاك کونکی سازش نه دځان ساتل فرض دی. والله سبحانه وتعالی اعلم
۳۰ شوال ۱۳۹۵ھ

مختلف خبرونه آورول او آوریدل

سوال : په ملك كښې دننه یا دبهر چی کوم حالات دمختلفو ذریعو په واسطه موصول کیږی دهغو آوریدل او یوبل ته بیانول جائزدی اوکه نه ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : نه ، دا جائزندی په دې کښې دا لاندی مفاسد دی.

اول : اکثر خبرونه عبث اولایعنی وی چی په هغو کښې نه ددین څه فائده وی نه ددنیا ، کوم سړې چی له لایعنی څخه نه بچ کیږی الله تعالی ته دهغه اسلام خوښ نه دې، حضور صلی الله علیه وسلم فرمایی (من حسن اسلام المرء ترکه مالایعنیه)

دویم : اکثره خبرې غیرمحققې وی چی دهغو بیانول اوخپرول په دروغو کښې داخل دی، حضور صلی الله علیه وسلم فرمایی (کفی بالمرء کذبا ان یحدث بکل ماسمع)

دریم : په ډیرو خبرونو کښې افتراء او غیبت هم وی اوغیبت دزنا نه هم بدتر دې او افتراء دغیبت نه هم بدتره ده .

څلورم : د اسلام اومسلمانانو خلاف پروپاګند اوسازشونه کیږی له حالاتو ناخبره ساده مسلمانان په غیر شعوری طورسره ترینه متاثرکیږی او د اسلام د دښمنانوبیان کړې شوی خلاف الواقع نقائص دهغوئ په زړونو کښې له اسلام څخه نفرت اوکرکه پیدا کوی.

پنځم : دمختلفو طبقاتو او مختلفو علاقوترمنځ عصبیت اومنافرت پیدا کیږی.

شپږم : دقسم قسم فتنوا اوفساداتو خبرونه آوریدل انتشار،خوف ، هراس او بزدلی پیدا کوی قرآن کریم دهوائی خبرونو دخپرولو عادت دمنافقانو له قبیحو عادتونو څخه شمیرلې دې، لکه چه فرمایی : ﴿ وَإِذَا جَاءَهُمْ أَمْرٌ مِّنَ الْأَمْنِ أَوِ الْخَوْفِ أَذَاعُوا بِهِ ﴾ بل ځای کښې فرمائی : ﴿لَّئِن لَّمْ يَنتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا ﴿٦٠﴾﴾ والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۵ ذی القعده سنه ۹۵هـ

دځنځیری ساعت په لاس کول

سوال : بعضې مفتیان حضرات فرمائی چی دځنځیری ساعت په لاس کول جائزندی که دېر ضرورت وی نو جائز دی مګر خلاف تقوی دی، ستاسو تحقیق څه دې ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دځنځیر د استعمال دوه صورتونه دی :

اول : دهغه ترل بذات خود مقصود وی لکه دزینت لپاره یې خلك په لاس کوی

دویم : بذات خود مقصود نه وی بلکه دبل څه دترلو لپاره استعمال شی. په اول صورت کښې استعمال جائزندې اوپه دویم صورت کښې بلاکراهیته جائزدې . دساعت شاته چی کومه حصه نه

لاس سره لګيدلې وي هغه هم کوم معدني شي وي مګرچونکه هغه خپله مقصود نه وي له دې وجې نه جائز دي. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۲ ربيع الاول سنه ۱۳۹۹هـ

په نائي باندې حجامت جوړول

سوال: نائي چې دخلکو ډيرې خرېي يايي لندوي او د شريعت خلاف ويښتان جوړوي په هغه ويښتان جوړول جائزدي اوکه نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که چاړه اوقيچي وغيره آلات دويښتانو جوړولوپه باره کښې يقيني طورسره معلوم نه چې له حلال مال څخه دي اوکه دحرام څخه ياله حرام اوحلال څخه مخلوط اخستل شوي نو اعتبار غالب لره دې ، که حلال غالب وي نو دهغو آلاتو استعمال جائزدې اوکه نه نو ندې جائز. اوکه دغلبې علم نه وي نوجائزدې ليکن احتراز بهتر دې، دناستی دکرسئ وغيره هم همداحکم دې که د دکان قيمت خريد يا کرايه غالبه حلاله وي نودې دکان ته داخليدل جائزدې اوکه نه وي نو ندی جائز. په مذکوره ټولو صورتونو کښې که دحلال اوحرام دمخلوط کيدو يقين وي نوغلبې ته اعتبارنشته که حلال غالب هم وي بياهم جائزندی. والله سبحانه وتعالی اعلم. ددې تفصيل دحرام او حلال مخلوط مال حکم په رساله کښې دې. ۲محرم سنه ۱۴۰۰هـ

دسفارش حکم

سوال: سوال کول خوحرام دی که دچامسکين مسلمان سړی دنوکرۍ غوښتلولپاره څوک دکوم صاحب منصب نه سفارش اوغوښتنه وکړی آياداهم په ممنوع سوال کښې داخل دی؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که چيرته صاحب منصب باندې ستاسی دوجاهت اثر دومره غالب وی چې دهغه له وجی ستاسفارش رد کولې نشي اوداانديښنه وی چې دخلاف شرع ياخلاف قانون دکارهم ارتکاب کوی که چيرته تاسوسفارش وکړئ نو ضروري يې قبلوی نوسفارش کول جائزندی اوکه ستا او دهغه ترمنځ داسې دوستی اويې تکلفی وی که چيرته سفارش کول خلاف شرع يا خلاف قانون وی او يا دکوم مصلحت خلاف وی نو بلاتکلف دسفارش دقبول څخه انکار کولې شی او دهغه په انکار کولو تاسوته هم کومه پريشاني نه وی نوسفارش کول جائزبلکه باعث داجردی.

عن ابی موسی الاشعری رضی الله تعالی عنه عن النبی صلی الله عليه وسلم قال اشفعوا ولتوجروا ويقضی الله علی لسان رسوله ماشاء متفق عليه (مشکوة ص ۴۲۲) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۶ربيع الثانی سنه ۱۴۰۰ هـ

د پردی سړی نطفه د ښځې رحم ته داخلول

سوال نن سبا يوه آله ايجاد شوې ده چې دهغې په ذريعه دښځې په رحم کښې د پردی سړی نطفه داخلوی چې له هغې څخه عموما زنانه حامله کيږی اوماشوم پيدا کيږی. اوس پوښتنه داده

چې دا ماشوم حرامي دې او که نه؟ او داسې فعل نه زنا ویل کیږي او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دافعل حرام دې لاستعمال جزء غیرالزوج مگر زنا نده لعدم صدق تعریفه علیه ماشوم به ثابت النسب وی لان الولد للفراش والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۰ رجب سنه ۱۴۰۰هـ

دټیسټ ټیوب بی بی حکم

سوال: دتولد او تناسل نوې طریقې (ټیسټ ټیوب بی بی) شرعاً څه حکم دې ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دښځې په شرمگاه یارحم کښې کوم داسې مرض وی چې دجسمانی تکلیف او اذیت باعث وی نو دهغې علاج له ډاکټرې ښځه کول جائزدی د نارینه ډاکټر نه کول ناجائز دی البته که مرض مهلك وی یاناقابل برداشت وی اوښځینه ډاکټره نه پیداکیږی نو دسړی ډاکټر نه علاج جائز دې.

د ټیسټ ټیوب بی بی په طریقه کارکښې د داسې مرضی علاج نه کیږی چې دهغه له وجی په جسمانی تکلیف کښې مبتلاء وی دا دفع مضریت بدنیه دې بلکه جلب منفعت دې لهذا داعمل کول له زنانه ډاکټرې ښځه هم ندی جائز له نارینه ډاکټر ښځه کول دانتهائی بی دینی نه علاوه داسی بی غیرتی اوشرم هم دې چې تصور یې له انسانیت نه په ډیر لری واټن کښې دې، الله تعالی ناراض کوی او کوم اولاد چې پیداکیږی هغه هم وبال جوړیږی.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وقال في الجوهرة: اذا كان المرض في سائر بدنها غير الفرج يجوز النظر اليه عند الدواء لانه موضع ضرورة وان كان في موضع الفرج فينبغي ان يعلم امرأة تداويها فان لم توجد وخافوا عليها ان تهلك او يصيبها وجع لاتحتمله يستر منها كل شئ الا موضع الجرح اه فتامل والظاهر ان ينبغي هنا للوجوب (ردالمحتار ص۲۳۷ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۴ صفر سنه ۱۴۱۰هـ

دنابالغو ماشومانو نه خدمت اخستل

سوال. دکلیو په جوماتونو کښې چې طالبان زندگی کوی په هغوئ کښې نابالغ ماشومان هم وی چې دهغوئ په ذمه ټول کاروی تردې چې په هغوئ کله کله ظلم اوزیاتې هم کیږی پداسی حالاتو کښې له نابالغ څخه بلا أجرته کاراخستل څنگه دی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: له والدین اواولیاڅخه دلالةً دکار اخستلو اجازت وی. لهذا کار ترینه اخستل جائزدی بلکه دهغوئ دتربیت لپاره یوه اندازه کاراخستل ضروری دی. البته ددوو خبرو خیال ساتل ضروری دی. **اول** په تعلیم کښې زیات حرج واقع نشی **دویم** له توان اوطاقت نه زیات کارترینه وانخستل شی. والله سبحانه وتعالی اعلم ۴ ربیع الاول سنه ۱۳۹۴

خلاف قانون په کوم ملک کښې اوسیدل

سوال بعضې خلك له حکومت څخه اجازه اخلی دعمرې لپاره مکې مکرمې ته ځی دعمرې نه چی فارغ شی بیرته نه راځی. دعمرې دفراغت نه وروسته دسعودی حکومت چاته دمستقل اوسیدو اجازه نه ورکوی اودپاکستان حکومت هم اجازه ددې لپاره ورکوی چی هغه عمرې ته ځی که دپاکستان حکومت ته دا معلومه شی چی بیرته نه راځی اوهلته دمستقل رهائش بندوبست کوی نو هغه ته هیڅ کله هم اجازه نه ورکوی بهر حال بعضې خلك په داسې غیرقانونی طریقې سره لاړشی اوهلته خفیه طریقې سره اوسیږی، اوس پوښتنه داده چی داخلك شرعی اوقانونی اعتبارسره مجرم گڼل کیږی اوکه؟ بینوا توجروا . بعضی حضرات داوائی چی چونکه دحکومتونو دسفرقوانین دشریعت خلاف دی په شریعت کښې دیوځای په سفر کولوهم پابندی نشته خصوصاً بیا د بلد الحرام په سفر چی موجب دقرب الهی دې، لهذا که هغه دعمرې پاسپورت او ویزه اخستې وی او دتللونه وروسته هلته قیام وکړی نوشرعا مجرم ندی. دځینی نوروحضراتو دا وینا ده چی دملکی اوښهری نظام دبرقرار ساتلو لپاره دسفر قوانین خصوصا له اجازې نه بغیر دیوملك اوسیدونکې بل ملك ته دنه تللو قوانین خلاف دشریعت ندی بلکه دا چی اگرکه قانون شرعی ندې لیکن عمره کونکی گویا دویزې دحاصلولو په وخت کښې له پاکستانی حکومت اوسعودی حکومت سره معاهده کړې ده چی دې به دعمرې کولوڅخه وروسته بیرته ځی اوهلته به قیام نه کوی لهذا پس له عمرې نه هلته په غلا اوسیدل ددې قانون خلاف ورزی سره سره د وعدې اومعاهدې خلاف ورزی هم ده. لهذا دې شرعا اوقانونا مجرم دې نو آیا دا صحیح دی اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دا صورت شرعا اوقانونا هرقسم ناجائزدې، قانوناً خوظاهره خبرة ده چی په پاسپورټ اوویزه کښې کوم تاریخ مقرردې له هغه تاریخ څخه زیات هلته حصاریدل جرم اوقانون ماتول دی. دشرعًاناجائز کیدو وجوهات په لاندی ډول دیږ **اول**: پاسپورټ اوویزه حاصلول یوه معاهده ده اوعهد ماتول په شریعت کښې یوعظیم جرم دې . **دویم** : په مباحاتوکښې دحکومت اطاعت واجب دې . **دریم**: ځان اومال په خطر کښې اچول جائزندی . والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۵ ربیع الاول سنه ۹۶هـ

دویزې له مودې څخه زیات وخت تیرول جائزندی

سوال زه سره دخپل اهل اوعیال نه په مکه مکرمه کښې داقامت کولو اراده لرم لیکن دتحقیق کولونه معلومه شوه چی د پاکستان حکومت صرف ددوو هفتو لپاره ویزه ورکوی څکه چی عمره کوونکی لپاره له دوو هفتو زیاته ویزه نه ورکول کیږی اوس دا خبره معلومول دی چی ددوه هفتو دویزې دختمیدو وروسته په مکه مکرمه کښې پټ په غلا اوسیدل څنگه دی. کله کله پکې نیول

هم راشي چې فوراً دواپس کولوخطره ده اوکه کوم کار دسعودی حکومت له طرفه راکولې شي نو په اطمنان سره دقیام صورت هم پیداکیږی پداسی حال کښې زما لپاره دشریعت حکم څه دی ؟ بینو توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : په امور مباحه ؤ کښې دقانون خلاف ورزی سخته گناه ده همدارنگه خپل نفس اوعزت په خطره کښې اچول جائزندی ، والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۷ ربیع الثاني سنــ ۱۳۹۶هـــ

دبجلۍ (برق) له میټر نه بل چاته تارورکول

سوال : ځینی خلك پټ په غلا خپل همسایه (گاوانډی) ته دبرق لین ورکوی اوله هغه څخه پیسې اخلي پداسې حال کښې چې حکومت ددې اجازه نه ورکوی. داسی کول جائزدی اوکه نه ؟ حالانکه دحکومت څخه له اخستلو وروسته دا دسړی په ملك کښې راځی ؟ بینوتوجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دابیعه نده بلکه دبرق رسولو اجاره ده اومیټر هم په اجارې سره دي دمستاجر بل چاته دنه ورکولو په پابندی کښې که کومه فائده وی نو داسې پابندی لگول جائز دی ظاهراً دمحکمې په نظرکښې به په پابندی کښې یقیناً څه فائده ملحوظ وی، لهذا بل ته ورکول ناجائزدی. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۵ شعبان سنــ ۱۴۰۰هـــ

له خپلې ځمکې څخه عامه لاربندول

سوال : دزید ځمکې ته نژدې دبکر ځمکه ده چې په هغې کښې یوه عامه لاره وه چې په هغې باندې دعامو خلکو تگ راتگ وو، بکر دخپلې ځمکې نه گیرچاپیره څلورواړه طرفته دیوال جوړ کړو او داعامه لاریې بنده کړه د مجبوری له وجې نه خلکو د زید په ځمکه کښې لاره جوړه کړه زید هم له دې څخه سترگی پټې کړې وې، څوکاله وروسته زید په دغه خپله ځمکه کښې کورجوړ کړو او په خپله ځمکه کښې دغه لاره بندول غواړی ځکه چې ددغه لارې نه هغه ته ډیر نقصان رسیږی دفصل له خرابی پرته دبی پردگی، دروازه هم خلاصیږی دخلکو دکاروبار سرته رسولو لپاره بله لارهم شته مگرهغه کافي اوږده ده اوس شرعی فیصله څه ده ؟ واضحه یې کړئ ډیره مهربانی به وی بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : زیدته دخپل ملك نه دلارې بندولو حق شته اگرکه هغه ته کوم نقصان هم نه وی پداسې حال کښې چې هغه ته دبی پردگی اودفصل دخرابی نقصان وریپیښیږی نو ددې فتنې سدباب په ده فرض دې، عواموته په کاردی چې بله لار اختیارکړی، شرکاء فی العین سره په وخت دمضرت کښې دخپل شریك په حصه کښې تصرف نشي کولې نو اجنبی خلك خوبه طریقه اولی سره تصرف نشی کولی.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وكل من شركاء الملك اجنبي في الامتناع عن تصرف مضر في مال صاحبه لعدم تضمنها الوكالة (ردالمحتار ص۳۳۲ج۴). والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۷ ربیع الثانی سنہ ۹۶ھ

دخنزير دويښتانو دبرش حكم

سوال : نن سبا د دروازو، كړكيو او ديوالونو درنګ كولو لپاره دخنزير دويښتانو برش استعماليږي، په دغه برش باندې رنګ شوي لرګي اوديوالونه پاك دي او كه ناپاك ؟ كه ناپاك وي نو دوچيدو نه بعد كه لوندلاس يا بل څه ورسره ولګيږي نو آيا هغه به مرداريږي ؟ همدارنګ ددغو دروازو اوكړكيو اوديوالونو به دپاكولو څه صورت وي ؟ دجوماتونو درنګ كولو لپاره هم دغه برش استعماليږي نو آيادجومات لپاره دداسې نجس شي داستعمال اجازت شته؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : مفتی به قول اوظاهري مذهب په قول كښې دخنزير ويښتان ناپاك دي په كوم څه كښې چې واچول شي هغه هم ناپاك ګرځي مګر د امام محمد په قول دخنزير ويښتان پاك دي.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: (وشعر الميتة) غير الخنزير على المذهب (الى قوله) طاهر.

قال ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله على المذهب) اى على قول ابي يوسف رحمه الله تعالى الذي هو ظاهر الرواية ان شعرة نجس وصححه في البدائع ورجحه في الاختيار فلو صلى ومعه منه اكثر من قدر الدرهم لا يجوز ولو وقع في ماء قليل نجسه وعند محمد رحمه الله تعالى لا ينجسه افادة في البحر وذكر في الدرر انه عند محمد رحمه الله تعالى طاهر لضرورة استعماله للخرازين قال العلامة المقدسي وفي زماننا استغنوا عنه اى فلا يجوز استعماله لزوال الضرورة الباعثة للحكم بالطهارة عن نوح افندي (ردالمحتار ص۱۳۸ج۱)

وقال الرافعي رحمه الله تعالى: (قوله اى فلا يجوز استعماله لزوال الضرورة الخ) سياتي له عن ردما قاله في النهر لبيان ثمرة الاختلاف في خرء الحمام والعصفور هل هو طاهر او معفو عنه من انها تظهر في ما لو وجدها في ثوب وعنده ما هو خال عنه لا يجوز الصلوة على الطهارة قال: فيه نظر اذ مقتضاه عدم جواز التطهير بهذا الماء حيث وجد غيره اذ مقتضى ما قاله انه بزوال الضرورة الداعية للطهارة لا تعود النجاسة وهو الظاهر اذا الضرورة هي علة لقول الشارع بالطهارة على ما قال محمد رحمه الله تعالى ويصح قوله عليها الباعة حتى يوجد منه ما يدل على النجاسة ولذلك قال محمد رحمه الله تعالى بعدم فساد الماء وبصحة صلوة الحامل مع عدم وجود الضرورة المطهقة (التحرير المختار ص۲۵ج۱)

له عبارت مذكوره څخه معلوميږي چې دامام محمد په نزد شعر الخنزير بهر حال پاك دی كه

دهغه داستعمال ضرورت وی او که نه وی چونکه مفتی به قول دنجاست دی. لهذا دهغه استعمال څخه حتی الامکان احراز واجب دي صرف د ضرورت په مواقعوکښي د امام محمد دقول په احسلو کښي ګنجائش معلومیږی. لرګی ته رنګ ورکول په ضرورت کښي داخل دی څکه چی بغیرله رنګونولرګي زر خرابیږی اوکه د خنزیر دوینښتو نه بغیر بل برش استعمال شی نو هغه ډیر زر ماتیږی اوپه کار کولو کښي محنت اومشقت دوچنده کیږی. همدارنګه وینښته چی مات شی نو په لرګی پاته کیږی چی دهغه له وجی صفایی نه کیږی صفائی اوزینت اګر چه په ضرورت کښي داخل ندی مګر مخکنی دوه شیان دبرش زرماتیدل اومحنت اوخواری دوچنده کیدل بلاشکه په ضرورت کښي داخل دی. دځپلو ګندل فقهاء کرامو په ضرورت کښي داخل کړی دی، حالانکه دهغودګندلولپاره په هغه وخت کښي هم نورې ذریعی موجودې وې مګر په هغې کښي مشقت او د خنزیر په دینښتو په ګندلوکښي سهولت وو، دې سهولت ته ضرورت ویل او د خنزیر دوینښتانو داستعمال یې اجازه ورکړې ده. نو ددې وجی نه د دروازو او کړکیو او د اوسپنې دجنګلو په رنګولو کښي دطهارت ګنجائش شته.

البته ددیوال درنګ کولو هیڅ ضرورت نشته که تریوه حده ضرورت هم وی نو هغه په سپین والی سره هم پوره کیږی. لهذا دلته دامام محمدصاحب قول غوره کولوته ضرورت نشته داسې دیوال که ومینځل شی نوبیا له پاسه به پاك شی مګر دهغه دننه به بیاهم ناپاك وی دمینځلوفائده به داوی چی که دپاسه ورپاندی لوند لاس وغیره کینبودل شی نونه مرداریږی.

دجوماتونو ددیوالونو په رنګولوکښي دخنزیر دوینښتانو له برش څخه احتراز لازم دی داسې دیوال که دپاسه وه وینځل هم شی مګر دهغه اندرونی نجاست دمسجد له احترام سره خلاف دی لهذا که جومات په داسې برش رنګول شوی وی نو هغه رنګ ترینه کرول پکاردی.

قال ابن الهمام رحمه الله تعالى: والدليل ايضا ان الضرورة ليست ثابتة في الخرزبة بل يمكن ان يقام بغيرة وقد كان ابن سيرين لا يلبس خفا خرز بشعر الخنازير فعلى هذا لا يجوز بيعه ولا الانتفاع به وروى ابو يوسف رحمه الله تعالى كراهة الانتفاع به لان ذلك العمل يتاتى بدونه كما ذكرنا الا ان يقال ذلك فرد تحمل مشقة في خاصة نفسه فلا يجوز ان يلزم العموم حرجا مثله (فتح القدير ص ۲۰۲ ج ۵). قال ابن عابدين رحمه الله تعالى: وحاصله ان تاتي الخرز بغيرة من شخص حمل نفسه مشقة في ذلك لا تزول به ضرورة الاحتياج اليه من عامة الناس (رد المحتار ص ۲۱۳ ج ۴) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۸ جمادی الاخرة سنه ۹۶ هـ

په امتحان کښي نقل کول

سوال نن سبا په امتحان ګاه کښي شاګردان له یوبل څخه پوښتنې کوی اویوبل ته سوالونه

رشتی یا نقل کوی او په کاغذونو کښې بې له ځان سره وړی ترڅو چې کتابونه هم له ځان سره د امتحان ځای ته وړی. حالانکه پدې تولو شیانو دحکومت له طرفه پابندی ده. نو آیا دا شان د شریعت له نګاه جائزدی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په امتحان کښې له یوبل څخه پوښتنه کول یالیکلی کاغذونه له ځان سره وړل یاکتاب وغیره وړل اودهغه کتل اودسوالونو ځوابونه ورکول دلاندې وجوهوپه بناء شرعاً ناجائزاوحرام دی

اول پدې کښې دقانون خلاف ورزی ده چې ناجائزکاردې **دویم** ممتحن ته دوکه ورکول دی پداسې شان چې ممتحن دا فکروکړی چې دا ځواب زده کونکی له ځپل یادداشت څخه لیکلې دی **دریم** داظاهرول دی چې دا ځواب لیکونکی دځپل قابلیت له وجې لیکلې چې دا خبره یې دروغ ده **څلورم** داسې امتحان کښې نالائق شخص ځپل لیاقت ظاهروی چې په مختلفو منصبونو کښې په کار مقررشی چې په ده کښې دهغه صلاحیت نه وی چې پدې سره دملك اوملت سخت نقصان دې

والله سبحانه وتعالی اعلم ۵شعبان سنه۱۳۹۶هـ

په ګناه کښې دمور اوپلار اطاعت جائزندې

سوال زما پلار ما د بعضو منکراتو په رد کولو نه منع کوی لیکن دځینی منکراتو په ردکولو ما منع کوی اوزما څخه ناراض کیږی. مثلاً د انتخاباتو په زمانه کښې ما دعلماء حق له حمایت څخه منع کوی. آیا زه په دې دویم صورت کښې خاموش شم اوکه اظهار دحق وکړم؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دحق خبرې حمایت کول ضروری دی که چیرته له دې څخه والدین منع وکړی نو دهغوی اطاعت جائزندی. البته له هغوئ سره جګړه ندی کول په کار **وقال علیه الصلوٰة والسلام لاطاعة لمخلوق فی معصیة الخالق** والله سبحانه وتعالی اعلم ۷ / شعبان ، سنه : ۹۶ هـ

داکتری تعلیم کول

سوال د داکتری تعلیم جائزدې اوکه ناجائز؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دمړو دلاشونو څیرول او دانسانی جسم بی عزتی ده نو ځکه ندی جائز اوکه دحیواناتو یا پلاسټیکی جسمونو استعمال وشی نو داکتر ی وړل جائزدی. والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۰شعبان سنه۱۳۹۶هـ

پردی بی پیرې (امرد) ماشومان په سفر له ځان سره بیول

سوال په دوړ حضر کښې چې دلواطت مرض زیات ... ږې دې پردی امرد ماشومان له ځان سره سفر بیول خصوصا په امور غیر ضروریه کښې خواه که دنوبه وی اوبا دینه جائزدی اوکه نه؟

بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب . د تهمت له ځایونو څخه د تقوی په مقتضا پردی امرد هلکان له ځان سره په سفر بیولونه احتراز لازم دې ، والله سبحانه وتعالی اعلم. ۸رمضان سنه ۱۴۹۶هـ

دستنی دلګولو په ذریعه شیدی ویستل

سوال دحیواناتو ساتونکو د میبنی نه دشیدو د را ایستلو یو نوې تدبیر ایجادکړې دې که کومه میبه شیدې نه ورکوی اګر که دوئ څلور ساعته ورته لاندی ناست وی لیکن هغه لغتی وهی اوس یوه آسانه طریقه دا ایجاد شوې ده چی له دواخانې څخه د دوا یوه وړه شیشه واخلی او له هغې څخه ستن ډکه کړی اومیبنی ته یې ورولګوی چی په هغی سره میبنه خپلې تولې شیدې دتیونو په ذریعه راپریږدی اوپه آسانی سره شیدې ترینه وه ویستل شی، نو آیا دا صورت جائزدې اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دا طریقه بی له کومې شبهې جائزه ده، الله تعالی حیوانات دانسان دنفعې لپاره پیداکړی دی نو که هغوئ نه په انتفاع اخستلو کښې اګر که هغوئ ته څه تکلیف وی څه حرج نشته لدې وجی نه دغوښی دبهتری لپاره دحیوان خصی کول بالاتفاق جائزدی، حضور صلی الله علیه وسلم دخصی ګډانو (مړانو) قربانی کړې ده دخصی کولوتکلیف دانجکشن له تکلیف څخه ډیر زیات دې. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۸شوال سنه۱۳۹۶هـ

دقبرونو د زیارت لپاره سفرکول

سوال : دبزرګانو دزیارت کولولپاره مستقل سفر کول مثلا له کراچی څخه داتاګنج بخش، تمهته اوسیهون شریف ته تلل د مراد دحصول لپاره آیا دا دقرآن او حدیث له نظره جائزدی اوکه نه؟ بینو ا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : له غیر الله نه غوښتل په هر حال شرک دې خواه داولیاء الله مزار ته لاړشی او ورې غواړی یا پخپل مقام کښې اوسیږی اوترینه غواړی یی، البته که مراد غوښتل مقصود نه وی بلکه صرف زیارت ته تلل وی نو په لاندې شرطونو تلل جائز دی:

اول هلته هیڅ قسم بدعات اومنکرات نه وی. **دویم** : دلیدونکو او آوریدونکو په تلونکو باندې دشرک یامبتدع ګمان نه وی . **دریم** : محققین او موحدین علماء دصاحب قبر په ولایت باندې قائل وی.

په دی دور دفساد کښې دا پورتنی شرطونه محال دی، لهذا احتراز کول لازم دی ، والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۱ ذی القعده سنه ۱۳۹۶هـ

دقرعه اندازی حکم

سوال قرعه اندازی جائزه ده او که ناجائزه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په حقوقو کښې قرعه اندازی جائزه نده په تبرع محض کښې جائزه ده، مثلا تاسو جاته انعام ورکوئ او دقرعې په ذریعه چاته ترجیح ورکوئ یا په تقسیم کښې حصه مساوی وی محض د انتخاب په غرض قرعه وربانديې اچول جائزدی والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۵ ذی القعده سنه ۱۳۹۶ھ

په رمضان کښې هوټل خلاص ساتل

سوال که څوك مسلمان باوجود دمنع کولو نه درمضان په میاشت کښې هوټل خلاصوی نو شرعاً دهغه حکم څه دې ؟ او داسې شخص په کوم پروګرام کښې شریك کیدل په رمضان یا غیر رمضان کښې دهغه دعوت قبلول څنګه دی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : که کوم سړې په رمضان کښې دافطار دتیاری لپاره دافطارنه مخکې یا دشپې هوټل خلاصوی نوکوم حرج نشته او که د ورځې لخوا هوټل خلاصوی او خلکوته دوډئ ورکوی نو داسې شخص فاسق مجاهر دې او د سزا مستحق دې. په حکومت لازم دی چې داسې شخص ته په خلاص میدان کښې عبرتناکه سزا ورکړی اوعام مسلمانان له داسې سړی سره زجراً تعلق قطع کړی او دهغه په تقریباتو کښې شریك نشی، دبغض فی الله تقاضا همداده.

البته که هغه ددغه شنیع فعل څخه توبه اوباسی او آینده دپاره احتیاط وعده وکړی نو تعلقات دې ورسره برحال کړې شی. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۰ رمضان سنه ۱۳۹۶ھ

د زنا د اثبات لپاره ډاکتری معاینه

سوال که کومه ښځه جبرا په کوم سړی د زنا کولو الزام ولګوی نو محکمه دواړه د ډاکتری معاینې لپاره ډاکتر ته لیږی په دغه معاینه کښې ډاکتر دسړی اوښځې پوپوښې معاینه کوی خصوصاً شرمګاه په ښه شان سره کتل کیږی. آیا په شریعت کښې دامعاینه معتبره ده ؟ او ددې اجازه شته؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب دزنا داثبات لپاره شرعاً دا طریقه معتبره نده لهذا په داسې طریقه دشرمګاه معاینه کول شرعاً حرام دی ډاکتر ته دشرمګاه دکتلو ګنجائش هغه وخت وی چې دمرګ یا دتکلیف مالایطاق دمبتلاء کیدو خطره وی.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: وقال فی الجوهرة اذا کان المرض فی سائر بدنها غیر الفرج یجوز النظر الیه عند الدواء لانه موضع ضرورة وان کان فی موضع الفرج فینبغی ان یعلم امرأة تداویها فان لم توجد

وعالوا عليها ان هلك او يصيبها وجع لا محمله يسترو امهما كل شئ الا موضع العلة ثم يداويها الرجل ويغض بصره ماستطاع الا عن موضع الجرح اهلتعامل الظاهر ان ينبغي هذا للوجوب (ردالمحتار ص۲۲۰ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۶رجب سنہ ۹۷ھ

ناجائزه وظيفه (ملازمت) پرېښودل

سوال زيد په جهاز کښې چيف افسر دې دهغه له کارونوڅخه يو کار داهم دې چې دجهاز دعملې اومسافرولپاره شراب خريداري کړي او دضرورت په وخت کښې هغه ورته مهياهم کړي. زيد ځوځله د انتظامي څخه دا غوښتي چې ددې کار څخه يې خلاص کړي مګرانتظاميه اوکپتان د (عدم اداء کار) (چارج شيټ) دهمکي (زورنه) ورکوي. په کوښښ کولو سره په پاکستاني جهاز کښې وظيفه پيداکيږي مګر تنخوا کښې يې ډير فرق دې. دلته پنځه نيم زره ده او هلته په پاکستاني جهاز کښې سپاړس سوه ده. آيا پداسې صورت کښې دزيد لپاره دا وظيفه جائزه ده اوکه ترک کول يې په کاردي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب . د داسې وظيفې پرېښودل فرض دي بالخصوص چې په پاکستاني جهاز کښې ملازمت هم پيداکيږي دحلالوپه لږ آمدن کښې دحراموتر ډير آمدن نه برکت زيات وي والله سبحانه وتعالى اعلم. غره جمادى الاخره سنہ ۱۳۹۸ھ

زده کونکو ته سزا ورکول

سوال بالغ يا نابالغ شاګردانو ته په درس کښې دکوتاهي په وجه يا دبلې غلطي په وجه سزا ورکول جائزدي اوکه نه؟ همداراز آيا د سزا لپاره شرعا کوم خاص حد مقرر شته اوکه نه ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دضرورت په وخت کښې په قدردضرورت زده کونکوته سزا ورکول جائز دي دسزا کوم حد مقررنشته دطبائعواو قواوو په اختلاف حکم هم مختلف کيږي. البته اصولي طور سره دڅو امورو پابندي ضروري ده :

اول په مخ نه ويشتل **دويم** دومره نه وهل چې زخمي شي. **دريم** : دتحمل نه زيات نه وي والله سبحانه وتعالى اعلم ۱۴صفر سنہ ۱۳۹۷ھ

دمينښې دبچي ذبح کول ظلم دي

سوال زمونږ په ښارکښې رواج دې چې مينښه نر بچې راوړي هغه فورا بغير ددې نه چې مړ اووسي ذبح کوي يې او که مؤنث وي نو هغه ژوندې پرېږدي. آيا مذکر بچې فورا ذبح کول شرعا

جائز دی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دا دهغه دمور سره بنکاره ظلم دې لهذا ذبح کول یی گناه ده او ذابح گناهکار دې والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۷ رجب سنه ۱۳۹۸ھ

دمکان (کور) په بنیادونو کښې دوزې وینه اچول

سوال نن سبا چې څوك مكان (كور) تعمير كوی نو په بنیادونو کښې سی وزه ذبح کوی او دهغې وینه پکې اچوی اوغوښه یی په خپلو خپلوانو اوفقیرانو باندې تقسموی له شرعی لحاظه دې کوم اصل شته او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په اسلام کښې ددې هیڅ گنجائش نشته. دا دهندوانو او بت پرستانو رواج دې. والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۰ ربیع الاول سنه ۱۳۹۹ھ

ملخان په گرمو اوبو کښې اچول

سوال که ملخ په گرمو ابوکښې واچول شی لپاره دوژلو نو آیا دا فعل جائز دې او که نه؟ هدا سی په مشکله سره مری. بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : ژوندې حیوان په گرمو اوبو کښې اچول گناه ده بیا که دا اوبه ډیرې گرمې وی او ملخ پکښې واچول شی اوتر ډیره پکښې پروت وی چې دهغه مرداری په غوښه کښې سرایت وکړی نو دا ملخ به حرام وگرځی چې دپاکولو یې هیڅ صورت نه وی.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وكذا دجاجة ملقاة حالة غلي الماء للنتف قبل شقها فتح.

قال ابن عابدين رحمه الله تعالى: قال في الفتح انها لا تطهر ابدا لكن على قول ابي يوسف رحمه الله تعالى تطهر والعلة والله اعلم تشربها النجاسة بواسطة الغليان وعليه اشتهر ان اللحم السميط بمصر نجس لكن العلة المذكورة لا تثبت مالم يمكث اللحم بعد الغليان زمانا يقع في مثله التشرب والدخول في باطن اللحم الخ (رد المحتار ص ۲۲۳ ج ۱) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۲ صفر سنه ۹۹ھ

دلاسونو گوتي یو په بل کښې اچول

سوال دلاسونو گوتي یو په بل کښې اچول جائز دی او که نه؟ یو صاحب ورته مکروه وائی آیا دا صحیح خبره ده؟ که واقعاً مکروه وی نو مکروه تحریمی دی او که مکروه تنزیهی؟ دجومات اوعام مجلس اودکور دننه اوپه یواخی والی کښې ددې تولو حکم یو دې او که بیل بیل؟ سره دحوالی یی ولیکئ اوزمونږ تشفی اوفرمائی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دلمانځه په حالت کښې اوبه هغه حالاتو کښې چې دلمانځه په حکم

کښې وی مثلا دلمانځه طرفته تلل یا دلمانځه دانتظارپه حالت کښې کیناستل مکروه تحریمی دی اوپه عامو حالاتو کښې بلاحاجته مکروه تنزیهی دی، دګوتو دټکونو هم همدا حکم دی.

قال الحصکفی رحمه الله تعالی: وفرقعة الاصابع وتشبیکها ولو منتظر الصلاة اوماشیا الیها للنهی ولایکره خارجها لحاجة.

وقال ابن عابدین رحمه الله تعالی: المراد بخارجها مالیس من توابعها .لان السعی الیها والجلوس فی المسجد لاجلها فی حکمها کما مر لحدیث الصحیحین لایزال احدکم فی صلوة مادامت الصلاة تحبسه واراد بالحاجة نحو راحة الاصابع فلوبدون حاجة بل علی سبیل العبث کره تنزیها والکراهة فی الفرقعة خارجها منصوص علیها. واما التشبیك فقال فی الحلیة لم اقف لمشایخنا فیه علی شئ والظاهر انه لولغیر عبث بل لغرض صحیح ولو لاراحة الاصابع لایکره فقد صح عنه صلی الله علیه وسلم انه قال المؤمن للمؤمن کالبنیان یشد بعضه بعضا وشبك اصابعه فانه لافادة تمثیل المعنی وهو التعاضد والتناصر بهذه الصورة الحسیة .ردالمحتار ص ۴۳۲ ج۱)

والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۶ربیع الثانی

لاس په دودی (بغل) ایښودل

سوال : په بغل لاس کیښودل جائزدی اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : په لمانځه کښې مکروه تحریمی دی اوپه عامو حالاتوکښې مکروه تنزیهی دی.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: فی مکروهات الصلوة : التخصر وضع الید علی الخاصرة للنهی ویکره خارجها تنزیها.

قال ابن عابدین رحمه الله تعالی: قال فی البحر والذی یظهر ان الکراهة تحریمة فی الصلاة للنهی المذکورولان فیه ترك سنة الوضع کما فی الهدایة لکن العلة الثانیة لاتقتضی کراهة التحریم نعم تقتضی کراهة وضع الید علی عضو اخر غیر الخاصرة (ردالمحتار ص ۴۳۲ ج۱) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۶ربیع الثانی سنه ۹۹هـ

دحکومت لخوا دچا په ذاتی ملکیت کښې تصرف کول

سوال : آیا کوم مسلمان حکومت بلامعاوضه ورکولو دکوم مسلمان په شخصی ملکیت او جائیداد غیر منقوله کښې خصوصاً دزراعت ځمکه اخستل او مالك له هغې ځخه دتل لپاره محروم کول جواز لری اوکه نه؟ برابره خبره ده که دهغه جایداد اخستل دهر مطلب لپاره وی، زه په شرعی

عدالت کښې مقدمه چلول غوارم چې تیر شویو حکومتونو دخلکو قطعي ملکیت بلامعاوضه اخستې دي آیا دا په اسلامي شریعت کښې جائزدي او که نه ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب دچا لپاره هم دبل په ملکیت کښې هیڅ قسم تصرف کول دهغه له خوښې بغیر ندی جائز، ددې حرمت په قرآن او حدیث سره ثابت کیدونه علاوه له مسلماتو عقلیه ور څخه هم دی . والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۰ ربیع الثاني سنه ۱۳۹۹ هـ

غیر الله ته شاهنشاه ویل جائزندی

سوال: حضور صلی الله علیه وسلم ته یاکوم بادشاه ته شهنشاه ویل جائزدی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: غیر الله ته شهنشاه ویل په حدیث کښې منع شوی دی. شهنشاه په اصل کښې دبادشاهانو بادشاه ته ویل کیږي او دا صفت صرف له الله جل جلاله سره خاص دې. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۵ ربیع الاول سنه ۱۳۹۹ هـ

دمرض د تداوي په غرض داغ لګول

سوال: دکوم مرض له وجې انسان یاحیوان داغل جائزدی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب. هو ! جائز دی

قال ابن عابدين رحمه الله تعالى: (تنبيه) لا بأس بكي البهائم للعلامة وثقب اذن الطفل من البنات لانهم كانوا يفعلونه في زمن رسول الله صلى الله عليه وسلم من غير انكار ولا بأس بكي الصبيان اذا كان لداء اتفاقي (رد المحتار ص۲۳۹ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۵ جمادی الاولی سنه ۹۹ هـ

دجفراورمل علم حرام دي

سوال: دعلم جفر متعلق دشریعت څه حکم دې ؟ څینی خلك ددې دحکم په ذریعه دښادي وغیره استخاره هم کوي. ددې علم دنتیجې په صحح ګڼلو او یقین ورباندې کول په ایمان کوم اثر اچوی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب. د داسې کفریاتو زده کول اوښودل او د دې دعوه کونکی ته د یوې خبرې دپوښتنې لپاره ورتلل حرام دی او ددې نتیجه یقیني ګڼل کفر دې س.

هو عبارة عن العلم الاجمالي بلوح القضاء والقدر المحتوي على كل ما كان وما يكون كليا وجزئيا.

والجفر عبارة عن لوح القضاء الذي هو العقل الكل والجامعة لوح القدر الذي هو نفس الكل وقد ادعى طائفة ان الامام علي بن ابي طالب رضي الله تعالى عنه وضع الحروف الثمانية والعشرين على طريقة البسط

الاعظم فی جلد یستخرج منها بطرق مخصوصة وشرائط معینة الفاظ مخصوصة یستخرج منها ما فی لوح القضاء والقدر (مفتاح السعادة ومصباح السیادة ص۰۰۵ ج۲)

وفی المنجد: علم الجفر ویسمی علم الحروف: علم یدعی اصحابه انهم یعرفون به الحوادث الی انقراض العالم (المنجد ص۳) حکمه: حکم علم الرمل لانهما متحدان فی الغرض فهو حرام مثله.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی فی حکم الرمل: وقد علمت انه حرام قطعا واصله لادریس علیه السلام ای فهو شریعة منسوخة وفی فتاوی ابن حجر ان تعلمه وتعلیمه حرام شدید التحریم لما فیه من ایهام العوام ان فاعله یشارك الله تعالی فی غیبه (رد المحتار ص۳۱ ج۱) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۰ محرم سنه ۱۴۰۰هـ

دماخوستن له لمانځه ځخه وروسته مجلس کول

سوال: دماخوستن له لمانځه وروسته دخبرو په باره کښې چې کوم حدیث راغلی دی چې دهغه مضمون داسې دی درس اوتدریس یامیلمه یا اهلیه نه علاوه باقی تولې خبرې کول ممنوع دی که له ممنوع ځخه مراد لغو خبرې واخستل شی نو هغه خو هروخت حرامې دی اوکه مباح خبرې واخستل شی نو په دې کښې خو اکثر خلك مبتلاء دی ځکه چې دبعضې دنیوی کارونو مشورې پس له لمانځه ځخه کیږی . نو دا منع کوم قسم ده ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دکراهیت علت دسهار دلمانځه دجمعې فوت کیدل یا په هغه کښې انشراح یاقیام اللیل یا په هغې کښې انشراح دفوت کیدو خوف دی. ددغو کارونو دتفاوت درجات مطابق دعشاء نه پس په دنیاوی امورو کښې دمشغول کیدو کراهیت هم متفاوت دی.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: قال فی البرهان ویکره النوم قبلها والحدیث بعدها لنهی النبی صلی الله علیه وسلم عنهما الا حدیثا فی خیر لقوله صلی الله علیه وسلم لاسمر بعد الصلوة یعنی العشاء الاخیرة الالاحد رجلین مصل اومسافر وفی روایة اوعرس اهـ وقال الطحاوی انما کره النوم قبلها لمن خشی علیه فوت وقتها اوفوت الجماعة فیها واما من وکل نفسه الی من یوقظه فیباح له النوم اهـ وقال الزیلعی وانما کره الحدیث بعدها لانه ربما یؤدی الی اللغو اوالی تفویت الصبح اوقیام اللیل لمن له عادة به واذا کان لحاجة مهمة فلاباس وکذا قراءة القران والذکر وحکایات الصالحین والفقه والحدیث مع الضیف اهـ والمعنی فیه ان یکون اختتام الصحیفة بالعبادة کما جعل ابتداءها بها لیمحی مابینهما من الزلات ولذا کره الکلام قبل صلوة الفجر وتمامه فی الامداد ویؤخذ من کلام الزیلعی انه لو کان لحاجة لایکره وان خشی فوت الصبح لانه لیس فی النوم تفریط وانما

الطريط على من اخرج الصلوة عن وقتها كما فى حديث مسلم نعم لو غلب على ظنه تفويت الصبح لا يحل لانه يكون التفريط قاتل (رد المحتار ص ۲۳۶ ج ۱) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۲ ربيع الاول سنه ۱۴۰۰هـ

اخبار كتل

سوال: بعضې خلك په جوماتونو كښې داخبار كتلو عادت وى كله چې هغوئ ددې څخه منع كولې شي نو هغوئ په ځواب كښې دبعضې علماء كرامو عمل پيش كوى كه هغوئ ته وويل شى چې علماء كرام خو د شريعت له خلورو دلائلو څخه يوهم ندې، كه چيرته هغوى له حجج اربعه څخه كوم حجت پيش كړى نو مونږ يې منلو ته تياريو، نورهم داسې قسم دلائل وړاندى كوى. كه تاسو دشريعت له نگاه نه ددې څه وضاحت بيان كړى ډيره فائده به وشي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: بلاضرورته اخبار كتل هسې هم گناه ده په جومات كښې گناه كول نورهم باعث دعذاب گرځى. داخبار كتلو يو څو مفاسد:

اول: دوخت ضائع كول. فضول اولايعنى خبرې ليدل چې په هغو كښې نه د آخرت فائده وى اونه د دنيا، دحضور صلى الله عليه وسلم ارشاد دې: كوم سړې چې دلايعنى كارونونه ځان نه ساتى دهغه اسلام خوبن كړې شوې ندې ..... (من حسن اسلام المرء تركه مالايعنيه) همدارنگه حضور صلى الله عليه وسلم له داسې علم نه پناه غوښتې ده چې په هغه كښې ددين يا دنيا څه فائده نه وى. (اللهم اني اعوذبك من علم لاينفع)

دويم: په اخبارونو كښې ډيرې خبرې داسلام خلاف دى په اخبار كتلو كښې دهغه خلاف شرع خبرو په كتلو كښې داشاعت تعاون دى.

دريم: داخبار اكثر خبرې غيرمصدقه وى اوځينې يقيناً غلطې وى او دحضورصلى الله عليه وسلم ارشاد دې چې دغير مصدقه خبرونقل كونكې هم ددرواغجنو په فهرست كښې داخل دې (كفى بالمرء كذباً ان يحدث بكل ماسمع)

څلورم: اخبار دتصويرنه خالى نه وى اوتصوير كتل گناه ده داخبار بينى دمفاسدو تفصيل په رساله دحكيم الامت قدس سره ((اخباربينى)) كښې شته دې، چې په امداد الفتاوى كښې شائع شوې دې والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۰ جمادى الاخرة سنه ۱۴۰۰هـ

دسكول (مكتب) تعليم حاصلول

سوال: دحضرت عالى په وصيت نامه صفحه نمبر (۴) وصيت نمبر اول كښې راغلى دى چې ((خپل اولاد دسكول او كالج له تعليم څخه داسې وساتئ لكه څنگه چې له زمرى يا ليوه څخه چې ساتل كيږى الخ))

اوحضرت تهانوی قدس سره په بهشتي زیور څلورمه حصه صـ۲۲۴ کښېپه آخری کرښه کښې لیکي چي (لڑکیوں کو اتنا لکھنا سکھا دو کہ ضروری خط اور گھر کا حساب وکتاب لکھ سکیں).

دومره خو په پوهه کښې راځي چي په دغودواړو قولونو کښې کوم تعارض نشته ځکه کومه منع چي دحضرت مقصود ده هغه ددغه ماحول اوکالج وغیره طرز تعلیم نه منع کول دي. او حضرت تهانوی صاحب چي کوم ترغیب ورکړې دي یا خوهغه په هغه صورت کښې دي چي له محرم څخه وي یا که له محرم څخه نه وي نو دشریعت داصولو مطابق د معقولې پردې انتظام به ضرور وي لیکن باعث دسوال داخبره ده چي ماشومان او ماشومانې په یو حال کښې هم سکول ته لاړنشي اوکه نه دومره گنجائش شته چي دضرورت مطابق لیکل اولوستل زده کړي، که دومره هم گنجائش نه وي نو آیا هغوئ ته بقدر ضرورت زده کړه ضروری ده ؟ که ضروری وی نو دسکول اوکالج نه بغیر په بل څنګه اوایی؟ او آیا بغیر دسکول دکتابونو د ویلو نه به هغه تعلیم الاسلام اوبهشتي زیور اونور دیني رسائل څنګه ولولي ؟ چي په دې کښې دزده کړي سره ښودنه کول هم زده کړي او ذهن هم دیني جوړشي په دې باره کښې مو دخپلې مفیدې رایې څخه خبرکړئ ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : مقصود له بدچاپیریال اوماحول څخه ساتل دی هغه په هره طریقه سره چې وي. مثلا دکوم سکول ماحول چې ښه وي یا په کور کښې ددرس ورکولو لپاره څوك مقررشي ، خپله په کور کښې درس ورکړل شي. والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۴جمادی الاخرة سنـــ۱۴۰۰هـ

دشرابو بوتل استعمالول

سوال : دشرابو هغه بوتل چي ښه صفا کړې شي هغه دشربتووغیره لپاره استعمالولې شي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : هو؛ جائز دی مگر دگناه دیادولونه ځان ساتل بهتر دي، والله سبحانه وتعالی اعلم. ۵رجب سنـــ۱۴۰۰هـ

له دیوث سره تعلق ساتل صحیح ندي

سوال : زمونږ په محله کښې یوسړې دخپل رشته دار کره راځي او دهغه له لورسره بې غلط مراسم قائم کړي دی. ددې نجلۍ مور اوپلار او دمحلې نور خلك هم ورباندی علم لري، سره ددې بیا هم ددې مخه نه نیسي نو آیا داسې شخص سره تعلق ساتل جائزدی اوکه نه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : داسې دیوث دې څوپورې چې له زانی څخه دحفاظت تدبیرنه کوي ترهغه وخته ورسره تعلق ساتل جائزندی والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۱رجب سنـــ۱۴۰۰هـ

دحیوان سترگه انسان ته لگول جائزدی

سوال لکه څنگه چې دمړه انسان سترگه نوروانسانانو ته لگولې شي دغه رنگه دحیوان سترگه هم انسان ته لگیدلې شي آیا ددې لگول شرعًا جائزدی اوکه نه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دحیوان سترگه لگول جائزدی . والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۴ / رجب ، سنه : ۱۴۰۰ هـ .

اډنتی کارت جوړول جائزندی

سوال حکومت دعربي مدرسو دطالبانو لپاره په بسونو او هوائی جهاز کښې دکرایې درعایت تفصیل اعلان کړې دې، لیکن ددې دحصول لپاره اډنتی کارت جوړول اوپه هغه تصویر لگول ضروری دی اوبل طرفته حقیقت دادې چې دمدارس عربیه طالبان عموماً غریبان وی ډیرځله دکرایې دنه لرلو له وجې ضروری سفر هم ملتوی (معطل) کیږی او دکارت د نه لرلو په وجه دیو مسلم (منلی شوی) حق نه هم بې برخی کیږی

اوس پوښتنه داده چې د داسې طالبانو لپاره دکرایې دتخفیف په غرض تصویر ایستل اوپه شناختی کارت نښلول اوله ځان سره محفوظ ساتل جائزدی اوکه نه؟ بینوا توجروا .

وجهٔ د اشکال داده چې په دې کارت کښې یوطرفته جلب منفعت دې څکه که چیرته څوك کارت جوړنکړی زیات نه زیات دابه وشی چې له هغه سره به په کرایه کښې رعایت ونشی اوبل طرف دادې چې طالبانو ته په نیمه کرایه دسفر کولوحق حاصل دې اودهغوی داحق دتصویرنه بغیرنه حاصلیږی نودیته به دفع مضرت هم وویل شی، لهذا ددې دواړه طرفونونه کوم طرف غالب وبلل شی؟

دلته داخبره هم قابل د ذکرده چې دامام مالك په نزد دتصویر دعدم جواز لپاره سایه دارکیدل (سوری لرل) ضروری دی .

كما في حاشية الحطاب المواق علی مختصر خليل ص ۳ج ۳ والشرح الصغير للصاوی علی شرح الدردير ص ۵ ج ۲ كتاب النكاح باب الوليمة والمغني لابن قدامة ص ۱ ج ۷ والانصاف للمرداوی ص ۳۳ ج ۸ وغير ذلك من كتب المالكية

نو داسې قسم شناختی کارت ته ضرورت په معنی داضطرار کښې خویقینا داخل ندې لیکن په حاجت کښې داخل بلل کیږی داسې تصویر اخستل جائزدی اوکه نه؟ پداسې حال کښې چې دا تصویر سایه دارهم نه وی آیا دا په دی مسئله مجتهد فیها کښې داخل دې اوکه نه؟ دارالعلوم کراچی نمبر ۱۴ . ۲ـ۵ـ۱۴۰۴ هـ .

الجواب باسم ملهم الصواب اډنتی کارډ دلاندی مفاسدوخطره کثیره له وجې ناجائزاوحرام دې

اول دا نول رعایت دتصویر ترلعنت پورې موقوف دې والموقوف علی الحرام حرام. دتصویر

په باره کښې وعیدونه مشهور اومعروف دی. دتصویر په حرمت باندې لس روایات صرف په صحیح بخاری کښې موجود دی.(لکن حك الشيئ يعمى ويصم)

دویم ددې رعایت خبیثه له وجی په طالبانو کښې آوارگی اوبدمحنتی پیدا کیږی ضرورت اوبلا ضرورته چی کله هم وغواړی او چیرته وغواړی ځی به، حالانکه دزمانې دتنزل علمی تقاضا داده چی دعامو خلکو په نسبت دشاگردانو په کرایو کښې معتدبه اضافه شوی وای چی دغیر ضروری سفرونو نه یی نجات حاصل کړی وای اوپه سکون اوا طمنان سره یی خپل محنت کولې.

دریم حکومت په شخصی بسونو باندې دا رعایت جبرا اوظلماً ایښې دې، پداسی صورت کښې دا قبلول له حکومت سره په ظلم کښې اعانت کول دی اوپه حرام کار کښې حمایت دې والظالم وعونه سواء فی الوزر.

اوحدیث په موجب : ((لايحل مال امرءمسلم الاطيب نفس منه)) سراسر ناجائزاوحرام دې ظلم اوغصب ته دحق اخستلو نوم ورکول په اسلامی دنیا کښې ډیره لویه اوانتهائی خطرناکه فتنه ده او داشتراکیت ویل شوې درس دې.

څلورم : له معتبرو ذرائعو څخه معلومه شوې ده چی دشخصی بسونو مالکان په دې راضی ندی، لدې وجی نه د طالبانو او کلنرانو ترمنځ کشیدگی کیږی اهل مشاهده ښه پوهـ دی چی په دې وخت کښې ددینی طالبانو څومره بی عزتی کیږی، دعلم ذلت ددین حقارت دې په دغه وخت کښې عوام دعلماء دین په حق کښې گستاخی کوی حتی کفریه کلمات وایی دا ددغه رعایت نتیجه ده.

پنځم : د ډیرو خلکو مشاهده ده چی طالبانو په وخت دمزاحمت کښې په بس او په اهل بس مشتعل شوی او حمله یی ورباندی کړی ده په لسگونه څله دبسونو دسورلو واقعات په اخبارونو کښې شائع شوی دی تر قتل اوقتال پورې نوبت رسیدلی دی چونکه دمدارسو دچلونکو په طالبانو کنترول نه وی لدې وجی هغوی دا رعایت وینی دډیرونورو ناجائزکارونو ارتکاب کوی.

شپږم یوه لویه مفسده داهم ده چی په دې کښې حکومت او ارباب اقتدارته اظهار احتیاج دې چی هغه داهل علمولپاره تباه کن اورسواکن دې، افسوس اوډیر افسوس چی دا مطالبه داهل مدارسو له طرفه کیږی اوڅوځله په اخبارونو کښې شائع شوې ده.

په اوس وخت کښې لږ رعایت هم دحکومت له طرفه حاصلول ددین لپاره سخت مضر بلکه مهلك دی کومو مدارسو چی له حکومت څخه امداد اخستې دې په آینده کښې دهغوئ خولې له حق ویلو څخه بندې شوی دی. اوحکومت له هغوئ څخه ددغه احسان په بدله کښې ډیر خلاف شریعت کارونه اخلی.

نوکوم کار چی په دومره ناجائزو امورو مشتمل وی هغه سراسر ضرر وی او دهغه په ترك کولو

کېږي دفع دمضرت وي. لان ادنی المعصية مضرة كبيرة
لهذا دسوال جلب منفعت اودفع مضرت قياس باطل محض دي ددي فلسفي لاندې غلا، رشوت
خوري، چور چپاول ټول کبائر حلال ګرځي. واللازم باطل فالملزوم مثله.
دغير په مذهب فتوی ورکول دضرورت شديده په وخت کېږي وي اودلته دمذکوره قباحتونو له
وجې ددې په حرمت فتوی ورکول ضرورت شديده دې علاوه له دې څخه په سوال کښې درج شوې
مذهب دبعضې مالکيانو دې چې محققينو ورته مذهب باطل فرمايلی دې او د امام مالك څخه يې
مطلقاً عدم جواز نقل کړې دې کما فی شرح مسلم للنووی، دجواز قول دروايت اودرايت دواړو نه
سراسر خلاف دې.
دطالبانو له عدم رعايت نه خوف اوپريشانی دبې دينی او حب دنيا له وجې ده افسوس چې اهل
مدارس دطالبانو ددغه مرض علاج په معاصيو سره کوی.

ع : چون کفر از کعبه برخیزد کی ماند مسلمانی.

اوافسوس چې ددې دور دعلماؤ نظر دالله تعالی اوحضور صلی الله عليه وسلم دصريحو او
واضحو ارشاداتو څخه پورته شوې ددنيا په مردارو پسې دې که دداسې ضرورتونو په وجه حرام
جائز ګرځيدلې نو بيا د ادنتی کارت څه خصوصيت دې؟ طالبانو ته دغلاکولو او چور کولو او
جيب وهلو جواز پکار دې، ځکه چې ضرورت دې بيا طالبان څه چې هر ضرورتمند ته دا جائزکيدل
پکار دی.
په بيمه اوبانك کښې خود دې نه زيات مصالح اوضروريات دی اوپه شرابو کښې خومنافع له
قرآن څخه ثابت دی، دهغو په باره کښې څه فکر کول په کاردی.
اهل مدارس دطالبانو دعلمی، عملی او اخلاقی کمزوريو لرې کولو پرځای ددوئ دنيا او آخرت
دواړه تباه کوی. طالبانو ته دسفر اجازت اوهغه هم په صريح حرام کار دتصور څخه لوړه خبره ده.

ع یہ اعمال بد کی ہے پاداش ورنہ
کہیں شیر بھی جوتے جاتے ہیں ہل میں

قال الله تعالى: ومن يتق الله يجعل له مخرجا ويرزقه من حيث لا يحتسب ومن يتوكل على الله فهو حسبه ان الله
بالغ امره قد جعل الله لكل شيء قدرا.

ومن يتق الله يجعل له من امره يسرا.

وقال النبي صلى الله عليه وسلم: من كان لله كان الله له.

من كانت الآخرة همه جعل الله غناه في قلبه وجمع له شمله واتته الدنيا وهي راغمة ومن كانت الدنيا همه جعل

...علیه ولرزق علیه عمله ولم یأته من الدنیا الا ما قدر له رواه الترمذی.
لم یقدر میت علیه... الا بطاعته رواه فی شرح السنة.
ولا یحملنکم استبطاء الرزق ان تطلبوه بمعاصی الله فانه لا یدرك ما عند الله

وان الرزق لیطلب العبد کما یطلبه اجله رواه ابونعیم.

اووم کله چی ثابته شوه چی دداسې بدترین رعایت لپاره تصویر اخستل ناجائز اوحرام شو نو بلاضرورته دتصویر ساتلو ګناه به خومره لویه وی. والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۷ جمادی الاولی سنه ۱۴۰۲هـ

دشطرنج، لدو او باره ګوټی لوبې کول جائزندی

سوال: دشطرنج دحرمت علت څه دې؟ ځینی وایی په دی کښې تصویرونه دی او دجواری یو قسم دې له دې وجی حرام دې. کریم بورډ اوباره ګوټی وغیره کښې تصویرونه نشته اوپه هغو کښې د ذهنی ورزش فائده هم ده؟ نو داسې لوبې چی دجواری په طور استعمال نه شی نو جواز یی په کار دې. لږ په تفصیل سره یی راته ولیکئ چی ددې لوبوشرعاً څه حکم دې؟ که ناجائزوی نو دعدم جواز علت یی څه دې؟ همدارنګه دلوبو په باره کښې یو کلیه ولیکئ چی له هغی څخه دهرې لوبې حکم معلوم کړې شی بینوا بالتفصیل آجرکم الجلیل.

الجواب باسم ملهم الصواب: دشطرنج دحرمت علت صرف تصویرونه اوجواری نده که دتصویرونو اوجواری وجود له شطرنج سره لازم وای نو امام شافعی به دهغه دمکروه تنزیهیه قول نه کاوه. قاعده داده چی په کومه لوبه کښې دذهن ورزش وی هغه ناجائزه ده اوکومه چی دذهنی ورزش څخه پاك وی هغه جائزه ده خواه که په هغې کښې جسمانی ورزش وی یا محض دزړه او دماغو تفریح پکښې وی لکه لدو .چکن. دماشومانو دلوبو دسامان او دسیراو تفریح وغیره دفرق لپاره دړې وجوهات دی

اول دزړه او دماغ لپاره مقاصد اصلیه ډیر دی بلکه مقاصد د آخرت خو غیرمتناهی دی. لهذا هغه دکوم مقصد دتحصیل لپاره دذهنی ورزش وسیله جوړلوته ضرورت نشته بلکه فرصت نشته ورته

آن خیالاتی که دام اولیاء ست
عکس مهرویان بستان خدا ست

دجسمانی صحت لپاره جسمانی ورزش ته ضرورت شته لدې وجی نه جائزبلکه بقدر ضرورت واجب اوموجب داجر دې دارنګه دزړه اودماغو دتفریح سامان هم دصحت جسمانی لپاره دمفید کېدوله وجی جائزاوباعث د اجردې

په دې شرط چی دذهنی ورزش نه پاك وی حقیقت خو دادې چی دزړه اودماغو تفریح او ورزش اجتماع محاله ده. دماغی تفریح دصحت جسمانیه لپاره نافع اودماغی ورزش مضر دې

که چاته په باره گوتی غوندې ذهنی ورزش کښې دماغی تفریح محسوس کیږی دهغه مثال دخارښت دمریض دې چی هغه ته په گرولو کښې وقتی طور لذت محسوسیږی لیکن وروسته په سخت تکلیف او آذیت کښې وی.

دماغ بادشاه دې اوټول جسم دهغه فوج دې فوج ته جنگی مشقونه کول لازم دی ځکه چی دا دمقصد د حاصلولو ذریعه ده مگر د بادشاه لپاره لکه څنگه چی جسمانی پریډ مضر دې همدارنگه فکری ورزش هم سخت مضردې دحکومت بقاء په دې پوری موقوف ده چی باشاه خپل دماغ په فکری پریډ کښې د لگولو په ځاۍ براه راست د مقاصدو تحصیل ته متوجه کړی.

دویم: ذهنی ورزش د زړه او دماغو په تحصیل دمقاصد اصلیه و کښې دمخل کیدونه علاوه دجسمانی صحت لپاره هم سخت مضردی، ددې برعکس جسمانی ورزش اوتفریح دصحت جسمانیه لپاره دمفید کیدونه علاوه دزړه او دماغو لپاره هم په تحصیل دمقاصد اصلیه و کښې معین اومددگار دی.

په دې اوله وجه اودومه وجه کښې فرق دادې چی په اوله کښې مقصود دادې چی ذهنی ورزش نه ضرورت نشته نو په لهو اوعبث کښې د داخلیدو په وجه ناجائزشو او دویمه وجه کښې دا بیانول مقصود دی چی دا دصحت جسمانی لپاره او د زړه او دماغو دتحصیل دمقاصدو لپاره سخت مضردی.

دریم: په ذهنی ورزش کښې دومره انهماک کیږی چی دینی اودنیوی مشاغلوته نقصان رسوی په جسمانی ورزش کښې دومره انهماک نه وی، ددې فرق دوه وجې دی: **اول**: په جسمانی ورزش کښې څه وخت پس ستړیا احساس ددې نه منع کول کوی گویا دا دزنگ وهونکی ساعت اومنبه کاروکوی په ذهنی ورزش کښې داسی کوم منبه نه وی.

دویم: په جسمانی ورزش کښې دماغ یوڅه آزاد وی په لوبو کښې خومشغول وی مگردومره نه چی دبل طرف توجه ته یی بیخی هوش هم نه وی او په ذهنی ورزش کښې په مکمل ډول دې طرفته مشغول اومتوجه وی

خلك چی ذهنی ورزش ورته وائی هغه په اصل کښې بی مقصده تفکر وی چی دفکر دنعمت دبی ځایه مصرف کولو له وجی تبذیردې

دحکم دتحقیق په غرض ددې قسم مروجه لوبو دنقشې او لوبوپوهیدونکی دار الافتاء ته را وغوښتل شو. بنده خو نورعلماء یوځای ورسره کینول دهغوئ دکار دطریقی معاینه یی وکړه او فیصله یی وکړه چی په دې کښې کوم تفکر بی مقصده دی اوپه کوم کښې محض دماغی تفریح ده چی په لاندی ډول دی:

تفکر بې مقصد **اول** **شطرنج** **دویم** **تاش** **دریم** **درافت** **څلورم** **لډو** **پنځم** **سوان جوړ**

شپږم اناره گوتی اوباره گوتی او نو گوتی **اووم** اوه کهده چوسر. چوپړ. چنګل چرا . چنګالوه . برد بازی بچیس

دماغی تفریح اول کیرم بورډ **دویم** دلودو حاشیه **دریم** دلودوپشت **څلورم** درګوتی «خکه چی پدې کښې عدم تفکر ضروری دې»

پورته ذکرشوی ددماغی تفریح لوبې دذکر شوی تفصیل له مخې اګر که جائزمعلومیږی لیکن هغه هم دلاندې فساداتوله وجی ناجائزې دی :

اول پدې کښې دذهنی ورزش په لوبو کښې دواقع کیدو خطره ده

دویم : دناجائزولوبوسره مشابهت دې

دریم: دبی دینه خلکو شعاردې .

څلورم : لیدونکوته داشتباه موقع اوباعث دسوء ظن .

پنځم د انهماك له وجی ددین اودنیا له اهموکارونو څخه غفلت . والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۴ / رجب ، سنه : ۱۴۱۰

دینی تنظیمونو ته دانګریزی نومونه کیښودل

سوال نن سبا دځینی دینی تنظیمونو نو مونه مشائخ عظامو طرفته منسوب کیږی او د انګریزی الفاظو دشاملولو رواج پکښې را روان دې، آیا ددوئ دغه فعل شرعا جائز دې ؟ مثلا شیخ الهند اکیډمی، شاه ولی الله اکیډمی ، غیره؟ بینوا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب : اګرچه داسې امور بالکل معمولی ګڼلې شی او اکثر علماء هم پدې کښې کوم حرج نه محسوسوی او ددې رواج دصحت لپاره مختلف تاویلات پیش کوی. لیکن حقیقت دادې چی که ددې رواج په محرکاتو او نتائجو سرسری نظرهم واچول شی نو داخبره به د رڼا ورځی پشان ښکاره شی چی دا وخت دمسلمانانو دتباهی اوبربادی اصل سبب د انګریزانو برتری اوخپل دکمترئ احساس دې، همداوجه ده چی نن بی ضمیره مسلمانان خوراك، پوښاك ناسته ولاړه، خبری غرض دا چی په هرشی کښې دانګریزانو نه نقل کوی او په هغې فخرهم کوی تر علماؤ پوری داسلامی تاریخ په ځای انګریزی تاریخ استعمالوی اوپه دې کښې مطلقا کوم حرج هم نه محسوسوی، بلکه پدې کښې خپل اعزاز اووقار بولی. دکوم صورت په باره کښې چی استفتاء شوې ده دا هم ددې مرعوب ذهنیت کرشمه ده. کوموا کابروچی دانګریزپه مخالفت کښې دخپل سرقربانی ورکوله هغوی ددې خطی نه په تیښته وو. نن دهغوی له مبارکو نومونو سره انګریزی الفاظ یو ځای کیږی او دهغوئ توهین ورباندی کیږی

څومره دافسوس خبره ده چی خان ته علماء ویونکی او پوه خلك دعربی په شان مبارکه او

مسلمانانو ته اهمه او اعظمه ژبه باندې دانګریزانو په شان ددشمنان اسلام ژبې لره ترجیح ورکوی چې دعلم او دعلماؤ د اقدارو او دینی غیرت سخت خلاف کار دې په دې نیت انګریزی زده کول چې په دنیوی ضروری معاملاتو کښې له هغوی سره معامله وکړل شی بلاشبه جائزدی او په بعضی حالاتو کښې واجب دی لیکن دمجلسونو اوتنظیمونو اوکتب خانو په نومونوکښې استعمالولو ته هیڅ ضرورت نشته اودا بلاشکه دانګریزی زهرو اثردې. له تجربو ثابته ده چې له داسې کارونو نه یا له انګریزانو سره مشابهت قصد وی او یا د هغوی له نقل کولو سره چې دنن په شان فاسقه معاشره کښې داسې نومونه باعث د اعزاز بلل کیږی، حضرت عمر رضی الله تعالی عنه چې په کومو شرائطو یهودو اونصاری ؤوته معافی کړی وه یو دا شرط هم ؤو چې (ان لایتکلموا بکلامنا) نن دهغې برعکس مسلمانان دکافرانو په شان خبرې کوی اوتعجب بالای تعجب داچې په دې فخر هم کوی.

ع: ببین این تفاوت از کجا تا بکجا است

الغرض: دشیخ الهند په شان دیوغوره اوانګریز دښمن شخصیت له نوم سره انګریزی الفاظ لګول دپورتنی تفصیل له نظره نهایت قبیح اوشنیع عمل دې اودینی غیرت سخت خلاف دې دعلم اوعلماؤ د اقدارو سره منافی دې او اکابروته باعث دآذیت دې او د فاسقی معاشری زهرجن اثر دې اوبلاضرورت دینیه اودنیویه انګریزی ته په عربی ترجیح ورکول دی. دوخت په علماؤ لازم دی چې د داسې منکراتو مخه ونیسی که نه نو ددې تساهل نتیجه واضحه ده چې ډیر زربه دیندار معاشره هم مکمل طورسره انګریزی معاشره وګرځی، اوله مسلمانانو سره به داسلام یوشې هم باتې نشی او بیابه ددې داصلاح هم کوم صورت ممکن نه وی.

په آخر کښې دحضرت دحکیم الامت قدس سره داحکام القرآن نه دشمسی تاریخ د استعمالولو په باره کښې دا د زړه درد رانقل کول مناسب معلومیږی:

ويصدقه كل الصدق ان يميل الى هذا الضد بحيث لا يبقى له ميل الى المطلوب الشرعي بالمرة كما هو مشاهد من حال اكثر المسلمين في هذا الزمان بل ومن حالة كثير من العلماء والى الله المشتكى من انقلاب القلوب وميلها الى العيوب المؤدية الى الذنوب وكل ذلك مع دعواهم من ذلك وبراءتهم من حب السنة النبوية والشوائل الاسلامية انه صحيح (احكام القرآن ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم. ٢١ رمضان سنه ١٤١١ھ

دانګریزی تاریخ استعمالول

سوال: دمهتمم صاحب خیال دې چې په امورو دمد. کښې دې انګریزی تاریخ استعمال شی نو معطلات هم دانګریزی میاشتو له حسابه په جون، وجولائی کښې وشی شرعاً ددې څه حکم دې؟

همدارنګه په مکاتباتو (لیکونو)، او مخاطباتو کښې اوعامو خبرو کښې دې انګریزي تاریخ استعمال شی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په مکاتباتو او مخاطباتو او عامو چاروانورو امورو کښې دانګریزی تاریخ استعمال بغیر دسخت ضرورت نه قبیح اوشنیع دې پدې کښې دعیسایانو دباطلې نظریې تائید او شائبه اودهغوئ دخوشحاله کولو مفسده موندل کیږی.

دانګریزی تاریخ ابتداء دحضرت مسیح علیه السلام درفع السماء نه شوې ده لیکن دعیسایانو نظر دادې چې یهودو حضرت عیسی علیه السلام قتل کړې دې له هغه ځایه ددې تاریخ ابتداء شوې ده.

قال حکیم الامة رحمة الله تعالى: ومن ههنا علم ان استعمال الحساب الشمسى فى المكاتبات والمخاطبات والمعاملات وان كان جائزا فلا ريب انه خلاف الاولى لكونه خلاف سنة رسول الله صلى الله عليه وسلم وسنة اصحابه والسلف الصالحين وايضا فلما كان مدار الاحكام الشرعية والعبادات الدينية على الحساب القمرى كان حفظه وضبطه فرضا على الكفاية واحسن طرقه وايسرها ان يستعمل فى المكاتبات والمخاطبات والمعاملات اليومية ولا يخفى ان الاتيان بفرض الكفاية عبادة وما كان طريقا الى حفظه فهو عبادة ايضا فاستعمال الحساب القمرى مطلوب شرعا وبعيد من المسلم ان يترك المطلوب الشرعى ويستعمل الحساب الشمسى الذى هو ضدة فى الجملة ويبعد منه كل البعد ان يميل الى هذا الضد بحيث لايبقى له ميل الى المطلوب الشرعى بالمرة كما هو مشاهد من عوائد اكثر المسلمين فى هذا الزمان بل ومن عادة كثير من العلماء ايضا فالى الله المشتكى من انقلاب القلوب وميلها الى العيوب المؤدية الى الذنوب وكل ذلك مع دعواهم بغض النصارى وقد اشرب قلوبهم حب النصرانية اعاذنا الله من ذلك ورزقنا حب السنة النبوية والعوائد الاسلامية انه سميع مجيب (احكام القران ص۱۷۰ ج۱) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۰ صفر سنه ۱۴۱۵ هـ

په دې زمانه کښې مباهله نده صحیح

سوال: آیا دمباهلې حکم ترنبی کریم صلی الله علیه وسلم پورې خاص وو اوکه اوس هم مشروع دې؟ که جائزوی نوصرف کفارو سره یا دمسلمانانو په خپل منځی اختلافاتو کښې هم جائزه ده؟
په بیان القرآن کښې یې جواز لیکلې دې ورسره یې داهم لیکلی دی چې دحق اوباطل دتعین لپاره دلائل شرعیه کافی دی، ترمباهلې پورې موقوف ندی.
پدې اشکال داد چې بیاد مباهلې څه فائده شوه؟ دفیصلې حکم ولیکئ او زمونږ رهنمائی وکړئ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب. الله تعالى نبی علیه السلام ته له نصاری ؤ سره دمباهلې کولو حکم کړې ؤو او دنصاراؤ دهلاکت بشارت یې ورکړې وو.

دمباهلې حکم په قرآن کښې ذکر دې او دهلاکت بشارت یې په احادیثو کښې منقول دې همدارنګه دمباهلې یوه خاصه متعینه نتیجه موعوده وه، له حضور صلی الله علیه وسلم څخه وروسته په مباهله باندې دکومی خاصې نتیجې مرتب کیدل له کوم دلیل څخه ثابت ندی، لهذا بې فائدې بلکه بعضې اوقات دمضر کیدو له وجی ددې مشروعیت محل نظر دې.

دحضرت حکیم الامت هم آخری تحقیق همدا دې ، «زما خیال دې چې ددې تحقیق هم ضروری دې چې مباهله اوس هم مشروع ده اوکه نه؟ او دا چې دهغې اثر متعین څه دې ؟ اوددې اثر دیقینی کیدو دلیل څه دی؟

ددی تحقیق له دې وجی ضروری دې که چیرته ددې مباهلې کوم موعود یقینی اثر متعین نه وی اوممکن دې چې له هغې نه بعد اهل حق نه اتفاقی طور سره کوم ازمینښت پیښ شی اوعامو خلکو ته اشتباه راشی چې برعکس ضرربه وی نوکه داسې شی نوددې خواب ته به څرنګه انسان تیارشی.

اوکه دهغه اطمینان ددلیل یقینی څخه نه وی نو د مباهلې په درخواست کښې په ځای دمباهلې دهغه صحیح تحقیق ولې په خواب کښې نه پیش کیږی چې له دلیل څخه ثابت وی.

ګویا خلکو دهغه په مشروعیت دلعان له آیت څخه استدلال کړی مګر هلته خو نتیجه تفریق ده او دلته چې دکومې نتیجې توقع کیږی دهغې په ترتیب دکوم دلیل موجودیدل په کار دی لهذا ددې قیاس په هغې باندې مع الفارق دې بوادر النوارد (ص ۷۰ ج ۱ که دمباهلې)که مشروعیت له کوم دلیل څخه ثابت هم شی بیاهم پدې زمانې کښې دلاندې مفاسدو له وجې ناجائز دې.

اول په بیان القرآن کښې یې دمباهلې فائده دقطع نزاع لسانی لیکلې په اوسنی زمانه کښې عوام اوخواص دمباهلې ددې حقیقت نه بالکل بی خبره دی.

دویم هغوی که پوه هم کړې شی چې دمباهلې حقیقت صرف قطع نزاع لسانی ده بیاهم په ځای د نزاع ختمیدلو نزاع نوره هم زیاتیږی جانبین یوپربل قسم قسم الزامونه لګوی بی شماره نوی نزاعات راپیدا کیږی.

دریم هر طرف دمقابل جانب هر مصیبت او آفت دمباهلې نتیجه بولی.

څلورم په اهل حق باندې که دقدرت کومه ابتلاء راشی نو دعوامو دګمراهۍ سبب به شی.

پنځم په دې زمانه کښې دعوامو اوخواصو دا راسخه عقیده ده چې په مباهله معینه باندې دنتیجې ترتب لازم دې اوهغه دالله تعالی قطعی فیصله بولی. حالانکه داخیال بالکل بی دلیله او سراسر غلط دې، دحضور صلی الله علیه وسلم په مخ کښې دزوجینو لعان وشو بغیر له تفریق څخه په یوه هم کوم آفت رانغی . ددې حقیقت مطابق که په دې دور کښې دمباهلې کولونه پس په

وجانب هم كوم آفت رانشي نو د خلقو په گمان به دالله تعالى په قطعى فيصله كښې تردد راشي چې كفر دې.

شپږم دنصوص شرعيه اوعلماؤ داسلام په مقابله كښې به جاهل اوگمراه پيران دمباهلې اختار وركوى اوپه عوامو كښې به خپل مقام پيدا كول غواړى، لهذا دهغوئ له طرفه دعوت دمباهلې قبلول دهغوئ كاميابى ده.

اووم كه دجاهل پير دمباهلې دعوت علماء اسلام قبول كړى خپل قيمتى وخت به هم ضائع كړى اوالله تعالى چې له هغوئ نه كوم اهم خدمات جليله ددين اخلى په هغو كښې به هم نقص راشى همدا دشيطان او دهغه داولياؤ لويه كاميابى ده كه دا روايات په صحيح اسنادو سره ثابت هم شى نو دهغوى حضراتو دا عمل به په غرض دقطع نزاع لسانى محمول وى چې هغه په نن زمانه كښې مفقود دې.

قال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى: فان قلت هل يشرع الدعاء باللعن على الكاذب المعين قلت قال فى غاية البيان من العدة وعن ابن مسعود رضى الله تعالى عنه انه قال من شاء باهلته ان سورة النساء القصرى نزلت بعد التى فى سورة البقرة اى من شاء المباهلة اى الملاعنة باهلته وكانوا يقولون اذا اختلفوا فى شئ بهلة الله على الكاذب منا قالوا هى مشروعة فى زماننا ايضا اه (البحر الرائق ص۱۱۷ ج۴)

وكذا نقل عنه العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى (رد المحتار ص۴۸۳ ج۲)

وقال العلامة الالوسى رحمه الله تعالى: ومن ذهب الى جواز المباهلة اليوم على طرز ما صنع رسول الله صلى الله عليه وسلم استدل بما اخرجه عبد ابن حميد عن قيس بن سعد ان ابن عباس رضى الله عنه تعالى عنهما كان بينه وبين الاخر شئ فدعاه الى المباهلة وقرا الاية ورفع يديه فاستقبل الركن (روح المعانى ص ۱۹۸ ج۳)

لدې څخه علاوه دهغوئ په زمانه كښې دا نور مفاسد نه وو دكومو تفصيل چې مخكښې وليكل شو، لهذا اوس مباهله كول جائزندى. والله سبحانه وتعالى اعلم. ۷صفر ۱۴۱۲هـ

مشت زنى (په لاس شهوت پوره كول) حرام دى

سوال مرتى وهل څنگه دى ؟ كه ناجائز وى نو كومه گناه ده صغيره كه كبيره ؟ آيا كوم داسې صورت شته چې په هغه كښې ددې گنجائش وى ؟

الجواب باسم ملهم الصواب مشت زنى گناه كبيره دهاو حرام دى. قرآن اوحديث كښې په دې باندې سخت وعيدونه راغلى كه په زنا كښې دمبتلاء كيدو سخته خطره وى اوددې شنيع حركت نه سوا بل صورت ممكن نه وى، نوشايد چې الله يې معاف كړى

قال الله تعالیٰ: والذین هم لفروجهم حافظون الا علی ازواجهم الایة.

قال القاضی ثناء الله الفانی فتی رحمه الله تعالیٰ: فی هذه الایة دلیل علی ان الاستمناء بالید حرام وهو قول العلماء قال ابن جریج سألت عطاء رحمه الله تعالیٰ عنه فقال مکروه سمعت ان قوما یحشرون وایدیهم حبالی واظن انهم هؤلاء وعن سعید بن جبیر رحمه الله تعالیٰ قال عذب الله امة کانوا یعبثون بمذاکیرهم (تفسیر مظهری ص ج)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: ویدل ایضا علی ما قلنا ما فی الزیلعی حیث استدل علی عدم حله بالکف بقوله تعالیٰ والذین هم لفروجهم حافظون الایة وقال فلم یبح الاستمتاع الا بهما ای بالزوجة والامة افاد عدم حل الاستمتاع ای قضاء الشهوة بغیرهما (ردالمحتار ص ۱۰۰ ج ۲)

وقال العلامة الطحطاوی رحمه الله تعالیٰ: (ناکح الکف ملعون) ای مطرود عن منازل الابرار وافاد الحدیث ملعنه علی العموم ولعن المعین لا یجوز وورد ان الکف تجیء یوم القیامة حبلیٰ وانه یخلق خلق من ذلک الماء لا راس له یطالبه فاعل ذلک بتمام خلقه تعلیماله (حاشیة الطحطاوی علی الدر ص ۵۲ ج ۱) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۱۸ شعبان سنه ۱۴۱۴ هـ

له شیعه، قادیانی اوذکری سره معاملات کول

سوال شیعه، مرزائی اوذکری دنورو عامو کفاروپه شان دی اوکه ددوئ حکم جدا دي؟ له هغوئ سره دخرید اوفروش معامله کول جائزدی اوکه نه؟ اوکه چا معامله ورسره کړې وی حکم بی څه دي ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دشیعه ګانو ټول اقسام قادیانیان او ذکریان اومنکرین حدیث او انجمن دینداران ټول زندیقان دی. چی دهغوئ احکام له نورو کفارو بلکه له مرتدنه هم زیات سخت دی له هغوئ سره معاملات خرید اوفروش اوهرقسم لین دین ناجائزدي اوله هغوئ سره دوستانه تعلق ساتل اومحبت کول دغیرت ایمانی خلاف دی. حتی الامکان له هغوئ سره له هر قسم تعلقاتونه خان ساتل فرض دی

که چاله هغوی سره کومه معامله بیع یا اجاره وغیره کړې وی نو هغه منعقده نده. البته دصاحبینو په نزد دعدم جواز باوجود عقد نافذکیږی په وخت دضرورت کښې یا ابتلاء عام په وخت کښې په دې قول دعمل کولو ګنجائش شته دی

دزندیق تعریف په لغت کښې بی دین اوبداعتقاد ته ویلی شی

دشریعت په اصطلاح کښې هغه خولک دې چی اسلام بی ظاهر کړې وی اوپه باطن کښې عقائد کفریه لری یاکفریه عقائد ظاهروی اوپه باطلو تاویلات سره خپلو کفریه عقائدو ته عقائد اسلام وایی

قال العلامۃ التفتازانی رحمہ اللہ تعالیٰ: وان کان مع اعترافہ بنبوۃ النبی صلی اللہ علیہ وسلم واظہارہ شعائر الاسلام یبطن عقائد ہی کفر بالاتفاق خص باسم الزندیق (شرح المقاصد ص۲۶۹ ج۲)

وقال العلامۃ ابن عابدین رحمہ اللہ تعالیٰ: واما فی اصطلاح الشرع الفرق اظہر لاعتبارھم ابطان الکفر والاعتراف بنبوۃ نبینا صلی اللہ علیہ وسلم علی ما فی شرح المقاصد (رد المحتار ص۲۹۶ ج۳)

وقال ایضا: (قولہ المعروف) ای بالزندقۃ الداعی الذی یدعو الناس الی زندقتہ

فان قلت: کیف یکون معروفا داعیا الی الضلال وقد اعتبر فی مفہومہ الشرعی ان یبطن الکفر؟

قلت لا بعد فیہ فان الزندیق یموہ کفرہ ویروج عقیدتہ الفاسدۃ ویخرجہا فی الصورۃ الصحیحۃ وھذا معنی ابطان الکفر، فلا ینافی اظہارہ الدعوی فی الضلال وکونہ معروفا بالاضلال ابن کمال (رد المحتار ص۲۹۶ ج۳)

وقال الشاہ ولی اللہ رحمہ اللہ تعالیٰ: ان المخالف للدین الحق ان لم یعترف بہ ولم یذعن لہ لا ظاہرا ولا باطنا فہو کافر وان اعترف بلسانہ وقلبہ علی الکفر فہو المنافق وان اعترف بہ ظاہرا لکنہ یفسر بعض ما ثبت من الدین ضرورۃ بخلاف ما فسرہ الصحابۃ والتابعون واجتمعت علیہ الامۃ فہو الزندیق (المسوی ص۱۳۰ ج۲)

وقال العلامۃ الکشمیری رحمہ اللہ تعالیٰ: قلت الزندیق من یحرف معانی الفاظ مع ابقاء الفاظ الاسلام کہذا اللعین فی القادیان یدعی انہ یؤمن بختم النبوۃ ثم یخترع لہ معنی من عندہ یصلح لہ بعدہ الختم دلیلا علی فتح باب النبوۃ فہذا ھو الزندقۃ حقا ای التغییر فی المصادیق وتبدیل المعانی علی خلاف ما عرفت عند اہل الشرع وصرفہا الی اہوائہ مع ابقاء اللفظ علی ظاہرہ والعیاذ باللہ (فیض الباری ص۲۷۰ ج۴)

وقال العلامۃ عالم بن العلاء الانصاری رحمہ اللہ تعالیٰ: ثم عندھما تصرفات المرتد مع نفاذہا نفذت فی کسب الاسلام والردۃ جمیعا واختلف المشایخ فی مذہب ابی حنیفۃ رحمہ اللہ تعالیٰ قال بعضہم تصرفاتہ فی کسب الردۃ نافذۃ فی ظاہر مذہبہ وانما التوقف فی تصرفاتہ فی کسب الاسلام والی ھذا مال شیخ الاسلام خواہر زادہ رحمہ اللہ تعالیٰ واستدل بمسالۃ ذکرہا فی کتاب الرھن وصورتہا: المرتد اذا قضی دینا وجب علیہ بعد الردۃ من کسب الردۃ جاز عند ابی حنیفۃ رحمہ اللہ تعالیٰ فی غیر روایۃ الاصول ان تصرفہ فی کسب الردۃ یتوقف ولکن ما ذکر فی ظاہر الروایۃ اصح وذکر شمس الائمۃ السرخسی رحمہ اللہ تعالیٰ ان الصحیح ان تصرف المرتد یتوقف فی الکسبین جمیعا قال شمس الائمۃ ھذا وما ذکر فی کتاب الرھن ان المرتد اذا قضی دینا وجب علیہ بعد الردۃ من کسب الردۃ جاز فذلک علی روایۃ ابی یوسف عن ابی حنیفۃ رحمہ اللہ تعالیٰ فاما علی رد...

الحسن رحمه الله تعالیٰ فلا ینفذ کما اذا کان فی کسب الاسلام قال: والصحیح روایة الحسن. قال شمس الائمة: الحاصل ان الروایات قد اختلف عن ابی حنیفة رحمه الله تعالیٰ فی قضاء دیون المرتد ففی روایة ابی یوسف یبدأ بکسب الردة فان لم یف یقضی من کسب الردة وفی روایة زفر رحمه الله تعالیٰ: دین الردة یقضی من کسب الردة ودین الاسلام یقضی من کسب الاسلام والصحیح روایة الحسن (الفتاویٰ عالمگیریة ص۲۵۸ ج۵)

وقال العلامة السید محمد ابو السعود المصری الحنفی رحمه الله تعالیٰ: (قوله هذا عند ابی حنیفة) اعلم ان تصرفات المعتد یتوقف فی الکسبین جمیعا وهو الصحیح وقال بعض المشائخ ان تصرفه کسب الردة نافذ فی ظاهر الروایة وموقوف فی روایة الحسن والاول اصح وهذا کله عند الامام واما عندهما فتصرفات وقعت قبل اللحاق واما بعد قبل الحکم فهی موقوفة بالاجماع کولایته علی اولاده الصغار. قهستانی عن المحیط (فتح المعین ص۳۶۳ ج۲)

وهکذا قال القهستانی رحمه الله تعالیٰ (جامع الرموز ص۵۵۵ ج۲)

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالیٰ: واعلم ان تصرفات المرتد علی اربعة اقسام فینفذ منه اتفاقا مالا یعتمد تمام ولایة وهی خمس الاستیلاد والطلاق وقبول الهبة وتسلیم الشفعة والحجر علی عبده ویبطل منه اتفاقا ما یعتمد الملة هی خمس النکاح والذبیحة والصید والشهادة والارث.

ویتوقف منه اتفاقا ما یعتمد المساواة وهو المفاوضة اوولایة متعدیة وهو التصرف علی ولده الصغیر ویتوقف منه عند الامام وینفذ عندهما کل ما کان مبادلة مال بمال اوعقد تبرع کالمبایعة والصرف والسلم والعتق والتدبیر والکتابة والهبة والرهن والاجارة والصلح من الرار وقبض الدین لانه مبادلة حکمیة والوصیة وبقی ایمانه وعقله ولاشک فی بطلانهما واما ایداعه واستیداعه والتقاطه ولقطته فینبغی عدم جواز ها نهران اسلم نفذوان هلک بموت او بحق بدار الحرب وحکم بلحاقه بطل ذلک کله فان جاء مسلما قبله وقبل الحکم فکانه لم یرتد

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: (قوله فینبغی عدم جوازها) عبارة النهر: فلاینبغی التردد فی جوازها منه اما للقطه عدم من سبق العلم (قوله ویتوقف منه عند الامام رحمه الله تعالیٰ) بناء علی زوال الملک کما سلف نهر (قوله وینفذ عندهما) الاانه عند ابی یوسف رحمه الله تعالیٰ تصح کما تصح من الصحیح لان الظاهر عوده الی الاسلام وعند محمد رحمه الله تعالیٰ کما تصح من المریض لانها تفضی الی القتل ظاهرا عن البحر (ردالمحتار ص۳۰۸ ج۳) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

غره محرم ۱۴۱۵ھ

د قادیانانو سره د تعلقاتو د مسائلو بیان په جلد اول کتاب الایمان والعقائد او په باب المرتد

والبغاة اوتتمه کښې هم دي

ددنیوي غرض لپاره دغیر په مذهب عمل حرام دي

سوال حنفی عالم دغیر احنافو په جومات کښې امامت کوی. دا دهغه وظیفه ده، که دحنفی مسلك موافق لمونځ وکړي نو له امامت څخه معزول کیږی، په داسې حالت کښې داحنافو مذهب حق ګڼل اوملازمت (وظیفې) دبقاء لپاره په غیر حنفی طریقه لمونځ کول شرعا څه حکم لري؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : جائز ندی.

قال ابن عابدين رحمه الله تعالى: قال في جواهر الفتاوى: لو ان رجلا من اهل الاجتهاد برء من مذهبه في مسألة اوفى اكثر منها باجتهاد لما وضح له من دليل الكتاب اوالسنة اوغيرهما من الحجج لم يكن ملوما ولا ملموما بل كان ماجورا محمودا وهو في سعة منه وهكذا افعال الائمة المتقدمين فاما الذى لم يكن من اهل الاجتهاد فانتقل من قول الى قول من غير دليل لكن لما يرغب من غرض الدنيا وشهوتها فهو ملموم الاثم مستوجب للتاديب والتعزير لارتكابه المنكر فى الدين واستخفافه بدينه ومذهبه اه

ونقل السيوطى رحمه الله تعالى فى رسالته المسماة بجزيل المواهب فى اختلاف المذاهب من فصل الانتقال من مذهب الى مذهب وهو جائز الانتقال امرا دنيويا كحصول وظيفة اومرتب اوقرب من الملوك واهل الدنيا هذا حكمه كمهاجر ام قيس لان الامور بمقاصدها ثم له حالان الاول ان يكون عاريا من معرفة الفقه ليس له فى مذهب امامه سوى اسم شافعى اوحنفى كغالب متعممى زماننا ارباب الوظائف فى المدارس حتى ان رجلا سأل شيخه العلامة الكافيجى رحمه الله تعالى مرة يكتب له على قصة تعليقا بولاية اول وظيفة تقرر بالشيخونية فقال له ما مذهبك قال مذهبى خبز وطعام يعنى وظيفة اما فى الشافعية اوالمالكية اوالحنابلة فان الحنفية فى الشيخونية لاخبزلهم ولاطعام فهذا امره فى الانتقال اخف لايصل الى حد التحريم لانه الى الان عامى لامذهب له يحققه فهو يستانف مذهبا جديدا ثانيهما ان يكون فقيها فى مذهبه ويريد الانتقال لهذا الغرض فهذا امره اشد وعندى انه يصل الى حد التحريم لانه تلاعب بالاحكام الشرعية لمجرد غرض الدنيا (العقود الدرية ص۳۲۶ ج۲) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۰ ربيع الآخر سنة ۱۴۱۵ هـ

تیلفون آوریدل لازم ندی

سوال : که په تیلفون زنګ راځی نو تیلفون پورته کول او آوریدل واجب دی او که نه؟ بینو

توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب واجب ندی ځکه چې کله څوك له لرې ځای ځخه راغلي وی او د دروازه بنده وی نو په اهل خانه له هغه سره ملاقات کول لازم ندی

قال الله تعالی: یاایها الذین امنوا لاتدخلوا بیوتا غیر بیوتکم حتی تستانسوا وتسلموا علی اهلها (الی قوله) وان قیل لکم ارجعوا فارجعوا هو ازکی لکم (۲۴:۲۸)

که ټیلفون څوك له خپل کور یا له بل کوم لرې ځای ځخه کوی نو له دې سره ملاقات کول خو په طریقه اولی لازم ندی۔ ۲ ربیع الاول سـ ۱۴۱۶ھـ

دتعویذ حکم

سوال : ځینی خلك وایی چې رقیه (دم) ثابت دې او تمیمه (تعویذ) ثابت ندې بلکه شرك دې لهذا اول جائز اوثانی ناجائز دې آیا واقعی دتعویذ ثبوت نشته اوکه وی نو دجواز شرایط یی څه دی او د ابجدو په حساب سره تعویذ لیکل څنګه دی؟ بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب : له احادیث صحیحه صریحه کثیره نه ددم (رقیه) ثبوت بی غباره دې دتعویذ (تمیمه) لاندې صورتونه ناجائز دی۔

اول توتکه : چې د پیتلو یا وسپنې یازیړو وغیره په توته کښې بند کړې شی۔

دویم : داسی تعویذ چې په هغې کښې اسماء الله او آیات قرانیه او ادعیه ماثوره نه وی بلکه شرکی کلمات وی۔

دریم تعویذ مؤثر بالذات وګڼلې شی لکه چې په زمانې دجاهلیت کښې وو اوس هم په ځینی ځایونو کښې همداسې ګڼل کیږی دا صورتونه بلاشك اوشبه ناجائزاوحرام اوشرك دی۔

په تمیمه کښې که دالله تعالی نومونه، آیات قرآنی او ماثوره دعاګانی وی نو دا جائز اوثابت دی۔ هغو ته ناجائز اوشرك ویل جهالت دې، ځکه چې په داسې تعویذ کښې موثر بالذات صرف الله تعالی بلل کیږی، تعویذ ته شرك ویونکی باندې لازم دی چې د شرك داسې تعریف وکړی چې په هغې کښې تعویذ داخل او دعاء او دواء اورقیه خارج شی۔

حاصل داچې دتمیمه دجواز لپاره درې شرائط دی:

اول په مفهومه لغت کښې وی، **دویم** ماثور اومنقول وی، **دریم** دهغه دنافع بالذات کیدو عقیده نه وی

د ابجدو په حساب هم تعویذ جائزدې ځکه چې داهم لغت مفهومه دې

روایات الحدیث والفقه

۱- عن عوف بن مالك الاشجعی رضی الله تعالی عنه قال کنا نرقی فی الجاهلیة فقلنا یارسول الله کیف تری فی

ذلك فقال اعرضوا على رقاكم لا باس بالرقى ما لم يكن فيه شرك (صحيح مسلم ص ۲۲۴ ج ۲)

۲ — عن ابی سعید رضی الله تعالی عنه قال بعثنا رسول الله صلی الله علیه وسلم فی سریة فنزلنا بقوم فسألناهم القرى فلم يقرونا فلدغ سيدهم فاتونا فقالوا اهل فيكم من يرقى من العقرب قلت نعم انا ولك ارقيه حتى تعطونا غنما قالوا فانا نعطيكم ثلاثين شاة فقبلنا فقرأت عليه الحمد سبع مرات الخ (الجامع ترمذی ص ۲۶ ج ۲)

۳ — عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما قال كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يعوذ الحسن والحسين يقول اعيذ كما بكلمات الله التامة من كل شيطان وهامة ومن كل عين لامة ويقول هكذا كان ابراهيم عليه السلام يعوذ اسحق واسماعيل (الجامع للترمذی ص ۲۶ ج ۲)

۴ — عن عائشة رضی الله تعالى عنها قالت ليست التميمة ما تعلق به بعد البلاء انما التميمة ما تعلق به قبل البلاء رواه الحاكم وقال صحيح الاسناد (الترغيب ص ۲۶۱ ج ۵)

۵ — ان عائشة رضى الله تعالى عنها زوج النبي صلى الله عليه وسلم قالت ليست تميمة ما علق بعد ان يقع البلاء (شرح معانی الآثار، ص ۳۲۳، ج ۲).

۶ — وكان عبدالله بن عمرو رضی الله تعالى عنهما يعلمهن من عقل من بنيه ومن لم يعقل كتبه فاعلقه عليه (ابو داود ص ۵۴ ج ۲)

۷ — وقال الحافظ رحمه الله تعالى: والتمائم جمع تميمة وهی خرزة او قلادة تعلق فی الراس كانوا فی الجاهلية يعتقدون ان ذلك يدفع الآفات الخ (فتح الباری ص ۱۶۶ ج ۱۰)

۸ — وقال الملا على القاری رحمه الله تعالى: واما ما كان من الآيات القرآنية والاسماء والصفات الربانية والدعوات الماثورة النبوية فلا باس بل يستحب سواء كان تعويذا او رقية او نشرة واما على لغة العبرانية ونحوها فيمتنع لاحتمال الشرك فيها (مرقاة ص ۳۲۱ ج ۸)

۹ — وقال ايضا: (او تعلقت تميمة) ای اخذها علاقة والمراد من التميمة ما كان من تمائم الجاهلية ورقاها فان القسم الذی يختص باسماء الله تعالى وكلماته غير داخل فی جملته بل هو مستحب مرجو البركة عرف ذلك من اصل السنة وقيل يمنع اذا كان هناك نوع قدح فی التوكل الخ (المرقاة ص ۳۲۲ ج ۸)

۱۰ — وقال ايضا: (والتمائم) جمع التميمة وهی التعويذة التی تعلق على الصبی اطلقه الطيبی لكن ينبغی ان يقيد بأن لا يكون فيها اسماء الله تعالى وآياته المتلوة والدعوات الماثورة وقيل هی خرزات كانت العرب تعلق على الصبی لدفع العين بزعمهم وهو باطل ثم اتسعوا فيها حتى سموا بها كل عوذة ذكره بعض الشراح وهو كلام

حسن و تعلیق مستحسن (المرقات صفحه ۳۱۸ ج۸)

۱۱ - وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: ولا بأس بالمعاذات اذا کتب فیها القران او اسماء الله تعالیٰ (ردالمحتار ص ۳۳۳ ج۶)

۱۲ - وقال ایضا: (قوله التمیمة المکروهة) اقول الذی رایته فی المجتبیٰ التمیمة المکروهة ما کان بغیر القران وقیل هی الخرزة التی تعلقها الجاهلیة فلتراجع نسخة اخری وفی المغرب: وبعضهم یتوهم ان المعاذات هی التمائم ولیس کذلك انما التمیمة الخرزة (الی ان قال) وفی الشلبی عن ابن الاثیر التمائم جمع تمیمة وهی خرزات کانت العرب تعلقها علی اولادهم یتقون بها العین فی زعمهم وابطلها الاسلام. والحدیث الاخر (من علق تمیمة فلا اتم الله له) لانهم یعتقدون انها تمام الدواء والشفاء بل جعلوها شرکا لانهم ارادوا بها دفع المقادیر المکتوبة علیهم وطلبوا دفع الاذی من غیر الله تعالیٰ الذی هو دافعه (الی ان قال) وعن النبی صلی الله علیه وسلم انه کان یعوذ نفسه قال رضی الله تعالیٰ عنه وعلی الجواز عمل الناس الیوم وبه وردت الاثار (ردالمحتار ص ۳۳۳ ج۶) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۱۱ جمادی الثانیة سنه ۱۴۱۶ هـ

دشیطانی گولی تباهی

سوال د ورزش په نیت فټ بال کول جائزدی او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د ورزش دوه قسمونه دی:

اول هغه چی تعلق یی براه راست له جهاد سره وی، ددې دجواز لپاره داشرط دې چی داسی مقام ورته منتخب شی چی دجهاد دمشق کولو په وجه گیرچاپیره دخه قسم مالی او جانی نقصان هم خطره نه وی خیله د ورزش کونکو دخطرې څخه محفوظ کیدل ضروری ندی که څوك مرهم شی نو هغه شهید دې

دویم هغه چی دهغه براه راست دجهاد له تربیت سره تعلق نشته داسې ورزش دصحت دتحفظ او دینی امورو دمعین کیدو په وجه فی نفسه جائزبلکه څه قدرې ضروری هم دې مګر دهغه لپاره د لاندې شرطونه دی

۱ - ذکرشوې شرط یعنی شاوخوا دهیڅ قسم جانی اومالی نقصان درسیدو خطره نه وی

۲ - خپله دلوبو شریکانو او ورزشکارانو ته چاته دخه قسم جانی اومالی نقصان درسیدو خطره نه وی

۳ - په هغې کښې دورزش په مفهوم دلوبې اولهو لعب اوتماشی جانب غالب نه وی

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم کل شئ یلهو به الرجل باطل الا رمیة بقوسه وتادیبه فرسه وملاعبته امراته فانهن من الحق رواه الترمذی (مشکوة صفحه ۳۳۸ ج)

عن سعید بن المسیب رضی الله تعالیٰ عنه ان عمر بالصدقه معقل رضی الله عنه ...... فقال رسول

الله صلى الله عليه وسلم نهى عن الخذف وقال انها لا تصيد صيدا ولا تنكأ عدوا ولكنها تكسر السن وتفقأ العين قال فعاد فقال احدثك ان رسول الله صلى الله عليه وسلم نهى عنه ثم تخذف لا اكلمك ابدا (صحيح مسلم ص ۱۵۲ ج ۲)

گيند (توپ) اوفټ بال

دا د لاندې فساداتوله وجې جائز ندې

اول په دې کښې دلوبوګډون کونکو ته سخت نقصان رسيږي ددې ډېر مثالونه موجود دی دخينو پښې پکښې ماتيږي اودبعضې په خيټه کښې دلګيدو له وجې دمرګ کومې ته رسيږي چې مونږ په خپله ليدلي دي.

دويم نزدې تيريدونکوته نقصان رسيږي دخينو سترګي وزی اودخينو دخيرې دمسخ کيدو واقعات پيښيږي ددې شيطاني لوبې شاوخوا په شارع عام هم کوم انسان بلکه کوم حيوان هم په اطمينان سره نشي تيريدلې.

دريم: مالي نقصان کله چې ددې دکوم عمارت سره نزدې لوبه کيږي نو دخومره خلکو دکړکيو شيشې ماتوي ددې بې شماره واقعات دي، دوه څله خوله مونږه سره دا حادثه شوې ده.

څلورم: ډېر څله جګړه اوفساد مينځ ته راځي.

ددې شيطاني ګولې مالي، جاني اوجسماني، ديني اوايماني نقصانات په ټوله دنياکښې مسلم دي دهر شخص مشاهد اوبديهي بلکه درڼا ورځې په شان د اجلى البدهيات څخه دي، زما دګوښه نشيني باوجود ددې شيطاني حرکت کوم تباه کاريانې مشاهداوعلم يقين کښې دي خيال مې وو چې ددې څخه دمثال په توګه يوڅوواقعات وليکم مګر له هغې څخه دوه کاره مانع واقع شول.

اول ددې فهرست ډير اوږد دې که انتخاب يې کوم نو څنګه يې انتخاب کړم ؟ ځکه چې يودبل نه غټ واقعات دي.

دويم د داسې حقيقت بديهيه مثالونه ليکل ددې دنظري کولو اويا غير ظاهر کولو مترادف دی ددی مهلک شيطاني ګولې تباهياني دالله تعالى په نافرمانيانو عذاب دې.

﴿وَلَنُذِيقَنَّهُم مِّنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَىٰ دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ ﴿٢١﴾﴾

بيا داسې عذاب اليم په خپلو سترګوليدلوبلکه په خپل ځان دواقع کيدو باوجود دالله تعالى دغو دښمنانو ته عبرت او دهدايت توفيق نه ورکول کيدل عذاب دپاسه دبل عذاب ضعف الحيوٰة وضعف الممات دې

دنفس اوشيطان دبندګانو دعذاب الهي يوصورت داهم دې چې هغوی ته دخپل نفع اونقصان دنيوي هوش هم نه وي نسئل الله السلامة.

دریم په دی کښې دورزش په مفهوم دتماشې مفهوم غالب دې ددغو دلائل له کبله
۱ - هیڅ ورزش ته په ټوله دنیا کښې څوك لوبه نه وایی پهلوانان ورزش کوی ډاکتر دمختلفو امراضو لپاره ورزش تجویز کوی څوك هم دی ته لوبه نه وایی ګیند اوفوټ بال ته څوك هم ورزش نه وایی بلکه لوبې ورته وایی.
۲ - دورزش دلیدو لپاره نور خلك نه جمع کیږی که کوم سړی لاړشی هغه بیله خبره ده دفټ بال لپاره ډیر خلك راځی، مولوی طبقه خلق هم راځی ورته، یوه سړی دفټ بال لوبې کتلو لپاره نوې تی وی واخستلو او کور والوته یی دروغ وویل اوفریب یی ورکړچی دفټبال دمقابلې لپاره د تی وی دجواز فتوی ما دفلانی نه راوړې ده اوپه ماباندې یی افتراء کړې وه چی دافتوی دجواز ده راکړه.
۳ - دفټ بال وغیره دمقابلې کتلولپاره خلك تی وی ته په ساعتونوساعتونو ناست وی دکوم ورزش دلیدلولپاره په کوم حکومت کښې په کوم ملك کښې هیڅ نظم نشته.
۴ - په ورزش کښې څوك هم دومره نه بی خوده کیږی چی دضرورت نه زیات یی وکړی دهغه لپاره وخت معلوم وی یوه ګنټه یا نیمه ګنټه (ساعت) کله چی وخت تیرشی شوق هم ختم شی لیکن ددې شیطانی دندې حال داسی دې چی دشروع کیدوسره هوش ختم شی بیا لګیاوی. معلومه شوه چی دا ورزش ندې بلکه تماشه اولوبه ده. والله سبحانه وتعالی اعلم.

په تفریحی تالاب کښې لامبوزده کول

سوال: په تفریحی تالابونو کښې دلامبو زده کولو یا تفریح کولو لپاره لامبل جائزدی او که نه چی هلته دبی دینی فساقو اوفجاروهجوم وی او ورنونه یی ښکاره وی.
ځینی خلك وایی چی مونږ په نیت دجهاد دلامبووهلو لپاره ځو کله چی په بازارونوکښې دمنکراتو له دکانونه څخه دخپل حاجت پوره کولو لپاره تلل جائزدی نو د جهادی ضرورت لپاره هم په طریقه اولی داسې تالابونو ته تلل جائزکیدل په کار دی. په دې باره کښې دشریعت مطهره څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په تالاب کښې لامبل په حاجات عامه وو باندی قیاس کول صحیح ندی له دې وجی نه له دې څخه احتراز لازم دې بالخصوص دعلماؤ اوصلحاؤلپاره زیات قبیح دی هذا ومسئلة دخول الحمام مشهورة وفی کتب المذهب مزبورة ، والله سبحانه وتعالی اعلم

غره صفر ۱۴۱۷هـ

دنابالغ ستر ته کتل

سوال دنابالغ ماشوم سترته کتل جائزدی اوکه ناجائز؟ په عورت غلیظه اوخفیفه کښې فرق

شته او که نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دوړو وړو ماشومانو عورت غليظه او خفيفه دواړو نه کتل جائز دي د اوو کالو په عمر کښې صرف خفيفه ته کتل جائز او غليظه ته کتل ناجائز دي له اوو کالو پورته ماشوم په حکم د بالغانو کښې دي لهذا په دغه عمر کښې غليظه او خفيفه دواړو نه کتل ناجائز دي په حد صغر کښې د څلورو کالو قول بلانسبت مذکور دي مگر له تحقيق نه ثابته شوه چې په دغه عمر کښې ماشوم له استنجاو غيره څخه نه مستغنى كيږى لهذا په دې کښې راى د مبتلاء به معتبره ده دعورت غليظه څخه دلويو او وړو بولو مقام او دهغه شاوخوا مراد دې اوعورت خفيفه له دې ځايونو نه ماسوا باقى حصه ده

قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى: وفى السراج لاعورة للصغير جدا ثم مادام لم يشته فقبل ودبر ثم تغلظ الى عشر سنين ثم كبالغ (الى قوله) والغليظة قبل ودبر وما حولهما والخفيفة ما عدا ذلك.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله لاعورة للصغير جدا) وكذا الصغيرة كما فى السراج فيباح النظر والمس كما فى المعراج قال ح وفسر شيخنا بابن اربع فما دونها ولم ادر لمن عزاه (ردالمحتار ص۲۷۳ ج۱)

وقال ايضا: (ثم يغلظ بعد ذلك الى عشر سنين) قال فى النهر : وكان ينبغى اعتبار السبع لانهما يومر ان بالصلاة اذا بلغا هذا السن الخ (البحر ص۲۷۰ ج۱) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۰ جمادى الثانيه سنه ۱۴۱۷ هـ

له حرام مال څخه اختل شوې مال هم حرام دې

دا مسئله د خوراك او څښاك د شيانو په باب کښې د (مال حرام نه اختل شوې طعام هم حرام دې) ترعنوان لاندې تيره شوې ده.

دمعصيت د آلاتو د ماتولو حکم

سوال دگانو او سرود سامان او دشرابو لوښى ماتول جائز دى او که نه؟ همداراز په ماتولو بې ضمان شته او که نه؟ او که دا آلات دذمى سره وى بيا يې څه حکم دې ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : دمعصيت آلات ماتول جائز دى او په لاندې درې صورتونو کښې بې بالاتفاق ضمان نشته

اول دا آله دلهو او لعب نه ماسوا په بل څه کښې نه استعماليږى

دويم دامام په اجازه مات شوې وى

دريم آلات لهو ولعب له مغنى سره وى او دشرابو لوښى له شراب خرڅونکښې، خمار، سره وى په كوم ځاى کښې چې دا درې صورتونه منتفى وى يعنى آله په جائز كار کښې داستعمال صلاحيت ولرى يا د امام اجازه نه وى له مغنى يا خمار سره نه وى نو په وجوب الضمان کښې ...

اختلاف دي د امام صاحب په نزد دلرګيو او غيره اجزاؤچی د لهو او لعب په کار نه راځي دهغو ضمان واجب دي او دصاحبينو په نزد هيڅ هم واجب ندی فتوی دصاحبينو په قول ده لفساد الزمان

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وضمن بكسر معزف بكسر الميم آلة اللهو ولو لكافر ابن كمال قيمته خشبا منحوتا صالحا لغير اللهو وضمن القيمة لا المثل بإراقة سكر ومنصف سيجيء بيانه في الأشربة وصح بيعها كلها وقالا لا يضمن ولا يصح بيعها وعليه الفتوى ملتقى ودرر وزيلعي وغيرها وأقره المصنف.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وقالا الخ) هذا الاختلاف في الضمان دون إباحة إتلاف المعازف وفيما يصلح لعمل آخر وإلا لم يضمن شيئا اتفاقا وفيما إذا فعل بلا إذن الإمام وإلا لم يضمن اتفاقا وفي غير عود المغني وخابية الخمار وإلا لم يضمن اتفاقا لأنه لو لم يكسرها عاد لفعله القبيح وفيما إذا كان لمسلم فلو لذمي ضمن اتفاقا قيمته بالغا ما بلغ وكذا لو كسر صليبه لأنه مال متقوم في حقه قهستاني لكن جزم القهستاني وابن الكمال أن الذمي كالمسلم فليحرر در منتقى القول وجزم به في الاختيار أيضا ولعله اقتصر في الهداية على ذكر المسلم لكونه محل الخلاف وبه يحرر المقام فتدبر. (ردالمحتار ص۱۳۳ج۵)

وقال العلامة مجدالدين الموصلي رحمه الله تعالى: ويجب في كسر المعازف قيمتها لغير اللهو سواء كانت لمسلم أو ذمي كالبربط والطبل والدف والمزمار والجنك والعود ونحوها ويجوز بيعها وقالا: لا يضمن ولا يجوز بيعها لأنها أعدت للمعاصي فلا تضمن كالخمر ومتلفها يتأول النهي عن المنكر وأنه مأمور به شرعا فلا يضمن كالقاضي وبل أولى (الاختيار ص۶۵ج۳) والله سبحانه وتعالى أعلم. ۲۶ ذی الحجه سنه ۱۴۱۷

حكم الاستمناء بيد الزوجه

سوال د ښځې په نس يا ورانه يا لاس استمتاع کول او انزال کول جائز دی او که نه؟ همدارنګه ښځی نه دخاوند په لاس د استمتاع نه پس د انزال څه حکم دې؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب بضرورت تسکين جائز بلا کراهت او بلا ضرورت مکروه تنزيهی دی

قال ابن عابدين رحمه الله تعالى معزيا لمعراج الدراية: ويجوز أن يستمني بيد زوجته وخادمته اهـ وسيذكر الشارح في الحدود عن الجوهرة أنه يكره ولعل المراد به كراهة التنزيه فلا ينافي قول المعراج يجوز تأمل (رد المحتار ص ج۲) والله سبحانه وتعالى أعلم. ۱۱ ربيع الاول سنه ۱۴۱۸ھ

د طبعي حقوق محفوظ ساتل جائز ندی

دا بحث په تتمه کښې په «رساله القول الصدوق لبيع الحقوق» کښې دې

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿ قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّهِ الَّتِي أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ وَالطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ قُلْ هِيَ لِلَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ ﴾

الاكتحال للرجال

خلاصه: له بعضې کتابونو نه معلومیږي چې په قصد د زینت رانجه د سړیو لپاره مکروه دي، په ژور نظر تحلیل کښې صفحه وضاحت شوی دی او دا ثابته کړې شوې ده چې سړیو ته په قصد دزینت رانجه لګول بلاکراهیته جائز دي

په قصد دزینت رانجه لګول جائزدي

سوال ۱ــ ولا بأس بالاكتحال للرجال اذا قصد به التداوي دون الزينة. (هدايه ص ۲۰۰ ج۱ كتاب الصوم)

۲ــ ولا بأس بالاثمد للرجال باتفاق المشائخ ويكره الكحل بالاسود بالاتفاق اذا قصد به الزينة واختلفوا فيما اذا لم يقصد به الزينة عامتهم على انه لا يكره كذا في جواهر الاخلاطي (عالمگيرية كتاب الكراهية)

له دغو عباراتو څخه معلومه شوه چې سړیو ته تور رانجه لګول په قصد دزینت سره مکروه دي آیا دا خبره صحیح ده یعنې دتداوي نه بغیر دسړیو لپاره تور رانجه لګول د زینت لپاره جائزدي او که مکروه دي؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب حضور صلی الله علیه وسلم به په طور دعادت مستمره سره رانجه پورې کول. نوروته به یې هم په «علیکم» الفاظو سره د دوام اواستمرار اوالتزام تاکید کولو که دسړیو لپاره په قصد د زینت سره کوم کراهیت وای نو حضور صلی الله علیه وسلم به ضروریې دې تنبیه ورکړې وه. په موقع دتنبیه کښې سکوت دلیل دعدم کراهیت دې. له دې نه علاوه حضور صلی الله علیه وسلم لره الله تعالی خلقة «اکحل» پیداکړې وو. که په رنجو لګولو کښې نشبه بالنساء وای نو دا خو ډیر لوئ عیب دې. لدې څخه دا لازمیږي معاذالله چې الله جل جلاله نبي کریم صلی الله علیه وسلم خلقةً معیب پیداکړې. نودا خونقص شو حالانکه دا دحضور صلی الله علیه وسلم په جمال کښې شمارل کیږي. الله تعالی ټول انبیاء علیهم السلام له هر قسم عیوب جسماني نه پاك اومنزه اوصبرا پیداکړي دي. نو آیا دچا عقل سلیم به دا تسلیم کړای شي چې به نبي کریم صلی الله علیه وسلم کښې دې دومره لوئ عیب پیداشي

له دې تفصیل څخه ثابته شوه چې دسړیو لپاره رانجه لګول په قصد دزینت بلاکراهیته جائزدي شریعت دسړیو لپاره رانجه د نکریزو او نورو رنګداره شیانو دزینت دممانعت نه مستثنی کړی دی

لکه څنګه چې دوېښتانو لپاره خضاب غير اسود (سره نکريزې) مستثنى دى

باتې شوه داخبره چې دحضور صلى الله عليه وسلم قول او عمل تر (اثمد) پورې خاص وو د

احتمال چې (اثمد) تورنه وی. د داسې احتمالات بعيده له تسليم کولو سره سره بيا هم معنه دقصد زينت موجوده ده مع هذا نه رسول الله صلى الله عليه وسلم او نه له کوم صحابي څخه دکراهت قول منقول دې اونه له حضرت امام رحمه الله تعالى څخه. بلکه برعکس امام ابن عربى رحمه الله نه دجواز بلاکراهيته تصريح منقوله ده

ونصه: الكحل يشتمل على منفعتين احداهما زينة والثانية تطيب فاذا استعمل للزينة فهو مستثنى من الصبغ الذي يلبس الصبغة بالملة كالوصل والوشم والتفلج والتنمص رحمة من الله لخلقه ورخصة منه لعباده واذا استعمل بنية التطيب لتقوية البصر من ضعف يعتوره واستدبابات الشعر الذي يجمع النور للادراك فهو بصد الاقصة الطالبة له ثم ان كحل الزينة لا حدله شرعا وانما هو بقدر الحاجة في بدوه وعفائه الخ (شرح الشمائل للمناوي على هامش جمع الوسائل ص ۱۰۳ ج۱)

دمذکوره حقيقت په نظر کښې دنيولو سره فقهاء کرامو رحمهم الله تعالى دکراهيت دقول دوه محله بيان کړی دی

اول په زينت کښې دومره افراط چې مفضى وى تشبه بالنساء ته

دويم نمائش اوفخر مقصود وى

قال الامام ابن الهمام رحمه الله تعالى: (قوله دون الزينة) لانه تعورف من زينة النساء. ثم قيد دهن الشارب بذلك ايضا وليس فيه ذلك وفي الكافي يستحب دهن شعر الوجه اذا لم يكن من قصده الزينة به ورد في السنة الامر بهما ايضا. هذا القصد فكانه والله اعلم لانه تبرج بالزينة وقد روى ابوداود والنسائي عن ابن مسعود رضي الله تعالى عنه كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يكره عشر خلال ذكر منها التبرج بالزينة لغير محلها وسلوم هيئته على ما نبه الله تعالى في كتاب الكراهية وفي الموطا عن ابي قتادة رضي الله تعالى عنه قال يا رسول الله صلى الله عليه وسلم ان لي جمة افارجلها قال نعم واكرمها فكان ابو قتادة رضي الله تعالى عنه ربما دهنها في اليوم مرتين من اجل قول رسول الله صلى الله عليه وسلم لا لحظ النفس الطالبة للزينة الظاهر او ذلك لان الاكرام والجمال المطلوب يتحقق مع دون هذا المقدار وفي سنن النسائي ان رجلا من اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم يقال له عبيد قال ان رسول الله صلى الله عليه وسلم كان ينهى عن كثير من الارفاه فسئل ابن بريدة رضي الله تعالى عنه عن الارفاه قال الترجيل والمراد والله اعلم الترجيل الزائد الذي يخرج الى حد الزينة

لاما كان لقصد رفع اذى الشعر والضعف هذا ولاتلازم بين قصد الجمال وقصد الزينة فالقصد الاول لدفع الشين واقامة مابه الوقار واظهار النعمة شكرا لافخرا وهو اثر ادب النفس وشهامتها والثاني اثر ضعفها وقالوا بالخضاب وردت السنة ولم يكن لقصد الزينة ثم بعد ذلك ان حصلت زينة فقد حصلت في ضمن قصد مطلوب فلا يضره اذا لم يكن ملتفتا اليه (فتح القدير ص۶ج۲)

وقال العلامة ابن نجيم رحمه الله تعالى بعد نقل مامر عن الفتح :

ولهذا قال الولوالجي في فتاواه لبس الثياب الجميلة مباح اذا كان لايتكبر لان التكبر حرام وتفسيره ان يكون معها كما كان قبلها اھ (البحر الرائق ص۲۸۱ج۲)

وكذا نقل العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى عن الفتح والبحر (رد المحتار ج۲ص۱۲۳)

له مذكوره تحريراتو څخه دا ثابته شوه چې رانجه لګول ، تيل لګول، ږمنز خضاب (غير اسود) اوښائسته لباس وغيره د زيب اوزينت اسباب دټولو يو حكم دې. يعنې په غرض د ښائست مباح بلكه مندوب دى اوپه غرض د نمائش ناجائزاو حرام دى . والله سبحانه وتعالى اعلم .

۴ شعبان سنـــ ۱۴۱۱ھـــ

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَمَا تَوْفِيقِيٓ إِلَّا بِٱللَّهِ ۚ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ۝﴾

توقيع الاعيان على حرمة ترقيع الانسان

«دانسانی اعضاؤپیوند کول»

دانسانی اعضاؤ پیوند کول او وینه ورکول

سوال دوه مریضان دی چی دیوه قوت باه بالکل ختمه شوی ده اوهغه شادی شده «واده شوی» دی او د دویم مریض قوت باه صحیح ده مگر هغه په یوبل مرض مبتلاء دی. دواړه مریضان دیوه مشر ډاکتر تر علاج لاندې دی، دکوم مریض چی مردانه قوت صحیح وو هغه انتقال وکړو «وفات شو» مشر ډاکتر دهغه آله تناسل قطع کړه او دې بل مریض ته یی ولگوله، دهغه قوت باه صحیح شو. او د ښځې دضرورت پوره کولو قابل وگرځیده او اولاد پیداکیدل یی هم شروع شو. آیا دا شرعا جائزدی اوکه غیر جائز؟ که عام سرجن «عمومی جراحی والا» ډاکتر داسی نه وای کړی نو مریض نه جوړیده او زندگی به یی تباه کیدله که دا صورت شرعاً جائزنه وی نو آیا دا سړی به خپلې ښځې ته طلاق ورکوی یا بل څه وکړی ؟ د ذکر شوی فعل دجواز یوه فتوی دروليږل شوه ددې متعلق هم خپل تحقيق وليکئ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب دلته څلور سوالونه پیداکیږی:

اول آیا دانسان جزء دتداوی لپاره استعمالول جائزدی اوکه نه؟

دویم که ناجائزوی نو دپیوست شوی جزء قطع کیدل واجب دی اوکه نه؟

دریم که قطع واجب نه وی نو داسې آله دجماع لپاره استعمالول جایزدی اوکه نه؟

څلورم که جماع جائز نوی نو آیا ښځې ته طلاق ورکول واجب دی اوکه نه؟

پنځم اولاد ثابت النسب دي اوکه نه؟

ددغو پنځه واړو سوالونو ځوابونه په ترتیب سره لیکل کیږی

۱ ـ قال في التاتارخانية ويقدم المضطر الميتة على الصيد (صيد الحرم) والصيد على مال الغير ولحم الانسان والخنزير ولو انسد عليه الطريق بالمال يحل بمال كما لا يأكل طعام مضطر آخر (رد المحتار ص۲۳۲ ج۲)

الضرر لا يزال بالضرر ولا يأكل المضطر طعام مضطر آخر ولا شيئا من بدنه (الاشباه ص۱۰۰)

مضطر لم يجد ميتة وخاف الهلاك فقال له رجل اقطع يدي وكلها او قال اقطع مني قطعة وكلها لا يسعه ان

يفعل ذلك ولا يصح امره به كما لا يسع للمضطر ان يقطع قطعة من نفسه فيأكل (خانية ص ۴۰۴ ج ۳ عالمگيرية ص ۳۳۸ ج ۵ شامية ص ۲۱۵ ج ۵)

وروى عن ابى امامة بن سهل بن حنيف ان النبى صلى الله عليه وسلم داوى وجهه يوم احد بعظم بال. فيه دليل جواز المداواة بعظم بال وهذا لان العظم لا يتنجس بالموت على اصلنا لانه لا حياة فيه الا ان يكون عظم الانسان او عظم الخنزير فانه يكره التداوى به لان الخنزير نجس العين فعظمه نجس كلحمه لا يجوز الانتفاع به بحال والادمى محترم بعد موته على ما كان عليه فى حياته وانما لا يجوز التداوى بشئ من الادمى الحى اكراماً له فكذلك لا يجوز التداوى بعظم الميت قال رسول الله صلى الله عليه وسلم كسر عظم الميت ككسر عظم الحى (شرح السير الكبير ص ۸۸ ج ۱)

الانتفاع باجزاء الادمى لم يجز قيل للنجاسة وقيل للكرامة هو الصحيح كذا فى جواهر الاخلاطى (عالمگيرية ص ۳۵۴ ج ۵)

واذا كان برجل جراحة يكره المعالجة بعظم الخنزير والانسان لانه يحرم الانتفاع به كذا فى الكبرى (عالمگيريه ص ۳۵۴ ج ۵)

ولو سقط سنه يكره ان ياخذ سن ميت فيشدها مكان الاولى بالاجماع وكذا يكره ان يعيد تلك السنة الساقطة مكانها عند ابى حنيفة ومحمد رحمه الله تعالى ولكن ياخذ سن شاة ذكية فيشدها مكانها وقال ابو يوسف رحمه الله تعالى لا باس بسنه ويكره سن غيره (بدائع ص ۱۳۲ ج ۵)

لا باس بان يسعط الرجل بلبن المراة ويشربه للدواء (عالمگيرية ص ۳۵۵ ج ۵)

له پورتنيو عبارتونو څخه لاندې امور ثابت شول:

اول صرف مضطر د خان د ژغورلو لپاره د مړه انسان غوښه خوړې شي او له دې څخه معلومه شوه چې د مړي کومه عضوه بطور علاج استعمالول جائز ندي اگر که مريض ته د هلاکت خطروي دا د اکل د مضطر قياس کول له دوو وجوهو صحيح ندي.

۱ - له اکل څخه شبع او حيات متيقن دې او له تداوى څخه صحت متيقن ندې.

قال فى العلائية الاكل للغذاء والشرب للعطش ولو من حرام او مال غيره وان ضمنه يثاب عليه وفى الشامية بخلاف من امتنع عن التداوى حتى مات اذ لا يتيقن بانه يشفيه (رد المحتار ص ۲۱۵ ج ۵)

الرجل استطلق بطنه او رمدت عيناه فلم يعالج حتى اضعفه واضناه ومات منه لا اثم عليه فرق بين هذا

وبین ما اذا جاع ولم یاکل مع القدرة حتی مات حیث یأثم والفرق ان الاکل مقدار قوته مشبع بیقین فکان ترکه اهلاکا ولا کذلک المعالجة والتداوی کذا فی الظهیریة (عالمگیریة ص ۳۵۶ ج ۶)

۲ ۔ داکل په صورت کښې خوړل شوې اندام (عضو) هلاك اولاشي وګرځي او پیوند شوې عضو باقي وي. ددغو وجوهو په بناء داحنافو فقهاوؤ څخه علاوه امام شافعي رحمه الله تعالی دمضطر لپاره دمړه انسان خوړل جائزبولي مګر د تداوی لپاره دانسان هډوکښې پیوند کول ناجائز بولي.

ونصه: واذا کسر للمرأ عظم فطار فلا یجوز ان ترقعه الا بعظم ما یوکل لحمه ذکیا وکذلك ان سقطت سنه صارت میتة فلا یجوز له ان یعیدها بعد ما بانت فلا یعید سن شیئ غیر سن ذکی یؤکل لحمه وان رقع عظمه بعظم میتة او ذکی لا یؤکل لحمه او عظم انسان فهو کالمیتة فعلیه قلعه واعادة کل صلاة صلاها وهو علیه فان لم یقلعه جبرة السلطان علی قلعه (الام ص ۴۷ ج ۱)

دویم: مضطر دژوندی انسان غوښه اودخپل بدن کومه عضوه نشي خوړلې لدې څخه معلومیږي چې نن سبا دمریض له یوې حصې څخه غوښه اخستل اوپه بل ځای کښې لګول چې معمول دې دا ناجائز دی. کله چې په حالت داضطرار کښې دخان ژغورلو لپاره خپله یا د بل چا غوښه یا څرمن پرې کول او دهغې استعمالول جائز ندی، نو د تدای لپاره په طریق اولی سره جائز ندی.

بعضې عالمانو د یو مریض خپله عضوه دهغه له یوې بلې عضوې سره د پیوند کولو په جواز باندې دبدائع دا ذکرشوې جزئیه پیش کوی، داقیاس ځکه صحیح ندې چې عضو دهغه په اصلي ځای کښې لګولوته مرمت نه ویل کیږی، لهذا په هغې کښې اهانت نشته په بل ځای کښې لګولوته مرمت ویل کیږی چې هغه اهانت دې.

ولذا قال العلامة الکاسانی رحمه الله تعالی: واعادة جزء منفصل الی مکانه لیلتئم یجوز کما اذا قطع شیئ من عضوه فاعاده الی مکانه ولا اهانة فی استعمال جزء نفسه فی الاعادة الی مکانه (بدائع ص ۱۳۳ ج ۵)

له دې وجې نه له دې جزئي څخه بل ځای ته دنقل کولو جواز نه ثابتیږی خوسره لدې په وخت دضرورت شدیده کښې ددغو علماؤ په توسیع باندې په عمل کولو کښې ګنجائش معلومیږی.

دریم: دژوندی انسان دغوښې څخه علاوه په باقي اجزاؤ لکه وینه، شیدې وغیره باندې تداوی کول د تداوی بالمحرم حکم لری. له دې څخه معلومه شوه چې په وخت دضرورت شدیده کښې دځان د ژغورلو لپاره د وینې ورکول جائزدی مګر دوینې اخستل اوخرڅول جائزندی، که وینه مفته نه پیداکیږی اوسخته مجبوری وی نو د اخستلو ګنجائش یې شته. خرڅونکې په هر حال کښې ګنهګار دې. اعضاء په وینه اوشیدو قیاس کول صحیح ندی، ځکه چې شیدې خو د ارضاع لپاره تخلیق او پیدا شوی دی. اودوینې فرق په لاندې وجوهو سره دی.

اول دير خله دويني ويستل ناخوښ وي بلکه دقصداً اخراج په خاي قدرة دتکسير وغيره په ذريعه اخراج کيږي.

دويم دويني په اخراج کښي قطع او خيرول نه کيږي.

دريم لحوق شين (عيب) هم نه کيږي.

څلورم وينه ورکول تغذيه ده تداوي نه ده.

۲ - قال في البحر معزيا الى الذخيرة سقط سنه فاخذ سن الكلب فوضعه موضع سنه (الى قوله) ان كان يمكن قلع سن الكلب بغير ضرر يقلع وان كان لا يمكن الا بضرر لا يقلع (البحر الرائق صه ۲۰۸ ج۸)

چونکه دلته د آله تناسل قطع کول بلاضرر ممکن نه دي لهذا دهغې قطع کول واجب ندي.

۳ - دهغه په استعمال سره به دبولو اود استنجاء د مس وغيره لپاره دمجبورئ له وجې نه ماخوذ نه وي مگر استعمال يي دجماع لپاره مجبورئ نده، لهذا په خپل اصل حرمت باندې دباقي پاتي کيدو (حرمت استعمال جزء الادمي) له وجې جماع ورباندې حرامه ده، ښځه اوخاوند به دواړه گنهگار وي، ښځې ته دهغه ليدل او مس کول جائز ندي.

قال في شرح المنية ان الثاني (ستر الغليظة والخفيفة) هو المأخوذ به لقول عليه الصلوة والسلام لعلي رضي الله تعالى عنه لا تنظر الى فخذ حي ولا ميت ولان ما كان عورة لا يسقط بالموت ولذا لا يجوز مسه (ردالمحتار صه ۳۰۰ ج۱)

وفي البحر في باب شروط الصلوة كل عضو هو عورة من المراة اذا انفصل عنها هل يجوز النظر اليه فيه روايتان الثانية لا يجوز وهو الاصح وكذا الذكر المقطوع من الرجل وشعر عانته اذا حلق على هذا والاصح انه لا يجوز (حموي على الاشباه صه ۱۸۸ ج۱)

۴ - دښځې په مطالبه طلاق ورکول واجب دي، ومسئلة العنين والمجبوب مشهورة وفي كتب المذهب مزبورة

۵ - دنسب دثبوت تعلق تر نطفې پورې دې لهذا اولاد به ثابت النسب وي ونظائرها متكاثرة في الكتب المتوافرة.

دجواز په فتوی باندې تنقيد

په دې فتوی کښې يې دترقيع انسان دجواز ثابت کولو لپاره يوولس دلائل پيش کړي دي:

(۱) ولابي حنيفة رحمه الله تعالى ان الاطراف يسلك بها مسلك الاموال فيجري فيها المذل بخلاف النفس فانه لو قال اقطع يده فقطعه لا يجب عليه الضمان وهذا اعمال البذل الا انه لا يباح لعدم الفائدة وهذا البذل

مانيه لاندفاع الخصومة فصار كقطع اليد للاكلة وقطع السن للوجع. (هداية صـــ ۱۰۹ كتاب الدعوى)

تنقيد

اول اباحت دقطع يد اوقطع سن وغيره په خپله دصاحب جزء دنفع بلکه ددفع ضررلپاره دی.
ثانيا دلته صرف اباحت دقطع الجزء دي نه دهغه داستعمال.
پورته بيان شوی دی چی مضطر دخان دژغورنې لپاره خپله غوښه نشي خوړلې نو د تداوی لپاره به دا څنګه جائزشي؟ د اجزاء الادمی دبذل او استعمال اوبيع اوشراء په حرمت باندې صريح عبارات په دومره کثرت سره موجود دی چی دهغې شميرل مشکل دی، پس په مذکوره جزئيه کښې دبذل دلفظ دراتللو له وجی دتولې ذخيرې دحديثو اوفقهي خلاف دبيع اوشراء وغيره دثابت کولو کوښښ کول څومره لوی جرئت دي.

(۲) جوازشق بطن الميت لاخراج الولد اذا كانت ترجى حياته وقد امر به ابوحنيفة رحمه الله تعالى فعاش الولد كما الملتقط (الاشباه صـ ۱۱۲ ج۱)

تنقيد

له دې عبارت نه خو صرف جواز دقطع الميت بلکه شق الميت ثابتيږی نه جواز داستعمال داجزاؤ، او شق الميت هم صرف داحياء دنفس لپاره جائز دې نه دمحض تداوی لپاره.
داحادثه دنجات ورکولو له قبيلې نه ده لکه اکل دمضطر ميتی لره چی فرض دی، پداسې حال کښې چی تداوی فرض نده، علاوه له دې نه داهم دتوليد يوه متبادله طريقه ده.

(۳) وان اضطر ولم يجد شيئا فهل يجوز له ان يقطع شيئا من بدنه ويأكله وجهان قال ابو اسحاق يجوز لانه احياء نفس بعضو وجاز كما يجوز ان يقطع عضوا اذا وقعت فيه الاكلة لاحياء نفسه الخ (شرح المهذب للنووی جـ ۹ صـ ۴۱)

(۴) وقال الشافعي رحمه الله تعالى يأكل لحم بني ادم (الى قوله) والصحيح عندى ان لا يأكل الادمي الا اذا تحقق ان ذلك ينجيه ويحييه. (احكام القران لابن العربي صـ ۵۸ جـ ۱)

تنقيد

په دې کښې داکل مضطر مسئله ده، او پورته دا خبره بيان شوه چی په هغې باندې تداوی قياس کولو صحيح ندی.
علاوه له دې نه دتداوی بعضو الانسان حرمت دفقه حنفي نه علاوه له امام شافعي رحمه الله تعالى څخه هم صراحتا ثابت دی وقدمنا نصوصهم

(۵) ويجوز للعليل شرب الدم والبول واكل الميتة للتداوي اذا اخبره الطبيب ان شفاءه فيه ولم يجد من المباح مايقوم مقامه وان قال الطبيب يتعجل شفاؤك فيه وجهان (الهندية ص۳۵۵ ج۵)

(۶) اذا سأل الدم عن انف انسان ولاينقطع حتى يخشى عليه الموت وقد علم انه لو كتب الفاتحة والاخلاص بذلك الدم على جبهته ينقطع فلا يرخص فيه. قيل يرخص كما رخص في شرب الخمر للعطشان واكل الميتة في المخمصة وهو الفتوى نقلا عن الخانية (ردالمحتار ص۲۱۳ ج۱)

تنقيد

په دغو جزئياتوکښې دتداوی بالحرام بيان دي، او بره وليکل شول چې لحم الانسان ترينه مستثنی ده، کله چې مضطر دځان ژغورلو لپاره لحم الانسان نشي خوړلې نو تداوی به څنګه ورباندې جائزشي ؟ البته مضطرته دمړه انسان دغوښې خوړلودجواز قول موندل کيږي ليکن په هغه تداوی قياس کول ندی صحيح کماحررنا.

(۷) وسبب الاباحة الی حفظ النفس عن الهلاك لكون هذه المصلحة اعظم من مصلحة اجتناب النجاسات والصيانة عن تناول المستخبثات (المغني ص۳۱۶ ج۹)

(۸) الضرورة تبيح المحظورات ومن ثم جاز اكل الميتة عند المخمصة واساغة اللقمة بالخمر والتلفظ بكلمة الكفر للاكراه وكذا اتلاف مال الغير (الاشباه ص۱۰۸ ج۱)

تنيقد

دضرورت په وخت کښې په اباحت دمحظوراتو کښې تفصيل دي. دهر ضرورت له وجې هر محظورنه مباح کيږی لکه لحم الانبياء عليهم السلام او دمضطرمال په هيڅ حال کښې مباح نشي ګرځيدلې کما قدمناه عن الشاميه وغيرها.

(۹) وقوله للضرورة: في فتح القدير ههنا خمسة مراتب ضرورة وحاجة ومنفعة وزينة وفضول.

فالضرورة بلوغه حداً ان لم يتناول الممنوع هلك اوقارب وهذا يبيح تناول الحرام.

والحاجة كالجائع الذي لولم يجد ما ياكله لم يهلك غيرانه يكون في جهد ومشقة وهذا لايبيح الحرام ويبيح فطر الصوم. والمنفعة كالذي يشتهي خبز البر ولحم الغنم والطعام الدسم. والزينة كالمشتهي لحلوى والسكر. والفضول التوسع باكل الحرام والمشتبه (شرح الحموی ص۱۰۸ ج۱)

تنقید

په دی عبارت کښې دالحاجة په تفسیر کښې تصریح ده چی څو پورې خوف الهلاك غالب نه وی تر هغه وخته پورې داکل الحرام اجازت نشته. نو دخوف هلاکت څخه بغیر د تداوی لپاره په څنګه جائزوی، خصوصاً چی تداوی له اکل څخه اهون ده کما قدمناه مراراً

(۱۰) لوکان احدهما اعظم ضررا من الاخر فان الاشد یزال لا الاخف (الاشباه ص ۱۱۲)

(۱۱) قاعدة رابعة: اذا تعارض مفسدتان روعي اعظمهما ضررا بارتکاب اخفهما (الاشباه ص ۱۱۲ ج ۱).

تنقید

دکوم انسان دقوت بینائی یاقوت مردانه نقص یا فقدان په خپل حال باندې په باقی پاتې کیدلو کښې زیات ضرر دې اوکه ددې له خاطره دبل انسان په تذلیل اوتحقیر اوقطع او برید اوسترګی ایستلو کښې ؟

دیوشخص دفائدې لپاره دویم انسان ته نقصان رسول څنګه جائزکیدې شی ؟ له جلب منفعت نه دفع مضرت مقدم دې یا داسې وویل شی چی له احداث دضررنه ابقاء دضرر اهون دې

یاتعجب په دې خبره دې چی دجزئیات کثیره صریحه باوجود له کلیاتو څخه داستنباط کولو جرئت څنګه کیږی ؟

ددی فتوی په آخر کښې انسان ته دپیوند لګولو په غرض دضرورت په تعریف کښې یی هم بلا دلیله پیوند لګولې دې فرمایی ، دضرورت تعریف څنګه چی شارح کړې دې که مخی ته کیښودل شی هغه باید معیارونه ګڼل شی څکه چی دانسان کرامت ته شریعت دیر لوی حیثیت ورکړی دې ،

نو آیا دهغه دمرګیدو وروسته دهغه کرامت ختمیږی چی دهغه بی حرمتی. اعضاء قطع کول دسترګی ایستل اودهغو خرید اوفروخت جائزوګرځی. بیا دقوت بصارت یاقوت رجولیت دفقدان مهلك کیدل خوپریږده له هغه څخه په عام صحت باندې هیڅ کوم بد اثر نه غورځیږی. د داسې مراضو دعلاج په خاطر دانسان دبی حرمتی دجواز هیڅ ګنجائش نه ترسترګوکیږی . فقط . والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۹ ربیع الاخر سنه ۱۳۸۷ھ

الحاق

(۱) دبنده ددغه تحریرنه وروسته د دارالعلوم کراچی مدرسه نیوتاون او دارالافتاء والارشاد مشترك مجلس تحقیق مسائل حاضره، بالاتفاق دبنده دتحقیق موافق دحرمت فیصله وکړه. لدی وجی نه بنده ددغه زیر نظر رسالې نوم ،توقیع الاعیان علی حرمة ترقیع الانسان، تجویزکړ و

د مجلس تحقیق ، مشترك عمل اودټولوارکانو متفقه فیصله حضرت مفتی محمدشفیع

...احب رحمه الله تحرير كړه چې مستقله رساله په نوم د،انساني اعضاء كي پيوند كاري، شائع شوه ‹۲› دبنده دتحرير څخه دوه پښت كاله وروسته په دې موضوع باندې له مختلفو ملكونو څخه داهل قلم لس ضخيمې مقالې ماته راغلې چې په هغو كښې اتو د ترقيع انسان په حلت ثابتولو كښې دقلم زور مصرف كړې وومگر په هغو كښې دليكل شوو دلائل څخه يوهم مثبت دمدعى ندې بلكه ټول دلائل داسې ساقط دي چې لائق داعتبار هم ندي. سره له دې په هغو كښې د دوه دلائلو متعلق څه ليكل مناسب معلوميږي.

اول : عن عبادة رضي الله تعالى عنه من تصدق بشئ من جسده اعطى بقدر ما تصدق (الجامع الصغير صـ ۱۶۸ جـ ۲)

له دې څخه ثابتول غواړي چې دچا دخپل جسم څخه څه حصه وركول صدقه ده اوپه هغې اجر وركول كيږي.

ددې سطحي خلك چې كله هم مفكر اسلام جوړشول نو ددې دين دې هم الله حافظ شي.

دقرآن اوحديث ادنى علم لرونكې هم ددې حديث په مطلب پوهيدې شي چې دا دجنايت متعلق دې يعنې چاچې پر بل چا جنايت وكړ مثلا دچايې لاس قطع كړ، او مجنى عليه دقصاص اخستلو په ځاې معاف كړ نو دا دده له طرفه په مجنى عليه باندې صدقه ده.

داحديث د آيت كريمه : ﴿أَنَّ ٱلنَّفْسَ بِٱلنَّفْسِ وَٱلْعَيْنَ بِٱلْعَيْنِ وَٱلْأَنفَ بِٱلْأَنفِ وَٱلْأُذُنَ بِٱلْأُذُنِ وَٱلسِّنَّ بِٱلسِّنِّ وَٱلْجُرُوحَ قِصَاصٌ ۚ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِۦ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهُۥ﴾

تفسير دې لكه په مسند احمد كښې داحديث دحضرت عباده رضى الله عنه څخه داسې نقل شوې

ان عبادة بن الصامت رضي الله عنه قال سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول ما من رجل يجرح في جسده جراحة فيتصدق بها الا كفر الله عنه مثل ما تصدق به (مسند احمد جـ۵ ص۳۱۶)

قال الهيثمي رجاله الصحيح (مجمع الزوائد جـ۶)

دامام احمد دا حديث په الجامع الصغير دوم جلد صـ۱۴۹ كښې هم موجود دې او ديته يې صحيح ويلى دى.

وقال العلامة القاضي ثناء الله رحمه الله تعالى في تفسير قوله تعالى:

فمن تصدق به فهو كفارة له اى للمتصدق كذا قال عبدالله بن عمرو بن العاص والحسن والشعبي وقتادة

اخرج ابن مردويه عن رجل من الانصار عن النبي صلى الله عليه وسلم في قوله فمن تصدق به فهو كفارة له

قال هو الرجل يكسر سنه او يقطع يده او يقطع شئ منه او يجرح في بدنه فيعفو عن ذلك فيحط عنه قدر خطاياه

فان ربع الدیۃ فربع عطایاہ وان کان الثلث فثلث عطایاہ وان کانت الدیۃ حط عنہ عطایاہ کذلک.

وروی الطبرانی فی الکبیر بسند حسن عن عبادۃ الصامت رضی اللہ تعالی عنہ قال قال رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم من تصدق من جسدہ بشیء کفر اللہ بقدرہ من ذنوبہ.

والطبرانی والبیہقی عن سخبرۃ قال قال رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم من ابتلی فصبر واعطی فشکر وظلم فغفر وظلم فاستغفر اولئک لہم الامن وہم مہتدون.

وروی الترمذی وابن ماجہ عن ابی الدرداء رضی اللہ تعالی عنہ قال سمعت رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم یقول ما من رجل یصاب بشیء فی جسدہ فتصدق بہ الا رفعہ اللہ بہ درجۃ وحط عنہ خطیئۃ (تفسیر مظہری ج۳ ص۱۲۲).

۳ - دامام نووی رحمه الله دکتاب (منهاج الطالبين) نه یی دترقیع الانسان جواز نقل کړي دي.

جوابونه

اول: وړاندي له امام شافعی څخه دترقیع بعظم الانسان دحرمت تصریح نقل شوه دامام دقول پهمقابل کښي دهغه دکوم مقلد دقول هیڅ حیثیت نشته.

دویم: امام نووی رحمه الله ددي مسئلي په بیان کښي دمتقدمین فی المذهب نه دشخص حواله هم نده ورکړي او داهم ممکنه نده چي هغه دا دخپل امام څخه اخستي وی که چیرته دي دامام تلمیذ وی یا ده دامام زمانه موندلي وی یا د امام له زماني سره قریب تیر شوي وی نو ددي امکان وو چي ده دي له امام څخه بلا واسطه یا بالواسطه اوریدلي وی، مګر د دواړو ترمینځ تقریباً څلور نیم سوه کاله زمانه ده. دامام شافعی رحمه الله تعالی وفات په سنه ۲۰۴هجری کښي شوي دي او دامام نووی رحمه الله تعالی ولادت په سنه ۶۷۶ھ کښي شوي دي.

دریم: دمقلد لپاره بلاضروت شدیده اوبدون دشرائط معهوده نه دبل امام قول اخستل جائزندی نو دهغه دکوم مقلد قول اخستل به څنګه جائزشی چي دهغه دامام دنص صریح خلاف وی.

څلورم: منهاج مع الشرح تحفه المحتاج اوله هغه وروسته دهغه دحاشیه الشروانی پوره عبارت لاندي نقل کیږی:

فی المنهاج مع شرحه تحفۃ المحتاج (ولو وصل) معصوم المغیر لما یأتی فیہ التفصیل الاتی علی الاوجہ لانہ لما اہدر لم یبال بہم رزقی جنبہ حق اللہ تعالی وان عصی مع علوا انہ نفسہ (عظمہ) لاحتیاجہ وعدم تیمم ان لم یصلہ (بنجس) من العظم ولو مغلظا ومثل ذلک بالاولی دہنہ بمغلظ او ربطہ بہ (فعذر الطاہر) الصالح للوصل کان قال خبیر ثقۃ ان النجس او المغلظ اسرع فی الجبر. او مع وجودہ وہو من ادمی محترم (المعذور) فی حلقہ

تصح صلاته للضرورة ولا يلزمه نزعه. وان وجد طاهرا صالحا كما اطلقاه وينبغي حمله على ما اذا كان فيه مشقة لا تحتمل عادة وان لم تبح التيمم ولا يقاس بما يأتي لعذره هنا لا ثم (والا) بان وصله بنجس مع وجود طاهر صالح (وجب نزعه ان لم يخف ضررا ظاهرا) وهو ما يبيح التيمم وان تألم واستتر باللحم فان امتنع اجبره عليه الامام او نائبه وجوبا كرد المغصوب ولا تصح صلاته قبل نزع النجس لتعديه بحمله مع سهولة ازالته فان خاف ذلك ولو نحو شين وبطء برء لم يلزمه نزعه لعذره بل يحرم كما في الانوار وتصح صلاته معه بلا اعادة (قيل) يلزمه نزعه (وان خاف) مبيح تيمم لتعديه (فان مات) من لزمه النزع قبله (لم ينزع) اي لم يجب نزعه (على الصحيح) لان فيه هتكا لحرمته او لسقوط الصلاة المأمور بالنزع لاجلها قال الرافعي فيحرم على الاول دون الثاني وقضية اقتصار المجموع وغيره عليه اعتماد عدم الحرمة بل قال بعضهم انه اولى من الابقاء لكن الذي صرح به جمع ونقله في البيان عن الاصحاب حرمته مع تعليلهم بالثاني وقيل يجب نزعه لئلا يلقى الله تعالى حاملا لنجاسة اي في القبر او مطلقا بناء على ما قيل ان العائد اجزاء الميت عند الموت والمشهور انه جميع اجزائه الاصلية فتعين ان مراده الاول ويجري ذلك كله فيمن داوى جرحه او حشاه بنجس او خاطه به او شق جلده فخرج منه دم كثير ثم بني عليه اللحم لان الدم صار ظاهرا فلم يكف استتاره كما لو قطع اذنه ثم لصقها بحرارة الدم وفي الوشم وان فعل به صغيرا على الاوجه وتوهم فرق انما يأتي من حيث الاثم وعدمه فمتى امكنه ازالته من غير مشقة فيما لم يتعد به وخوف مبيح تيمم فيما تعدى به نظير ما مر في الوصل لزمته ولم تصح صلاته وتنجس بما لاقاه والا فلا فتصح امامته.

وفي حاشية الشرواني رحمه الله تعالى (ولو وصل عظمه الخ) ظاهره ولو كان الواصل غير معصوم لكن قيده حج بالمعصوم ولعل عدم تقييد الشارح م ر داي والمغني بالمعصوم جرى على ما قدمه في التيمم من ان الزاني المحصن ونحوه معصوم على نفسه وتقييد حج جرى على ما قدمه ثم من انه مهدر ع ش (قوله لافتقاره) اي بكسر ونحوه نهاية ومغني (قوله وخشية مبيح تيمم الخ) يؤخذ منه انه لو كان النجس صالحا والطاهر كذلك الا ان الاول يحصل الشفاء به من غير شين فاحش والثاني مع الشين الفاحش فينبغي تقديم الاول ع ش (قوله من العظم الخ) ولو وجد عظم ميتة لا يؤكل لحمها وعظم مغلظ وكل منهما صالح وجب تقديم الاول ولو وجد عظم ميتة ما يؤكل وعظم ميتة ما لا يؤكل من غير مغلظ وكل منهما صالح تخير في التقديم لانهما مستويان في النجاسة فيما يظهر فيهما وكذا يجب تقديم عظم الخنزير على الكلب للخلاف عندنا في الخنزير دون

الکلب ع ش (قوله ومثل ذلک بالاولی الخ) لعل وجهها ان العظم یدوم ومع ذلک عفی عنه والدهن ونحوه مما لایدوم فهو اولی بالعفو ع ش (قول المتن لفقد الطاهر) ای بمحل یصل الیه قبل تلف العضو او زیادة ضرره اخذا مما تقدم فیمن عجز عن تکبیرة الاحرام او نحوها حیث قالوا یجب علیه السفر للتعلم وان طال وفرقوا بینه وبین ما یطلب منه الماء فی التیمم بمشقة تکرار الطالب للماء بخلافه هنا وعبارة سم علی حج لم یبین ضابط الفقد ولا یبعد ضبطه بعدم القدرة علیه بلا مشقة لاتحتمل عادة وینبغی وجوب الطلب عند احتمال وجوده لکن ای حد یجب الطلب منه انتهی اقول ولا نظر لهذا التوقف ع ش وهو الظاهر وما نقله عن سم هو الموافق لما فی ایدینا من نسخه وفی البصری بعد نقله عبارة سم من نسخة سقیمة ما نصه وکان فی آخر عبارة سم سقطا واصلها ان وجد محل یجب الطلب للماء منه کانه یشیر بذلک الی مجیء التفصیل المار فی التیمم ولیس ببعید اه (قوله کان قال خبیر ثقة الخ) وفاقا للمغنی وخلافا للنهایة عبارته ولو قال اهل الخبرة فان لحم الادمی لا ینجبر سریعا الا بعظم نحو کلب قال الاسنوی فیتجه انه عذر وهو قیاس ما ذکروه فی التیمم فی بطء البرء انتهی وما نقله مردود والفرق بینهما ظاهر وعظم غیره من الادمیین فی تحریم الوصل به ووجوب نزعه کالعظم النجس ولا فرق فی الادمی بین ان یکون محترما اولا کمرتد وحربی خلافا لبعض المتاخرین فقد نص فی المختصر بقوله ولا یصل الی ما انکسر من عظمه الا بعظم ما یوکل لحمه ذکیا ویؤخذ منه انه لا یجوز الجبر بعظم الادمی مطلقا فلو وجد نجسا یصلح وعظم ادمی کذلک وجب تقدیم الاول اه وفی سم بعد ذکرها ووافقه ع ش والرشیدی ما نصه وقضیته ای قوله مر ووجب تقدیم الاول انه لو لم یجد نجسا یصلح جاز بعظم الادمی اه قال ع ش قوله مر خلافا لبعض المتاخرین هو السبکی تبعا للامام وغیره منهج ونقله المحلی عن قضیة کلام التتمة وقوله مر وهو قیاس ما ذکروه الخ جری علیه حج وقوله وعظم غیره الخ ای غیر الواصل من الادمیین ومفهومه ان عظم نفسه لا یمتنع وصله به ونقل عن حج فی شرح العباب جواز ذلک نقلا عن البلقینی وغیره لکن عبارة ابن عبد الحق وعظم الادمی ولو من نفسه فی تحریم الوصل به ووجوب نزعه کالنجس اه صریحة فی الامتناع وینبغی ان محل الامتناع بعظم نفسه اذا اراد نقله الی غیر محله اما اذا وصل عظم یده ببدنه مثلا فی المحل الذی ابین منه فالظاهر الجواز لانه اصلاح للمنفصل منه ثم ظاهر اطلاق الوصل بعظم الادمی ای اذا فقد غیره مطلقا انه لا فرق بین کونه من ذکر او انثی فیجوز للرجل الوصل بعظم الانثی وعکسه ثم ینبغی انه لا ینتقض وضوءه ووضوء غیره بمسه وان کان ظاهرا مکشوفا ولم تحله الحیاة لان العضو المبان لا ینتقض الوضوء بمسه الا اذا کان

من الفرج واطلق عليه اسمه وقوله م ر مطلقا اى حيث وجد ما يصلح للجبر ولو نجسا وقوله م ر فلو وجد نجسا اى ولو مغلظا اهـ ع ش (قوله محترم) ليس بقيد عند النهاية والمغنى كما مر (قوله فتصح صلاته الخ) قال م ر وحيث عذر ولم يجب النزع صار لذلك العظم النجس ولو قبل استتاره باللحم حكم جزئه الطاهر حتى لا يضر مس غيره له مع الرطوبة وحمله فى الصلاة ولا ينجس ماء قليلا لاقاه انتهى اهـ سم (قوله وان وجد الخ) ولم يخف من نزعه ضررا خلافا لبعض المتأخرين نهاية ومغنى (قوله وينبغى الخ) تقدم عن النهاية والمغنى انفا خلافه (قوله وان لم يبح التيمم) قريب لذلك من لزوم اتحاد الشقين سم (قوله مع وجود طاهر الخ) اى او لم يحتج للوصل نهاية والمغنى كما مر (قوله مع وجود نجس الخ) يفهم انه لو لم يجد الا عظم ادمى ووصل به وهو ظاهر وينبغى تقديم عظم الكافر على غيره وان العالم وغيره سواء وان ذلك فى غير النبى ع ش وفى سم والرشيدى مثله الا قوله وينبغى الخ قول المتن (وجب نزعه الخ) اى وان لم يكن الواصل مكلفا مختارا عند الشارح كما يأتى فى الوشم ويشترط ان يكون مكلفا مختارا عند النهاية والمغنى قول المتن (ان لم يخف ضررا الخ) ينبغى ان يكون موضعه اذا كان المقلوع منه ممن يجب عليه الصلاة فان كان ممن لا يجب عليه الصلوة كما لو وصله ثم جن فلا يجبر على قلعه الا اذا افاق او حاضت لم تجبر الا بعد الطهر ويشهد لذلك ما سيأتى فى عدم النزع اذا مات لعدم تكليفه اهـ حاشية الشهاب الرملى على شرح الروض اى ومع ذلك فينبغى انه اذا لاقى مائعا او ماء قليلا نجسه ولو قيل بوجوب النزع على وليه مراعاة للاصلح فى حقه لم يكن بعيدا وقد يتوقف ايضا فى عدم وجوب النزع على الحائض لان العلة فى وجوب النزع حمله لنجاسة تعدى بها وان لم تصح معه الصلاة لمانع قام به ع ش (قوله ولا تصح صلاته الخ) وينبغى على قياس ذلك نجاسة الماء القليل والمائع بملاقاة عضوه الموصول بالنجس قبل استتاره بالجلد وعدم صحة غسل عضوه المذكور عن الطهارة لنجاسة الماء المماس للنجس المتصل به بخلاف ما اذا لم يجب النزع فينبغى م ر عدم نجاسة الماء القليل بملاقاته وصحة غسله عن الطهارة للعفو عن النجس حينئذ وتنزيله منزلة جزئه الطاهر سم (قوله ولو نحو شين) ظاهره ولو كان فى عضو باطن ع ش (قوله على الاول) هو قوله فلان فيها الخ و(قوله دون الثانى) هو قوله او لسقوط الخ (قوله عليه) اى الثانى (قوله لكن الذى صرح به جمع ونقله الخ) وهذا هو المعتمد مغنى ونهاية وقضيته صحة غسله وان لم يستتر العظم النجس باللحم مع انه فى حال الحياة لا يصح غسله فى هذه الحالة وكانهم اغتفروا ذلك للضرورة فليحرر معه سم على المنهج اهـ ع ش (قوله الاول) اى فى القبر (قوله ثم كذلك) اى لانه بفعله فلم يعف عنه مع كثرته سم (قوله كما لو قطعت اذنه الخ) اى او انفصلت

بالكلية بخلاف ما اذا بقى لها تعلق بمحله ثم لصقت بحرارة الدم فلا تلزمه ازالتها مطلقا وتصح صلاته و امامته (قوله او على ما صوبه اه) هذا ممنوع بل لا لزوم هنا وفيما لو اكره مطلقا مراد سم عبارة النهاية فعلم من ذلك اي من ان الوشم كالجبر في تفصيله المذكور ان من فعل الوشم برضاه في حال تكليفه ولم يخف من ازالته ضررا يبيح التيمم منع ارتفاع الحدث عن محله لتنجسه والاعذر في بقائه وعفى عنه بالنسبة له ولغيره وصحت طهارته وامامته وحيث لم يعذر فيه ولاقى ماء قليلا او مائعا اورطبا نجسه كذا افتى به الوالد رحمه الله تعالى اه وفي المغني مايوافقه وعبارة ع ش قال في الذخائر في العظم قال بعض اصحابنا هذا الكلام فيه اذا فعله بنفسه اوفعل به وباختياره فان فعل مكرها لم تلزمه ازالته قولا واحدا قلت وفي معناه الصبي اذا وشمته امه بغير اختياره فبلغ واما الكافر اذا وشم نفسه او وشم باختياره في الشرك ثم اسلم فالمتجه وجوب الكشط عليه بعد الاسلام لتعديه ولانه كان عاصيا بالفعل بخلاف المكره والصبي سم على المنهج اه (قوله فيما لم يتعد به) اي على بحثه السابق في سم اي بقوله وينبغي حمله الخ الذي خالفه النهاية والمغني كما مر (تحفة المحتاج ج۲ ص۱۲۵ تا ۱۲۶)

دنووى هيثمي او شرواني رحمهم الله تعالى عنهم دمباحث مذكوره نه لاندې امور مستفاد كيږي.

اول: دامام شافعي رحمه الله تعالى دنص صريح خلاف دهغه دمقلدينو په اقوالو كښې غير معمولي اختلاف او اضطراب دي.

دويم: مونږ په ابتداء دبحث كښې دعضوې داكل په نسبت دترقيع دزيات قباحت دوه وجې بيان كړې چې په هغو كښې دويمه داده چې په اكل كښې افناء ده اوپه ترقيع كښې ابقاء. ددې تائيد له علامه شرواني اودهغه له اسلافو څخه هم وشو. حيث قال: (قوله ومثل ذلك بالاولى الخ) لعل وجهها ان العظم يدوم ومع ذلك عفي عنه والدهن ولحوه مما لا يدوم فهو اولى بالعفو ع ش (تحفة المحتاج ج۲ ص۱۲۵)

دريم: مونږ داهم وليكل چې دانسان دخپلې عضوې ترقيع دعضوې په اصل مقام كښې اعاده باندې قياس كول صحيح ندي، له علامه شيرواني څخه دهغه تائيد هم ومندل شو.

وينبغي ان محل الامتناع بعظم نفسه اذا اراد نقله الى غير محله اما اذا وصل عظم يده بيده مثلا في المحل الذي ابين منه فالظاهر الجواز لانه اصلاح للمنفصل منه (تحفة المحتاج ج۲ ص۱۲۶)

څلورم: علامه هيثمي او علامه شرواني رحمهما الله تعالى دعضوې مقطوع الصاق په اصل مقام پورې په حرراة الدم سره ممنوع گرځولي.

وقال العلامة الشرواني رحمه الله تعالى: (قوله كما لو قطعت اذنه الخ) اي والفصلت بالكلية بخلاف ما اذا بقى لها تعلق بمحله ثم لصقت بحرارة الدم فلا تلزمه ازالتها مطلقا وتصح صلاته وامامته (تحفة المحتاج ج۲ ص۱۲۶) فقط والله تعالى اعلم

رشيد احمد غرة رمضان ۱۴۱۰ هـ عند نداء العصر.

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ۚ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿٦﴾ ﴾ (۳۱ - ۲)

د تلویزون زهر

له ټی بی (سل) مرض نه هم زیات هلاکونکی دی

افاضه: حضرت فقیه العصر دامت برکاتهم

لیکنه: حضرت مفتی محمد ابراهیم صاحب صادق آبادی مد ظله

د تلویزون زهر له سل مرض نه هم زیات مهلک دی:

۱ــ دتصویر جوړولو لعنت

۲ــ دتصویر لیدلو لعنت

۳ــ دتصویر ښودلو لعنت

۴ــ د رحمت د ملائکو په ځائ د لعنت ملائکې

۵ــ مال ضائع کول

۶ــ د آوزا اوساز سرود آوریدلو لعنت

۷ــ د حیاء اوغیرت اوشرم جنازه

۸ ــ د زړه توروالې اوظلمت اوکدورت

۹ــ په زړه کښې له ګناهونو سره الفت پیدا کیدل

۱۰ــ د وقت په شان قیمتی دولت ضائع کول

۱۱ــ دصحت جسمانی دماغی اواعصابو اوبینائی له مینځه تلل

۱۲ــ دجرمونه تعلیم اوپه دنیا کښې دجرمونو خوروِل

۱۳ــ ددین دشعائروبی حرمتی

دتلویزون احکام:

تلویزون لیدل، اخستل، خرڅول، جوړول حرام دی

دداسی خلکو اذان، اقامت او امامت جائزندې اودهغوئ شهادت قبول ندې

دتلویزون لعنت

سوال تلویزون نن سبا په هر کور کښې موجود دې که دیندار دې اوکه بې دینه ټول خلک په شوق ورته ګوری د خلکو وینا ده چې په دې کښې ګناه نشته بلکه نن سبا تلویزون دتعلیم ذریعه ده په دې کښې کعبه، مسجد، نبوی، فیصل مسجد، جدید ایجادات، نوی ماشینونه او دټولې دنیا عجائبات ښودل کیږی برسیره پر دې دعلماء کرامو تقریرونه، نعتونه او د قرآن مجید تلاوت هم پدې آوریدل کیږی، غرض داچې دا دمشرانو اوکشرانو دتعلیم اوتربیت ذریعه ده

آیا ددغو فوائدو په نظر کښې نیولو سره تلویزون ساتل اوکتل شرعاً جائزدی ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دتلویزون تباهی دهیڅ ذی عقل څخه پټه نده، په موجوده معاشرې کښې دتلویزون دکردار په لیدلو سره که کوم شخص هم دهغه په منافعو شمیرلو مصروی ددې مثال له هغه احمق څخه مختلف ندې چې دهغه په مخ کښې اور لمبې وهی اوشغلې یې له آسمان سره خبرې کوی اودهغه مینځ کښې ګیرچاپیره هرڅه سوځی عقلمند خلک چې دا منظر وینی نو لرې ترینه تیښته کوی او دې قرار ولاړوی او د اور فوائد شمیری او نارې وهی چې ما ته قناعت راکړئ که نه نوزه سره دخپل اولاد اوښځې دې اورته ورننوځم، نو داسې شخص ته به څه جواب ورکړل شی بغیر له دې خبرې چې دخپل دماغ علاج دې وکړه.

مقصد دا چه دتلویزون مفاسد اوتباه کاری یونظریاتی مسئله نده چې ددلائلو په ذریعه بیان کړې شی بلکه دا یو دسترګو لیدلې حقیقت دې چې د تلویزون لعنت دمعاشرې صحتمند جسم دتی بی (سل) مرض په شان له مینځه وړی، مګر افسوس چې دهغه رنګینو دهوښیارو خلکو نظرونه هم تیاره کړی دی، له دې وجې نه مونږ یوڅه په تفصیل ددې په مفاسدو رڼا اچوو شاید چې دکوم لیدونکی لپاره دبصیرت ذریعه جوړه شی.

۱ - تصور لیدل

په تلویزون کښې دتصویر لیدل یوه ګناه ده مګر که په ژور نظر ورته وکتل شی نو دلاتعداد ګناهونو مجموعه ده مثلا : **اول** د معصیت د آلې استعمال **دویم** دهغه په خریداری مال ضائع کول **دریم** تصویر سازی **څلورم** : تصویر لیدل **پنځم** تصویر ښودل **شپږم** درحمت له ملائکو څخه لرې والې **اووم** لعنت مستحق ګرځیدل **اتم** له کفارو سره مشابهت **نهم** دسړیو نامحرمونښځوته کتل **لسم** دغیر محرمونښځو آواز آوریدل **یولسم** دښځوغیر محرمو سړیو ته کتل **دولسم** بلاضرورته دغیر محرمو سړیو آواز آوریدل **دیارلسم** پهلوانان لامبو وهونکی او نڅې کونکی عموما نیم بربنډ وی دهغوی دلیدلو ګناه.

تقریبا ټول ګناهونه په خپل ځای کبیره اودسختو وعیدونو مصداق دی، مثلا آله دمعصیت

او په همې كتبې د مال مصرفولو په باره كښې ارشاد دى ﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ۞ ﴾ (۳۱: ۶)

ترجمه بعضې خلك داسې دى چې دهغه خبرو خريدار جوړيږى چې غافلونكې دى چې د الله له لارې بې علمه گمراه كړى اوپه هغه پورې توقى وكړى. دداسې خلكو لپاره دذلت عذاب دې .

د «لهو الحديث» تفسير كښې سيدنا عبدالله بن مسعود رضى الله عنه فرمائى چې ((الغناء والذى لا إله إلا هو يرددها ثلاث مرات)) تفسير ابن جرير ص ۳۶ جـ ۲۱

له دې څخه مراد سندرې دى، په هغه ذات قسم چې له هغه څخه سوا بل معبود نشته، درې ځله يې داجمله تكرار كړه .

امام مجاهد فرمايى چې ((هو اشتراء المغنى والمغنية والاستماع اليه والى مثله من الباطل)) تفسير ابن جرير ص ۳۷جـ ۲۱

له دې څخه مراد سندرې ويونكې غلام يا سندرې ويونكې مينځه ده او له هغونه سندرې آوريدل اود سندرو په شان نور خرافات آوريدل .

تصوير داحاديثو په رڼاكښې

- له رحمت الهى څخه دلرى والى سبب دې.
- په صفت تخليق كښې له الله تعالى سره مقابله ده
- مستوجب دسخت عذاب دې
- حضورصلى الله عليه وسلم په تصوير جوړونكښې لعنت ويلې دې .

داتمام احاديث په مفصله توگه په رساله (النذير العريان عن عذاب صورة الحيوان) كښې درج كړې شوى دى

دښځو بې پردگى اوعريانى خو دحكومت الهى څخه ښكاره دبغاوت اعلان دې دپردې په باره كښې دگڼ شمير آياتونه نه علاوه له اويا څخه زيات احاديث منقول دى دپردې مفصل احكام په رساله «هداية المرتاب فى فريضه الحجاب» ، «شرعى پرده دقرآن په رڼاكښې» مطالعه كړئ .

تلويزون ليدونكې په يوه وخت دتولو گناهونو مرتكب كيږى كه په چاكښې يوه زره عقل او ادراك او ايمانى احساس وى نو سوچ دې وكړى او فيصله دې وكړى چې څه گټى اوڅه بايلى.

۲ - غناء او مزامير آوريدل گناه ده

ساز او سرود وغيره دتلويزون لازمه حصه ده. دا كار خوپه هرحال حرام دې مگر چونكه

دتلویزون کارکوونکو هره ګناه دعروج بام ته درسولو تیکه اخستې ده. لدې وجې نه دتلویزون سندرې له فحش نه فحش وې اوبالعموم دفاحشه ښځوپه آواز کښې وړاندې کیږی ښځې هم بیا څنګه ؟ بې پردې خوانه، نیم عریانه ، متحرکه او رقصانه اوپه پوره دول دفتنې سامان ((ظلمات بعضها فوق بعض)) سندرې اوسرود آوریدل په زړه کښې دحدیث له رویه دمنافقت تخم شندی الغناء ینبت النفاق فی القلب کماینبت الماء الزرع (ابوداودبیهقی)

ترجمه ساز اوسرود په زړه کښې نفاق داسې زرغونوی لکه څنګه چې اوبه فصل زرغونوی (ابوداود ، بیهقی)

همدارنګه سندروته دزنا منتر ویل شوې دی : الغناء رقیة الزنا (تلبیس ابلیس ص۲۹۱)

دالله تعالی ارشاد دی : ﴿ وَٱسۡتَفۡزِزۡ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتَ مِنۡهُم بِصَوۡتِكَ ﴾

په دې کښې چې دکوم شیطانی آواز ذکر دې دهغه یو معروف مشهور تفسیر سندرې اوسازونه دی، تفسیر ابن جریر ص۷۲ ج۱۵ اوعام تفاسیر.

د سندرو مفصل تفصیل مونږ په رساله(المصابیح الغراء للوقایه عن عذاب الغناء)کښې درج کړې دې

غرض داچې دا ګناهونه دتلویزون د ښکاره ګناهونو له جملې څخه دی اواکثر تلویزون کتونکی په دې کښې مبتلاء دی، ډیرخله ددغو خلکو له کورونو څخه دساز اوسرود اوفلمی سندرو هغه شور راوځی چې ګیرچاپیره ګاونډیان ترینه خبره نشی آوریدلی، دهغوئ کاروبار تباه اوخوب حرام او زندګی دربدره وی، داسې هم بیا بیالیدل شوی دی چې دکوم جومات سره متصل دکوم کوریا دکان نه دتلویزون آواز پورته کیږی دلمونځ کوونکو غریبانو لمونځ ګډوډشی، بنده خپله لیدلی دی چې بیچاره سپین ګیری چیغی وهی چې دخدای لپاره مونږ خو لمانځه ته پریږدئ. خوك ویلې شی چې دا دمسلمانانو اداء ده که دکفارو حرکتونه؟

ع عار دارد کفر از اسلام تو

ګاونډی که کافر هم وی دهغه دحقوقو اندازه له دغو احادیثو څخه ولګوئ:

واللّٰه لایؤمن واللّٰه لایؤمن واللّٰه لایؤمن قیل من یارسول اللّٰه قال الذی لایأمن جاره بوائقه (بخاری ومسلم)

ترجمه حضور صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایلو والله مؤمن نشی کیدی. والله مؤمن نشی کیدی. والله مؤمن نشی کیدی، عرض وشو څوك یارسول الله ؟ حضورصلی الله علیه وسلم وفرمائل هغه سړې چې ګاونډی دده دضرر څخه په امن نه وی

من کان یؤمن باللّٰه والیوم الاٰخر فلایؤذ جاره (بخاری ومسلم)

ترجمه کوم شخص چې ایمان لری په الله اوپه ورځ دآخرت نو خپل ګاونډی ته دې ضررنه رسوی

۳ - دحیاء اوغیرت جنازه وتل

حیاء دایمان شعبه اودانسان جوهردې په حدیث کښې دی چې **((الحیاء شعبة من الایمان))** (بخاري ومسلم)

ترجمه شرم اوحیاء دایمان حصه ده.

((اذالم تستحي فاصنع ماشئت)) (بخاري ومسلم)

ترجمه: کله چه شرم او حیاء نه کوې نو بیا دې چه څه خوښه وی هغه کوه.

مګرتلویزون، وی سی آر او دسینما ګانو زیادت دنیا دبی حیائی زانګو جوړه کړه هرطرف بی پردګی، عریانی او د فواحشو او منکراتو یلغار دې.

دتلویزون له ایجاد څخه مخکې دهر منکر دائره دفساد دهغه تر وجود پوری محدوده وه لدې وجی نه هرشخص ته په هره ګناه کښې شرکت ممکن نه وو، مګر دتلویزون ایجاد هغه ناممکن په ممکن بدل کړ، دټولې دنیا بی حیائی له هر طرفه راجمع شوه اوپه یوه وخت کښې تلویزون کښې ځای پرځای شوه.

زمونږ نشریات او د ابلاغ ذرائع، بی حیائی په معاشره کښې په څه قسم خپروی؟

ددې اندازه هیڅ شخص ته هم مشکله نده زنا، همجنس پرستی بلکه حیواناتوسره بدفعلی ددې بد قسمته معاشرې نوې واقعه نده، نوبت تر دې ځایه ورسیده چې دسکه ورور اوخور بلکه پلا اولور ترمینځه دبدفعلی اوناجائزو تعلقاتو واقعات ښکاره کیږی، یالتنی مت قبل هذا....

۴- په زړه کدورت پریوتل

دګناهونو دنحوست له وجی په زړه توروالې پیداکیږی کما جاء فی الحدیث، دتلویزون لیدلو دا نتیجه هم عام طور سره مشاهده کیږی که له کوم تلویزون کتونکی سره په دې موضوع خبرې وکړې شی نو د دې په ځائ چې په خپله ګناه اعتراف وکړی، هغه دتلویزون فوائد درته شمیرل شروع کړی، یوقطعی حرام ته دجائزویلو رجحان چې په دینی لحاظ څومره خطرناك دې هغه د بیان محتاج ندې.

۵ - دګناه بدوالې له زړه څخه وتل

کوم خلك چې تلویزون ته جائز نه وایی مګرله لیدلو نه یې هم نه منع کیږی، نو یقینا چې دا خلك په دې شیطانی فریب کښې مبتلاء دی چې دوئ وایی چې دنجات لپاره ترك دمنکراتو ته ضرورت نشته بلکه صدقه اوخیرات خواه د حلال مال څخه وی یاله حرام نه هغه کافی ده، او د اذکارو او نوافلو اهتمام دنجات لپاره کافی دې، حالانکه دمسلمان ددین لپاره ګناه زهر قاتل دې

د بعضي گناهونو زهر دومره متعدي وي چې هغه دانسان نېکۍ هم ختموي لدې وجې نه خو مونږ ته په قرآن اوحديث کښې دگناه په ترک ورکړې شوې دې دومره زور د کوم نفلي عبادت په کولو باندې نه دې ورکړشوې، د مثال په توګه الله تعالى فرمايي

﴿وَذَرُوا ظَاهِرَ الْإِثْمِ وَبَاطِنَهُ﴾

﴿وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰ﴾

﴿وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ﴾

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ﴾

وغيرها من ايات كثيرة كثيرة

اتق المحارم الحديث

والمهاجر من هجر مانهى الله عنه

المهاجر من هاجر الخطايا والذنوب

والمجاهد من جاهد نفسه

ليس الشديد بالصرعة الحديث

وغيرها من احاديث كثيرة شهيرة

دګناه دپرېښودو په ځای چې څوک په نفلي عباداتو کښې کوښښ کوونکی دی اوهغه وسيله نجات بولي دهغه مثال دهغه احمق په شان دې چې دغورځېدونکي مکان دبنياد مستحکم کولو په ځای دهغې چاک چاک ديوالونه رنګ ورکوي اوپه رنګ اوروغن يې مصروف وي

۶ - ټلويزون وخت ضائع کول

ددې فاني ژوند څوپه شمار ساګاني دانسان د ژوندسرمايه دی . دهغو يوه يوه لمحه له دنيا ومافيها نه قيمتي دی، دحضور صلى الله عليه وسلم ارشاد ګرامي دې چې من حسن اسلام المرء ترکه مالا يعنيه (مالک احمد ترمذی)

دمسلمان ددين خوبي داده چې بې فائدې کارونه پرېږدي

اوارشاد دی علامة اعراض الله تعالى عن العبد اشتغاله بما لا يعنيه (مكتوبات امام ربانی)

دانسان په بې فائده کارونو کښې مشغوليدل ددې نښه ده چې الله تعالى له هغه څخه ناراض وي

او بل ځای ارشاد دی چې : لیس یتحسر اهل الجنة الاعلی ساعة مرت بهم ولم یذکر الله تعالی فیها.
(طبرانی کبیر، ابن السنی)
په جنتیانو به دځه حسرت نه وی مګر ددې چې ده کوم ساعت بغیر دذکر دالله نه تیر کړې وی هغه غافل مسلمان چې یوه ورځ هم بغیر له تلویزون لیدلو څخه نه تیروی یوه ورځ دی کینی چې د زاتلونکې ورځې لپاره څومره دحسرت سامان برابروی.

۷ - جسمانی صحت خصوصًا دماغی صلاحیتونو او دیننائی طاقت له منځه وړل

جسمانی صحت او داعضاؤ سلامتی له هزار نعمتونو څخه یو نعمت دې مګر اکثرخلك ددې بې بها او ډیر قیمتی نعمت له قدر او قیمت څخه بی خبره دی، په حدیث کښې دی چې :

نعمتان مغبون فیهما کثیر من الناس الصحة والفراغ (بخاری)

تندرستی اوفراغت دوه داسی نعمتونه دی چې اکثر خلك په هغو کښې نقصانی دی او له هغو څخه فائده نه اخلی.

دتلویزون عاشقان په دومره غټ نقصان سترګی بندوی دجسم اوجان دومره غټه متاع بربادوی له کومه وخته چې تلویزون ایجاد شوې دې له هغه وخته ډاکتران دهغه له نقصاناتو څخه خبرداري ورکوی ، دجرمنی مشهور ډاکتر والتر بوهلرلیکښې چې : «ځینی واړه حیوانات لکه مونږك یا مرغی وغیره که دتلویزون مخ ته کینودل شی نو هغه به دسکرین دشعاعو دتیزی له وجی لږوخت پس مړه شی.

لدې دا څخه اندازه لګیږی چې انسانی صحت له دې څخه څومره متاثر کیږی.

دلته په کراچۍ کښې دیوې نجلۍ ددماغو رګ پرې شوی وو ددماغی امراضومشهور پروفیسر ډاکتر جمعه خان یې معاینه وکړه اووې ویل : دا دماغی رګ دتلویزون دکتلوله وجی پرې شوې دې یوه نجلۍ دسترګوډاکتر ته دسترګو دمعاینې لپاره راغلې وه ډاکتر ورته وویل : ددې نجلۍ سترګی دتلویزون دکتلو له وجی کمزورې کیږی، داسې قسم واقعات دشمیرله حدڅخه وتلی دی څومره واړې به یې مونږ دلته درج کړو.

دماهرین فن خبره ده چې په یوه کمره «اطاق» کښې تلویزون غږیږی نو ورسره پخوا کښې دکمرې دخلکو صحت هم متاثرکیږی، دا هم دلیدوخبره ده چې دکومو هلکانو دتلویزون کتل عادی وګرځی دهغوئ له درس ویلو سره علاقه ختمه شئ اوبل کارهم نشی کولې ، نه ددین شی اونه ددنیا «خسرالدنیا والاخرة» دنیا او آخرت یې داره تباه شی.دا دنقصان یوجانب وو، بل طرفته

دهلکانو اونجونو دشهوانی جذباتو اوجنسی خواهشاتو کوم اور چی تلویزون بل کړي دي دهغې له تپ څخه ټوله معاشره سوزی.

دعشق اومحبت فحش داستانونه اودنارینه او زنانه وو شرمونکی ملاویدلو مناظر پیش کول دهغوی دخامو ذهنونو جنسی جذباتو مسلسل برانگیخته کوی. نتیجه داشی چې په لاشعوری توګه نوې نسل دبالغ کیدونه مخکښې بالغ کیږی. بیا د وفور جذباتو دبې قابوکیدو له وجې دتسکین لپاره غیر فطری طریقې اختیاروی چی دهغو په کاغذ لیکلو څخه قلم شرمیږی.

ع وګوره ماته خوبه سترګو دعبرت سره

یو سری دخپلې مخ توری قصه لیکلې وه او په غرض داستفتاء په خپله دارالافتاء ته ارغلې وو چی دهغې خلاصه داده چې دهغه ښځی اولور «وی سی آر» کتلو، لږ وخت وروسته دهغه ښځه په بستره خملاسته اوویده شوه نو هغه دخپلی لورسره خپل مخ تورکړ اومکملې طریقې سره یې داکار وکړ ښځی ته ددې معلومات وشو هغی په استفتاء مجبورکړ، اوکه نه نو دا دتلویزون او «وی سی آر» په وړاندی معمولی قصه ده والله اعلم روزانه به څومره داسې واقعات پیښیږی. داسی قوم چی په قسم قسم عذابونو کښې نه مبتلاکیږی نو څه به کیږی؟

آفرین دې وی په هغو الدینو باندې چی دا هر څه آوری او وینی بیاهم دماشومانو دتفریح او ذهنی نشو اونما لپاره په کور کښې تلویزون ساتل ضروری بولی.

ع دې کورته اورلګیدلی دکوره ډیوې څخه.

دخپل زړه له ټوټو سره به له دې نه زیاته ددښمنی مظاهره نوره څه وی؟

قران مجید علی الاعلان وائی

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارٗا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُ﴾ (۶۶:۶)

ترجمه: ای ایماندارو تاسې خپل خانونه او کوروالا له هغه اورڅخه وساتئ چی دهغه اورخس او خاشاک انسانان اوکانی دی.

ددې په تفسیر کښې علامه آلوسی لیکی چې:

روی ابن عمر رضی الله تعالی عنهما قال حین نزلت یارسول الله نقی انفسنا فکیف لنا باهلینا فقال علیه الصلاة والسلام تنهوهن عما نهاکم الله عنه وتامروهن بما امرکم الله به فیکون ذلک وقایة بینهن وبین النار.

واخرج ابن المنذر والحاکم وصححه وجماعة عن علی رضی الله تعالی عنه انه قال فی الآیة علموا انفسکم واهلیکم الخیر وادبوهم.

والمراد بالاهل علی ما قیل مایشمل الزوجة والولد والعبد والامة واستدل بها علی انه یجب علی الرجل

تعلم ما يجب من الفرائض وتعليمه لهؤلاء.

وادخل بعضهم الاولاد في الانفس لان الولد بعض من ابيه.

وفي الحديث رحم الله رجلا قال يا اهلاه صلوتكم صيامكم زكاتكم مسكينكم يتيمكم جيرانكم لعل الله يجمعكم معه في الجنة. وقيل ان اشد الناس عذابا يوم القيمة من جهل اهله (روح المعاني جه صه ۱۳۶)

كله چې دا آيت نازل شو نو حضرت عمر رضى الله تعالى عنه عرض وكړو چې يارسول الله (صلى الله عليه وسلم) مونږ خو به خپل ځانونه ددوزخ نه وساتو ، خپل اهل څنګه له اوره وساتو؟ حضرت ورته ارشاد اوفرمايه : له كومو كارونو چې الله تعالى تاسو منع كړي ياستئ له هغو څخه هغوئ هم منع كړئ اوپه كومو كارونو يې چې تاسو ته امر كړې دهغو حكمونو پابندي وكړئ او هغوئ ته يې هم حكم وكړئ دغې رنګې تاسې دهغوئ لپاره له اور څخه دخان ژغورنې ذريعه جوړيږئ.

امام ابن المنذر او امام حاكم سره دتصحيح او دمحدثينو يوجماعت له حضرت على رضى الله عنه څخه ددې آيت تفسير داسې نقل كړې دې : خپلو ځانونو او خپل عيال ته دخير تعليم وركړئ اوهغوئ ته ددين طوراوطريقې ور زده كړئ.

په آيت كښې له اهل څخه ښځې ، اولاد ، غلام ، اومينځې مراد دي. له آيت نه په دې استدلال شوې چې په هر مسلمان ټول فرائض زده كول واجب دي.

اوبعضې حضراتو اولاد په انفس كښې داخل كړې دې. له دې وجې چې اولادهم دپلار جز دى

په حديث كښې دي چې په هغه شخص دې دالله جل جلاله رحمت وي چې كوروالا بيداروي چې اى اهل خانه! دخپل لمونځ ، روژې او زكات فكر كوئ. دخپل مسكين ، يتيم اوګاونډيانو خبر اخلئ. شايد چې تاسو الله تعالى له هغوئ سره په جنت كښې يوځاى كړي.

ويل شوي دي چې په ورځ دقيامت به شديد ترين عذاب دهغه شخص وي چا چې خپل عيال ـه دين څخه ناخبره ساتلې وي.

مګر دلته چې حفاظت كوونكې خپله فصل خوري نو ساتنه به يې څوك وكړي. مصداق والدين خپله خپل اولاد له دين څخه ګرځوي دتلويزون او وى سى آر په ذريعه يې په ګناهونو كښې مبتلاء كوي همدا اولاد به سبا ددوئ په سر پښې ږدي. اوهغوئ ته به كنځل كوي اوهغوئ سره به غير انسانى سلوك كوي.

داځه دتعجب خبره نده چې دا د سكول اوكالج اوتلويزون او وى سى آر دتعليم اوتربيت منطقي نتيجه ده ((څه چې كرې هغه به ريبې)) دا ددنيا مسلم اصول دي. اوپه آخرت كښې به همدا اولاد ددې والدينو ګريوان نيسي

۸ - جرائمو ته هوا ورکول

د تلویزون صرف د تفریح او تماشی او طرب او عیش یوه آله نده. بلکه د دنیا د لویو لویو جرمونو د رهنمائی ستر دې په اخبارونو کښې داسې خبرونه په وار وار شائع شوی چې په غټو غټو واردا تو کښې نیول شویو نو جوانانو د سزا ګاللو وروسته پخپله اعتراف کړې دې چې دغلا دا پروګرام مونږ د فلانی تلویزون د فلانئ ډرامې دلیدو څخه ترتیب کړ.

دجنوبی افریقا د علماؤ د مجلس له طرفه نشر شوی کتاب کښې (اسلام اینډ تیلیویژن) کښې یې یوه واقعه لیکلې ده:

په تلویزون کښې پیش کړې شوې (د بنځې د بې عزتی منظر) په حقیقة مخې ته راغې. یو بدمعاش هو بهو همداشان چاړه او چاقو واخستل او دیوې زنانه کورته ننوت او دهغې بی عزتی یې وکړه او پیسې یې ترینه واخیستی او وتښتیده. دتفتیش لپاره دهغه کورته پولیس ورغلل. دپولیسو افسر ناخاپه وویل ملزم یقینا دتلویزون ډرامه لیدلې ده او داکاریی کړې دې چې په هغه کښې دامنظر پیش کړې شوی وو.

۹ - د دینی شعائرو بی حرمتی

په تلویزون کښې ضمنی طور سره څه دینی پروګرامونه مثلا دحج مناظر، آذان، تلاوت او نعتیه کلام وغیره پیش کوی. دا ددین کوم خدمت ندې بلکه له دینی احکامو سره ښکاره توقې دی. قرآن مجید دا دکفارو عمل ښودلې او مسلمانانو ته یی له هغې څخه دبیزار اوسیدو تاکید فرمایلې دې

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلَّذِينَ ٱتَّخَذُواْ دِينَكُمۡ هُزُوٗا وَلَعِبٗا مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ مِن قَبۡلِكُمۡ وَٱلۡكُفَّارَ أَوۡلِيَآءَۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ۝٥٧﴾ (۵:۵۷)

ترجمه ای ایماندارو! هغو خلکو ته چې ستاسې نه مخکښې کتاب ورکړشوې وو او ستاسې دین پورې مسخرې کوی او نور کفارهم په دوستی مه نیسئ او دالله تعالی څخه ووارئ که چیرې تاسو ایماندار یاست

په دې کښې خو ددین بی عزتی هسی هم ده خو علاوه په دې بله غټه مفسده داده چې عوام کښې بی حیایی ته جائز بلکه مباح وایی او بلکه د اشاعت دین یوه ذریعه یی بولی

۱۰ - په معاشره کښې د ذکر شوو ټولو ګناهونو دتشهیر اوترویج عظیم وبال

دتلویزون اووسی آر په ذریعه چې په ټوله دنیا کښې څومره بی حیایی خپریږی په دې کښې

دتولو كاركوونكو «دتاجر، خريدار، [illegible] ، جوړونكى ،ليدونكى اوښودونكى» برابره حصه ده دوئ پكښې شريك دى په كومه نيكى يا بدى كښې دحصه دار كيدو لپاره بنفس نفيس شريك كيدل ضرورى ندى بلكه په كور كښې ناست صفت كوونكى ياپه زړه سره راضى كيدل يا په بله كومه طريقه دهغې حوصله افزايى كول په هغې كښې دشركت مترادف دى لكه چې حديث دى

اذا عملت الخطيئة فى الارض فمن شهدها فكرهها كان كمن غاب عنها ومن غاب عنها فرضيها كان كمن شهدها (اى بامرها وشارك اهلها) (سنن ابى داود ص۲۴۹ ج۲)

ترجمه : كله چې په ځمكه كومه ګناه كيږى نو چې كوم شخص په دغه موقع موجودوى د هغه زړه په دې باندې خوښ نه وى نو هغه حكما داسې دې لكه هغه څوك چې ترينه غائب وى، اوكوم سړې چې هلته غائب هم وى ليكن په زړه كښې په هغې راضى وى هغه حكما په شان دهغه چا دې چې په دغه موقع كښې حاضر او شريك وى .

دا ظاهراوښكاره حقيقت دې او دليل ته محتاج ندى، چې نن سبا په ټوله انسانى معاشره كښې دفحاشى اوعريانى په خپرولو كښې څومره كردار يواځى تلويزون ادا كوى ددنيا ټولې رنډۍ اوفاحشې اوبى غيرته اوسندرغاړى او دهغوئ دوستان سره يوځاى شى هم دومره كردار نشى ادا كولې، تلويزون كورپه كور سينما خانه جوړه كړې ده، څه وخت مخكښې چې كومه ګناه خلكو بهر تلاش كوله، نن هغه ګناه دتلويزون له بركته نه صرف جائز بلكه فيشن جوړه شوه او په هر كور كښې موجوده شوه .

د ګناهونو دې ډير والى معاشره په جهنم بدله كړه، ددې ټولې خرابى ذمه دارى دهغه چاپه سرده چې ددې سرچشمهٔ فساد په تشهير اوترويج كښې په څه قسمه درجه كښې هم دخيل دى. دا خلك يواځى دخپل ځان نه بلكه دټولې معاشرې دښمنان اوبدخواه دى اوپه دې باندې چې كوم قرآنى وعيدونه دى په هغې كښې داخل دى .

﴿ إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَن تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ ءَامَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ۝١٩ ﴾ (۱۹ــ۲۴)

ترجمه : هغه څوك چې غواړى چې خپره شى دبى حيايى خبره په مسلمانانو كښې، هغه ته به په دنيا او آخرت كښې دردناك عذاب وى، اوالله تعالى پوهيږى اوتاسونه پوهيږى

د ګناه عذر

دتلويزون دهغه هولناكو او خطرناكو نتائجو له ليدلو سره هيڅ يو ذى هوش انسان هغه دځان لپاره او دخپل اولادلپاره يا دمعاشرې دكوم بل فرد لپاره مفيد نشى بللې. مګر ددې لوى حقيقت

دپوهېدلو لپاره څه انساني حس په کار دي، افسوس چې تلويزون دخپلو عاشقانو له زړه او دماغو څخه داحس داسې صفا سوتره کړي دي چې هيڅ دخير اوشر تميز نشي کولې.

په سوال کښې ذکر شوې تقرير چې دتلويزون فائدې يې شميرلې دي هغه دتلويزون غوره کونکو خلکو ژبه تکراريږي، که له ده څخه څوک پوښتنه وکړي چې آيا په دنيا کښې داسې کومه بدي شته چې ستاسې ددغه خبرې په اساس په هغې کښې هيڅ خير اونيکي نه وي؟ بلکه هره بدي کښې يوه نه يوه نيکي ضروري وي، ، آيا آدم خور درنده مار لړم وغيره په خپل ذات کښې دفائدې يو اړخ نه لري؟ بيا څه وجه ده چې احمق نه احمق انسان هم دې ته دلاس په وروړلو تيارندې؟ رښتيادي : **دبې دينې اول گذار په عقل لګيږي.**

بعضې خلق دتلويزون دطرفدارانو ددې تقرير په آوريدوسره چې دتلويزون په سکرين براه راست پيش کيدونکي مناظر تصويرنديې بلکه عکس دې. پدې خبره طويل طويل بحثونه کوي.

مونږ دابحثونه څکه بې اساسه ګڼو چې دتلويزون اصل حکم په دې موقوف ندې که دامناظر تصوير وي هم حرام دي او که عکس وي هم قطعي حرام دي که دهغوي په قول داعکس وي نو بيا دبې پردې فاحشو ښځوعکس ليدل چا جائزکړي دي؟ او د سريو نيمه بربنډ عکس ليدل ښځوته چا جائزکړي دي ؟ حقيقت دادې چې داعکس له يوه پلوه له اصلي صورت څخه زيات مهلک اوخطرناک دې. شاعر ډيرښه ويلي دي :

د شعر ترجمه : **ستاپه تصوير کښې يوشي ستا څخه جدادې چې خومره يې چپوم (ښکلوم) هغه نه ښوريږي اونه کنځلې کوي.**

که داعکس تسليم کړې شي او جائز وګرځول شي دخارجي مفاسدو په بناء يوجائز کارهم ناجائز ګرځي اوتلويزون خو (مجسمه دفساد) دې له دې ټولو مفاسدو څخه سترګي بندول اوداجائز ګرځول څنګه کيدی شي؟

که له خارجي مفاسدو څخه هم نظر قطع کړې شي او دا فرض کړې شي چې براه راست پيش کيدونکي مناظر(عکس) دې اوله وراندې نه فلم شوي مناظر (تصوير) وو نو هرتلويزون کتونکې به څرنګه تميزوکړي چې اوس پروګرام براه راست چليږي اونشرته سپارل کيږي اوکه دهغه فلم ښودل کيږي ؟ پداسې حال کښې چې عموماً دتلويزون پروګرام دفلم په صورت کښې ښودل کيږي.

ويډيوکيسټ

داهم په فتنه خپرولو کښې له تلويزون څخه دوه ګامه مخکښې ده په دې کښې محفوظ شويرونه وي، ځينې خلق دلته هم هماغه تقريرشروع کوي چې دا تصوير هم داوبو عکس يا د ښيښې دعکس په شان دې حالانکه څوک ادنې عقل لرونکې هم په دې پوهيږي چې تصوير اوعکس

دوه متضاد شیان دی. تصویر دکوم شی پائیدار نقش اومحفوظ نقش ته ویلې شی اوعکس ناپائیدار اووقتی نقش ته ویلې شی د اصل په غائب کیدو سره عکس هم غائب کیږی

ویډیو کیسټ کښې تصویر محفوظ وی کله یې چې وغواړی اوخومره یې چې وغواړی نو د تلویزون په سکرین (شیشه) باندې دهغه نظاره کولې شی او دا تصویر تابع داصل نه دې بلکه له دې څخه بالکل لاتعلق دې خومره خلق مړه دی چې په دنیا کښې یې نوم اونشان نشته مگر دهغوئ متحرك تصویرونه په ویډیو کیسټونو کښې موجود دی.

داسې تصویر ته کوم لیونې هم عکس نه وایی، صرف د دې په خاطر چې په ویډیوکیسټ کښې تصویر زمونږ په نظر نه راځی نو دتصویر له وجودنه انکار کول دا یوه مغالطه ده.

که دامنطق تسلیم کړې شی چې په فته (کیسټ) کښې تصویر محفوظ ندې بلکه معدوم دې او په وډیو کیسټ کښې محفوظ نقوش دتلویزون سکرین (شیشې) ته څی اوتصویر ترینه جوړیږی نو د داسې لاحاصل تقریر نه په اصل حکم څه اثر پریوځی ؟

دتصویر دمحفوظ کیدوپه تقدیر تلویزون صرف دتصویر دنمائش یوه آله ده اوس دتصویر سازی آلې هم قرار وموندلو چې صرف تصویر ښودل نه بلکه تصویر هم جوړوی اوس نو هغه قباحت دوچند شو . **یک نه شد دوشد**

لنډه داچې دتلویزون او وډیو کیسټ دتصویر متعلق به زیات نه زیات دا وویل شی چې دسائنس ترقی دفن تصویرته ترقی ورکړه په دې کښې یې زیات تیزوالې پیداکړو اودتصویر سازی لپاره یې یوه دقیقه اوجدا طریقه ایجادکړه مگر یاد ساتئ چې تصویر که دهر قسم څخه وی دحضور صلی الله علیه وسلم له دې وعید څخه خارج ندی چې: **اشد الناس عذابا یوم القیامة المصورون**

یعنی په ورځ دقیامت به ترټولو سخت عذاب والا تصویر جوړونکی وی

لعن النبی صلی الله علیه وسلم ــــــــ المصور.

یعنی حضور صلی الله علیه وسلم په تصویرساز باندې لعنت ویلې دې.

داخوکرښی مونږ دهغو خلقو په تردید کښې ولیکلې چې دعکس بهانه نیسی او د تلویزون دلعنت دجواز لپاره دغلا دروازه خلاصوی اوکه نه نو په شروع کښې مونږ لیکلی دی چې دتلویزون حرمت اوشناعت په دې پورې موقوف ندې.

یوه پوښتنه په آخر کښې له هغو خلکو څخه چې دعکس دبیا بیا تکرارولو څخه نه ستړی کیږی یوه پوښتنه کیږی چې که چیرته ستاسې خپلې لوڼه دتلویزون په سکرین باندې داسې رابنکاره شی او ټولې دنیا ته د دعوت نظاره وراندې کړی نو خدای خبر چې تاسو به خپل ... کښې خومره سوچونه کوئ اوخپل خان به مطمئن کوئ چې ((دا خو یو عکس دې او وی به)) او ...

له غیرت او حمیت نه په خمکه ننوځي

ع آنکه برخود نپسندی بردیگران مپسند

یعنی کوم شی چی دخان لپاره نه خوښوې دنورو لپاره یی مه خوښوه

ځینی مغرب زده روشن خیال قسم خلك علماؤ باندې طعن کوی چی داحضرات قدامت پسند او تنگ نظری دی هغوی ته نده معلومه چی تلویزون نن دمتمدنې زندگۍ یو جزء لازمی گرځیدلې دعلم او ادب اوفلسفې اوسائنس بلکه ددین دتبلیغ اونشر او اشاعت یوه بهترینه ذریعه ده مگر علماء غواړی چی له تلویزون څخه دا دنیکۍ عنصر ختم کړی او دا باطل آزاد اوبی مهاره پریږدی

ددی جواب دادې چی دعلم او ادب او ددین له نور اشاعت څخه هیڅ مسلمان هم منع نه کوی بالخصوص علماء کرامو خو ټوله زندگی دعلم دین داشاعات لپاره وقف کړې ده

په هغوی داتهمت لګول له حقیقت څخه مخ گرځول دی مگر په دین کښې دتحصیل عمل څه آداب اواصول دی. تلویزون دتحصیل علم آله نده بلکه دسندرغاړو ښځو اوبی غیرته خلکو او ډولکیو زانگو ده، دگندگی په دې ډنډ کښې کیناستل اوتبلیغ کول دینی خدمت ندې بلکه له دین سره بدترینې مسخرې کول دی.

که له کوم معترض سره دانصاف اودیانت یولږ شان رڼا هم وی نو ودې ښایی چی آیا تلویزون شپه اوورځ دفلمی ایکټرانو اوزنانه فلمی ایکټرو اونیم عریان لوبغاړو لپاره وقف ندې؟ دهغوئ په هجوم کښې که دلږ ساعت لپاره که یوسرکاری مولوی یا درباری شاعراونعت خوان ته دڅه ویلو موقع ورکړل شی نو آیا دا دتلویزون تطهیر (پاکوالې) د اوکه دبیت الخلاء نه دعبادت خانې جوړولو حماقت دې؟

آیا دکوم تلویزون عاشق ویلې شی چی دتلویزون دپروگرامونو په کلونو چلیدوسره اودهغو په لیدلو سره څومره کافران ترننه پورې مشرف په اسلام شول؟ دغه شی څومره بی نمازه خلق نماز گذار کړل؟ اوخپله د تلویزون په دغه عاشق څومره اثرشوې دې؟

افسوس په دنیا کښې دهر فن اوهرنهر زده کولولپاره داخلك دفن ماهرینو ته ځی اوهغوئ ته غټ غټ فیسونه ورکوی اوهرقسم نازبرداری کوی مگردین ددوئ په نظرکښې یو لایعنی کار دې په کوڅو کښې ناست تماشه وینی او د دین حاصلول غواړی. له دې نه زیات ددین بی عزتی اوبی حیثیتی نوره څه وی؟

خوله په دې خبره نه پوهیږی چی دتلویزون په پروگرامونو کښې ددینی امورو په دغه انداره شملیدل صرف د ذاتقی بدلولو لپاره یوه وقتی خبره ده. که کوم وخت په ملك کښې اسلامی حکومت قائم شو او هغه دتلویزون ټول اختیارات په خپل لاس کښې واخستل اوله موجوده منکرانو څخه یی پاك کړو. په تلویزون کښې دښځو تګ راتګ نه وی اودکوم ذی روح تصویر هم

پیش نکړي اودهغه ټول کارکوونکي صالح خلك وي اودا دعوامي خواهشاتو دتابع کولو په ځای په مفیدو مقاصدو کښې استعمال کړې شي داستعمال مخصوص شرائط اوح.ود دوخت له محقق عالم سره طی کړې شي نو په داسې حال کښې به تلویزون واقعی آله دخیر وګرځی اوعلماء کرام به په هغه هیڅ اعتراض ونه کړي، مګر په موجوده حالاتو کښې دا قطعاً دشر آله ده او دهغه دماهیت د بدلیدلو آثار ترلرې لرې په نظرنه راځي.

علماء دکوم نوي ایجاد مخالف ندي، هغوئ په هرقیمت ددین تقدس برقرار ساتل غواړي په عناد او تعنت بناء دیواعتراض نامعقولیت اولغویت ظاهرولو لپاره دا مفروضه ولیکل شوه اوکه نه نو داحقیقت واضح دې چې دتلویزون تطیهر په طریقه مذکوره سره ډیر وخت غواړي، هغه هم په دې شرط چې فی الحال په تلویزون باندې مکمله پابندي ولګول شي چې دټول مملکت څخه دهغه وجود ختم کړې شي . دتلویزون په موجودګی کښې له هغه څخه فحاشي اودبې دینی هره لمحه زیاتیدونکي سیلاب او طغیان باندې بندیز لګول ناممکن دی، دتلویزون زهر دهغه دمسموم شوي معاشرې درګونو څخه دویستلولپاره څوکاله کافي ندي، بلکه د پیړیو ضرورت دې.

داخیال صحیح ندې چې که حکومت وغواړي په موجوده حالاتو کښې هم پابندی عائد کولی شي اوتطهیر یې کولی شي، ځکه چې تر څو پورې دحکومت اصلاح نه وي شوي هغه به له جهنم څخه څنګه نجات حاصل کړي؟ او دجمهوري طرز حکومت اصلاح دعواموتر اصلاح پورې موقوفه ده . له دې څخه ثابته شوه چې په موجوده حالاتو کښې دتلویزون دتطهیر مشورې اود تطهیر په صورت کښې داستعمال جوازتولی خام خیالیانی اوخوب اومحض دژبې اودقلم دتفریح سامان دې

دجهالت یوه نمونه

ځینی خلك وایي چې مونږ صرف په کار راتلونکي پروګرامونه ګورو. فحش او نور ناجائز پروګرامونه نه ګورو. ددوئ دامنطق تلبیس ابلیس اوفریب دنفس اوشیطان دې، مونږ چې دتلویزون کوم فسادات ولیکل دهغو په نظر کښې نیولوسره دا شیطانی آله په هیڅ حال اوپه هیڅ نیت هم کتل ندي جائز دجائز پروګرام دکتلو دعدم جواز وجوه مونږ دوباره لیکو:

اول: تصویر یا عکس ددې دواړو دفساداتو تفصیل مخکښې تیرشو.

دویم: دښځې تصویر یا عکس اونطاقه ښځه په هرحال ښځه وي.

دریم: دلوبو اولامبووهلو په مناظروکښې ستر ښکاره وي.

څلورم: دفحاشی په دغه اډه کښې دحج مناظراو نور دینی پروګرامونه پیش کول دهغو کتل ددین اسلام توهین اودیره لویه ګمراهی بلکه خطره د ایمان ده

پنځم: تلویزون لیدونکی په حد دجواز باندې نشي قائمیدلی. دانشه یووخت نه بووخت به یې

په حرامو کښې مبتلاء کړي او دا قاعده ده چې : «الامرالمفضی الی الحرام حرام» کوم کار چې دحرامو دمبتلاء کیدو سبب ګرځي هغه هم حرام دي.

شپږم : په لمانځه کښې تاخیریا دترک جماعت سبب دي.

اووم : صحت جسماني اودماغي او اعصابو اونظرته نقصان رسوي.

اتم : بالفرض که کوم سړي دحدودو او قیودو پابندي وکړي نو دهغه له عمل څخه عوام استدلال کوي اوپه فواحشواو معاصیوکښې به مبتلاء شي چې دهغوئ ګناه اووبال به هم په دغه شخص وي چې دهغوئ دبې دینی اوفسق اوفجور سبب جوړشو.

دتلویزون احکام

تلویزون په اوسنی حالت اوصورت کښې د ډول او باجې اوسرندې وغیره لهو لعب په شان یوه آله دلهو لعب ده، بلکه دمفاسدوپه لحاظ سره دمعاصی له نورو آلاتو نه لویه ضرررسونکې اوتباه کونکې آله ده، لهذا دهغه خرڅول او اخستل اوپه اجاره ورکول یا اخستل ، هبه کول په هبه کښې قبلول، مرمت کول له ځان سره ساتل اودهغه تصویر کتل اوښودل اوپه داسې ځای کښې کیناستل چې په هغه ځای کښې تلویزون چلیږي دا ټول کارونه حرام دي.

کوم مسلمان ته چې له دې ګناه نه دتوبې توفیق ورکړل شوې وي هغه دې دا مات اوضائع کړي البته که په دې کښې کومه پُرزه داسې وي چې دبل جائز کار په کار راځي دهغې په ایستلوکښې مضائقه نشته اوهمدارنګه که له کوم شخص نه یا کمپنۍ نه یې اخستې وي دخرید په قیمت یا له هغه نه په لږ کم قیمت یې بیرته واپس کولې شي.

که څوك مسلمان دچاتلویزون مات کړي په هغه ضمان نشته مګر که دفتنې اندیښنه وي نو ماتول یې جائز ندي.

کوم خلك چې دتلویزون یا وی سی آر یا تصویرونو کاروبارکوي دهغوئ دولت اوګټه حرامه ده لهذا له هغوئ سره لین دین او دهغوئ دعوت خوړل، هدیه اخستل، غرض په کوم شکل کښې هم دهغوی له مال څخه نفع اخستل جائزندي .

چونکه تلویزون دلهو اولعب آله ده لهذا په دې کښې دحج مناظر، آذان، تلاوت حمد اونعت اونور دیني پروګرامونه نشر کول ناجائز اوقطعي حرام دي، دې ګناه ته دنیکۍ په نظر کتل اندیښنه دکفرده

کوم سړې چې ددغه مذکوره ګناهونو مرتکب وي هغه فاسق دې لهذا دهغه آذان او اقامت مکروه دې او داسې سړې په خپل اختیار امام کول جائزندي که جوړشونو فرض لمونځ ادا کول وریسې صحیح دي په دې شرط چې دامامت نورشرطونه پکښې موجود وي تراویح اووتر وریسې

جائزندي اودهغه شهادت مردود دي
په داسې مخصوصوخايونو کښې چې هلته دتلويزون استعمال ضروري وي لکه حفاظتي تدابير، ايتمي تنصيبات، سائنسي مراکز د ډاکټرۍ مهارت لپاره عملي تجربات په دورحاضر کښې، نو پداسې خايونو کښې دضرورت په وخت بقدر ضرورت دهغې کتل جائزدي والله هو العاصم من جميع الفتن.

محمد ابراهيم نائب مفتي دارالافتاء والارشاد ۶ذى قعده ۱۴۱۲هـ

الحاق

د شهوت دغلبې له وجې په خپلې مور حمله کول

يوشخص له دار الافتاء څخه دخپل ځان په باره کښې داسې استفتاء غوښتله «ماله خپلې مورسره يوفحش پروګرام کتلو، شهوت را باندې غلبه وکړه اوپه آله تناسل کښې مې انتشار پيدا شو او دشهوت په جوش کښې مې بې اختياره مور ونيوله» د وى سى آر په باره کښې خو د خپلې لورسره دبدکارى کولو واقعه مخکښې وليکل شوه.

داسې شرمناک اوحياسوز واقعات ليکل او دقلم لاندې په راوستلوله دې څخه قلم په لړزه کښې راځي مګر زړه باندې موتيګه کيښوده صرف ددې مقصد لپاره داسې واقعات شائع کيږي چې شايد دهغو خلکو لپاره د عبرت تازيانه وګرځي چې دتفريح په نوم دې بې حيايۍ ته په انکشاف او وده ورکولو باندې مصروف دي.

ددغو حقائقو دمشاهده کولو باوجود که داخلک خپل روش بدل نکړي نوددې باور کولو نه بغير چاره نشته چې شايد ددغو خلکو په لغت کښې د دين اوايمان، شرم اوحياء اوغيرت، روحيت الفاظ مهمل اوبې معنا وي.

ع · حميت نوم وو دهغه چې دمسلمانانو کورنيو څخه تللي.

په سترګوليدلې عبرتناک عذاب

درمضان المبارک خبره ده چې له روژه ماتى څخه لږمخکې مور لورته وويل راځه له ماسره دروژه ماتى لپاره په تيارى کښې کومک وکړه؟ لور ورته وويل مورې زه خوبه دتلويزون پروګرام ګورم او کله چې مې هغه وکوت بيابه کار وکړم

دايې وويل اوپورته چت ته وختله په کمره کښې تلويزون اېښې وو. دې نجلۍ دمور له وارهٔ چې مور راباندې په زبردستۍ سره دکور کار ونکړي اوآواز راته ونکړي نو دروازه يې ددننه له طرفه به ځان پسې بنده کړه، هلته مور لورته آوازونه کړي، لور يې آواز هم وانه وريدلو، کافي وخت تېر شو

کورنه یول سړی هم راغلل روژه ماته شوه لیکن نجلۍ تراوسه له کوټې څخه نده راوتلې. موږ دروازه ورته ور وټکوله خودننه له طرفه آواز رانغې په زړه کښې ودارة شوه او دهغې پلار او ورور نه یې غږ وکړ هغوئ دروازه ماته کړه اودننه داخل شول چې گوری نجلۍ په خمکه پرمخې پرته ده چې هغه یې وکتله نو مړه شوې وه. اوس حالات داسې شو چې نجلۍ په خمکه پوری نښتې وه په را پورته کولو نه را پورته کیدله ټولو هغه راپورته کولو خو ټول ستړی شول اوهغه را پورته نشوه کړای. اوس حیران شول چې څه وکړی. دچا په ذهن کښې ناڅاپي یوه خبره راغله چې تلویزون پورته کول پکاردی کله یې چې تلویزون پورته کړ نجلۍ هم پورته کړې شوه، اوس قصه داسې شوه چې که به تلویزون پورته کیده نو نجلۍ به هم پورته کیدله اوکه نه نو هیڅاهم هغه نه شوای پورته کولی. آخر هغوئ له نجلۍ سره تلویزون هم راواخستلو اوهغه یې لاندې راکوزه کړو اوغسل اوکفن وغیره یې ورکړل. کله چې دجنازې د ورلو لپاره جنازه پورته کیده نو کټ له خمکې سره نښتې وو بالاخره هغوئ تلویزون راپورته کړ او تر قبرستانه پورې یې ورسره یوړو اوس هغوی نجلۍ په قبر کښې دفن کړه اوتلویزون یې کورته راوړل غوښتل کله چې هغوئ تلویزون راپورته کړ نو مړې هم له قبر څخه بهر شو هغوئ بیاهغه دفن کړو مگر کله یې چې تلویزون راواخست مړې بیاله قبر څخه بهر را وغورځیده اوس ټولو خلکو ته سخته پریشانی شوه بالاخره هغوئ نجلۍ سره له تلویزون نه په قبر کښې ښخه کړه.

اوس به چې دهغې نجلۍ څه حشروی پدې الله جل جلاله ښه پوهیږی

«رساله ختم نبوت جلد۷ شماره ۱۸»

دتلویزون فضائی اثرات

د «مسلمان» ورځپانې دمدارس په ۵ اگست ۹۲ گڼه کښې لیکلی دی اوپه رپوټ کښې ویل شوی دی چې کورنی برقی سامان آلات مثلا دتلویزون نه چې کومې زهری مادې په شکل دگیس خارجیږی هغه په نیوکلیائی تجربه گاه کښې دبم دچاودنې څخه بعد دپیداکیدونکو اثراتو پنځه چنده زیات خطرناک دی

په دنیا کښې لوئ عذاب

دیرشم اکتوبر کال ۱۹۹۰چې کله هر طرف دمسلمانانو قتل عام کیده او دمسلمانانو جایدادونو ته اورلگیده او دزنانو بې حرمتی کیدله نو ۳۱ اکتوبر۹۰ زه د استخارې په نیت ویده شوم په خوب کښې یوه بزرگ تشریف راوړ ماهغه ته عرض وکړو چې «حضرت دمسلمانانو قتل عام کیږی دهغوئ مالونه په اور کښې اچول کیږی دښځوبی حرمتی یې کیږی هر طرفه مسلمانان پریشانه دی. نو هغه عمل راته وښایه چې دهغې په وجه دمسلمانانو پریشانی لرې شی»

هغه بزرگ راته اوفرمایل له چتونو څخه چترئ لرې کړئ یعنی دتلویزون انتن لرې کړئ
رسله تلویزون کی تباه کاریان،

د قبر عذاب

دوه دوستان وو یو په جده کښې اوسیده اوبل په ریاض کښې ددواړو ترمینځ کورنی اړیکې وې دواړه دیندار اوپرهیزګاره وو. درياض اوسیدونکی سره دکورنی غړو ضد وکړ چې کورته تلویزون راوړی. دښځی او اولاد په اصرار کولو هغه کورته تلویزون راوړ څو ورځې پس دهغه انتقال وشو د جدې اوسیدونکی هغه درې ځلی په خوب کښې ولیده او په هره مرتبه یې هغه په عذاب کښې لیده اوهغه به په درې واړه خوبونو کښې دجدې دوست ته ویل چې دخدای لپاره زما کورنی ته اووایه چی له کوره تلویزون اوباسی ځکه چی کله هم زه دوئ دفن کړې یم ماته دتلویزون په وجه عذاب راکول کیږی ځکه چی هغه ما اخستې وو اوپه کور کښې مې ایښې وو هغوئ له دې بی حیایی څخه مزې اخلی اوزه په عذاب کښې مبتلاء یم.

دجدې دوست دجهاز په ذریعه ریاض ته ورسیده او دهغه کورنی ته یی خوب اووایه اودایی هم ورته وویل چی ما دا خوب درې ځله لیدلې دې کله چی کوروالو داخبره واوریده په ژړا شول او دهغه زوی اوپه غصه کښې تلویزون پورته کړ او مات یی کړ او توتی توتی یی بهر وغورځاوه کله چی دجدې دوست بیرته خپل کورته راغې نو بیایی هغه دوست په خوب کښې ولیده چی په ښه حالت کښې دې او دهغه په مخ یوه تازګی ده اوهغه دې خپل همدرد دوست ته دعا وکړه چی الله تعالی دې تاهم له مصیبتونو نه خلاص کړی لکه څنګه چی تا زما پریشانی لرې کړه . نیوه شوې حواله

شیخ عبدالله حمید دسعودی دسپریم کوټ ((سترې محکمې)) پخوانې قاضی دسعودی عرب په خپل یومضمون کښې لیکلی دی : یوجرمنی د اجتماعیاتو ماهر دمختلفو درسګاهونو او ادارو براه راست ښه مطالعه وکړه او په هغه پس یی دمعاشرې او نوی نسل دتلویزون دخطراتو زوره جائزه واخسته او وې ویل چې اې خلکو ! تلویزون اودهغه نظام تباه کړئ ! مخکښې لدې نه چی تاسو تباه کړی

تلویزون په ماشومانو تباه کن اثرات مرتب کوی

په تلویزون کښې پرتشدد او دجنس متعلق پروګرامونه په ماشومانو باندې تباه کن اثرات مرتب کوی دا خبره د برطانیی وزیر صحت کړیده. دهغه وینا ده چی حکومت ته دتلویزون په نشراتو باندې کنترول ساتل په کار دی اودې سره سره والدینوته هم په خپلو اولادونو پابندې لګول په کار دی او هغوئ ته دې یوخاص حد کیږدی. چی له هغه څخه اخواته قدم کینږدی. هغه

ویلی دی چې والدینو ته دهغوئ ذمه داری محسوس کول پکاردی او د ماشومانو عزت کول او هغوئ ته دښو اوبدوتر مینځ تمیز ورزده کول په کار دی

له تلویزون نه کینسر (سرطان) جوړیږی

ډاکتر این ویکمورمشهور ژورنالست اودعیسائی مشن «دعوت» معزز رکن دې هغه په خپل کتاب WHYSUFFER کښې لیکلی دی ربښتیا خو دادی چې تلویزون یو قسم ایکسری مشین دې. ډاکتر چې کله دایکسری مشین استعمالوی دهغه له خطراتو څخه دخان ژغورنې لپاره مناسب انتظام کوی لیکن په تلویزون کښې تراوسه پورې داسې انتظام نشته. دایکسری کول ډیر مهلک وی، دانسان په نازکو اندامونو باندې دهغه اثرات څنګه مرتب کیږی؟ ددې له فکر کولونه هم جګر چوی

هغه وراندې لیکی چې هلکان اونجونې دتلویزون دسیټ مخې ته ناست وی اوپروګرام ګوری د امریکا په بوستن نومې ښار کښې صرف په یوه هسپتال کښې د وینې په کنسر اخته شپږ سوه هلکان اونجونې تر علاج لاندې دی.

ډاکتر ګروډ. لیکی چې: په تور اوسپین تلویزون «ساده» کښې ۱۹ کلو والټ په رنګین تلویزون کښې ۲۵کلو والټ پورې تیوب وی په شروع کښې ۱۶۰۱۴ کلو والټ لرونکې ایکسری مشین دهغه په استعمالونکې تیکنیشن په جسمونو کښې دکینسر حشره پیدا کوی، اندازه ولګوئ چې کله ۱۶ کلووالټ دایکسری مشین کینسر پیداکوی، نوتلویزون چې ۱۹ او ۲۵ کلو والټ وی نو آیا هغه به څه تباهی نه کوی. دعکس تصویر مشهور ماهر ډاکتر «آنلکروب» د امریکې دشیکاګو په هسپتال کښې دروح دوتلوپه وخت کښې په نهایت سختی سره ددې خبری تاکید کاوه چې «په کورونو کښې دتلویزون وجود د یو وژونکی سرطان په شان دې چې دماشومانو په جسمونو کښې په قرار او آرامه سره سرایت کوی».

شیخ عبدالله بن حمید دسعودی پخوانې قاضی القضاة د دغه ډاکتر آنلکروب په باره کښې لیکلی دی.

ډاکتر هم دتلویزون دشعاعونه دپیدا شوی کینسر په مرض مبتلاء وو دهغه له مرګ نه مخکې دهغه نه دکینسر دجراثمو دایستلو لپاره شپږ نوی خله اپریشن شوی وو مګر دهغه هیڅ فائده نه وه ځکه چې دا مرض خپلې انتهاء ته رسیدلی وو. دهغه دبازو او مخ ډیری حصې قطع شوې وې

«تیره شوې حواله»

فالج اوروند والې

له دې نه علاوه له تلویزون نه نور جسمانی نقصان هم پیدا کیږی. مثلا له بعضې تجرباتو څخه

معلومه شوې ده چې ددې نه فالج هم پیدا کیږي اودسترګو په نظر انتهائی مضر اثرات اچوي د
ډاکتر ایچ پي شوین تجربه ده چې په یوه حامله سپین تر دوه میاشتو پورې یې دتلویزون شعاع
غورځولې له هغې وروسته دې سپین څلور بچي وزیږول او دا څلور واړه فالج وهلي وو چې په هغو
کښې درې رانده هم وو

یوبل شخص دوه طوطیان واخستل اودهغوئ پنجره یې د تلویزون دسیټ له څنګ سره
کینښوده نتیجه داشوه چې د طوطیانو پښې شلې شوې. «(تیره شوې حواله)»

په بانک باندې دغلاحمله

په دهلي کښې په یوه بانك دغلا حمله وشوه چې په هغې کښې دغلو له ډلې څخه دځوانانو
یوټولې ونیو ل شول په هغوی کښې اکثر دکوم کالج شاګردان وو دهغوئ نوجوان مشر په عدالت
(محکمه) کښې بیان اقرارورکړ چې ده او دده ملګرو د (بی ایمان فلم) ولیده او داحرکت مو وکړ
لیکن دبد قسمتی له وجې ونیول شو. (**رساله سینما بینی اوراسکی مهلک اثرات**)

تلویزون اودسترګومرضونه

همدا اوس اوس دسترګو ماهر ډاکتر این این سود په نوې دهلي کښې دراجندر پرشاد ایتهك
سنټر کښې درس ورکاوه اوویلې یې دې چې دسینما او تلویزون له کتلو څخه دسترګو مرض
(ګلوکوما) پیدا کیږي. (**پورته حواله درهنمای دکن یکم اپریل ۱۹۸۲ء**)

له تلویزون څخه عذاب قبر

په فیصل آباد کښې یوه سړي دماشومانو لپاره تلویزون واخسته دا سړې مړشو هغه په خوب
کښې خپل ګاونډي ته وویل : هره ورځ دتلویزون پرزې ګرمیږي اوماته ورباندې عذاب راکول
کیږي دخدای دپاره پرما رحم وکړئ او دا تلویزون له کوره اوباسئ؟ دتلویزون دعذاب قبر په باره
کښې مخکښې هم قصې لیکل شوي دي.

له لونوسره بدکاري

دوي سی آر دلیدلو په وجه له خپلې لور سره دبدکاري یوه قصه مخکښې تیره شوه اوس له
تلویزون نه دتعلیم اخستلونه ددوو لونو سره دبدکاري قصه واورئ.

اوس څو میاشتې مخکښې داخبره په اخبارونو کښې شائع شو چې دلکونو خلکو له نظره تیره
شوه چې په کراچۍ کښې یوه دروند صفته انسان له خپلو دوو خوانو لونو سره خپل مخ توراو له
نـول کیدو وروسته هغه بنکاره اعتراف وکړ چې هغه دفلانی فلم پروګرام ولیده نوپه دې ګناه

...دي بی جرنت وکړ

دالله تعالی له طرفه تنبیه

ولا یغرنکم الحیوٰة الدنیا ولا یغرنکم باللہ الغرور.

ترجمه. تاسو دې هیڅ کله هم دنیاوی زندګی په دوکه کښې وانچوی او تاسو دې دالله جل جلاله په باره کښې شیطان خطا نکړی.

دمحسن اعظم صلی الله علیه وسلم ارشاد دې چې: اکثروا من ذکر هاذم اللذات الموت
یعنی مرګ ډیر یادوئ چې دټولو لذتونو ختمونکې دې.

ع
دزمانې په رنګین کیدو تازګی پسې مه خه ای زړه
دا خزان دې چې د سپرلی په انداز راغلی دی

بسم الله الرحمن الرحیم
﴿وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ﴾

له حلال اوحرام څخه
دمخلوط مال حکم

«دحضراتو فقهاء کرامو دعباراتو تنقیح او توجیه: په متعارضه عباراتو کښې تطبیق اوترجیح دمسئلې په هراړخ په تفصیل اوتحریر کښې منفرده تحقیق»



دحلال اوحرام مال څخه دمخلوط مال حکم

په دې مسئله کښې دفقهاء کرامو په عباراتو کښې ډیر اختلاف موندل کیږي ددې لپاره اکابرو علماء کرامو اود ارباب فتوی اقوال اوفتاوی هم مختلف دی.

په دې رساله کښې:
مکمل جزئیات او د دلائلو لیکلو سره سره دلاندې صورتونو حکم هم لیکل شوې دې.
۱- چې خلط متیقن وی ، برابره خبره ده چې حلال غالب وی یا حرام.
۲- خلط مشتبه وی ، حلال غالب وی.
۳- خلط مشتبه وی ، حرام غالب وی
۴- دحلال اودحرام دیوه هم دغلبې علم نه وی
۵- په حلال اوحرام کښې امتیاز وی مګر دامعلوم نه وی چې دا له حلال مال څخه دې اوکه له حرام مال څخه
۶ - دحرام مال دمصرفولو تدبیر.

له حلال او حرام څخه مخلوط مال

سوال له حلال او حرام څخه دمخلوط مال حکم په شریعت کښې څه دې؟ په اردو فتاوو کښې دې په حکم کښې مختلف اقوال موندل کیږی لهذا عرض دې چې تحریر وربانديې اوفرمایئ دینده یوه لیکنه لپاره داصلاح ستاسې په خدمت کښې ده

بسم الله الرحمن الرحيم

۱. مغصوب غیرمخلوط خالص حرام دې ولتنتقل حرمته من ذمة الی ذمة وان تداولته الایدی وتبدلت الاملاك بشرط العلم والخبث فیه لعدم الملك. البته کله چې مالك معلوم نه وی نو دفقیر لپاره حلال او طیب دې

قال فی الدر: واما الخبث لعدم الملك کالغصب فیعمل فیهما (شامیه ص ۲۰۴ج۵). وکذا فی منحة الخالق بهامش البحر (ص ۲۰۴ج۵). وفی الخانیة: وان کان غیر مختلط لایجوز للفقراء ان یأخذوا اذا علموا انه مال الغیر. (خانیة بهامش الهندیة ص ۴۰۰ج۳)

وفی الخلاصة: لکن من غصب غصبه ان کان لم یخلطه بدارهم اخری. (خلاصة ص ۲۲۵ج۱)

وفی حاشیة الطحطاوی علی الدر: ان علم ان العین التی یغلب علی الظن انهم اخذوها من الغیر بالظلم قائمة وباعوها فی الاسواق فانه لاینبغی شراؤها منهم وان تداولته الایدی (طحطاوی علی الدر ص ۱۹۲ج۴)

فلنبغی لاینبغی بمعنی لایحل کما هو الظاهر.

وفی الشامیة عن الحموی وما نقل عن بعض الحنفیة من ان الحرام لایتعدی الی ذمتین سألت عنه الشهاب ابن الشلبی فقال هو محمول علی ما اذا لم یعلم بذلك اما لو رأی المکاس مثلا یأخذ من احد شیئا من المکس ثم یعطیه آخر ثم یأخذ من ذلك الآخر آخر فهو حرام اه (شامیة ص ۹۸ج۵)

وفی الهندیة: وان دفع عین المغصوب من غیر خلط لم یجز (هندیة ص ۳۴۲ج۵) وغیر ذلك من العبارات الآتیة ان شاء الله تعالی.

۲- مال مغصوب قبل الخلط خالص حرام دې لیکن کله چې دخپل مال سره یا دغیرله مال سره خلط شو (خلطا لایمکن التمییز) نو خالط ددې مالك جوړشو اوهغه دده لپاره خالص حرام نشو لیکن له هغه څخه انتفاع قبل اختیار الضمان حرامه ده

۳- په مال مخلوط باندې د خالط ملکیت خبیث د فاسدې بیعې په شان دې.

۴- دمال مخلوط شراء وغیره مکروه دی

۵ - سره ددې نه بیاهم دمشتری لپاره اوموهوب له لپاره حلال اوطیب دی چونکه دپنځم نمبر په دلائلو کښې ددې نوږو دلائل هم راځی لهذا دطوالت له وجې خان ځانته ونه لیکل شو

دپنځم نمبر دلائل

۱ـــ فی الهدایة: قیل له(ای لابی نصیر)لوان فقیرا یاخذ جائزة السلطان مع علمه ان السلطان یاخذها غصبا ایحل له قال ان خلط ذلك بدراهم اخری فانه لا بأس به وان دفع عین المغصوب من غیر خلط لم یجز (هندیه ص۳۴۲ ج۵)

۲ــ قال الفقیه ابو اللیث رحمه الله تعالی: هذا الجواب خرج علی قیاس قول ابی حنیفة رحمه الله تعالی لان من اصله ان الدراهم المغصوبة من اناس متی خلط البعض بالبعض فقد ملکها الغاصب ووجب علیه مثل ما غصب وقالا لا یملك تلك الدراهم وهی علی ملك صاحبها فلا یحل له الاخذ کذا فی الحاوی للفتاوی (هندیه ص۳۴۲ ج۵)

کله چی دصاحبینو په نزد لایحل له الاخذ وی نو دامام صاحب په نزد به یحل له الاخذوی.

۳ــ وفی الخلاصة: من لا یحل له الصدقة فالافضل ان لا یاخذ جائزة السلطان لکن هذا اذا کان یؤدی من بیت المال فان کان یؤدی من موروث له جاز وان لم یکن من موروث لکن من غصب غصبه ان کان لم یخلطه بدراهم اخری لا یحل وان خلط لا بأس به لانه صار ملکا له بالخلط عند ابی حنیفة رحمه الله تعالی (خلاصه ص۳۴۵ ج۱)

۴ــ وفیها ایضا: وقوله ارفق للناس اذ اموالهم لا تخلوا عن الغصب (نیره شوی حواله)

وفی الدر: لو خلط السلطان المال المغصوب بماله ملکه (الی) لان الخلط استهلاك اذا لم یمکن تمییزه عند ابی حنیفة رحمه الله تعالی وقوله ارفق للناس اذ قلما یخلو مال عن غصب (شامیة ص۲۹۰ ج۲)

داقول ارفق هلته کیدی شی چی دنوږولپاره په صورت دتملیك کښې حلال وی. په التحریر المختار کښې یی د «للناس» شرح په فقراء سره کړیده او دا صحیح نده «ویدل علیه ماقدمنا عن الخلاصه»

۵ ــ وفی الشامیة عن المجتبی مات وکسبه حرام فالمیراث حلال ثم رمز وقال لا ناخذ بهذه الروایة وهو حرام مطلقا علی الورثة فتنبه اهـ ومفاده الحرمة وان لم یعلم اربابه وینبغی تقییده بما اذا کان عین الحرام لیوافق ما نقلناه اذ لو اختلط بحیث لا یتمیز یملکه ملکا خبیثا لکن لا یحل له التصرف فیه مالم یؤد بدله کما حققناه قبیل باب الزکوة (شامیة ص۹۹ ج۵)

له دی څخه معلومه شوه چی که عین حرام نه وی اوملاك هم معلوم نه وی نو د وارثانو لپاره حرام ندی اودا هم معلومه شوه چی دعین حرام مقابل مخلوط دی.

۶ــ وفی الخانیة: واذا مات عامل السلطان واوصی ان یعطی الحنطة للفقراء قالوا ان کان ما اخذه من الناس

مختلطا بماله لا بأس به وان كان غير مختلط لا يجوز للفقراء اذا علموا انه مال الغير فان كان ذلك الغير معلوما رده عليه وان لم يعلم الاعلى انه من ماله او مال الغير فهو حلال حتى يتبين انه حرام (عالمگیریه بهامش الهندیة ص۳۰۰ ج۳)

۷ــ وفيها ايضا: قال الفقيه ابو الليث رحمه الله تعالى: ان كان مختلطا بماله على قول ابي يوسف ومحمد رحمه الله تعالى يملك المال بالخلط ويكون للاخذان يأخذ اذا كان في بقية مال الميت وفاء بمقدار ما يؤدي به حق الخصماء (حواله بالا)

۸ــ وفي الطحطاوي على الدر: سئل عما يبيعه الاتراك في الاسواق وغالب مالهم الحرام ويجري بينهم الربا والعقود الفاسدة فاجيب بانه على ثلاثة اوجه الاول ان علم ان العين التي يغلب على الظن انهم اخذوها من الغير بالظلم قائمة وباعوها في الاسواق فانه لا ينبغي شراؤها منهم وان تداولته الايدي الثاني ان يعلم ان العين قائمة الا انه اختلط بالغير بحيث لا يمكن التميز عنه فعلى اصل ابي حنيفة رحمه الله تعالى بالخلط يدخل في ملكه الا انه لا ينبغي ان يشتري منه حتى يرضى الخصم بدفع العوض فان اشتراه يدخل في ملكه مع الكراهة.

(الطحطاوي على الدر ص۱۹۲ ج۴)

۹ــ وفي المرقاة: ان ما اشتبه امره في التحليل والتحريم ولا يعرف له اصل متقدم فالورع ان يتركه ويجتنبه ويدخل في هذا الباب معاملة من في ماله شبهة او خالطه ربا فالاولى ان يحترز عنها ويتركها ولا يحكم بفسادها ما لم يتيقن ان عينه حرام فان النبي صلى الله عليه وسلم رهن درعه من يهودي بشعير اخذه لقوت اهله مع انهم يربون في معاملاتهم ويستحلون اثمان الخمور وعن علي رضي الله تعالى عنه انه قال لا تسأل السلاطين فان اعطوا من غير مسألة فاقبل منهم فانهم يصيبون من الحلال اكثر مما يعطونك. (مرقاة ص۲۷ ج۶) . ونقله في بذل المجهود ثم اذكر وصفهم الله تعالى بانهم سماعون للكذب اكالون للسحت (بذل المجهود ص۲۴۸ ج۵)

۱۰ــ وفي الشامية : (قوله لان الخلط استهلاك) اي بمنزلة ان حق الغير يتعلق بالذمة لا بالاعيان (وبعد ذلك) انه لما خلطها ملكها فصار مثلها دينا في ذمته لا عينها (شامية ص۲۹۰,۲۹۱ ج۲)

۱۱ــ وفيها :سئل ابو جعفر رحمه الله تعالى فيمن اكتسب ماله من امراء السلطان وجمع المال من اخذ الغرامات المحرمات وغير ذلك هل يحل لمن عرف ذلك ان يأكل من طعامه: قال احب الي ان لا يأكل منه ويسعه حكما ان يأكله ان كان ذلك الطعام لم يكن في يد المطعم غصبا اور شوة اهـ

دا به مخلوط باندې حمل كول ضروري دي اول خوله خط كشيده عبارت څخه خلط مفهوم شوي هيڅ يو حرام خوهم داسې نه وي چې حرام خانته جدا ساتي او حلال جدا. لهذا دعرف د دلالت

اودحال د دلالت څخه به داپه خلط باندې محمول کولې شی.
همدارنګه امام شافعی رحمه الله تعالی دا له (ملکه بالخلط) نه بعد متصل ذکر کړې چې دا خبره ترینه معلومیږی چې دده په نزد هم دا دخلط صورت دې . دویم دا چې که چیرته دا په اموال متمیزه باندې حمل کړې شی نو په دې دوه اشکاله واردیږی:

۱- دغلبې قید نشته، دحرمت په معامله کښې دومره اهم قید پرېښودل له قیاس څخه بعید دی.

۲- ددیانت او حکم فرق په مخلوط کښې جاری کیږی په اموال متمیزه کښې که دحرامو غلبه وی نو تول حرام دی دیانتا او قضاء اوکه غالب حلال وی نو دیانتا اوقضاء تول حلال دی. البته که داپه دې حمل کړې شی چې نه خلط متیقن دې اود غلبې علم شته دې نو دا بیا په کومه درجه کښې محمل جوړیدې شی اګر چه خلاف الظاهر دې.

۱۲ — وفیها ایضا بعد الجواب المذکور: ای ان لم یکن عین المغصوب اوالرشوة لانه لم یملکه فهو نفس الحرام فلا یحل له ولا لغیره (شامیة ص۲۹۲ ج۲)

معلومه شوه چې که عین غصب نه وی بلکه مخلوط وی نو غاصب دهغه مالك شو اودا دهغه لپاره حرام نشو بلکه باصله حلال دې اودعارض له وجی یعنی دعدم الضمان له وجی انتفاع اوتصرف ورته پکښې حرام دې اوکله چې کوم شې داول لپاره باصله حلال وی نو بل ته په ملك کښې دورتللو سره حلال اوطیب ګرځی اوحرمت عارضی ختمیږی.

۱۳ — قال العلامة الشامی رحمه الله تعالی: ان المراد لیس هو نفس الحرام لانه ملکه بالخلط وانما الحرام التصرف فیه قبل اداء بدله ففی البزازیة قبیل کتاب الزکوة ما اخذه من المال ظلما ویخلطه بماله اوبمال مظلوم اخر یصیر ملکا ویقطع حق الاول فلا یکون اخذه عنده حراما محضا نعم لا یباح الانتفاع به قبل اداء البدل فی الصحیح من المذهب (شامیة ص۲۹۲ ج۲)

بعینه دغه الفاظ په مقبوضه شراء فاسده کښې ذکر کیږی، سره لدې نوروته دملك په تللو سره هغه طیب ګرځی نو دلته هم همدغه حکم دې.

۱۴ — وفی الشامیة عن البزازیة: اخذ مورثه رشوة اوظلما ان علم ذلك بعینه لا یحل له اخذه والا فله اخذه حکما اما فی الدیانة فیتصدق به بنیة ارضاء الخصماء اه (ردالمحتار ص۹۹ ج۵)

۱۵ — فی الشامیة: والحاصل انه ان علم ارباب الاموال وجب رده علیهم والا فان علم عین الحرام لا یحل له ویتصدق به بنیة صاحبه وان کان مالا مختلطا مجتمعا من الحرام ولا یعلم اربابه ولا شیئا منه بعینه حل له حکما والاحسن دیانة التنزه عنه (حوالہ بالا)

١٦ــ وفيها ايضا: وفي الخانية: امرأة زوجها في ارض الجور ان اكلت من طعامه ولم يكن عين ذلك الطعام غصبا فهي في سعة من اكله وكذا لو اشترى طعاما او كسوة من مال اصله ليس بطيب فهي في سعة من تناوله والاثم على الزوج اه (حوالہ بالا)

١٧ــ وفي البدائع: واما صفة الملك الثابت للغاصب في المضمون فلا خلاف بين اصحابنا في ان الملك الثابت له يظهر في حق نفاذ التصرفات حتى لو باعه اووهبه اوتصدق به قبل اداء الضمان ينفذ كما تنفذ هذه التصرفات حتى لو باعه اووهبه اوتصدق به قبل اداء الضمان ينفذ كما تنفذ هذه التصرفات في المشتري شراء فاسدا واختلفوا في انه هل يباح له الانتفاع به بان ياكله بنفسه اويطعمه غيره قبل اداء الضمان فاذا حصل فيه فضل هل يتصدق بالفضل؟ قال ابو حنيفة رضي الله تعالى عنه ومحمد رحمه الله تعالى لا يحل له الانتفاع حتى يرضي صاحبه وقال ابو يوسف رحمه الله تعالى يحل له الانتفاع ولا يلزمه التصدق وهو قول الحسن وزفر رحمهما الله تعالى وهو القياس وقول ابي حنيفة ومحمد رحمهما الله تعالى استحسان وجه القياس ان المغصوب مضمون لاشك فيه وهو مملوك للغاصب من وقت الغصب على اصل اصحابنا فلا معنى للمنع من الانتفاع وتوقيف الحل على رضا غير المالك كما في سائر املاكه ويطيب له الربح لانه ربح ماهو مضمون ومملوك وربح ماهو مضمون مملوك يطيب له عندنا وجه الاستحسان ماروي انه عليه الصلاة والسلام اضافه قوم من الانصار فقدموا اليه شاة مصلية فجعل عليه الصلاة والسلام يمضغه ولا يسيغه فقال عليه الصلاة والسلام ان هذه الشاة لتخبرني انها ذبحت بغير حق فقالوا هذه الشاة لجار لنا ذبحناها لنرضيه بثمنها فقال عليه الصلاة والسلام اطعموها الاسارى امر عليه الصلاة والسلام بان يطعموها الاسارى ولم ينتفع به ولا اطلق لاصحابه الانتفاع بها ولو كان حلالا طيبا لاطلق مع خصاصتهم وشدة حاجتهم الى الاكل (بدائع الصنائع ص ١٥٤ ج ٧)

په دې کښې بې مغصوب مضمون دشراء فاسد په شان کرځولې همدارنګه له روايت مذکوره څخه په تصدق باندې استدلال کول واضح دليل دې چې بل ته په صورت دتمليک کښې حلال او طيب دې که چېرته داشاة مصليه بنفسه حرام شی اوپه دې کښې حرمت متعدی شی نو د أساری بنديانو) لپاره به څنګه حلال شی ؟ دفقيرلپاره حرام مال هلته حلال دې چې دهغه مالک معلوم نه وی اودلته خومالک معلوم دې .

قال العناية: فقال عليه الصلاة والسلام اطعموها الاسارى قال محمد رحمه الله تعالى يعني المحبسين فامره بالتصدق مع كون المالك معلوما بيان ان الغاصب قد ملكها لان مال الغير يحفظ عليه عينه اذا امكن وثمنه

بعد البیع اذا تعذر علیه حفظ عینه ولما امر بالتصدق بها دل علی انه ملكها وعلی حرمة الانتفاع للغاصب قبل الارضاء (عنایة بهامش نتائج الافكار ص۴۰۸ج۸)

۱۸ــ وفی الهدایة: اطعموها الاساری افاد الامر بالتصدق زوال ملك المالك وحرمة الانتفاع للغاصب (الی) ونفاذ بیعه وهبته مع الحرمة لقیام الملك كما فی الملك الفاسد (هدایة ص۳۹۹ج۴)

۱۹ــ وفی البنایة: قال محمد بن الحسن فی الآثار اخبرنا ابو حنیفة عن عاصم ابن كلیب عن ابیه به ثم قال ولو كان هذا اللحم باقیا علی ملك مالكه الاول لما امر به النبی صلی الله علیه وسلم ان یطعم للاساری ولكن لما راه خرج عن ملك الاول وصار مضمونا علی الذی اخذه امر باطعامه لان من ضمن شیئا فصار له عن وجه غصب فان الاولی ان یتصدق به ولا یاكله واخرج الدار قطنی (الی) قلت لابی حنیفة رحمه الله تعالی من این اخذت قولك فی الرجل الذی یعمل فی مال الرجل بغیر اذنه انه یتصدق بالربح قال اخذت قولك فی الرجل الذی یعمل فی مال الرجل بغیر اذنه انه یتصدق بالربح قال اخذته من حدیث عاصم بن كلیب هذا اه

فان قلت قال البیهقی وهذا لانه كان یخشی علیها الفساد وصاحبها كان غائبا فرای من المصلحة ان یطعمها الاساری ثم یضمن لصاحبها قلت الامام اذا خاف التلف علی ملك غائب یبیعه ویحبس ثمنه علیه فلا یجوز ان یتصدق به (حواله بالا)

۲۰ــ وفی المجمع: ملكه ولا یحل انتفاعه به ای المغصوب المغیر قبل اداء الضمان (الی) لكن جاز للغاصب بیعه وهبته لانه مملوك له بجهة محظورة كالمقبوض بالبیع الفاسد (مجمع الانهر ص۳۶۰ج۲)

۲۱ــ وفی النوازل: ولكن لا یطیب له ولا ینتفع بها حتی یؤدی استحسانا بقول النبی صلی الله علیه وسلم اطعموها الاساری وهذا یفید زوال ملك المالك وحرمة الانتفاع للغاصب. وفی القیاس یحل (الی) كما یجوز تصرفه كالبیع والهبة (فتاوی النوازل ص۲۱۴)

۲۲ــ وفی العینی: ولما انه استهلك العین (الی) والمحظور لغیره لا یمتنع ان یكون سببا لحكم شرعی الا تری ان الصلاة فی الارض المغصوبة تجوز وتكون سببا لحصول الثواب الجزیل لما ظفت بالملك (الی) لان العین تبدلت وتجدد لها اسم آخر فصارت كعین اخری حصلها بكسبه فیملكها غیر انه لا یجوز له الانتفاع به قبل ان یؤدی الضمان كیلا یلزم منه فتح باب الغصب وفی منعه حسم مادته ویدل علیه قوله علیه الصلاة والسلام فی الشاة المذبوحة بغیر اذن مالكها بعد الطبخ اطعموها الاساری ولو جاز الانتفاع به اولم یملكها لما قال هذه

والقياس ان يجوز الانتفاع به وهو قول زفر والحسن و رواية عن ابي حنيفة رحمهم الله تعالى لوجود الملك المطلق للتصرف ولهذا ينفذ تصرفه فيه كالتمليك بغيره ووجه الاستحسان ما بيناه ونفاذ تصرفه فيه لوجود الملك وذلك لا يدل على الحل الاترى ان المشتري شراء فاسدا ينفذ تصرفه فيه مع انه لا يحل له الانتفاع به (تبيين الحقائق ص۲۲۶ ج۵) وكذا في تكملة البحر (ص۱۱۵ ج۸)

۲۳ــ وفي الاشباه: واما مسالة ما اذا اختلط الحلال بالحرام في البلد فانه يجوز الشراء والاخذ الا ان تقوم دلالة على انه من الحرام كذا في الاصل (الاشباه والنظائر ص۱۲۸ ج۱)

وفي الحاشية للحموي: (قوله واما مسالة ما اذا اختلط الحلال بالحرام الخ)

وفي التمرتاشي في باب مسائل متفرقة من كتاب الكراهية ما نصه لرجل مال حلال اختلط به مال من الربوا والرشاء او الغلول او السحت او من مال الغصب او السرقة او الخيانة او من مال يتيم فصار ماله كله شبهة ليس لاحد ان يشاركه او يبايعه او يستقرض منه او يقبل هديته او يأكل في بيته (تيره شوي حواله)

په دې کښې يې مال مخلوط مشتبه فرمايلی دې دداسې مال شراء اګر چه مکروه ده سره له دې دمشتري لپاره هغه حلال دې ددې تائيد په نهم نمبر کښې دمرقاة اوبذل المجهود په عبارت کښې تير شوې دې. دبعضې عباراتو نه ظاهرخخه معلوميږي کيږی چې په مال مخلوط کښې هم حرمت متعدی ګرځی چې په لاندې دول دی.

۱ــ قال العلامة الطحطاوي رحمه الله تعالى: الحرام ينتقل من ذمة الى ذمة وبه يعلم حرمة شراء المغصوب وطعام الغصب ولو استهلكه بالطبخ. (طحطاوي على الدر ص۸۲ ج۳)

جواب: حرمت دشراء د مشتري لپاره دحرمت مستلزم ندې. په بيع فاسده کښې شراء ناجائزه ده سره له دې دمشتري لپاره حلال اوطيب دې.

قال في الشامية: طاب (اي المشتري شراء فاسدا) للمشتري وهذا لا ينافي ان نفس الشراء مكروه لحصوله للبائع بسبب حرام (شامية ص۹۸ ج۴)

له تيرشوی عبارت خخه په اتم نمبر کښې علامه طحطاوي چې په مخلوط او غير مخلوط کښې کوم فرق کړی دې چې د غير مخلوط شراء ناجايزه ده «وان تداوله الايدى» او د مخلوط شراء مکروه ده. دلته يې «وان تداوله الايدى» ندی فرمايلی

۲ــ وفي الدر: الحرام ينتقل فلو دخل بامان واخذ مال حربي بلا رضاه و اخرجه الينا ملكه وصح بيعه لكن لا يطيب له ولا للمشتري منه بخلاف البيع الفاسد فانه لا يطيب له لفساد عقده ويطيب للمشتري منه لصحة عقده

وفي الشامية: (قوله ولا للمشتري منه) فيكون بشرائه منه مسيئا لانه ملكه بكسب خبيث وفي شرائه تقرير للخبث ويؤمر بما كان يؤمر به البائع من رده على الحربي لان وجوب الرد على البائع انما كان لمراعاة ملك الحربي ولاجل غدر الامان وهذا المعنى قائم في ملك المشتري كما في ملك البائع الذي اخرجه بخلاف المشتري شراء فاسدا اذا باعه من غيره بيعا صحيحا فان الثاني لا يؤمر بالرد وان كان البائع مامورا به لان الموجب للرد قد زال ببيعه لان وجوب الرد بفساد البيع حكمه مقصور على ملك المشتري وقد زال ملكه بالبيع من غيره.

ثم اعلم انه ذكر في شرح السير الكبير في الباب الثاني والستين بعد المائة انه ان لم يرده يكره للمسلمين شراؤه منه لانه ملك خبيث بمنزلة المشتري فاسدا اذا اراد المشتري بعد القبض يكره شراؤه منه وان نفذ فيه بيعه وعتقه لانه ملك حصل له بسبب حرام شرعا فظهر مخالفة لقوله ويطيب للمشتري وقد يجاب بان ما اخرجه من دار الحرب لما وجب على المشتري رده على الحربي لبقاء المعنى الموجب على البائع رده تمكن الخبث فيه فلم يطب للمشتري ايضا كالبائع بخلاف البيع الفاسد فان رده واجب على البائع قبل البيع لا على المشتري لعدم بقاء المعنى الموجب للرد كما قدمناه فلم يتمكن الخبث فيه فلذا طاب للمشتري وهذا لا ينافي ان نفس الشراء مكروه لحصوله للبائع بسبب حرام ولان فيه اعراضا عن الفسخ الواجب هذا ما ظهر لي. (ردالمحتار ص[illegible])

جواب : دا دخلط صورت بالکل ندي، لکه څنګه چې لفظ د (رد) ددې واضح دليل دي، لهذا دغير حق له عين سره متعلق دې مال مخلوط په منزله دمستهلك دي، هلته دمالك حق له عين څخه منقطع دې په شان دنورو په ذمه کښې بدل شوې دې.

په دې يو صورت کښې يې (لايطيب) ويل او په مال مخلوط کښې تول تصرفات غاصب لره دشراء فاسد په شان ګرځول او د (لايطيب) استثناء نه ويل مستقل دليل دې چې هلته حرمت نه متعدي کيږي (لان السكوت في معرض البيان بيان)

۳- وفي الدر: او اختلط المغصوب بملك الغاصب.

وفي الشامية: (قوله بملك الغاصب) وكذا بمغصوب آخر لما في التتارخانية عن الينابيع غصب من كل واحد منهما الفا فخلطهما لم يسعه ان يشتري بهما شيئا ماكولا فياكله ولا يحل له اكل ما اشترى حتى يؤدي عوضه (شامية ص[illegible])

جواب دلته خپله دغاصب لپاره عدم حلت مذکور دي اوکلام په دې کښې دی چې آيا مال مخلوط دبل چا ملك ته په تللو حلال اوطيب ګرځي او که نه ؟ يعنې دراهم مغصوبه مخلوطه کله چې دبائع په ملك کښې راځلل نو آيا دهغه لپاره داحلال دی اوکه نه؟ له دې جزئي څخه حل

باندېږی «لان السکوت دلیل علیه» اوکه نه نو دلته تصریح ضروری وه چی دنورو لپاره هم حرام دی. که دلته په ثبوت دحلت کښې تامل وای نو سابقه دلائلو ځخه دحلت حکم لګولې شی. خپله علامه شامی رحمه الله تعالی خوکرښې وروسته داجزئیه نقل کړیده.

وفی الجامع الجوامع اشتری الزوج طعاما او کسوة من مال خبیث جاز للمرأة اکله ولبسها والاثم علی الزوج (شامیة ص۱۹۱ ج۶)

دلته دمال خبیث ځخه مخلوط مراد دی ځکه چی په خالص حرام کښې حرمت برابر متعدی ګرځی وان تداولته الایدی وتبدلت الاملاک. فتعین ان المراد من الخبیث ما لا یکون عینه حراما.

ویفسره ما فی الشامیة عن الخانیة: امرأة زوجها فی ارض الجوران اکلت من طعامه ولم یکن عین ذلک الطعام غصبا فهی فی سعة من اکله الخ. (حاشیة ابن عابدین ص۹۹ ج۵)

۴ـ وقال العلامة الطحطاوی رحمه الله تعالی: وفی رسالة الشرنبلالی رحمه الله تعالی المؤلفة فی الرد علی من نسب الی مذهب ابی حنیفة رحمه الله تعالی فی ایام غارة المسلمین لا یشتری من العساکر شئ لانه حرام ملک الغیر ولا یباع منهم شئ بالدراهم لانهم خلطوا الدراهم واطلاقه عدم الحل بالشراء والبیع بتلک الدراهم ظاهر علی قول مشائخنا قبل اداء الضمان (طحطاوی علی الدر ج۴ ص۱۹۲)

جواب: له (لانه ملک الغیر) ځخه معلومیږی چی دا مخلوط مال ندی لانه ملک الغاصب وملک المغصوب منه یزول بالخلط وحقه فی الذمه لا فی العین اوپه دارهم مخلوطه سره یی بیع منع کړې لیکن ددې دلیل دحرمت کیدل محل د تامل دی.

۶ـ په مال مخلوط کښې دغلبې قید نشته، سابقه عبارات دې وکتل شی.

۷ـ که اموال مخلوطه نه وی بلکه اموال متمیزه وی مګر اخذ معلوم نه وی چی له حرام متمیز ځخه یی ورکوی اوکه له حلال متمیز نه نو اعتبار به غالب لره وی.

فی الاشباه: اذا کان غالب مال المهدی حلالا فلا بأس بقبول هدیته واکل ماله ما لم یتبین انه من حرام وان کان غالب ماله الحرام لا یقبلها ولا یأکل الا اذا قال انه حلال ورثه او استقرضه (الاشباه ص۱۳۰ ج۱) وکذا فی الخانیة والهندیة والبزازیة وغیرها من کتب الفقه.

تنبیه: په الاشباه کښې د ذکر شوې مسئلې نه پس داسې لیکل شوی دی.

واما مسئلة ما اذا اختلط الحلال بالحرام فی البلد فانه یجوز الشراء والاخذ الا ان تقوم دلالة علی انه من الحرام (الاشباه ص۱۳۸ ج۱)

له دی څخه ثابته شوه چی پورتنی مسئله له خلط سره معلقه نده بلکه له اموال متمیزه سره متعلقه ده همدارنګه داهم معلومه شوه چی په خلط کښې دغلبې قید نشته. حموی رحمه الله پدې باندې په حاشیه کښې له تمرتاشی څخه دخلط صورت ذکر کړې دې. هلته هم دغلبې قید نشته

فائده دعلم بالغلبه له اسبابو څخه یو سبب دلالت حال هم دې

ففی الاختیار: لایجوز قبول هدیة امراء الجور الا اذا علم ان اکثر ماله حلال لان الغالب فی مالهم الحرمة (قوله الا اذا علم) بان کان صاحب تجارة اوزرع فلا باس لان اموال الناس لاتخلو عن قلیل حرام والمعتبر الغالب وکذلك اکل طعامهم (الاختیار ص۱۶۱ج۴)

لیکن که دسلطان له حال څخه دامعلوم وی چی دهغه په مال کښې غالب حرام نشته نو اخذ اوشراء جائز دی.

وروی عن ابن سیرین ان ابن عمر رضی الله تعالی عنهما کان یاخذ جوائز السلطان اه (مرقاة ص۳۰ج۶)

قلت: لان الغالب فی مال السلاطین اذذاك حلال.

وقال الامام الغزالی رحمه الله تعالی: ان السلاطین فی زماننا هذا ظلمة قلما یاخذون شیئا علی وجهه بحقه فلا تحل معاملتهم ولا معاملة من یتعلق بهم الخ (مرقاة ص۳۷ج۶)

۸- که دخلط اوتمیز دواړو نه دیوه هم علم نه وی لیکن دامعلومه وی چی آمدن دحلال اوحرام دواړونه مرکب دې نو له داسې سړی څخه شراء وغیره جائز دی. لاحتمال کونه من الحلال والاصل الحل مګر بهتر داده چی اجتناب وکړل شی.

ففی الهندیة: قال الفقیه ابو اللیث رحمه الله تعالی اختلف الناس فی اخذ الجائزة من السلطان قال بعضهم یجوز مالم یعلم انه یعطیه من حرام قال محمد رحمه الله تعالی وبه ناخذ مالم نعرف شیئا حراما بعینه وهو قول ابی حنیفة رحمه الله تعالی واصحابه کذا فی الظهیریة (هندیة ص۳۴۲ج۵)

وفیها ایضا: ولا ینبغی للناس ان یاکلوا من اطعمة الظلمة لتقبیح الامر علیهم وزجرهم عما یرتکبون وان کان یحل. وسئل ابوبکر عن الذی لایحل له اخذ الصدقة فالافضل له ان یقبل جائزة السلطان ویفرقها علی من یحل له اولا یقبل؟ قال لایقبل لانه یشبه اخذ الصدقة (حواله بالا)

وفی الخانیة: وان کان خبزهم مختلطا لایجوز للفقراء ان یاخذوا اذا علموا انه مال الغیر فان کان الغیر معلوما رده علیه وان لم یعلم الاخذ انه من ماله اومال الغیر فهو حلال حتی یتبین انه حرام (خانیة بهامش الهندیة ص۴۰۰ج۳)

وفی الخلاصة: اذا قدم السلطان شیئا من الماکولات ان اشتراه یحل وان لم یشتره لکن الرجل لایعلم انه

الطعام شيئاً مغصوباً بعينه يباح اكله (خلاصة ج ۴ ص ۳۵۸) وكذا في الهندية (ص ۳۴۲ ج ۵)

وفي الشامية : وكان العلامة بخوارزم لاياكل من طعامهم وياكل جوائزهم فقيل له فيه فقال تقديم الطعام يكون اباحة والمباح له يتلفه على ملك المبيح فيكون اكلا طعام الظالم والجائزة تمليك فيتصرف في ملك نفسه (شامية ص ۲۹۲ ج ۲)

داجزئيه په خلط باندې حمل كول صحيح ندى خكه چې مخلوط اگر چه دتمليك په وجه حلال گرځي. سره لدې بياهم اخذ اوشراء ناجائزدی همدارنگه داپه علم بالغلبه باندې هم نشي حمل كولې ددې محل صرف اوصرف دادې چې نه دغلبې علم شته اونه دخلط چونكه له داسې مال څخه احترازكول پكاردی لهذادعلامه دامعمول په احتياط بناء دې والافهو حلال كماقدمنا عن الخانيه.

علامه شامي پس له پورتنۍ جزئيې څخه دا فرمايلي دی ((ولعله مبنی علی القول بأن الحرام لايتعدی الی ذمتين)) ليكن دا دعلامه خوارزم معمول گڼل صحيح ندی كه ددې بناء داوی (فيكون اكلا طعام الظالم) په ځای (فيكون آكل الحرام) پكار وو د «طعام الظام» لفظ په خپله دا خبره واضحه وی چې دا له قبيلې د ورع اوتقوی څخه دې ويدعمه مانقلناعن الهنديه من قوله ولا ينبغي للناس الخ

وفي المرقاة: والاثم ماحاك في النفس وتردد في الصدر وان افتاك الناس اي وان قالوا لك انه حق فلا تأخذ بقولهم فانه قد يوقع في الغلط واكل الشبهة اي وان قالوا لك انه حق فلا تأخذ بقولهم فانه قد يوقع في الغلط واكل الشبهة كأن ترى من له مال حلال وحرام فلا تأخذ منه شيئاً وان افتاك المفتي مخافة ان تأكل الحرام لان الفتوى غير التقوى (مرقاة ص ۵ ج ۶)

الجواب باسم ملهم الصواب : اصلاح الكلام في احكام الخلط بين الحلال والحرام.

(۳) په مينځ دمال مخلوط اومشتری فاسده كښې په لاندې وجوه سره فرق دې.

۱. په شراء فاسد كښې عقد صلبا صحيح دې.

۲. دبائع په رضا باندې دې

۳. بائع ته عوض هم رسيدلې په خلاف دخلط المغصوب في الوجوه الثلاثه.

له دې څخه علاوه دفقهې په كتابونو كښې تصريح ده چې مغصوب مخلوط دملك په تبديل سره نه حلالېږی

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى تحت (قوله وهو حرام مطلقا على الورثة) ماتر كه ميراثاً فانه عين المال الحرام وان ملكه بالقبض والخلط عند الامام رحمه الله تعالى فانه لايحل له التصرف فيه قبل اداء ضمانه

وكذا الوارثه ثم الظاهر ان حرمته على الورثة فى الديانة لا الحكم فلا يجوز لولى القاضى العصدق ويضمنه القاضى اذا بلغ تامل (ردالمحتار ص٣٨٦ ج٦)

زيات دلائل په راتلونكې كښې دتنقيد په ضمن كښې راځي.

(۵) داپه دريم نمبر متفرع ده ولم يضمنه هوبل لهم حلاله.

(۱) (۲) للفقير لاالغنى.

(۳) د (لاباس به) تعليل (لانه صار ملكاله) غير تام دې، اوكه چيرې صحت يې تسليم كړې شي نو په خپله غاصب ته هم حلت ثابتيږ وهو باطل، لهذا دهغه توجيه به داشي چې اخذ حلال دې لان المعطى يعطى ملكه او انتفاع حلاله نده للخبث، بخلاف دهغې چې مشترى فاسده وى، فانه يكره شراءه لكونه مانعاً من الردالواجب على المشترى الاول ويحل الانتفاع لزوال الخبث العارض يا دامطلب دې چې انتفاع حلاله مع الكراهية ده كما للغاصب نفسه.

(۴) د ارفق كيدو لپاره يې دا وجوهات هم كيداى شي :

۱- دامال په اختيار دضمان سره حلال ګرځي. ۲- دحرمت لعدم الملك په نسبت خبث لفاسد الملك اهون دې ۳- دشامى دعبارت حمل كول په عبارت دخلاصې باندې ضرورى ندى، لدى وجې نه دعلامه رافعى رحمه الله تعالى په توجيه كښې كوم اشكال نشته، بالخصوص كله چې دخلاصې تعليل معلوم دى

(۵) (۶) (۷) په ژوندى اومړى كښې دا فرق دې چې حق دملك په غاصب باندې واجب فى الذمه دې لهذا دملاك علم اوعدم علم اوپه مال كښې وفاء اوعدم وفاء برابر دى، پخلاف دميت چې دهغه په ذمه وجوب نشى كيداى او حق دملاك دهغه په تركه كښې دې لدې وجې نه په تركه كښې يې دوفاء قيد لګولې دې.

دايفاء دوه صورتونه دى : د ملاك د علم په صورت كښې اداء د ضمان اوكه نه نو تصدق.

له پنځم دليل څخه دعدم علم ملاك استنباط واضح ندې همداراز په دغه صورت كښې دوارث لپاره حلت د اصولو خلاف دې او د (اذ لواختلط) نه دغاصب لپاره حرمت او دهغه دوارث لپاره دحلت استخراج غير معقول دې، البته په شپږم دليل او اووم دليل كښې معقول دې لكون الموصى لهم فقراء.

ددې عبارت داتوجيه كيداى شى چې غير مخلوط حرام لعدم الملك دې اوهغه بعينه واجب الرد دې او په مخلوط كښې حرمت لعدم الملك ندې بلكه للخبث دې اودامال واجب الرد ندې بلكه داخذ ضمان له وجې حلال ګرځي

دقيد (وفاء) له وجې دځينو خيال دې چې دغاصب لپاره په اندازه دخپلې حصه دمال مخلوط نه

حلال دي په حی اومیت کښې د فرق وجه له ذکر شوی تقریر نه معلومه شوه چې دا استنباط صحیح ندې له دینه علاوه فی نفسه داخیال هم صحیح ندې لدې وجې نه چې دمخلوط په هر جزء کښې دغیر دحق دموجود والی له وجې دمخلوط په هر جزء کښې خبث ساری دې

شپږم او اووم عبارت په قول دکرخی هم محمول کیدلې شی څکه چې دنفس حنطه دغصب په نسبت دهغه شراء په مال مغصوب سره زیات ظاهردې.

۸. د ((یحل له ملکه مع الکراهة)) نه متبادر دادې چې انتفاع مکروه ده.

۹. دا له داسې اموالو سره متعلق دې چې دهغو خلط متیقن نه وی په هغو کښې داموال متمیزه په شان غلبې ته اعتبار وی که دغلبې علم نه وی نو بیا جائز دې لیکن تورع اولی ده.

دحضرت علی رضی الله تعالی عنه له قول څخه (فانهم یصیبون من الحلال اکثر مما یعطونك) نه غلبه دحلال نه ثابتیږی لهذا له هغې څخه احتمال دحلت ته په ترجیح ورکولو سره دجواز حکم ته تقویت ورکول مقصود دی، نفس جواز په هغه پورې موقوف ندې، ترڅو پورې چې دحرامو دغلبې یقین نه وی نو گنجائش شته دې.

البته (اوخالطه ربا) نه اختلاط معلومیږی مګر په سباق باندې دنظر کولو نه ثابتیږی چې دلته شبه خلط مرادې، که تیقن خلط مراد کړې شی نو دا له دې وجې نه قابل دقبول ندې چې ددې په تائید کښې کوم روایت د مذهب نه موندل کیږی.

(۱۰) له دې نه په څه شی استدلال دې؟

(۱۱) داپه حالت داشتباه باندې محمول دې یعنی کله چې خلط متیقن نه وی څکه چې په صورت دخلط کښې دغاصب دملك څخه خوراك کول بالاتفاق حرام دی. ویمکن حمله علی قول الکرخی لماالتمعانی العبارة السادسه والسابعه.

(۱۱) - (۱) په مال مشتبه کښې دغلبې قید نشته چې بیا دهغه ترك لازم شی.

(۱۱) - (۲) ددیانت اودحکم فرق په مال مخلوط کښې نشته په مال مشتبه کښې شته.

(۱۲) - (۱۳) مال مخلوط دمشتری فاسدې په شان ګرځولو باندې متفرع دې وحررنا بطلانه.

په دلیل نمبر ۱۳ کښې په عبارت د بزازیه ((فلایکون اهله صدیدا حرام محضا)) کښې اخذ من الغاصب مراد دې څکه چې اخذ غاصب خو بهر حال حرام محض دې برابره خبره ده که هغه یې وروسته هم خلط کړی. له دې څخه ثابته شوه چې له دینه بعد ((لایباح الانتفاع به ـ الخ)) هم د اخذا من الغاصب په باره کښې دې لهذا داپه دې خبره واضح دلیل دې چې مال مخلوط په تبدل دملك سره نه حلالیږی.

(۱۴) دا له مال مشتبه سره متعلق دې، خلط متیقن نه دی

(۱۵) په دې کښې دا لاندې امور دتوجه قابل دی

۱- دعلامه ابن عابدین دا د درمختار دهغه عبارت حاصل بیان کړې دې چې دلته موجود دې او خپله علامه حصکفی په کتاب الحظر والاباحه کښې دهغه خلاف مطلقا حرمت ته ترجیح ورکړیده

۲- علامه ابن عابدین په دې موقع دمنية المفتى او بزازیه اوذخیره اوخانیه نه څلورجزئیات پیش کړی دی اوله جزئیه دمال مشتبه په باره کښې ده، لهذا تصدق واجب ندې

دبزازیه له عبارت څخه وجوب دتصدق ثابتیږی.

دخانیه دجزئیی اول جزء دمال مشتبه په باره کښې دې او دویم جزء یی (لواشتری طعاما) دکرخی په قول بناء دې.

ددی تفصیل په راتلونکښې ۱۴نمبر کښې راځی.

۳- خپله امام شامی په کتاب الحظر والاباحه کښې په وارث باندې حرمت فرمایلی دې ونصه

ونصه: وان ملكه بالقبض والخلط عند الامام رحمه الله تعالى فانه لايحل له التصرف فيه قبل اداء ضمانه ولا لوارثه ثم الظاهر ان حرمته على الورثة في الديانة لا الحكم فلا يجوز لولي القاصر التصدق ويضمنه القاصر اذا بلغ تامل.

۴- ددې بحث په آخر کښې امام شامی فرمایی : اذا اختلط بحيث لايتميز يملكه ملكا خبيثا لكن لايحل له التصرف فيه مالم يؤدبدله.

دا تعلیل غاصب او دهغه وارث دواړو ته شامل دې.

ددې زیات تفصیل په پنځم نمبر کښې تیر شوې دې.

(۱۶) په دی کښې تبدل دملك نشته بلکه اباحت دې چی په کوم کښې دحرمت اتفاق دی لهذا داپه مال مخلوط محمول کول صحیح ندی لکه څنګه چی په دې کښې په خلط باندې کومه قرینه نشته لهذا دا دمال مشتبه په باره کښې دې او د «لو اشتری طعاما اوکسوة من مال اصله لیس بطیب ـ الخ» دکرخی په قول محمول دې له دې لیکنې څخه وروسته په شامی کښې هم ددې تصریح وموندل شوه.

ونصها: (قوله وهو حرام على الورثة) اى سواء علموا اربابه اولا فان علموا اربابه ردوه عليهم والاتصدقوا به كما قدمنا انفا عن الزيلعي اولا ولا يشكل ذلك عما قدمنا انفا عن الذخيرة والخانية لان الطعام او الكسوة ليس عين المال الحرام فانه اذا اشترى به شيئا يحل اكله على تفصيل تقدم في عين المال الحرام فانه اذا اشترى به شيئا يحل اكله على تفصيل تقدم في كتاب الغصب (ردالمحتار ص۳۸۶ ج۵)

(۱۷) له مشتری فاسده نه تشبیه من كل الوجوه مقصود نده. صرف په نفاذ دتصرفاتو کښې تشبیه مقصود ده

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: ثم اعلم انه ذكر في شرح السير الكبير في الباب العالي والستين بعد المائة انه ان لم يرده يكره للمسلمين شراؤه منه لانه ملك خبيث بمنزلة المشتري فاسدا اذا اراد بيع المشتري بعد القبض يكره شراؤه منه وان نفذ بيعه وعتقه لانه ملك حصل له بسبب حرام شرعا اه فهذا مخالف لقوله ويطيب للمشتري وقد يجاب بان ما اخرجه من دار الحرب لما وجب على المشتري رده على الحربي لبقاء المعنى الموجب على البائع رده تمكن الخبث فيه فلم يطيب للمشتري ايضا كالبائع بخلاف البيع الفاسد فان رده واجب على البائع قبل البيع لا على المشتري لعدم بقاء المعنى الموجب للرد كما قدمناه فلم يتمكن الخبث فيه فلذا طاب للمشتري وهذا لاينافي ان نفس الشراء مكروه لحصوله للبائع بسبب حرام ولان فيه اعراضا عن الفسخ الواجب هذا ما ظهر لي (رد المحتار ص۲۴۹ج۴)

له دې څخه ثابته شوه چې مال مخلوط من كل الوجوه دمشترى فاسدې په شان ندى بلكه د مال حربي په شان دې چې په نفاذ تصرفاتو كښې دمشترى فاسدې په څير دې او په حكم دحلت كښې له دغه نه مختلف دې

دغه رنګه په ۱۷ نمبركښې له بدائع څخه منقول دحضور صلى الله عليه وسلم ارشاد په دې باندې صريح نص دې چې مال مخلوط پس له تبدل دملك نه هم حرام دې كه دهغه څه ګنجائش واى نو حضورصلى الله عليه وسلم به په دغه وخت كښې ذابح ته دتمليك حكم فرمايلى وو كما قال صلى الله عليه وسلم: للحم تصدق على بريرة رضي الله تعالى عنها. لها صدقة ولنا هدية.

په دغه وخت كښې دطعام سخت ضرورت هم وو او تحليل هم ډير آسان وو مگر باوجود ددې يې داسى ونه كړل

علاوه له دې نه په اطعام د بنديانو كښې هم تمليك متعين ندې بلكه احتمال داباحت غالب دې دصورت تحليل د نه اختيارولو دا توجيه صحيح نده چې د اطعام عين حرام وو، د عين په نه حراموالى باندې درې دلائل دى.

۱- په وجه د ذبح او طبخ په غاصب باندې مضمون شو او دهغه ملك وګرځيده.

۲- د تيلو د اختلاط په وجه مال مخلوط شو .

۳- كه عين حرام واى نو دفقراؤ لپاره به هم حلال نه وو.

ستاسې دخيال مطابق داجواب كيدلى شي چې اګر چه تناول حلال وو مګر اخذ مكروه وو لدې وجى نه حضور صلى الله عليه وسلم دهديې په طور قبول نكړو

دا جواب له دې وجى نه صحيح ندې چې دا په شان دشراء فاسدې كيدلو باندې تفريع ده چې د هغې ابطال مخكښې څو څو واره وشو

۱۸- له شراء فاسدې سره تشبیه من کل الوجوه نده کما حررنا مرارا
۱۹- له حکم تصدق څخه ثابته شوه چې په صورت دهدیه اوبیع وغیره کښې تبدل د ملك سبب دحلت لپاره ندې
۲۰- په حکم دشراء فاسدې سره فقط نفاذ په تصرفاتو کښې دې. وتقدم مرارا
۲۱- وجه داستدلال؟
۲۲- په حکم دشراء فاسدې من وجه کښې ده. کما تقدم مرارا
۲۳- له منع دقبول دهدیې څخه حرمت داکل هم معلومیږي په دې کښې ۹ نمبرحواله ورکړیده ددې جواب هلته په ۹ نهم نمبرکښې تیر شوې دې
(۱) دانص صریح دې چې مخلوط مال په تبدل دملك سره نه حلالیږي. ددې په جواب کښې په شراء فاسدې باندې قیاس کول باطل دی
(۲) مال مخلوط دحربي دمال په شان دی دمشتري فاسدې په شان ندې دمال مخلوط اومشتري فاسدې تر منځ وجوه دفرق مخکښې ذکر شول
ددغه دویم نمبر ۲ په آخر کښې چې دشرح السیر الکبیر کوم عبارت دې په هغه کښې یې مال دحربي په منزله دمشتري فاسدې گرځولې دې حالانکه دا تشبیه بالاتفاق صرف په نفاذ دتصرف کښې ده. په حلت کښې نده فکذلك المال المخلوط.
دمال مخلوط چې چیرته هم له مشتري فاسدې سره تشبیه ورکړې شوې ده هلته یې وجه دشبه صرف نفاذ دتصرفاتو بیان کړیده. دحلت ذکر چیرته هم نشته، له دې څخه په وجه دشبه کښې حصر ثابتیږي لان مفهوم الفقهاء رحمهم الله تعالی حجة.
(۳) دتاتارخانیه له جزئیې څخه استدلال تام ندې دجامع الجوامع اوخانیې دجزئیاتو جوابونه لیکل شوي چې دا په قول دکرخي رحمه الله مبنی دی.
۴- داپه حرمت دبیع اوشراء باندې صریح دلیل دې په شراء فاسدې باندې قیاس کول دحلت مشتري خیال باطل دې کما حررنا.
۷- ((اما مسئلة ما اذا اختلط الحلال والحرام في البلد.الخ)) داپه مال مخلوط پورې بالیقین متعلق ندې بلکه مال مشتبه پورې متعلق دې دلته له اختلاط نه مراد دادې چې په بازار کښې حلال اوحرام مال دواړه قسمه موجود دې مگر مشتري ته په متعین طور دهیڅ کوم شي په باره کښې دحلت یا حرمت علم نشته، دکوم مال په باره کښې چې دمخلوط کیدویقین وي دهغه اخستل اومشتري ته له هغه څخه انتفاع اخستل حرام دی کما حررنا.
۸- عن الخلاصه ان اهلکه الکل . مبنی علی قول الکرخي رحمه الله تعالی .

۲۲: فیلك مخلوط اگر چه د تملیك په وجه حلال گرځي
ملك حلال نه گرځي

خلاصه

۱. که خلط متیقن وي نو مخلوط غاصب او آخذ من الغاصب دواړو ته قبل اختیار الضمان حرام دي خواه که حلال غالب وي یا مغلوب

۲. په اموال متمیزه کښې غلبې ته اعتبار دې چې کله دا معلوم نه شي چې له کوم یوه څخه دی

۳. که خلط مشتبه وي نو بیاهم د اموال متمیزه په شان غلبې ته اعتبار دې

۴. په دویم او دریم صورت کښې که د غلبې علم نه وي نو اجتناب اولی دي

۵. په صورتونو د جواز کښې چې کوم خای هم (اشتری) راغلې هغه په قول د کرخي بناء ده هغه مطلب دادې چې مشتري حرام ندې د اداء الثمن من الحرام گناه به وي

۶. د کتاب الآثار وغیره روایات ټول په اشتباه محمول دی

۷. د جواز نور ټول روایات په قول مرجوح مبني دی

ما ددې تحریر په وخت د نمبر ۱۵ عبارت نه سوا د نورو عباراتو د تحقیق لپاره د هغوی د مواضع مراجعه او د هغوی د سیاق او سباق ملاحظه و نه کړې شوه .

ثم بعد الفراغ من هذا التحرير رأيت في الهندية ما يدل على ان الاول يحمل على المرجوع ونصها: عن محمد رحمه الله تعالى غصب عشرة دنانير فألقى فيها دينارا ثم أعطى منه رجلا دينارا جاز ثم دينارا آخر لا كذا للعلم بانه حلال كذا في جامع الجوامع (عالمگیریه ص ۳۱ ج ۵) والله تعالى اعلم

۲۱ شعبان سنه ۱۴۰۸ھ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴿٨٨﴾﴾

دډاکټری تعلیم لپاره انسانی لاش

،،دډاکټری دمشق کولو لپاره دانسان په لاش باندی جراحی عملیات کول او دهغه څیرل اوقطع کول اوبی حرمتی کول جائز ندی،،

* * * * * * * *
* * * * * * * *

دډاکټری تعلیم لپاره انسانی لاش

* په دې دور دترقی کښې علاج او علم العلاج ته دومره اهمیت ورکړې شوې دې چی دهغې په وجه دمذهب او انسانی حرمت قربانی کول معمولی خبره ګرځیدلی ده

* په شریعت کښې دعلاج اوعلم العلاج دومره اهمیت نشته چی دهغه لپاره انسانی نقش دمشق تخته وګرځی اوهغه څیرې کړې شی اوبی عزتی یې وشی.

* بالخصوص کله چی دا ضرورت له مصنوعی مجسمو څخه په اسانۍ سره پوره کیږی چی دهغې تفصیل ددې رسالې په اخر کښې دې.

* * * * * * * *
* * * * * * * *

د ډاکټری تعلیم لپاره دانسانی لاشونو استعمال جایز ندې

سوال په نظام الفتاوی صـ۲۵۶ کښې په کالج کښې دډاکټری تعلیم لپاره په انسانی جسم باندې دمشق کولو دجواز فتوی شائع شوې ده دهغې کاپی تاسوته درولیږل شوه په دې باره کښې خپل تحقیق په تفصیل سره ولیکئ ، بینوا توجروا.

د مسلمان په لاش باندې دجراحی دعمل حکم

سوال څه فرمایی ددین علماء په دې مسئله کښې چی په هسپتال ،روغتون ، وغیره کښې دې وارثه مسلمان لاش دجراحی دعملیاتو لپاره طبی کالج او دطب پوهنځی ته لیږل کیږی . اوس ددې متعلق سوال دادې چې

١. آیا د مسلمان د لاش په کوم حالت کښې د جراحی عمل جائز دې او که نه؟
٢. او که په کوم خاص صورت کښې جائزهم وی نو آیا په میډکل کالج، طب پوهنځی کښې علمیی ضرورت لپاره د مسلمان په لاش جراحی عمل جائز دې او که نه؟

الجواب

١. په مسلمان لاش باندې د جراحی عمل په څینی حالاتو کښې شرعا جائز دې مثلا کومه ښځه مړه شی او د هغې په خیټه کښې ژوندې ماشوم وی او حرکت کوونکې وی نو په تولو فتاوو کښې تصریح ده چی د هغې خیټه دې چپ طرف ته څیرې کړې شی او دا ماشوم دې راوه ویستل شی. په درمختار کښې دی چې **حامل ماتت وولدها حی یضطرب شق بطنها من الایسر ویخرج ولدها.** (بر حاشیه رد المحتار ص٦٦١ ج٥)

همدارنګه په هغه صورت کښې هم د جراحی عمل جائز دې چی د مړکیدونکی په خیټه کښې کوم شې متحرك معلومیږی او د خلکو رایه داوی چی دا متحرك ماشوم دې لکه چی په فتح القدیر کښې دی **وفی التجنیس من علامة النوازل امرأة حامل ماتت واضطرب فی بطنها شیء وکان رأیهم انه ولد حی شق بطنها** (ص١٠٠ ج٢ فصل باب الشهید)

مطلب دا چی په دوارو صورتونو کښې دا یقین وی چی ماشوم ژوندې دې یا د ژوندی کیدو ظن وی نو د مړی لاش څیرول جائز دی. همدارنګه په داسې صورت کښې هم د مړی په لاش د جراحی عمل جائز دې چی څوك د چا پیسې تیرې کړی او مړشی، په درمختار کښې دی **لو بلع مال غیره ومات هل یشق قولان والاولی نعم اھ**

(قوله والاولی نعم) لانه وان کان حرمة الادمی اعلی من صیانة المال لکنه ازال احترامه بتعدیه کما فی الفتح ومفاده انه لو سقط فی جوفه بلا تعد لا یشق اتفاقا اھ (رد المحتار ص٦٦٢ ج٥)

وفی الحموی عن تلخیص الکبری لو بلع عشرة دراهم ومات یشق وافاد الحموی عدم الخلاف فی الدراهم والدنانیر (رد المحتار ص٣٣)

د دی تولو خلاصه داده چی د مړی په لاش د ضرورت په حالت کښې د جراحی عمل جائز دې

٢. په میډیکل کالج کښې د تعلیمی ضرورت په خاطر په لاش باندی د جراحی عمل کول شرعا ناجائز کیږی ځکه چی د اسلامی قانون ضابطه داده چی په دوه ضررونو کښې چی کوم یو لوئی ضرر وی نو اخف ضرر په ذریعه ازاله کول په کار دی چی د دې یو مثال د مړې ښځې خیټه څیرل او ماشوم ترینه راویستل دی

په الاشباه والنظائر کښې دی لوکان احدهما اعظم ضررا عن الاخر فان الاشد یزال بالاخف مـ لمی

القاعدة الخامسة

له دې څخه وروسته ددې مذکوره مثالونو سره سره د يو شمير نورو مثالونو په لړ کښې ذکر شوې مثال په دې الفاظو کښې ليکلې دې:

ومنها جواز شق بطن الميتة لاخراج الولد اذا كانت ترجى حياته وقد امر به ابوحنيفه رحمه الله تعالى فعاش الولد كما في الملتقط. (الاشباه والنظائر ج١ ص١٢٣، مع الحموی)

<u>په میډیکل کالج (دطب پوهنځی) کښې دیوخومړیو په لاشونو د جراحی دعمل په وجه په سلګونو ژوندی مریضان ژغورل کیږی، لهذا هیڅ وجه نشته چې دیو ماشوم دژوند دحفاظت په خاطر دې دیومړی په لاش دجراحی عمل بلا اختلاف جائزوی او دسلګونو انسانانو دژوند دژغورلو لپاره دې په څو لاشونو دجراحی عمل جائز نشی.</u> هذا ماعندی فان اصبت فمن الله وان اخطات فمني ومن الشيطان.

دعلماء کرامو لپاره قابل غورخبره داده چې آیاعدم تعلیم دسلګونو انسانانو دهلاکت سبب کیږی اوکه نه؟ اوکه بالفرض دا عدم تعلیم د سلګونو انسانو دهلاکت موجب وی نو آیا دا ضرر په مقابل دځونعشونو کښې اعظم اواشد ضرر دې اوکه نه؟

زما خیال دې چې په مقابل دځونعشونو کښې دسلګونو ځانونو هلاکت لویْ اواشد ضرر دې لهذا د الاشباه دتصریح په بناء داسلام د قانون له نظره په دې کښې هیڅ شبه نه پاتی کیږی چې په میډیکل کالج کښې کوم جراحی اعمال په نعشونو باندې کیږی هغه شرعا په حد دجواز کښې دننه دی. والله سبحانه وتعالى اعلم بالصواب. منت الله رحمانی خانقاه رحمانی مونګیر

الجواب الصحيح: دعلم جراحی حاصلول په مسلمانانو لازم اوضروری دی اوهلته دا قاعده هم ده چې: الضرر یزال بالضرورات تبیح المحظورات

پس دضرورت او مجبوریت له کبله دا د جراحی عمل جائزدې لکه څنګه یې چې مجیب دسبب توضیح کړې ده.

کتبه السید مهدی حسن عفی عنه
مفتی دار العلوم دیوبند

الجواب صحيح والمجيب نجيح: خط کشیده عبارتونه ډیر مضبوط دلیلونه دی او آیه کریمه ﴿ وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَوٰةٌ يَٰأُولِي الْأَلْبَٰبِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٧٩﴾ ﴾ او د آیة قتال اشاره هم دې طرفته ده. والله سبحانه وتعالى اعلم.

احقر نظام الدین دارالعلوم دیوبند

الجواب باسم ملهم الصواب دنظام الفتاوی جواب صحیح ندی او تعلیمی ضرورت قیاس کول په اخراج دولد باندې په لاندې وجوهو سره صحیح ندی:

۱. شق بطن دولادت لپاره یوه متبادله لاره ده چی په دې زمانه کښې عامه ده په دې کښې دانسان دبې حرمتی هیڅ کوم تصور نشته.

۲. داخراج الولد لپاره شق البطن امر عارضی دې له دې څخه وروسته میت په احترام سره خاورو ته سپارل کیږی

۳. په اخراج الولد کښې دژوند د دژغورلو عمل کیږی او په کالج کښې دخان د ژغورنی دطریقو تعلیم ورکول کیږی. فی الحال دخان ژغورنی عمل پکښې نه کیږی.

دخان ژغورنې دعمل او دهغې دتعلیم په منځ کښې فرق دې مثلا دخان ژغورنې لپاره دحمله کونکی وژل جائزدی مگر دخان ساتنې دطریقی دزده کولو په غرض جائزندی.

۴ ـ اسباب په دوه قسمه دی یو دا چی ترتب دمسبب اوثمرې ورباندې یقینی وی اوله ترک داسبابو څخه دهلاکت یقین وی لکه چې څوك له کوهی یا اورنه راویستل یا دکوم درنده دگرفت نه خلاصول په داسې صورتونو کښې دژوند ژغورلو اسباب اختیارول فرض دی او دهغو ترك حرام دې او اخراج الولد هم له همدې قسم څخه دې. داسبابو دویم قسم دادې چی په هغو دنتیجې ترتب ضروری نه وی اودهغوی له ترك څخه مرگ متیقن نه وی. دداسې اسبابو اختیارول ضروری ندی اودهغو په ترك گناه هم نشته. علاج الامراض په داسې قسم کښې داخل دې. دسلگونو واقعاتو مشاهده ده چی له علاج سره مرض نورهم زیات شوې دې. یا مریض هلاك شوې دې اوډیر مریضان بغیرله علاج څخه جوړشوی دی. ددی وجی نه په دې اتفاق دې چی علاج کول فرض ندی که څوك دترك علاج له وجی مرشی نو په هغه کومه مواخده نشته که علاج کول فرض وای نو چی چیرته دمرض لپاره یو سپیشلست وی نو هغه ته به په علاج اجرت اخستل حرام وو. بیا په مسئله زیر بحث کښې علاج شته هم نه بلکه دعلاج تعلیم دې وشتان بینهما کما قدمنا.

۵. دماشوم دژغورلو لپاره د مری د خیټې دشلولو صورت متعین دې بل کوم صورت ممکن ندې ددې په عکس دتعلیم لپاره نور ډیر صورتونه په سهولت سره اختیارولې شی مثلا:

۱۔ داسکریتننگ مشین په ذریعه دژوندی انسان دننه اعضاء تفصیلی معاینه کیدلی شی

۲۔ دحیواناتو له نعشونو څخه کار اخستلې شی بالخصوص د ډارون له نظر یې څخه معلومیږی چی دشادو اوانسان په اعضاؤ کښې یو شانته والې دی

۳. دپلاستك دانسانی مجسمی سره داندرونی اعضاو چی په بهر ملکونو کښې جوړیږی استعمالولې شی او دمجسمی دسانلو له گناه څخه په دې طریقې سره خان ساتلې شی چی دمجسمې اعضاء جدا جدا کیښودلې شی په وخت دضرورت کښې په قدر دضرورت اعضاء یو له

بل سره يوځاي کولې شی
دمشرق په ورزپانه کښې د۲۵ دسمبر۱۹۶۷مـ مطابق ۲۲رمضان المبارك سنـ ۱۳۸۷هـ کښې داخبر شائع شوچی (برطانوی فرمو کښې دمصنوعی مسالی ځخه دانسان مجسمه تياره شوی ده دې مجسمی ته برطانوی فرمون (سام) نوم ورکړې دې مجسم اوس څوتعليمی ادارو ترينه غوښتی ده که درس ورکول ضروری وی نو دا مصنوعی (سام) دې استعمال کړې شی دټولې انسانی مجسمی قد (سام) ۵ فټه ۷ انچه وی او دهغه قيمت ۳۸ پاونډه او ۹ شلنګ دې.
دجسم اندرونی اعضاء هم (سری کښې سائنټيفك پلا سټکس لمټډ) تياروی. دمصنوعی زړه قيمت ۱۳پونډ۳ شلنګ او دمصنوعی دماغو قيمت ۱۱پونډ ۱۰شلنګ مقرر شوې دې. داکمپنۍ غوږونه هم تياروی چی دهغو قيمت ۱۰پونډ دې د دغه مصنوعی غوږ د پردو سره د آواز دټکر کيدو نه بعد داسې څپی ظاريږی لکه څنګه چی په اصلی غوږ کښې وی.
دانسان دساه اخستو نظام هم د زده کونکو داستفادې لپاهر مصنوعی جوړيږی چی دهغې قيمت ۱۷پونډ۱۵ شلنګ دې دغه مصنوعی ساه اخستونکی انسان باندې دځان ژغورنی دطريقې په آسانی سره مشق کيدلې شی څکه چی دهغه مصنوعی سګی (پرپوس) داسې طريقی سره کار کوی لکه څنګه يی چی انسانی سګی کوی.
مجيب دويم قياس د مال د راويستلو لپاره په د ګيډې په شق (شلولو) باندې کړې دې، حالانکه ددې بطلان په مذکوره جزئيه کښې له تعليل دجواز نه (لانه وان کان حرمة الادمی اعلی من صيانة المال لكنه ازال احترامه بتعديه) ظاهر دې.
دالاشباه له کليسی څخه هم استدلال صحيح ندې دحفظ احترام په مقابل کښې اګر چی حفظ جان مقدم دې مګر دلته داحترام په مقابل کښې دحفظ جان عمل نه دې بلکه دهغه دطريقه تعليم ورکول دې، ددې لپاره دانسان دحرمت قربانول جائز ندی.
که دمجيب دنظريی موافق په زير بحث صورت کښې دحفظ احترام اوحفظ جان تقابل تسليم کړې شی نو په صورت دکموالی د لا وارث مرو کښې به وارثانو دافرض شی چی دخپلو قربانو مړی په ځای د دفن کولو دطب پوهنځی ته وسپاری دانکارپه صورت کښې به په حکومت لازم وی چی له وارثانو څخه لاشونه په زور واخلی او دکالجونو لپاره يی مهيا کړی اوکه دضرورت په وخت کښې کوم لاش پيدانشی نو له قبر ستان نه به مړی راوباسی چی دکالج ضرورت ورباندې پوره شی
له تحقيق څخه ثابته شوې ده چی په کالج کښې د لاوارث مړيو ډير کمې دې، لهذا اوس د مجيب په ګمان سره د دځان ژغورنې دفرض ادا کولو لپاره صرف دا صورت پاتې دې چی له وارثانو څخه جبرا مړی واخستل شی.

واظلم نو لاوارث مړو پورې ولی مخصوص شوې دې په داسې حال کښې چې هیڅ یو لاش هم لاوارث ندې که دچا نسبی وارث نه وی نو دهغه کفن دفن په حکومت یا په عامو مسلمانانو باندې فرض دې اوهغه د دې مړی ولی دې

دحکومت یو فردهم دخپل خپلوان دلاش ورکولو ته تیار ندی نو دهغه لاش چې شرعا دکفن اودفن ولایت دحکومت په ذمه دې دهغ دبی حرمتی اجازه څنګه ورکوی؟


په کالجونو کښې دزده کونکو په نسبت دلاشونو دغیر معمولی کمی ثبوت دا ثابتوی چې د لاش نه بغیر هم د ډاکټری تعلیم مکمل کیدې شی.

په تعلیمی ادارو کښې دانسانی لاشونو دغوښتنو زیاتوالې او دلاشونو په منډی کښې دغیر معمولی تیزوالی په لیدلو سره به انسانی درنده ګان او جرائم پیشه عناصر انسانان قتلوی او دهغوئ لاشونه به په منډی کښې خرڅوی، دابه ددوئ لپاره یو ډیر فائده مند تجارت وی که بل کوم بکار په لاس ورنه شی نو د دغې ادارې کارکونکو، شاګردانو، استاذانو اوسر براهانو نه به کار اخلی، داسې ترقی له فتنو څخه دی الله تعالی مونږته حفاظت نصیب کړی. وهو العاصم ولاملجا والمنجا الاالیه.

۲۶ شعبان ۱۴۰۲ هـ

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿ لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ يَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ الذُّكُورَ ۝ أَوْ
يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا وَيَجْعَلُ مَنْ يَشَاءُ عَقِيمًا إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ ۝ ﴾



د ولادت کنترول او د حمل ساقط کول

- د ولادت د قوت ختمول
- دحمل دمانع تدابیر اختیارول
- دحمل دقرار نیولونه پس ساقط کول



د ولادت کنترول اودحمل ساقط کول

- آیات قرآني
- احادیث نبوي
- نصوص فقهاء
- عقل سلیم

د ولادت کنترول کول او دحمل ساقط کول

سوال: د ضبط تولید، دولادت دکنترول او اسقاط حمل، دحمل د ساقط کولو شرعي حیثیت څه دی؟ مفصل ځواب مرحمت کړئ مهرباني به مو وي. بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: د ضبط تولید او اسقاط حمل دواړو به مجموعي طور سره څلور

صورتونه جوړیږي

۱۔ دنسل قطع کول یعنې داسې یو صورت اختیارول چې په هغې سره په دائمی توګه دتولید قوت ختم شی
۲۔ منع دحمل یعنی داسې صورت اختیاول چې قوت دتولید باقی وی او حمل ونه نیول شی
۳۔ دحمل دنیول کیدو نه بعد دخلورمیاشتو دپوره کیدونه مخکښې په کومه ذریعه سره هغه حمل ساقط کول
دخلورو میاشتو دتیریدونه وروسته حمل ساقطول۔

احکام

اول صورت بالاتفاق حرام دې اګر که په هغې کښې یو شمیر فوائد په نظر راځی او اګر که دهغې دواعی هرڅومره قوی په نظر راځی۔

ددویم صورت په حکم کښې دا تفصیل دې چې که بلا عذره دا صورت اختیار کړې شی نو مکروه تنزیهی دې او دلاندې ذکر کیدونکی عذرونو په وجه بلاکراهیت جائز دې۔

۱۔ ښځه دومره کمزورې وی چې دحمل دبارتحمل نشی کولی۔
۲۔ ښځه له خپل وطن نه لرې په داسې ځای کښې اوسیږی چې هلته ددې دمستقل مقام اوقیام اوقرار اراده نه وی او دا سفرهم په داسې ذریعه وی چې میاشتې په کښې لګیږی۔
۳۔ دزوجینو دباهمی تعلقاتو دنه برابری په وجه دعلیحدګی قصد وی۔
۴۔ دمخکښی ماشوم دصحت دخرابیدو شدیده خطره دجدائی وی۔
۵۔ دا خطره وی چې د زمانې دفساد له وجې ماشوم بد اخلاقه نشی او د والدینو درسوائی سبب ونه ګرځی

که دیو داسې غرض له وجې حمل بند کړې شی چې داسلامی اصولو خلاف وی نو دده داعمل به بالکل ناجائزوی ۔ مثلاً داولاد د ډیر والی له کبله یې د رزق د تنګی خیال وی. یا دا وهم وی چې نجلی به پیداشی نو عار اوشرم به وی۔

دریم صورت بلاعذره ناجائز اوحرام دې. البته دبعض اعذارو له وجې دهغه ګنجائش شته دې مثلاً ۱۔ دحمل له وجې دښځې شیدی وچې شی او نور ذرائع دمخکنی ماشوم د پرورش لپاره ناممکن یا متعذر وی
۲۔ کوم دیندار اوحاذق طبیب دښځې معاینه وکړی او ووایی که حمل باقی پاتې شی نو دښځې دځان یا دکوم اندام دضائع کیدو شدید خطر دې

څلورم صورت مطلقا حرام دې. دهیڅ کوم عذر له وجې ددې ګنجائش نشته

تنبیه دضبط تولید او اسقاط حمل دناجائز صورتونو دعدم جواز نه علاوه له دینی اودنیوی

لحاظ څخه مفاسد کثیره پیدا کیږي، مثلا

۱- د زنا او امراض خبیثه کثرت. ښځې دالله تعالی دخوف نه علاوه دوه شیان داخلاقو په اعلی معیار برقرار ساتي او د زنا دپلیتۍ څخه یې ساتي . یوه فطري حیاء او دویم داچې حرامزاده بچې به دا په معاشره کښې ذلیله اورسوا کړي په دې کښې خواول مانع نوې عربي تهذیب ترډیره حده لرې کړې دی په بازارونو . دفترونو ، کالجونو پوهنتونونو اوپه مختلفو محفلونو کښې دښې پردې ښځو او سړیو بې باکه شرکت کولو نه پس حیا کله باقي پاتې کیږي. دضبط تولید عام رواج دویم مانع یعني دحرامزاده بچې دپیدائښت خوف باقي پرینښوده، ښځواوسړو ته د زنا عام رخصت ورکړل شو . او دکثرت زناله وجې دمختلفو امراض خبیثه پیداکیدل لازمي دي.

۲- دطلاق کثرت اودهغې په وجه په خاندانونو اوکورنیو کښې جنګ جګړې اوفسادات راتلل دښځې اوسړي ترمنځ د ازدواجي تعلقاتو دمضبوطوالی لپاره داولاد ډیره غټه حصه ده کله چې اولادنه وي نو زوجینو ته دیو بل پرینښودل ډیر آسانه وي .

۳- دبعضې اخلاقي خصائصو نشتوالې، په والدینو کښې ځینې اخلاقي خصائص صرف داولاد له تربیت څخه پیداکیږي ، د ضبط تولید له کبله له دې دوارو خصائصو څخه محرومیږي.

لکه څنګه چې والدین د اولاد تربیت کوي همدغه شان اولاد هم د والدینو د تربیت ذریعه ګرځي، د اولاد له تربیت څخه په والدینو کښې محبت، ایثار او د قرباني جذبه پیدا کیږي. د آینده لپاره سوچ اوفکر ، صبر اوتحمل اوضبط نفس مشق کیږي، دساده ژوند اوقناعت په اختیارولو باندې مجبور کیږي.

د ضبط تولید له کبله د دې ټولو اخلاقي فوائدو دروازه بندیږي .

دماشومانو داخلاقو نقصان اودماشومان تربیت صرف مور اوپلارنه کوي بلکه هغه خپله هم له یوبل څخه تربیت اخلي، دهغوئ په خپل مینځ کښې اوسیدل ددوئ په زړونو کښې دمحبت ایثار. تعاون اونور لوی لوی صفتونه پیداکوي هغوئ یوپربل نکته چیني کوي اوپه خپل منځ کښې ډیر اخلاقي عیبونو لرې کوي کومو ورو ماشومانو ته چې له لویو ورونو او خویندو سره داوسیدو اولوبو کولو اومعاملاتو طی کولو موقع نه پیداکیږي هغه له ډیرو اعلی اخلاقي خصائصو څخه محروم پاتې کیږي

کوم خلق چې په ضبط تولید عمل کوي او خپل اولاد صرف تریوه بچې پورې محدودوي یا ددوه ماشومانو ترمینځ دومره فاصله اختیاروي چې دهغوی په عمر کښې ډیر تفاوت وي دوئ په اصل کښې خپل اولاد له غټ اخلاقي تربیت څخه محروم کوي.

۵ ـ دصحت خرابي دضبط تولید په وجه دزوجینوپه صحت ډیر اثر پریوځي دسړي په نسبت دښځې په صحت زیات اثر پریوځي دضبط تولید په خاطر چې کوم تدابیر اختیاروئې شي

بالخصوص گولۍ او دواگانې استعماليږي هغه د بنځې د صحت لپاره انتهائي نقصان ورکونکې دي. د عمر په تيريدو سره د هغو مضر اثرات کرار کرار ښکاره کيږي. مثلاً د عصبي نظم برهمي بد مزاجي د حافظې خرابي ليونتوب. سرطان اوکه کله حمل وشي نو د حمل د وضع په وخت کښې سخت تکليف وي. دا يو څو نقصانات د مثال په توګه وليکل شول چې د صاحب بصيرت او هوښيار لپاره کافي دي.

قال الله تبارك وتعالى: ﴿وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِي ٱلْأَرْضِ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ رِزْقُهَا﴾ (۱۱—۶)

﴿وَلَا تَقْتُلُوٓا۟ أَوْلَٰدَكُم مِّنْ إِمْلَٰقٍ ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ﴾ (۶—۱۵۲)

﴿وَلَا تَقْتُلُوٓا۟ أَوْلَٰدَكُمْ خَشْيَةَ إِمْلَٰقٍ ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَإِيَّاكُمْ ۚ إِنَّ قَتْلَهُمْ كَانَ خِطْـًٔا كَبِيرًا ﴿٣١﴾﴾ (۱۷—۳۱)

﴿وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱصْطَبِرْ عَلَيْهَا ۖ لَا نَسْـَٔلُكَ رِزْقًا ۖ نَّحْنُ نَرْزُقُكَ﴾ (۲۰— ۱۳۲)

عن سعد بن ابی وقاص رضی الله تعالى عنه يقول رد رسول الله صلى الله عليه وسلم على عثمان بن مظعون رضی الله تعالى التبتل ولو اذن له لاختصينا (صحیح بخاری ص۷۵۹ ج۲)

عن ابی هريرة رضی الله تعالى عنه قال قلت يا رسول الله صلى الله عليه وسلم انی رجل شاب وانا اخاف على نفسی العنت ولا اجد ما اتزوج به النساء فسكت عنى ثم قلت مثل ذلك فسكت عنى ثم قلت مثل ذلك فسكت عنى ثم قلت مثل ذلك فقال النبی صلى الله عليه وسلم يا ابا هريرة جف القلم بما انت لاق فاختص على ذلك او ذر (ايضاً)

قال الحافظ العينی رحمه الله تعالى تحت هذا الحديث: ان الاختصار فی الادمی حرام مطلقا (عمدة القاری ص۷۲ ج۲۰)

عن ابی سعيد الخدری رضی الله تعالى عنه انه اخبره قال اصبنا سبايا فكنا نعزل ثم سالنا رسول الله صلى الله عليه وسلم عن ذلك فقال لنا وانكم لتفعلون وانكم لتفعلون وانكم لتفعلون ما من نسمة كائنة الى يوم القيمة الا هی كائنة.

قال العلامة النووی رحمه الله تعالى تحت هذا الحديث: ثم هذه الاحاديث مع غيرها يجمع بينهما بان ما ورد فی النهی محمول على كراهة التنزيه وما ورد فی الاذن فی ذلك محمول على انه ليس بحرام وليس معناه نفی الكراهة. (صحیح مسلم ص۴۶۴ ج۱)

عن جدامة بنت وهب اخت عكاشة رضی الله تعالى عنها قالت حضرت رسول الله صلى الله عليه وسلم فی اناس وهو يقول لقد هممت ان انهى عن الغيلة فنظرت فی الروم وفارس فاذا هم يغيلون اولادهم فلا يضر اولادهم ذلك شيئا ثم سالوه عن العزل فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم ذلك الواد الخفی زاد عبيد الله فی

حديثه عن المقرى وإذا الموؤدة سئلت

قال العلامة النووى رحمه الله تعالى تحت هذا الحديث: الواد والموؤدة بالهمز والواود فن المئت وهي حية وكانت العرب تفعله خشية الاملاق وربما فعلوه خوف العار والموؤدة المئت المدفونة حية ويقال وادى المراة ولدها واد القيل سميت موؤدة لانها تثقل بالتراب وقد سبق فى باب العزل وجه تسمية هذا واداوهو مشابهة الوادفى تفويت الحيوة (صحيح مسلم ص٣٦٦ج١)

قال العلامة الحصكفى رحمه الله تعالى: (ويعزل عن الحرة) وكذا المكاتبة مهر (باذنها) لكن فى الخانية انه يباح فى زماننا لفساده قال الكمال فليعتبر عذرا مسقطا لاذنها. وقالوا يباح اسقاط الولد قبل اربعة اشهر ولو بلااذن الزوج.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله لكن فى الخانية) عبارتها على مافى البحر وذكر فى الكتاب انه لايباح بغير اذنها وقالوا فى زماننا يباح لسوء الزمان اه

(قوله قال الكمال) عبارته وفى الفتاوى ان خاف من الولد السوء فى الحرة يسعه العزل بغير رضاها لفساد الزمان فليعتبر مثله من الاعذار مسقطا لاذنها اه فقدم علم مما فى الخانية ان منقول المذهب عدم الاباحة وان هذا تقييد من مشائخ المذهب لتغير بعض الاحكام بتغير الزمان واقره فى الفتح وبه جزم القهستانى ايضا حيث قال وهذا اذا لم يخف على الولد السوء لفساد الزمان والا فيجوز بلا اذنها اه لكن قول الفتح فليعتبر مثله الخ يحتمل ان يريد بالمثل ذلك العذر كقولهم مثلك لايبخل ويحتمل انه اراد الحاق مثل هذا العذر به كان يكون فى سفر بعيد اوفى دار الحرب فخاف على الولد او كانت الزوجة سيئة الخلق ويريد فراقها فخاف ان تحبل وكذا ماياتى فى اسقاط الحمل عن ابن وهبان فافهم.

(قوله وقالوا الخ) قال فى النهر بقى هل يباح الاسقاط الحمل نعم يباح مالم يتخلق منه شيء ولن يكون ذلك الابعد مائة وعشرين يوما وهذا يقتضى انهم ارادوا بالتخليق نفخ الروح والافهو غلط لان التخليق يتحقق بالمشاهدة قبل هذه المدة كذا فى الفتح واطلاقهم يفيد عدم توقف جواز اسقاطها قبل المدة المذكورة على اذن الزوج وفى كراهة الخانية ولا اقول بالحل اذا المحرم لو كسر بيض الصيد ضمنه لانه اصل الصيد فلما كان يؤاخذ بالجزاء فلا اقل من ان يلحقها اثم هنا اذا اسقطت من غير عذر اه قال ابن وهبان ومن الاعذار ان ينقطع لبنها بعد ظهور الحمل وليس لابى الصبى مايستاجر به الظئر ويخاف هلاكه ونقل عن الذخيرة لو ارادت الالقاء

قبل مضی زمن ینفخ فیہ الروح ہل یباح لہا ذلک ام لا اختلفوا فیہ وکان الفقیہ علی بن موسی یقول انہ یکرہ فان الماء بعد ما وقع فی الرحم مآلہ الحیاۃ فیکون لہ حکم الحیاۃ کما فی بیضۃ صید الحرم ونحوہ فی الظہیریۃ قال ابن وہبان فاباحۃ الاسقاط محمولۃ علی حالۃ العذر اوانہا لاتأثم اثم القتل اھ وبما فی الذخیرۃ تبین انہم ما ارادوا بالتخلیق الانفخ الروح وان قاضیخان مسبوق بما مر من التحقیق وللہ الموفق اھ کلام النہر (تنبیہ) اخذ فی النہر من ہذا وما قدمہ الشارح عن الخانیۃ والکمال انہ یجوز لہا سد فم رحمہا کما تفعلہ النساء مخالفا لما بحثہ فی البحر من انہ ینبغی ان یکون حراما بغیر اذن الزوج قیاسا علی عزلہ بغیر اذنہا قلت لکن فی البزازیۃ لہ منع امرأتہ عن العزل اھ نعم النظر الی فساد الزمان یفید الجواز من الجانبین فما فی البحر مبنی علی ما ہو اصل المذہب وما فی النہر علی ما قالہ المشائخ وللہ الموفق (رد المحتار ص۳۸۰ ج۲)

قال فی الہندیۃ: رجل عزل عن امرأتہ بغیر اذنہا لما یخاف من الولد السوء فی ہذا الزمان فظاہر جواب الکتاب ان لایسعہ وذکر ہنا یسعہ لسوء ہذا الزمان کذا فی الکبری. ولہ منع امرأتہ من العزل کذا فی الوجیز للکردری. وان اسقطت بعد ما استبان خلقہ وجبت الغرۃ کذا فی فتاوی قاضیخان. العلاج لاسقاط الولد اذا استبان خلقہ کالشعر والظفر ونحوہما لایجوز وان کان غیر مستبین الخلق یجوز واما فی زماننا یجوز علی کل حال وعلیہ الفتوی کذا فی جواہر الاخلاطی. وفی الیتیمۃ سألت علی بن احمد عن اسقاط الولد قبل ان یصور فقال اما فی الحرۃ فلا یجوز قولا واحدا واما فی الامۃ فقد اختلفوا فیہ والصحیح ہو المنع کذا فی التتارخانیۃ. ولا یجوز للمرضعۃ دفع لبنہا للتداوی ان اضر بالصبی کذا فی القنیۃ امرأۃ مرضعۃ ظہر بہا حبل وانقطع لبنہا وتخاف علی ولدہا الہلاک ولیس لابی ہذا الولد سعۃ حتی یستأجر الظئر یباح لہا ان تعالج فی استنزال الدم مادام نطفۃ او مضغۃ او علقۃ لم یخلق لہ عضو وخلقہ لایستبین الا بعد مائۃ وعشرین یوما اربعون نطفۃ واربعون علقۃ واربعون مضغۃ کذا فی خزانۃ المفتین وہکذا فی فتاوی قاضیخان وللہ اعلم (عالمگیریۃ ص۳۵۶ ج۵)

واللہ سبحانہ وتعالی اعلم   ۱۰ محرم سنہ ۱۴۱۵ھ



﴿لِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ يَخْلُقُ مَا يَشَاۗءُ ۭ يَهَبُ لِمَنْ يَّشَاۗءُ اِنَاثًا وَّيَهَبُ لِمَنْ يَّشَاۗءُ الذُّكُوْرَ ۝ اَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَّاِنَاثًا ۚ وَيَجْعَلُ مَنْ يَّشَاۗءُ عَقِيْمًا ۭ اِنَّهٗ عَلِيْمٌ قَدِيْرٌ ۝﴾

بسم الله الرحمن الرحيم

قوم يخضبون بالسواد اٰخر الزمان كحواصل الحمام لا يريحون رائحة الجنة

،،رواه النسائي وابوداؤد،،

طريق السداد

لمُحلّ الخضاب بالسّواد

★ په يوه استفتاء كښې يوه قلمي رساله راليږل شوې وه چې په هغې كښې دحديثو اوفقهي دنصوصو تحريف شوې وو اودخضاب بالسواد دجائز كولو كوښښ پې كړى وو

★ په دې رساله كښې دهغې جواب دې، قاعده خو داده چې له جواب سره اصل رساله توله يا دهغې خلاصه ليكل شوې واى مگر د د وقت د نشتوالى له وجې دهغې رسالې له نقل كولونه بغير وابس ليږل شوې ده



دخضاب بالسواد متعلق ديوې رسالې جواب

قال: ان اباحنيفة رحمه الله تعالى الخ (ص ۲)

وقال الامام ابويوسف رحمه الله تعالى الخ (ص ۲)

وقال الامام محمد رحمه الله تعالى الخ (ص ۲)

قال في البحر الرائق لا بأس الخ (ص ۲)

وملخصها ان الصبغ الخ (ص ۲)

وقال في الشامية قوله جاز الخ (ص ۲)

عن ابي ذر رضي الله تعالى الخ (ص ۳)

عن ابن عباس رضي الله تعالى عنه الخ (ص ۳)

پس مراد خضاب مجموع حنا و كتم باشد (ص ۳)

اقول: جواب هذه العبارات باسرها بان المراد منها غير السواد الخالص من غير الحفات الى تحقيق محل

الکتم بانه یکون سوادا خالصا اولا. والی ان الواو للجمع او بمعنی او وان الجمع بین الحناء والکتم یورث سوادا خالصاً اولا. والدلیل علی ما ادعیته من سبعة اوجه

۱۔ رفع التعارض بین الادلة فالممنوع منه ما یکون سوادا خالصا والجواز غیر ذلک لتصحیح معانی الاثار ولا تضاد

۲۔ نقل العینی علی ص ۸۰ عن فتح الباری فکان اکثرهم یخضب بالصفرة منهم ابن عمر وابوهریرة وآخرون رضی الله تعالی عنهم وروی مالک رحمه الله تعالی عن علی رضی الله تعالی عنه وخضب بعضهم بالحناء والکتم وبعضهم بالزعفران وخضب جماعة بالسواد

فعلم من هذه المقابلة صراحة بان المراد من الحناء والکتم غیر السواد

۳۔ الخضب لاجل التزین للنساء والجواری جاز فی الاصح ویکره بالسواد (ردالمحتار)

۴۔ اما الخضاب بالسواد فمن فعل ذلک من الغزاة لیکون اهیب فی عین العدو فهو محمود منه اتفق علیه المشائخ ومن فعل ذلک لیزین نفسه للنساء ولیحبب نفسه الیهن فذلک مکروه وعلیه عامة المشائخ (الی ان قال) وعن الامام رحمه الله تعالی ان الخضاب حسن لکن بالحناء والکتم والوسمة (عالمگیریة)

۵۔ روی الامام البخاری رحمه الله تعالی فی باب هجرة النبی صلی الله علیه وسلم واصحابه الی المدینة قدم النبی صلی الله علیه وسلم وکان اسن اصحابه ابوبکر فغلفها بالحناء والکتم حتی قنا لونها (بخاری ج ۱ ص ۵۵۸)

۶۔ فی الموطا للامام محمد رحمه الله تعالی قال محمد رحمه الله تعالی لانری بالخضاب بالوسمة والحناء والصفرة بأسا وان ترک ابیض فلا بأس بذلک کل ذلک حسن اھ وفی التعلیق الممجد علی الموطا (قوله بالوسمة) والخضاب به صرفا لا یکون سوادا خالصا بل مائلا الی الخضرة و کذا اذا خلط بالحناء وخضب به نعم لو خضب الشعر اولاً بالحناء صرفا ثم بالوسمة علیه یحصل السواد الخالص فیکون ممنوعا کما سیأتی ذکره (وبعد اسطر علی قوله لانری) واما الخضاب بالسواد الخالص فغیر جائز لما اخرجه ابوداود والنسائی وابن حبان والحاکم وقال صحیح الاسناد عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما مرفوعا یکون قوم یخضبون فی آخر الزمان بالسواد کحواصل الحمام لا یریحون رائحة الجنة وجنح ابن الجوزی فی العلل المتناهیة الی تضعیفه مستندا عما روی ان سعدا والحسن بن علی رضی الله تعالی عنهم کانا یخضبان بالسواد ولیس بجید فلعله لم یبلغهما الحدیث والکلام فی بعض رواته لیس بمضعف یخرجه عن حیز الاحتجاج ومن ثم عد ابن حجر المکی فی الزواجر الخضاب بالسواد من

الكبائر ويؤيده ما اخرجه الطبرانی عن ابی الدرداء رضی الله تعالیٰ عنه مرفوعاً من خضب بالسواد سود الله وجهه يوم القيامة وعند احمد رحمه الله تعالیٰ غيروا الشيب ولا تقربوا السواد واما ما فی سنن ابن ماجة مرفوعاً ان ما اختضبتم به هذا السواد رغب لنسائكم واهيب لكم فی صدور اعدائكم ففی سنده ضعفاء فلا يعارض الروايات الصحيحة واخذ منه بعض الفقهاء جوازه فی الجهاد اهـ

۷ــ روی الامام البخاری رحمه الله تعالیٰ فی مناقب الحسن والحسين رضی الله تعالیٰ عنهما عن انس بن مالك رضی الله تعالیٰ عنه وكان (الحسين رضی الله تعالیٰ عنه) مخضوبا بالوسمة. قال المحدث السهارنفوری رحمه الله تعالیٰ فی الحاشية ظاهره وان كان معارضا لقوله عليه السلام جنبوه السواد لكن المعنی كان مخضوبا بالوسمة الخاصة والخضب بها وحدها لا يسود الشعر فاندفع التعارض بينهما لان المنهی عنه هو السواد المحض او كون السواد غالبا لا بالعكس ومنشأ الشريعة بنهيه ان لا يلتبس الشيب بالشباب والشيخ بالشاب علی ان الحسين رضی الله تعالیٰ عنه كان غازيا شهيدا فالخضاب بالسواد جائز فی الجهاد (صحيح البخاری ج۱ ص۵۳۰)

فافادت عبارة التعليق المجد وحاشية صحيح البخاری امورا.

۱ــ ما يروی من فعل الحسين رضی الله تعالیٰ عنه فليس فی رواية البخاری التصريح بالسواد

۲ــ فالرواية المصرحة بالسواد ثبتت فهی مؤولة بالشبه بالسواد عزاه الی اللمعات فی حاشية ابی داود باب الخضاب (ص۲۲٦ ج۲)

۳ــ لم يبلغ الحسين رضی الله تعالیٰ عنه حديث النهی عن السواد.

۴ــ كان الحسين رضی الله تعالیٰ عنه غازيا.

تلك سبع شداد علی ان المراد من الحنا والكتم الذی ابيح استعماله غير السواد.

قال: والممنوع من الخضاب هو ما يكون لونه كحواصل الحمام الخ (ص۴)

اقول: ان المراد من الحديث هو السواد الخالص لا لون الحواصل بعينه لانه لا وجه لكونه منهيا عنه ووجه النهی عن السواد الخالص معقول.

قال: لان الوعيد صادق علی قوم يظهر فی اخر الزمان يخضبون بالسواد الخالص فعلم ان مراده صلی الله عليه وسلم هو السواد لا لون الحواصل بعينه.

اقوال الصحابة رضی الله تعالیٰ عنهم (ص٦)

أقول لا يتمسك بأقوالهم في مقابلة الأحاديث الصحيحة كما لا نتمسك بأقوال جماعة من الصحابة رضي الله [illegible] التي تقول بوجوب [illegible] الامام والحال [illegible] عنهم [illegible] الصريحة [illegible] فالمفتي [illegible] التتبع الكتب المنقول عنها.

قال على أولي الألباب (ص ۱۰)

أقول الصحيح على أولي الألباب

قال الحديث [illegible] الخ (ص ۱۰)

أقول قال أبو الحجاج كل ما تفرد به ابن ماجة فهو ضعيف لا يراد طائفة من الأحاديث الموضوعة ولذا لم يجعله [illegible] رحمه الله تعالى من فهرس الصحاح. والحديث ضعيف جدا لأن [illegible] السدوسي ضعيف [illegible] الحديث (انجاح)

قال على النهي [illegible] فلما صار النهي الخ (ص ۱۱)

أقول [illegible] المفتي والأدب [illegible] لفظ النهي موضع الإباحة [illegible]

قال لا يدل على الكراهة التحريمية الخ (ص ۱۲)

أقول إن المتبادر من الكراهة التحريمية الا عند القرائن الدالة على التنزيه فالمستفتى منه الكراهة التحريمية والمستفتى [illegible] الكراهة التحريمية ولذا [illegible] الكراهة التحريمية [illegible] مطلق الكراهة كما [illegible] المكروه [illegible] المروي عن محمد رحمه الله تعالى نصا أن كل مكروه حرام [illegible] لم [illegible] نصا قاطعا لم يطلق عليه اسم الحرام وعن أبي حنيفة وأبي يوسف رحمهما الله تعالى أنه إلى الحرام أقرب [illegible] كراهة تحريما وهو المحمل عند إطلاقهم الكراهة الخ.

[illegible] الأحاديث الصحيحة وعبارات الفقه [illegible] والتصريح بعدم ذكر لفظ الكراهة كما ورد في الحديث الصحيح عن جابر رضي الله تعالى عنه قال جيء بأبي قحافة يوم الفتح إلى النبي صلى الله عليه وسلم وكأن رأسه [illegible] فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم اذهبوا به إلى بعض نسائه فلتغيره [illegible] السواد [illegible] وهذا الحديث صحيح [illegible] ومذهب الجمهور [illegible] (انجاح) [illegible] كما قال [illegible] أبو يوسف [illegible]

فى الاستدلال مسلك الديانة فاورد الضعاف وحرف الكلم عن مواضعه [redacted] قطع العبارات الناصة على طريقه ان تذكر قوله تعالى لاتقربوا الصلوٰة وتترك وانتم سكارى.

والحاصل ان العبارات الدالة على التحريم من الفقه والحديث كثيرة يعسر احصاءها والاعراض عنها تعسف وتجاهل على انه ان سلمنا التعارض فالترجيح للمحرم. والحق انه لامعارضة بين الحديث الضعيف الساقط عن حد الاعتبار والصحاح وبين قول شرذمة قليلة ومذهب الجمهور من المحققين.

قال: اولا الخ (ص١٥)

اقول: قد اشتهر فى الافاق اطلاق اسم المصنف على المصنف فكيف جهل عنه المفتى الاديب فمن هذا القبيل الجامى وعبدالرسول وعبدالغفور والملا عبدالرحمن والملا جمال فى النحو. والزواهد الثلاثة فى المنطق واشتهر لواء الهدى فى الليل والدجى باسم مصنفه غلام يحيى ويطلق لفظ ابن عابدين على رد المحتار فى بلاد العرب وفى بلادنا يقال له الشامى كما ارتكبه المفتى ايضا على ص ٢ وص٢٣ فالعجب انه كيف يعترض عما يرتكب وكذا اكرثلاوثوسيوس واكريطليموس فى الرياضى وكذا عبدالحكيم وغيرها من اسماء الكتب ممالايحصى وكتب الحديث كلها معروفة باسماء مصنفيها.

قال: والثانى الخ (ص١٧)

اقول: فاى مطلب يطلب المفتى الفاضل الاديب فى عبارات الفقهاء التى فيها اضافة الكراهة الى التحريم كما قال فى الفتح ثم ان هذا حد المكروه كراهة تحريم واما كراهة المكروه كراهة تنزيه فالى الحل اقرب.

فقط والله الهادى الى سبيل الرشاد ٢٣ رمضان سنه ٧٢ هجرى

ضميمه

دحضرت مفتى محمد ابراهيم صاحب صادق آبادى له طرفه

د تورحضاب لګوونکې به دجنت خوشبويى هم محسوسه نکړى

عن ابى هريرة رضى الله تعالى عنه عن النبى صلى الله عليه وسلم قال ان العبد اذا اذنب ذنبا كانت نكتة سوداء فى قلبه فان تاب منها صقل قلبه وان زاد زادت فذلك قول الله تعالى: كلا بل ران على قلوبهم ماكانوا يكسبون (احمد، ترمذى، نسائى)

ترجمه دحضور اكرم ارشاد دي كله چې بنده دګومې ګناه ارتكاب وكړى نو دهغه په زړه باندې يو وړوكې تور خال ولګيږى. له هغه وروسته كه هغه توبه وباسى نو هغه تور والى ختم شى. زړه س

په اونښاف وګرځی، لیکن که په ځای د توبې نور ګناهونه وکړی نو دا توروالې نور هم ډیر شی
حتی چې ټول زړه تله تور شی ، دا هغه زنګ دی چې الله تعالی د هغې ذکر په دې آیت کښې کړې دې

چې ﴿كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ﴾
که ددې ارشاد نبوی صلی الله علیه وسلم په نظر کښې نیولو سره مونږ دخپلې شاوخوا جائزه
واخلو نو دا حقیقت به ښکاره مخې ته راشی چې زمونږ په معاشره کښې دکومو ګناهونو هرطرف ته
بوران دې، په دې کښې زیاتره هغه ګناهونه دی چې دهغو دعام کیدلو په وجه نه صرف دګناهونو
له فهرست څخه ویستل شوی بلکه هغه دفیشن اوترقی نښانې جوړې شوی دی
لږ فکر وکړئ : څومره مسلمانان دی چې په تصویر سازی، ساز اوموسیقی اوسینما کتلو ،
ږیره خریلو یاڼدولو په لعنت، دبې پردګی ، نسوانی قیادت ، غیر شرعی لباس او د اغیارو په طرز
وطریقو کښې بوخت دی
خضاب بالسواد یعنی په تور خضاب (نکریزو) خپله سپینه ږیرتوب پټول ددغوګناهونو د
فهرست په سرکښې دی اوله بله پلوه زیات سخته داخبره ده په دې عامو ګناهونو کښې د مبتلاء
خلکو اکثریت بې دینه او له آخرت څخه بیزار خلك وی، لیکن ددغې ګناه ښکار صرف بې دینه
خلك نه دی بلکه دیندار اودږیرو والا بزرګان اوپیران اوفقیران هم دی کومو خلکو چې اسلامی
شعار له بیخه اوبنیاده ایستلې دې دهغو له خضاب اونکریزو سره څه واسطه ؟ هغوئ خو له مردانه
شکل اوصورت څخه هم ځان خلاص کړی دې .

په تورخضاب باندې وعیدونه

تور خضاب استعمالول که په ږیره کښې وی یا په سر کښې وی حرام دی لکه څنګه چې د سپینو
ویښتانو دتبدیلی لپاره دحناء (نکریزو) یا دکتم (وسمې) ترغیب ورکړل شوی دې اودخالص
تورزنګ په استعمال ډیر سخت وعیدونه راغلی دی. دا لاندې احادیث ملاحظه کړئ

۱- عن ابی ذر رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ان احسن ما غیر به هذا الشیب
الحناء والکتم (سنن اربعة)

ترجمه حضور صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی دې چې بهترین رنګ چې د سپینو
ویښتنو سپینوالی ورباندې بدل کړې شی هغه نکریزی اووسمه دی

۲- عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم یکون قوم فی آخر الزمان
یخضبون بهذا السواد کحواصل الحمام لا یریحون رائحة الجنة (ابوداود والنسائی واحمد وابن حبان)

ترجمه د حضور صلی الله علیه وسلم ارشاد دې په آخره زمانه کښې به څه خلك راشی چې

دکوترو دجورو په شان تور رنګ باندې به یې خضاب کړی وی، دوئ به له جنت څخه دومره لرې وی چې دجنت بوی به هم وربانديې نه لګیږي.

۳ـ عن جابر بن عبدالله رضی الله تعالی عنهما قال اتی بابی قحافة رضی الله تعالی عنه یوم فتح مکة وراسه ولحیته کالثغامة بیاضا فقال رسول الله صلی الله علیه وسلم غیروا هذا بشئ واجتنبوا السواد (مسلم، ابوداود نسائی احمد ابن ماجه)

ترجمه: جابر بن عبدالله رضی الله عنه فرمائی چې ابوقحافه رضی الله تعالی عنه دمکې دفتحې په ورځ دنبی کریم صلی الله علیه وسلم خدمت ته راوستل شو، دهغه دسرا وږيرې ویښته دثغامه بوټی په شان تلك سپین وو، نو حضور صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائلو چې دده سپینوالې په څه شی سره بدل کړئ، لیکن له تور رنګ څخه ځان وساتئ، دمطلب دوضاحت لپاره دا ارشادات کافي اووافي دي لیکن یوڅونورروایات هم پیش کولې شي چې دسندپه لحاظ سره دومره قوی ندي، مګر دتائید اوتقویت لپاره وړاندې کولې شي.

۱ـ عن عامر رحمه الله تعالی مرسلا ان الله لاینظر الی من یخضب بالسواد یوم القیامة (کنزل العمال ص۱۸۸ ج۶)

له عامر رحمه الله نه روایت دې چې توررنګ خضاب استعمالونکی ته به په ورځ دقیامت الله تعالی درحمت په نظر نه ګوری.

۲. عن ابی الدرداء رضی الله تعالی عنه مرفوعا من خضب بالسواد سود الله وجهه یوم القیامة رواه الطبرانی وابن ابی عاصم (کنزل العمال ص۱۸۴ ج۶ جمع الوسائل ص۱۲۵ ج۱، اوجز المسالك ص۳۳۵ ج۶)

خوك چې تور خضاب لګوی په ورځ دقیامت به الله تعالی دهغه مخ تور کړی.

۳ـ من مثل بالشعر لیس له عند الله خلاق (طبرانی)

قال فی النهایة مثلة الشعر حلقه من الخدود وقیل نتفه او تغییره بالسواد (ص۲۹۴ ج۴)

چاچې ویښتان مثله (خراب) کړل دالله په نزد به دهغه هیڅ حصه (درحمت) نه وی، دابن اثیرپه نهایه کښې دی چې دمثلې نه مراد له رخسار څخه دویښتانو قطع کول دی اودځینی علماؤقول دې چې مراد سپین ویښتان ویستل یا هغوته توررنګ ورکول دی.

۴ـ عن انس رضی الله تعالی عنه اول من اختضب بالحناء والکتم ابراهیم خلیل الرحمن واول من اختضب بالسواد فرعون (فردوس دیلمی، السراج المنیر، کنزل العمال، اوجز المسالك، کشف الخفاء للعجلونی)

ترټولو له مخه حضرت ابراهیم علیه السلام نکریزی اووسمه استعمال کړی دی اوتر ټولو دمخه تورخضاب فرعون لګولی دی.

د خلور واړه مذهبونو اجماع

دتور خضاب په حرمت دخلورواړو مذهبونو اجماع ده، د مثال په توګه له هر مذهب نه په يوه يوه قول وړاندې کولو اکتفاء کولې شي.

احناف: علامه علاء الدين حصکفي رحمه الله تعالى فرمايي: **يستحب للرجل خضاب شعره ولحيته(الى قوله)ويكره بالسواد**

ترجمه: دسړي لپاره دسراوګيرې خضاب کول مستحب دي مګر په تور رنګ خضاب کول مکروه تحريمي دي.

او علامه شامي دهغه نه لاندې فرمائي:

(قوله ويكره بالسواد) اى لغير الحرب قال فى الذخيرة: اما الخضاب بالسواد للغزو ليكون اهيب للعدو فهو محمود بالاتفاق وان ليزين نفسه للنساء فمكروه وعليه عامة المشائخ(ردالمحتار ص۲۲۲ج۵)

له جهاد نه ماسوا دبل کوم مقصد لپاره تور خضاب استعمالول مکروه دي په ذخيره کښې يې ليکلي دي چې په دښمن د رعب اچولو لپاره په دوران دجهاد کښې تورخضاب استعمالول بالاتفاق محمود اومستحسن دي، دميره دخپلې ښځې لپاره دتور رنګ استعمال مکروه دې دعامو شانځو همدا مذهب دې.

علاوه له دې ځخه په عالمګيري ج۵ ص ۳۵۹ ، ددې په حاشيه کښې قاضيخان ص۴۱۲ ج۳ بزازيه ج۶ ص ۳۷۷ الجوهرة النيره ص۳۶۱ ج۲ اونورو فتاوى وو کښې دامسئله په همدې تفصيل سره موجوده ده.

تنبيه: دفقهې په کتابونو کښې چې چيرته لفظ دمکروه مطلق ذکر شي له هغه ځخه مکروه تحريمي مراد وي چې دحرامو يوقسم اوپه ګناه کښې هم دحرامو برابر اوپه عذاب کښې هم دحرامو برابر دې. تفصيل يې را روان دې:

مالکيان: د مالکيانو په کتابونو کښې دسر سرې خيرنې کولونه څه تصريح په لاس رانغله البته شارح دموطاء حضرت شيخ الحديث مولانا زکريا صاحب قدس سره ليکلي دي: **وفى المحلى: يكره عند مالك صبغ الشعر بالسواد من غير تحريمه.(اوجز المسالك ص۲۵ ج۱۵)**

په محلى کښې دي چې: دامام مالك په نزد سپينو ويښتانو ته تور رنګ ورکول مکروه دي اوحرام ندي.

داوضاحت مخکښې وشو چې دمکروه نه مکروه تحريمي مراد دي، چې دهغې ګناه اوعذاب له حرامو نه کم ندي.

مشهور اهل حدیث عالم علامه محمد بن علی الشوکانی دحضرت جابر دمذکوره روایت لاندی لیکلی دی.

والحديث يدل على مشروعية تغيير الشيب وانه غير مختص باللحية وعلى كراهة الخضاب بالسواد قال بذلك جماعة من العلماء قال النووي: والصحيح بل الصواب انه حرام وممن صرح به صاحب الحاوي انتهى (نيل الاوطار ص۱۲۰ ج۱)

حدیث پدې دلالت کوی چی دسپینو وینښتانو بدلول مشروع دی او دا چی داحکم تر ږیرې پوری خاص ندې همدارنګه داحدیث په کراهیت دتوررنګ دلالت کوی دعلماء یوجماعت داقول بیان کړې دې، امام نووی فرمایی چی صحیح او روغه خبره داده چی دتور رنګ خضاب حرام دی اوصاحب دحاوی هم په دې تصریح کړیده.

شوافع : امام محی الدین ابوذکریا شافعی رحمه الله تعالی فرمایی : **ومذهبنا استحباب خضاب الشيب للرجل والمرأة بصفرة اوحمرة ويحرم خضابه بالسواد على الاصح وقيل يكره كراهة تنزيه والمختار التحريم لقوله صلى الله عليه وسلم واجتنبوا السواد (شرح مسلم ص۱۹۹ ج۲)**

زمونږ دعلماؤ (شوافعو) مذهب دادې چی دسری اوښځې لپاره په سپینو وینښتانو زیړ یا سور رنګ لګول مستحب دی او دصحیح ترین قول مطابق د توررنګ خضاب حرام دی، اویو ضعیف قول دکراهیت تنزیهی هم دې مګر قول مختار دحرمت دې ځکه چی دحضور صلی الله علیه وسلم ارشاد دی چې : **واجتنبوا السواد**

حنابله : امام موفق الدین ابن قدامه حنبلی رحمه الله تعالی فرمائی: **ويكره الخضاب بالسواد قيل لابي عبدالله: تكره الخضاب بالسواد؟ قال اى والله. قال: وجاء ابوبكر بابيه الى رسول الله صلى الله عليه وسلم وراسه ولحيته كالثغامة بياضا فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: غيروهما وجنبوه السواد (المغني ص۶۹ ج۱)**

توررنګ خضاب مکروه دی له امام احمد بن حنبل رحمه الله تعالی ځنګه پوښتنه وشوه چی آیا تاسو توررنګ خضاب مکروه ګنی؟ هغه اوفرمایل چې : هو ! په الله جل جلاله قسم : حضرت ابوبکر رضی الله عنه خپل والد درسول الله صلی الله علیه وسلم په خدمت کښې حاضر کړ و په داسی حال کښې چی دهغه سراو ږیره دثغامه وبنو په شان سپین وو نورسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمایل چې ددې دسر اوږیرې سپین والې تبدیل کړئ مګر له توررنګ ځنګه لری اوساتئ

داکابرو (مشرانو علماؤ) فتواګانې

اوس مونږ دمتاخرینو اکابروفتواګانی په تفصیل سره ذکر کوو

۱. علامه عبدالحی لکهنوی رحمه الله تعالی فرمایی (خضاب کردن برنگ سیاه خالص ممنوع وگناه کبیره است)

ابن حجر مکی رحمه الله تعالی فرمائی (در زواجر این را درکبائرشمرده است ازین وجه که درحدیث وارد است) یکون فی اخر الزمان قوم یخضبون بالسواد کحواصل الحمام لایجدون رائحة الجنة رواه ابوداود والنسائی (الی قوله) وطبرانی رحمه الله تعالی روایت کرده است من خضب بالسواد سود الله وجهه یوم القیامة (الی قوله) وملاعلی قاری رحمه الله تعالی درشرح شمائل ترمذی رحمه الله تعالی می نویسد ذهب اکثر العلماء الی کراهة الخضاب بالسواد وجنح النووی الی انها کراهة تحریم وان من العلماء من رخص فیه للجهاد ولم یرخص فیه لغیره انتهی (مجموعة الفتاوی علی هامش خلاصة الفتاوی ص۲۶۰ ج۴)

په خالص توررنگ باندې خضاب ممنوع اوګناه کبیره ده، امام ابن حجر مکی رحمه الله په زواجر کښې داپه ګناه کبیره کښې شمارکړیده خکه چې په حدیث کښې راغلی دی چې په آخره زمانه کښې به څه خلك راشي چې دکونترې دججورې په شان به یې په توررنګ خضاب کړی وي مګر به دجنت خوشبوی نه مومی . رواه ابوداود والنسائی.

اوامام طبرانی روایت کړې دې چاچې تور خضاب ولګول دهغه مخ به الله تعالی په ورځ دقیامت تورکړی.

اوملاعلی قاری په شرح شمائل کښې فرمائی: اکثرعلماؤ تور خضاب ته مکروه ویلی دی دامام نووی میلان دې طرفته دې چې مکروه تحریمی دی. ځینی علماء صرف دجهاد په موقع تور خضاب ته اجازه ورکړیده ددې نه علاوه دبل کوم مقصد لپاره یې اجازه نده ورکړې.

۲. فقیه النفس حضرت مولنا رشیداحمد صاحب ګنګوهی قدس سره لیکلی دی : ویښتان خضاب کول بغیر له توروالی نه نور په هر قسم صحیح دی، فتاوی رشیدیه ، مطبوعه اداره سلامیات لاهور، ص ۴۸۲

تورخضاب دسرولپاره درست ندی ، فتاوی رشیدیه ص ۴۸۹

۳. دحضرت حکیم الامت تهانوی قدس سره فتوی

سوال: څه فرمایی علماء کرام په دې مسئله کښې چې دسرېو لپاره سراوږیره باندې تورخضاب کول دشرع شریف له نظره جائزدی یا مکروه یا حرام؟

الجواب: حرام دی خکه چې کلیًا اوجزئیًا وعید راغلې. کما روی مسلم رحمه الله تعالی عن جابر رضی الله تعالی عنه قال اتی النبی صلی الله علیه وسلم بابی قحافة رضی الله تعالی عنه یوم فتح مکة وراسه

والصيغة كلفظة كما انقال النبي صلى الله عليه وسلم غيروا هذا الشيب واجتنبوا السواد والامر للوجوب وترك الواجب يوجب الوعيد (امداد الفتاوی ص۲۱۸ ج۴)

همدارنګه حکیم الامت قدس سره ددې په عدم جوازبره مستقله رساله په نوم دالقول السداد فی الخضاب بالسواد لیکلې ده ، هغه ملاحظه کړئ، امداد الفتاوی صـ ۲۱۸ ج۴

۴. حضرت مولانا شاه انور شاه کشمیری رحمه الله فرمایی : وفی الحدیث النهی الشدید عن الخضاب الاسود الذی لایتمیز به بین الشیخ والشاب (الی قوله) والوسمة اذا لم تکن اسود اشد السواد وتمیز بین الشیخ والشاب جائزة کما فی موطا محمد رحمه الله تعالی (العرف الشذی علی الترمذی صـ۱۰۵ ج۱)

اوپه حدیث کښې له داسې تور خضاب څخه سخت ممانعت دې چې دهغې په استعمال سره دسپین ږیری اوځوان فرق نه کیږی، وسمه که ډیره توره نه وی اوله هغې څخه دسپین ږیری اوځوان په منځ کښې فرق کیږی نودهغې استعمال جائزدې لکه چې په موطا دامام محمد رحمه الله کښې دی

۵. حضرت مولانا خلیل احمد صاحب سهارنپوری قدس سره فرمائی : وفی الحدیث تهدید شدید فی خضاب الشعر بالسواد وهو مکروه کراهة تحریم. (بذل المجهود صـ۸۲ ج۱۶)

په دې حدیث کښې په تورخضاب سخت وعیدراغلې دې اودهغې استعمال مکروه تحریمی دې.

۶. ددارالعلوم دیوبند دمفتی حضرت مولنا عزیز الرحمن صاحب قدس سره فتوی :

سوال : کوم سړې چې خضاب لګوی اوویښته تورساتی آیا په هغه پسې لمونځ کیږی اوکه نه؟

الجواب : مکروه دی، فتاوی دارالعلوم دیوبند صـ ۱۸ ج ۳

۷. د مفتی اعظم هند حضرت مفتی کفایت الله صاحب فتوی :

دتوررنګ خضاب یې دمجاهدینو لپاره محمود اومستحسن فرمایلی دی مګر په قصدد زینت خالص توررنګ خضاب ته یې مکروه ویلی دی، کفایت المفتی صـ ۱۷۲ ج ۹

۸ . شیخ الحدیث حضرت مولانا زکریا صاحب قدس سره په اوجزالمسالك صـ ج کښې په کراهت دخضاب بالسواد باندې مفصل دلائل فرمایلی دی فلیراجع.

۹. دسیدی ومرشدی قبله حضرت مفتی رشید احمد صاحب لدهیانوی دام مجدهم فتوی :

سوال کوم حافظ صاحب چې ږیرې ته خضاب ورکوی آیا هغه د تراویح لمونځ ورکولې شی؟ بینوتوجرو

الجواب باسم ملهم الصواب : تورخضاب لګونکې فاسق دې لهذا دداسې امام په اقتداء کښې تراویح کول مکروه تحریمی دی که صالح امام نه پیداکیږی نو تراویح دې تنها وکړل شی ، احسن الفتوی صـ ۲۹۲ ج ۳،

۱۰. دحضرت مفتی عبدالرحیم لاجپوری زاد مجدهم فتوی :

سوال که دسر ویښته په خوانۍ کښې سپین شی نو خضاب لګول څنګه دی ؟ بینوا توجروا

الجواب تور خضاب لګول سخته ګناه ده په احادیثو کښې په هغې وعید راغلې دی فتاوی رحمیه صـ ۲۹ جـ ۴

اوس مونږ د جواز ورکونکو ددلائلو جائزه اخلو :

دمجوزینو دلائل :

۱. دتورخضاب دمجوزینو د دلائلو سرفهرست دسنن ابن ماجه دا روایت دې : ان احسن ما اختضبتم به لهذا السواد ارغب لنسائکم فیکم واهیب لکم فی صدور عدوکم.

الجواب : دا روایت دسند په لحاظ سره ضعیف دې ددې بالمقابل خضاب بالسواد دحرمت په باره کښې چې کوم احادیث وراندې کړی شول هغه صحیح، مسلم او دسنن ابی داود نسائی وغیرهم روایات دی چې روایتًا اودرایتًا له هره ارخه قوی اوراجح دی .

دابن ماجه محشی حضرت شیخ عبدالغنی مجددی رحمه الله تعالی فرمائی :

ان احسن ما اختضبتم به لهذا السواد هذا مخالف لروایة جابر السابقة وهو صحیح اخرجه مسلم (الی قوله) وهذا الحدیث ضعیف لان دفاع السدوسی ضعیف وفی التقریب وعبدالحمید بن صفی لین الحدیث ومذهب الجمهور المنع. (حاشیة سنن ابن ماجة صـ۲۵۸)

حضرت مولانا عبدالحی ددې روایت متعلق فرمائی : فی سنده ضعفاء فلا یعارض الروایات الصحیحة (التعلیق الممجد صـ۳۹۲)

۲. دځینې صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم عمل دې چې هغوی تورخضاب استعمال کړی دی

جواب : دحرمت اوممانعت احادیث قولی دی چې داصول حدیث له نظره په فعلی روایاتو باندې ترجیح لری. همدارنګه دا قولی روایات مرفوع احادیث دی اوفعلی روایات موقوف دی. بیا دسند په لحاظ هم دنهی روایات قوی دی، او د اباحت روایات ضعیف یاموقوف دی .

پس له هرې خوا دنهی اوحرمت روایات قوی اوراجح دی .

له کومو صحابه کرامو څخه چې خضاب بالسواد منقول دی ممکنه ده چې همدغو حضراتو ته دنهی روایات نه وی رسیدلی، لدې وجې نه هغوی معذور ګڼل کیږی

یا خوبه دغوحضراتو خضاب بالسواد دجهاد دضرورت له وجې کړې وی اودا خبره قیاس ته هم نږدې ده څکه چې دا حضرات هروخت له دښمن سره په مقابله کښې وو . همدارنګه دا احتمال هم شته چې مراد د تورخضاب نه توروالی ته مائل مراد وی چې له هغې څخه بیا دشیخ اوشاب تمیز

شکل نه وی. توروالی ته مائل هم عموماً په تور سره تعبير کيږی.

۲- فقهاء کرامو تورخضاب صرف مکروه ګڼلی اودمکروه ارتکاب کوم داسې جرم ندی چی په هغې دومره نکيرٌ وکړل شی.

الجواب: په احاديثو کښې دهغې صفا صفا ممانعت راغلې دې اودهغې په مرتکب باندې شديد وعيدراغلی دی کمااسلفناحضرات فقهاء کرامو هم حرام ګناه کبيره يا داسی نورالفاظ استعمال کړی دی البته څينی حضراتو فقط مکروه ليکلی دی چی له هغې څخه مراد مکروه تحريمی دی.

قال في البحر: والمكروه في هذا الباب نوعان احدهما: مايكره تحريما وهو المحمل عند اطلاقهم كما في زكوة الفتح (ردالمحتار ص۲۳۹ج۱)

اودمکروه تحريمی درجه حرام يا هغې ته نزدې ده، چنانچه په هدايه کښې دی:

تكلموا في معنى المكروه والمروى عن محمد رحمه الله تعالى: نصا ان كل مكروه حرام الا انه لما لم يجد فيه نصا قاطعا لم يطلق عليه لفظ الحرام وعن ابي حنيفة وابي يوسف رحمهما الله تعالى انه الى الحرام اقرب (هداية ص۴۵۲ج۴)

اودمکروه په حقيقت کښې فقهاء کرامو کلام کړې دې له حضرت امام محمد څخه روايت دې چی هرمکروه حرام دې ليکن چونکه ددې په حرمت دليل قطعی پيدانشو لدې وجی په هغې دحرامو اطلاق نه کيږی اوله حضرت امام ابوحنيفه او امام ابويوسف رحمهما الله څخه روايت دې چی مکروه حراموته نزدې تردې يعنی ډيرقريب دې. عوام دمکروه پروا نه ساتی او دا معمولی جرم ګڼلی، حالانکه فقهاء کرامو عموما په حرامو او ناجائزکارونو باندې دمکروه اطلاق کړې دې، ددې يو مثال ملاحظه کړئ امام مرغينانی رحمه الله فرمائی: **ويكره اكل الضبع والضب والسلحفاة والزنبور والحشرات كلها (هداية ص۴۲۱ج۴)**

د «يګی» او «سمسری» او «کشپ» اونورو حشراتو خوړل مکروه دی، آيا کوم سليم الطبع مسلمان د «يګی» او «مار» او «لړم» اونوروحشراتو او درندګانو خوراک صرف مکروه ګڼلو سره دهغو دخوراک تصور کولې شی.

مختصر دا چی دمکروه په پرده کښې دکوم حرام ارتکاب اوپه هغې مسلسل اصرار له کوم علمی دليل څخه ماخوذ ندی بلکه د اصطلاحات علميه نه دبی خبرئ ثبوت پيش کول دی، اوپه خپل جرم کښې لا درونـد والې دوه چنده کول دی.

۴- حضرت امام ابويوسف دخوانې ښځی ددلجوئی (زړه خوشحاله کولو) لپاره تور خضاب جائز ګرځولی دی، چنانچه په فتاوی عالمګيريه اوشاميه وغيره کښې هغه ته منصوب داقول ليکل شوې دې. **كما يعجبني ان تتزين لي يعجبها ان اتزين لها.**

الجواب ددې متعلق حضرت تهانوی قدس سره لیکلی دی چې بعضې خلك دامام ابویوسف روایت پیش کوی، په شرط دثبوت ددې روایت اودهغه درجوع نه کولو په صورت کښې جواب دادې چې په رسم المفتی کښې داخبره لیکل شو ده چې که د صاحبینو په خپل مینځ کښې اختلاف وی نو له کوم یوه سره چې امام اعظم ملګرې وی دهغه په قول به فتوی وی، خصوصا کله چې داقوال دصریحو اوصحیحو دلائلو مؤید وی، لهذا دامام ابویوسف په قول عمل کول خلاف اصول مقرره دمذهب حنفی دی او د دلیل صریح اوصحیح دموجودوالی په صورت کښې خلاف دیانت هم دی.

خلاصه داچې اول خوددې خبرې ثبوت له امام ابویوسف څخه یقینی نه دی بیا درجوع احتمال هم قوی دې که له دې دواړو څخه صرف نظر وکړې شی نو دا یو غیر مفتی به او مرجوع قول دې چنانچه په عالمګیری اوشامی کښې دمذکور الصدر قول سره دا لیکل شوی دی چې: ومن فعل ذلك من الملوك للتزين للنساء وليحبب نفسه الیهن فذلك مکروه وعلیه عامة المشائخ عالمګیری ص۳۵۹ج۵ شامی ص۲۲ج۲

راجع اومستند مسائل نظر انداز کول او دمتروکواقوالوڅخه خپل مقصد را ویستل اتباع دشریعت نده بلکه اتباع دهوی ده، دفقهی په کتابونو کښې چې امام ابویوسف ته څومره اقوال منسوب دی هغه مرجوع یا غیر مفتی به دی، مجوزینو دخضاب ته شاید په ټول عمر کښې له دغو اقوالو څخه په یو قول باندې دعمل کولو خیال نه وی راغلې آخر په دغه یوه قول په دومره درجه اصرار ولی کیږی؟ د حق طلب کوونکی هر مسلمان ته یوه لاره متعینه ده کومه یوه چې جمهورو علماؤ راجحه اومنقحه ګرځولې ده اوکه هر سړې له کتابونو څخه دخپلی خوښې اقوال راجمع کړی اوعمل وربandی شروع کړی نوددین دې الله حافظ شی.

خلاصه داده چې دصریحو احادیثو اوجمهورفقهاء اومحدثینو د واضحو ارشاداتو په رڼا کښې دتور خضاب استعمالول ناجائز دی اوپه دې اصرار کول سنګینه ګناه ده، دحدیث له نظره دمؤمن دسر او ږیرې هر سپین ویښته نور دې.

عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا تنتفوا الشيب ما من مسلم يشيب في الاسلام قال عن سفيان الا كانت له نورا يوم القيامة وقال في حديث يحيى الا كتب له بها حسنة وحط عنه بها خطيئة (سنن ابي داود ص: ۲۲۲، ج: ۲).

حضور صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی دی: سپین ویښتان مه اوباسئ داسلام په حالت کښې چې دچا ویښته سپین شول دهغه لپاره دقیامت په ورځ نور وی اودهر سپین ویښته په بدله کښې به ورته یوه نیکی لیکلی شی. اویو خطا به معاف کولې شی.

د دې ارشاد نبوی مخې ته کیښودلو سره دې داخلك خپله فیصله وکړی چې دنور په بدل کښې ظلمت اختیارولو سره دوی څه ګټی؟ بوداوالی په پټولو سره نه پټیږی

روى ابو القاسم القشيري رحمه الله تعالى في الرسالة قال حكى ابو عبدالله الحسين بن عبدالله بن سعيد قال كان القاضي يحيى بن اكثم صديقا لي وكان يودني واوده فمات فكنت اشتهي ان اراه في المنام فاقول له ما فعل الله بك فرأيته ليلة في المنام فقلت ما فعل الله بك، فقال غفر لي الا انه وبخني ثم قال لي يا يحيى خلطت على نفسك في دار الدنيا فقلت يارب اتكلت على حديث حدثني به ابو معاوية الضرير عن الاعمش عن ابي صالح عن ابي هريرة رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم انك قلت اني لاستحيي ان اعذب شيبة بالنار فقال قد عفوت عنك يا يحيى وصدق نبيي الا انك خلطت على نفسك في دار الدنيا (شذرات الذهب صـ ١٠٢ جـ ٢)

امام ابوقاسم قشيری په خپله رساله کښې روايت کړې دې چې ابوعبدالله حسين بن عبدالله بن سعيد بيان کړې چې قاضی يحيی بن اکثم زما دوست وو دهغه زما سره مينه وه اوماله هغه سره محبت کولو کله چې دهغه وفات وشو نو زما خواهش وو چې هغه په خوب کښې اووينم اوپو ښتنه ترينه وکړم چې الله جل جلاله تاسره څنګه معامله وکړه، آخر يوه شپه می هغه په خوب کښې وليده اوپوښتنه می ترينه وکړه چې الله تعالی تاسره څنګه معامله وکړه ؟ هغه ورويل الله تعالی زما بخښش وکړ، مګر دومره ضرور وشول چې دهغه له دربار څخه منع کړې شوم او راته وويل شو چې ای يحيی ! تا په دنيا کښې څه کوتاهيانې کړی دی.

ما عرض وکړو چې اې زما پروردګاره ! (زما دغفلت وجه داوه چې) ما په يو حديث باندې اعتماد کړې وؤ چه هغه ماته ابو معاويه اعمش له اعمش نه او اعمش له ابو صالح نه او ابو صالح له ابو هريرة رضی الله تعالی عنه نه بيان کړې وؤ چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ارشاد فرمايلې دې چې الله تعالی فرمايی چې : ((ما لره سپينو ويښتانو والا ته يعنی مسلمان سپين ږيری ته دجهنم عذاب ورکولو څخه حيا راځی)). نو الله پاك راته اوفرمايل چې : ((اې يحيی ! ما ته معاف کړې، او زما پيغمبر ريښتيا ويلی دی ليکن تا په دنيا کښې يوڅه کوتاهی کړيده)).

شعر: رحمت حق بها نمی جويد — رحمت حق بهانه می جويد

سپين ويښتان ګويا که دالله تعالی له طرفه درحمت اومغفرت رسولو يوه غيبی ذريعه ده مګر نادان بنده دويښتانو سپينوالې پټوی او په پرده کښې دالله تعالی له دغه عطيه څخه اعراض اوروګردانی کوی څه به وايی په حرامان ددې بی نصيبی کښې.

مضى زمني والشيب حل بمفرقي — و ابعد شئ ان يرد شباب

اذا مرعمر المرء ليس براجع — وان حل شيب لم يفده خضاب

مسائل متفرقه

۱. حضور صلی الله علیه وسلم دسپینو ویښتانو دتبدیلی په باره کښې په متعددو احادیثو کښې ترغیب ورکړې دې دنکریزو اووسمی داستعمال فضیلت یې بیان کړې دې له حضرت ابوبکر اوحضرت عمر نه علاوه له متعددو اصحابو کرامو څخه اوتابعینو دیوجماعت نه خضاب ثابت دی لیکن آیا حضور صلی الله علیه وسلم بنفس نفیس خضاب لګولی دی اوکه نه؟

په دې باره کښې له صحابه کرامونه دوه قسمه روایات منقول دی له دی وجی نه د وروستنیو علماؤ هم په دې باره کښې آراء مختلف دی. علامه نووی فرمائی دعلماؤ رایه داده چی استعمال یې ندې کړېږ دامام مالك رحمه الله هم همدا قول دې.

فیه لا یکرهون لحدیث انس رضی الله تعالی عنه وهو مذهب مالك رضی الله تعالی عنه (شرح مسلم ص۲۶۰ ج۲)

داحنافو علماؤ رای هم همدا ده کما صرح به فی الشامیه ص ۴۵۹ ج ۲

لیکن علامه نووی قول فیصل دا فرمایلې دې.

والمختار انه صلی الله علیه وسلم صبغ فی وقت وترکه فی معظم الاوقات فاخبر کل بما رأی وهو صادق وهذا التأویل کالمتعین (شرح مسلم ص۲۶۰ ج۲)

قول مختار دادې چی نبی کریم صلی الله علیه وسلم په خینی وختونو کښې نکریزی یاوسمه لګولې اواکثراوقات یې نده لګولې لدې وجی نه هر صحابی چی کوم حالت مشاهده کړې دې هغه یې بیان کړې دې اوهغه په خپله خپره کښې رښتونې دې، ګویا دتطبیق داصورت متعین دې.

۲. په سرا و ګیره سور خضاب مستحب دی اودمسلمانانو خاص شعاردې. البته دسړیو لپاره په لاسونواوپښو نکریزی لګول جائزندی څکه په دې کښې له ښځو سره مشابهت راځي عالمګیری ص۳۵۹ ج۵ ردالمختار ص ۲۲۲ ج۶

۳. بلاضرورته د ورو هلکانو په لاسونو اوپښو نکریزی لګول جائزندی.

۴. دښځو لپاره په لاسونو اوویښتو نکریزی لګول مستحب دی، مرقات ص ۲۰۴ ج۸

۵. مجاهد که په دښمن دخپل رعب داچولو لپاره تور خضاب استعمال کړی نو جائز بلکه مستحسن دی

۶. تورخضاب تیارول اوخرڅول جائزدی څکه چی ددې لپاره یومحل دجواز موجود دې یعنی په دشمن باندې دهیبت اچولو لپاره. لهذا جوړول اوخرڅول یې خلاف اولی دی، مګر دداسې سړی په لاس خرڅول جائز ندی چی یقین یې وی چی په ناجائز طور سره یې استعمالوی. کما فی رد المختار وغیره

۷. که چاناپاك نکریزی استعمال کړل بیایې درې ځله ومینځل اوصفائی کړل نو پاك شو اګر که

رنگ باقی پاتی وی.

۸- د سر یا پیري سپین وینښتان ویستل جائزندی. لما قال صلی الله علیه وسلم لاتنتفوا الشیب فانه نور المسلم الحدیث (رواه الاربعة)

محمد ابراهیم
نائب مفتی دار الافتاء والارشاد ۲۲ رجب ۱۴۱۳ھ

ما دا ضمیمه اول نه تر آخره پوري بنه په غور سره ولیدله او صحیح ده.
رشید احمد ۱۵ شعبان سنه ۱۴۱۳ھ

قوم یخضبون بالسواد آخر الزمان کحواصل الحمام لا یریحون رائحة الجنة
«رواه النسائی وابوداؤد»

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ


﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا
أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴿٦﴾ ﴾ «۳۱ - ۲»

المصابيح الغراء للوقاية عن عذاب الغناء

سندرو او ساز اوسرود د حرمت ثبوت له قرآن، حدیث او د ائمه اربعه رحمهم الله تعالی له اجماع څخه

افاضه حضرت فقیه العصر دامت برکاتهم

لیکنه حضرت مفتی محمد ابراهیم صاحب صادق آبادی مدظله



المصابیح الغراء للوقایه عن عذاب الغناء

- په ساز او سرود باندې د الله تعالی د رسول لعنت
- زلزله۔ خسف۔ مسخ
- اودقسم قسم عذابونو وعیدونه
- قرآنی آیتونه
- نبوی مبارك احادیث
- ائمه اربعه رحمهم الله تعالی

د ساز او سرود آوریدل حرام دي او د هرې ګناه جرړه ده

سوال زمونږ په کالج کښې داسلامیاتو پروفیسر صاحب وایی چې دموسیقی د آلاتو سره نبې سندرې او قوالیانې آوریدل شرعا جائزدي، دیته ناجائزاوحرام ویل دا دملایانو خبرې دي، دلیل دا وایی چې دحضور صلی الله علیه وسلم په وړاندې «دف» وهل کیدلو، ماشومانو نجونو سندرې ویلې مګرحضورهغوئ منع نه کړلې، دموسیقی جدیدآلات د «دف» یوترقی یافته شکل دې په موسیقی آوریدوکښې هیڅ مضائقه نشته څکه چې دا د روح غذا ده اوصوفیای کرام رحمهم الله دسماع مستقل شغل لری

دقرآن اوسنت په رڼا کښې ددې مسئلې وضاحت وکړئ او د پروفیسر صاحب د دلائلوهم جائزه واخلئ. بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د ویر او ماتم مقام دې چې کوم رسول د ساز اوسرود اوسندرو له مینځه وړل خپل مقصد ګرځولې وو د دغه رسول نام نهاد امتی په دغه ګناه باندې خپل ځان فدا کوی، بلکه ددغې بی حیایی دسند دجواز دپیدا کولو لپاره دسرقربانی ته هم تیار دې، دغه د نوی ترقی متولیانو ته به دا لوئ حقیقت څنګه ور وپیژندل شی چې دالله تعالی شریعت څوارلس سوه کاله مخ کښې مکمل شوې دې

دهغه هره مسئله به ترقیامته پورې لازواله قائمه او محفوظه وی، ستاسې له موافقت یا مخالفت نه په کومه مسئله هیڅ اثر نه پریوځی. کوم شی چې حلال دې هغه به ترقیامته پورې حلال وی اوکوم شی چې شرعاً حرام وی هغه به ترقیامته پورې حرام وی. اګر که دټولې دنیا رایه دهغې خلاف وګرځی

په شریعت مطهره کښې دموسیقی حرمت هم یوه داسې بدیهی مسئله ده چې په هغې باندې د دلائلو دپیش کولو چندان حاجت نشته، داسې قطعی حرامو ته دمباح او جائز ویلو خسارت داسې دې لکه یوسړې سر تاو کړی او وه وایی چې دشریعت له رویه زنا او شراب نوشی، سود خوری او رشوت اخستل جائز دی

ظاهره ده چې داسې بې ځایه خبرې کول هیڅ کله لائق داعتناء ندی اونه ددې قابل دی چې ددې په رد کښې سرې وخت ضائع کړی مګر څه وکړو ؟ په دې دور دهوا پرستی کښې دعلم اوتحقیق ترعنوان لاندې خس اوخاشاک هم پیش کول کیږی

ددین له مبادیاتونه نا آشنا جدیده طبقه کښې دجدید تحقیق ترعنوان لاندې ویر زر پزیرائی حاصلوی بدې شان سره هر کفر اوالحاد په دې بدقسمته معاشره کښې په آسانی سره خپریږی، اکبر مرحوم څه ښه ویلی دی

انھوں نے دین کب سیکھا ہے رہ کر شیخ کے گھر میں
پلے کالج کے چکر میں مرے صاحب کے دفتر میں

له دې تمهيدي کړښونه بعد مونږ د موسيقۍ په حرمت دلائل پيش کوو.

د حرمت دلائل

قرآني آيتونه ﴿ وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا ۚ أُولَٰئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُّهِينٌ ﴾ (۳۱ - ۶)

اوځينې خلك داسې دی چې دهغه خبرو خريدار جوړيږي چې هغه غافله کوونکې دی، د دې لپاره چې د الله له لارې نه ناخبره او بی علمه خلق گمراه کړی او هغه نيسی په ټوقو او مسخروباندې د داسې خلکو لپاره د ذلت عذاب دې.

امام ابن کثير ددې آيت په تفسير کښې فرمايي: عن ابی الصهباء البکری انه سمع عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه وهو يسال عن هذه الاية (ومن الناس من يشتری لهو الحديث ليضل عن سبيل الله فقال عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه الغناء والله الذی لا اله الا هو يرددها ثلاث مرات

وکذا قال ابن عباس وجابر رضی الله تعالی عنهم وعکرمة وسعيد بن جبير ومجاهد ومکحول وعمرو بن شعيب وعلی بن بذيمة رحمهم الله.

وقال الحسن البصری رحمه الله تعالی نزلت هذه الاية (ومن الناس من يشتری لهو الحديث ليضل عن سبيل الله بغير علم) فی الغناء والمزامير. (تفسير ابن کثير ص ۴۴۲ ج ۳)

عبدالله بن مسعود رضی الله عنه درې خله قسم وکړ او وې ويل چې له «لهو الحديث» نه مراد سندرې او ساز اوسرود دې، اوحضرت عبدالله بن عباس او حضرت جابر رضی الله عنهما او حضرت عکرمه، سعيد بن جبير، مجاهد، مکحول، او عمروبن شعيب اوعلی بن بذيمه رحمهم الله تعالی نه هم هدا تفسير منقول دی اوحضرت حسن بصری فرمائی چې دا آيت د سندرو اوسرود متعلق نازل شوې دې.

او دا تفسير په قرطبی صـ ۵۱ جـ ۱۴ بغوی صـ ۲۰۸ جـ ۴ خازن صـ ۴۴۸ جـ ۳ مدارك بهامش خازن صـ ۴۴۸ جـ ۳ مظهری صـ ۲۴۴ جـ ۷ وغيرها کښې په مفصل ډول ذکر دې

۲- ﴿ وَاسْتَفْزِزْ مَنِ اسْتَطَعْتَ مِنْهُم بِصَوْتِكَ ﴾ (۱۷: ۶۴)

معنی د وکه ورکوه له هغوی نه هغه چاته چې ستا طاقت وی دهغوی د دوکه کولو په خپل آواز سره



۴ــ فی هذه الامة خسف ومسخ وقذف فقال رجل من المسلمین یارسول الله ومتی ذلك، قال اذا ظهرت القیان والمعازف وشربت الخمور (جامع ترمذی)

په دې امت کښې به دا آفتونه راځی : په څمکه کښې به خسف وی دشکلونو مسخ به وی او دکانړو باران به وی یوه صحابی عرض وکړ چې : یارسول الله صلی الله علیه وسلم، دا به کله وی؟ هغه صلی الله علیه وسلم ارشاد وفرمایه : کله چې سندرغاړې ښځې او ساز اوسرود ډیر شی اوشراب په عام مجلس کښې وڅښل شی.

۵ ــ ان الله عزوجل بعثنی هدی ورحمة للمؤمنین وامرنی بمحق المزامیر والاوتار والصلیب وامر الجاهلیة (احمد ابوداود الطیالسی)

الله تعالی زه دمؤمنانو لپاره هدایت او رحمت رالیږلی یم او د ساز اوسرود اوشرکیه تعویذونو اوصلیب او د زمانه جاهلیت دغلطو کارونو دختمولو حکم یی راته فرمایلی دې.

۶ــ الکوبة حرام والدف حرام والمزامیر حرام (مسند بیهقی، بزار)

طبله حرامه ده اودشرابو لوښی حرام دی اوساز اوسرود حرام دې، دشرابو د لوښو حرمت په ابتداء د اسلام کښې وو وروسته منسوخ شو.

۷ــ الغناء ینبت النفاق فی القلب کما ینبت الماء البقل (ابوداود بیهقی، ابن ابی الدنیا)

ساز اوسرود، نفاق په زړه کښې داسې زرغونوی لکه اوبه چې فصل زرغونوی.

۸ ــ وظهرت القیان والمعازف وشربت الخمور ولعن اخر هذه الامة اولها فارتقبوا عند ذلك ریحا حمراء وزلزلة وخسفا وقذفا وایات تتابع کنظام بال قطع سلکه (جامع ترمذی)

کله چې دسندرغاړیو ښځو ظهوروشی اوساز اوسرود ښکاره شی اوشراب په کثرت سره څښل کیږی او ددې امت آخری خلك په اولنو ددې امت باندې طعن اوتشنیع شروع کړی نوپه دې وخت کښې ددغو عذابونو انتظارکوئ : تك سور باد، زلزله اوخسف اومسخ اوکانی وریدل اونورې علامې لکه دهار (غاړکی) تارچې پرې شی اودانې یی یوپه بل پسی را لویږی.

۹ــ اذا فعلت امتی خمس عشر خصلة حل بها البلاء وفیها واتخذت القیان المعازف (جامع ترمذی)

کله چې زما امت دا پنځلس کارونه په کثرت سره وکړی نو په دوئ به مصیبت نازلیږی له هغو څخه یو دا هم دی چې سندر غاړې ښځې اوسازاوسرود به عام شی.

۱۰ــ صوتان ملعونان فی الدنیا والاخرة مزمار عند نعمة ورنة عند مصیبة. (البزار بیهقی، ابن مردویه)

دوه آوازونه دی په دنیا او آخرت کښې دواړه ملعون دی، یو د ساز اوسرود سره آواز او دویم دمصیبت په وخت چیغی اوبغاری وهل .

۱۱- نهيت عن صوتين احمقين فاجرين صوت عند نغمة لهو ولعب مزامير الشيطان وصوت عند مصيبة لطم وجوه وشق جيوب (مستدرك حاكم ص۴۰ ج۴ مصنف ابن ابی شیبة ص۳۹۳ ج۳ وغیرها)

زه له دوه آوازونو «چی له حماقت اوفسق اوفجور څخه ډك دی منع شوی یم» یو دلهو اولعب اوشیطانی ساز اوسرود سره آواز اودویم دمصیبت په وخت کښې دمخ وهلو او ګریوان شلولو اونوحی آواز.

۱۲- الجرس مزامير الشيطان (صحیح مسلم سنن ابی داود)

ګونګری دشیطان باجه ده.

۱۳- يمسخ قوم من هذه الامة فی اخر الزمان قردة وخنازير قالوا يارسول الله اليس يشهدون ان لا اله الا الله وان محمدا رسول الله قال بلى ويصومون ويحجون ويصلون قيل فما بالهم؛ قال اتخذوا المعازف والقينات (مسند ابن ابی الدنیا)

په آخره زمانه کښې به ددې امت څه خلك دشادو ګانو اوخنزیرانو په شان مسخ شی، صحابه کرامو عرض وکړ یارسول الله؛ هغوئ به ددی کلمی ګواهی نه وی ورکړې چی دالله تعالی نه سوا بل معبود نشته اوتاسو دالله رسول یئ؟ هغه صلی الله علیه وسلم اوفرمایل: ولی نه؛ ددې نه علاوه به هغوئ روژی هم نیسی، حج به هم کوی اولمونځ به هم کوی، عرض وشو نوبیا په کوم سبب داعذاب ورکول کیږی؟ هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د ساز او سرود او دسندرغاړو ښځو دشغل اختیارولو په وجه.

داختصار له مخې مونږ په دې څو روایاتو باندې اکتفاء کوو، دحضرت مفتی محمد شفیع صاحب کتاب (**کشف العناء عن وصف الغناء**) مندرج احکام القرآن ص ۲۰۳ ج ۳ په دې موضوع باندې جامع ترین کتاب دې چی په هغې کښې ډیر روایات دی، مولانا عبدالمعز ددې کتاب ترجمه کړې ده په نوم د (اسلام اوموسقی) سره چی په هغې کښې یې نورهم ډیر روایات جمع کړی دی.

د څلورو امامانو رحمهم الله اجماع

دساز اوسرود په حرمت دڅلور واړو امامانو اجماع منعقده ده اوددوئ دمذاهبوله مستندو کتابونو څخه په شلګونو عبارات وړاندې کیدې شی مګر مونږ په یوه یوه اکتفاء کوو.

۱- امام زین الدین ابن نجیم حنفی لیکی:

(قوله اويغني للناس) لانه يجمع الناس على ارتكاب كبيرة كذا فی الهداية وظاهره ان الغناء كبيرة وان لم يكن للناس بل لاسماع نفسه دفعا للوحشة وهو قول شيخ الاسلام رحمه الله تعالى فانه قال بعموم المنع.



بالدرالفتح القدير ص۲۶ج۶ البحر الرائق ص۸۸ج۸)

بیا دف وهو نکی عموما ماشومانې وی دسریو دف وهل چیرته هم ثابت ندی. بیا دا دف د اهل عربو دعادت موافق بالکل ساده وهل کیدلو له هغه سره نه رقص وو، نه سرود یا طرب یامستی وغیره، ددې څیزونو بالکل نشان هم نه وو ،زمونږ په زمانه کښې دغسې دف چیرته هم په نظرنه راخی د دې با وجود د تیرو شوو شرطو د رعایت کولو سره سره د دف وهلوګنجائش هم د امام شافی په نزد باندې دې له احنافو څخه اکثر فقهاء کرامو دا هم ناجائز بللی.

قال التوربشتی رحمه الله تعالی انه حرام علی قول اکثر المشائخ وماورد من ضرب الدف فی العرس کنایة عن الاعلان(امدادالفتاوی ص۲۸۳ج۲)

امام توریشتی فرمایی چی دف داکثر مشائخو په نزد حرام دې او د بنادی په موقع چی کوم دف وهل ثابت دی له هغه څخه اعلان اوتشهیر مراد دې.

په امداد الفتاوی کښې دتوریشتی ددې قول حواله له شرح نقایه او نصاب الاحتساب، بستان العارفین نه منقوله ده، آخری دوه کتابونه موجود ندی او شرح نقایه کښې په سر سری تلاش کولو سره پیدانه شو، په هر حال دنصوص محرمه په نظر کښې نیولو سره د اعلان اوتشهیر لپاره دا کنایه په عرف عام کښې ډیره مشهوره اوزبان زده ده ،مثلا «د ډول په آواز وایی ، ډول وهی، ډنډوره وهی نغاره ډنګوی» مونږ مخ کښې ذکر کړل چی دا اختلاف دساده دف متعلق دې ملاعلی قاری رحمه الله تعالی فرمایی . **المراد به الدف الذی کان فی زمن المتقدمین واما ماعلیه الجلاجل فینبغی ان یکون مکروها بالاتفاق(مرقاة المفاتیح ص۲۱۰ج۶)**

له دې څخه مراد هغه دف دې چی په دور دمتقدمینو کښې استعمالیده البته ګونګری دار دف بالاتفاق مکروه دې دمکروه اطلاق په حرامو باندې کیږی لکه مخکښې چی تیرشو

۲. له بعضی صوفیانو نه منقول دی چی هغوئ ساز اوسرود آوریدلو.

الجواب: اول خوپه شرعی مسائلو کښې دکوم صوفی په قول اوعمل استناد کول خلاف اصول دی په دې موقع دحضرت مجدد الف ثانی چی خپله هم یولوی صوفی اوعارف وو دهغه دا ارشاد دیادساتلو قابل دې : عمل صوفیه درحل وحرمت سند نیست همین بس است که ما ایشان را معذور داریم وملامت نه کنیم ومر ایشان را بحق سبحانه وتعالی مفوض داریم اینجا قول ابی حنیفه وامام ابویوسف وامام محمد معتبر است نه عمل ابوبکر شبلی وابوحسن نوری رحمهما الله تعالی.

یعنی په حلت اوحرمت کښې دصوفیای کرامو عمل حجت نه دې بس دومره کافی ده چی مونږ دوئ معذور وګنو اوملامت یی نکړو اوده‌هغوئ معامله الله تعالی ته وسپارو، دلته دامام ابوحنیفه

او امام ابو یوسف او امام محمد قول معتبر دی نه د ابوبکر شبلی او ابوالحسن نوری رحمهم الله تعالی

دوهم دا چې دبعضو صوفیای کرامو سماع په مخصوصو احوالو کښې بطور دواء او علاج وو او په دې کښې هم دې ډېرو شرائطو لحاظ ساتلو چې دبعضې تفصیل دادې

قال عبد الرحمن رحمه الله تعالى:

ومن اباحه من المشائخ الصوفية فلمن تخلى عن الهوى وتحلى بالتقوى واحتاج الى ذلك احتياج المريض الى الدواء وله شرائط:

احدها ان لا يكون فيهم امرد

والثاني ان لا يكون جميعهم الا من جنسهم ليس فيهم فاسق ولا اهل الدنيا ولا امرأة

والثالث ان تكون نية القوال الاخلاص لا اخذ الاجر والطعام

والرابع ان لا يجتمعوا لاجل طعام او فتوح

والخامس لا يقومون الا مغلوبين

والسادس لا يظهرون وجدا الا صادقين (الفتاوى الخيرية ص۱۸۲ ج۲)

لومشائخ صوفیه چې دکومې سماع دجواز قائل دی په دغو شرطونو سره چې صاحب سماع دخواهش نفس نه پاك او په زیور تقوی سره مزین وی او دسماع لپاره داسې مجبوری او احتیاج ولری لکه مریض چې دواته احتیاج او ضرورت لری او ددې د جواز لپاره شپږ شرطونه دی

اول په سماع کونکو کښې څوك بې ږیرې نه وی

دوهم ټول عارفین کاملین وی په دوی کښې څوك فاسق او فاجر. طالب دنیا او ښځه نه وی

دریم د قوال نیت په اخلاص بناء وی مزدوری او خوراك او معاوضه یې مدنظر نه وی

څلورم جمع دخوراك یا بل دنیوی غرض لپاره نه وی

پنځم په دغه دوران کښې به قیام نه کوی مګر هغه څوك چې مغلوب یا بې خوده وی

شپږم دوجد او مستۍ اظهار به نکوی مګر دا چې رښتیاوی ریا او تصنع نه وی

بیا ددغو شرائطو د پابندۍ سره سماع به صرف دکاملې درجې منتهی عارفینو کوله. مبتدی سالك به یې له دې نه په سختۍ سره منع کاوه.

امام الطائفه حضرت جنید بغدادی رحمه الله تعالی داوویل اوله سماع څخه یې توبه وکړه او وې ویل چې اوس ددې شرطونو پابندی نه کیږي

قال الشيخ السهروردي رحمه الله تعالى وقيل ان الجنيد ترك السماع فقيل له كنت تسمع فقال مع من.

دمصافحې اومعانقې څلور مسائل

په دواړه لاسونو مصافحه مستحب ده

سوال دمصافحې صحيح طريقه په شريعت اسلامی کښې څه ده؟ په دواړه لاسونو يوصاحب اعتراض وکړ او ويل ئې چې دا طريقه دکوم حديث څخه نده ثابته، دليل شرعی په کار دې او د معترض صاحب ليکل ستاسو خدمت ته درليږل کيږي؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: مصافحه په دواړو لاسونو مستحب ده.

داحاديثو روايات:

قال ابن مسعود رضی الله تعالی عنه علمنی النبی صلی الله علیه وسلم التشهد و کفی بین کفیه (صحیح البخاری ص۹۲۶ ج۲ صحیح مسلم ص۱۷۳ ج۱ سنن نسائی ص۱۸۸ ج۱)

امام بخاری رحمه الله دا روايت په باب المصافحه کښې ذکرکړې دې اولدې څخه يې په ثبوت دمصافحې باندې استدلال کړې دې، په دې کښې مصافحه باليدين ذکرده دا له ثبوت دمطلق مصافحی سره سره ددوه لاسونو دمصافحې دثبوت دليل هم دې، لدې کبله امام بخاری رحمه الله په باب الاخذ باليدين کښې ذکر کړې دې.

حافظ ابن حجر ، عينی ، کرمانی اوقسطلانی رحمهم الله تعالی په باب المصافحه اوباب الاخذ باليدين کښې د امام بخاری له دې روايت نه په استدلال کولو باندې کوم اشکال ندې کړې دا ددې واضح دليل دې چې دا استدلال دهغوئ حضراتو په نزد هم صحيح دې.

په دې حديث کښې دحضور دکفينو ذکر صراحة دې دعبدالله بن مسعود دکفينو ذکر دلالتاً دې صحابه کرام رضی الله عنهم به د تبرك حاصلولو لپاره دخپل وجود زيات نه زياته حصه دنبی کريم صلی الله عليه وسلم دجسد مبارك سره دلګولو کوښښ کاوه ددې په نظرکښې نيولوسره دانامکنه خبره ده چې حضور صلی الله عليه وسلم دې په دواړو لاسونو مصافحه کړی وی اوعبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه دې په يوه لاس کړې وی، له داسې جانباز صحابی اوعاشق الرسول څخه د داسې ګستاخی تصورهم نشی کيدې.

په دې حديث کښې دمصافحة التعليم ذکر دې، امام بخاری رحمه الله ددې څخه مطلقه مصافحه ثابته کړې ده چې مصافحة الملاقاة ته هم شامله ده اوددې مقصد لپاره امام دحماد بن زيد اوعبدالله بن المبارك دمصافحة الملاقات ذکر کړې دې.

دامام دمصافحة التعليم څخه استدلال په مصافحه الملاقات باندې بالکل واضح دی له دې وجی نه چې لکه څنګه تعليم موقع دمودت اومحبت ده همداشان ملاقات هم دې، د مدعيان فرق

دعوی بالکل بلادلیله ده ددوی سره نه کوم روایت دلیل شته اونه کوم درایت

۲ــ اخرج الامام البخاری رحمه الله تعالی تعلیقا: وصافح حماد بن زید ابن المبارک بیدیه (صحیح بخاری ص۹۲۶ج۲)

قال الحافظ رحمه الله تعالی: وصله غنجار فی تاریخ بخاری من طریق اسحاق بن احمد ابن خلف قال سمعت محمد بن اسماعیل البخاری یقول سمع ابی من مالک ورای حماد بن زید یصافح ابن المبارک بکلتا یدیه. وذکر البخاری فی التاریخ فی ترجمة ابیه نحوه وقال فی ترجمة عبدالله ابن سلمة المرادی حدثنی اصحابنا یحیی وغیره عن ابی اسماعیل بن ابراهیم قال رایت حماد ابن زید وجاءه ابن المبارک بمکة فصافحه بکلتا یدیه (فتح الباری ص۴۷ج۱۱)

حماد بن زید اوعبدالله بن مبارک دواړه دخپلې زمانې جبال الحدیث او له لویو امامانو څخه شمیرل کیدل.

قال عبدالرحمن بن مهدی رحمه الله تعالی: الائمة اربعة مالک وسفیان الثوری وحماد بن زید وابن المبارک (تذکرة الحفاظ ص۲۰۷ج۱)

۳ــ قال عروة قالت عائشة رضی الله تعالی عنها فمن اقر بهذا الشرط من المؤمنات قال لها رسول الله صلی الله علیه وسلم قد بایعتک کلاما ولا والله ما مست یده ید امراة قط فی المبایعة ما یبایعهن الا بقوله قد بایعتک.

قال الحافظ العینی رحمه الله تعالی: (قوله قال لها) ای للمبایعة منهن قد بایعتک کلاما وهو منصوب بنزع الخافض وهو من قول عائشة رضی الله تعالی عنها والتقدیر کان یبایع بالکلام ولا یبایع بالید کالمبایعة مع الرجال بالمصافحة بالیدین (عمدة القاری ص۲۲۱ج۹)

وقال القسطلانی رحمه الله تعالی: ای بالکلام لا بالید کما کان یبایع الرجال بالمصافحة بالیدین (ارشاد الساری ص۱۸۱ج۸)

په دې حدیث کښې اګر چه دمصافحة المبایعه بیان دې لیکن له دې څخه دمصافحة الملاقات هم هم‌دا طریقه ثابتیږی، لما قدمنا تحت الحدیث الاول.

دمانعینو ددلائلو څیړنه

په دې سلسله کښې د رالیږونکی دمندرجه دلائلو ماخذ اومراجعې ته ضرورت نشته. لدې وجې نه دمحرر عبارات بعینه وراندې کولې شی

اول دلیل دحضرت انس رضی الله عنه روایت دی فیاخذ بیده ویصافحه قال نعم: (سنن ترمذی

عنه له حدیث څخه هم د امام بخاری استدلال صحیح ګرځولې اوله هغه څخه دمصافحې ثبوت وړاندې کوی.

اوس پاتې شو دا بحث چې امام بخاری له باب المصافحه څخه وروسته (باب الاخذ بالید) ولې ایښې دې ؟ حافظ عسقلانی اوقسطلانی ددې حکمت دابیان کړې دې چې چونکه په حدیث دعمر رضی الله عنه کښې اخذ بالید بدون المصافحه هم احتمال لری لدې وجې نه امام بخاری په دویم باب کښې دحمادبن زید اوعبدالله بن المبارک رحمهما الله له عمل اوله حدیث دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه دا ثابتول غواړی چې له اخذبالید څخه اصل او اغلب دادې چې هغه دمصافحې لپاره وی، چنانچه په دغه باب کښې حافظ رحمه الله فرمائی: **قال ابن بطال رحمه الله تعالى بالاخذ هو مبالغة المصافحة وذلك مستحب عند العلماء (فتح الباری ص۲۸ ج۱۱)**

که په ګمان دمحرر دامام بخاری له باب الاخذبالیدنه اخذ بدون المصافحه بیان مقصود وی نو هغه بیا ددې باب لاندې دلائل دمصافحې ولی راوړل؟ . دصحیح البخاری په ځینی نسخو کښې (باب الاخذبالیدین) دهغې په نظر کښې نیولو سره له دې څخه دطریق مصافحه بیان مقصود دې چې په دواړه لاسونو په کار وه اوله اول باب نه نفس اثبات دمصافحې مقصود دې.

دویمه شبه : علامه عبدالحی لکهنوی فرمائی چې په روایت دابن مسعود کښې چې دکومې مصافحې ذکر دې هغه مصافحه متوارثه عند الملاقات نده بلکه یوه تعلیمیه طریقه ده.

جواب : ددې تفصیل په اثبات المصافحه بالیدین کښې په دلیل اول کښې تیرشو.

دفقهای کرامو فیصله

حضرات فقهای کرامو د ذکرشوو روایاتو په وجه مصافحه بالیدین سنت ګڼلې ده.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وفي القنية السنة في المصافحة بكلتا يديه وتمامه فيما علقته على الملتقى.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وتمامه الخ) ونصه وهي الصاق صفحة الكف بالكف واقبال الوجه بالوجه فاخذ الاصابع ليس بمصافحة خلافا للروافض والسنة ان تكون بكلتا يديه وبغير حائل من ثوب اوغيره وعند اللقاء بعد السلام الخ (ردالمحتار ص۲۴۴ ج۵)

حاصل د خبرې دادې چې : په یوه لاس مصافحه جائزه اوپه دوه لاسونو مستحب ده.

د استحباب دلائل

۱- د یدینو احادیث ناقابل تاویل دی اوروایات د(ید) محتمل التاویلات دی

۲- دحمادبن زید اوعبدالله بن مبارک په شان جلیل القدر امامانو عمل.

۳. دمفوی په عمل دحاضرینو اوسامعینو دچاهم انکار نه کول بلکه دمشهورو ائمه حدیث رمفوی په عمل استدلال کول

۴. دامام بخاری فیصله

۵. د خلورو مسلمو جبال الحدیث امامانو حافظ ابن حجر عسقلانی، حافظ بدرالدین عینی، علامه کرمانی، اوحافظ قسطلانی له طرفه دامام بخاری دفیصلې تائید اوتقریر

۶. دحضرات فقهاء کرامو فیصله

۷. د ادب مدار په عرف سره وی اودصالحینو په عرف کښې په یوه لاس مصافحه کول خلاف ادب بلل کیږی، کوم لوئ شخص ته دخه ورکولو په وخت کښې دواړه لاسونه استعمالیږی نو دمصافحې په وخت کښې په دواړه لاسونو مصافحه کول په طریق اولی سره مقتضای ادب دی.

۸. د امت دعلماؤ اوصلحاؤ تعامل اوتوارث.

۹. په یوه لاس مصافحه دکفارو او فجاروشعار دي.

۱۰. له محدثینو اوفقهاء کرامونه له هیچا خخه په یوه لاس مصافحه ثابته نده، والله سبحانه وتعالی اعلم بالصواب.

۱۰ شوال سنه۹۵ هـ

۲ـ ثبوت د مصافحې په وخت د وداع کښې

سوال: یوشخص وائی چې در خصتیدو په وخت کښې صرف سلام سنت دي دمصافحې ثبوت نشته حالانکه دا دټولو علماء اکابرینو معمول دي، په دې باره کښې تشفی اوفرمائی، بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د وداع په وخت کښې مصافحه له متعددو احادیثو خخه علاوه درایتاً هم ثابته ده.

۱ـ عن ابن مسعود رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال من تمام التحیة الاخذ بالید وهذا حدیث غریب ولا نعرفه الا من حدیث یحیی بن سلیم عن سفیان وسالت محمد بن اسمعیل عن هذا الحدیث فلم یعده محفوظا (جامع الترمذی ص۱۰۲ ج۲)

دا ضعیف حدیث محض دتائید لپاره نقل کولې شی ددې نه علاوه ددویم حدیث دلاندې وجوهو خخه هم ددې تقویت کیږی.

۲ـ اخرج الامام احمد رحمه الله تعالی: عن علی بن یزید عن القاسم عن ابی امامة رضی الله عنه ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال وتمام تحیاتکم بینکم المصافحة. (مسند احمد ص۲۶۰ ج۵)

وقال العلامة احمد البناء المعروف بالساعاتی رحمه الله تعالی معزیا الی الترمذی رحمه الله تعالی: وقال سنده لیس بالقوی ونقل عن البخاری ان عبیدالله بن زحر و كذا القاسم ثقتان لكن علی بن یزید ضعيف اهـ

وقال الحافظ رحمه الله تعالى حديث الترمذي سنده لين اه وقال الحافظ السيوطي رحمه الله تعالى له شواهد تعضده (منها) عن ابي رهم السمعي عند الطبراني (ومنها) عن ابي هريرة رضي الله تعالى عنه عند العجلي (ومنها) عن عائشة رضي الله تعالى عنها عند ابن السني وغير ذلك والله اعلم (بلوغ الاماني شرح الفتح الرباني ص۱۲۳ ج۱۹)

دا حديث دلاندې وجوهو له کبله قابل دقبول دې.

۱- ضعيف حديث په فضائلو کښې مضرندې.

۲- معضد بالشواهد دی.

۳- په نورو قوليه او فعليه او په حکم داريه سره مؤيد دې.

۳- عن ابن عمر رضي الله تعالى عنهما قال كان النبي صلى الله عليه وسلم اذا ودع رجلا اخذ بيده فلا يدعها حتى يكون الرجل هو يدع يد النبي صلى الله عليه وسلم ويقول استودع الله دينك وامانتك واخر عملك وفي رواية وخواتيم عملك رواه الترمذي وابو داود وابن ماجه وفي روايتهما لم يذكر واخر عملك (مشكوة ص۲۱۳ ج۱)

۴- عن قزعة قال كنت عند عبد الله بن عمر رضي الله عنهما فاردت الانصراف فقال: كما انت حتى اودعك كما ودعني النبي صلى الله عليه وسلم فاخذ بيدي فصافحني ثم قال استودع الله دينك وامانتك وخواتيم عملك. (عمل اليوم والليلة للنسائي حديث نمبر ۵۱۶).

دمانعينو تاويلات

اول تاويل: تحية السلام له قدوم سره خاص دې.

داخيال په لاندې وجوهو سره باطل دې:

۱- دا خبره بې دليله اوخلاف الظاهر ده، لفظ دتحيه مطلق دې چې سلام د قدوم او وداع دواړوته شامل دې.

۲- قوله تعالى (وَإِذَا حُيِّيتُم بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا) ددې لاندې مفسرين حضرات سلام او وداع هم ليکي، داهم ثابته شوه چې سلام او وداع هم په تحيه کښې داخل دی.

۳- عن ابي هريرة رضي الله تعالى عنه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال اذا انتهى احدكم الى مجلس فليسلم فان بدا له ان يجلس فليجلس ثم اذا قام فليسلم فليست الاولى باحق من الاخرة (الجامع الترمذي ص۱۰۰ ج۲)

له دې حديث څخه ثابته شوه چې سلام قدوم په سلام وداع باندې کوم فضيلت نه لری لهذا اتمام بالمصافحه کښې دواړه مساوي دی.

دويم تاويل اخذ د «يد» بغير له قصد نه مصافحه وه.

داخیال هم په لاندې وجوهو سره باطل دي
۱. بلا دلیل او خلاف الظاهر دی
۲. د مصافحې حقیقت همدا اخذ د ید دي
وللحمر فی الحدیث الاول عن النبی صلی الله علیه وسلم: من تمام التحیة الاخذ بالید ولذا احتج به البخاری رحمه الله تعالی فی باب المصافحة.
وقال الحافظ رحمه الله تعالی: قال ابن بطال رحمه الله تعالی: الاخذ بالید هو مبالغة المصافحة وذلك مستحب عند العلماء (فتح الباری ص۱۱ ج۱۱)
وقال الافریقی: المصافحة الاخذ بالید والتصافح مثله (لسان العرب) وکذا قال الجوهری (الصحاح)
۳ ـ دحدیث الفاظ (هو یدع یدالنبی صلی الله علیه وسلم) واضح دلیل دي چې عمل داخذ ید له جانبینو څخه وو.

د درایة حکم:

دمصافحې مشروعیت داظهار محبت لپاره دي او د اظهار محبت موقع لکه چې اول دملاقات دي دغسې د وداع وخت هم موقع د اظهار محبت دي لکه څنګه چې سلام د وداع هم ددي لپاره دي او له همدې وجې نه په ټوله دنیا کښې دستور دي ، والله سبحانه وتعالی اعلم
۱۹ شعبان سنه ۱۴۰۳ھ

۳ - په معانقه کښې سینه لګول

سوال عرب په خپلو کښې د ملاقات په وخت کښې یو له بل سره غاړه ملاووی او له لفظ دمعانقې څخه هم همدا ثابتیږی، دلته زمونږ په علاقه کښې چې د سینې دلګولو کوم دستور دې آیا ددې کوم ثبوت شته ؟ بینو ا توجروا .

الجواب باسم ملهم الصواب دمعانقې معنا خو هماغه ده (دغاړه له غاړی سره لګول) البته په دوه روایاتو ضعیفه و کښې التزام هم ذکر دي قال الافریقی: عانقه معانقة عناقا: التزمه فادنی عنقه الی عنقه. (لسان العرب) وقال الجوهری: المعانقة والعناق وقد عانقه اذا جعل یدیه علی عنقه وضمه الی نفسه (الصحاح) وقال الفیومی: عانقته المرأة عناقا وهو الضم والالتزام (المصباح المنیر)
وفی المنجد عانقه معانقة اذا جعل یدیه علی عنقه وضمه الی صدره (المنجد)
په سرسری لټون سره په بذل المجهود کښې په (اجلع) کلام ونه موندل شو له دې عبارت څخه دا خبره محققه شوه چې دامتکلم فیه دي

له دغو روایاتو څخه په استدلال کولو کښې په لاندې وجوهو سره لازم دي

اول : په اول روایت کښې یو راوی مبهم دې اودویم روایت مرسل دې له دې څخه علاوه ددې په سند کښې اجلح روای متکلم فیه دې .

دویم: التزام په معنی داعتناق سره هم کیدې شی ای الصاق العنق بالعنق. وهذا هو الموافق لروایات المعانقه .

دریم : دا دحضور صلی الله علیه وسلم خصوصیت وو کما نقله الحافظ العسقلانی عن الامام مالك رحمه الله فی المعانقه، کله چی اعتناق دهغه خصوصیت شو نوالتزام هم په طریقه اولی سره خصوصیت گرځول په کار دی .

څلورم : دحضور صلی الله علیه وسلم دا عمل صرف له اصاغروسره لپاره داظهار دمحبت مختص وو.

پنځم : له صحابه کرامو څخه او ائمه حدیث اوفقه څخه ددې کوم ثبوت نه موندل کیږی .

شپږم : دحضور صلی الله علیه وسلم له دې عمل خاص څخه ظاهره ده چی التزام نه الصاق بالعنق مراد دې اوزیات نه زیات الصاق بالصدر مراد دې نه الصاق بالبطن .

دپاکستان اوهندوستان په عوامو کښې دمعانقې مروجه طریقه چی سینی څخه علاوه خیټه هم لگول کیږی ددې په طریقه د خصوصیت هم له نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه کوم ثبوت نشته له دې څخه علاوه نورهم دیر مفاسد دی، لهذا دا رسم واجب الترك دې، والله سبحانه وتعالی اعلم

۳۰جمادی الاولی سنه۱۴۰۲ هـ

۴- دمعانقې حکم

سوال : آیا په وخت دملاقات کښې دمعانقې دمروجه رسم ثبوت شرعا شته ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دمعانقې معنی ده «غاړه له غاړی سره لگول» په عربو کښې متوارثه هم همداده چی تول جسم جدا وی اوغاړه له غاړې سره ولگوی.

دلغت په کتابونو کښې ددې په معنی کښې ضم او التزام هم لیکل شوې دې چی مختص بالعنق هم کیدې شی، البته په منجد کښې دضم الی الصدر تصریح ده.

قال الازهري: عانقه معانقة وعناقا: التزمه فادنى عنقه الى عنقه (لسان العرب)

وقال الجوهري: المعانقة والعناق وقد عانقه اذا جعل يديه على عنقه وضمه الى نفسه (الصحاح)

وقال الفيومي: عانقت المرأة عناقا وهو الضم والالتزام (المصباح المنير)

وفي المنجد: عانقه معانقة اذا جعل يديه على عنقه وضمه الى صدره (المنجد)

که ضم الی الصدر تسلیم هم کړي شي نو ددغوعباراتو له ظاهر څخه معلومیږي چې دا دلقاء الکبیرین پورې متعلق ندې بلکه دا د اصاغروسره لپاره داظهار دمحبت یا له ازواجوسره لپاره داظهار دمحبت په باره کښې دې اگر چه علت دفرط محبت کښې د اشتراك له وجې کله کله په مواقع مُخصوصه کښې په معانقه دکبیرینو کښې هم جائزدې کماسیجئ.

په دې خو قرائن دی:

۱. په دې کښې دجانب واحد عمل ذکر دې پداسې حال کښې چې په لقاء الکبیرین کښې عمل له جانبینو څخه وی.

۲. خپل دواړه لاسونه دچاپه غاړه کښې اچول او خپل ځان ته راکشول ظاهره خبره ده چې دا معامله د اصاغرو او ازواجوسره په فرط دمحبت کښې وی.

۳. دفیومی عبارت (عانقت المراة) په دې باره کښې نص صریح دې، دحدیثو له روایاتو څخه هم همدا ثابتیږی.

۱ــعن ابی هریرة الدوسی رضی الله عنه قال خرج النبی صلی الله علیه وسلم فی طائفة من النهار لا یکلمنی ولا اکلمه حتی اتی سوق بنی قینقاع فجلس بفناء بیت فاطمة فقال اثم لکع اثم لکع فحبسته شیئا فظننت انها تلبسه سخابا او تغسله فجاء یشتد حتی عانقه وقبله وقال اللهم احبه واحب من یحبه (صحیح البخاری ص۲۸۵ ج۱)

۲ــعن یعلی رضی الله تعالی عنه قال ان حسنا وحسینا رضی الله تعالی عنهما استبقا الی رسول الله صلی الله علیه وسلم فضمهما الیه رواه احمد (مشکوة ص۴۰۲)

۳ــعن الشعبی ان النبی صلی الله علیه وسلم تلقی جعفر بن ابی طالب رضی الله تعالی عنه فالتزمه وقبل ما بین عینیه (سنن ابی داود ص۷۰۳ ج۲)

۴ــعن عائشة رضی الله تعالی عنها قالت قدم زید بن حارثة المدینة ورسول الله صلی الله علیه وسلم فی بیتی فقرع الباب فقام الیه النبی صلی الله علیه وسلم عریانا یجر ثوبه والله ما رایته عریانا قبله ولا بعده فاعتنقه وقبله هذا حدیث حسن غریب لا نعرفه من حدیث الزهری الا من هذا الوجه (جامع الترمذی ج۲ ص۱۰۲)

۵ــعن ایوب بن بشیر عن رجل من عنزة انه قال قلت لابی ذر رضی الله تعالی عنه هل کان رسول الله صلی الله علیه وسلم یصافحکم اذا لقیتموه قال ما لقیته قط الا صافحنی وبعث الی ذات یوم ولم اکن فی اهلی فلما جئت اخبرت انه ارسل الی فاتیته وهو علی سریر فالتزمنی فکانت تلك اجود واجود (سنن ابی داود ص۷۰۲ ج۲)

اخرج الامام احمد رحمه الله تعالی ایضا (فتح الباری ج۱۱ ص۴۹)

۶ ـ اخرج ابن سعد ان النبي صلى الله عليه وسلم قبل نعيم بن عبدالله النحام واعتنقه لما قدم المدينة مهاجرا (اعلاء السنن ص۳۲۰ ج۱۴)

۷ ـ عن اسيد بن حضير رضي الله تعالى عنه رجل من الانصار قال بينما هو يحدث القوم وكان فيه مزاح بينا يضحكهم فطعنه النبي صلى الله عليه وسلم في خاصرته بعود فقال اصبرني فقال اصطبر قال ان عليك قميصا وليس علي قميص فرفع النبي صلى الله عليه وسلم فاحتضنه وجعل يقبل كشحه قال انما اردت هذا يارسول الله (ابوداود ص۳۱۸ ج۲)

۸ ـ اخرج الامام البخاري رحمه الله تعالى في الادب المفرد في باب المعانقة حديث جابر رضي الله عنه انه بلغه حديث عن رجل من الصحابة قال فابتعت بعيرا فشددت اليه رحلي شهرا حتى قدمت الشام فاذا عبدالله بن انيس فبعثت اليه فخرج فاعتنقني واعتنقته (فتح الباري ص۴۹ ج۱۱)

۹ ـ اخرج الطبراني في الاوسط من حديث انس رضي الله تعالى عنه كانوا اذا تلاقوا تصافحوا واذا قدموا من سفر تعانقوا (فتح الباري ص۵۰ ج۱۱)

له اتم او نهم روايت څخه له سفر نه د واپسي د صورت عموم معلوميږي وسيجئ البحث عنه.
دترمذی ددې لاندې روايت څخه مطلقا ممانعت مراد دې.

عن انس بن مالك رضي الله تعالى عنه قال قال رجل يارسول الله صلى الله عليه وسلم منا يلقى اخاه او صديقه اينحني له قال لا قال افيلتزمه ويقبله قال لا قال فيأخذ بيده ويصافحه قال نعم. هذا حديث حسن (جامع الترمذي ص۱۰۲ ج۲)

د ترجيح وجوه

دمنع په رواياتو كښې دترجيح دا لاندې وجوه موندل كيږي
۱- دا روايات قولي دی اوروايات داباحت فعلي دی.
۲- داقاعده كليه ده اوروايت داباحت جزئيات محتمله التخصيص دی.
۳- حظرله په اباحت باندې ترجيح وی.

امام طحاوي رحمه الله فرمايي چې معانقه دصحابه كرامو څخه هم ثابته ده چې دا روايات داباحت دتاخر او د منع درواياتو د نسخ دليل دې لهذا اباحت لره ترجيح ده ونصه.

فهولاء اصحاب رسول الله صلى الله عليه وسلم قد كانوا يتعانقون فدل ذلك ان ما روي عن رسول الله صلى الله عليه وسلم من اباحة المعانقة متاخر عما روي عنه من النهي عن ذلك فبذلك ناخذ وهو قول ابي يوسف رحمه

الله تعالیٰ (شرح معانی الآثار ص ۳۰۲ ج ۲)

وجه التوفيق

روايات داباحت دسفر نه دواپسي يا داسي نورقسم مواقع دمسرت اوفرط محبت سره مختص دی اوروايات دمنع له قيود مذكوره څخه قطع نظر دمعانقې په تعميم پورې مختص دی. ولاشك ان التوفيق احسن وارجح من الترجيح.

حضرت مولانا ظفر احمد وجه دتوفيق دا بيان كړې ده چې معانقه په وخت دهيجان دمحبت كښې مباح ده او دتحية اللقاء په طور ممنوع ده ونصه :

وهذا (اى حديث الممانعة يدل بسياقه على ان التقبيل والمعانقة اللذين كرههما ابوحنيفة رحمه الله تعالى هما اللذان يكونان على وجه التحية عند اللقاء لامطلقا (الى قوله) وقد يكونان لهيجان المحبة والشوق والاستحسان عند اللقاء وغيره من غير شائبة الشهوة وهما مباحان باتفاق ائمتنا الثلاثة رحمهم الله تعالى لثبوتهما عن النبي صلى الله عليه وسلم واصحابه رضى الله تعالى عنهم. ولعدم مانع شرعي عنه هذا هو التحقيق ولذا التبس الامر على مشايخنا (اعلاء السنن ص ۳۱۸ ج ۱۷)

د شيخ عثماني رحمه الله تعالى په دغه توجيه كښې په يوڅو وجوهو سره اشكال دې :

۱- دمعانقې له تحيه څخه بالكل خارج كول په وخت دلقاء كښې دتمام التحيه لپاره سنيت المصافحه قبل المعانقې لره مستلزم دې حالانكه په رواياتو دمعانقې كښې دمصافحې هيڅ ذكر نشته

۲- په احاديث مذكوره كښې دتحية اللقاء په موقع له معانقې څخه همدا ظاهره ده چې دا په تمام التحيه كښې داخله ده.

۳- مصافحه داظهار اومحبت له وجې تمام التحيه گرځيدلې ده اوداعلت په معانقه كښې زيات موندل كيږي نو هغه دې په طريقه اولی سره تمام التحيه وگرځي.

له دغو دريو وجو څخه ظاهره شوه چې تمام التحيه عند اللقاء على سبيل البدل احد الشيئين دې په عامو حالاتو كښې مصافحه اومواقع مخصوصه كښې معانقه.

حاصل داچې اصل تحية اللقاء صرف په سلام سره اداء كيږي اوتمام التحيه له سلام څخه بعد د ډير اظهار دمسرت اومودت نه چې دهغې دوه طريقې دی على سبيل البدل مشروع دی په عامو حالاتو كښې مصافحه اودكوم خاص محرك په وخت معانقه. د اظهار محبت د دغو دوارو طريقونه هريوه چې وی تمام التحيه جوړيدلې شی اوله موقع تحيه څخه علاوه مستقل هم په تحيه كښې د دواړو جمع كولو د واضح دليل دنه موندلو په وجه دا خلاف سنت معلوميږي

البته مستقلا يعنى په غير دموقع دتحيه په جمع كولو كښې كوم اشكال نشته. ددې لپاره

دثبوت حاجت نشته والفرق ان الاول من موارد الشرعيه دون الثاني
له دې نه علاوه يوبحث مخې ته راځي چې په معانقه كښې تيامن افضل دى اوكه تياسر؟
په دې باره كښې كومه تصريح له نظره نده تيره شوې له عامو اصولو څخه تيامن لره ترجيح معلوميږي، مګر دمعانقې منشاء چونكه هيجان دمحبت دې چې دهغې محل قلب دې اوپه صورت دتياسر كښې دجانبينو د زړونو له يوبل سره دلازيات قريب والى اونزديكت راځي له دې وجې نه تياسر راجح دې اوله دې وجه نه دتياسر عام معمول دې

د امامانو رحمهم الله اقوال

له طرفينو او امام مالك څخه كراهيت اوتبديع منقول دې.

قال العلامة العيني رحمه الله تعالى معزيا الى الجامع الصغير: محمد عن يعقوب عن ابوحنيفه رحمه الله تعالى ان قال: اكره ان يقبل الرجل من الرجل فمه اويده اوشيئا منه ويكره المعانقة ولا ارى بالمصافحة بأسا (البناية ص ۲۲۳ ج ۱)

وقال الامام الطحاوي رحمه الله تعالى: فذهب قوم الى هذا فكرهوا المعانقة منهم ابوحنيفة ومحمد رحمهما الله تعالى (شرح معاني الآثار ص ۲۰۲ ج ۲)

وكذا نقل عنه الامام المرغيناني رحمه الله تعالى (هدايه ص ۴۶۰ ج ۴)

وقال العلامة السهارنفوري رحمه الله تعالى معزيا الى اللمعات: وعند ابي حنيفة ومحمد رحمهما الله تعالى يكره ان يقبل الرجل يد الرجل اوفمه اوشيئا منه اويعانقه لورود النهي عنه في حديث انس رضي الله تعالى عنه (بذل المجهود ص ۲۲۵ ج ۶)

وقال الحافظ رحمه الله تعالى: قال ابن عبدالبر روى ابن وهب عن مالك رحمه الله تعالى انه كره المصافحة والمعانقة وذهب الى هذا سحنون وجماعة وقد جاء عن مالك رحمه الله تعالى جواز المصافحة وهو الذي يدل عليه صنيعه في الموطا وعلى جوازه جماعة العلماء سلفا وخلفا والله اعلم (فتح الباري ص ۶۰ ج ۱۱)

وقال ايضا: استأذن سفيان بن عيينه على مالك رحمهما الله تعالى فاذن له فقال السلام عليكم فردوا عليه ثم قال السلام خاص وعام السلام عليك يا اباعبدالله ورحمة الله وبركاته فقال وعليك السلام يا ابامحمد ورحمة الله وبركاته ثم قال لولا انها بدعة لعانقتك قال قد عانق من هو خير منك قال جعفر قال نعم قال ذاك خاص قال ما عمه يعمنا (حواله بالا)

په فتح البارى كښې چې دامام مالك اوسفيان بن عيينه په مابين كښې چې كومه مكالمه وراندې نقل شو دهغې په آخركښې دامام مالك دسكوت نه معلوميږي چې هغه دقول تخصيص

اوکراهیت اوتبدیع دتعمیم نه رجوع فرمایلی ده .

حنفی مشائخو اباحت ته ترجیح ورکړیده اودطرفینو دقول یې مختلف توجیهات کړی دی تر ټولو ښه اوغوره توجیه داده چې په وجه التوفیق کښې ولیکل شوه چې دمواقع مخصوصه درعایت څخه بغیر عام عادت جوړول مکروه دی، په دې صورت کښې امام ابویوسف هم د اباحت قائل ندې ددې توجیه لاندې دطرفینو اوثانی رحمهم الله تر مینځ هیڅ اختلاف نشته.

له روایاتو اوعباراتو مذکوره وو څخه ثابته شوه چې معانقه که صرف ضم دعنق وی یا ضم دصدر هم وی په هر حال په خاصو مواقعو پورې مختصه ده .

په پاکستان اوهندوستان کښې مروجه معانقه چې سینه او خیټه اوټول جسم یوله بل سره پیوست کړل شی بلاشبه او بالاتفاق بدعت اوواجب الترك ده، له عدم ثبوت څخه علاوه په دې کښې لاندې درج شوی مفاسد دی :

۱- دا مخترعه اوله ځان نه جوړه شوې طریقه سنت بلل کیږی اوغیر سنت سنت بلل بدعت دې.

۲- دمختلف الاحوال اشخاصو بوئ اوخولونه تلوث چې موجب د تاذی ګرځیدلونه علاوه مورث دامراضو هم وی، له دې وجی نه له عربونه علاوه په نورو ملکونو کښې ډیر مستهجن (بد کار) او ډیر قبیح ګڼل کیږی.

۳- داسی متسهجن اوقبیح رسم سنت ګڼل دسنتو توهین اوبی عزتی ده .

دخواهشات نفسانیه دتکمیل یوه لاره ده، بی دینه اوګمراه خلك دسنت په نوم شهوت رانی کوی اودنورو کبائرولپاره دا وسیله اوذریعه جوړوی .

۵- دچا د قتل کولو یو آسان تدبیر دې، همدا اوس یوه حادثه شوې ده چې په دوستانه انداز کښې یو شخص بل شخص سره سینه لګولې وه اودومره زور یی ورکړې وو چې دهغه په زړه دشدید دباو له وجې هغه مړ شو .

سخته ایذاء رسانی خو معمولی خبره ده یو شخص بل ته دومره زور ورکړې وو چې هغه مرګ ته رسیدلې وو خو مړنشو مګر خوورځی په ساه اخستلو کښې ورته ډیر تکلیف وو، یو شخص بل دومره دباوکړې وؤ اوزور یی ورکړی وو چې پوښتی یی ماتې شوې وې، بیا حماقت برحماقت داچی دا ظلم عظیم دمحبت حق ګڼل کیږی. والله سبحانه وتعالی اعلم یوم عرفه سنه ۱۴۱۶ھ

••••••••••••••

بسم الله الرحمن الرحيم

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ومن تمام تحياتكم بينكم المصافحة (احمد وترمذی)

وقال انس رضي الله تعالى عنه: كانوا اذا تلاقوا تصافحوا واذا قدموا من سفر تعانقوا (اوسط طبرانی)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

إِنَّ أَشَدَّ النَّاسِ عَذَابًا عِنْدَ اللهِ الْمُصَوِّرُوْنَ (بخاری)
،،يعنى تر ټولو سخت عذاب به د تصوير جوړونکو وی،،

النذير العريان عن عذاب سورة الحيوان

،،دساه لرونکو تصوير جوړونکبې اوساتونکبې باندې لعنت اوسخت عذاب اووعيدونه،،

افاضه : فقيه العصر دامت بركاتهم
ليکنه : حضرت مفتى محمد ابراهيم صاحب صادق آبادی مدظله

****
****

النذير العريان عن عذاب صورة الحيوان

- په کوم کور کښې چې تصوير وی هغه ته ملائکه نه داخلیږی
- له ټولونه زيات سخت عذاب به تصوير جوړونکوته وی
- تصوير جوړول دالله تعالى سره يوقسم شرک دې
- دمختلف قسم تصويرونو د احکامو تفصيل
- دحضورصلى الله عليه وسلم ارشادات.
- دائمه اربعه اوفقهاء امت رحمهم الله تعالى اجماع

دتصویر شرعی احکام

سوال څه فرمائی علماء دین متین په دې مسئله کښې چې بنده په یوه سکول ښوونځی ، کښې مامور دې په هغه کښې دا دستوردې چې د کال په آخر کښې د اووم تولګی زده کوونکی د اتم ټولګی زده کوونکی او دنهم ټولګی زده کوونکی دلسم ټولګی زده کوونکو ته الوداعی دعوت ورکوی. په دې مجلس کښې په اهتمام سره کیمرې رواړل کیږی او د مجلس دټولو شرکت کوونکو تصویرونه اخستل کیږی ما د منع کولو کوشش وکړ مګر هغوی منع نه شول. زه خپله ترخپل وسه پورې په رومال مخ پټوم آیا په داسې طریقې سره زما دې مجلس کښې شرکت کول جائزدی اوکه نه؟ حقیقت دادې چې عام خلك دا ګناه نه ګڼی اوهمدارنګه دتصویرپه حرمت باندې مکمله رڼا واچوئ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب . دا دمعصیت مجلس دې چې شرکت پکښې بالکل جایزندې بلکه که مجلس په دوران کښې داسې قسم حرکت شروع شی او په منع کولوئی قدرت څوك نه لری نو په هغوئ هریوشخص لازم دی چې مجلس پریږدی مګر دا چې په دې مجلس کښې دچاپه چا پورې حق متعلق وی کجماعة الصلوة واستیفاء الدین.

جنانچه دقرآن کریم واضح هدایت دی : ﴿ وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللَّهِ يُكْفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلَا تَقْعُدُوا مَعَهُمْ حَتَّىٰ يَخُوضُوا فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ ۚ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ ﴾ الآیة (۴—۱۴۰)

ترجمه اوالله تاسوته داپیغام رالیږلې چې کله داحکام الیهی سره استهزاء او کفر کیږی نو تاسو له دغوخلکو سره مه کینئ. خوپورې چې هغوئ بله خبره نه وی شروع کړې چې په داسې حال کښې به تاسو هم ددوئ په شان شئ.

امام ابوبکر جصاص ددې آیت په تفسیر کښې لیکلی دی **وفی هذه الآیة دلالة علی وجوب انکار المنکر علی فاعله وان من انکاره اظهار الکراهة اذا لم یمکنه ازالته وترك مجالسة فاعله والقیام عنه حتی ینتهی ویصیر الی حال غیرها (احکام القرآن ص۲۸۹ج۲)**

دا آیت په دې دلالت کوی چې کوم سړې دګناه ارتکاب کوی نو په هغه باندې رد اونکیر وا ب دی او که دګناه ازاله ممکن نه وی نو دا هم دنکیر یوصورت دې چې په ګناه کولو دنفرت اوکراهت اظهار وکړل شی او د ګناه دمرتکب ملګرتیا پریښودل شی او د هغه لخوا څخه ولاړشی حتی چې هغه ګناه پریږدی اوپه بل کار مصروف شی

له دې څخه انکارنشته چې دتصویر لعنت په دې زمانه کښې دعامې وباء شکل اختیارکړې دې دپارلمان له ایوان څخه نیولې تر کچه جونګړو پورې دملك در اودیوار تصویرونو پوښلې دې

مگر دا فلسفه د خودکش مترادفه ده چې کوم مرض وبایی صورت اختیار کړي او تول ه آبادی په غیر کښې ونیسي نو د مناسب تدبیر د اختیارولو په ځای دې مرض ته مرض ویل هم پرېښودل شي په هرحال کومه ګناه که څومره هم عامه شي نوله دې څخه د شریعت په حکم کوم اثر نه پرېوځي دلسان نبوت نه یو یو حرف وتلې او دا په خپل ځای یو پوخ حقیقت دې او د ژوندي دنیا لپاره دلارې بل مثال دې

که نن یو فارمی مسلمان د هادی الکونین صلی الله علیه وسلم دصریحو ارشاداتو خلاف دبغاوت جنډه پورته کړې ده نو دا دهغوی خپل شقاوت او بدبختی ده نه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د فرمان نقص.

تصویر جوړول دا دشریعت له نظره یوه ګناه کبیره ده، دهغې خطرناك نتائج به یو هوشدار اوعقلمند انسان پټ ندی د معذبو قومونو عبرتناك انجام قرآن کریم مفصل بیان کړې دې په هغو کښې دکفر اوشرك ګمراهی دتصویر له لارې راغلې ده چنانچه دصحیحنو حدیث دې:

اولئك اذا مات فيهم الرجل الصالح بنوا على قبره مسجدا ثم صوروا فيه تلك الصور اولئك شرار خلق الله

(متفق عليه)

په اهل کتابو کښې به چې کوم نیك سړي له دنیا څخه رخصت شو نو دهغه په قبر به یې جومات جوړ کړ او بیا به یې دهغه تصویرونه پکې کیښودل دا دالله تعالی په مخلوق کښې بدترین خلق دې

دبخاری شارح امام ابن حجر عسقلانی لیکی: وكان غالب كفر الامم من جهة الصور (فتح الباری ج ۱۰ ص) یعنی اکثر امتونو کښې شرك او کفر دتصویر له لارې راغلې دې.

په دې دور کښې چې دفحاشی اوعریانی اوبی پردګی سیلاب تول بندونه مات کړی دی هرسړې پوهیږی چې دا فتنه دتصویر له وجې څخه ده اودا تول سیلاب دتی وی او وی سی آر اوفحش اخباراتو له خولې څخه راوځی.

دحرمت دلائل

دتصویر په حرمت احادیث په کثرت سره موجود دی چې په معنوی طورسره حد تواترته رسیدلی دی، صرف په صحیح بخاری کښې په دې باره کښې لس ابواب ذکر دی، مونږ د اختصار په نظر کښې نیولو سره دبخاری له هغو بابونو څخه یو یو حدیث نقل کوو:

۱- عن ابي طلحة رضي الله عنه قال قال النبي صلى الله عليه وسلم لاتدخل الملائكة بيتا فيه كلب ولاتصاوير (بخاری ج ص باب التصاوير)

یعنی په کوم کور کښې چې سپی یا تصویر وی هلته درحمت فرشتې نه داخلیږی

۲۔ قال عبدالله بن مسعود رضی الله عنه سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول ان اشد الناس عذابا عند الله المصورون (ایضا باب عذاب المصورین یوم القیمة)

یعنی دقیامت په ورځ به سخت ترین عذاب دتصویر جوړونکووی.

۳۔ قال ابوهریرة رضی الله عنه سمعت رسول الله صلی الله علیه وسلم یقول ومن اظلم ممن ذهب یخلق کخلقی فلیخلقوا حبة ولیخلقوا ذرة الحدیث

یعنی له هغه چا څخه به غټ ظالم څوك وی چی دخالقیت په عمل کښې زما مقابله کوی نو دا خلق خودې یوه دانه یا یوه ذره پیدا کړی او ودې ښائی.

۴۔ قالت عائشة رضی الله تعالی عنها: قدم رسول الله صلی الله علیه وسلم من سفر وقد سترت بقرام لی علی سهوة لی فیه تماثیل فلما راه رسول الله صلی الله علیه وسلم هتکه وقال اشد الناس عذابا یوم القیمة الذین یضاهون بخلق الله. (ایضا باب ماوطئ من التصاویر)

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی حضور صلی الله علیه وسلم له یوسفر څخه تشریف راوړلو ماپه تاخچه باندې تصویر لرونکې پرده زوړنده کړې وه، حضور صلی الله علیه وسلم چی کله هغه ولیدله نو څیری یی کړه اووې فرمایل چې: په ورځ دقیامت به سخت عذاب دهغه خلکو لپاره وی چی په صفت دخالقیت کښې دالله تعالی نقل کوی.

۵۔ عن عائشة رضی الله تعالی عنها انها اشترت نمرقة فیها تصاویر فقام النبی صلی الله علیه وسلم بالباب فلم یدخل فقلت اتوب الی الله مما اذنبت قال ما هذه النمرة؟ قلت لتجلس علیها وتوسدها. فقال ان اصحاب هذه الصور یعذبون یوم القیمة یقال لهم احیوا ما خلقتم وان الملائکة لاتدخل بیتا فیه الصور (ص ۸۸۱ ج۲ باب من کره القعود علی الصور)

حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها فرمائی: مایوه تصویر لرونکې تکیه واخسته نو حضور صلی الله علیه وسلم په دروازه کښې ودریده اودننه یی تشریف رانه وړ ماعرض اوکړ ماڅخه څه خطاشوی ده؟ زه دخپلې ګناه له الله تعالی څخه معافی غواړم، حضور اوفرمایل: په ورځ دقیامت به دغه تصویر جوړونکی ته عذاب وی او دوئ ته به وویل شی چی خپل جوړ کړی تصویرونه را ژوندی کړئ. اویقیناً فرشتې هغه مکان ته نه داخلیږی چی په کوم کور کښې تصویرونه وی.

۶۔ کان قرام لعائشة رضی الله تعالی عنها سترت به جانب بیتها فقال لها النبی صلی الله علیه وسلم امیطی عنی فانه لایزال تصاویره تعرض لی فی صلوتی (ایضا باب کراهیة الصلوة فی التصاویر)

دحضرت عائشې رضی الله تعالی عنها په کور یوه تصویر لرونکې پرده څوړنده وه نو حضور

صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائلو چې دا لرې کړه، ددې تصویرونه بیا بیا زما دلمانځه خلل واقع کیدونکی گرځی

۷ـــ عن عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنهما قال وعد النبی صلی الله علیه وسلم جبریل فراث علیه حتی اشتد علی النبی صلی الله علیه وسلم فخرج النبی صلی الله علیه فلقیه فشکا الیه ما وجد فقال له انالا ندخل بیتا فیه صورة ولا کلب (ایضا باب لا تدخل الملائکة بیتا فیه صورة)

حضرت جبرئیل علیه السلام دحضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دملاقات وعده کړې وه مگر هغه په خپل وخت رانغې. داخبره نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته گرانه پریوتله لیکن کله چې هغه له کوره دباندې تشریف راوړ نو جبریل ورسره ملاقات وکړ حضرت هغه ته دخپل انتظار رنج اوتکلیف څخه شکایت وکړو. په دې سره جبریل علیه السلام اوفرمایل چې په کوم کور کښې سپې یا تصویر وی مونږ هغه ته نه داخلیږو، دحضور صلی الله علیه وسلم په کور کښې دغه وخت دواړه موجود وو چې دهغو علم حضور صلی الله علیه وسلم ته نه وو. جبرئیل علیه السلام هغه ورته وښودل نو حضرت هغه لرې کړل.

۸ـــ عن عائشة رضی الله تعالی عنها زوج النبی صلی الله علیه وسلم انها اشترت نمرقة فیها تصاویر فلما راها رسول الله صلی الله علیه وسلم قام علی الباب فلم یدخل فعرفت فی وجهه الکراهیة وقالت یارسول الله اتوب الی الله والی رسوله ماذا اذنبت. قال مابال هذه النمرقة قالت اشتریتها لتقعد علیها وتوسدها فقال رسول الله صلی علیه وسلم ان اصحاب هذه الصور یعذبون یوم القیمة ویقال لهم احیوا ما خلقتم وقال ان البیت الذی فیه الصور لا تدخله الملائکة (ایضا باب من لم یدخل بیتا فیه صورة)

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمائی چې ما یوه تصویر داره تکیه واخسته نو دحضرت په هغې نظر ولگیده نو په دروازه کښې ودریده دننه یې تشریف رانه وړ ما دهغه په مخ مبارك دناراضگی آثار ولیدل نوعرض مې وکړ یا رسول الله ! زه دالله جل جلاله اودرسول الله صلی الله علیه وسلم په درگاه کښې توبه اوباسم مانه کومه گناه شویده؟ حضرت اوفرمایل دا تصویر لرونکې پرده څنگه ده ؟ ماعرض وکړ دا ما دد ې لپاره اخستې ده چې تاسو ورباندې کینئ اوتکیه ورته اووهئ نو حضرت صلی الله علیه وسلم اوفرمایل دغه تصویر لرونکو باندې به په ورځ دقیامت عذاب وی او ورته به وونیل شی چې خپل مخلوق تصویرونه ژوندی کړئ او وې فرمایل په کوم کور کښې چې تصویر وی هغه کورته فرښتې نه داخلیږ

۹ـــ عن وهب السوائی رضی الله تعالی عنه ان النبی صلی الله علیه وسلم لعن اکل الربوا وموکله والواشمة والمستوشمة والمصور (ایضا باب من لعن المصور)

حضور اکرم صلی الله علیه وسلم په سود خوړونکی باندې اوسود ورکونکی باندې اوخال وهونکی اوخال لګونکی باندې اوپه تصویر جوړونکی باندې لعنت ویلې دې

۱۰ـ عن ابن عباس رضی الله تعالی عنهما قال سمعت محمدا صلی الله علیه وسلم یقول من صور صورۃ فی الدنیا کلف یوم القیمة ان ینفخ فیها الروح ولیس بنافخ (ایضا باب من صور صورۃ فی الدنیا)

حضرت صلی الله علیه وسلم ارشاد فرمایلی دې کوم سړې چې په دنیا کښې تصویر جوړوی هغه به په ورځ دقیامت مجبور کړل شی چې په دې کښې روح واچوه خو هغه به یی نشی پکښې اچولې . نه به روح پکښې اچولې شی نه به دعذاب تخفیف وی.

داوعیدونه دهر قسم تصویر متعلق دی که هغه لوی وی اوکه وړوکې په کاغذ یا ټوټه یا دیوال وی اوکه په بل څه په سکه نقش کړې شوې یا په لوټونو چاپ کړې شوې وی. په هر کیف دذکر شوی وعیدونو مصداق دې اوحرام دې

په دې باره کښې داکابروعلماؤ دامت تصریحات را روان دی .

بیا ددغو وعیدونو مصداق صرف تصویر جوړونکی ندی بلکه دامام ابن الحاج رحمه الله تعالی دتصریح مطابق دهغو تحسین اوتصویب کونکی هم په دې کښې ورسره شامل دی، دهغوی په دغه فعل باندې له زړه نه راضی کیدونکی خلك او د دغه فعل لیدونکی سره دقدرت نه نکیر نه کونکی ټول په ګناه کښې ورسره شریك دی «المدخل صـ ۲۷۳ جـ ۱» .

البته غیر ذی روح تصویر له دغو وعیدونو څخه مستثنی دې دهغو په جوړلو کښې کوم حرج نشته چنانچه صحیح بخاری اوصحیح مسلم کښې دحضرت عبدالله بن عباس فتوی موجوده ده.

ان ابیت الا ان تصنع فعلیك بهذا الشجر کل شئ لیس فیه روح (صحیح بخاری صـ ۲۹۹ جـ ۱ صحیح مسلم صـ ۲۰۲ جـ ۲)

که خوك یی جوړوی نو د ونو اونورو شیانو تصویرونه دې جوړ کړی چې روح پکښې نه وی .

د امت اجماع

دروح لرونکی تصویر جوړول په اجماع دامت سره حرام دی، په دې مسئله باندې داکابرین امت دومره عبارتونه موجود دی چې دهغو استقصاء یوه دضخیم کتاب تقاضا کوی، موږ په طور دنمونې د هر فقهی مکتب فکر یویو عبارت نقل کوو :

۱. دبخاری شارح علامه بدرالدین عینی رحمه الله تعالی فرمائی: وفی التوضیح قال اصحابنا وغیرهم تصویر صورۃ الحیوان حرام اشد التحریم وهو من الکبائر وسواء صنعه لما یمتهن اولغیره فحرام بکل حال لان فیه مضاهاۃ لخلق الله وسواء کان فی ثوب اوبساط اودینار اودرهم اوفلس اواناء اوحائط واما مالیس فیه صورۃ حیوان کالشجر ونحوہ فلیس بحرام . وسواء فی هذا کله ماله ظل ومالا ظل له وبمعناہ قال جماعة

العلماء مالك والثوری وابوحنیفة وغیرهم رحمهم الله تعالی. (عمدة القاری ص ۰۰ج۲۲)

په توضیح کښې دی چې زمونږ فقهاء احناف اونور حضرات هم فرمائی چې دروح لرونکی تصویر جوړول سخت حرام دی اوله کبیره گناهونوڅخه دی اگر که د پایمال کولو او ذلیل کولو لپاره جوړ کړې شی یاد بل کوم مقصد لپاره، په هرکیفیت حرام دی. ځکه چې په دې کښې دالله تعالی دصفت تخلیق مقابله ده که تصویر د رخت په ټوټه وی اویا په بل څه دینار یا درهم یالوښی یا دیوال وغیره وی. البته په کوم کښې چې د جاندار تصویر نه وی لکه ونه وغیره نو دا حرام ندی.

دحرمت په حکم کښې سیوری لرونکې اوغیرسوری لرونکې صرف نقش یو برابر دی. همداشان فرمایلی دی یو جماعت دعلماؤ لکه امام مالك ،ثوری اوابوحنیفه وغیرهم رحمهم الله تعالی.

داحنافو په نورو کتابونو کښې هم دامسلك په تفصیل سره مذکور دې وگورئ البدائع ص ۱۱۴ج۱ هندیه ص ۳۵۹ج ۵ ردالمختار ص۴۳۷ ج ۱ المتانه ص ۲۲۴ وغیرها.

۲- شیخ الاسلام محی الدین النووی الشافعی فرمائی: قال اصحابنا وغیرهم من العلماء تصویر صورة الحیوان حرام شدید التحریم وهو من الکبائر لانه متوعد علیه بهذا الوعید الشدید المذکور فی الاحادیث وسواء صنعه بما یمتهن اوبغیره فصنعه حرام بکل حال لان فیه مضاهاة لخلق الله تعالی وسواء ماکان فی ثوب اوبساط اودرهم اودینار اوفلس اواناء اوحائط اوغیرها.

واما تصویر صورة الشجر ورحال الابل وغیرذلك مما لیس فیه صورة حیوان فلیس بحرام (وبعدسطرین) ولافرق فی هذا کله بین ماله ظل ومالاظل له هذا تلخیص مذهبنا فی المسألة وبمعناه قال جماهیر العلماء من الصحابة رضی الله تعالی عنهم والتابعین ومن بعدهم رحمهم الله تعالی وهو مذهب الثوری ومالك وابی حنیفة وغیرهم رحمهم الله تعالی وقال بعض السلف انما ینهی عما کان له ظل ولاباس بالصور التی لیس لها ظل وهذا مذهب باطل فان الستر الذی انکر النبی صلی الله علیه وسلم الصورة فیه لاشك احد انه مذموم ولیس لصورته ظل مع باقی الاحادیث المطلقة فی کل صورة (شرح النووی علی صحیح مسلم ص۱۹۹ج۲)

زمونږ شوافعو علماؤ اونورو علماؤ فرمایلی دی چې دروح لرونکی تصویر جوړول سخت حرام دی او له گناه کبیره څخه دی، لدی وجی نه وربانډی سخت وعیدونه راغلی دی چې په احادیثو کښې ذکر دی برابره خبره ده که دا تصویر دپامال کولو او ذلیل کولو لپاره جوړشوې وی یا دکوم بل مقصد لپاره، ددی جوړول په هرحال حرام دی چې په دې کښې دالله تعالی دصفت تخلیق مقابله ده اوبرابره خبره ده که په ټوټه (کپړه) سره وی یاپه بل څه سره وی لکه فرش، دینار او درهم، روښ لوښی. دیوال یا په بل څه، البته د ونې اونورو بی روح شیانو تصویر جوړول جائزدی

په دغه ټولو احکامو کښې سوري لرونکی او بی سوری (صرف نقش) په منع کښې هیڅ فرق نشته دواړه قسمه یو شان حرام دی. دا زمونږ په مذهب کښې ددې مسئلې خلاصه ده او دا قول د جمهورو صحابه کرامو اوتابعینو او وروستنو علماؤ دې او دا مذهب دامام ثوری مالك ابوحنیفه وغیرهم رحمهم الله تعالی دې.

په اسلافو کښې دځینو قول دادې چې له سیوری لرونکی تصویر څخه منع راغلې اوپه هغه تصویرونو کښې کوم حرج نشته چې سورې نه لری. لیکن دا مذهب باطل دې څکه چې په کومه پرده حضور نکیر فرمایلی وو بی شکه اوبې شبهې هغه تصویر مذموم وو حالانکه دهغې سیورې نه وو اونور احادیث خولا اضافه دی چې دهر تصویر په باره کښې مطلق دی.

دشوافعو حضراتو په نوروکتابونو کښې هم دتصویر حرمت صریح ذکر دې ملاحظه کړئ: نهاية المحتاج الى شرح المنهاج صـ ۲۱۹ جـ۲ تکملة المجموع شرح المهذب صـ۲۰۲ جـ۴ حواشی تحفة المحتاج صـ۴۷۲ جـ۷ وغیرها.

۳. علامه مرداوی حنبلی فرمایی: **يحرم تصوير مافيه روح ولا يحرم تصوير الشجر ونحوه والتمثال مالايشابه مافيه روح على الصحيح من المذهب (الانصاف صـ ۴۷۴ جـ۱)**

د روح لرونکی تصویر جوړول حرام دی دونې او د داسې نوروشیانو تصویر جوړول چې روح پکې نه وی دصحیح مذهب مطابق حرام ندی. دغه تفصیل په لاندې کتابونو کښې هم دې: المغنی لابن قدامه صـ۲۸۲ جـ۷ الاقناع صـ ۲۳۰ جـ۳ کشاف القناع صـ ۱۷۱ جـ۵

۴. په فقه مالکی کښې دتصویر په باره کښې داتفصیل مذکور دې چې سیوری لرونکې تصویر ناجائزاوسیوری نه لرونکې تصویر جائزدې لکه څنګه چې په دردیرعلی مختصر الخلیل کښې دی.

والحاصل ان تصاوير الحيوانات تحرم اجماعا ان كانت كاملة لها ظل مما يطول استمراره . بخلاف ناقص عضو لايعيش به لوكان حيوانا . وبخلاف مالاظل له كنقش فى ورق اوجدار وفيما لايطول استمراره خلاف والصحيح حرمته (الشرح الصغير على الدردير صـ۱ ۴۹۴ جـ۲)

خلاصه دا چې دروح لرونکښې تصویر بالاجماع حرام دی په دې شرط چې مکمل وی سیورې ولری او دیر پا (همیشه پایه دار) وی. په خلاف دهغه تصویر چې دهغه داسې عضو ناقصه وی چې بغیر له هغې روح لرونکې ژوندې نه شی پاتی کیدې اوپه خلاف د بی سیوری تصویر لکه په کاغذ باندې یا په دیوال باندې نقش شوې تصویر. چې دا دواړه قسمه جائزدی کوم تصویر چې دیرپا همیشه پایه دار) نه وی په هغه کښې اختلاف دې دصحیح قول مطابق هغه هم حرام دې په شرح منح الجلیل صـ۱۶۶ جـ۲ اوپه الخرشی صـ۳۰۲ جـ۳ وغیرهما کښې هم دامذکور دی.

له صاحب المذهب امام مالك څخه دواړه قولونه موجود دی یو دسیوری لرونکی اوبی سیوری

په تصویر کښې دتفصیل چې اول ناجا[illegible]ويم جائز دي . اودویم قول د علی الاطلاق حرمت دي. ملاحظه کړی التمهید لابن عبدالبر صـ ۳۰۱ جـ ۱.

په دې کښې هیڅ شك نشته چې دبی سایه تصویر دجواز قول دجمهورو دمذهب خلاف دې او د دلائلو په لحاظ سره هم ضعیف دې دصحیح بخاری په مذکوره روایاتو باندې له سرسری نظر کولو نه دهغه ضعف ظاهرېږی لدې وجې نه امام نووی دغه مذهب باطل ګڼلې دې اودحضرت امام مالك طرفته یې نسبت ندې کړی کما مر آنفا.

دمذهب مالکیه بعضې اکابر ائمه کرامو هم لدې موقف سره اختلاف کړې دې اودجمهورو مذهب یې غوره کړې دې چنانچه قاضی ابن العربی دجمهورو مذهب اصح اوعلامه زرقانی رحمه الله تعالی دا اعدل المذاهب ګڼلې دې، امام عبدالبر مالکی هم دا راجح بللې دې، ملاحظه کړئ عارضة الاحوذی صـ۱۵۳ جـ۷ زرقانی علی الموطاصـ۳۴۷ جـ۴.

۵. مشهور غیر مقلد عالم علامه محمدبن علی الشوکانی هم په نیل الاوطار جـ۲ کښې صـ ۱۱۳ نه تر صـ ۱۱۷ پورې په حرمت د تصویرونو احادیث په مفصل طورنقل کړی دی، اوپه صـ ۱۱۴ کښې یې دعلامه نووی وړاندې مذکور عبارت مکمل نقل کړې دې، دصحیح بخاری اومسلم یې دوه حدیثونه نقل کړی اوپه شرح کښې یې لیکلی دی چې:

الحدیثان یدلان علی ان التصویر من اشد المحرمات للتوعد علیه بالتعذیب فی النار وبأن کل مصور من اهل النار وورد لعن المصورین فی احادیث اخر وذلك لایکون الا علی محرم متبالغ فی القبح.

وانما کان التصویر من اشد المحرمات الموجبة لما ذکر لان فیه مضاهاة لفعل الخالق جل جلاله ولهذا سمی الشارع فعلهم خلقا وسماهم خالقین وظاهر قوله کل مصور وقوله بکل صورة صورها انه لافرق بین المطبوع فی الثیاب وبین ماله جرم مستقل ویؤید ذلك ما فی حدیث عائشة رضی الله تعالی عنها المتقدم من التعمیم الخ (نیل الاوطار صـ۱۱۶ جـ۲)

دواړه حدیثونه په دې دلالت کوی چې تصویر له سخت ترینو محرماتو څخه دې څکه چې په دې باندې یې دجهنم دعذاب وعید آورولی دې اودا چې هر تصویر جوړونکې له جهنمیانو څخه دې اوله دې سببه چې په نورو احادیثو کښې په تصویر جوړونکو باندې لعنت راغلې دې او دومره شدید وعیدونه صرف دهغه ګناه په باره کښې وی چې په قباحت اوشناعت کښې آخری درجې ته رسیدلی وی، دتصویر ګناه سخت ترین حرام او د ذکر شوی پورتنیو وعیدونه مصداق له دې وجې ده چې په دې کښې دالله تعالی دفعل تخلیق مقابله ده، لدې وجې نه حضور اکرم صلی الله علیه وسلم ددې عمل تصویر سازی ته ،خلق، اوجوړونکوته ،خالقین، ویلی دی. اودحدیثونو له ظاهر

الفاظو ، کل مصور، یا «بکل صورة صورها» نه معلومیږی چی په رخت باندې نقش تصویر او مستقل جسم لرونکی تصویر په منځ کښې هیڅ فرق نشته اوددې تائید دحضرت عائشې رضی الله تعالی عنها دمذکور حدیث نه هم کیږی چی دواړو تصویرونو ته عام دې.

متفرق فوائد

په حدیث نمبر (۱) کښې تصریح ده چی فرشتې دتصویر خای ته نه داخلیږی، دجمهورو علماؤ په نزد له دې څخه خاص قسم ملائك مراد دی، چی هغه درحمت اوبرکت ملائك دی. کرام کاتبین او یاهغه فرشتې چی دجناتو، شیاطینو وغیره ناگهانی آفتونو نه دساتنی او دانسان په حفاظت مامور ملائکه دی، هغه ددې حکم څخه مستثنی دی. په دویم نمبر حدیث کښې دتصویر جوړونکو لپاره سخت عذاب (اشد العذاب) ترټولو خلکو نه دسخت عذاب وعید راغلې دې.

په دې باندې چاته اشکال کیدې شی چی د اشد العذاب وعید په قرآن اوحدیثونو کښې دنور ډیرقسمه مجرمانو لپاره هم راغلې دې.

په دې باندې چاته اشکال کیدې شی چی د اشد العذاب وعید په قرآن اوحدیثونو کښې دنور ډیر قسمه مجرمانو لپاره هم راغلې دې نو دا نصوص متعارض معلومیږی.

جواب: دکومو خلکو لپاره چی داشد العذاب وعید راغلې دې هغه ټول په یوه وخت کښې په دغه کښې شریك وی. دیوقسم په هغه کښې داخلیدل دبل فریق دخارج کیدو مستلزم نه دی.

له پنځم اوشپږم نمبر حدیث څخه معلومیږی چی تصویر داره پرده دعائشې صدیقې رضی الله تعالی عنها په حجره کښې موجوده وه مگر حضرت صلی الله علیه وسلم په هغې نکیر ونه کړ بلکه دهغې په موجود گی کښې یې لمونځ کاوه لکه څنگه چی دصحیح مسلم دیوروایت الفاظ دی: وکان النبی صلی الله علیه وسلم یصلی الیه.

په ظاهره دا روایت له څلورم نمبر اوپنځم نمبر حدیث سره متعارض دې چی په هغو کښې تصریح ده چی نبی کریم صلی الله علیه وسلم تصویر داره پرده دیوې لحظې لپاره هم نه منله بلکه دنظر په لگیدلو سره یې فوراً د لرې کولو حکم وکړو

الجواب: ۱- اولنی دواړه روایتونه دجاندار تصویر متعلق دی چی دهغو دلرې کولو حکم فوراً نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورکړ او شپږم روایت کښې موجود تصاویر دجاندارو نه وو بلکه دبې روحه شیانو لکه دونو او گلانو وغیره نقشونه وو. چونکه دا شیان باوجود دجائز کیدو سبب دبې توجهی دلمانځه گرځی لدې وجې نه نبی کریم صلی الله علیه وسلم داحتیاط له مخې دهغې دلرې کولو حکم ورکړ. هکذا جمع البدر العینی رحمه الله فی عمدة القاری ص۷۴ ج۲۲

۲- ممکنه ده چی دا حدیث دحرمت دزمانې نه وړاندی وو. فتح الباری ص۳۲۸ ج۱

له دې حديث څخه دحرمت پرځاى حلت ثابتيږى نوله همدې کبله د جوابونو ضرورت پيدا شو لهذا دا په دلائل دحرمت کښې شميرل صحيح ندى ,,رشيد احمد،،

د جواز د دلائلو تجزيه

کوم خلك چې تصوير جائزګڼي دهغوى له طرفه دا لاندې دلائل وړاندې کيږى:

۱- ﴿ يَعْمَلُونَ لَهُ مَا يَشَاءُ مِن مَّحَارِيبَ وَتَمَاثِيلَ وَجِفَانٍ كَالْجَوَابِ وَقُدُورٍ رَّاسِيَاتٍ ﴾ (۳۴-۱۳)

ترجمه: جوړول به ئې دده لپاره هغه چې دده به خوښ وو، قلاګانې او تصويرونه اوکاسې په شان دتالاب (حوض)اولويې کټوئ (ديګونه).

په دې آيت کښې صراحت دې چې سليمان عليه السلام به په جناتو تصويرونه جوړول اوله دې څخه معلومه شوه چې تصوير جوړول جائزدى اوکه نه نو يو جليل القدر نبى به داکارڅنګه کاوه؟

۲- دنهى دتمامو احاديثو مصداق جسم دار تصويرونه (مجسمې) دى په رخت او کاغذ وغيره باندې نقش شوى تصويرونه له دې بحث څخه خارج دى لکه څنګه چې په صحيح البخارى کښې دى چې کوم ځاى کښې په تصويرونو باندې وعيد راغلې هلته دنقشي تصوير په ((الأرقمًا في ثوب)) (يعنى مګر په رخت چې کوم نقش وى) الفاظوسره استثناء شوې ده، ملاحظه کړى صـ ۸۸۱جـ ۲باب من کره القعود على الصور.

۳- ددې ټولواحاديثو اصل علت دصحابه کرامو له زړونوڅخه دبت پرستى آثار او نشانات ختمول وو چې نوى اسلام ته راغلى وو کله چې دتوحيد عقيده دهغوى په رګونو او وينو کښې ګډه شوه اوله بتانو دهغوى طبعي نفرت پيدا شو نو ددې نوع احاديث پخپله منسوخ شول لکه چې په ابتداء داسلام کښې دخاص خاص مقصدونو په نظر کښې نيولو سره دسپيو د وژلو حکم صادر شوې وو او د شرابو دمخصوصو لوښو د ماتولو حکم فرمايل شوې وو اوقبرونوته له تللومنع شوې وه، مګر کله چې ورو ورو مقاصد حاصل شول نو دا درې واړه حکمونه منسوخ شول.

على الترتيب به مونږ ددې درې واړو دلائلو ځوابونه ذکرکړو

۱- دا صحيح ده چې تمثال په معنى دتصوير دې مګر ددې دعوى څه دليل دې چې حضرت سليمان عليه السلام صرف د جاندارو تصويرونه جوړول ؟ په داسې حال کښې چې دونو، ګلانو ميوو، غرونو سمندرونو او د قدرتى مناظرو عکاسى هم ترتماثيل لاندې داخل دى، بلکه ددې مدلول حقيقى دې نو ولې يې بيا تاو راتاو کوى او د جاندارو تر تصويرونو پورې خاص کولى شى؟ دا استدلال له دې وجې هم له مطلب څخه لرې دې چې سليمان عليه السلام دنورو انبياء دبنى اسرائل په شان دتورات پيروکار وو اوپه تورات کښې د جاندارو اشياو تصوير جوړول په سختى سره منع شوى دى، له زرګونو تحريفاتو سره ممانعت ترنن پورې باقى پاتې دې او د تورات به پنځو

کښې محفوظ دي، ملاحظه کړئ. خروج۱: ۲۰ استثناء۴: ۱۶تا۱۸.
که چیرته ومنل شي چې سلیمان علیه السلام د ذی روح تصویرونه جوړول نودا دهغه د شریعت پورې خاص حکم وو چې د امت محمدی داتباعو څخه دهیڅ فرد لپاره دهغه اتباع قطعا جائزنده.
ځکه چې د اصول فقه معروفه اومسلمه قاعده ده چې دپخوانیو شریعتونو اتباع په هغه احکامو کښې واجب ده چې قرآن اوحدیث برقرار پرېښي وي او دهغې په مخالفت کښې یې بل حکم نه وي صادر کړی.
دلته خودحضور صلی الله علیه وسلم له قول اوعمل څخه صفا دتصویر حرمت ثابت دي نودا به ځنګه جایزوي چې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دشریعت له دې صفا اوصریح حکم څخه مخ واړول شي او دسلیمان علیه السلام دشریعت یو منسوخ حکم واخستل شي؟ پداسې حال کښې چې دحضور صلی الله علیه وسلم واضح اعلان دي چې : **والذی نفس محمد بیده لوبدا لکم موسی فاتبعتموه وترکتمونی لضللتم عن سواء السبیل ولو کان حیا وادرك نبوتی لاتبعنی(مشکوة بحواله دارمی)**
یعنی قسم په هغه ذات چې دهغه په قبضه دقدرت کښې دمحمد روح دې که موسی ستاسو په مخ کښې ظاهر شي اوتاسو ماپرېږدئ او دهغه اتباع اختیارکړئ نو تاسو به ګمراه شئ، که موسی ژوندی وای او زما دنبوت زمانه یې موندلې وای نو هغه به هم زما تابعداری کړې وه.
۲- په تیروشویو صفحوکښې مونږ دصحیح البخاری لس حدیثونه نقل کړل داټول احادیث مطلق دي په هغو ټولو کښې په یو حدیث کښې له یوه لفظ څخه هم اشاره قدری نه موندل کیږی چې جسم دار تصویر ناجائز اوبې جسم تصویر جایز دې بلکه ۴،۵،۶ او ۸ حدیث ددې متعلق دی چې کوم تصویرونه په رخت باندې نقش وو حضرت صلی الله علیه وسلم په هغو باندې په سختی سره نکیر فرمایلې دې اوجوړونکو ته یې وعید فرمایلی دې.
همدارنګه په احادیثو او سیرو کښې تصریح ده چې دمکې دفتحې په موقع کله چې حضور صلی الله علیه وسلم بیت الله ته داخل شو نو وې لیدل چې له بتانو څخه علاوه دحضرت ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام تصویرونه هم راخوړندوو حضور صلی الله علیه وسلم دا تصویرونه ختم کړل او دمشرکانو متعلق یې اوفرمایل چې «قاتلهم الله» صحیح البخاری صـ ۲۱۴ جـ ۲ وغیره».
یعنی الله دې دوئ هلاك کړی.
پاتې شوه داخبره چې «الاماکان رقمافی ثوب» الفاظ راغلی دی، نو د رقم معنی دلغت په یوه کتاب کښې هم د روح لرونکی تصویر نده لیکل شوې، ددې اصل معنی نقش اونګار دې لکه ځنګه چې په صحیح بخاری اوسنن ابی داود کښې دا واقعه لیکل شوې ده چې دحضرت فاطمې رضی الله تعالی عنها په دروازه نبی کریم صلی الله علیه وسلم منقش پرده ولیدله نو وی فرمایل

،، مالناوللدنيا ومالنا وللرقم ـ الخ،، جمع الفوائد صـ ۸۲۲ جـ۱ په حواله دبخاري او ابوداود يعنى نبى كريم صلى الله عليه وسلم اظهار د نا رضايت وكړ يعنى زمونږ له دنيا سره څه واسطه ده ؟ او زمونږ له نقش اونگار سره څه غرض دې ؟

امام نووى فرمايى چې وجوابنا وجواب االجمهور عنه انه محمول على رقم على صورة الشجر وغيره مما ليس بحيوان . ،نووى على مسلم صـ ۲۰۰ جـ۲،.

زمونږ اودجمهورو علماؤ جواب دادې چې د ،،الاماكان رقما فى ثوب،، د ونو اونورو بې روحه اشياؤ دنقشونو په باره كښې دې. حافظ ابن حجر فرمايى : ،،ويحتمل ان يكون ذلك قبل النهى،، ،فتح البارى صـ ۳۲۸ جـ ۱۰. دا هم احتمال شته چې دا واقعه دتصويرونو دحرمت نه مخكښې وى.

علامه بدرالدين عينى فرمايى : وقال الطحاوى يحتمل قوله الا رقما فى ثوب انه اراد رقما يوطأ ويمتهن كالبسط والوسائد النعى (عمدة القارى صـ جـ۲۲)

امام طحاوى فرمائى داهم احتمال لرى چې ،،الارقما فى ثوب،، نه مراد داسې تصويرونه وى چې تر پښو لاندې كيږى او ذليل وى لكه فرش اوتكيه.

غرض داچې په شراح الحديث كښې هيڅ څوك ددې قائل نشته چې دتصوير دې كوم قسم له دې وعيدونو څخه خارج وى.

۳- دا استدلال هم له مغالطې وركولو څخه پرته بل كوم حيثيت نه لرى دكومو دريو شيانو مثالونه چې يې وړاندې كړى دى دهغوى اجازت هم پس له ممانعت نه له حضرت څخه صراحتاً منقول دې لكه چې دسپيو متعلق حديث دې : عن ابن مغفل قال امر رسول الله صلى الله عليه وسلم بقتل الكلاب ثم قال ما بالهم وبال الكلاب الحديث (صحيح مسلم صـ ۲۰ جـ۲)

حضرت ابن مغفل فرمائى چې په ابتداء كښې حضور صلى الله عليه وسلم دسپيو دوژلو حكم كړې ووبيا يې اوفرمايل چې دخلكو له سپيو سره څه كار ؟ اوس دې دهغو قتل كول پريښودل شى

او د زيارت القبور اوشرابو متعلق ارشاد دى : كنت نهيتكم عن زيارة القبور فزوروها ونهيتكم عن لحوم الاضاحى فوق ثلاث فامسكوا ما بدا لكم ونهيتكم عن النبيذ الا فى سقاء فاشربوا فى الاسقية كلها ولا تشربوا مسكرا (صحيح مسلم صـ ۳۱۴ جـ۱)

ماتاسو دقبرونو له زيارت كولو څخه منع كړى وئ اوس دا منسوخ شو اوس دهغو زيارت كولې شئ. اوتاسو دقربانى دغوښوله كېښودو څخه زيات له دريوورځو منع شوى وئ. ليكن اوس دا حكم هم منسوخ شو. څومره وخت يې چې كېښودې شئ هغه كيږدئ. اوتاسو له ژى ،مشك، څخه علاوه په نورولوښو كښې له نبيذ جوړولو څخه منع شوى وئ. ليكن اوس يې په هر لوښى كښې

جوړولې شي او نشه راوستو کې شيان مه ځبنئ. ددې برعکس د تصوير د جواز هيڅ روايت نشته که وي نو مجوزين دې پيش کړي. ودونه خرط القتاد.

البته ددې شواهد ضرور موندل کيږي چې حضور صلی الله عليه وسلم تر آخری عمره پورې په تصوير نکير کولو. دصحيح بخاری دا يو روايت دې ملاحظه شي:

عن عائشة رضی الله تعالیٰ عنها قالت لما اشتكى النبی صلى الله عليه وسلم ذكر بعض نسائه كنيسة رأتها بأرض الحبشة يقال لها مارية وكانت ام سلمة وام حبيبة رضی الله تعالیٰ عنهما اتتا ارض الحبشة فذكرتا من حسنها وتصاوير فيها فرفع رأسه فقال اولئك اذا مات منهم الرجل الصالح بنوا على قبره مسجدا ثم صوروا فيه تلك الصور واولئك شرار الخلق عند الله (صحيح بخاری ص۱۷۹ ج۱)

حضرت عائشه رضی الله عنها فرمايي کله چې دحضور صلی الله عليه وسلم په مرض الوفات کښې بعض ازواج مطهرات رضی الله عنهن دحبشې په ملك کښې ديوې ګرجې ذکر وکړ چې دهغې نوم ماريه وو، حضرت ام سلمه او ام حبيبه حبشې ته تللې وی هغوئ دګرجې دحسن او جمال اوپه هغې کښې دموجودو خوتصويرونو ذکر وکړ. حضور صلی الله عليه وسلم چې دا واوريدل سر مبارك يې راپورته کړ او وې فرمايل دا د اهل کتابو دستور راروان دې چې کله به په دوئ کښې کوم صالح او نيك انسان انتقال وکړو نو دهغه په قبر باندې به يې مسجد جوړ کړو او بيا به يې په هغه کښې دا تصويرونه کينبودل بالاخر به د تصويرنونه بتان جوړشول او له بتانو ځخه به شرك شروع شو. دالله تعالیٰ په نزد دابدترين دخلکو دی.

همدارنګه دصحيح بخاری د ذکر شوی احاديثو ځخه په څلورم نمبر کښې چې دکوم سفر ځخه دحضور صلی الله عليه وسلم دواپسی ذکر دې دا سفر هم دحضور صلی الله عليه وسلم دحياة طيبه د آخری کالونو سفروو ځکه چې ديو روايت مطابق دا سفر دخيبر وو او د بل روايت مطابق دا سفر دتبوك وو. دخيبر غزا په اووم کال هجری کښې او د تبوك غزا په نهم کال دهجری کښې شوې ده كما صرح به اصحاب السير.

او د صحيح البخاری په دې ذکر شوی احاديثو کښې چيرته هم دا اشاره نشته چې دا ممانعت دبت پرستی دعلت له وجې وو. فرض محال که دا علت هم وګنل شی بيا هم دا يوه دعوی ده چې له دنيا ځخه بت پرستی ختمه شوې ده، لهذا دتصوير جوړولو عامه رخصتی ده.

په ننی متمدنه دنيا کښې هم ملکونه دبت پرستی په ګرداب کښې دوب دی اوډير مشرك قومونه خاص طور دمذهب بانيانو ته د الوهيت اختيارات سپاری او د هغوئ دتصويرونو عبادت کوی. عيان راچې بيان؟

که چيرې دلږ وخت لپاره دا مفروضه ...نی چې بت پرستی خو له دنيا ځخه ختمه شوې ده نو

بیا د دې دعوې څه دلیل دې چې د ممانعت علت صرف په بت پرستی کښې منحصر وو ؟ په ذکرشویو پورتنیو احادیثو باندې که تکرارا یونظر واچول شی نو هلته دتصویر د ممانعت اوحرمت لپاره یواهم سبب دالله جل جلاله دصفت ((تخلیق)) مقابله بیان شوې ده اوبل یې د رحمت دملائکو د راتگ مانع بیان کړې دې.

الفرض: د داسې قسم مفروضو په وجه دشریعت له یوې قطعی مسئلې څخه انکار نشی کیدې اونه داسې قسم اجتهاد له سلفو څخه چاکړې دې.

دحضور صلی الله علیه وسلم داقوالو اوافعالو لپاره دصحابه کرامو څخه پرته بل څوك غټ شارح نشی کیدې هغوئ حضرات درسول الله صلی الله علیه وسلم حقیقی رمزشناس او د هر قول اوفعل عینی شاهدان وو هغوئ حضراتو هم دتصویر متعلق له تمامو احادیثو څخه همدا مفهوم کړې چی دا ارشادات دهر قسم تصویرونو متعلق دی او دهمیشه لپاره دی.

حضرت عمر رضی الله تعالی عنه د نصرانیانو دعوت رد کړلو اووې فرمایل چې: ستاسو په کورونو کښې تصویرونه وی، حضرت علی، حضرت ابوالهیاج اسدی ولیږه چی په ښار کښې ټول تصویرونه وران کړه اوورته وی فرمایل چې: زه رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې لپاره لیږلې وم.

حضرت عبدالله بن مسعود په یوه مکان کښې تصویر ولیده، له دروازې څخه واپس شو.

داواقعات په صحیح بخاری اومسلم کښې په مفصل ډول ذکر دی.

په مسند احمد اوسنن کبری للبیهقی وغیره کښې نورهم دصحابه کرامو واقعات په تفصیل سره ذکر دی چی مونږ د اختصار له وجی ذکر نکړل.

دمذاهب اربعه تصریحات هم مونږ وراند مفصل ذکر کړل له هغوڅخه علاوه څه نور دلائل هم وراندې کولی شی. د مثال په توگه:

۱- ددغه وعیدونو مصداق صرف مشرکانه نوعیت تصاویر دی چی دعبادت کولو په غرض جوړولې شی.

ددې دلیل ضعف اوکمزوری دلیل ته محتاج نده دحدیثونو په کتابونو کښې تقریبا څلوېښت حدیثونه موندل کیږی چی په هغو کښې په تصویر جوړولو شدید وعیدونه راغلی دی په دې توله ذخیره داحادیثو کښې چیرته اشاره قدرې هم نه موندل کیږی چی دحرمت حکم صرف ترمشرکانه قسم تصویرونو پورې خاص دې.

دصحیح بخاری په کومو روایاتو کښې چی دحضرت عائشې رضی الله تعالی عنها دتصویر لرونکې پردې دساتلو ذکر دې اوپه هغې درسول الله صلی الله علیه وسلم دنارضگی ذکر دې آیا په هغو کښې هم ددې احتمال وو، معاذالله آیا حضرت عائشې دا تصویرونه دعبادت اوپرستش لپاره ایښی وو ؟ حاشا وکلا

بیا چې په احادیثو کښې دحرمت لپاره نور وجوهات صراحت سره ذکر دی مثلا مضاهاة بخلق الله اومنع د دخول الملائکه. هغه نظر انداز کول او دحرمت حکم صرف په یوه سبب کښې منحصر کول څه وزن لري؟

۲. دکیمرې تصویر په حقیقت کښې تصویر ندې چې هغه ته حرام وویل شی. څکه دا یوعکس اوسیورې دې.

۳. له دې نه علاوه یو دا عجیب دلیل وړاندې کولی شی چې په کیمره کښې خو کیمره مین د جاندار صرف ظاهری صورت جوړوی د هغه د اعضاء او جوارحو تخلیق اوتکوین نه کوی چې دا دمضاهاة بخلق الله اونورو وعیدونو مصداق وګرځول شی.

ددې دلائلو سطحیت اوکمزوری بالکل ظاهره ده ، مونږ ددې په جواب ورکولو کښې وخت نه ضائع کوو. البته دتصویر اوعکس په مینځ کښې واضح فرق مونږ په خپله رساله «دتی وی زهر» کښې واضح کړې دې دچاچې شوق وی هلته یې کتلې شی.

دسیاسی علماؤ کردار

انتهائی په خفګان سره لیکل کیږی چې دتصویر لعنت له عامو خلکو څخه تجاوزکړې اوخاصو خلکو ته بلکه ترعلماؤ پورې رسیدلې دې چې دهغې دا افسوسناکه نتیجه مخې ته راځی چې ډیر خلک د دغو حضراتو عمل وینی دا قطعی حرام حلال ګنی لکه چې مشاهده ده چې کله هم عوام له دغه ګناه څخه منع کیږی نوهغوی فورا وایی چې : تاسونه وینئ؟ اوس خو لوی لوی علماء هم تصویرونه اوباسی ددوئ دا وینا څه دروغ نده بلکه هره ورځ په اخباراتو کښې ددغو حضراتو تصویرونه ښکاریږی.

قطع نظرله دې څخه چې داخلك واقعا تصویر جائزګنی یا صرف له منع کونکی څخه دخلاصی لپاره دا مات ګوډ عذر وړاندې کوی په دې کښې شك نشته چې دځینی علماؤ دې افسوسناك طرز عمل جاهلان زړور کړل. بلکه بې دینه اوبد زبانه خلکوته یې ژبه ورکړه. بهانه جوړونکی خلك دې خپله سوچ اوفیصله وکړی چې یوطرفته دصحیح بخاری احادیث. دحضورصلی الله علیه وسلم واضح تنبیهات اولعنت او «اشدعذابًا» په شان سخت وعیدونه اوبیا د صحابه کرامو طرزعمل اوټول امت اجماعی موقف دې. اوبل طرفته دخومعدودو سیاسی علماؤ طرزعمل دې «نه فتوی» آیا سبا په ورځ دقیامت دالله په حضور کښې تاسو په دې څان خلاصولې شئ چې : ددغو علماؤ ددې بدعملی په لیدلو سره مونږ دشریعت یوقطعی حکم شاته وغورځولو. **خوه تومنصف باش**

علماء دخپلو کړو خپله ذمه واردی مونږ دهغوئ بې ځایه وکالت کول نه غواړو. البته دیوې خطرناکې اوګمراه کونکې مغالطې ځواب ورکول ضروری ګڼو اوهغه داچې کله د باعمله علماؤ له طرفه په هغوئ انتقاد کیږی نو عموما ددې حلقې له طرفه دا جواب راځی چې

ددینی مصلحت لپاره مونږ داګناه کوو ځکه چی په دې دور دفساد کښې دا ممکنه نه ده چی له داسې قسمه ګناه ځنګه ځان وساتل شی او په عوامی سطحه باندې کوم دینی خدمت وکړل شی ګویا دخپل دین اوایمان دا نقصان ددینی نفعې په خاطر کوی. که چېرته دومره نرمی اختیار نکړی نوله عوامو سره رابطه ساتل ممکنه نه ده

داټول منطق په خپل ځای مګر دا اوفرمایئ چی په نننی مسلمانه ټولنه کښې ګویا دمسلمان تر نوم پورې محدود موانع او مشکلات دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم د زمانی دمعاشری ځنګه ډیر زیات دی چی هغه پکښې تکی تنها دتوحید آواز پورته کړی وو؟ د دغو وختی مشکلاتو دهغه وینی زبیښونکی دور سره کوم لری نسبت هم نشته. بیا آخر څه وجه ده چی رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغو آزمایښونو دیلغارسره سره یوه ذره نرمی اختیار نکړه. دمخالفینو دپیشکش په کولو سره هغه اوفرمایل ((والله لو وضعوا الشمس فی یمینی والقمر فی یساری علی ان اترک هذا الامر حتی یظهره الله اواهلک فیه ما ترکته)) البدایه ص۴۱ ج۳

داسلام دشمنان چی له مسلمانانو نه په عدَد اوعُدَد کښې څوچنده زیات وو له هغوئ ټولو نه لویه تمنا داوه چی حضور صلی الله علیه وسلم دې له خپل مقصد ځنګه نه لاس په سرکیږی بلکه صرف لږ دې نرمی اختیار کړی. نو مونږ به مخالفت پریږدو. ((ودوا لو تدهن فیدهنون))

مګر قرآن کریم دا قاطعه فیصله واوروله چی ددوئ پخوانی ارزو یی له خاورو سره خاورې کړه ((ولاتطع کل حلاف مهین))

په دغه صفا الفاظو کښې اعلان دې چی دحق اوباطل ترمینځ هیڅ کله په هیڅ صورت کښې روغه جوړه ممکنه نده یو طرفته دهغه صلی الله علیه وسلم دسیرت مبارکه دا بی داغه او پرکیدونکې ارخ دې مګر بل طرفته دهغه صلی الله علیه وسلم دنوم اخستونکو بلکه نائبینو دا شرمناك طرز عمل چی د موهوم منفعت په خاطر په خپل دین باندې داغ لګوی

(ببین این تفاوت را از کجا تا بکجا است)

نن سبا دا اعتراض هم دعامو او خاصو په ژبو باندې دې چی له اوږد جدوجهد اوقربانیو سره سره دینی جماعتونه دکامیابی منزل ته ونه رسیدل؟ په ملك کښې اسلامی نظام ولی نه نافذیږی؟ ددې خواب همدادې چی له اسلام نافذ کولو نه مخکښې خپله معیاری مسلمان جوړېدل ضروری دی ادخلوا فی السلم کآفة.

له دې ځنګه بغیر دنصرت اوکامیابی امیدونه لرل له خوش باوری پرته نورڅه ندی. له دغه علماء کرامو ځنګه پرته نور څوك به پوهیږی چی د احد او حنین په غزاګانو کښې دصحابه کرامو په لږ لغزش سره ((چی هغې ته لغزش ویلو کښې هم ویره ده)) دالله تعالی له طرفه راتلونکې نصرت

بیرته واپس شو. ددې باوجود چې دهغوی اخلاص دهغوی جان نثاري اوجذبه دجهاد دهر شک
اوشبهې څخه بالاتر وو. دالله او د الله درسول محبت دهغوئ په رګونو اوونو کښې ګډ وو ترڅولو
نه لوبه داچې په هغو معرکو اوغزاګانو کښې حضور صلی الله علیه وسلم په نفس نفیس پخپله
موجودوو مګر سره ددې تولو خبرو . له آسمانونو څخه راغلې مدد بیرته پورته کیږي. ګویا الله
تعالی ددې قطعي قانون خبرداري ورکاوه چې دهغه له ناراضګۍ سره «اګرکه وختی وی اومعاف
هم شی» کله هم دهغې نصرت نه راځي

ددې حقائقوپه مخ ته کېښوودو سره دې دا حضرت فیصله وکړی چې دالله تعالی نصرت به
څنګه راځي؟ په داسې حال کښې چې داسلام دنفاذ نعرې وهل کیږي . د تصویر سازی لعنت
راوریږي دا په حقیقت کښې په یو وخت کښې د اوبو او اور دیوځای کولو ناکام کوښښ کول دی

خلاصه داچې دتصویر حرمت قطعي دې که دکوم عالم دین اومقتدا عمل خلاف دشریعت وی
نو هغه دخپلو کړو ذمه واردې په شرعی حکم دهغه کوم اثرنه پریوځي.

داحکامو خلاصه

- دروح لرونکی حیوان تصویر جوړول سخت حرام دی اوګناه کبیره ده. خواه تصویر هر قسم
وی لوئ وی یاوړوکې په رخت (کپړه) یا په کاغذ جوړشوې وی یا په دیوال وغیره په قلم جوړشوې
وی یا په کیمره ویستل شوي وی هم دارنګه چاپو کول یا په ماشین یاسانچه کښې اچول تول حرام
اوناجائز دی

- تصویر ساز. فوتو ګرافر او ددوئ په عمل کښې په هر قسم شرکت کونکې فاسقان دی
دهغوئ اذان . اقامت. امامت ناجائزدې اوشهادت یې مردود دې

- دتصویر خرید اوفروش حرام دې او ددې په ذریعه لاس ته راوړل شوې پیسی حرامې او
ناقابل انتفاع دی

- داپه هغه وخت کښې چې دتصویر خرید او فروخت پخپله مقصود وی اوکه مقصود بل څه
وی لکه رخت یا کاغذ یا بل څه اوتصویر له هغه سره لګیدلې وی نو دداسی شی تجارت جائز دې
مګر په خریدار لازم دی چې دشی د اخستلو سره سم تصویر ضائع کړی

- دتصویر دجوړولو په شان هغه ته بالقصد کتل نوروته ورښودل او هغه له ځان سره
ساتل هم جائزندي دسینما. تی وی . وی سی آر فحش تصویرونه کتل اوبل ته ورښودل هم ناجائز
او دحرام پرځای حرام ارتکاب دې

- هم داحکم دې داخبار. رسالو اودسکول اوکالج دچاپ شویو کتابونو دتصویرونو . دهغو
جائز مضامین لوستل جائزدی مګر په تصویر هم دا نظر کول ناجائزدی

● دتصویر لرونکې ساعتونو، دلوبو دځیزونو اوتصویر لرونکې شیرینی هم همدا حکم دې چې جوړول او خرڅول اوخوړل یې جائزندي. بغیر له اخستلو یې هم خوړل ندي جائز ځکه چې په دې کښې تعاون علی المعصیة دې.

● پاسپورت اوشناختي کارت لوړ او سکه اوتصویر لرونکې ټکټ دضرورت شیان دی دهغو په ساتلو کښې کوم باك نشته. ځینی خلك شوقا ټکټونه جمع کوی هغوئ ته تصویردار ټکټ ساتل جائزندی.

● دتجارتی ادارو تصویر دارنښان «مارکه» یا د زده کونکو دشناختي کارت تصویر په کوم شرعی ضرورت بناء ندی لهذا هغه ناجائزدې.

● په داسې لباس کښې لمونځ کول چې په هغه کښې تصویرونه وی یا په داسې ځای کښې لمونځ کول چې هلته تصویرونه وی جائزندی، پداسې صورت کښې لمونځ مکروه تحریمی او واجب الاعاده دې، البته که دتصویر سر پرې وی یایې مخ وران شوې وی یا تصویر ډیر وړوکې وی چې د ولاړې په حالت کښې هغه په نظرنه راځي نو په لمانځه کښې کراهت نه راځي، همدارنګه که لوی تصویر پټ وی «مثلا دقمیص نه لاندې په بنیان کښې وی» بیاهم لمونځ کیږی مګر بلاضرورته داسې لباس اغوستل ګناه ده.

● په کوم مکان کښې چې دجاندار تصویر وی هلته داخلیدل جائزندی، البته دضرورت مواقع مستثنی دی، مثلا دقرض اخستلو یا د معاش اومعاد پورې کوم تړلې ضرورت وی.

● که تصویر په ډبی کښې بندوی یا په غلاف کښې یالفافه وغیره کښې پټ وی نو دا د رحمت د ملائکو ددخول مانع نه ګرځي، البته دهغۀ دجوړولو اوخرڅولو اوبلاعذره دساتلو ګناه به اوس هم وی.

● که تصویر دچا په مکان یا دوکان وغیره کښې موجود دی اوبل مسلمان دهغه په تلف کولو قادر وی نوتلف کول یې په هغه واجب دی، شرعا په هغه هیڅ ضمان واجب ندې، البته که چیرته دفتنی خطره وی هلته داسې اقدام ندی کول په کار.

● ځینی حضرات په داسی ځای کښې چې هلته تصویر اخستل کیږی شرکت کوی اوله تصویر اخستونه دځان ساتلو لپاره مخ په څادر وغیره پټوی، له ګناه نه دځان ساتلو لپاره دومره کافی ندی بلکه له داسی مجلس ځنې تلل واجب دی، اګر که دا دینی اجتماع وی، بالخصوص چې دا شخص مقتداوی نودده ناسته نوره دوه چنده ګناه ده یوځپله بدی اوبل دعوامو په ګناهونوډزړورکولو ګناه

● ځینی خلك دبزرګانو تصویرونه په ډیر اهتمام په کورونو کښې ږدی دهغو تصویرونو حکمونه دهغو متبرك شمیرلوکښې دکفر خطر دې دشرك اوګمراهی دروازه دهمداسې تصویرونو له وجې خلاصیږی.

● دا ټول احکام دجاندارو دتصویرونو دی، دبی روحه شی دتصویرونو یا د هغه جاندار تصویر چی سرئی قطع وی یاله مخ نه ماسوا دهر عضوخان ځان نه تصویر جوړول خرڅول او اخستل ټول جائزدی.

محمد ابراهیم
نائب مفتی دار الافتاء والارشاد
۲۳جمادی الاولی ۱۴۱۱هجری

ضمیمه

له فقیه العصر حضرت مولنا مفتی رشید احمد صاحب مدظلهم العالی څخه دتصویرونو دمختلفو اقسامو د احکامو بیان

سوال: دزرو په زیوراتو باندې ځینی اوقات دکوم جان دار تصویر جوړشوې وی آیا د داسې زیور استعمالول او اغوستل جائزدی اوکه نه؟ همدا راز داسې زیور اغوستلوسره لمونځ کول مکروه دی اوکه نه؟ بینوا توجروا.

او دا وضاحت هم وکړئ چی دحیوان کوم تصویر جائز اوکوم ناجائز دې او همداراز دکوم قسم تصویر په موجودګی کښې لمونځ کول مکروه دی؟ بینوا بالتفصیل آجرکم الله الجلیل.

الجواب باسم ملهم الصواب: قال الشیخ ابو السعود رحمه الله تعالی: واعلم ان ظاهر التعلیل بتلبسه یفید ان بیع ثوب علیه تصاویر لا یکره وقیل یکره ای تحریما بدلیل ما قیل من رد شهادته اذ المکروه تنزیها لا یوجب رد الشهادة وحیث کان بیعه موجبا رد شهادته فنسجه بالاولی ووجه الاولویة ثبوت الخلاف فی کراهة بیعه بخلاف النسج لکونه تصویرا (فتح المعین ص۲۲۵ ج۱)

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی فی مکروهات الصلوة ولبس ثوب فیه تماثیل ذی روح وان یکون فوق راسه او بین یدیه او بحذائه یمنة او یسرة او محل سجوده تمثال ولو فی وسادة منصوبة لا مفروشة واختلف فیما اذا کان التمثال خلفه والاظهر الکراهة ولا یکره لو کانت تحت قدمیه او محل جلوسه لانها مهانة او فی یده عبارة الشمنی بدنه لانها مستورة بثیابه او علی خاتمه بنقش غیر مستبین قال فی البحر ومفاده کراهة المستبین لا المستتر بکیس او صرة او ثوب آخر واقره المصنف او کانت صغیرة لا تتبین تفاصیل اعضائها للناظر قائما وهی علی الارض ذکره الحلبی او مقطوعة الراس او الوجه او ممحوة عضو لا تعیش بدونه او لغیر ذی روح لا یکره

لانہا لاتعبد وخبر جبریل مخصوص بغیر المہانۃ کما بسطہ ابن الکمال واختلف المحدثون فی امتناع ملائکۃ الرحمۃ بما علی النقدین فنفاہ عیاض واثبتہ النووی (ردالمحتار جس ا ص۴۳۶)

وقال ابن عابدین رحمہ اللہ تعالی تحت قولہ (ولبس ثوب فیہ تماثیل)

قال فی البحر وفی الخلاصۃ وتکرہ التصاویر علی الثوب صلی فیہ اولا انتہی وھذہ الکراھۃ تحریمیۃ وظاھر کلام النووی فی شرح مسلم الاجماع علی تحریم تصویر الحیوان وقال وسواء صنعہ لما یمتہن اولغیرہ فصنعتہ حرام بکل حال لان فیہ مضاھاۃ لخلق اللہ تعالی سواء کان فی ثوب اوبساط اودرھم واناء وحائط وغیرھا انتہی فینبغی ان یکون حراما لامکروھا ان ثبت الاجماع اوقطعیۃ الدلیل بتواترہ اھ کلام البحر ملخصا وظاھر قولہ فینبغی الاعتراض علی الخلاصۃ فی تسمیتہ مکروھا قلت لکن مراد الخلاصۃ اللبس المصرح بہ فی المتون بدلیل قولہ فی الخلاصۃ بعدما مر اما اذا کان فی یدہ وھو یصلی لایکرہ وکلام النووی فی فعل التصویر ولایلزم من حرمتہ حرمۃ الصلاۃ فیہ بدلیل ان التصویر یحرم ولو کانت الصورۃ صغیرۃ کالتی علی الدرھم اوکانت فی الید او مستترۃ اومہانۃ مع ان الصلاۃ بذلک لاتحرم بل ولاتکرہ لان علۃ حرمۃ التصویر المضاھاۃ لخلق اللہ تعالی وھی موجودۃ فی کل ماذکر وعلۃ کراھۃ الصلاۃ بہا التشبہ وھی مفقودۃ فیما ذکر کما یاتی فاغتنم ھذا التحریر (ردالمحتار ج ا ص۴۳۵)

وقال: (قولہ وخبر جبریل الخ) ھو قولہ للنبی صلی اللہ علیہ وسلم انا لاندخل بیتا فیہ کلب ولا صورۃ رواہ مسلم وھذا اشارۃ الی الجواب عما یقال ان کانت علۃ الکراھۃ فیما مر کون المحل الذی تقع فیہ الصلاۃ لاتدخلہ الملائکۃ لان شر البقاع بقعۃ لاتدخلہا الملائکۃ ینبغی ان تکرہ ولو کانت العلۃ التشبہ بعبادتہا فلاتکرہ الا اذا کانت امامہ اوفوق راسہ والجواب ان العلۃ ھی الامر الاول واما الثانی فیفید اشدیۃ الکراھۃ غیر ان عموم النص المذکور مخصوص بغیر المہانۃ لما روی ابن حبان والنسائی استاذن جبریل علیہ السلام علی النبی صلی اللہ علیہ وسلم فقال ادخل فقال : کیف ادخل وفی بیتک ستر فیہ تصاویر ؟ فان کنت لابد فاعلا فاقطع رؤوسہا اواقطعہا وسائد اواجعلہا بسطا نعم یرد علی ھذا ما اذا کانت علی بساط فی موضع السجود فانہ مر انہ یکرہ مع انہا لاتمنع دخول الملائکۃ ولیس فیہا تشبہ لان عبدۃ الصنام لایسجدون علیہا بل ینصبونہا ویتوجہون الیہا الاان یقال فیہا صورۃ التشبہ بعبادتہا حال القیام والرکوع وتعظیم لہا ان سجد علیہا اھ ملخصا من الحلیۃ والبحر.

اقول: الذی یظہر من کلامہم ان العلۃ اما التعظیم اوالتشبہ کما قدمناہ والتعظیم اعم کما لو کانت

عن يمينه اويساره اوموضع سجوده فانه لاتشبه فيها بل فيها تعظيم وما كان فيه تعظيم وتشبه فهو اشد كراهة ولهذا تفاوتت رتبها كما مر وخبر جبريل عليه السلام معلول بالتعظيم بدليل الحديث الاخر وغيره فعدم دخول الملائكة انما هو حيث كانت الصورة معظمة وتعليل كراهة الصلاة بالتعظيم اولى من التعليل بعدم الدخول لان التعظيم قد يكون عارضا لان الصورة اذا كانت على بساط مفروش تكون مهانة لاتمنع من الدخول ومع هذا الوصل على ذلك البساط وسجد عليها تكره لان فعله ذلك تعظيم لها والظاهر ان الملائكة لاتمتنع من الدخول بذلك الفعل العارض واما ما فى الفتح عن شرح عتاب من انها لو كانت خلفه او تحت رجليه لاتكره الصلاة ولكن تكره كراهة جعل الصورة فى البيت للحديث فظاهره الامتناع عن الدخول ولو مهانة وكراهة جعلها فى بساط مفروش وهو خلاف الحديث المخصص كما مر (ردالمحتار ص۶۳۹ ج۱)

الاحكام المستفادة من النصوص المذكورة

داسې زيور جوړول، خرڅول، اخستل له خان سره ساتل او هغه اغوستل اولمونځ ورسره کول جائزندي، ددا سې لمونځ اعاده واجبه ده.

که تصوير په لباس وغيره کښې پټ وی يا دومره وړوکې وی چې په څمکه يې کيږدی او ورسره ودريږی نو ورته په کتلو کښې داعضاؤتفصيل په نظر نه راځی نو دهغه متعلق دالاندی مسائل دی:

ددومره وړوکی تصوير جوړول: واړه واړه تصويرونه جوړول هم بالاجماع حرام دی لدخوله فی العلة المنصوصة يضاهؤن خلق الله

دداسی تصوير خريد اوفروش

په دې کښې يوڅه اختلاف دې مګر په لاندی دلائلو سره عدم جواز راجح دې.

۱. دحرمت دلائل قوی دی.

۲. دتعارض په وخت کښې دمساوات ددلائلو په صورت کښې هم دحرمت ترجيح مسلمه ده

۳. ددې په اباحت کښې ددې دصنعت تقويت راځی چی بالاجماع دغه صنعت حرام دې، لهذا دتعاون على الاثم له وجې نه ناجائزدې

۴. دعوامو دګمراهی او دګناهو دارتکاب ذريعه ده څکه چی هغوی صغيره او کبيره اوپټ اوظاهروغيره قيدونو اوتفصيلونه قطع نظر کوی اونفس عمل وينی اوپه مطلقا جواز استدلال کوی

۵. دصورة صغيره په تعريف مذکور کښې داختلاف انظار او آراؤ له وجی عوامو ته دبهانه سازی موقع په لاس ورځی

د آراؤ او انظارو د اختلاف وجوه

۱- دکتونکو په قدکښې اختلاف.
۲- دهغوئ په نظرونو کښې اختلاف.
۳- په رڼا کښې اختلاف.

داسي تصويرونه ساتل

داهم جائز ندی لما قدمنا من الدلائل الخمسه

داسی تصوير له ځان سره ساتل اولمونځ ورسره کول:

دفقهاء کرامو له عباراتو څخه معلوميږی چی په داسې حالت کښې لمونځ بلاکراهيته جائزدې لدې وجی نه چی په دې کښې دکراهيت کوم علت نه موندل کيږی، مګر په دې کښې يو څه کلام شته، کما سياتی.

د کراهيت علتونه

۱- امتناع الملائکه
۲- تعظيم غيرالله
۳- تشبه بعبدة الاصنام

بياځينی حضراتو دعلت اولی مدارهم علت ثانيه ګرځولې دې.

دبنده په خيال کښې دعلل مذکوره په نه موجوديت کښې هم دکراهيت الصلوة دا علت موجود دې چی په دغه مقام کښې دداسې معصيت يوشې موجود دې چی په صانع ئی لعنت ويل شوې دې لکه څنګه چی په ځينی نصوص فقهيه کښې دعلت امتناع الملائکه په تشريح کښې مذکور دې چی دا بقعه شرالبقاع ده، څکه دلته لمونځ مکروه دې.

ددې مقتضی داده چی په موجودګی دصورة صغيره يا پوشيده کښې دې هم لمونځ مکروه اوواجب الاعاده شی. لدې کبله چی په داسې ځای کښې **اول:** قول دعدم امتناع الملائکه دمختلف فيه کيدو نه علاوه فی نفسه هم محل دتامل دې.

دويم که دا تسليم هم کړې شی نو دا بقعه اګر چه دعدم امتناع الملائکه له وجی نه شرالبقاع نده مګر دلته دوجود منکر له وجی په بقعه خبيثه کيدوکښې هيڅ شك نشته وهو يکفی لعموم الکراهة فليتامل.

په بساط یا په ځای دناستی کښې تصویر

په دې کښې هم دا قبائح دی:

۱. دتصویرصنعت ته ترقی ورکول کیږی چی بالاجماع حرامه ده.

۲. دعوامو دضلالت اوګمراهی ذریعه ده چی هغوئ لدې ښخه مطلقا په اباحت استدلال کوی عوام په مهانه اوغیر مهانه کښې فرق نه پیژنی.

۳. امتناع ملائکه: په دې صورت کښې اګر چه امتناع ملائکه مختلف فیه دې مګر د ذکر شویو وجوهو له خاطره امتناع راجح معلومیږی.

له هغو ښخه هم لویه وجه د امتناع داده چی دعمل ملعون دمعمول کیدو د ابقاء بلکه اقتناء ده، خلك داپه نیت داهانت نه ساتی بلکه په نظر داشتیاق یې ساتی.

ذکر شوی قبائح په دې صورت کښې هم دلمانځه دکراهیت اود وجوب اعادې مقتضی دی.

وهذا لایخالف مارجحه الفقهاء رحمهم الله تعالی لان الاحکام تتغیر بتغیر الزمان فتفکر ولعل الحق لایعدوه للمتفکر. والله سبحانه وتعالی اعلم

رشید احمد

۲۷ جمادی الثانیه سنه ۱۳۸۷ھ

بسم الله الرحمن الرحيم

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَحْفُوا الشَّوَارِبَ وَاعْفُوا اللُّحَى. متفق عليه.

نيل المارب بحلق الشوارب



ددريو فتواګانو مجموعه

۱- دشوندو دواړه طرفونه غتول مکروه دی

۲- د زياتو ويښتانو دصفائي حد

۳- حُکم حلق الشارب

- د رسول الله صلی الله عليه وسلم ارشادات
- دفقهاء کرامو رحمهم الله تعالی نصوص
- عقل سليم اوطبع مستقيم



نيل المارب بحلق الشوارب

په دې رساله کښې له نصوصو د احاديثو اوعباراتو د فقهاء کرامو څخه ثابته کړې شوې ده چه

- دشوندو ويښتان اخستل سنت دی
- او دواړه طرفونه غتول مکروه دی
- علاوه له دې نه دبدن دنورو هغوويښتانو چې صفائي يې ضروري ده دهغو د صفائي موده بيان شوې ده

د بریتونو احکام

بریتونه دواړه طرفونو ته غتول مکروه دی

سوال آیا دبریتونو دواړه طرفونو ته اوږدول جائزدی اوکه ناجائز ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب مکروه دی

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: واما طرفا الشارب وهما السبالان فقیل هما منه وقیل من اللحیة وعلیه فقیل لاباس بترکهما وقیل یکره لما فیه من التشبه بالاعاجم واهل الکتاب وهذا اولی بالصواب وتمامه فی حاشیة نوح (ردالمحتار ص۲۰۴ ج۲)

وقال فی حاشیة علی البحر تحت (قوله وهو المبالغة فی القطع) وقیل کره ابقاء السبال وفیه من التشبه بالاعاجم بل بالمجوس واهل الکتاب وهذا اولی بالصواب لما رواه ابن حبان فی صحیحه من حدیث ابن عمر رضی الله تعالی عنهما قال ذکر لرسول الله صلی الله علیه وسلم المجوس فقال انهم یوفرون سبالهم ویحلقون لحاهم فخالفوهم فکان ابن عمر رضی الله تعالی عنهما یجز کما تجز الشاة والبعیر (منحة الخالق) بهامش البحر الرائق ص۱۱ ج۳)

والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۵ ربیع الاول سنه ۱۴۰۰ھ

دزیاتی ویښتانو دصفائی حد

سوال د بریتونو د لنډولو . دنوکونو د اخستلو . د ترخونو (ابط) د ویښتانو د اخستل او له نمه ښخه لاندې د ویښتانو اخستلو حدود تر کوم ځایه پورې دی؟ اوڅوورځی پس ئی صفائی واجبه ده؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په اتفاق دامام صاحب اوصاحبینو رحمهم الله تعالی د بریتونو خریل یا لنډول په شان د خریلو سنت دی. د بریتونو او نوکونو داوږدولو په باره کښې ظاهر حدیث نه تر څلویښتو ورځو پورې رخصت معلومیږی. دا تحدید دفقهی په کتابو نو کښې هم ذکر دې مگر فقهاء کرامو د حکم د علت په نظر کښې نیولو سره ضابطه دنظافت لیکلې ده چې نوهغې لاندې د اشخاصو اواحوالو داختلاف له کبله د وجوب حکم هم مختلف کیږی

له ذکر شوې ضابطې نه ثابته شوه چې د څلویښتو ورځو د ذکر دامطلب ندې چې د وجوب د دواعیو باوجود رخصت شته. بلکه مطلب دادې چې د اعذارمرخصه باوجود له مدت مذکوره نه علاوه هیڅ رخصت نشته

د بریتونو د لنډولو حکم دنوروډرې امورو په نسبت دلاندې وجوهو له خاطره زیات مؤکد دی
۱. په خوراك اوڅښاك کښې دنظافت دنه وجودله وجې په امراضو کښې دمبتلاء کیدو خطره ده

۲- دپوزې درطوبت له کبله تلوث ،گنده کيدل موجب دناذي اومورث دامراضو دی
۳- دخارجي گرد اوغبار د اجتماع له وجې پوزې اوخولی ته نژدې تعفن چې هغه موجب دناذي اومورث د امراض دي .
۴- تشويه الوجه
۵- ايذاء الزوجه وتنفيرها

عن ابن عمر رضي الله تعالى عنهما (مرفوعا) قصوا شواربكم فان بني اسرائيل لم يفعلوا ذلك فزنت نساؤهم رواه الديلمي. ونقل عنه الامام عبدالرؤف المناوي في كنوز الحقائق والشيخ علي المتقي في كنز العمال.

ددغو دواعيو لاندې دشوندو دبرنی حصې خلاصه پريښودل واجب معلوميږي. البته دکوم عذر له وجې ترخلوبښتو ورځو پورې رخصت شته، مگر په دغه موده کښې دنظافت خيال ساتل ضروري دی، دفقهي په کتابونو کښې دپورتنی شونډې برنی حصه خلاصه پريښودل سنت ليکل شوی دی، له هغې سره د وجوب د قول د تطبيق دوه وجهې دی :

۱- سنت لعينه واجب لغيره
۲- دواجبو د اداء دوه صورتونه دی : حلق اوقص، دحلق په سنتيت کښې ځينی علماؤ اختلاف کړې دې او د واجبو اداء کول په طريقه دلندولو چې دی ددې په سنتيت اتفاق دې .

د خريبلو د نستيت نه انکار دامام اوصاحبينو دمذهب منصوص دخلاف کيدلو له وجې بالکل غير معتبر دی، صحيح داده چې حلق هم سنت دې، بلکه دسنتو اعلی درجه ده . نص عليه الامام الطحاوی رحمه الله تعالى .

قص شوارب نه وروسته ددواعی موجبه وجود په تقليم الاظفار کښې دې له هغې څخه بعد دا نوردوه دی «نتف الابط او حلق العانه» .

په معتدلو حالاتو کښې ددواعی مذکوره نه لاندې په امور اربعه مذکوره کښې مناسبه وقفه په لاندی ډول ده :

د بريتونو لنډول په هفته کښې دوه ځله، دنوکونو اخستل په هفته کښې يوځل اوباقی په دوو هفتو کښې يوځل بهتر دی اوکه نه نو دوه هفتی وروسته بايد صفا شی .

قال العلامة النووي رحمه الله تعالى: واما وقت حلقه فالمختار انه يضبط بالحاجة وطوله فاذا طال حلق وكذلك في قص الشارب ونتف الابط وتقليم الاظفار واما حديث انس المذكور في الكتاب وقت لنا قص الشارب وتقليم الاظفار ونتف الابط وحلق العانة ان لا يترك اكثر من اربعين ليلة فمعناه لانترك تركاً نتجاوز به اربعين لا انهم وقت لهم الترك اربعين والله اعلم. (شرح النووي على صحيح مسلم ص۱۲۸ ج۱)

وقال الحافظ العسقلانی رحمه الله تعالیٰ المعنی فی مشروعیة ذلک مخالفة المجوس والامن التشویش علی الاکل وبقاء زهومة الماکول فیه (وبعد اسطر) وقد ابدی ابن العربی تخفیف شعر الشارب معنی لطیفا فقال ان الماء النازل من الانف یتلبد به الشعر لما فیه من الزوجة ویعسر تنقیته عند غسله وهو بازاء حاسة شریفة وهی الشم فشرع تخفیفه لیتم الجمال والمنفعة (فتح الباری ص۲۴۳ ج۱۰)

وقال ایضا: قال ابن دقیق العید لا اعلم احدا قال بوجوب قص الشارب من حیث هو واحترز بذلک عن وجوبه بعارض حیث یتعین کما تقدم من الاشارة الیه من کلام ابن العربی (فتح الباری ص۲۴۵ ج۱۰)

په ترک د لندولو دبریتونو کښې دمفاسد مذکوره نه علاوه تشویه الوجه، کراهت المنظر، ایذاء زوجه، دهغې نفرت اوودې نه پیدا کیدونکې بدکاریو قباحت اوعذاب په هغې لپاسه دی، کما قدمنا من حدیث الرسول صلی الله علیه وسلم فی نساء بنی اسرائیل.

وقال العلامة العثمانی رحمه الله تعالیٰ: قال القرطبی رحمه الله تعالیٰ فی المفهم ذکر الاربعین تحدید لا کثر المدة ولا یمنع تفقد ذلک من الجمعة الی الجمعة والضابطة فی ذلک الاحتیاج اهـ وقال النووی رحمه الله تعالیٰ فی شرح المهذب ینبغی ان یختلف ذلک باختلاف الاحوال والاشخاص والضابطة الحاجة فی جمیع الخصال المذکورة (فتح الملهم ص۴۲۰ ج۱)

وقال الملا علی القاری رحمه الله تعالیٰ: والمعنی ان لا نترک ترکا یتجاوز اربعین لانه وقت لهم الترک اربعین لان المختار ان یضبط الحلق والتقلیم والقص بالطول فاذا طال حلق وقص وقلم ذکره الرة النووی (مرقاة ص۱۱۱ ج۴) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۲۲ جمادی الاولی سنه ۱۴۰۱ھ

حکم حلق الشارب

سوال په چاره یابلید باندې دبریتونو خریل جائزدی اوکه مکروه؟ امام طحاوی ترجمة الباب قائم کړې دې چې (باب حلق الشارب) بیاپه بحث کښې هم احفاء یې په مقابله دقص کښې راوړې ده هدارنګه وجه النظر کښې یې هم افضلیت دحلق په محرم باندې قیاس کړې دې ونصه

فیصحن واحفاؤه احسن وافضل وهذا مذهب ابی حنیفة وابی یوسف ومحمد رحمهم الله تعالیٰ.

وقال فی اخر البحث: ان قص الشارب من الفطرة وهو مما لا یستغنی عنه وان ما بعد ذلک من الاحفاء هو افضل وفیه من اصابة الخیر ما لیس فی القص (شرح معانی الآثار ص۴۷۶ ج۲) بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب امام طحاوی بالاتفاق اعلم بمذهب ابی حنیفه دی ستاسی دتحریر الحق په اتفاق دعلمائنا الثلاثه حلق الشوارب مسنون دی، ترجمة الباب (حلق الشارب) لاندې د

احادیثو د احفاء راوړلو څخه مقصد دادې چې په دغه احادیثو کښې احفاء په معنا دحلق ده لکه څنګه چې په یو روایت دفتح الباری کښې صراحتاً لفظ دحلق ذکر دې. وسیجئ نصه حافظ عینی فرمایی چې په ترجمة الباب کښې دحلق نه احفاء یعنی استیصال کالحلق مراد دې چې له هغې څخه په غرض داظهار مبالغه په حلق سره تعبیر کیږی

ولایخفی ان هذا التحمل تمحل وتأویل القول بما لایرضی به قائله وو تفرد به الحافظ العینی رحمه الله تعالی ثم نقل هو نفسه فی الهدایة سلبیة الحلق عن المختار والمحیط وسیجئ نصه.

داتاویل په لاندې وجوهو سره ناقابل قبول دې:

په صنیع المصنفین کښې اصل مقصود ترجمة الباب وی دهغه د اثبات لپاره د هغې لاندې احادیث راوړل کیږی. په ترجمة الباب کښې مصنف خپله دعوی وړاندې کوی. بیا له هغې نه لاندې دراوړل شویو احادیثونه دخپلې دغې دعوی اثبات کوی. له دې څخه ثابته شوه چې امام طحاوی داحادیث احفاء نه سنیت دحلق ثابتوی، ددې برعکس دحلق نه احفاء اخستل له اصولو دتصنیف نه خلاف او قلب دموضوع دی.

دحلق استیصال کالحلق نه ابلغ فی المعنا اوایسر فی العمل کیدل ظاهر دی. ددې وجې نه په حلق بمعنی الاستیصال بالقص کالحلق ته ترجیح ورکول خلاف دی له عقل څخه.

قال الحافظ العسقلانی رحمه الله تعالی: وورد الخبر بلفظ الحلق وهی روایة النسائی عن محمد بن عبدالله بن یزید عن سفیان بن عیینه بسند هذا الباب ورواه جمهور اصحاب ابن عیینه بلفظ القص وکذا سائر الروایات عن شیخ الزهری ووقع عند النسائی من طریق سعید المقبری عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه بلفظ تقصیر الشارب نعم وقع الامر بما یشعر بأن روایة الحلق محفوظ کحدیث العلاء بن عبدالرحمن عن ابیه عن ابی هریرة رضی الله تعالی عنه عند مسلم بلفظ جزوا الشوارب وحدیث ابن عمر رضی الله تعالی عنهما المذکور فی الباب الذی یلیه بلفظ احفوا الشوارب وفی الباب الذی بلفظ انهکوا الشوارب فکل هذه الالفاظ تدل علی ان المطلوب المبالغة فی الازالة لان الجز وهو بالجیم والزای الثقیلة قص الشعر والصوف الی ان یبلغ الجلد والاحفاء بالمهملة والفاء الاستقصاء ومنه احفوه بالمسألة قال ابوعبید الهروی معناه الزقوا الجز بالبشرة وقال الخطابی هو بمعنی الاستقصاء والنهك بالنون والکاف المبالغة فی الازالة ومنه ما تقدم فی الکلام علی الختان قوله صلی الله علیه وسلم للخافضة اشمی ولا تنهکی ای لا تبالغی فی ختان المراة وجری علی ذلك اهل اللغة وقال ابن بطال: النهك التأثیر فی الشیء وهو غیر الاستئصال (فتح الباری صـ ۲۸۵ جـ ۱۰)

وقال: قال الطحاوی رحمه الله تعالیٰ: الحلق هو مذهب ابی حنیفة وابی یوسف ومحمد رحمهم الله تعالیٰ اه (فتح الباری صہ ۲۸۶ جہ ۱۰) وقال: وقد رجح الطحاوی الحلق علی القص بتفضیله صلی الله علیه وسلم الحلق علی التقصیر فی النسك (حوالہ بالا)

وقال الحافظ العینی رحمه الله تعالیٰ: قوله یعنی من الاحفاء بالحاء المهملة والفاء یقال احفی شعره اذا استاصله حتی یصیر کالحلق وتکون احفاء الشارب افضل من قصه عبر الطحاوی بقوله باب حلق الشارب (عمدة القاری صہ ۴۴ جہ ۲۲)

وقال: وقال الکاکی وذکر الطحاوی رحمه الله تعالیٰ فی شرح الآثار ان حلقه سنة ونسب ذلك الی العلماء الثلاثة انتهی قلت لم یذکر الطحاوی کذلك وانما قال بعد روایاته الاحادیث المذکورة والتوفیق بینهما ان الاحفاء افضل من القص نعم قال باب حلق الشارب وانما اراد بذلك الاحفاء حتی یصیر کالحلق وفی المختار حلقه سنته وقصه حسن وفی المحیط الحلق احسن من القص وهو قول ابی حنیفة وصاحبیه رحمهم الله تعالیٰ (بنایة صہ ۵۵ جہ ۲). وقال عبدالله بن محمود رحمه الله تعالیٰ فی متنه المختار: والسنة تقلیم الاظفار ونتف الابط وحلق العانة والشارب وقصه احسن.

نقل الشارح عن الامام الطحاوی رحمه الله تعالیٰ: والحلق سنة وهو احسن من القص وهو قول اصحابنا رحمهم الله تعالیٰ قال علیه الصلوٰة والسلام: احفوا الشوارب واعفوا اللحی والاحفاء الاستیصال (الاختیار لتعلیل المختار صہ ۱۶۷ جہ ۴)

په متن کښې (قصه احسن) دکتاب غلطی ده صحیح لفظ (حسن) دې په دې باند دوه دلائل دی دعینی رحمه الله له مختار څخه په نقل شوی عبارت کښې (وقصه حسن) دې

مصنف بخپله په شرح کښې له امام طحاوی څخه دحلق احسن والی نقل کړې دې. عینی دحلق احسن من القص کیدو په باره کښې دمختار اومحیط په شرح کښې حواله ورکړې ده. دمختار دعبارت تحقیق مخکښې ذکر شو. له محیط څخه په ظاهره محیط سرخسی مراد دې څکه چی په حاشیه دطحطاوی علی الدر کښې ددې تصریح ده. وسیجئ نصه. ممکنه ده چی په محیط برهانی کښې هم دغه شان وی. عنقریب دهغه طباعت متوقع دې فلیراجع بعد

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالیٰ: وکره ترکه وراء الاربعین مجتبی وقیل حلق الشارب بدعة وقیل سنة.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: (قوله وقیل سنة) ومشی علیه فی الملتقی وعبارة المجتبی بعد مارمز للطحاوی حلقه سنة ونسبه الی ابی حنیفة وصاحبیه رحمهم الله تعالیٰ والقص منه حتی یوازی الحرف الاعلی من الشفة العلیا سنة بالاجماع (رد المحتار صہ ۲۶۱ جہ ۵)

وقال العلامة الطحطاوی رحمہ اللہ تعالیٰ (قولہ حلق الشارب بدعة) وقع فی بعض النسخ بالقص ولا بعدها التعبیر بالحلق ففی الهندیة ذکر الطحاوی فی شرح الآثار ان قص الشارب حسن وتقصیرہ ان یؤخذ منه حتی ینقص من الاطار وهو الطرف الاعلی من الشفة العلیا قال والحلق سنة وهو احسن من القص هذا قوله وصاحبیه رحمهم الله تعالیٰ کذا فی محیط السرخسی. اه. وعبارة المجتبی وحلق الشارب بدعة والسنة فیه القص مع حلقه سنة نسبه الی ابی حنیفة وصاحبیه رحمهم الله تعالیٰ والقص منه حتی یوازی الحرف الاعلی من الشفة العلیا سنة بالاجماع (طحطاوی علی الدر ص۲۰۳ ج۴) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۲۸ جمادی الاولی سنہ ۱۴۰۱ھ

بسم الله الرحمن الرحیم

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: احفوا الشوارب واعفوا اللحی (متفق علیه)

کتاب احیاء الموات

سوال: زمونږ په ولایت کښې خوړونه دی چې اوبه لری او ځینی یی جاری چینې هم لری او ځینی یی نه لری له هغو اوبو لاندې خلق آبادی کوی او هغه اوبه دلښتی (ویالې) په ذریعه بیایی او خپله آبادی وربانديې اوبه کوی پس له څه وخته خونغره د آبادی پورته نوره آبادی کوی او اوبه ورولی اودا اوبه جاری دی، کله کله د قحطی په دوران کښې وچیږی هم، اول شخص مانع ګرځی، خلاصه داچې آیا صاحب د اولې آبادی کولې شی چې د نوې آبادی والا منع کړی او که نه ؟ او دا اوبه حریم لری او که په حکم داوبو دلویو خوړونو کښې دی؟ او نوې آبادی اوزړه آبادی فرق لری او که نه ؟ اومنع کولې یی شی او که نه ؟ که وی نو په وخت دضرورت کښې به وی او که هر وخت ؟ او اوبه که پورته وګرځول شی لاندې اوبه وچیږی اوس ددی څه حکم دې ؟ بینو اتوجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: داسی وادی حریم نلری، لهذا اول شخص حق دمنع کولو نه لری. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۷ربیع الاول سنہ ۱۳۹۱ھ

دکوهی (څاه) حریم

سوال: دماشین دکوهی حریم څومره دې ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په ارض مباحه کښې دځمکې دصلابت (سختوالی) او رخاوت (نرموالی) په لحاظ دحریم مقدار هم مختلف کیږی، اهل تجربه دې دومره حریم مقررکړی چې دکوهی اوبه بل طرفته لاړې نشی او په درمیانه ځمکه کښې څلور واړه طرفونو ته څلویښت ګزه حریم دې.

په مملوکه ځمکه کښې دحریم کوم مقدار معلوم ندې، مالك چې چیرته غواړی هلته کوهی وهلې شی.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وحريم بئر الناضح وهي التي ينزح الماء منها بالبعير كبئر العطن وهي التي ينزح الماء منها باليد والعطن مناخ الابل حول البئر اربعون ذراعا من كل جانب وقالا ان للناضح فستون ولو العمق زيلعي وعن شرح المجمع لو عمق البئر فوق اربعين يزاد عليها اهـ

لكن نسبه القهستاني لمحمد رحمه الله تعالى ثم قال ويفتى بقول الامام رحمه الله تعالى وعزاه للتتمة ثم قال: وقيل التقدير في بئر وعين بما ذكر في اراضيهم لصلابتها وفي اراضينا يزاد لرخاوتها ولئلا ينتقل الماء الى الثاني وعزاه للهداية وعزاه البرجندي للكافي والمحيط. وعبارة القهستاني: وفيه رمز الى انه لو حفر في ملك الغير لا يستحق الحريم فلو حفر في ملكه فله من الحريم ما شاء.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى تحت (قوله فوق الاربعين) ولان العمارعادية عن المنابع ولا حاجة الى الزيادة ومن احتاج الى اكثر من ذلك يزيد عليه وكان الاعتبار للحاجة لا للتقدير ولا يكون في المسألة خلاف في المعنى اهـ ونقل العلامة قاسم في تصحيحه عن مختارات النوازل ان الصحيح اعتبار قدر الحاجة في البئر من كل جانب (ردالمحتار ص۲۷۹ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۴ رمضان سنه ۹۴ھ

په مملوکه ځمکه کښې دحريم کوم مقدار متعين ندې

سوال يوه سړی په ارض موات «بنجر ځمکه» کښې کاريز ويستلې دې اوددغه کاريز نه لرې بل سړی په خپله مملوکه ځمکه کښې کوهی وکندلو آيا د کاريز والا شرعا داحق لری چی کوهی کندونکی ته ووايی چی کوهی بند کړه. ځکه چی ددې د کندلو نه په کاريز کښې اوبه کميږی

په دې مسئله کښې ددې ځای دعلماؤ ډير اختلاف دې ځينی علماء وائی که چيرته کوهی نه کاريز څخه لس زراع لرې وی نو کاريز والا حق نلری چی دکوهی بندولو مطالبه وکړی. اوځينی علماء يی په بئر بالوعه قياسوی او وائی چی دقرب اوبعد اعتبار نشته بلکه اوبو جذبو لوته دې وګوری که اوبه نه راجذبوی نو که دکاريزنه په يوګزفاصله کښې وکندل شی هم څه حرج نشته اوکه کوهی دکاريز اوبه را جذبوی نو کوهی که څومره هم لرې وی بندول يی ضروری دی. اول قول صاحب دشرح وقايه اختې دې. مګربحرالرائق په هغه رد کړې دې. اودويم قول قاضی خان اوشامی وغيره اختې دې اوس که قرب اوبعد ته ونه کتل شی. بلکه اوبوجذبولوته وکتل شی نو کاريزنه به دکوهی دجذبولو داوبو څنګه معلومات وشی. مهربانی وکړئ د اوبو دجذبولو طريقه دکتابونو په حواله سره راته وليکئ. ډيره مهربانی به مووی.

اوکه داصورت بعينه دکاريز اوکوهی ترمينځ نه بلکه ددووکوهيانو ترمنځ پيداشی نو څه حکم دې آيا په اوبو جذبولو کښې دارض موات او ارض مملوکه فرق شته اوکه نه ؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دحريم وغيره مسائل د ارض موات په باره کښې دی په خپله مملوکه ځمکه کښې کوهی په هر صورت جائزدې اګرکه دبل کاريز يا کوهی نقصان هم وی والله سبحانه وتعالی اعلم ۳۰ ذی القعده سنه ۱۳۹۸ھ

دچينې حريم

سوال په يوه دره کښې دوه چينې دی اود دوارو ترمينځ کم از کم دوه سوه زراع فاصله ده آيا دادوه سوه زراع صرف ديوې چينې لپاره دی يا د دوارو لپاره؟ بينو ا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب که داچينې قدرتی وی نو دهغوی هيڅ حريم نشته اوکه خلکو کندلې وی نو کومه چی مخکې ويستل شوې وی دهغې حريم څلورواړه طرفونو ته پنځه سوه ګزه

دی او ددویمې چینې درې طرفونو ته پنځه سوه گزه او د اولې چینې طرفته یې حریم نشته

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: وحریم العین خمس مائة ذراع من کل جانب کما فی الحدیث (رد المحتار ص۲۷۹ج۵)

وقال ایضا: وللحافر الثانی الحریم من الجوانب الثلاثة دون جانب الاول لسبق الملك الاول فیه (رد المحتار ص۲۸۰ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۶ جمادی الاولی سنه ۹۹هـ

ډبرې (تیږې) کیښودل مُثبتْ دملك نه گرځي

سوال: په شاړه ځمکه کښې دحکومت لطرفه اذن عام دې چنانچه یوه سړی یوه قطعه ځمکه صفاکړه اوځلور واړه طرفونو ته یې بطور علامه اونشانه ډبرې کیښودلې بیا یې په دې یقین دوه درې کاله پریږدی چې دا زما ملکیت دې. کله هم چې زه وغواړم نو کور به په کښې جوړکړم آیا داشخص ددې ځمکې مالك وگرځیده او که نه ؟ او نور خلك په دغه ځای کښې له تصرف څخه منع کولې شی اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: صرف په ډبرو کیښودو مالك نه گرځي. که چیرې ځای جوړکړی او یا فصل وربانديې وکړی نوبیا مالك گرځي. البته په ډبرو کیښودوسره تر درې کالولپاره دده حق په نورو مقدم دې.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: ومن حجر الارض ای منع غیره منها بوضع علامة من حجر او غیره ثم اهملها ثلاث سنین دفعت الی غیره وقبلها هو احق بها وان لم یملکها لانه انما یملکها بالاحیاء والتعمیر لابمجرد التحجیر (ردالمحتار ص۲۷۸ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۵ ربیع الثانی سنه ۹۸هـ

دپوزی (بوریا او خاشاکو) جونگړه دملکیت مثبت نده

سوال که یوشخص نقلی جونگړه له پوزی یا لوخو وغیره څخه جوړه کړی او د بل شخص په خوا کښې یې دوه یا درې کاله قیام وکړ او پس له هغې نه له دغه ځای څخه منتقل شو اوبل کلی ته لاړو او ددغه نقلی جونگړې چې پوزی اودری وغیره وې دهغې نښې نښانې هم ختمې شی. پس له ځلوریاپنځوکالونه دوه خله راغې اودعوه یې وکړه چې دا ځمکه زما ملکیت دې ځکه چې زه یوروخت دلته دیره ووم. آیا داشخص حق ددعوې لری اوکه نه ؟ اومالك دځمکې گرځي چې هرکله وغواړی تصرف پکښې وکړی او نورخلك له تصرف څخه منع کړی. آیا شخص مذکور ته داحق حاصل دی اوکه نه ؟ بینو اتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د ملك دثبوت لپاره زراعت یا بناء دکور ضروری ده. دپوزی وغیره

دکوز په جوړولو سره ملکیت نه ثابتیږي والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۵ ربیع الثاني سنه ۱۳۹۸هـ

دمختلفو حاکمانو له طرفه داحیاء د اذن حکم

سوال که غیر آباده ځمکه دریو اشخاصو خانله آباده کړې وی، یوه ته تحصیلدار د آبادولو اجـزه ورکړې وی، دویم ته نائب دتحصیلدار اودریم ته پتواری (جریبګر) اجازت ورکړې وی، اوس پوښتنه داده چی په دغو کښې دچا اذن معتبر دې اوکوم یونائب السلطان وګرځولې شی چی دهغه په اجازه داحیاء موات قول وکړل شی، ځکه چی مفتی به قول دادې چی داحیاء موات لپاره دامام یا نائب امام اجازه ضروری ده؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که چیرته دړې واړو یوه قطعه ځمکه آباده کړی وی نو هغه دړې واړه دهغې مالکان شول په دې شرط چی پتواری (جریبګر) ته قانونا داحیاء موات د اجازې ورکولو اختیار وی آوکه دړې واړو په مختلفو اوقاتو کښې ځمکه آباده کړې وی یو ځای یی نه وی آباده کړې، نو چاچی مخکې آباده کړی وی هغه مالك شو، اوکه دړې واړو جدا جدا قطعی (حصې) آبادې کړې وی نو هر یو دخپلې حصې مالك وګرځیده، پدې شرط چی پتواری ته د اجازې اختیار وی. والله سبحانه وتعالی اعلم. ۵رجب سنه۹۸ هـ

د ارض موات تعریف

سوال: ارض موات کومې ځمکې ته ویل کیږی؟ جامع تعریف یی ولیکئ، بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: ارض موات هغه ده چی له ښار څخه بهر وی او د چا ملکیت هم نه وی او د چا مخصوص حق هم نه وی، او له مرافق البلد څخه هم نه وی.

قال ملك العلماء الكاسانی رحمه الله تعالی: فالارض الموات هی ارض خارج البلدلم تكن ملكا لاحد ولاحقا له خاصا فلایكون داخل البلدموات اصلا (وبعد اسطر) وهل یشترط ان یكون بعیدا من العمران وشرطه الطحاوی رحمه الله تعالی فانه قال ومااقرب من العامر فلیس بموات وكذا روی عن ابی یوسف رحمه الله تعالی ان ارض الموات بقعة لو وقف علی ادناها من العامر رجل فنادی باعلی صوته لم یسمعه من العامر وفی ظاهر الروایة لیس بشرط حتی ان بحرا من البلدة وعلی قیاس روایة ابی یوسف رحمه الله تعالی وقول الطحاوی رحمه الله تعالی لاتكون والصحیح جواب ظاهر الروایة لان الموات اسم لما لاینتفع به فاذا لم یكن ملكا لاحد ولاحقا خاصا لم یكن منتفعا به كان بعیدا عن البلدة اوقریبا منها (بدائع ص۱۹۴ ج۶)

وقال فی الهندیة: فالارض الموات هی ارض خارج البلدلم تكن ملكا لاحد ولاحقاله خاصا فلایكون

داخل البلد موات اصلا وكذا ما كان خارج البلدة من مرافقها محتطبا لاهلها ومرعى لهم لا يكون مواتا حتى
لا يملك الامام اقطاعها وكذلك ارض الملح والقار ونحوها مما لا يستغنى عنها المسلمون ارض موات حتى
لا يجوز للامام ان يقطعها لاحد (عالمگیریه ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم. ١٠ شوال سنه ٩٨ هـ

په مباح الاصل ځمکه کښې تعمیر کول

سوال زمونږ دکورونو ګیرچاپیره کافی ځمکه خالی ده چې دچا دکور شاوخوا وی نو هغه پکښې تعمیر وغیره کوی اوعرف هم همدا دې چې په دې کښې دهمده حق دې. اوس پوښتنه داده چې آیا په دغه ځمکه کښې دټولو کلیوالو حق دې اوکه صرف ددغه شخص حق دې چې دچا دکور شاوخوا دا ځمکه ده؟

تاسو فتوی ورکړې ده چې دحکومت په اجازت سره یې تعمیر کولې شی عرض دادې چې دا حکم خو د ارض موات منجر ځمکې دې او ارض موات غالبا هغه وی چې له ښار څخه بهر وی. په داسې حال کښې چې دا ځمکه په کلی کښې دکورنو په خواو شا کښې ده، او یا په نږدې اطرافو کښې ده نو دا ځمکه به څنګه په ارض موات کښې داخله شی؟ مهربانی وکړئ مدلل او له حوالې سره جواب راکړئ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دا ځمکه اګر چه موات ندې مګر په دې کښې تصرف کول دخلاف قانون کیدلو له وجې دحکومت په اجازه پورې موقوف دی. والله سبحانه وتعالى اعلم
٤ ربیع الثانی سنه ١٣٩٩ هـ

د ذمی احیاء مثبت دملک دې

سوال که چیرته ذمی دحکومت په اجازه شاړه ځمکه آباده کړی آیا دهغې مالک جوړیدې شی اوکه نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب هو ' مالك جوړيدلې شی

قال العلامة التمرتاشي رحمه الله تعالى: اذا احيى مسلم او ذمي ارضا غير منتفع بها وليست مملوكة لمسلم ولا ذمي (الى قوله) ملكها ان اذن له الامام في ذلك وقالا يملكها بلا اذنه وهذا لو مسلما فلو ذميا شرط الاذن اتفاقا (رد المحتار ص ج) والله سبحانه وتعالى اعلم. ٢٦ رمضان سنه ١٤٠٠ هـ

دحکومتی شاړی ځمکې اجاره کول مثبت دملک نشی کیدې

سوال یو مسلمان یا ذمی ته د پاکستان حکومت په سنه ١٩٢٨ ع کښې یوه قطعه شاړه ځمکه په دې شرط ورکړه چې د اوبو وغیره انتظام به یې په خپله کوی او آبادوی به یې ترلسو کالو پورې

به داخمکه کړي. اوپه دغه دوران کې [illegible]ومت ته مقرر شې ورکوي. لس کاله پس به دا خمکه حکومت ته واپس ورکوي. ذکر شوی شخص دیر پیسې مصرف کړې. تیوب ویل ئې ولګاوه او خمکه یې آباده کړه آیا داشخص دارض موات د آبادلو په وجه ددې خمکنې مالك جوړیدې شی او که نه؟ او همدارنګه لس کاله پس دخمکې دبیرته ورکولو شرط شرعا صحیح دې اوکه نه؟آیا شرعا حکومت ته داحق شته چې له ده څخه آباده کړې خمکه یادهغې څه حصه بیرته واخلی؟بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دا د اجارې صورت دې. لهذا آبادونکې ددې خمکې مالك نه ګرځی مګر غیر آباده خمکه د آبادولو په شرط په تیکه ورکول فاسده اجاره ده چې دهغې حکم دادې چې حکومت دکرل شوې خمکې اجر مثل او اجر مقرر نه اقل اخستی شی.

قال الحصکفی رحمه الله تعالی: تفسد الاجارة بالشروط المخالفة لمقتضی العقد (الی قوله) وکشرط طعام عبدو علف دابة ومرمة الدار الخ (ردالمحتار ص۳۲ج۵)

وقال: اوارضا بشرط ان یثنیها ای یحرثها اویکری انهارها العظام اویسرقنها لبقاء اثر هذه الافعال لرب الارض فلولم تبق لم تفسد

ونقل ابن عابدین رحمه الله تعالی عن المنح تحت (قوله بشرط ان یثنیها) فان کان اثره یبقی بعد انتهاء العقد یفسد لان فیه منفعة لرب الارض والافلا اه (ردالمحتار ص۱۳ج۵)

وقال الحصکفی: واعلم ان الاجر لایلزم بالعقد فلایجب تسلیمه به (الی قوله اوالاستیفاء للمنفعة اوتمکنه منه (الی قوله) فیجب الاجر لدار قبضت ولم تسکن لوجود تمکنه من الانتفاع وهذا اذا کانت الاجارة صحیحة اما فی الفاسدة فلایجب الاجر الابحقیقة الانتفاع الخ (ردالمحتار ص۷ج۵)

وقال ایضا: وتفسد بجهالة المسمی کله اوبعضه کتسمیة ثوب اودابة اومائة درهم علی ان یرمها المستاجر لصیرورة المرمة من الاجرة فیصیر الاجر مجهولا وتفسد بعدم التسمیة (الی قوله) لابالتمکین بل باستیفاء المنفعة حقیقة کما مر بالغامابلغ لعدم مایرجع الیه (الی ان قال) والا تفسد بهما بل بالشروط او الشیوع مع العلم بالمسمی لم یزد اجر المثل علی المسمی لرضاهما به وینقص عنه لفساد التسمیة الخ (رد المحتار ص۳۳ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۶ رمضان سنه ۱۴۰۰ هـ

فصل فی الشرب

په چینه کښې ټول خلق شریک دی

سوال یو سړی قدرتي چینه ده چې له هغې څخه ټول خلق استفاده کوي اوس دکلي یو سړی دچینې سره خوا کښې ټینکۍ (داوبو ذخیره) جوړه کړیده چې په هغې کښې دچینې اوبه جمع کیږي او په هغې صرف دا سړی خپله خمکه اوبه کوي. اونور ټول خلك محروم شوي دي. نو آیا دده دغه کار جائز دي اوکه ناجائز؟ دا قدرتي چینه دپلار او نیکه نه مشترکه ده په دې کښې دچا خاص حق نه کیل کیده. ټولو خلکو به بلاتخصیص ترینه استفاده کوله. اوس دغه سړي دنورو له رضا څخه پرته؛ چینې په ټولو اوبو قبضه کړیده بینوا توجروا۔

الجواب باسم ملهم الصواب په قدرتي چینه کښې دټولو خلکو حق دي دخپلې فائدې لپاره ټینکۍ جوړول اونورخلك ترینه محروم کول ناجائز دی۔

قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: المسلمون شرکاء فی ثلاث فی الماء والکلاء والنار.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله فی کل ماء لم یحرز) اعلم ان المیاه اربعة انواع الاول ماء البحار ولکل احدفیها حق الشفة و سقی الاراضی فلا یمنع من الانتفاع علی ای وجه شاء والثانی ماء الاودیة العظام کسیحون وللناس فیه حق الشفة مطلقاً وحق سقی سقی الاراضی ان لم یضر بالعامة (رد المحتار ص ۲۸۰ ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۱ صفر سنہ ۹۶ھ

په نلکه (پایپ) کښې داوبو په راتلو سره ملکیت ثابتیږي

سوال یو سړی له قدرتي چینې څخه نلکه راوستلې ده او اوبه یې پکښې راوستي دی له دې څخه یې جمات ته هم اوبه ورکولې بیایې دخه لمونځ کوونکو سره اختلاف راغي نو په جماعت خانه یې اوبه بندې کړې او وي ویل چې دا فسادگر خلك به زمانه روسته زما اولاد په تنګ (تکلیف) کړي آیا دا جائز دي اوکه نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دده په نلکه کښې د اوبو راتللو سره هغه ددې اوبو مالك وګرځیده لهذا له هغه سره د اوبو بندولو اختیار شته دې. مګر له جماعت څخه اوبه بندول خلاف دمروت غیرت دي، البته براه راست له چینې څخه داوبو اخستل دهر چاحق دې دهغو دمنع کولو هیڅا سره هم اختیار نشته . والله سبحانه وتعالی اعلم ۷ ربیع الاول سنہ ۱۳۹۶ھ

په کرځای کښې دهرچاحق دې

په متفرقات الحظر والاباحه کښې دامسئله تیره شوی ده

بیع الشرب (دپټی اوبه کولو د نوبت خرڅول)

سوال دشدید ضرورت په وخت کښې بیع الشرب جائزدې اوکه نه؟ همدارنگه شرب په اجاره ورکول هبه کول، عاریت باندی ورکول جائزدی اوکه نه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: په دې ټولو معاملاتوکښې په ظاهر الروایة کښې عدم جواز دې بعضې مشائخ دجواز قائل دی، په وخت دسخت ضرورت کښې دهغوئ دقول په غوره کولو کښې گنجائش شته

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: وكذا بيع الشرب وظاهر الرواية فسادة الاتبعا خانية وشرح وهبانية وسنحققه فی احياء الموات.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالی: (قوله وكذا بيع الشرب) ای فانه يجوز تبعا للارض بالاجماع ووحده فی رواية وهو اختيار مشائخ بلخ لانه نصيب من الماء درر ومحل الاتفاق ما اذا كان شرب تلك الارض فلو شرب غيرها ففيه اختلاف المشائخ كما فی الفتح والنهر.

(قوله وسنحققه فی احياء الموات) حيث قال هو والمصنف هناك ولا يباع الشرب ولا يوهب ولا يؤجر ولا يتصدق به لانه ليس بمال متقوم فی ظاهر الرواية وعليه الفتوی ثم نقل عن شرح الوهبانية ان بعضهم جوز بيعه ثم قال ويفتی الحكم بصحة بيعه اه (رد المحتار ص۱۱۸ ج۴) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۲ ربیع الاول سنه ۱۴۰۱ هـ

دشرب (دځمکې داوبو د نوبت) حصه بلې ځمکې ته منتقل کول

سوال څه فرمایی علماء ددین مبین په دې مسئله کښې چې یو قناة له لسو نه ترپنځلسو پورې دنفرو ترمینځ شریك دې چې دهر شخص سهم مشخص دې حتی چې دساعتونه په سرتقسیم دې او له اول نه تر آخره پورې چې کارشوې دې څوك چې صاحب دنیم ساعت وو دنیم ساعت پیسې یې ورکړی دی اوڅوك چې ددوه ساعته مالك وو هغه ددوه ساعته پیسې ورکړی دی، په داسې حال کښې چې د دوه ساعته دمالك ځمکه کمه ده او اوبه یې زیاتې دی او دا سړې نوره ځمکه هم لری چې اوبه یې له دغه لښتې څخه نه دی اوهغه ځمکه له بل ځای څخه هم اوبه نه لری آیا دا شخص کولې شی چې زیاتې اوبه په دغه ځمکه باندې مصرف کړی اوکه نه؟ اوشریکان مانع دی چې مونږ

زیاتې اوبه نه پریږدو چې دغه خمکې ته یې بوزي، آیا دوئ حق دمنع کولو لري اوکه نه؟ په فتاوی قاضیخان ، باب دشرب کښې په حاشیه د عالمگیری ص۲۰۷ ج ۱ کښې لیکلي چې:

ولو کان له سدس الماء من نهر بین قوم اوعشر الماء اواقل اوا کثر فاحل نصیبه من ذلك النهر کان له ان یسوق نصیبه الی حیث شاء من الارضین لان ذلك لیس بشرب لاحد معین انتهی.

اوپه هدایه ج۴ کتاب الشرب اوپه نورو کتابونو کښې لیکلي دي.

ولیس لاحد من الشرکاء فی النهر ان یسوق شربه الی ارض له اخری لیس لها شرب فی ذلك لانه اذا تقادم العهد یستدل به علی انه حقه انتهی.

اوپه فکر داحقر له عبارت دفتاوی قاضی خان ښخه فهم کیږي چې شریکان حق دمنع نلري اوله عبارت دنورو کتابونو ښخه معلومیږي چې حق دمنع لري نو توضیح ددې به ښنګه وی ؟ اومحمل ددغو عباراتو یودې اوکه نه فرق لري؟ عبارت دهدایې یومحمل لري او عبارت د قاضی خان بل محمل لري ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دلته دجواز اوعدم جواز مدار په ضرر دشرکاؤ حالی یا مآلی (آینده) دې چې په هغه دوئ راضی نه دی که په تقسیم داوبو کښې خمکه په کومه درجه کښې هم ملحوظ شوې وی لکه چې دا عرف عام دې نو خارجی خمکې ته اوبه بیول جائزندی ولوکان الماء مقسما بالایام، ځکه چې که خارجی خمکه له نهر ښخه ډیره تیته وی نو زیاتې اوبه جذبوی چې له دې وجې نه شریکان متضرر کیدل یقینی دی، علاوه له دې نه دتقادم دعهد په صورت کښې ددعوې دشرکت هم احتمال شته کما فی الهدایه، اوکه دا صورت حال د کومې داخلی خمکې وی نو په اذن دشرکاؤ هیڅ حرج نشته او دغیر شریك ددعوې شرکت هم احتمال نشته اوکه دتقسیم په وخت کښې خمکه بالکل نظر انداز شوې وی نو هر شریك کولې شی چې خپله معلومه حصه چې چیرته مصرفوی مصرف کولې یې شی دجزئی دخانیه دا محمل دې، فانهم رضوا بالضرر المذکور.

په پاکستان کښې په حکومتی اوغیرحکومتی عرف کښې د دویم شق هیڅ وجود نشته په هر حال به نهری اوبوکښې خمکې ملحوظ کولې بلکه مخصوص کولې شی. البته په غیر حکومتی عرف کښې کوم شریك خپله حصه کله کله خارجی خمکې ته هم بیولې شی اوکه شریکانو ته ضرر نه وی نو ددې تحمل کولې شی، په سرکاری قانون کښې په هر حال دا یو جرم دې . والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۹ شعبان سنه ۱۴۱۲هـ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ ﴿٨٨﴾﴾

حريم القناة (دكاريز حريم يا حدود)

* **دحريم القناة په مقام اومقدار كښې تحقيق**
* **دفقهاء كرامو رحمهم الله دمختلفو عباراتو تطبيق**

* * * * * * *
* * * * * *
* * * * *

حريم قناة

* دقناة دحريم مقام
* دقناة دحريم مقدار
* اول جواب
* دوم جواب
* دريم جواب تصويب
* التحقيق المزيد

دقناة (کاریز) دحریم ابتداء

سوال دقناة (کاریز) دحریم حد له کوم ځای څخه شروع کیږی ؟ آیا له هغه ځایه چی اوبه را وبهیږی یا له هغه ځایه چی اوبه حرکت کوی ؟
په دې باره کښې دفقهاء کرامو داقوال مختلفه و ترمینځ دتطبیق یا ترجیح صورت څه دې؟
مفصل جواب راکړئ. شکرا
ددې استفتاء په بارکښې درې ځله دارالعلوم کراچی ته رجوع وشوه لیکن تشفی ونه شوه. لهذا ستاسې دواړه جوابونه ستاسې په خدمت کښې وړاندې کیږی په هغوکښې غور وکړئ اوفیصله وفرمایئ. ډیره مهربانی به مو وی

الجواب ومنه الصدق والصواب

اول جواب دفقهاء کرامو دتصریح مطابق دقناة درې حصې معلومیږی

۱. دقناة هغه پورتنې مقام چی په هغې کښې اوبه وی

۲. دقناة هغه لاندې مقام چی له هغې نه اوبه تیریږی

۳. د قناة هغه مقام چی له هغه ځایه اوبه راوځی او دځمکې سطحې ته راکوزیږی

داولنئ حصې په باره کښې دعالمګیری عبارت په ص ۳۸۸ ج ۵ کښې دادې

قال [illegible] الكتاب القناة بمنزلة البئر فلها من الحريم ما للبئر

یعنی کاریز په منزله دکوهی دې لهذا دقناة حریم به هم هغه وی کوم چی دکوهی دې یعنی څلویښت شرعی ګزه او ددویمې حصې متعلق دعالمګیری عبارت دادې

اما الموضع الذي لا يقع الماء على الارض القناة بمنزلة النهر الا انه يجري تحت الارض

یعنی هغه مقام چی هلته اوبه په ځمکه کښې دننه تیریږی هغه په منزله دنهر دې او هغه حریم دنهر دحریم په شان دې او د دریمې حصې متعلق دعالمګیری عبارت دادې

القناة في المواضع التي يظهر الماء منه على وجه الارض بمنزلة العين الفوارة فيكون لها من الحريم مثل ما للعين خمسمائة ذراع بالاجماع

یعنی دقناة هغه حصه له کوم ځایه چی اوبه راوزی اودځمکې سطحې ته راځی هغه دچینې په حکم کښې ده او دچینې حریم پنځه سوه شرعی ګزه دې

ومثله [illegible] على هامش الهندية ص ۲۰۱ ج [illegible]

پورته ذکر شوی تفصیل په رڼا کښې دقناة په باره کښې دفقهاء کرامو ترمینځ کوم حقیقی خلاف نشته والله تعالی اعلم

په ذکر شوی جواب [illegible] ی اشکالات

د استفتاء جواب راورسیده لیکن تراوسه پورې په نظر د احقر مسئله قابل دتحلیل اوزیات توضیح ده په داسې صورت کښې چې تاسو جناب عالی د کاریز حریم له خای دراوتلو داوبو له کاریز ځخه ثابت کړې دې او له اصل منبع نه مونه دې ثابت کړې، اوس څو اشکالونه واریدیږی چې دهغې حل ستاسې په ذمه لازم دې

اول: داچې مسئله دقناة په اتفاق دائمه کرامو منصوص شرعی نده بلکه قیاسی ده

کما قال فی البنایه شرح الهدایة وقال فی الشامل القناة لها حریم مفوض الی رای الامام لانه لانص فی الشرع (ص۲۰۴جلد۴)

پس کله چې دامسئله قیاسی شوه نو له دوه حالتونو ځخه خالی نده: یابه په کوهی قیاسیږی او یا به په چینه باندې چې منصوص دی.

که په کوهی قیاس شی نو علت مشترکه چې شرط دقیاس دې په مینځ ددواړو مسئلو کښې نه لیدل کیږی ځکه چې کوهی یوځای ژور کندل کیږی او اوبه یی ولاړې وی اوقطره قطره راځی په شان دفوارې، حرکت نه کوی اونه روانیږی اولښتې (ویاله) هم نه لری، په خلاف دقناة چې که له لاندې قطع کړې شی او یا یی سرلوځ کړې شی په دواړه حالاتوکښې یی اوبه جاری وی، په شان دفواری له منبع نه حرکت کوی نه له ځای دبهر وتلو فصل ته اولښتی وغیره تشریفات لری.

البته که چیرته داپه چینه قیاس کړو لکه ځنګه چې مشائخو کړې دې، علت مشترکه لیدل کیږی لیکن په دې صورت کښې باید مقتضای قیاس دمشایخو دا شی چې حریم دقناة له منبع اوبنګاه نه ونیول شی نه له ځای د وتلو د اوبو نه فصلونو ته، ځکه چې په اتفاق د ائمه رحمهم الله تعالی حریم دچینې له منبع ځخه دې نه له حوض اوانتها دلښتی دهغه نه، اوکه داسې ونه شی نو قیاس مع الفارق راځی کما فی صورة الاولی.

دوم که مونږ قناة په دریو حصوتقسیم کړو په اوله حصه کښې دا اشکال راځی چې دکوهی اوبه ترل شوې او ولاړې دی او په شان دفوارې ندی په خلاف دقناة.

او په دریمه حصه کښې دا اشکال راځی چې هلته په حقیقت کښې اول اوبه دځمکې له لاندې ځخه نه راوزی بلکه دقناة له سرپوښ ځخه لاندې راوزی په شان دفوارې. دلته هم موصوف نه ګرځی په خلاف دچینې چې حقیقتاً له ځمکې راوزی اوپه شان دفوارې ده. علت په دې وخت کښې هم مقصود ګرځی

دریم حریم باید یو معین حد وی که چیرته دقناة حریم د اوبو د راوتلو ځای له سرپوښ دګرځ ځخه شی نونه معین کیږی ځکه چې په وخت دکمیدلو د اوبو کښې قناة زیات ژوریږی هغه سرپوښ

شوي کاريز تيتيږی په يوه حالت نه پاته کيږی پس بايد هر کال نوې خای ورته حريم وګرځی
ځلورم: قناة چی کله کيندل کيږی مبادی يی له خولې څخه چی داوبو دراوتلو ځای دې په مزارعو شروع کيږی او آخری منبع ته رسيږی اوتماميږی، په مينځ ددې مسير کښې ډير کوهيان لپاره دکندلو دلښتی دقناة کندل شوی وی اوخلاصيږی اوقول دامام محمد محمول په همدغو کوهيانو دې چی منبع ته ندی رسيدلی چی هريو د دغوحکم دڅاه لری اوکله چی آخر او منبع لره ورسيږی نو مشائخ رحمهم الله په قول د امام محمد باندې دا اضافه کړيده چې په هغه وقت کښې حکم دچينې لری، اوظاهره ده چی په پای اومبادی کښې ندی بلکه په غايت اومنبع کښې دی اوامام اعظم هم همدارنګه فرمايلی دی لکه چی دقاضيخان په عبارت کښې تصريح ده.

واما عند ابی حنيفة رحمه الله تعالی اذا فعل ذلك باذن الامام يستحق الحريم للموضع الذی يقع الماء فيه علی وجه الارض (الی ان قال) والقناة الی ان يقع الماء علی وجه الارض بمنزلة النهر الا ان فی القناة يجری الماء تحت الارض واذا وقع الماء علی وجه الارض يصير ذلك الموضع بمنزلة العين لان فی العين يخرج الماء من الارض ويسيل علی وجه الارض (ص۲۲۰ برحاشيه هنديه بيروتی)

پنځم: هغه الفاظ چی فقهای کرامورحمهم الله په دغه مورد کښې استعمال کړی دی هغه دادی يظهر علی وجه الارض يقع الماء علی وجه الارض، يقع الماء فيه علی وجه الارض، يسلح علی وجه الارض، سلح علی وجه الارض.

دا وجه الارض هغه ځمکه ده په نظر داحقر چی په منبع اوبنګاه داوبو کښې ده نه هغه ځمکه چی ځای د راوتلو داوبو دې مزارع ته، په دې لاندې قرائنو باندې:
قناة داوبو مجری ته ويل کيږی چی لاندې له سرپوښ څخه وی اوهغه مختلف فيه دې په مينځ دامام صاحب اوامام محمد يا صاحبينو کښې چی امام صاحب هغه په شان دنهر ګرځولی اوحريم يی ندې ورکړې، مګر په شان دنهر او امام محمد يا صاحبينو هغه يعنی خوله دکاريزيی په منزله دکوهی ګرځولې اوکه نه نو په هغه ځای کښې چی منبع د اوبو د راوتلوده په نزد دامام صاحب په منزله دچينې ده کما فی البحر (ج۸ص۲۳۱ وفتح القدير وهدايه ج۸ص۱۳۲)

همدارنګه په هنديه کښې: القناة فی الموضع الذی يظهر الماء منه علی وجه الارض بمنزلة العين الفوارة

او دا موضع هماغه منبع اوبنګاه ده په ظاهر کښې نه بل څه. همدارنګه له پورته ذکرشوی دليل دقاضی خان نه ښکاره ده چی ويلی يی دی: لان فی العين يخرج الماء من الارض ويسيل علی وجه الارض.

پس معلومه شوه چې دقناة حریم هماغه ځای دی چې اوبه دځمکې دلاندې نه دځمکې سرته راځي نه هغه ځای چې اوبه له سرپوښ څخه راوځي.

اوهمدارنګه له عبارت دکتاب الخراج څخه واضح دی چې **قال ابویوسف رحمه الله تعالی واجعل للقناة من الحریم مالم یسلح علی وجه الارض مثل ما اجعل للابار فاذا ظهر الماء وسلح علی وجه الارض جعلت حرمه کحریم النهر بدایة (ص۲۰۳ج۴)**

یعنی ترهغه وخته پورې چې دکاریز اوبه په منبع کښې ولاړې وي اوجریان نه کوي حکم دهغې په مثل دحریم د کوهی دی اوکله چې اوبه په مسیل دقناة کښې روانې شي تر آخره پورې حکم دهغې په مثل دلښتې وي. معلومه شوه چې مسئله مختلف فیها په مابین دامام اوصاحبینو کښې همدغه مسیل اولښتې دی تر آخره پورې.

شپږم: خلاصه دعلتونو چې له نصوصو څخه په مورد دحریم کښې معلومیږي دوه شیان دي یو دفع دمضرت اودویم جلب دمنفعت

اول علت په مالك او اوبو کښې مشترك دی. دویم فقط ترمالك پورې محدود دی، یعنی له نصوصو څخه معلومیږي چې علت دحریم دادی چې له حافر اول نه ضرر دنقص یا د اوبو دفناء کیدو لرې کړې شي اوله هغه څخه منع دتصرف له حریم نه هم جلوګیري وشي اوس ظاهره خبره ده چې که حریم له ځای دوتلو داوبو له سرپوښ څخه شي اوپنځه سوه ګزه لرې دده ملکیت ورباندې قرار ونیسي فقط ده ته نفع دملك رسیږي . او دفع دضرر له اوبونه چې اصل علت دی نه لرې کیږي. څکه که چیرې دلته څوك لرې یا نژدې یوبل کاریز وباسي نوچونکه منبع د اوبو ډیره لرې ده نوهیڅ اثر نه لري.

اوکه چیرې حریم له منبع څخه مقرر کړې شي نو ضرر د قناة له اوبو او له صاحب د قناة دواړو نه لرې کیږي او انتفاع د ملك په دې حدودو کښې هم مالك ته پاتې کیږي، برابره خبره ده که هغه په واسطه د اوبو د قناة وي یا په واسطه د بوکې (دلو) وغیره وي . د قناة د څاه له خولې نه کولې شي چې په دحدودو د پنځه سوه ګزه کښې ملکًا استفاده وکړي. او دفع د ضرر هم له جلب منفعت څخه وي، نو مقتضی ددغو علتونو اوقواعدوهم همداده چې حریم له منبع اوبنګاه څخه وي نه له ځای دبهر راوتلو داوبو له سرپوښ دقناة څخه.

خلاصه داچې لطفًا دې اشکال لره په تدبر تام سره نظر وکړئ اولغ شافي جواب څخه مومستفید وګرځوئ اوله نورو مفتیانو ددغه ځای څخه هم مشوره وغواړئ

دویم جواب

الجواب ومنه الصدق والصواب دمنبع اوبنګاه متعلق چې تاسو کوم څه ویلی دی چې ،ددې په

کوهی قیاس کول نه دی صحیح، دا خبره صحیح ده ځکه چی دعالمګیری داعبارت : قال محمد رحمه الله تعالیٰ فی الکتاب القناة بمنزلة البیر فلها من الحریم ما للبیر.

دا د قناة دلاندینی حصې متعلق دې چی له کوم ځای ځخه اوبه تیریږی. او دمنبع متعلق ندې لکه چی صاحب د درمختار په دې مسئله کښې دامام اعظم اختلاف هم نقل کړی دې. ظاهره ده چی اختلاف د امام صاحب اوصاحبینو په منبع کښې دقناة په دا لاندی حصه کښې دې چی له کوم ځای ځخه اوبه تیریږی.

کما فی الدر المختار (وللقناة) هی مجری الماء تحت الارض (حریم بقدر ما یصلحه) لالقاء الطین ونحوه وعن محمد رحمه الله تعالیٰ کالبیر.

وفی الشامیة تحت (قوله وعن محمد رحمه الله تعالیٰ کالبیر) قال الاتقانی قال المشائخ الذی فی الاصل ای من ان القناة کالبیر قولهما وعنده لا حریم له لانها بمنزلة النهر مالم یظهر ماؤها علی وجه الارض ولا حریم للنهر عنده فان ظهر کالعین الفوارة فحریمها خمسمائة ذراع (ص۲۰۹ج۵)

پس د دارالعلوم په سابقه فتوی کښې چی دقناة حریم دکوهی دحریم په شان لیکل شوې وو له هغه ځخه رجوع کیږی. البته تاسو چی دا لیکلی دی چی د دریمې حصې (یعنی کوم ځای چی اوبه دځمکې سرته ظاهریږی په صورت دقیاس په چینه باندې علت مشترکه نه پیدا کیږی) داصحیح ندی ځکه چی په چینه کښې دوه شیان موندل کیږی.

۱ــــ خروج الماء من الارض.

۲ــــ سیلان الماء علی وجه الارض.

لکه چی دقاضی خان له عبارت ځخه ظاهر دی

والقناة الی ان یقع الماء علی وجه الارض بمنزلة النهر الا ان فی القناة یجری الماء تحت الارض فاذا وقع علی وجه الارض یصیر ذلك الموضع بمنزلة العین لان فی العین یخرج الماء من الارض ویسیل علی وجه الارض.

(الخانیة علی الهندیة ص۲۲۰ج۳)

ددریمې حصې دقیاس کولو لپاره په چینه باندې دا ضروری نده چی په دې کښې د ځمکې له داخل نه اوبه را وه وځی.د قناة په ذریعه دلته نه وی راغلې.ځکه چې په دې صورت کښې خو بیا دغه عین چینه شوه بیا خوبی په چینه باندې دقیاس کولو سوال هم نه پیدا کیږی دچشمې حریم په اتفاق دائمه کرامو له منبع ځخه شمیرل کیږی له حوض ځخه نه شمیرل کیږی او دا توقیفی دی.

کما فی الهدایة : وان کانت عینا فحریمها خمس مائة ذراع لما روینا وهو قوله علیه السلام حریم العین

خمس مائة ذراع (الى ان قال) والتقدير بخمسمائة للطول (ج ص۲۸)

مگردلته بحث دچینې نه دي بلکه دقناة د دریمې حصې متعلق دي، دا دریمه حصه په چینه قیاس شوي ده، دقناة حریم له دریمې حصی څخه دمقررولو په صورت کښې که حریم هرکال بدلیږی نوپه هغه کښې څه حرج دی؟ لکه څنګه چی چینه که یوځای بنده شی له بل ځای څخه راووزی نو په اتفاق دائمه کرامو له دې بل ځای څخه د چینې حریم شمیرل کیږی، هغه الفاظ چی فقهاء کرام یی ددې مسئلې لپاره استعمالوی لکه

یظهر علی وجه الارض

یقع الماء علی وجه الارض

یقع الماء فیه علی وجه الارض

یسنح علی وجه الارض

سنح علی وجه الارض.

له هغو څخه مراد هغه مقام دې چی اوبه له هغه ځای څخه راځی او د ځمکښې په سطحه ظاهریږی، یعنی دقناة آخری حصه منبع اوبنګاه مراد ندی لکه چی دفقهې دکتابونو عبارتونه په هغې باندې صراحتاً دلالت کوی کما فی الخانیه : والقناة الی ان یقع الماء علی وجه الارض بمنزلة النهر الا ان فی القناة یجری الماء تحت الارض فاذا وقع علی وجه الارض یصیر ذلك الموضع بمنزلة العین (الخانیة علی الهندیة ص۲۱۹ ج۳)

دقاضیخان په عبارت کښې یی له دریمې څخه په وراندینۍ حصې باندی دنهر اطلاق کړې دې ظاهره ده چی (وقع الماء علی وجه الارض) نه اولنی حصه (یعنی دقناة هغه پورتنی حصه چی په هغې کښې اوبه وی) مراد نشی کیدې څکه چی له هغې څخه مخکښې کوم نهر نه وی.

صاحب دغایة الاوطار د درمختار دعبارت (ولو ظهرالماء فکالعین) ترجمه کړې ده (یعنی دکاریز اوبه چی پورتنی حصه دځمکې خیرې کړی اوظاهرې شی نو دهغې حکم دچینې په شان دې یعنی پنځه سوه گزه به دهغې حریم وی ص۲۵۴ ج۴

له دې څخه داهم ظاهریږی چی له (ظهور الماء علی وجه الارض) دریمه حصه مراد دې منبع اوبنګاه مراد نه ده.

صاحب دعین الهدایه دهدایې دعبارت (قالوا وعند ظهور الماء هو بمنزلة عین فوارة) ترجمه کړې ده چی هغه دادې (مشائخو فرمایلی دی کله چی دهغه اوبه په ځمکه باندې ظاهرې شی نو هغه په

منزله دجوش وهونکې چينه ده) يعنی پنځه سوه ګزه حريم دې ورته مقررکړې شی ص ۳۷۳ ج ۴.
له دې ځخه هم همدغه معلوميږی چی ظهور الماء علی وجه الارض نه هغه مقام مراد دې په کوم
ځای کښې اوبه دځمکې په سطح ظاهريږی. والله اعلم وعلمه اتم واکمل.

په دويم ځواب باندی دمستفتی اشکال

دويم ځواب دقناة په موضوع باندې را ورسيده اويو څه تشفی وشوه ليکن اوس هم يو اشکال
باقی پاتې دې او هغه داچی تاسو حضراتو دقناة حريم له کوم ځای څخه چی اوبه دځمکې سطحې
ته راوځی مقرر کړې او د فقهاء کرامو عبارات مو په هغه چسپان کړی دی.

په دی اشکال دادې چی آيا قناة ته له منبع اوبنګاه ځخه هم يوبل حريم ورکول کيږی اوکه نه؟ که
ورکول کيږی نو څومره ؟ لکه دکوهی حيرم اوکه لکه دچينی حريم ؟ اوکه نه ورکول کيږی
نوستاسې ددې عبارت څه معنی ده ؟

(په دې صورت کښې خو هغه عين چشمه شوه دهغې دقياس کولو په چشمې باندی سوال هم نه
پيداکيږی.) اوکوم نصوص چی دچينې يا دکوهی دحريم په باره کښې راغلی په کومه وجه منبع له
هغې ځخه اودهغو له عام مصداق ځخه خارج ګرځول کيږی؟ سره ددې چی علت داستحقاق دحريم
په اتفاق دفقهای کرامو يوحاجت دې په دوو طريقو سره.

اول دفع دحاجت له صاحب دمنبع (چينه) اوکوهی څخه. دويم دفع دضرر له اوبو دصاحب دحريم
څخه دغه دويم حاجت فقهای کرامو اصل علت ګرځولې دې اوقياس هم همدا غواړی ځکه چی
ټولې استفادې دصاحب چشمه ياکوهی د اوبو په وجود پورې موقوفې دی که اوبه نه وی نو هغه به
څنګه استفاده وکړی.

اودا هم بالکل مشاهده ده چی که بل څوك ددې ځای ګيرچاپيره کوم ځای چی اوبه دځمکې
سطحې ته راوځی په ځمکه غور څيږی دپنځه سوه نه په کمه فاصله کښې بلکه په شلو يا ديرشو
ګزوکښې دننه دننه بل کوهی يا چينه وکندی اول قناة ته هيڅ نقصان نه رسيږی دا بالکل مشاهده
ده، زه خپله په دوه قناته کښې شريك اوصاحب دحال اوصاحب البيت يم.

اوصاحب دځمکې ته هم هيڅ ضررنه رسيږی.

ځکه چی کله اوبه دقناة دځمکې سطحی ته راوزی اکثر اواغلب پنځه سوه ګزه کښې دننه
دځمکې دټيټ والی اوجګوالی په وجه قابل داستفادې نه وی، بلکه اکثر اواغلب چی کوم قناتونه
زمونږ په ملك کښې دی، زرګزه يا کم ازکم اوه سوه ګزه نه پورته قابل داستفادې وی، نو دپنځه
سوه ګزه دحريم ورکولو سره دصاحب د ځمکې حاجت ته او يا له دفع دضرر نه له هغه ځخه هغه ته
څه فائده رسيږی اودنص اوقياس څه نتيجه راووتله؟

البته دا بالکل مشاهده ده که دمنبع اوبنګاه دقناة سره ګیرچاپیره فواره وار په خمکه کښې راخوټیږی که بل خوك دهغې په پنځه سوه ګزه کښې ګیرچاپیره یا ددې نه کم بل قناة اول بالکل وچ شی اوناقابل داستفادې شی اودصاحب اول تولې استفادی اوسرمایه بیکاره شی بلکه د نن سبا د آلاتو اوماشینونو په دور کښې که په اوه سوه ګزه یا زرګزه فاصله کښې یوماشین ولګول شی نو اول قناة وچیږی لهذا د احقر په نظر دواړه خایه قناة ته حریم ورکول ضروردی، اوکه نه نو بیالازم دی چی دمنبع اوبنګاه څخه حریم ورکول شی ترڅو چی جامع دعین اوقناة موافق شی. اواصل علت حاجت اودفع ضرر دماء په خپل حال وګرځی اومصداق دنصوص عامه برحال وګرځی اوس ستاسی حضراتو دتحقیق انتظار دې:

الجواب الثالث:

الجواب: حامداً ومصلیًا: دقناة متعلق دفقهاء کرامو په عبارتونو کښې اودهغوئ په ماخذونو کښې دغور کولو وروسته چې کومه خبره ذهن ته راځی هغه داده چی دقناة پورتنی حصه چی دکوم ځای نه اوبه راوتل شروع کیږی چی له هغې څخه په استفاده کښې په منبع اوبنګاه تعبیر شوې متعلق دهدایه په حاشیه کښې شارح المواقف نه نقل شوی چی دقناة دپورتنی حصې څخه څو پورې مسیل یعنی نهر نوی ویستل شوې ترهغه وخته پورې دا کوهی دې اوکله چی ترینه نهر وه ویستل شو نو هغه مقام په نهر کښې شاملیږی، لهذا دقناة لوړه حصه او د قناة لاندې حصه له کوم ځای نه چی اوبه تیریږی د دغو دواړو ځایونو حریم شرعا مقدر او متعین نه دې دزمکې سختی اونرمی ته اعتبار دې څومره چی حریم ته ضرورت وی هماغه اندازه به حریم وی لکه چی قاضی خان د قناة او مخرج ماء یعنی منبع لپاره حریم بقدر مایصلح مقرر کړخولې دې

همدارنګه دفقهاء کرامو په اکثر کتابونو کښې دقناة ددوه حصودحریم ذکر صراحتاً پیداکیږی

اول دقناة هغه حصه چی له هغه ځای څخه اوبه دځمکې سطحې ته ظاهریږی چی دهغې حریم فقهای کرامو دچینې حریم مقرر کړې دې

دویم دقناة هغه حصه چی دهغې اوبه په سطح دځمکې ظاهرې نه وی دهغې حریم فقهای کرامو دلښتی (نهر) حریم مقرر کړې دې. یعنی دځمکې سختی اونرمی ته اعتبار دې څومره چی ضرورت وی هماغه مقدار دهغې حریم وی

في حاشية الهداية: (قوله والقناة) قال الشارح المواقف ان الماء يجعل مسيل فهو النهر وان جعل فهو القناة ولسبته الى الابار كنسبة العيون السيالة الى الراكدة (ص ۴۸۲ ج ۴)

وفي الخانية على هامش الهندية: ولو حفر رجل قناة باذن الامام في مفازة فوساق الماء حتى اتى به ارضا فاحياها فانه يجعل للقناة ولمخرج ماءه حريما بقدر ما يصلح (ص ۲۲۰ ج ۳)

فقهاء کرامو چې د دريمې حصې دقناة حريم دچينې دحريم برابر مقرر کړې دې هغه صرف د دې مقصد لپاره نه دې چې که څوک دد ې حريم په دننه کښې بل قناة وباسي نو دهغه اوبونه به نقصان نه وي بلکه چې دکوم مقصد لپاره يې قناة ويستلې دې لکه کښت وغيره دهغې هم اعتبار کړې شوې او دچينې دحريم په اندازه ورته حريم فقهاء کرامو مقرر کړې دی

في الهداية: وان كانت عينا فحريمها خمسمائة ذراع لما روينا ولان الحاجة فيه الى زيادة مسافة لان العين تستخرج للزراعة فلابد من موضع يجرى فيه الماء ومن موضع يجمع فيه الماء ومن موضع يجرى فيه الى الزراعة (ج۴ص۴۰۸) والله سبحانه وتعالى اعلم.

الجواب باسم ملهم الصواب دريم خواب صحيح دې

التطبيق المزيد:

۱: قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى قال الاتقاني قال المشائخ الذي في الاصل اي من ان القناة كالبئر قولهما وعنده لا حريم لها لانها بمنزلة النهر مالم يظهر ماؤها على وجه الارض ولا حريم للنهر عنده فان ظهر كالعين الفوارة فحريمها خمسمائة ذراع (ردالمحتار ص۲۰۹ج۵)

له دې څخه معلوميږي چې عندالامام دقناة دځمکې دلاندينۍ حصې حريم نشته او عند الصاحبين دهغې حريم دکوهې دحريم په شان څلويښت ذراع دې مګر تحقيق دادې چې د امام صاحب په نزدهم دنهر حريم شته په دې کښې د امام اوصاحبينو په مابين کښې اختلاف نشته. بلکه بالاتفاق حريم شته

كما حرر الامام الحصكفي رحمه الله تعالى في بحث حريم النهر وقرره العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: فقياس الامام رحمه الله تعالى القناة على النهر مثبت لحريمها كحريمه عنده ولذا قال صاحب التنوير وشارحه العلائي رحمهما الله تعالى وللقناة هي مجرى الماء تحت الارض حريم بقدر مايصلحه لالقاء الطين ونحوه وعن محمد رحمه الله تعالى كالبئر (ردالمحتار ص۲۰۹ج۵)

۲- بئر عين فواره او د نهر دحريم دتحديد متعلق دحديثو او فقهي نصوص په حالات متوسطه مبني دي. لهذا د اختلاف احوالو نه حدود دحريم مختلف کيږي

قال في العلائية معزيا للقهستاني: وقيل والتقدير في بئر وعين بما ذكر في اراضيهم لصلابتها وفي اراضينا رخاوة فيزاد لئلا ينتقل الماء الى الثاني وعزاه للهداية وعزاه البرجندي للكافي والمحيط.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وفي التاترخانية عن ؟ ... ومن احتاج الى اكثر من ذلك يزيد

عليه وكان الاعتبار للحاجة لا للتقدير ولا يكون فى المسالة خلاف فى المعنى اهو نقل العلامع قاسم فى تصحيحه عن مختارات النوازل ان الصحيح اعتبار قدر الحاجة فى البئر من كل جانب

وفى التنوير: وللقناة حريم بقدر ما يصلحه.

وفى الشرح: لالقاء الطين ونحوه (الى قوله) وفى الاعتبار فوضه لراى الامام اى لو باذنه والا فلا شئ له ذكره البرجندى (رد المحتار ص۳۰۹ ج۵)

وفى الخانية: ولو حفر رجل قناة بغير اذن الامام فى مفازة وساق الماء حتى اتى به ارضا فاحياها فانه يجعل لقناته ولمخرج مائه حريما بقدر ما يصلح (خانية على هامش الهندية ج۳ ص۲۲۰)

۳ــعلامه حصكفى رحمه الله له برجندى نه د اذن امام شرط نقل كړي دي او د قناة بلااذن امام لپاره حريم نشته او امام قاضى خان فرمايى چى قناة بلا اذن امام لپاره هم حريم شته دى.

دا اختلاف په دې اختلاف باندې مبنى دې چى دامام صاحب په نيزد باندې په احياء الموات كښې اذن د امام شرط دې او د صاحبينو په نيزد شرط ندې د برجندى قول په قول د امام صاحب مبنى دې او دقاضى خان قول په قول دصاحبينو مبنى دې دا وجه دتوفيق بالكل ظاهره ده، سره ددې نه علامه ابن عابدين ددې تصريح هم كړې ده.

ونصه (قوله اى لو باذنه) اى لو كان الاحياء باذن الامام لانه شرط عند الامام والا فلا يملك ما احيا ولا يستحق له حريما (رد المحتار ص۳۱۰ ج۵) والله تعالى اعلم.

رشيد احمد ۲۳ جمادى الاخرة سنـــ۹ ۱۴۰ھـ

كتاب الاشربة

دچلم دڅښلو حكم

سوال چلم څښل څه حکم لری؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : علامه ابن عابدین دچلم اباحت ثابت کړې دې او دکراهت په قول یې رد کړې دې، دشامی خوجملې نقل کولې شی، زیات تفصیل اوپه اباحت دلائل اودفریق مخالف تردید دې په شامیه کتاب الاشربه کښې وکتلې شی.

وللعلامع الشيخ على الجهوري المالكي سالة في حله نقل فيها انه افتى بحله من يعتمد عليه من ائمة المذاهب الاربعة وللعبد الفقير عليه ايضا سيدنا العارف عبد الغني النابلسي رسالة سماها الصلح بين الاخوان في اباحة شرب الدخان وتعرض له في كثير من تأليفه الحسان واقام الطامة الكبرى على القائل بالحرمة اوبالكراهة فانهما حكمان شرعيان لابد لهما من دليل ولا دليل على ذلك فانه لم يثبت اسكاره ولا تفتيره ولا اضراره بل ثبت له منافع فهو داخل تحت قاعدة الاصل في الاشياء الاباحة وان ثبت له منافع فهو داخل تحت قاعدة الاصل في الاشياء الاباحة وان فرض اضراره للبعض لايلزم منه تحريمه على كل احد فان العسل يضر باصحاب الصفراء الغالبة وربما امرضهم مع انه شفاء بالنص القطعي وليس الاحتياط في الافتراء على الله تعالى باثبات الحرمة اوالكراهة اللذين لابد لهما من دليل بل في القول بالاباحة التي هي الاصل (ردالمحتار ص۲۹۶ ج۵)

مګر دا د بیکاره خلکو شیوه اوطریقه ده لهذا له دې څخه احتراز کول په کار دی، اوپه داسې طریقه استعمالول یې چې له خولې څخه بدبوی څی حرام دی ، والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۸ جمادی الاولی سنه ۱۳۷۲ھ

بنګ حرام دی

سوال یوشخص وایی چې په درمختار کښې دبنګو اباحت ذکر دې آیا دامسئله واقعی در مختار کښې شته . که وی نو څنګه مباح دی ؟ بینوا بیانا شافیا توجروا اجراوافیاً.

الجواب ومنه الصدق والصواب ، عن ام سلمة رضي الله تعالى عنها قالت نهى رسول الله صلى الله عليه وسلم عن كل مسكر ومفتر (ابوداود)

عن جابر رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم كل مسكر حرام ان على الله عهدا لمن

يشرب المسكرات (مسلم). عن ابن عمر رضي الله تعالى عنهما انه قال صلى الله عليه وسلم ما اسكر كثيره فقليله حرام (احمد وابن ماجه والدار قطني). قال الحافظ العيني رحمه الله تعالى في شرح الكنز: قال محمد والثلاثة رحمه الله تعالى كل ما اسكر كثيره فقليله حرام من اى نوع كان

کوم سړي چې وايي چې په درمختار کښې بنګ مباح ليکل شوی هغه مفتري او کذاب دې په درمختار کښې هم دبنګو حرمت په صراحتاً سره ذکر شوې دې. البته دبنګو په څښلو باندې دشرابو حد نشته بلکه تعزير دې لکه په متيازو اوغټو بولو څښونکو اوخوړونکو باندې حد نشته بلکه تعزير دې دبنګو هم بعينه همدا حکم دې.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ويحرم اكل البنج والحشيشة وهي ورق القنب والافيون لانه مفسد للعقل ويصد عن ذكر الله تعالى وعن الصلوة لكن دون حرمة الخمر فان اكل شيئا من ذلك لاحد عليه وان سكر منه بل يعزر بما دون الحد كذا في الجوهرة (ردالمحتار ص۲۹۵ ج۵)

په درمختار کښې دحلت قول خو څه کوې بلکه په هغه کښې بې دحلال ګڼونکې دکفر فتوى نقل کړې ده.

ونصه: ونقل عن الجامع وغيره ان من قال بحل البنج والحشيش فهو زنديق مبتدع بل قال نجم الدين الزاهدي انه يكفر ويباح قتله.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى تحت (قوله وهي ورق القنب) نقل ابن حجر عن بعض العلماء ان في اكل الحشيش مائة وعشرين مضرة دينية ودنيوية ونقل عن ابن تيمية ان من قال بحلها كفر قال واقره اهل مذهبه اهوسيأتي مثله عن ردا اه

وقال ايضا تحت (قوله بل قال نجم الدين الزاهدي) لكن رأيت في الزواجر لابن حجر ما نصه وحكى القرافي وابن تيمية الاجماع على تحريم الحشيشة قال ومن استحلها فقد كفر قال وانما لم يتكلم فيها الائمة الاربعة لانها لم تكن في زمنهم وانما ظهرت في اخر المائة السادسة واول المائة السابعة حين ظهرت دولة التتار اهبحروفه فليتامل (ردالمحتار ج۵ص۲۹۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۷ ربيع الاخر ۷۳هـ

دبنګو او الکحلو وغيره داحکامو تفصيل

سوال دبنګو استعمال اکلاً يا خارجاً جائز دې او که نه؟ او دهغې په شارب باندې حد شته او که نه؟ او د اسپرټو ،الکحل، استعمال څنګه دې؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دمسکراتو دوه قسمونه دي سيال او جامد. دسيالو دوه قسمونه

اول هغه چې دهغو په نجاست اوحرمت اتفاق دې دهغو بیا څلور قسمونه دی اول د انګورو خام شراب دویم دانګورو پاخه شراب دریم د رطب شراب څلورم دزبیبو شراب

۱. د دغو یوه قطره هم حرامه ده اګر چه له هغې څخه نشه نه وی. دهغو په دواء کښې استعمالول اکلا وخارجاً ممنوع دی. خواه په اصلی حالت وی یا په کوم قسم تصرف سره په بل هیئت کښې وګرځی

۲. هغه اشربه چې په هغو کښې اختلاف دې یعنی اشربه اربعه مذکوره نه علاوه باقی ټول اشربه دا دشیخینو په نزد ظاهر دی اوله مقدار مسکرنه کم بلا لهو په غرض د تداوی وغیره حلال دی د امام محمد په نزد نجس اوحرام دی. اګرکه قلیل وی بلا تداوی په غرض د لهو په اتفاق سره حرام دی اوپه قدر دمسکر بالاتفاق حد شته دې.

په دواګانو وغیره کښې استعمالیدونکی الکحل له انګوروا و کجورو (خرما) څخه نه جوړیږی ندې وجی نه دشیخینو دمذهب مطابق دهغو استعمال جائزدې.

د اصول فتوی له لحاظه قول دشیخینو ته ترجیح ورکول کیږی الا لعارض.

اګر چه فقهاء کرامو دفساد زمان دحکمت په بناء دامام محمد قول مفتی به ګرځولی مګر اوس دعموم بلوی اوضرورت تداوی په خاطر داصل مذهب مطابق دجواز فتوی ورکولې شی.

دجامد مسکر حکم

جامد مسکرات لکه افیون وغیره دومره مقدار چې نشه پیدا کوی یاپه هغه کښې شدید ضرر وی حرام دی. همدارنګه دنشې له مقدارنه کم صرف دلهو په طور استعمالول هم حرام دی. البته لږ مقدار چې حد دنشې نه کم وی ددواپه طور استعمالول جائزدی اودهغه پټې لګول هم صحیح دی.

دحد متعلق داتفصیل دی دانګور په کچه شرابو مطلقا حدشته مسکر وی اوکه نه وی له هغې څخه علاوه سیال مسکراتو کښې په مقدار مسکر باندې حدشته اوپه قلیل نشته په جامدو مسکراتو کښې په مقدار دسکر باندې هم حد نشته بلکه تعزیر دې.

قال فی الدر المنتقی: ویکرہ ای یحرم کما عبر فی النقایة شرب دردی الخمر ای عکرة والامتشاط لرجل للانتفاع به لان فیه اجزاء الخمر وقلیله ککثیرہ کما مرولکن لایحد شاربه عندنا الغلبة الثفل ولنفرة الطبة عنه واعبر الکرخی رحمه الله تعالی الطعم بلاسکر وبه یحد باجماع العلماء.

ولایجوز الانتفاع بالخمر من کل وجه کما فی وغیرها لان الانتفاع بالمحرم حرام ولایداوی بها جرح ولادبر دابة ولاتسقی ادمیا ولوصبیا للتداوی (الدر المنتقی بهامش مجمع الانهر ص۲ ۵۶۸)

وقال العلامة التمرتاشی رحمه الله تعالی: ویحد شاربها وان لم یسکر منها ویحد شارب غیرها (ای من

المائعات المحرمة) ان سكر. (ردالمحتار ص۲۹۹ ج۵)

وقال ايضا فى بيان المسكرات الجامدات من البنج والحشيشة والافيون: فان اكل شيئا من ذلك لاحد عليه وان سكر بل يعزر بما دون الحد

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وان سكر) لان الشرع اوجب الحد بالسكر من المشروب لا الماكول اتقانى (ردالمحتار ص۲۹۵ ج۵)

وقال ايضا: قوله ويحرم اكل البنج) هو بالفتح نبات يسمى فى العربية شيكران يصدع ويسبت ويخلط العقل كما فى التذكرة للشيخ داود لما فى القاموس واخبثه الاحمر ثم الاسود واسلمه الابيض وفيه السبت يوم من الاسبوع والرجل الكثير النوم والمسبت الذى لا يتحرك وفى القهستانى هو احد نوعى شجر القنب حرام لانه يزيل العقل وعليه الفتوى بخلاف نوع اخر منه فانه مباح كالافيون لانه وان اختل العقل به لا يزول وعليه يحمل ما فى الهداية وغيرها من اباحة البنج كما فى شرح اللباب اه اقول هذا غير ظاهر لان ما يخل العقل لا يجوز ايضا بلا شبهة فكيف يقال انه مباح بل الصواب ان مراد صاحب الهداية وغيره اباحة قليله للتداوى ونحوه ومن صرح بحرمته اراد به القدر المسكر منه يدل عليه ما فى غاية البيان عن شرح شيخ الاسلام اكل قليل السقمونيا والبنج مباح للتداوى وما زاد على ذلك اذا كان يقتل او يذهب العقل حرام اه فهذا صريح فيما قلناه مؤيد لما بحثناه سابقا من تخصيص ما مر من ان ما اسكر كثيره حرم قليله بالمائعات وهكذا يقال فى غيره من الاشياء الجامدة المضرة فى العقل او غيره يحرم تناول القدر المضر منها دون القليل النافع لان حرمتها ليست لعينها بل لضررها وفى اول طلاق البحر من غلب عقله بالبنج والافيون يقع طلاقه اذا استعمله للهو وادخال الافات قصدا لكونه معصية وان كان للتداوى فلا لعدمها كذا فى فتح القدير وهو صريح فى حرمة البنج والافيون لا للدواء وفى البزازية والتعليل ينادى بحرمته لا للدواء اه كلام البحر وجعل فى النهر هذا التفصيل هو الحق والحاصل ان استعمال الكثير المسكر منه حرام مطلقا كما يدل عليه كلام الغاية واما القليل فان كان للهو حرام وان سكر منه يقع طلاقه لان مبدا استعماله كان محظورا وان كان للتداوى وحصل منه الاسكار فلا فاغتنم هذا التحرير المفرد بقى هنا شئ لم ار من نبه عليه عندنا وهو انه اذا اعتاد اكل شئ من الجامدات التى لا يحرم قليلها ويسكر كثيرها حتى صار ياكل منها القدر المسكر ولا يسكره سواء اسكره فى ابتداء الامر اولا فهل يحرم عليه استعماله نظرا الى انه يسكر غيره او الى انه قد اسكره قبل اعتياده ام لا يحرم نظرا الى

الله طاهر مباح والعلة فی تحریمه الاسکار ولم یوجد بعد الاعتیاد وان کان فعله الذی اسکر قبله حراما کمن اعتاد اکل شیء مسموم حتی صار یاکل ماهو قاتل عادة ولا یضره کما بلغنا عن بعضهم فلیتامل نعم صرح الشافعیة بان العبرة لما یغیب العقل بالنظر لغالب الناس بلا عادة (ردالمحتار ص ۲۹۴ ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم۔

۱۵ شوال سنــ ۷۳ھــ

دالکحل لرونکو ماکولاتو اومشروباتو حکم

سوال: زمونږ په ملك کښې کوکاکولا، فانتا اودهغو په مثل نور مشروبات شائع دی اوپه کثرت سره استعمالیږی، دجوړونکو کارخانو څخه دتحقیق کولو په ترځ کښې معلومه شوه چې په دغه مشروباتو وغیره کښې الکحل اچول کیږی او د دغو الکحلو بعضې اقسام له عصر العنب څخه تیاریږی اوځینی اقسام یی له آلو، کونله اوغنمو وغیره شیانو څخه جوړیږی، په یو بوتل کښې تقریبا نیمه قطره الکحل موجود وی اوظاهره خبره ده چې دا قسم مشروبات محض دتنعم او تلذذ په طور استعمالیږی۔

دبهشتی زیور دنهمې حصې په دویمه ضمیمه کښې دا لاندې عبارت راغلې دې:

فالقسم الاول منه حرام ونجس غلیظا والثلاثة الاخیرة حرام ونجس خفیفا (وفی روایة نجس غلیظا کما فی الهندیة) وماعدا ذلك من الاشربة فهی فی حکم الثلاثة الاخیرة عند محمد رحمه الله فی الحرمة والنجاسة وعند ابی حنیفة وابی یوسف رحمهما الله تعالی یحرم منها القدر المسکر واما القدر الغیر المسکر فحلال الاللهو.

له دې عبارت څخه معلومیږی چې عند الشیخین غیرخمرپه قلیل مقدار حلال دی، لهذا که غیر خمر قلیل مقدار په کوم خوراك یا دڅښاك په شی کښې مثلا بسکټ، کیك اومیټائی، کوکا کولا وغیره کښې استعمال شی نو د هغو شیانو خوړل اوڅښل به حلال وی۔

زید وایی چې دشیخینو دمذهب په بناء که څوك دخوراك یاڅښاك په شیانو کښې غیرخمر الکحل واچوی نو هغه طعام یا شراب به جائز الاکل اوحلال وی۔

لیکن عمرو وایی: هغوئ چې کوم قول کړې دې هغه په قید دعدم لهوسره مقید دې، بسکټ وکیك، کوکاکولا وغیر اشیاء له غیر ضروری اشیاؤ څخه دی، اومحض دتنعم اوتلذذ لپاره استعمالیږی، لهذا دا په لهو کښې داخل دی اوحرام به وی، نو اوس ددوئ دواړونه دکوم یوه قول معتبر اوحق دی؟

زید داهم وایی چې کوکاکولا وغیره دومره په کثرت سره استعمالیږی چې اوس ابتلاء عام ګرځیدلې ده او دابتلاء عام حکم ورباندې لګولې شی په دې بناء که چیرې پدې کښې حرمت ثابت هم وی نو بیا هم هغه منتفی کیږی

عمرو وایی چی دلته دابتلاء عام حکم لعول ناقابل قبول دی خکه چی دا شیان فقط دتنعیم اوتلذذ په درجه کښې استعمالیږی دضروریات طعام څخه ندی همدارنګه نورشربتونه لکه دمیوې شربت وغیره ددې قائم مقام پیداکیږی لهذا دعدم ضرورة اوحاجت له وجی ابتلاء عام نه شی ورنه ویل کیدې. د دې دواړونه کوم یوپه حقه دی. زید اوکه عمرو؟

دفقهی له کتابونو څخه دغیر خمرو په باره کښې څه قدرې اختلاف معلومیږی دځینوعلماؤ په نزد قلیل مقدار خارجاً او داخلاً استعمالول حلال دی. او د ځینی نورو په نزد دواړه قسمه استعمالول حرام دی. البته په حاشیه مذکوره د بهشتی زیور کښې فرمائی **فالاولی ان لایتعرض للمبتلی به بشئ نعم من قدر علی الاحتراز منه فلیحترز ماشاء.**

ددې په بناء زید وائی چی قدر قلیل غیر له خمرونه شراب جائزالاستعمال دی. خارجاً وی اوکه داخلاً. البته اجتناب از روی تقوی اولی اوافضل دی.

عمرو دهغې دخلاف قائل دې چی دبهشتی زیور متن اوحاشیه په دې محمول ده چی دواءً حلال دی. نه تنعماً وتلذذا او دبهشتی زیور بل عبارت په استدلال کښې وړاندې کوی. (اودواءً په قدر دغیر منشی داخلاً هم استعمالولې شی)

زید ددواءً قید اتفاقی ګنی اوپه استدلال کښې دبهشتی زیور دا عبارت وړاندې کوی (هر اسپرټ له اشربه اربعه څخه ندې دداسې اسپرټو دشیخینو په نزد استعمال جائزدی) دلته ددواءً قید مفقود دې. معلومه شوه چی هلته قید اتفاقی وو.

عمرو وایی: په دواړه ځایونو کښې ځان ځانته (جداجدا) مسئله بیان شوې ده. نو جناب: تاسو فیصله وکړئ چې څوك صائب الرایه اونظر دې؟

نن سبا په ټولو دواګانو کښې الکحل اچول کیږی خصوصا په هومیوپیتهك دواګانو کښې به یوه دوا ددې څخه خالی نه وی. ددغو دواګانو استعمال جائزدې اوکه نه؟

الجواب باسم ملهم الصواب: له تحقیق څخه ثابته شوه چی په اشربه او ادویه کښې عصیر العنب اوعصیر الرطب نه اچول کیږی دنورو اشربه تفصیل دادې:

قال العلامة الشلبی رحمه الله تعالیٰ: (قوله فیما اذا قصدبه التقوی) علی طاعة الله اواستمراء الطعام اوالتداوی فاما السکر منه حرام بالاجماع اه اتقانی (حاشیة الشلبی علی التبیین ص۴۰ ج۶)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: (قوله بلا لهو وطرب) قال فی المغرب الطرب خفة تصیب الانسان لشدة حزن وسرور اهـ قال فی الدرر وهذا التقیید غیر مختص بهذا الاخیر بل اذا شرب الماء وغیره من المباحات بلهو وطرب علی هیئة الفسقة حرم اهـ (رد المحتار ص۲۹۱ ج۵)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: والرابع المثلث العنبي وان اشتد وهو ماطبخ من ماء العنب حتى يذهب ثلثاه ويبقى ثلثه اذا قصد به استمراء الطعام والتداوي والتقوى على طاعة الله تعالى ولو للهو لا يحل اجماعا حقائق (ردالمحتار صـ۲۹۲ جـ۵)

وقال في الهندية: (واما ما هو حلال عند عامة العلماء) فهو الطلاء وهو المثلث ونبيذ التمر والزبيب فهو حلال شربه ما دون السكر لاستمراء الطعام والتداوي وللتقوى على طاعة الله تعالى لا للتلهي والمسكر منه حرام وهو القدر الذي يسكره قول العامة (عالمگيريه صـ۴۱۲ جـ۵)

وقال العلامة اللكنوي رحمه الله تعالى: قلت اللهو والطرب نوعان نوع منهما مباح اذا كان خاليا عن معنى المعصية ومقدماتها ونوع منهما مكروهة اذا خلط بالمعصية اومقدماتها اوتكون وسيلة اليها وهذا هو المراد بقوله اللهو والطرب دون الاول (عمدة الرعاية حاشية شرح الوقاية صـ۶۶ جـ۴)

له پورتنیو عبارتونو څخه لاندې امور ثابت شول:

اول: دغیر خمر اندروني استعمال دحد سکر نه کم د تقوی اواستمراء طعام لپاره جائزدي په اوسنی زمانه کښې د معدی خرابی او دسوء هضم مرض عام دي. ددې لپاره مصلح معده اوهاضم طعام اشیاء په لوازمو د طعام کښې داخل دی.

دويم: دنشاط اوطرب لپاره خوړل اوڅښل مطلقا ممنوع ندی، بلکه دفساقو په طريقه چه وخوړل شی اويا وڅښل شی له هغې نه ممانعت دې اوپه دې کښې دکوم خاص ماکول اومشروب تخصیص نشته بلکه ټولو دماکولاتو اومشروباتو همدا حکم دی.

دريم: هر لهو اوطرب حرام ندي بلکه په دې کښې چی دکوم حرام فعل ارتکاب وی یا مفضی الی الحرام وی نو هغه ناجائزدې د اول نمبر او دریم نمبر حاصل تقریبا یوشي دي.

له دې تفصيل څخه ثابته شوه چی په سوال کښې دمذکوره شیانو خوړل اوڅښل حلال دی له دې څخه علاوه عموماً په داسې ماکولاتو اومشروباتو کښې الکحل دتعفن نه دحفاظت په غرض اچول کیږی

له دی وجې نه دا استعمال په ضرورت کښې داخل دې نه په تلهی کښې.

دزید استدلال دابتلاء عام نه صحیح ندې د ابتلاء عام نه حرام شئ نه حلالیږی. والله سبحانه وتعالی اعلم

۸ ربیع الثانی ۱۴۰۳ھ

په هوږ کښې شراب اچول

سوال: دماشوم له غوږ نه نو (زوې) راځی علاج مو وکړو لیکن فائده نه کیږی. یوشخص وایی

چې که په غوړ کښې دشرابو قطره واچول شی اویا دساندی (خادمی) تیل نو زوې به یې ودرېږي، نو آیا داسی کول جائز دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب که شراب له انګورو څخه یاله خرما څخه جوړوی نو جائزندی اوکه له بل څه نه جوړوی نو اجتناب بهتر دی.

قال الامام قاضیخان رحمه الله تعالی: وقال محمد رحمه الله تعالی لایطهر ابدا ویکره الاحتقان والاکتحال بالخمر وکذا الاقطار فی الاحلیل وان یجعل فی السعوط فالحاصل ان لاینتفع بالخمر الا انها اذا تخلل فینتفع به سواء صار خلا بالمعالجة اوبغیر المعالجة خلافا للشافعی رحمه الله تعالی (خانیة بهامش الهندیة ص۲۲۶ج۳) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۶ محرم سنه ۹۶هـ

له شرابو نه سرکه جوړه شوه

سوال په شرابو کښې چې مالګه واچول شی سرکه ورنه جوړېږی اوکه نه؟ اوپاکیږی اوکه نه؟ که پاکیږی نودهغه دلیل څه دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب مشهوره خوهمداسې ده که واقعا سرکه ترینه جوړه شوه نودماهیت دتبدیل له وجی پاك ګرځی لکه خوشایی وغیره چې په ایره کیدو سره پاك ګرځی.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: تحت قوله یجوز تخلیلها ولو بطرح شئ فیها: واذا صار الخمر خلا یطهر مایوازیها من الاناء واما اعلاه فقیل یطهر تبعا وقیل لایطهر لانه خمر یابس الا اذا غسل بالخل فتخلل من ساعته فیطهر هدایة والفتوی علی الاول خانیة (ردالمحتار ص۲۹۰) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۴ شعبان سنه ۹۶هـ

کتاب الرهن

رهن په دې شرط که ترمعین وخته پورې قرض اداء نشی نو مرتهن به مالک دمرهونې گرځی

سوال: څه فرمایی علماء ددین متین په دې مسئله کښې چې عمرو خپله ځمکه په گرو (رهن) زید ته ورکړه په مقابل دیوزر روپو کښې په دې شرط که په دریو قسطونو مذکوره روپئ په شپږو کالو کښې خواه ټولې یا بعضې په معلوم وخت اداء نکړی نو دمرهونه ځمکې مالك به زید وی اوس لس کاله تیرشوی دی، چې راهن مرتهن ته مبلغ مذکور ندې ورکړې آیا اوس ځمکه دزید گرځی اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: زید دمرهونه ځمکې مالك نه گرځی، ځکه چې بیع دتعلیق بالشرط په وجه باطله ده:

قال العلامة التمرتاشی رحمه الله تعالی: ما یبطل بالشرط الفاسد ولا یصح تعلیقه به الخ

وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: کل ما کان من التملیکات او التقییدات کرجعة یبطل تعلیقه بالشرط.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله من التملیکات) کبیع واجارة (ردالمحتار ص۲۲۲ج۴)

همدارنگه په بیع مذکوره کښې ثمن هم مجهول دی، ځکه چې پس له تیریدلو دمدت معین نه هرڅه چې له قرض څخه باقی پاتې وی په ذمه دمدیون باندې هغه عوض دمبیعې مقرر شوې دې او دهغه جهالت ظاهر دې اوجهالت دثمن سبب دفساد دبیعې دې. والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۵صفر سنه ۱۳۷۲هـ

د تیرشوی سوال په شان یو بل سوال

سوال: یوشخص په دې شرط څه شې رهن کینبودل که ترمعلومې نیتې پورې مالك رهن ورنه کړ نو دا مرهونه به په عوض دقرض کښې مبیعه متصور کیږی، آیا دا صورت دبیع صحیح دې اوکه نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: دا بیع صحیح نه ده اورهن هم فاسد دې.

قال الامام ابن الهمام رحمه الله تعالی: لا یجوز تعلیق البیع کأن یقول اذا دخلت الدار فقد بعتك کذا ءامة قبل الامر لا ینعقد البیع عند الدخول (فتح القدیر)

وقال العلامة الخوارزمی رحمه الله تعالی: عن الزهری ان اهل الجاهلیة کانوا یرهنون ویشترطون علی الراهن انه ان لم یقض الدین الی وقت کذا فالمرهون مملوك للمرتهن فابطل رسول الله صلی الله علیه وسلم ذلك بقول

لا يغلق الرهن. وقيل لسعيد بن المسيب اهو قول الرجل ان لم يات بالدين الى وقت كذا فالرهن بيع بالدين، فقال نعم. (كفاية مع فتح القدير ص۱۰۱ج۹)

وقال الامام ابن رشد المالكي رحمه الله تعالى: واما الشرط المحرم الممنوع بالنص فهو ان يرهن الرجل وهنا على انه ان جاء بحقه عند اجله والا فالرهن له فاتفقوا على ان هذا الشرط يوجب الفسخ وانه معنى قوله عليه الصلوة والسلام لا يغلق الرهن (بداية المجتهد ص۲۰۶ج۲)

وقال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: كل حكم في الرهن الصحيح فهو الحكم في الرهن الفاسد كما في العمادية قال وذكر الكرخي رحمه الله تعالى ان المقبوض بحكم الرهن الفاسد يتعلق به الضمان وفيها ايضا وفي كل موضع كان الرهن مالا والمقابل به مضمونا الا انه فقد بعض شرائط الجواز كرهن المشاع ينعقد الرهن لوجود شرط الانعقاد ولكن بصفة الفساد كالفساد من البيوع وفي كل موضع لم يكن الرهن كذلك اى لم يكن مالا ولم يكن المقابل به مضمونا لا ينعقد الرهن اصلا وحينئذ فاذا هلك هلك بغير شئ بخلاف الفاسد فانه يهلك بالاقل من قيمته ومن الدين.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله فهو الحكم في الرهن الفاسد) اى في حال الحيوة والممات فلو نقض الراهن العقد بحكم الفساد واراد استرداد المرهون كان للمرتهن حبسه حتى يؤدي اليه الراهن ما قبض واذا مات الراهن وعليه ديون كثيرة فالمرتهن اولى من سائر الغرماء وهذا كله اذا كان الرهن الفاسد سابقا على الدين فلو كان بدين على الراهن قبل ذلك لم يكن له حبسه لانه ما استفاد تلك اليد بمقابلة هذا المال ويكون بعد الموت اسوة للغرماء لانه ليس على المحل يد مستحقة بخلاف الرهن الصحيح تقدم اوتأخر وتمامه في العمادية والذخيرة والبزازية (وقوله يتعلق به الضمان) صوابه لا يتعلق لان المنقول عن الكرخي رحمه الله تعالى في العمادية وغيرها انه يهلك امانة في الذخيرة وروى ابن سماعة عن محمد رحمه الله تعالى انه ليس للمرتهن حبسه لانه اصرار على المعصية ولكن ما في ظاهر الرواية اصح لان الراهن لما نقض فقد ارتفعت المعصية وحبس المرتهن المرهون ليصل الى حقه لا يكون اصرارا لان الراهن يجبر على تسليم ما قبض فاذا امتنع فهو المصر الاترى ان في الشراء الفاسد للمشتري الحبس الى استيفاء الثمن فهو المصر الاترى ان في الشراء الفاسد للمشتري الحبس الى استيفاء الثمن اهملخصا (قوله اى ان لم يكن مالا) كالمدبر وام الولد فان للراهن اخذها لان رهنهما باطل منح (قوله ولم يكن المقابل به مضمونا) كما لو رهن عبدا بخمر مسلم فله اخذها منه والواو بمعنى او قال في جامع الفصولين فلو فقد احدهما لم ينعقد اصلا (رد المحتار ص۳۳۸ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۲ جمادى الاولى سنه ۷۳ھ

تفصیل استیفاء الدین من المرهون

السوال: ما قولکم رحمکم الله فی ان المرهون اذا مضی علیه فی ید المرتهن سنۃ اوسنتان ولایفکہ الراهن ولاولدہ ولاولد اولادہ هل یصیر بعد المرافعۃ الی القاضی اوالحاکم المسلم ملکا قطعیا للمرتهن کما هو المعروف فی القانون الحاضر وهو المسمی فی اصطلاحهم زائد المیعاد وبالجملۃ ان اذن الحاکم هو شرعی ام من القانون العرفی، وبعد المرافعۃ الی الحاکم المسلم هل یجوز الانتفاع من ذلک المرهون شرعا ام لا، وان لم یجز لہ الانتفاع فکیف یستوفی دینہ، بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: اذا حل اجل الرهن ولایؤدی الراهن دین المرتهن ولاورثتہ بعد موت الراهن قبل فکاک الرهن فان کانت ورثتہ فقراء یجبرهم القاضی ببیعہ واداء دین المرتهن فان امتنعوا باعہ القاضی وادی حقہ ولایملک المرتهن نفس الرهن نعم لوکان الرهن دارا ولم یکن للمرتهن دار غیرها یسکنها لتعلق حق المرتهن بها.

وعلم بهذا ان لوکان المرتهن محتاجا الی نفس الرهن صار ملکا لہ باذن القاضی ان کانت قیمتہ مساویۃ للدین وجاز لہ الانتفاع وان لم تکن مساویۃ فیرد کل واحد منهما الفضل الی صاحبہ.

قال العلامۃ الحصکفی رحمہ الله تعالی: مات الراهن باع وصیہ رهنہ باذن مرتهنہ وقضی دینہ لقیامہ مقامہ فان لم یکن لہ وصی نصب القاضی لہ وصیا وامرہ ببیعہ لان نظرہ عام وهذا لو ورثتہ صغارا فلو کبارا خلفوا المیت فی المال فکان علیهم تخلیصہ جوهرۃ (وبعد اسطر) ولایبطل الرهن بموت الراهن ولابموت المرتهن ولابموتهما یبقی الرهن رهنا عند الورثۃ (رد المحتار ص۳۴۳ ج۵)

وقال ایضا: سلطہ ببیع الرهن ومات للمرتهن بیعہ بلامحضر وارثہ غاب الراهن غیبۃ منقطعۃ فرفع المرتهن امرہ للقاضی لیبیعہ بدینہ ینبغی ان یجوز ولو مات ولایعلم لہ وارث فباع القاضی دارہ جاز.

وقال العلامۃ ابن عابدین رحمہ الله تعالی تحت (قولہ ینبغی ان یجوز) بلی اذا کان حاضرا وامتنع عن بیعہ ولی الولوالجیۃ یجبر علی بیعہ فاذا امتنع باعہ القاضی اوامرہ للمرتهن واوفاہ حقہ والعهدۃ علی الراهن اهملخصا وبہ افتی فی الحامدیۃ وحرر فی الخیریۃ انہ یجبرہ علی بیعہ وان کان دارا لیس لہ غیرها یسکنها لتعلق حق المرتهن بها کالاف المفلس (رد المحتار ص۳۴۳ ج۵) والله سبحانہ وتعالی اعلم. ۲ رجب سنہ ۸۸ھ

د رهن شوې ځمکې کرل ندي جائز

سوال رهن شوې ځمکه که مرتهن وکرې نو دهغې آمدن د مرتهن لپاره حلال دي او که نه؟

ارض رهن که په خپله راهن وکرې او د آمدن څه حصه مرتهن ته مقرره کړي نو دا صورت شرعا

جائزدی اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب مرتهن ته نفع اخستل جائز ندی. راهن دمرتهن په اجازه ترینه نفع اخستلې شی مگر مرتهن ته ترینه حصه مقررول جائزندی.

قال فی التنویر وشرحه: (لا الانتفاع به مطلقا) لاباستخدام ولاسکنی ولالبس ولااجارة ولااعارة سواء کان من مرتهن اوراهن الاباذن کل للاخر وقیل لایحل للمرتهن لانه ربا وقیل ان شرطه کان ربا والالا وفی الاشباه والجواهر اباح الراهن للمرتهن اکل الثمار اوسکنی الدار اولبن الشاة المرهونة فاکلها لم یضمن وله منعه ثم افاد فی الاشباه انه یکره للمرتهن الانتفاع بذلک وسیجیء اخر الرهن (ردالمحتار ص۳۱۰ج۵)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی تحت (قوله ولایحل للمرتهن) قال فی المنح والغالب من احوال الناس انهم انما یریدون عند الدفع الانتفاع ولولاه لما اعطاه الدراهم وهذا بمنزلة الشرط لان المعروف کالمشروط وهو مما یعین المنع. والله تعالی اعلم اه (ردالمحتار ص۳۱۱ج۵)

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی معزیا للمضمرات عن التهذیب انه یکره للمرتهن ان ینتفع بالرهن وان اذن له الراهن قال المصنف وعلیه یحمل ما عن محمد بن اسلم من انه لایحل للمرتهن ذلک ولو بالاذن لانه ربا قلت وتعلیله یفید انها تحریمیة فتامله (ردالمحتار ص۳۳۰ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۲ ذی القعدة سنه

درهن اجاره جائزه نده

سوال: درهن یوصورت داهم کیږی چې یو ایکړ ځمکه دپنځوزرروپو په بدله کښې رهن کیږدی او د انتفاع لپاره داحیله اختیار کړی چې سالانه به لس روپۍ وضع کوی آیا دا صورت جائزدی اوکه نه؟ اوکه دا شرط ولګوی چې دلسو کلونو په پوره کیدوسره به باقی روپۍ اداء کړی اورهن به خلاصوی په دی صورت کښې که هغه له لس کاله مخکښې رهن خلاصول وغوښتل نو دلسو روپو د ادا کولو له حسابه رهن خلاصولې شی یا دشرط مطابق لس کاله به پوره کوی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: سالانه لس روپۍ وضع کول اجاره ده اومرهونه په اجاره ورکول جائز ندی اوکله هم چې رهن خلاصول وغواړی خلاصولې یې شی.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: لا الانتفاع به مطلقا لاباستخدام ولاسکنی ولالبس ولااجارة ولااعارة سواء کان من مرتهن اوراهن الاباذن کل للاخر وقیل لایحل للمرتهن لانه ربوا وقیل ان شرطه کان ربوا والالا.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله وقیل لایحل للمرتهن) قال فی المنح عن عبدالله محمد بن اسلم السمرقندی وکان من کبار علماء سمرقند انه لایحل له ان ینتفع بشیء منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن لانه اذن له فی الربوا لانه یستوفی دینه کاملا فتبقی له المنفعة فضلا فیکون ربوا وهذا امر عظیم قلت وهذا مخالف لعامة المعتبرات من انه یحل بالاذن الا ان یحمل علی الدیانة وما فی المعتبرات علی الحکم ثم رایت

فی جواهر الفتاوی اذا کان مشروطا صار قرضا فیه منفعة وهو ربوا والا فلا بأس اهـ ما فی المنح ملخصا واقره ابنه الشیخ صالح وتعقبه الحموی لان ماکان ربوا لایظهر فیه فرق بین الدیانة والقضاء علی انه لاحاجة الی التوفیق بعد ان الفتوی علی ماتقدم ای من انه یباح اقول ما فی الجواهر یصلح للتوفیق وهو وجیه وذکر وانظیره فیما لواهدی المستقرض للمقرض ان کانت بشرط کره والا فلا وما نقله الشارح عن الجواهر ایضا من قوله لایضمن یفید انه لیس بربوا لان الربوا مضمون فیحمل علی غیر المشروط وما فی الاشباه من الکراهة علی المشروط ویؤیده قول الشارح الاتی اخر الرهن ان التعلیل بانه ربوا یفید ان الکراهة تحریمیة فتامل واذا کان مشروطا ضمن کما افتی به فی الخیریة فیمن رهن شجر زیتون علی ان یأکل المرتهن ثمرته نظیر صبره بالدین قال قلت والغالب من احوال الناس انهم یریدون عند الدفع الانتفاع ولولاه لما اعطاه الدراهم وهذا بمنزلة الشرط لان المعروف کالمشروط وهو مما یعین المنع والله تعالی اعلم اهـ (رد المحتار صـ۲۱۰ جـ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۹ جمادی الاولی سنـ۸۹ـهـ

له رهن څخه انتفاع جائزه نده

سوال: زید له بکر سره په عوض دسلو روپوکښې خپل سیکل گرو کیښوده نو آیا بکرته دهغه استعمالول جائز دی اوکه نه؟ په داسې حال کښې چې زید په خوښۍ سره د استعمال اجازه ورکړې ده؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: مرتهن ته دمرهون شی نه انتفاع اخستل مطلقا صحیح ندی که د راهن اجازه وی اوکه نه څکه دامعنا ربوا ده.

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: تحت (قوله وقیل لا یحل للمرتهن لانه ربوا) قال فی المنح وعن عبدالله محمد بن اسلم السمرقندی رحمه الله تعالی وکان من کبار علماء سمرقند انه لا یحل له ان ینتفع بشیء منه بوجه من الوجوه وان اذن له الراهن لانه اذن له فی الربوا لانه یستوفی دینه کاملا فتبقی له المنفعة فضلا فیکون ربوا وهذا امر عظیم (وبعد اسطر) قال ط قلت والغالب من احوال الناس انهم انما یریدون عند الدفع الانتفاع ولولاه لما اعطاه الدراهم وهذا بمنزلة الشرط لان المعروف کالمشروط وهو مما یعین المنع والله تعالی اعلم اهـ (رد المحتار صـ۲۱۰ جـ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۰ ذی القعدة سنـ۹۳ـهـ

كتاب الجناية والضمان

يو اوښ بل اوښ قتل كړ د قاتل اوښ په مالک دضمان حكم

سوال د لاندې مسئلو په باره كښې حكم شرعي مطلوب دې

اول ديوه سړي اوښ په ځنګل كښې څريده دبل سړي اوښ هغه مړكړ آيا د وژونكي اوښ په مالك ضمان شته او كه نه؟

دويم كه د وژونكي اوښ مالك خپل نوكر ته تاكيد كړې وي كه چيرته زما اوښ كوم نقصان وكړ نو هغه به زه ستاڅخه اخلم په دې صورت كښې په نوكر ضمان شته اوكه نه؟ بينو اتوجروا

الجواب باسم ملهم الصواب ددې صورتونه مختلف دي اوحكمونه يې هم مختلف دي:

اول قاتل اوښ خپله خلاص شوې وي برابره خبره ده كه دمالك په ځمكه كښې يې بل اوښ قتل كړې وي اوكه داجنبي په ځمكه كښې يا شارع عام كښې اويا په ارض مباح كښې.

دويم اوښ مالك په خپله ځمكه كښې پريښې وي اوهغه په خپله اجنبي ځمكې ته تللې وي اوجنايت ئې كړې وي

دريم مالك په خپله ځمكه كښې پريښې وي اوپه همدغه ځمكه كښې يې جنايت كړې وي.

څلورم دبل چا په ځمكه كښې دهغه په اجازت سره خپله تللې وي اواوښ يې پريښې وي. اذن دلالتاً هم كافي دې بحسب العرف ځنګل چې دچا ملك نه وي او دخلكو مالونه پكښې څريږي هغه هم په دغه صورت كښې داخل دې

پنځم دغيرپه ځمكه كښې دهغه له اذن نه صراحتاً يا دلالتاً بغير خپله تللې وي او اوښ يې پريښې وي

په اولو څلورو وارو صورتونو كښې ضمان نشته اوپه پنځم صورت كښې ضمان شته. دقاتل اوښ دمالك په موقع موجوديدل اونه وجود برابر دي.

شپږم مالك اوښ په شارع عام كښې پريښې وي يا يې بيوه او هغه په لاره كښې كوم نقصان وكړ په دې صورت كښې تفصيل دې چونكه دا صورت په سوال كښې داخل ندې نو دتفصيل هم دلنه ضرورت نشته

په مذكوره صورتونو كښې هلته ضمان نشته كله چې دا اوښ دانسانانو په قتل كولو كښې مشهورنه وي اګر كه دحيواناتو په قتل كښې يا په نقصان رسولو كښې شهرت لري

اووم كه اوښ په قتل انساني كښې مشهور وي نو په شرط دتقدم به ضمان وي. دتقدم تفصيل دادې چې داوښ مالك ته يا محافظ ته چاويلي وي. چې ستا اوښ خطرناك دې دا په كامل حفاظت

کښې وسانه. که په تقدم شهادت موجود وی یا مالك یا محافظ د تقدم اقرار کولو. سره لدې سره داوښ حفاظت یې نه کاوه اوښ په عامه لاره یا په خاصه لاره یا د غیر په ملك کښې دبلا اذن د داخلیدو په حالت کښې کوم جانی یامالی نقصان وکړ نو ضمان شته

۱ـ فی دیات شرح التنویر: انفلتت دابة بنفسها فاصابت مالا او ادمیا نهارا اولیلا لاضمان فی الکل لقوله صلی الله علیه وسلم العجماء جبار ای المنفلتة هدر.

وفی الشامیة: ولو فی الطریق اوملك غیره اتفاقی (ردالمحتار صـ۳۹۰ جـ۵)

۲ـ وفی جنایات الهندیة: فان دخلت فی ملك الغیر من غیر ادخال صاحبها بان کانت منفلتة فلاضمان علی صاحبها (عالمگیریة صـ۵۰ جـ۶)

وفی الشامیة: سواء دخلت بنفسها او ادخلها بالاذن، وایضا فیها: فان کان الثانی فلاضمان علیه علی کل حال لانه لیس بمباشر ولا متسبب (ردالمحتار صـ۳۸۶ جـ۵)

۳ـ وفی جنایات الهندیة: فان کانت فی ملك صاحب الدابة ولم یکن صاحبها معها فانه لایضمن صاحبها (الی قوله) وان کان صاحبها معها ان کان قائدالها اوسائقا لها فکذا لایضمن صاحبها فی الوجوه کلها (عالمگیریة صـ۵۰ جـ۶)، وفی شرح التنویر: فلو حدثت المذکورات فی السیر فی ملکه لم یضمن ربها الا فی الوطء وهو راکبها لانه مباشر بقتله بثقله فیحرم المیراث. (ردالمحتار صـ۳۸۶ جـ۵)

۴ـ وفی جنایات الهندیة: وان کان باذن مالکه فهو کما لو کان فی ملکه (عالمگیریه صـ۵۰ جـ۶)

وایضا فیها: وان اوقف الدابة فی الفلاة لایضمن (عالمگیریة صـ۵۱ جـ۶)

وایضا فیها: رجل ادخل بعیرا مغتلما فی دار رجل وفی الدار بعیر صاحبها فوقع علیه المغتلم فقتله اختلف المشائخ فیه منهم من قال لاضمان علی صاحب المغتلم.

وایضا فیها: وان کان اذا دخلها باذنه فلاضمان وبه اخذ الفقیه ابواللیث وعلیه الفتوی (عالمگیریة صـ۵۲ جـ۶)

وفی شرح التنویر: ولو حدثت فی ملك غیره باذنه فهو کملکه فلا یضمن کما اذا لم یکن صاحبها معها.

وفی الشامیة: وان کانت الجنایة فی ملك غیر صاحبها فاما ان ادخلها صاحبها فیه اولا فان الثانی فلاضمان علیه علی کل حال لانه لیس بمباشر ولا متسبب (ردالمحتار صـ۳۸۶ جـ۵)

۵ـ وفی جنایات الهندیة: وان دخلت بادخال صاحبها فصاحب الدابة ضامن فی الوجوه کلها سواء کانت واقفة اوسائرة وسواء کان صاحبها معها (الی قوله) اولم یکن معها (عالمگیریه صـ۵۰ جـ۶)

وفي شرح التنوير: والا يكن باذنه ضمن ما اتلف مطلقا لتعديه.

وفي الشامية: وان كان الاول فعليه الضمان على كل حال سواء كان معها صاحبها او قائدها اوراكبها اولا (رد المحتار ص۲۸۷ ج۵)

۶ـ قال في شرح التنوير عن الدرر: كلب ياكل عنب الكرم فاشهد عليه فيه فلم يحفظه حتى اكل العنب لم يضمن وانما يضمن فيما اشهد عليه فيما يخاف تلف بني ادم كالحائط المائل ونطح الثور وعقر كلب عقور فيضمن اذا لم يحفظه انتهى. قال المصنف ويمكن حمل المتلف في قول الزيلعي وان اتلف الكلب فعلى صاحبه الضمان ان كان تقدم اليه قبل الاتلاف والا فلا كالحائط المائل على الادمي انتهى فيحصل التوفيق.

وفي الشامية: كانه فهم من كلام الدرر انه لايضمن في الكلب غير الادمي وهذا غير مراد وانما معنى كلامه يخاف منه تلف الادمي فالاشهاد فيه موجب للضمان اذا عاقبه تلف سواء كان المتلف مالا او ادميا ومالا يخاف منه تلف الادمي بل يخاف منه تلف المال فقط كعنب الكروم فلا يفيد فيه الاشهاد الخ (رد المحتار ص۳۶۲ ج۵)

اقول: اما تفسير التقدم وتفصيله فمشروح في بيان الحائط المائل في الشامية ص۳۸۴ ج۵ وفي الهندية ص ۳۶ ج۶ وفي الهداية والعناية مع الفتح ص۳۳۲ ج۸)

وايضا فيها: ولو اجله صاحب الدار او ابراه منها او فعل ذلك ساكنوها فذلك جائز ولا ضمان عليه فيما تلف بالحائط لان الحق لهم بخلاف ما اذا مال الى الطريق فاجله القاضي او من اشهد عليه لايصح لان الحق لجماعة المسلمين وليست اليهما ابطال حقهم وهكذا في شرح التنوير والهندية.

۲ ـ په صورتونو دضمان کښې په محافظ باندې ضمان شته.

قلت ويمكن ان يتوهم عدم الضمان على المحافظ مما في الشامية ونصها: ويؤخذ من عاقلة الواقف ان كان له عاقلة فيما تتحمله وان لم تكن له عاقلة او كان فيما لا تتحمله فلا يؤخذ من القيم.

وايضا فيها: فلو سقط حائط الصغير بعد الطلب من وليه كان الضمان في مال الصبي (رد المحتار ص۳۸۴ ج۵)

فاجاب عنه في العناية ونصها: فان قيل الوصي اذا ترك النقض بعد التقدم اليه الحق ضررا بمال اليتيم فكان الواجب ان يكون الضمان عليه اجيب بان في ترك النقض دفع مضرة متحققة وهي مضرة مؤنة النقض وبنائه ثانيا وفي نقضه دفع مضرة موهومة لجواز ان لا يسقط وان سقط لا يهلك به شيء فكان تركه انظر للصبي فلا يلزم الوصي ضمان (عناية مع الفتح ص۳۳۳ ج۸) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲۳ رجب سنه ۷۴هـ

که په مینه یی دخنزیر گمان وکړ او مړه یی کړه نو ضمان شته

سوال یوه شخص په کومه مینه دخنزیر گمان وکړ او په توپک یی وه ویشته او مړه یی کړه. آیا په دې کښې ضمان شته او که نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په دې صورت کښې په قاتل ضمان واجب دې. داقتل خطاء دې چې له قتل تسبیب نه درایتاً او روایتاً هرقسم قوی دې او د قتل تسبیب په باره کښې د تضمین متعلق تصریحات موجود دی نو په قتل خطاء کښې خوبه په طریقه اولی ضمان واجب وی

اما قوة القتل خطا على القتل تسبيبا دراية فلان الاول مباشرة والثانى تسبيب ولاريب فى قوة المباشرة على التسبيب واما رواية فلان فى الاول اثما زائدا على اثم الثانى ولان الاول يوجب حرمان الارث دون الثانى.

قال فى شرح التنوير: وموجبه (الخطاو ما يجرى مجراه) الكفارة. والدية على العاقلة والاثم دون اثم القتل اذ الكفارة تؤذن بالاثم لترك العزيمة.

وفى الشامية عن الكفاية: وهذا الاثم لان نفس ترك المبالغة فى التثبت ليس باثم وانما يصيربه اثما اذا اتصل به القتل فتصير الكفارة للذنب القتل وان لم يكن فيه اثم قصد القتل.

وايضا فى الشرح: وموجبه (التسبيب) الدية على العاقلة لا الكفارة ولا اثم القتل بل اثم الحفر والوضع فى غير ملكه ولا يتعلق به حرمان الارث الا اذا كان القتل بسبب لعدم قتله (ردالمحتار ص ۳۳۲ ج ۵)

دقتل تسبیبا ضمان دلاندی جزئیی څخه ثابت دی

قال فى التنوير: فى باب ما يحدثه الرجل فى الطريق وغيره فان تلف به بهيمة ضمن (ردالمحتار ص ۳۸۱ ج ۵)

حائط مائل کلب عقور، ثور نطوح، فرس کدوم په جنایاتو کښې بعد الاشهاد ضمان دمال شته دې حالانکه دا امور دقتل تسبیباً نه هم ضعیف دی چې په هغو کښې ضمان په اشهاد پورې موقوف دې

قال فى شرح التنوير: مال حائط الى طريق العامة ضمن ربه ما تلف به من نفس انسان او حيوان او مال الخ (ردالمحتار ص ۳۹۳ ج ۵)

وفى الشامية عن المنية فى مسئلة نطح الثور: يضمن بعد الاشهاد النفس والمال (ردالمحتار ص ۳۹۳ ج ۵)

وايضا فيها: ان ما يخاف منه تلف الادمى فالاشهاد فيه موجب للضمان اذا اطلبه تلف سواء كان المتلف مالا او نفسا (الى ان قال) فان الاشهاد فيه (الحائط المائل) موجب لضمان المال والنفس (الى ان قال) والظاهر ان الثور فيه الضمان بعد الاشهاد على صاحبه باعتاد الكبش وكذا فى الثور نطوح فالكل والعقور انه يضمن بالسبيل

قطع الطور يضمن بعد الاشهاد النفس والمال (رد المحتار صـ ۲۹۲ جـ ۵) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۸ صفر سـ ۷۵ هـ

په متسبب باندې ضمان شته دی

سوال دیوې مدرسې مهتمم چې خالد نومیده یو عالم مدرس مقرر کړ چې زید نومیده. زید په معین تاریخ مدرسې ته په رسیدو له خالد سره عهد وکړ. زید دمدرسې طرفته راتلو چې په لاره کښې زید ته خط ورسیده چې په هغه کښې دخالد له طرفه لیکل شوی وو چې تاسو هیڅکله رانشئ. زید پریشان شو اوخپل اهل اوعیال یې په لاره کښې پریښوده خالد ته د تحقیق لپاره راغې. معلومه شوه چې خالد هیڅ قسم خط نه دې لیکلی، بلکه بل شخص (بکر) شرارت اوشیطانت کړي دې. اوس پوښتنه داده چې دبکر د شرارت دتحقیق کولو لپاره چې زید کومه خرچه وکړه آیا دا خرچه زید د شرعی حکم مطابق له بکر څخه اخیستې شي اوکه نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب په بکر باندې دخرچ ضمان لازم دې.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: ومن ذلك تضمين الساعي مع مخالفته لقاعدة المذهب من ان الضمان على المباشر دون المتسبب ولكن افتوا يضا بضمانه زجرا بسبب كثرة السعاة المفسدين بل افتوا بقتله زمن الفترة. (رسائل ابن عابدين صـ ۱۲۶ جـ ۲)

وقال ايضا: قال في المنح والفتوى اليوم بوجوب الضمان على الساعي مطلقا (رد المحتار صـ ۱۲۵ جـ ۵)

که نابالغ د ودیعت حفاظت ونه کړ نو په هغه ضمان لازمیږي

دامسئله په کتاب الودیعه کښې تیره شوې ده.

دچا د داسې ونې قطع کول چې دهغې پرستش اوعبادت کیده

سوال دیوې ونې عام عبادت کیده. جاهلانو به په هغې قسم قسم خرافات کول یوه موحد هغه دفتنې د دروازې بندولو په غرض قطع کړه اوس د ونې مالك دضمان طلب کوي آیا شرعا په قطع کونکي باندې ضمان شته اوکه نه. بعضی علماء دا په معازف باندې قیاس کوي اودقول مفتی به په بناء دسقوط ضمان قائل دي. اوبعضې یې له سندرغاړې وینځې سره تشبیه ورکوي اودضمان فتوی ورکوي. جانبین ستاسې په فیصله راضی دی. لهذا په جلتئ سره جواب عنایت کړئ او اختلاف رفع کړئ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب

قال في شرح التنوير: وضمن بكسر معزف بكسر الميم آلة اللهو ولو لكافر ابن كمال قيمته خشبا منحوتا

صالحا لغير اللهو وضمن القيمة لا المثل بإراقة سكر ومنصف وصح بيعها كلها وقالا لا يضمن ولا يصح بيعها وعليه الفتوى ملتقى ودرر وزيلعي وغيرها واقره المصنف واما طبل الغزاة والدف في حق الحلاصة والصيادين والدف الذي يباح ضربه في العرس فمضمون اتفاقا كالامة المغنية ونحوها ككبش نطوح وحمامة طيارة وديك مقاتل وعبد خصي حيث تجب قيمتها غير صالحة لهذا الامر.

وفي الشامية (قوله وقالا الخ) هذا الاختلاف في الضمان دون اباحة اتلاف المعازف وفيما يصلح لعمل آخر والا لم يضمن شيئا اتفاقا وفيما اذا فعل بلا اذن الامام والا لم يضمن اتفاقا وفي غير عود المغني وخابية الخمار والا لم يضمن اتفاقا لانه لو لم يكسرها عاد لفعله القبيح وفيما اذا كان لمسلم فلو لذمي ضمن اتفاقا قيمته بالغاما بلغ وكذا لو كسر صليبه لانه مال متقوم في حقه قلت لكن جزم به في الاختيار ايضا ولعله اقتصر في الهداية على ذكر المسلم لكونه محل الخلاف وبه يتحرر المقام فتدبر (ردالمحتار كتاب الغصب صـ۱۳۴ جـ۵)

له مذکوره عباراتو څخه دا لاندې احکام مستفاد شول:

اول د لهوې داسې آلات چې په غیر لهو کښې د استعمال صلاحیت نه لري په هغې کښې بالاتفاق ضمان نشته

دویم اوکوم آلات دلهوې چې په غیر کښې هم استعمالیدې شي دهغو په ضمان کښې د امام صاحب اوصاحبینو ترمینځ اختلاف شته. لیکن فتوی په عدم ضمان باندې ده

دریم سندرې ویونکې وینځه او دهغې امثالو کښې بالاتفاق ضمان شته

په دویم او دریم قسم کښې په ظاهره دا فرق معلومیږي چې دنوع ثاني آلات دلهو لپاره مصنوع اوموضوع دي اونوع ثالث کښې موضوع لپاره دلهو ندي بلکه دکوم بل قسم صنعت نه استعمال شوی په لهو کښې دی. چنانچه دصاحبینو ددلیل څخه ((ان هذه الاشياء اعدت للمعصية فبطل تقومها كالخمر)) هدایه صـ۳۸۶ جـ۳. واضح کیږي چې دنوع ثاني نه داسې آلات مراد دي چې ابتداءً معد او موضوع لپاره دلهوې وي. له پورتني تفصیل نه بعد هرسړي پوهیږي چې شجره مسئوله عنها په قسم ثالث کښې داخله ده. ځکه چې هغه موضوع اومصنوع لپاره دلهوې نده بلکه بغیر دځه صنعت نه پخپل حالت سابقه باندې دلهو لپاره استعمالیږي کالامة المغنیه ونحوها . والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۹ ذي القعده سـ۱۳۷۶ھ

دخپلې ونې دقطع کولو په وجه دبل چاونه راغورځیدل

سوال یوشخص خپله ونه دکجورې قطع کړه دلویدلو په وخت کښې دبل چا په ونه وررلویدله هغه یې چپه کړه په داسې حال کښې چې قاطع په وخت دقطع کولو کښې سعي وکړه چې ونه یې په

بله ونه باندې ونه غورځيږي مگر دده کرونی خبره تيره شوه او دا نقصان وشو. آيا په قاطع باندې ضمان لازم دې اوکه نه؟ که څوك دوني قطع کونکی ته ووايي چی تاسو په وخت دپرې كولوكښې په خپله ونه کښې رسئ واچوئ چی په بله ونه پرې نه وځی اونقصان ونه کړی هغه رسئ ونه تړله ليکن ډير كوښښ يې وكړچی دغورځيدلوپه وخت کښې په بله کجوره ونه غورځيږي مگر خبره دهغه له قدرت څخه وه وتله اوبله ونه يې هم له خانه سره وغورځوله . نو د دې مسئلې حكم څه دې؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په قاطع ضمان نشته ليکن په صورت دتنبيه کښې ضمان لازم دې

قال الامام قاضيخان رحمه الله تعالى: رجل مال حائط داره الى الطريق اوالى ملك انسان فسقط واتلف انسانا اومالا ان سقط قبل الاشهاد فلا ضمان عليه وان سقط بعد الاشهاد ضمن اذا لم يفرغ ذلك الموضع عن الحائط مع القدرة عليه فيصير جانيا ان تلف به انسان كانت الدية على عاقلته وان اتلف مال انسان كان ضمانه على صاحب الحائط في ماله (الى ان قال) وصورة الاشهاد اذا كان مائلا الى الطريق ان يقول له واحد من الناس ان حائطك هذا مائل الى الطريق اومخوف اومتصدع فاهدمه وان كان مائلا الى ملك الغير يقول له ذلك صاحب الدار وشرط وجوب الضمان على صاحب الحائط المطالبة بالاصلاح والتفريغ ولايشترط الاشهاد حتى لوطولب بالتفريغ ولم يفعل مع القدرة عليه كان ضامنا (خانية بهامش الهندية ج۳ ص۳۱۲) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۵ ذی القعده سنه ۸۷هـ

د بوسو دبارولو له وجې داوښ پښه ماتيدل

سوال: يوه سړی په اوښ وابنه بارکړل اودلال ته يې حواله کړل چی دا ښارته يوسه اوخرڅ يې کړه. دلال اوښ روان کړ او د اخيستونکی سره يې خبره وکړه. اوښ يې اول د وښو سره وتله (وزن يې کړ) بيايې وابنه کوزکړل يواځی وابنه يې وزن کړل بيايې وابنه په اوښ بارکړل او اوښ يې پاڅولو اوښ چی کله اوښ چې کله ودريده نو راوغورځيده چی د راغورځيدو له وجی يې پښه ماته شوه. په اوښ باندې دبارولو طريقه هرچاته نه وی زده، په غلط بارولو سره توازن برقرارنه پاتې کيږی او اوښ غورځيږی اونقصان ورته رسيږی. دا معلومه نده چی مالك د وښو دخلاصولو اوبيا دوباره بارولو اجازت ورکړې وو اوکه نه. اوس سوال دادې چی په دلال باندې د اوښ دنقصان ضمان لازم دې اوکه نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که مالك دبار دخلاصولو اوکوزولو اوبارولو اجازه ورکړی وی يا د تجارانو ترمينځ دا تعامل وی چی بيا بيا بار اړولې اوبارولې شی نو بيا خو په دلال ضمان نشته لاذن المالك صراحتاً اودلالتاً. اوکه مالك صراحتا اجازه نه وی ورکړی اونه دا تعامل اوعرف وی

نو په دلال ضمان راځي. که د مالك او دلال ترمينځ اختلاف راشي نو په مالك باندې به بينه وي لادعائه الضمان معنی وان کان منکر الفظا او په دلال باندې به حلف (قسم) وی لانکاره وجوب الضمان وان کان يدعي الاذن ظاهراً.

تنبيه خريد او فروخت کنبې د حيوان وزن کول او حساب لګول جائزندی. والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۷ شعبان سنه۱۳۸۸ هـ

په ډاک يا بلتي باندې دليګل شوی مال ضمان به په چاوی

سوال احقر دکتابونو تجارت کوی، احقر زيد ته خط وليږه چې مناجات مقبول . زادالسعيد .اغلاط العوام. کمالات اشرفيه، پنځه، پنځه نسخې ، او د نشرط الطيب. تعليم الدين او حيات المسلمين څوڅو نسخې د ډاک په ذريعه راوليږه، زيد د اولو څلورو کتابونو پنځه، پنځه نسخې ور وليږلې او دباقی دريو يې دچاڅلورويشت (۲۴) او د چا دوه ديرش (۳۲) او د چاپنځه ديرش (۳۵) نسخې راوليږلې او يوه نسخه شمائل ترمذی يې له خپل طرف نه دنمونې په طور مګرقيمتاً رواليږله. اتفاقاً څوکتابونه ماته راورسيدل اوباقی نور کتابونه د ډاک دخرابی يا د نامعلومو وجوهاتو له کبله ماته ونه رسيدل اوپه لارکنبې ضائع شول، مازيد ته خط وليکه چې دومره په زيات مقدار کنبې دې ولې راوليږل. نو هغه جواب راکړ چې ستاد الفاظو (څوڅو) مطلب مې دوسيع تعداد وګرځاوه نو ځکه مې زيات مال دروليږه، اوزيد دټولو کتابونو دپيسو مطالبه کوی. اوس پوښتنه داده چې:

اول د کومو کتابونو تعداد چې مامقررکړې دې له هغونه چې کوم کتابونه ماته ندی رسيدلی آيا دهغو قيمت زماپه ذمه واجب الاداء دې اوکه نه؟

دويم دڅوڅونسخو په ځای چې دومره زيات کتابونه يې ما ته راليږلی دی. په هغو کنبې چې کوم ماته ندی رسيدلی دهغو دقيمت څه حکم دې؟ ځکه چې دڅوځخه زما مقصد پنځه پنځه يا اوه مراد وو. د وخت دکمښت له وجی مې (څوڅو) وليکل.

دريم آيا دشمائل ترمذی قيمت زما په ذمه شته اوکه نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دتجارو له عرف نه اوخصوصاً له دې خبرې چې په ډاک يا بلتی باندې ليږل شوې مال ضائع شی دضمان مطالبه يې ليږونکې کوی. غوښتونکې يې نه کوی. لدې ځخه دا معلوميږی چې ډاک والا دبائع وکيلان دی نه دمشتری. لهذا په ډاک کنبې دضائع کيدونکی مال ضمان دهلاك قبل القبض له وجې په مشتری باندې نه وی

کوم کتابونه چې ستا له طلب نه زائد دی او تاته رسيدلی دی که ته د هغو اخستونکې يې نو قيمت په تالازم دې اوکه نه نو کتابونه بيرته واپس کول لازم دی. والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۰ جمادی الاولی سنه ۱۳۸۹هـ

دحمله کونکی اوښ وژل

سوال دزید اوښ دعمرو له اوښې سره خریده، عمرو یوکومك کونکې (خالد) هم له خان سره ملګرې کړ خپله اوښه یې د زید له اوښ څخه جدا کوله. اوښ په غوصه شو خالد یې لاندې کړ مګر هغه په خوش قسمتی سره داوښ له سینې لاندې راتفې. دهغه د خیتې لاندې شو. خالد دکومك لپاره فریاد شروع کړ دکلی خلك ډیر زیات راجمع شول اوټولو اوښ په لرګیو اوتیږو وه واهه په دې دوران کښې اوښ دیو بل شخص پښه هم زخمی کړه. خلکو توپك والا مجبور کړ نو هغه اوښ په توپك وه ویشت اوهلاك یې کړ. اوس زید دهغه ضمان غواړی. آیا په دغه مامور شخص ضمان لازم دې اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دانسان ژغورل فرض دی، مدد کونکې دالله په نزد ماجور دې مګر اوښ دبل چا ملك وو اومامور په خپل فعل کښې مختار وو، لهذا مامور باندې ضمان لازم دې.

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى تحت (قوله اى حيوان) ان الجمل لوصال على انسان فقتله فعليه قيمته بالغا مابلغ لان الاذن بل فعل السبع حاصل من صاحب الحق وهو الشارع اما الجمل فلم يحصل الاذن من صاحبه (ردالمحتار ص۲۱۹ ج۲)

که اوښ یې دمرکیدونه مخکې ذبح کړې وی نو مامور دضمان له وجی دغوښې وغیره مالك شو اوغوښه اوڅرمن وغیره خرڅولې شی

دزید لپاره بهتره داده چې ضمان وانه خلی، دصبر په کولو او د یومسلمان د ژغورلو په سلسله کښې دایثار نه په کار اخستو د آخرت د اجرعظیم نه علاوه په دنیا کښې هم دالله تعالى نه دنعم البدل امید دې ولری. والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۳ربیع الاخرسنه ۱۳۹۴هـ

دموټر دټکر څخه دزخمی حکم

سوال یوه دریور (موټروان) موټر چلاوه، موټر کافی اندازه تیز وو. مخامخ یوسړې ښکاره شو دریور د ژغورلو ډیر کوشش وکړ مګر چې کوم طرفته به موټر تاویده هغه شخص به هم هغه طرفته مخې ته ورته راته. چنانچه موټر له هغه سره ټکر شو، دریور له حکومت څخه دویرې په وجه ونښتیده، دامعلوم نشوه چې هغه شخص به ژوندې ژغورل شوې وی او که نه؟ اوس د دریور په ذمه څه لازم دی اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب د دریور تیښته کول جائز نه وو، له تښتیدو وروسته دې بیا هم معلومات وکړی اودهغه مطابق عمل دې وکړی. که چیرته دصحیح کیفیت علم ونه شی نو صرف توبه او استغفار ورباندې لازم دی ۲۷جمادی الثانیه سنه ۱۳۹۵هـ

د وطئ بالدابة ((دحیوان د پامال کولو)) حکم

دامسئله په کتاب الحدود والتعزیر صـ ۵۰۳جـ ۵کښې د(حیوان سره بدفعلی) ترعوان لاندی تیره شوی ده.

د امانت د ضائع کیدلو حکم

سوال: زید دیو مسجد امام دې اوله هغې سره دملحقه مدرسې مهتمم هم دې. دمسجد او مدرسی روپئ له هغه سره په طور د امانت ایښې وې، هغه وایی دحفاظت باوجود پیسې دده له کور څخه غلاشوی دی. او ددې خبرې اقرار کوی چې دا دهغه اوښی پتې کړی دی اوتښتیدلې دې له هغه څخه دپیسو د واپسی کوم امید نشته. اوس پوښتنه داده چې په دغه امام ضمان لازم دې اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: داپیسې امانت دی که مهتمم واقعاً ددې دحفاظت اهتمام کړې وی نو په هغه ددې پیسو ضمان نشته، والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۸ربیع الثانی سنه ۱۳۹۶هـ

دمؤذن دغلطی له وجی که له مسجد نه څه ورک شی نو هغه ضامن دې

سوال: په یوه مسجد کښې دمسجد دتعمیر لپاره دوه د لرگی بکسونه دجمعې په ورځ په مسجد کښې کیښودل کیږی، لمونځ کونکی په هغې کښې چنده اچوی. بکس دمسجد سره په خوا کښې په کمره کښې پروت وی، دشپې په وخت مسجد قلف وی، دمسجد تولې کلیانې له مؤذن سره وی، دری څلورمیاشتې بعد منتظمین بکس خلاص کړی او پیسې وشمیری او رسید جوړوی څو ورځې مخکښې دوه ځله دا بکس مات وموندل شو اوپیسې ترینه غلاشوې وې. په اول ځل انتظامې له مؤذن څخه پوښتنه وکړه نو هغه جواب ورکړ چې بکس دجمعې په وخت دمسجد په صحن کښې ایښې وو، کله چې جمعه ودریده نو ماشومانو دبکس کونډې ماتې کړې وې اوپیسې یې ترینه ایستلې وې، دده په قول یو لمونځ کونکی ماشومان په تیښته لیدلی وو. خبره اخوا دیخوا شوه له دې واقعی څخه نیمه میاشت وروسته مؤذن اطلاع ورکړه چې ما بکس مات وموندل شو منتظمه کمیټئ ته حیرانی وشوه چې په ټول کاله کښې کله هم داسې واقعه نده شوې. داځکه خبره ده ددې نوی مؤذن په راتگ سره داسې کیږی. د انتظامیی په مؤذن شک شو د انتظامی یو رکن له مؤذن څخه یوڅوسوالونه وکړل.

۱۔آیا تاپه دوران دهغتی کښې ولیدل چې څه حالت دې؟

۲۔دجمعې په ورځ چې کله بکس پورته کیده نو څه پیسې پکښې معلومیدلې؟

همداشان څونور سوالونه هم ترینه وشول. مؤذن دهر سوال په جواب کښې دعدم علم اظهار

وکړ. د انتظامیې په مؤذن شته شو چې دا دده کار معلومیږی خکه چې ده هیڅ یوتسلی بخش جواب ورنکړ. اوس پوښتنه داده چې آیا دمسجد دټول سامان حفاظت په انتظامیه دې، اوکه په مؤذن باندې؟ په داسې حال کښې چې دمسجد دټولو قلفونو کلیانی دمؤذن سره وی اوهمدا راز دسامان دغلا کیدو په صحت کښې ضمان راځی اوکه نه؟ که راځی نو په چا راځی ؟ په مؤذن اوکه په انتظامیه باندې ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په عرف عام کښې دمسجد اثاثه دمؤذن په تحویل کښې وی اوله هغه سره امانت وی که چیرته له مناسب حفاظت سره سره نقصان وشی نو په مؤذن ضمان نشته اوکه په حفاظت کښې غفلت ثابت شی نو په مؤذن ضمان لازم دې، په صورت مسئوله کښې دمؤذن غفلت ظاهر دې لدې وجی نه په مؤذن ضمان شته دې. والله سبحانه وتعالی اعلم.

۴ / جمادی الاولی ، سنہ ۹۸ ھ

په وکیل بالشراء ضمان نشته

سوال: زید بکر ته وویل چې ماته یوه دوا واخله اورایې وړه لیکن د دوا لپاره یې پیسې نه دی ورکړی. بکر دوا واخسته د دوا بوتل له هغه څخه پریوت اومات شو، بکر دوباره بل بوتل واخیست. زید ته یې ورکړ اوس آیا بکر د داړو بوتلونو دقیمت اخستوحق له زید څخه لری؟ اوکه دیوه بوتل ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د داړو شیشو قیمت په زید باندې دې، والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۳شعبان سنہ۱۳۹۸ھ

په سپاره سړی دضمان د وجوب تفصیل

سوال: یوه نوجوان هلك اسپه تیزه گرځوله. اسپه دهغه له اختیار څخه ووتله اویوه وزه یې له پښو لاندې کړه اوهغه مړه شوه. اوس دا هلك ضامن دنقصان دې اوکه نه ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: کله چې یوه سورلی دمستی له وجی بی قابوشی یعنی سپور دهغه د را حصارولو څخه عاجزشی نو په سپاره ضمان نشته. که ځانی نقصان وی اوکه مالی نقصان خکه چې دلته د دابې فعل دسپاره طرفته نه منسوب کیږی اوکه دسپور په عجز کښې اختلاف راشی نو د اثبات عجز لپاره په سپور باندې بینه لازمه ده اوکه نه نو قول دخصم به مع الیمین معتبر وی. داحکم په هغه وخت کښې دې چې سپاره اسپه په معتاد رفتار چلوله اوکه په غیر معتاد رفتار سره یعنی په قمچینه وغیره سره یې ووهله یا سپاره عملا دخپل قدرت نه زیات په تیز رفتار سره چلوله نو بیا په سپاره ضمان شته **لانه متعد کناخس الدابه**

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: او انفلتت دابة بنفسها فاصابت مالا او ادميا نهارا اوليلا لاضمان فى الكل لقوله صلى الله عليه وسلم العجماء جبار اى المنفلتة هدر كما لو جمحت الدابة به اى بالراكب ولو سكران ولم يقدر الراكب على ردها فانه لا يضمن كالمنفلتة لانه حينئذ ليس بمسير لها فلا يضاف سيرها اليه حتى لو اتلفت انسانا فدمه هدر عادية.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: وذكر الرملى انهما لو اختلفا فى عدم القدرة على ردها فالقول للمصم والبينة على مدعى العجز لان انكاره لاصل الضمان فى ضمن الدعوى لا يفيد بعد تحقق سببه تأمل اه ملخصا (رد المحتار ص۲۹۰ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۵ صفر سنه: ۹۹

دحیوان په نقصان باندې ضمان

سوال: څه فرمائی علماء کرام په دې مسئله کښې که چیرته چاځپل خر یا غوا یا اوښ په بیابان یعنی ځنګل کښې خوشې کړ دځر لپاره بیا دا حیوان دیو چازراعت ته ولاړ اوهغه یې نقصانی کړ لیکن یوځلې یې نقصان ندې کړی بلکه څوکرته راځې اودخلکو زراعت تلف کوی آیا په مالك یې ضمان لازم دې اوکه نه؟ که ضمان لازم وی نوجواب ددې حدیث چې (العجماء جرحها جبار) څه دې اودویم داچې اشهاد کول تنها په باره دتلف دمال کښې اعتبار لری اوکه نه؟ که لری یې نو د دې دعبارت د رد المحتار جواب څه دې؟

وما لا يخاف معه تلف الادمى بل يخاف معه تلف المال فقط كعصب الكروم فلا يفيد فيه الاشهاد (رد المحتار ص۳۹۲ ج۵ ص۶۱۱ ج۶)

ولو ارسل بهيمة فافسدت زرعا على فورها ضمن المرسل وان مالت يمينا او شمالا وله طريق اخر لا يضمن لما مر (رد المحتار ص۳۹۲ ج۵ ص۶۱۲ ج۶) بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په دې صورت کښې ضمان نشته، البته په حکومت لازم دی چې مالك ته تنبیه ورکړی که نه منع کیږی نو مناسبه سزادې ورکړی، والله سبحانه وتعالى اعلم.

۱۷ شوال سنه ۱۳۹۹هـ

په مشترک اجیر دضمان حکم

سوال: که شپون یا اجنبی ولیدل چې میږه یا غوا مری اوقریب الموت ده اوذبح یې کړه نو آیا په ذابح به ضامن وی اوکه نه؟ اوکه دشپون له لاسه میږه ورکه شوه ضامن به وی اوکه نه؟ اوپه ختونبارونو کښې داسې رواج دې چې روزانه دکلی له اوسیدونکو څخه یونفر دکلی میږې څروی

آیا دا یونفریه حکم دراعی کښې [illegible] صورت د ذبح کولو اویا ورکیدلو د میږو کښې اوکه نه؟ او زمونږ په علاقه کښې راعی مشترك وی په مابین دخوکسانو کښې. اوپه رد المحتار کښې داعبارت موجود دي

ولو ذبحها الراعی اوالاجنبی ضمن لو رجا حیاتها اواشکل امرها ولوتیقن موتها لاالا لان دلالة هو الصحیح

(ردالمحتار ص۱۴۶)

او په مجمع الانهرکښې داسې دی: **فلوذبح الراعی اوالاجنبی شاة لایرجی حیاتها لایضمن وقال الصدر الشهید یضمن (مجمع الانهر ص۳۲۲ج۲)**

چونکه مسئله مختلف فیها ده، لهذا قول صحیح اومفتی به معلوم کول غواړو اوپه رد المحتار کښې موجود دي چې: **وبقولها یفتی**

پس په نزد د صاحبینو اجیر مشترك په هر حال ضامن کیږی. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په تضمین داجیر مشترك کښې څلور صورتونه دی:

۱- په فعل داجیر هلاك شوې وی اوتعدی هم موجوده وی.

۲- په فعل داجیر هلاك شوې وی لیکن تعدی په کښې نه وی، په دغه دواړو صورتونو کښې په وجوب دضمان دحنفی علماؤ اتفاق دې.

۳- په فعل داجیر هلاك نه وی اوله هغه څخه احترازهم ممکن نه وی، په دې صورت کښې په عدم وجوب الضمان اتفاق دې.

۴- هلاك بفعل الاجیرنه وی، البته له هغه څخه احتراز ممکن وی، داصورت مختلف فیها دې په دې کښې څلور اقوال دی:

۱- دامام اعظم په نزد ضمان واجب نه دي ۲- دصاحبینو په نزد ضمان واجب دې. ۳- دمتاخرینو په نزد نصف قیمت واجب دې. ۴- څینو دا تفصیل کړې دې که اجیر مصلح وی نو ضمان نشته اوکه غیر مصلح وی نو ضمان شته اوکه مستور الحال وی نو نصف قیمت واجب دې.

دا څلور واړه اقوال مصحح اومفتی بها دی په موقع اومحل غور وکړئ کوم قول چې مناسب وګڼئ په هغه فتوی ورکړئ.

ددې تفصیل په نظر کښې نیولو سره دسوال په صورت کښې که په شهادت شرعیه یا اقرار دمالك سره موت ثابت شی نو اتفاقا ضمان واجب ندې اوکه نه نو دصاحبینو دقول مطابق ضمان به واجب وی دمتاخرینو دبیان کړی تفصیل مطابق نصف قمیت او د پوره ضمان فتوی هم ورکولی شی، په نوبت څرونکې هم په حکم دراعی کښې دې

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: (قوله ولا یضمن الخ) اعلم ان الهلاك اما بفعل الاجیر اولا. والاول اما بالتعدی اولا. والثانی اما ان یمکن الاحتراز عنه اولا. ففی الاول بقسمیه یضمن اتفاقا. وفی ثانی الثانی لا یضمن اتفاقا. وفی اوله لا یضمن عند الامام مطلقا ویضمن عندهما مطلقا وافتی المتاخرون بالصلح علی نصف القیمة مطلقا. وقیل ان مصلحا لا یضمن وان غیر مصلح ضمن وان مستورا فالصلح اهـ والمراد بالاطلاق فی الموضعین المصلح وغیره.

وفی البدائع: لا یضمن عنده ما هلك بغیر صنعه قبل العمل اوبعده لانه امانة فی یده وهو القیاس وقالا یضمن الامن حرق غالب اولصوص مکابرین وهو استحسان اهـ قال فی الخیریة: فهذه اربعة اقوال کلها مصححة مفتی بها. وما احسن التفصیل الاخیر والاول قول ابی حنیفة رحمه الله تعالیٰ وقال بعضهم قول ابی حنیفة رحمه الله تعالیٰ قول عطاء وطاؤس رحمهما الله تعالیٰ وهما من کبار التابعین، وقولهما قول عمر وعلی رضی الله تعالیٰ عنهما وبه یفتی احتفاما لعمر وعلی رضی الله تعالیٰ عنهما وصیانة لاموال الناس والله اعلم اهـ وفی التبیین: وبقولهما یفتی لتغیر احوال الناس وبه یحصل صیانة اموالهم اهـ لانه اذا علم انه لا یضمن ربما یدعی انه سرق اوضاع من یده.

وفی الخانیة والمحیط والتتمة: الفتوی علی قوله فقد اختلف الافتاء ولذا جمعت ما فی الخیریة. وقال ابن مالك فی شرح المجمع: وفی المحیط: الخلاف فیما اذا کانت الاجارة صحیحة فلو فاسدة لا یضمن اتفاقا. لان العین حینئذ تکون امانة لکون المعقود علیه وهو المنفعة مضمونة باجر المثل اهـ (رد المحتار ص ۰ ج ۵) والله سبحانه وتعالیٰ اعلم.

۱۷ شوال سنه ۹۹ هـ

له دوبی سره دضائع شوی لباس (جامو) دضمان حکم

سوال دوبی ته چی دوینځلو لپاره لباس ورکول کیږی که له هغه څخه لباس ضائع شی نو دوبی دهغه نیم قیمت مالك ته ورکوی آیا دقیمت اخستل مالك ته جائزدی اوکه ناجائز؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب هو، جائزدی. البته که ضیاع متیقن وی نو جائزندی

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالیٰ: (قوله ولا یضمن الخ) اعلم ان الهلاك اما بفعل الاجیر اولا والاول اما بالتعدی اولا والثانی اما ان یمکن الاحتراز عنه اولا ففی الاول بقسمیه یضمن اتفاقا وفی ثانی الثانی لا یضمن اتفاقا وفی اوله لا یضمن عند الامام رحمه الله تعالیٰ مطلقا ویضمن عندهما رحمهما الله تعالیٰ مطلقا وافتی المتاخرون بالصلح علی نصف القیمة مطلقا وقیل ان مصلحا لا یضمن وان غیرمصلح ضمن وان مستورا فالصلح اهـ والمراد بالاطلاق فی الموضعین المصلح وغیره (رد المحتار ص ۰ ج ۵)

وقال ايضا: وحاصل ما في الطوري [illegible] ان ضمان المشترك ما تلف مقيد بثلاثة شرائط ان يكون في قدرته رفع ذلك فلو غرقت بموج اوريح اوصدمة جبل لايضمن وان يكون محل العمل مسلما اليه بالتخلية فلوركب المتاع اوو كيله في السفينة لايضمن وان يكون المضمون مما يجوز ان يضمن بالعقد فلا يضمن الادمي كما يأتي (ردالمحتار ص ۴۳ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲ربيع الاول سنه ۱۴۰۰هـ

په ضما ن كښې قيمت له مثل څخه زيات اخستل جائز ندى

سوال: كه په دكان كښې كوم اخستونكې يا دهغه ماشوم څه نقصان وكړى نو دهغه شى قيمت له نفعې سره اخستل جائزدى او كه نه ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: د بازار دعام قيمت برابر اخستل جائزدى اوزائد ندى جائز، والله سبحانه وتعالى اعلم. ۱۸جمادى الثانيه سنه ۱۴۰۰هـ

په طبيب يا ډاكتربانديې دضمان دوجوب تفصيل

سوال: دطبيب يا ډاكتر دعلاج نه كه څوك مړشى يا دهغه كوم اندام تلف شى آيا په طبيب يا ډاكتر ضمان واجب دې او كه نه؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دطبيب دوه قسمونه دى: ۱- حاذق ۲- جاهل

دطبيب حاذق حكم: دده لپاره علاج كول جائزدى اوله ده څخه د رفع ضمان لپاره دوه شرطونه دى. ۱- مريض يا دهغه ولى دعلاج اجازه وركړى وى ۲- علاج يې داصول طبيه مطابق كړې وى كه له دې څخه كوم شرط مفقود وى اودمريض نقصان وشو نو ضمان واجب دې او كه بلا اذن يې علاج كړې وى نو پوره ضمان واجب دې او كه په اذن سره يې كړې وى نو په هغې كښې دا تفصيل دې

دعلاج توله طريقه اوعمل دطبى اصولو خلاف وى: په دې صورت كښې كه مريض هلاك شى نو تول ديت لازم دې او كه كومه عضوه تلف شى نو دفقهاء كرامو دتفصيل موافق ضمان واجب دې

څه عمل د اصول طبيه موافق اوڅه مخالف وى، په دې صورت كښې كه مريض هلاك شى نو نيم ديت واجب دې او كه عضو تلف شى نو پوره ضمان به واجب دې او كه په عضو كښې نقصان راغلې وى نو دموضع معتاد نه دتجاوز په وجه چې څومره نقصان شوې وى په قدر دهغه ضمان راځى

دطبيب جاهل حكم دده لپاره علاج كول جائز ندى اوپه هر صورت په ده باندې پوره ضمان واجب دې برابره خبره ده كه علاج داصول طبيه موافق وى او كه غير موافق. دمريض يا دهغه دولى په اجازت يې علاج كړى يا بلا اجازته

تنبيه وجوب ضمان په هغه صورت كښې دې چې په علاج كښې دطبيب يا ډاكتر خپل لاس

ستعمال شوې وي مثلا اپريشن يې کړې وي يا ستن ، انجکشن ، يې لګولې وي يا يې په جهل لاس دوا ورخکلې وي او که دوايي جوړه کړې يا ليکلې وي او مريض ته يې ورکړې وي او مريض په جهل لاس دوا خوړلې وي نو بيا ضمان واجب ندې. البته تعزير په هر صورت واجب دې

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ولا ضمان على حجام وبزاغ اى بيطار وفصاد لم يجاوز الموضع المعتاد فان جاوز المعتاد ضمن الزيادة كلها اذا لم يهلك المجني عليه وان هلك ضمن نصف دية النفس لتلفها بمأذون فيه وغير مأذون فيه فيتنصف ثم فرع عليه بقوله فلو قطع الختان الحشفة وبرئ المقطوع تجب عليه دية كاملة لانه لما برئ كان عليه ضمان الحشفة وهي عضو كامل كاللسان فان مات فالواجب عليه نصفها لحصول تلف النفس بفعلين احدهما مأذون فيه وهو قطع الجلدة والآخر غير مأذون فيه وهو قطع الحشفة فيضمن النصف ولو شرط على الحجام ونحوه العمل على وجه لا يسري لا يصح لانه ليس في وسعه الا اذا فعل غير المعتاد فيضمن عمادية وفيها سئل صاحب المحيط عن فصاد قال له غلام او عبد افصدني ففصده فصدا معتادا فمات بسببه قال تجب دية الحر وقيمة العبد على عاقلة الفصاد لانه خطأ وسئل عمن فصد نائما وتركه حتى مات من السيلان قال يجب القصاص.

قال ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله لم يجاوز الموضع المعتاد)

اى وكان بالاذن قال في الكافي عبارة المختصر ناطقة بعدم التجاوز وساكتة عن الاذن وعبارة الجامع الصغير ناطقة بالاذن ساكتة عن التجاوز فصار ما نطق به هذا بيانا لما سكت عنه الآخر ويستفاد بمجموع الروايتين اشتراط عدم التجاوز والاذن لعدم الضمان حتى اذا عدم احدهما او كلاهما يجب الضمان اهـ طوري وعليه ما يأتي عن العمادية (قوله فلو قطع الختان الحشفة) اى كلها قال في المنح دلالته ولو قطع بعضها يجب حكومة عدل كما ذكره الاتقاني (قوله دية كاملة) قال الزيلعي هذا من اعجب المسائل حيث وجب الاكثر بالبرء والاقل بالهلاك (قوله تجب دية الحر) اى لو كان الغلام حرا وقيمة العبد لو كان عبدا قال ط اى وفعله غير مأذون فيه حيث لم يعتبر اذنهما للحجر عليهما في الاقوال (قوله لانه خطأ) اى من الفعل خطأ الظاهر بحسب فعله والدليل عليه عدم مجاوزة الفعل المعتاد (قوله قال يجب القصاص) لانه قتله عمدا ط اى وهو قاصد لفعله لكن عدا (رد المحتار ص ج۵)

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: يمنع مفت ماجن يعلم الحيل الباطلة كتعليم الردة لتبين من زوجها او لتسقط عنها الزكاة وطبيب جاهل.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: قوله (وطبيب جاهل) بان يسقيهم دواء مهلكا واذا قوي عليهم

لایقدر علی ازالته ضرر تزیلعی (ردالمحتار ص۳۴ج۵)

قال الامام ابوداود رحمه الله تعالی: حدثنا محمد بن العلاء نا حفص نا عبدالعزیز بن عمر بن عبدالعزیز حدثنی بعض الوفد الذین قدموا علی ابی قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم ایما طبیب تطبب علی قوم لایعرف له تطبیب قبل ذلك فاعنت فهو ضامن قال عبدالعزیز اما انه لیس بالنعت انما هو قطع العروق والبط والکی .

(سنن ابی داود ص۲۸۲ج۲)

قال العلامة السهارنفوری رحمه الله تعالی: اما انه لیس بالنعت ای حکم الضمان لیس بالوصف باللسان وکذا حکم الکتابة فانه اذا وصف الدواء لانسان فعمل بالمریض فهلك لایلزم الطبیب الدیة انما هو ای حکم الضمان لقطع العروق والبط ای الشق والکی بالنار (بذل المجهود ص۱۸۰ج۶) والله سبحانه وتعالی اعلم.

۱۶ ذی الحجة سنــ۱۴۱۶ھـ

دضمان په طور دعلاج مصارف اخستل

سوال: بکر را پاخیده او زید یې په چاقو اوواهه اوشدید یې زخمي کړ او هغه په هسپتال (روغتون) کښې ترعلاج لاندې دې . د علاج، له ډاکترانو څخه دسرټیفکیټ (سند) اخستلو اوپه پولیس کښې د زید څو زره روپۍ مصرف شوې، اوس د صلحې په وخت کښې زید له بکر څخه د لـــو زرو روپو مطالبه کوی آیا د زید لپاره دا روپۍ اخستل اوصلح کول جائزدی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: هو ! جائزدی . والله سبحانه وتعالی اعلم.

۲۰ ذی الحجه سنہ۱۴۱۶ھ

د آلات معصیت په ماتولو د ضمان د وجوب حکم

دامسئله په کتاب الحظر والاباحه کښې د ((آلات معصیت دماتو لو حکم)) ترعنوان لاندې تیره شوې ده

باب القود

دقصاص دحق تفصیل

سوال : زید خالد لره په ناحقه قتل کړو، دوخت حکومت زید څوکاله په بندیخانه کښې قیدکوی او پریږدی یی یا زید اصلا دحکومت لاس ته نه ورځی. په غرونو کښې دې. حکومت دهغه له نیولو څخه عاجز دې، که په داسې حالاتو کښې دخالد ورور یا دهغه بل رشته دار یا دقوم بل شخص زید د خالد په عوض کښې قتل کړی، آیا دشریعت له نظره دخالد وارثانو ته دا حق شته چی له زید څخه دخالد قصاص واخلی، حکومت په هغه راضی ندې هغه وایی چی مونږ به په خپله فیصله کوو، دحکومت فیصله څو څوکاله قید وی، امید دې چی دمسئلې وضاحت سره دلائلو بیان کړئ اوعند الله ماجور وګرځئ. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : قال الله تعالى: ومن قتل مظلوما فقد جعلنا لوليه سلطانا فلا يسرف فى القتل انه كان منصورا.

۱ـــ قال العلامة الالوسى رحمه الله تعالى: (ومن قتل مظلوما) بغير حق يوجب قتله اويبيحه للقاتل حتى انه لايعتبر اباحته لغير القاتل وقد نص علماؤنا ان من عليه قصاص اذا قتله غير من له القصاص يقتص له ولاينفعه قول الولى انا امرته بذلك الاان يكون الامر ظاهرا (فقد جعلنا لوليه) لمن يلى امره من الوارث اوالسلطان عند عدم الوارث والقصار البعض على الاول رعاية للاغلب (سلطانا) اى تسلطا واستيلاء على القاتل عواعلته باحد الامرين القصاص اوالدية وقد تتعين الدية كما فى القتل الخطا والمقتول خطا مقتول ظلما بالمعنى الذى اشير اليه. (روح المعانى ص۶۹ ج۱۵)

۲ـــ وقال الامام ابوبكر الجصاص رحمه الله تعالى: القتل ينقسم الى اربعة انحاء واجب ومباح ومحظور وماليس بواجب ولامحظور ولامباح (الى ان قال) واما المباح فهو القتل الواجب لولى الدم على وجه القود فهو مخير بين القتل والعفو (احكام القرآن للجصاص ص۲۰۶ ج۲)

۳ـــ وقال فى موضع اخر فى تفسير قوله تعالى (ولاتقتلوا النفس التى حرم الله الابالحق) وقال الضحاك السلطان انه مخير بين القتل وبين اخذ الدية وعلى السلطان ان يطلب القاتل حتى يدفعه اليه. (احكام القرآن للجصاص ص۲۶۰ ج۲)

۴ـــ وقال ابوبكر بن العربى رحمه الله تعالى: وتحقيق ذلك ان الله تعالى اوجب القصاص ردعا عن الاتلاف

وحياة للباقين وظاهره ان يكون حقا لجميع الناس كالحدود والزواجر عن السرقة والزنا حتى لايختص بها مستحق بعينه الا ان الباري تعالى استثنى القصاص من هذه القاعدة وجعله للاولياء الوارثين ليتحقق فيه العفو الذي ندب اليه في باب القتل ولم يجعل عفوا في سائر الحدود لحكمته البالغة وقدرته العاقلة ولذا قال صلى الله عليه وسلم من قتل له قتيل فهو بخير النظرين بين ان يقتل او ياخذ الدية وكانت هذه كما تقدم ذكره خاصية اعطيها هذه الامة تفضلا وتفضيلا وحكمة وتفصيلا خص بذلك الاولياء ليتصور العفو والاستيفاء لاختصاصه بالحزن (احكام القران صـ١٩٣ جـ٣)

٥ـــ ثم قال (قوله سلطانا) فيه خمسة اقوال (الى ان قال) اما طلبه حتى يدفع اليه فهو ابتداء الحق واخره استيفاؤه وهو القول الخامس. (احكام القران صـ١٩٤ جـ٣)

٦ـــ وقال الامام الخازن رحمه الله تعالى: (ومن قتل مظلوما فقد جعلنا لوليه سلطانا) اى قوة وولاية على القاتل بالقتل وقيل سلطانه هو انه يتخير فانه شاء استقاد منه وان شاء اخذ الدية وان شاء عفا (تفسير خازن صـ١٦٣ جـ٣)

٧ـــ وقال العلامة ابو البركات النسفي رحمه الله تعالى: (سلطانا) تسلطا على القاتل في الاقتصاص منه (مدارك التنزيل بهامش الخازن صـ١٦٣ جـ٣)

نصوص الفقه:

١ـــ قال الامام المرغيناني رحمه الله تعالى: ومن قتل وله اولياء صغار وكبار فللكبار ان يقتلوا القاتل عند ابي حنيفة رحمه الله تعالى وقالا رحمهما الله تعالى ليس لهم ذلك حتى يدرك الصغار (هداية صـ٦٥ جـ٤)

٢ـــ وقال العلامة البابرتي رحمه الله تعالى: اذا كان اولياء القتيل صغارا وكبارا فاما ان يكون فيهم الاب اولا فان كان فلهم الاستيفاء عند علمائنا رحمهم الله تعالى بالاتفاق وان لم يكن فكذلك عند ابي حنيفة رحمه الله تعالى وقالا رحمهما الله تعالى ليس لهم ذلك حتى يدرك الصغار. (العناية بهامش الفتح صـ١٦٢ جـ٩)

٣ـــ وقال الامام الكاساني رحمه الله تعالى: فان كان الكل كبارا فلكل واحد منهم ولاية استيفاء القصاص حتى لو قتله احدهم صار القصاص مستوفى (وبعد اسطر) وكذا اذا كان الكل حضورا لايجوز لهم ولا لاحدهم ان يوكل في استيفاء القصاص على معنى انه لايجوز لهم ولا لاحدهم ان يوكل في استيفاء القصاص عنهم على انه لايجوز للوكيل استيفاء القصاص مع غيبة الموكل لاحتمال ان الغائب قد عفا ولان في

اشتراط حضرة الموکل رجاء العفو منه عند معاینة حلول العقوبة بالقاتل (بدائع صـ۲۴۳ جـ۷)

۴ــ وقال ایضا: وکذا اذا قتل من علیه القصاص بغیر حق او بحق بالردة والقصاص بان قتل انسانا فقتل به قصاصا یسقط القصاص ولا یجب المال لما قلنا (بدائع صـ۲۴۶ جـ۷)

۵ــ وقال العلامۃ الحصکفی رحمه الله تعالی: من علیه التعزیر لو قال لرجل اقم علی التعزیر ففعله ثم رفع للحاکم فانه یحتسب به قنیة واقره المصنف ومثله فی دعوی الخانیة لکن فی الفتح ما یجب حقا للعبد لا یقیمه الا الامام لتوقفه علی الدعوی الا ان یحکما فیه فلیحفظ.

وقال العلامۃ ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله لا یقیمه الا الامام) وقیل لصاحب الحق کالقصاص ووجه الاول ان صاحب الحق قد یسرف فیه غلطا بخلاف القصاص لانه مقدر کما فی البحر عن المجتبی (رد المحتار صـ۱۸۱ جـ۳)

۶ــ وقال العلامۃ التمرتاشی رحمه الله تعالی: وللکبار القود قبل کبر الصغار.

وقال العلامۃ ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله وللکبار القود الخ) ای اذا قتل رجل هل ولی کبیر وصغیر کان للکبیر ان یقتل قاتله عنده لانه حق مشترک وفی الاصل ان کان الکبیر ابا استوفی القود بالاجماع وان کان اجنبیا بان قتل عبد مشترک بین اجنبیین صغیر و کبیر لیس له ذلک وفی الکلام اشارة الی انه لو کان الکل صغارا لیس للاخ والعم ان یستوفیه کما فی جامع الصغار فقیل ینتظر بلوغ احدهم وقیل یستوفی السلطان کما فی الاختیار والقاضی کالسلطان والی انه لو کان الکل کبار الیس للبعض ان یقتص دون البعض ولا ان یوکل باستیفائه لان فی شبهة لمو کل احتمال العفو فالقصاص یستحقه من یستحق ماله علی فرائض الله تعالی ویدخل فیه الزوج والزوجة کما فی الخلاصة والی انه لا یشترط القاضی کما فی الخزانة والی انه لو کان القتل خطأ لم یکن للکبیر الا استیفاء حصة نفسه کما فی الجامع قهستانی وقوله لا یشترط القاضی ای قضاؤه فمن له القصاص له ان یقتص سواء قضی به اولا کما فی البزازیة (رد المحتار صـ۳۲۰ جـ۵)

۷ــ وقال العلامۃ الرافعی رحمه الله تعالی (قوله وقیل لیستوفی السلطان) فی منهوات الانقروی اذا کان الورثة کلهم صغارا فاستیفاء القصاص الی السلطان هو الاصح وجیز والمجنون والمعتوه کالصبی.

(التحریر المختار صـ۲۲۳ جـ۲)

۸ــ وقال العلامۃ الحصکفی رحمه الله تعالی: ولو کان ولی القتیل بعد القتل ای بعد قتل الاجنبی کسعد امرته لقتله ولا بینة له علی مقالته لا یصدق ویقتل الاجنبی دری (رد المحتار صـ۳۲۰ جـ۵)

۹ــ وقال ایضا: وظاهره ان حق الولی یسقط راسا کما لو مات القاتل حتف انفه (حوالہ بالا)

۱۰ــ وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی معزیا للتتارخانیة: اذا قتل القاتل بحق او بغیر حق سقط عنه القصاص بغیر مال وکذا اذا مات (ردالمحتار ص۴۳۰ج۵)

۱۱ــ وقال ایضا: لو استوفاه بعض الاولیاء لم یضمن شیئا وفی المجتبی والدرر دم بین اثنین عفا احدهما ولعله الآخر ان علم ان عفو بعضهم یسقط حقه یقاد والا فلا والدیة فی ماله (حوالہ بالا)

۱۲ــ وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: وعفو الولی عن القاتل افضل من الصلح والصلح افضل من القصاص (ردالمحتار ص۴۵۲ج۵)

۱۳ــ وقال ایضا: الامام شرط استیفاء القصاص کالحدود عند الاصولیین وفرق الفقهاء اشباه

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله وفرق الفقهاء) ای بین القصاص والحدود فیشترط الامام لاستیفاء الحدود دون القصاص حموی قال فی الهندیة واذا قتل الرجل عمدا وله ولی واحد فله ان یقتله قصاصا قضی القاضی به اولم یقض اهـ (ردالمحتار ص۴۵۲ج۵)

۱۴ــ وفی العلائیة عن الاشباه: الحدود کالقصاص الا فی سبع.

وفی الشامیة: (تنبیه) زاد الحموی ثامنة وهی اشتراط الامام لاستیفاء الحدود دون القصاص (ردالمحتار ص۴۵۳ج۵)

۱۵ــ وقال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: ویسقط القود بموت القاتل لفوات المحل (ردالمحتار ص۴۶۰ج۵)

۱۶ــ وقال ایضا: القود یثبت للورثة ابتداء بطریق الخلافة من غیر سبق ملك المورث لان شرعیة القود لتشفی الصدور ودرك الثار والمیت لیس باهل له وقوله تعالی فقد جعلنا لولیه سلطانا نص فیه.

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله القود یثبت للورثة) قال فی الخانیة یستحق القصاص من یستحق میراثه علی فرائض الله تعالی یدخل فیه الزوج والزوجة اهـ (ردالمحتار ص۴۶۳ج۵)

له پورتنیو عبارتونو څخه لاندې امور مستفاد شول:

۱ـ که وارث په قاتل قادر نه وی نو په حکومت لازم دی چی قاتل ونیسی او د مقتول ولی ته یی حواله کړی.

۲ـ که کوم یو وارث قاتل قتل کړ نو قصاص اداء شو باقی وارثانو ته حق داعتراض نشته، یعنی ترڅو پورې چی کوم وارث معاف کړې نوی دمعاف کولو تفصیل په نمبر ۱۳ او ۱۴ کښې راځی

۳ـ که په وارثانو کښې ځینې واړه وی او بعضې غټ نو په قتل عمد کښې دلویانو حق دقصاص شته د ورو وارثانو دبلوغ انتظار دې نه کیږی.

۴. که ټول وارثان واړه وی یا لیونیان یا معتوه وی نو هیڅ اجنبی سړ قاتل قصاصاً نه شی قتل کولې ورورا ونره که له وراثت څخه محروم وی هغه هم داجنبی په حکم کښې دی، په دې صورت کښې به حاکم قصاص اخلی

۵. دقصاص د اخستلو حق دهغه چا دې چې هغوی ته له مړی څخه ترکه ورکول کیږی

۶. په اولیاؤ کښې چې دمقتول والد موجود وی نو په وخت دقصاص اخستو کښې دنورو اولیاؤ وجود ضروری نه دې اوکه والد موجود نه وی نو دټولو اولیاؤ وجود ضروری دې

۷. دتوکیل په صورت کښې په وخت دقصاص کښې دموکل وجود ضروری دې که دقصاص ولی څوك وکیل مقرر کړې وی اودې په خپله دقصاص له مجلس څخه غائب شی نو قصاص اخستل جائزندی

۸. په قتل موجب دیت کښې به دیت وارثانو ته په قدر دحصو ورکول کیږی

۹. قتل موجب دیت کښې که له وارثانو څخه ځینې واړه وی نو غټانو ته مکمل دیت اخستل جائزندی، هغوی صرف خپله حصه اخستلې شی

۱۰. که دمقتول ولی کوم اجنبی ته حکم وکړاوپه دغه حکم ورکولو باندې شاهدان موجود وو یا یې په خلکو کښې علی الاعلان حکم کړې وی نو هغه دولی په موجوګی کښې قاتل قتل کولې شی

۱۱. که شاهد موجود نه وی او اجنبی قاتل قتل کړ بیاد مقتول ولی ووایې چې ما حکم ورته کړی وو نو دده دا قول معتبر ندې بلکه له اجنبی څخه به قصاص اخستل کیږی

۱۲. که کوم اجنبی قاتل قتل کړې وی اویا هغه مړشو نو دمقتول اول دوارثانو حق ساقط کیږی هغه دمقتول ثانی په وراثانو یا ترکه باندې هیڅ قسم دعوی نه شی کولې

۱۳. که کوم وارث خپل حق دقصاص معاف کړی نو قصاص ساقطیږی باقی ورثه قصاص نه شی اخستې بلکه دیت به اخلی

۱۴. که دکوم وارث دمعاف کولو باوجود نوروقصاص واخسته که قصاص اخستونکو ته دامعلوم وو چې دځینو وارثانو معاف کول مسقط دقصاص دی نوله قصاص اخستونکو څخه به قصاص واخستل شی او که ورته معلومه نه وی نو قصاص به نه ترینه اخستل کیږی بلکه دهغوی په مال کښې به دیت راځی

۱۵. معاف کول افضل دی دصلح کولو نه اوصلح کول افضل دی دقصاص اخستونه ددغو لسوزو ذکر شویو نه دسوال جواب په خپله ظاهر شو والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۵ جمادی الاخره سنه ۱۳۸۸ھ

په غیر له توبې څخه دقتل ګناه نه معاف کیږي

سوال زید بکر لره قتل کړ که زید دبکر وارثانوته څه پیسې ورکړي اوهغوی راضي کړي نو آیا دآخرت له عذاب څخه به خلاص شي؟ اوکه وارثان راضي نه وي اوحکومت زید ته لس کاله دقید سزا ورکړي په دې سره دده ګناه معاف کیږي اوکه نه ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : د آخرت له عذاب څخه د خلاصیدو لپاره توبه اواستغفار او د مقتول وارثان راضي کول دواړه ضروري دي. لهذا صرف دقید سزا تیرولو سره یا صرف د وارثانو په رضا کولو سره ګناه نه معاف کیږي، دتوبې او د وارثانو له عاضي کیدلو نه بعد بیاهم دقتیل حق نه ادا کیږي . بلکه هغه ته به په آخرت کښې دمطالبې حق وي .

قال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى : (قوله لاتصح توبة القاتل حتى يسلم نفسه للقود) اى لاتكفيه التوبة وحدها قال فى تبيين المحارم واعلم ان توبة القاتل لاتكون بالاستغفار والندامة فقط بل يتوقف على ارضاء اولياء المقتول فان كان القتل عمدا لابدان يمكنهم من القصاص منه فان شاؤا قتلوه وان شاؤا عفوا عنه مجانا فان عفوا عنه كفته التوبة اه ملخصا وقدمنا انفا انه بالعفو عنه يبرأ فى الدنيا وهل يبرأ فيما بينه وبين الله تعالى هو بمنزلة الدين على رجل فمات الطالب وابرأه الورثة يبرأ فيما بقى اما فى ظلمة المتقدم لايبرأ فكذا القاتل لايبرأ عن ظلمه ويبرأ عن القصاص والدية تتارخانية اقول والظاهر ان الظلم المتقدم لايسقط بالتوبة لتعلق حق المقتول به واما ظلمه على نفسه باقدامه على المعصية فيسقط به اتأمل وفى الحامدية عن فتاوى الامام النووى رحمه الله تعالى مسالة فيمن قتل مظلوما فاقتص وارثه اوعفا على الدية اومجانا هل على القاتل بعد ذلك مطالبة فى الاخرة الجواب ظواهر الشرع تقتضى سقوط المطالبة فى الاخرة اه وكذا قال فى تبيين المحارم ظاهر بعض الاحاديث يدل على انه لايطالب وقال فى مختار الفتاوى القصاص مخلص من حق الاولياء واما المقتل فيخاصمه يوم القيامة فان بالقصاص مخلص من حق الاولياء واما المقتول فيخاصمه يوم القيامة فان بالقصاص ما حصل فائدة للمقتول وحقه باق عليه اهوهو مؤيد لما استظهرته (رد المحتار ص ۳۵۲ ج ۵) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۲ صفر سنه ۸۹ هـ

په سزا سره دقصاص حق اودصلحې حق نه ساقط کیږي

سوال دوه کسانو په ګډه یو شخص قتل کړ، حکومت دواړو ته د بندیخانې اولویې جرمانې سزا ورکړه . له خلاصیدو بعد د مقتول وارثانو دقصاص او خون بها مطالبه وکړه آیا دحکومت د سزا نه بعد ددوئ مطالبه صحیح ده ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : که حکومت دمقتول له وارثانو نه قصاص اوخون بها معاف کړی په وی اونه یی له قاتلانو څخه خون بها اخستې وی نو د وارثانو مطالبه صحیح ده والله سبحانه وتعالی اعلم.
۷جمادی الثانیه سنه ۱۳۹۱هـ

په محارمو کښې دیو بل په قتلولو کښې دقصاص تفصیل

سوال په لاندې صورتونو کښې حکم شرعی څه دې؟

۱. زید خپل زوئ (بکر) عمدا یا خطاءً قتل کړ
۲. بکر خپل پلار (زید) عمداً یا خطاءً قتل کړ.
۳. چاخپل سکه ورور عمداً یا خطاءً قتل کړ.

په دغه ټولو صورتونو کښې دپلار او زامنو او دوه ورونو په مینځ کښې دقصاص اودیت او وراثت په باره کښې حکم څه دی؟

الجواب باسم ملهم الصواب :

۱. په صورت دخطاء اوعمد دواړو کښې په پلار دیت واجب دې، په قتل خطا کښې دپلار په عاقله ؤ باندې اوپه عمد کښې دپلار په خپل مال کښې دیت واجب دې.

۲ – ۳ ـ دپلار او ورور دقاتل د عمد په صورت کښې قصاص اوپه صورت دخطاء کښې دهغه په عاقله ؤباندې دیت واجب دې.

په درې واړو صورتونو کښې چې قتل خطاء وې نو کفاره هم واجبه ده اوله میراث څخه به په هر صورت قاتل محروم وی، که قتل عمدا وی اوکه خطاءً.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: والفرع بأصله وان علا لا بعكسه خلافا لمالك رحمه الله تعالى فيما اذا ذبح ابنه ذبحا اى لا يقتص الاصول وان علوا مطلقا ولو اناثا من قبل الام فى نفس او اطراف بفروعهم وان سفلوا لقوله عليه السلام لا يقاد الوالد بولده وهو وصف معلل بالجزئية فيتعدى لمن علا لانهم اسباب فى احيائه فلا يكون سببا لافنائهم وحينئذ فتجب الدية فى مال الاب فى ثلاث سنين لان هذا عمد والعاقلة لا تعقل العمد (ردالمحتار ص۳۴۳ج۵)

وقال ايضا: فى بيان القتل العمد: وموجبه الاثم والقود عينا لا الكفارة لانه كبيرة محضا (رد المحتار ص ۳۳۰ج۵) . وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله وكل ذلك) اى ما تقدم من اقسام القتل الغير السابق عليه (ردالمحتار ص ۳۴۲ج۵)

وفى الهندية: وان كان الولد قتل ولده خطا فالدية على عاقلته وعليه الكفارة فى الخطا (عالمگیریه ص [illegible])

والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۸ محرم سنه ۹۸هـ

له عفوه کولو نه بعد دقصاص مطالبه کول جائزندی

سوال: دمقتول اولیاؤ د دوه شاهدانو په مخ کښې قاتل معاف کړ اوس هغوئ دوباره دقصاص دمطالبې حق لری او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: یوځل معاف کولو نه وروسته دقصاص حق دهميشلپاره ساقط کیږی اوس دوباره دقصاص مطالبه کول جائز ندی. والله سبحانه وتعالی اعلم ۱۸ صفر سنه ۱۳۹۸هـ

دقتل پلان دیوه سړی دقتلولو لپاره وؤ اوقتل بل کړې شو

سوال: عمرو په زید دقتل د پلان دعوی کوی او وایی چې زید څلوروکسانو ته د ده دقتلولو امر کړې وو هغوئ په ځای دده د هغه پلار قتل کړ، اوس پوښتنه داده چې په دې صورت کښې د آمر اومامورینو شرعا څه حکم دې؟ بینواتوجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دقتل امر په خپله ګناه کبیره ده برابره خبره ده چې په هغې سره قتل وشی اوکه ونه شی، لهذا په آمر باندې توبه او استغفار کول لازم دی اومامورین چونکه مباشرین دقتل دی له هغوئ څخه دې قصاص واخستل شی اګر که هغوئ غیر مقصود قتل کړی دې، ځکه چې دا قتل عمد دې، والله سبحانه وتعالی اعلم ۵محرم سنه ۱۳۹۹هـ

ضرب بالمثقل په قصد دقتل موجب دقصاص دی

سوال: امام ابوحنیفه رحمه الله دقتل شبه عمد تعریف داسې کړې دې چې: عمدا په داسې شی قتل کړې شی چې نه وسله وی اونه قائمقام دوسلې، کما فی هدایه ص۵۶۰ ج۴ او صاحبین دا تعریف کړې دې: ان یتعمد ضربه بما لا یقتل به غالبا (هدایة ص۵۶۱ ج۴)

دامام شافعی صاحب مذهب هم دصاحبینو مطابق دی.

لهذا په لویه ډبره یالوی لرګی سره قتل کول یا په ډیرو اوبوکښې غرق کول یا دغره نه راغورځول غرض دا چې په داسې شی چې اعضاء نه قطع کوی قتل کول دامام صاحب په نزد شبه عمد دې او دصاحبینو په نزد دا قتل عمد دې، امام صاحب اسلحه اونورشیان دقتل دلیت مظهر ګرځولی دی. لهذا په وسله سره قتل به قتل عمد وی او په غیر سلاح سره قتل به قتل شبه عمد وی او دصاحبینو په نز، مایقتل به غالبا قتل عمد دې اومالا یقتل به غالبا شبه عمد دې.

اوس پوښتنه داده چې په دې دور کښې دقتل بالمثقل واقعات په کثرت سره دی اوهمدارنګه قتل په آلهٔ جارحه سره روزمره معمول ګرځیدلې. دامام صاحب قول ته که دملکی قانون شکل

ورکړل شي نو خطره ده چې دقتل په واقعاتو کښې به کثرت راشي ځکه چې دشبه عمد سزا دیت دې او اوس خوله خلکو سره روپۍ ډیرې دی. بیا په روپو ادا کولو کښې سهولت هم زیات دې چې اول خوبه عاقله دیت اداء کړی او علاوه لا داچې تر دریو کلونو پورې مهلت هم شته.

ددی بالمقابل دصاحبینو تعریف ددې دور مناسب دې او د شرح عقود رسم المفتی دلاندې عبارت څخه واضحه ده چې دقضاء په معامله کښې دامام ابویوسف په قول دې فتوی ورکولې شی

وفی القنیة من باب المفتی: الفتوی علی قول ابی یوسف رحمه الله تعالی فیما یتعلق بالقضاء لزیادة تجربته کذا فی البزازیة من القضاء. (شرح عقود رسم المفتی ص۲۹)

همدارنګه ددغه کتاب په ص ۱۷ صفحه کښې تصریح ده چې دصاحبینو قول په حقیقت کښې دامام صاحب ذکوم اصل فرع وی، خپله امام صاحب هم دقتل شبه عمد لپاره دا شرط لګولې دې چې د ضارب قصد صرف تادیب وی اتلاف نفس نه وی چې دهغه حاصل دادې چې که چیرته قصد د اتلاف نفس وی نو بیا قتل بالمثقل دهغه په نزد هم په عمد کښې داخل دې لکه چې په لاندې عبارت کښې ددې تصریح ده : یشترط عند ابی حنیفة رحمه الله تعالی ای فی شبه العمد ان یقصد التادیب دون الاتلاف (ردالمحتار ص۵۲۱ ج۵)

په اعلاء السنن کښې هم په ۸ جلد کښې قتل بالمثقل بقصد القتل باندې دوجوب قصاص ذکر موجود دې ددې تفصیل په نظر کښې نیولو سره که په دور حاضر کښې دصاحبینو په قول فتوی ورکړل شی نو دلاندې احادیثو به څه جواب ورکولې شی :

۱ـ قال رسول الله صلی الله علیه وسلم قتیل السوط والعصا شبه العمد

۲ـ قال رسول صلی الله علیه وسلم الا ان قتیل خطأ العمد بالسوط والعصا والحجر فیه دیة مغلظة مائة من الابل منها اربعون خلفة فی بطونها اولادها (احکام القرآن باب شبه العمد ص۲۲۹ ج۲) بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب د امام صاحب په نزد په شبه العمد کښې دقصد التادیب دون الاتلاف شرط نص دې بدې خبره چې ضرب بالمثقل بقصد الاتلاف عمد دې. بیا د علم قصد دوه صورتونه دی یو دا چې قاتل په خپله اقرار وکړی. او دویم داچې دقرائن ظاهره موجبه یقین موجود وی

قال العلامة الرافعی رحمه الله تعالی: (قوله ای فی شبه العمد ان یقصد التادیب الخ) یؤ الفه ماقاله الزیلعی والحاصل هذا النوع شبه عمد لان فیه قصد الفعل لا القتل فکان عمدا باعتبار نفس الفعل وخطأ باعتبار القتل اه ویؤالفه ماذکره ایضا فی الاستدلال لمذهب الامام رحمه الله تعالی وعلی هذا اذا اقر بقصد القتله

عملا كربلعض منه عبده. (البحر الرائق ص ۳۷۲ ج ۴)

په مذکوره جزئیه کښې اگر چه صرف اقرار دقصد مذکور دې مگر قرائن ظاهره هم په اثبات دقصد کښې موثر گرځول شوی دی، کما فی کتاب الطلاق، بلکه قرائن قاطعه خو موجب دحکم گرځولې شوی دی.

په قرآن کریم کښې چې دقتل خطاء اوقتل عمد کومې سزاگانې ذکر شوی دی هغه په دې نص دی چې دغیر محدد قتیل هم په قصد دقتل قتیل عمد دې، له دې ځخه معلومه شوه چې په سوال کښې ذکر شوی احادیثو کښې قتل بلا قصد مراد دې، لهذا دقاضی په تحقیق کښې که قصد دقتل ثابت شی نو د قصاص حکم دې وکړی. والله سبحانه وتعالی اعلم ۳ ربیع الاول سنه ۹۹هـ

په آمر باندی قصاص نشته

سوال: د یوه مل (فابریکې) مالك دخو بد معاشانو په ذریعه د مزدورانو مشرقتل کړ. آیا د مقتول وارثانو ته د مل (فابریکې) دمالك یا دهغه دکوم زوئ وژل جائزدی اوکه نه؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: اصل قاتل به په هغه معهودو شرائطوقتل کولی شی چې د «حق قصاص د تفصیل» ترعنوان لاندې تیرشول ، دقتل د امر ورکونکی قتل کول نه دی جائز، والله سبحانه وتعالی اعلم ۵ صفر سنه ۱۴۰۱هـ

له غیر وارث سره صلح کول مسقط د قصاص ندی

سوال: دیوه مقتول وارثان په لاندې دول دی:

والده، ښځه، درې خویندې ، یو نابالغ زوئ اویو دماما د زوئ زوئ چې دمقتول اوښی هم دې دمقتول والدې اوښځې دده اوښی ته د قاتل سره د دعوې چلولو لپاره بحیثیت مدعی مختار نامه ورکړه چې ته زمونږ له طرف مدعی یې، اوس که چیرته له قاتل سره دصلح صورت راشی نو آیا دا مدعی بغیر د رضامندی دنورو وارثانو صلح کولې شی اوکه نه؟ او له نورو ورثه و ځخه کوم یو بغیر د رضا دباقی وارثانو صلح کولې شی ؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب: دقصاص طلب د وارثانو حق دې لهذا که له هغوئ ځخه یې یو هم معاف کړی یا صلح ورسره وکړی نو قصاص ساقطیږی اوکوم ورثه چې راضی نه دی، دهغو دحصې به دیت ورکوی.

په سوال کښې دمذکوره اشخاصو نه دماما دزوئ زوئ وارث ندې لهذا دهغه صلح کول یا معاف کول غیر معتبر دی

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: (ویسقط القود بموت القاتل وبعفو الاولیاء وبصلحهم علی مال ولو

قبلا ویهب حالا ویصلح احدهم ویعفو فللمن بقی حصته من الدیة (رد المحتار ص ۳۵۴ ج ۵)

قال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله القود یثبت للورثة) قال فی الخانیة یستحق القصاص من یستحق میراثه علی فرائض الله تعالی یدخل فیه الزوج والزوجة اه (رد المحتار ص ۳۶۴ ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۸ ربیع الثانی سنہ ۱۴۰۳ھ

په وارثانو کښې که څوک نابالغ وی نو دقصاص حکم

سوال که د مقتول په وارثانو کښې یویا دوه کسان نابالغ وی نو دقصاص اخستلو لپاره به دهغوی تربلوغ پورې انتظار کولې شی او که فی الحال قصاص اخستل جائزدی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: فی الحال قصاص اخستل جائزدی، دماشومنو دبلوغ انتظار ضروری ندې

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: وللکبار القود قبل کبر الصغار خلافا لهما والاصل ان کل مالایتجزی اذا وجد سببه کاملا ثبت لکل علی الکمال کولایة انکاح وامان الا اذا کان الکبیر اجنبیا عن الصغیر فلا یملك القود حتی یبلغ الصغیر اجماعا زیلعی فلیحفظ۔

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله خلافا لهما) فعندهما لیس لهم ذلك الا ان یکون الشریك الکبیر ابا للصغیر نهایة وقاساه علی ما اذا کان مشترکا بین کبیرین واحدهما غائب (قوله والاصل الخ) استدلال لقول الامام قال فی الهدایة وله انه حق لایتجزی لثبوته بسبب لایتجزی وهو القرابة واحتمال العفو من الصغیر منقطع ای فی الحال فیثبت لکل واحد کملا کما فی ولایة الانکاح بخلاف الکبیرین لان احتمال العفو من الغائب ثابت اه (رد المحتار ص ۳۷۰ ج ۵) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۸ ربیع الثانی سنہ ۱۴۰۳ھ

دحکومت له فیصلی نه بغیر قصاص اخستل

سوال زمونږ په زمانه کښې حکومت داسلامی اصولو موافق فیصله نه کوی آیا دمقتول اولیاء دحکومت له فیصلې نه بغیر له قاتل څخه قصاص اخستلې شی؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب د اولیاؤ په خپله قصاص اخستل په یو څو شرائطو مقید دی چې دهغو تحقق گران دې لهذا احتیاط لازم دې دهغو شرائطو تفصیل د «حق قصاص تفصیل» ترعنوان لاندې تیرشوې دې والله سبحانه وتعالی اعلم ۶ ذی القعده سنہ ۱۴۰۹ھ

دقاتل رشته دار قتلول جائز ندی

سوال : آیا دمقتول دوارثانو لپاره داجائزدی چی دمقتول په بدل کښې دقاتل له قریبانو څخه کوم یوقتل کړی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : نه ! دا جائزندی والله سبحانه وتعالی اعلم

۶ذی القعده سنه ۱۴۰۹هـ

له امام څخه به هم قصاص اخستل کیږی

سوال : که امام یعنی خلیفه څوك قتل کړی نو آیا له ده څخه به قصاص اخستل کیږی اوکه نه؟ که قصاص وی نوله ده څخه به قصاص څوك اخلی ؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : له خلیفه څخه به هم قصاص اخستل کیږی او دهغه حق له ولی دمقتول سره دي، خلیفه به خپله ځان هغه ته حواله کوی اوکه نه نو دمقتول ولی دمسلمانانو په قوت سره له خلیفه څخه قصاص اخستلې شی.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: والخليفة الذي لاوالي فوقه يؤخذ بالقصاص والاموال لانهما من حقوق العباد فيستوفيه ولي الحق اما بتمكينه اوبمنعة المسلمين.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله اما بتمكينه) اي تمكين الخليفة ولي الحق من الاستيفاء (رد المحتار ص۱۵۸ج۳)

وقال الامام ابن الهمام رحمه الله تعالى: تحت قوله (لايؤاخذ به الاالقصاص والمال) بخلاف حقوق العباد كالقصاص وضمان المتلفات لان حق استيفائها لمن له الحق ويكون الامام فيه كغيره وان احتاج الى المنعة فالمسلمون منعة فيقدر بهم على الاستيفاء فكان الوجوب مفيدا (فتح القدير ص۱۵۴ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲رجب سنه ۱۴۱۶هـ

په قتل بالاکراه کښې قصاص په چاباندې دې؟

سوال : د اکراه په صورت کښې قصاص په چا باندې دې په مُکرِه اوکه په مُکرَه باندې؟ که مکرِه قاضی یاسلطان وی دهغه حکم هم دعام مکرِه په شان دې اوکه نه مختلف دې؟ بینوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب : په اکراه ملجئ کښې قصاص په مکرِه یعنی په آمر باندې دې اوبه غیرم ملجئ کښې به مامور باندې دې، په سلطان اوغیرسلطان کښې کوم فرق نشته

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ويقاد في القتل العمد المكره بالكسر لومكلفا على ماقي المبسوط

علافا لما فی النهایة فقط لان القاتل کالالة واوجبه الشافعی رحمه الله تعالی علیهما ونفاه ابویوسف رحمه الله تعالی عنهما للشبهة.

وقال العلامة الطحطاوی رحمه الله تعالی: قوله لان القاتل کالالة) وهذا قول الامام ومحمد رحمهما الله تعالی قال فی التبیین لهما انه محمول علی القتل بطبعه ایثار الحیاته فیصیر الة للمکره فیما یصلح ان یکون الة له وهو الاتلاف دون الاثم وهذا لان الالة هی التی تعمل بطبعها کالسیف فان طبعه القتل عند الاستعمال فی محله وکالنار فان طبعها الاحراق وکالماء فان طبعه الاغراق وباستعمال الالة یجب القصاص علی المستعمل فکذا هنا اهـ (حاشیة الطحطاوی علی الدر ص۶۳ج۴)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله ویقاد فی القتل العمد المکره فقط) یعنی انه لایباح الاقدام علی القتل بالملجیء ولو فعل اثم ویقتص الحامل ویحرم المیراث لو بالغا ویقتص المکره من الحامل ویرث هاهو نباطیة (ردالمحتار ص۸۹ج۵)

وقال رحمه الله تعالی ایضا: وحکمه اذا حصل ملجیء ان ینقل الفعل الی الحامل فیما یصلح ان یکون المکره الة للحامل کانه فعله بنفسه کاتلاف النفس والمال ومالا یصلح ان یکون الة له اقتصر علی المکره کانه فعله باختیاره مثل الاقوال والاکل (ردالمحتار ص۸۰ج۵) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۱ ذی الحجة سنة ۱۴۱۴ھ

دعمد د جارحې آلې تحقیق

سوال آیا دقتل عمد دتحقیق لپاره دقتل د آلې محددوالې او اوسپنه والې کیدل ضروري دي او که نه؟ تفصیل یې ولیکئ مهرباني به مووی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دتحقیق قتل عمد لپاره د آلې اوسپنه والې شرط ندې. نورشیان لکه لرګی، ډبره اوبانس وغیره هم کافي دي. البته په اوسپنه یا بل معدنی شی کښې لکه پیتل وغیره کښې دمحدد کیدو شرط نشته لوپه لرګی وغیره کښې محدد کیدل ضروري دي همدارنګه اور هم جارحه آله ده.

قال العلامة ابوبکر بن علی الحدادرحمه الله تعالی: (قوله قال العمد ما تعمد ضربه بسلاح اوما اجری مجری السلاح فی تفریق الاجزاء کالمحدد من الخشب والحجر والنار) العمد ما تعمد قتله بالحدید کالسیف والسکین والرمح والخنجر والنشابة والابر قوالاشفاء وجمیع ما کان من الحدید سواء کان یقطع اویبضع اویرض کالسیف ومطرقة الحداد والزبر قوغیر ذلک سواء کان الغالب منها الهلاك ام لا ولایشترط الحد فی الحدید فی ظاهر الروایة

لانه وضع للقتل قال الله تعالى وانزلنا الحديد فيه بأس شديد و كذا ما يشبه الحديد كالصفر والرصاص والذهب والفضة سواء كان يبضع او يرض حتى لو قتله بالمثقل منها يجب عليه القصاص كما اذا ضربه بعمود من صفر اورصاص (قوله اوما اجرى مجرى السلاح في تفريق الاجزاء) كالزجاج والليطة والحجر المحدد وكل ما كان يقع به الزكاة اذا قتله به ففيه القصاص (الجوهرة النيرة ص۲۰۳ ج۲) والله سبحانه وتعالى اعلم.

۲۵ذی الحجة سنـــ۱۴۱۷ھــ

په قصاص کښې دشهادت پټول جائز ندی

سوال: شاهد ته په مقدمه دقصاص کښې شهادت پټول جائزدی او که نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: که دمقتول له ولی سره څوك شاهدان نه وی نو دهغه له حقیقتا مطالبې څخه بغیر هم شهادت ورکول واجب دی، اوپټول ئی جائز ندی، لیکن دا وجوب په اووه شرطونو مشروط دی.

۱- قاضی عادل وی.

۲- دشاهد استوګنه دمحکمې څخه دومره فاصله کښې وی چی سهار لارشی نو ماښام بیرته خپل کورته رسیدلی شی.

۳- دشهادت دقبلیدو یقین وی.

۴- دمدعی له طرفه دشهادت مطالبه وی یا حقیقتاً لکه چی شاهدته علم وی اویا حکما لکه چی شاهدته ددې علم نه وی او دعدم شهادت په وجه دمدعی دحق دضائع کیدوخطره وی.

۵- بل هیڅوك شاهدنه وی.

۶- شاهدته دمشهودبه دبطلان علم نه وی.

۷- دشهادت علی الاقرار په صورت کښې د اقرار په وجه دخوف علم نه وی.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: ويجب اداؤها بالطلب ولو حكما كما مر لكن وجوبه بشروط سبعة مبسوطة في البحر وغيره منها عدالة قاض وقرب مكانه وعلمه بقبوله او بكونه اسرع قبولا وطلب المدعي لو في حق العبد ان لم يوجد بدله اى بدل الشاهد لانها فرض كفاية تتعين لو لم يكن الا شاهدان لتحمل اواداء.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله كما) وهو قوله اوعرف فوت حقه (قوله وقرب مكانه) فان كان بعيدا بحيث لا يمكنه ان يغدو الى القاضي لاداء الشهادة ويرجع الى اهله في يومه ذلك قالوا لا يأثم لانه يلحقه ضرر بذلك قال تعالى ولا يضار كاتب ولا شهيد بحر (قوله ان لم يوجد بدله) هذا هو خامس الشروط واما الاثنان الباقيان فهما ان لا يعلم بطلان المشهود به وان لا يعلم ان المقر اقر خوفا ح (ردالمحتار ص۴۰۰ج۴)

والله سبحانه وتعالى اعلم.　　　　　۲۵ذی الحجة سنـــ ۱۴۱۷ھــ

کتاب الدیات والحدود

ددیت اوعاقلې تفصیل

سوال: دقتل خطاء په صورت کښې دقاتل په عاقله دیت لازمیږي. اوس پوښتنه داده چې دیت په څومره وي؟ او د هغه د اداء کولو طریقه به څه وي؟ او له عاقلې څخه څه مراد دی؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: ددیت درې صورتونه دي:

اول: لس زره درهمه سپین زر یا دهغو قیمت، یو درهم «۳،۴۰۲» گرامه کیږي او لس زره درهمه «۳۴،۰۲» کلوگرامه کیږي.

دویم: زر دیناره سره زر یا د هغې قیمت، یو دینار «۴،۸۶» گرامه کیږي او زر دیناره «۴،۸۶» کلوگرامه کیږي.

دریم: سل اوښان یا دهغې قیمت، اوښان په پنځه قسمه دي.

۱- یوکلنې شل جونگانې.
۲- یوکلن شل نران جونگیان.
۳- دوه کلنې شل جونگیانې.
۴- درې کلنې دیرش اوښې.
۵- څلور کلنې شل اوښې.

دامذکوره تعداد د نارینه دیت دې. دښځې دیت دهغې نیمایی دې. په دې کښې اختلاف دې چې د دیت له دغو انواعو څخه دیوه دتعین اختیار قاتل لره دې اوکه قاضی لره ؟ قول اول راجح معلومیږي له دې سره بیا هم که قاضی یې تعین وکړي نو جائزاونافذ به وي.

دعاقلې تفصیل

که قاتل له اهل دیوان څخه وي نو دهغه عاقله اهل دیوان دی یعنی هغه عاقل اوبالغ سړي چې دهغوئ نوم په دولتی دفتر کښې ددې لپاره درج وي چې هغه ته دکوم خدمت په عوض کښې یا په وجه دضرورت له دولتی خزانې څخه تنخوا ورکول کیږي اوهغه ته له دې وجې نه اهل عطاء هم ویل کیږي. له تولو رومبی داهل دیوان هغه جماعت چې له هغه سره دقاتل تعلق دې . ددیت په اخستلو کښې د آینده تفصیل مطابق که چیرته دا جماعت کافی نه وو نو ددغه څخه چې کوم پورته جماعت دې هغه به شاملولې شی بیاله هغه څخه پورته جماعت.

په اوسنی دورکښې په دولتی دفترونو کښې دښځوملازمت عام دې په نظر دتفقه په دیت کښې دغه دیوانی ښځې هم شاملول په کار دی

دعاقلې مدار په تناصر باندې دې، په [illegible] زمانه کښې تناصر په څو صورتونو باندې دې، مثلا سیاسی جماعتونه . حرفت . صنعتکاری . دتجارت اومزدورانو تنظیمونه. لهذا که قاتل دکوم سیاسی جماعت یا دکوم تنظیم کارکن وی نو د هغه عاقله به داجماعت یا تنظیم وی.

که قاتل له اهل دیوان څخه نه وی اودکوم سیاسی جماعت کارکن هم نه وی نو دهغه عاقله دهغه عصبات دی اوپه هغو باندې ددیت وجوب په ترتیب د ارث باندی لازم دې. اول زامن بیا پلاران بیا ورونه بیا وریرونه بیا ترونه او دتره زامن ......

له قاتل څخه به هم ددیت حصه اخستلې شی که هغه له اهل دیوان څخه وی اوکه نه وی

واضطربت اقوال الفقهاء رحمهم الله تعالى في ذلك والصحيح ما حررنا.

په ښځوپه لیونیانو اوماشومانو دیت نشته اګرکه قاتل وی.

که دقاتل عاقله نه وی نو له بیت المال څخه به په دریو کالو کښې دیت ورکولې شی په دې شرط چې قاتل مسلمان وی او د هغه کوم وارث معروف نه وی، مثلا لقیط وی یا کوم حربی اسلام راوړې وی او راغلې وی که قاتل ذمی وی یا دهغه کوم معروف وارث وی اګر که څومره هم بعیدوی یا په وجه د رق یا کفر محروم وی، نو دیت به یی له بیت المال څخه نه وی بلکه دقاتل په خپل مال کښې به وی، همدارنګه ددیت د بیت المال نه دکیدو په صورت کښې که بیت المال موجود نه وی یا په هغه کښې ددې ګنجانش نه وی نو دیت به دقاتل په مال کښې وی چې په درې کالو کښې به ترې اخستلې شی.

د دیت د اخستلو طریقه

دیت به په دریو کالو کښې اخستلې شی. له یوه شخص څخه به په کال کښې یونیم (۱/۲ ۱-) درهم یا ((۴،۵۳۶)) ګرامه نه زیات نه اخستل کیږی.

قال الامام قاضيخان رحمه الله تعالى: ويدخل الاباء والابناء في العاقلة. (خانيه بهامش الهنديه ص۴۴۳ج۳)

وقال العلامة ابوالسعود رحمه الله تعالى: (قوله فقيل يدخلون) لقربهم وقيل لا يدخلون لان الضم لنفي الحرج حتى لا يصيب كل واحد اكثر من ثلاثة اواربعة وهذا المعنى انما يتحقق عند الكثرة والاباء والابناء لا يكثرون كذا في الهداية والراجح لجزم قاضيخان بان القاتل وابنه من جملة العواقل ولم يحك فيه خلافا (فتح المعين ص۵۲۵ج۳)

وقال العلامة قاضي زاده الافندي رحمه الله تعالى: (قوله وقيل لا يدخلون لان الضم لنفي الحرج حتى لا يصيب كل واحد اكثر من ثلاثة واربعة وهذا المعنى انما يتحقق عند الكثرة والاباء والابناء لا يكثرون) اقول

فیه کلام وهو ان عدم کثرة الاباء مسلم واما عدم کثرة الابناء ککثرة الاخوة فممنوع کیف واخوته ابناء ابیه فاذا جاز ان یکثر ابناء ابیه فلم لا یجوز ان یکثر ابناء نفسه فتامل (نتائج الافکار ص۳۳۰ ج۹)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله واباء القاتل وابناؤه لا یدخلون فی العاقلة وقیل یدخلون (رد المحتار ص۴۱۱ ج۵)

وقال العلامة الرافعی رحمه الله تعالی: (قوله واباء القاتل وابناؤه لا یدخلون فی العاقلة وقیل یدخلون) قال الزیلعی رحمه الله تعالی واختلفوا فی اباء القاتل وابنائه قیل یدخلون لقربهم وقیل لا یدخلون لان الضم لدفع الحرج حتی لا یصیب کل واحد اکثر من اربعة وهذا المعنی انما یتحقق عند الکثرة و الاباء والابناء لا یکثرون اه ولم یظهر التعلیل الثانی ثم رایته فی تکملة الفتح نظر فیه بان اخوته ابناء ابیه وجاز ان یکثروا فلم لا یجوز ان یکون ابناؤه کذلک اه (التحریر المختار ص۳۳۰ ج۲)

وقال ملک العلماء الکاسانی رحمه الله تعالی: ثم الوجوب علی القاتل فیما تتحمله العاقلة قول عامة المشائخ وقال بعضهم کل الدیة فی هذا النوع تجب علی الکل ابتداء القاتل والعاقلة جمیعا والصحیح هو الاول لقوله فی اهله ومعناه فلیتحرر ولیؤد وهذا خطاب للقتل لا للعاقلة علی ولی ان الوجوب علی القاتل ولما ذکرنا ان سبب الوجوب هو القتل وانه وجد من القاتل لا من العاقلة فکان الوجوب علیه لا علی العاقلة وانما العاقلة تتحمل دیة واجبة علیه ثم دخول القاتل مع العاقلة فی التحمل مذهبنا وقال الشافعی رحمه الله تعالی لا یدخل معهم (بدائع ص۲۵۵ ج۷)

وقال ایضا: ویدخل القاتل مع العاقلة ویکون فیما یؤدی کاحدهم لان العاقلة تتحمل جنایة وجدت منه وضمانا وجب علیه فکان هو اولی بالتحمل (بدائع ص۲۵۶ ج۷)

وقال العلامة ابن عابدین رحمه الله تعالی: (قوله والقاتل عندنا کاحدهم) یعنی اذا کان من اهل العطاء اما اذا لم یکن فلا شیء علیه ومن الدیة عندنا ایضا ذکره فی المبسوط وعند الشافعی رحمه الله تعالی لا شیء علیه مطلقا معراج (رد المحتار ص۴۱۲ ج۵)

وقال العلامة الرافعی رحمه الله تعالی: (قوله ذکره فی المبسوط) وفی العنایة یعنی اذا کان القاتل من اهل الدیوان اما اذا لم یکن فلا شیء علیه عندنا من الدیة کما لا تجب عند الشافعی رحمه الله تعالی لکن تعلیل المسالة یفید الدخول مطلقا (التحریر المختار ص۳۳۰ ج۲)

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله فيشاركهم على الصحيح) تقدم في القسامة انه اختيار المتأخرين ومشى في الهداية هنا على عدم المشاركة قال في الكفاية وهو اختيار الطحاوي وهو الاصح وهو اصل رواية محمد رحمه الله تعالى اه لكن ذكر في العناية ان ما تقدم انما هو فيما اذا وجد القتيل في دار امرأة فادخلها المتأخرون مع العاقلة لتقديرها قاتلة بسبب وجوب القسامة اما ما هنا هو فيما اذا كانت قاتلة حقيقة والفرق ان القسامة تستلزم وجوب الدية على المقسم اما بالاستقلال واما بالدخول في العاقلة عندنا بالاستقرار اولا تحقق الملزوم فتحقق اللازم بخلاف القتل مباشرة فانه قد لا يستلزم الدية اه ملخصا وعليه فليس في المسألة اختلاف تصحيح لاختلاف الموضوع فتأمل. (ردالمحتار ص۶۱۲ ج۵)

قال في الهندية: وليس على النساء والذرية ممن كان له عطاء في الديوان عقل وعلى هذا لو كان القاتل صبيا او امرأة فلا شيء عليهما من الدية كذا في الكافي (عالمگیریة ص۸۰ ج۶)

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وتقسم الدية عليهم في ثلاث سنين لا يؤخذ في سنة الا درهم او درهم وثلث ولم تزد على كل واحد من كل الدية في ثلاث سنين على اربعة على الاصح فان لم تتسع القبيلة لذلك ضم اليهم اقرب القبائل نسبا على ترتيب العصبات.

وقال العلامة ابن عابدين رحمه الله تعالى: (قوله على الاصح) وقيل يؤخذ من كل واحد في كل سنة ثلاث دراهم او اربعة كما في الملتقى (ردالمحتار ص۶۱۱ ج۵) والله سبحانه وتعالى اعلم. ۲محرم سنة ۱۳۸۶ھ

که ماشوم له مور لاندې شو او مړشو

سوال: یوې زنانه خپل زوئ له ځان سره ویده کړې وو دخوب په وخت کښې په غیرشعوری طور ماشوم دهغې له ارخ نه لاندې راغلې وو او ساه یې بنده شوې وه او وفات شوې وو، ددې ښځې لپاره څه حکم دې؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: دهغې داحکامو تفصیل دا دې.

۱. مور د بې احتیاطی له وجې سخته ګناه ګاره شوه په هغې توبه واجبه ده.

۲. کفاره دیو مؤمن غلام آزادول. که په دې یې قدرت نه وی نو دوه میاشتې مسلسل روژې نیول. دقمری میاشتې له اول تاریخ نه به یې شروع کړی نو دمیاشتې له حساب څخه به دوه میاشتې حساب شی او که نه نو شپیته روژې دې پوره کړی

۳. مور دماشوم له میراث څخه محرومه ده. دیت هم دماشوم په میراث کښې داخل دې

۴. ددې په عاقله باندې دیت واجب دې. والله سبحانه وتعالی اعلم ۲محرم — ۱۳۸۶ھ

د قتل خطاء حکم

سوال د واده په یوه دستوره کښې څه خلکو هوائي ډزې وکړې. اتفاقا یوسړي په ګولئ ولګیده او مړ شو. ددې څه حکم دې؟ ددې دیت واجب دې او که نه؟ که دټول دیت پرخای په پنځه لس زره روپو اتفاق راشي نو صحیح دې او که نه؟ یو مولوي صاحب وایي چې په دیت یا په یو څه پیسو حکم هلته کیږي چې قصدا یې قتل کړې وي او که قصدا یې قتل کړې نه وي نو روپئ ورکول او اخستل جائزندي. نو په شریعت کښې ددې څه حکم دې؟

الجواب باسم ملهم الصواب: داقتل خطاء دیې چې دهغې احکام دادي:

۱- په عاقله باندې دیت دې.

۲- په قاتل باندې کفاره ده. یعنی د یومؤمن غلام آزادول. یا که ددې قدرت نلری نو دوه میاشتې مسلسل روژې نیول.

۳- توبه او استغفار کول.

په سوال کښې د ذکر شوې صلحې صورت جائزدې لیکن پیسې دصلح په مجلس کښې ورکول ضروري دي.

قال العلامة الحصكفي رحمه الله تعالى: وموجبه اى موجب هذا النوع من الفعل وهو الخطا وما جرى مجراه الكفارة والدية على العاقلة والاثم دون اثم القتل اذ الكفارة تؤذن بالاثم لترك العزيمة (ردالمحتار ص۴۲۲ ج۵)

وقال في الصلح: لو صالح بغير مقاديره صح كيف ما كان بشرط المجلس لئلا يكون دينا بدين (ردالمحتار ۴۶۱ ج۲) والله سبحانه وتعالى اعلم. غرة ذى القعدة سنة ۹۸ھ

په قتل خطاء کښې له پلار څخه دیت اوکفاره نه ساقطیږي

سوال: لکه په قتل عمد کښې چې له پلار څخه قصاص ساقطیږي همداسې په قتل خطاء کښې ترینه دیت اوکفاره هم ساقطیږي اوکه نه؟ بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: له والدینو څخه صرف قصاص ساقطیږي دیت اوکفاره نه ساقطیږي

قال في الهندية: وان كان الوالد قتل ولده خطا فالدية على عاقلته وعليه الكفارة في الخطا (عالمگيرية ص۶ ج۶) والله سبحانه وتعلى اعلم. ۱۴ صفر سنه ۹۷ھ

قاضي ته د دیت دتاجیل د ساقط کولو اختیار نشته

سوال آیا قاضي په قتل خطاء یا شبه عمد کښې د درې کالو تاجیل ختمولې شي او دیت حالا واجب کولې شي اوکه نه؟ یوخو دا چې د مقتول د ولی نږدې رشته دارانو ته صدمه رسیدلې وي او

دویم دا چې هغه به دیت ته تر دریو کلونو پورې انتظارکوی. که [illegible] ش وی نو هغه رانه ولیکئ ، بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب دقتل خطاء په دیت کښې تاجیل په اجماع دصحابه کرامو ثابت دې لهذا قاضی ته دهغې داسقاط اختیار نشته. البته په قتل شبه عمد کښې د امام شافعی په نزد تاجیل نشته او دحنفی امامانو په تاجیل اتفاق دې. لهذا که قاضی شافعی المسلك وی اوهغه ددیت حالاً فیصله وکړی نو نافذه به وی.

قال الامام الکاسانی رحمه الله تعالی: واختلف فی شبه العمد والعمد الذی دخلته شبهة وهو الاب اذا قتل ابنه عمدا قال اصحابنا رحمهم الله تعالی انها تجب مؤجلة فی ثلاث سنین الا ان دیة شبه العمد تتحمله العاقلة ودیة العمد فی مال الاب وقال الشافعی رحمه الله دیة الدم کدیة العمد تجب حالا وجه قوله ان سبب الوجوب وجد حالا فتجب الدیة حالا اذ الحکم یثبت علی وفق السبب هو الاصل الا ان التاجیل فی الخطا ثبت معزولا به عن الاصل لاجماع الصحابة رضی الله تعالی عنهم اثبت معلولا بالتخفیف علی القاتل حتی تحمل عنه العاقلة والعامد یستحق التغلیظ ولهذا وجب فی ماله لا علی العاقلة ولنا ان وجوب الدیة لم یعرف الابنص الکتاب العزیز وهو قوله تبارك وتعالی ومن قتل مؤمنا خطا فتحریر رقبة مؤمنة ودیة مسلمة الی اهله والنص وان ورد بلفظ الخطا لکن غیره ملحق به الا انه مجمل فی بیان القدر والوصف فبین علیه الصلوٰة والسلام فی النفس المؤمنة مائة من الابل وبیان الوصف وهو الاجل ثبت باجماع الصحابة رضی الله عنهم بقضیة سیدنا عمر رضی الله تعالی عنه بمحضر منهم فصار الاجل وصفا لکل دیة وجبت بالنص (بدائع ص ۲۵۶ج۷) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲ربیع الاول سنه۱۴۰۰ھ

په بس (گاډی وغیره) دوهل شوی شخص حکم

سوال دبس یا بل موټر د وهلو له وجې چې څوك مړ شی نو دا به په قتل خطاء کښې شماریږی اوکه په بل کوم قسم کښې ؟ په دریور کفاره اودهغه په عاقله دیت واجب دې اوکه دهغه حکم څه بل شان دې ؟ دعاقلې تفصیل نن سبا څه دې؟ بینو اتوجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب دا قتل خطاء دې په دریور باندې کفاره اوپه عاقله باندې دیت واجب دې دعاقلې اودیت تفصیل د ،دیت او عاقلې تفصیل ، تر عنوان لاندې تیرشوې دې. والله سبحانه وتعالی اعلم غره ربیع الثانی سنه ۱۳۹۹ھ

دلاس د قطع کولو نصاب

سوال حکومت دا قانون جوړکړې دې چې دسارق ،غله، د لاس پریکولو لپاره ۴.۲۵۷ گرامه

سره زر يعنی دنيمی تولې نه لږ څه کم ماليت ضروری دې، په دې باندی مونږ ته کافی اندازه تشويش پيداشوې دې چی د مروجه نوټ په اعتبار ددې تعداد اوحساب به څنګه وی ؟ هرشخص دهغه دماليت اندازه نشی لګولې.

چونکه فقهای کرامو دقطع يد لپاره کم نه کم لس درهمه مقدار متعين کړې دې چی د دوه تو لو او اوه نيم (۲/۱ - ۷) ماشو دسپينوزرو برابردې كما حرره المفتی الاعظم رحمه الله تعالی فی كتابه (اوزان شرعيه) صـ ۱۶نو آيا د فقهاء کرامو ددغې فيصلې په مقابل کښې دحکومت دا قانون جوړول جائزدی اوکه نه ؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : حکومت ته دخلاف شريعت قانون جوړولو هيڅ جواز نشته . دقطع يد نصاب لس درهمه يا يودينار دې درهم۲ ۳،۰۶۰ گرامه سپين زردی او دينار ۴،۰۸۶گرامه سره زردی دسرو او سپينو زرو قيمت کم اوزيات کيږی ددې وجی نه په نوټ سره دهغه دائمی تعين نشی کيدای، د درهم او دينار تحقيق دبنده په رساله (بسط الباع لتحقيق الصاع) کښې دې. والله سبحانه وتعالی اعلم. جمادی الاولی ۱۴ سنه۱۳۹۹هـ

حدود د سيئاتو (گناهونو) کفاره نده

سوال : آيا حدشرعی مثلا حد قذف، حد شرب خمر، حد زنا جاری کولو نه بعد د جرم مرتکب د آخرت له مواخذې څخه برئ کيږی اوکه د هغه لپاره توبه او استغفار هم ضروری دی ؟

الجواب باسم ملهم الصواب : بغير له توبې نه له اخروی مواخذی څخه نشی خلاصيدای، والله سبحانه وتعالی اعلم ۲۴جمادی الاولی سنه۱۳۹۹هـ

دچاله لاسه ماشوم وغورځيده اومړشو

سوال يوه شخص دشفقت اومحبت له وجی خپل زوئ سره لوبې کولې چی ناڅاپه يی ماشوم له لاسه وغورځيده اومړشو . اوس شرعاً دهغه لپاره څه حکم دې؟ بينوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب : دا قتل جاری مجری دخطاء دې، ددې حکم دادې چې :

۱ ـ توبه . ۲ـ په عاقله باندې ديت . ۳ ـ کفاره . ۴ ـ حرمان عن الارث

دهغې جماع حکم چې موجب د اسقاط د حمل وی

سوال : يوسړی له خپلې حاملې ښځې سره جماع کوله چی دهغې په وجه حمل ضائع شو حالانکه هغه ته معلوم هم وو چی له دې سره حمل ضائع کيږی . نو په دې شخص کفاره لازمه ده اوکه نه؟ په حامله هم کفاره شته اوکه نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب که جماع يی په معروفه طريقه کړې وی نو په هغه هيڅ ضمان نشته

اوكه په غير معروفه طريقه يې كړې وې او زوج كوم داسې حركت كړې وې چې هغه عموماً موجب د اسقاط دحمل گرځي اوپه نيت د اسقاط يې كړې وي نو په عاقله باندې يې ضمان د «غره» واجب دې چې دهغه مقدار دادې ٥٠٠ درهمه يا ١٠٧٠١ گرامه سپين زر په يوه كال كښې. حاصل داچې د ښځې دعاقلې دوجوب ضمان لپاره درې شرطونه دي

١ - داسې حركت يې كړې وي چې عموما مسقط دحمل وي

٢- بغير د زوج له اجازې وي

٣- په نيت د اسقاط وي

اوكه زوج داسې حركت كړې وي چې عموماً مسقط وي، نو دهغه په عاقله دغره ضمان واجب دې په دې كښې نيت داسقاط شرط ندې. والله سبحانه وتعالى اعلم ٥جمادى الاخره سنه ١٤٠٢هـ

عوامو ته دحدودو جاري كولو اختيار نشته

سوال زمونږ والد صاحب تقريبا نن نه شپارس كاله وړاندې دافغانستان كمونست حكومت ونيوه. ترننه پورې يې هيڅ د ژوند اومرگ معلومات نه كيږي د والدصاحب دگرفتارى نه څه وخت بعد زمونږ له مورسره زمونږ تره د زنا ارتكاب وكړ چې هغه «تره» غير شادي شده وو چې مور خپل ورور او د هغه ښځې اوخپلې لورته د دې خبرې اقرار كړې دې كله چې له تره څخه پوښتنه وشوه نو هغه وويل چې په كور كښې داسې كيږي، ددې زنا له وجې والده حامله شوه، زمونږ بل تره زمونږ مور ددې په بهانه چې زه له يوې نجلۍ سره واده كوم اوته له ما سره لاړه شه او هغه وگوره، دحمل دوضع څخه يې وروسته هغه قتل كړه، هغه اوس هم ددې اعتراف كوي او دا دير غټ جهاد بولي. مونږ ورته وويل چې تا خپل ورور ولې قتل نكړ؟ نو هغه وايي چې كله موقع په لاس راشي نوهغه به زه قتل كړم. حالانكه ده ته څو ځله موقع په لاس ورغلې ده اوس چونكه مونږ خوانان شوي يو د والدې صاحبې د انتقام اخستو لپاره زمونږ د صبر كاسه نوره ډكه شوې ده، اوس مونږ ته دشريعت له نظره ددې زاني او قاتل قتلول جائزدي اوكه نه؟ بينوا توجروا

الجواب باسم ملهم الصواب دحدودو د اجراء كولو اختيار له امام اوياناٸب سره وي عوامو ته دهغو اختيار نه وي.

قال الامام الكاساني رحمه الله تعالى: واما شرائط جواز اقامتها فمنها ما يعم الحدود كلها ومنها ما يخص البعض دون البعض اما الذي يعم الحدود كلها فهو الامامة وهو ان يكون المقيم للحد هو الامام او من ولاه الامام وهذا عندنا (وبعد اسطر) وبيان ذلك ان ولاية اقامة الحد انما ثبتت للامام لمصلحة العباد وهي صيانة انفسهم واموالهم واعراضهم لان القضاة يمتنعون من التعرض خوفا من اقامة الحد عليهم والمولى لا يساوي

الامام فی هذا المعنی لان ذلك يقف علی الامامة والامام قادر علی الاقامة لشوكته ومنعته وانقياد الرعية له قهرا وجبرا ولا يخاف تبعة الجناة واتباعهم لانعدام المعارضة بينهم وبين الامام وتهمة الميل والمحاباة والتوانی عن الاقامة منتفية فی حقه فيقيم علی وجهها فيحصل الغرض المشروع له الولاية بيقين (بدائع الصنائع ص ۵۷ ج ۷) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۲۵ ربيع الثانی سنه ۱۴۱۵هـ

حدقذف په معاف کولو سره نه ساقطیږی

سوال: دقرآن کریم حکم دې چې کوم خلك په پاك دامنو ښځو تهمت ولګوی بیا څلورګواهان رانه ولی هغه اتیا درې اووهئ او دهغو شهادت مه قبلوئ، هغه خپله فاسقان دی اوکه څوك په پاکوسړيو تهمت ولګوی اوبیایی ثابت نکړی نو په هغه هم حد جاری کیږی.
آیا په دې صورت کښې سړیو ته دا حق شته چې عدالت ته فیصله یوسی؟ او آیا دا صحیح ده چې کله مقذوف عدالت ته راشی نو قاذف به مجبورولې شی چې الزام ثابت کړی او د نه ثابتیدو په صورت کښې به په هغه حد جاری کیږی او عدالت ته دراتګ نه وروسته یی نه عدالت معاف کولې شی اونه صاحب دمعاملې اونه په کوم مالی تاوان باندې معامله ختمیدې شی، نه په توبه کولو او معافی غوښتوله له سزا څخه خلاصیدې شی؟. بینوا توجروا.

الجواب باسم ملهم الصواب: په سوال کښې مذکور تفصیل صحیح دې سړیوته هم دحدقذف دطلب کولو حق شته د مقذوف یا عدالت په معاف کولو سره حد قذف نه ساقطیږی، البته دمقذوف دعفو په صورت کښې دصاحب حق له طرفه دعدم طلب له وجې حد نه شی ورکولې دعفومقذوف دعدم صحت مطلب دادې چې بعد العفو هم هغه ته د حد دطلب اختیار شته.

قال العلامة الحصكفی رحمه الله تعالی: ولا ارث فيه خلافا للشافعی ولا رجوع بعد اقرار ولا اعتياض ای اخذ عوض ولا صلح ولا عفو فيه وعنه نعم لو عفا المقذوف فلا حد لا لصحة العفو بل لترك الطلب حتی لو عاد وطلب حد شمنی ولذا لا يتم الحد الا بحضرته (رد المحتار ص ۱۶۲ ج ۳) والله سبحانه وتعالی اعلم. ۱۱ ذی الحجه سنه ۱۴۱۴هـ

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

﴿ وَمَن يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَىٰ وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّىٰ وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ ۖ وَسَاءَتْ مَصِيرًا ﴿١١٥﴾ ﴾

دښځې دیت

په دې رساله کښې له قرآن او حدیث او د امت له اجماع څخه ثابته کړې شوې ده چې دښځې دیت دسړی د دیت نیمایی دی

افاضه: حضرت فقیه العصر دامت برکاتهم
تحریر: حضرت مفتی محمد ابراهیم صاحب صادق آبادی.



دښځې دیت

دنوې تیرې په فتنو کښې دې فتنې ته هم هوا ورکولې شی چی دښځې دیت دسړی ددیت برابر دې په دې رساله کښې ددې نظریې بطلان لیکل شوې دې او په قاطعو دلائلو سره ثابته شوې چی دښځې دیت دسړی، ددیت نیم دی

- قرآنی آیتونه
- نبوی ارشادات
- د صحابه کرامو رضی الله تعالی عنهم اجماع.
- د څلورو وارو امامانو رحمهم الله اجماع.
- د أمة اجماع
- د ملحدینو دلائل

د ښځې ددیت په باره کښې د اُمت اجماعي موقف

په دې عقل ورونکې ګراني په دورکښې چې کوم جنس ډير ارزان او ورپيا اوډير دې هغه جنس دا جتهاد دې چې ددې غوښتل په دې ملك کښې تر ټولو زيات دی. د اجتهاد دمنصب په غاره اخستلو دلته هيڅ قسم مشکل نشته او د اجتهاد د دائرې لپاره کوم حد بندی نشته.

ددغه تازه وارد شوی بساط اجتهاد ته د اجتهادی آس زغلولو ميدان يی زياتره هغه شرعی مسائل دی چې له اولې ورځې نه پرټول امت کښې متفق عليه را روان دی. په دې وخت کښې مونږ ته نه د هغو مسائلو فهرست وړاندې کول مد نظر دی اونه دهغو جواب ورکول. دهغو فهرست ډير اوږد دې او په راتلونکی وخت کښې شايد کومه داسې يوه بنيادی مسئله نه وی چې ددوئ له لاس وهنې محفوظه پاتې شي.

په دې وخت کښې چې په کومه مسئله خبرې کول مقصود دی هغه دښځې ددیت مسئله ده. دې ته په اخبارونو کښې هوا ورکولې شی او په داسې رنګ کښې وړاندې کولې شی چې ګويا دا يوه نوې پيښه شوې مسئله ده چې په دې کښې له اجتهاد کولو بغير کومه چاره نشته. حالانکه دفقهې مبتدی طالب هم په دې پوهيږی چې دا يوه اجماعی مسئله ده.

که له دوئ څخه څوك پوښتنه وکړل شي چې د داسې طې شويو مسئلو له نوی سره په څيړلو به ستاسې ددين لپاره کوم خدمت سرته رسول وی ؟نو دا نادان دوستان جواب ورکوی چې:

«زمونږ علماء دموجوده حالاتونه بې خبره دی اود داسې قسم مسائلو په عالمی سطحه داهل اسلام د بدنامی اودخلکو د اسلام څخه دلرې والی سبب ګرځی، له دې وجی نه دمتمدنی دنيا موجوده حالات اوتقاضی مونږ مجبوره وی چې په داسې مسئلوله نوی سره اجتهاد وشی» . تر کومه ځايه چې د اسلامی تعليماتو په جديد رنګ کښې د وړاندې کولو اوهغه دموجوده عالمی حالاتو او ظروفو هم آهنګ ثابتولو مسئله ده، نو دا فکر بيشکه لائق د ډيروې صفاتو دې، مګر دا لا کومه هوښياری ده چې د اغيارو دبې بنياده اعتراضاتونه مرعوب شي او دخپل دين حسينه چهره خرابه او ګډه وډه کړی؟ دا د بد نامی ويره اوخوف او د اسلام د دشمنانو په مخ کښې سپر اندازی خو د ماتې خوړليو ذهنونو او احساساتو آئينه داری ده .

د دفاع مردانه طريقه خو داده چې: داسلام د احکامو معقوليت اوپه فطرت باندې دبناء والی ثبوت وشی دهغه په پاکو تعليماتو د اعتراض کونکو غلطی اودفطرت څخه بغاوت اوحماقت ثابت کړې شی

که د اجماعی مسئلو قطع اوتراش کولو اودمعترضينو دخواهشاتو سره دهم آهنګ کولو دانوې طريقه اختيار کړل شي نو بيابه له ټول دين څخه لاس پسر کيدل ضروری وی. ځکه چې عناد پرست مخالفين خو په ذات دحضور صلی الله عليه وسلم کښې له پروپاګند او ضرر رسولو څخه نه منع

کیږي نو دهغه راوړي دین به کله معاف کړي ؟ دا یو څو مثالونه دي ...ئله کړې شي

۱- دهغه صلی الله علیه وسلم په دین کښې دښځې شاهدی دسړی په نسبت نیمه ده

۲- دښځې دمیراث مسئله نیمه ده .

۳- اطاعت دمیړه لازم دې نه دښځې .

۴- په یوه وخت دڅلورو نکاحونو اجازه سړوته ده نه ښځوته.

۵. دطلاق اوظهار اوایلاء اختیار دسړی سره دې .

۶. دنکاح ولی سړې دې نه ښځه.

۷. ښځې دسړوپه نسبت په عقل اودین کښې ناقصې دی.

۸ . دنکاح اجازت له اهل کتابو سره سړوته دې نه ښځوته.

۹. جمعه اوعیدین جهاد اوعامو اجتماعاتو ته وتل دسړو وظیفه ده دښځې دائراه دکار دکورتر څلورودیوالونو پورې محدوده ده.

۱۰. سړی په ښځو باندې حاکمان اونګرانان دی دښځې دحکومت په اسلام کښې هیڅ تصور نشته .

د اتمام مسائل د قرآن اوحدیثو دنصوصو څخه ثابت دی په دې کښې هره یوه مسئله ددښمن په نظر کښې له شاه تیر څخه کمه نده.

اوس اوفرمایی (کومه کومه مسئله صفا کوې اوددوئ په معیار به یی برابروې؟

داسی قسم اجتهاد د اسلام لپاره کوم تعمیری خدمت ندې بلکه دهغه دقصر مشید دکمزوری کولو یوه ناکامه هڅه ده.

آهدم بوسو مطلب : که عمدا څوك کوم مسلمان قتل کړی نو دهغه سزا قتل ده څکه چی د دبل چا د روح بدله روح ده مګر دقتل خطاء په باره کښې کفاره او دیت لازم دی .

دیت دمقتول سړی سل اوښان دی اوپه صورت دنغدو کښې واجب زر اشرفۍ (دینار) یالس زره درهم دی او د مقتوله ښځې دیت د سړی ددیت نیم دې، یعنی پنځوس اوښان یا پنځه سوه دیناره یا پنځه زره درهم

نن سبا ددې اجماعی مسئلې په خلاف آوازونه پورته کیږی چی دا د سړی اوښځې ترمینځ امتیاز د اصول مساوات خلاف دې، په اصل کښې دا دمساوات نعره له اروپا څخه اخستل شوې د اودیو مستعار فکر نمونه ده، اوکه نه نو څوك نه پوهیږی چی په اسلام کښې د داسې رانده مساوات تر لرې لرې پورې کوم تصور هم نشته؟، په هر حال دښځې دنصف دیت مسئله یوه اجماعی مسئله ده بالاختصار دهغې دلائل وراندې کیږی .

(۱) په قرآن کریم کښې ارشاد دې چې

۱ . ﴿وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ﴾
يعنی دسړو لپاره دښځو په مقابل کښې لويه درجه ده.

۲ . ﴿وَاسْتَشْهِدُوا شَهِيدَيْنِ مِن رِّجَالِكُمْ فَإِن لَّمْ يَكُونَا رَجُلَيْنِ فَرَجُلٌ وَامْرَأَتَانِ مِمَّن تَرْضَوْنَ مِنَ الشُّهَدَاءِ﴾ الايه (۲:۲۸۲)
او دوه کسان ستاسې له سړيو څخه ګواهان ونيسئ بيا که دوه سړی نه وی نو يوسړی اودوه ښځې له داسې ګواهانو څخه چی ستاسې خوښ وی.

۳ـ ﴿يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنثَيَيْنِ﴾ (۴:۱۱)
يعنی الله تعالی تاسوته حکم کوی ستاسې د اولاد په باره کښې چی دهلك حصه به ددوه نجونو د حصې برابره وی.

۴. ﴿الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ﴾ الايه (۴ : ۳۴)
يعنی سړی حاکمان دی په ښځو باندې.
دا آتونه په ډيرو احکاموکښې دسړيو اوښځوترمينځ فرق راولی په حکم ددیت کښې هم که دواړه متفاوت وی نو په دې کښې څه د اعتراض ځای دی؟.

۲ـ عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم عقل المرأة مثل عقل الرجل حتی يبلغ الثلث من ديتها. (سنن نسائی ج۲ص۲۴۲سنن کبری للبيهقی مصنف عبدالرزاق ج۹ص۳۹۶)
له عمروبن شعيب نه روايت دې هغه دخپل پلار څخه روايت کوی، هغه له خپل نيکه څخه روايت کوی چی رسول الله صلی الله عليه وسلم ارشاد فرمايلی دې : د ښځې ديت دسړی برابر دې تردې چی دريمې حصې ته ورسيږی.

۳ ـ عن معاذ بن جبل رضی الله تعالی عنه قال قال رسول الله صلی الله عليه وسلم دية المرأة علی النصف من دية الرجل (سنن کبری للبيهقی ص۹۵ج۸)
له معاذبن جبل رضی الله تعالی عنه نه روايت دې چی رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی چی د ښځی ديت دسړی ددیت نيمايی دی

۴ـ عن ابن شهاب وعن مكحول وعطاء رحمهم الله تعالی: قالوا ادركنا الناس علی ان دية المسلم الحر علی عهد النبی صلی الله عليه وسلم مائة من الابل فقوم عمر ابن الخطاب رضی الله تعالی عنه تلك الدية علی اهل

القرى الف دينار اواثنى عشر الف در[illegible] الحرة المسلم اذا كانت من اهل القرى خمسمائة دينار اوستة الاف درهم فاذا كان الذى اصابها من الاعراب فديتها خمسون من الابل ودية الاعرابية اذا اصابها الاعرابى خمسون من الابل. لايكلف الاعرابى الذهب ولا الورق (السنن الكبرى للبيهقى ص ۹۵ج۸ مصنف عبدالرزاق ص۲۹۵ج۹ مصنف ابن ابى شيبه ص۳۰۰ج۹)

دامام ابن شهاب اومکحول اوعطا رحمهم الله څخه روایت دې چې مونږ خلك یعنی صحابه اوتابعین بلاخلاف په دې مذهب موندلې دې چې د آزاد مسلمان سړی دیت په عهد نبوت کښې سل اوښان مقرر وو بیا حضرت عمر ددې دیت دا قیمت مقررکړلو اووې فرمایل چې ((په کلیوالو باندې زر دیناره یا دولس زره درهمه او د آزادې مسلمانې ښځې دیت کله چې هغه دهمدې کلی وی پنځه سوه دیناره او یا شپږ زره درهمه اوکه دهغې قاتل بدوی (باندچی) وی نو پنځوس اوښان دی اوکه دبدویه ښځې قاتل بدوی وی نو پنځوس اوښان دیت دې، بدوی (باندچی) دې په سرو اوسپینو زرو نشی مجبوره کولې.

۵ــ عن الشعبی رحمه الله تعالى ان عليا رضى الله تعالى عنه كان يقول جراحات النساء على النصف من دية الرجل فيما قل و كثر. (السنن الكبرى للبيهقى ص۹۶ج۸ مصنف ابن ابى شيبه ص۳۰۱ج۹)

له امام شعبی رحمه الله نه روایت دې چې حضرت علی رضی الله عنه فرمایی: ((دښځو د زخمونو دیت په قلیل (لږ) اوکثیر (زیات) کښې دسړی ددیت نیمایی دې.

۶ــ عن ابراهيم عن على بن ابى طالب رضى الله تعالى عنه انه قال عقل المرأة على النصف من عقل الرجل فى النفس وفيما دونها (السنن الكبرى ج۸ص۹۶ مصنف عبدالرزاق ج۹ص۳۹۷).

حضرت ابراهیم رحمه الله له حضرت علی رضی الله عنه نه روایت کوی چې هغه ارشاد اوفرمایلو: ((چې دښځې دیت په روح او اعضاؤکښې دسړی ددیت نیمایی دې))

۷ــ وقال ابن مسعود رضى الله تعالى عنه الا السن والموضحة فانها سواء وما زاد فعلى النصف (السنن الكبرى ج۸ص۹۶ مصنف عبدالرزاق ج۹ص۳۹۷ مصنف ابن ابى شيبه ج۹ص۲۹۹)

اوابن مسعود رضی الله عنه فرمایی (په غاښ اوموضحه کښې دهغه زخم چې هډوکښې ښکاره کوی په هغې کښې دسړی اوښځې دیت برابر دې اوله دې څخه په زیات کښې دښځې دیت د سړی د دیت نیمایی دې)

۸ ــ وكان زيد بن ثابت رضى الله تعالى عنه يقول دية المرأة فى الخطا مثل دية الرجل حتى يبلغ ثلث الدية فما زاد فهو على النصف (مصنف ابن ابى شيبه ج۹ص۳۰۰ السنن الكبرى ص۹۶ج۸ مصنف عبدالرزاق ص۳۹۷ج۹)

اوحضرت زید بن ثابت رضی الله عنه فرمائی (دښځې دیت په قتل خطاء کښې تر دریمې حصې پورې دسړی ددیت برابر دې بیا د دریمې حصې څخه په اضافه کښې دنارینه ددیت نیمایی دې

۹ــ مالك عن يحيى بن سعيد عن سعيد ابن المسيب رحمه الله تعالى انه كان يقول تعاقل المرأة الرجل الى ثلث الدية (موطا مالك ص۶۴۰)

امام مالك له يحى به سعيد څخه او هغه له سعيد بن المسيب څخه روايت كوى (تر د ريمې حصې ديت پورې دسړى اوښځې ديت يو شان دې)

۱۰ــ مالك عن ابن شهاب وبلغه عن عروة ابن الزبير انهما كانا يقولان مثل قول سعيد بن المسيب فى المرأة انها تعاقل الرجل الى ثلث دية الرجل فاذا بلغت ثلث دية الرجل كانت على النصف من دية الرجل (موطا مالك ص۶۴۰)

امام مالك رحمه الله له امام ابن شهاب اوله عروه بن زبير څخه روايت كوى چى دواړه حضرات دسعيد بن المسيب په شان فرمائى: (تر دريمى حصى ديت پورې دسړى او ښځې ديت برابر دې او كله چى دښځې ديت دسړى دديت دريمې حصى ته ورسيږى نو دښځى ديت به دسړى دديت نيم وى.

۱۱ــ كتب شريح الى هشام بن هبيرة رحمهما الله تعالى ان دية المرأة على النصف من دية الرجل الا السن والموضحة (مصنف ابن ابى شيبة ص۳۰۲ ج۹ السنن الكبرى ص۹۶ ج۸ مصنف عبد الرزاق ص۳۹۳ ج۹)

قاضى شريح هشام ابن هبيره ته وليكل: دښځى ديت دسړى دديت نيمايى دې بغير دغاښ اوموضحې ((دهډوكى ښكاره كونكى زخم)) نه.

۱۲ــ عن ابن عون عن الحسن رحمه الله تعالى قال يستوى جراحات الرجال والنساء على النصف فاذا بلغت النصف فهى على النصف (مصنف ابن ابى شيبة ج۹ ص۳۰۱)

ابن عون له حسن بصرى څخه روايت كوى (چى ترنصف ديت پورى دسړى اوښځې حكم يوشې دې اوكله چى نصف ته ورسيږى بيادښځې ديت نصف دې)

۱۳. عن سعيد بن المسيب وعن مكحول عن عمر بن العزيز رحمه الله تعالى قال: يعاقل الرجل المرأة فى ثلث ديتها ثم يختلفان (مصنف ابن ابى شيبة ج۹ ص۳۰ مصنف عبد الرزاق ج۹ ص۳۹)

حضرت سعيد بن المسيب اومكحول رحمهما الله دحضرت عمربن عبد العزيز څخه روايت كوى (تر دريمې حصې ديت پورې دسړى اوښځې حكم برابردې له دې نه پس مختلف دې دښځې ديت به نصف وى)

په دې كښې بعضې روايات اگر چه سنداً ضعيف دى. مگر له هغو سره نورصحيح اومتصل

روایات موجود دی، همدارنګه دلویو صحابه کرامو اوتابعینو دبلاخلاف قبول عام دهغوپه صحت د تصدیق مهر لګولی دی چی ددی په وجه دهغو ضعف منجبر (ختم) شوی دی، د دغو جلیل القدر صحابه کرامو اوتابعینو رحمهم الله بالمقابل دکوم صحابی یا تابعی یاقابل ذکر فقیه مذهب نه معلومیږی چی په هغه کښې یی دنصف دیت په خلاف قول کړی وی له دی ښخه معلومه شوه چی په نصف دیت باندی قول د امت اجماعی موقف ګرځیدلی دی.

دامت مسلمه متفق علیهم ائمه اربعه رحمهم الله هم دښځی په نصف دیت باندی په یوه خوله دی، لاندی د هغوئ تصریحات وړاندی کولی شی.

۱- دفقه حنفی په یو ډیر مشهور کتاب (هدایه) کښې راغلی دی چی:

(ودیة المرأة علی النصف من دیة الرجل) وقد ورد هذا اللفظ موقوفاً علی علی رضی الله تعالی عنه ومرفوعا الی النبی صلی الله علیه وسلم (هدایه ص ۵۸۲ ج۴)

(یعنی دښځی دیت دسړی ددیت نیمایی دی او دا حدیث په دغه الفاظوکښې دحضرت علی رضی الله عنه نه موقوفا او رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مرفوعا منقول دی)

۲- دموطا په حواله سره دحضرت امام مالك نه دوه روایته وړاندی ذکر شول په موطا کښې دهغو تفسیر داسی دی.

قال مالك وتفسیر ذلك انها تعاقله فی الموضحة والمنقلة ومادون المأمومة والجائفة واشباههما مما یکون فیه ثلث الدیة فصاعدا، فاذا بلغت ذلك كان عقلها فی ذلك النصف من عقل الرجل (موطا مالك ص ۶۰۸)

(امام مالك رحمه الله تعالی فرمایلی دی چی: (ددی تفسیر دادی چی دښځی دیت به دسړی ددیت برابر وی، په موضحه (چی په هغی کښې هډوکی ښکاره وی) اومنقله کښې چی هډوکی یی له خپل ځای ښخه خوزولی وی) په هغه زخمونو کښې چی مامومه یا جائفه (چی ګیډی ته رسیدلی وی) نه کم وی اوددی په شان نورو زخمونو کښې چی دریمی حصې دیت ته یا دریمی نه زیات وی، ددی نه په کمه درجه زخمونو کښې دښځی او سړی دیت برابر وی، بیا چی ددی حد دریمی یادهغی نه زائد وی، حد ته رسیږی نو دښځی دیت به دسړی نصف وی) المدونه الکبری ص ۴۱۹ ج۴ کښې همدا تفصیل مذکور دی چی په ثلث او زائد ددی کښې نصف دیت دی، شارح دموطا حضرت شیخ الحدیث مولنا زکریا صاحب دپورتنی ذکر شوی مقام په شرح کښې لیکی:

قال ابن المنذر وابن عبدالبر: اجمع اهل العلم علی ان دیة المرأة نصف دیة الرجل وحکی غیرهما عن ابن علیة والاصم انهما قالا دیتها کدیة الرجل لقوله صلی الله علیه وسلم فی النفس المؤمنة مائة من الابل وهذا قول شاذ یخالف اجماع الصحابة وسنة النبی صلی الله علیه وسلم فان فی کتاب عمرو بن حزم دیة المرأة علی

النصف من دية الرجل وهي اخص مما ذكر وقد يكون مفسر الما ذكور لو مخصصا له (اوجز المسالك ج ص ۲۵۱)

امام ابن المنذر اوابن عبدالبر فرمايلی دی : «داهل علمو په دې اجماع ده چې دښځې ديت دسړی نيمای دې او د دغو دوو حضراتو نه علاوه نورو علماؤ د ابن عليه او اصم قول نقل کړی دی چې دښځې ديت دسړی دديت برابر دې، له دې وجې نه دحضور صلی الله عليه وسلم ارشاد گرامی دې چې : دنفس مؤمنه ديت سل اوښان دی»

ليکن دا يو شاذ قول دی چې د صحابه کرامو رضی الله عنهم له اجماع او د رسول الله صلی الله عليه وسلم دسنت خلاف دې له دې وجې نه دعمروبن حزم په کتاب کښې دی چې : دښځې ديت دسړی دديت نيمايی دې او دا ارشاد دمذکور الصدر حديث په نسبت اخص دې لهذا ددې لپاره مفسر اومخصص گرځيدلې دې .

۳ــ وقال الشافعي رحمه الله تعالى لم اعلم مخالفا من اهل العلم قديما ولا حديثا في ان دية المرأة نصف دية الرجل وذلك خمسون من الابل (كتاب الام ص ۱۰۶ ج ۶)

امام شافعی رحمه الله فرمائی : زما په علم کښې د پخوا زمانې او جديدې زمانی اهل علمو کښې هيڅ کوم شخص نشته چې ددې مسئلې مخالفت يې کړی وی چې دښځې ديت دسړی دديت نصف دې چې پنځوس اوښان دی، لهذا په دې باندې دامت اجماع ثابته شوه .

۴ـ امام موفق الدين بن قدامه الحنبلی فرمايی : (ودية الحرة المسلمة نصف دية الحر المسلم) قال ابن المنذر وابن عبد البر اجمع اهل العلم على ان دية المرأة نصف دية الرجل (المغنی ص ۵۳۱ ج ۹)

اود آزادې مسلمانی ښځې ديت د آزاد مسلمان سړی دديت نيم دې . امام ابن منذر اوابن عبد البر فرمايی په دې د اهل علمو اجماع ده چې دښځې ديت دسړی دديت نصف ده .

د اختصار له وجې نه مونږ دخلورو وارو مذهبونو نه صرف يوه يوه مستنده حواله وراندې کړه اوکه نه نو دتتبع نه په شلگونو حوالجات وړاندې کيدلې شی .

معروف اهل حديث عالم علامه شوکانی رحمه الله هم په نيل الاوطار کښې ص ۲۲۴ ج ۷ دمفصلو دلائلو سره دائمه اربعه په دې اجماع نقل کړې ده .

له اجماع نه دمنکرينو دلائل

ددې اجماعی مسئلې خلاف چې ځای ځای نه آواز پورته کيږی ددې ټولو ترشا دسړو اوښځو دمساوات مغرب زده ذهنيت والا خلک دی، دپورته يو شمير قرآنی آياتونو او د احاديثو په حواله سره مونږ ددی نظريی بې بنياد والی اوباطل والی واضح کړې دې. کم ترکمه کوم مسلمان بايد په دې فريب کښې مبتلاء نشی .

اوس مونږ د اجماع د مخالفينو د [illegible] جائزه اخلو

۱- په سورة نساء آيت ۹۲کښې حکم ديت (فدية مسلمة الى اهله ـــ)مطلق دي نو ددې حکم مطلق د تقييد لپاره دقرآن کريم نه بل آيت په کار دې. يا حديث متواتر اومشهور وراندې کول لازم دی ياکم نه کم صحيح السند خبر واحد راوړل پکار دی، حالانکه ددغو څخه يوهم وجود نلری، لهذا دقرآن کريم حکم مطلق په خپل اطلاق سره پريښودل ضروری دی.

الجواب دسورة نساء د آيت متعلق دعموم يا اطلاق دعوه بې بنياده ده د آيت دمتعلقه جملو ترجمه ده (اوکوم شخص که چيرې کوم مؤمن په غلطی سره قتل کړی نو په هغه يو مسلمان غلام يا وينځه آزادول اوديت دې چی دهغه خاندان ته به ورکولې شی مګر داچی هغه خلك يې معاف کړی.

د آيت کريمه اصل مدعا چی د آيت له ترجمی څخه ظاهره ده همدومره ده)

دقتل خطاء په صورت کښې په قاتل باندې کفاره اوديت لازم دی.

همدا تقاضا دانصاف اوديانت ده، ددې برعکس قاتل خاطئ په قصاص کښې قتل کول يا بالکل برئ الذمه ګرځول د اصول عدل اومساوات خلاف دی په قتل کولو کښې قاتل باندې ظلم راځی اوبلا کفاره او ديت پريښودلو کښې د مقتول د وارثانو حق تلفی لازميږی له دې وجی نه قرآن کريم دا عادلانه فيصله صادره کړيده چی په هغې کښې دهر فريق پوره پوره رعايت شوې دې.

غرض دا چی پدې آيت کښې قرآن دنفس کفاری اوديت د وجوب بيان کوی، دمقدار ديت (چی هغه کل يا نصف) دې له دې آيت سره هيڅ تعلق نشته. البته دا ويلې شی چی آيت مجمل دې چی دهغې تفصيل په احاديثو کښې دتعامل دصحابه رضی الله عنهم بلکه داجماع الامت په رڼا کښې زمونږ مخی ته راځی.

۲ـــ المسلمون تتكافأ دماءهم الحديث (ابوداود، نسائی، ابن ماجه وغيرهم)

له دې حديث څخه صفا معلومه شوه چی دتمامو مسلمانانو خون بها برابره ده، لهذا دقصاص په شان دديت حکم هم دسړی اوښځې برابردې.

جواب ددې حديث هم دمخالفين اجماع دموقف سره کوم تعلق نشته بلکه ددې صاف اوستره مطلب دادې چې دقصاص اوديت په باره کښې دتمامو مسلمانانو حکم يوشان دې چی بلا امتيازه قوی اوضعيف ،شريف او وضيع ، نارينه اوښځه، هر مسلمان قاتل، په صورت دعمدکښې دمسلمان مقتول په بدله کښې قتل کولې شی.

دا عالمګير اوعادلانه قانون يې جاری کړ پدې سره حضورصلی الله عليه وسلم دجاهليت ددې رسم بيخ کنې وفرمايله چی دسړی په بدله کښې يې ښځه قتل کوله مګر دښځې په بدل کښې به يې سړی ته هيڅ هم نه ويل، همدارنګه زورور به پريښودل کيده او کمزورې به نيول کيده، دا دغټ

اووا ره اوشریف اووضیع دغه امتیازیی ختم کړ اوهغه صلی الله علیه وسلم ټول مسلمانان په یوه صف کښې ودرول.

الغرض: په دې حدیث کښې یی دقصاص اودیت دقانون په نفاذ کښې دبرابری اصول بیان کړی دی. د دیت له مقدار سره ددې هیڅ تعلق نشته.

امام ابوجعفر طحاوی رحمه الله فرمایی: **فتاملنا قول رسول الله صلی الله علیه وسلم: المؤمنون تتکافا دماءهم. فوجدنا اهل العلم جمیعا لا یختلفون فی تاویل ذلک انه علی التساوی فی القصاص والدیات وان ذلک ینفی ان یکون لشریف علی وضیع فضل فی ذلک وان ذلک کان ردا علی اهل الجاهلیة فی ترکهم قتل الشریف بقتله الوضیع وفی ذلک ما قد عقلنا ان النساء فی جری ذلک کالرجال ان الرجل یقتل بالمراة کما تقتل المراة بالرجل.** (مشکل الاثار للامام الطحاوی رحمه الله تعالی ج۲ ص۹۰)

پس مونږ درسول الله صلی الله علیه وسلم په دی ارشاد گرامی کښې چی: «**المسلون تتکافا دمائهم**» کښې غوروکړو نوټول علماء موپه دې متفق ومونډل چی دا ارشاد دقصاص اودیت په برابری محمول دې اودا ارشاد دا خبره نفی کوی چی کوم اعلی ته دې په ادنی باندې ترجیح وی اوپه دې کښې دزمانه جاهلیت ددې دستور تردید دې چی دلوړې درجې سړی به دټیټې درجې دسړیو په قتلولو پرېنبودل کیدل اوپه دې ارشاد کښې مونږ دا وفهموله چی ښځې هم په دې قانون کښې دسړو په شان دی، لهذا سړی به دښځې په بدله کښې قتل کولې شی لکه څنګه چی ښځه دسړی په مقابل کښې قتلولې شی.

نوروټولو شراحو ددې حدیث نه هم همدا مفهوم بیان کړې دې د اوږدوالې له ویرې څخه مونږ دهغو پوره عبارت نشو نقل کولی.

ملاعلی قاری فرمایی: **یرید به ان دماء المسلمین متساویة فی القصاص یقاد الشریف منهم بالوضیع والکبیر بالصغیر والعالم بالجاهل والمراة بالرجل ـــــ علی خلاف ما کان یفعله اهل الجاهلیة.** (مرقاة المفاتیح ص ۲۵ ج۵)، اشعة اللمعات ص ۲۴۳ ج۳ نیل اوطار ص ۱۵۵ ج۶ بذل المجهود ص ۲ ج۵ کښې هم همدا تفصیل مذکور دې

مولانا خلیل احمد صاحب قدس سره فرمائی «وهذا بالاجماع» دا دټول امت اجماعی موقف دې، مګر منکرین اجماع په زور باندې خپل مطلب ترینه اوباسی آیا دوئ ویلې شی چی دحدیث راوی حضرت علی هم دحدیث دمفهوم څخه نا آشنا وو لکه چی دهغه دنصف دیت په باره کښې مذهب مونږ وړاندې مفصل ذکر کړې دې

شعر

مرخدا که عابد وزاهد کسی نه گفت — درحیرتم که باده فروش از کجا شنید

۴. حضرت عمر، حضرت علی اوحضرت امام ابوحنیفه اوشافعی نه هم دسری اوښځې ددیت دسری حکم منقول دی چنانچه قاضی ابوالولید الباجی رحمه الله تعالی فرمایی

قول عمر رضی الله عنه تعالی امر اة الرجل الی ثلث الدية اصبعها کاصبعه یرید ان مادون ثلث الدية عقلها فيه کعقل الرجل وهو معنى معقلها منه حتى اذا بلغت عقل ما جنى عليها ثلث الدية كان عقلها نصف عقل الرجل وبهذا قال من ذكرها لك من التابعين وهو قول زيد بن ثابت وابن عباس رضي الله تعالى عنهم وما روى عن ابن مسعود رضي الله تعالى عنه تساويهما في الموضع واختلف عن عمر بن الخطاب وعلي بن ابي طالب رضي الله تعالى عنهما فروى عنهما باسناد ضعيف انها على دية الرجل في القليل والكثير وبه قال ابوحنيفة والشافعي رحمهما الله تعالى وروى عنهما مثل قولنا (المنتقى ص...)

دامام مالك رحمه الله ارشاد دی: دښځې دیت تر دریمې حصې پورې دسری له دیت سره برابر دی دهغې ګوته دسری دګوتې په شان وی، دده مراد دادی چې تر دریمې حصې نه کم کښې دښځې دیت دسری ددیت په شان دی. دښځې دسری سره د برابری همدا معنی ده کله چې په ښځه باندې شوې جنایت دریمې حصې ته ورسیږی نو دهغې دیت دسری ددیت نیم وی دا قول دی دهغه تبیعینو چې دهغو ذکر امام مالك کړی دی او دا د زید بن ثابت اوابن عباس رضی الله عنهما قول دی او د ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی چې په موضحه کښې دسری اوښځې دیت یوشان دی او دا قول د امام ابوحنیفه اوشافعی رحمهما الله دی او د حضرت عمر اوحضرت علی رضی الله عنهما نه دویم روایت زمونږ د مذهب مطابق دی چې ددریمې حصې دیت نه پورته دښځې دیت د سړی د دیت نیمایی دی

او دا استدلال هم یوه خندا راوستونکې مغالطه ده ددې استدلال ټول عبارت دیوه کاتب په غلطۍ ولاړ دی چې له هغه نه د (انها على نصف دية الرجل) په کتابت کښې لفظ دنصف پاتې شوې دی. دکاتب دسهوې نه منکرین اجماع په خوش فهمۍ کښې مبتلا، شوی دی، حضرت عمر اوحضرت علی رضی الله عنهما نه دا منقول اوضعیف روایت په نورو کتابونو کښې هم موجود دی چې هلته لفظ دنصف موجود دی سنن کبری للبیهقی کښې یې لیکلی دی

عن ابراهيم النخعي رحمه الله تعالى عن عمر بن الخطاب وعلي بن ابي طالب رضي الله تعالى عنهما انهما قالا عقل المرأة على النصف من دية الرجل في النفس وفيما دونها (ص...)

دا روایت په دغه الفاظو سره دامام محمد په کتاب الحجه علی اهل المدینه ص ۲۸۴ ج ۴ کښې هم موجود دی

همدارنګه په مصنف ابن ابی شیبه کښې دحضرت علی نه په لاندې الفاظو سره نقل دي

تستوی جراحات النساء والرجال فی کل شیء(ص۲۰ج۹)

دا روایت مونږ وراندې مفصل نقل کړې دې که دهغوی حضراتو همدا مذهب وی چی د (المنتقی) له ناقصو عباراتو څخه اخذ کیږی نو کوم منکر اجماع دې دهغه ماخذ وراندې کړی، صاحب عبارت قاضی ابوالولی خود پنځمې پیړئ عالم دې آخر ترهغه پورې دعمر او علی رضی الله عنهما دا مذهب دچاپه ذریعه رسیدلې دې

داخلك خو له جمهور امت څخه دقرآن دآیت یا متواتر یا مشهور صحیح السند حدیث مطالبه کوی او په خپله په یو ضعیف بلکه په غلط روایت دومره مصر دی، دیته ویلی شی (دیوانه به کارخویش هوشیاراست).

دحضرت امام ابوحنیفه او امام شافعی مذهب مونږ مخکې دهدایه اوکتاب الام په حواله نقل کړو دهغوی د مذهب په ټولو مستندوکتابونو کښې همدا لیکل شوی دی، لهذا هغوئ ته هم دمساوات دیت نسبت کول سراسر غلط دی.

دصاحب هدایه نقل کړې شوی الفاظ چی د حضرت علی طرفته یې منسوب کړی دی په هغودې دوباره غور وشی د دیت المراة علی النصف من دیت الرجل دا الفاظ خپله د (المنتقی) دعبارت سهو کیدل ښایی.

۴- په مقدمینوکښې دابوبکر الاصم اوامام ابن علیه مذهب هم دادې چی هغوئ دښځې او دسړی ددیت دمساوات قائل وو چنانچه په المغنی لابن قدامه ص ۵۳۲ج ۹ اونورو کتابونو کښې دهغه تصریح موجوده ده.

الجواب: دا استشهاد درست دې دهغوئ دوارو دا مذهب په متعددو کتابونوکښې منقول دې دلته یو څو خبرې قابل دغور دی.

اول. داچی ابوبکر بن اصم چی دهغه نوم عبدالرحمن بن کیسان دې چه د لسان المیزان ص ۳۴-۳۵ج۱ مطابق معتزلی دې دهغه ذکر دمعتزله په طبقاتو کښې موندل کیږی اودمعتزله ژ ګمراه کونکی عقائد له چا څخه پټ ندی

دابن علیه په نوم دوه سړی دی: یو اسماعیل بن علیه چی مشهور محدث او د امام شافعی وغیره استاذ دې

دویم. دهغه زوی ابراهیم ابن علیه دا جهمی دې چی دهغه متعلق امام شافعی فرمائی هوضال یضل الناس، دهغه حالات هم په لسان المیزان کښې دپورته حوالې په مقام کښې لیکل شوی دی

داخیره په ظاهره دقیاس نه لرې ښکاری چی دمساوات دیت قول دې د امام اسماعیل بن علیه وی اوکه نه نو امام شافعی به دا څنګه فرمایل چې (لم اعلم مخالفا من اهل العلم قدیما ولا حدیثا)

یعنی زما په علم کښې دپخوا زمانې او اوسنی زمانې کوم صاحب علم د نصف دیت مخالف نشته
دکتاب الام دا مکمل عبارت موږ مخکښې نقل کړې دې

په ظاهره داقول دابراهیم بن علیه جهمی دې چې په هیڅ درجه کښې هم قابل داعتناء نه دې او بله خبره داچې کوم خلك دجمهورامت نه صریح آیت قرآن یا صحیح حدیث مطالبه کوی دوئ خپله ولې دداسې قسم دغیرثقه اومجروح خلکو قول په دلیل کښې وړاندې کوی چې په علمی دنیا کښې د یو بوس په اندازه حیثیت هم نه لری؟ للتصدق من قال: الغریق یتشبث بالحشیش

حقیقت دادې چې د داسې ساقط الاعتبار خلکو په مدد دکومې دعوې بنیاد کوم علمی استدلال ندې بلکه دا خپله دخپل ځان د تردید مترادف دې

دریمه خبره داده چې دالمغنی لابن قدامه په حواله چې دا قول وړاندې کولی شی په هغې کښې داهم لیکل شوی دی چې: وهذا قول شاذ یخالف اجماع الصحابة رضی الله تعالی عنهم وسنة النبی صلی الله علیه وسلم (ص۳۲ج۹)

(یعنی دایو شاذ قول دې چې د اجماع الصحابه اوسنت نبویه خلاف دی) ددې تصریح نه بعد بیا ددې څه حیثیت پاتې شو؟ والله الهادی الی سبیل الرشاد.

محمد ابراهیم: نائب مفتی دارالافتاء والارشاد - ۱۹ جمادی الاولی سنه ۱۴۱۲ هـ

الاستدراک

په ددیت په باره کښې دسپینو زرو په مقدارکښې دوه روایته منقول دی: لس زره درهمه او دولس زره درهمه . امام بیهقی د دواړو په منځ کښې دا تطبیق نقل کړې دې:

قال محمد بن الحسن رحمه الله تعالی بلغنا عن عمر بن الخطاب رضی الله تعالی عنه انه فرض علی اهل الذهب الف دینار وعلی اهل الورق عشرة الاف درهم.

(حدثنا) بذلك ابو حنیفة رحمه الله تعالی عن الهیثم عن الشعبی عن عمر بن الخطاب رضی الله تعالی عنه
وقال اهل المدینة ان عمر بن الخطاب رضی الله تعالی عنه فرض الدیة علی اهل الورق اثنی عشر الف درهم.
قال محمد رحمه الله تعالی صدق اهل المدینة ان عمر بن الخطاب رضی الله تعالی عنه فرض الدیة اثنی عشر الف درهم ولکنه فرضها اثنی عشر الف درهم وزن ستة (السنن الکبری للبیهقی ص ج۸)

دامام محمد رحمه الله دتطبیق دفرمایلی ارشاد حاصل دادې چې د درهم دوه مختلف وزنونه رائج وو په هغې دواړو کښې دا نسبت وو ۱۰ = ۱۲

محمد ابراهیم ۹ رجب سنه ۱۴۱۳ هـ

تمت بالخیر

فاحسن الفتاوی شپږم جلد ختم شو ولله الحمد اولاً واخراً وظاهراً وباطناً
وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وعلی آله وصحبه وسلم اجمعین برحمتك یا ارحم الراحمین

د موضوعاتو فهرست

عنوان — صفحه

تمت بالخير

تم فهرس الكتاب بعون الملك الوهاب

د احسن الفتاوی د شپږم جلد فهرست ختم شو ولله الحمد اولاً واخراً

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد وعلی اله وصحبه وسلم اجمعین برحمتک یا ارحم الراحمین